تسهیلات

پښتو شرح

مِشکوٰۃ

تالیف
مولانا شاه فیصل



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
	تمام فنون	

تسهیلات

پښتوشرح

مشكواة

تالیف:- مولانا شاه فیصل فاضل دارالعلوم اسلامیه چارسده

اتم جلد (۸)

دشلو (۲۰) خصوصیاتو سره چې لس (۱۰) په کښې دادی

① پیښوری پښتو سره بین القوسین د قندهاري پښتو د ګرانو ټکو اضافه
② د مشکاة د عربي او اردو متداولو ټولو شروحاتو مجموعه
③ په ترجمه کښې بین القوسین د مرقاة المفاتیح داضافی قیوداتو ترجمه
④ دحدیث هرې جملې ته اود هغې ترجمې د آسانتیا دپاره نمبرې ورکول
④ په فهقي اختلافی مسئلو کښې مدلل او آسان مباحث
⑤ د اوږدو احادیثو د متن او ترجمې تقسیم
⑥ دهرحدیث د صحاح سته وغیره څخه تخریج
⑦ د حل اللغات په عنوان سره د مرقاة المفاتیح څخه د مشکلو لغات حل
⑧ دقوله په عنوان سره دحدیث د هرې مشکلې جملې تشریح
⑨ دهرباب په اول کښې دهغې د احادیثو خلاصه
⑩ د کتاب په اول کښې د علوم الحدیث مفیده مقدمه

خورنکی
فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور
موبائل ۰۳۱۵-۹۵۹۵۷۱۷

دکتاب نوم تسهیلات شرح مشکواة
شارح مولانا پروفیسر شاه فیصل
فاضل وفاق المدارس، امدادالعلوم، جامعه اسلامیه چارسده
معاون مترجم:: عبدالکریم صدیقی

د ملاوید پتې

- جدید اسلامی کتب خانه خوست
- المصباح کتب خانه کابل
- روغانیوال کتب خانه جلال آباد
- رحیمی کتب خانه خوست
- حرم کتب خانه کابل
- دینی کتب خانه تیمر گره
- تاج کتب خانه صوابي
- مکتبه خواجه عبدالله انصاری غزنی
- مکتبه دارالاخلاص کابل
- مکتبه رحمانیه قندهار
- مکتبه رحمانیه کوټه
- الوری کتب خانه قندهار
- نعمت کتب خانه کابل
- مکتبه علمیه اکوړه ختک
- حقانیه کتب خانه گردیز
- وطن دوست کتب خانه گردیز
- إقرأ کتب خانه جلال آباد
- مکتبه معروفیه کوټه
- مکتبه عمریه چمن
- مکتبه عباسیه تیمر گره
- مکتبه امیر حمزه قندهار

اجمالی فہرست

....

د احادیثو د عنواناتو فهرست

......

فهرست اختلاف مذاهب

[۱]بَابُ مَا لَايُضْمَنُ مِنَ الْجِنَايَاتِ]

په کومو جنايتو نوکښې چه تاوان نه وی

خلاصة الباب:

فيه أحد وعشرون حديثاً مشتملة على ثلاث مسائل:

① عدم القصاص في بعض الجنايات: ۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۲۰.

② النهي عن الأمور التى الضارة دون النافعة: ۷، ۸، ۹، ۱۰ ، ۱۱، ۱۲، ۱۸، ۱۹، ۲۱.

③ الزجرعلى التعدي والظلم فى التعذيب: ۱۳ ، ۱۴ ، ۱۵، ۱۶.

د وړاندنی باب سره ربط: دَ جناية جمع ده کوم چه دَ جرم ارتکاب اونقصان ته وائی لايضمن دَ مجهول صيغه ده دَ ضمان اوتاوان په معنى کښې دې. دَدې باب نه وړاندې دَ دغه نقصاناتو او جرائم بيان وو په کوم کښې چه تاوان راتلو اوس دَهغه جرائم ذکر دې دَ کوم په مرتکب کيدو سره چه تاوان نه راځى اونه څه معاوضه راځى.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۵۱۰] په ديت کښې درې معاف شوی څيزونه

۲۵۱۰-[۱] (۱)۱ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ («وَالْعَجْمَاءُ جَرْحُهَا جُبَارٌ ۳ وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ ۴ وَالْبِئْرُ جُبَارٌ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ د چوپايه وو زخمي کول معاف دي. ۳ په کان (درنګ) کې دَب کيدل هم معاف دی. ۴ او په کوهي کې لويدل هم معاف دی. (بخاري. مسلم)

حل اللغات: ① وَالْعَجْمَاءُ: چارپايان. ځاروی. بې زبانه. ② جُبَارٌ: معاف دی. ③ وَالْمَعْدِنُ: کان. په زمکه کښې دننه د يو څيز خزانه او ګنړ مقدار

تسهيلات:

د حديث د بعضې الفاظوو ضاحت: ① وَالْعَجْمَاءُ: ځناور او ځاروو ته عجماء ځکه اووئيلې شو چه دوی خبرې نه شی کولې. عجم اوعجمى هم دې نه دې ځکه چه دَعربو په مقابله

---

۱) اخرجه البخاري في كتاب الدّيات/باب: العجماء جبار(رقم-۶۹۱۳) ومسلم فى كتاب الحدود/باب جرح العجماء، والمعدن، والبئر جبار (رقم)۴۵ - (۱۷۱۰) و ابو داود فى كتاب الدّيات/باب العجماء، والمعدن، والبئر جبار(رقم-۴۵۹۳) والترمذى فى كتاب الأحكام عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فى: العجماء جرحها جبار (رقم-۱۳۷۷) والنسائى فى كتاب الزّكاة/باب المعدن(رقم-۲۴۹۶)وابن ماجه فى كتاب الدّيات/باب الجبار(رقم-۲۶۷۳) ومالک فى الموطا كتاب العقول/باب جامع العقل (رقم-۱۲)

کنې عجم لکه ګویا چه ګونګیان دی عجماء مؤنث دې عجم مذکر دې

② جَرْحُهَا: جرح زخم او نقصان کولو ته وائی دا لفظ دَ جیم فتحه سره مصدر دې یعنی زخم لګول او زخمی کول دَ جیم ضمه سره اسم دې کوم چه دَ زخم په معنی کښې دې

③ جُبَارٌ: دَ هدر او باطل معنی کښې دې یعنی چه دغه ځناور دَ چا څه مالی یا جانی نقصان کړې دې نو دغه ځناور په مالك باندې هیڅ تاوان نشته دې

د مالك په غیرموجودګی د څاروی چاته د نقصان رسولو په حکم کښې ۲ مذاهب:

① اوس دَدې مسئلې تفصیل داسې دې چه دَ ائمه احنافو په نیز مسئله داسې ده که چرې ځناور مثلاً اس یا څاروی سره سرې نشته دې او ځناور او تختیدو او دَ چا دَ فصل څه نقصان ئې اوکړو یا څوك سړې ئې اووهلو نو که دا حادثه دَ ورځې پیښه شی او که دَ شپې په دې صورت کښې په مالك باندې هیڅ تاوان نشته دې او که چرې ځناور سره سړې موجود وی او ځناور نقصان اوکړو نو که سړې په دې باندې سور وی او که مخکښې روستو وی او ځناور څه نقصان اوکړو که په سرئی اوکړو او که په خپو باندې اوکړو په دې صورت کښې به په مالك باندې تاوان راځی لکه چه خبره دَ سړی په موجود کیدو او نه موجود کیدو باندې ده

② امام شافعی رحمه الله فرمائی چه دَ ځناورنقصان کولو سره تاوان راتلل یا نه راتلل دارومدار په سړی باندې نه دې بلکه په ورځ او شپه باندې دارومدار دې که ځناور دَ شپې نقصان اوکړو نو په مالك به جرم راځی ځکه چه دَ شپې ځناور تړل او قابو کول دَ مالك ذمه واری ده هغه کوتاهی اوکړه لهذا تاوان به ورکوی او که چرې ځناورنقصان دَ ورځې اوکړو نو په مالك باندې به هیڅ تاوان نه وی ځکه چه دَ ورځې دَ خپل ځان او دَ خپل فصل حفاظت دَ هرسړی په خپله ذمه دی دَ ځناور په مالك باندې دَحفاظت ذمه واری نشته دې

داول فریق دلیل: دَوی د ورځې او شپې دافرق دَ ابوداؤد شریف دَ حضرت براء بن عازب رضی الله عنه دَ یو روایت نه اخستې دې په کوم کښې چه دا فرق بیان کړې شوې دې

د اول فریق د دلیل جواب: دا حدیث مرفوع نه دې بلکه موقوف دې

د دویم فریق دلیل: مذکوره حدیث د دوی مستدل دې چه په خپل مقصد کښې ښه واضح دې

د شاه انور شاه رائې: حضرت شاه انورشاه صاحب رحمه الله فرمائیلی دی چه په دې مسئله کښې عرف ته کتل پکاردی چه دَعلاقې او ملك رواج او دستور څه دې دَ ځناوردې مسئلې سره دَ ټول ټریفك نظام مستنبط کولې شی چه دَ ګاډی سائق او قائدته به کتلې شی او په هغه باندې به حکم لګولې شی

قوله: «وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ»:

د مذکوره جملې دوه مطلبونه: ① یو سړی معدنیات او خزانه راویستله او په زمکه کښې کنده پاتې شوه په هغې کښې څوك راغلو پریوتلو نو په چاباندې تاوان نشته دې

② چا په کان کنستلو کښې په مزدورئی باندې کارکونکی چه دکان ملبه د پورته نه په هغه باندې راپریوتله او هغه لاندې ورخښ شو نودَې تاوان په چا باندې نه دې.

قوله: وَالْبِئْرُ جُبَارٌ:

د مذکوره جملې دوه مطلبونه: ① که یو سړی دَ کوهی کنستلودَپاره مزدوران اوساتل اوپه مزدورانو باندې دکوهی ملبه ورپریوتله نودَې تاوان په چانشته دې.

②یو سړی په خپله زمکه کښې کوهې اوکنستلوپه هغې کښې څوك سړې راغلو پریوتلو نودَې تاوان په چا باندې نشته دې اوکه چرته کوهې دَ خلقو دَ تیریدو په لارکښې اوکنستلویا دَ بل سړی په زمکه کښې اوکنستلو او په هغې کښې څوك راغلو پریوتلو نوبیا به تاوان راځی.

[۳۵۱۱] په خپل مدافعت کښې عدم تاوان

۳۵۱۱—[۲] (۱) ۱ «وَعَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ۲ غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَيْشَ الْعُسْرَةِ ۳ وَكَانَ لِي أَجِيرٌ فَقَاتَلَ إِنْسَانًا ۴ فَعَضَّ أَحَدُهُمَا يَدَ الْآخَرِ، ۵ فَانْتَزَعَ الْمَعْضُوضُ يَدَهُ مِنْ فِي الْعَاضِّ، ۶ فَأَنْدَرَ ثَنِيَّتَهُ فَسَقَطَتْ ۷ فَانْطَلَقَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَهْدَرَ ثَنِيَّتَهُ، ۸ وَقَالَ: (أَيَدَعُ يَدَهُ فِي فِيكَ تَقْضِمُهَا كَالْفَحْلِ») مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او یعلی ابن امیه وایې ۲ چې زه (د غزوه تبوك) د صبر آزما لښکر سره د رسول الله ﷺ سره (په جهاد کې) شریك وم، ۳ زما سره زما یو نوکر هم وو، هغه (په یوه خبره) د یو سړي سره جنګ وکړي، ۴ او هغه په دواړو کې یو د بل سره لاس اوچیچلو. ۵ خو هغه خپل لاس د چیچونکي د خولي نه داسې راوښکلو ۶ چې د هغه غاښونه ووتل. د چا چې غاښونه وتلي وو، ۷ هغه (د داد رسي د پاره) د نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر شو (چې حضور ﷺ دهغه په حق کې فیصله وکړه) لیکن حضور ﷺ دهغه د غاښونو هیڅ تاوان واجب نه کړي. ۸ اوهغه ته یې وفرمایل چې آیا هغه سړي خپل لاس ستا په غاښونو کې پرینښی وی، چې تا پرې داسې شخوند وهلو. څنګه چې پرې اوښ شخوند وهی.

(بخاري، مسلم)

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الإجارة/باب الأجیر فی الغزو (رقم-۲۲۶۵) ومسلم فی کتاب القسامة والمحاربین والقصاص والدّیات/باب الصّائل علی نفس الإنسان أو عضوه. إذا دفعه المصول علیه. فأتلف نفسه أو عضوه. لا ضمان علیه (رقم-۲۳ - (۱۶۷۴) والنسائی فی کتاب القسامة/باب ذکر الاختلاف علی عطاء فی هذا الحدیث (رقم-۴۷۶۹)وابن ماجه فی کتاب الدّیات/باب من عضّ رجلا فنزع یده فندر ثنایاه (رقم-۲۶۵۶)واحمد فی المسند: ۴/۲۲۳

حل اللغات: ①جَيْشٌ: لښکر، د مجاهدينو ډله. ②الْعُسْرَةِ: تنګدستی، ③أَجِيرٌ: مزدورکار. نوکر ④قَاتَلَ: جنګ اوکړلو ⑤فَعَضَّ: نصر ينصرنه دَماضی صيغه ده چک ئې اولګولو. دَ غابښونو لاندې کولوسره شخوند وهلو ⑥الْمَعْضُوضُ: په چا چه چک لګولې شوې وو. ⑦فِي: خُله، ⑧الْعَاضِّ: اسم فاعل دې، چک لګونکې، ⑨فَأَنْدَرَ: دَ باب انفعال نه، غابښونه پريوتل. راؤوتل. ⑩ثَنِيَّةً: د هغه مخامخ غابښونه ⑪فَأَهْدَرَ: تاوان ئې مقرر نکړو، ⑫تَقْضِمُهَا: چې ته شخوند وهې په هغې ⑬الْفَحْلُ: اوښ.

تسهيلات:

قوله: جَيْشُ الْعُسْرَةِ:

د جيش العسره مصداق او پس منظر: دَ تنګئی لښکردې نه مراد غزوه تبوك دې دَ روم بادشاه ته چا وئيلی ووچه مسلمانان دَ اوچ کالئی دَ وجې نه دَ جنګ قابل نه دی په دې وجه بغيردَ څه تاخيرنه په حجازباندې حمله کول پکاردی. هرقل تياري شروع کړو نبی کريم ﷺ ته چه کله خبر اوشو نو نبی کريم په جنګ کښې ړومبې والې کول مناسب اوګڼړل اوپه مدينه کښې عام اعلان کولوسره دَ ديرش زره لښکرسره سخت دَ تنګئی په حالت کښې دَ رجب په مياشت ۹ھ کښې تبوك طرف ته روان شو. حضرت عثمان ﷺ اونورو صحابه کرامو په چنده کښې ښه حصه واخستله. هرقل اويريدلو اوميدان ته رانغلو. نبی کريم ترشلو ورځو پورې په تبوك کښې قيام اوکړو بيا کامياب اوکامران مدينې طرف ته واپس تشريف راوړو.

دخپل حفاظت دپاره د اقدام قتل جواز: ① قاضی عياض رحمه الله فرمائی چه ښه په سوچ اوپوهه سره چه څوك حمله کونکې حمله کوی اودَهغې نه دَ حفاظت دَپاره سرې څه متعين طريقه استعمالوی نوپه دې کښې هيڅ تاوان نشته دې ځکه چه دفاع کونکې مجبوره دې اوحمله کونکی ته چه کوم نقصان اورسيدو داددَهغه دَحملې اوزياتی نتيجه ده دکوم چه هغه پخپله ذمه واردې.

② شرح السنه کښې ليکلی دی هم دغه حکم دَهغه ښځې دې کومې چه په خپله دفاع کښې يو بدکاری کونکې سړې قتل کړو په هغې باندې هيڅ تاوان نشته دې. ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه اول دې سړې دَنرمئی نه کارواخلی که دَ جنګ نه بغيرکارنه کيږی نوبيا دې اووژنی.

[۳۵۱۲] د خپل مال د محافظ دپاره د شهادت اعزاز

۳۵۱۲ -[۳] (۱) ① وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ② «مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او عبد الله ابن عمرو ﷺ وايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل ② کوم سړی چې د خپل مال د پاره ووژل شي هغه شهيد دی. (بخاري، مسلم)

حل اللغات (۱) دُونَ مَالِهِ: دمال په حفاظت کښې

تسهيلات:

قوله: مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ:

د خپل مال په حفاظت کښې قتل شوي شهيد: که يو کس د خپل مال او اسباب حفاظت کولو او دې چا قتل کړو نو دې شهيد دې. ځکه چې دې ظلم سره قتل کړې شوي دې همدا حکم د هغه کس باره کښې هم دې څوك د خپل اهل وعيال حفاظت کوی او قتل کړې شي . واضح دې وی چې دخپل ځان نه دظلم لرې کولو دپاره د رشوت ورکولو گنجائش شته دې په چا باندې دظلم کولو دپاره حرام خو رشوت اخستل بهر حال حرام دی

[۳۵۱۳] د خپل مال په حفاظت کښې د قتل د جرم معافی

۳۵۱۳ -[۴] (۲) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ ② أَرَأَيْتَ إِنْ جَاءَ رَجُلٌ يُرِيدُ أَخْذَ مَالِي؟ ③ قَالَ: فَلَا تُعْطِهِ مَالَكَ، ④ قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ قَاتَلَنِي: قَالَ: قَاتِلْهُ. ⑤ قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ قَتَلَنِي؟ قَالَ: فَأَنْتَ شَهِيدٌ، ⑥ قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ قَتَلْتُهُ؟. قَالَ: هُوَ فِي النَّارِ. (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

ترجمه: ① حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې يو سړی (د جناب رسالت مآب په خدمت کې حاضريدو سره) عرض وکړو. چې يا رسول الله ﷺ ② مانه ونبايه که يو سړی مانه زما مال (په زبردستي) اخستو ته راشي (نو آيا زه خپل مال هغه ته حواله کړم؟) ③ حضور ﷺ ورته وفرمايل چې نا. ته هغه ته خپل مال مه ورکوه. ④ هغه عرض اوکړو چې دا راته ونبايه. که هغه زما سره جنگ کوي (نو څه وکړم) حضور ﷺ ورته وفرمايل. ته هم ورسره جنگ وکه. ⑤ هغه عرض اوکړو چې دا راته ونبايه. که هغه زه ووژلم؟ حضور ﷺ ورته

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الإجارة /باب من قاتل دون ماله (رقم ۲٤۸۰) ومسلم فی کتاب الإیمان /باب الدّلیل علی أنّ من قصد أخذ مال غیره بغیر حقّ. کان القاصد مهدر الدّم فی حقّه. وإن قتل کان فی النّار. وأنّ من قتل دون ماله فهو شهید (رقم-۲۲۶ - (۱٤۱) و ابو داود فی کتاب السّنّة /باب فی قتال اللّصوص (رقم-٤۷۷۱) والترمذی فی کتاب الدّیات عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم /باب ما جاء فیمن قتل دون ماله فهو شهید (رقم-۱٤۱۹) والنسائی فی کتاب تحریم الدّم /باب من قتل دون ماله (رقم-٤۰۸۷) واحمد فی المسند: ۱۶۳/۲

۲) اخرجه مسلم فی کتاب الإیمان /باب الدّلیل علی أنّ من قصد أخذ مال غیره بغیر حقّ. کان القاصد مهدر الدّم فی حقّه. وإن قتل کان فی النّار. وأنّ من قتل دون ماله فهو شهید (رقم-۲۲۵ - (۱٤۰)

وفرمایل چې ته به د شهادت درجه پیدا کړي، [٦] هغه عرض وکړو، بنه دا راته وښایه. که زه هغه قتل کړم ؛نو د ده به څه حشر وي؟، حضور ﷺ ورته وفرمایل چې هغه به دوزخ ته ځي او په تابه د هغه هیڅ وبال نه وي، مسلم

تسهیلات:

قوله: أَرَأَيْتَ إِنْ جَاءَ رَجُلٌ يُرِيدُ أَخْذَ مَالِي؟:

د جان او مال په حفاظت کښې د قتل کولو حکم: یعنی دې سړی نبی کریم ته اووئیل ناسو ماته اوښایئی قَاتِلْه یعنی که هغه تاته په زور مال اخستل غواړی او په دې کښې ستاسره جنګیږی نوته هم هغه سره اوجنګیږه. هوفي النار یعنی دهغه په قتل کولو سره په تاباندې هیڅ نقصان نه راځی بلکه هغه به پخپله دوزخ ته ځی.

د جان ،مال او عزت د حفاظت حق: دا دواړه احادیث مسلمانانوته تعلیم ورکوی چه مسلمان دَ خپل ځان مال عزت اوناموس دَ حفاظت حق لری. اودَ هریو حمله کونکی په بهادرئی سره مقابله اودفاع کولې شی. دَ مسلمان دا طریقه نه ده چه یوسړي دهغه مال عزت اوناموس سره لوبې کوی اودَهغه مال په ناجائزه طریقه باندې په زور اخلی اودې دکم همتئی اوبزدلئی مظاهره کولو سره لاس په لاس کیږدی کینی اودَ عزت نفس دَدې حق نه لاس واخلی. بلکه مسلمان ته دا حق حاصل دې چه هغه دې دَ دغه حمله کونکی فسادی سره په بهادرئی اوهمت سره مقابله اوکړی اودَ ذلت په ژوندباندې دې دَعزت مرګ ته ترجیح ورکړی. که دغه فتنه خورونکی فسادی دې قتل کړونودې به شهید شی اوکه چرې ده دغه فسادی حمله کونکې قتل کړو نودَ هغه وینه ضائع ده اوهغه به دوزخ ته ځی اسلام دَ عزت نفس دا حق مسلمان ته هغه وخت ورکړې دې کله چه حمله کونکې هم مسلمان وی اوکه حمله کونکې دَ کافرانو لښکروی لکه مقبوضه کشمیر بوسنیا فلسطین او افغانستان چیچنیا صورت حال دې نوهلته په طریقه اولی مسلمانانوله وسله اوچتول او په میدان کښې جهاد کول اودَ خپل ځان مال او عزت اوناموس اوعقیدې ایمان او وطن دَ حفاظت حق حاصل دې (توضیحات شرح مشکاة)

[۲۵۱٤] د دروازې په سوری کښې د کتونکی د سترګې د ویستلو حکم

٣٥٠٣ - [٥] (١) [١] وَعَنْهُ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [٢] «لَوِ اطَّلَعَ فِي بَيْتِكَ أَحَدٌ، وَلَمْ تَأْذَنْ لَهُ، [٣] خَذَفْتَهُ بِحَصَاةٍ، [٤] فَفَقَأْتَ عَيْنَهُ، [٥] مَا كَانَ عَلَيْكَ مِنْ جُنَاحٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

١) اخرجه البخاري فی كتاب الدّيات/باب من أخذ حقّه أو اقتصّ دون السّلطان (رقم-٦٨٨٨) ومسلم فی كتاب الآداب/باب تحريم النّظر فی بيت غيره (رقم-٤٤ - (٢١٥٨) والنسائی فی كتاب القسامة /باب من اقتصّ وأخذ حقّه دون السّلطان(رقم-٤٨٦١) واحمد فی المسند: ٢٤٣/٢

توجمه: ⓵ او د حضرت ابوهریره ﷺ نه روایت دی چې هغه د رسول اللهﷺ نه دا واوریدل ⓶ (که ستا دروازه بنده وي، او د هغه په چوند کي) یو سړی ستا په کور کې تا وکړي، (یعنی د هغه چوانه وگوری) هر کله چې تا هغه ته (کور ته د راتلو) اجازت نه وي ورکړي، ⓷ او ته هغه په کاڼي وولي، ⓸ چې په هغه سره د هغه سترګه وچوي. ⓹ نو په تا هیڅ گناه (تاوان) نشته، (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ⓵ اِطَّلَعَ: راښکاره شو، ⓶ فَحَذَفْتَهُ: نو تا هغه اوویشتل ⓷ فَفَقَأْتَ: نو تا بې سترګه اوویستله، سترګه دِ ط زخمي دې کړه، ⓸ جُنَاح: تاوان، گناه

تسهیلات:

قوله فَحَذَفْتَهُ بِحَصَاةٍ:

د حذف معنی: په دوو ګوتوکښې نیولوسره وړوکې کاڼي ویشتلوته حذف وائی په کوم سره چه عموماً سترګه زخمي کیږي. دَ جمرات ویشتلودپاره چه کوم کاڼي استعمالیږي هغې ته هم حذف وائی.

قوله: مَا كَانَ عَلَيْكَ مِنْ جُنَاحٍ:

د عدم جناح په مفهوم کښې اقوال: ⓵ یعنی په تاباندې به دَهیڅ قسم گناه نه وی دَهغه سترګه ضائع لاره هیڅ تاوان نشته دې. امام شافعی ﷫ په دې ظاهری حدیث باندې داسې فتویٰ ورکړې ده چه په ویشتونکی باندې به هیڅ تاوان نه راځی.

⓶ امام ابوحنیفه داحدیث په تغلیظ تشدید اوزجر اوتبیخ اومبالغه باندې حمل کوی اوکه چرې چا واقعی دَ چاسترګه زخمي کړه نوضمان اوتاوان به راځی. دَ ظاهری حدیث نه دَ تاوان نفی کیږي.

⓷ بعضې علماؤ داشرط لګولي دې چه اول دَ دغه سړی بندول اومنع کول ضروری دی که چرې منع نه شونوبیائی اوولئی.

[۲۵۱۵] د دروازې په سوری کښې د کتلو سزا

۳۵۱۵ — [۲] (۱) ⓵ «وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، ⓶ أَنَّ رَجُلًا اطَّلَعَ فِي جُحْرٍ فِي بَابِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ⓷ وَمَعَ رَسُولِ اللّٰهِ مِدْرًى يَحُكُّ بِهِ رَأْسَهُ، ⓸ فَقَالَ: (لَوْ أَعْلَمُ أَنَّكَ تَنْظُرُنِي لَطَعَنْتُ بِهِ عَيْنَيْكَ ⓹ إِنَّمَا جُعِلَ الِاسْتِئْذَانُ مِنْ أَجْلِ الْبَصَرِ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الدّیات/باب من اطّلع فی بیت قوم ففقئوا عینه، فلا دیة له (رقم-۶۹۰۱) ومسلم فی کتاب السّلام/باب الطّبّ والمرض والرّقی (رقم-۴۰ - (۲۱۸۶) والترمذی فی کتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب من اطّلع فی دار قوم بغیر إذنهم (رقم-۲۷۰۹) والنسائی فی کتاب القسامة/باب ذکر حدیث عمرو بن حزم فی العقول، واختلاف النّاقلین له (رقم-۴۸۵۹) واحمد فی المسند: ۳۳۰/۵

ترجمه: [١] او سهل ﷺ ابن سعد وايي [٢] چې يو سړي د رسول اللهﷺ دروازي ته وکتل، [٣] او هغه وخت رسول اللهﷺ په پشت خار (ګمنز) سره خپل سر مبارك ګرولی، [۴] حضورﷺ [هغه سړي په تاکولو وليدلو، نوا] وي فرمايل چې که ماته معلومه وې (يعني زما يقين واى) چې ته (قصداً د د روازې په سورى کښې) ماته ګوري، نو ما به دا (ګمنز) ستا په سترګه کې تومبلې وه [۵] آيا ته نه پوهيږې، چې د يو غير په کور کې د راتلو په وخت) د اجازت اخستو حکم د هم دغه سترګي په وجه ورکول شوى دى (چې هغه په غير محرم نه ولګيږي) بخاري مسلم.

حل اللغات: ① جُحْرٍ: سوره، چاودې، ② مِدْرًى: ګمنز (پشت خار) ③ يَحُكُّ: ګروى. ④ لَطَعَنْتُ: ما به تومبلې وې،

تسهيلات: **قوله:** مِدْرًى:

د مدرى په مفهوم کښې اقوال: دالفظ دَميم کسره اودال سکون او راء تنوين سره دې دې لفظ دَمفهوم په تعين کښې دَعلماؤ مختلف اقوال دى خوټول اقوال دَمعنى په اعتبارسره نيزدې نيزدې دى.

① ملاعلى قارى ﷫ فرمائى چه بعضې علماؤ دا خودلى دى چه دادَ خلال په شان دَ اوسپنې يو سيخ دې دکوم سرچه تاؤ شوې وى. غټ خلق په دې سره دَ بدن هغه حصه ګره وى چرته چه لاسونه نه رسيږى دامعنى دَحديث سره زياته موافق ده.

② نهايه ابن اثيرکښې ليکلى دى چه دادَ لرګى يا وسپنې نه جوړشوې يوخيزدې چه دګمنزې دَ غابنونو په شکل کښې وى مګردَهغې نه اوږد وى. کوموخلقوسره چه ګمنز نه وى هغوى دَ دې په ذريعه دَ سر اينختې ويښته کولاووى نيغه وى او صحيح کوى.

③ دَ فارسى لغت مشهورکتاب صراح کښې ليکلى دى چه "مدار" ميخ وشاخ بزرگ که زنان بوی فرق سر راست کنند يعنى يوښاخونووالا اوږ سيخ اوکنډه په کوم سره چه ښځې دَ سر په ويښتوکښې مانګ او لارصحيح کوى.

④ مظاهرحق کښې دَدې ترجمه پشت خارګمنزسره کړې شوې ده بهرحال دا يوقسم آله ده په کوم سره چه ويښته جوړولو اودَ بدن دَ هغه حصو ګرولوکار اخستې شى کوم ځائى پورې چه لاس نه رسى.

د حديث وضاحت: دَدې حديث نه داهم معلوميږى چه که چا واقعى په دې حديث باندې عمل اوکړو اودَ کتونکى سترګه ئى ضائع کړه نوتاوان به نه راځى احنافو دا حديث هم په زجر توبيخ. تغليظ اوتشديدباندې حمل کړې دې. دَحديث نه داهم معلوميږى که کور والوپخپله دروازه کولاؤ پريخې ده اودکتلونه بغيرپخپله نظر دننه پريوځى نوبيا دَ کتونکى غلطى نه ده بلکه دَ کور والو غلطى ده.

[۲۵۱۶] بې ضرورته د کانړي ويشتلو ممانعت

۳۵۱۳—[۷] (۱) ① «وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّهُ رَأَى رَجُلًا يَخْذِفُ، ② فَقَالَ: لَا تَخْذِفْ؛ فَإِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْخَذْفِ، ③ وَقَالَ: (إِنَّهُ لَا يُصَادُ بِهِ صَيْدٌ، ④ وَلَا يُنْكَأُ بِهِ عَدُوٌّ، ⑤ وَلٰكِنَّهَا قَدْ تَكْسِرُ السِّنَّ ⑥ وَتَفْقَأُ الْعَيْنَ») مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او د حضرت عبد الله ابن مغفل نه روايت دى چې هغه يو سړى د قتې. ګوتي او د شهادت د ګوتي سره په سنګريزو ويشتلو سره وليدلو. ② نو ورته وي وفرمايل چې سنګ ريزى مه وله. ځکه چې رسول الله ﷺ د داسې کانړو ويشتلو نه منع کړيده. ③ ورته وي فرمايل چې د دغه شان کانړو ويشتلو سره نه خو ښکار کيدى شي ④ او نه د دين يو دښمن زخمي کيدى شي (بلکه دا محض لهو ولعب دى. چې نه ځيني د دنيا څه فائده شته او نه د دين)، لا دا چې د دى سره خلقو ته ضرر رسيږي، ځنګه چې حضور ﷺ وفرمايل: ⑤ البته داسې شکې ويشتل غاښ ماتوي، ⑥ او سترګه چوي. (بخاري. مسلم)

حل اللغات: ① يَخْذِفُ: کانړي ويشتلو، ② يُنْكَأُ: زخمي کولو، ③ تَفْقَأُ: چاودل

تسهيلات:

قوله: نَهَى عَنِ الْخَذْفِ: د حديث پاك حاصل دادې چې صحابئ رسول يو کس اوليدو چې په بل کس باندې ئې هسې کانړى ويشتل، لکه ځنګه د ځينو هلکانو عادت وى نو دې صحابي هغه منع کړو او وې فرمائيل چې دا کار عبث دې او مضر هم دې مضر نه بچ کيدل ضروري دى، نو همدا حکم د هر هغه عمل باره کښې دې چې په هغې کښې د جنګ کولو خطره وى لکه لينده وغيره.

[۲۵۱۷] په عوامى مجلسونو کښې د وسلې په احتياط سره د ساتلو حکم

۳۵۱۴—[۸] (۲) ① وَعَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② («إِذَا مَرَّ أَحَدُكُمْ فِي مَسْجِدِنَا وَفِي سُوقِنَا ③ وَمَعَهُ نَبْلٌ فَلْيُمْسِكْ عَلَى نِصَالِهَا ④ أَنْ يُصِيبَ أَحَدًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ مِنْهَا بِشَيْءٍ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابو موسى ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هر کله چې په تاسو کې يو

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الذّبائح والصّيد /باب الخذف والبندقة (رقم-۵۴۷۹) و ابو داود فی کتاب الأدب /باب فی الخذف (رقم-۵۲۷۰) والنسائی فی کتاب القسامة /باب دية جنين المرأة (رقم-۴۸۱۵) وابن ماجه فی کتاب الصّيد /باب النّهی عن الخذف (رقم-۳۲۲۶) واحمد فی المسند: ۸۶/۴

۲) اخرجه البخاری فی کتاب الفتن /باب قول النّبيّ صلّى الله عليه وسلّم: «من حمل علينا السّلاح فليس منّا» (رقم-۷۰۷۵) ومسلم فی کتاب البرّ والصّلة والآداب /باب الوعيد الشّديد لمن عذّب النّاس بغير حقّ (رقم-۱۲۴ - (۲۶۱۵) و ابو داود فی کتاب الجهاد /باب فی النّبل يدخل به المسجد (رقم-۲۵۸۷) وابن ماجه فی کتاب الأدب /باب من کان معه سهام فليأخذ بنصالها (رقم-۳۷۷۸) واحمد فی المسند: ۴۱۸/۴

سړی زمونږ جومات او زمونږ بازار ته راشي، ایا د هغه ځای سره تیریږي ③ او د هغه سره غشي وي، نو هغه ته پکار دی چې هغه بند کړي (یعني د هغه په تیره څوکه لاس کیږدي) ④ چې په هغه سره یو مسلمان ته ضرر ونه رسوي، (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ①نَبْلٌ: غشي، نیزه ②نِصَالِهَا: د هغې سوکه، (تیره طرف).

تسهیلات:

قوله: فَلْيُمْسِكْ عَلَى نِصَالِهَا:

د تیره څیز په ګڼه کښې د ګرځولو حکم: دَ غشي تیره مخ او پهل ته وائی مراد تولي داسې وسلې دی په کوم سره چه دَ چا دَ زخمی کیدو یاهلاك کیدو خطره وی که هغه توره وی که غشې وی که توپك وی یاچاړه وغیره وی دا په بازارونو جماتونو او عام دَ ګڼې ځایونوکښ په احتیاط سره خپل ځان سره کیخودل پکاردی دې دَپاره چه په غلطئی سره څوك زخمی نه شی چنانچه دَ وسلې دَ اخستلو او ورکولو په آدابوکښې دادی چه دَ ورکولوپه وخت ئی تیره مخ خپل طرف ته وی دې دَپاره چه اخستونکي خطره نه محسوس کوی اونه زخمی شی. دَدې حدیث نه معلومه شوه چه په اسلامی معاشره کښې دَ وسلې اخستلو ورکولو او اوچتولوسره ګرځیدوکښې پابندی نشته دې. اسلام دَ ناجائز چلولو او استعمالولو سزا مقررکړې ده دکوم په وجه چه وسله دَ یومسلمان دَ ځان دَپاره دَ څه قسم خطره پیدا نه کړې شي.

[٢٥١٨] یو مسلمان ته په وسلې سره د اشارې کولو ممانعت

> ٣٥١٨ـ [٩] (١) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ② «لَا يُشِيرُ أَحَدُكُمْ عَلَى أَخِيهِ بِالسِّلَاحِ ③ فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي لَعَلَّ الشَّيْطَانَ يَنْزِعُ فِي يَدِهِ ④ فَيَقَعُ فِي حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② په تاسو کې دي هیڅ سړی د خپل (مسلمان) وړور طرف ته په وسله سره اشاره نه کوي. ③ ځکه هغه ته معلومه نه ده چې شاید شیطان د هغه د لاس نه وسله راکاږي ④ او د هغه په وجه د وسلې مالك د دوزخ په اورکي واچول شي، (بخاري مسلم)

حل اللغات: ①يَنْزِعُ: ضرب يضرب نه . راکاږی، ②حُفْرَةٍ: کنده،

تسهیلات: قوله: فَإِنَّهُ: "ای احدکم" یادا ضمیرشان دې نودَ مرجع ضرورت نشته .

قوله: يَنْزِعُ فِي يَدِهِ:

---

١) اخرجه البخاری فی کتاب الفتن/باب قول النبیّ صلّی الله علیه وسلّم: «من حمل علینا السّلاح فلیس منّا» (رقم-٧٠٧٢) ومسلم فی کتاب البرّ والصّلة والآداب/باب النّهی عن الإشارة بالسّلاح إلی مسلم (رقم-١٢٦ - (٢٦١٧)

شيطان ته د نزع د نسبت وجه: اي حال كون السلاح في يده" دَ شيطان طرف ته اسناد په اعتبارد سبب دې چه هغه دَ دې سبب جوړيږي يعنى شيطان خودَ انسان دَ تباهئى او بربادئى په كوشش كښې ناست دې اوس كه چرې څوك سړې دَ بل طرف ته په توقوسره هم په وسله سره اشاره كوى نوكيدې شي چه شيطان په مينځ كښې وسوسې اودخل وركولو سره دغه توقې په رښتياؤ كښې بدل كړى اودَ توقو په ځائى جنگ شروع شى اودَ مسلمان قتل اوشى نوقاتل به دَ دوزخ په كنده كښې پريوځى بل دا چه شيطان ظالم اوبدبخت پخپله دغه وسلې له حركت وركولوسره دَمسلمان دَ ځان دَپاره خطره جوړولې شى ځكه چه دا خبيث دَ اولاد آدم دښمن دې.

[۳۵۱۹] مسلمان پسې وسلې راويستونكي باندې د فرشتو لعنت

۳۵۱۹-[۱۰] (۱) ۱ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ۲ «مَنْ أَشَارَ إِلَى أَخِيهِ بِحَدِيدَةٍ، ۳ فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَلْعَنُهُ حَتَّى يَضَعَهَا ۴ وَإِنْ كَانَ أَخَاهُ لِأَبِيهِ وَأُمِّهِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ كوم سړى چې د خپل مسلمان ورور طرف ته په وسپنه (يعني په وسله وغيره) سره اشاره كوي، ۳ په هغه فرشتي د هغه وخته لعنت وايي د څو پورې چې هغه هغه اوسپنه كيږدي، ۴ كه څۀ هم هغه د هغه حقيقي ورور ولي نه وي، (بخاري مسلم)

تسهيلات: قوله: مَنْ أَشَارَ إِلَى أَخِيهِ بِحَدِيدَةٍ:

د حديث مبارك حاصل دادې چې كوم كس خپل رور طرفته د قتل وسلحې سره اشاره اوكړى كه د ويرولو دپاره وى اوكه د توقو په طور وى نو په داسې كس باندې ملائيك لعنت وائى . يا مطلب دادې چې كله خپل سكه رور باندې وسله اوچتولو باندې فرښتې لعنت وائى نو په اجنبى باندې په وسله اوچتولو باندې فرښتې لعنت په طريق اولى وائى

[۳۵۲۰] په مسلمان پسې وسله راويستونكى دپاره وعيد

۳۵۲۰-[۱۱] (۲) ۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ وَأَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ۲ «مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السِّلَاحَ فَلَيْسَ مِنَّا». ۳ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. وَزَادَ: «وَمَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا».

---

۱) اخرجه مسلم فى كتاب البرّ والصّلة والآداب/باب النّهى عن الإشارة بالسّلاح إلى مسلم (رقم-۱۲۵ - (۲۶۱۶) والترمذى فى كتاب الفتن عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فى إشارة المسلم إلى أخيه بالسّلاح (رقم-۲۱۶۲) واحمد فى المسند:۲/۲۵۶

۲) اخرجه البخارى فى كتاب الفتن/باب قول النّبىّ صلّى الله عليه وسلّم: «من حمل علينا السّلاح فليس منّا» (رقم-۷۰۷۰) ومسلم فى كتاب الإيمان/باب قول النّبىّ صلّى الله عليه وسلّم: «من غشّنا فليس منّا» (رقم-۱۶٤ - (۱۰۱) والنسائى فى كتاب تحريم الدّم/باب من شهر سيفه ثمّ وضعه فى النّاس (رقم-٤۱۰۰) وابن ماجه فى كتاب الحدود/باب من شهر السّلاح (رقم-۲۵۷۵)

ترجمه: [١] او حضرت ابن عمر رضي الله عنه او ابوهريره رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمايل [٢] کوم سړی چې (دبازی او مسخرو په طور) په مونږ وسله پورته کړي، نو هغه زمونږ نه نه دی (يعني زمونږ په طريقه عامل نه دی)[٣] بخاري مسلم، او مسلم رحمه الله دا الفاظ هم نقل کړي دي چې کوم سړی خپل يو څيز د خرڅولو په وخت د خرڅونکي شي يو عيب او نقصان پټولو سره مونږ ته دهوکه راکړي، هغه زمونږ نه نه دی.

حل اللغات: ① حَمَلَ: پورته کړلو ، (د وسلې پورته کولو دپاره حَمل لفظ استعمالیږی) ② غَشَّ: ملاوټ ئې اوکړلو ، دهوکه ئې ورکړه.

تسهيلات: قوله: مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السِّلَاحَ:

د وسلې راويستلو دوه صورتونه: ① که هغه په تړتو کښې په چا باندې وسلحه راوا ړوی ② يا په چا باندې د رعب اچولو دپاره ، نو دواړه منع فرمائيلې شوي ده

او د جمع ضمير په دې وجه راوړې شو چې پورا امت په دې کښې احتياط اوکړی

قوله: فَلَيْسَ مِنَّا:

د ليس منا څخه مراد: يعني زمونږ په طريقه باندې نه دې ، لهذا کافر کيدل مراد نه دي

د علينا السلاح ترکيب: امام طيبی رحمه الله فرمائی چې (عَلَيْنَا السِّلَاحَ) جار مجرور لره د فعل سره متعلق هم کولې شی . په دې صورت کښې به السلاح منصوب بنزع الخافض وی . او دا حال جوړول هم جائز دی. په دې صورت کښې به السلاح مفعول وی.

قوله: وَمَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا:

د غش څخه مراد: ملاوټ نه مراد يا خو د مبيعه عيب پټول او خرڅول دی يا ملاوټ کولو نه پس خرڅول ، غرض دا چې دې نه هره کاروباری دهوکه مراد ده. او غشنا کښې د متکلم ضمير نه مراد ټول مسلمانان دی ، يا اهل عرب يا اهل مدينه دی. مطلب دا دې چې چا مسلمانانو لره ، اهل عرب لره يا اهل مدينه لره دهوکه ورکړه هغه زمونږ په طريقه نه دې ، او ترمذی شريف کښې روايت دې چې چا عربو ته دهوکه ورکړه هغه به زما شفاعت اونه مومی او هغه سره ته زما محبت اونه رسی .

[٣٥٢١] په مسلمان باندې د وسلې راويستلو وعيد

٣٥٢١—[١٢] (١)[١] وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] ((مَنْ سَلَّ عَلَيْنَا السَّيْفَ فَلَيْسَ مِنَّا)) . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

---

١) اخرجه مسلم فی کتاب الإيمان/باب قول النبیّ صلّى الله عليه وسلّم: «من حمل علينا السّلاح فليس منّا» (رقم-١٦٢ - (٩٩) والترمذی فی کتاب صفة القيامة والرّقائق والورع عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب (رقم-٢٥٢٠) واحمد فی المسند: ٤٦/٤

ترجمه: ① او حضرت سلمه ابن اکوع وايي چې رسول اللهﷺ وفرمايل ② کوم سړی چې (بې له ارادې د قتل، په بازی کی هم)په مونږ توره پورته کړه، نو هغه زمونږنه نه دی. (مسلم)

حل اللغات: ①سَلَّ: پورته کړلو. راويستلو د غشی په شان سوکې والا څيز پورته کولو دپاره لفظ د سَل استعماليږی،

تسهيلات:

قوله: مَنْ سَلَّ عَلَيْنَا السَّيْفَ:

د سل او حمل په معنی کښې فرق: پورته په حديث نمبر(۳۵۲۰) کښې لفظ حمل دې دلته په دې حديث کښې لفظ سل دې مراد وسله اوچتول اودَ يومسلمان دَ ويرولودَپاره وسله خودل دی دَ تورې دَ څوکې دَپاره دلته سل لفظ راُغلې دې اودَ عام وسلې د اوچتولودَپاره دَحمل لفظ راځی. پورته په حديث نمبر(۳۵۱۹) کښې اشار لفظ راغلې دې. دَدې ټولو الفاظو مطلب هم يودې چه دَ مسلمان دَ ويرولودَپاره وسله خودل منع دی او دَ گناه کاردې سره دَدې چه په دې کښې تاوان نشته دې.

قوله: فَلَيْسَ مِنَّا:

يو سوال او د هغې جواب:

د ليس منا په مفهوم کښې دوه اقوال: باقی په مذکوره رواياتوکښې چې د ليس منا لفظ استعمال شوې دې نود دې ظاهری مطلب مراد نه دې ځکه چې په گناه کبيره سره سړې دَ اسلام نه نه اوځی بلکه په دا قسمه احاديثو کښې عالمانو توجيهات کړی دی.

①دا سړې په دې شعبه او دې خاص فعل اومعامله کښې دَ مسلمانانو په طريقه نه دې اگرچه باقی ټولو اقوالو افعالو کښې هغه دَ مسلمانانو په طريقه دې اومسلمان دې مگر په دې خاص عمل کښې هغه دَ مسلمانانو په طرز نه دې.

②دا قسم جملې نبی کريم دَ اسلوب حکيم په توگه ارشاد فرمائيلې دې دې دَپاره چه مسلمان دا ناجائزکار اونه کړی يعنی چه کوم مخلص مسلمان دا اوری چه په دې کارکولو سره سړې دَخپل خوږ نبی ﷺ نه کټ کيږی نو هغه مسلمان به کله هم دې کارته نيزدې نه شی بلکه چغې به وهی صورې به وهی اوداکاربه پريږدی اودَ اسلام طرف ته به په منډه ورځی.

پورته حديث نمبر(۳۵۲۰) کښې من غشنا جمله راغلې ده غش دهوکې ته وائی چه په ظاهره يو کار ښه ښکاری مگر په پټه توگه په دې کښې عيب پټ پروت دې کوم چه دا سړې نه ښکاره کوی. دا دهوکه اکثر دَ خرڅولو اواخستلو په معاملاتوکښې کيږی او نورو څيزونوته هم دا حديث عام دې.

[۳۵۲۲] خلقوته تكليف وركونكي دپاره وعيد

۳۵۲۲- [۱۳] (۱) [۱] وَعَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ، [۲] أَنَّ هِشَامَ بْنَ حَكِيمٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مَرَّ بِالشَّامِ عَلَى أُنَاسٍ مِنَ الْأَنْبَاطِ [۳] وَقَدْ أُقِيمُوا فِي الشَّمْسِ [۴] وَصُبَّ عَلَى رُءُوسِهِمُ الزَّيْتُ [۵] فَقَالَ: مَا هَذَا؟ قِيلَ: يُعَذَّبُونَ فِي الْخَرَاجِ. [۶] قَالَ هِشَامٌ: أَشْهَدُ لَسَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [۷] (« إِنَّ اللَّهَ يُعَذِّبُ الَّذِينَ يُعَذِّبُونَ النَّاسَ فِي الدُّنْيَا »). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت هشام ابن عروه د خپل پلار نه نقل كوي [۲] چې حضرت هشام ابن حكيم د ملك شام د سفر په دوران كې د نبطى قوم څه افراد په داسې حال كې وليدل. [۳] چې هغه د نمر په ګرمي كې درول شوي وو، [۴] او د هغوئ په سرونو ګرم كړه تيل اچول شوي وو. [۵] هشام ابن حكيم (دا پريشانه كونكې منظر ليدو سره) اوويل چې دا څه دى؟ (يعني خلقو ته د كوم جرم په بدله كې دا غير انساني سزا وركول كيږي) هغه ته وښودل شو چې د څه خراج (زرعي تيكس) نه وركولو په وجه دوئ په دې عذاب كې مبتلا كړل شوي دي، [۶] حضرت هشام وفرمايل چې زه شهادت وركوم، ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي [۷] چې الله ﷻ به (په آخرت كې) داسې خلق په عذاب كې مبتلا كړي. كوم چې خلق په دنيا كې په عذاب كې مبتلا كوي. (مسلم)

حل اللغات: ① الْأَنْبَاطِ: زميندار، نبط اونبيط دمشهورغرنوم دې. داخلق به دغه غرسره اوسيدل په دې وجه ورته انباط وائى. ② صُبَّ: اړول. تويول ③ الْخَرَاجِ: زرعى تيكس.

تسهيلات:

قوله: هِشَامَ بْنَ حَكِيمٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ:

د هشام بن حكيم تعارف: دا د لوئى شان والا صحابى دې په امربالمعروف اونهى عن المنكركولوكښې مشهور اومعروف وو. د اشراف قريش نه وو د فتح مكه په موقع باندې مسلمان شوې اود ۱۲۰ كالوپه عمركښې ۵۴هجرى كښې په مدينه منوره كښې انتقال شوې دې. شپيته كاله ئى په جاهليت كښې اوشپيته كاله ئى په اسلام كښې تيركړى

قوله: الْأَنْبَاطِ:

د لفظِ انباط تحقيق: علامه نووى رحمه الله فرمائى چه انباط دعجم زميندارانوته وائى الزيت د زيتون ګرم تيل مراد دى. فى الخراج يعنى هغوى خراج او تيكس تراوسه پورې نه دې اداكړې په دې وجه ورته دا سخته سزا وركولې شى

۱) اخرجه مسلم فى كتاب البرّ والصّلة والآداب/باب الوعيد الشّديد لمن عذّب النّاس بغير حقّ (رقم-۱۱۸ - (۲۶۱۳) واحمد فى المسند: ۴/۴۰۳

قوله: إِنَّ اللّٰهَ يُعَذِّبُ:

د تعذیب بدله په آخرت کښې: یعنی کوم سړي چه مخلوق خدا په دنیاکښې څنګه ناحقه په عذاب کښې راګیره وی الله تعالی به دَ قیامت په ورځ هغه هم په هغه شان عذاب او سزاکښې راګیره وی. په یوحدیث کښې دی «لاتعذبوابعذاب الله» اودلته ګرم تیل اچولوسره په اورکښې دَ سوزولوسزا چه یوانسان بل ته ورکوی کومه چه دَالله تعالی نه سوا دَ بل چادَپاره مناسب نه ده.

[۲۵۲۳] ظلم د الله تعالی دغصې سبب

۲۵۲۳ـ [۱۳] (۱) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «يُوشِكُ إِنْ طَالَتْ بِكَ مُدَّةٌ ③ أَنْ تَرَى قَوْمًا فِي أَيْدِيهِمْ مِثْلُ أَذْنَابِ الْبَقَرِ ④ يَغْدُونَ فِي غَضَبِ اللّٰهِ ⑤ وَيَرُوحُونَ فِي سَخَطِ اللّٰهِ) ⑥ وَفِي رِوَايَةٍ: (وَيَرُوحُونَ فِي لَعْنَةِ اللّٰهِ»). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ راته وفرمايل ② که ستا عمر اوږد شو ③ نو ته به نزدي هغه خلق ووينې چې د هغوئ په لاسونو کې به د غوا د لکۍ په شان یو شی [یعنی دوري به وي]، ④ د هغوئ سحر به د الله ﷻ په غضب کې وی. ⑤ او د هغوئ مابنام به د الله ﷻ په سخته ناراضګي کې تیرېږي (یعني په هغه خلقو به هر وخت د الله ﷻ غضب نازلېږلو) ⑥ او په یو روایت کې داسې دي چې د هغوئ مابنام به د الله ﷻ په لعنت کې تیرېږي. (مسلم)

حل اللغات: ① أَذْنَابِ: لکۍ، ② يَغْدُونَ: سحر وخت کښې تلل (داخلیدل). ③ يَرُوحُونَ: دمابنام په وخت کښې راواپس کیدل. ④ سَخَطِ: غضب، غصه (لعنت).

تسهیلات:

قوله: يُوشِكُ إِنْ طَالَتْ بِكَ مُدَّةٌ أَنْ تَرَى الخ:

په دې حدیث مبارك کښې هغه خلقو طرفته اشاره مقصود ده کوم چې د ظالم جابر حکمران ماتحت وی او خپل ځان نه لاندې طبقه یعنی عامو مسلمانانو باندې دوئ ته د ظلم کولو دهمکۍ ورکوی. **یغدون** او **یرجون** نه مراد دوام او استمرار دې. او د حدیث پاك مطلب دادې چې په داسې خلقو باندې مسلسل د الله ﷻ غصه او ناراضګی نازلیږی. یا ددې مطلب دادې چې په دې خلقو باندې په داسې وخت کښې سبا کیږی چې په خلقوباندې ظلم کوی او هغوئ ویروی ، او په دوئ باندې د الله ﷻ غضب نازلیږی او ددې خلقو مابنام هم په داسې کارونو کښې تیریږی.

۱) اخرجه مسلم فی کتاب الجنّة وصفة نعیمها وأهلها/باب النّار یدخلها الجبّارون والجنّة یدخلها الضّعفاء (رقم-۵۳ - (۲۸۵۷) واحمد فی المسند: ۲/۳۲۳

[٢٥٢٤] د امت محمدی دوه دوزخی ډلې

٣٥٢٤-[١٥] (١) ١ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ «صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا: ٣ قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ، ٤ وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ ٥ مُمِيلَاتٌ مَائِلَاتٌ، ٦ رُءُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ، ٧ لَا يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يَجِدْنَ رِيحَهَا، ٨ وَإِنَّ رِيحَهَا لَتُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ كَذَا وَكَذَا» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ او حضرت ابوهریره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ د دوزخيانو دوه ډلي داسې دي چې مانه دي ليدلي (او نه يې وينم) ٣ يوه ډله خو د هغه خلقو ده، چې د هغوئ په لاسونو کې به د غوا د لکۍ په شان دوري وي، چې په هغه سره به ناحقه خلق وهي، ٤ او دويمه ډله د هغه ښځو ده چې په ظاهره خو بي کپړي اغوستي وي، خو په حقيقت کې بربنډې وي، ٥ هغه به سړی ځان ته مائيل کوي، او خپله به د سړو طرف ته مائيلې وي، ٦ د هغوئ سرونه به د بختي اوښ د بوک په شان خوزي، ٧ داسې ښځې به په جنت کې نه داخليږي، او نه به د جنت بوی پيدا کړي، ٨ حالانکه د جنت بوی به دومره دومره (يعني مثلًا د سلو کلونو) د فاصلې (ليري والی) نه محسوسيږي. (مسلم)

حل اللغات: ① صِنْفَانِ: دوه قسمه خلق، ② سِيَاطٌ: دُوره، کروړه، ③ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ: د غوا دلکۍ په شان. ④ كَاسِيَاتٌ: تنګې باريکې جامې اغوستونکې ښځې، ⑤ عَارِيَاتٌ: بربنډې ښځې. ⑥ مُمِيلَاتٌ: نور خلق ځان ته مائله کيدونکې ښځې ⑦ مَائِلَاتٌ: په خپله نورو ته مائله کيدونکې ښځې ⑧ أَسْنِمَةِ: اسنمه دَسنام جمع ده د اوښ قُب. ⑨ الْبُخْتِ: بُختي اوښ (د اوښانو يوقسم ⑩ الْمَائِلَةِ: مائله وی په يو طرف ته حرکت کوی، خوزی، ⑪ مَسِيرَةِ: فاصله، مسافت.

تسهيلات:

قوله: «صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ

د امت د دوو ډلو پيشنګوئی: يعني دوه قسم خلق دی چه ما هغه تراوسه پورې نه دی ليدلی يعنی هغه تردغه وخته پورې موجود شوی نه دی روستو به راځی من اهل النار، يعنی هغوی به دوزخ ته ځی مستوجب ناربه وی دا جداخبره ده چه دَ سزا تيرولونه پس به دَ دوزخ نه اوځی

قوله: قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ

د سياط تحقيق او د دې په مراد کښې اقوال: دادَ سوط جمع ده کوړې ته وائی عربی ممالك کښې دَدې نوم مقرعة دې دَ کوم جمع چه مقارع ده. دا دَ څرمن نه جوړه وی دَدې

١) اخرجه مسلم فی کتاب الجنّة وصفة نعيمها وأهلها/باب النّار يدخلها الجبّارون والجنّة يدخلها الضّعفاء (رقم-٥٢ - ٢١٢٨)

پلنوالي معمولي شان وي او دَ غوئي دَ لکئي په شان اوږده وي جلاد غل بربنډ کړي او په دې باندې وهي

① عام شارحين دَ موجوده زماني پوليس دَدې حديث واضح مصداق ګنړي ځکه چه دَ غوايانو دَ لکو په شان چوکې صرف دَدوی په لاسونو کښې وي سره ددې چه نور ظالمان هم دَدې حديث مصداق جوړيدې شي کوم چه ظالمانو خانانو وډيره ګانو او سردارانو چودهرايانو ظالمان نوکران وي دَدې حديث نه وړاندې چه کوم حديث تيرشوې دې په هغې کښې هم دَ دغه ظالمانو ذکر دې هلته دَهغوی دَ ظلم دَ اوقات هم بيان کړې شوې دې

② شارحين حديث ليکي چه دَدې حديث مصداق هغه خلق دي چه دَ يو ظالم صاحب اقتدار سړي خواکې ناست وي هغوی ته وړاندې روستو کيږي اودَ هغوی په نوم باندې عام خلق ويره وي غريبانان اوکمزوري خلقو ته کنځلې کوي اووهي ټکوي اودَ شريفانو عزتونه دَ خپو لاندې کوي اودَ ليوني سپي په شان هريو خوري دَ هدايه په حاشيه کښې ليکلي دي چه دَ ظالمانو کوم کارندې دي دَهغوی طرف ته دَ شفقت په نظر سره کتل جائزنه دي

③ ملاعلي قاري رحمه الله ليکلي دي چه دې نه مراد هغه ظالمان خلق دي چه دَ ظالم حکمرانانو په در باندې چکرې وهي اودَ ليونو سپو په شان خلق ناحق وهي او په هغوی لاټهي چارج کوي او زغلوي

قوله وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ:

د کاسيات په مفهوم کښې دوه اقوال: ① بعضې علماؤ دَ حديث دَدې حصې مطلب داهم اخستې دې چه په دنيا کښې دغه ښځې عيش عشرت ډول سنګار او نازونعم کښې په هرقسم لباس کښې خوندونه اخلي مګر دَ تقویٰ نه په خالي کيدوباندې په آخرت کښې دَ تقویٰ نيك اعمال دَ لباس نه بربنډې وي

② يعنې داسې ښځې به وي چه په ظاهره به په لباس کښې وي ليکن دَ لباس باريکی به ئې داسې وي چه بدن به ئې صفا ښکاري يا به ئې لباس دومره تنګ وي چه په دې سره به دَ بدن نمائش کيږي مثلاً سهاړي چه واچوي يانيم عريان لباس واچوي يا لوپټه په غاړه کښې زوړند کړي دَ سينې نمائش شروع کړي په دې ټولو صورتونو کښې په ظاهره لباس ښکاري ليکن په حقيقت کښې ښځه په دې کښې بربنډه وي

د حديث د بعضې الفاظو وضاحت:

①مُمِيلَاتٌ: يعنې په دغه لباس کښې ځان جوړ کړي اوبازارونو کښې ګرځي او اجنبي سړي خپل طرف ته مائل کوي اوګرځي.

② مَائِلَاتٌ يعنى دَ كورنه لچك لچك كښې په دې حالت كښې وتل پخپله دَدې خبرې دليل دې چه هغه په قلبى توگه باندې دَ پردو سړو طرف ته مائل ده اوس هغه دَبل دَ ښكار كولو دَپاره راوتلې ده. دَ حديث په دې جملې سره دَ شيطان دَهغه وسوسې جواب كيږى چه دَ آزادو خلقو په زړونو كښې ئې خپل كور جوړ كړې دې اوچه وائى زړه صفا ساتل پكاردى دې حديث شريف اوخودل چه په دغه پوزيشن كښې راتلل هم دَ زړه دَ خرابئ نښه ده.

③ الْبُخْتِ: دادَ بختى جمع ده بختى اوښ هغه وى چه دَ عجمى اوعربى اوښانودَ مشترك نسل نه پيداشوې وى دادَ بادشان بخت نصر طرف ته منسوب دې هغه داسې نسل روان كړې وو ددې په مقابله كښې عراب اوعربى دى.

④ الْمَائِلَةِ: داكلمه دَاسنمه صفت دې يعنى دَ چاقوالى اوغټوالى دَ وجې نه هغه قب به يوطرف ته مائل وى اوخوزيږى به دغه شان دَ ښځودَ سرجوړې اخواديخوا خوزيږى ځكه چه دلته هغه ښځې مراددى چه په خپلو سرونو باندې دَ خپلو چونټو جوړې ترى اودَ چرگ دَ چارخولك په شان اخواديخوا مائل كوى. ملاعلى قارى رحمه الله ليكلى چه دادَ مصر دَ ښخونقشه ده. نبى كريم ليدلې نه دى اووئى خودل دادَنبى كريم معجزه وه.

قوله: لَايَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ:

جنت ته د نه داخليدو په مفهوم كښې دوه اقوال: ① كه دغه ښځې دا ناجائزفيشن او حرام كار حلال اوگڼړى نوبيابه دوى دَ ايمان نه محروم كيدوسره هميشه دَپاره په دوزخ كښې وى اودَ جنت خوشبوئى نه شى حاصلولې. ② اوكه صرف گناهگارې دى نومراد دادې چه كله نيكانې ښځې جنت ته ځى ترهغه وخته پورې به دوى دَ جنت خوشبوئى نه شى اخستلې دَ سزا خوړلونه پس به جنت ته ځى.

③ دا حديث په زجرتوبيخ اوتشديد تغليظ باندې محمول دې

[۳۵۲۵] د مخ د وهلو ممانعت

۳۵۲۵ – [۱۶] (۱) [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] («إِذَا قَاتَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَجْتَنِبِ الْوَجْهَ [۳] فَإِنَّ اللهَ خَلَقَ آدَمَ عَلَى صُورَتِهِ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل [۲] هر كله چې په تاسو كې يو سړى ځوك وهي، نو هغه ته پكار دى، چې د مخ نه ځان اوساتي. [۳] ځكه چې الله تعالى آدم په خپل صورت پيدا كړي دى. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① قَاتَلَ: وهى. جنگ كوى.

---

۱) اخرجه البخارى فى كتاب الإجارة/باب إذا ضرب العبد فليجتنب الوجه (رقم-۲۵۵۹) ومسلم فى كتاب البرّ والصّلة والآداب/باب النّهى عن ضرب الوجه (رقم-۱۱۲ - (۲۶۱۲) واحمد فى المسند: ۲/ ۴۶۳

تسهیلات:

قوله: فَلْيَجْتَنِبِ الْوَجْهَ:

په مخ باندې د وهلو نه ممانعت: یعنی په مخ باندې دَ وهلونه بچ کیدل پکاردی ځکه چه انسان دَ عالم اصغرپه شان دي اودَ ده مخ دَ ده دَ محاسن اوخوبیانو مرکزدې اودَ الله تبارك وتعالی دَ تخلیق اعلی شاهکاردې. لهذا دا بالکل مناسب نه دی چه څوك دې دَ دې توهین اوکړی اودې په وهلوسره شکل وران کړی.

قوله: فَإِنَّ اللّٰهَ خَلَقَ آدَمَ عَلٰى صُوْرَتِهِ:

د علی صورته په مطلب کښې مختلف اقوال: دَدې جملې په وضاحت کښې مختلف اقوال دی اودَ اقوالو دَ کثرت وجه دَ ضمیردَمرجع تعین دې. دلته

① الله تعالی حضرت آدم علیه السلام دَ تخلیق په ممتاز صورت باندې پیدا کړو په کوم کښې چه دَ نورو مخلوقاتو دَتخلیق انداز نه دې اختیارکړې شوې نودَنورو مخلوقاتو دَ تخلیق مراحل جدا دی اودَحضرت آدم علیه السلام معامله جدا ده.

② دَ ضمیرمرجع پخپله حضرت آدم علیه السلام دې اومطلب به داسې شی چه الله تعالی حضرت آدم علیه السلام هم دَ آدم په صورت کښې پیدا کړې دې یعنی دَ آدم علیه السلام صورت په خپله یو مثال دې لکه چه یوبچې دَ خپل مور پلار په شکل باندې نه وی نو مئیندې وائی دا بچې هم په خپل شکل پیدا شوې دې دا توجیه ډیره واضحه ده.

③ ضمیردَ الله تعالی طرف ته راجع دې اودَ صورت نه مراد بدن شکل او شباهت نه دې بلکه دَ صورت نه مراد صفات اوکمال دې یعنی الله تعالی حضرت آدم علیه السلام په خپلو صفاتو باندې پیدا کړو چه په هغه کښې علم وقار صبر برداشت اولیدل اوریدل اودکلام صفتونه کیخودل سره دَدې چه په دې صفاتو کښې تفاوت اوفرق دې. لیکن الله تعالی "تخلقوا باخلاق الله" په توګه حضرت آدم علیه السلام اودَ هغه اولاد پیدا کړو چه دَ الله تعالی اخلاق خپل کړئی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۵۲۶] دَ چادَ کور پرده لرې کولو سزا

۳۵۲۶–[۱۷] (۱) ① عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② ((مَنْ كَشَفَ سِتْرًا فَأَدْخَلَ بَصَرَهُ فِي الْبَيْتِ قَبْلَ أَنْ يُؤْذَنَ لَهُ، ③ فَرَأَى عَوْرَةَ أَهْلِهِ ④ فَقَدْ أَتَى حَدًّا لَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَأْتِيَهُ،

---

۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی الاستئذان قبالة البیت (رقم-۲۷۰۷)

ترجمه: [۱] حضرت ابوذر ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] که يو سړی د چا د کور پرده خلاصه کړه او د هغه په کور کې يې خپل نظر واچولی، هر کله چې هغه ته (د هغه په کور کې د تاکولو او دا خليدو) اجازت نه وو، [۳] او هغه د هغه کور والا وليدل [۴] نو (هغه يو داسې کار وکړي، چې د هغه په وجه) هغه قابلِ تعزير شو ، ځکه چې دا هيڅ کله جائز نه دی، چې هغه (بلا اجازته) د چا کور ته راشي (او د هغه په کورکي وګوري)،

حل اللغات: ①كَشَفَ: ښکاره کړلو، لرې کړلو، ②سِتْرًا: سَتر، پرده، ③حَدًّا: پوله، سزا، تعزير.

[۱] وَلَوْ أَنَّهُ حِينَ أَدْخَلَ بَصَرَهُ، [۲] فَاسْتَقْبَلَهُ رَجُلٌ فَفَقَأَ عَيْنَهُ، مَا عَيَّرْتُ عَلَيْهِ، [۳] وَإِنْ مَرَّ الرَّجُلُ عَلَى بَابٍ لَا سِتْرَ لَهُ غَيْرِ مُغْلَقٍ، [۴] فَنَظَرَ، فَلَا خَطِيئَةَ عَلَيْهِ، [۵] إِنَّمَا الْخَطِيئَةُ عَلَى أَهْلِ الْبَيْتِ»). [۶] رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] که په هغه کور کې تاکولو سره وکتل، [۲] او د کور والاوو نه يو سړی مخې ته راغلی، او هغه د تاکونکي سترګه ماته کړه، نو زه به هغه سترګه ماتونکي ته هيڅ کله سزا ورنه کړم) او نه په طور د تاوان به په هغه څه څيز واجب کړم، [۳] خو که يو سړی په داسې دروازه تيريږي، چې په هغه نه څه پرده وي او نه هغه بنده وي. [۴] او د هغه نظر د کور په خلقو ولګيږي، نو په هغه څه ګناه نشته، [۵] بلکه ګناه خو په کور والا ده. چې هغوئ دا دروازه ولې بنده نه کړه، او په هغه يې پرده ولې وانه چوله. [۶] ابوداؤد ﷫ دا روايت نقل کړي دی او ويلې يې دی چې دا حديث غريب دی.

حل اللغات: ④فَفَقَأَ: سترګه اوچوله، راويستله ⑤مَا عَيَّرْتُ: تعييرد باب تفعيل نه شرم ورکول. يعنی ما غيرت اونکړو. سزا مې ورنکړه، ⑥مُغْلَقٍ: بند،

تسهيلات:

قوله: فَرَأَى عَوْرَةَ أَهْلِهِ: دَعورت نه مراد هرهغه څيزدې دکوم په کتلو سره او ښکاره کيدلو سره چه سړې شرم اوعار محسوس کوی. دَ کورخلق په دې کښې داخل دی

قوله: فَقَدْ أَتَى حَدًّا:

د حداً په مراد کښې دوه اقوال: ①دلته دَ حدنه تعزيرمراد دې يعنی قابل تعزير جرم ئې اوکړو ② يا دَ حدنه مراد هغه غاړه او پوله اومقام دې دکوم پورې چه دَدې سړی راتګ جائز نه وو.

قوله: فَاسْتَقْبَلَهُ رَجُلٌ: يعنی دکوردَ دننه نه څوك سړې مخې ته راغلو

قوله: مَا عَيَّرْتُ عَلَيْهِ: يعنی زه به دغه سترګه زخمی کونکې سړې نه ملامته کوم ځکه چه جرم دَ دغه کتونکی سړی دې. دا هغه وخت چه کوم وخت دُ کور مخې ته پرده زوړند وی او دروازه بنده وی اوکه چرې دروازه کولاؤ وی يا پرده نه وی نوبيا جرم دَ کور والو دې

کتونکی ته به دا سزا نه شی ورکولې داحدیث مسلمانانو ته داتعلیم ورکوی چه دکورونو دروازې بندې ساتئی یا مکمل پرده زورندې کړئی دې دپاره چه بې پردگی نه وی.

[۳۵۲۷] د توري وغيره د ورکولو په وخت کښې تيره طرف ځان ته ساتل

۳۵۲۷-[۱۸] (۱) ۱ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: ۲ «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُتَعَاطَى السَّيْفُ مَسْلُولًا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت جابر ﷺ وايي ۲ چې رسول الله ﷺ بې تيکي توره په لاس کې د ساتلو نه منع فرمايلي ده، (ترمذي ابوداود)

حل اللغات: ① أَنْ يُتَعَاطَى: چې لاس په لاس کښې يوبل ته يو څيز ورکړی ② مَسْلُولًا: ښکاره. برښده توره.

تسهيلات:

قوله: أَنْ يُتَعَاطَى السَّيْفُ مَسْلُولًا:

برښده توره بل ته د ورکولو حکم: يعنی برښده او راويستلې شوې توره دَ چا په لاس کښې مه ورکوه ځکه چه دَدې دَ پريوتلو اومخامخ سړې زخمی کيدو احتمال دې بل برښده توره اخستو په وخت اخستونکی ته دَ زخم لګيدو ويره وی چه دَ يومسلمان دَتکليف سبب جوړيدې شی. داحکم صرف دَ توره نه دې بلکه دَهريوتيره مخ والا چاقو چاړه وغيره هم دغه حکم دې اودا دَ حسن معاشرت اودَ تهذيب خلاف دی. په دې وجه دا نهی تنزيهی ده کوم ته چه نهی ارشادی وائی اوتهذيب داسې دې چه دَتيره مخ والا څيزچاته دَ ورکولو په وخت هغه تيره مخ خپل طرف ته کوه اويا په تيکی کښې بندولو سره ورکوئی دې دپاره چه اخستونکی ته ويره نه وی.

[۳۵۲۸] د دوو ګوتو په مينځ کښې ورکولو سره د تار د شلولو ممانعت

۳۵۲۸-[۱۹] (۲) ۱ وَعَنِ الْحَسَنِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنْ سَمُرَةَ، ۲ «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يُقَدَّ السَّيْرُ بَيْنَ أُصْبُعَيْنِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت حسن رحمه الله د حضرت سمرة ﷺ نه نقل کوي ۲ چې رسول الله ﷺ د دې خبري نه منع فرمايلي ده چې تسمه دې د دوو ګوتو په منځ کې وشلول شي (ځکه چې په داسې کولو سره ګوتې زخمي نشي)، (ابوداود)

حل اللغات: ① يُقَدَّ: قديقدنصرينصرنه. شلولې شی. څيرې شی ② السَّيْرُ: تسمه. د څرمنې ټکړه. سخت تار

۱) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الجهاد /باب في النّهى أن يتعاطى السّيف مسلولا (رقم-۲۵۸۸) والترمذى فى كتاب الفتن عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم /باب ما جاء فى النّهى عن تعاطى السّيف مسلولا (رقم-۲۱۶۳) والترمذى فى كتاب الفتن عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم /باب ما جاء فى النّهى عن تعاطى السّيف مسلولا (رقم-۲۱۶۳) واحمد فى المسند: ۳۰۰/۳

۲) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب السّنّة /باب فى قتال اللّصوص (رقم-۴۷۷۲)

تسهيلات: قوله: أَنْ يَقُدَّ السَّيْرَ بَيْنَ أُصْبُعَيْنِ:

د مذکوره جملې مفهوم: دَدې جمع سيور راځي دې نه مراد تسمه يا هغه سخت تار دې دَ کوم په پرې کولوسره چه دَ ګوتو پرې کيدو احتمال وي. خلق دغه شان څيزونه په عام توګه دَ دوارو لاسونو په ګوتوکښې نيسي اودَ کټ کولو کوشش کوی په کوم سره چه ګوتې زخمی کيږي. دَدې نه ممانعت هم نهی تنزيهی او انهی ارشادی اودَ شفقت په بنياد باندې دې

[۲۵۲۹] دَځان په حفاظت کښې دمړشوی دپاره دشهادت زيرې

٢٥٢٩–[٢٠] (١) ١ وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ٢ «مَنْ قُتِلَ دُونَ دِينِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ، ٣ وَمَنْ قُتِلَ دُونَ دَمِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ، ٤ وَمَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ، ٥ وَمَنْ قُتِلَ دُونَ أَهْلِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ١ او حضرت سعيد ابن زيد ﷺ راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ کوم سړی چې د خپل دين حفاظت کولو سره ووژل شي، هغه شهيد دی، ٣ او کوم سړی چې د خپل ځان د حفاظت کولو سره ووژل شي، هغه شهيد دی، ٤ او کوم سړی چې د خپل مال په حفاظت کولو ووژل شی، هغه شهيد دی، ٥ او کوم سړی چې د خپل اهل وعيال په حفاظت کولو سره ووژل شي، هغه شهيد دی، (ترمذي ابوداود نسايي)

حل اللغات: ① دُونَ: دون دَ جدا جدا په معنی کښې دې. دا لفظ کله دَ سوا په معنی کښې راځی اوکله اَدون دَ کم تر په معنی کښې راځی، نزدې، مراد ترې حفاظت دې.

تسهيلات: قوله: مَنْ قُتِلَ دُونَ دِينِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ:

د څلورو څيزونو په حفاظت کښې د مرګ حکم: دَ دين حفاظت کښې دَ وژلو مطلب دادې چه دَ يومسلمان په مخکښې يوکافر يا مبتدع اوملحد دَ اسلام دين او قرآن توهين اوتحقيراوکړو اودامسلمان هغه سره په جنګ شو اودغه ملحددې مړ کړو نودا شهيددې اودَ شهيد درجه حاصلونکې دې. که چرې ده هغه ملحد قتل کړو نودې غازی دې. هم دغه شان معامله دَمال اومتاع اوعزت اوناموس او دَ شرم ده. که يوسړې دَهغه عزت دَ خپو لاندې کوی اوهغه دې قتل کړو نو په هغه باندې هيڅ تاوان نشته اوکه دغه حمله کونکی هغه قتل کړو نودا شهيددې. علماؤ ليکلی دی چه اول به ئی په نرمئی سره پوهه کوې او که نه منع کيږی نو بيا به لاس اوچتوې نوبيا به دا سړې يا غازی اويا شهيد وی.

١) والترمذی فی کتاب الدّيات عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فيمن قتل دون ماله فهو شهيد (رقم-١٤٢١) والنسائی فی کتاب تحريم الدّم/باب من قتل دون ماله (رقم-٤٠٩٠) وابن ماجه فی کتاب الحدود/باب من قتل دون ماله فهو شهيد (رقم-٢٥٨٠) واحمد فی المسند:١٩٠/١

[۳۵۳۰] په امت محمدی د وسلې راویستونکی دپاره په جهنم کښې دروازه

۳۵۳۰-[۲۱] (۱) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۲] «لِجَهَنَّمَ سَبْعَةُ أَبْوَابٍ: [۳] بَابٌ مِنْهَا لِمَنْ سَلَّ السَّيْفَ عَلَى أُمَّتِي - أَوْقَالَ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ» -) [۴] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. [۵] وَحَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ: (الرَّجُلُ جُبَارٌ) ذُكِرَفِي (بَابِ الْغَضَبِ). [۶] وَهَذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّالِثِ

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما د نبي كريم ﷺ نه نقل كوي چې حضور ﷺ وفرمايل [۲] د دوزخ اوه دروازي دي، [۳] په هغه کې يوه دروازه د هغه سړي د پاره ده، چې زما د امت په خلقو، يا دا يي وفرمايل چې په امت محمديه په ناحقه توره اوچته کړي. [۴] او دا روايت ترمذي رحمه الله نقل کړي دی او ويلي يې دی چې دا حديث غريب دی [۵] او د ابوهريره رضی الله عنه حديث چې «الرجل جبار» په باب الغضب کښې ذکرشوې دې [۶] اودا باب د دريم فصل څخه خالی دې.

حل اللغات: ① سَلَّ: اوچت کړلو،

تسهیلات:

نوټ: د دې حديث تسهيل د حديث نمبر (۳۵۲۱) په وضاحت کښې ذکرشوې دې.

[۲] بَابُ الْقَسَامَةِ

دَ قسامت بيان

خلاصة الباب:

فيه حديثان مشتملان على مسئلتين:

① كون القسامة خمسين يميناً جانب المدعى، ۱

② كون القسامة خمسين يميناً جانب المدعى عليه، ۲

د قسامت لغوي تحقيق:

قسامت دَ قا زبر سره دَ قسم نه ماخوذدې. قسم يقسم قسماًوقسامة دَقسم اوچتولو په معنى کښې دې او په قسامه کښې هم دَ پنځوسو سړو نه قسم اخستلې شی يا قسامة دَ قسمت او تقسيم نه ماخوذ دې اوچونکه په قسامه کښې قسمونه په ډيرو سړو باندې تقسيم کيږی په دې وجه دې ته قسامه اووئيلې شو.

دَ قسامه حکم دَ اسلام نه وړاندې په جاهليت کښې هم وو اسلام دَ وينې دَ حفاظت اودَ انسانی جان دَ حفاظت دَ وجې نه دا حکم باقی اوساتلو. اوس قسامه دَ اسلام دَ احکاماتو

۱) اخرجه الترمذي في كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب: ومن سورة الحجر (رقم-۳۱۲۳) واحمد في المسند: ۲/ ۱٤

نه يو شرعي حكم دي چه د نبي كريم د مباركې زمانې نه تر ننه پورې محكم او غير منسوخ راروان دي. قسامه د اسلام د قواعدونه يو اهم قاعده او د انسانانو د مفاداتو او مصالحو يوه لويه ذريعه ده او د انساني معاشرې دپاره د امن يو اهم سبب دي. د قسامه د تنفيذ او نافذ كولو په طريقه كاركښې سره د دې چه د علماؤ په مينځ كښې څه قدرې تفاوت دې ليكن د دې باوجود ټول فقهاء او ټول علماء د قسامه په ثبوت او بقاء باندې متفق دي

د قسامت اصطلاحي تعريف: قسامه هغه پنځوس قسمونو ته وئيلې شي چه په هغه اهل محله يا اهل دار يعني دكور په خلقو كيخودې شي چرته چه مقتول ليدلې شوې وي

د قسامت مثال: مثلاً په يوه محله كښې يو سړې مړ اوليدلې شو اوس كه په دغه سړي باندې د مرئي خفه كولو يا په يو څيز د وهلو څه نښه موجود نه وي نو هم دا به ګڼړلې شي چه دا سړې هم په خپل مرګ مړ دې. د قاتل د لټون هيڅ ضرورت نشته دې اوكه د دغه مړسړي په بدن باندې د زخم يا مرئي خفه كولو نشان وي نو هم دغه به ګڼړلې شي چه دا څې قتل كړې دې اوس د قاتل لټون ضروري دي. نو شريعت دغه د محلې والا ذمه وار ګرځولې دي په كومه محله كښې چه مقتول موندلې شوې دې چه هغوي دې قاتل اوښائي يا دې قسمونه اوخوري چه هغوي نه د دې قتل علم نشته دې او نه ورته د قاتل علم دې

د قسم خوړلو طريقه: د قسم خوړلو طريقه داسې ده "والله ما قتلناه وماعلمنا قاتله" قسم اوچتونكې به د محلې معزز خلق وي عاقل بالغ او آزاد به وي سره د دې چه پنځوس كسان د دغه محلې نه نه پوره كيږي نو د قسم تكرار كولو سره به پنځوس قسمونه پوره كوي

د قسامت حكم او فائده: د قسم خوړلو سره به په هغوي باندې ديت لازم وي دې دپاره چه انساني ځان بې ځايه او ضائع نه شي او د هرې محلې خلق د انساني ځان حفاظت كونكي جوړ شي

د قسامت سبب: د قسامه سبب او د هغې علت په يوه محله كښې د مقتول موندلې كيدل دي

د لوث لغوي معنى: لوث نشان او علامت ته وائي

د لوث صورتونه: ① لوث دا دې چه په قاتل باندې د وينو څاڅكي لګيدلې وي

② د هغه توره د مقتول په وينه سره ككړه وي

③ د مقتول په خاندان يا دغه محلې والو كښې د اول نه دښمني روانه وي

④ چه يو عادل سړي ګواهي وركړي يا ډير غير عادلان دا ګواهي وركړي چه دې محلې والو مقتول وژلې دې. دا قرينه قوليه ده او د ګواهئ نصاب پوره نه دې. په دې وجه په دغه ناقص ګواهئ سره د قاتل نه قصاص نه شي اخستلې

د لوث عدم اعتبار: د ائمه احناف په نيز د لوث هيڅ اعتبار نشته دې نور ائمه د دې اعتبار كوي تفصيل راروان دې

صورت د مسئلې: په یوه محله کښې مقتول موندلې کیدوباندې به په دغه محله کښې دَ قاتل دَ لټون عمل شروع کولې شی لیکن دَ تفتیش دَدې عمل ترتیب به څه وی. په دې کښې دَ فقهاء کرامو جدا جدا اجتهادی فتوې دی په کوم سره چه دَ قسامه په مفهوم کښې هم فرق راغلې دې اوګورئی

د قاتل د لټولو په ترتیب کښې ۲ مذاهب:

اول مسلک: دَ شوافعو اومالکیه مسلك دادې چه کوم وخت دَ مقتول اولیاؤ په محلې والوباندې دَ مقتول دَ قتل دعویٰ اوکړه نودوی مدعیان شو اومحلې والا مدعاعلیهم شو نوکه چرې دلته دَ لوث صورت وی یعنی په چاباندې دَ قتل نشانات موجود وی نودَ مقتول دَاولیاء نه به پنځوس قسمونه اخستلې شی چه تاسو قسم اوخورئی اوښایئې چه قاتل څوك دې؟ که چرې دې پنځوسو کسانو قسمونه اوخوړل چه فلانکې سړې قاتل دې نوکه اوس دعویٰ دَ قتل خطاء ده نو په دغه خلقوبه دیت لازم راشی اوکه چرې دَ قتل عمددعویٰ ده نودَامام شافعی رحمه الله مختارقول دادې چه هم دیت به واجب کیږی
لیکن دَ امام مالك رحمه الله امام احمد رحمه الله په نیزاودَ امام شافعی رحمه الله دَ یوقول مطابق به په قاتل باندې قصاص راځی. اوکه چرې دَ مقتول اولیاؤ دَ قسم خوړلونه انکاراوکړو نو بیابه دَ محلې والونه دَ پنځوسوکسانو قسم اخستلې شی. دغه شان که چرې دَ لوث صورت نه وی نوهغه وخت به هم قسمونه په محلې والوباندې راځی.
که دَ محلې والوقسمونه اوخوړل چه نه مونږ قتل کړې اونه مونږ ته دَ قاتل علم شته نودَمحلې والابه دَ دیت اوقصاص نه آزادشی. اوکه دَمحلې والا دَ قسم خوړلونه انکاراوکړی نو بیابه په دوی باندې دیت واجب شی.

د اول مسلک دوه ضروری خبرې: ① دجمهورو دَ دې مسلك نه یوه داخبره معلومه شوه چه په محلې والوباندې به قسم په هغه صورت کښې راځی کوم وخت چه دَ لوث صورت نه وی اویاصرف په هغه صورت کښې په هغوی قسم راځی کله چه دَ مقتول اولیاء دَ قسم کولونه انکار اوکړی

② د قسم خوړلو دپاره اصل ذمه وار د مقتول اولیاء دی چې لوث موجود وی

دویم مسلک: دَ قسم خوړلودپاره اصل ذمه وار دَ مقتول اولیاء دی کوم وخت چه لوث موجودنه وی

که په یوه محله کښې مقتول اوموندلې شی اودَ قاتل پته نه لګی نودَاحنافوپه دې کښې دا مسلك دې چه دَ مدعیانو نه به اول بینه غوښتلې شی که چرې هغوی سره ګواه نه وی نودَ محلې نوموړی اومشهورو پنځوسو سړونه به قسم اخستې شی.هریوبه داسې قسم خوری په الله تعالی قسم چه ما نه داسړې قتل کړې دې اونه ماته دَده دَ قاتل څه علم دې

دَ دغه پنځوسو سړو انتخاب به دَ مقتول ولی کوی اوس که دَ محلې دې پنځوسو کسانو قسم اوخوړلو نو په اهل محله باندې به دیت واجب شي. داخلق دَ قصاص او جیل نه تللو نه دَ قسم په وجه بچ شو خوکه دامنتخب پنځوس سړی دَ قسم خوړلونه انکار کوی نو دوی به په جیل کښې اچولې شی تردې چه دا خلق یا دَ قتل اقرار اوکړی یا قسمونه اوخوری.

د دویم مسلک دوه ضروری خبرې: دَدې مسلك نه دوه خبرې معلومې شوې ① دَ مقتول وارثان یعنی په مدعیانوباندې به په هیڅ یوصورت کښې قسم نه راځی

② قسم نه خوړلوسره په قسامه کښې قصاص نه راځی په هرحالت کښې هم دیت دې ځکه چه دَ قسامه په یوحدیث کښې هم دَ قصاص ذکرنه دې راغلې

د مذهبینو خلاصه: خلاصه دا چه دَ احنافو په نیز په هیڅ یوصورت کښې قسمونه دَ مقتول په وارثانونه راځی اودَ جمهورو په نیزدَ لوث په صورت کښې دَ مقتول په اولیاء باندې قسمونه راځی.

بل دَ احنافو په نیز په اهل محله باندې په هرصورت کښې دیت لازم دې که هغوی قسمونه اوخوری اوکه دَ قتل اقرار اوکړی. دا په دې وجه چه دَ یومسلمان وینه ضائع نه شی جمهور وائی چه قسمونه خوړلوسره به محلې والا دَدیت نه آزادشی.

داول فریق دلیل: دَ قسامه په احادیثوکښې مختلف اومتضاد الفاظ راغلی دی نوفقهاء په اجتهادی اندازسره دَ دغه الفاظونه په خپله مدعاباندې دلیل پیش کړې دې. نو اول فریق دَ وجوب قصاص دَپاره دَدې الفاظونه استدلال فرمائیلې دې کوم چه سهل بن ابی حثمه رضی الله عنه په روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ دَ مقتول اولیاء ته اوفرمائیل "استحقوا قتیلکم ای قصاص قتیلکم" امام شافعی رحمه الله اوامام مالك رحمه الله دَ مقتول دَ اولیاء نه قسمونه اخستلودَپاره هم دَدې حدیث دَدې الفاظونه استدلال کوی "بایمان خمسین منکم وفی روایة تحلفون خمسین یمینًا".

داول فریق د دلیل جوابونه: ①دَ قسامه چې څومره احادیث دی په یوکښې هم دَ قصاص تذکره نشته دې ټولو کښې دَ دیت ذکردې لهذا دَ قصاص قول دَدې روایاتو په موجودګئ کښې مناسب هم نه دې اومعتبرهم نه دې

د دویم فریق دلائل: ① دَ مقتول دَ اولیاء نه قسمونه نه اخستلودَپاره دا مشهورحدیث د دوی مستدل دې. چه په حقیقت کښې دَ دین دَټولو معاملاتودَپاره یوه ضابطه ده یعنی "البینة علی المدعی والیمین علی من انکر".

② دَ باب القسامة دَ رافع بن خدیج رضی الله عنه روایت هم د دوی مستدل دې چه فصل ثالث کښې دَ قسامه دویم حدیث دې په کوم کښې چه په واضحه توګه دَ مدعیانونه ګواه طلب

کړې شوې دې اوبيا دَمدعاعليهم نه دَ قسم اخستلو ترتيب ذکر دې
④ په ابوداؤد شريف کښې دَ رافع بن خديج رضي الله عنه په روايت کښې چه کوم تفصيل دې هغه خپلول پکاردې په هغې کښې په واضحه توګه ذکر دې چه نبي کريم دَ ټولونه اول دَ مقتول دَ اولياء نه څوك چه مدعيان وو اوفرمائيل تاسو په دې قتل باندې ګواهان راولې هغوی اووئيل چه مونږ سره ګواهان نشته دې نبي کريم اوفرمائيل چه بيا دَيهودونه دَ پنځوسو کسانو قسمونه واخلئ. هغوی اووئيل چه دَ يهودو په قسمونوباندې څو اعتماد نشته دې. په دې باندې نبي کريم دَ زجر توبيخ او انکار په توګه اوفرمائيل نو بيا تاسو پخپله قسمونه خوړل غواړئ اوخورئ؟ يعنې دَهغوی قسمونه منظورنه دي نوبيا تاسو پخپله قسمونه اوخورئ حالانکه تاسو مدعيان ئې اودَمدعی دَپاره قسم خوړل نه دي ځکه چه مشهورحديث دې (البينة على المدعی واليمين على من انکر) دَدې واضحه حديث په مقابله کښې دَ قسامه دَ احاديثو اشارات نه استدلال نه شي کولې
⑤ دَقسامه باره کښې حضرت عمر رضي الله عنه هم دَ صحابه په مجمع کښې مدعی عليهم نه قسمونه واخستل اودَ اجماع په توګه ئې واضح اوفرمائيل چه دَ مقتول په اولياء باندې قسمونه نشته دې

د قسامت په احاديثو کښې تعارض او دهغې دفع: باب القسامه کښې صاحب مشکوة صرف دوه احاديث ذکرکړې دې اوامام مسلم رحمه الله ډير احاديث ذکر کړې دې. په دغه احاديثوکښې يوڅو الفاظ داسې دې په کوم کښې چه خپل مينځ کښې تضاداوتعارض دې. ځکه چه دَ قسامه نور رواياتوته کتلوسره يوڅوخبرې مخې ته راځي.
① بعضې رواياتوکښې دَ بينه ذکر دې اوبعضې کښې دَ بينه تذکره نشته دې.
② دَ بعضې رواياتونه معلوميږې چه اول دَ مقتول دَ اولياء نه دَ قسم خوړلو مطالبه کړې شوې ده اوبعضې نه معلوميږې چه اول دَمدعا عليهم نه دَ قسمونو مطالبه کړې شوې ده
③ دَ بعضې رواياتونه معلوميږې چه يهوديانو قسمونه خوړلې وو اوبعضې نه معلوميږې چه هغوی انکارکړې دې
④ بعضې رواياتوکښې راغلې دې چه دَمقتول ديت نبي کريم اداکړې وو اوبعضې رواياتوکښې دې چه يهوديانو ديت اداکړې وو. دَ دې تضاد وضاحت داسې دې چه کوم ځائې په رواياتوکښې دَ بينه تذکره نشته دې نوهغه دَعدم وجدان بينه دَ وجې نه دې ګنې دَ بينه ذکر موجود دې او چرته چه دَ مدعی نه دَ قسم مطالبه معلوميږې نوهغه په حقيقت کښې استفهام انکاری دې. اوچرته چه دَ رواياتونه معلوميږې چه يهوديانو قسمونه خوړلې دي نو په اصل کښې يهوديانودَ محکمه قضاء نه بهر قسمونه خوړلې وو ليکن په

عدالت كښې ئې انكار اوكړو. اوچرته چه په رواياتو كښې ذكر دې چه ديت نبي كريم اداكړې نو په اصل كښې د ديت څه حصه نبي كريم اداكړې اوڅه حصه يهوديانو اداكړه. تنازعه دفع كولو د پاره ديرش اوښان نبي كريم وركړل او اويا اوښان يهوديانو وركړې وو. د دې تفصيلاتو نه پس به اوس په احاديثو باندې پوهيدل آسان شي

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٣٥٢١] په قسامت كښې د قسم اخستلو بيان

٣٥٢١-[١] (١) [١] عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، وَسَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، أَنَّهُمَا حَدَّثَا [٢] «أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ سَهْلٍ وَمُحَيِّصَةَ بْنَ مَسْعُودٍ أَتَيَا خَيْبَرَ [٣] فَتَفَرَّقَا فِي النَّخْلِ، [٤] فَقُتِلَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَهْلٍ، [٥] فَجَاءَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سَهْلٍ وَحُوَيِّصَةُ وَمُحَيِّصَةُ ابْنَا مَسْعُودٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،

ترجمه: [١] حضرت رافع رضي الله عنه ابن خديج او سهل رضي الله عنه ابن حثمه دواړه بيان كوي [٢] چې عبدالله بن سهل او محيصه رضي الله عنه ابن مسعود خيبر ته راغلل، [٣] نو (يوه ورځ د سيل كولو سره) دواړه د كجورو په ونو كې يو د بل نه جدا شو (يعني يو يو طرف ته لاړل. او دويم بل طرف ته) [٤] عبدالله ابن سهل (يواځې پيدا كيدو سره) چا قتل كړې [٥] (د دې حادثې نه وروسته) عبد الرحمن ابن سهل (چې د مقتول حقيقي ورور وو) او د مسعود دواړه ځامن حويصه رضي الله عنه او محيصه رضي الله عنه (چې د مقتول د تره ځامن وو) د نبي كريم ﷺ په خدمت كې حاضرشو ،

حل اللغات: ① تَفَرَّقَا: ديو بل نه جدا شول

[١] فَتَكَلَّمُوا فِي أَمْرِ صَاحِبِهِمْ فَبَدَأَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ، [٢] وَكَانَ أَصْغَرَ الْقَوْمِ، فَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (كَبِّرِ الْكُبْرَ). [٣] قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ: يَعْنِي لِيَلِيَ الْكَلَامَ الْأَكْبَرُ- [٤] فَتَكَلَّمُوا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اسْتَحِقُّوا قَتِيلَكُمْ [٥] أَوْقَالَ صَاحِبَكُمْ بِأَيْمَانِ خَمْسِينَ مِنْكُمْ

ترجمه: [١] او د خپل عزيز مقتول په باره كې يې مقدمه پيش كړه، عبد الرحمن چې د خبرو شروع وكړه (چې د مقتول حقيقي ورور وو) [٢] او په دريو سړو كې د ټولو نه كم عمره وو، نبي كريم ﷺ هغه ته وفرمايل چې د خپل مشر د مشرۍ خيال وساته (يعني په تاسو دريو سړو كې چې كوم مشر وي، هغه دې خبرې شروع كړي) [٣] حضرت يحيى ابن سعيد (چې د دې حديث يو راوي دی) وايي چې د دې ارشاد ګرامي نه د حضور ﷺ مراد دا وو چې كوم

(١) اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب باب إكرام الكبير. ويبدأ [ص:٣٤] الأكبر بالكلام والسؤال (رقم-٦١٤٢) ومسلم في كتاب القسامة والمحاربين والقصاص والديات/باب القسامة (رقم-٢ - (١٦٦٩) والترمذي في كتاب الديات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في القسامة (رقم-١٤٢٢) والنسائي في كتاب القسامة/بابذكر اختلاف الفاظ الناقلين لخبر سهل فيه (رقم-٤٧١٢) ومالك في الموطا كتاب القسامة/باب تبدئة أهل الدم في القسامة (رقم-١)

سرې د تولو نه مشر وي، نو هغه د خبرو ذمه وار وي،[۴] نو د دې نه وروسته په هغوئ کې مشر خبرې شروع کړه، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل که په تاسو کې پنځوس سړي قسم واخلي، نو تاسو د خپل مقتول،[۵] يا د مقتول په ځای دا يي وفرمايل چې د خپل ملګري د خون بها يا قصاص اخستو مستحق يئ .

حل اللغات: ③كَبِّرِ الْكُبْرَ: د مشر د مشرئ خيال اوساته ④لِيَلِيَ الْكَلَامَ الْأَكْبَرُ: يعنې مشر د خبرو ذمه وار وی ⑤اسْتَحِقُّوا قَتِيلَكُمْ: نو تاسو د خپل مقتول د حق (خون بها يا قصاص) اخستو مستحق يئ . ⑥أَيْمَانٍ: قسم

[۱] قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ أَمْرٌ لَمْ نَرَهُ قَالَ: [۲] فَتُبَرِّئُكُمْ يَهُودُ فِي أَيْمَانِ خَمْسِينَ مِنْهُمْ [۳] قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ قَوْمٌ كُفَّارٌ [۴] فَفَدَاهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قِبَلِهِ. [۵] وَفِي رِوَايَةٍ تَحْلِفُونَ خَمْسِينَ يَمِينًا [۶] وَتَسْتَحِقُّونَ قَاتِلَكُمْ أَوْ صَاحِبَكُمْ [۷] فَوَدَاهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عِنْدِهِ بِمِائَةِ نَاقَةٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] هغوئ عرض اوکړو چې يا رسول الله! ﷺ دا خو داسې څيز دی، چې مونږ نه دی ليدلی (يعنې مونږ ته قطعًا دا نه ده معلومه چې مقتول کوم سړي قتل کړي دی) [۲] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې پنځوس يهوديان دي قسم اخستو سره (ستاسو د دې شبې نه) تاسو پاك کړي (يعنې هغه دي دا قسم واخلي، چې مقتول مونږ نه دی قتل کړی، او دغه شان په هغوئ چې د قتل کولو شبه يا الزام دی، هغه به دوي ختم کړي)[۳] هغوئ عرض اوکړو چې يا رسول الله! ﷺ هغه خو کا فران دي (د هغوئ په قسمونو څه اعتبار دی)[۴] نو رسول الله ﷺ (د فتنی د دفع کولو د پاره) د مقتول وارثانو ته د خپل طرف نه خون بها اداکړه [۵] او په يو روايت کې دا الفاظ دي چې حضور ﷺ وفرمايل تاسو پنځوس قسمونه واخلی،[۶] او د خپل مقتول يا دا يي وفرمايل چې د خپل ملګري د خون بها مستحق شی. [۷] د دې نه وروسته حضور ﷺ د خپل طرف نه (د بيت المال نه) سل اوښان په خون بها کې ادا کړل. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ①أَمْرٌ: کار. معامله ⑦لَمْ نَرَهُ: چه مونږ نه ده ليدلې ⑧فَتُبَرِّئُكُمْ: بَری دې کړی تاسو. خلاص دې کړئ تاسو ⑨فَوَدَاهُ: ادا ئې کړلو

تسهيلات:

قوله: فَتَفَرَّقَا فِي النَّخْلِ:

د حديث مذكور پس منظر: يعنې عبدالله بن سهل رضي الله عنه اوحويصه بن مسعود رضي الله عنه خيبرته تلی وو ځکه چه د خيبرد فتح کيدونه پس د هغې زمکه په مسلمانانو کښې تقسيم شوې وه. نو مسلمانان به کله کله د خپلو زمکو د کتلو په غرض سره هلته تلل. يهوديان خوهسې هم د مسلمانانو ځانی دښمنان وو. دې نه علاوه دا چه هغوی په دغه زمکوباندې خپل حق

ګرځول په دې وجه به هغوی هلته وخت په وخت حالات خرابول وسره بدامنی خوروله. هم په دغه ماحول کښې دا دوه صحابه کرام ﷺ هلته تلي وو اوکله چه د يوبل نه جدا شو نوموقع مومندو سره د خيبر يهوديانو عبدالله بن سهل ﷺ په باغونوکښې شهيد کړو هم دغه يهوديانو روستو په خيبرکښې حالات نور خراب کړل اوبدامنئ سره فحاشی هلته ښه عروج ته اورسيده نوحضرت عمرفاروق ﷺ په خپل دورخلافت کښې هغوی د نبی کريم د فرمان مطابق د شام د زمکې طرف ته ورديکه کړل.

قوله:(كَبِّرِالْكُبْرَ)-:

د حديث فوائد: ① په حدودوکښې وکالت جائز دې او د غائب سره سره د حاضر وکالت هم جائز دې

② يودا آدب ملاؤشو چه احترام اواکرام او د آدابو تقاضا داده چه په مجلس کښې دې کشران چپ ناست وی اوخبرې اترې دې مشران حضرات کوی. الکاشف ۱۱۷/۷.

③ دلته د مقتول ولی اوحقيقی رور حضرت عبدالرحمن بن سهل ﷺ موجود وو ليکن د کشروالی د وجې نه نبی کريم د کلام کولوحکم نورو ته ورکړو کوم چه مشران وو او د تره خامن ئی وو. د دې حديث نه دا خبره هم ثابته شوه چه قسامت کښې د مدعی نه مخکښې قسم واخستې شی دا د جمهورو مسلك دې. د احنافو دليل راتلونکی روايت کښې دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۵۳۲] قسامت کښې د قسم شروع د چا څخه؟

۳۵۳۲-[۲] (۱) ① عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ: «أَصْبَحَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ مَقْتُولًا بِخَيْبَرَ ② فَانْطَلَقَ أَوْلِيَاؤُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرُوا ذٰلِكَ لَهُ ③ فَقَالَ: أَلَكُمْ شَاهِدَانِ يَشْهَدَانِ عَلَى قَاتِلِ صَاحِبِكُمْ ④ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ لَمْ يَكُنْ ثَمَّ أَحَدٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ،

ترجمه: ① حضرت رافع ابن خديج وايي چې په انصارو کې يو سړی (يعني عبد الله ابن سهل) په خيبر کې قتل شو، ② د هغه وارثان (يعني د هغه وررور او د تره خامن) د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو، او خپله مقدمه يي پيش کړه. ③ حضور ﷺ هغو ته وفرمايل چې آيا ستاسو سره دوه شاهدان شته؟ چې ستاسو د مقتول د قاتل په باره کې شاهدي ورکړي. ④ هغوئ عرض اوکړو چې يا رسول الله ﷺ هلته يو مسلمان خو موجود نه وو،

حل اللغات: ① ثَمَّ: اسم اشاره ده هلته.

۱) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الدّيات/باب فی ترک القود بالقسامة (رقم-۴۵۲۴) والترمذی فی كتاب الأحكام عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فی أنّ البيّنة على المدّعى. واليمين على المدّعى عليه (رقم-۱۳۴۲)

۱ وَإِنَّمَا هُمْ يَهُودُ وَقَدْ يَجْتَرِؤُنَ عَلَى أَعْظَمَ مِنْ هَذَا ۲ قَالَ: فَاخْتَارُوا مِنْهُمْ خَمْسِينَ فَاسْتَحْلِفُوهُمْ، فَأَبَوْا ۳ فَوَدَاهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عِنْدِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ البته يهوديان وو، چې په ظلم کولو فتنه او فساد خورولو او په حيله ګيرى کې ډير مشهور دى. هغه خو د دې نه هم د لوى کار جرات کوي (لکه انبياء قتلول. په کلام الله کې تحريف کول او احکام خداوندي نه صريحًا سرکښي کول) ۲ حضور ﷺ ورته وفرمايل چې ښه دى تاسو د هغوئ نه پنځوس سړي منتخب کړي. او هغوئ نه قسمونه واخلي. ليکن د مقتول وارثانو، د يهوديانو د قسم اخستو نه انکاروکړي (ځکه چې هغه پوهيدل چې هغه دومره مکار دي چې دروغ قسمونه به واخلي) ۳ نو رسول الله ﷺ د هغه مقتول خون بها د خپل طرف نه اداء کړه، (ابوداود)

حل اللغات: ۲ يَجْتَرِؤُنَ: جرأت کوى.

د احنافو استدلال:

تسهيلات:

قوله: أَلَكُمْ شَاهِدَانِ:

د احنافو تائيد: دا حديث په دې باندې واضح دلالت کوى چه په قسامت کښې دَ مدعى نه اول ګواه طلب کولې شى که چرې ګواه نه وى نوبيابه دَمدعاعليه نه قسم اخستې شى اوهم دغه دَ شريعت عام ضابطه هم ده اوهم په دې باندې دَ احنافو عمل هم دې (البينة على المدعى واليمين على من انكر)

احناف وائى چه دې روايت نه وړاندې روايت کښې اجمال دې او ممکن دى چه بيانولو کښې دَ راويانو نه تقديم اوتاخير شوې وى لهذا دَدې مجمل په مقابله کښې دا مفسرروايت اخستل زيات مناسب دى اودَصاحب مشکوة طرزبيان هم دغه شان دې چه هغه راتلونکې روايت دَ تفسيرپه توګه او دَ وضاحت په توګه راوړى.

[۳] بَابُ قَتْلِ أَهْلِ الرِّدَّةِ وَالسِّعَايَةِ بِالْفَسَادِ

دَ مرتد او فساديانو دَ قتلولو بيان

خلاصة الباب:

فيه أحد وعشرون حديثاً مشتملة على خمس مسائل:

① النهي عن التعذيب بالنار: ۱، ۲، ۹۔

② النهي عن الفساد ذات البين: ۵، ۶، ۱۲، ۱۵۔

③ النهي عن المثلة: ۷، ۸۔

④ النهي عن التعلق بالمشركين: ۱۳، ۱۴۔

⑤ قتل أهل الردة والبغاة وقطاع الطريق والسحرة: ۱، ۳، ۴، ۷، ۱۰، ۱۱، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱۔

قال الله تعالى ﴿إِنَّمَا جَزَاؤُا الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا﴾ [سورة المائدة الايه: ۳۳].

قوله: أَهْلِ الرِّدَّةِ

د ارتداد لغوی معنی: دا باب دَ مرتددَ قتل او فساد خورونکو دَ قتل متعلق دي ارتدیرتدارتدادا، واپس کیدلو او راګرځیدلو په معنی کښې دي کوم سړي چه دَ اسلام قبلولو نه پس دَ اسلام نه اوړی هغه ته مرتد وائی.

د ارتداد اصطلاحی تعریف: شاه ولی الله رحمه الله فرمائی دَ دایمان موجودوالی نه پس په ژبه دَ کفر کلمه راوړلو نوم ردة ارتداد دي. یعنی چه په ژبه باندې ئی داسې کلمه راشی چه دَ دین دَ ضروریاتو نه په انکار باندې مبنی وی یا په تکذیب باندې مبنی وی یا دَ دین دَ یو حکم په استهزاء باندې مبنی وی یا قصداً داسې فعل او شی چه په استهزاء او استخفاف دین باندې دلالت کوی.

د ارتداد شرطونه: دَ ارتداد دَپاره دَ سړی عاقل کیدل شرط دي او بالغ کیدل هم شرط دي لهذا په نابالغ ماشوم یا مجنون باندې دَارتداد حکم نه نافذ کیږی کوم سړي چه مرتد شی هغه ته به دوباره اسلام پیش کولې شی که هغه بیا په اسلام کښې داخل شو نوښه ده ګنی هغه به قتل کولې شی.

دَ ارتداد صورتونه:

① دَ الله تعالی ذات او صفات کښې دَ یو انکار یا توهین کول.

② په انبیاء کرام کښې دَ چانه انکار کول یا توهین کول. دَ الله تعالی او دَ هغه دَ رسول ﷺ

طرف ته څه نامناسب خبره منسوب کول،
③ دَ مونځونو او نورو عباداتو انکار کول اودَدې توهين کول،
③ دَ کفر کلمات وئيل اودَ موجب کفر افعالو ارتکاب کول، دَ قرآن مجيد نه انکار کول يا دا ناقص اومحرف ګڼړل يا قولاً اوفعلاً دَدې توهين کول،
④ حرام حلال اوحلال حرام ګڼړل، دَ قيامت انکار کول يا دې سره متعلق دَ شريعت منافي عقيده ساتل.
⑤ دَ علم دين اوعلماء اسلام متعلق دَ موجب کفر قول اوفعل ارتکاب کول.
⑥ دَعالم بالا اوفرښتو نه انکار کول يادَهغې توهين کول، دَ جنت اودوزخ نه انکار کول يا دې پورې توقې کول دا ټول دَ ارتداد اقوال او افعال دی.

دمرتدينو خلاف د جهاد کولو وجوب: دَمرتدينوخلاف جهاد کول ضروري وی. صديق اکبر ﷺ دَ نبی کريم دَ وصال نه پس دَ مرتدينوخلاف دَ يو کال پورې جهاد کړې وو. دَ طرفين شپيته زره کسان مړه شوی وو نوهله په جزيره عرب کښې اسلام دغه ځائی ته اورسيدلو کوم چه په عهدنبوی ﷺ کښې وو.

مرتد ته د اسلام دعوت ورکول: مرتدته دَاسلام دعوت ورکول مستحب حکم دې واجب نه دې ځکه چه يوځل واجب دعوت هغه ته رسيدلې دې. که چرې مرتدمهلت غواړی نودَامام شافعی رحمه الله په نيزدې ورځو پورې مهلت ورکول واجب دی. بعضې علماء فرمائی چه مهلت ورکول واجب او ضروري نه دی ځکه (من بدل دينه فاقتلوه) چه کوم حديث دې په دې کښې دَ مهلت ورکولوهيڅ ذکر نشته دې. بهرحال دريوورځوپورې به دَدغه مرتدخبره اوريدې شی اوهغه له دَ ښه پوهيدلو اوپوهه کولوموقع ورکول پکارَدی اوبهترداده چه هغه په جيل کښې اوساتلې شی. که چرې هغه منع نه شونوهغه به قتل کولې شی.

د ښځې د ارتداد په سزا کښې ۲ مذاهب:

① ائمه شوافعو رحمهم الله وغيره دَ مرتدې ښځې دَ قتل قائلين دی.
② دَاحنافو په نيز ښځه که دَ اسلام نه واوړی نو دَهغې سزا جيل دې اوپوهه کول دی قتل کول نه دی

د اول فريق اول دليل: ①دَحديث عموم د دوی مستدل دې په کوم کښې چه دی (من بدل دينه فاقتلوه) اودا حکم مطلق دې د نارينه او زنانه د حکم تفريق په کښې نشته نو دا حديث دَمرتدې ښځې قتل ته هم شامل دې.

داول فريق داول دليل جواب: اګرچې دلته مطلقاً په کلمه د ،،من،، کښې عموم دې سرو او ښځو ټولو ته شامليږی خو په نورو احاديثو کښې د ښځې د قتلولوځخه استثناء

راغلي ده. د هغه احاديثو په وجه به دلته د ،،من،، د عموم څخه د ښځې تخصيص كوو.

د اول فريق دويم دليل: ② دحضرت معاذ رضى الله عنه حديث د دوى مستدل دي په هغې كښې دى ،،ايما امراة ارتدت عن الاسلام فادعها فان عادت فبها وان لا فاضرب عنقها،، دلته دا صريحى حديث دي كه مرتده ښځه وى نوهغه به هم اول اسلام طرف ته رابللې شى كه دوباره اسلام ته راونه ګرځيده نوځپ نې كټ كړه

داول فريق ددويم دليل جواب: د معاذ رضى الله څخه د ښځې د نه قتلولو روايت هم منقول دې نوهركله چې د يو راوى دوه احاديث په خپل مينځ كښې متعارض شى دواړه به ساقطيږى. اوقابل استدلال به نه پاتې كيږى.

ددويم فريق دلائل: ① دابن عباس رضى الله عنهما حديث دي،،لاتقتلو امراة اذا ارتدت،، يعنى كه چې ښځه مرتده شى نو هغه مه قتلوئ. دا به ابن عباس رضى الله عنهما د نبى عليه السلام څخه اوريدلې وى د ځانه په حدودو كښې څوك خبره نشى كولې

② په ډيرو احاديثو كښې دَ ښځې دَ قتل كولونه نبى كريم منع فرمائيلې ده.

③ ښځه ناقص العقل ده او دَ دښمن په صفونو كښې يوځائى كيدوسره دَ جنګيدو قابل هم نه ده البته كه يوه كافره ښځه سردارى كوى يا مال وركوى نوهغه به قتل كولې شى

قوله: وَالسِّعَايَةِ بِالْفَسَادِ:

د سعاية مصداق: دادَ ساعى جمع ده چه دَ محنت اوكوشش كولو په معنى كښې دې دلته دَدې نه داسې سړې مراددې چه په دين اسلام اومسلمانانوكښې دَ فسادخورولوكوشش كوى. دَ سعاة مصداق لاروهونكى ډاكوان اوقطاع الطريق قسم خلق دى نو ﴿ إِنَّمَا جَزٰٓؤُا الَّذِيْنَ يُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ﴾ [سورة مائدة الايه:۳۳] آيت كښې هم دَدې قسم خلقوطرف ته اشاره موجودده

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۵۲۳] دَ مرتد د قتلولو حكم

۲۵۲۳—[۱] (۱) ① عَنْ عِكْرِمَةَ قَالَ: «أُتِيَ عَلِيٌّ بِزَنَادِقَةٍ فَأَحْرَقَهُمْ ② فَبَلَغَ ذٰلِكَ ابْنَ عَبَّاسٍ فَقَالَ: ③ لَوْكُنْتُ أَنَا لَمْ أُحْرِقْهُمْ لِنَهْيِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ④ "لَا تُعَذِّبُوا بِعَذَابِ اللّٰهِ". ⑤ وَلَقَتَلْتُهُمْ لِقَوْلِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ بَدَّلَ دِيْنَهٗ فَاقْتُلُوْهُ"». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

---

۱) اخرجه البخار ى فى كتاب استتابة المرتدّين والمعاندين وقتالهم/باب حكم المرتدّ والمرتدّة واستتابتهم (رقم-۶۹۲۲) و ابو داود فى كتاب الحدود/باب الحكم فيمن ارتدّ (رقم-۴۳۵۱) والترمذى فى كتاب الحدود عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فى المرتدّ (رقم-۱۴۵۸) والنسائى فى كتاب تحريم الدّم/باب الحكم فى المرتدّ (رقم-۴۰۵۹) كتاب الحدود/باب المرتدّ عن دينه (رقم-۲۵۳۵)

ترجمه: [۱] حضرت عكرمه رحمه الله وايي چې (يو ځل) څه زنديقان د حضرت علي كرم الله وجهه په خدمت كې راوستل شو، نو حضرت هغه وسوځول، [۲] ابن عباس رضي الله عنهما چې د دې خبرې نه خبر شو، نو وي فرمايل [۳] كه زه وې نو ما به نه وه سوځلی، ځكه چې رسول الله ﷺ دا ممانعت فرمايلی دی [۴] چې يو سړي په داسې عذاب كې مه مبتلاء كوی چې د الله تعالى د عذاب په شان وي (لكه څوك په اور كې سوځول) [۵] بلكه ما به هغه قتل كړي وو، ځكه رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې كوم سړی خپل دين بدل كړي هغه قتل كړي. (بخاري)

حل اللغات: ① بِزَنَادِقَةٍ: زنادقه دَ زنديق جمع ده، په دين كښې الحاد كونكې، ملحد فى الدين.

تسهيلات:

قوله: أُتِيَ عَلِيٌّ بِزَنَادِقَةٍ

د زنديق په تفسير كښې مختلف اقوال: ① زنديق يو داسې سړې دې چه دَاسلام دَ حقانيت اقراركوی ليكن دَ دين اسلام احكامات او دَ دين دَ ضرورياتو داسې تفسير اوتشريح كوی كوم چه دَ سلف صالحين اوصحابه و تابعينو دَ تشريح اوتوضيح خلاف وی ياد شريعت يو ثابت شوې قطعى حكم مثلاً جنت دوزخ منى ليكن دَدې دواړو دَ خپل طرف نه دَځان نه جوړشوې تشريح كوی او وائى چه جنت څه خاص ځائى اومقام نه دې بلكه دَجنت نه مراد قلبى راحت اوتسلى ده اودَ دوزخ نه مراد قلبى غم او پريشانى ده په خارج كښې دَدې دواړو هيڅ حقيقت نشته دې.

② زنديق هغه وی چه دَ اسلام منافى عقيده لرى اودَهغې خورونه او اظهارهم كوى اودې سره دَ اسلام دعوىٰ هم كوى.

③ زنديق دَ مجوسيانودَ يوقوم نوم دې چه دَزرتشت مجوسى دَځان نه جوړشوې كتاب "زند" منونكى دى ليكن په عام اصطلاح كښې هرملحدفى الدين ته زنديق وئيلى شى.

د حضرت على د خدائى قائلين: بعضې علماؤ دَ عبدالله بن سبايهودى منافق دَقوم كسانوته زنديق وئيلې دې. كومو چه حضرت على رضي الله عنه ته خدائى اووئيل حضرت على رضي الله عنه هغوى منع كول ليكن دغه خلقو اووئيل چه حضرت على رضي الله عنه تواضع كوى هم دغه على پورته په عرش باندې الله وو (العياذبالله) اوبنكته دَحضرت على رضي الله عنه په شكل كښې راكوزشوې دې. حضرت على رضي الله عنه هغوى پوهه كړل مگر داخلق منع نه شو ځكه چه داخلق دَفتنه اوفساد خورولو دَپاره اسلام كښې داخل شوې وو

د مذكوره خلقو په اور كښې سوزول: حضرت على رضي الله عنه دَهغوى دَ سوزولو حكم وركړو اوكندې اوكنستلې اوپه هغې كښې اور بل كړو. اودغه ټول ئى اوسيزل. كله چه حضرت على رضي الله عنه هغوى اوسيزل نوحضرت ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائيل كه چرې زه دَعلى په ځائى

باندې وې نوما به هغوی په اورکښې دَ سیزلو په ځائی قتل کول یا په بل څه ذریعه به مې وژل ځکه چه دَ اور په ذریعه قتل کول دَالله تعالی حق دې.

په زندیق او منافق کښې فرق: په زندیق اومنافق کښې دا فرق وی چه منافق خپلې غلطې عقیدې پټوی لیکن زندیق خپل عقائد ښکاره کوی.

دَ زندیق دَ توبې حکم: علماؤ لیکلی دی دَ زندیق توبه معتبر نه ده لهذا دَهغه دَ توبه او استغفار هیڅ ضرورت نشته دې. هغه قتل کول دی لیکن بعضې نور علماء فرمائی دَ زندیق توبه جائز اوقبوله ده. امام نووی رحمه الله په شرح مسلم کښې لیکلی دی چه راجح اوصحیح دغه دی چه دَزندیق توبه قبوله ده ځکه چه دَ توبه احادیث مطلق دی اوصحیح دی اګرچه دَزندیق توبه قبلیدو اونه قبلیدو کښې پنځه اقوال دی.

دَ حضرت علی دَ خپل اجتهادی غلطئ اقرار: دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما رائې چه کله حضرت علی رضی الله عنه واؤریده نوزنادقه سوزول ئې بندکړل اووئی فرمائیل دَ ابن عباس قول ربنتیادې. معلومه شوه چه حضرت علی رضی الله عنه دَ اجتهاد په توګه هغوی سوزول دې دَپاره چه دَ نورو دَپاره عبرت جوړشی اوحضرت علی رضی الله عنه ته دَ خدائی وئیلودا جرم نورڅوک اونه کړی.

[۳۵۳٤]په اور سره دَ سوزولو څخه ممانعت

۳۵۳٤–[۲] (۱)① وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:② "«إِنَّ النَّارَ لَا يُعَذِّبُ بِهَا إِلَّا اللّٰهُ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه:① او حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما وايي چې رسول الله وفرمایل ② د اور په عذاب کې خو یواځې الله جل جلاله يي مبتلا کوي (نو د الله جل جلاله نه سوا د بل چا د پاره مناسب نه دی چې هغه انسان ته دهغه د یوجرم په وجه په اورکې د سوځولو سزا ورکړي) بخاري

تسهیلات:

قوله: إِنَّ النَّارَ لَا يُعَذِّبُ بِهَا إِلَّا اللّٰهُ: ژوندې په اور کښې د سیزلو اختیار صرف الله جل جلاله لره دې چې الله جل جلاله به خپنې عاصی مسلمانان او کفار په اور کښې سیزی.

[۳۵۳۵]د خوارجو د ښکاره کیدو پیشن ګوئی

۳۵۳۵–[۳] (۲)① وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ:② "«سَيَخْرُجُ قَوْمٌ فِي آخِرِ

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسّیر/باب التّودیع (رقم-۲۹۵٤)
۲) اخرجه البخاری فی کتاب استتابة المرتدّین والمعاندین وقتالهم/باب قتل الخوارج والملحدین بعد إقامة الحجّة علیهم (رقم-٦۹۳۰)ومسلم فی کتاب الزّکاة/باب التّحریض علی قتل الخوارج (رقم-۱۵٤ - (۱۰٦٦)) و ابو داود فی کتاب السّنّة/باب فی قتال الخوارج (رقم-٤۷٦۷) واحمد فی المسند:۱/۱۳۱

الزَّمَانِ ③ حُدَثَاءُ الْأَسْنَانِ سُفَهَاءُ الْأَحْلَامِ ④ يَقُولُونَ مِنْ خَيْرِ قَوْلِ الْبَرِيَّةِ ⑤ لَا يُجَاوِزُ إِيمَانُهُمْ حَنَاجِرَهُمْ ⑥ يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّينِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ ⑦ فَأَيْنَمَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاقْتُلُوهُمْ ⑧ فَإِنَّ فِي قَتْلِهِمْ أَجْرًا لِمَنْ قَتَلَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت علي كرم الله وجهه وايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل ② ډير نزدې د دې زماني په آخر کې به څه داسې خلق پيدا شي ③ چې خلمي به وي د سپك عقل والا به وي، ④ خلقو ته به بني خبري بيانوي، ⑤ ليکن د هغوئ ايمان به د هغوئ د حلق نه مخې ته نه ځي (د ايمان نه مراد مونځ دی، يعنی د هغوئ مونځونه به نه قبليږي). ⑥ او دا خلق به د دين [يعنی د امام وخت او د علمايي حق د اطاعت] نه داسې وځي. څنګه چې غشی د لیندۍ نه وځي، ⑦ په تاسو کې چې کوم سړی د داسې خلقو سره يو ځاي شي. نو هغه دي قتل کړي، ⑧ ځکه چې د هغوئ د قتلولو به هغه سړي ته د قيامت په ورځ انعام ورکول کيږي، کوم څوك چې هغه قتل کړي، (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① حُدَثَاءُ: دَ حديث جمع ده مګر خلاف القياس دې. کم عمر ځوانان. ② الْأَسْنَانِ: دَ سن جمع ده غاښونو ته وائی. دَعمرنه کنايه ده. ځکه چه دَ غاښونو په اعتبارسره عمربدليږی. ③ سُفَهَاءُ: دَ سفيه جمع ده کمزوری عقل والا. بې عقل اوبې وقوف ④ الْأَحْلَامِ: دَ حِلم جمع ده په حاء باندې کسره ده. عقل ته وائی. ⑤ الْبَرِيَّةِ: دَزمکې دپاسه مخلوق دپاره وئيلې شی. ⑥ لَا يُجَاوِزُ: تجاوز نه کوی. تيريږی نه ⑦ حَنَاجِرَهُمْ: دَ حنجرة جمع ده، حلقوم او مرئ مراد ده. ⑧ يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّينِ: مرق يمرق مرقاً دَ نصرينصرنه دَوتلوپه معنی کښې دې. ⑨ الرَّمِيَّةِ: د ويشتلو آله. ليندۍ.

تسهيلات:

قوله: يَقُولُونَ مِنْ خَيْرِ قَوْلِ الْبَرِيَّةِ:

د مشكاة په نسخو كښې اختلاف: يعنی دَ خوخو خلقو ښکلې خبرې نقل کولوسره به بيانوی. دلته داخبره دَ ياد ساتلوده چه دَ مشکوة شريف په ټولو نسخوکښې عبارت هم دغه شان دې چه دَ خير لفظ په قول باندې مقدم دې مګر په مصابيح کښې دَ قول لفظ دَخير په لفظ باندې مقدم دې عبارت داسې دې "من قول خير البرية"

د خير البرية په مفهوم كښې دوه اقوال: ① شيخ اشرف رحمه الله فرمائی دَ "خير البرية" نه مراددادې چه دَنبی کريم ﷺ دَ تعليماتوخبرې به کوی

② بعضې دَ "خيرالبرية" نه مراد قرآن اخستې دې يعنی دَ قرآن پاك آياتونه به وائی مګر په هغې باندې به ايمان نه راوړی ايمان به ئې صرف په ژبه باندې وی زړه به ئې دَ ايمان نه خالی وی.

قوله: يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّينِ:

د مذکوره جملې مفهوم: دَ نصرینصرنه دَوتلو په معنی کښې دې. "الدین" نه ملاعلی قاری دَ وخت دَ برحق بادشاه تابعداری مراد اخستې ده یعنی دین نه به داسې خارج شی لکه په ښکار باندې غورزولې شوې غشې دَ ښکار دَ مینځ نه په تیزئی سره اوځی اودَ وینې نه بالکل ککړ کیږی نه. دا خلق به هم دَ اسلام نه صفاصفا اوځی اوپه دوی باندې به دَاسلام هیڅ اثر نه ښکاری. دَدې پیشنګوئی مصداق خوارج دی.

دَ خوارجو شرعی حیثیت څه دې؟: -علامه خطابی رحمه الله دَ خوارج متعلق فرمائی چه دادَ مسلمانانو نه یوه فرقه ده مګر ګمراهئی دوی راګیرکړی دی دَدوی ذبیحه حلال ده اودَهغوی ښځوسره نکاح جائز ده. دَ حضرت علی رضی الله عنه نه دَ خوارج باره کښې تپوس اوکړې شو چه آیا داخلق کافران دی؟ هغوی اوفرمائیل چه دَ کفرنه خوداخلق تختیدوسره تلی دی. تپوس اوکړې شو آیا دا منافقان دی؟ هغوی په جواب کښې اوفرمائیل منافقان ذکر نه کوی داخلق خو الله تعالی سحر اومابنام یادوی. تپوس اوکړې شو بیاداخلق څوک دی دَ دوی شرعی حیثیت څه دې؟ حضرت علی رضی الله عنه اوفرمائیل دا یوه فرقه ده څوک چه ګمراهئی راګیرکړی دی. چاربښتیاوئیلی دی:

ایک ہی بس لفظ سے ہے دونوں فرقوں کا خروج   خائے خر سے خارجی اور رائے خر سے رافضی

توضیحات ۳۱۴/۱باندې دَ منکرین تقدیر تکفیر اوعدم تکفیر بحث هم اوګورئی دَ حضرت علی رضی الله عنه اوحضرت معاویه رضی الله عنه په مینځ کښې دَ مشاجرې په وخت دَ تحکیم دَ واقعې په موقع باندې خوارج پیدا شوې وو. دا دَ حضرت علی رضی الله عنه ملګری وو اوهم دَهغوی خلاف ئی خروج اوکړو او کوفې سره "حروارا" مقام کښې جمع شو دَدوی شمیر شپږ زره وو. په جنګ نهروان کښې حضرت علی رضی الله عنه هغوی ته ماتې ورکړه اوقتل ئی کړل دَ نن صبا دَ سلطنت عمان فرمانروا سلطان قابوس دَ خوارج نه دې اوپه دغه ملک کښې دَ خوارج زور دې. نور تفصیل راروان دې.

[۲۵۳۶] دخوارجو د قاتل دپاره د حق پرسته کیدو زیرې

۲۵۳۶-[۴] (۱)[۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:[۲] "«يَكُونُ أُمَّتِي فِرْقَتَيْنِ[۳] فَيَخْرُجُ مِنْ بَيْنِهِمَا مَارِقَةٌ يَلِي قَتْلَهُمْ أَوْلَاهُمْ بِالْحَقِّ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:[۱] او حضرت ابو سعید خدري رضی الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل[۲] (څه زمانه وروسته) زما امت به په دوو فرقو کې تقسیم شي.[۳] په هغه دواړو فرقو کې به یو داسې جماعت پیدا شي چې (د حق د اطاعت نه) وتونکي به وي، د دې جماعت د وژلو

۱) اخرجه مسلم فی کتاب الزکاة/باب ذکر الخوارج وصفاتهم (رقم-۱۵۱ - (۱۰۶۴)) واحمد فی المسند: ۳۲/۳

ذمه واري به (په دي دوو فرقو كي) هغه سړى پوره كوي چې حق ته نزدې وي، (مسلم)

حل اللغات: ①مَارِقَةٌ: نصر ينصر نه دَ وتلو په معنى كښې دې. ②يَلِي: ذمه واري واخلى ③أَوْلَاهُمْ: زيات حقدار.

تسهيلات:

قوله: يَكُونُ أُمَّتِي فِرْقَتَيْنِ:

د فرقتين مصداق: دې دواړو فرقونه دَحضرت على ﷛ اوحضرت معاويه ﷛ ملګرى دوه فرقې مراددى په دوى كښې يوه فرقه شيعان على يعهنى حاميان على ﷛ په نوم سره مشهوره وه اودويمه فرقه شيعان معاويه ﷛ په نوم سره مشهوره وه.

قوله: فَيَمْرُقُ مِنْ بَيْنِهِمَا مَارِقَةٌ:

د مارقة مفهوم: (اي جماعة مارقة) يعنى دَ اميردَ اطاعت نه وتونكې فرقه دې نه مراد خوارج دى چه دَ واقعه تحكيم په وخت پيداشو. (ان الحكم الا لله) نعرې به ئى لګولې. حضرت على ﷛ ئى كافر اوګرځولو اودَهغوى خلاف ئى جنګ شروع كړو. په دې جنګ نهروان كښې حضرت على ﷛ دَهغوى شپږ زره كسان مړه كړل.

قوله: يَلِي قَتْلَهُمْ أَوْلَاهُمْ بِالْحَقِّ»:

د حضرت على حقانيت: دَدې كلام مصداق حضرت على مرتضى ﷛ دې هغوى خوراجوسره ډير جنګونه كړى دى. په جنګ نهروان كښې هغوى څو زره خوارج هلاك كړى دى. په دې كښې هيڅ شك نشته چه دَحضرت على ﷛ او حضرت معاويه ﷛ دَ خپل مينځ په تنازعات كښې حضرت على ﷛ په حق باندې وو اومونږ حضرت معاويه ﷛ ته هم بد نه وايو ځكه چه هغه په اجتهادى غلطئى باندې وو. په دې جمله كښې هم هغه دَحضرت على ﷛ په مقابله كښې هغوى حق منلې شوې دى. خو حضرت على ﷛ ته اولى واقدم بالحق وئيلې شوې دي.

[۲۵۳۷]په قاتل باندې د كفر اطلاق

۲۵۳۷—[۵] (۱)①وَعَنْ جَرِيرٍ قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ:② " لَا تَرْجِعُنَّ بَعْدِي كُفَّارًا③ يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

۱) اخرجه البخاري في كتاب الفتن/باب قول النبيّ صلّى الله عليه وسلّم: «لا ترجعوا بعدي كفّارا، يضرب بعضكم رقاب بعض» (رقم-۷۰۸۰) ومسلم في كتاب الإيمان/باب «لا ترجعوا بعدي كفّارا يضرب بعضكم رقاب بعض» (رقم-۱۱۸ - (۶۵) و ابو داود في كتاب السّنّة/باب الدّليل على زيادة الإيمان ونقصانه(رقم-۴۶۸۶) والترمذي في كتاب الفتن عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء لا ترجعوا بعدي كفّارا يضرب بعضكم رقاب بعض (رقم-۲۱۹۳)والنسائي في كتاب تحريم الدّم/باب تحريم القتل (رقم-۴۱۳۱) وابن ماجه في كتاب الفتن/باب لا ترجعوا بعدي كفّارا يضرب بعضكم رقاب بعض (رقم-۳۹۴۲) واحمد في المسند: ۴/ ۳۶۶

ترجمه: ① او حضرت جرير رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د حجة الوداع په موقع مسلمانان مخاطب كولو سره ارشاد وفرمايلو ② خبردار زما نه وروسته د كفر په ذريعه شا ته مه گرځئ، ③ چې په تاسو كې دي يو د بل غاړې وهل شروع كړه. (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: لَا تَرْجِعُنَّ بَعْدِي كُفَّارًا:

د مسلمان په قتل د كفر د اطلاق درې وجوهات: ① كوم سړې چه د يو مسلمان ناحق قتل حلال گڼړي هغه كافر كيږي

② دا سړې په دغه عمل باندې كفرته نيژدې شو داجوابونه ځكه وركړې كيدې شي چه د اهل سنت په نيز د كبيره گناه مرتكب كافر كيږي نه

③ دلته حقيقي كفرمراد نه دې بلكه د كافرانو والا كار مراد دې چه دې سړې د كافرانو په شان كار اوكړو.

[۳۵۲۸] د مسلمانانو خپلو كښې په قتال باندې د جهنم وعيد

۳۵۲۸—[۲] (۱) ① وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ② "«إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ حَمَلَ أَحَدُهُمَا عَلَى أَخِيهِ السِّلَاحَ ③ فَهُمَا فِي جُرُفِ جَهَنَّمَ، ④ فَإِذَا قَتَلَ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ دَخَلَاهَا جَمِيعًا»".

ترجمه: ① او حضرت ابوبكر رضي الله عنه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه نقل كوي چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② هر كله چې دوه مسلمان په خپل منځ كې په داسې حال كې يو ځايي شي چې په هغوئ كې يو په بل (مسلمان) ورور وسله پورته كړي، ③ نو هغه دواړه د دوزخ څنډې ته ورسيږي، ④ بيا كه په هغوئ كې يو بل قتل كړي، نو دواړه به يو ځاى په دوزخ كې اچول كيږي.

حل اللغات: ① جُرُف: د دوزخ غاړه.

① وَفِي رِوَايَةٍ عَنْهُ قَالَ: ② «إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ» ③ قُلْتُ: هَذَا الْقَاتِلُ فَمَا بَالُ الْمَقْتُولِ ④ قَالَ: "«إِنَّهُ كَانَ حَرِيصًا عَلَى قَتْلِ صَاحِبِهِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او په يو روايت كې ابوبكر رضي الله عنه نه داسې منقول دى ② چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل كه دوه مسلمانان توره راوښكلو سره سره يو ځايي شي، او په هغوئ كې يو ولگيږي، دويم قتل كړي نو قاتل او مقتول دواړه به (د دوزخ) په اور كې اچول كيږي. ③ ما عرض اوكړو چې د قاتل دوزخ ته تلل خو ظاهر دى، اچې هغه ظلم كړي دى، ځكه به په دوزخ

۱) اخرجه البخاري في كتاب الدّيات/باب قول الله تعالى: {ومن أحياها} [المائدة: ۳۲] (رقم-۶۸۷۵) ومسلم في كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب إذا تواجه المسلمان بسيفيهما (رقم-۱۶ - (۲۸۸۸) و ابو داود في كتاب التّرجّل /باب في النّهي عن القتال في الفتنة (رقم-۴۲۶۸) والنسائي في كتاب تحريم الدّم/باب تحريم القتل (رقم-۴۱۲۰) وابن ماجه في كتاب الفتن/ باب إذا التقى المسلمان بسيفيهما(رقم-۳۹۶۵)واحمد في المسند:۴۱/۵

کې اچول کیږي)، خو د مقتول په باره کې داسې ولې دی؟ (چې هغه خو مظلوم دی، هغه دې ولې په دوزخ کې وغورځول شي؟)[٤] حضور ﷺ وفرمايل (ځکه چې) هغه هم د خپل ملګري (يعني حريف مقابل) په قتلولو آماده وو، دا جدا خبره ده چې د هغه وار خطا لاړل، او د دويم ځل په ځای ولګيدلو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ④ بَالُ :حال، سبب،

تسهيلات:

قوله: فَهُمَا فِي جُرُفِ جَهَنَّمَ:

د جرف لغوي معنی: دَدوزخ غاړې ته جرف وئيلې شوې دې ځکه چه جرب سيلاب سره دَ زمکې هغه پرې شوې حصې ته وائی دَ کوم غاړې چه ډيرې کمزورې شوې وی

قوله: فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ:

د قاتل او مقتول جهنم ته د تلو وجه: قاتل اومقتول دواړه به په دوزخ کښې ځکه چه دواړوکښې يوهم په حق باندې نه وو اوکله چه يوپه حق باندې وی نوهغه به دوزخ ته نه ځی

قوله: عَلَى قَتْلِ صَاحِبِهِ حَرِيصًا:

د مقتول جهنم ته د تلو وجه: يعنی دَ مقتول په زړه کښې دَقاتل دَ قتل زبردسته جذبه وه اودَ عزم درجه وه چه زه به دا قاتل قتل کوم ليکن قاتل دَ هغه په قتل باندې مخکښې کامياب شو. که چرې دَ دغه مقتول په زړه کښې دَ قاتل دَ قتل منصوبه نه وې اوکله چه قاتل حمله اوکړه نودې مقتول صرف دفاع کوله په دې صورت کښې به دې نه شی راګيرولې ځکه چه اسلام دَده په دې صورت کښې دَ دفاع حق ورکړې دې

[٣٥٢٩] د مرتدو غلو سزا

٣٥٢٩ـــ[٤] (١) ① عَنْ أَنَسٍ قَالَ: «قَدِمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَفَرٌ مِنْ عُكْلٍ ② فَأَسْلَمُوا فَاجْتَوَوُا الْمَدِينَةَ ③ فَأَمَرَهُمْ أَنْ يَأْتُوا إِبِلَ الصَّدَقَةِ ④ فَيَشْرَبُوا مِنْ أَبْوَالِهَا وَأَلْبَانِهَا فَفَعَلُوا، ⑤ فَصَحُّوا فَارْتَدُّوا وَقَتَلُوا رُعَاتَهَا ⑥ وَاسْتَاقُوا الْإِبِلَ ⑦ فَبَعَثَ فِي آثَارِهِمْ فَأُتِيَ بِهِمْ ⑧ فَقَطَعَ أَيْدِيَهُمْ وَأَرْجُلَهُمْ ⑨ وَسَمَلَ أَعْيُنَهُمْ ⑩ ثُمَّ لَمْ يَحْسِمْهُمْ حَتَّى مَاتُوا.

ترجمه: ① او حضرت انس ﷺ وايي چې د نبي کريم ﷺ په خدمت کې د قبيله عکل څه خلق راغلل، ② او اسلام يې قبول کړي. خو په هغوئ د مديني آب وهوا موافق را نغله

١) اخرجه البخاری فی کتاب الحدود/باب لم يسق المرتدّون المحاربون حتّی ماتوا (رقم-٦٨٠٤) ومسلم فی کتاب القسامة والمحاربين والقصاص والدّيات/باب حکم المحاربين والمرتدين (رقم-٩ - (١٦٧١)) و ابو داود فی کتاب الحدود/باب الحکم فيمن سبّ النّبیّ صلّی الله عليه وسلّم (رقم-٤٣٦٣) والترمذی فی کتاب الطّهارة عن رسول الله صلّی الله عليه وسلّم/باب ما جاء فی بول ما يؤکل لحمه (رقم-٧٢) والنسائی فی کتاب الزّکاة/باب المؤلّفة قلوبهم (رقم-٢٥٧٨) وابن ماجه فی کتاب الحدود/باب من حارب وسعی فی الأرض فسادا (رقم-٢٥٧٨) واحمد فی المسند:١٦٣/٣

(چې د هغه په وجه هغه په دې مرض کې مبتلا شو چې نسونه يې وپړسيدل او رنګونه يې زيړ شو) [۳] حضور ﷺ هغو ته حکم وکړي چې هغه (د ښار نه دباندې) د زکوٰة د اوښانو خای ته لاړ شي [۴] او هلته دې د هغه اوښانو متيازې او پۍ وڅکي. هغوئ په دې عمل وکړي.[۵] او ښه شو ، بيا هغه (په داسې ګمراهۍ کې مبتلا شو چې مرتدان شول) او (د پاسه لا دا چې) د هغه اوښانو شپونکي يې قتل کړي.[۶] او اوښان يې د ځان سره وتښول.[۷] اهر کله چې رسول الله ﷺ د دې نه خبر شوځ نو په هغوئ پسې يې څو سواره وليږل. چې هغه ټول يې نيولي را وستل [۸] (د هغوئ د دې جرم د سزا په طور د حضور ﷺ په حکم سره) د هغوئ لاس او پښې پرې کړل شو.[۹] او د هغوئ سترګې روخکل شوې.[۱۰] تر دې چې د هغوئ لاس او پښې په ګرم ګرم تيلو کې وداغلې هم نه شو (يعني څنګه چې قاعده ده چې د اعضاء پريکولو نه وروسته په ګرم تيلو کې داغ ورکول کيږي. چې وينه يې بنده شي، ليکن د هغوئ سره دا هم ونه کړې شو) آخر ټول مړه شو .

حل اللغات: ①نَفَرٌ: افراد ، خلق. ②عُكْلٍ: د يوې قبيلې نوم دې. ③فَاجْتَوَوْا: آب وهوا پرې ناموافق راغله . ④أَبْوَالِ : د بول جمع ده، متيازې.⑤وَأَلْبَانِ :د لبن جمع ده. پۍ. شودې. ⑥فَارْتَدُّوا: مرتد شول. ⑦رُعَاتَهَا: د راعي جمع ده، شپونکي، ګډبه. ⑧وَاسْتَاقُوا : اوزغلول. اوشړل. اوتختول ⑨آثَارِهِمْ: روسته روسته. ⑩وَسَمَلَ: ګرمو سيخانو سره سترګې داغل. او ويستل ⑪ يَحْسِمْهُمْ: زخم له داغ ورکوی.

> [۱] وَفِي رِوَايَةٍ فَسَمَّرُوا أَعْيُنَهُمْ [۲] وَفِي رِوَايَةٍ: أَمَرَ بِمَسَامِيرَ فَأُحْمِيَتْ فَكَحَّلَهُمْ بِهَا [۳] وَطَرَحَهُمْ بِالْحَرَّةِ يَسْتَسْقُونَ [۴] فَمَا يُسْقَوْنَ حَتَّى مَاتُوا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] په يو روايت کې داسې دي چې د هغوئ په سترګو کې ګرم سلايان ووهل شو.[۲] او په يوروايت کې دا الفاظ دي چې حضور ﷺ د سلايانو ګرمولو حکم وکړي. هر کله چې هغه ګرم شو ، نو هغه (د اوسپنې) سلاياني د هغوئ په سترګو کې وګرځول شو.[۳] او د دې نه وروسته هغه خلق د مدينې په غرونو کې وغورځول شو ، کله چې به هغوئ اوبه غوښتې [۴] هغوئ ته به اوبه نه ورکول کيدی، ددې پورې چې ټول مړه شو . (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ⑫فَسَمَّرُوا: ګرمې سلاياني ئې ورته په سترګو کښې اووهلې. ⑬فَأُحْمِيَتْ: پس ګرمې کړې شوې ⑭فَكَحَّلَهُمْ بِهَا: په سترګو کښې ئې ورله سلاياني اووهلې ⑮طَرَحَهُمْ: وې غورزول ⑯بِالْحَرَّةِ: کنده، د غرونو منځ ⑰يَسْتَسْقُونَ :داوبو طلب ئې کول.

تسهيلات: قوله: نَفَرٌ:

د نفر معنی: دَ دريونه واخله تردَلسو سړو ډلې دَپاره دَ نفر لفظ وئيلې شي. وئيلی شي چه دا خلق اته نَسان وو.

قوله: مِنْ عُكْلٍ:

په لفظ د عكل كښې د رواياتو اختلاف: دادَ يوقبيلې نوم دې ① دَ بخارى په بعضې رواياتو كښې دې سره دَعرينه لفظ هم راغلې دې مګر شك سره "اوعرينة" الفاظ دى.
② بعضې رواياتو كښې صرف دَ عرينه ذكر راغلې دې
③ او هم دَ بخارى په يوروايت كښې "عكل وعرينة" عطف سره راغلې دې اوهم دغه راجح اوكامل روايت دې معجم طبرانى كښې دى چه په دوى كښې څلوركسان دَعرينه قبيلې نه وو اودرې دَعكل نه وو

قوله: فَاجْتَوَوُا:

د اجتواء تعريف: اجتوا هغه بيمارئى ته وائى چه دَيوعلاقې دَ آب وهوا ناموافق راتلودَ وجې نه سړى ته لګى. په كوم سره چه خيټه خرابيږى. مطلب دا چه په دغه خلقو باندې دَ مدينې آب وهوا برابر رانغله اوبيماران شو اودَمخونو رنګونه ئى بدل شو.

"ابـل الـصدقة" چونكه داخلق مسافرهم وواوفقيران هم وو په دې وجه دَ بيت المال دَ اوښانونه دَهغوى دَپاره فائده اوچتول جائز وو.

قوله: فَيَشْرَبُوامِنْ أَبْوَالِهَا وَأَلْبَانِهَا:

د ماكول اللحم د بولو د طهارت دليل: امام مالك رحمه الله امام احمدبن حنبل رحمه الله اوامام محمد رحمه الله فرمائى دَ كوموڅناورغوښه چه پاكه ده دَهغوى متيازې هم پاكې دى اودَ مذكوره روايت نه استدلال كوى. امام ابوحنيفه رحمه الله امام شافعى رحمه الله اوامام ابويوسف رحمه الله په نيز دَ ماكول اللحم څناورو متيازې نجس دى. اودَ امام ابو يوسف رحمه الله په نيزداقسم متيازې دَ دوائى په توګه استعمالولې شى كه هغه په حالت دَ اختياركښې وى اوكه په حالت دَ اضطرار كښې وى ليكن دَامام ابوحنيفه رحمه الله په نيزپه حالت دَ اختياركښې يوحرام څيز په توګه دَ دوائى استعمالول جائز نه دى. دَ دې مسئلې توضيح په جلداول كښې ليكلې شوې ده هلته اوګورئى.

د حديث د بعضې جملو وضاحت: ① وَاسْتَاقُوا: په دې كښې سين اوتاء دَ مبالغه دَپاره دې مراد "ساقوا" دې يعنى كامل اهتمام اومحنت سره ئى اوښان اوتختول بوئى تلل.
② وَسَمَلَ أَعْيُنَهُمْ: بعضې رواياتو كښې دَ سمر لفظ راغلې دې. علامه ابن التين رحمه الله فرمائى چه دَدواړو معانى هم يو ده چه په ګرمو سيخونو سره دَهغوى سترګې اويستلې شوې. بعضې رواياتو كښې دَ كحل لفظ هم راغلې دې دَدې مطلب هم دغه دې.
③ ثُمَّ لَمْ يَحْسِمْهُمْ: دا حسم دَ سمع يسمع نه دَ داغلوپه معنى كښې دې څكه چه دَ يوزخم نه كله وينه بهيږى اوبنديږى نه نوهغې له داغ وركولې شى. كله په كپړا سره اوكله په ګرمو

تیلوسره داغ ورکولې شي نوبیا وینه بندیږي دلته داسې نه دي کړې شوی بلکه وینه جاري پرېخودې شوې وه

په سزا کښې د سختۍ وجوهات: ① چه دا مساوات فی القصاص وو ځکه چه دغه خلقو هم ګډبنوسره هم داسې بې رحمانه سلوك کولوسره قتل کړې وو

② دغه خلقو د ډیرو لویو جرمونو ارتکاب کړې وو یوخودا خلق مرتد شوی وو دویم قاتلان جوړشوی وو دریم دوی قزاق اوډاکوان جوړ شوې وو په دې وجه هغوی له د سختې نه سخته سزاورکړې شوه چه د نورو د پاره د عبرت سبب شي

③ دا سزا هغه وخت ورکړې شوې وه چه قرآن کښې تردغه وخته پورې د قزاقیانو حکم نه وو راغلې هم دغه وجه ده چه دلته "مثله" اوکړې شوه خودا په اتفاق سره منسوخ دې معلومه شوه چه دا حکم ډیر مخکښې وو بیا قرآنی آیاتونوسره د قزاقیانو د سزا تعین اوشو چه یولاس یو خپه په مخالف سمت کښې پرې کړی شي اویا په سولئی باندې اوځیږولې شي یا دې د وطن نه اوویستلې شي د ائمه احناف په نیز د وطن نه د ویستلونه مراد په جیل کښې اچول دې د پاره چه داخلق توبه اوکړي

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۵۴۰] په اسلام کښې د مُثلې ممانعت

۳۵۴۰—[۸] (۱) ١ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ: ٢ «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحُثُّنَا عَلَى الصَّدَقَةِ ٣ وَيَنْهَانَا عَنِ الْمُثْلَةِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ حضرت عمران ابن حصین ﷺ وایي ٢ چې رسول الله ﷺ به په صدقه خیرات ورکولو مونږ ته رغبت راکولو، ٣ او د مثله (د بدن د یو اندام د پریکولو) نه به یې منع فرمایله. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① اَلْمُثْلَةِ: اندامونه کټ کول. مثلاً پوزه غوږ سترګې اولاس خپې پرې کول

تسهیلات: **قوله:** وَيَنْهَانَا عَنِ الْمُثْلَةِ:

دمثلة تعریف: د مړی یا د ژوندی د بدن بعضې اندامونه کټ کولوته مثله وائی.

دلته لاندینې بحث د لوئې عالم مولانا سیف الله رحمانی د کتاب ،،حلال او حرام،، نه نقل کوم تاسو ئې ملاحظه کړئ.

د مړی د اندامونو نه د استفادې حکم: پاتې شوه د نورو مضبوطو اندامونو پیوند کول نو د فقهی مثالونو نه معلومیږی چه د مړی د اندامونو نه پیوند لګول خو خامخا ناجائز

---

۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد ، باب فی النّهی عن المثلة (رقم-۲۶۶۷) واحمد فی المسند: ٤/٤٤٠

کيدل پکار دی خکه چه شوافع، بعض احناف، د مالکيانو فقهاؤ کښ ابن عربی او په حنابله ؤ کښ ابو الخطاب د مضطر (مجبور) سړی دپاره د مړی د خوراک اجازت ورکړې دي ﴿ قال الشافعي وبعض الحنفية يباح وهو اولى لان حرمة الحي اعظم واختار ابوالخطاب انه له اكله﴾(۱) هم دا خبره امام قرطبی ليکلې ده (۲) او د ابن عربی رائې په دې الفاظو باندې نقل کړې شوې ده ﴿ الصحيح عندي ان لا ياكل الادمي الا اذا تحقق ذلك ينجيه ويحييه﴾(۳) د ژوندو انسانانو د اندامونو استعمال عام طور سره فقهاء کرامو منع کړې دې، دا جزئيه اکثر د فقه په کتابونو کښ موجود ده، چه مکره (مجبور) ته که څوک دا پيش کړی چه ته د مکره (مجبور کونکی) د منشاء مطابق ما قتل کړه يا زما د بدن نه (څه حصه) پرې کړه او اوخوره نو د مجبور دپاره د هغه قتل کول او د هغه د څه حصې پرې کول جائز نه دی (٤) بلکه بعض فقهاء کرامو مضطر د دې خبرې نه هم منع کړې دې چه خپله د خپل بدن څه حصه پرې کولو سره اوخوری (۵) خو که غور اوکړې شی نو معلوميږی چه دا ممانعت د دې دپاره وو چه په هغه زمانه کښ د بدن د يوې حصې د پرې کولو او راويستلو هغه محفوظ طريقه وجود ته نه وه راغلې کومه چه نن صبا ده بلکه داسې پرې کولو سره هغه انسان ته سخت ضرر د هلاکت ويره وه پس مضطر د خپل بدن نه څه حصه پرې کولو سره ولې نه شی خوړې ابن قدامه په دې باندې په دې الفاظو رڼا اچوی:

﴿ لنا ان اكله من نفسه ربما قتله فيكون قاتله بنفسه ولايتيقن حصول البقاء باكله﴾(٦)

ترجمه: زمونږ دليل دا دې چه د هغه د خپل بدن نه خوراک به د هغه دپاره د هلاک سبب باعث شی، پس هغه به خودکشی کونکې شی او د هغه د خوراک کولو نه د ژوند د بچ کيدو يقين نشته.

په موجوده زمانه کښ چونکه د دې دپاره محفوظ او مزيداره طبی طريقه په وجود کښ راغلې ده په دې دې صورت لره هم جائز کيدل پکار دی عام طور سره د دې رواياتو نه غلط فهمی پيدا کيږی چه د هغې مطابق يوې زنانه لره د بلې زنانه د ويښتو د استعمالولو نه منع کړې شوې ده يا هغه فقهی عبارات چه په هغې کښ يو سړې د خپل مات شوی غاښ په ځائې د بل انسانی غاښ نه منع کړې شوې دې حال دا چه دا صحيح نه

۱) المغنی: ۹/۳۳۵)
۲) الجامع لاحكام القرآن: ۳/۲۲۹)
۳) الجامع لاحكام القرآن: ۲/۲۲۹)
۴) بدائع الصنائع: ۷/۱۷۷)
۵) قاضی خان علی الهنديه: ۴۰۴)
٦) المغنی: ۹/۳۳۵)

ده.ځکه چه د ډول دپاره د نورو ویښتو جوړول ضرورت نه دي،صرف ډول او زینت دي او انساني غاښ داسې څيز نه دي چه د هغې دې متبادل نه وی او یا په دې زمانه کښې د هغې متبادل موجود نه وی،د پیوند کولو صورت کښې د یو انسان دپاره د بل انسان اندام د سخت ضرورت او د ځان د بچاؤ دپاره استعمالولې شی او هغه وخت چه کله د هغې څۀ متبادل موجود نه وی.

د انسان اندامونه اخستل خرڅول: اوهر چه د انسان د اندامونو د اخستلو او خرڅولو خبره ده نو په بعض موقعو کښې شریعت انساني وجود او انساني اندامونه متقوم (قابل قیمت) ګنړلې دی او دا هغه وخت دې چه کله یو انسان هلاک کړې شی او یا د هغه یو اندام خراب کړې شی هغې ته په اصطلاح د شرع کښې دیت وائی په دې باندې هم اتفاق دې چه د آزاد انسان د پوره وجود اخستل خرڅول نه شی کیدې.د انساني بدن مختلف اجزاء ویښته او شودۀ وغیره هم دا دوه څیزونه وو چه د هغې نه به په تیره زمانه کښې فائده اخستلې شوه،ویښته چه دهغې استعمال به عموما د ډول اُوسنګار دپاره کولې شو فقهاء کرامو د دې اخستل او خرڅول هم منع کړې دی او دا وجه ئې مقرر کړې ده چه دا د انساني حرمت او کرامت مغایر دې:

﴿ وشعر الانسان والانتفاع به ای لم یجز بیعه والانتفاع به لان الادمی مکرم غیر مبتذل فلا یجوز ان یکون الشئ من اجزاءه مهانا مبتذلا ﴾(۱)

علامه شامی رحمه الله د ویښتو په شان د انسان د نوکونو اخستل او خرڅول هم منع کړې دی ﴿ وکذا بیع کل ما انفصل عن الادمی کشعر وظفر لانه جزء الادمی ولذا وجب دفنه ﴾(۲) خو د شودو (پیو) اخستلو او خرڅولو کښې د فقهاء کرامو اختلاف دې احناف د تکریم انسانیت د وجې نه منع کوی.﴿ لم یجز بیع لبن المراة لانه جزء الادمی وهو بجمیع اجزاء مکرم عن الابتذال بالبیع ﴾(۳) او امام شافعی رحمه الله دې ته جائز وائی.د سرخسی بیان دې:

﴿ وقال الشافعی رحمه الله یجوز بیعه ویضمن متلفه لان هذا لبن طاهر او مشروب طاهر کلبن الانعام ولانه غذاء للعالم فیجوز به کسائر الاغذیة ﴾(٤)

ترجمه:[۱] او امام شافعی رحمه الله فرمائی چه د دې بیع جائز ده او د دې په ضائع کولو باندې به ضمان لازمیږی،ځکه چه دا پاک شودۀ یا مشروب دې د څاروو د پیو په شان او ځکه چه دا د دنیا د خلقو غذا ده.پس د دې خرڅول هم د ټولو خوراکونو په شان به جائز وی.

۱) البحر الرائق:۸/۶ او هندیه هم اوګوره: (۱۱۴/۳)
۲) ردالمختار:۲۴۶/۵)
۳) البحر الرائق ۸۱/۶ او عالمګیری:۱۱۴/۳)
۴) المبسوط:۱۲۵/۱۵)

د حنابلو په نيز د اندامونو د بيع حکم: د فقهاء حنابله ترمينځه اګر چه په دې مسئله کښې اختلاف دې خو د حنبلی فقه د باغ مشهور ترجمان ابن قدامه رحمه الله په نزد هم ترجيح هم دې خبرې ته ده چه د ښځې د پيو اخستل خرڅول جائز دی (۱)

د اندامونو په بيع کښې داحنافو مسلک: پس د احنافو په نزد به صرف د مجبورئ په درجه کښې د داسې اندامونو اخستل خرڅول جائز وی ځنګه فقهاء کرامو د ضرورت په وخت رشوت ورکولو يا د سودی قرض اخستلو اجازت ورکړې دې خو د شوافعو او حنابلو په نزد به د داسې اندامونو اخستل او خرڅول دواړه صحيح وی. په دې سلسله کښې د ابن قدامه دا عبارت او د هغې عموم قابل د لحاظ دې چه ﴿وسائراجزاء الادمی يجوز بيعها لانه يجوز بيع العبد والامة﴾(۲) وړاندې تلو سره ابن قدامه اګر چه د بدن نه د پرې کړې شوې اندامونو اخستل خرڅول حرام کړی دی خو دا د دې وجې نه نه چه د انسانی بدن نه فائده اخستل جائز نه دی بلکه د دې وجې نه د هغه وخته پورې د انسانی اندامونو نه فائده اخستل ممکن شوې نه وو ﴿وحرم بيع العضو المقطوع لانه لانفع فيه﴾(۳)

اوس چه کله داسې ممکن شوی دی د ابن قدامه د تشريح مطابق د داسې اندامونو اخستل خرڅول به هم صحيح وی.

د اندامونو د بيع د جواز شرطونه: پس حاصل دا دې چه:

① دانسانی اندامونو پيوند کولو دپاره چه کومه طبی طريقه ايجاد شوې ده په هغې کښې دانسانيت سپکاوې نشته.

② په دې وجه دا جائز ده خو په دې شرط چه په دې سره مقصود د يو مريض بچ کول وی يا د بدن يو فائده واپس کول وی لکه نظر.

③ او طبيب حاذق وئيلې وی چه په دې سره د صحت غالب ګمان دې

④ د غير مسلم اندامونه هم د مسلمان په بدن کښې لګولې شی

⑤ که د مړی د بدن نه اندام اخستلې شی نو دا به ضروری وی چه خپله هغه په ژوند کښې اجازت ورکړې وی ځکه چه هغه د بدن مالک دې او دهغې د وارثانو هم دهغه دپاره راضی کيدل ضرروی دی

⑥ که د ژوندی انسان اندام اخستلې کيږی نو دا ضروری ده چه خپله هغه اجازت ورکړې وی او د هغې د وجې نه خپله هغه ته سخت تکليف نه وی

۱) المغنی: ۱۷۷/۴)
۲) المغنی: ۱۷۷/۴)
۳) المغنی: ۱۷۷/۴)

⑤ د اندامونو خرخول او اخستل هم صحيح دی د شوافعو او د حنابلو په نزد د اندامونو د اخستلو اودخرخولو د دوارو گنجائش شته دې او د احنافو په نزد په درجه د مجبوریٔ کښ اخستلې شي خو خرخولي نه شي (۱)

۳۵۴۱—(۲) [۱] وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ عَنْ أَنَسٍ.

ترجمه: [۱] د نسايي رحمه الله دا روايت د حضرت انس رضی الله عنه نه نقل کړي دی

[۳۵۴۲] په بې زبانه غناورو د نبی کریم صلی الله علیه وسلم شفقت

۳۵۴۲—[۹] (۳) [۱] وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: [۲] «كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَانْطَلَقَ لِحَاجَتِهِ [۳] فَرَأَيْنَا حُمَرَةً مَعَهَا فَرْخَانِ فَأَخَذْنَا فَرْخَيْهَا [۴] فَجَاءَتِ الْحُمَرَةُ فَجَعَلَتْ تَفْرُشُ فَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الرحمن ابن عبد الله رضی الله عنه د خپل پلار نه نقل کوي چې هغه اوويل [۲] (يو ځل) مونږ د رسول الله ﷺ سره په سفر کې وو، هر کله چې (په يوه موقع) حضور ﷺ د قضايي حاجت د پاره تشريف يوورې،[۳] نو مونږ يوه حُمره (چې د يوې مرغی نوم دی) وليده چې د هغی سره دوه چيچان وو، مونږ هغه دواړه دمرغۍ بچې (چيچان) ونيول.[۴] د هغه نه وروسته حُمره راغله او خپل وزر يې په زمکه غوړول، او خپله خيته يې په زمکه لګول شروع کړل (ګويا دغه شان هغی د خپلو چيچانو په نيولو احتجاج شروع کي) کوم وخت چې نبي کريم ﷺ تشريف راوړو.

حل اللغات: ① حُمَرَةً: په حاء پيش اوميم مشدد، د سوررنګ يومرغئی ته وائی چه د چرچنړې برابروی. ② فَرْخَانِ: د چنچنړې وړوکې بچې. ③ فَجَعَلَتْ: ای شرعت. شروع شوه. تَفْرُشُ: خوړول. سيوري جوړول.

[۱] فَقَالَ: مَنْ فَجَعَ هٰذِهِ بِوَلَدِهَا رُدُّوا وَلَدَهَا إِلَيْهَا، [۲] وَرَأَى قَرْيَةَ نَمْلٍ قَدْ حَرَّقْنَاهَا [۳] قَالَ: مَنْ حَرَّقَ هٰذِهِ فَقُلْنَا: نَحْنُ. [۴] قَالَ: إِنَّهُ لَا يَنْبَغِي أَنْ يُعَذِّبَ بِالنَّارِ إِلَّا رَبُّ النَّارِ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] نو حضور ﷺ (د حمره دومره بيتابه ليدو سره وفرمايل چې د دې چيچان نيولو سره دا چا پريشانه کړي ده؟ د دې مرغي بچې (چيچان) دې واپس ورکړي.[۲] بيا حضور ﷺ د هغه ميږانو ميږ تون (د ميږانو د اوسيدو ځای) وليدلو. کوم چې مونږ سوزولی وو.[۳] وي فرمايل چې دا ميږتون چا سوځلي دی؟ مونږ عرض اوکړو چې مونږ سوځلي دي. [۴] حضور ﷺ وفرمايل چې د پروردګار نه علاوه چې د اور هم هغه مالک

---

۱) د تفصيل دپاره اوګورئ: جديد فقهي مسائل حصه دوم)
۲) اخرجه النسائي في السنن كتاب تحريم الدّم/باب النّهي عن المثلة (رقم-۴۰۴۷)
۳) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الجهاد، باب في كراهية حرق العدوّ بالنّار (رقم-۲۶۷۵) واحمد في المسند: ۱/۴۰۴

دی د بل چا د پاره دا مناسب نه دی. چې هغه دې څوك د اور په عذاب کې مبتلا کړي.
(ابوداود)

حل اللغات: ④ فَجَعَ: د باب تفعيل نه غم درد او تکليف رسول ⑤ لَايَنْبَغِي: ای لايجوزولايصح. جائز نه دی.

تسهيلات: قوله: فَجَعَلَتْ تَفْرُشُ:

د تفرش مطلب: دا په اصل کښې تتفرش دې، مطلب دادې چه مرغئی کله وزرې خورې کړی او په خپلوبچوباندې سورې اوکړی اوپته وی نودې ته تفرش وائی. ليکن دلته وزرې خورولوسره په زمکه باندې اينختو سره دَ غم اظهارکول مراددی.

قوله: لَايَنْبَغِي أَنْ يُعَذِّبَ بِالنَّارِ:

په اور سره د تعذيب عدم جواز: يعنی الله تعالی اور په دنياکښې دَ انسانانودَ فائدې دَپاره پيداکړې دې نوانسان دې دَدې نه هم هغه نفع اوچته کړی اودَده دَپاره جائزنه دی چه دَا اور دَ ضرر اونقصان دَپاره استعمال کړی اوالله تعالی دَ دې اور خالق اومالك دې هغه دَدې په نفع اوضرر دواړوکښې دَاستعمالولوحق لری.

ميږو ته د سزا ورکولو حکم: دَ ميږوباره کښې دامسئله ده که چرې هغه چاته تکليف رسوی نوهغه ختمول اومړه کول جائز دی دَدې نه علاوه مړه کول جائزنه دی. دغه شان ميږی په اور کښې سوزول هم منع دی اودَ تکليف رسولوپه صورت کښې دوائی اچولوسره مړه کول جائزدی په اور سره مړه کول جائزنه دی.

[۳۵٤۳]دامت دباطلې ډلې پيشن ګوئي

۳۵٤۳—[۱۰] (۱)[۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۲] «سَيَكُونُ فِي أُمَّتِي اخْتِلَافٌ وَفُرْقَةٌ،[۳] قَوْمٌ يُحْسِنُونَ الْقِيلَ وَيُسِيئُونَ الْفِعْلَ[۴] يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ تَرَاقِيَهُمْ [۵] يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّينِ مُرُوقَ السَّهْمِ مِنَ الرَّمِيَّةِ لَا يَرْجِعُونَ.

ترجمه:[۱] او حضرت ابو سعيد خدري رضی الله عنه او انس بن مالك رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه نقل کوي [۲] چې حضور ﷺ وفرمايل نزدې زما په امت کې به اختلاف او افتراق پيدا شي.[۳] يوه فرقه چې خبرې خو به ښه کوي، ليکن عمل به يې خراب وي.[۴] د دې فرقې خلق به قرآن کريم وايي ليکن د هغوئ هغه وئيل به د هغوئ د حلق نه نه ښکته کيږي (يعني قبليږي به نه)[۵] او هغه خلق به د دين (يعني د امام وخت او د علماء حق د اطاعت) نه داسې وځي، څنګه چې غشی د ليندۍ نه وځي. او هغوئ به د دين طرف ته د هغه وخته نه واپس کيږي،

۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب السّنۃ/باب فی قتال الخوارج (رقم-٤٧٦٥)واحمد فی المسند:۳/۲۲٤

حل اللغات: ①فُرْقَةٌ: افتراق. ډله بازي. فرقې فرقې كيدل. ②يُحْسِنُونَ: ښائسته به كوي. الْقِيلَ: خبرې. ③وَيُسِيئُونَ: خراب به وي. بد به وي ④تَرَاقِيَهُمْ: د ترقوت جمع ده مرئ . حلق ⑤يَمْرُقُونَ: اوځي به. خارجيږي به . ⑥مُرُوقَ السَّهْمِ: وتلې شوي غشى.

[۱] حَتَّى يَرْتَدَّ السَّهْمُ عَلَى فُوقِهِ [۲] هُمْ شَرُّ الْخَلْقِ وَالْخَلِيقَةِ [۳] طُوبَى لِمَنْ قَتَلَهُمْ وَقَتَلُوهُ [۴] يَدْعُونَ إِلَى كِتَابِ اللَّهِ وَلَيْسُوا مِنَّا فِي شَيْءٍ [۵] مَنْ قَتَلَهُمْ كَانَ أَوْلَى بِاللَّهِ مِنْهُمْ [۶] قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا سِيمَاهُمْ قَالَ التَّحْلِيقُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] د څو پورې چې غشى خپل سوفار (د غشي په سر کې هغه ځيز چې د ليندى د تار برسيره يي ايږدي او د ګوتو په سرونو کې يي نيسي) طرف ته واپس رانشي. [۲] او هغه خلق به په خلقو او څارويو کې د ټولو نه بد ترين وي. [۳] خوشخبري د هغه سړي د پاره چې دا خلق قتل کړي، يا هغه خلق هغه قتل کړي [يعني کوم سړى چې د دې خلقو د فتنى او د دوى د ګمراهي د دفع کولو د پاره د هغوئ مقابله وکړي. ددې پورې چې يا خو هغه خلق فنا کړي، يا دې د هغه خلقو د لاسه د حق د پاره په جنګ کولو کې خپله قتل شي، نو په دواړو صورتونو کې د هغوئ د پاره د حق تعالى ﷻ د رضا او خوشنودي او د آخرت د سعادتونو خوشخبري ده، چې په مخکني صورت کې خو به هغه د غازي لقب تر لاسه کړي، او په دويم صورت کې به د شهادت عظيمه مرتبه حاصله کړي] [۴] هغه خلق به په ظاهره خو انسانانو ته د کتاب الله دعوت ورکوي اليکن د رسول الله ﷺ د سنتو او د هغه د احاديثو په پرينبودلو خلق ته تلقين کوي، حالانکه احاديث نبوي د قرآن کريم تفسير او شرح ده، چې د احاديث نه بغير په قرآن کريم پوهه يدل او د هغه په احکامو عمل کول نا ممکن دى] هغه خلق په هيڅ معامله کې زمونږ (مسلمانانو) سره نه دى (يعني هغوئ په هيڅ خبره کې مسلمانان نه شميرل کيږي) [۵] کوم سړى چې هغه قتل کړي. هغه به خپل جماعت کې د خداى ﷻ د ټولو نه زيات نزدې دى. [۶] صحابه ؤ ﷡ (د دې اوريدو سره) عرض اوکړو چې يا رسول الله! ﷺ د دې خلقو شناخت څه دى؟ حضور ﷺ وفرمايل سرخريل. (ابوداود)

حل اللغات: ⑦فُوقِهِ: پتاق. په لينده کښې د غشى د نيولو ځائې. ⑧الْخَلْقِ: مخلوق. ⑨الْخَلِيقَةِ: ځناور. ⑩طُوبَى: خوشخبرى. خوشحالى ⑪أَوْلَى بِاللَّهِ: الله تعالى ته زيات نزدې. ⑫سِيمَاهُمْ: شناخت. نشانى. ⑬التَّحْلِيقُ: سر خريل. يا حلقې جوړولو سره کيناستل

تسهيلات:

قوله: سَيَكُونُ فِي أُمَّتِي اِخْتِلَافٌ وَفُرْقَةٌ:

د ګمراه ډلې د راتلو پيشنګوئى: يعني زما په امت کښې به څه داسې خلق پيدا کيږى چه دَ خپلو خواهشاتو بنديګان به وي دَ دوى دَ خودغرضئى او اعمالو او افعالو دَ وجې نه به په

امت کښې اختلاف پیدا کیږي او اتحاد به دړې وړې شي. لیکن دَهغوی دَ ژبوبه داحال وي چه دَاسلام به ډیر زیات منونکي معلومیږي داخلق به قرآن لولي مګرقرآن به دَهغوی دَ حلق نه لاندې نه کوزیږي داخلق به دَاسلام نه داسې خارج شي لکه څنګه چه یوغشې دَ ښکار نه پورې راپورې اوځي دَ اسلام طرف ته دَ دوي واپس راتلل به داسې محال وي لکه دَ لندې نه وتلې غشې چه واپس نه شي راتللې

قوله: حَتَّى يَرْتَدَّ السَّهْمُ عَلَى فُوقِهِ:

تعلیق بالمحال: دَ لندې هغه حصه په کومه چه غشې خیژولوسره چلولې شي دې ته فوق وائي دَدې ترجمه سوفار دې اوداکلام دَ تعلیق بالمحال دَ قبیلې نه دې.

قوله: قَالَ التَّحْلِيقُ:

د تحلیق دوه مطلبونه: ① یعني دَ سرویښته به خره وي کله به ویښته نه ساتي داخاص علامت دَ خوارج وو. اوس که یوسړې ویښته ساتل جائزګڼري اوخره وي هم نودا نشاني دَ داسې سړي نه ده.

② بعضې علماء دَ تحلیق نه مراد په حلقوکښې کیناستل مراد اخستې دي یعني دَ دغه خلقو به دا نښاني وي چه په جمات کښې به حلقې جوړه وي اوکینې به اودَ خان خودلودَپاره به نمائش کوي. مسنون طریقه داده چه دَ مونځونو په وختونو کښې دې سړې دَ قبلې طرف ته مخ کولوسره کیني په دې حدیث کښې دَ خوارج طرف ته اشاره ده.

قوله: شَرُّ الْخَلْقِ وَالْخَلِيقَةِ:

د خلق او خلیقة په مصداق کښې درې اقوال: ① په نهایه کښې لیکلي دي چه دَخلق نه مراد انسان دې اودَخلیقه نه مراد څناور دي.

② دا دواړه لفظونه هم په یوه معنی کښې دي اودَتاکید په توګه ئې دویم لفظ ځکه راوړې دې دې دَپاره چه ټولو مخلوقاتوته مفهوم عام شي.

③ داهم ممکن دي چه دَ خلیقة نه مراد داموجوده کائنات وي اوکوم چه بیا راپیدا کیدونکي مخلوق دې دَخلق په لفظ سره دَهغې اراده کړې شوې وي. داخلق بدترین مخلوق ځکه دې چه دَ ایمان اواسلام په جامه کښې دَ کفرکارکوي

[۲۵٤٤] د مسلمان د قتل د جواز درې صورتونه

۳۵۴۳-[۱۱] (۱) ① وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِءٍ مُسْلِمٍ ③ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ ④ إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ زِنًا بَعْدَ إِحْصَانٍ لِأَنَّهُ يُرْجَمُ ⑤ وَرَجُلٌ خَرَجَ

۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الحدود/باب الحکم فیمن ارتد (رقم-۴۳۵۳) والنسائی فی کتاب تحریم الدم/باب الصلب (رقم-۴۰۴۸) واحمد فی المسند: ۲۰۵/۶

مُحَارِبًا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ [۶] فَإِنَّهُ يُقْتَلُ أَوْ يُصْلَبُ [۷] أَوْ يُنْفَى مِنَ الْأَرْضِ [۸] أَوْ يَقْتُلُ نَفْسًا فَيُقْتَلُ بِهَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د نفسِ مسلمان وينه حلاله نه ده [۳] څوک چې د دې خبرې شهادت ورکوي چې د الله تعالیٰ سوا بل معبود نشته او محمد ﷺ د الله تعالیٰ رسول دی، [۴] خو د دې دريو صورتونو نه د يو صورت د واقع کيدو په وجه د هغه وينه حلاله کيږي، يو خو دا چې هغه د محصن کيدو (يعنی د واده کيدو) نه وروسته زنا وکړي، نو هغه دې سنګسار شي، [۵] دويم صورت دا چې د الله تعالیٰ او د هغه د رسول ﷺ سره د جنګ کولو د پاره أوځي (يعني کوم مسلمان چې راه زنی وکړي يا د بغاوت لار اختيار کړي) [۶] نو هغه دې قتل کړل شي، يا پانسي دې شي، [۷] يا په قيد کې دې واچول شي، [۸] او دريم صورت د قتلِ نفس دی (چې کوم مسلمان څوک عمداً قتل کړي) نو د هغه په بدله کې دې هغه قتل کړل شي، (ابوداود)

حل اللغات: ① إِحْصَانٌ: نکاح کنبې راتلل ، واده کول. ② يُرْجَمُ: رجم کولې به شي. سنګسار. ③ مُحَارِبًا: جنګ کونکې، ④ يُصْلَبُ: پهانسی کولې به شي، ⑤ يُنْفَى: قيد کولې به شي.

تسهيلات:

قوله: وَرَجُلٌ خَرَجَ مُحَارِبًا بِاللَّهِ:

د شوکمارو څلور قسمه سزاګانې: دَدې قسمِ حديث دَتشريح اوتوضيح سره وړاندې تيرشوې دې ليکن دلته په دې حديث کښې دَ ارتدادپه ځائی دَ غلا ذکردې کوم ته چه شوکمار هم وئيلې شی.

دلته دَ شوکمارو باره کښې دَ دريوسزاګانو ذکرکړې شوې دې اودَ قرآن کريم په آيت کښې دَڅلورو سزاګانوذکرراغلې دې. دَ سورت مائده آيت ۳۳داسې دې﴿ إِنَّمَا جَزَٰٓؤُا۟ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسْعَوْنَ فِى ٱلْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓا۟ أَوْ يُصَلَّبُوٓا۟ أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَٰفٍ أَوْ يُنفَوْا۟ مِنَ ٱلْأَرْضِ ﴾[سورة المائدة: ۳۳].

يعنی ① يوه سزادا چه دغه سړې قتل کړې شی

② دويمه دا چه دې په سولئی کړې شی

③ دريمه سزا داچه دَدغه سړی لاس خپې په مخالف سمت کښې پرې کړې شی

④ څلورمه دا چه دا سړې دَ وطن نه اوشړلې شی يعنی دَ زمکې نه اوويستلې شی په جيل کښې واچولې شی.

د ډاکوانو د سزا په ترتب (۲) کښې مذاهب:

① که چرې ډاکو اوشوکمار که مال نه وی لوټ کړې او څوک ئی قتل کړې وی نوهغه به صرف قتل کولې شی اوکه قتل ئی هم کړې وی او مال ئی هم لوټ کړې وی نوهغه به قتل

کولو سره په سولئی راژوړندولې شی.

④ امام مالك رحمه الله فرمائی چه ژوندې به زوړندولې شی او وژلې به شی او که هغه صرف مال لوټ کړې وی نو د هغه یو لاس او یوه خپه به د مخالف سمت نه کټ کولې شی او که چرې ډاکو اوقزاق خلق ویرولې وی نه ئی مال اخستې وی اونه ئی قتل کړې وی نو په دې صورت کښې به دې د زمکې نه ویستلې شی او د وطن نه به شړلې شی.

د جلا وطن کولو مطلب:

اوس شوافعو حضرات فرمائی چه دا سړې به مسلسل د وطن نه شړلې شی. د یوې زمکې نه بلې ته او د هغه ځائی نه به بل ځائی ته شړلې شی دې د پاره چه دې په یو ځائی کښې په آرام کینه نی. مگر احناف وائی د زمکې نه د ویستلو مطلب دادې چه د آزادې زمکې نه ئی اوباسئی او په جیل کښې ئی بند کړئی. دلته دا سوال دې چه په آیت کښې د څلورو سزاگانو ذکر دې او په حدیث کښې د دریو ذکر دې چه په ظاهره تعارض دې نو ددې جواب دادې چه ډیر قوی احتمال دې چه په حدیث کښې د یوراوی نه د بیان دوران کښې د لاس خپې پرې کولو ذکر د څه وجې نه پاتې شوې دې. دلته په حدیث کښې او د قرآن په آیت کښې د "او" لفظ د تفصیل بیانولو د پاره دې چه دا سزاگانې په دې ترتیب سره دی. بعضې وئیلی "او" د اختیار او تخییر د پاره دې.

[٣٥٤٥] یو مسلمان په ویره کښې د اچولو ممانعت

٣٥٤٥—[١٢] (١) ① وَعَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ: «حَدَّثَنَا أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ② أَنَّهُمْ كَانُوا يَسِيرُونَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ③ فَنَامَ رَجُلٌ مِنْهُمْ فَانْطَلَقَ بَعْضُهُمْ إِلَى حَبْلٍ مَعَهُ لِأَخْذِهِ. ④ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يُرَوِّعَ مُسْلِمًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت ابن لیلی (تابعي) رحمه الله وايي چې د محمد ﷺ صحابه ؤ رضي الله عنهم مونږ ته دا حديث بيان كړي، ② چې هغه په يوه موقع د شپي د رسول الله ﷺ سره په سفر كې ملګري وو. ③ په هغوئ كې يو سړي چې اوده شو ، نو په هغوئ كې يو دويم سړى د خپل ځاى نه (پاڅيدو سره) لاړل، او د خوب والا سره يوه رسى پرته وه، هغه يي را پورته كړه، د خوب والا په دي سره وويرېدى، ④ حضور ﷺ هم د هغه دا حركت وليدلو (يا حضور ﷺ د هغه په باره كې واوريدل) نو وي فرمايل چې د يو مسلمان د پاره دا خبره حلاله نه ده چې هغه يو مسلمان وبيروي، ابوداؤد.

حل اللغات: ① يَسِيرُونَ: په سفر روان وی ② حَبْلٍ: رسئ، ③ لِأَخْذِهِ: د راخستلو د پاره. ④ أَنْ يُرَوِّعَ: چه اوېروی.

---

١) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الأدب /باب من يأخذ الشیء علی المزاح (رقم-٥٠٠٤) واحمد فی المسند:٥/٣٦٢

تسهيلات:

توله: لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يُرَوِّعَ مُسْلِمًا:

مسلمان لره د ويرولو حرمت: د پوره حديث مضمون دا دي عبدالرحمن بن ابی ليلی د بعض صحابه كرامو رضي الله عنهم نه نقل كوی چه هغوی يو كرت د رسول الله ﷺ سره په يو سفر كښې روان وو چه د هغوی يو ملګرې اوده شو چه هغه سره د هغه رسۍ هم وه. د هغه يو ملګری هغه رسۍ اوچته كړه هسې د هغه د ويرولو دپاره په توقو كښې. چه كله هغه پاسيدو او وې كتل چه زما رسۍ غائب ده نو اوويريدو، رسول الله ﷺ ته هم د دې خبرې خبر ملاؤ شو نو هغوی پورته ذكر شوې جمله ارشاد اوفرمائيله چه د يو مسلمان دپاره جائز نه دی چه بل مسلمان اويروی.

[۲۵٤٦] د اسلامی عزت كمولو څخه ځان ساتل

٣٥٤٦ - [١٣] (١) ١ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ٢ "«مَنْ أَخَذَ أَرْضًا بِجِزْيَتِهَا فَقَدِ اسْتَقَالَ هِجْرَتَهُ ٣ وَمَنْ نَزَعَ صَغَارَ كَافِرٍ مِنْ عُنُقِهِ فَجَعَلَهُ فِي عُنُقِهِ ٤ فَقَدْ وَلَّى الْإِسْلَامَ ظَهْرَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ او حضرت ابودرداء رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه نقل كوي ٢ چې حضور ﷺ وفرمايل كوم سړی چې څه د جزيي والا زمكه واخسته، نو هغه خپل هجرت مات كړي، ٣ او چا چې د كافر ذلت د هغه د غاړی نه ښكلو سره په خپل څټ كې واچولی، ٤ نو هغه اسلام وروسته شا ته وغورځولی. (ابوداود)

حل اللغات: ① بِجِزْيَتِهَا: سره د جزيي، ② اسْتَقَالَ: مات ئې كړو. ③ نَزَعَ: وې ويستل. ④ صَغَارَ: ذلت. ⑤ عُنُق: څټ. غاړه. ⑥ وَلَّى: وې غورزولو.

تسهيلات:

توله: مَنْ أَخَذَ أَرْضًا بِجِزْيَتِهَا:

په حديث كښې د جزيه نه مراد: علامه خطابی رحمه الله فرمائی په دې حديث كښې دَ جزيه نه مراد خراج دې يعنی چه كوم مسلمان دَ يوذمی نه خراجی زمكه واخستله نواوس به دا مسلمان خراج اداكوی اوپه دغه اخستلوسره دَ زمكې هغه خراج نه ساقط كيږی. دا مسلك دَائمه احناف دې په دې صورت كښې ئی "اسلام شاته اوغورزولو" سره تغليظ تشديد اوتهديداو زجرمقصود دې.

توله: فَقَدِ اسْتَقَالَ هِجْرَتَهُ

دهجرت د ضائع كولو مطلب: يعنی دغه سړی چه دَ داركفرنه داراسلام طرف ته كوم هجرت كړې وو هغه دا خراب اوبربادكړو. استقال دَ اقاله نه دې دَ واپس كولو په معنی كښې دې

١) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الخراج والإمارة والفيء/باب ما جاء فی الدخول فی أرض الخراج (رقم-٣٠٨٢)

ځکه چه دَ خراج او جزيه کوم ذلت دَ ذمي په غاړه کېښې پروت وو دغه سړی دَهغه دَ غاړې نه اوويستلو او په خپله غاړه کښې ئې واچولو.

قوله: وَمَنْ نَزَعَ صَغَارَ كَافِرٍ مِنْ عُنُقِهِ

د مذکوره جملې مطلب: يعني دَ خراج او جزيه کوم ذلت چه دَ ذمي په غاړه کښې پروت وو دې سړی دَ جزيه والا زمکه اخستلوسره دَ کافردَ غاړې نه هغه ذلت اوويستلو او خپله غاړه کښې واچولو دَحديث دا آخری حصه دَدې دَ رومبې حصې دَپاره بيان اوتفصيل دې

[۳۵۴۷] په جنګ کښې د کافرانو د ولې ځخه د جدا اوسيدو حکم

۳۵۴۷-[۱۴] (۱) ① وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ: «بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً إِلَى خَثْعَمَ ② فَاعْتَصَمَ نَاسٌ مِنْهُمْ بِالسُّجُودِ فَأَسْرَعَ فِيهِمُ الْقَتْلَ ③ فَبَلَغَ ذٰلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ لَهُمْ بِنِصْفِ الْعَقْلِ ④ وَقَالَ: أَنَا بَرِيءٌ مِنْ كُلِّ مُسْلِمٍ مُقِيمٍ بَيْنَ أَظْهُرِ الْمُشْرِكِينَ ⑤ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ لِمَ؟ قَالَ: لَا تَتَرَاءَى نَارَاهُمَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت جرير بن عبد الله وايي چې رسول الله ﷺ د قبيله خثعم مقابلې ته يو لښکر وليږلی، ② د هغه قبيلې څه خلقو (چې اسلام قبول کړي وو، ليکن د هغوئ استوګنه د قبيلې د کافرانو سره وه) د مونځ پناه ونيوله (يعني د لښکر ليدو سره هغوئ خلقو د خپل اسلام د ظاهرولو د پاره په سجده پريوتل چې لښکر والا ته علم اوشي چې دا مسلمانان دي، او دغه شان هغه د حملې نه وساتل شي) ليکن د هغوئ په قتل کې د تلوارې نه کار وآخستی شو (يعني د لښکر والا د هغوئ په سجدو اعتبار ونه کړي او دا ګمان يې وکړي چې دا هم کافران دی، او محض د قتل نه د ځان ساتلو د پاره خپل ځان مسلمانان ظاهروي، هغوی هم قتل شو) ③ هر کله چې د دې واقعې اطلاع رسول الله ﷺ ته ورسيده، نو حضور ﷺ د هغه مقتولينو ورثاء ته د نيم ديت ورکولو حکم وکړي، ④ او وې فرمايل چې زه د هغه مسلمان د بيزاری اظهار کوم چې د مشرکانو په منځ کې اقامت اختيار کړي، ⑤ صحابه ؓ عرض اوکړو چې يا رسول الله! ﷺ ستا د بيزاری سبب څه دی؟ حضور ﷺ وفرمايل چې مسلمانانو ته د کافرانو نه دومره لرې اوسيدل پکار دی چې هغه د يو بل اور ونه ليدې شي (ليکن که يو مسلمان په کافرانو کې مخلوط پاتې شو، نو هغه ګويا د دې حکم پروا يې ونه کړه) ابوداود.

حل اللغات: ① سَرِيَّةً: لښکر، ② خَثْعَمَ: يوه قبيله ده. ③ فَاعْتَصَمَ: ځان ئې بچ کړو، پناه ئې حاصله کړه، ④ الْعَقْلِ: ديت، مالی معاوضه، ⑤ أَظْهُر: شاته، ⑥ لَاتَتَرَاءَى: چه اونه وينی دواړه،

---

۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد، باب النهی عن قتل من اعتصم بالسّجود (رقم-۲۶۴۵) والترمذی فی کتاب السّير عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فی کراهية المقام بين أظهر المشرکين (رقم-۱۶۰۴)

تسهيلات:

توله: فَاعْتَصَمَ نَاسٌ مِنْهُمْ بِالسُّجُودِ:

د اسلام د اظهار دپاره د سجدې کولو حکم: دې نه مونځ کول مراددی. کله چه دغه نوی مسلمانانو اسلامی لښکر اولیدلونو دَ ځان بچ کولو دَ پاره ئې مونځ کول شروع کړه اسلامی لښکر ګنړل چه دا خلق دَ ځان بچ کولو دَپاره په سجده کښې پریوتلی دی ځکه ئې زر زر وهل شروع کړه. په غلط فهمئی کښې داسې اوشو. دَ حدیث دَ ظاهری الفاظونه معلومیږی چه دې خلقو سره څه تفصیلی علم نه وو صرف سجده ئې اوکړه دې دَپاره چه دَ اسلام اظهار اوکړی.

توله: بِنِصْفِ الْعَقْلِ:

د نیم دیت ورکولو حکمت: نبی کریم نیم دیت ورکړو حالانکه هغوی ته دا معلومه وه چه دا مسلمانان وو. دائی دې طرف ته اشاره اوفرمائیله چه مسلمانانو له دَاسلام قبلولونه پس دَ کافرانو په مینځ کښې اوسیدل جائزنه دی ځکه چه داسې به مجاهدین په آزادئی سره او په آسانئی سره دَ کافرانوخلاف اونه جنګیدې شی. په دې وجه نبی کریم دَ داسې مسلمانانو نه دَ ویزارئی اعلان هم اوکړو څوك چه مشرکانوسره ګډوډ اوسیږی. یارسول الله لم؟ دلته استفهام دې یعنی لاي شئ تكون بريئًا اولاي شئ امرت بنصف العقل مطلب دادې یا رسول الله ﷺ تاسو نیم دیت ولې ورکړو یا تاسو دَدوی نه ولې ویزاره کیږئی دَدې څه وجه ده؟

توله: قَالَ لَا تَتَرَاءَى نَارَاهُمَا:

د مذکوره جملې مفهوم: دا جمله استینافیه ده او په دې کښې دَ ماقبل سوال علت بیان کړې شوې دې. یعنی دا ویزاری دَدې دَپاره ده چه داخلق کافرانوسره یوځائی ولې اوسیږی. دوی له دَ یوبل نه دومره لرې اوسیدل پکاردی چه دَ یوبل اور اونه وینی ځکه چه داسې ګډوډ اوسیدوسره به مسلمانان کافرانوسره جهاد څنګه کوی؟

[۲۵٤٨] د تحقیق حال نه بغیر څوك مه قتلوئ

۲۵٤٨–[۱۵] (۱)۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ۲ «الْإِيمَانُ قَيَّدَ الْفَتْكَ لَا يَفْتِكُ مُؤْمِنٌ. ۳ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَقَالَ: أَنَا بَرِيءٌ مِنْ كُلِّ مُسْلِمٍ مُقِيمٍ بَيْنَ أَظْهُرِ الْمُشْرِكِينَ ۴ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ لِمَ؟ قَالَ: لَا تَتَرَاءَى نَارَاهُمَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهریره ﷺ د نبي کریم ﷺ نه نقل کوي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل ۲ ایمان خپل حامل یعنی مومن د دی خبري نه منع کوي، چې هغه څوك ناګهانه قتل

۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب فی العدوّ یؤتی علی غرّة ویتشبّه بهم (رقم-۲۷٦۹)

کړي، نو هیڅ مومن دی ناګهان قتل نه کوي، ۳ د دې روایت امام ابوداؤد کړې دې او فرمائیلی ئې دی چې زه د هر مسلمان څخه بیزاره یم د مشرکانو په مینځ کښې اوسیږی ۴ صحابه کرامو عرض وکړو ولې؟ (تاسود دغه مسلمان څخه بیزاره ئې) [۵] رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل داسلام اور اودکفر اور په یوځائې کښې نه شی پاتی کیدی، (ابوداؤد)

حل اللغات: ① قَيَّدَ: دا لفظ مشدد دې، دَ باب تفعیل نه، تړل اوبندول ② الْفَتْكَ: ناخاپی قتل، په غفلت کې قتل کول.

تسهیلات:

قوله: الْإِيمَانُ قَيَّدَ الْفَتْكَ:

بغیرد تحقیقه د مسلمان یا ذمی کافر د قتل عدم جواز: مطلب دا چه ایمان ناجائزقتل بندکړې دې لهذا په چا کښې چه ایمان وی هغه داسې حرکت نه شی کولې څوك چه داسې حرکت کوی په هغه کښې کامل ایمان نه وی. خلاصه دا چه یومسلمان یا ذمی کافر بغیردَ تحقیق نه قتل کول جائزنه دی اوکه چرې څوك مفسد اوغدار وی اودَ مسلمانانو خلاف منصوبه بندی کوی نودَهغه حکم جدا دې لکه چه کعب بن اشرف دَهغه دَ فسادَ وجې نه اچانك دَ غفلت په حالت کښې قتل کړې شو.

[۲۵۴۹] دَتختیدلی مرتدغلام سزا

۳۵۴۹—[۱۲] (۱) ۱ وَعَنْ جَرِيرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَى وَسَلَّمَ قَالَ: ۲ «إِذَا أَبَقَ الْعَبْدُ إِلَى الشِّرْكِ فَقَدْ حَلَّ دَمُهُ» .رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت جریر ﷺ د نبي کریم ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل ۲ هر کله چې یو غلام د شرك (یعني د دار الحرب جانب) ته وتښتیږي، نو د هغه خون به حلال وي. (ابوداود)

حل اللغات: ① أَبَقَ: اوتختی، تیخته ئې اوکړه. ② حَلَّ: حلال شو، جائزشو. ③ دَمُ: وینه، قتل

تسهیلات:

قوله: إِذَا أَبَقَ الْعَبْدُ إِلَى الشِّرْكِ:

د تختیدلی غلام د قتلولو وجه: یعنی چه یوغلام دَ خپل مولی نه په تیخته دار حرب ته لاړشی نوچه کوم مسلمان ته هغه ملاؤ شی هغه دې قتل کړی هغه مباح الدم دې څکه چه داغلام به څی اودَ کافرانو دَ تقویت ذریعه به جوړیږی. اوکه چرې دغه غلام کافر اومرتد کیدوسره لاړشی نوبیا په طریقه اولی دَهغه قتل کول حلال دی.

۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الحدود /باب الحکم فیمن ارتدّ (رقم-۴۳۶۰) واحمد فی المسند: ۳۶۲/۴

[۲۵۵۰] د ګستاخ رسول ﷺ سزا

۲۵۵۰-[۱۷] (۱) ۱ وَعَنْ عَلِيٍّ «أَنَّ يَهُودِيَّةً كَانَتْ تَشْتِمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ۲ وَتَقَعُ فِيهِ فَخَنَقَهَا رَجُلٌ حَتَّى مَاتَتْ ۳ فَأَبْطَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَمَهَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ د حضرت علي رضي الله عنه نه روايت دی چې يوې يهودی ښځې به نبي کريم ﷺ ته بد رد ويل، ۲ او په حضور ﷺ کې عيب راښکلو سره طعن به يې کولی. د حضور ﷺ په شان کې دا ګستاخي يو سړی برداشت نه کړه، او د هغه ښځې غاړه يې خفه کړه. په هغه سره هغه مړه شوه، ۳ نبي کريم ﷺ د هغه خون معاف کړي. (ابوداود)

حل اللغات: ① تَشْتِمُ: بد رَد وائی، کنځل کوی، ② وَتَقَعُ: عيب راښکاره کوی. طعن کوی. ③ فَخَنَقَ: مرئ ئې خفه کړه،

تسهیلات:

قوله: تَقَعُ فِيهِ:

د نبی کریم ﷺ ګستاخی کول: يعنی په نبی کريم باندې به ئی طعن کولو بدې خبرې به ئی کولې دا کافره ښځه وه او ذميه وه.

قوله: فَأَبْطَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَمَهَا:

د اَبطل مطلب: يعنی نبی کريم دَهغې وينه بې ځايه اوګرځوله. دَدې حديث نه معلومه شوه چه دَنبی کريم په شان کښې ګستاخی کونکې ذمی واجب القتل دې اودَ ده نه به دَده عهد ذمه ختمولو سره مباح الدم کيږی

د ګستاخ رسول سزا: يعنی نبی کريم ته کنځلې کونکې مباح الدم دې زه هم دا اختياروم. دَ علامه بدرالدين عينی رحمه الله دَ دې فتوىٰ په رڼړاکښې صاحب دَ فتح القدير ابن همام رحمه الله هم دغه فتوىٰ ورکړې ده. دَمفتی روم ابوسعود رحمه الله هم دغه فتوىٰ ده، دَ صاحب شفاء هم دا فتوىٰ ده. دَ نيل الاوطار درمختار هم دغه فتوىٰ ده. او خير الرملی رحمه الله هم دَتعزير په توګه هم دغه فتوىٰ ورکړې ده (زجاجة المصابيح ج ۳ ص ۵۵) شکر دې الحمدلله دَ احناف دَ اکابرعلماؤ هم دغه مسلك دې اودا مونږ دَ زړه دَ ژوروالی نه خوښه وو. پوره تفصيل په زجاجة المصابيح (۵۵/۳) کښې کتلې شی.

[۲۵۵۱] د جادوګر د قتل حکم

۲۵۵۱-[۱۸] (۲) ۱ وَعَنْ جُنْدَبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «حَدُّ السَّاحِرِ ضَرْبُهُ بِالسَّيْفِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الحدود/باب الحکم فيمن ارتدّ (رقم-۴۳۶۲)

۲) اخرجه الترمذی فی کتاب الحدود عن رسول اللّٰه صلّی اللّٰه عليه وسلّم/باب ما جاء فی حدّ السّاحر(رقم-۱۴۶۰)

ترجمه: ۱ او حضرت جندب ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ د جادو ګر حد (شرعي سزا) دا ده چې هغه په توره سره قتل کړل شي. (ترمذي)

حل اللغات: ① حَدٌّ: شرعی سزا.

تسهیلات: قوله: حَدُّ السَّاحِرِ:

د جادو وجود: دَ علماء کرامو په دې باندې اتفاق دې چه جادوکول حرام دی. دَ اهل سنت په نيزجادو يوحقيقت دې اودَې اثر دې. دَمعتزله خيال دې چه دَجادو څه حقيقت نه وی دا صرف يوخيال اووهم دې. دَ جادو کونکو جادوګرو دَ سزاباره کښې دَ علماؤ اوفقهاؤ په اقوالو کښې څه اختلاف دې.

د جادو ګر په سزا کښې ۳ مذاهب:

① دَامام مالك ﷫ پـه نيز اودَ امـام احمدبن حنبل دَ راجح قـول مطابق سـاحرکافردې او سـحر زده کـول او خـودل هـم کفـردې. لهـذا سـاحربه قتـل کـولې شـی اودَ ده نـه بـه دَ تـوبې مطالبه نه شی کولې. خواه په يومسلمان باندې جادو کړې وی ياپه يوذمی باندې کړې وی

② امام شافعی ﷫ فرمائی چه که دَ جادوګردا جادو موجب کفروی اوهغـه توبـه هـم اونـه کړی نو هغه به قتل کولې شی.

③ دَ احناف په نيز دې مسئله کښې لږ تفصيل دې. هغوی فرمائی که ساحر پـه خپـل جادو کښې دَ شرك اودَ شرکی کلمـاتو ارتکـاب اوکړو اوموجب کفرعقيـده ئـی اوسـاتله نوهغـه کافردې اوکه چرې دَ ساحرسحر دَ يوحرام کاردَ ارتکاب ذريعه جوړيږی يـا دَ يوفريضـې دَ ساقط کيدو اوترك سبب جوړيږی نوداسې سحر حرام دې اوکـه پـه جادوکـښې څـه کفريـه کلمات هم نه وی اودَ يوحرام ارتکاب هم نه وی اودَ يونيك مقصددَپاره اوکړې شـی مـثلاً پـه نسخه خاوند کـښې جـوړ پيـدا کولـو دَپـاره اوکـړی يـا دَاهـل حـرب دَ يوسـاحردَ سـحر دَختمولو دَپاره اوکړی نودامباح اوجائز دی. ليکن داخبره يـاد لرئـی چـه دَ داسـې صـالح اومسلمان جادو ګرپه دې دنياکښې چرته وجودهم شته که نه؟.

د جادو په ذريعه د قتل سزا: داخبره هم ياد لرئی چه جادو چونکه دَ جوارحو عمل نه دې بلکه په ډيره صفائی سره دَ جوارح دَ استعمال نه بغير اثر اچولې شی. لهذا که په سحر باندې څوك قتل کړې شو نوپه دې کښې قصاص نشته دې او په دې کښې تعزير دې چه دَتعزير په توګه به داسې جادوګر قتل کولې شی هم دغه دَ دې حد دې. علماؤ ليکلی دی چه دَ جادو په شان دَعلم نجوم زده کول او خودل اوهرقسم شعبده بازی زده کول اوخودل هم حرام دی. دَ جادو حقيقت اودَې تعريفات او اقسامو بيان توضيحات ۲۴۸/۱ باندې شوې دې هلته اوګورئی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۵۵۲] دَباغی د قتلولو حکم

۳۵۵۲-[۱۹] (۱) ① وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «أَيُّمَا رَجُلٍ خَرَجَ يُفَرِّقُ بَيْنَ أُمَّتِي ③ فَاضْرِبُوا عُنُقَهُ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① حضرت اسامه ابن شریک رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل ② کوم سړی چې د وخت د امام خلاف خروج (بغاوت) وکړي، او دغه شان هغه زما په امت کې تفرقه واچوي، ③ نو د هغه څټ والوځوی. (نسايي)

تسهیلات:

قوله: أَيُّمَا رَجُلٍ خَرَجَ يُفَرِّقُ:

د باغی د قتلولو وجه: دَ مسلمانانو دَ اجتماعيت دَپاره خليفه وخت يو بنيادی حيثيت لری دَ هغه اطاعت په دې وجه په ټولو مسلمانانو باندې لازم کړې شوې دې دې دَپاره چه په امت کښې انتشار او افتراق رانه شي او امت خور اور نه شي. امام او خليفه دَ امت دَ وحدت علمبردار وی او هغه دَدې ذمه وار وی. خو که يو سړې دَ دغه اجتماعی اتحاد او اتفاق دَدائرې نه اوځی او بغاوت کوی نو هغه دَ يو جرم نه بلکه دَ ډيرو جرائمو ارتکاب کوی. په دې وجه به هغه اول پوهه کولې شي او هغه ته به دَ سرکشئی نه دَمنع کيدو وائی او که دَهغه څه معقول اعتراض وی يا څه شك شبه وی او څه مطالبه ئی وی نو هغې ته به پوره توجه وورکولې شی. که دَاصلاح دَ دغه ټولو کوششونو باوجود هغه سړې دَخپلې سرکشئی او بغاوت نه نه منع کيږی نو هغه دې قتل کړې شی دې دَپاره چه لويه فتنه پيدانه شي لکه څنګه چه حضرت علی رضی الله عنه خوارجو سره معامله کړې وه. دلته داخبره دَ ياد ساتلو ده چه داحق هغه خليفه او دَ مسلمانانو هغه بادشاه ته حاصل دې چه امت دَ اسلام په رنړا کښې چلوی ګنی خروج به جائزشي. تفصيل ان شاء الله باب الامارة کښې راتلونکې دې. الکاشف: ۷/۱۳۸.

[۳۵۵۳] د خوارجو باره کښې د نبی علیه السلام خبر ورکول

۳۵۵۳-[۲۰] (۲) ① «وَعَنْ شَرِيكِ بْنِ شِهَابٍ قَالَ: ② كُنْتُ أَتَمَنَّى أَنْ أَلْقَى رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ③ أَسْأَلُهُ عَنِ الْخَوَارِجِ فَلَقِيتُ أَبَا بَرْزَةَ فِي يَوْمِ عِيدٍ فِي نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِهِ ④ فَقُلْتُ لَهُ: هَلْ سَمِعْتَ رَسُولَ اللّٰهِ

---

۱) اخرجه النسائی فی السنن کتاب تحريم الدّم/باب قتل من فارق الجماعة، وذكر الاختلاف على زياد بن علاقة. عن عرفجة فيه (رقم-۴۰۲۳)

۲) اخرجه النسائی فی السنن کتاب تحريم الدّم/باب من شهر سيفه ثمّ وضعه فی النّاس (رقم-۴۱۰۳)

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ الْخَوَارِجَ؟ ۵ قَالَ: نَعَمْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأُذُنَيَّ وَرَأَيْتُهُ بِعَيْنَيَّ،

ترجمه: ۱ او حضرت شريك ابن شهاب (تابعي) عليه الرحمه وايي ۲ چې زما يوه دا لويه ارزو وه. چې زه د نبي كريم ﷺ د يو صحابي سره د ملاقات سعادت حاصل كړم. ۳ او د هغه نه د خوارجو په باره كې پوښتنه وكړم، چې نن صبا كوم خوارج پيدا كيږي، چې آيا حضور ﷺ د دوی متعلق پيش ګويي كړي وه؟ نو زه د (يو صحابي) حضرت ابو برزه رضي الله عنه سره د اختر په ورځ د هغه د دوستانو په موجودګی كې يو ځاى شوم. ۴ او د هغه نه مي پوښتنه وكړه چې آيا تاسو د رسول الله ﷺ نه د خوارجو ذكر اوريدلی دی؟ ۵ هغه وفرمايل چې هو، ما په خپلو غوږونو سره د رسول الله ﷺ نه د خوارجو ذكر كول اوريدلی دی، او په خپلو سترګو سره مي دا واقعه هم ليدلي ده.

حل اللغات: ① أَلْقَى: ملاقات اوكړو.

۱ أُتِيَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَالٍ فَقَسَمَهُ ۲ فَأَعْطَى مَنْ عَنْ يَمِينِهِ وَمَنْ عَنْ شِمَالِهِ ۳ وَلَمْ يُعْطِ مَنْ وَرَاءَهُ شَيْئًا، ۴ فَقَامَ رَجُلٌ مِنْ وَرَائِهِ فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ مَا عَدَلْتَ فِي الْقِسْمَةِ، ۵ رَجُلٌ أَسْوَدُ مَطْمُومُ الشَّعْرِ عَلَيْهِ ثَوْبَانِ أَبْيَضَانِ، ۶ فَغَضِبَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَضَبًا شَدِيدًا وَقَالَ: ۷ وَاللّٰهِ لَا تَجِدُونَ بَعْدِي رَجُلًا هُوَ أَعْدَلُ مِنِّي.

ترجمه: ۱ چې يو وخت د رسول الله ﷺ په خدمت كې څه مال راوړل شو، حضور ﷺ هغه مال (په حاضرينو د مجلس كې) داسې تقسيم كړي، ۲ چې كوم خلق د حضور ﷺ ښي طرف ته ناست وو، هغوئ ته يي وركړي، او كوم خلق چې چپ طرف ته ناست وو، هغوئ ته يي وركړي، ۳ ليكن كوم خلق چې د حضور ﷺ د شا طرف ته ناست وو، هغوئ ته يي ورنه كړي. ۴ نو د حضور ﷺ شا طرف ته په ناستو خلقو كې يو سړی اودريدلو او هغه اوويل چې اې محمد! ﷺ تا په تقسيم كې انصاف ونه كړي. ۵ هغه سړی تور رنګي وو، هغه د سر ويښتان خريلي وو. او هغه دوه سپيني جامي اغوستي وي ۶ (د هغه خبره اوريدو سره) رسول الله ﷺ سخت غضب ناك شو، او وي فرمايل ۷ چې قسم په خداى ته به زما نه وروسته يو سړی زما نه زيات انصاف كونكي پيدا نه كړي،

حل اللغات: ② وَرَاءَ: شاته. روسته. ③ مَطْمُومٌ: طَمَّ يَطُمُّ د نصرينصرنه دي، ويښته پرې كړې شوې.

۱ ثُمَّ قَالَ: يَخْرُجُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ قَوْمٌ كَأَنَّ هٰذَا مِنْهُمْ ۲ يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ تَرَاقِيَهُمْ ۳ يَمْرُقُونَ مِنَ الْإِسْلَامِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ ۴ سِيمَاهُمُ التَّحْلِيقُ لَا يَزَالُونَ يَخْرُجُونَ ۵ حَتَّى يَخْرُجَ آخِرُهُمْ مَعَ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ ۶ فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ هُمْ شَرُّ الْخَلْقِ وَالْخَلِيقَةِ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ۱ او بيا يي وفرمايل چې په آخره زمانه كې به يوه ډله پيدا شي. او دا سړی ګويا د هغي ډلي يو فرد دی. ۲ د هغي ډلي خلق به قرآن وايي ليكن د هغوئ وئيل به د هغوئ د

خلق نه مخکی نه څي،۳ او هغه خلق به [د امام وخت خلاف د خروج او سرکشئ په ذريعه] د اسلام نه داسې اُوځي. څنګه چې غشی د ښکار د منځ نه اُوځي،۴ د هغه خلقو علامت دا دی چې هغوبه سرونه به خريلي وي، د دې ډلي خلق به (په هره زمانه کې پيدا کيدی شي) او هميشه به خروج کوی،۵ ددې پورې چې د هغوئ آخري سړی به د مسيح دجال سره (د حضرت عيسى عليه السلام خلاف) خروج وکړي (هر کله چې هغه قيامت ته نزدې په دنيا کې نازل شي)۶ نو کله چې ستاسو د هغوئ سره مقابله شی. نو هغه قتل کړئ. هغه خلق په سړو او ځاروېو کې بدترين مخلوق دي، (نسايي)

حل اللغات: ۳تَرَاقِيَ : دَ ترقوت جمع ده مرئ ، حلق. ۵يَمْرُقُونَ : اوځی به، خارجيږی.۹سِيمًا : شناخت. نشانی، ۵التَّحْلِيقُ: سرخريل، يا حلقې جوړولو سره کيناستل ۸الْخَلْقِ: مخلوق.۹ الْخَلِيقَةُ: يوځناورد ي

تسهيلات:

قوله: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأُذُنَيَّ:

د لفظ باذنی او وبعينی د استعمالولو وجه: يوروايت يقيني جوړولودپاره دا قسم الفاظ صحابه کرامو استعمالول دې دپاره چه اوريدونکی ته يقين راشی چه دې صحابی خپل ليدلي اوريدلي بيان کړي دې په مينځ کښې څه حواله او واسطه نشته دې.

قوله: رَجُلٌ أَسْوَدُ:

د رجل اسود د قيد اضافه کولو فائده: علامه طيبی رحمه الله او ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه دامبتداء دَمحذوف خبردې يعنی "هورجل اسود" راوی دَدې جملې طرف ته اضافه کولو سره دې طرف ته اشاره اوکړه چه څنګه دَدغه سړی ظاهری شکل خبيث وو دَ هغه باطن هم دغه شان خبيث وو. الکاشف ۷/۱۳۹.

دحديث د بعضې جملو وضاحت: ۱ مطموم الشعر: لکه څنګه چه داسړې دَ ويښتونه صفا راغلې وو هم دغه شان دَعقل شعور اوادب نه هم خالی راغلې وو.

۲ ثوبان ابيضان: يعنی دَ نفاق حامل وو اودَ پاسه ئی سپين لباس وو اودَ دننه تک تور وو لکه داسې وو "نظافة ظاهرة وكثافة باطنة" ياداسې اووايئی بياض كسوته وسواد جنته

۳ وَاللهِ لَا تَجِدُونَ بَعْدِي رَجُلًا هُوَ أَعْدَلُ مِنِّي.

اعدل دَ اسم تفضيل په معنی کښې نه دې بلکه نفس فعل عادل په معنی کښې دې لکه اهون هين په معنی کښې دې. الصيف احرمن الشتاء کښې احردَ نفس فعل په معنی کښې دې دغه شان دَ اعم واخص الفاظ دَ عام اوخاص په معنی کښې راغلی دی.

۴ سيماهم: يعنی دادَهغوی داسې علامت دې چه هغوی سره لازم دې اودَ التزام په توګه

هغوی خپل کړي دي. کـه يو سړي د دغـه عقيـدې او التزام نـه بغير د سر ويښتـه خره وي نو هغه منع نه دي

قوله: وَالْخَلِيقَةِ:

د خليقه نه مراد: ياد انسان او جنات په مقابله کښې څناوروته خليقة وئيلې شوی دی اويا خلق تيرشوی مخلوق او خليقة راتلونکې مخلوق ته وئيلې شوې دې. تفصيل تيرشوې دې. هرمسلمان له پکاردی چه هغه د خپلو مشرانو بزرګانو ادب اوکړی څکه چه

د ادب اهميت: ادب ثابت شوې حقيقت دې چه بې ادب کله هم نه کاميابيږی بلکه اکثر د يوې لوئی فتنې سبب جوړيږی او په دنيا اوآخرت کښې محروم کيږی.

نن صبانوې نسل چه د هرخيرنـه خـالی ګرځی د دې وجـه هم دغـه بې ادبـی ده سکولونو اوکالجونو هغوی آزاد اوبې حيا او بې ادب جوړکړی دی. حضرت احمد علی لاهوری رحمه الله په خپل ملفوظات کښې فرمائيلی دی چه انګريزانو زمونږ تخت پـه زور واخستو زمونږ تاج ئی واخستو زمونږ دين ئی واخستو اومونږ ئی په خپـل ديـن بانـدې اعتـراض کـونکې پريخودو.

[٢٥٥٤] په محشر کښې دوه قسمه مخونه

٣٥٥٤ـــ [٢١] (١) ① وَعَنْ أَبِي غَالِبٍ «رَأَى أَبُو أُمَامَةَ رُءُوسًا مَنْصُوبَةً عَلَى دَرَجِ دِمَشْقَ ② فَقَالَ: أَبُو أُمَامَةَ كِلَابُ النَّارِ شَرُّ قَتْلَى تَحْتَ أَدِيمِ السَّمَاءِ ③ خَيْرُ قَتْلَى مَنْ قَتَلُوهُ ثُمَّ قَرَأَ ④ ﴿يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ﴾ [آل عمران: ١٠٦] الْآيَةَ ⑤ قِيلَ لِأَبِي أُمَامَةَ أَنْتَ سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟

ترجمه: ① ابو غالب (تابعي) رحمه الله وايي چې حضرت ابو امامه (صحابي) رضي الله عنه يوه ورځ د دمشق په لار د خوارجو سرونه پراته وليدل (يا په پانسي زوړند شوي وليدل) ② نو وي فرمايل چې دا د دوزخ سپي دي، او د آسمان لاندي بدترين مقتولين دي، ③ او بهترين مقتول هغه دی کوم چې دوئ قتل کړي وي، او بيا هغه دا آيت وويلو ④ (ترجمه) د قيامت په ورځ به ډير مخونه منور وي او ډيرمخونه به تور وي الخ ⑤ ابو غالب رحمه الله د حضرت ابو امامه رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه چې آيا تاسو دا خبره د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوريدلي ده؟

حل اللغات: ① رُءُوس: سرونه. ② مَنْصُوبَةً: پراتـه. ③ عَلَى دَرَجِ: درج جمع ده د دې مفرد "درجة" ده کولاؤ لاره. اود پاتکوالا لوئی پاؤړئ تـه هـم "درجة" وائـی. ④ كِلَابُ النَّارِ: د دوزخ سپی. ⑤ شَرُّ قَتْلَى: بد ترين وژلی شوی خلق (دلته خوارج مراد دی) ⑥ خَيْرُ قَتْلَى: بهترين وژلی شوی خلق (دلته مسلمانان مراد دی) ⑦ أَدِيمِ: سطح، مخ، ⑧ تَبْيَضُّ: تک سپين به وی ⑨ وَتَسْوَدُّ: تک تور به وی.

١) اخرجه الترمذي في كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة آل عمران(رقم-٣٠٠٠) والنسائي في كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب في ذكر الخوارج (رقم-١٧٦)

[۱] قَالَ: لَوْلَمْ أَسْمَعْهُ إِلَّا مَرَّةً أَوْمَرَّتَيْنِ أَوْثَلَاثًا [۲] حَتّٰى عَدَّ سَبْعًا مَا حَدَّثْتُكُمُوهُ». [۳] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.

ترجمه: [۱] ابو امامه رضی الله عنه وفرمايل كه ما دا خبره يو ځل، دوه ځله، دري ځله، [۲] ددي پوري چې هغه اووه ځله (اوشميرل) نه وي اوريدلي، نو ستا په مخكې به مي نه بيانوله (يعني كه ما دا خبره د حضور ﷺ نه په دومره په كثرت سره په وار وار نه وی اوریدلی. نو ستا په مخكې به مي نه بيانوله) [۳] ترمذي ابن ماجه، ترمذي رحمه الله ويلي دي چې دا حديث حسن دی.

تسهيلات:

دحديث د بعضې جملو وضاحت:

① **رؤساً منصوبة:** داسې معلوميږی چه دَ خوارج دَ قتل كولونه پس چادَهغوی سرونه دَ عبرت دَپاره په سولئی باندې زوړند كړې وو ياهسې چرته په اوچت ځائی باندې كيخودلې وو.

② **تحت اديم السماء:** اديم دَ ظاهری سطح په معنى كښې دې كه هغه دَ آسمان سطح اومخ وی كوم چه مونږ ته ښكاری يا دَ زمكې ظاهری مخ وی كوم چه ښكاری. په اصل كښې اديم پوستكی او څرمن ته وائی ځكه چه هغه هم په ظاهری سطح باندې وی په دې وجه دا لفظ دَ ظاهری سطح دَپاره استعمالولې شی.

قوله: كِلَابُ النَّارِ:

د خوارجو د خروج تاريخی پس منظر: چونكه په حديث كښې په خوارج باندې دَ "كلاب النار" اطلاق شوې دې. په دې وجه حضرت ابو امامه رضی الله عنه هغوی هم په دې نوم سره يادكړی اودا دَ خوارج دَ هغه خباثتونوطرف ته مخفی غوندې اشاره ده چه هغه خلق دَ اسلام اودَ هغې دَخلفاء باره كښې كوی لكه چه داخلق دَ اهل حق دَپاره دَ ليونو سپوپه شان دی چه خلق خوری اوبيابه داخلق په دوزخ كښې دَ سپو په شكل كښې ښكاره كيږی. دَ خوارج دَ خروج تاريخی پس منظر داسې دې چه مخكښې دا خلق حضرت علی رضی الله عنه سره ملګری وو اودَ حضرت معاويه رضی الله عنه خلاف جنګيدل. بيا دَ تحكيم واقعه پيښه شوه او واقعه داسې پيښه شوه چې په جنګ صفين كښې دَ حضرت علی فوجونوته دَ حضرت معاويه په فوجونو باندې فتح حاصليدله. حضرت معاويه رضی الله عنه پريشان شو نوحضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه هغوی ته اوفرمائيل چه تاسو خپل فوج ته حكم وركړئی چه هغوی دې نيزو سره قرآن پاك اوتړی اوچت دې كړی اواعلان دې اوكړی چه زمونږ په مينځ كښې به دا قرآن فيصله كوی. كله چه هغوی داسې اوكړه او قرآن ئی په نيزوكښې اوچت كړو نود

حضرت علی ﷺ ملګرو اوونیل چه اوس جنګ جاري ساتل جائز نه دی ځکه چه په قرآن پاك باندې به فیصله کیږی حضرت علی ﷺ اوفرمائیل چه جنګ مه بندوئی دا د مخالفینو یوه حربه ده چه جنګ بند شي او د شکست نه بچ شی حضرت علی ﷺ هم دغه ملګرو په جنګ بندولوباندې مجبورکړو کوم چه روستو خوارج جوړشو هغوی ونیل مونږ د قرآن په مخکښې جنګیدوله نه ورځو چنانچه جنګ بندشو او د صلح خبرې اومذاکرات شروع شو فیصله په دې باندې اوشوه چه حضرت علی ﷺ اوحضرت معاویه ﷺ دواړه متنازعه جوړشوی وو په دې وجه دې دوی دواړه خپل اختیار یو دریم ګړی ته ورکړی اوهغه دریم ګړی چرته یوغیرمتنازع سړې خلیفه مقررکړی هم دغه ثالثین مقررکولوته د تحکیم نوم ورکړې شوې دې حضرت علی ﷺ د خپل طرف نه خپل وکیل حضرت ابوموسیٰ اشعری مقررکړو اوحضرت معاویه ﷺ حضرت عمرو بن العاص ﷺ خپل وکیل مقررکړو فیصله دا اوشوه چه دواړه وکیلان به راشی او د ټولو خلقو په وړاندې به خپل موکل د خلافت نه معزول کړی اوبیابه نوی خلیفه خوښ کړی چنانچه د معاهدې لاندې حضرت ابوموسیٰ اشعری ﷺ د حضرت علی ﷺ د معزول کولواعلان اوکړو لیکن حضرت عمرو بن العاص ﷺ اعلان اوکړو چه حضرت علی ﷺ د هغه وکیل معزول کړې دې اوس هغه خلیفه پاتې نه شو اوزه خپل موکل حضرت معاویه ﷺ په خلافت باندې هم هغه شان ساتم. د دې اعلان نه پس بیا سخت جنګ شروع شو لیکن د حضرت علی ﷺ هم دې ملګرو د جنګ نه لاس راښکلو چه اول ئی په مذاکراتو باندې زور لګولې وو اوس دې خلقو دا وینا کول شروع کړه چه حضرت علی ﷺ د الله تعالی نه علاوه د انسانانو حکم اومنلولهذا اوس دې کافرشوې دې. ځکه چه د قرآن اعلان دې ﴿إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ﴾ حضرت علی ﷺ په ډیر محنت سره دغه خلق پوهه کړل لیکن داخلق په بغاوت اودریدل او د حضرت علی ﷺ د فوج نه شپږ زره کسان جدائی اختیارولوسره کوفې سره حروراء مقام خپل مرکز جوړ کړو او حضرت علی ﷺ سره ئی جنګ اوکړو په جنګ نهروان کښې حضرت علی ﷺ د هغوی ډیرزیات خلق قتل کړې وو.

د اسلام د دریو قائدینو د قتلولو منصوبه بندی: بیاهم د دغه خلقو نه درې سړی په منصوبه بندئی سره د اهل اسلام درې لوئی قائدین وژلو د پاره مقررکړې شو یوشیطان د حضرت معاویه د قتل کولو د پاره روان کړې شو دویم د حضرت عمرو بن العاص ﷺ د وژلو د پاره او دریم خبیث د حضرت علی د وژلو د پاره روان کړې شو. د دې خبیث نوم عبدالرحمن بن ملجم وو. باقی دوه خو په خپلو منصوبو کښې ناکام شو لیکن دې بدبخت د سحر د مونځ د پاره کوزیدو سره د حضرت علی ﷺ په سرباندې د توری ګذار اوکړو اوحضرت علی ﷺ شهید شو بیا دې اونیولې شو اوقتل کړې شو.

د ابن ملجم په مدح کښې د يو خارجي شاعر اشعار: دَ ابن ملجم بدبخت په تعريف کښې يو خارجي شاعر عمران بن حطان دا شعرونه اوو ئيل

يا ضربة من تقي ما اراد بها — الا ليبلغ من ذي العرش رضوانا

واه واه دَ يو پرهيزګار دَ توري وار څه ښکلې وار وو په کوم سره چه صرف هغه دَعرش والا دَ خوشحاللو اراده اوکړه

اني لاذكره يوما فاحسبه — اوفى البرية عند الله ميزانا

زه چه کله هغه يادوم نوخيال کوم چه دَ الله تعالى په نيزدَ هغه چابړې دَ ټولو نه دروند دې

اكرم بقوم بطون الارض اقبرهم — لم يخلطوا دينهم بغيا وعدوانا

هغه خلق څومره عزت مند دی دَ چا قبرونه چه دَ زمکې لاندې دی چاچه خپل دين دَ بغاوت اودَحق نه تجاوز کولو سره ګډ نه کړو.

د ابن ملجم په مذمت کښې د ابو طيب طبرى اشعار: دَدې بدبخت دَ اشعارو په جواب کښې دَ اهل سنت نه قاضى ابو طيب طبرى بهترين اشعار وئيلوسره اوفرمائيل

اني لابرأ مما انت قائله — في ابن ملجم الملعون بهتانا

دَ ابن ملجم ملعون باره کښې تا دروغ وئيلى دى زه دَهغه نه بالکل ويزاره يم

اني لاذكره يوما فالعنه — دينا والعن عمران بن حطانا

زه چه کله هم هغه يادوم نو په هغه باندې اوهغه سره په عمران بن حطان باندې لعنت ورليګم

عليكم ثم عليه الدهر متصلا — لعائن الله اسرارا واعلانا

په تاباندې اوبيا په ابن ملجم باندې دَ الله تعالى دَ طرف نه دَ هميشه دَپاره يوشان په پټه او په ښکاره لعنتونه دې وى

فانتم من كلاب النار جاء لنا — نص الشريعة برهانا وتبيانا

نه خود دوزخ سپي ئى په دې دعوىٰ باندې زمونږ سره په توګه دَ دليل دَ شريعت واضح حديث موجود دې (كذا فى حياة الحيوان ۳۴/۱).

دَدې اشعارو په آخرى شعرکښې قاضى ابو طيب طبرى رحمه الله دَ مذکوره حديث دَدغه جملې طرف ته اشاره کړې ده په کوم کښې چه كلاب النار موجود دې حضرت ابو امامه رضي الله عنه دَ قرآن کريم دَدې آيت طرف ته هم اشاره کړې ده ﴿يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ﴾ يعنى دَ خوارج مخونه به تک تور وى اودَمؤمنانو مخونه به روښانه وى. مشکوة شريف کښې دَ خوارج متعلق ډير احاديث باب المرتدين کښې درج کړې شوى دى دَ کوم نه چه اشاره ملاويږى چه شايد خوارج دَ مرتدين په حکم کښې دى. دَتکفير خوارج مسئله دې نه وړاندې تيره شوې ده.

د خوارجو په باره کښې شرعی حکم: حضرت شاه انورشاه کشمیری رحمه الله اکفار الملحدین کښې لیکلی دی چه "قال الغزالی فی الوسیط تبعاً لغیره فی حکم الخوارج وجهان احدهما انه کحکم اهل الردة والثانی انه کحکم اهل البغی ورجح الرافعی الاول الخ" یعنی امام غزالی رحمه الله په خپل کتاب وسیط کښې دَ عام علماؤ مطابق دَخوارج متعلق لیکلی دی چه دَدوی په شرعی حکم کښې دوه اقوال دی. اول دا چه دَدې خلقو حکم دَ مرتدینو په شان دې. دویم قول دا چه دَدوی حکم دَ باغیانو دې. علامه رافعی اول قول را جح گرځولې دې. په دې کلام باندې حضرت شاه صاحب رحمه الله تبصره کولو سره فرمائی چه دا حکم دَهرقسم خارجیانو ته شامل نه دې ځکه چه خوارج په دوه قسمه دی یو خو هم هغه دی دَ کوم تذکره چه حضرت امام غزالی رحمه الله کړې ده او دویم قسم هغه خوارج دی کومو چه دَخپلې عقیدې اونظریاتو طرف ته دَ راغوښتلو دَپاره خروج نه دې کړې بلکه په حکومت باندې دَ قبضه کولو دَپاره خروج کړې دې. دا خوارج بیا په دوه قسمه دی یو هغه چاچه دَ ظالم حکمرانانو دَ ظلم دَ وجې نه او په قرآن اوسنت باندې عمل دَ نه کولو دَ وجې نه دَهغوی خلاف دَ الله تعالی دَ دین په حمایت کښې خروج اوبغاوت کړې دې. دا خلق اهل حق دی هم دَدوی نه حضرت امام حسین اودَ مدینې هغه علماء دی کومو چه دَ یزیدخلاف خروج کړې وو اوهم دَدوی نه هغه خلق دی چاچه دَحجاج بن یوسف خلاف بغاوت کړې وو. نور خوارج هغه دی چه صرف په حکومت باندې دَ قبضه کولودَپاره راؤځی هم هغه باغیان دی او (په احادیثو کښې هم دَدوی مذمت راغلې دې).

[۱۷] كِتَابُ الْحُدُودِ

دَ حدودبیان

خلاصة الباب:

فيه ثلاثة وثلاثون حديثاً مشتملة على اثنى عشرة مسئلة:

① حد زنا الغلام والجارية: ۹، ۱۰، ۲۶.
② عدم الرجم لغير المحصن والتجليد له: ۱، ۳، ۴، ۱۹، ۲۷.
③ الرجم على المحصن والمحصنة: ۱، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸، ۱۱، ۱۳، ۱۸، ۱۹، ۲۴.
④ أسباب ثبوت الحد: ۳، ۶، ۸، ۱۱، ۱۲، ۱۳ ، ۲۷.
⑤ الإعراض عن المقربالزنا والتلقين له: ۶، ۷، ۸، ۱۱.
⑥ الأمربالستر ودرأالحدود: ۱۳، ۱۴، ۱۶.
⑦ عدم عفو الإمام عن الحدود : ۱۵، ۳۲.
⑧ أسباب الدرا والتخفيف في الحدود: ۱۷، ۱۸، ۲۰، ۲۶.
⑨ قباحة الوطي فى الدبرومع البهيمة والحد فيهما: ۲۱، ۲۲، ۲۳، ۲۹، ۳۰، ۳۱.
⑩ حكم القذف: ۲۴، ۲۵.
⑪ قباحة الزنا: ۲۸.
⑫ فائدة إقامة الحدود: ۳۲.

قوله: الحدود:

د حد لغوی معنی: دَ حدجمع ده اوحد په اصل کښې دَ منع په معنی کښې دې دَ دې یوه معنی دَ حاجز هم ده یعنی دَ دوو څیزونوپه مینځ کښې حائل اومانع چه دواړه دَ ملاوولونه بنده وی. شرعی حدودهم انسان دَ ګناه نه منع کوی.

د حد اصطلاحی تعریف: فقهاء کرامو دَ شرعی حد اصطلاحی تعریف داسې کړې دې "الحدعقوبة مقدرة يجب حقاًالله تعالىٰ" یعنی دَ شریعت په اصطلاح کښې حد دَهغه متعین سزا نوم دې چه شریعت دَ حقوق الله دَ حفاظت دَپاره مقررکړې دی.

په تعریف کښې د مذکوره قید (مقدرة) فائده: په قیدسره تعزیر اووتلو ځکه چه دَتعزیرتعین شریعت نه کوی بلکه دَ شریعت په رڼاکښې دَدې تعین دَامام او قاضی په اختیارکښې دې. په دې تعریف سره دَ حقا الله الفاظ سره حدوداوقصاص کښې هم فرق ښکاره شو. ځکه چه دَ قصاص تعین حق العبد دَپاره کړې شوې دې. هم دغه وجه ده چه دَ ثبوت نه پس قصاص معاف کولې شی حدنه شی معاف کیدې.

د شرعي سزاگانو قسمونه: دَ قواعداوضوابط په رنړاکښې اسلامي شرعي سزاګانې درې قسم دي.

① هغه سزاګانې دي کومې چه الله تعالی پخپله متعین کړې دي لیکن دَهغې جاري کول ئې په بندیګانو باندې پرې خودې دي. په دې کښې دَ يوخارجي طاقت يعنی حاکم او حکومت ته دَ دخل کولو حق نشته دې. لکه چه دادَ متعلقه سړي دَذاتي نوعيت معامله ده اودې سره به هغه پخپله ګوري. په شریعت کښې دَدې قسم سزاګانو نوم کفارات دې لکه دَ قسم کفاره او روژې وغیره کفاره.

② هغه سزاګانې دي دَ کوم مقدارچه شریعت مقررکړې دي اودَ کتاب اوسنت نه ثابتيدوسره سره دَ دې مقدار متعین هم دې. په شریعت کښې دَ داسې سزاګانونوم حدود دې لکه زنا غلا شراب څکل وغیره جرمونوسزاګانې دي. دَدې سزاګانودَ ثبوت نه پس حاکم اوقاضی نه داساقط کولې شي اونه کمې زیاتې کولې شي صرف دَ نافذ کولو حکم هغه سره دې. یعنی دَ قانون سازئی اختیار هغه سره نشته دې صرف دَ تنفیذ اختیاردې.

③ هغه سزاګانې دي کومې چه کتاب اوسنت خو متعین کړې نه دي لیکن دَ کومو خرابوکارونو په ارتکاب باندې چه دا سزاګانې ورکولې شي. شریعت دغه خراب کارونه دَ جرائم په فهرست کښې شمیرکړي دي اودَ سزا مقدار اودَ هغې دَ تعین مسئله دَ حاکم او قاضی په اختیارکښې پریخودې دي چه هغوی دې دَ شریعت دَ قواعدو په رنړا کښې دَ موقع مناسبت سره دَ دغه جرم دَ پاره سزا تجویزکړي دَ داسې سزاګانونوم په اسلام کښې تعزیردې.

په څلور قسمه سزاګانود حد اطلاق: په اسلام کښې په څلورو سزاګانودَ حدوداطلاق کیږي. ① حدزنا ② حد سرقه ③ حدقذف ④ حد خمر

د حدود الله برکات: حدودالله مقررولوکښې ډیر فائدې اوبرکتونه دي کوم چه څوک کماحقه نه شي بیانولې. ملاعلي قاري رحمه الله په دې په مرقات کښې تفصیلي رنړااچولې ده. په حدودالله کښې لوئی فائدې څکه دي چه دَدې په ذریعه لوئی لوئی خراب کارونه بندولې شي اوصرف دَ حدود په نفاذسره سړې دَ دغه ګنده کارونونه بچ کیدې شي. مثلاً حدزنا په نفاذ سره سړې دَ نسب دَ ضیاع، دَ اولاددَ ضیاع اودَ ځان دَ ضیاع اوتباهئی نه بچ کیږي اودا څیزونه په بین الاقوامي توګه دَ هرعقل مند په نیز واجب الحفاظت دي.

حدخمر: سره دَ زوال عقل حفاظت کیږي اوزړه اودماغ په خپل ځائې پاتې کیدل په بین الاقوامي توګه مطلوب اومقصود امردې. حدقذف: سره عزت نفس اودَ ننګ اوناموس حفاظت کیږي چه په بین الاقوامي توګه يو محمود او ممدوح څیزدې. او حدسرقه: سره دَ مال دَ حفاظت انتظام کیږي اوامن او امان اودَ مال حفاظت په عالمي توګه باندې

ده‌ر یو دپاره ډیر ضروری دي. خلاصه دا چه دَ نسل حفاظت، عزت نفس، دَعقل حفاظت او دَ مال حفاظت داسې څیزونه دی دَ کوم په افادیت چه دَ ټولي دنیا انسانان متفق دی. لهذا هر یو عقل مند انسان په اسلامی حدود او په حدود آرډیننس باندې اعتراض نه شی کولې. بیا دَدې نه علاوه دَ مسلمانانو دَپاره دَ حدود الله دَ نفاذ لوئی لوئی برکتونه دی. په حدیث شریف کښې دی دَ یو حد په نفاذ سره ملکی معیشت ته دومره فائده کیږی لکه څنګه چه دَ څلویښتو ورځو پورې په مفید او نافع باران سره کیږی.

بل په معاشره کښې او په سوسائټۍ کښې حدود الله دَ امن او امان ضامن دی ځکه چه په معاشره کښې په سلوکسانو کښې که ۵فیصد خلق شرابیان کبابیان یاغله اوزناکاروی نوهغوی دَ ۹۵فیصد خلقو ژوند په خطره کښې اچولو سره پریشانه کوی. اسلام حکم ورکوی چه دغه پنځوته سزا ورکړئی چه دَ ۹۵فیصدژوند په امن امان عزت او شرافت سره تیرشی. مجرمانو خلقو ته چه دَهغوی دَ جرم سزا په دې دنیا کښې ورکړې شوه نوهغوی به دَ آخرت والا دَ دوزخ دَ سزا نه بچ شی. دا ټولې فائدې په حدود الله کښې دی شریعت دا نه غواړی چه خامخادې څوك په تكليف كښې كړی هغه حدود الله دَ انسانانو دَ تنګولو دَپاره نه دی مقرر کړی بلکه انسانان ئی انسانان جوړولو دَپاره مقرر کړی دی. په سعودی عرب کښې یو څو حدود قائم دی هلته څومره امن دې او په افغانستان کښې دَ طالبانو په اسلامی حکومت کښې هلته څومره امن او امان وو او هلته څومره شرافت او انسانیت وو دَ کوم مثال چه په دنیا کښې نه ملاویږی. خو دنیا ته دا شرافت خوښ نه شو او ټول کافران. شیطانان، اشرار او منافقان یو ځائی شو دغه حکومت ئی راګذار کړو اوس هلته نه امن دې نه انسانیت دې او نه شرافت دې.

د صحابه کرامو نه د کبائرو په ارتکاب کښې حکمتونه: دا خبره هم په ذهن کښې اوساتئی چه په شریعت کښې دَ څومره احکاماتو تجربه دَ نبی کریم په ذات باندې کیدلې شوه نبی کریم هغه احکامات په خپل عملی ژوند کښې راوستلو سره دَ امت مخې ته یوه نمونه وړاندې کړه لکه په نامه دَ یادیدونکی ځوئی ښځې سره نکاح کول وغیره وغیره. لیکن کوم افعال چه داسې وو دکوم ارتکاب چه دَ نبی دَ شان منافی وو او دَ عصمت انبیاء کرام دَ اصولو منافی وو نو په داسې احکاماتو باندې په تکوینی توګه باندې په صحابه کرامو باندې عمل اوکړو دې دَپاره چه دَ راتلونکی امت دَپاره نمونه جوړه شی. لهذا په تکوینی توګه باندې دَ بعضې صحابه کرامو نه زنا اوشوه بعضې واقعات دَ غلا یا شرب خمر یا قذف رامخې ته شو نو دَ حد لګیدو سره دَ امت دَپاره دَ حدقائم کولو طریقه راپیدا شوه. دَ نفاذ حد ثبوت هم ملاؤشو او دَ شریعت دَ احکاماتو تکمیل هم اوشو. لهذا په حدود کښې چه کله هم دَ یو لوئی ګناه ارتکاب دَ یو صحابی نه ښکاره شی نو هغې ته صرف دَ ګناه په

حيثيت سره مه گورئي بلکه هغه دَ تکميل شريعت په آئينه کښې اوګورئي چه دلته هم صحابه کرامو خپل ځانونه دَ دَ شريعت دَتکميل دَپاره پيش کړل کتاب حدود کښې باب قطع السرقة نه وړاندې به درې قسم احاديث راځي دَاکثر احاديثو تعلق حددَ زناسره دې اوددې په ضمن کښې دَ بعضې تعلق حدقذف سره دې دَباقي رواياتو تعلق حدلواطت سره دې لهذا په دې کتاب کښې دَ حد قذف دَپاره جدا عنوان نه دې کيخودلې شوې دغه شان دَ لوطي سزا دَپاره څه عنوان نشته دې دَ حدقذف نورتول احاديث باب اللعان کښې تيرشوی دی

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۲۵۵۵] دَرسول پاک دَ دربار نه دَزنا دَيوې مقدمې فيصله

۲۵۵۵-[۱] ([1]) ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَزَيْدِ بْنِ خَالِدٍ «أَنَّ رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ② فَقَالَ أَحَدُهُمَا: اقْضِ بَيْنَنَا بِكِتَابِ اللّٰهِ. ③ وَقَالَ الْآخَرُ: أَجَلْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَاقْضِ بَيْنَنَا بِكِتَابِ اللّٰهِ ④ وَأْذَنْ لِي أَنْ أَتَكَلَّمَ قَالَ: تَكَلَّمْ ⑤ قَالَ إِنَّ ابْنِي كَانَ عَسِيفًا عَلَى هٰذَا فَزَنٰى بِامْرَأَتِهِ

ترجمه: ① حضرت ابوهريره ﷺ او زيد ابن خالد ﷺ وايي چې (يوه ورځ) د رسول الله ﷺ په خدمت کې دوو خلقو خپله قضيه راوړه، ② په هغوئ کې يوه اوويل چې زمونږ په منځ کې د کتاب الله موافق حکم وکړه، ③ دويم هم عرض اوکړو چې يا رسول الله ﷺ زمونږ په منځ کې د کتاب الله موافق حکم وکړه، ④ او ماته اجازت راکړه، چې زه بيان وکړم (چې د قضيې صورت څه دی؟) حضور ﷺ ورته وفرمايل بيان يې کړه، ⑤ هغه سړي بيان وکړي، زما ځوی د دې سړي سره مزدور وو، هغه د ده د ښځي سره زنا وکړه،

حل اللغات: ① اِخْتَصَمَا: دوه کسانو جګړه اوکړه ② اِقْضِ: فيصله اوکړه، ③ أَجَلْ: ای نَعَم، آؤ. د تيرې شوې خبرې د اقرار کولو په وخت استعماليږي. ④ عَسِيف: مزدور، اجير.

① فَأَخْبَرُونِي أَنَّ عَلَى ابْنِي الرَّجْمَ ② فَافْتَدَيْتُ مِنْهُ بِمِائَةِ شَاةٍ وَبِجَارِيَةٍ لِي ③ ثُمَّ إِنِّي سَأَلْتُ أَهْلَ الْعِلْمِ ④ فَأَخْبَرُونِي أَنَّ عَلَى ابْنِي جَلْدَ مِائَةٍ وَتَغْرِيبَ عَامٍ ⑤ وَإِنَّمَا الرَّجْمُ عَلَى امْرَأَتِهِ

ترجمه: ① خلقو ماته اوويل چې ستا دځوی سزا سنګساري ده، ② ليکن ما هغه د سنګسارولو په بدله کې سل بزې (چيلئ) او يوه وينځه ورکړه، ③ بيا چې په دې باره کې

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الأيمان والنذور/باب: کيف کانت يمين النبيّ صلّى الله عليه وسلّم (رقم-۶۶۳۳) ومسلم فی کتاب الحدود/باب من اعترف على نفسه بالزنى (رقم-۲۵ - (۱۶۹۷) و ابو داود فی کتاب الحدود/باب المرأة التی أمر النبيّ صلّى الله عليه وسلّم برجمها من جهينة (رقم-۴۴۴۵) والترمذی فی کتاب الحدود عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فی الرّجم على الثيّب (رقم-۱۴۳۳) والنسائی فی کتاب آداب القضاة/باب صون النّساء عن مجلس الحکم (رقم-۵۴۱۰) و ابن ماجه فی کتاب الحدود/باب حدّ الزّنا (رقم-۲۵۴۹) واحمد فی المسند: ۱۱۵/۴

ما د علماوو نه معلومات وكړل.۴ نو هغوئ اوويل چې (ستا خوى محصن نه دى يعنى واده والا نه دى ځكه) د هغه سزا سل دوري دى، او د يو كال جلا وطني ده.۵ او د دې سړي د ښځي سزا سنګساري ده (ځكه چې هغه واده شوي ده)

حل اللغات: ⑤ وَتَغْرِيبَ: جلاوطنى، د وطن نه ويستل. ⑨ عَامٍ: يو كال.

۱ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَمَا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ ۲ لَأَقْضِيَنَّ بَيْنَكُمَا بِكِتَابِ اللَّهِ ۳ أَمَّا غَنَمُكَ وَجَارِيَتُكَ فَرَدٌّ عَلَيْكَ ۴ وَأَمَّا ابْنُكَ فَعَلَيْهِ جَلْدُ مِائَةٍ وَتَغْرِيبُ عَامٍ ۵ وَأَمَّا أَنْتَ يَا أُنَيْسُ فَاغْدُ إِلَى امْرَأَةِ هَذَا ۶ فَإِنِ اعْتَرَفَتْ فَارْجُمْهَا، فَاعْتَرَفَتْ فَرَجَمَهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ رسول الله ﷺ (دا قضيه اوريدو سره) وفرمايل چې خبر شئ! قسم دى په هغه ذات پاك چې د هغه په لاس كې (يعني په قبضه د قدرت كې) زما ساه ده.۲ زه به ستاسو په منځ كې د كتاب الله موافق فيصله كوم.۳ نو واوره ستا بزې (چيلئ) او ستا وينځه به تاته واپس دركول كيږي.۴ او (كه څېله د ملزم اقرار يا د څلورو شاهدانو د شهادت سره) د زنا جرم ثابت وى، نو ستا خوى ته به سل دوري سزا وركول كيږي، او د يو كال د پاره به جلا وطن كول كيږي.۵ بيا حضور ﷺ حضرت انيس رضي الله عنه مخاطب كولو سره ورته وفرمايل چې اې انيسه! ته د دې سړي ښځي ته ورشه.۶ كه هغه د زنا اقرار وكړي. نو هغه سنګساره كړه، هغي ښځي د زنا اقرار وكړي، او حضرت انيس رضي الله عنه هغه سنګساره كړه. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ⑥ فَاغْدُ: ورشه.

تسهيلات:

قوله: اقْضِ بَيْنَنَا بِكِتَابِ اللَّهِ:

په حديث كښې د كتاب الله په مراد كښې دوه اقوال: ① دې نه دَ الله تعالى حكم مراد دې ځكه چه دَرجم حكم دَ قرآن په الفاظو كښې موجود نه دې. "اي بحكم الله"

② مګربعضې علماء فرمائى چه مراد هم قرآن كريم دې دادَدې آيت طرف ته اشاره ده چه اول نازل شوې وو بيائى الفاظ منسوخ شو اوحكم ئى باقى پاتې شو الفاظ دادى "الشيخ والشيخة اذازنيا فارجموهما البتة نكالامن الله والله عزيز حكيم"

د حديث د بعضې جملو وضاحت: ① "فَاقْضِ" علامه طيبى رحمه الله ليكى چه دا فاجزائيه ده شرط ئى محذوف دې يعنى كله چه دَدې سړى بيان راشى نوتاسو هم دَ الله تعالى په كتاب باندې فيصله اوكړئى. دواړو متخاصمين اشاره اوكړه چه تاسو زمونږ په مينځ كښې خالص په كتاب الله باندې فيصله اوكړئى. دَ څه صلح اومصالحت ضرورت نشته دې كوم حكم چه دې هغه نافذ كړئى.

② جَلْدَ مِائَةٍ: جلد کوړې ته وائی شرعی کوړه دومره سخته نه وی د نن صبا حکمرانانو چه کومې کوړې دی داخو تباهی ده دَدې په لسو کوړو سره چه د سړی د مرګ خطره وی الکاشف ۱۴۴/۷.

قوله: وَتَغْرِيبُ عَامٍ:

د تعریب تعریف: تغریب مسافر جوړول او دَوطن نه ویستو ته وائی

په دې باندې دَ ټولو فقهاؤ اتفاق دې چه محصن یعنی واده شوې که هغه سړې وی او که ښځه کله چه دَ زنا ارتکاب اوکړی اودَ ګواهانو په ذریعه یا په اقرار سره زنا ثابته شی نو دا به رجم یعنی سنګسارولې شی او که چرې محصن نه وی یعنی ناواده کړې وی نو دَ جرم دَ ثابت کیدو نه پس به سل کوړې وهلې شی.

د جلاوطنی باره کښې ۳ مذاهب:

دَفقهاؤ په دې کښې اختلاف چه آیا دَټول کال دَپاره دَ وطن نه ویستل په حد کښې داخل دی که دا دَ تعزیر حصه ده.

① امام شافعی رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی که غیرمحصن سړې وی او که ښځه دَ کوړو وهلو نه پس دَ یو کال دَ پاره تغریب یعنی دَ وطن نه ویستل دَ زنا دَحد حصه ده

② دَامام مالک رحمه الله په نیز تغریب عام دې په دې به عمل کیږی لیکن دا صرف دَ سړو پورې خاص دی او دَ ښځو دَپاره دَ فتنې په وجه دا حکم نه دې ځکه چه که ښځه دې دَ وطن اویستله نو فتنه به نوره هم زیاته شی.

③ احناف وائی چه دَ ټول کال دَپاره دَ وطن نه ویستل په حد کښې داخل نه دی داخو صرف تعزیر دې. که چرې امام او قاضی سیاسةً او حکمةً څوک دَ وطن نه ویستل مناسب ګنړی نو دَ مصلحت په توګه دې هغه دَ علاقې نه اوویستلې شی مګر بهتر تغریب دادې چه هغه په جیل کښې واچوی او دَ پوره کال دَپاره دې دَ تنهائیی په قید کښې پروت وی. شوافعو دَ تغریب عام مسافت درې ورځې اودرې شپې فاصله مقرر کړې ده

داول فریق دلائل: ① هغه ټول احادیث د دوی مستدل دې. په کومو کښې چه دَ سلو کوړو سره دَ تغریب عام ذکر راغلې دې دَدې باب حدیث نمبر (۳۵۵۸) هم د دوی مستدل دې

② دغه شان دَحدیث نمبر (۳۵۵۵) د دوی مستدل دې.

③ دغه شان حدیث نمبر (۳۵۶۶) هم د دوی مستدل دې. دا روایات د دوی به مدعا باندې واضح دلائل دی.

داول فریق د د لائلو مجموعی جوابونه: ① دَتغریب حکم سیاست او مصلحت باندې مبنی دې لکه چه دا دَ تعزیر یوه حصه ده. که چرې قاضی دا مناسب ګنړی نو داسې دې اوکړی

لکه څنګه چه د حضرت عمر رضی الله عنه نه هم د تغریب واقعه نقل ده.

② داحکم په شروع کښې وو بیا موقوف یا منسوخ شو دَدې وجه داده چه نبی کریم د زناد حد په څو واقعاتو کښې د کوړو نه پس د تغریب عام حکم نه دې کړې که چرې داحکم واجب العمل وې نونبی کریم به کله هم دَدې نه ډډه نه کوله بهرحال که چرې قبائلی نظام ته اوکتلې شی نودا حکم اوس هم هلته موجود دې او په دې باندې عمل کولوسره لوئی لوئی فتنې بندیږی احناف هم دې ته سیاست وائی.

د دریم فریق دلائل: دَ قرآن کریم آیت ﴿مِائَةَ جَلْدَةٍ﴾ د دوی مستدل دې دا آیت مطلق دې که دَ زناکار د کوړو سره د ټول کال دَپاره دَ وطن نه ویستل په حد کښې داخل اومنلې شی نودابه دَدې آیت په حکم باندې زیاتوالې شی کوم چه مناسب نه دې.

② دَ خلفاء راشدینو رضی الله عنهم فیصلې هم د دوی مستدلات دی په مصنف عبدالرزاق کښې دَ حضرت علی رضی الله عنه په حواله سره یوروایت نقل کړې شوې دې چه حضرت علی رضی الله عنه اوفرمائیل "کفی بالنفی فتنه" دَ وطن نه ویستل دَ فتنې دَ زیاتولودَپاره کافی دی.

③ په مصنف عبدالرزاق کښې دَ حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په حواله سره نقل کړې شوی دی چه هغوی امیه بن ربیعه دَ وطن نه اویستلو نوهغه عیسائی جوړشو په دې باندې عمر فاروق رضی الله عنه اوفرمائیل "لااغرب بعده مسلماً" زه به اوس هیڅ یومسلمان دَ وطن نه نه اوباسم دا الفاظ په واضحه توګه دا ښائی چه تغریب دَ حد حصه نه ده که چرې داسې وې نوحضرت عمر رضی الله عنه داکله هم نه شو ختمولې. (دادواړه روایتونه زجاجة المصابیح ۵۹/۳ باندې دی).

قوله: فَإِنِ اعْتَرَفَتْ فَارْجُمْهَا:

د زنا د اقرار په صورت کښې د تعدد د اقرار او د مجالسو باره کښې ۲ مذاهب:

① اوس دا مسئله زیربحث ده چه آیا په یوځل اعتراف بالزناباندې به حد جاری کیږی یا دَ اعتراف دَپاره تعدد شرط دې بل په دې کښې هم کلام دې چه آیا په یومجلس کښې اعتراف کول کافی دی یا په څلور مجالسو کښې جدا جدا اعتراف کول ضروری دی. په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

① امام شافعی رحمه الله او امام مالک رحمه الله فرمائی یوځل اقرار کول دَ زناد ثبوت دَپاره کافی دی اودَ مجلس دَ تعدد او اعتراف دَ تعدد هیڅ ضرورت نشته دې.

② امام ابوحنیفه رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی چه دَ زناد ثبوت دَپاره څلور ځل اقرار کول شرط دې دَپاره چه دَ څلورو ګواهانو په ځائی شی. بل دَ یومجلس په ځائی دَ څلورو مجالسو تعددهم لازم دې.

داول فریق دلیل: ① زیربحث حدیث د دوی مستدل دې. په دې کښې چه د یوځل اقرار کولوذکر دې اود مجلس د تعدد هم څه ذکر نشته دې.

داول فریق د دلیل جواب: په دې کښې د جنس اعتراف ذکر دې په دې کښې د یویا دو ذکر نشته دې نه د نفی ذکر دې نه د اثبات ذکر دې. نو په دې کښې خویا هم هغه معهود څلور اعتراف مراد دی یا روایت مجمل دې. دَدې تفسیر او تفصیل د حضرت ماعز رضی الله عنه په روایت کښې دې.

د دویم فریق دلیل: ① د حضرت ماعز رضی الله عنه په واقعه کښې څلور ځل د اقرار کولوذکر راغلې دې. نبی کریم درې ځل هغه واپس کړو اوپه څلورم ځل ئې د رجم حکم ورکړو که چرې په یوځل یا دوو ځلوپه اقرار سره حد واجب کیدلو نونبی کریم به د ماعز رضی الله عنه د واپس کولو په ځائې فوری توګه باندې حد جاری کولو. دَحضرت ماعز رضی الله عنه د رجم په ټولو روایاتو باندې که چرې نظرواچلوې شی نو په تعدد مجلس او تعدد اقرار کښې به چاته څه شك باقی پاتې نه شی.

[۲۵۵٦] دغیر محصن زاني سزا

٢٥٥٦-[٢] ()[١] وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ: «سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٢] يَأْمُرُ فِيمَنْ زَنَى وَلَمْ يُحْصَنْ [٣] جَلْدَ مِائَةٍ وَتَغْرِيبَ عَامٍ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت زید ابن خالد رضی الله عنه وایي چې ما د نبي کریم صلی الله علیه وسلم اوریدلی دی [٢] چه د غیر محصن () زاني په باره کې ئې حکم اوفرمائیلو [٣] چې هغه دي سل دوري ووهل شي. او د یوکال د پاره دي جلا وطن کړل شي، (بخاري)

حل اللغات: ① وَلَمْ يُحْصَنْ: واده او نکاح ئې نه وه کړې، ② تَغْرِيبَ: جلا وطنی.

تسهیلات:

قوله: وَلَمْ يُحْصَنْ:

د احصان شرطونه: زناکارکه غیرمحصن وی نودَهغه سزا سل کوړې دی لیکن که چرې زانی محصن وی نودَ هغه سزا رجم ده. اوس دَ احصان زنا اومحصن جوړیدو څه شرطونه دی. علماؤ د پنځوشرطونوذکر کړې دې.

① بلوغ ② عقل ③ واده کیدلوسره خلوت صحیحه کونکې ④ آزادی، یعنی حریت ⑤ اسلام

() اخرجه البخاری فی کتاب الحدود/باب البكران يجلدان وينفيان (رقم-٦٨٣١)

() محصن: هغه عاقل وبالغ او مسلمان ته وایي چې واده یې شوی وی، او د خپلې ښځې سره یې صحبت کړی وی.

دا احصان دَ زنا شرطونه دی دَ احصان قذف هم دغه شرطونه دی صرف هلته دَ واده کړې کیدو په ځائی پاکدامن کیدل شرط دې. که چرې مقذوف پاکدامن نه دې نو په قاذف باندې به حد دَ قذف نه لګی

د اسلام په شرطیت کښې مذاهب:

① شوافعو اوحنابله فرمائی دَ زنادَ سزا دَپاره مسلمان کیدل شرط نه دې

② احناف اومالکیه فرمائی چه احصان الزنا دَپاره اسلام شرط دې لهذا ذمی اوذمیه که چرې زنا اوکړی نوحدبه نه نافذ کیږی.

داول فریق دلیل: نبی کریم دَ دوو یهودیانو په مینځ کښې دَ حدزنا حکم نافذکړې وو حالانکه هغه غیرمسلم وو دَ کومو قصه چه وړاندې راځی.

داول فریق د دلیل دوه جوابونه: ① دا حکم دَ تورات وو دَ قرآن عظیم نه وو هم دغه وجه ده چه په یهودیانو باندې تورات وئیلوسره فیصله صادر کړې وه.

② یا هغه حکم دَ تنکیل او عبرت دَپاره په توګه دَ سیاست ووچه په یهودیانو کښې دَزنا رواج عام شوې وو.

د دویم فریق دلیل: دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنه مرفوع اوموقوف روایت د دوی مستدل دې دکوم الفاظ چه علامه زیلعی رحمه الله نصب الرایه کښې داسې نقل کړی دی. "من اشرك بالله فليس بمحصن".

[۲۵۵۷] د محصن زاني سزا

[۳] ( )[1] ١ وَعَنْ عُمَرَ قَالَ: «إِنَّ اللّٰهَ بَعَثَ مُحَمَّدًا بِالْحَقِّ ٢ وَأَنْزَلَ عَلَيْهِ الْكِتَابَ ٣ فَكَانَ مِمَّا أَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْهِ آيَةُ الرَّجْمِ ٤ رَجَمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَجَمْنَا بَعْدَهُ ٥ وَالرَّجْمُ فِي كِتَابِ اللّٰهِ حَقٌّ عَلَى مَنْ زَنَى ٦ إِذَا أُحْصِنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ ٧ إِذَا قَامَتِ الْبَيِّنَةُ ٨ أَوْ كَانَ الْحَبَلُ أَوِ الِاعْتِرَافُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او حضرت عمر رضي الله عنه وایي چې بلا شبه الله تعالی محمد صلی الله علیه وسلم د حق سره رالیږلی، ٢ او په هغه یې خپل کتاب نازل کړي، ٣ الله تعالی چې (په هغه کتاب کې) څه نازل کړي دي، په هغه کې آیت د رجم هم دی، ٤ رسول الله صلی الله علیه وسلم هم رجم کړي دي اودهغه نه وروسته مونږ هم رجم کړي دي. ٥ او په کتاب الله کې د هغه سړي د رجم (سنګسار) کولو حکم ثابت دی، چې زنا وکړي، ٦ اوهغه محصن وی که څه هغه سړی وي یا ښځه وي ٧ (او د

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الحدود/باب الاعتراف بالزّنا (رقم-۶۸۲۹) ومسلم فی کتاب الحدود/باب رجم الثّیب فی الزنی (رقم-۱۵ - (۱۶۹۱) و ابو داود فی کتاب الحدود/باب فی الرّجم (رقم-۴۴۱۸) والترمذی فی کتاب الحدود عن رسول اللّه صلّی اللّه علیه وسلّم/باب ما جاء فی تحقیق الرّجم (رقم-۱۴۳۲) وابن ماجه فی کتاب الحدود/باب الرّجم (رقم-۲۵۵۳) ومالک فی الموطا کتاب الحدود/باب ما جاء فی الرّجم (رقم-۱) واحمد فی المسند:۱/۴۰

رجم سزا به هغه وخت ورکول کیږي، هر کله چې د زنا جرم ثابت شی د شاهدانو په ذریعه
⑧ یا د حمل په ذریعه یا د اعتراف او اقرار په ذریعه وی. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ①الْحَبَلُ: حمل، ②الِاعْتِرَافُ: اقرار کول.

تسهیلات:

قوله: وَالرَّجْمُ فِي كِتَابِ اللهِ:

په کتاب الله کښې د رجم آیت: حضرت عمر ﷛ په دې جمله کښې دې آیت طرف ته اشاره کړې ده چه کوم یوځل په قرآن کښې نازل شوې وو لیکن بیا دَدې الفاظ منسوخ شو اوحکم باقی پاتې شو هغه آیت دا وو "الشیخ والشیخة اذا زنیا فارجموهما البتة نکلا من الله والله عزیزحکیم" اوس دا آیت دَ تلاوت دَپاره منسوخ او حکم ئی باقی دې.

د غیرمحصن دپاره د سلو کوړو سزا: په اسلام کښې ناواده کړې غیرمحصن سړی دَپاره دَسل کوړو سزا موجود ده په دې کښې خودَ هیڅ شك شبه گنجائش نشته.

د قرآن اوسنت نه د رجم اثبات: دَ رجم دَ سزا حکم هم دَ قرآن کریم دې اودَ قرآن نه ثابته ده لیکن دې دَپاره چه کوم آیت رانازل شوې وو دکوم الفاظ چه پورته ذکرکړې شو هغه منسوخ التلاوة دې اوحکم اوس هم موجود دې. اوداسې کیږی دا زمونږ فیصله نه ده نه دا زمونږ معامله ده. دَ صحابه کرامو اوشارع اسلام معامله اوفیصله ده. دَ صحابه کرامو هم دغه گواهی ده چه داسې شوی دی بیا په دې باندې دَ هغوی اجماع منعقد ده چه دَ رجم حکم دَ قرآن حکم دې.

د عمررضي الله عنه خطبه: حضرت عمرفاروق ﷛ په مسجدنبوی کښې په خطبه کښې اعلان اوکړو چه رجم دَ الله تعالی حکم دې اوپه قرآن کښې دې. دَ یوې اوږدې زمانې تیریدونه پس به خلق وائی دَ رجم حکم قرآن کښې نشته دې په دې سره به هغوی گمراه شی. قسم په خدائی که خلقودانه وئیل حضرت عمر ﷛ په قرآن کښې اضافه کړې نوما به دا آیت په قرآن کښې داخلولوسره دَ الفاظ لیکلو.

په قرآن کښې د یهودو د رجم واقعه: دَدې واقعاتو اواشاراتو نه ثابته شوه چه رجم کول دَقرآن حکم دې بل دَ یهودیانودَ رجم نه په انکارباندې په قرآن کریم کښې یوه رکوع دَ رجم دَ ثبوت متعلق راغلې ده سورة مائده رکوع نمبر۷ کتل پکاردی. بل احادیث مبارکه دَ رجم په سلسله کښې په تواترسره راغلی دی

دَ رسول الله ﷺ عمل او رجم کول او په صحابه کرامو باندې نافذکول اودَ مدینې په یهودیانو باندې هم نافذکول دا واضح دلائل دی چه دَ رجم حکم دَ قرآن او اسلام حکم دې. په حضرت عمر فاروق ﷛ باندې دې دَ الله تعالی رحمتونه وی دَهغوی دَ ایمانی نور

دَ وجې نه دَ لرې نه راتلونکې فتنې په نښه کړې شوې صحابه کرامو دا جاری اوساتلې په دې باندې دَ صحابه کرامو اجماع ده اودَ نبی کریم دَ ژوند مبارك غیرمبهم واقعات دی دَ خوارج نه سوا اودَ نن صبا ملحدینو اومنافقینونه بغیرچادې نه انکار نه دې کړې

قوله أَوْكَانَ الْحَبَلُ:

دَ پیغلې دَ حمل ښکار کیدو په حکم کښې ۲ مذاهب:

دَ ثبوت حد دَ گواهانو قیام یا دَ مرتکب جرم پخپله اقرار کول خوکافی دی په دې کښې دَ چاهم اختلاف نشته دې. البته په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې که چرې دَ ناواده کړې ښځې حمل ښکاره شی نودَ هغې څه حکم دې.

① امام ابوحنیفه رحمه الله امام مالك رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی دَ حمل په ښکاره کیدو باندې به دَ زناحد نه شی لګولې.

② امام شافعی رحمه الله فرمائی چه دَحمل ښکاره کیدل په ناواده کړې ښځه کښې دَ زنادَ حد دَ ثبوت دَپاره کافی دې

داول فریق دلیل: په زیر بحث حدیث کښې ذکوره جمله "اوکان الحمل" د دوی مستدل دې

د اول فریق د دلیل جواب: دادَ سبب بعیده په توګه ذکرکړې شوې دې چه کله بغیرد خاوندنه بچې ښکاره شی نوبیابه په ګواهانو باندې ثبوت کیږی اویا به په اقرار باندې ثبوت کیږی اوبیابه حد لګی. دامطلب نه دې چه صرف دَ حمل په بنیاد به حد لګی بهر حال دا تاویل کمزورې دې.

د دویم فریق دلیل: دَ حمل وجود محتمل دې کیدې شی چه دَ اکراه په صورت کښې وی یا دَ اشتباه دَ وجې نه وی یا په حالت نوم کښې وی یا غیراختیاری توګه باندې وی دَدې احتمالاتودَ وجې نه به حد ساقط کیږی ځکه چه "الحدود تندرئی بالشبهات" یوه واضحه قاعده ده

[۳۵۵۸] د واده شوې زاني او زانيه د پاره د رجم حکم

۳۵۵۸–[۴] (¹) ①وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ②«خُذُوا عَنِّي خُذُوا عَنِّي قَدْ جَعَلَ اللهُ لَهُنَّ سَبِيلًا، ③الْبِكْرُ بِالْبِكْرِ جَلْدُ مِائَةٍ وَتَغْرِيبُ عَامٍ ④وَالثَّيِّبُ بِالثَّيِّبِ جَلْدُ مِائَةٍ وَالرَّجْمُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① حضرت عباده رضي الله عنه ابن صامت راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② «د

(¹) اخرجه مسلم فی کتاب الحدود/باب حدّ الزنی (رقم-۱۲ - (۱۶۹۰) و ابو داود فی کتاب الحدود/باب فی الرّجم (رقم-۴۴۱۵) والترمذی فی کتاب الحدود عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی الرّجم علی الثّیّب (رقم-۱۴۳۴) وابن ماجه فی کتاب الحدود/باب حدّ الزّنا(رقم-۲۵۵۰) واحمد فی المسند:۳۱۳/۵

زانيه په باره كي، ما نه دا حكم حاصل كړي، چې الله ﷻ د ښځو د پاره لار مقرر كړيده. [۳] كوم غير محصن سړى چې د يوي غير محصني ښځي سره زنا وكړي، نو سل دوري دي ووهل شي، او د يو كال د پاره دي جلاوطن كړل شي. [۴] او كوم محصن سړى چې د يوي محصني ښځي سره زنا وكړي، نو سل دوري دي ووهل شي، او سنګسار دي كړل شي. (مسلم)

حل اللغات: ①خُذُوا: واخلئ. حاصل كړئ. ②اَلْبِكْرُ: غيرمحصن. ناواده سړى. ③جَلْدُ: كوړه. دوره ④وَالثَّيِّبُ: محصن. واده والا سړى. ⑤اَلرَّجْمُ: سنګسار كول. په كاڼو ويشتل.

تسهيلات:

قوله: قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيلًا:

د سبيل د وعدې پوره كول: نبى كريم دا ارشاد ځكه فرمائيلي چه دې نه وړاندي دَ قرآن په آيت كښي دَ زناكار سړى او زناكاري ښځي حدنه وو مشروع شوې هغه آيت دادي ﴿وَالّٰتِىْ يَأْتِيْنَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِّسَآئِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوْا عَلَيْهِنَّ اَرْبَعَةً مِّنْكُمْ ۚ فَاِنْ شَهِدُوْا فَاَمْسِكُوْهُنَّ فِى الْبُيُوْتِ حَتّٰى يَتَوَفّٰهُنَّ الْمَوْتُ اَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيْلًا﴾ سورة النساء: ۱۵.

ددې ايت نه پس چه كله دَ سورت نور آياتونه نازل شو او په هغې كښې دَ زناحد راغلو نونبى كريم اعلان اوكړوچه الله تعالى دَ لارې راويستلو كومه وعده كړې وه هغه ئې پوره كړه. اوس الله تعالى دَهغوى دَپاره لار مقرركړه چه دَ ناواده كړى سړى اوښځې دَپاره سل كوړې او دَ يو كال دَپاره دَ وطن ويستل دى اودَ واده كړى دَپاره سل كوړې اورجم دې.

قوله: وَالثَّيِّبُ بِالثَّيِّبِ جَلْدُ مِائَةٍ وَالرَّجْمُ:

د جمع بين الرجم والجلد حكم:

ددې حديث په آخرى جمله كښې داحكم وركړې شوې دې چه ناواده كړې زناكار اوزناكاره ښځې اول سل كوړې اووهئى اوبيائى رجم كړئى. ددې نه معلومه شوه چه كوړې وهل اوسنګساركول په يوانسان باندې يوحد كښې جمع كيدې شى.

يو كس ته د رجم او كوړو دواړو سزاګانو وركولو كښې مذاهب

① اهل ظواهر اوبعضې تابعينو ددې احاديثوپه ظاهر باندې عمل كړې دې او رجم سره ئى اول دَ كوړو سزا جائز ګرځولې ده.

② دَ جمهورفقهاؤ اوجمهورامت په نيز رجم سره دَ كوړو سزا نه شى وركولې.

حديث كښې تاويلونه:

جواب ① دَ دوى دَطرف نه دَ دې حديث يوجواب دادې چه دا حكم منسوخ شوې دې ځكه چه نبى كريم روستو رجم سره كوړې نه دى جمع كړى دادې حكم دَ منسوخ كيدو دليل دې.

②دويم جواب: دادې كه څرې كوړې لګول رجم سره د يو حديث نه ثابت شي نو دا حكم به سياسةً وى حداً به نه وى

دريم جواب: دادې چه بعضې وخت نبي ﷺ كړيم يو سړې په يو جرم كښې په كوړووهلې مګر روستو معلومه شوې چه دا سړې محصن وو په دې وجه بيانبى كړيم رجم هم كړې دې په كوم سره چه رجم او جلد جمع شو. بهر حال په عهدنبوى كښې د هميشه معمول نه كيدو د وجې نه دا تاويلونه اوكړې شو

[۳۵۵۹] په تورات كښې د واده شوې زنا كار د پاره د رجم سزا

۳۵۵۹—[۵] ( )[۱] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، «أَنَّ الْيَهُودَ جَاءُوا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۲] فَذَكَرُوا لَهُ أَنَّ رَجُلًا مِنْهُمْ وَامْرَأَةً زَنَيَا، [۳] فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا تَجِدُونَ فِي التَّوْرَاةِ فِي شَأْنِ الرَّجْمِ؟ [۴] قَالُوا: نَفْضَحُهُمْ وَيُجْلَدُونَ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې (يوه ورځ) د يهوديانو يو جماعت د حضور ﷺ په خدمت كې حاضر شو، [۲] هغوئ د حضور ﷺ په مخكې دا بيان وكړې. چې د هغوئ په قوم كې يوې ښځې او يوه سړي (چې دواړه محصن، يعنى واده يې شوي وو) زنا وكړه، [۳] حضور ﷺ د هغوئ نه پوښتنه وكړه چې ستاسو په تورات كې د رجم په باره كې څه ويلي دي؟ [۴] يهوديانو اوويل چې مونږ زنا كونكي ذليل او رسوا كوو، او هغه په دورو وهو (د هغوئ دا خبره اوريدو سره)

حل اللغات: ①نَفْضَحُ: مونږ به رسوا كړو

[۱] قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلَامٍ: كَذَبْتُمْ إِنَّ فِيهَا الرَّجْمَ [۲] فَأْتُوا بِالتَّوْرَاةِ فَنَشَرُوهَا [۳] فَوَضَعَ أَحَدُهُمْ يَدَهُ عَلَى آيَةِ الرَّجْمِ [۴] فَقَرَأَ مَا قَبْلَهَا، وَمَا بَعْدَهَا، [۵] فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلَامٍ: ارْفَعْ يَدَكَ. فَرَفَعَ فَإِذَا فِيهَا آيَةُ [۶] فَقَالُوا: صَدَقَ يَا مُحَمَّدُ، فَإِنَّ فِيهَا آيَةَ الرَّجْمِ، [۷] فَأَمَرَ بِهِمَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَرُجِمَا.

ترجمه: [۱] حضرت عبدالله ابن سلام رضي الله عنه اوويل چې تاسو خلق دروغ وايئ، په تورات كې هم د رجم حكم موجود دى، [۲] تورات راوړي (زه تاسو ته د رجم حكم ښايم) كوم وخت چې تورات راوړل شو، او هغه كولاؤ كړل شو، [۳] نو په يهوديانو كې يو سړى په هغه ځاى لاس كيښودلو، چرته چې د رجم په باره كې آيت وو (يعني هغه په خپلو لاسونو سره د رجم آيت د پټولو كوشش وكړي) [۴] او د هغه مخكې او وروستنه آياتونو وئيل يې شروع كړل [۵] (د دې ليدو سره) حضرت عبد الله ابن سلام رضي الله عنه ورته اوويل چې خپل لاس لرې كړه، هغه

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب الحدود/باب أحكام أهل الذمّة وإحصانهم. إذا زنوا ورفعوا إلى الإمام (رقم-۶۸۴۱) ومسلم في كتاب الحدود/باب رجم اليهود أهل الذمّة في الزنى (رقم-۲۶ - (۱۶۹۹) و ابو داود في كتاب الحدود/باب في رجم اليهوديين (رقم-۴۴۴۶) كتاب الحدود/باب ما جاء في الرّجم (رقم-۱) واحمد في المسند:۵/۲

خپل لاس لرې کړي، بيا تولو وليدل، چې هلته هغه آيت ليکل شوى وو، چې په هغه کې د رجم حکم وو. ⑥ يهوديانو اوويل چې اې محمد ﷺ! عبدالله ابن سلام رينښتيا وايي. په دې کې د رجم آيت دى. ⑦ نو حضور ﷺ د هغه دواړو د زاني او زانيه د سنګسارولو حکم وکړي. او هغه دواړه سنګسار کړل شو

حل اللغات: ⑥فَتَنَشُرُو: کهلاؤ ئې کړو. پرانې نستلو.

> ① وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: ارْفَعْ يَدَكَ. فَرَفَعَ فَإِذَا فِيهَا آيَةُ الرَّجْمِ تَلُوحُ، ② فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ إِنَّ فِيهَا آيَةَ الرَّجْمِ، ③ وَلَكِنَّا نَتَكَاتَمُهُ بَيْنَنَا، ④ فَأَمَرَ بِهِمَا، فَرُجِمَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① په يو روايت کې داسې دي چې حضرت عبدالله ابن سلام ﷺ هغه سړي ته (چې هغه د رجم آيت تر خپل لاس لاندې د پټولو کوشش کړي وو) اوويل چې خپل لاس لرې کړه، هغه چې خپل لاس لرې کړي، نو وليدل شو چې هلته د رجم آيت موجود وو. ② د هغه آيت پټونکي اوويل چې اې محمد ﷺ! په تورات کې د رجم آيت موجود دى. ③ خو مونږ په خپل منځ کې دا نه ښکاره کوو، ④ د دې نه وروسته حضور ﷺ د هغه دواړو د سنګسارولو حکم وکړي، او هغه سنګسار شو، (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ③تَلُوحُ: ښکاره کيدو. ④نَتَكَاتَمُهُ: مونږ دا پټولو، نه مو ښکاره کولو.

تسهيلات:

قوله: «أَنَّ الْيَهُودَ جَاءُوا:

په يهودو د رجم حکم جاري کولو دوه وجوهات: ① دَ احصان دَپاره اسلام شرط دې خو په دَ يهودو دَ رجم کولو حکم ځکه صادر کړې شو چه نبی کريم داحکم دَ تورات مطابق صادرکړې وو او په تورات کښې دَ رجم دَپاره احصان شرط نه وو.

② دغه وخته پورې دَ قرآن حکم نه وو راغلې نو په تورات باندې عمل اوکړې شو کله چه دَ قرآن حکم راغلو دَ تورات حکم منسوخ شو. لهذا اوس به په ذمي باندې دَ رجم حکم نه شي جاري کولې. په دې مسئله کښې دَشوافعو اوحنابله اختلاف مخکښې ليکلې شوې دې.

په ابوداؤد کښې په مذکوره حديث کښې تفصيل: ابوداؤدشريف کښې دَدې قسم حديث کتاب الحدود باب رجم اليهودين کښې راغلې دې په هغې کښې دومره اضافه ده چه کله نبی کريم ﷺ يهودوسره بيت المدارس يعنی دَهغوی په مدرسه کښې کيناستو نوهغوی دَ نبی کريم دَ اکرام دَپاره تکيه کيخوده نبی کريم تورات راؤغوښتلو چه کله تورات راوړلې شو نونبی کريم تکيه دَ لاندې نه اوچته کړه مخې ته ئې کيخوده او په هغې باندې تورات کيخودو اوتورات ئې په زمکه باندې کينخودو. دې نه تولو عربوته دا سبق ملاويږي چه هغوی په زمکه باندې قرآن کيخودوسره بې آدبی کوی اودَ قرآن احترام نه کوی.

د ابوداؤد د حديث الفاظ دادي. ((ثم قال ائتوني بالتوراة فاتي بها فنزع الوسادة من تحته ووضع التوراة عليها وفي رواية ووضع الوسادة تعظيماً لكتاب الله تعالى وقال آمنت بك وبمن انزلك))(ابوداؤد: ۲/۲۵۵).
سره ددي چه تورات منسوخ شوې كتاب وومګر د الله تعالى طرف ته د منسوب كيدو د وجې نه نبي كريم د هغې احترام اوكړو او په غيرمحروف تورات باندې د ايمان راوړلو اعلان اوكړو اوس كه يومسلمان د خپل عظيم كتاب قرآن پاك او د الله تعالى د عظيم كتاب احترام نه كوي نو هغه د دې د فوائدو اوبركتونو نه څنګه مالا مال كيدې شي؟ قالى الله المشتكى

قوله: فَوَضَعَ أَحَدُهُمْ يَدَهُ عَلَى آيَةِ الرَّجْمِ:

په تورات كښې د رجم حكم پټولو كوشش: دا د تورات يوعالم وو د كوم نوم چه ابن صوريا وو مګر د يهوديانو په رګ اوريشه كښې د الله تعالى په كتابوكښې د تحريف ماده وركلكه شوې وه په دې وجه په دغه ډك مجلس كښې هم د حق د پټولو اوپه ګوتو سره زور وركولو كوشش ئې كولو. د نن صبا مسلمانان حكمرانان د يهوديانودغه فريضه اداكوي اود قرآن احكام پټوي دغه وخت عبدالله بن سلام رضي الله عنه يهوديان رسوا كړل اونن صبا علماء حق دا فريضه اداكوي. يهوديانو اعتراف اوكړو چه په مونږ كښې كله اثر والا او صاحب اقتدار اومالدار طبقه د زنا ارتكاب كوي نومونږ د هغوى د پاره د تورات د رجم حكم نرم كړو اوهغه په كوړو سره او لعن طعن كښې بدلولو او په غريب باندې يودم پوره حكم جاري كوو. دغه شان په تورات كښې تحريف اوشو افسوس چه د نن صبا ملحد حكمرانان د الله تعالى د كتاب حكم په غريبانانو باندې هم نافذ كولوته نه پرېږدي

[۳۵۶۰] د زنا په اقرار سره د حد جاري كول

۳۵۶۰ - [۲] ( ) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ فَنَادَاهُ: [۲] يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي زَنَيْتُ. [۳] فَأَعْرَضَ عَنْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۴] فَتَنَحَّى لِشِقِّ وَجْهِهِ الَّذِي أَعْرَضَ قِبَلَهُ فَقَالَ: إِنِّي زَنَيْتُ، [۵] فَأَعْرَضَ عَنْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۶] فَلَمَّا شَهِدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ دَعَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې (يوه ورځ) نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته يو سړى راغلى، كله چې حضور صلى الله عليه وسلم په مسجد نبوي كې تشريف فرماوو. هغه سړي آواز وكړې. [۲] چې يا رسول الله! صلى الله عليه وسلم زما نه زنا شويده. [۳] حضور صلى الله عليه وسلم (د دې اوريدو سره) د هغه نه خپل مخ واړولى. [۴] هغه سړي بيا هغه طرف ته د حضور صلى الله عليه وسلم مخ مبارك ته راتلو سره ودريدلو. كوم جانب ته چې حضور صلى الله عليه وسلم مخ ګرځولى وو. او هغه اوويل چې زما نه زنا شويده. [۵]

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب الطّلاق/باب الطّلاق في الإغلاق والكره. والسّكران والمجنون وأمرهما. والغلط والنّسيان في الطّلاق والشّرك وغيره (رقم-۵۲۷۱) ومسلم في كتاب الحدود/باب من اعترف على نفسه بالزّنى (رقم-۱۶ - (۱۶۹۱)

حضور ﷺ بيا خپل مخ د هغه طرف نه وګرځولی،[٦] ددې پورې چې دغه شان هغه څلور خله د خپل جرم اقرار وکړي، نو حضور ﷺ هغه ځان ته راوغوښتلی،

حل اللغات: ①فَتَنَحَّى: يو طرف هت شو راديخوا شو، راتاؤ شو. ②لِشِقِّ: طرف، ③أَعْرَضَ: چه اړولې ئې وو، ④قِبَلَهُ:هغه طرف ته.

[١]فَقَالَ: أَبِكَ جُنُونٌ؟قَالَ: لَا.[٢]فَقَالَ: أُحْصِنْتَ؟قَالَ: نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ.[٣]قَالَ: اذْهَبُوا بِهِ فَارْجُمُوهُ.[٤]قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: فَأَخْبَرَنِي مَنْ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ يَقُولُ فَرَجَمْنَاهُ بِالْمَدِينَةِ[٥]فَلَمَّا أَذْلَقَتْهُ الْحِجَارَةُ هَرَبَ حَتَّى أَدْرَكْنَاهُ بِالْحَرَّةِ[٦]فَرَجَمْنَاهُ حَتَّى مَاتَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[١] او پوښتنه یې ورنه وکړه چې ته لیونی شوی یې؟ هغه اوویل چې نا.[٢] بیا حضور ﷺ پوښتنه ورنه وکړه چې آیا ته محصن یې یعنی واده والا یې؟ هغه اوویل چې هو، یا رسول الله ﷺ[٣] د دې نه روسته، حضور ﷺ صحابه ؤ ﷡ ته وفرمایل چې دا سړی بوځئ او سنګسار یې کړئ،[٤] د دې حدیث د یو راوي ابن شهاب بیان دی، کوم سړي چې دا حدیث د حضرت جابر ﷜ ابن عبد الله نه اوریدلی وو، هغه ماته وښودل (حضرت جابر ﷜ اوویل چې) مونږ د حضور ﷺ د دې حکم نه وروسته هغه سړی په مدینه کې سنګسار کړې[٥] (مونږ چې په کاڼو ویشتل شروع کړل، او) هغه ته کاڼی لګیدل شروع شو، نو هغه وتښتیدلی، ددې پورې چې مونږ هغه په حَرّه کې ونیولی (د مدینې هغه مضافاتي علاقه، چې د تورو کاڼو والا وه، حره به یې ورته ویل)[٦] او بیا هغه سنګسار شو، ددې پورې چې مړ شو، (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ⑤جُنُونٌ: لیونتوب. ⑥أُحْصِنْتَ؟: آیا تا واده کړې دې؟ ⑦أَذْلَقَتْ: ویشتل، کاڼړي لګیدل. ⑧هَرَبَ: اوتختیدلو، ⑨أَدْرَكْنَا: مونږ بیا موندلو. ⑩الْحَرَّةِ: د یو ځائې نوم دې

[١]وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ عَنْ جَابِرٍ بَعْدَ قَوْلِهِ قَالَ: نَعَمْ[٢]فَأَمَرَ بِهِ، فَرُجِمَ بِالْمُصَلَّى،[٣]فَلَمَّا أَذْلَقَتْهُ الْحِجَارَةُ فَرَّ فَأُدْرِكَ،[٤]فَرُجِمَ حَتَّى مَاتَ،[٥]فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرًا وَصَلَّى عَلَيْهِ».

ترجمه:[١] او د امام بخاري ﷫ په یو بل روایت کې چې حضرت دجابر ﷜ نه منقول دی، چې دحضور ﷺ په دې پوښتني چې آیا ته محصن یې؟ د هغه سړي د جواب چې هو، نه وروسته دا الفاظ دي، چې[٢] د دې نه وروسته حضور ﷺ د هغه سړي د سنګسارولو حکم ورکړي، نو هغه په عیدګاه کې سنګسار کړل شو،[٣] هر کله چې په کاڼو لګیدل یې شروع شو، نو هغه وتښتیدلی، خو بیا ونیول شو،[٤] او سنګسار شو، ددې پورې چې مړ شو،[٥] د هغه د مرګ نه وروسته حضور ﷺ د هغه تعریف وتوصیف بیان کړي، او په هغه یې دجنازې مونځ وکړي یاد وصلی علیه مطلب دادی چې دهغه د پاره یې دعا وکړه.

حل اللغات: ①الْمُصَلَّى:د مونځ ځائې، (عیدګاه مراد ده).

تسهیلات:

قوله: أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ:

د احنافو د مذهب دلیل: په دې جمله سره دَ احناف او حنابله مسلك په واضحه توګه باندې ثابتیږی چه څلور ځل اقرار دَ زنادَ ثبوت دَپاره ضروری ګنړی. شوافعو او مالکیه یو ځل اقرار کافی ګنړی.

قوله: أَبِكَ جُنُونٌ؟:

د حد ساقطولو کوشش کول: دَدې جملې نه معلومیږی چه قاضی اوحاکم له پوره تحقیق کول پکاردی اودا کوشش کول پکاردی چه اعتراف کونکې خپل بیان بدل کړی دې دَپاره چه حد ساقط شی په دې شرط چه په دې معامله کښې دَ شرعی قواعد پوره خیال اوساتلې شی دا تحقیق دَ اعتراف په صورت کښې دې. دَ ګواهانودَ ګواهئی په صورت کښې نه دې هلته په ګواهانوباندې دَ جرح مسئله ده.

قوله: فَلَمَّا أَذْلَقَتْهُ الْحِجَارَةُ:

د مرجوم تختیدل: اذلاق په تیره ځیزباندې څوك زخمی کولوسره کمزورې کولوته وائی مطلب داچه کله دَ کاڼړو ګذارونو هغه زخمی کولوسره کمزورې اوعاجزجوړکړی نو "هرب" هغه اوتختیدو.

مقر بالزنا ته د حد ساقطیدو موقعې ورکول: دلته مسئله داسې ده که چرې مجرم اقراری اوتختی نوهغه پسې شاته نه دی لګیدل پکار کیدې شی چه هغه دَ خپل اقرار نه رجوع کوی اودا رجوع کول ترآخروخته پورې صحیح ده. هم دغه وجه ده چه شریعت په قصاص کښې توره مقررکړه ځکه چه هلته دَ سزا شروع کیدو سره حکم سرته رسول ضروری دی نودَ څه مهلت ورکولوفائده نشته دې.

لیکن دلته چونکه دَ زنا اقرار دې نوکوم وخت هم داسړې دَ زنانه انکارکولې شی اوپه دغه انکارسره به حد ساقط شی. هم دَدې حکمت دَ وجې نه شریعت دلته دَ سنګسار کولو حکم ورکړې دې دَپاره چه ترآخروخته پورې دَ بچ کیدو مهلت موجود وی. دلته که چرې دَ ګواهانودَ وجې نه جرم ثابت شوې وی نوبیا دَ انکار هیڅ فائده نشته دې. هلته دَ ګواهانو په رجوع سره حد ساقط کیدې شی. په دې حدیث کښې دَ مرجوم دَ تیختې نه معلومه شوه چه په رجم کښې مرجوم دَ رجم کولودَپاره تړل ضروری نه دی اونه په څه کنده کښې ساتل ضروری دی. اوښځه به دَ پردې دَ حفاظت دَ وجې نه په کنده کښې اودرولو سره رجم کولې شی.

قوله: فَرُجِمَ بِالْمُصَلَّى:

په روایاتو کښې تعارض: نو اوس به دا اعتراض نه راځي چه بعضې روایاتو کښې بقيع غرقد سره د سنګسارکولو ذکر ملاویږی بعضې کښې د مصلی ذکر راغلې دې او بعضې کښې د حره تذکره ده کوم چه تعارض په نښه کوی

د تعارض جواب: بقیع غرقد سره جنازه ګاه وه نو دواړه هم یوځائی دی او د حره ذکر ځکه راغلې دې چه دا سړې د هغه ځائی پورې نختیدو سره وتلې وو نو هلته هم د رجم عمل شوې وو

د مصلی نه مراد: که چرې د مصلی نه عیدګاه مراد وی نو چه کله یوځائی ته د جمات او عیدګاه حکم ورکولو سره په هغې کښې مونځونه شروع شی نو بیا د هغې د تقدس لحاظ ساتل ضروری دی لهذا هلته رجم کول جائز نه دی دې د پاره چه په وینو باندې ککړنه شی په یو حدیث کښې رغلی دی «جنبوا مساجدکم صبیانکم ومجانینکم ورفع اصواتکم وشراکم و اقامة حدودکم» په دې وجه علامه نووی رحمه الله فرمائی دلته د مصلی نه مراد هغه ځائی دې چرته چه به د جنازه مونځ کیدلو دا عیدګاه نه وه او صرف د مونځ ځائی جمات یا عیدګاه نه شی ګرځولې او نه د هغې حیثیت د جمات او عیدګاه کیږی

قوله: وَصَلَّى عَلَيْهِ:

د لفظ صلی صیغې په ضبط کښې ۲ اقوال: ① صلی علیه د مجهول صیغه ده او د دا مطلب دې چه نبی کریم د سنګسار شوی سړی په جنازه کښې پخپله شرکت نه دې کړې البته صحابه کرامو د جنازې مونځ کړې وو

② دا د معروف صیغه ده او مطلب دا دې شی چه نبی کریم د سنګسارشوی سړی په جنازه کښې شریك شوې وو

راجح هم دا دی چه دا صیغه د معلوم ده او د جمهورو رائې هم دغه ده د مسلم شریف په څو روایتونو کښې دا صیغه د معروف او معلوم نقل ده

د مرجوم په جنازه کښې ۳ مذاهب:

اوس په دې کښې د فقهاؤ اختلاف دې چه د سنګسارشوی سړی جنازه به کولې شی که نه؟ ① نو د امام مالك رحمه الله په نیزد مرجوم سړی جنازه کول مکروه دی

② امام احمد رحمه الله فرمائی چه عام مسلمانان دې او کړی مګر د وخت بادشاه یا قاضی یا مشهور عالم فاضل او د کمال علماء دې شرکت نه کوی

③ د امام شافعی رحمه الله او امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزد هرمسلمان کلمه ویونکی جنازه به کولې شی که هغه مرجوم وی که فاسق وی او که د ځان قاتل وغیره وی د امام احمد رحمه الله یو قول هم دا سې دې

تطبيق بين الروايات: دَ احاديثو په كتوسره معلوميږي چه بعضې رواياتوكښې دَ نبي كريم نه دَ جنازې كولونفي معلوميږي اوبعضې رواياتونه معلوميږي چه نبي كريم جنازه كړې ده په دې كښې داسې تطبيق دې نبي كريم خوجنازه كړې ده ليكن په توګه دَ زجرئي تاخيرهم فرمائيلې دې دَ كوم نه چه نه كول معلوم شوې وو

[۲۵٦۱] بغيرثبوته د حد جاري كولو ممانعت

٢٥٦١—[٧] (١) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: [٢] «لَمَّا أَتَى مَاعِزُ بْنُ مَالِكٍ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ: [٣] لَعَلَّكَ قَبَّلْتَ، أَوْغَمَزْتَ، أَوْنَظَرْتَ، [٤] قَالَ: لَا يَارَسُولَ اللهِ قَالَ: أَنِكْتَهَا؟ - لَا يُكَنِّي - [٥] قَالَ: نَعَمْ فَعِنْدَ ذَلِكَ أَمَرَ بِرَجْمِهِ» رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت ابن عباس ﷺ وايي [٢] هر كله چې ما عز ابن مالك نبي كريم ﷺ ته (مسجد نبوي ته) راغلی، او هغه اوويل چې زما نه زنا شويده. حضور ﷺ هغه نه وفرمايل [٣] چې شايد تا (د اجنبيي نه) مچي (ښكل) واخستي وي. يا هغه دې په شهوت سره مسه كړي وي، يا دی ورته كتلي وي (يعني دا څيزونه د زنا باعث جوړيږي. تا په دې كې څه حركت كړي وي، او اوس هغه په زنا سره تعبير كوي) [٤] هغه عرض اوكړو چې نا. يا رسول الله ﷺ، حضور ﷺ ورته وفرمايل چې آيا تا جماع كړې ده. او (روای وايي چې) حضور ﷺ دا خبره په اشاري سره ونه پوښتله (بلكه په صفا لفظونو كې يې پوښتنه وكړه. چې آيا واقعي تا زنا كړيده؟) [٥] ماعز اوويل چې هو، ما جماع كړيده د دې (تحقيق او تفتيش) نه روسته، حضور ﷺ د ماعز د سنګسارولو حكم وفرمايلو، (بخاري)

حل اللغات: ① قَبَّلْتَ: تا ښكل كړې وی، ② غَمَزْتَ: تا په شهوت سره لاس وراوړې وی ③ نَظَرْتَ: تا كتلې وی ④ أَنِكْتَهَا؟: آيا تا جماع كړې ده. ناك ينيك عربي لغت كښې دَ جماع دَ پاره دَ ټولونه زيات واضح او ښكاره لفظ دې.

تسهيلات:

قوله: أَنِكْتَهَا؟ - لَا يُكَنِّي:

قاضي دپاره د عام فهم الفاظو استعمال: دې سره دا خبره معلومه شوه چه په عدالت كښې قاضي له پكاردی چه دَ كنائی الفاظو په ځائی واضح بامعنی او دَعاموخلقو پوهې والا الفاظو استعمالولو ماحول جوړكړی اومبهم او ذومعنی الفاظ دې نه استعمالوی او نه دې په اشارو سره كار چلوی دَ "لايكنی" معنی هم دغه ده چه نبي كريم دَ كنايه او اشاره نه كار نه دې اخستې.

---

(١) اخرجه البخاري فى كتاب الحدود/باب: هل يقول الإمام للمقر: لعلّك لمست أو غمزت (رقم-٦٨٢٤) و ابو داود فى كتاب الحدود/باب رجم ماعز بن مالك (رقم-٤٤٢٧)

[۲۵٦۲] دماعز رضی الله عنه په خپل ځان د زنا اقرار کول

۲۵۳–[۸] (۱) [۱] وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: «جَاءَ مَاعِزُ بْنُ مَالِكٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: [۲] يَا رَسُولَ اللّٰهِ طَهِّرْنِي [۳] فَقَالَ: وَيْحَكَ! ارْجِعْ، فَاسْتَغْفِرِ اللّٰهَ، وَتُبْ إِلَيْهِ، [۴] قَالَ: فَرَجَعَ غَيْرَ بَعِيدٍ، ثُمَّ جَاءَ، [۵] فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ طَهِّرْنِي. [٦] فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ ذٰلِكَ، [۷] حَتّٰى إِذَا كَانَتِ الرَّابِعَةُ،

ترجمه: [۱] او حضرت بريده ﷛ وايي چې (يوه ورځ) د نبي كريم ﷺ په خدمت كې ماعز ابن مالك حاضر شو، او عرض يې وكړي، [۲] چې يا رسول الله! ﷺ ما پاك كړه (يعنې زما نه چې كومه ګناه شويده، چې د هغې په حد جاري كولو سره زما د هغه ګناه د معافي سبب جوړ شي)، [۳] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې په تا افسوس دی، واپس لاړ شه (يعني د دې ځاى نه واپس لاړ شه، يا خپله خبره واپس واخله) او د الله ﷻ نه (د خپلې ژبې په ذريعه) استغفار وكړه، او (په زړه سره) توبه وكاږه، [۴] راوي وايي چې هغه لاړل او د لږ تلو سره بيا واپس راغلى، [۵] او هغه اوويل چې يا رسول الله! ﷺ ما پاك كړه. [٦] نبي كريم ﷺ ورته هغه الفاظ وفرمايل كوم چې يې مخكې فرمايلي وو، څلور ځله دغه شان وشو. [۷] او (هر كله چې په څلورم ځل ماعز اوويل چې يا رسول الله! ﷺ ما پاك كړه)

حل اللغات: ① طَهِّرْنِي: ما پاک کړه، شرعی حد راباندې قائم کړه. ② وَيْحَكَ: افسوس دې په تا. (دحيرانتيا دپاره استعماليږي).

[۱] قَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فِيمَ أُطَهِّرُكَ؟ [۲] قَالَ: مِنَ الزِّنَا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَبِهِ جُنُونٌ؟ [۳] فَأُخْبِرَ أَنَّهُ لَيْسَ بِمَجْنُونٍ [۴] فَقَالَ: أَشَرِبَ خَمْرًا؟ [۵] فَقَامَ رَجُلٌ، فَاسْتَنْكَهَهُ، فَلَمْ يَجِدْ مِنْهُ رِيحَ خَمْرٍ، [٦] فَقَالَ: أَزَنَيْتَ؟ قَالَ: نَعَمْ. [۷] فَأَمَرَ بِهِ، فَرُجِمَ، [۸] فَلَبِثُوا يَوْمَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً، ثُمَّ جَاءَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،

ترجمه: [۱] نو رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل چې زه تا د څه شي نه او په څه وجه پاك كړم؟ [۲] هغه اوويل چې (په حد جاري كولو سره) د زنا (دګناه) نه، حضور ﷺ (د هغه دا خبره اوريدو سره صحابه وُ ﷡ ته) وفرمايل چې آيا دى ليونى دى؟ [۳] (د صحابه وو ﷡ د طرف نه) حضور ﷺ ته وښودل شو چې دې ليونى نه دى، [۴] بيا حضور ﷺ پوښتنه وكړه چې آيا ده شراب څكلي دي؟ [۵] (د دې اوريدو سره) يو سړى ودريدلو، د هغه خوله يې بوى كړه (چې معلومه شي چې هغه شراب څكلي دي كه نه؟) ليكن د شرابو بوى يې پيدا نه كړي، [٦] حضور ﷺ بيا ماعز نه پوښتنه وكړه چې آيا (واقعي) تا زنا كړيده؟ هغه اوويل چې هو، [۷] د دې نه وروسته حضور ﷺ د هغه د سنګسارولو حكم وركړي، نو هغه

(۱) اخرجه مسلم فی كتاب الحدود/باب من اعترف علی نفسه بالزنی (رقم-۲۲ - (۱٦۹۵)) و ابو داود فی كتاب الحدود/باب المرأة التی أمر النبیّ صلّی الله علیه وسلّم برجمها من جهينة (رقم-۴۴۴۲) واحمد فی المسند: ۳۴۸/۵

سنګسار شو، [۸] دوی یا دري ورځي دغه شان تیري شوی (یعني په مجلسِ نبوي کې د ماعز د سنګسارۍ په باره کې تر دوو یا دریو ورځو څه ذکر ونه شو) بیا (یوه ورځ) رسول الله ﷺ (مجلس ته) تشریف راوړو.

حل اللغات: ⓶ فَاسْتَنْكَهَهُ: دهغه دخلې بدبوئي واخسته چه د شرابو بدبوئي خو تري نه راځي که په مستئ کښې داخبره کوی

[۱] فَقَالَ: اسْتَغْفِرُوا لِمَاعِزِ بْنِ مَالِكٍ لَقَدْ تَابَ تَوْبَةً لَوْ قُسِّمَتْ بَيْنَ أُمَّةٍ لَوَسِعَتْهُمْ [۲] ثُمَّ جَاءَتْهُ امْرَأَةٌ مِنْ غَامِدٍ مِنَ الْأَزْدِ [۳] فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ طَهِّرْنِي [۴] فَقَالَ: وَيْحَكِ ارْجِعِي، فَاسْتَغْفِرِي اللَّهَ وَتُوبِي إِلَيْهِ [۵] فَقَالَتْ: تُرِيدُ أَنْ تَرُدَّنِي كَمَا رَدَدْتَ مَاعِزَ بْنَ مَالِكٍ [۶] إِنَّهَا حُبْلَى مِنَ الزِّنَا، [۷] فَقَالَ: أَنْتِ؟ قَالَتْ: نَعَمْ. [۸] قَالَ لَهَا: حَتَّى تَضَعِي مَا فِي بَطْنِكِ.

ترجمه: [۱] او وي فرمایل چې تاسو خلق د ماعز دپاره دبخښني او دهغه د درجاتو د بلندۍ د پاره دعاء کوی، بلا شبه هغه داسې توبه وخکلي ده. که د هغه ثواب په پوره امت تقسیم شي، نو د ټولو د پاره به کافي شي، [۲] بیا د دې نه روسته (یوه ورځ) یوه ښځه چې د قبیلهٔ ازد د یو خاندان غامد نه وه، د حضور ﷺ په خدمت کې حاضره شوه. [۳] او عرض یي وکړي چې یا رسول الله! ﷺ ما پاکه کړه، [۴] حضور ﷺ ورته وفرمایل چې په تا افسوس دی، واپس ولاړه شه، او الله ﷻ ته توبه او استغفار وکړه. [۵] هغې ښځې عرض اوکړو چې آیا تاسو غواړی چې څنګه تاسو ما عزابن مالك (په اولني خل) واپس کړي وو. هغه شان ما هم واپس کړي، [۶] حالانکه زه هغه ښځه یم. چې د زنا په ذریعه حامله شوي یم (نو د دې اقرار نه وروسته زما د انکار اوس هیڅ سوال نه پیدا کیږي. څکه چې د حمل ظاهریدل زما د جرم د ټولو نه لوی ثبوت دی، بخلاف د ماعز چې هغه د پاره د انکار ګنجائش وو) [۷] حضور ﷺ ورته وفرمایل چې ته (یعني حضور ﷺ یو شان خپل تغافل ظاهرولی او د هغه د زنا د اقرار نه د رجوع کولو یوه بله موقع ورکولو د پاره ورته وفرمایل چې دا ته څه وایې؟ آیا ته د زنا په ذریعه حامله یې؟) هغې ښځې د دې باوجود په خپل اقرار اصرار وکړي. او هغی اوویل چې هو. [۸] نو حضور ﷺ ورته وفرمایل چې ښه ته د هغه وخته انتظار وکړه، د څو پورې چې ته د خپل ماشوم د ولادت نه فارغه شي. راوي وایي (د حضور ﷺ د دې ارشاد نه وروسته)

حل اللغات: ⓶ غَامِدٍ مِنَ الْأَزْدِ: غامد په یمن کښې د ازد قبیلې د خاندان نوم دې. ⓹ أَنْ تَرُدَّنِي: چه ته ما واپس کړې.

[۱] قَالَ: وَكَفَلَهَا رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ حَتَّى وَضَعَتْ، [۲] فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: قَدْ وَضَعَتِ الْغَامِدِيَّةُ، [۳] فَقَالَ: إِذًا لَا نَرْجُمُهَا وَنَدَعُ وَلَدَهَا صَغِيرًا لَيْسَ لَهُ مَنْ يُرْضِعُهُ، [۴] فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ، فَقَالَ: [۵] إِلَيَّ رَضَاعُهُ يَا نَبِيَّ اللَّهِ، قَالَ: فَرَجَمَهَا.

ترجمه: ١ يو انصاري د هغې ښځې د خبر ګيرۍ او کفالت د هغه وخته ذمه واخستله. د څو پورې چې هغه د ولادت نه فارغه شي. ٢ او بيا (څه موده وروسته) هغه سړی د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضريدو سره عرض وکړو، چې هغه غامديه ښځه د ولادت نه فارغه شويده. ٣ حضور ﷺ وفرمايل چې اوس لا مونږ هغه نه سنګساره کوو. او د هغې کم عمر والا وړوکی (په دې حالت کې) نه پريږدو، چې څوك يې ورکونکی يې نه وي (يعني که مونږ اوس هغه سنګساره کړله. نو د هغه ماشوم چې يې خوړونکی او ډير وړوکی دی. هلاك به شي. ځکه چې دهغه د مور نه وروسته د هغه خبر ګيري کونکی څوك نشته ځکه اوس د هغه سنګسارول مناسب نه دی) ٤ يو بل انصاری (د دې اوريدو سره) ودريدلو او عرض يې وکړې ٥ چې يا رسول الله! ﷺ د هغه ماشوم د پيئو ورکولو (او د هغه د خبر اخستلو) زه ذمه وار يم. راوي وايي چې د دې نه وروسته حضور ﷺ هغه ښځه سنګسار د کړله (يعني د هغې د سنګسارولو حکم يې ورکړې. او هغه سنګساره کړل شوه)

حل اللغات: ⑥ يُرْضِعُ: بچي ته پئ ورکوی.

١ وَفِي رِوَايَةٍ أَنَّهُ قَالَ لَهَا: ٢ اذْهَبِي حَتَّى تَلِدِي. ٣ فَلَمَّا وَلَدَتْ، قَالَ: اذْهَبِي فَأَرْضِعِيهِ حَتَّى تَفْطِمِيهِ. ٤ فَلَمَّا فَطَمَتْهُ، أَتَتْهُ بِالصَّبِيِّ فِي يَدِهِ كِسْرَةُ خُبْزٍ، ٥ فَقَالَتْ: هَذَا يَا نَبِيَّ اللهِ قَدْ فَطَمْتُهُ، ٦ وَقَدْ أَكَلَ الطَّعَامَ، فَدَفَعَ الصَّبِيَّ إِلَى رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، ٧ ثُمَّ أَمَرَ بِهَا، فَحُفِرَ لَهَا إِلَى صَدْرِهَا، ٨ وَأَمَرَ النَّاسَ، فَرَجَمُوهَا

ترجمه: ١ په يو بل روايت کې داسې دي چې حضور ﷺ هغې ښځې ته وفرمايل ٢ چې څه ولاړه شه. د څو پورې چې ته د ولادت نه فارغه نه شې (انتظار کوه) ٣ بيا چې هغه د ولادت (د ماشوم د پيدا کيدو) نه فارغه شوه. نو حضور ﷺ هغې ته وفرمايل چې څه خپل ماشوم ته پئ ورکوه. د دې پورې چې د تې نه يې پريکړې. ٤ بيا چې هغې وړوکی د تې نه پريکړې. نو د هغه ماشوم سره د حضور ﷺ په خدمت کې حاضره شوه، هغه وخت د ماشوم په لاس کې د روټۍ ټکړه وه. ٥ هغې عرض اوکړو چې يا رسول الله! ﷺ ما دا وړوکی د تې نه پريکړې دی. ٦ اوس ده روټۍ خوړل شروع کړه دي. حضور ﷺ هغه وړوکی خو يو مسلمان ته حواله کړې. ٧ او د هغې ښځې د پاره يې حکم وفرمايلو چې يوه کنده وکاږي. هر کله چې د هغې تر سينې کنده اوښکله شوه. ٨ نو حضور ﷺ د هغې د سنګسارولو حکم وکړې. او هغه سنګساره شوه

حل اللغات: ⑤ تَفْطِمِي: بچې د پئيو نه پريکوی ⑧ كِسْرَةُ: ټکړه. ⑨ خُبْز: روټۍ ⑩ حُفِرَ: کنده اوکنستې شوه

١ فَيُقْبِلُ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ بِحَجَرٍ فَرَمَى رَأْسَهَا، ٢ فَتَنَضَّحَ الدَّمُ عَلَى وَجْهِ خَالِدٍ، فَسَبَّهَا، ٣ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَهْلًا يَا خَالِدُ ٤ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ ٥ لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً لَوْ تَابَهَا صَاحِبُ مَكْسٍ لَغُفِرَ لَهُ. ٦ ثُمَّ أَمَرَ بِهَا، فَصَلَّى عَلَيْهَا، وَدُفِنَتْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ (د سنګسارولو په دوران کې چې) حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه په یو کاڼي هغه په سر وویشتله. ۲ د هغې د سر وینه د حضرت خالد رضی الله عنه په مخ وموښته. نو حضرت خالد رضی الله عنه هغې ته بد رد وئیل شروع کړه. ۳ حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل اې خالده! رضی الله عنه (د دې بخشش شوی دی) دې ته بد رد مه وایه. ۴ قسم دې په هغه ذات چې د هغه په لاس کې زما ساه ده. ۵ دې ښځې داسې توبه وخکلي ده، که داسې توبه یو (ناروا) ټیکس اخستونکی وکاږي، نو دهغه مغفرت او بخشش به هم وشي. ۶ د دې نه وروسته حضور صلی الله علیه وسلم د هغې د جنازې د مونځ کولو حکم وکړې. نو د هغې د جنازې مونځ وشو او هغه دفن کړل شوه. (مسلم)

حل اللغات: ① تَنَضَّحَ: اولګیده. ② فَسَبَّ: بد رَد ئې اووئیل. کنځل ئې اوکړلو ③ مَهْلًا: مه. داسې مه وایه. ④ صَاحِبُ-مَكْسٍ: ټیکس وصولونکې.

تسهیلات: قوله: طَهِّرْنِي:

د صحابۀ د الله تعالی نه ویره: ماد ګناه نه پاکه کړه. دې نه معلومیږی چه د صحابه کرامو مقام څومره اوچت وو چه د یوګناه د ارتکاب نه پس دومره بې آرام دې چه یو ساعت ورته آرام نه راځی اوپخپله په ځان باندې د حد لګولو درخواست کوی. دا فرق دې د عام امت او صحابه کرامو په مینځ کښې چه هلته په زرګونو کوششونه کولې شی په خپل ځان د سزا جاری کیدودَپاره اودلته په زرګونو محنتونوسره د ګناه پټولو او د سزانه د بچ کیدلو کوشش کیږی. هلته د تکمیل شریعت دَپاره د نمونې په توګه خپل ځان پیش کوی اودلته دَتبطیل شریعت دَپاره د تیختې لار اختیاره وی. د طهرنی د الفاظونه معلومیږی چه حدود مطهرات دی اوهم دغه مسلك د جمهور فقهاؤ دې. دَاحنافو په نیزحدود زاجرات دی اوچه کله توبه ورسره وی نوبیامطهرات دی تفصیل اول تیرشوې دې.

قوله: امْرَأَةٌ مِنْ غَامِدٍ:

دغامد په لفظ کښې د روایاتو اختلاف او تطبیق: غامد په یمن کښې د یوې قبیلې نوم دې هم په دې وجه دې ښځې ته غامدیة داهم وائی دَدې لویه قبیله ازد ده نودَدغه ښځې په نسبت دَدغه قبیلې وجه ازدیه هم صحیح دې او امرأة من جهینه الفاظ چه کوم ځائی راغلی دی هغه هم صحیح دی

قوله: فَتَنَضَّحَ الدَّمُ عَلَى وَجْهِ خَالِدٍ:

عفو او درګذر کول: یعنی په کاڼی ویشتلوسره د سرنه د فوارې په شان وینې توپ کړو اودَحضرت خالد رضی الله عنه په مخ باندې اولګیدله هغه بدرد اووئیل نو نبی کریم اوفرمائیل خالد داسې مه کوه.

[۲۵۶۲] د بدكاري وينځي سزا

۳۵۶۳ — [۹] ()[۱] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ② «إِذَا زَنَتْ أَمَةُ أَحَدِكُمْ فَتَبَيَّنَ زِنَاهَا ③ فَلْيَجْلِدْهَا الْحَدَّ ④ وَلَا يُثَرِّبْ عَلَيْهَا ⑤ ثُمَّ إِنْ زَنَتْ فَلْيَجْلِدْهَا الْحَدَّ وَلَا يُثَرِّبْ عَلَيْهَا ⑥ ثُمَّ إِنْ زَنَتِ الثَّالِثَةَ فَتَبَيَّنَ زِنَاهَا ⑦ فَلْيَبِعْهَا وَلَوْ بِحَبْلٍ مِنْ شَعَرٍ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل ② كه په تاسو كې د چا وينځه زنا وكړي، او د هغه زنا ښكاره شي (يعني د هغې زنا كاري ثابته شي) ③ نو په هغې دي حد جاري كړي، ④ او هغې ته دي پيغور نه وركوي. ⑤ كه هغه بيا زنا وكړي، نو په هغې دي حد جاري كړي، اوهغې ته دې پيغور نه وركوى ⑥ او كه هغه په دريم ځل زنا وكړي، او د هغې زنا ثابته شي، ⑦ نو هغه وينځه دي خرڅه كړي. اگر چې په ډير معمولي قيمت يې خرڅه كړي، (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① وَلَا يُثَرِّبْ: شرم، عار به نه وركوى. ② فَلْيَبِعْهَا: نو خرڅه دې كړى ③ حَبْل: رسئ

تسهيلات:

قوله: فَتَبَيَّنَ زِنَاهَا فَلْيَجْلِدْهَا:

د غلام او وينځې په سزا كښې نيم والې: تجليد دَ كوړو وهلو په معنى كښې دې. داخبره مخكښې بيان كړې شوې ده چه دَ غلام او وينځې دَپاره رجم نشته دې ځكه چه دوى محصن نه دى. دَ احصان يوشرط دادې چه سړې به آزاد وى اوغلام آزادنه وى په دې وجه دَ غلام اووينځې دَ زناپه حد كښې سنگسارول نشته دې. بل دَ كوړو حدهم دَ احرارو په نسبت نيم دې يعنى دَ سلوكوړو په ځائى پنځوس دى. دَ جمهور فقهاؤ اوسلف صالحين هم دغه مسلك دې كه غلام واده كړې وى اوكه ناواده كړې وى په غلام كښې دَبكر اوثيب فرق نشته دې.

د مولى په خپل غلام باندې د حد جارى كولو په حكم كښې ۲ مذاهب:

مولى په خپل غلام باندې پخپله دَ حد نافذ كولوحق لرى كه نه؟ په دې كښې دَ فقهاء كرامو اختلاف دې ① جمهور فرمائى مولى ته حق حاصل دې چه هغه په خپل غلام باندې حد نافذ كړى يعنى دَ زنا په حد كښې هغه پنځوس كوړې اووهى او دَ غلا په حد كښې اوقصاص او نور حدود كښې مولى ته اختيارنشته دې چه هغه دې په خپل غلام باندې حد نافذ كړى.

[1]) اخرجه البخارى فى كتاب البيوع/باب بيع المدبّر (رقم-۲۲۳۴) ومسلم فى كتاب الحدود/باب رجم اليهود أهل الذمّة فى الزّنى (رقم-۳۰ - (۱۷۰۳) و ابو داود فى كتاب الحدود/باب فى الأمة تزنى ولم تحصن (رقم-۴۴۷۰) والترمذى فى كتاب الحدود عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فى الرّجم على الثّيّب (رقم-۱۴۳۳) ومالک فى الموطا كتاب الحدود/باب جامع ما جاء فى حدّ الزّنا (رقم-۱۴) واحمد فى المسند: ۱۱۶/۴

② ائمه احناف فرمائی مولی په خپل غلام باندې هیڅ قسم حد نه شی جاری کولې دا کار دَ قاضی اوحاکم دې که هغه دَ زناحد وی اوکه نورو حدودوی

داول فریق دلائل: ① زیربحث د حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې د دې نه مولی ته دَ حد نافذ کولو اشاره ملاویږی

② دې سره متصل دَحضرت علی رضی الله عنه دَ روایت هم د دوی مستدل دې. دا حدیث مولی ته د حد جاری کولو په اختیار کښې صریح دلیل دې

د اول فریق د دلائلو جواب: په دې کښې دَ مرافعه الی الحاکم قید کیخودلې شوې دې چه یا دې دَ حاکم په ذریعه حد اولګوی اویادې دَحاکم نه اجازت اخستوسره حد قائم کړی. لکه چه په دې کښې اسناد مجازی دې

د دویم فریق دلائل: ① دَ صحابه کرامو اوتابعینوحضراتونه دا اصول په اکثریت سره نقل دی چه دَ حدودالله دَ اقامت حق صرف سلطان ته دې دَ سلطان نه علاوه بل هیچاته داحق حاصل نه دې. دَدې اصولو مطابق دَ احناف فتویٰ ده چه مولی ته په خپل غلام باندې دَ حدنافذ کولو حق نشته دې. اوکه حاکم اجازت ورکړی نوبیامولی داحدپه خپل غلام باندې نافذ کولې شی.

② دَ حضرت ابن مسعود رضی الله عنه او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دې. «ان النبی ﷺ قال: اربع الی الولاة ① الحدود ② والصدقات ③ والجمعات ④ والفیئ» یعنی دَ حدودنفاذ صدقات او جمعات قیام او تقسیم دَ غنائم معامله حکام ته حواله ده.

قوله: وَلَا يُثَرِّبُ عَلَيْهَا:

د مذکوره جملې دوه مطلبه: ① یعنی په دې باندې لعن طعن اوملامتیامه کوئی بلکه هم دغه حد دَ تولو دَپاره کافی دې.

② دَدې جرم مرتکب په شروع کښې دَ حدپه ځائی به صرف ملامته کولې شو اوس ئی اوفرمائیل چه صرف ملامتیا کافی نه ده بلکه حد قائم کړئی.

[۳۵٦٤] په مریض د حد جاري کولو مسئله

۳۵۰۳-[۱۰] (¹) ① وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَقِيمُوا عَلَى أَرِقَّائِكُمُ الْحَدَّ ③ مَنْ أُحْصِنَ مِنْهُمْ وَمَنْ لَمْ يُحْصَنْ، ④ فَإِنَّ أَمَةً لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَنَتْ فَأَمَرَنِي أَنْ أَجْلِدَهَا، ⑤ فَإِذَا هِيَ حَدِيثُ عَهْدٍ بِنِفَاسٍ، ⑥ فَخَشِيتُ إِنْ أَنَا جَلَدْتُهَا أَنْ أَقْتُلَهَا ⑦ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: (أَحْسَنْتَ).

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الحدود/باب تأخیر الحدّ عن النّفساء (رقم-۳٤ - (۱۷۰۵) و ابو داود فی کتاب الحدود/باب فی الأمة تزنی ولم تحصن (رقم-٤٤٧٣) والترمذی فی کتاب الحدود عن رسول اللّٰه صلّی اللّٰه علیه وسلّم/باب ما جاء فی إقامة الحدّ علی الإماء (رقم-۱٤٤۱) واحمد فی المسند: ۱/٤٥٦

رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: [۱] او د حضرت علي ﷺ په باره کې منقول دی چې وي فرمايل [۲] اې خلقو، په خپلو غلامانو او وينځو حد جاري کوی (يعني که هغه زنا وکړي. نو پنځوس دوري يې ووهي) [۳] که هغه محصن يعني واده شوی وي، يا غير محصن. [۴] د رسول الله ﷺ يوې وينځې زنا وکړه، نو حضور ﷺ ماته حکم وکړي، چې په دي حد جاري کړه. [۵] خو هر کله چې ماته معلومه شوه. چې په اوس حال کې د هغې ولادت شوی دی. [٦] نو زما سره انديښنه شوه. که زه يې پنځوس دوري ووهم، نو مړه به شي. [۷] ما نبي کريم ﷺ ته د دي ذکر وکړي. نو حضور ﷺ وفرمايل چې تابښه وکړه (چې په دي حالت کې دي په هغې حد جاري نه کړي) مسلم

حل اللغات: ① أَقِيمُوا: قائم کړئ. جاري کړئ. ② أَرِقَّائِكُمْ: په غلامانو او وينځو. خپلو ③ أُحْصِنَ: چه واده ئې کړې وي. ④ حَدِيثُ عَهْدٍ: اوسنی حالت. موجوده وخت. ⑤

[۱] وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ: قَالَ [۲] (دَعْهَا حَتَّى يَنْقَطِعَ دَمُهَا ثُمَّ أَقِمْ عَلَيْهَا الْحَدَّ، [۳] وَأَقِيمُوا الْحُدُودَ عَلَى مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ).

ترجمه: [۱] او د ابوداود رحمه الله په يو روايت کې دا الفاظ دي چې هر کله حضرت علي ﷺ حضور ﷺ ته په دي باره کې ذکر وکړي، نو حضور ﷺ وفرمايل [۲] د څو پورې چې د هغه د نفاس وينه بنده نشي، د هغه وخته هغه پريږده، د هغه نه وروسته ورباندې حد جاري کړه. [۳] او په خپلو غلامانو او وينځو حد جاري کوي

تسهیلات:

قوله: فَإِذَا هِيَ حَدِيثُ عَهْدٍ بِنِفَاسٍ:

د بيمارۍ په حالت کښې د جلد او رجم حکم: يعني دَ نفاس په حالت کښې وه اودا حالت دَ بيمارئی دې په دې وجه ئی هغې ته کوړې اونه لګولې. صاحب فتح القدير ابن همام رحمه الله ليکلی دی که چرې سزا دَ کوړووی نو بيمار له به کوړې نه شی ورکولې ځکه چه په دې سره به هغه مړشی. دهغه دَ جوړيدوپورې به سزا مؤخرکولې شی اوکه چرې بيماری داسې وی چه دَهغې نه دَ هغه بچ کيدل مشکل وی لکه تی بی يا کينسر نوداسې مريض به په داسې ځانګه باندې وهلې شی په کوم کښې چه سل لختې وی داخيله شوه اوکه سزا دَ سنګسارکيدووی نوبيابه په هرحالت کښې سنګسارکولې شی. که هغه جوړې اوکه ناجوړه ځکه چه په رجم کښې خو ژوندې پاتې کيدل نشته. يادساتئی چه کوړې به نه په سخته ګرمئی کښې ورکولې شی اونه په سخته يخنئی کښې ځکه چه دَ مړکيدوخطره وی لهذا په معتدل موسم کښې کوړې ورکول پکاردی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۵٦۵] د زنا د اقرار نه پس د انکار حکم

۳۵٦۵-[۱۱] ()[۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «جَاءَ مَاعِزٌ الْأَسْلَمِيُّ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: [۳] إِنَّهُ قَدْ زَنَى، فَأَعْرَضَ عَنْهُ، [۴] ثُمَّ جَاءَ مِنْ شِقِّهِ الْآخَرِ، فَقَالَ: [۵] إِنَّهُ قَدْ زَنَى. فَأَعْرَضَ عَنْهُ، [٦] ثُمَّ جَاءَ مِنْ شِقِّهِ الْآخَرِ، فَقَالَ: [۷] يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّهُ قَدْ زَنَى. [۸] فَأَمَرَ فِي الرَّابِعَةِ، فَأُخْرِجَ إِلَى الْحَرَّةِ [۹] فَرُجِمَ بِالْحِجَارَةِ،

ترجمه: [۱] حضرت ابوهريره ﷺ وايي [۲] چې ماعز اسلمي ﷺ د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضريدو سره اوويل [۳] چې هغه (يعني ما) زنا کړي ده. (د دې اوريدو سره) حضور ﷺ مخ ورنه واړولی. [۴] هغه د دويم جانب نه (تاويدو سره يعنی مجلس بدلولو سره) بيا د حضور ﷺ مخې ته راغلی. اوهغه اوويل [۵] چې هغه زنا کړي ده. حضور ﷺ بيا د هغه نه مخ واړولی. [٦] او هغه بيا د دويم جانب نه (تاويدو سره) د حضور ﷺ مخې ته راغلی. او هغه اوويل [۷] چې يا رسول الله! ﷺ هغه زنا کړي ده. [۸] آخر په څلورم ځل حضور ﷺ د هغه د سنګسارولو حکم ورکړي، نو هغه حره ته راوستل شو (چې د مدينې تورو کاڼو والا مضافاتي علاقه ده) [۹] او هغه يې په کاڼو وويشتلی.

حل اللغات: ① شِقّ: اړخ، طرف. ② الْحَرَّةِ: مدينې سره نزدې د يو ځائې نوم

[۱] فَلَمَّا وَجَدَ مَسَّ الْحِجَارَةِ فَرَّ يَشْتَدُّ، [۲] حَتَّى مَرَّ بِرَجُلٍ مَعَهُ لَحْيُ جَمَلٍ فَضَرَبَهُ بِهِ، [۳] وَضَرَبَهُ النَّاسُ حَتَّى مَاتَ. [۴] فَذَكَرُوا ذٰلِكَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ فَرَّ حِينَ وَجَدَ مَسَّ الْحِجَارَةِ وَمَسَّ الْمَوْتِ، [۵] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (هَلَّا تَرَكْتُمُوهُ») . [٦] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، [۷] وَفِي رِوَايَةٍ: (هَلَّا تَرَكْتُمُوهُ [۸] لَعَلَّهُ أَنْ يَتُوبَ فَيَتُوبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ).

ترجمه: [۱] د هغه په بدن چې کاڼي ولګيدلو ، نو وتښتيدلی. [۲] ددې پورې چې د يو سړي سره تير شو. چې د هغه په لاس کې د اوښ د ژامې هډوکي وو. هغه سړي په هغه هډوکي سره وويشتلی. [۳] او نورو خلقو هم (په نورو څيزونو سره) وويشتلی. ددې پورې چې هغه مړ شو . [۴] نو صحابه وُ ﷺ چې حضور ﷺ ته دا ذکر وکړي چې هغه د کاڼو د ويشتلو سره او د مرګ سختي ليدو سره تښتيدلی وو. ليکن مونږ په هغه پسې شو . سنګسار مو کړي. [۵] نو حضور ﷺ ورته وفرمايل چې تاسو خلقو هغه ولې پرې نه ښوو؟ [٦] (ترمذي ابن ماجه) [۷] په يو روايت کې دا الفاظ دي چې حضور ﷺ (دا ذکر اوريدو سره) وفرمايل چې تاسو خلقو هغه ولې پرې نه ښودلی. [۸] ډير ممکنه وه چې هغه توبه وځکلي واى. او الله ﷻ يې توبه قبوله کړي وى

[1]) اخرجه الترمذي في كتاب الحدود عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء في درء الحدّ عن المعترف إذا رجع (رقم-۱۴۲۸) و ابن ماجه في كتاب الحدود/باب الرّجم(رقم-۲۵۵۴) واحمد في المسند: ۴۵۰/۲

حل اللغات: ③مَسَّ الْحِجَارَةِ: دكانړو ويشتل ،لګيدل. ④فَرَّ:اوتختيده، ⑤يَشْتَدُّ:چې سخت شو،
⑥لَحْيُ جَمَلٍ:د اوښ د ژامې هډوکې.

تسهيلات: قوله: ثُمَّ جَاءَ مِنْ شِقِّهِ الْآخَرِ:

د احنافو د مذهب تائيد: دَ څلورو وارو طرفونونه راتلل ښکه وو دې دپاره چه په مجلس كښې بدلون راشي اوهم دغه دَ احنافو مسلك دې چه څلور اقراره په څلورو جدا مجالسو كښې ضروري دي.

قوله:(هَلَّا تَرَكْتُمُوهُ:

د حد جاري كولو په دوران كښې د اقرار كولو نه د انكار حكم: يعني چه كله ئې منډې وهلې نوتاسو تختيدو ته ولې پرينخودو. ممكن ده چه هغه دَ اقرار نه رجوع كول غوښتلې كه چرې توبه ئې كړې وې نو الله تعالى به ئې توبه قبوله كړې وه. فقهاؤ ليكلى دى چه دَ سنګسارولو په حد كښې كه اقراري مجرم دَ اقرار نه كوم وخت هم انكار اوكړو نوحدبه ساقط شي او په سنګسارولو كښې هم دغه فائده اوحكمت دې.

د مقربالزنا په تختيدو د رجم د سقوط په حكم كښې ۳ مذاهب:

① دَ امام مالك رحمه الله په نيزدَ هغه نه به تپوس كولې شي كه هغه دَ اقرار نه دَ انكار په بنياد سره تختيدلې دې نوحدبه ساقط شي اوكه دَتكليف دَ سختئى نه تختيدلې دې نوبيابه حدنه ساقط كيږي دا انكار نه دې.

② دَ شوافعو په نيزتركومې چه په ژبه سره ښه په صراحت سره انكار اونه كړي حدبه نه ساقط كيږي.

③ دَ احناف په نيزقولاً يا فعلاً كله چه دَ حد نه دَ تيختې لار اختياركړه نوپه دې سره به حد ساقط كيږي ليكن صرف په تختيدو سره حدنه ساقط كيږي. "وبالهرب لايسقط الحدقاله ملاعلي قاري"

مجموعي مستدل: ټولودَحضرت ماعز رضي الله عنه دَ روايت نه استدلال كړې دې. احناف وائى "هلاتركتموه" الفاظ نبى كريم دَ رحمت اوشفقت په بنيادفرمائيلى دى.

[۲۵٦٦]د ماعز رضي الله عنه د زنا اعتراف

۲۵٦٦–[۱۲]([1])①وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِمَاعِزِ بْنِ مَالِكٍ: ② (أَحَقٌّ مَا بَلَغَنِي عَنْكَ؟)③ قَالَ: وَمَا بَلَغَكَ عَنِّي؟④ قَالَ: (بَلَغَنِي أَنَّكَ قَدْ وَقَعْتَ عَلَى جَارِيَةِ آلِ فُلَانٍ) قَالَ: نَعَمْ،⑤ فَشَهِدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ، فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[1]) اخرجه مسلم فى كتاب الحدود/باب من اعترف على نفسه بالزنى رقم-۱۹ - (۱٦۹۳)

ترجمه: ۱ او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما راوي دی چې نبي کريم ﷺ ماعز رضي الله عنه ابن مالك ته وفرمايل ۲ چې ستا په باره کې ماته چې څه معلوم شوي دی، آيا هغه رښتيا دي؟ ۳ ماعز رضي الله عنه اوويل چې زما په باره کې تاسو ته څه معلوم شوی دی؟ ۴ حضور ﷺ وفرمايل چې تا د فلاني سړي د وينځې سره زنا کړي ده، ماعز رضي الله عنه عرض اوکړو چې هو (دا رښتيا دي) ۵ او هغه دا (په څلور مجلسونو کې) څلور ځله اقرار وکړي، نو رسول الله ﷺ د هغه د سنګسار کيدو حکم وکړي، او هغه سنګسار کړل شو. (مسلم)

حل اللغات: ① وَقَعْتَ: ته واقع شوې ئې، زنا دې کړې ده.

تسهيلات:

قوله: (أَحَقٌّ مَا بَلَغَنِي عَنْكَ؟):

د رواياتو په مينځ کښې تعارض: دَبعضې رواياتونه معلوميږي چه حضرت ماعز رضي الله عنه پخپله بيان ورکړې دې اوهم پخپله ئې نبی کريم سره خبرې اترې شروع کړې دی او په زيرنظرحديث کښې دی چه نبی کريم دَهغه نه اول تپوس کړې دې بيا هغه بيان ورکړې دې

د تعارض دفع: په دې رواياتوکښې هيڅ تعارض نشته دې. بلکه دَ زنا دَ ارتکاب نه پس حضرت ماعز رضي الله عنه دَهغه قوم هغه دَ فيصلې دَپاره رسول الله ﷺ له راوستلو اوبيائی دَ کلام شروع کولو سره نبی کريم ته هرڅه اوخودل. نبی کريم دَحضرت ماعز رضي الله عنه نه تپوس اوکړو چه دې خلقومالـه کوم شکايت راوړې دې آياستامتعلق هغه الزامات صحيح دی؟ يا داسې اووئيلې شی چه يوراوی دَ تفصيل نه کار اخستې دې اوچا په اختصار سره بيان کړې دې داتعارض نه دې.

قوله: أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ.

د زنا د ثبوت دپاره د اقرار عدد: ① څلورځل دَ اقرار التزام بنائی چه داحکم دَ زنادَ ثبوت دَپاره ضروری دې.

② شوافع يواقرار کافی ګنړی.

[۲۵٦۷] د نورو په عيبونو د پردې اچولو حکم

٢٥٦٧- [١٣] (١) ۱ وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ نُعَيْمٍ، عَنْ أَبِيهِ، «أَنَّ مَاعِزًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ۲ فَأَقَرَّ عِنْدَهُ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ، ۳ فَأَمَرَ بِرَجْمِهِ وَقَالَ لِهَزَّالٍ: ۴ (لَوْ سَتَرْتَهُ بِثَوْبِكَ كَانَ خَيْرًا لَكَ») ۵ قَالَ ابْنُ الْمُنْكَدِرِ: إِنَّ هَزَّالًا أَمَرَ مَاعِزًا أَنْ يَأْتِيَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُخْبِرَهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

(١) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الحدود/باب فى الستر على أهل الحدود (رقم-٤٣٧٨)

ترجمه: ① او یزید ابن نعیم خپل پلار نه روایت کوي چې ماعز رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو. ② او د حضور ﷺ په مخکې (په څلورو مجلسونو کې) څلور ځله (د خپلې زنا) اقرار وکړي. ③ حضور د هغه د سنګسارولو حکم وکړي (او هغه په کاڼو وویشتل شو) او حضور ﷺ هزال رضي الله عنه ته وفرمایل ④ که تا ماعز رضي الله عنه د خپلو کپړو سره پټ کړي وي (یعني د هغه په زناني پرده اچولې وي، او هغه دي نه وه ظاهره کړې) نو دا به ستا د پاره ښه وه. ⑤ ابن منکدر رحمه الله (چې تابعي او د دې حدیث یو راوي دی) وايي چې هزال رضي الله عنه ماعز رضي الله عنه ته ویلي وو چې د نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر شه. د خپلې واقعي نه یې خبر کړه. (ابو داود)

تسهیلات:

قوله. إِنَّ هَزَّالًا أَمَرَ مَاعِزًا:

په ماعز باندې د پردې اچولو ترغیب: دَ هزال یوه وینځه وه چه دَ هغې نوم فاطمه وو هزال هغه آزاده کړې وه هغې سره ماعز رضي الله عنه زناکړې وه. روستو هزال هغه ته اووئیل زه نبی کریم خبرکړه هغوی به ستاد َپاره استغفاراوکړی ته به معاف شې. حضرت ماعز رضي الله عنه دَهغه په وینابانډې راغلو او په هغه باندې حد جاری کړې شو. نبی کریم هزال ته هم دغه خبره اوفرمائیله چه تادا راز ولې ښکاره کړو؟ تاپه هغه باندې پرده ولې وانچوله که چرې تَ په هغه باندې پرده اچولې وه نو تاته به ډیر ثواب ملاؤ شوې وی.

په عادی ګناهګار باندې د پردې اچولو حکم: دا پرده اچول دَ یو داسې شریف سړی باره کښې ده کوم چه عادی مجرم نه وی مګر چه په ژوند کښې ترې یوځل جرم شوې وی خو که څوك عادی مجرم وی اودَ هغه جرم متعدی وی نوهغه پټول نه دی پکار بلکه دَهغې ښکاره کول ضروری دی دې دپاره چه عام مسلمانان دَهغه دَ فسادنه محفوظ پاتې شی

[۳۵۶۸] قاضی ته د مقدمې اوړلو څخه وړاندې د معاف کولو ترغیب

۳۵۶۸-[۱۴] (۱) ① وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: ② أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: («تَعَافَوُا الْحُدُودَ فِيمَا بَيْنَكُمْ ③ فَمَا بَلَغَنِي مِنْ حَدٍّ فَقَدْ وَجَبَ»). رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① عمرو ابن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه (عبد الله بن عمرو ابن العاص) نه روایت کوي ② چې رسول الله ﷺ وفرمایل تاسو په خپل منځ کې خپل حدود معاف او محوه کوی (د دې نه مخکې چې د هغه خبر ماته را ورسیږي) ③ خو که د جرم

(۱) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الحدود /باب العفو عن الحدود ما لم تبلغ السلطان (رقم-۴۳۷۶) والنسائی فی کتاب قطع السارق /باب ما یکون حرزا وما لا یکون (رقم-۴۸۸۵)

اطلاع ماته را ورسيږي (او هغه ثابت شي) نو بيا په هغه حد جاري كول واجب (يعني فرض) كيږي، (ابوداود نسايي)

حل اللغات: ① تَعَافَوْا: معافي كوئ، دفع كوئ ② الْحُدُودَ: جمع د حدد ه شرعي سزاګانې

تسهيلات:

قوله «تَعَافَوُا الْحُدُودَ فِيمَا بَيْنَكُمْ»:

قابلِ حد جرم عدالت ته د نه اوړلو ترغيب: داخطاب په حقيقت كښې عوامو ته دې چه كله تاسو په خپل مينځ كښې څوك دَ يوجرم مرتكب اووينئ نو خپل مينځ كښې رَفع دفع كولوسره فيصله كوئ مونږ پورې خبره مه رسوئ خكه چه حدكله محكمه عدالت ته اورسي نودَهغې دَ رفع دفع كولوچاته هم اختيارنشته دې. په دې حديث كښې دَمعاف كولوچه كوم حكم وركړې شوې دې دادَ وجوب په توګه نه دې بلكه دَاستحباب په توګه دې

[۲۵٦۹] د حد څخه علاوه د نورو جرمونو معاف كول جواز

٢٥٦٩ـ[١٥] ()① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ②(«أَقِيلُوا ذَوِي الْهَيْئَاتِ عَثَرَاتِهِمْ إِلَّا الْحُدُودَ»). رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ① او د بي بي عائشه ﷺ نه روايت دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل② د عزت لرونكى خطاوي معاف كوئ، علاوه دحدودونه(چې دهغه معاف كول جائزنه دي)ابوداود

حل اللغات: ① أَقِيلُوا: معاف كوئ، دفع كوئ. ② ذَوِي الْهَيْئَاتِ: شرافت والا. عزت دار. ① عَثَرَاتِ: د حدود الله نه علاوه نور ګناهونه

تسهيلات:

قوله: أَقِيلُوا ذَوِي الْهَيْئَاتِ:

د ذوى الهيئات نه مراد: اصحاب منزلت شريفان او سپين روبى نيكان خلق مراددى خكه چه شيطان دَانسان دښمن دې. كه دَ يوسپين روبى عزت دار سړى نه دَ حدودنه علاوه څه غلطى اوشى اونور خلق خبرې شروع كړى نودَدغه عاجزژوندون خو به ختم شى. په دې وجه داسې معزز خلقوته يوخل نيم مهلت وركول پكاردى دې دَپاره چه دَهغوى ژوندون بچ شى.

قوله: عَثَرَاتِهِمْ: د عثرات نه مراد: علماؤ ليكلى دى چه دلته عثرات نه مراد دَ حدودالله نه علاوه ګناه ده كه دَهغې تعلق حقوق الله سره وى اوكه حقوق العباد سره وى. دَدې حكم مخاطب هغه حاكمان دى په چاچه دَ شرعى سزاګانونافذ كول لازم دى. هغوى ته وئيلى شوى دى چه نيكان خلق او سين روبى خلق مه تنګوئى دَ حدودالله نه علاوه په هغوى

[1]) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الحدود/باب فى الحدّ يشفع فيه (رقم-٤٣٧٥) واحمد فى المسند: ١٨١/٦

باندې بل څه سزا مه جاري کوئی که چرې دَهغوی نه داسې گناه اوشی دَ کوم په وجه چه په هغوی باندې حدنافذ کول واجب وی نو دَهغې دَ معاف کولو اختیار هیچاته هم نشته دې

[۲۵۷۰] د حدودو په شبهاتو سره د ساقط کولو حکم

۳۵۷۰-[۱۲] ()[۱] وَعَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ: رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «ادْرَءُوا الْحُدُودَ عَنِ الْمُسْلِمِينَ مَا اسْتَطَعْتُمْ [۳] فَإِنْ كَانَ لَهُ مَخْرَجٌ فَخَلُّوا سَبِيلَهُ [۴] فَإِنَّ الْإِمَامَ أَنْ يُخْطِئَ فِي الْعَفْوِ [۵] خَيْرٌ مِنْ أَنْ يُخْطِئَ فِي الْعُقُوبَةِ». [۶] (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: قَدْ رُوِيَ عَنْهَا وَلَمْ يُرْفَعْ وَهُوَ أَصَحُّ).

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه ﷞ راويه ده چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د څو پورې چې کيدی شي مسلمانان د حد د سزا نه وساتي. [۳] که د مسلمان (ملزم) د پاره د ساتنی ذره هم څه موقع راوځي، نو د هغه لار پريږدي (يعني هغه بري کړي) [۴] ځکه چې د امام (حاکم او منصف) په معاف کولو کې خطاء کول. [۵] په سزا ورکولو کې د خطاء کولو نه ښه دي. [۶] امام ترمذي ﷫ دا روايت نقل کړي دی او ويلي يي دي چې دا حديث د بي بي عائشي ﷞ نه روايت شوی دی، او د دې سلسلۀ رواة (د راويانو سلسله) حضور ﷺ ته نه ده رسول شوي. او دا قول زيات صحيح دی [چې دا حديث موقوف دی. يعني د بي بي عائشي ﷞ خپل ارشاد دی، حديث نبوي نه دی، ځکه چې په کوم سلسله سند سره دا حديث موقوف ثابتيږي، هغه د دې سلسلۀ سند نه زيات صحيح او قوي دي. چې د هغه نه د دې حديث مرفوع کيدل معلوميږي]

حل اللغات: ① ادْرَءُوا: دفع کوئ. معاف کوئ، ② مَخْرَجٌ: لاره د وتلو. دمعاف کولو ③ فَخَلُّوا سَبِيلَهُ: نو خالی کړئ لار دده. پريږدئ دې. معاف ئې کړئ، ④ الْعُقُوبَةِ: سزا.

تسهيلات: قوله: «ادْرَءُوا الْحُدُودَ عَنِ الْمُسْلِمِينَ»:

د حد په اثبات کښې د تساهل حکم: دَدې خطاب تعلق هم قاضيانو او حکامو سره دې که چرې دا حديث دَدې نه دَمخکينی حديث تفصيل اوگرځولې شی نوبې ځايه به نه وی دلته په دې حديث کښې حکام ته په فيصلې اورولو کښې يو هدايت کړې شوې دې اوهغوی ته دا تعليم وکړې شوې دې چه دَخپلو جذباتو اوحساساتو رخ داسې ساتئی چه دَيو ملزم سره ستاسو ذاتی عناد پيدا نه شی اودَ ذاتی عناد په بنيادباندې نه څه فيصله وانورونې لکه چه اصلاح په ذهن کښې ساتلوسره قاضی اوحاکم له دَ طبيب اومعالج په شان شفيق او مهربان جوړيدو تعليم ورکړې شوې دې

لهذا ترکومې پورې چه ممکن کيدې شی قاضی له دَحدنافذ کولونه دغه ملزم بچ کول پکاردی اوکه کوم قسم هم څه شك گنجائش راورلې شی هغه راويستلوسره ملزم ته فائده

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الحدود عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی درء الحدود (رقم-۱۴۲۴)

رسول پکاردی په بنه سوچ او فکر سره دملزم نه سوالات کول چه دهغه په بیان کښې فرق راشي او د حد نه بچ شي ځکه چه په حد لګیدو سره به د یو شریف سړي داسې رسوائي اوشي چه هغه به د ژوند تیرولو قابل پاتې نه شي

[۲۵۷۱] په زنا بالجبر کښې په زاني باندې د حد جاري کول

۲۵۷۰-[۱۷] () وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ قَالَ: ۲ «اسْتُكْرِهَتِ امْرَأَةٌ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ۳ فَدَرَأَ عَنْهَا الْحَدَّ ۴ وَأَقَامَهُ عَلَى الَّذِي أَصَابَهَا ۵ وَلَمْ يَذْكُرْ أَنَّهُ جَعَلَ لَهَا مَهْرًا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ او د حضرت وائل ﷺ ابن حجر نه روایت دی ۲ د نبي کریم ﷺ په زمانه کې یوې ښځې سره زبردستي وشوه (یعني یو سړي د هغه سره په زبردستی زنا وکړه) ۳ هغه ښځه خو د حد نه خلاصه شوه، ۴ لیکن په زنا کونکي حد جاري شو، ۵ راوي دا ذکر ونه کړي چې حضور ﷺ هغي ښځي ته (د زنا کونکي نه) مهر هم ورکړي که نه. (ترمذي)

حل اللغات: ① اُسْتُكْرِهَتْ: په تا باندې زبردستی شوې ده. ② فَدَرَأَ: نو لرې ئې کړه. ③ أَقَامَهُ: جاری ئې کړو ④ أَصَابَهَا: چه هغې ته رسیدلې وو. چې زنا ئې ورسره کړې وه

تسهیلات:

د راوي مختصر تعارف:

حضرت وائل بن حجر: نوم وائل ابوهنیده کنیت د پلار نوم حجر د سلاطینو حضرموت نه وو پخپله وائل هم سردار وو. د مکې د فتح نه پس د اسلام قبلولو په نیت راغله حضور ﷺ د هغوی استقبال هم اوکړو د هغوی دپاره ئې څادر هم خور کړو په هغې باندې کینول او د هغوی د اولاد دپاره ئې د برکت دعا هم اوکړه؟(۳) کله چه دوی اسلام قبول کړو تلل نو نبي کریم ﷺ د هغوی ته په حضر موت کښې د زمکې یوه ټکړه ورکړه او د رخصت کولو په وخت کښې د لرې پورې هغوی سره لاړو. دکوفې د آبادیدونه پس په کوفه کښې اوسیدل. په جنګ صفین کښې حضرت علي ﷺ سره وو او د حضرموت قبیلې جهندا د هغوی په لاس کښې وه (۴)

مرویات: د دوی نه ۱۷۱ احادیث نقل دي بخاری کښې یو هم نشته او په مسلم کښې ۶ روایات دي.

قوله: وَلَمْ يَذْكُرْ وَلَمْ يَذْكُرْ أَنَّهُ جَعَلَ لَهَا مَهْرًا:

په زنا بالجبر کښې د عقر (مهر) لزوم: یعنی راوی دا اونه خودل چه نبی کریم د دغه ښځې دپاره مهر مقرر کړې وو شارحین لیکی چه د راوی دلته د مهر ذکر نه کول د مهر نه مقررکولو دلیل نه دې ځکه چه په نورو روایتونو کښې موجود دې چه نبی کریم مهر مقرر

() اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الحدود عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی المرأة إذا استکرهت علی الزنا (رقم-۱۴۵۳) و ابن ماجه فی کتاب الحدود/باب المستکره (رقم-۲۵۹۸) واحمد فی المسند: ۳۹۹/۶

کړې وو او په حرام جماع کښې چه کوم مهر راځي هغې ته "عقر" وائي اوداد مهرمثل په شان وی په زنابالجبر کښې به حد صرف په سړی باندې جاري کولې شي او ښځه به بې ګناه وی خو په دې شرط چه واقعي زنابالجبر وی دلته د لفظ مهرنه مراد عقر دې.

[۳۵۷۳] په زور د زنا کونکي سزا

۳۵۷۳—[۱۸] (١) [١] وَعَنْهُ «أَنَّ امْرَأَةً خَرَجَتْ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُرِيدُ الصَّلَاةَ، [٢] فَتَلَقَّاهَا رَجُلٌ، فَتَجَلَّلَهَا، [٣] فَقَضَى حَاجَتَهُ مِنْهَا، [٤] فَصَاحَتْ، وَانْطَلَقَ، [٥] وَمَرَّتْ عِصَابَةٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ، [٦] فَقَالَتْ: إِنَّ ذَلِكَ الرَّجُلَ فَعَلَ بِي كَذَا وَكَذَا، [٧] فَأَخَذُوا الرَّجُلَ، فَأَتَوْا بِهِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،

ترجمه: [١] او وائل ﷺ ابن حجر وايي چې د نبي کريم ﷺ په زمانه کې يوه ښځه د مونځ د پاره (د کور نه) ووتله، [٢] نو په لار کې هغې سره يو سړی ملاؤ وش چې په هغی يې کپړه واچوله [٣] او د هغی نه يې خپل حاجت پوره کړي (يعني د هغی سره يې په زبردستی سره زنا وکړه) [۴] هغی ښځي شور جوړ کړي، او هغه سړی (هغه هلته پريښودلو سره) لاړل. [۵] هر کله چې څه مهاجر صحابه ﷺ اخوا ته تير شول، [٦] نو هغي ښځي هغوئ ته وښودل چې دغه سړي زما سره داسې داسې کړي دي (يعني په ما کپړه اچولو سره زه يې بې بسه کړم. او بيا يې زما سره بدکاري وکړه) [٧] خلقو هغه سړی راونيولی او د رسول الله ﷺ په خدمت کې يې حاضر کړي (او ټوله قصه يې ورته بيان کړه)

حل اللغات: ① فَتَجَلَّلَهَا: څادر پرې واچوی، پټه ئې کړی. ② فَقَضَى حَاجَتَهُ: حاجت ورسره پوره کړی. زنا ورسره اوکړی. ③ فَصَاحَتْ: چغې ئې کړې، شور ئې جوړ کړو.

[١] فَقَالَ لَهَا: اذْهَبِي، فَقَدْ غَفَرَ اللَّهُ لَكِ. [٢] وَقَالَ لِلرَّجُلِ الَّذِي وَقَعَ عَلَيْهَا: ارْجُمُوهُ. [٣] وَقَالَ: لَقَدْ تَابَ تَوْبَةً لَوْ تَابَهَا أَهْلُ الْمَدِينَةِ لَقُبِلَ مِنْهُمْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] حضور ﷺ هغي ښځي ته د توبي وفرمايل چې څه، الله ﷻ بخښلی يې (ځکه چې په دې بدکارۍ کې نه يواځې دا چې ستا د خواهش او رضا دخل نه وو. بلکه ته مجبوره او بې بسه کړل شوی هم وې) [٢] او کوم سړی چې د هغی ښځي سره بدکاري کړې وه. د هغه په حق کې يې دا فيصله وکړه. چې هغه دې سنګسار کړل شي (يعني هغه د خپل جرم اقرار وکړي. او هغه محصن وو. ځکه حضور ﷺ خلقو ته حکم وکړي. چې هغه سنګسار کړي. نو هغه سنګسار شو) [٣] د سنګسارۍ نه وروسته حضور ﷺ وفرمايل دي سړي (په خپل ځان حد جاري کولو سره) داسې توبه وخکلې ده. که داسې توبه د مديني والاوو وخکلې وای نو د هغوئ توبه به قبوله شوې وه، (ترمذي، ابوداؤد)

---

[١]) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الحدود/باب في صاحب الحدّ يجيء فيقرّ (رقم-٤٣٧٩) والترمذي في كتاب الحدود عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء في المرأة إذا استكرهت على الزّنا (رقم-١٤٥٣) واحمد في المسند: ٣٩٩/٦

تسهیلات:

قوله: وَقَالَ لِلرَّجُلِ الَّذِي وَقَعَ عَلَيْهَا: ارْجُمُوهُ.

په حدیث باندې اشکال او دهغې جواب: دلته کښې يو اشکال دې چه د زنا جرم خوهغه وخته پورې نه ثابتیږي. ترڅو چه څلور ګواهان موجود نه وي. يا چه دهغه مجرم د طرف نه اقرار نه وي. حالانکه دلته کښې خوصرف دغه ښځې اوونیل چه دې سړی ماسره زنا کړې ده. نه خو ورسره په دې باندې څه ګواهان وو. او نه دهغه د طرف نه اقرار وو. نو بیا نبی علیه السلام څنګه حکم اوکړلو چه دې رجم کړئ. ددې په جواب کښې محدثینو فرمائیلی دی چه «فلما أمربه لیرجم» ددې نه د راوی مراد دا نه دې چه نبی علیه السلام په حقیقت کښې د رجم فیصله کړې ده. بلکه مراد دا ده. چه نزدې وه چه نبی علیه السلام د رجم فیصله کړې وه. او دنبی علیه السلام میلان دې طرف ته وو. چه ګواهان راوړی. یا اقرار اوکړی. نود رجم فیصله به اوکړې شی. تراوسه پورې درجم فیصله شوې نه وه. نو اشکال باقی پاتې نشو.

فائده: ددې حدیث نه دا معلومه شوه. چه د کومې ښځې سره په زبردستئ زنا اوشی. نو په هغې به څه سزا نه وی.

[۲۵۷۳] په يوه زنا د دوو حدونو جاری کول

٣٥٥٣-[١٩] ()[١] وَعَنْ جَابِرٍ «أَنَّ رَجُلًا زَنَى بِامْرَأَةٍ[٢] فَأَمَرَ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجُلِدَ الْحَدَّ[٣] ثُمَّ أُخْبِرَ أَنَّهُ مُحْصَنٌ[٤] فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [١] او حضرت جابر رضي الله عنه وايي چې يو سړي د يوي ښځي سره زنا وکړه. [٢] نو نبي کريم ﷺ هغه په دورو د وهلو حکم وکړي هغه ته په طور د حد دوري وکول شوی. [٣] د دې نه وروسته چې حضور ﷺ ته وښودل شو. چې هغه محصن (واده والای) دی. [٤] نو حضور ﷺ د هغه د سنګسارولو حکم وکړي، نو هغه سنګسار کړل شو. (ابوداود)

تسهیلات:

قوله: فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ:

په يو جرم کښې د دوؤ سزاګانو جاری کول: که حاکم اوقاضی غلطی اوکړی نودوه حدود يوځائی کيدې شی. مطلب داشوچه يوحد دَ بل په ځائی کيدې نه شی. د دې سړی باره کښې يوځل نبی کريم ته اوخودلې شو يا هغوی پخپله اندازه اولګوله چه دا ناواده کړې دې نودَ کوړو سزا ورته اوشوه. روستوچه کله معلومه شوه چه داخو محصن يعنی واده کړې دې نو هغه سنګسارکړې شو.

() اخرجه ابو داود في السنن كتاب الحدود/باب رجم ماعز بن مالك (رقم-٤٤٣٨)

[۲۵۷۴] په مریض مجرم د حد جاري کولو طریقه

۲۵۷۴ـــ[۲۰] (¹) ۱ وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ «أَنَّ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَجُلٍ ۲ كَانَ فِي الْحَيِّ مُخْدَجٍ سَقِيمٍ ۳ فَوَجَدَ عَلَى أَمَةٍ مِنْ إِمَائِهِمْ يَخْبُثُ بِهَا، ۴ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: خُذُوا لَهُ عِثْكَالًا فِيهِ مِائَةُ شِمْرَاخٍ ۵ فَاضْرِبُوهُ ضَرْبَةً». رَوَاهُ شَرْحُ السُّنَّةِ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ مَاجَهْ نَحْوُهُ.

ترجمه: ۱ او حضرت سعید بن سعد ابن عباده روایت کوي چې (یوه ورځ) حضرت سعد ابن عباده یو داسې سړی د حضور ﷺ په خدمت کې راوستلی، ۲ چې د خپلې محلې یو ناقص الخلقت (کمزور) او مریض سړی وو، ۳ هغه سړي د علاقی د وینځو نه د یوې وینځې سره په زنا کولو نیول شوی وو، ۴ نبي کریم ﷺ د هغه په باره کې دا حکم وکړي. چې د خرما یو داسې څانګه واخلی، چې په هغه کې سل وړوکی کوشنی څانګي وي. ۵ او بیا په هغه څانګو سره هغه سړی یو ځل ووهی، (شرح السنة) ابن ماجه رحمه الله هم دغه شان روایت نقل کړي دی.

حل اللغات: ① اَلْحَيّ: محله، ② مُخْدَجٍ: ناقص اندامونو والا، واړه واړه اندامونو والا ③ سَقِيمٍ: بیمار. ④ يَخْبُثُ: پلیتی کوی یعنی زنا کوی، ⑤ عِثْكَالًا: دَ عین کسره ده، دَ کهجوري هغه لوئی ښاخ چه پکې ډیرې وړې سانګې وی. ⑥ شِمْرَاخٍ: دَ شین کسره ده، وړې سانګې

تسهیلات: **قوله:** فَاضْرِبُوهُ ضَرْبَةً

په بیمار باندې د حد په جاری کولو کښې د آسانتیا دپاره حیله: یعنی په دغه لوئی ښاخ باندې هغه اووهئی په کوم کښې چه وړې څانګې وی. دغه شان به دغه سړی ته دَ سلو کوړو سزا اوشی او زیات به زخمی هم نه شی نو مړ کیږی به هم نه. دَدې نه معلومه شوه که حد زنا رجم وی نو په هرحالت کښې حد لګول پکاردی اوکه دَ زناحد کوړې دی نوبیا دَ بیمار دَ جوړیدو انتظارکول پکاردی اوکه دَ صحت امیدنه وی نوبیا دغه شان حیله کول پکاردی کومه چه دې حدیث کښې ذکر ده داځکه چه دَ کوړو په حدکښې څوك قتل کول جائزنه دی

[۲۵۷۵] د لواطت سزا

۲۵۷۵ـــ[۲۱] (²) ۱ وَعَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «مَنْ وَجَدْتُمُوهُ يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ ۳ فَاقْتُلُوا الْفَاعِلَ وَالْمَفْعُولَ بِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

[1]) اخرجه ابن ماجه فی السنن کتاب الحدود/باب الکبیر والمریض یجب علیه الحدّ (رقم-۲۵۷۴) واحمد فی المسند:۵/۲۲۲

[2]) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الحدود/باب فیمن عمل عمل قوم لوط (رقم-۴۴۶۲) والترمذی فی کتاب الحدود عن رسول اللّٰه صلّی اللّٰه علیه وسلّم/باب ما جاء فی حدّ اللّوطیّ (رقم-۱۴۵۶) و ابن ماجه فی کتاب الحدود/باب من عمل عمل قوم لوط (رقم-۲۵۶۱) واحمد فی المسند:۱/۳۰۰

ترجمه: [۱] او حضرت عکرمه د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل کوي. هغه اوويل چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] که تاسو یو سړی د قوم لوط په شان عمل کونکی پیداکړي، [۳] نو فاعل او مفعول دواړه قتل کړي، (ترمذي ابن ماجه)

حل اللغات: ① عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ: د قوم لوط والا عمل، لواطت کول، سړو سره بدفعلي کول. ② الْفَاعِلَ: کار کونکي (بدکاری کونکي سړي مراد دي) ③ الْمَفْعُولَ بِهِ: چاسره چه څه کارکولې شی. دلته تري هغه څوک مراد دي چې لواطت ورسره شوې وی

تسهيلات:

قوله: مَنْ وَجَدْتُمُوهُ يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ:

د لواطت ابتداء: دَحضرت لوط علیه السلام قوم په دغه غلیظ قباحت کښې اخته وو اودَ دي قباحت شروع اودَ دي رومبې تجربه بين الاقوامی بې غيرت ابليس هم په خپل بدن باندې کړې وه دې دپاره چه دَ حضرت آدم علیه السلام اولاد دوزخ ته لاړشی بعضې علماؤ ليکلی دی چه ابليس دَ يوسړی باغ ته دَ ښکلی خوان هلك په شکل کښې راغلو او ونې ته اوختلو او ميوه ئی راشوکوله او په زمکه باندې غورزول شروع کړه. دَ باغ مالك ونيل چه څومره ميوه خوړلې شې اوخوره يا که کورته اوړې يوسه تاته اجازت دې ليکن غورزولوسره ئی مه ضائع کوه. دې هلك يوه خبره وانوريده بيا دَ باغ مالك اووئيل چه آخر ستا مقصد څه دې؟ هغه ونيل زما مقصد دادې چه ماسره بدکاری اوکړې که چرې نه کوې نو زه به ميوه هم دغه شان راشوکوم. دې سړی اعوذبالله اووئيله او وئی وئيل داعمل هم څوك کولې شی ليکن ابليس چه کله دَ ميوو غورزول دَ حد نه زيات کړل نودې سړی هغه ښکته راؤ غوښتلو اوهغه سره ئی بدکاری اوکړه. کله چه دَ بدکارئی نه فارغ شو نوهغه له په دې کښې مزه راغله اولاړو نورو هلکانوسره ئی داکار شروع کړو او په مزه مزه دا عمل په قوم لوط کښې خورشو. ترديې چه ښځې ئی پريخودې. نوچه کله دَ دغه هلکانو ډيرې راغلې نودَهغې سرونه خرول ئی شروع کړه اوداعمل دومره عام شوچه په کوڅو، لاړو. بازارونواو ښکاره مجلسونو کښې شروع شو. حضرت لوط علیه السلام ډير منع کړل مگر هغوی اونه منل آخر دَ الله تعالى عذاب ټول هلاك کړل. يادلرئی چه لوط عجمی لفظ دې دَدې معنی په عجمی لغت کښې لټول پکاردی دادَعربی لغت په نظر مه گورئی. بعضې خلقو ته په دې غلط فهمی کښې ډير لوئی نقصان شوې

قوله: فَاقْتُلُوا الْفَاعِلَ وَالْمَفْعُولَ بِهِ:

د لوطی په سزا کښې دَ فقهاؤ رائې:

په مشکوة شريف کښې دَ لواطت دَ سزا باره کښې يوزيربحث حديث دې په کوم کښې چه دَدې عمل کونکی دَ قتل کولوحکم دې. وړاندې حديث نمبر (۳۵۸۳) راځی هلته ذکر دې چه

حضرت علي رضي الله عنه لواطت كونكى په اوركښې سوزولى وو او حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه په هغوى باندې ديوال راغورزولې وو بعضې روايتونوكښې دَ غرنه دَ راغورزولوذكر دې په سمندركښې دَ دوبولوذكر هم دې نودَ روايتونو په اختلاف سره دَ فقهاؤ رائې هم مختلف شوې

دَ امام شافعى او صاحبينو په نيزدَ لوطى سزا حددَ زنا په شان ده كه چرې واده كړې وى نو رجم دې او كه ناواده كړې دې نو هغه به په كوړو وهلې شى دَ فاعل اومفعول دواړو دغه حكم دې دَ امام مالك رحمه الله مشهورمسلك اودَ امام احمدبن حنبل رحمه الله مسلك اودَ امام شافعى رحمه الله يوقول دادې چه په عمل دَ لواطت كښې به فاعل او مفعول دواړه قتل كولې شى امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى چه ددې قبيح فعل سزا تعزيردې او په تعزيركښې دا ټولې سزاګانې وركولې شى البته ددې دَپاره څه حد مقررنه دې هرصاحب مسلك دَ يوروايت يا قياس نه استدلال كړې دې صاحبينواو امام شافعى رحمه الله دا حد په حد زنا باندې قياس كړې دې امام مالك رحمه الله اودهغوى موافقينو دَ زيربحث حديث نه استدلال كړې دې امام ابوحنيفه رحمه الله ټولې سزاګانې په ذهن كښې ساتلوسره فيصله كړې ده چه قاضى ته اختياردې چه هغه په دې ټولو سزاګانوكښې كومه مناسب ګنړى نافذ دې كړى امام ابوحنيفه رحمه الله لوطى سزا زياته عام كړې ده او زياته سخته فتوىٰ ئى وركړې ده لهذا په هغوى باندې دا اعتراض بهتان دې چه امام صاحب رحمه الله دَ لوطى حدنه منى هغوى خودا فرمائى چه صحابه كرامو كښې په دې باره كښې مختلف رائې وې مختلف سزاګانې وركړې شوى دى لهذا دا په يوحد كښې نه شى شميرلې ځكه چه حد متعين وى اودَ تعزير ميدان وسيع دې چه كوم قسم سزا وركول غواړې وركړه په افغانستان كښې طالبانو دَ ديوال راغوزولو سزا جارى كړې وه دَ زير نظر حديث الفاظ هم ښائى چه ددې عمل سزا تعزير دې مقررحد نه دې ځكه چه قتل ئى كړى دا الفاظ په حد كښې شامل نه دى ځكه چه په حد كښې يا كوړې دى يا سنګسارول دى ددې دَپاره رجم يا مأة جلدة الفاظ راغلى دى

[۲۵۷٦] څاروې سره دَ بد فعلى كولو سزا

۲۵۷٦–[۲۲] (١) [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] «مَنْ أَتَى بَهِيمَةً فَاقْتُلُوهُ وَاقْتُلُوهَا مَعَهُ. [٣] قِيلَ لِابْنِ عَبَّاسٍ: مَا شَأْنُ الْبَهِيمَةِ؟ [٤] قَالَ: مَا سَمِعْتُ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذَلِكَ شَيْئًا، [٥] وَلَكِنْ أُرَاهُ كَرِهَ أَنْ يُؤْكَلَ لَحْمُهَا أَوْ يُنْتَفَعَ بِهَا، وَقَدْ فُعِلَ بِهَا ذَلِكَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

(١) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الحدود/باب فيمن أتى بهيمة (رقم-٤٤٦٤) والترمذى فى كتاب الحدود عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فيمن يقع على البهيمة (رقم-١٤٥٥) و ابن ماجه فى كتاب الحدود/باب من أتى ذات محرم ومن أتى بهيمة (رقم-٢٥٦٤) واحمد فى المسند:١/٣٠٠

ترجمه: او ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړی چې د يو حيوان سره بد فعلي وکړي، هغه قتل کړي، او د هغه سره هغه حيوان هم قتل کړي. [۳] د ابن عباس رضي الله عنهما نه پوښتنه وشوه چې د حيوان په باره کې دا حکم ولي دی؟ (يعني حيوان خو عقل نه لري، او نه مکلف دی، نو د هغه د قتلولو حکم ولي دي؟) [۴] ابن عباس رضي الله عنهما وفرمايل چې ما د دې (د حکمت او مصلحت) په باره کې د رسول الله ﷺ نه خو څه نه دي اوريدلي. [۵] خو زما ګمان دی چې حضور ﷺ دا خبره ناخوښه کړه، چې د کوم حيوان سره چې بد فعلي شوي وي. د هغه غوښه دي وخوړل شي. يا د هغه (د پيئو. ويښتانو او افزائشِ نسل) نه دي فائده وآخستی شي (او هر کله چې د دې حيوان نه د هر قسم څه فائده اخستل مکروه دی. نو بيا د هغه قتلول ضروري دی. (ترمذي ابوداود ابن ماجه)

حل اللغات: ① بَهِيمَةٌ: څناور. حيوان. ② مَاشَأْنُ؟: څه ګناه او جرم دې؟

تسهيلات:

قوله: مَنْ أَتَى بَهِيمَةً فَاقْتُلُوهُ:

د اسحاق بن راهويه استدلال اودهغې جواب: يعني چاچه څناورسره بدفعلی اوکړه نوهغه څناور هم قتل کړئی او هغه سړې هم قتل کړئی. ټول فقهاء په دې متفق دی چه دَ څناورسره بدفعلی کولوسزا تعزير دې. صرف دَ اسحاق بن راهويه په نيزدغه سړې قتل کول دی فقهاؤ داحديث اخستې دې په کوم کښې چه دا الفاظ دی ((من اتى بهيمة فلا حدعليه)) (ترمذی) اسحاق بن راهويه دَزير بحث حديث "فاقتلوه" الفاظ نه استدلال کړې دې جمهور فرمائی چه دا خو په زجروتوبيخ تشديداو تغليظ باندې محمول دی

قوله: وَاقْتُلُوهَا مَعَهُ:

د مفعول څناور د قتلولو وجه: څناور اګرچې غيرمکلف دې خو په ده باندې د سزا جاری کولو په باره کښې حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی چه مادَ رسول الله ﷺ نه په دې باره کښې خو څه نه دی اوريدلی مګر زماخيال دې چه څناور به ځکه وژلې شی چه څوك دَدې دَ پيئو يا غوښې نه څه فائده اوچته نه کړی حالانکه دې سره دا خراب کارشوې دې دکوم اثر چه دَدې پيئو اوغوښې ته رسيدې شی دَ څناور دَ قتل باره کښې يوه توجيه داهم کړې شوې ده چه څناور په دې وجه هم قتل کړئی چه بدفعلی کونکی سړی ته خلق شرم نه ورکړځوی چه ګوره که نه ستا هغه ناوې خو هغه ده ګرځی په دې وجه دا مکروه ريکارډ ختمول بهتر دی.

علماء فرمائی چه يوې ښځې چرته څه څناور مثلاً لنګور يا سپی وغيره سره جماع اوکړه نودَدې حکم هم دَ څناور سره دَ بدفعلئی کونکی په شان دې.

[۲۵۷۷] د نبي عليه السلام په خپل امت د لواطت کولو ويره

۳۵۷۷-[۲۳] ( )[۱] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي [۳] عَمَلُ قَوْمِ لُوطٍ.» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د خپل امت په باره کې چې زما سره د کوم څيز د تولو نه زياته ويره ده، [۳] هغه د قوم لوط عمل (يعني اغلام) دي. (ترمذي ابن ماجه)

تسهيلات: قوله: إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي:

ددې مطلب دادې چې زما امت دې د بې صبرۍ او د نفساني خواهشاتو په وجه په دې بدفعل کښې اخته نشي يا ددې مطلب دادې چې دا کار ډير خراب او سخت قبيح دې او ددې حرمت ډير زيات شديد دې زه ددې خبرې نه ويريږم چې هسې نه زما امت په دې کښې اخته نشي او ددې په وجه دوئ عذاب کښې اخته نشي

[۲۵۷۸] په مقر بالزنا باندې د ښځې په حق کښې د حد قذف جاري کول

۳۵۷۸-[۲۴] ( )[۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ «أَنَّ رَجُلًا مِنْ بَنِي بَكْرِ بْنِ لَيْثٍ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۲] فَأَقَرَّ أَنَّهُ زَنَى بِامْرَأَةٍ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ [۳] فَجَلَدَهُ مِائَةً وَكَانَ بِكْرًا [۴] ثُمَّ سَأَلَهُ الْبَيِّنَةَ عَلَى الْمَرْأَةِ [۵] فَقَالَتْ: كَذَبَ وَاللّٰهِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ [۶] فَجُلِدَ حَدَّ الْفِرْيَةِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابن عباس ﷺ نه روايت دی چې (يوه ورځ) د بکر بن ليث د خاندان يو سړی د نبي کريم ﷺ په خدمت کې راغلی، [۲] او اقرار يي وکړي چې هغه (يعني ما) د يوي ښځي سره څلور ځله (يعني په څلورو مجلسونو کې) زنا کړي ده. [۳] نبي کريم ﷺ هغه سل دوري ووهلې. او هغه سړی يي غير محصن (يعني ناواده وو) [۴] بيا حضور ﷺ د هغه نه د هغه ښځي په زنا کاري ګواهان طلب کړل. [۵] ښځي عرض اوکړو چې قسم په خدای يا رسول الله ﷺ دا سړی دروغ وايي. [۶] د دې نه وروسته حضور ﷺ په هغه سړي د تهمت لګولو حد جاري کړي. (ابوداود)

حل اللغات: ① بِكْرًا: غيرمحصن. ناواده کړې. ② حَدَّ: شرعی سزا. ③ الْفِرْيَة: دروغ. تهمت . بهتان

تسهيلات: قوله: فَجُلِدَ حَدَّ الْفِرْيَةِ:

په يو سړي د متعدد د حدودو قائمولو حکم: يعنی د دروغو د تهمت حد ورته اولګولي شو دې سړي اول پخپله اقرار اوکړو چه ما فلانکې ښځې سره زنا کړې ده اوس دا معلومه نه

[۱]) اخرجه الترمذی فی کتاب الحدود عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی حدّ اللّوطیّ (رقم-۱٤۵۷) و ابن ماجه فی کتاب الدّيات/باب دية الأصابع (رقم-۲۶۵۳) واحمد فی المسند: ۳۸۲/۳

[۲]) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الحدود/باب إذا أقرّ الرّجل بالزّنا. ولم تقرّ المرأة (رقم-٤٤۶۷)

شوه چه دَدې نه دَهغه څه مقصد وو كيدې شي چه هغه دغه ښځه بدناموول غوښتل بهرحال دَ هغه په اقرار باندې هغه په كوړواووهلې شو خوچه كله دَ ښځې نه تپوس اوكړې شونوهغې اووئيل په الله قسم دې دروغ وائى اوس دَ بهتان په وجه داسړې په حدقذف كښې هم په كوړو اووهلې شو دې نه معلومه شوه چه يوسړى ته په دوو مختلف جرمونوكښې مختلف سزاګانې وركولې شي.

[٢٥٧٩] په عائشى رضي الله عنها دتهمت لګونكوسزا

٢٥٧٩—[٢٥] (١) ①وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: ②«لَمَّا نَزَلَ عُذْرِي ③قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ، فَذَكَرَ ذَلِكَ، ④فَلَمَّا نَزَلَ مِنَ الْمِنْبَرِ ⑤أَمَرَ بِالرَّجُلَيْنِ وَالْمَرْأَةِ فَضُرِبُوا حَدَّهُمْ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ①او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي ②كوم وخت چې زما برې كيدل نازل شو (يعني زما د پاكدامنې په ثبوت كې آياتونه نازل شو) ③نو نبي كريم ﷺ په منبر ودريدو سره خطبه ارشاد وفرمايله او د دې ذكر يې وكړې، ④او كوم وخت چې د منبر نه راكښته شو. ⑤نو دوو سړو او يوې ښځې ته يې د سزا وركولو فيصله وكړله، نو په هغوئ (د تهمت لګولو) حد جاري شو ، (ابوداود)

تسهيلات:

قوله: أَمَرَ بِالرَّجُلَيْنِ وَالْمَرْأَةِ:

حضرت عائشه رضي الله عنها د حديث پس منظر: په حضرت عائشه رضي الله عنها باندې ٥هجرى كښې دَ يوغزوه دوران كښې دَ شاته پاتې كيدو دَ وجې منافقينو بهتان لګولې وو يومياشت پورې صحابه كرام رضي الله عنهم په سخت اضطراب كښې وو منافقانوسره يوڅو مسلمانانو هم په دې تهمت كښې خپلې ژبې ګنده كړې وې. په دوى كښې يوه ښځه اودوه سړى وو په دوى كښې دَ يو نوم مسطح ووا ودَ دويم نوم حضرت حسان رضي الله عنه خودلې شوې دې اودَ ښځې نوم حمنه بنت جحش وو.

د حسان په حضرت عائشه باندې په تهمت لګولو كښې د شركت تحقيق: دَحضرت حسان رضي الله عنه باره كښې خوحضرت عائشه رضي الله عنها هم دا فرمائيلى چه هغه په دې بهتان كښې ككړكيدې نه شي ځكه چه هغه دا شعروئيلې دې

فـان ابى والده وعرضى لعرض محمدمنكم وقـاء

او پخپله حضرت حسان رضي الله عنه هم سخت انكاركړې دې چه دا دَ دښمنانو په ماباندې الزام دې. هغه دَحضرت عائشه رضي الله عنها په برأت اومنقبت اوخپله صفائى كښې دااشعار وئيلى دى.

(١) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الحدود/باب في حدّ القذف (رقم-٤٤٧٤) والترمذى فى كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب: ومن سورة النّور(رقم-٣١٨١) و ابن ماجه فى كتاب الحدود/باب حدّ القذف (رقم-٢٥٦٧)

حصان رزان ما تزن بريبة — وتصبح غرثى من لحوم الغوافل
حليلة خير الناس دينا و منصبا — نبي الهدى ذي المكرمات الفواضل
مهذبة قد طيب الله خيمها — وطهرها من كل سوء وباطل
فان كنتُ قد قلتُ ما قد زعمتموا — فلا رفعت سوطي إليّ انامل
فان الذي قد قيل ليس بلائط — ولكنه قول امرء بيّ ماحل
وكيف و ودي ما حييتُ و نصرتي — لال رسول الله زين المحافل

دَحضرت عائشه صديقه رضي الله عنها دَ يوې جملې نه پته لګی چه حضرت حسان رضي الله عنه په دې بهتان کښې زباني حصه اخستې وه خو په هغه باندې حد اونه لګيدو البته هغه په آخری عمر کښې دَ سزا په توګه نابينا شوې وو. بهرحال کله چه نبی کريم دَ عائشه بی بی رضي الله عنها دَ برأت آياتونه اولوستل او دَ منبرنه راکوز شو نو مخلص درې مسلمانانو ته حد قذف سزا اتيا اتيا کوړې ورکړې شوې او منافقانو سره څه غرض اونه ساتلې شو ځکه چه په نفاق او کفر سره ککړشوې سړې په حد قذف سره به څه پاکولې شی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۵۸۰] په زنا بالجبر کښې صرف په زانی د حد قائمول

۳۵۸۰-[۲۶] (۱) ۱ عَنْ نَافِعٍ، أَنَّ صَفِيَّةَ بِنْتَ أَبِي عُبَيْدٍ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ عَبْدًا مِنْ رَقِيقِ الْإِمَارَةِ وَقَعَ عَلَى وَلِيدَةٍ مِنَ الْخُمُسِ، فَاسْتَكْرَهَهَا حَتَّى اقْتَضَّهَا، ۲ فَجَلَدَهُ عُمَرُ، ۳ وَلَمْ يَجْلِدْهَا مِنْ أَجْلِ أَنَّهُ اسْتَكْرَهَهَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ د حضرت نافع رحمه الله نه روايت دی چې بي بي صفيه رحمها الله بنت ابو عبيد هغه ته بيان وکړي چې د امارت او خلافت (يعني د حضرت عمر رضي الله عنه د حکومت) يو غلام د يوې داسې وينځې سره زنا کول وغوښتل، چې د مال غنيمت د خمس نه وه، او هر کله چې وکړه، ددې پورې چې د هغې د بکارت پرده (يعني پيغلتوب) يې زائله کړه. ۲ حضرت عمر رضي الله عنه هغه پنځوس دورې ووهلې. ۳ او هغه وينځې يې په دورو ونه وهله (يعني هغه ته يې د بد کارۍ سزا ورنه کړه) ځکه چې هغه غلام د هغې سره په زبردستۍ سره جماع کړې وه. (بخاري)

حل اللغات: ①رَقِيق: غلام. ②الْإِمَارَة: حکومت. ③وَلِيدَة: وينځه. ④الْخُمُس: پنځمه حصه (دلته دمال غنيمت پنځمه حصه مراد ده). ⑤اقْتَضَّهَا: په زوره ئې ترې حاجت پوره کړو (يا دبکارت پرده ئې ورسره اوشلوله

(۱) اخرجه البخاری فی صحيحه رقم الحديث ۶۹۴۹

تسهيلات:

قوله: وَلَمْ يَجْلِدْهَا مِنْ أَجْلِ أَنَّهُ اسْتَكْرَهَهَا

نوټ: وينزې ته دحد نه ورکولو وجه دا وه چې هغې باندې زبردستي شوې وه اوچا سره چې په زور باندې زنا اوکړې شي هغې باندې حد نه جاري کې ی ددې تشريح وړاندې د حديث نمبر (۳۵۷۲) په شرح کښې تيره شوې ده

[۲۵۸۱] د ماعز رضی الله عنه د زنا د واقعې يوبل تفصيل

۲۵۸۱-[۲۷] (¹) ۱ وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ نُعَيْمِ بْنِ هَزَّالٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: ۲ «كَانَ مَاعِزُ بْنُ مَالِكٍ يَتِيمًا ۳ فِي حِجْرِ أَبِي ۴ فَأَصَابَ جَارِيَةً مِنَ الْحَيِّ، ۵ فَقَالَ لَهُ أَبِي: ائْتِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبِرْهُ بِمَا صَنَعْتَ لَعَلَّهُ يَسْتَغْفِرُ لَكَ ۶ وَإِنَّمَا يُرِيدُ بِذَلِكَ رَجَاءَ أَنْ يَكُونَ لَهُ مَخْرَجًا، ۷ فَأَتَاهُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي زَنَيْتُ فَأَقِمْ عَلَيَّ كِتَابَ اللَّهِ.

ترجمه: ۱ او يزيد ابن نعيم ابن هزّال د خپل پلار (نعيم ابن هزّال) نه نقل کوي چې هغه (يعني نعيم) اوويل ۲ چې ماعز ابن مالك يتيم وو، ۳ او زما د پلار (حضرت هزّال) په پالنه کې وو، ۴ هغه (د ځوانيدو سره) د قبيلې د يوې وينځې سره زنا وکړه، ۵ زما پلار چې په خبر شو ، نو هغه ته يې اوويل چې ته د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شه. او څه چې دې کړي دي، حضور ﷺ ته يې اووئيلو، شايد ستا د مغفرت دعا وکړي، ۶ او زما د پلار د دې ويلو د دې نه علاوه بل هيڅ مقصد نه وو، چې استغفار (د ګناه نه) د هغه د نجات سبب جوړ شي (يعني زما د پلار دا مقصد نه وو چې هغه دې حضور ﷺ ته ورشي. او حضور ﷺ دې د هغه د سنګساريدو حکم وکړي، ځکه چې بعضو خلقو ګڼلې ده) ۷ ماعز د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شو. او عرض يې وکړو چې يا رسول الله! ﷺ زما نه زنا شويده، تاسو په ما د کتاب الله حکم جاري کړي.

حل اللغات: ① حِجْر: غيږ، پرورش.

۱ فَأَعْرَضَ عَنْهُ، فَعَادَ، ۲ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي زَنَيْتُ فَأَقِمْ عَلَيَّ كِتَابَ اللَّهِ. ۳ حَتَّى قَالَهَا أَرْبَعَ مِرَارٍ، ۴ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّكَ قَدْ قُلْتَهَا أَرْبَعَ مَرَّاتٍ فَبِمَنْ ۵ قَالَ: بِفُلَانَةَ. ۶ قَالَ: هَلْ ضَاجَعْتَهَا؟ قَالَ: نَعَمْ. ۷ قَالَ: هَلْ بَاشَرْتَهَا؟ ۸ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: هَلْ جَامَعْتَهَا؟ ۹ قَالَ: نَعَمْ.

ترجمه: ۱ حضور ﷺ (د هغه دا خبره اوريدو سره) خپل مخ ځنې بل طرف ته وګرځولې، هغه ورته بيا د بل طرف نه ورته راغلې، ۲ او هغه اوويل چې يا رسول الله! ﷺ زما نه زنا شويده تاسو په ما د کتاب الله حکم جاري کړي، ۳ ددې پورې چې هغه دا خبره څلور

¹) اخرجه ابوداود في السنن رقم الحديث ۴۴۱۹

خله ،یعني په څلور مجلسونو کي، وکړه، [۲] رسول الله ﷺ ورته وفرمایل چې تا داخبره څلور خله وکړله ،یعني څلور خله اقرار کولو سره ستا د زنا جرم ثابت شوی دی، اوس دا وښایه، چې، تا د چا سره زنا کړیده؟ [۵] هغه ،نوم اخستو سره، اوویل چې د فلاني ښځې سره، [۶] حضور ﷺ پوښتنه ورنه وکړه چې آیا ته د هغه سره هم خواب ،یعني هم اغوش، شوی وې؟ هغه اوویل چې هو، [۷] حضور ﷺ پوښتنه ورنه وکړه چې آیا تا د هغه بدن خپل بدن سره را نغښتی وو، [۸] هغه اوویل چې هو، حضور ﷺ پوښتنه ورنه وکړه چې آیا تا د هغه سره جماع کړي وه؟ [۹] هغه اوویل چې هو.

حل اللغات: ⑦ هَلْ ضَاجَعْتَهَا: آیا ته ورسره ملاست وې؟ ⑧ هَلْ بَاشَرْتَهَا: آیا تا دهغې بدن خان ته راجخت کړي دي؟ ⑨ هَلْ جَامَعْتَهَا: آیا تا دهغې سره جماع کړي ده؟

[۱] قَالَ: فَأَمَرَ بِهِ أَنْ يُرْجَمَ، [۲] فَأُخْرِجَ بِهِ إِلَى الْحَرَّةِ فَلَمَّا رُجِمَ [۳] فَوَجَدَ مَسَّ الْحِجَارَةِ، فَجَزِعَ، فَخَرَجَ يَشْتَدُّ [۴] فَلَقِيَهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أُنَيْسٍ، وَقَدْ عَجَزَ أَصْحَابُهُ، فَنَزَعَ لَهُ بِوَظِيفِ بَعِيرٍ، فَرَمَاهُ بِهِ، فَقَتَلَهُ [۵] ثُمَّ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ [۶] فَقَالَ: هَلَّا تَرَكْتُمُوهُ لَعَلَّهُ أَنْ يَتُوبَ، [۷] فَيَتُوبَ اللَّهُ عَلَيْهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] راوي وايي چې د دې نه وروسته حضور ﷺ د هغه د سنګسارولو حکم وکړي. [۲] نو هغه حره ته بوتلل شو، هر کله چې هلته سنګسار شو، [۳] او کوم وخت چې هغه د کاڼو ګزارونه برداشت نه کړل، نو هغه بد حواسه شو ،یعني د کاڼو ګذارونه يي ونه زغملی شو، او چرته چې سنګسارول کیدی، د هغه ځایی نه وتښتیدلی. [۴] په لار کې عبدالله ابن انیس ورسره یو ځای شو، چې د هغوئ سره ملګری وو ،یا د ماعز سنګسار کونکی، ستړی شوی وو. نو عبدالله ﷺ د اوښ د پښې هډوکي پورته کړي او په هغه يې ماعز ﷺ وویشتلی. ددي پورې چې هغه يې ختم کړي، [۵] د دې نه وروسته عبدالله ﷺ د نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر شو. او ټوله واقعه يې ورته بیان کړه. [۶] حضور ﷺ ورته وفرمایل چې تاسو هغه ولي پرې نه ښودلی. شاید هغه د خپل اقرار نه رجوع کړي وه. [۷] او الله ﷻ د هغه توبه قبلولو سره د سنګسارۍ نه بغیر يې د هغه ګناه معاف کړي وی. ،ابوداود،

حل اللغات: ⑤ مَسَّ الْحِجَارَةِ: کاڼرې لګیدل. ⑥ فَجَزِعَ: نو بې صبره شو. برداشت نې اونکړې شو ⑦ يَشْتَدُّ: سخت شو ⑧ فَنَزَعَ: راویستلو. ⑨ بِوَظِيفِ: د پښې هډوکې. ⑩ بَعِيرٍ: اوښ ⑪ فَرَمَاهُ: نو هغه نې پرې ویشتلو.

تسهیلات:

نوټ: د دې حدیث تشریح د حدیث نمبر ،۳۵۶۵، په وضاحت کښې تیره شوې ده.

[۲۵۸۲] د زنا او د رشوت د کثرت قدرتی سزاګانی

۳۵۸۲-[۳۸] (۱) [۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [۲] «مَا مِنْ قَوْمٍ يَظْهَرُ فِيهِمُ الزِّنَا إِلَّا أُخِذُوا بِالسَّنَةِ، [۳] وَمَا مِنْ قَوْمٍ يَظْهَرُ فِيهِمُ الرِّشَا إِلَّا أُخِذُوا بِالرُّعْبِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمرو رضی الله عنه ابن العاص وايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل [۲] په کوم قوم کې چې د زنا کثرت شي، په هغوئ قحط سالي راخي. [۳] او په کوم قوم کې چې د رشوت وبال عام شي، نو په هغوئ رعب مسلط کول کيږي. (احمد)

حل اللغات: ① بِالسَّنَةِ: سين اونون دواړو باندې زبردې، اوچ کالی، قحط ② الرِّشَا: رسئ. رانښکل. دلته ترې رشوت مراد دې. ③ الرُّعْبِ: رُعب، دباؤ ويره.

تسهيلات:

قوله: إِلَّا أُخِذُوا بِالسَّنَةِ:

د زنا په وجه د قحط د مسلط کيدو حکمت: علامه طيبی رحمه الله فرمائی چه د زنا په وجه باندې د قحط مسلط کيدو حکمت کيدې شی چه دا وی چه زنا د نسل د تباهئی ذريعه ده اوقحط د فصل د تباهئی ذريعه ده. په دواړوکښې د فساد اوتباهئی مماثلت دې نوزنا د قحط د راوستلو ذريعه جوړه شوه. دا ګناه د نسل د تباهئی ذريعه جوړه شوه اوددې په اثرسره قحط راخی په کوم سره چه د فصل تباهی کيږی. الکاشف **۷/۱۶۹**.

قوله: الرِّشَا:

د رشا معنی او وجهٔ تسميه: په راء باندې پيش هم دې اوکسره هم جائزده رشاء په اصل کښې هغه رسئ ته وائی د کوم په مدد چه د کوهی نه اوبه راويستلې شی ځکه چه رشوت هم د ناجائزمال د رانښکلو ذريعه ده په دې وجه دې ته رشا اووئيلې شو دا د رشوة جمع ده

قوله: إِلَّا أُخِذُوا بِالرُّعْبِ:

د رشوت په کثرت د سره مرعوب کيدو وجه: يعنی د رشوت په کثرت سره قوم اوملك دخپلو خلقونه هم مرعوب کيږی اودډښمن نه هم مرعوب پاتې کيږی ددې وجه داده چه کله د رشوت ورکولو او اخستلو د وجې نه د قوم جرات او همت لکه د غلو په شان ښکته کيږی اود قوم ضميرمړکيږی اود ايماندارئی او صداقت جذبه ختميږی نود دښمن په مقابله کښې اوس د دغه رشوت خورو نه ټول انسانی صفات اوعظمتونو اوعزتونو تصورات ختميږی اوحاکم اومحکوم دواړه د دښمن نه مرعوب اوسيږی دغه وخت کښې ددوی ضمير د اوچتوالی احساس نه ورکوی بلکه د نور ښکته کيدو احساس ورکوی او

(۱) اخرجه احمد فی المسند: ۴/۲۰۵

هم دغه رعب دې اود خپلو خلقو ویره پرې څکه خوریږی چه کله دا رشوت خور خپلې ذمه وارئی نه پوره کوی نودې د هریونه ویریږی لهذا دې د یوجج د حکم نافذ کولو اوجاری کولونه هروخت ویره خوری چه هسې نه چانه مې رشوت اخستې دې هغه راپورې اونه انخلی دغه شان په مجموعی حیثیت سره قوم بزدل جوړیږی

[۲۵۸۳] په لوطی باندې لعنت

۳۵۸۳—[۲۹] () ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَأَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ۲ «مَلْعُونٌ مَنْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ». رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: ۱ او د حضرت ابن عباس ﷺ او ابوهریره ﷺ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ کوم سړی چې د قوم لوط په شان عمل (یعني اغلام، بچه بازي) کوي. هغه ملعون دی. (رزین)

حل اللغات: ① مَلْعُونٌ: لعنت کړې شوی، د الله د رحمت نه لرې. ② عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ: د قوم لوط والا عمل. لواطت کول. هلکانو سره بدفعلی کول.

۳۵۸۴—() ۱ وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ عَلِيًّا أَحْرَقَهُمَا وَأَبَابَكْرٍ هَدَمَ عَلَيْهِمَا حَائِطًا.

ترجمه: ۱ او د رزین په یو روایت کې د ابن عباس ﷺ نه منقول دی چې حضرت علي ﷺ (په طور د سزا) اغلام کونکی فاعل او مفعول دواړه سوزلي وو، اوحضرت ابوبکر ﷺ په هغوئ دیوار راایله کړی وو.

حل اللغات: ① أَحْرَقَهُمَا: دواړه ئې اوسوزول. ② هَدَمَ: وران ئې کړل. ③ حَائِطٌ: دیوال

تسهیلات:

قوله: مَلْعُونٌ مَنْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ

کوم کوم خلق ملعون دی:

جامع صغیرکښې امام محمد ﷫ د حسن بصری ﷫ په سند سره د حضرت ابن عباس ﷺ نه داروایت نقل کړې دې ① کوم سړې چه خپلې مور ته بد اووائی هغه ملعون دې ② کوم سړې چه د غیرالله په نوم باندې ذبح اوکړی هغه ملعون دې ③ کوم سړې چه د اسلام د زمکې په سرحدونو کښې بدلون اوکړی هغه ملعون دې ④ کوم سړې چه یو ړوند ته غلطه لار اوښائی هغه ملعون دې ⑤ کوم سړې چه ځناور سره بدفعلی اوکړی هغه ملعون دې ⑥ کوم سړې چه د قوم لوط په شان د هلك بازئی عمل کوی هغه ملعون دې

[1]) رواه رزین
[2]) رواه رزین

قوله: أَنَّ عَلِيًّا أَحْرَقَهُمَا:

د لواطت د سزا نوعيت: يعني حضرت علي رضي الله عنه فاعل اومفعول دواړه په اورکښې اچولوسره سيزلي وو او حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په دواړو باندې ديوال راغورزولې وو چونکه دا سزا دَ احنافو په نيزدَتعزير په زمره کښې راځي په دې وجه دَ صحابه کرامو په دورکښې اودهغې نه پس وختونوکښې دَدغه سزا په صورتونوکښې فرق راروان دې ليکن داد دې دَعدم جرم دَ وجې نه نه ده بلکه دَحددَ عدم تعين دَ وجې نه ده اودَ تعزيرباب خود حدنه زيات وسيع دې.

د لوطي په سزا کښې مذاهب:

① بعضې علماؤ وئيلي دی چه لواطت کونکې دَ اوچت غر نه راګزارکړئی اودَپاسه پرې دَ کاڼرو باران اوکړئی دې دَپاره چه دَ قوم لوط دَ سزا په شان مشابهت راشي

② بعضو وئيلي دی چه په ده باندې مکان راغورزار کړئی او ورخښ ئې کړئی بعضو وئيلي چه دې په سمندر کښې ورډوب کړئی.

③ بعضې وئيلي چه دې په تنګ اوتياره بدبوداره ځائی کښې راګيرکړئی بعضې وائی چه ترهغه وخته پورې جيل کښې بند کړئی ترکومې چه توبه نه وی کړې.

④ بعضې وئيلي دی که لوطي عادتي وی اودا قبيح فعل باربار کوی نودَمصلحت لاندې دې قتل کړې شی دغه شان عادی مفعول به هم قتل کړئی دا ټولې خبرې مختلف حواله جات سره زجاجة المصابيح ج۳ص۷۸ باندې ذکردی. دَدغه ټولو اقوالو په رڼا کښې دَ نن صباغيرمقلد حضراتو دا پروپيګنډا په ديانت اوصداقت باندې مبنی نه ده چه دا وائی دَ احنافو په نيز په لواطت باندې څه سزا نشته دې.

⑤ امام ابوحنيفه رحمه الله که چرې دا وائی چه دَدې دَپاره دَ صحابه کرامو په دورکښې څه متعين سزا نه وه لهذا دا دَ تعزير په زمره کښې راځی نو په دې باندې دَ اعتراض ګنجائش ترکومې پورې دې آيا دَ دومره اقوالو نه پس ثبوت شی چه دَ حد په توګه دَ دې عمل دَپاره فلانکې خاص حد متعين دې؟ که چرې نه شی وئيلې نوهم دغه خبره خو دَ امام ابو حنيفه رحمه الله ده دَ باقی فقهاؤ اختلاف وړاندې تيرشوې دې

[۲۵۸۵] ښځې سره په لواطت کولو دالله تعالی غصه

۲۵۸۵-[۳۰] (¹) ①وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ②«لَا يَنْظُرُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ ③إِلَى رَجُلٍ أَتَى رَجُلًا أَوِ امْرَأَةً فِي دُبُرِهَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

¹) اخرجه الترمذی رقم الحديث ۱۱۶۵، واحمد فی المسند ۲/ ۳٤٤

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] الله تعالی په هغه سړي د رحمت نظر نه کوي، [۳] چې د یو سړی یا ښځي سره لواطت وکړي، دا روایت امام ترمذي رحمه الله نقل کړي دی او ویلي یي دي چې دا حدیث حسن غریب دی.

حل اللغات: ① أَتَى رَجُلًا: راتلل ئي اوکړل سړی ته (مراد ترې لواطت دې) ② دُبُر: شا طرف.

تسهیلات:

قوله: أَتَى رَجُلًا أَوِامْرَأَةً فِي دُبُرِهَا:

ښځې سره په دبر کښې د جماع حرمت: په ډیرو احادیثوکښې سخت ممانعت او لعنت راغلې دې چه یوسړې خپلې ښځې سره بدفعلي اوکړی. چونکه په دې کښې دَ اشتباه خطره وه چه دَ خاونداخیال وی چه دا خوزما ښځه ده نودَ دې هرقسم فائده اخستل به جائز وی. په دې وجه په دې باندې په احادیثوکښې سخت نکیر او سخت وعید راغلي دې او چونکه بعضې بدبخت سیاه کار ښه په قصد ښځې سره دَ بدفعلئی عمل کوی اوممکن ده چه یو لوئی مخلقو په دې جرم کښې راګیر وی په دې وجه اسلام په ښکاره الفاظوکښې دَدې ممانعت اوکړو او په دې باندې وعید واؤرولو اودَ لواطت ممانعت په عامو آیاتونو او عام احادیث کښې ئی دې ته شامل کړه. بلکه دَ لواطت سزا ئی دې کښې شمیر کړه.

[۲۵۸٦] څاروی سره د بدفعلی کولو سزا

٢٥٨٦ـ[٣١] ([1]) [۱] وَعَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: [۲] «مَنْ أَتَى بَهِيمَةً فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ» . [۳] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ أَنَّهُ قَالَ: [٤] وَهَذَا أَصَحُّ مِنَ الْحَدِيثِ الْأَوَّلِ وَهُوَ «مَنْ أَتَى بَهِيمَةً فَاقْتُلُوهُ» . [٥] وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه منقول دی هغه (بطریق مرفوع) اوویل [۲] چې کوم سړی چې د حیوان سره بد فعلي وکړي، هغه د حد سزا وار نه دی (لیکن قابلِ تعزیر دی) [۳] دا روایت ترمذي رحمه الله او ابوداود رحمه الله نقل کړي دی، او ترمذي رحمه الله د سفیان ثوري نه روایت کوي، چې هغه (یعني سفیان) اوویل [٤] چې دا حدیث د ابن عباس رضي الله عنه د هغه د مخکني حدیث نه زیات صحیح دی (کوم چې په دویم فصل کې د هغه نه نقل شوی دی، او هغه مخکنی حدیث دا دی چې کوم سړی د حیوان سره بد فعلي وکړي هغه قتل کړي، [٥] نو علماوو په دي عمل کړي دی، چې د حیوان سره بد فعلي کونکی د حد سزاوار نه دی، البته په طور د تعزیر هغه ته سزا ورکول کیدی شي.

حل اللغات: ① بَهِيمَةً: څناور، حیوان. ② حَدَّ: شرعی سزا.

[1]) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الحدود/باب فیمن أتی بهیمة (رقم-٤٤٦٥)، والترمذی رقم الحدیث ١٤٥٥

تسهیلات:

قوله: مَنْ أَتَى بَهِيمَةً فَاقْتُلُوهُ:

څناور سره د بدفعلی کونکی سزا: دې نه مخکښې حدیث نمبر(۳۵۸۶) کښې په دې مسئله کښې پوره تفصیل تیرشو هلته اوګورئی هلته داذکر شو چه څناورسره بدفعلی کونکې قتل کړئی او څناور هم قتل کړئی هغه روایت هم د حضرت ابن عباس ﷺ نه نقل دې اوداهم د حضرت ابن عباس ﷺ نه نقل دې په ظاهره داسې معلومیدله چه زیر بحث حدیث مرفوع حدیث نه دې بلکه د حضرت ابن عباس ﷺ خپل قول دې لیکن د حضرت سفیان ثوری ﷫ تبصره سره داخبره واضحه کیدوسره مخې ته راغله چه دا دواړه احادیث مرفوع دی ځکه چه هغوی اوفرمائیل چه دې حدیث نه مخکښې والا حدیث زیات صحیح دې. که چرې دواړه احادیث مرفوع نه وی نود سفیان ثوری ﷫ د کلام به هیڅ مقام پاتې نه شي.

[۳۵۸۷] په حد جاري کولو کښې د عدم امتیاز حکم

٣٥٨٧-[٣٢]() ١ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ «أَقِيمُوا حُدُودَ اللّٰهِ فِي الْقَرِيبِ وَالْبَعِيدِ، ٣ وَلَا تَأْخُذْكُمْ فِي اللّٰهِ لَوْمَةُ لَائِمٍ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ١ او حضرت عباده ﷺ ابن صامت راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ نزدې او بعید (په ټولو) حدود الله جاري کړې، ٣ او (خبردار) د الله ﷻ په حکم (یعني حد جاري کولو کې) د یو ملامت کونکي ملامتی دی ستاسو په لار کې خنډ نشي. (ابن ماجه)

حل اللغات: ① أَقِيمُوا: قائم کړئ. نافذکړئ. ② الْقَرِيبِ: نزدې ③ الْبَعِيدِ: لرې ④ لَوْمَةُ: ملامتیا. ⑤ لَائِمٍ: ملامته کونکې

تسهیلات:

قوله: فِي الْقَرِيبِ وَالْبَعِيدِ:

د قریب او بعید دوه مطلبونه: ① حدود الله په نیزدې اولرې خپلوانوباندې یوشان نافذ کوئی هسې نه چه په لرې خپلوانوباندې نافذ کوی اود نیزدې خپلوانو سره نرمی کولو سره دهغوی نه حد ساقط کړی دا امتیازی سلوك په حدودالله کښې جائزنه دی

② د نیزدې نه مراد کمزورې او بې طاقت دې په چاچه حدنافذ کول آسان دی اود بعیدنه مراد طاقتور اود اثررسوخ والا سړې دې چه هغه ته رسیدل ممکن نه دی نو نبی کریم اوفرمائیل چه په کمزوری اوطاقتورباندې او غریب اومالدارباندې یوشان حد نافذ کوئی فرق مه کوئی

() اخرجه ابن ماجه فی السنن کتاب الحدود/باب إقامة الحدود (رقم-۲۵۴۰) واحمد فی المسند:۵/۳۳۰

[۲۵۸۸] د حد جاري كولو فائدې

۳۵۸۸-[۳۳] ( ) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۲] «إِقَامَةُ حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللهِ [۳] خَيْرٌ مِنْ مَطَرِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً فِي بِلَادِ اللهِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر ﷺ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] په حدود الله کې د یو حد جاري کول [۳] د الله ﷻ په تولو ښارونو تر څلویښت شپو د باران تر وریدو نه ښه دی. ابن ماجه

حل اللغات ①مَطَر: باران. ②بِلَاد: جمع د بلد ده . ښار.

۳۵۸۹-( ) [۱] وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ.

ترجمه: [۱] نسائي ﷫ دا روایت د حضرت ابوهریره ﷺ نه نقل کړي دی

تسهیلات:

قوله: إِقَامَةُ حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللهِ:

د حدود د د نفاذ برکات: حدود الله قائمولو سره په بلاد الله کښې برکتونه خکه راخی چه حدود الله نافذ کولو سره گناهونه اوجرائم بندولې شی اوکله چه گناه بندیږی نو د آسمان نه د برکتونو د نازلیدلو دروازې کولاویږی دَ دې نه برعکس حدود نه نافذ کول یا به دې کښې سستی کول لکه چه دَ الله تعالی مخلوق ته په گناه اومعاصی کښې د راګیرولوموقع ورکولې کیږی اودا معاصی قحط سالی اوج کالی اودَ عالم د فساد اسباب دی د کوم په وجه چه نه یوازې انسان ددې ښکار جوړیږی بلکه غیرانسان خناوران مرغنی څاروی او لونی واړه خناور هم ددې ښکار کیږی او ټول تباه اوبرباد کیږی چنانچه نقل دی "حباري" هم ددې ناکرده گناه په زد کښې راتلوسره مانده کیدو سره مړه کیږی لکه چه په یو حدیث کښې ذکر دی

د حباری د تخصیص وجه: حباری د یوې مرغنی نوم دې ددې ذکر خکه اوکړې شو چه هغه د رزق او اوبو په لیون کښې په خپله خپل متال دې ترلرې لرې پورې خی او دانه اوبه لټولوسره راوړی کله چه هغه مړه شی نود نورو مرغوبه څه حال وی

---

[۱]) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب الحدود /باب إقامة الحدود(رقم ۲۵۳۷)

[۲]) اخرجه النسائي في السنن كتاب قطع السارق /باب الترغيب في إقامة الحدّ (رقم-۴۹۰۵)

[۱] بَابُ قَطْعِ السَّرِقَةِ

دَ غل لره دلاس پرې کولوبیان

خلاصة الباب:

فيه ستة عشر حديثاً مشتملة على ست مسائل:

① المعاني الموجبة لقطع اليد في السرقة: ۱، ۲، ۳، ۵، ۱۶.

② قباحة السرقة: ۳، ۱۳.

③ المعاني الغير الموجبة لقطع اليد: ۴، ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۰، ۱۵.

④ حكم السرقات المتعددة: ۱۰، ۱۱.

⑤ السياسة في حكم السرقة بتوجيه واحد: ۳، ۱۲.

⑥ عدم العفوفي الحد بعد الرفع إلى الحاكم: ۸، ۱۴.

قوله: السرقة:

د سرقه لغوی معنی: سرقه دَ سین فتحه او راء په کسره سره ده او په دغه راء باندې فتحه ونیل هم جائزدی. سرقه په لغت کښې دَ بل څیزپه پټه باندې اوچتول او اوړلوته وائی

د سرقه اصطلاحی تعریف: په شرعی اصطلاح کښې تعریف داسې دې چه عاقل بالغ سړې چه دَ چا مملوك اومحفوظ مال په پټه اوچتولوسره اوړلوته سرقه وائی باب قطع السرقة کښې علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه دلته دَاهل لفظ به محذوف منلې شی اي باب قطع اهل السرقة

د موجب حد سرقې په مقدار کښې ۲ مذاهب:

دَ غل لاس پرې کولو او حد سرقه کښې دَ چا اختلاف نشته دې ځکه چه دَ قرآن کریم نه ﴿وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا﴾ ثابت دی البته په دې کښې اختلاف دې چه مطلقًا مال پټولو باندې دا پرې کول دی یادَمال څه مقرر مقدار کیدل ضروری دی اسورت مائده: ۳۸.] په دې کښې د جمهورفقهاؤ او اهل ظواهر اوخوارج اوحسن بصری رحمه الله په مینځ کښې اختلاف دې

① حسن بصری رحمه الله خوارج او اهل ظواهر په نیزمطلقًا دَمال په غلا باندې لاس پرې کول جائز اومشروع دی

② جمهور صحابه تابعین او ائمه اربعه فرمائی چه دَ لاس دَ پرې کولودَپاره ضروری دی چه څه خاص مقدار په پټه یوسړې اوچت کړی اویوسی

د اول فریق اول دلیل: دَقرآن کریم آیت ((وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ)) آیت د دوی مستدل دي په دې کښې دَ غل دَ غلا ذکردې دَ مال دَ مقدارذکرنشته دې لهذا چاچه څه پټ کړل دَهغه لاس به پرې کیږی

د اول فریق د اول دلیل جواب: آیت پخپله مجمل دې دَدې تفصیل په احادیثو کښې دې لهذا دَمطلق آیت نه استدلال نه شی کولې

د اول فریق دویم دلیل: راتلونکې دَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې دَ کوم الفاظ چه دادی (لعن الله السارق يسرق البيضة فقطع يده) بیضه دَ سرخود ته وائی دا یوه فوجی ټوپئی وی یاظاهری معنی هګئ مراد ده (ويسرق الحبل فتقطع يده) حبل رسئی ته وائی

د اول فریق د دویم دلیل جوابونه: ① په دې حدیث کښې دَ غلا نصاب بیانول مقصود نه دی بلکه په دې کښې دَ غل په عادت باندې تنبیه ورکړې شوې ده چه هم دغه واړه واړه څیزونه چه دې وخت کښې دَ لاس دَ پرې کولو سبب نه دې لیکن په دې سره دَ غلا عادت جوړیږی اوبیادَ نصاب سرقه پورې دَ غلا نوبت ته رسیږی اولاس پرې کیږی نو په دې کښې دَ شروعات ذکر دې نصاب نه دې بیان کړې شوې

②بعضې علماؤ لیکلی دی چه دَبیضه نه مراد هګئی نه ده بلکه دَ اوسپنې فوجی ټوپئی ده اودَدې قیمت دَ نصاب سرقه پورې رسیږی دغه شان دَ رسئی نه مراد دَ اوسپنې یا دَ نور قیمتی څیزونو رسئی ده دَ کوم قیمت چه دَ نصاب سرقه ته رسیږی یا هم هغه دَ عادت والا خبره ده

د دویم فریق دلائل: ①هغه ټول احادیث د دوی مستدلات دی په کومو کښې چه دَخاص مقداردَمال ذکردې بعضې کښې دَ ربع دینار ذکر دې اوبعضې کښې دَ ثلاثه دراهم ذکردې بعضې کښې دَ ثمن المجن ذکر دې او بعضو کښې دَ عشرة دراهم ذکر دې اودَ کم مقدار نفی ده

② دَ ټولو صحابه کرامو اجماع هم ده چه دَ خاص مقداردَ مال نه علاوه دَ لاس پرې کول نشته دی امام ابوحنیفه رحمه الله نه چاتپوس اوکړو چه په لاس کښې نصف دیت دې بیادَ لسو درهمو په عوض ولې کټ کیږی هغوی اوفرمائیل (لماكانت الدامنة كانت ثمينة فلما خانت هانت) یعنی چه کله لاس امین وو نو دَهغې عظمت او قیمت وولیکن چه ده خیانت اوکړو نو ذلیل شو

د موجب حد سرقه په نصاب کښې ۳ مذاهب:

دَ جمهورو په خپل مینځ کښې اختلاف دې چه دَ لاس پرې کولو دَنصاب مقدار څومره دې.

①دَ امام شافعی رحمه الله په نیز ربع دینار نصاب دې اوپه نصاب مقررکولو کښې سرو زروته

بنیادی حیثیت حاصل دي
② دَ امام مالك رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله په نصاب سرقه ربع دینار دي یا د دي قیمت دري دراهم دی
دَدي حضراتو په نیز په نصاب کښي اصل او بنیادی څیز چاندی ده شوافعو مالکیه او حنابله په مینځ کښي لفظی اختلاف دي ځکه چه یو دینار د دولس درهم وی نو د دي ربع دَ تولو په نیز دري دراهم دی
③ دَ ائمه احناف په نیز دَ لاس پري کولو نصاب لس درهم دي اصل اختلاف د جمهورو او احناف په مینځ کښي دي او دواړو سره قابل اعتماد دلائل دی
داول فریق (جمهورو) دلائل: هغه تول روایات د وی مستدل دی په کومو کښي چه ربع دینار یا ثلاثه دراهم ذکر دي لکه ① دَحضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها حدیث نمبر(۳۵۰) کښي ربع دینار ذکر دي
② دَحضرت ابن عمر رضی الله عنه په حدیث نمبر(۳۵۹۱) کښي دَ ثلاثة دراهم او دَ ډهال ذکر دي
د دویم فریق (احنافو) دلائل:
① دَحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت په ترمذی کښي دي (قال لاقطع الا فی دینار اوعشرة دراهم) (ترمذی ج۱ص۲۶۸) دا روایت په مختلف طرق سره دَ الفاظو څه تغیر سره نقل دي بعضو کښي دا روایت مرسل او بعیضو کښي متصل دي لیکن شرعی اندازي چه په کومو روایاتو کښي ذکر دی هغه دَ مرفوع په حکم کښي دی په طبرانی کښي هم دغه روایت داسي دي (عن ابن مسعود عن النبی صلی الله علیه وسلم قال لاقطع الا فی عشرة دراهم) (رواه الطبرانی فی الاوسط)
② (وعن عبدالله بن عمر قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا قطع دون عشرة دراهم) (طحاوی)
③ (وعن ابن عباس رضی الله عنه قال قطع النبی صلی الله علیه وسلم ید رجل فی مجن قیمته دینارا وعشرة دراهم) (ابوداؤد)
④ مصنف ابن ابی شیبه کښي ذکر دی چه دَحضرت عمر رضی الله عنه په دورخلافت کښي یو سړي راوستلي شو چه کپړه ئی پټه کړي وه حضرت عمر رضی الله عنه حضرت عثمان رضی الله عنه ته اوفرمائیل چه دَدي قیمت اولګوه هغوی چه کله قیمت اولګولو نو اته دراهم قیمت راووتلو فلم یقطعه حضرت عمر رضی الله عنه دَهغه لاس پري نه کړو ځکه چه دَ لس درهم نه غلا کمه وه (کذافی زجاجة المصابیح ج۳ ص۸۲)
⑤ (عن ابن مسعود قال یقطع الید علی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم فی عشرة دراهم وعنه قال لا یقطع ید السارق فی اقل من عشرة دراهم)

⑨ دَ صحابه کرامو په وړاندې دَ حضرت عمر رضي الله عنه فیصله او په هغې باندې دَ ټولو خاموشي اجماع سکوتي ده لهذا په لس درهم نصاب باندې دَ صحابه کرامو اجماع هم ده (دراهم اووه نیمې ماشې چاندي ده)

دَ اول فریق دَ دلائلو دوه جوابونه: ① دَ حدلګولو اولاس پرې کولو معامله ده اودَ حد حکم په معمولي شك سره ساقط کیږي اوس چه لس درهم مقدار نه کم چه کوم څائې هم نقل دي په هغې کښې شبه راغله لهذا دَدې په بنیاد باندې به حد نه نافذ کیږي (ادراء والحدود بالشبهات) واضحه ضابطه ده

② دَ لاس دَ پرې کولو دَ نصاب مدار ثمن مجن یعني دَ ډهال په قیمت باندې دي او دَ ډهال قیمت دَ زمانې په اعتبار سره بدلیدلو حضرت عائشه رضي الله عنها دا دَ ربع دینار دَ قیمت په زمانه کښې لیدلې نو دا سې بیان ئې اوکړو ابن عمر رضي الله عنه دَ دریو درهمو دَ قیمت په زمانه کښې اوکتلو نو دَ دې تذکره ئې اوکړه بیا یو داسې وخت راغلو چه دَدې قیمت یو دینار یا لس درهم شو او هم دا احنافو واخستلو لکه چه ابوداؤد ذکر کړې دی

نسائي بیهقي او طحاوي دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دا قول نقل کړې دې (قال کان ثمن المجن على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم يقوم عشرة دراهم) دا واضح روایت دې چه دَ ډهال دَ قیمت استقرار په لس درهم باندې شوې وو

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٢٥٩٠] د حد سرقه نصاب

٢٥٩٠ -[١] ([١]) [١] عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [٢] «لَا تُقْطَعُ يَدُ سَارِقٍ إِلَّا بِرُبْعِ دِيْنَارٍ فَصَاعِدًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] بي بي عائشه رضي الله عنها د نبي کریم صلى الله عليه وسلم نه نقل کوي، چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمایل [٢] د غله لاس په هغه صورت کې پرېکول کیږي، هر کله چې هغه څلورمه حصه دینار یا د دې نه د زیات مالیت غلا کړي وي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① سَارِقٍ: غل. ② صَاعِدًا: زیات

[١]) اخرجه البخاري في كتاب الحدود/باب قول الله تعالى: {والسارق والسارقة فاقطعوا أيديهما} [المائدة: ٣٨] وفي كم يقطع؟ (رقم-٦٧٨٩) ومسلم في كتاب الحدود/باب حد السرقة ونصابها (رقم-٢ - (١٦٨٤))و ابو داود في كتاب الحدود/باب ما يقطع فيه السارق (رقم-٤٣٨٣)والترمذي في كتاب الحدود عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء في كم تقطع يد السارق (رقم-١٤٤٥) والنسائي في كتاب قطع السارق/باب ذكر اختلاف أبي بكر بن محمّد وعبد الله بن أبي بكر عن عمرة في هذا الحديث (رقم-٤٩٢٨) وابن ماجه في كتاب الحدود/باب حد السارق (رقم-٢٥٨٥) واحمد في المسند: ١٠٦/٦

تسهیلات:

قوله: إِلَّا بِرُبُعِ دِينَارٍ فَصَاعِدًا:

داحدیث پاك د امام شافعی رحمه الله دمسلك دلیل دي چې د دینار څلورمې حصې نه د کم مالیت په غلا باندې دې لاس پرې نه کړې شي یعنی ددوئ په نزد د سرقه نصاب کم از کم څلورمه حصه دینار دي ملاعلی قاری رحمه الله خپل کتاب کښې ددې حدیث پاك لاندې دیر تفصیلی بحث کړې دې او په دې مسئله کښې چې د علماء کرامو کوم اختلافی اقوال دی د هغې د نقل کولو سره سره ئې د احنافو مسلك په مضبوطو دلیلونو ثابت کړی دی

[۲۵۹۱] د درې دراهمو په غلا کولو د حد جاری کول

۳۵۹۰-[۲] ()[۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: [۲] «قَطَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَ السَّارِقِ فِي مِجَنٍّ ثَمَنُهُ ثَلَاثَةُ دَرَاهِمَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر رضی الله عنهما وایي [۲] چې رسول الله ﷺ د یو ډهال په غلا کولو. چې د هغه قیمت درې درهمه وو، د غله (راسته) لاس پریکړې وو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① مِجَنٍّ: ډهال، ② ثَمَن: قیمت.

تسهیلات:

قوله: فِي مِجَنٍّ ثَمَنُهُ ثَلَاثَةُ دَرَاهِمَ:

شمنی رحمه الله فرمائی چې داحدیث پاك هغه روایت معارض دې کوم چې ابن ابی شیبه د حضرت عبدالله ابن عمر وابن العاص نه نقل کړې دې کوم کښې چې هغه وئیلی دی چې ددې ډهال قیمت لس درهمه وو. د حضرت ابن عباس رضی الله عنه او حضرت عمر او ابن شعب نه هم داشان منقول دی داشان شیخ ابن همام رحمه الله د ابن عمر رضی الله عنه اور ابن عباس رضی الله عنه نه هم دا شان خبره نقل کړې ده چې ددې ډهال قیمت لس درهمه وو او عینی رحمه الله د هدایه په حاشیه کښې هم دا لیکلی دی لهذا هم په دې بنیاد داحنافو مسلك دادې چې د قطع ید د لاس پریکولو سزا به هم په هغه غل باندې نافذه وی چا چې کم از کم د لس درهمو بقدر مال پټ کړې وی، ددې نه د کم مالیت په غلا باندې به دا سزا نه وی تر کومې چې ابن عمر ددې روایت تعلق دې د کوم چې ددې ډهال قیمت درې درهمه متعین کیږی حالانکه په حقیقت کښې د هغه ډهال قیمت لس درهمه وو لکه څنګه چې اکثرو روایتونو نه ثابت

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الحدود/باب قول الله تعالی: {والسّارق والسّارقة فاقطعوا أیدیهما} [المائدة: ۳۸] وفی کم یقطع؟ (رقم-۶۷۹۸) ومسلم فی کتاب الحدود/باب حدّ السّرقة ونصابها (رقم-۶ - (۱۶۸۶) و ابو داود فی کتاب الحدود/باب ما یقطع فیه السّارق (رقم-۴۳۸۵) والترمذی فی کتاب الحدود عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی کم تقطع ید السّارق (رقم-۱۴۴۶) و ابن ماجه فی کتاب الحدود/باب حدّ السّارق(رقم- ۲۵۸۴)

شو په دې موقع شيخ عبدالحق رحمه الله او ملا علی قاری رحمه الله په خپلو خپلو شروحو کښې ډیر لوې تفصیل سره په دې بحث کړې دې ، اهل علم ددوئ کتابو ته مراجعت کولې شی .

[۲۵۹۲] په یوه هګۍ او یوه رسۍ غلا کولو باندې د حد جاری کولو حکم

۳۵۹۳–[۳] () ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: ۲ «لَعَنَ اللّٰهُ السَّارِقَ يَسْرِقُ بَيْضَةً ۳ فَتُقْطَعَ يَدُهُ ۴ وَيَسْرِقُ الْحَبْلَ فَتُقْطَعَ يَدُهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره رضي الله عنه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه نقل كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ۲ په غله دې د الله جل جلاله لعنت وي، چې هغه د اګۍ غلا كوي، ۳ او د هغه لاس پريكول كيږى، ۴ او د رسۍ غلا كوي او د هغه لاس پريكول كيږى. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① اَلْحَبْلَ: رسئ.

تسهيلات: قوله: يَسْرِقُ بَيْضَةً فَتُقْطَعَ يَدُهُ:

امام نووی رحمه الله فرمائی چې ددې حديث پاك نه معلومه شوه چې بلا تعين ګناهګارو باندې لعنت ليږل جائز دی او هم دا خبره د الله جل جلاله ددې ارشاد نه هم ثابت ده ﴿اَلَا لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الظّٰلِمِيْنَ﴾ خو كه يو كس لره متعين كولو نه پس په هغه باندې لعنت اوليږى او دهغه نوم واخلى نو دا جائز نه دى.

د نصاب سرقه په سلسله كښې دا حديث په دې امر باندې دلالت كوى چې څلورمه حصه د دينار يا دريودرهمو نه د كم ماليت په غلا كولو باندې هم د قطع يد سزا جارى كيديشى حالانكه څلور واړو ائمه كرامو كښې د چا په مسلك كښې هم د څلورمې حصې ددينار يا د دريو درهمو نه كم باندې دقطع يد سزا نشته دې . په دې اعتبار سره دا حديث پاك د ټولو ائمه كرامو دمسلك خلاف دې لهذا ددې ټولو له طرفه دا وئيلې كيديشى چې دې خائې كښې د بيضه نه مراد بيضه آهن مراد ده كومې ته چې خود وائى او دا مجاهدينو او فوجيانو په سر كولو دا شان رسۍ نه د كشتۍ رسۍ مراد ده كومه چې ډيره قيمتى وى ددې نه علاوه څينې حضرات دا هم وائى چې د اسلام په ابتداء كښې د اګۍ او رسۍ په پټولوباندې د قطع يد سزا وه خو روستو دا منسوخ شوه

څينې حضرات فرمائى چې ددې ارشاد مطلب دادې چې ددهٔ د غلا كولو عادت داشان جوړيږى چې واړه څيزونه پټوى او بيا روستو غټ څيزونه پټول شروع كړى او ددې په نتيجه كښې ده ته د قطع يد سزا وركولې كيږى

¹) اخرجه البخاري في كتاب الحدود/باب قول الله تعالى: {والسارق والسارقة فاقطعوا أيديهما} [المائدة: ۳۸] وفي كم يقطع؟ (رقم-۶۷۹۹) ومسلم في كتاب الحدود/باب حد السرقة ونصابها (رقم-۷ - (۱۶۸۷) والنسائي في كتاب قطع السارق/باب تعظيم السرقة (رقم-۴۸۷۳) كتاب الحدود/باب حد السارق(رقم-۲۵۸۳) واحمد في المسند: ۲۵۳/۲

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٢٥٩٢] د ميوې وغيره په غلا باندې د حد جارى كولو حكم

٢٥٩٣- [٣] ( ) ⓵عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ⓶«لَا قَطْعَ فِي ثَمَرٍ وَلَا كَثَرٍ». رَوَاهُ مَالِكٌ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُودَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ⓵حضرت رافع ﷺ ابن خديج د نبي كريم ﷺ نه نقل كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ⓶په او ميوو او د كجورو د سپين كچه ورو په غلا قطع يد د لاس د پريكولو سزا، نشته. «مالك ترمذي ابوداود نسائي دارمي ابن ماجه»

حل اللغات: ①كَثَر: د كهجورو كچه غونچه

تسهيلات:

قوله: «لَاقَطْعَ فِي ثَمَرٍ وَلَا كَثَرٍ»:

د ونې د ميوې په غلا كښې عدم قطع يد: دَ كثر كاف او ثاء دواړو باندې زبردى د كهجورې غونچه مراد ده. كله چه بالكل په شروع كښې رانښكاره شي خلق دغه خوري ـ په دغه كهجورو كښې دننه دَ سپينې وازګې په شان مغزوى دغه هم خلق خورى دې ته جمار بضم الجيم هم وائي. ثمر هرهغه تازه ميوې ته وائى چه په ونوپورې زوړندې وى مګر عام اطلاق ئى دَ كهجورې په ميوه باندې كيږى. كله چه كهجورې دَ ونونه پرې كړې شى نواوس دَ ثمر په ځائى هغې ته رطب وائى اوكله چه ذخيره كړې شى او اوچې شى نوهغې تمر وائى «كذا فى النهايه» بعضې دَ ګلونو غوټو ته كثر وئيلې دې بهرحال په دې ځيزونوكښې د لاس پرې كول ځكه نشته چه دَ غلادَپاره مال محرز اومحفوظ كيدل ضرورى دى دلته محفوظ نه دې.

د كټ شوې ميوې او محفوظ شوې ميوې په حد سرقه كښې ۲ مذاهب:

په دې باندې دَ ټولو اتفاق دې چه په ونوباندې لګيدو ميوو كښې دَ لاس پرې كول نشته دې اختلاف په دې كښې دې چه كله دا ميوه منډو او كورونو ته راشى محرز اومحفوظ شى نوآيا په دې كښې دَ لاس پرې كول شته كه نه دې كښې اختلاف دې

① جمهور فرمائى چه ددې قسم ميوو په غلاكښې دَ لاس پرې كول دى كه تردغه وخته پورې ميوه لمده ده اوكه اوچه ده

---

[١]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الحدود/باب ما لا قطع فيه (رقم-٤٣٨٨) والنسائى فى كتاب قطع السارق/باب ما لا قطع فيه (رقم-٤٩٦٠) وابن ماجه فى كتاب الحدود/باب لا يقطع فى ثمر ولا كثر (رقم-٢٥٩٣) ومالك فى الموطا كتاب الحدود/باب ما يجب فيه القطع (رقم-٢٢)

④ امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائي چه هرهغه خیزکوم چه زرخرابیدونکې وی که هغه میوه وی که پیئی وی که کبان وی که غوښه وی اویا دَ څه قسم سبزی وی یا تیار خوراك وی په دې تولو څیزونو کښې دَ لاس پرې کول نشته اوچه کله میوه کورته راشی اوچ شی نوبیا دَلاس پرې کول شته

داول فریق دلیل: راتلونکی د حضرت عمروبن شعیب رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې ② دَدې څیزونو په غلا باندې دَ سرقه دَ لفظ اطلاق کیږی لهذا دا غلاده او په غلا دَ لاس پرې کول دی

داول فریق د دلیل جواب: د دې روایت تعلق دَ اوچې میوې سره دې یا هغه روایت دَدې رافع والا روایت مقابله نه شی کولې اوکله چه دَحدیث نه دَهغوی استدلال ثابت نه شو نودَ حدیث رافع په مقابله کښې قیاس پیش کول مناسب نه دی.

د دویم فریق دلیل: دویم فریق دَدې حدیث نه استدلال کړې دې چه "فی ثمر" دانکره تحت النفی ده او په دې کښې عموم دې مطلب دا چه تازه میوه یازرخرابیدونکی څیزونو کښې دَ لاس پرې کول نشته لهذا په یوتازه میوه کښې دَلاس پرې کول نشته که هغه محرز فی البیت وی یا پنډیری کښې محفوظ وی نفی عام ده.

[۳۵۳]دونې څخه د میوې کټ کولوسزا

۳۵۳-[۵] (۱) ۱ وَعَنْ عَمْرِوبْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِوبْنِ الْعَاصِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ۲ أَنَّهُ «سُئِلَ عَنِ الثَّمَرِ الْمُعَلَّقِ ۳ قَالَ: مَنْ سَرَقَ مِنْهُ شَيْئًا بَعْدَ أَنْ يُؤْوِيَهُ الْجَرِينُ ۴ فَبَلَغَ ثَمَنَ الْمِجَنِّ ۵ فَعَلَيْهِ الْقَطْعُ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه: ۱ او عمرو ابن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه حضرت عبدالله ابن عمرو ابن العاص نه او هغه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي ۲ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په ونو کې د لګیدلو میوو په باره کې پوښتنه وشوه. ۳ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل که یو سړی د هغه میوو نه څه هغه وخت غلا کړي. هر کله چې هغه د ونو نه شوکولو سره جمع شوي وي. ۴ او د هغه (غلا کړو میوو) قیمت د یو ډهال د قیمت برابر وي. ۵ نو هغه به د قطع ید سزاوار وي. (ابوداود نسائي)

حل اللغات: ① الْمُعَلَّقِ: رازوړند. چه په ونه کې لګیدلې وی. ② أَنْ يُؤْوِيَ: چه راجمع کړې شوی وی. ③ الْجَرِينُ: درمن کې جمع کړې شوې. راشوکولې شوی ④ الْمِجَنِّ: ډهال.

---

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الحدود/باب ما لا قطع فیه (رقم-۴۳۹۰) والترمذی فی کتاب البیوع عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی الرّخصة فی اکل الثمرة للمارّ بها (رقم-۱۲۸۹)والنسائی فی کتاب قطع السّارق/باب الثمر المعلّق یسرق (رقم-۴۹۵۷)واحمد فی المسند: ۲۰۷/۲

تسهيلات:

قوله: بَعْدَ أَنْ يُؤْوِيَهُ الْجَرِينُ

باغ کښې داسې ځائې ته وئيلې کيږي کوم ځائې کښې چې د باغ مالکان ميوې اوشکوی او هلته ئې راجمع کوی بيا ئې دهغه ځائې نه کور يا بازار ته د خرڅولو دپاره اوړی

روايتونو کښې تعارض او بيان د راجح د احديث مبارك د مخکښې حديث پاك «لاقطع فی ثمرولاکثر» د مطلق مفهوم خلاف دې بلکه د نبی کريم ﷺ ددې فرمان چې «ولاقطع فی طعام» خلاف هم دې . چونکه د حدودو په باب کښې ضروری دی چې د مسلمان ساه او دده د اندامونو دحفاظت پيش نظر حد جاری کولو کښې حتی الامکان احتياط او رعايت پکار دې . لهذا ددې تعارض په صورت کښې هغه احاديثو ته ترجيح ورکول مناسب دی کوم چې د ميوؤ وغيره دغلا په سزا کښې مطلق دی.

[۳۵۹۵] دغير مملوکه څاروو په غلا کښې عدم حد

٣٥٩٥–[٢] () [١] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي حُسَيْنٍ الْمَكِّيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [٢] «لَا قَطْعَ فِي ثَمَرٍ مُعَلَّقٍ وَفِي حَرِيسَةِ جَبَلٍ [٣] فَإِذَا آوَاهُ الْمُرَاحُ وَالْجَرِينُ [٤] فَالْقَطْعُ فِيمَا بَلَغَ ثَمَنَ الْمِجَنِّ». رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: [١] او د حضرت عبد الله ابن عبد الرحمن ابن ابي حسين مکي نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] په ونو د لګيدلې ميوې، او په غرونو کې د څريدونکو څارويو په مقدمه کې د قطع يد (د لاس د پريکولو) سزا نشته، [٣] خو کله يو سړی يو غرځني حيوان د څارويو د ترلو ځای نه راوستلو سره وتړي يا ميوې (خشك کيدو نه وروسته) په درمند کې جمع کړي.نو د هغه په غلا د قطع يد سزا به ورکول کيږي. [٤] په شرط د دې چې د مسروقه (غلا شوی) شي ماليت ديو ډهال دقيمت په قدريا د هغه نه زيات وي. (مالك)

حل اللغات: ① حَرِيسَةِ: حريسه د محروسه په معنی کښې اومحروسه د محفوظه په معنی کښې دې ② جَبَلٍ: غر. ③ آوَاهُ: محفوظ ئې کړی ④ الْمُرَاحُ: باړ. د څاروو ترلو ځائې. ⑤ وَالْجَرِينُ: درمن. د فصل راجمع کولو ځائې

تسهيلات: قوله: وَفِي حَرِيسَةِ جَبَلٍ:

د حريسة الجبل وضاحت او په دې کښې د عدم قطع اليد وجه: اوجبل غرته وائی. مطلب دادې چه مثلاً يوځناور په غرکښې څريږی ګرځی اوهم هلته شپه تيره وی اوچا هغه پټ کړو نودَ غل لاس به نه شی پرې کولې ځکه چه دامال محرز اومال محفوظ نه دې اوکه

---

[١]) اخرجه مالک فی الموطا کتاب الحدود /باب ما يجب فيه القطع (رقم-٢٢)

یوسړې ددې په شان څناور دَ غر نه راؤنیسي کورته ئې راولي اوغل هغه پټ کړی نو اوس په دې کښې دَ لاس پرې کول دی. نود محروسة جبل مطلب دا شو چه صرف غر دې ته حفاظت کوی نور څه محافظ نه دی نو په دې کښې دَ لاس پرې کول نشته دې.

قوله: وَالْجَرِينُ:

د جرین معنی: دا کهلیان ته وائی اودَ کهجوروډَ اوچولو ځائی ته هم وائی نوچه کله میوه اوچه شی اودَداسې محفوظ مقام نه پټه کړې شی نو په دې کښې په اتفاق سره دَلاس پرې کول دی په دې شرط چه نصاب پرې کولوته اورسی

[۲۵۹٦] د ډاکوانو (لوټ مار) کولو سزا

۳۵۹٦ــ[۷] ( ) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «لَيْسَ عَلَى الْمُنْتَهِبِ قَطْعٌ [۳] وَمَنِ انْتَهَبَ نُهْبَةً مَشْهُورَةً فَلَيْسَ مِنَّا». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او د حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د لوټ مار غل (ډاکو) سزا قطع ید نه ده، [۳] او کوم سړي چې خلق لوټی (لوټ کوي) هغه زمونږ نه نه دي (یعني زمونږ په نبودلي لار تلونکي نه دي) ابوداود.

حل اللغات: ① اَلْمُنْتَهِبِ: ډاکو. شوکمار، ② نُهْبَةً: شوکه. ډاکه ③ مَشْهُورَةً: مشهوره.

تسهیلات: **قوله**: لَيْسَ عَلَى الْمُنْتَهِبِ قَطْعٌ:

انتهاب کښې د عدمِ قطع الید وجه: دا ډاکو اولوټ کونکی ته وائی. دا سړې اودَده کردار سره ددې چه دَ غل نه په ډیرو درجوباندې زیات دې لیکن شریعت دَ غلا اوسرقه چه کوم مفهوم پیش کړې دې په دې کښې دَ چا مال محفوظ پټ په پټه اخستلو مفهوم دې لهذا دلاس پرې کول په سرقه کښې دی او په نهبه کښې نه دی دَدې فرق نه معلومه شوه چه په شریعت کښې باریك او دقیق فرقونه هم نه دی نظر انداکړې شوی دَ انتهاب سزا جدا ده کوم چه په باب دمرتدینو کښې بیان کړې شوی دی

[۲۵۹۷] په خائن (خیانت کر) دحد سرقه جاری کولو عدم جواز

۳۵۹۷ــ[۸] ( ) [۱] وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۲] «لَيْسَ عَلَى خَائِنٍ [۳] وَلَا مُنْتَهِبٍ [۴] وَلَا مُخْتَلِسٍ قَطْعٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الحدود /باب القطع فی الخلسة والخیانة (رقم-۴۳۹۱)واحمد فی المسند:۳/۳۸۰

[۲]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الحدود /باب القطع فی الخلسة والخیانة (رقم-۴۳۹۳) والترمذی فی کتاب الحدود عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم /باب ما جاء فی الخائن، والمختلس، والمنتهب (رقم-۱۴۴۸) والنسائی فی کتاب قطع السارق /باب ما لا قطع فیه (رقم-۴۹۷۲) و ابن ماجه فی کتاب الحدود /باب الخائن والمنتهب والمختلس (رقم-۲۵۹۱) واحمد فی المسند: ۳/۳۸

ترجمه: [١] او حضرت جابر ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د خيانت کونکي، [٣] لوټ کونکي [۴] او مال تښتوونکی (بدمعاش) لاس پريکول مشروع نه دی (ترمذي نسائي ابن ماجه دارمي)

حل اللغات: ① خَائِنٍ: خيانت کونکي، ② مُنْتَهِبٍ: ډاکو. شوکمار. ③ مُخْتَلِسٍ: غصب کونکي، په زوره مال اخستونکي، بدمعاش.

تسهيلات:

قوله: لَيْسَ عَلَى خَائِنٍ..... قَطْعٌ:

د خائن نه مراد او د عدم قطع اليد وجه: خائن هغه سړی ته وائی چه دَ چاپه امانت کښې خيانت کوی يابالکل دَ هغې انکارکوی داسره دَ دې چه لويه ګناه ده ليکن دَ سرقه خيل قواعد دی. هغه ضابطې دلته نه پوره کيږی ځکه چه دا مال په يولحاظ سره محرز نه دې ځکه چه دادَ هغه په خپل لاس کښې دي.

[۳۵۹۸] د صفوان څخه د څادر پټيدل

> ٣٥٩٨ - () [١] وَرُوِىَ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ: «أَنَّ صَفْوَانَ بْنَ أُمَيَّةَ قَدِمَ الْمَدِينَةَ، [٢] فَنَامَ فِي الْمَسْجِدِ، وَتَوَسَّدَ رِدَاءَهُ، [٣] فَجَاءَ سَارِقٌ، وَأَخَذَ رِدَاءَهُ، فَأَخَذَهُ صَفْوَانُ، [۴] فَجَاءَ بِهِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَمَرَ أَنْ تُقْطَعَ يَدُهُ. [۵] فَقَالَ صَفْوَانُ: إِنِّي لَمْ أُرِدْ هَذَا، هُوَ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ. [٦] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فَهَلَّا قَبْلَ أَنْ تَأْتِيَنِي بِهِ"».

ترجمه: [١] او صاحب مصابيح په شرح السنة کښې دا روايت نقل کړي دی چې (يوه ورځ) حضرت صفوان ابن اميه مديني ته تشريف راوړو، [٢] په جومات (مسجد) کې تر سر لاندې خپل څادر اينبودلو سره اوده شو [٣] په دې دوران کې) يو غل راغلی. او هغه څادر يې غلی ځينې رانيکلو سره يووړی، اوتښتيدل يې وغوښتل. خو صفوان ﷺ هغه راونيولی. [۴] او د نبي کريم ﷺ په خدمت کې راوستلی (او واقعه يې بيان کړه) حضور ﷺ (خپله د مجرم په اقرار يا د شاهدانو په ذريعه په غلا ثابتيدو) د هغه د لاس د پريکولو حکم وکړي [۵] (دا فيصله اوريدو سره) حضرت صفوان (ته رحم راغلی. او هغه) اوويل چې د ده ستا ﷺ په خدمت کې د راوستلو نه زما دا اراده نه وه (چې يواځې زما د څادر په وجه دی د ده لاس پرې کړل شي، ځکه زه سفارش کوم چې ته ﷺ دي معاف کړي) ما خپل څادر ده ته صدقه کړي. [٦] رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې بيا ماته د راوستلو نه مخکې تا خپل څادر ده ته ولې نه صدقه کولی؟ او ولې دي نه معاف کولی؟

حل اللغات: ① تَوَسَّدَ: بالخ ئې جوړکړلو . د سر لاندې څه څيز کيخودل. ② رِدَاءَ: څادر.

---

[١] اخرجه مالک فى الموطا کتاب الحدود/باب ترک الشفاعة للسارق إذا بلغ السلطان (رقم-٢٨)

تسهیلات:

قوله: فَقَالَ صَفْوَانُ: إِنِّي لَمْ أُرِدْ هَذَا:

د حد جاري کیدو نه پس د معافۍ حکم: جمات کښې چه کوم سړې اوده وو او څادر د هغه لاندې وو نو دا مال محرز محفوظ وو دَدې په غلا سره لاس پرې کول ضروري وو مګر صفوان ته چه کله اندازه اوشوه چه داخودې غریب د پرنقصان اوشو نوصفوان اووئیل چه څادر صدقه ده لاس مه پرې کوئې نبی کریم اوفرمائیل چه داخبره تاهغه وخت کولې شوه کله چه ماله غل نه وو راوستې. دَ راوستلو اوجرم ثابت کیدلونه پس اوس دا حکم دَ حقوق العباد نه وتلوسره حقوق الله کښې داخل شو لهذا ته اوس دې نه شې معاف کولې چنانچه دَ پوره امت په دې باندې اتفاق دې چه دَ یوحدثابت کیدو سره او حکم اورولو نه پس څوك دا معاف کولې نه شي.

۳۵۹۹ـــ( ) [۱] وَرَوَى نَحْوَهُ ابْنُ مَاجَهْ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ صَفْوَانَ، عَنْ أَبِيهِ.

ترجمه: [۱] د غه شان روایت ابن ماجه رحمه الله د عبد الله ابن صفوان نه او هغه د خپل پلار حضرت صفوان نه.

۳۶۰۰ـــ( ) [۱] وَالدَّارِمِيُّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ.

ترجمه: [۱] او دارمي رحمه الله د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړي دی

[۳۶۰۱] په جهادی سفر کښې په غلا کولو عدم حد

۳۶۰۱ــ[۹] ( ) [۱] وَعَنْ بُسْرِ بْنِ أَرْطَاةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [۲] " «لَا تُقْطَعُ الْأَيْدِي فِي الْغَزْوِ» ". [۳] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ، إِلَّا أَنَّهُمَا قَالَا: "فِي السَّفَرِ". بَدَلَ "الْغَزْوِ".

ترجمه: [۱] او حضرت بسر ابن ارطات رضی الله عنه وایي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل [۲] چې په غزا کې د لاس پریکولو سزا نه نافذه کیږي. [۳] دا روایت ترمذي، دارمي، ابوداود او نسائي نقل کړي دی. لیکن د ابوداود اونسائي په روایت کې د غزا په ځای د سفر لفظ دی

تسهیلات:

قوله: لَا تُقْطَعُ الْأَيْدِي فِي الْغَزْوِ»:

[۱]) اخرجه ابن ماجه فی کتاب الحدود/باب من سرق من الحرز(رقم ۲۵۹۵) واحمد فی المسند: ۴۰۱/۳
[۲]) والنسائی فی کتاب قطع السارق/باب ما یکون حرزا وما لا یکون (رقم-۴۸۸۲)
[۳]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الحدود/باب فی الرّجل یسرق فی الغزو أیقطع؟ (رقم-۴۴۰۸) والترمذی فی کتاب الحدود عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء أن لا تقطع الأیدی فی الغزو(رقم-۱۴۵۰) والنسائی فی کتاب قطع السارق/باب القطع فی السّفر(رقم-۴۹۷۹)

د دې جملې مطليونه :

① دَغنيمت دَ مال نه په غلا کښې لاس پرې کول نشته دې ځکه چه په دې کښې شك راغلو چه په مال غنيمت کښې تول مجاهدين شريك دى نوچه کومه حصه هغه پټه کړه په هغې کښې دې پخپله هم شريك دې 1

② ميدان جهاد کښې که يو مجاهد غلا اوکړه اوهغه دَ مال غنيمت نه هم نه وى نودَ هغه لاس به بياهم نه شى پرې کولې ځکه چه ډير ممکن دى چه دَ هغه زړه مورشى اودکافرانو طرف ته اوتختى اومرتد شى. په دې وجه اوس صبر اوکړنى چه واپس دارالاسلام ته اورسى بيا په هغه باندې حدنافذ کړنى په ميدان جهاد کښې حدنه نافذکولويوه وجه داهم ده چه هلته دَ عدالت محکمه چرته ده قاضى کوم ځائى دې او امير کوم ځائى دې؟ دَجهادامير ته دَ احکامودَنافذکولواختيارنشته دې.

په غزوه کښې د حد سرقې په نفاذ کښې ۲ مذاهب:

① دَجمهورعلماؤ مذهب دې چه دَ غلانه پس به حد په هرځائى کښې نافذ کولې شى که هغه دارالحرب وى اوکه دارالاسلام وى

② د احنافو په نيز په جهاد کښې د حد جارى کول نشته

داول فريق دليل: دوى دَ لاس پرې کول په نورو عبادتونو باندې قياس کوى چه مونځ وغيره عبادات اودَ هغې قواعد او ضوابط دارالحرب کښې موجود دى لهذا دَ لاس پرې کول او دَحدود نافذ کول هم هلته کيدل پکاردى.

داول فريق د دليل جواب: د جهاد په موقع د حد نه جارى کولو په باره کښې صريح نص موجود دې نو په داسې صورت کښې به قياس قابل اعتبار نه وى.

د دويم فريق دليل: احناف سره صحيح اوصريح حديث دې چه دَ لاس پرې کول په جهاد کښې نشته دې. په يوروايت کښې دَ غزوه په ځائى فى السفرعبارت دې طيبىm وئيلى دى چه دَسفرنه مراد جهاد دې

[۳۶۰۲] دبار بار غلا کولو سزا

۳۶۰۲ - [۱۰] ۱ وَعَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ۲ «أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي السَّارِقِ: ۳ إِنْ سَرَقَ فَاقْطَعُوا يَدَهُ ۴ ثُمَّ إِنْ سَرَقَ فَاقْطَعُوا رِجْلَهُ، ۵ ثُمَّ إِنْ سَرَقَ فَاقْطَعُوا يَدَهُ، ۶ ثُمَّ إِنْ سَرَقَ فَاقْطَعُوا رِجْلَهُ». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوسلمه رضي الله عنه د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه دا نقل کوي ۲ چې رسول الله ﷺ د غله په باره کې وفرمايل ۳ هر کله چې هغه غلا وکړي، نو د هغه (راسته) لاس دې پرې کړل شي، ۴ که بيا غلا وکړي، نو د هغه (چپه) پښه دې پرې کړل شي، ۵ که بيا

دریم ځل یې غلا وکړه، نو ځپ لاس دې پرېکړل شي، [٦] که بیا یې غلا وکړه، نو ښی پښه دې پرې کړل شي، (شرح السنة)

تسهیلات: قوله: ثُمَّ إِنْ سَرَقَ.

په دریم ځل د غلا کولو په حد کښې ۲ مذاهب:

په دې باندې دټولو فقهاؤ اتفاق دې چه اول به په غلا باندې ښي لاس کټ کولې شی او په دویم ځل غلاکولو باندې به ګسه خپه کټ کولې شی لیکن دې نه پس به په دریم ځل څه کولې شی په دې کښې د فقهاؤ اختلاف دې.

① جمهورفرمائی که غل په دریم ځل د غلا ارتکاب اوکړو نو دهغه ګس لاس به کټ کولې شی او په څلورم ځل به ترې ګسه خپه کټ کولې شی چه بونډې مونډې پاتې شی

② دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیز په دریم اوڅلورم ځل غلا کولو باندې به ترې لاس نه شی کټ کولې ځکه چه دې سره به دغه سړې بالکل کنډم اوناکاره پاتې شی بلکه داسې سړې به دهمیشه دپاره په جیل کښې اچولې شی اوکه دتعزیرمصلحت او سیاست په بنیادباندې ټول اندامونه پرې کول شی نوداسې کیدې شی.

د اول فریق دلیل: مذکوره حدیث د دوی مستدل دې. په کوم کښې چه دټولو اندامونو د پرې کولوذکر دې

د اول فریق د دلیل جواب: امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه ددې حدیث نه معلومه شوه چه هغه سابقه حدیث منسوخ الحکم دې ځکه چه د ټولو اندامونوختمول په حقیقت کښې انسان ختمول دی حالانکه ددې دپاره د قصاص نظام قائم دې

د دویم فریق دلائل: ① د حضرت عمر رضي الله عنه د فیصلې اود حضرت علی رضي الله عنه د فتوی نه استدلال کړې دې حضرت علی رضي الله عنه فرمائی (انی لأستحی من الله ان لا ادع له یدا یبطش بها ورجلا یمشی بها) یعنی ماته دالله تعالی نه حیاء راځی چه په داسې حالت کښې ئی پرېږدم چه هغه نه خوراك کولې شی نه ځکل کولې شی اونه استنجاء کولې شی

[۳۶۰۳] دبارباره غلا کونکی سزا

۳۶۰۳—[۱۱] (¹) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: [۲] «جِيءَ بِسَارِقٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۳] قَالَ: اقْطَعُوهُ، فَقُطِعَ [۴] ثُمَّ جِيءَ بِهِ الثَّانِيَةَ، [۵] فَقَالَ: اقْطَعُوهُ، فَقُطِعَ [٦] ثُمَّ جِيءَ بِهِ الثَّالِثَةَ، فَقَالَ: اقْطَعُوهُ، فَقُطِعَ [۷] ثُمَّ جِيءَ بِهِ الرَّابِعَةَ، فَقَالَ: اقْطَعُوهُ، فَقُطِعَ [۸] فَأُتِيَ بِهِ الْخَامِسَةَ، فَقَالَ: اقْتُلُوهُ، فَانْطَلَقْنَا بِهِ، فَقَتَلْنَاهُ [۹] ثُمَّ اجْتَرَرْنَاهُ فَأَلْقَيْنَاهُ فِي بِئْرٍ، وَرَمَيْنَا عَلَيْهِ الْحِجَارَةَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

¹) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الحدود/باب في السارق يسرق مرارا (رقم-٤٤١٠)

ترجمه: [۱] و حضرت جابر ﷺ وايي [۲] چې د نبي کريم ﷺ په خدمت کې يو غل راوستل شو . [۳] نو حضور ﷺ حکم وکړي چې د هغه ښي لاس پريکړي، نو د هغه لاس پريکول شو . [۴] دوباره هغه بيا راوستل شو ، [۵] نو حضور ﷺ حکم وکړي، د هغه چپه پښه پريکړي. نو د هغه چپه پښه پريکول شوه، [۶] بيا په دريم ځل هغه راوستل شو ، نو حضور ﷺ حکم وکړي چې د هغه چپ لاس پريکړي، نو د هغه چپ لاس پريکول شو ، [۷] بيا په څلورم ځل هغه راوستل شو ، نو حضور ﷺ حکم وکړي چې د هغه ښي پښه پريکړي. نو د هغه ښي پښه پريکول شوه، [۸] بيا چې په پنځم ځل هغه راوستل شو . نو حضور ﷺ حکم وکړي چې دی قتل کړي، نومونږ هغه ونيولی. او قتل موکړي. [۹] د دې نه وروسته مونږ د هغه مړی راکښولو سره راوړلی، او په کوهي کې مو واچولی. او بيا مو برسيره کاڼي ورباندې وويشتل، (ابوداؤد نسايي)

حل اللغات: ① اِجْتَرَرْنَاهُ: مونږ هغه راښکل

[۱] وَرُوِيَ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ فِي قَطْعِ السَّارِقِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «اقْطَعُوهُ ثُمَّ احْسِمُوهُ».

ترجمه: [۱] او بغوي ﷬ په شرح السنة کې د غله د لاس پريکولو په سلسله کې د نبي کريم ﷺ دا فرمان نقل کړي دی [۲] چې د هغه لاس پريکړي او بيا هغه لاس ته داغ ورکړي

حل اللغات: ① احْسِمُوهُ: داغ ورته ورکړئ.

تسهيلات: **قوله:** فَقُطِعَ:

د احنافو خلاف د حديث څخه استدلال: دا څلورم ځل دي اوبياهم دَ غلا دَ وجې نه خپه پرې کړې شوې ده دَ جمهورو په نيزخوهم دغه ترتيب دې چه ټول اندامونه ترې پرې کړئي

د احنافو جواب:۔ليکن احناف فرمائی چه دا يوجزئی واقعه ده ګنی ضابطه دَ نور لاس پرې کولو نه ده بلکه په دريم ځل غلا باندې به داغل په جيل کښې دَ بندولوحکم دې

په پنځم ځل غلا کولو باندې د قتل حکم: په دې حديث کښې په پنځم ځل غلا کولو باندې د لاس پرې کولو په ځائی دَ قتل کولوئيلی شوی دی او په دې باندې عمل هم شوې دې

د مذکوره حديث نه د احنافو پنځه جوابونه:

① دا مسلسل لاس خپه پرې کول اوبيا قتل کوی ياخومنسوخ دی

② دا قتلول دَ تعزيرحصه ده

③ دا قتلول سياسةً او حکمةً دې

④ دا سړې مرتدشوې وو اودَ ده نعش راښکلو سره معلوميږی چه دادَارتداد صورت وو

⑤ دا قتل دَبغاوت په وجه وو چې هغه د اسلامی رياست نه بغاوت کړې وو ګنی دَ نعش به دا بې حرمتی نه کيدله

[۳٦۰۵] د غل لاس دهغه په غاړه کښې د زوړندولو مسئله

۳٦۰۵–[۱۲] (۱) [۱] وَعَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ قَالَ: [۲] «أُتِيَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَارِقٍ [۳] فَقَطَعَ يَدَهُ [۴] ثُمَّ أَمَرَ بِهَا فَعُلِّقَتْ فِي عُنُقِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت فضاله ابن عبید رضی الله عنه وايي [۲] چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې يو غل راوستل شو، [۳] نو د حضور صلی الله علیه وسلم په حکم سره د هغه لاس پريکول شو ، [۴] بيا حضور صلی الله علیه وسلم حکم وکړي چې د هغه کټ شوي لاس دې د هغه په څټ کې زوړندولې شي (چې نور خلق څني عبرت واخلي) نو هغه لاس د هغه په څټ کې زوړند کړې شو ، (ابوداود نسائي ابن ماجه)

حل اللغات: (۱) فَعُلِّقَتْ: رازوړند کړې شو ، (۲) عُنُق: څټ،

تسهيلات:

د راوي مختصر تعارف:

حضرت فضاله بن عبيد رضی الله عنه : نوم ئې فضاله ابومحمد کنيت دَپلار نوم عبيد بن نافذ او دَ مور نوم ئې عقبه بنت محمد بن عقبه وو. حضرت فضاله رضی الله عنه مدينې ته په راتلوسره مسلمان شوې وو. دَغزوه بدر نه علاوه ئې په ټولو غزواتوکښې شرکت کړې وو او دَ بيعت رضوان دَ شرکت عزت هم دوی ته ملاوشوې وو. (۲) دَحضور صلی الله علیه وسلم دَوفات نه پس هغوی شام ته تشريف يوړو هلته ئې پخپله کور جوړکړو يا حضرت امير معاويه رضی الله عنه جوړشوې ورکړې وو.

حضرت ابودرداء رضی الله عنه دَ دمشق قاضی وو دَ وفات کيدونه وړاندې هغوی فرمائيلې وو چه زما نه پس فضله بن عبيد رضی الله عنه قاضی جوړکړئی خلق به هغوی له دَ لرې لرې نه دَ حديث اوريدو دَ پاره راتلل. يوسړې دَ هغوی نه دَ حديث اوريدو دَپاره راغلو وئی کتل چه خيرن وينښته او پښې ابله دې هغه په حيرانتياسره تپوس اوکړو چه تاسو دَ ښار امير ئی اودا حالت دې. وئی فرمائيل رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ زيات ځان آسانئی او ډول سنګار نه منع کړې وو اوکله کله ئی بربنډې پښې اوسيدل خودلې وو. (۳)

---

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الحدود/باب فی تعليق يد السارق فی عنقه (رقم-٤٤١١) والترمذی فی كتاب الحدود عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فی تعليق يد السارق (رقم-١٤٤٧) والترمذی فی كتاب الحدود عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فی كراهية أن يشفع فی الحدود (رقم-١٤٣٠) والنسائی فی كتاب قطع السارق/باب تعليق يد السارق فی عنقه (رقم-٤٩٨٢) وابن ماجه فی كتاب الحدود/باب تعليق اليد فی العنق (رقم-٢٥٨٧) واحمد فی المسند: ١٩٠/٦

[۲]) اصابه ٢١٠/٢). (٢) مسنداحمد ١٩/٦) (٣) مسنداحمد ٢٢/٦) (٤)الترمذی فی الزهد تب ما جآء فی معيشة النبی صلی الله عليه وسلم) (٥) الترمذی فی الزهد تب ما جآء فی معيشة النبی صلی الله عليه وسلم).

وفات: ٥٣هـ کښې دَ اميرمعاويه رضی الله عنه په دور کښې وفات شو. په دمشق کښې تر ننه پورې دَ هغوی قبر موجود دې. دَ هغوی نه ٥٠ روايتونه نقل دی. په صحيح مسلم کښې دَ هغوی نه دوه روايات نقل دی.

قوله: فَعُلِّقَتْ فِي عُنُقِهِ:

کټ شوې لاس په غاړه کښې د اچولو وجه: يعنی دَ غل پرې کړې شوې لاس په سټ کښې اچولو او دَ زوړندولوحکم ئې ورکړو نبی کريم دا څکه اوکړه چه دا سزا دَخلقو دَپاره عبرت جوړشی اونور دَدې جرم دَ ارتکاب نه منع شی. چنانچه تاريخ ګواه دې چه يوځل دوه داسې کولوسره اسلامی معاشره دَ غلا دَ ګناهونونه پاکه شوه نولاس کټ کول خو غلاسره لازم دی. اولاس دَ غل په غاړه کښې تړل دا سبب دَ عبرت دې او قرآن کريم کښې (**نَكَالًا مِّنَ اللّٰهِ**) کښې دې طرف ته اشاره هم موجود ده لهذا سزا سبب دَ عبرت جوړول جائز دی

په غاړه کښې د کټ لاس په زوړندولو کښې ۲ مذاهب:

① امام شافعی رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی چه په غاړه کښې لاس زوړندول په لاس پرې کولوکښې مسنون دی داسې کول پکاردی

② امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی چه داعمل دَ لاس پرې کولو سره سياسةً مصلحةً او عبرةً دې داخه مستقل سنت نه دی

داول فريق دليل: حديث الباب د دوی مستدل دې

د دويم فريق دليل: نبی کريم هميشه والی سره دَدې التزام نه دې کړې. دَ قاضی دَ رائې اعتبار به کيږی.

[٣٦٠٦] دغلا غلام د خرڅولو حکم

٣٦٠٦–[١٣] (١) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «إِذَا سَرَقَ مَمْلُوكٌ فَبِعْهُ وَلَوْ بِنَشٍّ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضی الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② که غلام غلا وکړي. نو هغه خرڅ کړه، اګر چې د نُش په بدله کې د هغه خرڅول پريوځي. نش د نيم اوقيه يا د شل درهمو برابره دي، (ابوداود نسائي ابن ماجه)

حل اللغات: ① مَمْلُوكٌ: غلام. ② نَشٍّ: د نيم اوقيه.يا د شل درهمو برابر.

(١) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الحدود/باب فی بيع المملوك إذا سرق (رقم-٤٤١٢) والنسائی فی كتاب قطع السارق/باب القطع فی السفر(رقم-٤٩٨٠) وابن ماجه فی كتاب الحدود/باب العبد يسرق (رقم-٢٥٨٩) واحمد فی المسند:٣٣٧/٢

تسهیلات: قوله: وَلَوْ بِنَشٍّ:

د نش لغوی: په نون باندې زبراو شین مشددې دا نصف اوقیه یعنی شل درهموته وائی. مطلب داچه کله غلام غلا اوکړی اودَغلا عادت شی نوهغه په قلیل اوحقیر رقم باندې هم خرڅه وه.

د غلام د خپل مالک نه د غلا په حد کښې مذاهب:

① که چرې غلام دَ خپل آقانه غلا اوکړی نو امام مالک رحمه الله اوامام شافعی رحمه الله فرمائی که چرې غلام دَ خپل مولی نه غلا اوکړی نودَهغه لاس به پرې کولې شی که هغه غلام تختیدلې وی اوکه نه وی تختیدلې.

② امام ابوحنیفه رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی که غلام دَخپل آقانه یابنځه دَخپل خاوندنه یاخاونددَخپلې ښځې نه یاغلام دَخپل آقادَ ښځې نه غلا اوکړی نودَهغه لاس به نه شی پرې کولې

داول فریق دلیل: هغه روایت د دوی مستدل دې په کوم کښې چه راغلی دی حضرت ابن عمر h خپل غل غلام سعیدته حواله کړو چه دَهغه لاس پرې کړی.

د اول فریق د دلیل دوه جوابونه: ① دابن عمررضی الله عنهما په مقابله کښې د عمررضی الله عنه زیات معتبر دې.

② ابن عمر رضی الله عنهم هغه کس د قطع ید دپاره نه وو لیږلې بلکه د تحقیق حال دپاره ئې لیږلې وو هم دا وجه ده چې سعیدبن العاص انکار اوکړواو وئې فرمائیل «لاتقطع ید الآبق إذا سرق»

د دویم فریق دلیل: غلام خپل مولی سره شریك طعام دې لهذادَ مولی مال دَ غلام دَپاره مال محرزنه دې په دې کښې شبه راغله. حضرت عمرفاروق رضی الله عنه داسې تاوان او دَلاس پرې کول وغیره مستردکړی دی هغوی فرمائی «هوخادمکم اخذمتاعکم» په حدیث نمبر (۳۶۰۸) کښې داحدیث راروان دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۶۰۷] د حد د معاف کولو عدم جواز

۳۶۰۷-[۱۴] (١) ① عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: ② «أُتِيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَارِقٍ فَقَطَعَهُ، ③ فَقَالُوا: مَا كُنَّا نَرَاكَ تَبْلُغُ بِهِ هٰذَا، ④ قَالَ: لَوْ كَانَتْ فَاطِمَةُ لَقَطَعْتُهَا». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

---

[١]) اخرجه النسائی فی السنن کتاب قطع السارق/باب ذکر اختلاف ألفاظ النّاقلین لخبر الزّهریّ فی المخزومیّة الّتی سرقت (رقم-۴۸۹۶) واحمد فی المسند:۴۱/۶

ترجمه: ①بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي ②چې يو ځل د رسول الله ﷺ په خدمت کې يو غل راوستل شو، حضور ﷺ چې دهغه د لاس پريکولو حکم وکړي، ③نو صحابه و رضي الله عنهم عرض اوکړو چې زمونږ دا خيال نه وو، چې ته ﷺ به د ده د لاس د پريکولو حکم وکړي (بلکه زمونږ ګمان خو دا وو چې ته ﷺ به يي معاف کړي) ④حضور ﷺ (د دي اوريدو سره) وفرمايل که (زما لور) فاطمه رضي الله عنها هم وي، نو مابه د هغي لاس پريکړي وی . (نسائي)

حل اللغات: ①تَبْلُغُ بِهِ هَذَا: چه ته به ئې دې ته رسوی، (دا حکم به لګوې).

تسهيلات:

قوله: مَا كُنَّا نَرَاكَ:

د صحابؤ د لاس نه کټ کولو خيال راتلو وجه: دا صيغه مجهول لوستلې کيږی اوترجمه دَمعروف وی يعنی په هغوی باندې زمونږ داګمان اوخيال نه وو. صحابه کرامودَ لاس نه پرې کولوخيال کيدې شی دَدې وجې نه کړې وی چه غالبًا داسړې دَنبی کريم دَ خپلوانونه وو يادَخاص متعلقينونه وو. ليکن نبی کريم دين اسلام او دَدې اصولوته اوکتل اودَ هغه خلقودَحيرانتيا په جواب کښې اوفرمائيل چه حدسرقة وغيره ارتکاب که چرې زما لور فاطمه رضي الله عنها هم اوکړی نودَالله تعالى دَدې حکم په مخکښې به بنديزنه جوړيږم.

[۳٦۰۸] د مالک ځخه په غلا کولو د غلام د لاس عدم قطع

٣٦٠٨—[١٥] (١) ①وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى عُمَرَ بِغُلَامٍ لَهُ ②فَقَالَ: اقْطَعْ يَدَهُ فَإِنَّهُ سَرَقَ مِرْآةً لِامْرَأَتِي، ③فَقَالَ عُمَرُ: لَا قَطْعَ عَلَيْهِ وَهُوَ خَادِمُكُمْ أَخَذَ مَتَاعَكُمْ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ①او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې يو سړی حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته خپل غلام راوستلی. ②ورته يي اوويل چې د ده لاس پريکړه، ځکه چې ده زما د ښځی هينداره پټه کړي ده. ③ليکن حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل چې دی د لاس پريکولو مستوجب نه دی. ځکه چې دا ستاسو خدمتګار دی. او ستاسوشی ده آخستلو دی. (مالک)

حل اللغات: ①مِرْآةً: شيشه. آئينه. هينداره.

تسهيلات:

قوله: لَا قَطْعَ عَلَيْهِ وَهُوَ خَادِمُكُمْ:

د غلام د خپل مالک نه د غلا په عدم حد باندې دليل: داحديث دَ ائمه احناف بهترين مستدل دې چه غلام ته دَخپل مولی په مال کښې يوقسم شراکت حاصل دې. حضرت عمر رضي الله عنه هم دَدې علت طرف ته اشاره اوکړه اودې طرف ته ئی هم اشاره اوکړه چه دَ غلام

(١) اخرجه مالک في الموطا کتاب الحدود/باب ما لا قطع فيه (رقم-٣٣)

مخکښې ستاسو مال محرزنه دې لهذا دلاس پرې کول نشته ځکه چه شك پيداشو او (الحدودتندرءبالشبهات) يوه عام ضابطه ده. دې نه وړاندې په حديث نمبر(٣٦٠٦) کښې دَ ائمه دَ اختلاف تفصيل تيرشوې دې. داحديث دَ احنافو دليل دې اوپه دې کښې دَعلت اووجې طرف ته هم اشاره ده.

[٣٦٠٩] په کفن چوړ د حد سرقه جاري کولو حکم

٣٦٠٩-[١٦] ()[١]وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: «قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢]يَا أَبَا ذَرٍّ قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ وَسَعْدَيْكَ [٣]قَالَ: كَيْفَ أَنْتَ إِذَا أَصَابَ النَّاسَ مَوْتٌ يَكُونُ الْبَيْتُ فِيهِ بِالْوَصِيفِ يَعْنِي الْقَبْرَ؟ [٤]قُلْتُ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ [٥]قَالَ: عَلَيْكَ بِالصَّبْرِ.» [٦]قَالَ حَمَّادُ بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ: تُقْطَعُ يَدُ النَّبَّاشِ لِأَنَّهُ دَخَلَ عَلَى الْمَيِّتِ بَيْتَهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١]او حضرت ابوذر رضي الله عنه وايي چې (يوه ورځ) رسول الله ﷺ ماته وفرمايل [٢]چې اې ابوذره! ما عرض اوکړو چې زه حاضر يم، يا رسول الله! ﷺ او فرمانبردار يم. وفرمايه. څه ارشاد دی؟ [٣]حضور ﷺ وفرمايل چې ته به هغه وخت څه کوې؟ هر کله چې مرګ (يعني څه وبا) خلق په خپل ګير کې واخلي؟ آيا هغه وخت به ته د مرګ نه تښتې، يا د صبر او استقامت لار به اختياروې؟ او کور يعنې د قبر ځای به د يو غلام برابر شي (يعني هغه وخت به د وبا په وجه دومره په کثرت سره مرګونه وي چې د يو يو قبر ځای به د يو يو غلام د قيمت برابر واخستل کيږي) [٤]ما عرض اوکړو چې په دې باره کې الله جل جلاله او د هغه رسول ﷺ ښه پوهيږي (يعني زه نه پوهيږم چې هغه وخت به زما څه حال وي؟ آيا زه به د صبر او استقامت لار اختيار کړم، يا خپل مسکن پريښودلو سره به وتښتم؟) [٥]حضور ﷺ وفرمايل چې هغه وخت په تا صبر لازم دی، [٦]حماد ابن سلمه وايي چې د کفن د غله لاس دې پريکول شي، ځکه چې هغه د مړي په کور کې داخل شوی دی. (ابوداؤد)

حل اللغات: ①وَسَعْدَيْكَ: محاوره ده. حاضريم.تابعدار يم ②بِالْوَصِيفِ: کم عمر غلام ③النَّبَّاشِ: کفن چوړ چه د مړو نه کفنونه اوباسي...

تسهيلات:

قوله: بِالْوَصِيفِ:

د وصيف د لفظ تحقيق: دَدې جمع وصائف ده کوم هلك ياغلام چه دَخدمت قابل شي دغه کم عمر ښائسته غلام ته وصيف وائي هم دې نه المستوصف دې کوم چه د سپنسرئی شفاخانه ته وائي.

() اخرجه ابوداود في السنن كتاب الحدود/باب في قطع النّبّاش (رقم-٤٤٠٩)

قوله: النَّبَّاشِ:

د کفن چور د غلا سزا: کفن چور ته وائی داسړی قبرته کوزیږی اودمړی نه نوی کفن راکاږی پته وی اوس دَ دغه غل څه سزاده؟ آیا ده دَ مال محرز غلا کړې ده یادَ دې څه حکم دې په دې کښې دَ فقهاؤ څه معمولی شان اختلاف دې.

د کفن چور په حد کښې ۲ مذاهب:

① دَ جمهورفقهاؤ په نیزدَ کفن دَغل په عمل باندې به دَ غل لاس پرې کولې شی

② دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزبه ئی لاس نه شی پرې کولې البته دَ تعزیرپه توګه به سزا ورکولې شی.

داول فریق دلائل: ① زیرنظر حدیث د دوی مستدل دې دَ استدلال طرز عجیبه دې هغه داسې چه نبی کریم دَ حضرت ابوذر رضی الله عنه نه دَ یوزمانې دتنګوالی اووبائی مرضونودَ وجې دَ زیاتومرګونوطرف ته اشاره اوفرمائیله چه دې وخت کښې به دَ یوبدن برابر دَ قبرځائی یعنی مړی دَپاره کور به دَ یوغلام په عوض ملاویږی.

② حمادبن ابی سلیمان رحمه الله په دې کښې یودقیق نکته راپیدا کړه چه دَ مړی قبردَهغه کوردې او په کورکښې چه کوم مال وی هغه محفوظ اومحرز وی. لهذا که چادَقبریعنی دَ مړی دکورنه کفن پټ کړو نو په دې کښې دَ لاس پرې کول پکاردی ځکه چه هغه مال محرز په پټه یوړو.

③ هغه روایت هم د دوی مستدل دې په کوم کښې چه (من نبش قطعنا) (رواه البیهقی)

④ عقلی دلیل دادې چه دَ کفن غل غل دې اوغلا سرقه ده په کوم کښې چه قطع ید دې

داول فریق د دلائلو دوه جوابونه: داول فریق د مستدلاتو څخه جواب دا دې چه دَ محدثینوپه نیزدا روایات منکرات دی

② که دا مستدلات صحیح هم وی نودا حکم سیاسةً اومصلحةً وزجرًا وارد دې.

د دویم فریق دلائل: ① امام ابوحنیفه رحمه الله ددې حدیث نه استدلال کړې دې (لیس علی النباش قطع) (مصنف ابن ابی شیبه)

② دَ حضرت معاویه رضی الله عنه په دورکښې په دې مسئله بحث اوشو نوعام صحابه کرامو دَ لاس پرې کول منع کړه اوتعزیر ئی جاری کړو

③ ددوی عقلی دلیل دادې چه کفن مال محرزنه دې ځکه چه قبرمکان محرزنه دې.

نوټ: دَ جمهورو په نیزکه چرې غل یوځل دَ غلا اقرار اوکړی نودَ لاس پرې کولودَپاره به دغه اقرار کافی شی دَ جمهورو په مقابله کښې امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی چه غل کله بار بار اقرار کوی نوهله به غلا ثابتیږی او لاس به پرې کړې کیږی.

[۲] بَابُ الشَّفَاعَةِ فِي الْحُدُودِ

په حدودو کښې دَ سفارش بیان

خلاصة الباب:

فیه ثلاثة أحادیث مشتملة علی مسئلتین:

① الزجر لمن یشفع فی السرقة: ۱، ۲.

② تلقین العذر للسارق: ۳.

په حد کښې د چا د شفاعت عدم قبولیت: ملاعلی قاری رحمه الله په دې مقام کښې لیکلی دی چه دَ حدود مقدمه کله دَ حاکم عدالت ته اورسی نو په هغې کښې سفارش کول حرام دی او په دې باندې دَ امت اجماع ده. اوکه چرې مقدمه تردغه وخته پورې دَ حاکم مخې ته نه ده رسیدلې نودَ رسیدلونه وړاندې سفارش کول دَ اکثرو علماؤ په نیزجائزده په دې شرط چه په هغه سړی کښې شر اوفساد نه وی دَ چادَپاره چه سفارش کولې شی دَ حدودو نه علاوه په تعزیراتو کښې سفارش کول مطلقًا جائزدې ځکه چه دَ تعزیر تعلق نسبتًا معمولی جرائم سره وی. بې ځائه او په ځائی سفارش دَ دې مفهوم هرځائی په ذهن کښې ساتل پکاردی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳٦۱۰] په حدودو کښې د سفارش عدم قبولیت

۳٦۱۰ - [۱] (¹) [۱] عَنْ عَائِشَةَ، «أَنَّ قُرَيْشًا أَهَمَّهُمْ شَأْنُ الْمَرْأَةِ الْمَخْزُومِيَّةِ الَّتِي سَرَقَتْ، [۲] فَقَالُوا: مَنْ يُكَلِّمُ فِيهَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۳] فَقَالُوا: وَمَنْ يَجْتَرِءُ عَلَيْهِ إِلَّا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ حِبُّ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَكَلَّمَهُ أُسَامَةُ [۴] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَتَشْفَعُ فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللهِ ثُمَّ قَامَ فَاخْتَطَبَ

ترجمه: [۱] د بي بي عائشې رضي الله عنها بیان دی چې یو ځل قریشی صحابه رضي الله عنهم د یوې مخزومي ښځې په باره کې ډیر فکرمند وو. چې هغې غلا کړې وه او د خلقو نه عاریةً سامان اخستو سره په هغه به منکره کیده هم. او حضور ﷺ د هغې د لاس د پریکولو حکم کړې وو، [۲] هغه قریشي صحابه وُ رضي الله عنهم په خپل منځ کې مشوره وکړه. چې د دې ښځې په مقدمه کې کوم سړی حضور ﷺ ته سفارش کولی شي؟ [۳] بیا هغوئ دا اوویل چې د حضرت

(¹) اخرجه البخاری فی کتاب أحادیث الأنبیاء/باب حدیث الغار (رقم-۳٤۷۵) ومسلم فی کتاب الحدود/باب قطع السارق الشریف وغیره. والنهی عن الشفاعة فی الحدود (رقم-۸ - (۱٦۸۸)والنسائی فی کتاب قطع السارق/باب ذکر اختلاف ألفاظ الناقلین لخبر الزهری فی المخزومیة التی سرقت (رقم-٤۸۹۹) وابن ماجه فی کتاب الحدود/باب الشفاعة فی الحدود (رقم-۲۵٤۷)

اسامه ابن زيد رضي الله عنه سره د رسول الله ﷺ ډير محبت او تعلق دى. څكه په دي باره كې حضور ﷺ ته د څه ويلو جرأت د اسامه نه ماسوا بل څوك نشي كولى (نو هغوئ تولو حضرت اسامه رضي الله عنه (د هغه خلقو په وينا) حضور ﷺ سره خبري وكړي) (د هغه خبره اوريدو سره) وفرمايل ته د الله ﷻ د حدود نه د يو حد په باره كې سفارش كوي؟ نو بيا حضور ﷺ ودريدلو او خطبه يي وركړه.

حل اللغات: ① أَهَمَّهُمْ: فكرمند كړل هغوى . ② شَأْنُ الْمَرْأَةِ: د يوې ښځې باره كښې. ③ يَجْتَرِءُ: جرأت كوى،

[١] ثُمَّ قَالَ: إِنَّمَا أَهْلَكَ الَّذِينَ قَبْلَكُمْ أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الشَّرِيفُ تَرَكُوهُ [٢] وَإِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الضَّعِيفُ أَقَامُوا عَلَيْهِ الْحَدَّ [٣] وَايْمُ اللهِ لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ([١] او دحمد وثناء نه وروسته يي په دى خطبه كي) وفرمايل چې ستاسو نه مخكې چې كوم خلق تير شوي دي، هغه دا شي هلاك كړل، كه په هغوئ كې به يو شريف سړي (يعني د دنياوي عزت او طاقت والا) به غلا وكړه، نو هغه به يې بې سزا پريښودلى. [٢] او كه يو كمزورى غريب سړي به غلا وكړه، نو هغه ته به يي سزا وركوله. [٣] قسم په خداى كه دمحمد ﷺ لور فاطمه رضي الله عنها هم غلا وكړي، نو زه به دهغى لاس پريكړم، (بخاري مسلم)

حل اللغات: ④ وَايْمُ اللهِ: قسم په الله،

[١] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَتْ: كَانَتِ امْرَأَةٌ مَخْزُومِيَّةٌ تَسْتَعِيرُ الْمَتَاعَ وَتَجْحَدُهُ [٢] فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَطْعِ يَدِهَا [٣] فَأَتَى أَهْلُهَا أُسَامَةَ، فَكَلَّمُوهُ فَكَلَّمَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهَا ثُمَّ ذَكَرَ الْحَدِيثَ نَحْوَ مَا تَقَدَّمَ

ترجمه: [١] او د مسلم په يو روايت كې داسې دي چې د بي بي عائشي رضي الله عنها بيان دى د يوې مخزومي ښځي دا عادت وو چې هغى به د خلقو نه څه څيز عاريةً آخستلو . او بيا به يي د هغه نه انكار كولى (چې ما نه دي آخستلو) [٢] نبي كريم ﷺ د هغى د لاس د پريكولو حكم وكړي چې هر كله د هغى ښځي عزيزانو ته د دې خبري علم وشو ، [٣] نو هغه حضرت اسامه رضي الله عنه ته راغلل، او په دي باره كې يي ورسره خبري وكړي (چې هغه حضور ﷺ ته سفارش وكړي) بيا اسامه رضي الله عنه حضور ﷺ ته د هغه متعلق عرض وكړو. د دې نه وروسته د حديث هغه الفاظ مذكور دي كوم چې په پورته حديث كې نقل شوى دى

⑤ تَسْتَعِيرُ: عاريت باندې غواړى ، استعمال دپاره څه څيز غواړى ، ⑥ الْمَتَاعَ : سامان،
⑦ وَتَجْحَدُ: انكار كوى.

تسهیلات:

قوله: أَهَمَّهُمْ: یعنی قریش ئې پریشان کړې وو

ه المرأة مصداق: "المرأة" دا ښځه فاطمه بنت اسود بن عبدالاسد وه چه دَ ابو سلمه وریره وه.

ه حدیث ه بعضې جملو وضاحت:

① المخزومیة: یعنی دَ قریشو لوئی قبیلې بنومخزوم سره دَ هغې تعلق وو دَ ابوجهل تعلق هم دې قبیلې سره وو

② ومن یجترء: یعنی دَدې سفارش جرأت څوك كولې شی یعنی څوك ئې هم نه شی کولې دا استفهام انکاری دې

③ حب رسول الله: یعنی محبوب رسول ﷺ دا لفظ دَ حاء کسره سره دې اوباء باندې شد دې

④ فاختطب: اختطاب دَ خطبه ورکولو په معنی کښې دې یعنی نبی کریم دَ صحابه کرامو په مخکښې بیان اوکړو چه دَدې بې ځایه سفارش نوعیت په ټولو باندې ښکاره شی

⑤ وَايْمُ الله" دا دَ قسم الفاظ دی ای اقسم بالله یعنی دَ الله قسم خوړلو سره وایم

⑥ تستعير: په عاریت باندې سامان غوښتل

⑦ وتجحده" یعنی بیائی انکارکولو شارحین حدیث لیکلی دی چه دَدې کلام نه مقصود صرف دَ هغه ښځې تعارف کول دی ځکه چه په عاریت باندې اخستې شوې څیز انکار سره دَ لاس پرې کول واجب کیږی نه اوحقیقت کښې واقعه هم داسې نه وه بلکه په اصل کښې هغه ښځه دَ غلا عادت وه.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۶۱۱] په حد کښې سفارش دالله تعالی دحکم بغاوت

۳۶۱۱—[۲] ( ) ① عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: ② «مَنْ حَالَتْ شَفَاعَتُهُ دُونَ حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللهِ فَقَدْ ضَادَّ اللهَ، ③ وَمَنْ خَاصَمَ فِي بَاطِلٍ وَهُوَ يَعْلَمُهُ ④ لَمْ يَزَلْ فِي سُخْطِ اللهِ تَعَالَى حَتَّى يَنْزِعَ، ⑤ وَمَنْ قَالَ فِي مُؤْمِنٍ مَا لَيْسَ فِيهِ ⑥ أَسْكَنَهُ اللهُ رَدْغَةَ الْخَبَالِ ⑦ حَتَّى يَخْرُجَ مِمَّا قَالَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُودَاوُدَ

ترجمه: ① عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما وایي چې ما د رسول الله ﷺ نه دا واوریدل ② د کوم سړي سفارش چې د الله ﷻ په حدودوکي د یو حد په منځ کې حائل شي (یعني کوم سړی چې د خپل سفارش په ذریعه حاکم د حد د نفاذ نه منع کړي) هغه د الله ﷻ سره ضد وکړي (او

( ) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الأقضية/باب فیمن یعین علی خصومة من غیر أن یعلم أمرها (رقم-۳۵۹۷) وابن ماجه فی کتاب الأحکام / باب من ادّعی ما لیس له وخاصم فیه (رقم-۲۳۲۰) واحمد فی المسند: ۲/ ۷۰

ګویا داسې هغه د الله ﷻ د حکم مخالفت وکړي. ځکه چې د الله ﷻ حکم دا دی چې په هغه دې حد جاري شي ۩ او کوم سړی چې سره د پوهه یدو په یو ناحقه او دروغ خبره کې د چا سره جنګ وجدل کوي (یعني هغه پوهیږي چې دا خبره ناحقه او غلطه ده. خو با وجود د دې په هغه کې جنګ وجدل کوي) ۩ نو هغه هغه وخته پورې د الله ﷻ په غضب کې وي د خو پورې چې د هغه نه منع نشي. ۩ او کوم سړی چې د یو مؤمن په باره کې یوه داسې خبره وکړه. چې په هغه کې نشي موندلی (یعني په یو مومن یې څه عیب ولګولی. یا د هغه طرف ته د څه غلطي خبري تهمت کولو سره یې ورته نقصان ورسولی) ۩ نو الله ﷻ به هغه هغه وخته پورې د دوزخیانو په ختهه نو (پیپ) او په وینه کې ساتي. ۩ د خو پورې چې هغه د خپلې کړي خبري نه راونه وځي (یعني د خو پورې چې هغه توبه نبکلو سره د هغه ګناه نه منع نشي، هغه به د دوزخیانو په حالت کې وي. یا دا چې د خو هغه د هغه ګناه د عذاب تیرولو سره پاك نشي، د دوزخیانو په منځ کې به وي) دا روایت احمد رحمه الله او ابوداود رحمه الله نقل کړي دی

حل اللغات: ①حَالَتْ: دَ حیلولت نه، حائله شوه، ②ضَادَّ: ضد ئې اوکړو. ③خَاصَمَ: جګړه ئې اوکړه ④سَخَطِ: غصه. ⑤يَنْزِعَ: چه اوځی. منع شی. ⑥أَسْكَنَهُ: اوبه ئې ساتی. ⑦رَدْغَةَ: خټه. بساوره. ⑧الْخَبَالِ: وینه. پیپ. نو.

> ۩ وَفِي رِوَايَةِ الْبَيْهَقِيِّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ: ۩ «مَنْ أَعَانَ خُصُومَةً لَا يَدْرِي أَحَقٌّ أَمْ بَاطِلٌ ۩ فَهُوَ فِي سَخَطِ اللهِ حَتَّى يَنْزِعَ».

ترجمه: ۩ او بیهقي رحمه الله په شعب الایمان کې دا الفاظ هم نقل کړي دی ۩ چې کوم سړی په یو داسې جنګ کې مدد وکړي چې د هغه د حق او ناحق کیدو هغه ته علم نه وي. ۩ نو د خو پورې چې هغه د خپل مدد نه منع نشي. د الله ﷻ په غضب کې به وي

حل اللغات: ⑨أَعَانَ: مدد ئې اوکړو ⑩خُصُومَةً: جنګ. جګړه

تسهیلات:

د راوي مختصر تعارف:

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه: د دوی نوم عبدالله. کنیت ئې ابوعبدالرحمن او د پلار نوم ئې حضرت عمر رضي الله عنه دې او د مور نوم ئې زینب بنت مظعون دې

اسلام قبلول: د خپل پلار سره یوځائې مسلمان شوې دې د پلار سره ئې د مکې نه مدینې ته هجرت کړې وو په بدر او احد کښې ئې ورته د شرکت اجازت نه وو ملاؤ شوې ځکه چه ماشوم وو [1]

[1] طبقات ابن سعد

غزواتو کښې شرکت: په غزوه خندق، بيعت رضوان، فتح مکه، غزوه حنين، محاصره طائف. حجة الوداع، غزوه تبوک ټول کښې ئې دنبی کريم ﷺ سره شرکت کړې وو د فتنې نه ډير لرې وو د يزيد په لاس ئې بيعت کړې وو او دا ئې فرمائيلی وو که دې بيعت کښې خير وی نو مونږ پرې راضی يو او که په دې کښې شر وی نو مونږ پرې صبر کوو [۱] حضرت ابن عمر رضي الله عنه ته به خلقو د علم او عمل درياب وئيل د دنيا نه کناره کشی حضرت عثمان رضي الله عنه ورته د قضاء عهده پيش کړله خو دوی د قبلولو نو انکار اوکړو په ملکی انتظاماتو کښې ئې بيخی حصه نه اخستله

خصوصی صفات: د دوی په ژوند کښې څو خصوصی صفات وو ① د سنت تابعداری ② د الله تعالی ويره ③ د غريبانو سره همدردی ④ سخاوت ⑤ د اختلاف نه پرهيز ⑥ د مشتبهاتو نه اجتناب

د قرآن سره مينه: د قرآن پاک سره ئې خصوصی تعلق وو په قرآن کښې به ئې ډير سوچ او فکر کولو ددې اندازه د دې نه لګی چه صرف سوة بقره ئې په ۱۴ کاله کښې ياده کړې وه

د حديث سره تعلق: د قرآن نه پس ئې د احاديثو سره مينه وه کله چه به د نبی کريم ﷺ په مجلس کښې موجود نه وو او د دوی په غيرحاضرئ کښې به نبی کريم ﷺ ارشادات فرمائيلی وو نو د نورو خلقو نه به ئې دهغې تپوس نه کول او هغه به ئې يادول

وفات: د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه په مدنيه منوره کښې د مرګ ډيره تمنا وه اودا به ئې وئيل د کومې زمکې نه چه ما هجرت کړې دې په هغې کښې زه مرګ نه خوښوم هغوی دا وصيت هم کړې وو که زه په مکه کښې مړ شوم نو ما به د حرم نه بهر دفن کوئ زه عاجز شاه فيصل چه په کال ۱۴۳۱ کښې حج ته تلې ووم نو هلته راته الله تعالی د دوی د قبر زيارت هم رانصيب کړل هغه داسې چه زمونږ يو ملګرې وو هغوی د دوی قبر معلوم وو هغوی د ځان سره واخستلو او د دوی قبرته لاړلود دوی د قبر نه ګيرچاپيره ديوال تاؤ وو او په مينځ کښې د دوی قبر مبارک وو خوا کښې ورسره يوه زوړ کنډر هم وو کوم چه د خپلې زمانې مضبوط کور ښکاريدلو خو مونږ ته دا معلومه نه شوه چه دا کوم ځائې دې بهر صورت د حج په دې مبارک سفر کښې الله تعالی دې عاجز ته ډير تاريخی مقامات اوخودل

مرويات: د دوی د رواياتو تعداد ۱۲۳۰ دې په دې کښې په ۸ حديثونو کښې بخاری اوپه ۳۱ کښې مسلم منفرد دې

[۱] طبقات ابن سعد تذکرة ابن عمر رضي الله عنه_(۲) تذکرة الحفاظ (۱\ ۳۵)- (۳)موطا امام مالک) - (٤)اصابة (٤\۱۰۹)_ (۵) طبقات ابن سعد (٤\۱۳۸)_(۶)تهذيب الکمال (۲۰۷)_(۷) رواه مسلم فی الذکرباب استحباب الاستغفار والاستکثار منه رقم ٤۸۷۰ وکذا ابو فی الصلاة رقم ۱۲۹٤ واحمد مسند الشاميين رقم ۱۷۱۷۳)_

قوله: مَنْ حَالَتْ شَفَاعَتُهُ دُونَ حَدٍّ:

د دون د لفظ لغوی تحقیق: دون نه دَ جدا جدا په معنی کښې دي. دا لفظ کله دَ سوا په معنی کښې راځی اوکله ادون دَ کم تر په معنی کښې راځی دلته دَ جدا جدا په معنی کښې دې یعنی حد دیخوا پاتې شو اودَ هغه سرې سفارش وړاندې راغلو حائل شو

قوله: أَسْكَنَهُ اللّٰهُ رَدْغَةَ الْخَبَالِ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې اقوال: ① په راء باندې زبردې او دال باندې سکون هم جائزدې اوزبرهم صحیح دې ختې او خاورې ته وائی الخبال: په خاء باندې زبردې دَ فساد په معنی کښې دې دلته دَ دوزخیانودَ بدن وینه او نوونه مراد دی. کوم ته چه په بل حدیث کښې عصارة اهل النار وئیلې شوې دې.

② بعضې شارحینووئیلی دی چه خبال په دوزخ کښې دَ یوې کندې نوم دې چرته چه دا گنده گیرئی جمع کیږی. بهرحال دَ دغه مجموعه کلمې ترجمه خیری سره کولې شی چه دَ دوزخیانو وینې نوونه او نورې گنده گیرئی به څکی. (اعاذنا الله منه)

[۳۶۱۲] په مقر باندې د حد سرقه د جاری کولو حکم

۳۶۱۲-[۳] ( ) [۱] وَعَنْ أَبِي أُمَيَّةَ الْمَخْزُومِيِّ «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِلِصٍّ [۲] قَدِ اعْتَرَفَ اعْتِرَافًا [۳] وَلَمْ يُوجَدْ مَعَهُ مَتَاعٌ [۴] فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا إِخَالُكَ سَرَقْتَ، قَالَ: بَلَى. [۵] فَأَعَادَ عَلَيْهِ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا كُلَّ ذٰلِكَ يَعْتَرِفُ [۶] فَأَمَرَ بِهِ فَقُطِعَ وَجِيءَ بِهِ [۷] فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اسْتَغْفِرِ اللّٰهَ وَتُبْ إِلَيْهِ

ترجمه: [۱] او ابو امیه مخزومی ﷺ بیان کوي چې یو ځل د نبي کریم ﷺ په خدمت کې یو غل پیش کړل شو. [۲] چې هغه د خپل جرم ښکاره اقرار وکړي. [۳] لیکن د غلا په مال کې هیڅ د هغه سره را ونه ختل. [۴] رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل چې زما خیال نه دی چې تا غلا کړې ده. هغه اوویل چې هو. ما غلا کړیده [۵] حضور ﷺ ورته دوباره او دری باره دا اوویل چې (زما خیال نه دی چې تا غلا کړیده) خو هغه به هر ځل دا اقرار کولی (چې ما غلا کړیده) [۶] آخر حضور ﷺ د هغه د لاس د پریکولو حکم وکړي. او د هغه لاس پرې کړې شو. [۷] بیا (د لاس پریکولو نه وروسته) هغه د حضور ﷺ په خدمت کې راوستل شو. نو رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل چې (د خپلی ژبې په ذریعه د) الله ﷻ نه بخښش وغواړه (او د خپل زړه په ذریعه) د هغه طرف ته متوجه سه.

حل اللغات: ① لِصّ: غل. ② مَا إِخَالُكَ: زه خیال نه کوم. زما خیال نه دې. گمان نه دې

[۱]) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الحدود /باب فی التلقین فی الحدّ (رقم-۴۳۸۰) وابن ماجه فی کتاب الحدود /باب تلقین السارق (رقم-۲۵۹۷)

[١] فَقَالَ: أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ [٢] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اللّٰهُمَّ تُبْ عَلَيْهِ. ثَلَاثًا». [٣] رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه: [١] هغه سړي اوويل چې زه د الله ﷻ نه بخښنه غواړم، او د هغه طرف ته متوجه کیږم (یعني توبه کاږم) [٢] نو رسول الله ﷺ دري ځله وفرمایل چې اې الله! د ده توبه قبوله کړي [٣] (ابوداود نسائي ابن ماجه دارمي)

٣٣-٣ [١] هَكَذَا وَجَدْتُ فِي الْأُصُولِ الْأَرْبَعَةِ وَجَامِعِ الْأُصُولِ. وَشُعَبُ الْإِيمَانِ وَمَعَالِمُ السُّنَنِ عَنْ أَبِي أُمَيَّةَ () [٢] وَفِي نُسَخِ الْمَصَابِيحِ عَنْ أَبِي رِمْثَةَ بِالرَّاءِ وَالثَّاءِ الْمُثَلَّثَةِ بَدَلَ الْهَمْزَةِ وَالْيَاءِ.

ترجمه: [١] او صاحب مشکوٰة فرمایي چې ما دا روایت په دي څلورو اصل کتابونو (ابوداؤد نسائي ابن ماجه دارمي) کې، اوپه جامع الاصول کې او د بیهقي رحمه الله شعب الایمان کې، او د خطابي رحمه الله په معالم السنن کې دغه شان یعنی د ابو امیه رضي الله عنه نه منقول پیدا کړي دی. [٢] لیکن د مصابیح په بعضو نسخو کې په دي روایت کې ابو رمثه (همزه او د یا په ځای راء مکسوره او په ثاء مثلثه سره) نه منقول دی (خو شیخ ابن حجر عسقلاني رحمه الله وضاحت کړي دی، چې د دې روایت د ابو رمثه نه منقول کیدل غلط دی. او ابو رمثه رضي الله عنه اګر چې صحابي دی، لیکن دا روایت د هغه نه منقول نه دی).

تسهیلات:

قوله: مَا أَخَالُكَ سَرَقْتَ مَا أَخَالُكَ:

د تلقینِ عذر معنی او حکم: په همزه باندې زیر لوستلې کیږی دا زیات راجح دې داد خال یخال نه د اظن په معنی کښې دې د دې جملې نه د نبی کریم مقصددا وو چه دا سړې دخپل اعترافی بیان نه واوړی یابیان بدل کړی دې دپاره چه د ده نه حد ساقط شی او په حدودالله کښې د حاکم دپاره داسې تلقین کول یا د قاضی دپاره مناسب دې د دې عمل نوم "تلقین عذر" دې د امام شافعی رحمه الله په نیزداعمل په ټولو حدودو کښې جائز دې لیکن د امام ابوحنیفه رحمه الله او نور ائمه حضراتو په نیز تلقین عذرحد زناسره خاص دې

قوله: اللّٰهُمَّ تُبْ عَلَيْهِ.

په حد سره د ګناه د نه معاف کیدو دلیل: دې نه داخبره معلومیدې شی چه حدودالله زاجرات دی طاهرات نه دی لکه څنګه چه د احنافو مسلك دې دلته د حد لګیدلو نه پس هم د استغفار دعاکول د دې تائید دې سره د دې چه واضح تر احادیث د حدود په مکفرات و طاهرات کیدو باندې دال دی او دامسئله په تفصیل سره تیره شوې ده

() مصابیح السنه رقم الحدیث ٢٧٢١

[۳] بَابُ حَدِّ الْخَمْرِ

دَشرابو دَحد او حرمت بیان

خلاصة الباب:

فیه ثمانیة أحادیث مشتملة علی أربع مسائل:

① مقدارحد الشرب أولاًوآخراً : ۱، ۲، ۴، ۵، ۸۔

② حکم شار الخمر مراراً: ۳۔

③ تذلیل الشارب : ۴، ۵۔

④ التخفیف فی حد شرب الخمر: ۶، ۷۔

دَشرابو حُرمت [حراموالې] او دې سره تړلې حکمونه: دَاسلام په شروع کښې دَنورو جاهلی طریقوپه شان شراب نوشی هم عامه وه هرکله چې رسول الله ﷺ دَهجرت کولونه پس مدینې منورې ته تشریف راوړلونودغلته هم دَشرابوڅکلواوجوارئ کولورواج ؤوعام خلق دَدې دواړوخیزونوپه ظاهری فائدوعاشقان ؤود ې کښې دتنه ډیرو نقصاناتو اوناکاروالی ته دَهغوئ فکرنه وولیکن دَ الله جلّ شانه دَعادت په جوړپه هرقوم اوملک کښې څه عقلمندخلق هم وی چې عقل لره په طبیعت غلبه ورکوی اودَعقل په مقابله کښې.خواهش پریږدی .په دې معامله کښې دَنبی کریم ﷺ مقام ډیرزیات لوړوو.کوم خیزچه روستوحرامیدونکې وو دَهغوئ طبیعت دَوراندې نه دَ هغې نه کرکه کوله صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې هم دغه شان داسې صاحبان ووکوموچه دَحلالوالی په زمانه کښې هم کله شرابوله لاس نهٔ وو وراُوړې.مدینې طیبې ته په رسیدویوڅوصحابه کرامو رضی الله عنهم ته ددې دَ خرابو او ناکار والو زیات احساس اوشولکه چې حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه معاذبن جبل رضی الله عنه او یو څو نور انصاری صحابه هم دَدې احساس له کبله دَنبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړوچه شراب اوجواری [خمار] خودَانسان عقل هم خرابوی او مال هم تباه کوی دې باره کښې ستاسوڅه حکم دې ددې په جواب کښې داآیت نازل شو داهغه ړومبی آیت دې چې کوم کښې مسلمانانولره دَشرابواوجوارئ نه منع کولودَپاره ړومبې قدم پورته کړې شو

په دې آیت کښې دابنودل شوی دی چې په شرابواوجوارئ کښې څه ظاهری فائده خواړُومړُو او خامخا شته مګردګناه غټې غټې خبرې هم ترپیدا اکیږی چې په فائدوئې غالبې دی.دګناه دَخبرونه مطلب دګناه سببونه دی مثلاً په شرابو کښې دَټولونه غټه خرابی داده چې عقل اوپوهه پرختم شی کوم چې دَټولوانسانی کمالاتواوشرافت جوړه ده څکه چې صرف دَعقل په زوردَبدوکارونونه انسان منع کیدې شی داچه نهٔوی نو دَټولو

بدو کارونو دَپاره لار خلاصیږی

په دې آیت کښې په ښکاره ډول شرابو ته حرام نهٔ دی وئیلی شوی خوخرابئ اونقصانونه ئې بیان کړې شوچه دَشرابو څکلو په وجه بنیادم په ډیروگناهونو او خرابو کښې راګیریدې شی ګویا کښې دَشرابوپرېښودودَپاره یومشوره ورکړې شوې ده هم دغه وجه ده چې ددې آیت په نازلیدو دَصحابه کرامودوه ډلې جوړې شوې یوې ډلې خودامشوره قبوله کړه اوشراب ئې بیخی پرېښودل او څه صحابه کرام رضی الله عنهم په دې خیال ددې څکل جاری اوساتل چې داخوحرام ناکلې شوی نهٔ دی صرف دَ خرابو او نقصانونو ذکرئې شوې دې دغې نقصانونواوخرابونه به ئې ځان سا تلوتردې چې[۱] یوورځ دَحضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه له طرفه په ورکړې شوی دعوت کښې دَخوراک نه پس شراب اوڅکلې شُودَماښام وخت ؤودَمانځهٔ دَپاره ئې کوم کَس چې امام جوړکړې ؤوهغه دَنشې په حالت کښې ﴿قُلْ يَاأَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ﴾ په مانځه کښې غلط اولوستو نودَشراب بندولودَپاره دَدوئیمې پوړی[ځینې] په ډول داآیت نازل شو ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى﴾ اې ایماندارو تاسو دَنشې په حالت کښې دَمانځهٔ خواته مه ورځئ

دې سره صرف دَمانځهٔ په وختونو کښې شراب بیخی حرام کړې شو اوپه نورو وختونو کښې بیاهم اجازت وویوې ډلې دَصحابه کرامو رضی الله عنهم خوورانه دې نه شراب پرېښی ووکله چې داآیت نازل شونوهغوئ اووئیل چې کوم یوڅیز دَمونږ نه سرې منع کوی هغه دَمونږ ولې اوکړوڅکه چې په هغې کښې هیڅ خیرنشته مګر دَمونږ دَوختونونه بغیرهرکله چې دَشرابوحراموالې اوس هم په ښکاره ډول نهٔ وونازل شوې نوبعضې صحابه کرامو رضی الله عنهم به دَمانځهٔ دَوختونونه بغیر شراب څکل تردې چې دَعتبان بن مالک رضی الله عنه له طرفه په ورکړې شوی دعوت کښې دَخوراک څکاک نه پس درواج په جوړشراب. اوڅکلې شودَنشې په حالت کښې دَدستورپه مطابق دَشعروشاعرئ اودَ فخرونوکولوبیان شروع شو سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه په یوقصیده کښې دَانصاروبداودَخپل قوم ښه اووئیل یوانصاری ځوان رضی الله عنه له غصه ورغله اوداوښ دَجامنې [زامنې] هډوکې ئې دَسعدبن ابی وقاص سرله راپرېښودو هغه سخت زخمی شو حضرت سعد دَحضور ﷺ په خدمت کښې دَانصاری ځوان ګیله اوکړه نونبی ﷺ دادعا اوکړه [اللهم بین لنا فی الخمر بیانا شافیا] چه اې الله دَشرابوپه باره کښې مونږ ته څه ښکاره بیان اوقانون راکړې نودَشرابوپه باره کښې درئیم خل دَبیخی حرمت[حراموالی]حکم دَسورت مائده داتفصیلی آیت نازل شو[۲].

[۱]) سنن ابی داود، کتاب الأشربة، باب تحریم الخمر: ج ۲، ص ۵۱۷

[۲]) صحیح مسلم، کتاب الفضائل، فضل سعد بن أبی وقاص: ج ۲، ص ۲۱۸

﴿يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ وَالْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝ اِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّوْقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَعَنِ الصَّلٰوةِ فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ ۝﴾ يعنى اې ايماندارو خبره داده چې شراب او جوارى او بُتان او دَجوارئ غشى دا ټول گنده خيزونه شيطانى خبرې دى تاسو بيخى دې نه ډډه كوئ دَپاره دَدې چې تاسو خلاصې بيا مومئ شيطان خو دا غوارى چې دَشرابو او جوارئ په ذريعه ستاسو منځ كښې بُغض او دښمنى پيدا كړى او دَ الله ﷻ دَياد او دَمانځه نه تاسو بند كړى، نو اوس به هم منع شئ؟

دَ شرابو دَ حراموالى درجه په درجه حُكمونه :: دَ الله ﷻ دَحُكمونو اصلى او حقيقى حكمتونه هم احكم الحاكمين پيژنى مگر په احكامِ شرعيو كښې په ژور كتو سره دا معلوميږى چې دَاسلامى شريعت په احكامو كښې دَانسانى جذباتو ډير خيال ساتلې شوي دي چې په دې عمل كولو كښې بنيادم ته ډير تكليف نهٔ وى پخپله قرآن كريم فرمائى ﴿لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا﴾ [البقرة] يعنى الله ﷻ په انسان داسې حكم نهٔ چلوى چې دَهغه دَطاقت او توفيق نه بره وى هم دَدې رحمت او حكمت تقاضا وه چې دَشرابو په حرامَولو كښې اسلام دَوار په وار نه كار اغستې دې

وار په وار دشرابو بندَولو او حرامَولو دَقرآنى تاريخ خلاصه داده چې دَشرابو په باره كښې څلور آيتونه نازل شوى دى، يو آيت دَسورت بقره دې دكوم تفسير چه اوس لگيا دې كوئى. دې كښې دَشرابونه دَپيدا كيدونكو گناهونو او نقصانونو بيان دې دَحراموالى بيان ئې نشته گويا كښې دَدې دَپريښودو مشوره ئې وركړه دَدې حكم ئې ورنكړو

دَسورت نساء په بل آيت ﴿لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى﴾ كښې خاص دَمونځونو په وختونو كښې شراب حرام او ناكلې شو په نورو وختونو كښې ئې اجازت وو

دريم او څلورم دَسورت مائده دا دوه آيتونه دى چې اوس وړاندې تير شوى دى په دې كښې شراب بيخى حرام او ناكلې شو

اسلامى شريعت دَشرابو حرامَول وار په وار څكه اوكړل چې دټول عمر عادت بيا په تيره تيره دَنشې عادت پريښودل بنيادم ته ډير گران پريوځى علماء كرام فرمائى ﴿ فطام العادة اشد من فطام الرضاعة ﴾ يو عادت پريښودل دې نه ډير زيات گران دى چې يو ماشوم دَتى نه پريكړې شى له دې وجې اسلامى شريعت دَحكيمانه اصولو په جوړاول دَدې بدوالي په دماغو كښې كښينولو بيائې دَمونځونو په وختونو كښې حرام كړل بيا دَيوې خاصې مودې نه پس ئې بيخى حرام كړل

وار په وار دَشرابو حرامَول دَحكمت خُداوندى تقاضا وه دغه رنگ دَحرامولو نه پس

هم دغه قانون په پوره سختئ سره جاري کول هم دَحکمت خداوندی تقاضاوه له دې وجې رسول الله ﷺ دَشرابو په باره کښې اول دعذاب سخت وعیدونه اوښودل لکه فرمائ چې دا [ام الخبائث] [دَ پلیتو مجموعه] او [ام الفواحش] [دبیحیایو مجموعه] ده دَدې په څکلو بنیادم په خرابو خرابو ګناهونو کښې ګیریدې شی

په یوحدیث شریف کښې ارشادفرمائ چې شراب او ایمان یوځائې کیدې نشی [دا روایتونه په نسائ کښې دی په جامع ترمذی کښې دَحضرت انس رضي الله عنه نه روایت دې چې حضور ﷺ دَشرابو په باره کښې په لسو کسانو لعنت ونیلې دې په نچوړوونکی. جوړوونکی. څکونکی. څکوونکی، دَدې په باروونکی اوراوړونکی چاته چې راوړې شی. په خرڅوونکی، اغستونکی، دَدې په بخښونکی ګټه خوړونکی[۱] بیائې دَخُلې په تعلیم او تبلیغ بس نکړه بلکه په عملی اوقانونی ډول ئې اعلان اوفرمائیلو چه چاسره کوم قسم شراب وی هغه دفلانی ځائې کښې جمع کړی.

صحابه کرامو دَحکم منلو بې انتها جذبه لرله: دَرومبی حکم په آؤریدو سره منونکو صحابه کرامو رضي الله عنهم په خپلو خپلو کورونو کښې دَخپل استعمال دَپاره ایښی شراب هم هغه وخت تونې کړل دَحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه بیان دې چې کله دَنبی کریم ﷺ له طرفه ډنډورچی [اعلان کوونکی] دَمدینې منورې په کوځو کښې دَشرابو دَحرامیدو اعلان اوکړو نو که دَچاپه لاس کښې دَشرابولوښې ووهم هلته ئې اوغورځولو چاسره چې دشرابو صراحی یا دونړئ یا جام وه هغه ئې دَکورنه بهرماته کړه حضرت انس رضي الله عنه په یو مجلس کښې دَ شرابو ساقی جوړشوې وو ابوطلحه، ابوعبیدة بن الجراح، اُبی بن کعب اوسهیل رضوان الله علیهم اجمعین غوند جلیل القدر صحابه کرام دغلته موجود ؤو دَ اعلان کوونکی د آواز اوریدو سره تولو اووئیل چې اوس دا ټول شراب واړوئ ددې جام اوصراحی ماته کړئ په څنې روایتونو کښې راغلی دی چې دَحرامیدو دَاعلان په وخت دشرابو جام که دَچاشونډوته رسیدلې هم ؤونوهم هغلته ئې اوغورځولو[۲] په مدینه منوره کښې په دغه ورځو کښې شراب دَباران دَاوبو په شان ترډیروورځو بهیدل کله چې باران اوشونو دشرابو ډډُوځې او بوبونه اورنګ به دَزمکې نه رابرسیره شو

په یوځائې کښې دَشرابو حکم آؤریدو سره فرمانبردار صحابه کرامو هغه شراب هم هلته جمع کړل کوم چې بازارکښې دتجارت په غرض پراته وو هلته حضور ﷺ په خپلو لاسونو مبارکو دَ شرابو ډیرې مشکیزې څیرې کړې اونورې ئې دَصحابه کرامو رضي الله عنهم په لاس څیرې کړې دَ شرابو یو صحابی سوداګردَشام نه راوړی شراب دَمدینې منورې نه بهر

---

[۱]) جامع الترمذی، أبواب البیوع، باب ما جاء فی بیع الخمر والنهی عن ذالک: ج ۱، ص ۲۴۲

[۲]) صحیح البخاری، کتاب الأشربة، باب نزل تحریم الخمر وهی من البسر والتمر: ج ۲، ص ۸۳۶

په یو غوندئ ځکه پرینبودل چې دَدې دَحرامیدو پته ورته لګیدلې وه دَحضور ﷺ په خدمت کښې حاضرشواودَهغې شرابو په باره کښې ئې دَحکم تپوس اوکړونو حضور ﷺ دَخدائې تعالی دَحکم په جوړ دَتولو دَ شکیزو دَخیرې کولو اودَشرابو بیولو حکم ورکړو ،نودَخدائې تعالی اورسول په مینه مست دغې فرمانبرداره بنده خپله ټوله موړی او سرمایه یې پخپل لاسه بې سوچه اوبې فکره په زمکه واړوله دَصحابه کرامو ﷺ دابیمثاله فرمانبرداری کول اوخبره مَنَل دَاسلام معجزه ده ځکه چې معلومه خبره ده ،په کوم څیزچه څوک راواوړی اوعادت ئې شی نودَهغې نه منع کیدل دَلږ ساعت دَپاره هم ډیرګران شی دَ الله ﷻ یوحکم اودَرسول الله ﷺ یوفرمان دَدوئ په عادتونو کښې داسې بدلی راوسته چې اوس تِردومره نفرت کوونکی ووځومره چې پرورَاندې راوَړیدلی وُو

دَاسلامی سیاست اودَعام ملکی سیاست لوئې فرق په تیروشوُوآیتونوکښې دَشرابو د حراموالی دَحکم

په نتیجه کښې دَمسلمانانوعملی نمونه مخامخ راغله دادَاسلام معجزه بولې یا دَ پیغمبر دَتربیت بې مثاله اثر اویادَاسلامی سیاست لازمی نتیجه اوګنړې یوخوادامثال چې دَ شرابو دَنشې دَعمرونوعادت اوداسې رواج چې لږساعت دَپاره هم دَهغې پرینبودل ډیرګران معلومیدل مګر دَدې دَحراموالی اودَاعلان په آوَریدو .دَمسلمانانو طبیعت بیخی بدل شوهغوئ خپل ډیرګران معلومیدل مګر دَدې دَحراموالی اودَاعلان په آوَریدو .دَمسلمانانوطبیعت یودم بدل شو دهغوئ په عادتونو کښې داسې انقلاب راغلو چې څو منټه مخکښې کوم څیز چې ددوئ ډیر زیات خوښ وو بلکه دخپل ژوند سرمایه یې ګڼړله . هغه څو منټه بعد هغوئ دپاره مبغوض بداوپلیت شو

اوبل خواد نن صبا ترقی موندونکی سیاست [چه زړونه ورته پسخیږی] خصوصاًدامریکې دَ سیاست مثال واخلئ چې هلته څوکاله مخکښې هرکله چې دَصحت اومعاشرې ماهرانو دَ شرابوبې حده او مهلکې خرابئ اونقصانونه اولیدل اومحسوس ئې کړل نودَخپل قانون په ادانره دهغې دَ بندَولودَپاره دَخپل ملک دَنشرواشاعت اعلی نوې ذریعې ئې پکارراوستې په دې باره کښې په سوونواخبارونه اورسالې دَلکونو په شمیرکښې ئې خورې کړې بیادَامریکې په آئین او د ستور کښې دَترمیم کولو په ذریعه دَشرابودَبندیزقانون جاری کړې شو مګر په امریکه کښې ددې اثر نتیجه ټولې دنیا په خپلو سترګو اولیدله . او د هغه ځائې د سیاسی اختیار لرونکو رپورټونه دنیا اولیدل . هغه دا وو چې دې ترقی یافته او تعلیمافته قوم د نورو ورځو په مقابله کښې په دې ورځو کښې زیات شراب استعمال کړی وو. تر دې چې حکومت مجبور شو او خپل قانون یې منسوخ کړو.

دادسترگوليدلي حال دي چې هيچري ورته دروغ اوغلط نه شي وئيلې خواوس داکتل پکاردي چې دعربونوصحابه کرام ﷺ مسلمانانو اودامريکنيانو [چه په نوي زمانه کښې ډير ترقي يافته بللې شي] دحالاتو او معاملو په مينځ کښې ددې ډيرلوئې فرق اصلي سبب اورازڅه دي؟

که لږ شان غور اوکړو نو دا خبره به ښکاره شي چې اسلامي شريعت قانون صرف د قوم داصلاح دپاره کافي نه دې ګڼړلې بلکه د قانون نه رومبې دذهنونو جوړولو کارکړې دې . او دعبادت او تقوی اود آخرت د فکر سره يې ددوئ مزاجونه داسې تيار کړل چې او په دوئ کښې يې يو داسې انقلاب راوستو چې تول د رسول کريم ﷺ په آواز باندې خپل خانونه او مالونه قربان کولو ته تيار شو. مکی دور کښې د خلقود تربيت کار په رياضتونو سره کيدو ، هرکله چې د جانثارانو يوه ډله تياره شوه نو دې نه پس قانون جاری کړې شو ، د ذهنونو جوړولو دپاره خو امريکې هم ډيرې زياتې ذرائع استعمال کړې . اګر چې هغوئ سره هر څه وو خو دآخرت فکر ورسره نه وو . او د مسلمانانو په رګ رګ د آخرت فکر موجود وو ،

کاش! چې نن هم زمونږ عاقلان او پوهه خلق دا نسخه [يعنی فکر آخرت] استعمال کړی چې دې دنيا ته امن او سکون نصيب شي.

دشرابو دضرراو فائدو په مينځ کښې موازنه او مقابله کول په آيت کښې دشرابو اوجوارئ دوارو دلږوفائدا او دډيروخرابول اوګناهونوذکرشوې دې څه تفصيل به ددې بيان کړوو په آخرکښې به ددې آيت نه قائده کړل شوی يو څو فقهي ضابطې بيانوو.

دشرابو فائدې په عامو خلقو کښې دامشهورې دی چې په دې سره خوشحالي پيدا کيږي [په عارضي ډول] قوت او طاقت پرزياتيږي رنګ ورسره صفا کيږي او سور کيږي مګر ددې په مقابله کښې ئې خرابئ ډيرې زياتې دی مثلاً دشرابی معده رورو بيخي بيکاره شي خوراک کولو ته ئې ډيرزړه نۀ کيږي .دمغ شکله ئې بدله شي.خيټه ئې غټه شي اودېو جرمنی ډاکټر دوينا په جوړ دشرابو دعادت په وجه دشرابی دتول رګونړه او ا ندامونه دڅلويښتو کالو په عمرکښې داسې کمزورې شي لکه چې شپيته کلن بنيادم وی يعنی په ځوانئ کښې دهغه تول بدن دبوډاګانو په شان کمزورې شي شرابو څکلو سره سره ئې زړۀ اوپښتورګي خرابيږي خصوصاًنرې رنځ ترپيداکيږي چې ديورپ دډاکټر انو دوينا په جوړ دغه ملکونو زيات خلق دشرابو په وجه په نری رنځ کښې ګرفتاريږي اودبعضې دغه ډاکټرانو دوينا په جوړ په يورپ کښې نيم خلق ددغه راولاړشوی نری رنځ نه مری .کوم چې دشرابو دزيات رواج نه وړاندې هلته نری رنځ به ډير کم چرته ؤو. هرکله چې دشرابو يورواج زيات شونونرې رنځ هم دغلته زيات شو

دادَشرابوبدنی خرابئ دی خوپه عقل باندې پریوتی اثرات دَدې نه زیات دی کومولره چې خلق دَنشې په حالت کښې گڼری چې په شُدبُد کښې نۀ وی اوعقل ئې کارنۀ کوی هرکله چې نشه لاړه شی نوعقل ئې کارشروع کړی لیکن داخبره دَحقیقت په رنړا کښې څکه کمزورې ده چې دَشرابو اثر په عقل باندې مستقل پائیداراودَعمرسره سم وی چې دَهوش په حالت کښې هم ددۀ عقلی قوت کمزورې وی دادَماهرو ډاکټرانو تحقیق دې دَخانه خبره نۀ ده چې کله خوشرابی هم دَشرابوپه وجه لیونې کیږی دارنګ طبیبان او ډاکټران په دې متفق دی چې شراب دَبدن یوه برخه نۀ جوړیږی نۀ تروینه جوړیږی چې بدن پرِ طاقت واخلی بلکه دَدې کارصرف دومره وی چې په عارضی ډول وینه راپاروی اوعارضی قوت پرِمحسوسیږی اودَوینې دراپاریدل کله کله دَناګهانی مرګ سبب جوړیږی چې ډاکټران ورته هرټ فیل [هړاوپیل] وائی.

دَشرابوڅکلوپه وجه هغه رګونه سختیږی دکوموپه ذریعه چې ټول بدن ته چې رُوح رسیږی ددې نتیجه داوی چې شرابی زربُوډاکیږی

دَدې اثرپه مرئ اوساه داسې کیږی چې تل ټوخې ورځی آوازئې غټ شی اوبالآخر نرې رنځ ترِ جوړ شی.دَدې بداثرپه نسل داسې پریوځی چې دَشرابی اولادکمزورې وی او کله خواولادئې پیدا کیږی هم نۀ.

دَشرابیانوداویناچه شرابوسره چستی اوقوت پیداکیږی څکه غلطه ده چې په شروع کښې خوداسې ښکاری مګرددې جرړې رورو[کرار کرار] داسې خورې شی چې بیاترِدغه تیرشوی نقصانات راولاړشوی وی اوقابوموندل پرِهیچرې نشی کیدې

په معاشره کښې دَشرابویوخرابی داهم ده چې دې نه اکثرجنګ جګړې دښمنی اوبغض راولاړیږی چې نتیجه ئې ډیره خرابه وی څکه خوپه سورت مائده کښې داخرابی په ښکاره الفاظوکښې په خصوصیت سره بیان کړې شوې ده فرمائ

﴿إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ﴾ یعنی شیطان داغواړی چې دَ شرابو او جوارئ په ذریعه ستاسوپه مینځ کښې بغض اوعداوت پیداکړی .

دَشرابو یوخرابی داهم ده چې څنی وخت شرابي په خپلې نشه کښې خپل پټ رازونه ښکاره کړی چې نتیجه ئې ډیره خرابه وی خصوصاًپه هغه وخت کښې خوئې نتیجه ډیره مهلکه ثابته شی اوپه ملک کښې پرپوره انقلاب راپورته کیږی،ملکی سیاست اوجنګی مصلحتونه ټول بربادیږی کله چې هغه نشئ [رازښکاره کوونکې] دَحکومت یوخاص زمه دارکس وی اورازهم دَحکومت وی اوجاسوسان هم دَدې لټون پسې وی.

دَشرابویوخرابی داهم ده چې شرابی بنیادم دَخلقوبلکه دَوړوهم څکه دَخنداشی چې دَهغه خبرې اوکړه وړه بې تولې،بې رَوه اوبې ګودره دی دَټولونه لویه خرابی ئې داده

چې دا دَ پليتو مور [بنياد] دي غټ غټ جرمونه او گناهونه ترراولاړيږي، زنا او قتل اکثرهم دَدې نتيجې دی لکه څنګه چې ثابته ده چې عامې شراب خانې دَقتل اوزنا اډې دی.

داخو دَشرابو بدنی ضررونه دی او ددې روحانی ضررو نه بالکل هم ښکاره دا سې دی چې د نشې په حالت کښې مونږ دَ الله ﷻ ذکر او عبادت ترپاتې وی. لکه چې قرآن کريم فرمائ ﴿وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَعَنِ الصَّلٰوةِ﴾ يعنی تا سو لره شراب دَ الله ﷻ دَذکر او مونځ نه بندوی،،

مالی نقصان ئې هم دا سې ښکاره دې چې يو آبادئ کښې دَشراب خانې پرانستلو [خلاصولو] سره دَهغه ټولې آبادئ مال دولت راغونډوی اوجاروکوی څکه چې دَدې څنې قسمونه په ډير ګرانه بيعه اغستې شی. لکه دَشميرشميرې څنې ماهرانو دَيو ښار دَشرابو ټوله بيعه دَټول فرانس حکومت دلګښت برابره ښودلې ده.

دَشرابو دادينی دُنيوی جسمانی اوروحانی خرابئ حضور ﷺ په دې الفاظو کښې راجمع کړی دی چې ورته ئې [امر الخبائث] (۱) ام الفواحش] [دَپليتو يا بيحيايو جرړه او ئيلی دی. لکه دَيو جرمنی ډاکتر داخبره دَمَتَل په توګه په ټوله دنيا کښې مشهوره ده چې که چرې نيمې شراب خانې بندې شی نوزهٔ ددې خبرې ضمانت درکوم چې نيمې شفاخانې [دوا خانې] اونيمې جيلخانې به څکه بندې شی چې ضرورت به ئې پاتې نشی [دَمفتی محمد عبده المنار تفسير ص ۲۲۲ ج ۲].

علامه طنطاوی په خپل کتاب الجواهر کښې دَدې لړئ څنې ضروری معلومات ليکلی دی چې څه له هغې څنې دلته رانقل کولې شی.

يو فرانسيسی محقق په خپل کتاب [خواطر وسوانح فی الاسلام] کښې ليکی.. ډيره زياته هلاکونکی وسله اودوه ارخيزتيره توره چې دَاهل مشرق [مسلمانانو] مونږ او بيخ پرپريکړې شو اودوئ پرقتل کړې شو هم داشراب وو. زمونږ دَالجزائر په مسلمانانو داوسله آزمائيله ليکن اسلامی شريعت زمونږ په لاره کښې ارجوړشو په هغوئ زمونږ ددې وسلې هيڅ اثراونه شو او په نتيجه کښې دَهغوئ نسل هم دارنګ لګيادې زياتيږی دې خلقو که زمونږ دا تحفه دا سې قبوله کړې وې لکه څنګه چې دَدوئ يو منافقې قبيلې قبوله کړې ده. نو دوئ به هم زمونږ په مخکښې ذليل او خوارؤو نن دکومو خلقو کورونو کښې چې زمونږ دَشرابو دوړونه چليږی هغوئ زمونږ په مخکښې داسې سپک او ذليل شو چې سرنشی راپورته کولې؟

يو انګريز قانون دان ښتام ليکی چې دَاسلامی شريعت په ډيرو ښه والو کښې يو ښه والې

---

(۱) سنن النسائی، کتاب الأشربة، باب ذکر الأثام المتولدة عن شرب الخمر– الخ: ج ۲، ص ۳۳۰

داهم د ې چې په دې کښې شراب حرام دی مونږ اولیدل چې کله دافریقې خلقو دې استعمال شروع کړه دهغوئ په نسلونو کښې لیونتوب ورننوتو اودیورپ کومو خلقوته چې ددې خوند ترخولې شی نودهغوئ په عقلونوهم کانړې پریوتو پکاردی چې دافریقې په خلقودابندکړې شی اودیورپ خلقوته په دې سختې سزاګانې ورکړې شی..

غرض داچه کوم یوشریف سړی په سړه سینه ژورلیدل اوکړل نوبې اختیاره نې چغه کړې ده چې دا[شراب]پلیتی ده شیطانی کاردې زهردی دتباهئ اوبربادئ سامان دې،دپلیتوددې جرړې نه واوړئ ﴿فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ﴾(۱)

دشرابودحراموالی اوبندیزباره کښې دخلوروآیتونوبیان وړاندې اوشو مناسب ښکاری چې دسورت نحل دهغه بل آیت بیان هم اوشی په کوم کښې چې دیوبل ډول دنشئ څیزونو ذکر راغلې دې فرمائی:

﴿وَمِنْ ثَمَرٰتِ النَّخِيْلِ وَالْاَعْنَابِ تَتَّخِذُوْنَ مِنْهُ سَكَرًا وَّرِزْقًا حَسَنًا ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ﴾ او د کهجورو او دانګورو دمیوونه تاسوخلق نشئ څیزونه اودغوره خوراک څیزونه جوړوئ،بیشکه په دې کښې دهغه خلقودپاره لوئې دلیل دې چې عقل لری۔

د آیت وضاحت اوتفسیر: په ړومبی آیتونوکښې د الله ﷻ دهغه نعمتونوذکروو چه دانسانی خوراکې دپاره دهغې دپیداکولونه د الله ﷻ عجیبه غریبه کاریګری اوقدرت رابرسیره کیږی، اول دپیو [شیدو] ذکردې کوم ئې چې دځاروویه خیټوکښې دوینو او خشنږو [خوشیانو] دمینځ نه د بنیادم له پاره صفاسُتره خوراک جوړکړې دې اودبنیادم دنورې کاریګرئ اوعمل په دې کښې ضرورت نشته .د﴿نُسْقِيْكُمْ﴾لفظ هم داحکمت ښکاره کوی[یعنی مونږپئ دراوڅکول]ددې نه پس ئې اوفرمائیل چې دکهجورو او انګورودځه میوونه دخپل خوراک اوفائدې څیزونه جوړوئ مطلب داچه دانسان په عمل دخل داڅیزونه تیاریږی اوجوړیږی خوبیاداڅیزونه دوه قسمه دی یونشئ څیزونه چې خمریاشراب ورته وئیلې شی دویم دغوره خوراک څیزونه یعنی تازه کهجورې اوانګوریااوچې قجورې اواوچ انګوراوڅکې! خلاصه دخبرې داشوه چې بنیادم له الله ﷻ کهجورې اوانګورغوندمیوې په خپل کامل قدرت سره ورکړې اوددې دخپل خوراک جوړولودااختیارئې هم ورته ورکړوچه دې ترڅنګ دخوراک کارواخلی اوقوت پرېباموسی یانشئ څیزترتیارکړی چې خپل عقل پرېبکاره اوخراب کړی

ددې تفسیرپه جوړددې آیت نه دنشئ څیزونوپه حلالوالی څه دلیل څکه نشی نیوې چې دلته الله ﷻ په خپل قدرت پیداکړی شوی نعمتونه بیانوی.ددې احکام نه

---

۱) ترجمه: اوس اووایه چه تاسو به ددغه څیزونونه منع شئ؟

بیانوی او دا ښکاره کوی چې د نعمت اصلیت په دې نهٔ بدلیږی چې هغې لره یو انسان بې ځایه استعمال کړی لکه د کجورو او انګورو د نعمت نه شراب او زحمت خیزونه جوړکړی خو بیا هم یو باریکه اشاره دا سې او شوه چې ﴿سکر﴾ په مقابله کښې د ﴿رزق حسن﴾ ذکر کول د ا ښائی چې ﴿سکر﴾ ښهٔ رزق نهٔ دې جمهور مفسرین[1] د اسکر . . معنی نشئ خیز . . کوی اروح المعانی . قرطبی . جصاص[[2]]

په اتفاق د اُمت سره دا مکی آیتونه دی او د شرابو حراموالې په مدینه طیبه کښې نازل شوې دې ددې آیتونو د نازلیدو په وخت اګرچه شراب حلال وو او مسلمانانو په عمومی ډول څکل خو دا پورته ذکر شوې اشاره پکښې اروُمرو او خامخا وه چه د شرابو څکل ښه کار نهٔ دې په سختئ د شرابو حراموالې په ښکاره ډول د دې نه پس نازل سو اخلاصه د جصاص او قرطبی [[3]]

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳٦۱٤] په عهد رسالت کښې د شرب خمر سزا

۳٦۱۴ـ[۱] ([4]) ① عَنْ أَنَسٍ «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَرَبَ فِي الْخَمْرِ بِالْجَرِيدِ وَالنِّعَالِ. ② وَجَلَدَ أَبُو بَكْرٍ أَرْبَعِينَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت انس رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ د شراب نوشي حد (سزا) د کجورو لښو او چپلو سره د وهلو حکم وکړي، ② او حضرت ابوبکر رضی الله عنه په خپل دورِ خلافت کې شراب څکونکي څلويښت دوري ووهلی (بخاري مسلم)

حل اللغات ① الْجَرِيدِ: دکجورو لښتې څانګه. ② وَالنِّعَالِ: پیزار. چپلې

۳٦۱۵ـ([5]) ① وَفِي رِوَايَةٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ② «كَانَ يَضْرِبُ فِي الْخَمْرِ بِالنِّعَالِ وَالْجَرِيدِ أَرْبَعِينَ».

ترجمه: ① او په یو روایت کې د حضرت انس رضی الله عنه نه دا سې منقول دی ② چې نبي کریم ﷺ

---

[1]) بعض علماء د دی معنی سرکہ یا بے نشه نبیذ کړې ده (جصاص، قرطبی) خو په دی ځای کې ددی اختلاف نقل کولو ضرورت نشته-۱۲منه

[2]) روح المعانی تحت هذه الآیة ج ۲، ص ۱۱۱، ۱۱۲ و تفسیر القرطبی تحت سورة النحل ٦۷، ج ۱۰، ص ۱۲۸ و احکام القرآن للجصاص، باب تحریم الخمر: ج ۲، ص ۳۱۳، ۳۱٤

[3]) ځنې علماؤ ددې معنی سرکه هم اغستې ده او بعضونې بې نشې رس او شیره معنی اغستې ده [جصاص و قرطبی] مګر دلته ددې اختلاف نقل کولو ضرورت نشته ۱۲ منه

[4]) اخرجه البخاری فی کتاب الحدود/باب ما جاء فی ضرب شارب الخمر (رقم-۶۷۷۳) ومسلم فی کتاب الحدود/باب حدّ الخمر (رقم-۳۶ - (۱۷۰۶) و ابو داود فی کتاب الحدود/باب الحدّ فی الخمر (رقم-٤٤۷۹) وابن ماجه فی کتاب الحدود/باب حدّ السکران (رقم-۲۵۷۰) واحمد فی المسند: ۱۷۶/۳

[5]) اخرجه مسلم فی کتاب الحدود/باب حدّ الخمر (رقم-۳۷ - (۱۷۰۶)

به د شراب نوشي حد (سزا) کي څلويښت د کجورو لښتو او چپلو سره وهلی (يعني د وهلو حکم به يي ورکولی)

تسهيلات: قوله: ضَرَبَ فِي الْخَمْرِ بِالْجَرِيدِ:\

د شرابو څښکلو د ثبوت شرطونه: ① که چرې يو سړې شراب اوڅکی سره دَدې چه په لږ مقدار کښې وی بيا هغه حاکم له بوتلې شی او هغه وخت د دغه سړی په خله کښې د شرابو بدبوئی موجود وی \

② يا هغه دَ نشې په حالت کښې پيش کړې شوې وی او دوه کسان دَ دغه شرابو څکلو ګواهی ورکړی

③ يا هغه پخپله دَ خپلو شرابو څکلو اقرار اوکړی او دا معلومه شی چه دې سړی په خپل اختيار سره شراب څکلی دی چا ورسره څه زور نه دې کړې نو په دې سړی باندې به دَ شرابو څکلو حد جاری کولې شی. که دغه سړې آزاد وی نو اتيا کوړې او که چرې غلام وی نو څلويښت کوړې به وهلې شی.

په کومو صورتونو کښې چې کوړې نشی ورکولې: ① که دَ شرابی دَخلې نه بدبوئی ختمه شوې وی نو قاضی په هغه دَ حد حکم نه شی کولې.

② دغه شان که اقرار ئی هم کړې وی يا دوو ګواهانو ګواهی ورکړې وی مګر دَ خلې بدبوئی ختمه شوې وی بيا به هم حد ساقط شی. دَ نشې کيفيت داسې کيدل پکار دی چه هغه سړې دَ زمکې او آسمان فرق نه شی کولې يا په نشه کښې چغې صورې وهی

په عهد نبوی صلي الله عليه وسلم او صديقی رضي الله عنه کښې د شرابو څښکلو سزا: دَ رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې چونکه دَخلقو دَ ذهنونو نه دَ شراب نوشئی تصور ختم شوې وو او دَ شرابو څکلو واقعات ختم شوی وو په دې وجه به نبی کريم دَ شرابو دَڅکونکی تحقير او توهين کولو. دَ څادرونو په کوړو او چپړو سره په وهلو به ئی دَ شرابی استقبال کولو که چا به يو وخت کښې دَ شرابو څکلو جرأت کولو نو هغه به په څپلو دَ څادرونو په کوړو ښاخونو او چوکو باندې وهلو او دَ هغوی دَتحقير او توهين دَ پاره به ئی سختې سختې خبرې کولې. الغرض دَدې دَپاره باضابطه څه متعين حد موجود نه وو. دَعهد نبوی نه پس په عهد صديقی کښې هم داسې وه بيا دَ حضرت عمر رضی الله عنه په دور خلافت کښې دَ اتيا (۸۰) کوړو اعلان اوشو.

نوټ: يادلرئی چه په حد دَ خمر او حد دَ زنا کښې به کوړې دَ بدن په داسې حصه باندې وهلې شی کومې حصې چه نرمې وی دغه شان به دَ بدن په مختلف حصو باندې وهلې شی په يوه حصه باندې به نه شی وهلې.

[٣٦١٦] دشُرب خمر دپاره د اتیا دورو لګولو ابتداء

۳۰۳ -[۲] ()[۱] وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ:[۲] «كَانَ يُؤْتَى بِالشَّارِبِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[۳] وَإِمْرَةِ أَبِي بَكْرٍ وَصَدْرًا مِنْ خِلَافَةِ عُمَرَ[۴] فَنَقُومُ عَلَيْهِ بِأَيْدِينَا وَنِعَالِنَا وَأَرْدِيَتِنَا[۵] حَتَّى كَانَ آخِرُ إِمْرَةِ عُمَرَ فَجَلَدَ أَرْبَعِينَ[٦] حَتَّى إِذَا عَتَوْا وَفَسَقُوا جَلَدَ ثَمَانِينَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه:[۱] حضرت سائب ابن يزيد وايي [۲] چې د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کې،[۳] او د حضرت ابوبکر ﷛ د خلافت په ورځو کې. او دحضرت عمر فاروق ﷛ د خلافت په ابتدايي دور کې (دا معمول وو چي کله به یو شراب څکونکی را وستل شو) .[۴] نو مونږ به هغه په خپلو لاسونو. خپلو چپلو او خپلو څادرونو سره (یعني د څادرونو دوري جوړولو سره په هغه به مو وهلی،[۵] او حضرت عمر فاروق ﷛ د خپل خلافت په آخري دورکي څلویښت دوري سزا ورکول شروع کړه،[٦] ددي پوري چې کله د شراب څکونکو په تعداد کې اضافه شروع شوه،او سرکشي زیاته شوه، نو حضرت عمر ﷛ اتیا دوري سزا مقرره کړه. (بخاري)

حل اللغات: ①الشَّارِبِ: څکونکې، (شراب څکونکې) ②وَصَدر: ابتدائی دور ③أَرْدِيَة: څادرونه ④آخِرُ إِمْرَةِ عُمَرَ: د عمر دخلافت آخری دور ⑤عَتَوْا: نافرمانی ئې زياته کړه ⑥فَسَقُوا: سرکشی ئې اوکړه

تسهیلات: قوله: فَجَلَدَ أَرْبَعِينَ:

په دور فاروقي کښې په اتیاؤ کورو باندې اجماع: لکه څنګه چه وړاندې لیکلې شوی دی چه دعهد نبوی نه واخله ترعهدصدیقی پورې دَ حدخمر تعین نه وو بیاچه په عهدفاروقی کښې کله دَشام او فارس ملکونه فتح شو اودَ مصرملك هم دَ مسلمانانو په قبضه کښې راغله نو نوی نوی خلق په اسلام کښې داخل شو څه په کښې بااثر وو څه ډیر مالداران اوعیش پرست وو او دَ یوحد پورې دور هم دَ تابعینو وو په دې وجه دَ شرابو څکلو واقعات زیات شو

حضرت عمر ﷛ دَ خپلې شورىٰ ارکان راغونډ کړل اودَ حدخمر دَپاره ئې مشوره اوغوښتله هغه وخت دَ شورىٰ یو ممبر حضرت علی ﷛ اوفرمائیل شرابی چه کوم وخت شراب څکی نوهغه دَ نشې او مستئی په عالم کښې بهتان هم تړی اوکنځلې هم کوی اودَ کنځلودَپاره حدقذف اتیا کورې په قرآن کښې مقرر دی نودَ شرابی دَپاره هم دغه اتیا کورې متعین کول پکاردی په دې باندې دَ ټولو صحابه کرامو اجماع اوشوه اوتراوسه پورې دَ فقهاؤ په دې باندې اتفاق دې اودَ امام شافعی ﷫ امام احمدبن حنبل ﷫ او

۱) اخرجه البخاري في كتاب الحدود /باب الضّرب بالجريد والنّعال (رقم-٦٧٧٩)

اهل ظواهر په نیز اصل حد څلوېښت کوړې دې او نورې څلوېښت په توګه دَ تعزیر دی دَ امام ابوحنیفه رحمه الله امام مالك رحمه الله او نورو فقهاؤ په نیز حد خمر اتیا کوړې دې. شوافعو او حنابله دَحضرت انس رضي الله عنه دَ روایت نه استدلال کړې دې چه په هغې کښې دَ اتیاؤ کوړو ذکر دې اودَ اجمال تفصیل دې بل دا حضرات دَ صحابه کرامو اجماع هم په توګه دَ دلیل پیش کوی دَ دې دلائلو په مخکښې داحضرات دَ حضرت انس رضي الله عنه مجمل روایت جواب ورکول ضروری نه ګڼړی. دَدې حضراتو دَ طرف نه بعضې حضرات وائی دَ نبی کریم په زمانه مبارکه کښې چه کومې څلوېښت کوړې لګولې شوې وې هلته دَ دوو چوکو دَ یوځائی کولو ذکر ملاویږی لهذا په عهد نبوی کښې هم دَ اتیاؤ کوړو ثبوت ملاویږی. په نصب الرایه کښې ټول روایات نقل کړې شوې دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳٦۱۷] په څلورم ځل د شرابو څکلو سزا

۳٦۱۷ — [۳] (¹) ۱ عَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ۲ «مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فَاجْلِدُوهُ ۳ فَإِنْ عَادَ فِي الرَّابِعَةِ فَاقْتُلُوهُ ۴ قَالَ: ثُمَّ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذٰلِكَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ فِي الرَّابِعَةِ ۵ فَضَرَبَهُ وَلَمْ يَقْتُلْهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ حضرت جابر رضي الله عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل ۲ کوم سړی چې شراب وڅکي هغه په دورو ووهی، ۳ او کوم سړی چې یې بار بار څکي. ددې پورې چې په څلورم ځل په څکلو ونیول شی، نو هغه قتل کړي. ۴ حضرت جابر رضي الله عنه وایي چې دې ارشاد ګرامي نه وروسته د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کې یو سړی پیش کړل شو. چې هغه په څلورم ځل شراب څکلي وو، ۵ هغه یې ووهلی، خو قتل یې نه کړي (ترمذي)

۳٦۱۸ — (²) ۱ وَرَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ ذُؤَيْبٍ.

ترجمه: ۱ ابوداود رحمه الله د قبیصه رضي الله عنه ابن ذؤیب نه نقل کړي دي

۳٦۱۹ — (³) ۱ وَفِي أُخْرَى لَهُمَا وَلِلنَّسَائِيِّ وَابْنِ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيِّ ۲ عَنْ نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُمُ ابْنُ عُمَرَ وَمُعَاوِيَةُ وَأَبُو هُرَيْرَةَ وَالشَّرِيدُ إِلَى قَوْلِهِ فَاقْتُلُوهُ.

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الحدود عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء من شرب الخمر فاجلدوه، ومن عاد فی الرّابعة فاقتلوه(رقم-۱٤٤٤)

²) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الحدود/باب إذا تتابع فی شرب الخمر (رقم-٤٤٨٥)

³) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الحدود/باب إذا تتابع فی شرب الخمر (رقم-٤٤٨٢)والترمذی فی کتاب الحدود عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء من شرب الخمر فاجلدوه. ومن عاد فی الرّابعة فاقتلوه(رقم-۱٤٤٤) و ابن ماجه فی کتاب الحدود/باب من شرب الخمر مرارا (رقم-۲۵۷۳)

ترجمه: او د ترمذي او ابوداود په يو بل روايت کې او د نسائي ابن ماجه او دارمي په روايت کې[۲] چې هغوئ د رسول الله ﷺ د صحابه وو ﷺ د يو جماعت نه نقل کړي دی چې په هغوئ کې حضرت ابن عمر ﷺ حضرت معاويه ﷺ حضرت ابوهريره ﷺ او حضرت شريد ﷺ هم شامل دی. دا حديث د لفظ فاقتلوه پورې منقول دی، يعنی په دې روايتونو کې د ثُمّ اتي الخ عبارت نشته.

حل اللغات: ①وَالشَّرِيدُ: د يو صحابی ﷺ نوم دی.

تسهيلات: **قوله: فَاقْتُلُوهُ**

د شارب خمر د قتل عدم جواز: ټول امت په دې باندې متفق دې چه دَ شرابو څکونکې به په حد کښې نه شی قتل کولې سره دَدې چه هغه باربار شراب څکی اوکه دَوخت حاکم په توګه دَ تعزير سياست مصلحت لاندې قتل کول مناسب ګنړی نوداسې کولې شی مګر حداً داسې کول ناجائز دی ځکه چه اجماع صحابه ﷺ په عدم قتل باندې منعقد شوې ده بل په خپله دې روايت کښې دَترمذی ﷺ په حواله سره دا روايت دې چه يوسړې په څلورم ځل نبی کريم له راوستې شو نو نبی کريم "فضربه ولم يقتله" په کوړو اووهلو اوقتل ئې نه کړو معلومه شوه چه په قتل باندې عمل اونه شو. امام ترمذی ﷺ فرمائی زما په کتاب کښې دوه احاديث داسې دی په کوم چه امت عمل نه شی کولې يوهغه حديث په کوم کښې چه ذکر دی نبی کريم بغيردَ څه ويرې او دهشت اودَ څه مطر اوسفرنه بغيرپه مدينه کښې "جمع بين الصلوتين" کړی دی امام ترمذی ﷺ فرمائی او دويم حديث هم دا زيربحث حديث دې په کوم چه دَامت عمل نشته چه دَ څه عذر نه بغيردَ جمع بين الصلوتين څنګه اوکړې شی اوشارب خمر کله قتل کړې شوې. باقی احناف "فاقتلوه" دَ روايت مختلف جوابونه ورکړی دی اول دا چه دَقتل نه مراد ضرب شديد دې واقعی وژل اوقتل کول مراد نه دی يا قتل سياسةً دې حد نه دې يا يوسړې شراب څکل حلال ګنړی

[۳۶۲۰] د شرابي تحقير (سپکاوی)

۳۶۲۰- [۳] (۱) [۱] وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ الْأَزْهَرِ قَالَ: [۲] «كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ أُتِيَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ الْخَمْرَ [۳] فَقَالَ لِلنَّاسِ: اضْرِبُوهُ. [۴] فَمِنْهُمْ مَنْ ضَرَبَهُ بِالنِّعَالِ [۵] وَمِنْهُمْ مَنْ ضَرَبَهُ بِالْعَصَا [۶] وَمِنْهُمْ مَنْ ضَرَبَهُ بِالْمِيتَخَةِ. [۷] قَالَ ابْنُ وَهْبٍ: يَعْنِي الْجَرِيدَةَ الرَّطْبَةَ. [۸] ثُمَّ أَخَذَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُرَابًا مِنَ الْأَرْضِ [۹] فَرَمَى بِهِ فِي وَجْهِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الرحمن ﷺ ابن ازهر وايي [۲] چې ګويا هغه منظر اوس هم زما د سترګو په مخکې دی. چې يوه ورځ د رسول الله ﷺ په خدمت کې يو داسې سړی پيش

(۱) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الحدود/باب إذا تتابع في شرب الخمر (رقم-۴۴۸۹) واحمد في المسند: ۸۸/۴

کړل شو، چې هغه شراب څکلي وو.[۳] حضور ﷺ خلقو ته وفرمايل چې دا سړی ووهی.
[۴] نو په هغه خلقو کې بعضو خو په چپلو ووهلی.[۵] بعضو په لرګو سره وهلی.[۶] او بعضو د کجورو په لښتو سره ووهلی.[۷] حضرت ابن وهب ﷫ (چې د دې حدیث راوي دی) وايي چې حضرت عبد الرحمن د میتخه نه د خرما شنه لښته (چې په هغه پاڼې نه وي، یعنی لښته) مراد واخستې ده.[۸] بیا (حضرت عبد الرحمن ﷛ بیان وکړي. هر کله چې ټولو خلقو هغه شرابي ووهلی، نو) حضور ﷺ د زمکې نه خاوره پورته کړه.[۹] او د هغه په مخ يې وويشتله (د هغه په مخ خاوره ويشتلو سره ګويا حضور ﷺ د هغه په حقله د حقارت (سپکاوی) اظهار وکړي، ځکه چې هغه د شراب څکلو سره يو ډير قبيح فعل کړي وو) ابو داؤد.

حل اللغات: ①بِالْمِيتَخَةِ: د کجورو شنې لښتې ،څانګې. ②الْجَرِيدَةُ الرَّطْبَةُ: د کجورو شنې لښتې.

تسهیلات:

د حدیث د بعضې جملو وضاحت:

① بِالنِّعَالِ: څپلوته نعال وائی عصا چوکې او همساته وائی

② بِالْمِيتَخَةِ په میم زیر دې یاء باندې سکون دې او تاء باندې زبر بیا خاء معجمه دې ملعقة په وزن باندې دې وړې چوکې ته وائی کومه چه شنه وی او چه نه وی لکه چه راوی پخپله وضاحت فرمائیلې دې

③ أَخَذَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُرَابًا: خاوره دَهغه په مخ باندې ویشتل دَ زیاتی تحقیر او تذلیل دَپاره وو دَ حد حصه نه وه (لیکن دَمحبوب دَلاس دغه خاوره که دَ مخ په خائی باندې په زړه لګیدلې نو بیا به په هغې کنبې به کومه مزه راتله)

[۳۶۲۱] شرابی ته د بدعاء کولو نه ممانعت

۳۶۲۱—[۵] ( )[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ[۲] فَقَالَ: اضْرِبُوهُ. فَمِنَّا الضَّارِبُ بِيَدِهِ وَالضَّارِبُ بِثَوْبِهِ وَالضَّارِبُ بِنَعْلِهِ[۳] ثُمَّ قَالَ: بَكِّتُوهُ. فَأَقْبَلُوا عَلَيْهِ يَقُولُونَ:[۵] مَا اتَّقَيْتَ اللهَ مَا خَشِيتَ اللهَ[۶] وَمَا اسْتَحْيَيْتَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ترجمه:[۱] حضرت ابوهریره ﷛ وايي چې (یوه ورځ) رسول الله ﷺ ته یو سړی راوستل شو چې هغه شراب څکلي وو.[۲] حضور ﷺ مونږ ته وفرمايل چې دی ووهی. نو په مونږ کې بعضو هغه په خپل لاسونو سره، بعضو په خپلو کپړو سره (یعنی د هغه دوره جوړولو سره،) او بعضو به په خپلو چپلو سره هغه وهلی.[۳] بیا حضور ﷺ وفرمايل اوس په ژبه سره د ده تنبیه وکړي، او عار ورکړي. نو خلق د هغه طرف ته متوجه شول. او هغه ته يې

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الحدود/باب الحدّ فی الخمر (رقم-۴۴۷۷)

وئيل شروع کړه. ۴ چې تا د الله ﷻ د مخالفت نه پرهيز ونه کړي. ۵ نه د خداى پاك نه ونه ويرېدلى. ۶ او نه د رسول الله ﷺ متابعت ترك كولو سره، يا په دې حالت كې د هغه مخې ته راتلو نه هم ونه شرميدلى.

حل اللغات: ① بَكِّتُوهُ: دَ باب تفعيل تبكيت نه، هغه ته ئې زجر اوتوبيخ وركړو ،هغه ئې شرمنده كړل ② مَا اتَّقَيْتَ: ته نه يريږې

۱ قَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ: أَخْزَاكَ اللّٰهُ، ۲ قَالَ: لَا تَقُولُوا هٰكَذَا، ۳ لَا تُعِينُوا عَلَيْهِ الشَّيْطَانَ ۴ وَلٰكِنْ قُولُوا اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ اللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او بيا چې بعضو خلقو دا اوويل چې الله ﷻ دې تا (په دنيا او آخرت دواړه خايه يا په آخرت كې) ذليل او رسوا كړي، ۲ نو حضور ﷺ وفرمايل چې داسې مه وايئ. ۳ او په ده د شيطان په غالب كيدو كې مدد مه كوئ، ۴ بلكه داسې وايئ چې اې الله ﷻ (د ده گناه رژولو سره) دى وبخښې، او (ده ته د طاعت او نيكې توفيق وركولو سره) په ده رحم وكړې، دې په دنيا كې وبخښې، اوپه عاقبت كې په ده خپله رحم وكړې. (ابوداود)

حل اللغات: ③ أَخْزَاكَ: اودې شرموى تالره.

تسهيلات:

قوله: وَالضَّارِبُ بِثَوْبِهِ:

د مذكوره جملې مطلب: دَدې مطلب دادې لكه چه څادر دَ رسئى په شان راتاؤكړى او دَهغې نه كوړه شان جوړه كړى او په هغې باندې اووهى دا په كلوكښې معروف طريقه ده

قوله: أَخْزَاكَ اللّٰهُ:

په مذكوره جملې سره د خيرو عدم جواز: دَدې بد دعاتعلق چونكه عالم آخرت سره وو اودَ آخرت رسوائى خو دوزخ ته په تلوكښې كيږى په دې وجه نبى كريم منع اوفرمائيله چه داخودَ شيطان خواهش دې چه مسلمان دې دوزخ ته لاړشى نو په داسې بددعاسره دَ شيطان په منصوبه كښې دَهغه امدادمه كوئى.

[۳۶۲۲] د ثبوت جرم څخه بغير د حد د جارى كولو عدم جواز

۳۶۲۲-[۶] (¹) ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «شَرِبَ رَجُلٌ فَسَكِرَ ۲ فَلُقِيَ يَمِيلُ فِي الْفَجِّ ۳ فَانْطُلِقَ بِهِ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ۴ فَلَمَّا حَاذَى دَارَ الْعَبَّاسِ انْفَلَتَ ۵ فَدَخَلَ عَلَى الْعَبَّاسِ فَالْتَزَمَهُ، ۶ فَذُكِرَ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَضَحِكَ ۷ وَقَالَ: أَفَعَلَهَا، وَلَمْ يَأْمُرْ فِيهَا بِشَيْءٍ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې يو سړي شراب وڅكل او مست شو، ۲ ددې پورې چې خلقو په لار كې په دې حال كې وموندلى، چې هغه تالى وهلو سره تلى

¹) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الحدود/باب الحدّ فى الخمر (رقم-۴۴۷۶)

(خنګه چې د شرابيانو عادت وي، چې په نشه او ذلت کې تالی وهلو سره په لار ځي) [۲] نو خلقو هغه ونيولی چې د رسول الله ﷺ په خدمت کې يې پيش کړي، [۳] ليکن څه وخت چې د حضرت عباس رضی الله عنه مکان ته نزدې ورسيدلی، نو د خلقو د لاس نه کولاؤشو ، [۵] او حضرت عباس رضی الله عنه ته په رسيدو سره د هغه سره يې ځان ومنبلوي (يعني هغه داسې د حضرت عباس رضی الله عنه نه سفارش او پناه وغوښتله) [۶] هر کله چې نبي کريم ﷺ ته دا بيان وشو ، نو حضور ﷺ وخندل، [۷] او وي فرمايل چې آيا هغه داسې وکړل؟، نو بيا حضور ﷺ د هغه په باره کې هيڅ حکم ونه کړي، (ابوداود)

حل اللغات: ① فَسَكِرَ: نشه شو ، مست شو ، ② يَمِيلُ فِى الْفَجِّ: په تلو کښې ني تالئ وهلې. ③ فَانْطَلِقَ: بوتللې شو ، روان کړې شو ④ حَاذَى: دَ محاذات نه دې، برابر شو ، نزدې شو . ⑤ انْفَلَتَ: خلاص شو ، ⑥ فَالْتَزَمَهُ: هغه پورې ونختلو (دخلاصولو سفارش غوښتلو دپاره)

تسهيلات:

د حديث د بعضې جملو وضاحت:

① فَلُقِيَ: دا دَ مجهول صيغه ده يعنى په کوڅه کښې دَ نشې په حالت کښې اوموندلې شو الفج دَدوو غرونو مينځ کښې کولاؤ لارې ته فج وائى دلته کولاؤ او ارته کوڅه مراد ده

② فَالْتَزَمَهُ: يعنى هغه سړې حضرت عباس رضی الله عنه پورې اونختلو او دَ سفارش او بچ کولو دپاره هغه پورې اينختې وو.

③ فَذُكِرَ: دا هم دَ مجهول صيغه ده يعنى دَ نبى کريم مخې تـه دَ دغـه عجيبه واقعې ذکر اوکړې شو

④ فَضَحِكَ: نبى کريم دَ حيرانتياد وجې نه په خنداشو معلومه شوه چه حيرانونکې خبره باندې خندل مباح دى.

⑤ أَفَعَلَهَا: دلته همزه دَ استفهام دَپاره دې اواستفهام تعجبى دې يعنى بـه هغه واقعى داسې او کړل؟

قوله: وَلَمْ يَأْمُرْ فِيهَا بِشَىْءٍ:

د حدنه لګولو حکم: يعنى دَ حدلګولو حکم ئې ورنه کړوپه دې وجه دَهغه سړى دَ طرف نه اقرار هم نه وو اود شرابو څکلوخوك ګواه هم نه وو صرف په کوڅه کښې په تالئى وهلوسره چا ليدلې وو نو دادَ شرعى حد دَ ثبوت دَپاره کافى هم نه وو بل دا چه دغه وخت نه سکر وو نه دَ شرابو څکلو څه بدبوئى وه په دې وجه حد اونه لګيدلو. دَدې نه هم معلومه شوه او وړاندې دَ حضرت على رضی الله عنه يوروايت هم راروان دې دَ کوم نه چه اندازه لګيدلې شى چه په اسلامى حدودو کښې دَ شرابو حددَ ټولونه آسان او سپك حد دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳٦۲۳] په حد کښې محدود د مرګ په صورت کښې عدم دیت

۳٦۲۳—[۷] (۱) ① عَنْ عُمَيْرِبْنِ سَعِيدٍ النَّخَعِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ يَقُولُ: ② مَاكُنْتُ لِأُقِيمَ عَلَى أَحَدٍ حَدًّا فَيَمُوتَ ③ فَأَجِدَ فِي نَفْسِي مِنْهُ شَيْئًا إِلَّا صَاحِبَ الْخَمْرِ; ④ فَإِنَّهُ لَوْمَاتَ وَدَيْتُهُ ⑤ وَذٰلِكَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَسُنَّهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت عمیر ابن سعید نخعي وایي چې ما د حضرت علي ابن ابي طالب کرم الله وجهه نه دا واوریدل ② که زه په یو سړي حد جاري کړم، او هغه سړی (د حد جاري کولو په وجه) مړ شي، ③ نو په مابه د دې هیڅ اثر نه وي (یعني زما سره به هیڅ غم نه وي. ځکه چې په هغه حد جاري کول د شریعت د حکم مطابق دی، او د شریعت د حکم په نفاذ کې د رحم او شفقت هیڅ محل نشته هو د شراب څکونکي خبره بله ده، ④ که هغه د څلوېښتو دورو نه د زیاتو دورو وهلو په وجه مړ شي، نو زه به د هغه دیت ورکوم. ⑤ او د هغه وجه دا ده چې نبي کریم ﷺ د شراب څکلو حد (سزا) نه ده مقرره کړې (یعني دا تعین یې نه دی کړی چې دومره یې ووهی) بخاري مسلم.

حل اللغات: ① وَدَيْتُهُ: زه به ئې دیت، خون بها ورکوم. ② لَمْ يَسُنَّهُ: نه ئې دې مقرر کړې

تسهیلات:

د حدیث د بعضې جملو وضاحت:

① **فَأَجِدَ فِي نَفْسِي:** یعنی که په حد لګولو سره څوك مړشی نوزه به په زړه کښې دا نه محسوس کوم چه دازما دطرف نه زیاتې شوې ځکه چه هغه د اسلامی حد په زدکښې راغلې دې

② **ودیته:** دا جمله دحضرت علی ﷺ دطرف نه د احتیاط په توګه هم ده اودې طرف ته اشاره هم ده چه حدخمر په ټولو حدودوکښې نرم حد دې. ددې مطلب دانه دې چه داحد نه دې پخپله دحضرت علی ﷺ د فیصلې مطابق حضرت عمر ﷺ د ټولو صحابه کرامو ﷺ په موجودګئ کښې د اتیاؤ کوړو سزا مقررکړې وه په کوم چه دصحابه کرامو اجماع اوشوه.

③ **لم یسنه:** ددې مطلب دادې چه نبی کریم تعین نه وو فرمائیل حدخوئی لګولې وو مګرطریقې مختلف وې په دې کښې دوه ښاخیزه چوکه ده . څلوېښت کوړې هم وهلی دی چه د اتیاؤ کوړو ثبوت ورکوی. بل د خلفاء راشدین فیصله ده اود صحابه کرامو اجماع ده نو په دې کښې د شك ګنجائش نشته دې.

---

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب الحدود/باب حدّ الخمر (رقم-۳۹ - (۱۷۰۷) والبخاری فی کتاب الحدود/باب الضّرب بالجرید والنّعال (رقم-٦۷۷۸)

[٣٦٢٤] د عمر ﷺ د طرفه د شراب څکلو د سزا تعین

[٨] ()١ وَعَنْ ثَوْرِ بْنِ زَيْدٍ الدِّيلِيِّ قَالَ: ٢ إِنَّ عُمَرَ اسْتَشَارَ فِي حَدِّ الْخَمْرِ فَقَالَ لَهُ عَلِيٌّ: ٣ أَرَى أَنْ تَجْلِدَهُ ثَمَانِينَ جَلْدَةً: ٤ فَإِنَّهُ إِذَا شَرِبَ سَكِرَ ٥ وَإِذَا سَكِرَ هَذَى ٦ وَإِذَا هَذَى افْتَرَى ٧ فَجَلَدَ عُمَرُ فِي حَدِّ الْخَمْرِ ثَمَانِينَ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ١ او حضرت ثور ابن زيد ديلمي وايي ٢ چې حضرت عمر ﷺ د شرابو د حد (سزا) مقررولو په باره کې د صحابه وُ ﷺ سره مشوره وکړه، نو حضرت علي ﷺ هغه ته وفرمايل ٣ چې زما رايه دا ده چې شرابي دې اتيا دورې ووهل شي. ٤ ځکه چې هغه شراب وڅکي نو مست شي. ٥ او چې مست شي نو اوتې بوتې وايي. ٦ او هرکله چې اوتې بوتې وايي نو بهتان لګوي. ٧ نو حضرت عمر ﷺ حکم جاري کړي چې شرابي دې اتيا دورې وهل کيږي. (مالك)

حل اللغات: ① اسْتَشَارَ: مشوره ئې وغوښتله ② هَذَي: ګډې وډې خبرې کول. اوتې بوتې بکواس وئيل ③ افْتَرَى: دروغ ئې اووئيل.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ عُمَرَ اسْتَشَارَ فِي حَدِّ الْخَمْرِ:

د شرابو دحد باره کښې د صحابو مشوره: حضرت على ﷺ ډيره کلکه خبره اوکړه اودَ ډيرو قواعدومخې ته کيخودوسره ئې بهترين قياس اوکړو چونکه په اسلام کښې دَ حدقذف ذکر په واضحه توګه قرآن کښې موجود دې اودَدې وجه په پاکوبيبيانوباندې بهتان تړل دى نوچه چرته هم داسې صورت پيښ شى دَهغې حکم به هم دَ قذف وى او چونکه شرابى بې عقل کيږى او برړيدوسره کنځلې کوى او اکثر په پاکو بيبيانوباندې بهتان لګوى اودَ بهتان سزا اتيا (٨٠) کورې دى لهذا دَ شرابوهم اتيا کورې کيدل پکاردى

دَ حضرت على ﷺ دا فيصله اغلبى اواکثرى حالات باندې مبنى ده چه اکثر شرابيان هم دغه شان کوى لهذا دَ ټولو هم دغه حکم دې صحابه کرامو ﷺ خوښولوسره اتفاق اوکړو نو اجماع شوه

() اخرجه مالک فى الموطا رقم الحديث ٢ من کتاب الاشربه

[۴] بَابُ مَا لَا يُدْعَى عَلَى الْمَحْدُودِ

محدود (چه په چا حد جاري شی هغه) ته د خیرو نه کولو بیان

خلاصة الباب:

فيه خمسة أحاديث مشتملة على ثلاث مسائل:

① عدم جواز اللعن على المحدود: ۱، ۲.

② عدم جواز غيبة المحدود: ۳.

③ كون الحد كفارة الذنب وهذا علة للحكمين الأولين : ۴، ۵.

تنبيه: په یوه نسخه کښې د باب په لفظ باندې تنوین دې اود مالفظ نشته دې. مطلب دا چه دا یو داسې باب دې په کوم کښې چه دا بیان دې چه په حد کښې مضروب سړی ته خیرې مه کوئی مثلاً چه په چا باندې حد جاری شی اویو مسلمان سړې د دغه مضروب باره کښې اووائی چه اخزاك الله یا دا اووائی چه په هغه باندې د سپی په شان کانړی اوورېدل نود دې خیزونو ممانعت راغلې دې.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۳۶۲۵] په ګناهګار د لعنت ویلو عدم جواز

۳۶۲۵—[۱] ()[1] ①عَنْ عُمَرَبْنِ الْخَطَّابِ «أَنَّ رَجُلًا اسْمُهُ عَبْدُ اللهِ يُلَقَّبُ حِمَارًا كَانَ يُضْحِكُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ② وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ جَلَدَهُ فِي الشَّرَابِ ③ فَأُتِيَ بِهِ يَوْمًا فَأَمَرَ بِهِ فَجُلِدَ ④ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: ⑤ اللّٰهُمَّ الْعَنْهُ مَا أَكْثَرَ مَا يُؤْتَى بِهِ. ⑥ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَلْعَنُوهُ ⑦ فَوَاللهِ مَا عَلِمْتُ أَنَّهُ يُحِبُّ اللهَ وَرَسُولَهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① حضرت عمر رضی الله عنه فرمايي چې يو سړی وو چې د هغه نوم خو عبد الله وو، خو (په دې وجه چې هغه ډېر ټوقی وو) هغه ته به يې حمار (يعني خر) ويلی، هغه به (خپل ټوقی آميز خبرو سره) نبي کريم ﷺ خندولی. ② نبي کريم ﷺ يو ځل په هغه د شرابو د څکلو په جرم کې حد جاری کړې وو. ③ بيا هغه به يوه بله ورځ د حضور ﷺ په خدمت کې پيش کړل شو. حضور ﷺ د هغه په دورو د وهلو حکم وکړې، نو هغه په دورو ووهل شو. ④ په حاضرينو د مجلس کې يو سړي اوويل ⑤ چې اې الله! ته په ده دې ستا لعنت وي، دی څومره ځله بار بار د شراب د څکلو په جرم کې نيولی راوستل شو. ⑥ نو حضور ﷺ وفرمايل چې په ده لعنت مه کوه. ⑦ قسم په خدای هغه خبره چې زه په پوهېږم، دا سړی د

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الحدود/باب ما يكره من لعن شارب الخمر، وإنه ليس بخارج من الملة(رقم-۶۷۸۰)

الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ سره محبت کوي. (بخاري)

حل اللغات: ① يُلَقَّبُ: لقب (دخپل نوم نه بغير په بل نوم مشهور کيدل) ② حِمَار: خر.

تسهيلات:

قوله: مَا أَكْثَرَ مَا يُؤْتٰى بِهِ: اولني ما تعجبيه دي، دويم ما مصدريه دي.

قوله: لَا تَلْعَنُوهُ چا باندې لعنت مه وائې، ددې تفصيل دادې چې چا باندې لعنت ليږي نو هغه ته به کتلې شی چې هغه ددې لعنت مستحق دې که نه. که ددې لعنت مستحق وی نو په هغه به لعنت اوشی، او که د لعنت مستحق نه وی نو هغه لعنتبه به لعنت ليږونکی ته واپس راشی اوس د لعنت مستحق هغه خلق دی کومو ته چې قرآن او احاديثو کښې ملعون وئيلې شوی دی او هغه کفار، فساق او منافقان وغيره دی.

[۳۳۳] گناهګار ته د خيرو کولو ممانعت

[۲] ۳۳۳ (۱) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ ② فَقَالَ: اضْرِبُوهُ فَمِنَّا الضَّارِبُ بِيَدِهِ ③ وَالضَّارِبُ بِنَعْلِهِ وَالضَّارِبُ بِثَوْبِهِ ④ فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ: أَخْزَاكَ اللّٰهُ ⑤ قَالَ: لَا تَقُولُوا هٰكَذَا لَا تُعِينُوا عَلَيْهِ الشَّيْطَانَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چې (يوه ورځ) د نبي کريم ﷺ په خدمت کې يو سړی پيش کړل شو، چې هغه شراب څکلي وو، ② حضور ﷺ وفرمايل چې دی ووهئ. نو په مونږ کې بعضو هغه په لاس سره ووهلی، ③ بعضو په خپلو څپلو سره ووهلی او بعضو د خپلو کپړو (دوره جوړولو سره) ووهلی، ④ کوم وخت چې هغه سړي واپس تللی، نو بعضو خلقو اوويل چې الله ﷻ دې تا ذليل او رسوا کړي، ⑤ حضور ﷺ (د دې اوريدو سره) وفرمايل چې داسې مه وايئ، اوپه ده دشيطان غالب کيدو کې مدد مه کوی. (بخاري)

حل اللغات: ① أَخْزَاكَ اللّٰهُ: الله دې تا اوشرموی، ذليل او رسوا شې

تسهيلات:

قوله: قَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ: أَخْزَاكَ اللّٰهُ:

محدود ته د کنځلو کولو ممانعت:

ددې حديث څخه معلومه شوه چې يو کس څه جرم اوکړی او د هغې په وجه هغه باندې حد قائمولې شی نوهغه ته بدرد وئيل او کنځلې کولو حرام دی ځکه چې انسان سره نفس او شيطان وی بعضې وخت کښې هغه د دوی په ګرفت کښې راشی او ګناه ترې اوشی غوره مسلمان هغه دې چې ګناه ترې اوشی نو توبه اوباسی.

---

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب الحدود/باب الضرب بالجريد والنعال (رقم-۶۷۷۷)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۶۲۷] د محدود بې عزتي د مردارې خوړلو سره ترادف

۳۶۲۷-[۳] ( )[۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «جَاءَ الْأَسْلَمِيُّ إِلَى نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[۲] فَشَهِدَ عَلَى نَفْسِهِ أَنَّهُ أَصَابَ امْرَأَةً حَرَامًا أَرْبَعَ مَرَّاتٍ[۳] كُلَّ ذَلِكَ يُعْرِضُ عَنْهُ[۴] فَأَقْبَلَ فِي الْخَامِسَةِ فَقَالَ: أَنِكْتَهَا؟ قَالَ: نَعَمْ.[۵] قَالَ: حَتَّى غَابَ ذَلِكَ مِنْكَ فِي ذَلِكَ مِنْهَا؟ قَالَ: نَعَمْ.[۶] قَالَ: كَمَا يَغِيبُ الْمِرْوَدُ فِي الْمُكْحُلَةِ وَالرِّشَاءُ فِي الْبِئْرِ؟ قَالَ: نَعَمْ.

ترجمه:[۱] حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چې ماعز اسلمي رضی الله عنه د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضرشو،[۲] او په خپل باره کې څلور ځله يعنی په څلورو مجلسونو کې دا شاهدي ورکړه (يعني دا اقرار يي وکړي) چې هغه د يوي ښځي سره د زنا په طريقه جماع کړيده.[۳] او حضور ﷺ به هر ځل (د هغه په اقرار کولو) خپل مخ مبارك څني گرځولي (چې هغه د خپل اقرار نه رجوع وکړي او د حد نه وساتل شي)[۴] او په پنځم ځل د هغه طرف ته متوجه کيدو سره يي وفرمايل چې آيا د هغی ښځي سره دي صحبت کړي دی؟ هغه اوويل چې هو، [۵] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې آيا تا داسې صحبت کړي دی. چې هغه (يعني ستا عضو مخصوص) د هغی (ښځي په حصۀ مخصوص کي) غائب شو؟ هغه اوويل چې هو. [۶] حضور ﷺ وفرمايل چې (آيا داشي) څنگه چې سلايي په سرمه داني (رانجه نونی) کې او رسی په کوهي کې غائبه کيږي؟ هغه اوويل چې هو،

حل اللغات:① يُعْرِضُ: اعراض به ئې کولو، مخ به ئې اړولو ② أَنِكْتَهَا؟: آيا تا جماع کړې ده هغې سره ③ غَابَ ذَلِكَ مِنْكَ: چه غائب شوې وی ستا دا (دسړی خاص اندام) ④ فِي ذَلِكَ مِنْهَا؟: دهغې په هغې کښې (دښځې خاص اندام) ⑤ الْمِرْوَدُ: سلائی د رانجو ⑥ الْمُكْحُلَةِ: رنجرومه. د رانجو کسوړئ. ⑦ الرِّشَاءُ: رسئ،

[۱] قَالَ: هَلْ تَدْرِي مَا الزِّنَا؟ قَالَ: نَعَمْ،[۲] أَتَيْتُ مِنْهَا حَرَامًا مَا يَأْتِي الرَّجُلُ مِنْ أَهْلِهِ حَلَالًا،[۳] قَالَ: فَمَا تُرِيدُ بِهَذَا الْقَوْلِ؟[۴] قَالَ: أُرِيدُ أَنْ تُطَهِّرَنِي،[۵] فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ،[۶] فَسَمِعَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِهِ يَقُولُ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ:[۷] انْظُرْ إِلَى هَذَا الَّذِي سَتَرَ اللهُ عَلَيْهِ فَلَمْ تَدَعْهُ نَفْسُهُ[۸] حَتَّى رُجِمَ رَجْمَ الْكَلْبِ، فَسَكَتَ عَنْهُمَا،

ترجمه:[۱] حضور ﷺ ورته وفرمايل چې آيا ته پوهيږي چې زنا څه ته وايي؟ هغه اوويل چې هو[۲]، ما د هغي ښځي سره په حرام طور سره هغه کار کړي دی، کوم چې يو سړی يې د خپلي ښځي سره په حلال طور سره کوي،[۳] حضور ﷺ ورته وفرمايل څه چې تا ويلي دي د دې نه ستا مقصد څه دی؟[۴] هغه اوويل چې زه دا غواړم چې ته ﷺ (په ما حد

---

[۱]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الترجّل /باب في كفّ اللّسان (رقم-۴۲۶۶)

جاري کولو سره) ما د دې ګناه نه پاك کړي (د دومره جرم کولو نه وروسته د هغه د زنا جرم بالکل ثابت شو) [۵] (نو) حضور ﷺ د هغه د سنګساری حکم جاري کړي، او هغه سنګسار کړل شو. [۶] بیا نبي کریم ﷺ په خپلو صحابه وُ ﷺ کې د دوو سړو نه واوریدل چې په هغوئ کې یو خپل ملګري ته وئیل [۷] چې دې سړي ته وګوره، الله ﷻ د ده پرده پوشي کړي وه، لیکن د ده نفس دې د خپلې ګناه د اقرار نه منع نه کړي. [۸] د دې پورې چې دی د یو سپي په شان شنګسار کړل شو، د دې اوریدو سره حضور ﷺ هغه وخت هغه دواړو ته څه ونه ویل،

حل اللغات: ⑧ فَلَمْ تَدَعْهُ: پرې نه خودلو، ⑨ رَجْمَ الْكَلْبِ: په شان د ویشتلو دسپی. لکه څنګه چه سپې ویشتلې شی،

> [۱] ثُمَّ سَارَ سَاعَةً حَتّٰى مَرَّ بِجِيفَةِ حِمَارٍ شَائِلٍ بِرِجْلِهِ، [۲] فَقَالَ: أَيْنَ فُلَانٌ وَفُلَانٌ؟ قَالَا: نَحْنُ ذَانِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ [۳] فَقَالَ: انْزِلَا فَكُلَا مِنْ جِيفَةِ الْحِمَارِ، [۴] فَقَالَا: يَا نَبِيَّ اللّٰهِ مَنْ يَأْكُلُ مِنْ هٰذَا؟ [۵] قَالَ: فَمَا نِلْتُمَا مِنْ عِرْضِ أَخِيكُمَا آنِفًا أَشَدُّ مِنْ أَكْلٍ مِنْهُ، [۶] وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ [۷] إِنَّهُ الْآنَ لَفِي أَنْهَارِ الْجَنَّةِ يَنْغَمِسُ فِيهَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] البته تر څه وخته پورې د تلو نه وروسته د یو مړه خره سره نزدې تیر شو چې د هغه پښې (د هغه بدن د ډیر زیات پړسیدو په سبب) اوچت شوي وې. [۲] نو حضور ﷺ پوښتنه وکړه چې فلانی فلانی (یعني هغه دوه) سړي چرته دي؟ چې هغوئ د ماعز ﷺ په دې وجه تحقیر (سپکاوی) کړي وو، چې هغه سنګسار شوی وو، هغوئ عرض اوکړو چې یا رسول الله! ﷺ مونږ دواړه حاضر یو. [۳] حضور ﷺ ورته وفرمایل چې تاسو دواړه راخکته شی. او د دې خره مرداره غوښه وخوري، [۴] هغوئ (په ډیره حیرانتیا سره) عرض اوکړو چې یا رسول الله! ﷺ د دی غوښه څوک خوری (یعني د دې غوښه خو د خوراك قابله نه ده. تاسو د دې د خوراك د پاره مونږ ته څنګه فرمایاست؟) [۵] حضور ﷺ ورته وفرمایل تاسو چې اوس د خپل وروركومه بې عزتي کړي ده، هغه د دې مردار خره د غوښو د خوړلو نه هم زیاته خرابه خبره ده. [۶] قسم دی په هغه ذات چې د هغه په لاس کې زما ساه ده. [۷] بیشکه هغه (یعني ماعز ﷺ) اوس د جنت په نهرونو کې غوټې وهی. (ابوداود)

حل اللغات: ⑩ بِجِيفَةِ حِمَارٍ: مُردار خر، ⑪ شَائِلٍ بِرِجْلِهِ: خپې ئې اوچتې وې، ⑫ نَحْنُ ذَانِ: مونږه دا یو، ⑬ فَمَا نِلْتُمَا: کوم ته چه تاسو رسیدلی وئ، تاسو چه اوس کوم کار کړې دې ⑭ عِرْضِ: بې عزتی، ⑮ آنِفًا: اوس، ⑯ يَنْغَمِسُ: غوپې وهی، غوټې وهی

تسهیلات:

قوله: مَرَّ بِجِيفَةِ حِمَارٍ شَائِلٍ بِرِجْلِهِ:

د شائل د لفظ تفسیر: څناورچه کله مړشی اومردار پروت وی نو هغه اوپړسیږی اودهغه خپې پورته طرف ته اوچتې شی هم دې ته شائل وائی.

[۳۳۸] د لياوى حد د ګناه دپاره کفاره ګرځيدل

۳۳۸- [۴] (¹)①وَعَنْ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②«مَنْ أَصَابَ ذَنْبًا أُقِيمَ عَلَيْهِ حَدُّ ذٰلِكَ الذَّنْبِ فَهُوَ كَفَّارَتُهُ». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: ① او حضرت خزيمه رضي الله عنه ابن ثابت وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② كوم سړى چې يوه داسې ګناه وكړي چې حد واجب كونكى وي، او بيا په هغه د هغه ګناه حد جاري شي (يعني مثلًا يو سړي زنا وكړه او هغه په دورو ووهل شو ، او يا يو سړي غلا وكړه او د هغه لاس پرې شو) نو هغه حد د هغه ګناه كفاره ده (يعني د حد جاري كيدو نه وروسته هغه سړي د هغه ګناه نه پاك شي) شرح السنة.

تسهيلات: **قوله:** فَهُوَ كَفَّارَتُهُ:

د حدودو كفارات كيدو كښې ۲ مذاهب:

① د حضرت امام شافعي رحمه الله په نزد حدود كفاره دى ، حد لګيدو نه پس مجرم دواړو جهانونو كښې د جرم نه پاك شي.

② د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد حدود كفاره نه دى بلكه زواجر دى چې مجرم بيا دپاره داسې فعل او حركت اونه كړي.

داول فريق دليل: زيربحث حديث د دوى مستدل دې ځكه چې په دې كښې ورته كفاره وئيلې شوې ده يعني د حد نفاذ د ده د ګناه دپاره كفاره شوه.

داول فريق د دليل دوه جوابونه: ① دلته يو قيد محذوف دې (فهو كفارته إذا تاب)

② عام طور حد نافذ كيدو سره د توبې توفيق ملاويږي ، خاص كر د صحابه كرامو په دور كښې به داسې وو. دا مسئله په اول جلد كښې تيره شوې ده.

د دويم فريق دلائل: ① د غل په سزا كښې (وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوٓا اَيْدِيَهُمَا.......... فَمَنْ تَابَ مِنْۢ بَعْدِ ظُلْمِهٖ) فرمائيلې شوى دى. ددې نه معلوميږى چې د حدودو نه پس د توبې ضرورت هم شته دې كه حدود كفارهٔ سيئات وې نو دلاس پركولو نه پس بهٔ د توبې ضرورت نه وو.

② (وَالَّذٰنِ يَاْتِيٰنِهَا مِنْكُمْ فَاٰذُوْهُمَا ۚ فَاِنْ تَابَا) دلته هم د توبې ذكر دې.

③ (اِنَّمَا جَزٰٓؤُا الَّذِيْنَ يُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ........ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا إلخ) په دې كښې هم د سزا نه پس د توبې ذكر دې.

¹) اخرجه احمد في المسند: ۲۱۵/۵

④ يو حديث پاك كښې راځي چې نبی کريم ﷺ په يو کس باندې حد جاری کړو او دې نه پس نبی کريم اوفرمائيل چې (قل أستغفرالله وأتوب إليه) ددې دلائلونه معلومیږی چې حدود کفارات نه دی بلکه زواجر دی. او حدودو نه پس د توبې ضرورت باقی وی.

[۳۶۲۹] په حد قائم شوی جرم باندې په آخرت کښې عدم سزا

۳۶۲۹—[۵] ()① وَعَنْ عَلِيٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ②«مَنْ أَصَابَ حَدًّا فَعُجِّلَ عُقُوبَتَهُ فِي الدُّنْيَا ③ فَاللّٰهُ أَعْدَلُ مِنْ أَنْ يُثَنِّيَ عَلَى عَبْدِهِ الْعُقُوبَةَ فِي الْآخِرَةِ، ④ وَمَنْ أَصَابَ حَدًّا فَسَتَرَهُ اللّٰهُ وَعَفَا عَنْهُ ⑤ فَاللّٰهُ أَكْرَمُ مِنْ أَنْ يَعُودَ فِي شَيْءٍ قَدْ عَفَا عَنْهُ». ⑥ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① او حضرت علي کرم الله وجهه د نبي کريم ﷺ نه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② کوم سړی چې د حد سزا وار وي (يعني يوه داسې گناه وکړي. چې په هغه حد مقرر دي) او بيا په دي دنيا کې هغه ته د هغه سزا ورکول شوه (يعني په هغه هغه حد جاري کړل شو، يا تعزير يعنی يوه بله سزا ورکول شوه)③ نو په آخرت کې به هغه ته د هغه گناه څه سزا نشي ورکولی، ځکه چې دا د الله ﷻ د شانِ عدل نه بعيده (لیری) ده. چې هغه په آخرت کې خپل بنده ته دوباره سزا ورکړي، ④ او کوم سړي چې د يو حد (يعني د گناه مرتکب شي) او الله ﷻ د هغه هغه گناه پټه کړه، او هغه يې معاف کړي. ⑤ نو د الله ﷻ د شانِ کريمي نه دا بعيده ده چې د هغه په هغه څيز دوباره مواخذه (نيوکه) وکړي، کوم چې هغه معاف کړي دی. ⑥ (ترمذي ابن ماجه) او ترمذي رحمه الله ويلي دي چې دا حديث غريب دی.

حل اللغات: ① أَنْ يُثَنِّيَ: چه دوباره ورکړی. مکرر کړی.

تسهيلات:

قوله: مَنْ أَصَابَ حَدًّا فَعُجِّلَ عُقُوبَتَهُ فِي الدُّنْيَا:

حدود د آخرت د سزا دپاره د کفاره کيدو کښې اختلاف: دَ پورته ذکر شوو دواړو احاديثو نه يوه خبره په واضحه توګه معلومیږی چه په دنياکښې دَ حد په ذريعه سره دَ سزا تيرولونه پس به په آخرت کښې دا سړې دَ سزا نه بچ شی ددې مضمون احاديث ډيرزيات دی اودَ حدود کفارات کيدو کښې يا زاجرات کيدو کښې دَ فقهاؤ اختلاف هم دې. مادَ دې تفصيل په جلد اول کښې هم کړې دې که په حقيقت باندې نظر واچولې شی نودَ فقهاؤ دا اختلاف دومره ژورنه دې. احناف فرمائی که دَ گناه مرتکب دَ حد دَ سزا سره په ژبه سره توبه او استغفار اوکړی نوبيا حدود مطهرات اومکفرات دی اوبنکاره خبره ده

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الإيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء لا يزنی الزانی وهو مؤمن (رقم-۲۶۲۶) و ابن ماجه فی کتاب الحدود/باب «الحدّ كفّارة» (رقم-۲۶۰۴) واحمد فی المسند: ۹۹/۱

چه څوك به داسې سړې وی چه دومره لویه سزا خوړلو په وخت کښې به دَ خلې نه توبه اونه کړی. نودَدې تولو احادیثو مطلب دَ احناف په نیز داشو چه حدود بشرط توبه مکفرات ومطهرات دی. په دې حدیث کښې دویمه خبره دا معلومه شوه چه کله الله تعالی دَخپل طرف نه په یوه ګناه باندې پرده اچوی نوبنده له هم پکار دی چه دَ خپلې ګناه پخپله تشهیر نه کوی. په دې کښې یوخودَ ګناه تشهیر دې کوم چه منع دې اودویم دَ نفس توهین هم دې نو په خاموشئی سره دې استغفار کوی

[۵] بَابُ التَّعْزِيرِ

دَتعزیربیان

خلاصة الباب:

فيه أربعة أحاديث مشتملة على أربع مسائل:

① عدم تجاوز االتعزيرإلى مقدار الحد: ١-

② حرمة ضرب الوجه في تنفيذالحد: ٢-

③ تعيين قدر التعزير في بعض الجرائم: ٣-

④ حكم التعزيرفي الخيانة: ۴-

قوله: التعزير:

دتعزیر لغوی معنی: تعزیر عزر نه دې دَ کوم معنی چه منع کول، ملامت کول اودړکه کول دی. دَ تعزیرپه ذریعه هم سړې دَ ګناه نه بندولې او رټلې شی

د تعزیر اصطلاحی معنی: فقهاؤ په اصطلاح کښې تعزیردَهغه سزا نوم دې چه دَ پاره دَ تادیب اوتهذیب ورکولې شی اودَ کوم مقدارچه دَ ادنی حدنه کم وی

دَتعزیر ثبوت: په قرآن کریم کښې دَ تعزیر ثبوت په دې آیت سره دې ﴿وَاضْرِبُوهُنَّ ۚ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا﴾ سورة النساء ۳۴. او په حدیث کښې (ولاترفع عصاك عنهم أدبا) دَ آیت او حدیث دواړونه دَ ښځې دَ وهلو اشاره ملاویږی اوهم دغه تعزیردې. په یوبل حدیث کښې دی (رحم الله امرأعلق سوطه حيث يراه اهله) (مرقات ملاعلی قاری) یعنی الله تعالی دې په هغه بنده باندې رحم اوکړی چه خپله همسا په داسې ځائی کښې زوړنده کړی چرته چه دَهغه ښځې ته ښکاری

په حد اوتعزیر کښې فرق: حددَهغه خاص سزا نوم دې چه دَ کتاب الله او سنت رسول الله ﷺ نه هم ثابت وی اومتعین هم وی. دَ وخت حاکم ته نه په دې کښې دَ ترمیم اواضافه اختیارشته اونه دَنورو تصرفاتو اختیارشته، حاکم ته صرف دَدې دَ نافذ کولوحق حاصل

دي. دَ دې برعکس تعزیر هغه سزا ده کومه چه کتاب او سنت نه ده متعین کړې بلکه دَدې تعین مفوض الی رائی الامام دې. دَ امام شافعي رحمه الله په نیز په حاکم او قاضي باندې دَ تعزیر جاري کول لازم نه دی بلکه دَهغه په رائې باندې موقوف ده چه هغه دَ تعزیر سزا ورکړي که نه خو امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائي چه په امام باندې لازم او ضروري دی بلکه واجب دی چه هغه دې تعزیر نافذ کړي.

امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائي که چرې دَتعزیر ذکر په نص کښې موجود وي نو بیا دَدې نافذ کول واجب دی او که دَتعزیر حکم په نص دَ قرآن کښې موجود نه وي نو بیا دَ وخت دَ حاکم په رائې باندې موقوف ده چه هغه څنګه غواړي نافذ دې کړي یا دې نه نافذ کوي.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳۶۲۰] دَ تعزیر په طور زیات نه زیاته څومره سزا ورکول کیدی شي؟

۳۶۲۰ـ[۱] ()[1] ۱ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ بْنِ دِينَارٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ۲: «لَا يُجْلَدُ فَوْقَ عَشْرِ جَلَدَاتٍ إِلَّا فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوبرده رضي الله عنه ابن نیار د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ۲ الله جل جلاله چې کوم حدود مقرر کړي دي، په هغه کې د یو حد نه علاوه (د بلې یوې ګناه په تعزیر او تنبیه کې) د لس دورو نه زیاته سزا دې نه ورکول کیږي. (بخاري مسلم)

تسهیلات:

قوله: «لَا يُجْلَدُ فَوْقَ عَشْرِ جَلَدَاتٍ».

په تعزیر کښې د زیاتو کوړو په تعداد کښې ۳ مذاهب:

شریعت په تعزیر کښې څه حد نه دې متعین کړې خو دَ فقهاء کرامو په دې باندې اتفاق دې چه کم نه کم درې کوړې دې وي دَ دریو نه کم کوړې تعزیر نه دې. او س دا مسئله زیر بحث ده چه په تعزیر کښې دَ زیات نه زیات څومره کوړې او وهلې شي نو په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

① امام شافعي رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائي دَ لسو نه زیاتې کوړې په تعزیر کښې نه دی وهل پکار.

② دَ امام مالک رحمه الله په نیز دَ زیاتو کوړو وهلو څه حد متعین نه دې. قاضي او امام چه

---

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الحدود/باب: کم التعزیر [ص:۱۷۴] والأدب (رقم-۶۸۴۸) ومسلم فی کتاب الحدود/باب قدر أسواط التعزیر (رقم-۴۰ - ۱۷۰۸) و ابو داود فی کتاب الحدود/باب فی التعزیر (رقم-۴۴۹۱) والترمذی فی کتاب الحدود عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی التعزیر (رقم-۱۴۶۳) و ابن ماجه فی کتاب الحدود/باب التعزیر (رقم-۲۶۰۱) واحمد فی المسند: ۴۵/۴

خومره مناسب گنړي کوري دي لګوي دَ صاحبینو هم دغه مسلك دې (کما فی المرقاة)

③ امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه دَ ادنی حده پورې تعزیرنه دی رسول پکار بلکه دَ هغې نه کم کیدل پکاردی. لهذا دَ یوغلام حدقذف څلویښت کوړې دی نودَ دغه ادنی حدنه یوه کوړه کمولوسره یوکم څلویښت کوړې لګول پکاردی. خوبیاهم دا تعزیر دَ امام په اختیار باندې موقوف دې لهذا دَ تعزیرپه ضمن کښې دَ زیات نه زیاتـه سزا ورکولې کیدې شی تردې چه دَ قتل پورې هم خبره رسیدې شی.

داول فریق دلیل: "لایجلد فوق عشر جلدات" دَ مشکوة دَ زیر بحث حدیث د دوی مستدل دې

داول فریق د دلیل جواب: دا حدیث دَ هغه احادیثو دَ وجې نه منسوخ شوې دې په کوموا حادیثوکښې چه دَ لسو کوړونه دَ زیاتو ذکر راغلې دې او صحابه کرامو په دې باندې عمل کړې دې.

د دویم فریق دلیل: دَحضرت عمرفاروق رضی الله عنه د تعزیریوه واقعه د دوی مستدل ده په کوم کښې چه متعلقه سړی ته سل کوړې هم وهلې وې اوهغه سړې قیدهم شو. واقعه داسې وه چه معن بن زائده دَ بیت المال نه دَ جعلی مهرپه ذریعه مال واخستو حضرت عمر رضی الله عنه ته معلومه شوه نوهغه ئی سل کوړې اووهلواو قیدئی هم کړو.

د دویم فریق د دلیل جواب: حضرت عمر رضی الله عنه خوجرمونه یوځائی کولو سره سل کوړې وهلې وې په یوجرم کښې په سلوکوړو سره تعزیرنه وو شوې.

د دریم فریق دلیل: نبی کریم تعزیر حدته دَ رسولونه منع فرمائیلې ده

د شیخ فضل محمد مدظله رائې: دَ فقهاؤدَ مذاهبو په انضباط کښې دَ تعزیر په مسئله کښې ډیر مشکلات دی ډیر اقوال دی. ما په توضیحات مشکاة کښې دَ ملاعلی قاری رحمه الله دَ مرقات نه دَ مذاهبو دَ اختلاف اقوال راجمع کړی دی سره دَدې چه نورو شارحینوپه بل انداز سره اقوال راجمع کړی دی. بهرحال دَ تعزیربنیاد دَ امام رائې او اختیار په بنیاد باندې دې. که چرې هغه مصلحت وینی چه دلته دَ زیاتې سزا ضرورت دې نوزیاته ورکولې شی اوکمولې هم شی. لهذا په دې کښې یوخاص تعین دَهغه آزاد حیثیت متاثرکوی

د تعزیر مختلف صورتونه:

① عمدة الرعایه کښې لیکلی دی چه کله تعزیر پـه سټ بانـدې پـه کـاڼړی وهلوسـره حاصلیږی

② کنځلې کول ③ دَ وطن نه ویستل

④ د غوږنو تاوهل ⑤ قیدکول ⑥ سخت ګذار سره

د تعزیربالقتل مواقع: مشائخ عظام دَ څو داسې ځایونو ذکرکړې دي چه هلته تعزیر بالقتل هم جائز دې

① مثلاً يو سړې هروخت غلا کوی
② يا مسلسل جادو کوی
③ يا مسلسل لواطت کوی
④ يا نبی کریم ﷺ ته کنځلې کوی نو داسې خلق قتل کول په توګه دَتعزیر جائز دی. فقهاؤ داهم ليکلی دی چه که يو سړی اوکتل چه څوک سړې دَ هغه ښځې سره زنا کوی نوهغه دې قتل کولې شی (سره دَدې چه اسلامی عدالت دَ هغه نه جواب طلبی هم کولی شی ليکن دَ الله تعالی په نيز داسړې راګيرنه دې). (زجاجه المصابيح ج۳ص ۱۰۲)
خلاصه الفتاوی اوفتاوی ظهير په چاباندې مالی جرمانه لګولوسره دَ مال اخستلو تعزير هم جائز ليکلې دې اودَ کورونو سوزول ئې هم په تعزيرکښې شميرکړی دی (حواله بالا)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۶۳۱]په مخ د وهلو ممانعت

۳۶۳۱—[۲] ()[۱]عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ[۲]: «إِذَا ضَرَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَتَّقِ الْوَجْهَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱]حضرت ابوهريره ﷺ د نبي کريم ﷺ نه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲]هر کله چې په تاسو کې يو سړی (يو مجرم سزاء) وهي، نو هغه ته پکار دی چې هغه مجرم دی په مخ نه وهي. (ابوداود)

تسهيلات: قوله: فَلْيَتَّقِ الْوَجْهَ:

د حد په نفاذ کښې د مخ د وهلو حرمت: مطلب دادې چه کله يو مجرم سړې په تعزيرکښې په کوړووهلې کيږی يا په حد کښې وهلې کيږی نودې خبرې خيال به ساتلې کيږی چه د کوړووهلومقام دې مخ نه وی مخ به بچ کولې شی دَدې يوه وجه خوداده چه سر او مخ هغه نازک اندامونه دی چه په کوړه وهلوسره دَ هلاکت خطره پيداکيدې شی. فقهاؤ ليکلی دی چه کوړې دَ بدن په نرم حصوباندې متفرق وهلې کيږی. دويمه وجه داکيدې شی چه مخ له الله تعالی يو عزت ورکړې دې او په بدن کښې دَ ټولونه زيات مکرم دې په دې وجه په دې کوړې نه دی لګول پکار. په يوحديث کښې دی چه (ان الله خلق آدم علی صورته) په دې وجه هم مخ ته اعزاز حاصل دې.

[1]) اخرجه ابوداودفی السنن کتاب الحدود /باب فی ضرب الوجه فی الحد(رقم-۴۴۹۳) واحمد فی المسند:۲/ ۲۴۴

[۳۶۲۲] د کنځلو سزا

۳۶۲۲-[۳] ()[۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۲]«إِذَا قَالَ الرَّجُلُ لِلرَّجُلِ: يَا يَهُودِيُّ فَاضْرِبُوهُ عِشْرِينَ، [۳]وَإِذَا قَالَ: يَا مُخَنَّثُ فَاضْرِبُوهُ عِشْرِينَ، [۴]وَمَنْ وَقَعَ عَلَى ذَاتِ مَحْرَمٍ فَاقْتُلُوهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱]او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د نبي کريم ﷺ نه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲]که يو مسلمان بل مسلمان ته اووائي چې اې يهودي! نو هغه شل دوري ووهي، [۳]که هغه ته مخنث اووائي نو هم يې شل دوري ووهئ، [۴]او کوم سړی چې د محرمي ښځي سره زنا وکړي هغه قتل کړئ، ترمذي رحمه الله دا روايت نقل کړي دی او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دی.

حل اللغات: ① مُخَنَّثُ: هيجړا، هغه سړي چه د زنانو په شان ښکاری.

تسهيلات: قوله: يَا مُخَنَّثُ:

مصنوعی طور د مخنث جوړيدو حکم: مخنث هغه سړی ته وائی دَ چاندامونه اوخبرې اترې چال چلن طورطريقه چه دَزنانو په شان وی. که چرې داکمزوری پيدائشی وی نوځه گناه نشته دې اوکه چرې مصنوعی او بناوتی وی نودا ډير لوئی جرم دې.

قوله: فَاضْرِبُوهُ عِشْرِينَ:

د تعزير بعضې جرائم: ① دا شل کوړې دَدې خبرې دليل دې دې نه مخکښې چه کوم دَ لــو کوړو ذکراغلې دې په هغې کښې تحديد اوتعين نشته بلکه هغه حديث منسوخ دې. که يوسړې په خپل غلام يا کافرباندې دَ زنا تهمت اولګوی نو په دې باندې حد قذف نشته بلکه تعزيردې

② که چرې يومسلمان بـل مـسلمان دَزنا نه عـلاوه پـه تکليف ورکونکو الفاظوسره ياد کړو نوپه دې کښې به تعزيرراځی مـثلاً اې فاسقه اې کافره اې غله اې خبيثه اې منافقه اې لوطی اې يهودی اې ديوثه اې مخنثه اې دَ بدکاره ښځې ځويه اې دَ رنډئی اولاده اې زنديق اې حرام زاده وغيره.

③ که يومسلمان ئی دې راتلونکو الفاظوسره يادکړو نوتعزير به نه راځی مثلاً وئی وئيل اې خره، اې سپيه اې بيزوګيه، اې ګونګيه اې ماره اې غويه اې دَ نئی اولاده اې مکاره اې بې وقوفه اې مسخرې وغيره وغيره علماؤ ليکلی دی چه که يوعيب واقعی په چاکښې وی نوتعزيربه نه کيږی اوکه عالمان اوشريفان ئی دې الفاظوسره يادکړل نو تعزير به کيږی.

() اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الحدود عن رسول الله صلّی الله عليه وسلّم/باب ما جاء فيمن يقول لآخر يا مخنّث (رقم-۱۴۶۲) و ابن ماجه فی کتاب الحدود/باب من أتی ذات محرم ومن أتی بهيمة (رقم-۲۵۶۴)

قوله: عَلٰى ذَاتِ مَحْرَمٍ:

محرم سره د زنا کولو په سزا کښې ۲ مذاهب:

يعني خپلو محارمو سره ئې زنا اوکړه نو هغه قتل کړئې.

① دامام احمد په نيزمحرم سره زنا کونکې به قتل کولې شی.

② جمهورعلماء فرمائی چه دزنا په معامله کښې ضابطه هم يوشان ده که محصن وی نوسنګسارولې به شی او که چرې غيرمحصن دې نو کوړې به ورکولې شی

د اول فريق دليل: حديث الباب د دوی مستدل دې ځکه چې په دې ښکاره وئيلی شوی دی چه ذات محرم سره زنا کونکې واجب القتل دې که هغه محصن وی اوکه غيرمحصن

د دويم فريق دلائل: هغه ټول احاديث د جمهورو مستدلات دی په کومو کښې چې د محصن سزا رجم خودلې شوې دې.

داول فريق د ليل درې جوابونه: ① دادَ هغه سړی باره کښې دې چه محارم سره زناکول جائز ګنړی نوبيابه دَ ده قتل دَ ارتدادد وجې نه وی.

② دا حديث په زجرتوبيخ تشديد اوتغليظ باندې محمول دې.[1]

③ دا حکم دَ سياست اومصلحت لاندې دې که چرې امام اوقاضی مناسب ګنړی نوقتل دې کړی او دا دَ تعزير حصه ده. دا جواب دَ تعزير باب سره زيات موافق دې

[۳۶۳۲] په مال غنيمت کښې دَخيانت کونکی تعزير

۳۶۳۲—[۴] () ①وَعَنْ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ②: «إِذَا وَجَدْتُمُ الرَّجُلَ قَدْ غَلَّ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ③ فَأَحْرِقُوا مَتَاعَهُ وَاضْرِبُوهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ①او حضرت عمر فاروق رضی الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ②که تاسو يو داسې سړی ونيسی چې هغه د خدای پاك په لار کې خيانت کړي وي (يعني هغه د مال غنيمت د تقسم نه مخکې د هغه نه يې څه پټ کړي وي) ③نو د هغه مال او اسباب وسوځي. اوهغه ووهي[ابو داؤد ترمذی، ترمذی رحمه الله ويلی دی چې دا حديث غريب دی]

حل اللغات: ①غَلَّ: خيانت کول، غلا کول.

تسهيلات:

قوله: قد غَلَّ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ:

په مال غنيمت کښې د خيانت کولو سزا: يعنی په مال غنيمت کښې ئی خيانت اوکړو نو سړی له به دَ تعزير په توګه کوړې ورکولې شی اودَ هغه مال او متاع دې اوسوزولې شی.

[1]) اخرجه ابوداودفی السنن کتاب الجهاد/باب فی عقوبة الغالّ (رقم-۲۷۱۳) والترمذی فی کتاب الحدود عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی الغالّ ما یصنع به (رقم-۱۴۶۱)

په مال غنيمت کښې د خيانت کونکى د مال سوزولو په حکم کښې مذاهب:
① د امام احمدبن حنبل رحمه الله اوحسن بصرى رحمه الله په نيز دَ دې سړى سامان يوځائى کولوسره به سوزولې شى. اوکه په دې سامان کښې ځناور وى يا مصحف شريف وى يا دَ جهاد وسله وى نوهغه به نشى سوزولې.
② جمهورعلماء فرمائى سامان به نشى سوزولې
د اول فريق دليل: ظاهر د حديث د دوى مستدل دې
داول فريق د دليل دوه جوابونه:
① دَ حديث دا حکم خو دَ اسلام په شروع کښې ووبيا منسوخ شو
② داحکم په تغليظ تشديد اوزجر اوتوبيخ باندې محمول دې يعنى دې اوويره وه مګر عمل مه کوه.
د دويم فريق دليل: ① په دې کښې دَ غانمينو حق دې ځکه چه دا سامان دَدې سړى خو خپل نه وو.

[۶] بَابُ بَيَانِ الْخَمْرِ وَوَعِيدِ شَارِبِهَا]

دَ خمرتعريف اودَ څکونکى دَپاره وعيد

خلاصة الباب:

فيه أربعة وعشرون حديثاً مشتملة على سبع مسائل:

① الأشياء التي يتخد منها الخمر: ۱، ۲، ۳، ۱۳.
② كون كل مأسكرفكثيره وقليله حرام: ۴، ۵، ۶، ۱۱، ۱۲، ۱۶، ۱۷، ۱۸.
③ ذكروعيد شارب الخمر: ۵، ۶، ۱۰، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۲، ۲۳، ۲۴.
④ النهي عما يؤدي إلى الإسكار: ۷.
⑤ الأمر بإهراق الخمر: ۱۴، ۱۵.
⑥ حرمة إتخاذ الخل من الخمر: ۸.
⑦ النهي عن صناعة الخمر: ۹، ۱۷.

تسهيلات: قوله: الْخَمْرِ:

د خمر په تعريف او حکم کښې مذاهب:
① «الخمروهي النّيُّ من ماء العنب-اذاغلاواشتدوقذف بالزبد» [مظاهرحق:۳/۶۴۵].
يعنى شراب دَ انګوردَهغه کچه شيرې نوم دې کله چه سخته اوتينګه شى او په هغې کښې ځګ پيدا شى.

د انګورو د تخصيص وجه:

احناف دَخمرتعريف انګوروسره ځکه خاص کوی چه دَدې قطعي حرام ماده يومتعين حقيقت کيدل پکاردی اهل لغت هم دې ته دَ يوخاص شراب اوخاص شربت نوم ورکړې دې دَدې عارض دَ وجې نه ئی شراب انګوروسره خاص کړل ګنی تخصيص نشته دې

② خمريعنی شراب دَهغه څيز نوم دې دَ کوم په استعمال سره چه نشه اومستی پيدا شی که هغه دَ انګورودَ شيرې په شکل کښې وی اوياکه دَهريوبل څيزدَ شيرې وی (کذافی القاموس)

دمذکوره تعريف غوره والي:

دا تعريف ډير بهتردې ځکه چه دادَ شرابونو ټولو قسمونوته شامل دې صرف دَ انګوروشيرې سره خمرخاص کول مناسب نه دی اودا ضروری ده چه دَ کومې ميوې نه شراب جوړکړې شی اوپه هغه شيره کښې سکر اونشه موجودوی که هغه دَ کهجورونه جوړه کړې شی يا دَ شاتونه يادَ جوارونه يادَ بل څه مادې نه واخستې شی (والخمرما خامرالعقل) دَدې عموم فائده به داشی چه په عربوکښې اوخاص کر په مدينه منوره کښې به دَ انګورو شرابو کله ناکله ملاويدل په دې وجه دَ شرابوحکم ټولوميوو ته عام کول پکاردی

د مسکراتو څلور قسمونه: کوم څيزونه چه نشه ورکوی دَهغې لوئی قسمونه څلور دی

① دَ انګورو شيره په اورباندې معمولی شان پخه کړې شی اوبيا محفوظ کړې شی دې ته په عربی کښې "باذق" وائی او فارسی کښې "باده" وای اوکه هم دغه ماده زياته پخه کړې شی چه په څلوروحصوکښې يوه حصه اوسوزی او څلوروکښې درې حصې پاتې شی نودې ته "طلاء" وائی داهم حرام دی دَدې څکل هم ناجائزدی او په دې کښې دَ حدنافذکولودَپاره دَ نشې ختل شرط دی

② نقيع الزبيب دې دې ته عصيرالزبيب هم وائی دا کشمش يعنی اوسکو کوم ته چه ميوه هم وائی هغه شيره ده په کوم کښې چه دَ زيات وخت دَپاره کيخودوسره براس هم راځی او ځګ هم دَدې څکل حرام دی مګر دَ حد لګيدو دَپاره نشه ختل شرط دې دَ نشې نه ختلونه بغيربه حد نه لګی دَامام ابوحنيفه رحمه الله په نيز په دې څلورو واړو قسمونوکښې "اذاغلاواشتدوقذف بالزبد" شرط دې يعنی دَ ځګ راتلل په هرقسم کښې ضروری دی ليکن صاحبين حضرات دَ ځګ راوُچتيدو شرط صرف په خمرکښې ضروری ګنړی باقی دريواړو قسمونوکښې ځګ راوُچتيدل ضروری نه دی صرف غليان او جوش کافی دې

③ **نقيع التمر** دې کوم ته چه عصيرالرطب هم وائی او سکرهم دَدې نوم دې دادَ لمدو

کهجورو هغه شیره ده کومه چه تینګه شي او په هغې کښې ځګ پیدا شي دَدې ځکل حرام دی مګر دَ حد لګولو دَپاره نشه ختل شرط دی دَ نشې دَ ختلو نه بغیربه پرې حد نه لګی.
③ دَ شرابو دې دادَانګورو غیره نه داسې جوړیږی چه دَ انګورو کچه شیره واخلی په یولوښی کښې کیږدی دَ یوځو ورځونه پس هغه تینګه شي بیا دا اوخوټکیږی اوهغه نشه ورکونکې جوړشی دې ته خمری وائی.
راجح قول دادې چه په دې کښې دَ ځګ راوْچتیدل شرط نه دی. دا شراب دی او په نص قطعی سره حرام دی. دَ دې قلیل هم حرام دی او کثیرهم حرام دی دَ چا هم په دې کښې اختلاف نشته دې. دا دَ نشه ایزڅیزونونو جړه اواصل دې نور نشه ایزڅیزونه دَدې تابع دی. په دې کښې نشه ختل اونه ختلو قید نشته دې بلکه مطلق حرام او موجب حد دی اودا نجس العین دی.
مزید مشروبات اربعه: دلته څلورقسم نور مشروبات هم دی.
① اول نبیذالتمر دې دادَخرما نه جوړشوې دَ هغه مشروب نوم دې کوم ته چه معمولی جوش ورکړې شوې وی او په دې کښې نشه نه وی راغلې.
② دوم خلیط دې یعنی کشمش او خرما ملاوولو سره لږشان جوش ورکړی اوشربت ئې ترې جوړکړو.
③ دریم بتع ده په باء اوتاء باندې زبردې. دادَهغه نبیذ نوم دې کوم چه دَ غنمو جوارو شاتو او اوربشوو غیره نه په اوبو کښې واچوی معمولی جوش ورکولو سره ترې عرق اوباسی.
④ څلورم مثلث دې یعنی چه دَانګورو عرق ئې دومره پوخ کړو چه دوه حصې ئې ختمې شوې او یوه حصه دَ شربت په صورت کښې باقی پاتې شی [مظاهرحق ۳/۶۴۶].
د مشروبات اربعه حکم:
① د جمهور په نیزسره د امام محمد .دَدې څلورواړو قسمونو مشروبات حکم دادې که دَدې په زیات مقدار استعمال سره نشه راځی نودَدې قلیل مقدار استعمال هم حرام دې اوکه چرې په کثیر مقدارکښې نشه نه وی نوقلیل اوکثیر دواړه حلال دی.
② امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی که چرې دَدې څیزونوقلیل مقدار په عبادت باندې دَ قوت کیدودَپاره استعمال کړې شی نو دا جائزدی سره دَدې چه دَدې په کثیر مقدارکښې نشه وی مګر فتوی په دې قول باندې نه ده (مظاهرحق).
مفتی به قول: امام محمد رحمه الله هم جمهورو سره دې لهذا دَ محققین احناف دَ تحقیق مطابق فتوی هم په دې قول ده.

خلاصه دا چې اصل څيز نشه او سکردې. که چرې نشه په يو مشروب کښې وی يا په څه وانبو کښې وی ياد يوې ونې په شيره کښې وی يا په تمباکو کښې وی يا شراب او بهنګ کښې وی ټول حرام دی. [مظاهرحق ۳/۶۴۴.]

د بعضې موجوده رائج الوقت نشو حکم:

نشه ورکونکی څيزونو کښې بهنګ، افيم او بعضې بوټی دی. دغه شان تمباکو هم ناجائزدی لکه چه صاحب د درمختار ليکلی او شاه عبدالعزيز رحمه الله چيلم څکل مکروه تحريمی ليکلی دی ځکه چه په دې څيزونو سره بدن کښې فتور او سستی پيدا کيږی او په حديث کښې وړاندې دَدې حکم راتلونکې دې چه ((وکل مفتر)) يعنی هر سستی راوستونکې څيزحرام دې. دا تفصيل صاحب مظاهرحق رحمه الله ليکلې دې. ماخودَويرې دَ وجې نه څه اوليکل باقی مې پريخودل هلته اوګورئی. [مظاهرحق ۳/۶۴۴.]

شيخ فضل محمد صاحب دام ظله العالی په توضيحات شرح مشکاة کښې ليکلی دی.. پخپله نسوار سګرټ اوتمباکو والا پان قطعًا نه خوښوم اونه دَ يو عالم دين دَپاره دا خوښوم، ليکن زما څه حيثيت دې علماء به ماپورې خنداګانې اوکړی سره دَدې چه دَ سعودی عرب علماء دې څيزونوته حرام وائی اوکله چه صاحب درمختار هم حرام ليکلی دی که په تفصيل کښې لاړشې نو په نفی کښې به ډير څه ملاؤشی. په مدينه منوره کښې يوعلمی شخصيت حضرت مولانا عبدالوحيد عبدالملك دامت برکاتهم دَسګرټ په حرمت باندې يوه ښکلې رساله ليکلې ده په کوم کښې چه دَتمباکونه جوړشوی څيزونو په حرمت باندې ښه تفصيل سره کلام کړې دې. الله تعالی دَ هغوی په ژوند کښې برکت واچوی سره دَدې چه بعضې علماء تمباکو څکلوته حرام نه وائی مګر دَدې په کراهت باندې خودَټولواتفاق دې که چرې کراهت تنزيهی اومنلې شی نو په دې باندې اصرار سره بياهم دا مسئله خطرناك حده پورې رسيږی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳۶۲٤] د دوه قسمه ونو څخه د شرابو جوړيدل

۳۶۲۳–[۱] ([1]) [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۲] «اَلْخَمْرُ مِنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ [۳] النَّخْلَةِ وَالْعِنَبَةِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب بيان أنّ جميع ما ينبذ ممّا يتّخذ من النّخل والعنب يسمّى خمرا (رقم-۱۳ - (۱۹۸۵) و ابو داود فی کتاب الأشربة/باب الخمر ممّا هو (رقم-۳۶۷۸)والترمذی فی کتاب الأشربة عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فی الحبوب الّتی يتّخذ منها الخمر (رقم-۱۸۷۵)والنسائی فی کتاب الأشربة/باب تأويل قول الله تعالى: {ومن ثمرات النّخيل والأعناب تتّخذون منه سکرا ورزقا حسنا} [النحل: ۶۷] (رقم-۵۵۷۲) وابن ماجه فی کتاب الأشربة/باب ما يکون منه، الخمر (رقم-۳۳۷۸) واحمد فی المسند: ۲/۲۷۹

ترجمه: [۱] حضرت ابوهريره رضی الله عنه د نبي كريم ﷺ نه نقل كوي چې حضور ﷺ وفرمايل [۲] شراب د دی دوو ونو [۳] يعني د انگورو او كجورو نه جوړيږي. (مسلم)

حل اللغات: ① النَّخْلَةِ: د كجورې ونه. ② الْعِنَبِ: آنگور.

قوله: الْخَمْرُ مِنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ:

د مذكوره جملې مطلب: چونكه اكثر شراب دَ انگورو او كهجورونه جوړولې شو په دې وجه نبی كريم دې طرف ته اشاره اوكړه په دې كښې حصركول مقصودنه دی بلكه صرف دا خودل مقصود دی چه مسكرهم دغه دی.

[۳۶۳۵] د پنځو څيزونو نه د شرابو جوړيدل

۳۶۳۵-[۲] () [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: [۲] خَطَبَ عُمَرُ عَلَى مِنْبَرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: إِنَّهُ قَدْ نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ [۳] وَهِيَ مِنْ خَمْسَةِ أَشْيَاءَ الْعِنَبِ وَالتَّمْرِ وَالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالْعَسَلِ، [۴] وَالْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر رضی الله عنهما وايي چې يوه ورځ عمر فاروق رضی الله عنه د رسول الله ﷺ په منبر (دريدو سره) خطبه وويله، او ارشاد يي وفرمايلو [۲] چې د شرابو حرمت نازل شوی دی، [۳] او شراب د پنځو څيزونو نه جوړيږي ① د آنگورو نه ② د كجورو نه ③ د غنمو نه ④ د اوربشو نه ⑤ د عسلو (شهد) نه، [۴] او شراب هغه دي چې په عقل راخور شي يعني بيكاره يي كړي. (بخاري)

حل اللغات: ① الْعِنَبِ: انگور. ② التَّمْرِ: اوچې كجورې. ③ الْحِنْطَةِ: غنم. ④ الشَّعِيرِ: وربشې. ⑤ الْعَسَلِ: شهد ⑥ الْخَمْرُ: شراب

تسهيلات:

قوله: وَهِيَ مِنْ خَمْسَةِ أَشْيَاءَ:

د پنځو څيزونو د تخصيص وجه: دا پنځه څيزونه ئی دَ شهرت په توگه ذكركړل گنی شراب دَ نورو څيزونو او نورو طريقوسره هم حاصليږی. هم دغه وجه ده چه دَدې حديث په آخری الفاظوكښې حضرت عمر رضی الله عنه دَ ډيرعموم طرف ته اشاره كړې ده چه "والخمر ماخامر العقل" يعنى شراب خوذهرهغه نشه وركونكې څيزنوم دې چه عقل خميره جوړولو سره پټ كړی. دا دَ شرابو بهترين تعريف دې اگرچه دَ فقهاؤ غظام اجتهادی مباحث دلته موجود دی.

() اخرجه البخاری فی كتاب الأشربة /باب ما جاء فی أنّ الخمر ما خامر العقل من الشّراب(رقم-۵۵۸۸) ومسلم فی كتاب التّفسير /باب فی نزول تحريم الخمر (رقم-۳۳ - (۳۰۳۲) و ابو داود فی كتاب الأشربة /باب فی تحريم الخمر (رقم-۳۶۶۹)والنسائی فی كتاب الأشربة /باب ذكر أنواع الأشياء الّتی كانت منها الخمر حين نزل تحريمها (رقم-۵۵۷۸)

[۳۶۳۶] په عهد رسالت کښې عام شراب

۳۶۳۶-[۳] ()[۱] «وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: لَقَدْ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ حِينَ حُرِّمَتْ[۲] وَمَا نَجِدُ خَمْرَ الْأَعْنَابِ إِلَّا قَلِيلًا[۳] وَعَامَّةُ خَمْرِنَا الْبُسْرُ وَالتَّمْرُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضی الله عنه وايي چې کوم وخت د شرابو حرمت نازل شوی وو، [۲] هغه وخت د دې حرمت نافذ شوی وو، او هغه وخت مونږ ته د آنګورو شراب کم حاصليدل. [۳] مونږ شراب زيات تره د کچه کجورو او وچو کجورو نه جوړيدل. (بخاري)

حل اللغات: ① عَامَّةُ: عام طور باندې، اکثر. ② الْبُسْرُ: کچه. شنې کجورې ③ التَّمْرُ: اوچې کجورې

تسهیلات: **قوله:** لَقَدْ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ

په دې کښې ئې داشارې په طور اوفرمائيل چې شراب رسول کريم ﷺ نه دی حرام کړی بلکه الله ﷻ حرام کړی دی. دې وجې نه ئې ورته حرم رسول الله اونه فرمائيل

قوله: وَعَامَّةُ خَمْرِنَا الْبُسْرُ وَالتَّمْرُ:

د فصل د پخيدو مختلف ادوار: د کهجورو دفصل په پخيدو او لګيدو کښې مختلف ادوار وی کله چې ددې شګوفه يعنی ونه تياره شی نو دې ته طلع وائی. او دا د کهجورې ابتدائی حالت وی. بيا دې نه پسې مرحله د ظلال وی، بيا د بسر او بيا د رطب. او دې نه پس ددې آخری شکل تمر وی، حديث پاک کښې هم دې طرفته اشاره شوې ده

[۳۶۳۷] د هر نشه آور څيز حرمت

۳۶۳۷-[۴] ()[۲] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: «سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْبِتْعِ[۲] وَهُوَ نَبِيذُ الْعَسَلِ[۳] فَقَالَ: كُلُّ شَرَابٍ أَسْكَرَ فَهُوَ حَرَامٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضی الله عنها وايي چې د رسول الله ﷺ نه د بتع په باره کې پوښتنه وشوه. [۲] يعنی د عسلو (شهد) د نبيذ چې آيا د دې شکل جائز دی که نه؟ [۳] نو حضور ﷺ وفرمايل هر هغه مشروب چې نشه راولي حرام دی. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① الْبِتْعِ: د شهدو نبيذ

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الأشربة/باب: الخمر من العنب (رقم-۵۵۸۰) ومسلم فی کتاب الأشربة/باب تحريم الخمر. وبيان أنّها تکون من عصير العنب، ومن التّمر والبسر والزّبيب، وغيرها ممّا يسکر (رقم-۷ - (۱۹۸۰) والنسائی فی کتاب الأشربة/باب ذکر الشّراب الّذی أهريق بتحريم الخمر(رقم-۵۵٤۳)

[۲]) اخرجه البخاری فی کتاب الأشربة/باب: الخمر من العسل، وهو البتع وقال معن: سألت مالک بن أنس، عن الفقّاع، فقال: «إذا لم يسکر فلا بأس» وقال ابن الدّراوردیّ: سألنا عنه فقالوا: «لا يسکر، لا بأس به» (رقم-۵۵۸۶)ومسلم فی کتاب الأشربة/باب بيان أنّ کلّ مسکر خمر وأنّ کلّ خمر حرام (رقم-۶۷ - (۲۰۰۱) و ابو داود فی کتاب الأشربة/باب النّهی عن المسکر (رقم-۳۶۸۲) والترمذی فی کتاب الأشربة عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء کلّ مسکر حرام (رقم-۱۸۶۳)والنسائی فی کتاب الأشربة/باب تحريم کلّ شراب أسکر(رقم-۵۵۹٤) وابن ماجه فی کتاب الأشربة/باب کلّ مسکر، حرام (رقم-۳۳۸۶) ومالک فی الموطا کتاب الأشربة/باب باب تحريم الخمر (رقم-۹) واحمد فی المسند:۱۹/۲

تسهيلات:

قوله: الْبِتْعِ: دلته دَباء زير او تاء په سكون سره دي ليكن دا لفظ دَ باء او تاء زبر سره هم لوستلې شوې دې. په اوبو كښې شهد ملاوولو سره په اوربانديې كيخودلې شي اوځه جوش وركړې شي نو دا بتع ده.

[۳۶۲۸] دد نيا شراب څكل دآخرت دشرابو څكلو څخه د محرومتيا سبب ر

۳۶۳۸—[۵] (١) ①وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ، ②وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ ③وَمَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فِي الدُّنْيَا فَمَاتَ وَهُوَ يُدْمِنُهَا لَمْ يَتُبْ لَمْ يَشْرَبْهَا فِي الْآخِرَةِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

توجمه: ①او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما راوي دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل كوم څيز چې نشه راولي هغه شراب دى، ②او كوم څيز چې نشه راولي، هغه حرام دى (كه په مقدار كې لږ وي يا زيات وي) ③او كوم سړى چې په دنيا كې شراب څكي، او هميشه يې څكي ددي پورې چې بغير دتوبي نه مړشي، نو دهغه به په آخرت كې شراب څكل نصيب نشي. (مسلم)

حل اللغات: ①يُدْمِنُهَا: چه هميشوالې كوى په شرابو.

تسهيلات:

قوله: يُدْمِنُهَا: دَ هميشه دَپاره چه څوك شراب څكى هغه ته مدمن خمر وائى. دادا سې سړى دَپاره لكه چه يو خاص صفت او خصوصى تعارف دې. په احاديثو كښې باربار دا لفظ دَ باب افعال نه راځى.

قوله: لَمْ يَشْرَبْهَا:

د مذكوره جملې په مفهوم كښې درې اقوال: ① دغه سړى په دنيا كښې شراب څكل حلال ګڼړل اوحرام حلال ګڼړل كفردې په دې وجه دا سړې مرتد كيدو سره هميشه دوزخى جوړشو نو په دوزخ كښې شراب چرته دى؟

② په اول كښې به ده ته شراب نه ملاويږى ليكن دَ سزا خوړلو نه پس چه كله جنت ته لاړشى نو بيا به ده ته ملاويږى.

③ دا سړي به په جنت كښې دَدغه نعمت خواهش نه كوى نو نه به ئې څكى.

---

(١) اخرجه مسلم فى كتاب الأشربة/باب بيان أنّ كلّ مسكر خمر وأنّ كلّ خمر حرام (رقم-۷۳ - (۲۰۰۳) والترمذى فى كتاب الأشربة عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فى كراهية أن ينبذ فى الدبّاء والحنتم والنّقير(رقم-۱۸۶۸) و ابن ماجه فى كتاب الأشربة/باب من شرب الخمر فى الدنيا، لم يشربها فى الآخرة (رقم-۳۳۷۳) ومالک فى الموطا كتاب الأشربة/باب باب تحريم الخمر (رقم-۹)

[۳۶۳۹] په جهنم کښې د شرابو څکلو سزا

۳۶۳۹-[۲] ( ) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ «أَنَّ رَجُلًا قَدِمَ مِنَ الْيَمَنِ [۲] فَسَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شَرَابٍ يَشْرَبُونَهُ بِأَرْضِهِمْ مِنَ الذُّرَةِ يُقَالُ لَهُ: الْمِزْرُ [۳] فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَوَمُسْكِرٌ هُوَ؟ قَالَ: نَعَمْ. [۴] قَالَ: كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ [۵] إِنَّ عَلَى اللهِ عَهْدًا لِمَنْ يَشْرَبُ الْمُسْكِرَ أَنْ يَسْقِيَهُ مِنْ طِينَةِ الْخَبَالِ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ﷺ وايي چې د يمن يو سړی دربارِ نبوي (ﷺ) ته راغلی، [۲] او د نبي کريم ﷺ نه يي د جوارو د شرابو په باره کې پوښتنه وکړه، چې په يمن کې څکل کيدل. او هغه ته يي مزر ويل، [۳] حضور ﷺ پوښتنه ورنه وکړه چې آيا هغه نشه راولی؟ هغه اوويل چې هو، [۴] حضور ﷺ وفرمايل هر نشه راوستونکی شی حرام دی. [۵] او (ياد لره) د الله ﷻ دا عهد دی، چې کوم سړی نشه راوستونکی کوم څيز وڅکي. په هغه به طينة الخبال څکل کيږي،

حل اللغات: ① مِنَ الذُّرَةِ: د جوارو شراب، ② الْمِزْرُ: د جوارو شراب ته مزر وائی

[۱] قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا طِينَةُ الْخَبَالِ؟ [۲] قَالَ: عَرَقُ أَهْلِ النَّارِ أَوْ عُصَارَةُ أَهْلِ النَّارِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] صحابه ؤ ﷺ عرض اوکړو چې يا رسول الله! ﷺ طينة الخبال څه څيز دی؟ [۲] وي فرمايل چې خبال د دوزخيانو خوله ده، يا وي فرمايل چې خبال هغه نَو او وينه ده کومه چې د دوزخيانو د زخمونو نه بهيږي، (مسلم)

حل اللغات: ③ طِينَةِ الْخَبَالِ: د دوزخيانو خوله يا پيپ او وينه، ④ عَرَقُ أَهْلِ النَّارِ: د دوزخيانو خوله. ⑤ عُصَارَةُ أَهْلِ النَّارِ: د دوزخيانو پيپ او وينه

تسهيلات:

قوله: وَمَا طِينَةُ الْخَبَالِ؟:

د مذکوره لفظ معنی او مطلب: خبال دَ دوزخيانو وينې او پيپ دي يادَ هغوی دَ بدن خوله ده دَ طينة مطلب که چه خيرې واخستې شی نو په مفهوم باندې به پوهيدل نورهم آسان شی. الذرة جوار ته وائی دې نه به هم شراب جوړيدلو. المزر ميم باندې زير دې او زاء باندې سکون دې.

---

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب بيان أنّ کلّ مسکر خمر وأنّ کلّ خمر حرام (رقم-۷۲ - (۲۰۰۲))والنسائی فی کتاب الأشربة/باب ذکر ما أعدّ الله عزّ وجلّ لشارب المسکر، من الذلّ، والهوان، وأليم العذاب (رقم-۵۷۰۹) واحمد فی المسند: ۳۶۱/۳

[٣٦٤٠] د مخلوط نبيذ جوړولو جواز

٣٦٤٠-[٧] () ① وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ خَلِيطِ التَّمْرِ وَالْبُسْرِ ② وَعَنْ خَلِيطِ الزَّبِيبِ وَالتَّمْرِ ③ وَعَنْ خَلِيطِ الزَّهْوِ وَالرُّطَبِ، ④ وَقَالَ: انْتَبِذُوا كُلَّ وَاحِدٍ عَلَى حِدَةٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابو قتاده رضي الله عنه وايي چې نبي كريم ﷺ د وچو كجورو او د كچه كجورو يو ځاى كولو سره د نبيذ جوړولو نه منع فرمايلي ده، ② دغه شان وچو كجورو او وچ آنگور د يو ځاى كولو سره د نبيذ جوړولو نه يې منع فرمايلي ده، ③ او د اوچو اوتازه انگورو د گډوډ كولو څخه منع كړې ده ④ او فرمايلي يې دي (كه نبيذ جوړول وي، نو) په دې كې د هر يوه جدا جدا نبيذ جوړوي، (مسلم)

حل اللغات: ① خَلِيطِ: شريكوال ② الزَّهْو: اوچ آنگور ③ عَلَى حِدَةٍ: جدا جدا، ځانله ځانله.

تسهيلات: **قوله:** عَنْ خَلِيطِ التَّمْرِ:

د كچه او پخو كهجورو د ملاوولو د ممانعت وجه: دَ پخو كهجورو ملاوولو ممانعت دَ دې دَپاره دې چه نبيذ جوړونكى ته اندازه نه شي كيدې او پخه كهجوره به په شرابو كښې بدله شوې وى او هغه به تردغه وخته پورې دَ كچه په انتظار كښې وى ځكه چه پخه كهجوره دَ خپل مزاج په اعتبار سره زر متاثر كيږي. اوس به دَ پخې كهجورې دَ شرابو آميزش دَ دغه مخلوط په نبيذ كښې راشي دَ كوم استعمال چه ناجائز دې په دې وجه دَ دغه اختلاط نه منع كړې شوې ده.

د مذكوره اختلاط په حكم كښې مذاهب:

① دَ امام مالك رحمه الله په نيز دَ دې حديث دَ وجې نه محض دا اختلاط منع دې او دَ دې استعمال منع دې سره دَ دې چه په دې كښې سكر نه وى.

② جمهور فقهاء فرمائى چه دا اختلاط او دَ دې نه نچوړ شوې نبيذ به هغه وخت ناجائز وى چه په دې كښې نشه راشى كنى ناجائز نه دې.

[٣٦٤١] د شرابو څخه د جوړې شوې سركې حلت

٣٦٤١-[٨] () ① وَعَنْ أَنَسٍ «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ ② عَنِ الْخَمْرِ يُتَّخَذُ خَلًّا، فَقَالَ: لَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الأشربة/باب من راى أن لا يخلط البسر والتمر إذا كان مسكرا، وأن لا يجعل إدامين في إدام(رقم-٥٦٠٢) ومسلم في كتاب الأشربة/باب كراهة انتباذ التمر والزبيب مخلوطين (رقم-٢٦ - (١٩٨٨)) و ابو داود في كتاب الأشربة/باب في الخليطين (رقم-٣٧٠٤) والنسائي في كتاب الأشربة/باب خليط الزهو والرطب (رقم-٥٥٥١) وابن ماجه في كتاب الأشربة/باب النهي عن الخليطين (رقم-٣٣٩٧) واحمد في المسند:٣٠٩/٥

[2]) اخرجه مسلم في كتاب الأشربة/باب تحريم تخليل الخمر (رقم-١١ - (١٩٨٣)) والترمذي في كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب النهي أن يتخذ الخمر خلا (١٢٩٤) واحمد في المسند: ٢٦٠/٣

ترجمه: ① او حضرت انس رضی الله عنه راوي دی چې د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه ② که په شرابو کې مالګه او پیاز وغیره اچولو سره د هغه سرکه جوړه شي، نو هغه حلال دی که نه؟ وي فرمایل چې نا ، [(مسلم) (که چرته شراب په سرکه بدل شي نو هغه د خوراک او څښاک په مصرف کې راوستل جائز دی)]

تسهیلات:

قوله: سُئِلَ عَنِ الْخَمْرِ يُتَّخَذُ خَلًّا:

د شرابو نه جوړی شوی سرکې په حکم کښې ۲ مذاهب:

① په شرابو کښې مالګه او پیازوغیره ملاوولوسره سرکه جوړه کړې شی امام شافعی رحمه الله فرمائی که د یوڅیزپه ملاوولوسره سرکه جوړه کړې شی نود هغې استعمال ناجائز دې دا دې وخت کښې هم سرکه نه ده بلکه د نجس شرابو په حکم کښې ده اوکه چرې پخپله په نمروغیره کښې کیخودو سره سرکه جوړه شی نودغه وخت کښې دا شراب پاتې نه شو اوس د دې استعمال جائزدې.

② احناف فرمائی چه د یوڅیزملاوولوسره د شرابونه سرکه جوړول یو مکروه فعل دې لیکن سرکه جوړیدونه پس هغه شراب پاتې نه شو نودې وخت دا هم سرکه ده اوسرکه حلال ده د دې استعمال جائزدې.

داول فریق دلیل: مذکوره حدیث د دوی مستدل دې.

داول فریق د دلیل جواب: د شرابونه د جوړې شوې سرکې ممانعت د هغه وخت خبره ده کوم وخت چه په شروع کښې د شرابونه نفرت ورکولود پاره لوښی هم منع کړې شوې وو چه مبادا شیطان د شرابو د خونداو د هغې وسوسې دوباره په زړونوکښې وانچوی په دې وجه د شرابونه بدله شوې سرکه ممانعت کړې شوې وو ګنی چه کله د شرابو اصل بدل شواوسکر اونشه ختمه شوه نوبیاد ممانعت څه وجه نشته دې

د دویم فریق دلائل: ① "نعم الادام الخل" حدیث د دوی مستدل دې. ځکه چې اوس دا شراب پاتې نه شو بلکه سرکه ده

② په بیهقی کښې حدیث دې چه "خیرخلکم خل خمرکم"

[۳٦٤۲] د علاج په طورد شرابو د څکلو جواز

۳۳۲–[۹] (١) ① وَعَنْ وَائِلٍ الْحَضْرَمِيِّ «أَنَّ طَارِقَ بْنَ سُوَيْدٍ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْخَمْرِ فَنَهَاهُ، ② فَقَالَ: إِنَّمَا أَصْنَعُهَا لِلدَّوَاءِ، ③ فَقَالَ: إِنَّهُ لَيْسَ بِدَوَاءٍ وَلَكِنَّهُ دَاءٌ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

(١) اخرجه مسلم فی کتاب الأشربة/باب تحریم التّداوی بالخمر (رقم-۱۲ - (۱۹۸٤) واحمد فی المسند: ٤/۳۳۱

ترجمه: [۱] او حضرت وائل حضرمي روايت كوي چې طارق ابن سويد ﷺ د نبي كريم ﷺ نه د شراب نوشي په باره كې پوښتنه وكړه نو حضور ﷺ ترى نه منع كړو [۲] بيا طارق اوويل آيا زمونږ شراب دوايي «دارو» په طور استعمالوو؟ [۳] حضور ﷺ ورته وفرمايل هغه دوايي نه ده بلكه خپله يوه بيماري ده «مسلم»

تسهيلات:

قوله: إِنَّهُ لَيْسَ بِدَوَاءٍ:

د دوائى په حيثيت د شرابو د استعمالولو حكم: اكثرعلماؤ دَ دوائى په توګه باندې دَ شرابو استعمالول منع كړې دي بعضې علماء وائى چه كه طبيب حاذق اوماهروى اونيك اوصالح وى اوهغه مشوره وركړى چه دَ دغه مرض علاج دَ شرابونه علاوه په هيڅ څيز كښې نشته دې نو په دغه صورت كښې دَ مجبورئى او اضطرار په درجه دَدې استعمال مباح وى باقى رسول الله ﷺ چه دا فرمائيلى دى چه شراب بيمارى ده نو دا حقيقت دې چه شراب هم بيمارى ده مګر ه ظاهرى توګه په دې كښې عارضى غوندې تكړه والې راځى كوم چه علاج نه دې صرف يوعارضى ګرمائش دې دغه عارضى فائدې ته قرآن كښې ﴿ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ ﴾ سره ذكركړې دي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۶۴۲] دَ شرابو څكلو په وجه څلويښت ورځې مونځ نه قبليدل

[۱۰] (¹) [۱] عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ لَمْ يَقْبَلِ اللَّهُ لَهُ صَلَاةً أَرْبَعِينَ صَبَاحًا فَإِنْ تَابَ تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِ [۲] فَإِنْ عَادَ لَمْ يَقْبَلِ اللَّهُ لَهُ صَلَاةً أَرْبَعِينَ صَبَاحًا؛ فَإِنْ تَابَ تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِ [۳] فَإِنْ عَادَ لَمْ يَقْبَلِ اللَّهُ لَهُ صَلَاةً أَرْبَعِينَ صَبَاحًا، فَإِنْ تَابَ تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِ،

ترجمه: [۱] عبد الله بن عمر ﷺ راوي دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل كوم سړى چې اول ځل شراب وڅكي او توبه نه اوباسي نو الله ﷻ څلويښت ورځو پورې د هغه مونځونه نه قبلوي بيا كه هغه د زړه خلوص سره توبه اوباسي نو الله ﷻ د هغه توبه قبلوي [۲] بيا كه هغه په دويم ځل شراب وڅكي نو الله ﷻ څلويښت ورځو پورې د هغه مونځونه نه قبلوي بيا كه هغه توبه اوباسي نو الله ﷻ د هغه توبه قبلوي [۳] بيا كه هغه په دريم ځل شراب وڅكي نو الله ﷻ څلويښت ورځو پورې د هغه مونځ نه قبلوي بيا كه هغه توبه اوباسي نو الله ﷻ د هغه توبه قبلوي

¹) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الأشربة عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فى شارب الخمر(رقم-۱۸۶۲) واحمد فى المسند: ۳۵/۲

١فَإِنْ عَادَ فِي الرَّابِعَةِ لَمْ يَقْبَلِ اللّٰهُ لَهُ صَلَاةً أَرْبَعِينَ صَبَاحًا ٢فَإِنْ تَابَ لَمْ يَتُبِ اللّٰهُ عَلَيْهِ ٣وَسَقَاهُ مِنْ نَهْرِ الْخَبَالِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١دي پورې چې هغه په څلورم ځل شراب وڅکي نو الله ﷻ نه صرف دانه چې څلويښت ورځو پورې د هغه مونځ نه قبلوي ٢بلکه که هغه توبه باسي نو د هغه توبه هم نه قبلوي ٣او په آخرت کې په هغه د دوزخيانوويني زوي څکول کيږي (ترمذي)

حل اللغات: ① الْخَبَالِ: د دوزخيانو وينه، پيپ، نو

٣٦٤٤— ()وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو.

ترجمه: نسائي ابن ماجه او دارمي دا روايت د عبد الله ابن عمرو نه نقل کړي دى

تسهيلات: **قوله:** أَرْبَعِينَ صَبَاحًا:

څلويښتو ورځو پورې د شارب الخمر مونځ نه قبليدل: دَ شرابو اثردې چه څلويښت ورځې به ئې مونځ نه قبليږى البته مونځ کول ضرورى دى. مونځ چونکه ام العبادات دي اوشراب ام الخبائث دى په دې وجه دَ شرابو اثر په مونځ باندې پريوځى اوکله چه دَ مونځ په شان افضل عبادت نه قبليږى نونور عبادتونه به په طريقه اولى نه قبليږى

قوله: لَمْ يَتُبِ اللّٰهُ

په څلورم ځل شرابو څکلو نه پس د توبى د نه قبليدلو مطلب: يعنى په څلورم ځل به بيا الله تعالى دَهغه توبه نه قبلوى. علماء فرمائى چه دَ رسول الله ﷺ دا فرمان چه دَ هغه توبه به نه شى قبلولې دا په زجرتوبيخ، تغليظ اوتشديدباندې محمول دې ګنى توبه کول دَ دابة الارض دَ خروج او شروق الشمس من المغرب پورې جارى اومقبول ده. خواصل حقيقت دادې چه کوم سړې بار بار شراب څکى نودَ شرابو په نحوست سره هغه ته دَ توبه توفيق نه نصيب کيږى هم دغه مطلب ئى شو چه دَهغه توبه به نه شى قبلولې

[٣٦٤٥] د نشه آور څيز د کم او د زيات مقدار حرمت

٣٦٣٥—[١١] () ١وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ٢مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه.

[١]) اخرجه النسائي في السنن كتاب الأشربة/باب ذكر الآثام المتولدة عن شرب الخمر. من ترك الصلوات. ومن قتل النفس التي حرم الله. ومن وقوع على المحارم (رقم-٥٦٦٩) وابن ماجه في كتاب الأشربة/باب من شرب الخمر. لم تقبل له صلاة (رقم-٣٣٧٧) واحمد في المسند: ١٨٩/٢

[٢]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأشربة/باب النهي عن المسكر (رقم-٣٦٨١) والترمذي في كتاب الأشربة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء ما أسكر كثيره فقليله حرام (رقم-١٨٦٥) و ابن ماجه في كتاب الأشربة/باب ما أسكر كثيره، فقليله حرام (رقم-٣٣٩٣)

ترجمه: ١ او حضرت جابر رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ٢ كوم څيز چې نشه راولى د هغه لږ مقدار هم حرام دى. (ترمذي ابوداود ابن ماجه)

تسهيلات:

قوله: مَا أَسْكَرَ كَثِيرُهُ فَقَلِيلُهُ حَرَامٌ:

هر هغه شراب چې نشه پيدا كوى اگر چې لږ وى حرام دى. ځكه چې لږ شراب د زياتو شرابو څكلو عادى جوړوى. په دې وجه د لږ هم بچ كيدل ضرورى دى. ددې مطلب دا بالكل نه دې چې داسې شراب چې هغې كښې نشه كمه وى نو د هغې استعمال جائز دې او چې كومې كښې نشه زياته وى نو هغه حرام دى . دا مطلب درست نه دې بلكه داسې شراب چې نشه په كښې كمه وى او كه زياته حرام دى ، باقى تشريح آسانه ده.

[٣٦٤٦] د نشه آور څيز د يو كوټ هم حرمت

٣٦٤٦-[١٢] (١) ١ وَعَنْ عَائِشَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ٢: «مَا أَسْكَرَ مِنْهُ الْفَرَقُ فَمِلْءُ الْكَفِّ مِنْهُ حَرَامٌ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ او بى بى عائشه رضي الله عنها د رسول كريم ﷺ نه نقل كوي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ٢ د كوم څيز مثلًا د شرابو چې يو فرق. يعنى اته سيره مقدار نشه راولي د هغه يو ډك گوټ هم حرام دى (احمد ترمذي ابوداود)

حل اللغات: ① الْفَرَقُ: يو قسم شراب دى.

تسهيلات:

قوله: مَا أَسْكَرَ مِنْهُ الْفَرَقُ:

د الفرق د لفظ تحقيق: مثلاً دَ شرابو يوځه داسې قسم دې دكوم چه زيات مقدار نشه راولى ليكن كم مقدار نشه نه راولى نودَدې دامطلب نه دې چه دَدې كم مقدار جائز شو بلكه دَدې كم مقداربه هم حرام وى. البته دَ نشې نه كيدو دَ وجې نه به حدنه نافذ كيږى گناه به كيږى. دَانسان دا فطرت دې چه كوم څيز هغه اول كم استعمالوى هم دغه قليل څيز انسان دَ كثرت طرف ته په راښكلوسره بوځى. لهذا دَدغه كم مقدار نه هم ځان ساتل ضرورى دى. "فرق" دَ ١٢ پونډو په يوه پيمانه باندې دَ فرق اطلاق كيږى. "فرق" دَ راء په فتحه اوسكون دواړو جائز دې. دَ اهل مدينه دَ يوې پيمانې نوم دې په كوم كښې چه درې صاع يا ١٢ رطل غله راځى دلته قليل اوكثير مقدار مراد دې.

١) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأشربة /باب النهى عن المسكر (رقم-٣٦٨٧) والترمذى فى كتاب الأشربة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء ما أسكر كثيره فقليله حرام (رقم-١٨٦٦) واحمد فى المسند: ١٣١/٦

[٣٦٤٧] د شراب جوړيدو څيزونه

٣٦٣٧-[١٣] (١) ① وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «إِنَّ مِنَ الْحِنْطَةِ خَمْرًا ③ وَمِنَ الشَّعِيرِ خَمْرًا ④ وَمِنَ التَّمْرِ خَمْرًا ⑤ وَمِنَ الزَّبِيبِ خَمْرًا ⑥ وَمِنَ الْعَسَلِ خَمْرًا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① او حضرت نعمان ابن بشير رضي الله عنه وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ② د غنمو هم شراب وي ③ د اوربشو هم شراب وي ④ د كجورو هم شراب وي ⑤ د انګورو هم شراب وي ⑥ او د عسلو (شهد) هم شراب وي. (احمد ترمذي ابوداود) ترمذي ويلي دي چې دا حديث غريب دی

تسهيلات: قوله: إِنَّ مِنَ الْحِنْطَةِ خَمْرًا:

علماء كرامو ليكلی دی چې دلته حصر مراد نه دې ګنی چې همددې څيزونو نه شراب جوړيږی . بلكه دا څيزونه خاص طور سره په دې وجه ذكر كړې شوی دی چې عام طور شراب ددې څيزونو نه جوړيږی . په دې ارشاد كښې ددې خبرې دليل دې چې خمر صرف د انګورو شرابو ته نه وائی ، ابن ملك رحمه الله فرمائی چې د لته د انګوری شرابو نه علاوه د نورو څيزونو شرابو ته هم مجازا خمر وئيلې شوی دی . او په دې كښې مناسبت دادې چې ددې څيزونو شراب (يا نشه آور نبيذ) هم د انسان عقل زائل كوی .

[٣٦٤٨] د شرابو مال متقوم نه كيدل

٣٦٣٨-[١٤] (٢) ① «وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ ②: كَانَ عِنْدَنَا خَمْرٌ لِيَتِيمٍ ③ فَلَمَّا نَزَلَتِ الْمَائِدَةُ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْهُ وَقُلْتُ: إِنَّهُ لِيَتِيمٍ، ④ فَقَالَ: أَهْرِيقُوهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي ② زمونږ سره د يويتيم شراب پراته وه [يعنی زمونږ په كوركي يويتيم اوسيدی چې زمونږ په پرورش كې وو د هغه په ملكيت كې چرته چې نور ډير مال او اسباب وو شراب هم وه، ځكه چې په هغه زمانه كې شراب مباح وه] ③ نو د سورة مائده دا آيت اِنَّمَا الْخَمْرُ الايه چې كله نازل شو [چې په هغه كې د شرابو د حرمت بيان دی چې د باب حد الخمر په ابتداء كې نقل شوی دی] نو ما د هغه يتيم د شرابو په باره كې رسول كريم ﷺ نه د ريافت اوكړو او عرض مي اوكړو چې هغه د

[١]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأشربة/باب الخمر ممّا هو (رقم-٣٦٧٦) والترمذى فى كتاب الأشربة عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فى شارب الخمر(رقم-١٨٦٢) و ابن ماجه فى كتاب الطّبّ/باب الحجامة (رقم-٣٤٧٩) واحمد فى المسند: ٤/٢٦٧

[٢]) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الأشربة عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء كلّ مسكر حرام (رقم-١٨٦٣) واحمد فى المسند: ٣/٢٦

یو یتیم مال دی او د یتیم مال ضائع کول نه دي پکار نو په دي باره کې څه حکم دی؟ [۲] حضور ﷺ وفرمایل هغه توی کړه (ترمذي)

حل اللغات: ① أَهْرِقْهُ: اوئې غورزوئ، توئ ئې کړئ.

تسهیلات: **قوله:** إِنَّهُ لِيَتِيمٍ:

د ابوسعید د خبرې مطلب: دَ صحابی مطلب دا ووچه دَ ورو ماشومانو اودَ یتیم مال دې دا څنګه ضائع کولې شی. نبی کریم اوفرمائیل "اهریقوه" خامخا دا اوبهیوه وئی غورزه وه څکه چه دا محفوظ مال نه دې، واجب الحفاظت نه دې بلکه واجب الاهانت دې.

[۳٦٤۹] دَ شرابو د لوښو د ماتولو حکم

۳٦۴۹-[۱۵] () [۱] «وَعَنْ أَنَسِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ أَنَّهُ قَالَ: يَا نَبِيَّ اللهِ إِنِّي اشْتَرَيْتُ خَمْرًا لِأَيْتَامٍ فِي حِجْرِي، [۲] قَالَ: أَهْرِقِ الْخَمْرَ وَاكْسِرِ الدِّنَانَ». [۳] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَضَعَّفَهُ، [۴] وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ أَنَّهُ «سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَيْتَامٍ وَرِثُوا خَمْرًا، قَالَ: أَهْرِقْهَا، [۵] قَالَ: أَفَلَا أَجْعَلُهَا خَلًّا؟ قَالَ: لَا».

ترجمه: [۱] او حضرت انس د حضرت ابوطلحه ﷺ نه نقل کوي هغه عرض اوکړو یا نبي الله ما دي يتيمانو د پاره شراب رانیولي وه کوم چې ځما پرورش کې دي [۲] حضور ﷺ ورته وفرمایل شراب توی کړه او د هغه لوښی مات کړه [۳] ترمذي دا روایت نقل کړي دی او ضعیف یې ګرځولی دی [۴] د ابوداود په روایت کې داسې دي چې ابو طلحه ﷺ د هغه يتيمانو په باره کې پوښتنه وکړه کوم چې د هغه پرورش کې وو او هغه ته په میراث کې شراب حاصل شوي وه. نو حضور ﷺ وفرمایل هغه توی کړه [۵] هغه عرض اوکړو آیا د دې سرکه جوړه نه کړم؟ وي فرمایل نه.

حل اللغات: ① أَيْتَامٍ: يتيمان. ② حِجْرِي: پرورش. ③ أَهْرِقِ: واروه. توئې کړه. ④ اكْسِرِ: مات کړه. ⑤ الدِّنَانَ: د شرابو لوښی

تسهیلات:

قوله: إِنِّي اشْتَرَيْتُ خَمْرًا لِأَيْتَامٍ فِي حِجْرِي:

حضرت ابو طلحه ﷺ د شرابو د حرمت نه وړاندې هغه یتیمانو دپاره شراب اخستی وو کوم چې ددهٔ زیر پرورش وو. کله چې شراب حرام شو نو دې باره کښې ئې نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چې په دې څه اوکړم آیا دا ضائع کړم که نه ؟ نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چې دا توې کړه او دې سره ددې د لوښو د ماتولو حکم ئې هم اوکړو څکه چې په دې کښې د شرابو نجاست سرایت کړې وو. او اوس ددې پاکول ممکن نه دی. یا دا

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی بیع الخمر والنهی عن ذلك (رقم-۱۲۹۳)

چې نبی کریم ﷺ د شرابو د ممانعت دشدت ظاهرولو دپاره دا حکم اوکړو چې کوم لوښی کښې هغه شراب پراته وو نو هغه هم مات کړه ، داشان نبی کریم ﷺ ددې شرابو نه د سرکې جوړولو نه هم منع اوفرمائیله ، ددې تعلق هم د زجر او تنبیه سره دې یا دا ممانعت د نهی تنزیهی په طور دی

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۶۵۰] د هرمسکر څیز حرمت

۳۶۵۰–[۱۶] (۱) [۱] عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: [۲] «نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ وَمُفْتِرٍ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] بي بي ام سلمه رضی الله عنها وایي [۲] چې رسول کریم ﷺ د هرهغه شي د خوړلو څکلو نه منع فرمایلي ده کوم چې نشه راولي او سستي راولي. (ابوداود)

حل اللغات: ① مُفْتِرٍ: نشه راوستونکې څیز

تسهیلات: قوله: وَمُفْتِرٍ

د مفتر په معنی کښې مختلف اقوال: ① نهایه ابن کثیرکښې لیکلی دی چه مفتر هغه څیز ته وائی دکوم په څکلوسره چه په دماغو او زړه باندې ګرمی خوره شی او په اعضاء رئیسه کښې ضعف فتور او کمزوری پیدا شي.

② په قاموس کښې دی "فترجسمه فتوراًلانت مفاصله وضعف" یعنی بدن اوډ بدن جوړونه چه په کوم څیز سره ضعیف کمزورې او سست شی هغه مفتر دې

[۳۶۵۱] د شرابو څکلو څخه د نه منع کیدو نکوسره د قتال حکم

۳۶۵۱–[۱۷] (۲) [۱] «وَعَنْ دَيْلَمٍ الْحِمْيَرِيِّ قَالَ: [۲] قُلْتُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا بِأَرْضٍ بَارِدَةٍ وَنُعَالِجُ فِيهَا عَمَلًا شَدِيدًا، [۳] وَإِنَّا نَتَّخِذُ شَرَابًا مِنْ هَذَا الْقَمْحِ نَتَقَوَّى بِهِ عَلَى أَعْمَالِنَا وَعَلَى بَرْدِ بِلَادِنَا، [۴] قَالَ: هَلْ يُسْكِرُ؟ قُلْتُ: نَعَمْ. قَالَ: فَاجْتَنِبُوهُ. [۵] قُلْتُ: إِنَّ النَّاسَ غَيْرُ تَارِكِيهِ، [۶] قَالَ: إِنْ لَمْ يَتْرُكُوهُ فَاقْتُلُوهُمْ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] دیلم حمیري رضی الله عنه وایي [۲] ماعرض اوکړو چې یارسول الله! مونږ خلق د یوي یخي علاقي باشندګان یو چې هلته مونږ د سخت محنت کارونه کوو او هغه سخت محنت د ډیر زیات جسماني قوت متقاضي وي [۳] څکه مونږ خلق د غنمو شراب تیار وو چې د هغه په ذریعه مونږ خپل محنت د پاره طاقت حاصلوو او د هغه قوت سره د خپلي

---

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأشربة/باب النهی عن المسکر (رقم-۳۶۸۶) واحمد فی المسند: ۳۰۹/۶

(۲) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأشربة/باب النهی عن المسکر (رقم-۳۶۸۳) واحمد فی المسند: ۲۳۲/۴

علاقي په يخنئ قابو پيدا كوو ۴ حضور ﷺ راته وفرمايل آيا هغه شراب نشه راولي؟ ما عرض اوكړو چې هو نو حضور ﷺ وفرمايل بيا د هغه نه پرهيز كوی ۵ ما عرض اوكړو خلق د هغه پرينبودنكي نه دي ۶ حضور ﷺ وفرمايل كه خلق د هغه څكل بند نه كړي [او هغه حلال وګڼي] نو د هغوی سره قتال جنګ وكړی (ابوداود)

حل اللغات: ① بَارِدَةٌ: يخه . ② الْقَمْحِ: غنم

تسهيلات:

الحاصل ددې حديث پاك نه معلومه شوه چې دهر نشئ څيز استعمال درست نه دې كه د هر څيز سره جوړ شوې وی

[۳۶۵۲] د شرابو او د جوارئ حرمت

۳۶۵۲–[۱۸] (¹) ۱ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ۲ «نَهَى عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَالْكُوبَةِ وَالْغُبَيْرَاءِ ۳ وَقَالَ: كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او عبد الله ابن عمرو رضي الله عنهما روايت كوي چې رسول كريم ﷺ ۲ د شراب څكلو او جواري كولو نه منع وفرمايله او كوبه او غبيراء نه يې هم منع فرمايلې ده ۳ او وې فرمايل كوم څيز چې هم نشه راولي هغه حرام دی (ابوداود)

حل اللغات: ① الْمَيْسِرِ: جواری ② الْكُوبَةِ: نرد . شطرنج (يو قسم لوبه. زمرې) ③ الْغُبَيْرَاءِ: يو قسم شراب دی. د جوارو شراب

تسهيلات: **قوله**: وَالْغُبَيْرَاءِ:

دحبشو شراب: داحبشوسره دَ جوړيدونكو شرابو نوم دې افريقى ممالك كښې دَ جوارو پيداوار ډير زيات وی هغه خلق چه دَ جوارونه كوم شراب نچوړ كوی هغې تهغبيرا وائى

[۳۶۵۳] د شرابي جنت ته نه داخيدل

۳۶۵۳–[۱۹] (²) ۱ وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ۲: «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَاقٌّ ۲ وَلَا قَمَّارٌ ۳ وَلَا مَنَّانٌ ۴ وَلَا مُدْمِنُ خَمْرٍ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ ۵ وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ: وَلَا وَلَدُ زِنْيَةٍ بَدَلَ قَمَّارٍ».

ترجمه: ۱ عبد الله ابن عمرو رضي الله عنهما روايت كوي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ۲ كوم بندګان خاص [چې نجات پيدا كولو سره شروع كې په جنت كې داخل شي د هغوی سره به] جنت كې هغه سړی نه داخليږي چې هغه د مور او پلار ابلا وجه شرعي] نافرماني كوي ۲ نه به جوارګر داخليږي ۳ نه به هغه سړی داخليږي [چې فقراوو ته صدقه وركولو سره] احسان

---

¹) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الأشربة /باب النهی عن المسكر (رقم-۳۶۸۵)
²) اخرجه ا لنسائی فی السنن كتاب الأشربة /باب الرّواية فی المدمنين فی الخمر(رقم-۵۶۷۲) واحمد فی المسند: ۲۰۱

باندې کوی [۴] او نه به هغه سړی داخليږي کوم چې هميشه شراب څکي «دارمي» [۵] او د دارمي په يوبل روايت کې نه به جواري کونکی داخليږي په ځای دادي چې نه به ولد الزنا په جنت کې داخليږي

حل اللغات: ①عَـاقٌّ: د مور پلار نافرماني نې وکړه ②قَمَّارٌ: جوارګر. ③مَنَّانٌ: احسان زباتونکې. نيکي ورياد ونکې ④مُدْمِنٌ: هميشه شراب څکونکې

تسهيلات: قوله: وَلَاقَمَّارٌ:

په جواري کښې يو ضابطه: جواري کونکی ته قمارواني د موجوده زماني په اعتبار سره هرهغه لوبه په کوم کښې چه د طرفين نه د ګټې اوتاوان په شرط ترلې شوې وی هغه ټولې لوبې په جوارئی کښې داخل دی

قوله: وَلَاوَلَدَزِنْيَةٍ:

د ولد زنا د جنت نه د محروميدو وجه: ولد زنا چونکه د پلارد تربيت نه محروم وی د منحوس نطفې خراب اثر په هغه کښې وی په عام توګه باندې بدعمله وی د بدکرداره مور په غيرِ کښې پاللې کيږی لهذا د ظاهری اوباطنی تربيت نه ملاويدود وجې نه په هرقسم فضولياتو او بدعملوکښې اخته وی په دې وجه د جنت نه محروم کيږی بعضې علماؤ دې حديث ته ضعيف وئيلی دی ځکه چه داد شريعت د قواعدونه په ظاهره متعارض دې ځکه چه د وړوکی ماشوم څه قصوردې بعضې وئيلی دی په دې سره د دغه بچی زناکار پلارباندې تعريض مقصوددې چه د داسې بچی د پيداکيدو سبب جوړشو

[۳۶۵۴] د شرابو څخه د پرهيز کولو بدله

٣٦٥٤ – [٢٠] (١) [١] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] «إِنَّ اللهَ تَعَالَى بَعَثَنِي رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ [٣] وَأَمَرَنِي رَبِّي عَزَّوَجَلَّ بِمَحْقِ الْمَعَازِفِ وَالْمَزَامِيرِ وَالْأَوْثَانِ وَالصُّلُبِ. وَأَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ [۴] وَحَلَفَ رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ بِعِزَّتِهِ: لَا يَشْرَبُ عَبْدٌ مِنْ عَبِيدِي جُرْعَةً مِنْ خَمْرٍ إِلَّا سَقَيْتُهُ مِنَ الصَّدِيدِ مِثْلَهَا، [۵] وَلَا يَتْرُكُهَا مِنْ مَخَافَتِي إِلَّا سَقَيْتُهُ مِنْ حِيَاضِ الْقُدُسِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] او ابو امامه ﷺ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲] الله ﷻ زه پوره دنيا د پاره رحمت او ټول عالم د پاره هادي هدايت کونکی راليږلی يم [۳] او خما بزرګ و برتر الله ماته حکم کړي دی چې زه د ①باجو ②مزامير ③بتانو ④صليبونو ⑤او د زمانه جاهليت [يعنی د کفر د حالت ټول رسوم او عادات] وران ختم کړم [۴] او خما بزرګ وبرتر الله په خپل عزت قسم آخستلو دی چې خما بنده ګانو کې کوم بنده هم يوګوټ شراب وڅکي په هغه به په آخرت کې د هغه په قدر د دوزخيانو نو (پيپ) څکوم [۵] او کوم بنده

---

(١) اخرجه احمد في المسند: ٥/٢٢٨

چې څما د خوف نه شراب څکل پریږدي زه به په هغه په آخرت کو، د پاکو حوضونو یعنی د جنت د نهرونو نه شراب طهور څکوم (احمد)

حل اللغات: ① يَمْحَقَ: ختمول. ورانول ② الْمَعَازِفَ: د ګانو بجانو، سرود آلات ③ الْمَزَامِيرَ: باجې. شپیلۍ ④ الْأَوْثَانَ: بتان. ⑤ الصُّلُبَ: صلیب، د عیسایانو مذهبی نښه ⑥ جَرْعَةً: ګوټ. ⑦ الصَّدِيدِ: وینې زوې. پیپ ⑧ حِيَاضِ: جمع د حوض، حوضونه. ⑨ الْقُدُسِ: پاک صفا

تسهیلات: قوله: الْمَعَازِفَ:

د معازف نه مراد: دې نه مراد باجې ډولکی نقاره دوپړئی ستار رباب او سارنګی وغیره اودغه شان نور آلات غنا مراد دی

[۳۶۵۵] په دریو قسمه خلقو د جنت حرمت

٣٦٥٥ - [٢١] (١) ①وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ②: «ثَلَاثَةٌ قَدْ حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِمُ الْجَنَّةَ ③مُدْمِنُ الْخَمْرِ وَالْعَاقُّ وَالدَّيُّوثُ الَّذِي يُقِرُّ فِي أَهْلِهِ الْخَبَثَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① او ابن عمر ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل دري قسم خلقو باندې الله ﷻ جنت حرام کړي دی [یعنی نجات یافته بنده ګانو سره ابتداء کې په جنت کې داخلیدل] په دې دریو سړو حرام کړي دی ② ① یو هغه سړی چې همیشه شراب څکي ② دویم هغه سړی چې د خپل مور پلار نافرماني کوي او ③ دریم هغه دیوث چې د کور والا نورو خلقو سره په جنسی تعلق ساتلو څه پرواه نه ساتی

حل اللغات: ① مُدْمِنُ: همیشه شراب څکونکې. ② الْعَاقُّ: د مورپلار نافرمانه اولاد ③ الدَّيُّوثُ: دیوث چې د کور والا نورو خلقو سره په جنسی تعلق ساتلو څه پرواه نه ساتی ④ الْخَبَثَ: پلیتی. بدکاری. زنا

تسهیلات: قوله: وَالدَّيُّوثُ:

د دیوث تعریف: دا هغه سړې دې چه دَ خپلې ښځې باره کښې ښه پوهیږی چه بدچلن ده او هغه منع کوی نه بلکه سترګې پټوی او په خاموشئی سره تماشه ګوری په حدیث کښې دَ دې هم دغه تعریف راغلې دې لکه چه دې دا بدی بده نه ګڼړی نو دوزخ ته به ځی

[۳۶۵۶] د درې کسانو جنت ته د نه داخلیدو وعید

٣٦٥٦ - [٢٢] (٢) ①وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ②«ثَلَاثَةٌ لَا تَدْخُلُ الْجَنَّةَ مُدْمِنُ الْخَمْرِ وَقَاطِعُ الرَّحِمِ وَمُصَدِّقٌ بِالسِّحْرِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

---

[1]) اخرجه احمد فی المسند: ۲/ ۱۳٤

[2]) اخرجه احمد فی المسند: ٤/ ۳۹۹

ترجمه: [۱] او د ابوموسی اشعري رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل دري قسمه خلق به په جنت کې [ابتداءً] داخليدو نه محروم وي [۲] ① هميشه شراب څکونکی ② رشتي ناتي خپلولي قطع کونکی ③ سحر يعنی جادو باندې يقين کونکی (احمد)

حل اللغات: ① قَاطِعُ: خپلولی ختمونکې، ② الرَّحِمِ: رشته داری. خپلولی.

تسهيلات:

قوله: وَمُصَدِّقٌ بِالسِّحْرِ: ددې نه مراد هغه کس دې کوم چې سحر لره بالذات مؤثر منی . ګنی سحر باندې په دې معنی کښې يقين کول صحيح دی چې دا هم د الله ﷻ پيدا کړې دې او د الله ﷻ په حکم سره ددې اثر واقع کيدل ثابت دی لکه څنګه چې فرمائيلې شوی دی چې السحر حق يعنی سحر يو حقيقت دې.

[۳۶۵۷] د شرابی د الله تعالی سره د ملاقات کيفيت

۳۶۵۷-[۲۳] (١) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «مُدْمِنُ الْخَمْرِ إِنْ مَاتَ لَقِيَ اللهَ تَعَالَى كَعَابِدِ وَثَنٍ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] او ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړی چې هميشه شراب نوشي کې مبتلا وي او بيا مړ شي نو هغه به د الله ﷻ په حضور کې د بت پرست په شان حاضريږي. (احمد)

حل اللغات: ① كَعَابِدِ وَثَنٍ: د بُت عبادت عبادت کونکې، بُت پرست.

۳۶۵۸-(٢) وَرَوَى ابْنُ مَاجَهْ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ.

ترجمه: ابن ماجه دا روايت د ابوهريره رضی الله عنه نه

۳۶۵۹- [۱] وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ عَنْ أَبِيهِ [۲] وَقَالَ: ذَكَرَ الْبُخَارِيُّ فِي التَّارِيخِ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَبِيهِ.

ترجمه: [۱] او بيهقي رحمه الله په شعب الايمان کې محمد ابن عبد الله نه او هغه د خپل پلار نه نقل کړي دی [۲] او بيهقي ويلي دي چې امام بخاري رحمه الله دا روايت خپل تاريخ کې محمد ابن عبيد الله نه او هغه د خپل پلار ه نقل کړي دی.

تسهيلات:

قوله: مُدْمِنُ الْخَمْرِ إِنْ مَاتَ لَقِيَ اللهَ تَعَالَى كَعَابِدِ وَثَنٍ:

د شرابی د عابدِ صنم سره د تشبيه وجه: د حديث مبارك حاصل دادې چې کوم شرابی بغير

[۱]) اخرجه احمد في المسند: ۱/۲۷۲

[۲]) اخرجه ابن ما جه في السنن كتاب الأشربة/باب مدمن الخمر (رقم-۳۳۷۵)

د توبې نه مر شي نو الله ﷻ به ده ته خفه وي لكه څنګه چې د بت پرست نه به خفه وي هم په دې وجه قرآن كريم كښې شراب د بتانو سره يو ځائې ذكر شوی دی كما في القرآن ﴿إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ﴾

[۳۶۶۰] د شرابو څكلو او د بت پرستۍ برابری

۳۶۶۰—[۲۴] ()[1] عَنْ أَبِي مُوسَى أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ[2]: مَا أُبَالِي شَرِبْتُ الْخَمْرَ أَوْ عَبَدْتُ هَذِهِ السَّارِيَةَ دُونَ اللَّهِ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [1] او ابوموسى اشعري رضي الله عنه نه منقول دی هغه به فرمايل [2] زه په دې كښې هيڅ فكر او فرق نه كوم چې زه شراب او څكم يا د الله نه ما سوا د دې ستني يعنى د كاڼي د بت عبادت وكړم. (نسائي)

حل اللغات: ① السَّارِيَةَ: د كاڼرى ستن، بُت

تسهيلات:

قوله: مَا أُبَالِي:

دحضرت ابو موسى اشعرى رضي الله عنه د دې فرمان مقصد دا دې چې زما په نزد شراب څكل او بت پرستى دواړه په يو حكم كښې دی.

[1]) اخرجه النسائي في السنن كتاب الأشربة /باب ذكر الرّوايات المغلّظات في شرب الخمر (رقم-۵۶۶۳)

[۱۸] کِتَابُ الْإِمَارَةِ وَالْقَضَاءِ

د امارت او قضاء بیان

خلاصة الباب:

فيه ستون حديثاً مشتملة على سبع عشرة مسئلة:

① الترغيب في إطاعة الأمير: ۱، ۲، ۳، ۱۲، ۱۳، ۱۵، ۳۴.
② إطاعة الأمير في المعروف لا في المعصية والظلم: ۲، ۳، ۵، ۶، ۳۶، ۴۰، ۴۹.
③ تقييد إطاعة الأمير بالاستطاعة: ۷، ۱۹.
④ الزجر على من خرج على الأمير والمنع من الخروج: ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۴، ۳۴.
⑤ حكم البغاوة على الإمام الثاني عند وجود الأول حرمة طاعة الثاني: ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹.
⑥ شناعة من يسأل الإمارة: ۲۰، ۲۱، ۲۲، ۲۳، ۲۴.
⑦ كون الأمير مسؤلاً يوم القيامة: ۲۵.
⑧ ذكر الإمام الخائن والظالم: ۲۶، ۲۷، ۲۸، ۲۹، ۴۳، ۴۴، ۴۹، ۵۱، ۵۵، ۵۷، ۵۸، ۵۹.
⑨ أوصاف الإمام العادل وجزاءه: ۲۹، ۳۰، ۳۱، ۴۴، ۵۰، ۵۴، ۵۷، ۵۸.
⑩ وجوب الصاحب للأمير ظاهراً أو باطناً: ۳۱، ۳۲، ۳۹، ۴۶.
⑪ قباحة إمارة المرأة: ۳۳.
⑫ المنع عن إهانة الأمير: ۳۵.
⑬ ثقل مسؤلية الإمارة: ۲۲، ۳۷، ۳۸، ۳۹، ۴۱، ۵۲، ۵۳، ۵۴.
⑭ التحذير عن مخالطة الأمراء (أي الفساق): ۴۰، ۴۱.
⑮ كون دعوة الأمير إلى الحق أفضل الجهاد: ۴۵.
⑯ نفي الأمير عن تجسس الرعية: ۴۷، ۴۸.
⑰ كون الأمراء بحسب أعمال الناس: ۵۶، ۶۰.

د لفظ امارة ضبط او معنی: إمارة د همزه کسره سره دې د باب سمع یسمع نه امرًا وامارة مضبوط کیدو او د امیر جوړیدو په معنی کښې دې او امارة د همزه زبر سره د علامت په معنی کښې دې دلته دا مراد نه دې بلکه امارة بکسرة الهمزة مراد دې

په اسلام کښې د اسلامی ریاست تصور:

اسلام یو کامل او مکمل دین دې حکومت او امارت او نصب امام او د اسلامی خلافت قیام د اسلام حکم دې ځکه چه د اسلام زیات احکامات و نیغ په نیغه تعلق حکومت او

امارت سره تړلې دې بل دَ اسلام ټول قواعد اوقوانین نظم او ضبط دَ اسلام دَ خاص مزاج مطابق کیدل ضروری دی لهذا هریو مسلمان دَ اسلامی امارت قیام دَ کوشش نه بې تعلق نه شی پاتې کیدې ځکه چه دَ خصومات لرې کول او دَ سرحداتو حفاظت، دَ عیدین او جمعات قیام، دَ بیت المال قیام او دَ صدقات حاصلول، دَ مجاهدینو تیارول اودَ جهاد مهمات،دَ حجاج کرام دَ لارې امن او امربالمعروف اونهی عن المنکر، دَ مخلوق خدا ضروری خدمات اودَ تعلیم اوتعلم شعبه جات اودَ الله تعالی قانون په زمکه کښې په عملی توګه نافذ کول ټول په ټول حکومت سره تړلی دی هم په دې وجه اووئیلې شو "الدين والامارة توأمان" یعنی دین او حکومت دوه په یوځائی پیداشوی رونړه دی

د خلافت اسلامیه اهمیت:

نصب امام او دَ خلافت اسلامیه قیام دَمسلمانانو او اهم قواعدونه هغه اهم قاعده ده دَ کوم تذکره چه په خاص توګه زمونږ دَ عقائدو په کتابونوکښې کړې شوې ده. چنانچه په شرح عقائد کښې دَدې متعلق داسې لیکلې شوې دی. "ثم الاجماع على ان نصب الامام واجب لقوله عليه السلام من مات ولم يعرف امام زمانه فقد مات ميتة جاهلية، ولان الامامة قد جعلوا اهم المهمات نصب الامام حتى قدموا على الدفن، ولان كثيرا من الواجبات الشرعية يتوقف عليه"

دَدې ټولو تصریحاتو باوجودنه شی وئیلې کیدې چه دین اسلام ته دَ خلیفه ضرورت نشته دې اومسلمانانو له دَ احکاماتو اقامت او اشاعت اسلام دَپاره دَ حاکم اوحکمرانئی ضرورت نشته دې کله چه دا ثابته شوه چه دَ خلافت قیام یو ضروری او اهمه مسئله ده نومونږ له دَ حکومت دَتشکیل دَپاره دَ اسلام دَ قواعدو په رڼاکښې خاص اسلامی طریقه پکار ده. مونږ چه کله دَ سلف صالحین تشکیلات مخې ته ایږدو نومونږ له دَ خلافت دَتشکیل دَپاره درې واضحه طریقې ملاویږی.

دَ خلافت دَ تشکیل څلور طریقې:

① دَ دین اسلام دَ ټولونه زیات وفادار دَټولونه زیات دَدې په قواعدو ضواطو پوهیدونکې اودَ ټولونه زیاته قربانی ورکونکې اودَټولونه زیاته همدردی لرونکې عام مسلمانان راوړاندې کړی اودَهغه په لاس باندې بیعت اوکړی دَ امامت په منصب باندې اولګوی دَحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دَ خلافت طریقه دَانتخاب هم دغه شان وه. دَ ټولو په اتفاق سره دَهغوی کمالات قربانی اوخدمات په بنیادباندې انتخاب اوشو او په دې باندې دَصحابه کرامو رضی الله عنهم اجماع اوشوه دَ بعضې علماؤ په نیزدَدې اجماع منکرکافردې.

② دَ مسلمانانو اصحاب الرائې مشرانو یوه شوریٰ جوړه کړې شی اوهغه شوریٰ څوک دَخلافت دَپاره اوټاکی اوبیادَعاموخلقونه په دې باندې بیعت واخلی. حضرت عثمان

رضي الله عنه په دې طرز باندې مقررشو اودهغوی خلافت په دې طرزباندې جوړشو ځکه چه حضرت عمر رضي الله عنه دَ زخمی کیدو نه پس شپږ کسان دَ خلافت دَ تشکیل دپاره دَ شوری په توګه منتخب کړل په دې کښې حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه حضرت علی رضي الله عنه حضرت طلحه رضي الله عنه حضرت زبیر رضي الله عنه حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه اوحضرت سعدبن ابی وقاص رضي الله عنه شامل وو هغوی بهردَ حفاظتی ګارډ پهره لګولې وه او فرمانیلي وو ترکومې چه په دوی کښې څوك خوښ کړې شوې نه وی تاسو خلق به دوی بهراتلوته نه پریږدئی. دادَ خلافت دَ تشکیل درې پاکې نمونې دی دَ کومې په ذریعه چه خلفاء راشدین رضي الله عنهم دَ خلافتونو قیام عملی کړې شوې وو

③ موجوده خلیفه دَخپل وفات په وخت څوك پخپله مقررکړی اویائی خپل ولی عهدجوړکړی چنانچه دَحضرت عمر رضي الله عنه دَ خلافت تشکیل په دې طریقه شوې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په خپل صوابدید باندې دغه شان مقررکړو چه په یو بند کاغذ کښې دَحضرت عمر رضي الله عنه نوم اولیکلو اوبیائی دَټولو مسلمانانونه مطالبه اوکړه چه په دې بند کاغذکښې دَ کوم سړی نوم دې هغه ستاسو خلیفه دې آیا تاسوبه هغه منئی ټولو اقرار اوکړو چه اومنوبه ئی حضرت علی رضي الله عنه اوفرمائیل چه منم سره دَدې چه په دې کښې دَحضرت عمر رضي الله عنه نوم لیکلې شوې وی. کله چه نوم ښکاره کړې شو نوهغه هم دَحضرت عمر رضي الله عنه نوم وو دغه شان هغه خلیفه جوړشو.

④ دا طریقه اګرچې منصوص علیه نه ده لیکن ډیر زیات خلیفه ګان دَ بادشاهت په طریقه باندې منتخب کړې شوی دی په دې وجه دې ته بالکل ناجائزنه شی وئیلی دَ بنوامیه په دورکښې هم په دغه طریقه باندې بادشاهان وو بادشاهت دَ وراثت په بنیاد قائم کړې شوې حکومت وی

د قاضی د قضاوت وضاحت: قاضی هم هغه سړې وی کوم چه دَ وخت حاکم دَ عامو خلقو دَ قضایا او معاملات فیصله کولودپاره مقررکوی دَ اسلام په نظر کښې اقتدار اعلی دَالله تعالی په لاس کښې دې اودَ مسلمانانوچه کوم حکومتونه او خلافتونه دی دا صرف هم دَ هغه اقتدار اعلی د احکامودتنفیذدپاره مقررکولې شی دَاسلام په نظرکښې په پوره دنیاکښې دَمسلمانانوهم یوخلیفه کیدل پکاردی دَ امام اوحاکم دپاره ضروری دی چه په هغه کښې دَ احکاماتو دَ تنفیذ کولو قوت اوحوصله وی که چرې دَ احکاماتودَ تنفیذکولو قدرت ئی نه وی نوهغه خلیفه پخپله معزول کیږی.

د فسق اوفجور په وجه د قاضی په تعزیل کښې ۲ مذاهب:

① امام شافعی رحمه الله فرمائی چه چرته حاکم په فسق اوفجور کښې اخته شی نوهغه معزول کولې شی اوهم دغه مسئله دَ قاضی هم ده.

④ امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی چه دَ فسق اوفجوردَ وجې نه حاکم اوقاضی نه شی معزول کولې اوکه چرې واضحه کفرئی مخې ته راشی یا امام اوقاضی مونځ ترك کړی نوبیامعزول کولې شی اوکه چرې دَ شروع نه امام اوقاضی فاسق وی نواحناف په دې صورت کښې شوافعو سره دی چه داسې فاسق اوفاجر امام اوقاضی مقررکول جائز نه دی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٣٦٦١] دامیر په تابعداری د رسول د تابعداری اطلاق

٣٦٦١-[١] ()[١] ①عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②«مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصَى اللهَ، ③وَمَنْ يُطِعِ الْأَمِيرَ فَقَدْ أَطَاعَنِي وَمَنْ يَعْصِ الْأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي ④وَإِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ ⑤فَإِنْ أَمَرَ بِتَقْوَى اللهِ وَعَدَلَ فَإِنَّ لَهُ بِذَلِكَ أَجْرًا ⑥وَإِنْ قَالَ بِغَيْرِهِ فَإِنَّ عَلَيْهِ مِنْهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چې رسول کريم صلی الله علیه وسلم وفرمايل ②کوم سړی چې خما فرمانبرداري کوي هغه د الله جل جلاله فرمانبرداري وکړله او کوم سړي چې خما نافرماني وکړه هغه د الله جل جلاله نافرماني وکړه ③او کوم سړی چې د خپل امير سردار اطاعت وکړ هغه خما اطاعت اوکړو او کوم سړي چې د خپل امير نافرماني وکړه هغه خما نافرماني وکړه ④او ياد لرئ امام [يعنی سربراه مملکت] دمسلمانانو د پاره د ډهال په شان دی چې د هغه د وروسته نه [يعنی د طاقت په زور] جنګ کيږي او د هغه په ذريعه [د دښمنانو د آفاتو او بلياتو نه] حفاظت حاصليږي ⑤نو که هغه امام دالله جل جلاله نه ويرېدو سره د دې [قانون مطابق فيصله وکړي او] عدل او انصاف نه کار واخلي نو د دې په وجه هغه امام د لوی اجر او ثواب مستحق کيږي ⑥او که هغه داسې ونه کړه [يعنی د هغه احکام او فيصلي د الله خوف د قانون الهي روح او د عدل او انصاف] نه خالي وي نو په دې وجه به هغه سخت ګنهګار وي

حل اللغات: ①جُنَّةٌ: ډهال. ②يُتَّقَى بِهِ: يريږي د الله نه

تسهيلات: **قوله:** وَمَنْ يُطِعِ الْأَمِيرَ:

د امير نه په مراد کښې دوه اقوال: ①دَ اميرنه دلته دَ نبی کريم مقررکړي شوې اميرهم مراد اخستې شی "اي اميري"

[١]) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسير/باب يقاتل من وراء الإمام ويتقی به (رقم-٢٩٥٧) ومسلم فی كتاب الإمارة/باب وجوب طاعة الأمراء فی غير معصية، وتحريمها فی المعصية (رقم-٣٣ - (١٨٣٥) والنسائی فی کتاب البيعة/باب الترغيب فی طاعة الإمام (رقم-٤١٩٣)وابن ماجه فی کتاب الجهاد/باب طاعة الإمام (رقم-٢٨٥٩) واحمد فی المسند:٢٥٢/٢

② او مطلق امير يعنى څوك حاكم يا دَ حاكم دَ طرف نه مقرر کړې شوې اميرهم مراد اخستې شي لکه چه يوسړې دَ يوعلاقې گورنر يا وزير وى يا په بل څه کارباندې مامور وى

د حديث پس منظر: په دې حديث کښې دَ عرب قبائلو امير اود اميردَ اطاعت نظام سره متعارف کړې شوې دې په عربو کښې چونکه قبائلى سستم رائج وو نوهغه خلق په ذهنى توگه دَامير اوحاکم نه غيرمانوس او ويريدل دَدې ويرې ختمولودَپاره نبى کريم اوفرمائيل چه دَ سرکارى امير اطاعت په حقيقت کښې زما اطاعت دې ځکه چه هغه ما مقرر کړې دې

قوله: وَإِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ:

د خليفه تشبيه د ډهال سره د ورکولو وجه: دَمسلمانانودَ خليفه تشبيه نبى کريم ډهال سره ځکه ورکړې ده چه څنگه په ډهال سره دَ تورې گذار رامنع کولې شى اوخپل ځان بچ کولې شى دغه شان دَحاکم په ذريعه سره رعايا دَ دښمن نه بچ کيږى "يُقَاتَلُ او يُتَّقَى" دواړه مجهول صيغې دى

[٢٦٦٢] د کمتر امير داطاعت وجوب

> —٢٣٣[٢] ()١ وَعَنْ أُمِّ الْحُصَيْنِ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ «إِنْ أُمِّرَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ مُجَدَّعٌ يَقُودُكُمْ بِكِتَابِ اللَّهِ فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ بي بي ام حصين رضي الله عنها وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ٢ که يوه پوزه پريکړې او غوږ پريکړې غلام هم ستاسو حاکم جوړ شي او هغه د الله جل جلاله د قانون مطابق په تاسو حکمراني کوي نو تاسو د هغه حکم واورى او د هغه اطاعت کوى (مسلم)

حل اللغات: ① مُجَدَّعٌ: غوږ يا پوزه پريکړې شوې غلام. بوچې غلام. ② يَقُودُكُمْ: حکمرانى کوى په تاسو.

تسهيلات:

قوله: إِنْ أُمِّرَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ مُجَدَّعٌ يَقُودُكُمْ بِكِتَابِ اللَّهِ فَاسْمَعُوا لَهُ وَأَطِيعُوا

د غلام حاکم د اطاعت په مفهوم کښې درې اقوال:

① دا حبشى غلام په زور په حکومت باندې کيناستو اوقابض شولکه چه په مصر کښې کافور متغلب شوې وو نو په دغه صورت کښې که هغه دکتاب الله په رنړا کښې حکومت چلوى نودَ هغه دَ اطاعت نبى کريم حکم ورکړې دې

② دلته دَ اميرنه بادشاه مرادنه دې بلکه دَ بادشاه مقرر کړې شوې امير اونائب مراد دې

---

١) اخرجه مسلم فى کتاب الحج /باب استحباب رمى جمرة العقبة يوم النّحر راکبا. وبيان قوله صلّى الله عليه وسلّم «لتأخذوا مناسککم» (رقم-٣١١ - (١٢٩٨)

چه په يو خاص علاقه باندې امير جوړ كړې شوې وى

④ دا كلام دَ فرض او تقدير په توګه دې چه فرض كړه كه غلام هم په تاسو باندې بادشاه كړې شى نو بيا هم اطاعت كوئى نو دلته دَ اطاعت ترغيب دې دَ غلام دَ حكومت تسليم كول نه دى

[۳۶۶۳] دغلام امير د تابعدارى وجوب

۳۶۶۳ــ[۳] (¹) ①وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ②: «اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا③وَإِنِ اسْتُعْمِلَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ كَأَنَّ رَأْسَهُ زَبِيبَةٌ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ①او حضرت انس ﷺ وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ②د خپل امير او حاكم فرمان واورې او د هغه د اوامرو او نواهي اطاعت وكړې [ترڅو پورې چې د هغه څه حكم او فرمان د الله او د هغه د رسول خلاف نه وي] ③اګر چې په تاسو باندې يو داسې غلام حكمران جوړ شوى وي چې د هغه سر (وړوكوالي او سياهي كې) د انګور په شان وي

حل اللغات: ①زَبِيبَةٌ: د انګورو دانه

تسهيلات:

قوله: كَأَنَّ رَأْسَهُ زَبِيبَةٌ:

د زبيب معنى او دلته ترې مراد: دَميوې او انګور وړې دانې ته وائى مراد ترې نه ذليل حقير او كمتر غلام دې داد اميردَ اطاعت تاكيد دې دَ جواز او عدم جواز خبره نه ده او دا شرط ضرورى دې چه هغه دكتاب الله په رڼا كښې حكومت چلوى

[۳۶۶٤] دامير د تابعدارى حدود

۳۶۶٤ــ[٤] (²) ①وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②«السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ عَلَى الْمَرْءِ فِيمَا أَحَبَّ وَكَرِهَ③مَا لَمْ يُؤْمَرْ بِمَعْصِيَةٍ④فَإِذَا أُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ فَلَا سَمْعَ وَلَا طَاعَةَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①او ابن عمر ﷺ وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ②د خپل امير او حاكم خبره آوريدل او د هغه د احكامو پيروي كول په هر حال كې مرد مسلم باندې واجب دى برابره خبره ده كه هغه څه حكم هغه ته خوښ وي يا ناخوښ وي ③ترڅو پورې چې د يو ګناه د

¹) اخرجه البخارى فى كتاب الأحكام/باب السّمع والطّاعة للإمام ما لم تكن معصية (رقم-۷۱٤۲) وابن ماجه فى كتاب الجهاد/باب طاعة الإمام (رقم-۲۸٦۱) واحمد فى المسند:٦/٤۰۲

²) اخرجه البخارى فى كتاب الأحكام/باب السّمع والطّاعة للإمام ما لم تكن معصية (رقم-۷۱٤٤) ومسلم فى كتاب الإمارة/باب وجوب طاعة الأمراء فى غير معصية، وتحريمها فى المعصية (رقم-۳۸ - (۱۸۳۹) و ابو داود فى كتاب الجهاد/باب فى الطّاعة (رقم ۲٦۲٦) والترمذى فى كتاب الجهاد عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء لا طاعة لمخلوق فى معصية الخالق (رقم-۱۷۰۷) والنسائى فى كتاب البيعة/باب جزاء من أمر بمعصية فأطاع(رقم-٤۲۰٦) وابن ماجه فى كتاب الجهاد/باب لا طاعة فى معصية الله (رقم-۲۸٦٤)واحمد فى المسند:۲/۱۷

خبري حکم اونه شي ۳نو هر کله چې یو حاکم داسې حکم وکړي چې په هغه عمل کولو کې ګناه وي نو د هغه اوریدل او اطاعت کول واجب نه دی

حل اللغات: ①اَلْتَمْعُ: خبره آوریدل، اطاعت کول

تسهیلات:

قوله: فِيمَا أَحَبَّ وَكَرِهَ:

د حاکم د اطاعت حکم: دَامیراوحاکم اطاعت په هرحالت کښې واجب دې که دغه حکم دَ طبیعت موافق وی اوکه موافق نه وی خوپه دې شرط چه دغه حکم دَ شریعت موافق وی اوکه چرې حاکم دَ شریعت نه خلاف حکم ورکوی نوپه هغې کښې اطاعت نشته دې اوپه دغه صورت کښې هم بغاوت جائز نه دې. تردې چه دَهغه کفربنه ښکاره اونه وینی مونږ ترك کول هم دَ بغاوت دَپاره کافی دې. "لاطاعة لمخلوق فی معصية الخالق".

[۳۶۶۵] په ګناه کښې عدم اطاعت

۳۶۶۵ —[۵] () ١وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢«لَا طَاعَةَ فِي مَعْصِيَةٍ ٣إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوفِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١او حضرت علي ﷺ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ٢د هيڅ داسې حکم اطاعت او فرمانبرداري جائز نه ده چې د هغه تعلق ګناه سره وي [برابره خبره ده که هغه حکم د امير او حاکم د طرف نه وي يا د مور او پلار او استاذ او پير د طرف نه وي] ٣اطاعت او فرمانبرداري خو صرف بنه نيك حکم کې واجب ده (بخاري مسلم)

حل اللغات: ①اَلْمَعْرُوفِ: نيک عمل، شريعت.

تسهیلات:

قوله: لَا طَاعَةَ فِي مَعْصِيَةٍ إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوفِ:

په ګناه کښې د حاکمانو عدم اطاعت:

د نبی کریم ﷺ فرمان چې معصیت کښې اطاعت نشته دې . ددې مطلب دادې چې که امام دنیکۍ حکم کوی نو د هغه خبره منل پکار دی او دهغه ددې خبرې نه انحراف کول نه دی پکار اوکه امام د یوې ګناه حکم اوکړی نو اطاعت ضروری نه دې (كما فی قوله عليه السلام لا طاعة لمخلوق فی معصية الخالق).

¹) اخرجه البخاری فی کتاب أخبار الآحاد /باب ما جاء فی إجازة خبر الواحد الصدوق فی الأذان والصلاة والصوم والفرائض والأحکام (رقم-۷۲۵۷) ومسلم فی کتاب الإمارة/باب وجوب طاعة الأمراء فی غیر معصية، وتحريمها فی المعصية (رقم-۳۹ - (۱۸۴۰) و ابو داود فی کتاب الجهاد/باب فی الطاعة (رقم-۲۶۲۵) والنسائی فی کتاب البيعة/باب جزاء من أمر بمعصية فأطاع(رقم-۴۲۰۵) واحمد فی المسند: ۸۲/۱

[۳۶۶۶] رسول الله سره په هر حالت کښې د تابعدارۍ وعده

۳۶۶۶ —[۲] () ⓵«وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: ⓶بَايَعْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي الْعُسْرِ وَالْيُسْرِ وَالْمَنْشَطِ وَالْمَكْرَهِ، ⓷وَعَلَى أَثَرَةٍ عَلَيْنَا ⓸وَعَلَى أَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ ⓹وَعَلَى أَنْ نَقُولَ بِالْحَقِّ أَيْنَمَا كُنَّا ⓺لَا نَخَافُ فِي اللهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ. ⓻وَفِي رِوَايَةٍ: وَعَلَى أَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ ⓼إِلَّا أَنْ تَرَوْا كُفْرًا بَوَاحًا ⓽عِنْدَكُمْ مِنَ اللهِ فِيهِ بُرْهَانٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ⓵او عباده بن صامت رضي الله عنه وايي ⓶مونږ د رسول کريم ﷺ په لاس مبارك بيعت اوكړو [يعنى د حضور ﷺ مخامخ د هغه امورو مو عهد وكړو] چې مونږ به د حضور ﷺ هدايات توجه سره اورو او هر قسم حالاتو كې به د حضور ﷺ د احكامو اطاعت كوو تنګي او سختو حالاتو كې هم او آساني او خوش آيند زمانه كې هم د خوښى په موقع هم او د ناخوښي په حالت كې هم ⓷كه مونږ باندې ترجيح وركول شي نو مونږ به صبر كوو ⓸مونږ به امر د هغه د ځاى نه نه اوباسو ⓹مونږ چې كله د ژبې نه يو خبره كوو نو حق به وايو برابره خبره ده كه په هرځاى كې يو په هرحال كې يو. ⓺او مونږ به د الله جل جلاله معامله كې [يعنى دين رسولو او حق خبره كولو كې] د چا ملامت كونكي سړي د ملامتيا نه به نه ويريږو ⓻او په يو روايت كې داسې دي چې مونږ د دې خبرې عهد وكړې چې مونږ به امر د هغه د ځاى نه نه اوباسو ⓼نو حضور ﷺ وفرمايل چې امر د هغه د ځاى نه مه اوكاږئ خو كه تاسو ښكاره كفر ووينى ⓽چې په هغه ستاسو سره د الله د طرف نه [يعنى د قرآن د څه آيت يا حديث په صورت كې دليل وي او په هغه كې د څه تاويل ګنجائش نه وي] نو په دې صورت كې امر د هغه د ځاى نه د ښكلو اجازت دى.

حل اللغات: ①بَايَعْنَا: بيعت اوكړل مونږ (دلته په معنى دعهد دې اى عاهدنا). ②الْعُسْرِ: سختى، تنګى ③الْيُسْرِ: خوشحالى. ④الْمَنْشَطِ: دالفظ د نشاط نه دې دخوشحالئ دپاره استعماليږى ⑤الْمَكْرَهِ: ناخوښى. ⑥أَثَرَةٍ: ترجيح وركول. ⑦لَوْمَةَ: ملامتيا. ⑧لَائِمٍ: ملامت كونكى. ⑨بَوَاحٍ: ښكاره. ⑩بُرْهَانٌ: دليل

تسهيلات: **قوله:** وَالْمَنْشَطِ وَالْمَكْرَهِ:

په لفظ المنشط كښې درې احتمالات: ① دا صيغه يا مصدر ميمى په معنى نشاط ده
② ظرف زمان دې يعنى د خوشحالئ او نشاط په وخت هم اطاعت اوكړى
③ دا صيغه د ظرف مكان دپاره ده يعنى د خوشحالئ او نشاط په مقام كښې هم اطاعت دې

() اخرجه البخارى فى كتاب الأحكام/باب: كيف يبايع الإمام النّاس (رقم-۷۲۰۲) ومسلم فى كتاب الإمارة/باب وجوب طاعة الأمراء فى غير معصية، وتحريمها فى المعصية (رقم-۴۲ - (۱۷۰۹)) والنسائى فى كتاب البيعة/باب البيعة على أن لا ننازع الأمر أهله (رقم-۴۱۵۱) و ابن ماجه فى كتاب الجهاد/باب البيعة (رقم-۲۸۶۶) ومالك فى الموطا كتاب الجهاد/باب التّرغيب فى الجهاد (رقم-۵) واحمد فى المسند: ۳۱۴/۵

قوله: وَعَلَى أَثَرَةٍ:

د انصارو د نبی ﷺ سره په معاهده باندې وفا: اثرة همزه او ثاء باندې زبردې دا د ايثار نه د ترجيح په معنی کښې دې مطلب دادې چه مونږ نبی کريم سره دا عهد هم اوکړو که چرې په مونږ انصارو باندې بل چانه په امورخلافت او امارت او اعطاء اموال او مناصب کښې ترجيح ورکړې شوه نومونږ به صبر کو اود صبر اوتحمل لمن به د لاس نه نه پرېږدو نبی کريم انصاروته فرمائيلی وو زمانه پس به تاسو سره ترجيحی سلوك کولې شی تاسو صبرکونی چنانچه دا پيشنگوئی پوره شوه او په امورخلافت کښې انصار مخې ته رانغلل او هغوی هم چه خپل خوږ پيغمبر سره کومه معاهده کړې وه په ښه شان سره ئې سرته اورسوله "رضی الله عنهم وعن جميع الصحابة"

قوله: وَعَلَى أَنْ لَا نُنَازِعَ:

د امير خلاف بغاوت نه کول: دذې مطلب دادې چه مونږ به په امور خلافت او امارت يه خواهش کښې د چاخلاف د بغاوت جهنډا نه اوچتوو کوم يو حاکم چه په مونږ باندې مقررکړې شو مونږ به دهغه اطاعت کوو. چنانچه انصاروبه دغه جګړوکښې قطعاً حصه وانخستله کومې چه هغه وخت راولاړې شوې وې

قوله: إِلَّا أَنْ تَرَوْا كُفْرًا بَوَاحًا:

د کفر بواح مطلب: دکفربواحا مطلب دادې چه ته کله ښکاره کفراووينې نوبيا دغه کافر د امامت د منصب نه معزول کړه ګنی نه. په احاديثوکښې ترك صلوة هم دکفربواح په درجه کښې شميرکړې شوې دې لهذا چه کوم حاکم د مونځ اقامت او اهتمام نه کوی او په ملك کښې نظام صلوة نه رائج کوی هغه معزول کول ضروری دی ملاعلی قاری رحمه الله په مرقات کښې ليکی "ولوطرأعليه الكفر انعزل وكذالوترك اقامة الصلوة والدعاء اليها وكذا البدعة"

د بدعت نه مراد: د بدعت نه مراد بدعت مکفره دې په کفربواح کښې داهم راځی چه يو حاکم د الله تعالی احکام اودهغه قرآن معطل کړی اودهغې په ځائی دانسان جوړکړې شوې قانون نافذ کړی لکه څنګه چه نن صبا په دنياکښې د مسلمانانود حکومتونو دبادشاهانو حال دې قال الله تعالی ﴿وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ﴾ [سورة المائدة ۴۴]

[٢٦٦٧] د خپل وس مطابق د تابعداری بيعت

٢٦٦٧-[٧] ([1]) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: «كُنَّا إِذَا بَايَعْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الأحكام/باب: کيف يبايع الإمام النّاس (رقم-٧٢٠٢) ومسلم فی کتاب الإمارة/باب البيعة علی السّمع والطّاعة فيما استطاع (رقم-٩٠ - (١٨٦٧) والنسائی فی کتاب البيعة/باب البيعة فيما يستطيع الإنسان (رقم-٤١٨٧) ومالک فی الموطا کتاب البيعة/باب ما جاء فی البيعة (رقم-١)

۳ يَقُولُ لَنَا: فِيمَا اسْتَطَعْتُمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابن عمر رضی الله عنه وايي مونږ ۲ چې به د رسول كريم ﷺ په لاس مبارك بيعت كوى ايعنى د دي خبري عهد به كوىا چې مونږ به د حضور ﷺ هدايات په توجه سره اوريدو او د حضور ﷺ د احكامو به اطاعت كوو ، ۳ نو حضور ﷺ به مونږ ته فرمايل د هغه امورو چې د هغه تاسو طاقت لرى (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: فِيمَا اسْتَطَعْتُمْ:

الحاصل نبى كريم ﷺ صحابه كرامو ته دا تاكيد اوفرمائيلو چې مطلقا د اطاعت وعده مه كوئى بلكه په قدر دطاقت د اطاعت وعده كوئى چې تاسو كله هم بې وعدې نشئ

[۳٦٦۸] د امير په تابعدارۍ د صبر كولو حكم

۳٦٦۸ - [۸] ( ) ۱ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «مَنْ رَأَى مِنْ أَمِيرِهِ شَيْئًا يَكْرَهُهُ فَلْيَصْبِرْ: ۳ فَإِنَّهُ لَيْسَ أَحَدٌ يُفَارِقُ الْجَمَاعَةَ شِبْرًا فَيَمُوتُ ۴ إِلَّا مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او ابن عباس رضی الله عنهما راوي دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ۲ كه يو سړى د خپل امير او سردار د طرف نه څه داسې خبره ويني چې د هغه شرعًا ياطبعًا خوښه نه وي نو هغه ته په هغه صبر كول پكار دى او د هغه وجه د امام خلاف د بغاوت جنډه بلند كول نه دي پكار ۳ ځكه چې كوم سړى د جماعت نه يوه ليشت برابرهم جدا شي او اتوبي نه بغير په دې حالت كېا مړ شي ۴ نو د هغه مرګ به د اهل جاهليت په شان وي (بخاري مسلم)

حل اللغات ① شِبْرًا: لويشت.

تسهيلات: قوله يُفَارِقُ الْجَمَاعَةَ:

د مفارقة الجماعة مطلب: مطلب داچه كوم سړې د امام اواميرد اطاعت نه مخ اړوى اود مسلمانانود منظم جماعت نه جدائى اختياروى اود ټولو مسلمانانو د اتحادخلاف ملاتړى اوبيا د توبه كولونه بغيرهم په دغه حالت مرى نولكه چه دا سړې د جاهليت د زمانې د خلقو په شان مړشو چونكه د جاهليت خلق د يوآسمانى دين لاندې نه وو په دې وجه هغوى د هريو امير نه آزاد او خودسر وو اود هراتحادى صورت نه به ئى بنه په ښكاره د جدائيئ اعلان كولو اوس كه چرې د اسلامى امير او اسلامى احكاماتو په موجودګئ كښې يو سړې داسې خود سره اود شر مجموعه جوړيږى اوبيا مركيږى نوهغه به د

---

[۱] اخرجه البخارى فى كتاب الأحكام/باب السّمع والطّاعة للإمام ما لم تكن معصية (رقم-۷۱٤۳) ومسلم فى كتاب الإمارة/باب الأمر بلزوم الجماعة عند ظهور الفتن وتحذير الدعاة إلى الكفر(رقم-۵۵ - (۱۸٤۹) واحمد فى المسند: ۲۷۵/۱

جاهليت په مرګ باندې مرى. په دې حديث سره مسلمانانوته د اتفاق اواتحاد سبق وركولې شي.

قوله: مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً:

د ميتة ضبط او په حديث كښې ترې مراد: په ميم باندې زير دې داصيغه د حالت او كيفيت بيانولودپاره راځي "اي هيئة وحالة جاهلية" مخكښې د "قتلة" لفظ هم دغه شان دې

[۲٦٦۹] د قوميت دپاره د قتل شوى كس باره كښې وعيد

٣٦٦٩-[۹] (¹) ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ②«مَنْ خَرَجَ مِنَ الطَّاعَةِ وَفَارَقَ الْجَمَاعَةَ فَمَاتَ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً، ③وَمَنْ قَاتَلَ تَحْتَ رَايَةٍ عِمِّيَّةٍ ④يَغْضَبُ لِعَصَبِيَّةٍ ⑤أَوْ يَدْعُو لِعَصَبِيَّةٍ ⑥أَوْ يَنْصُرُ عَصَبِيَّةً ⑦فَقُتِلَ فَقِتْلَةٌ جَاهِلِيَّةٌ،

ترجمه: ①او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي ما د رسول الله ﷺ نه دافرمايل واوريدل ②چې كوم سړى [د امام سربراه مملكت د اطاعت او] فرمانبرداري نه ووزي او د اسلام د جماعت [د ملت اجتماعي هيئت نه جدايي] اختيار كړي او بيا په هغه حالت مړ شي نو د هغه مرګ د جاهليت د مرګ برابر دى ③كوم سړى چې د يوې داسې جنډې لاندې [يعنى ديو داسې مقصد د پاره وجنګيدلو چې د هغه حق او باطل كيدل ظاهر نه وي] ④حالانكه هغه تعصب سره غضبناك شو ⑤او د تعصب په وجه خلق يې خان طرف ته وبلل ⑥يا د تعصب په وجه د چا مدد يې اوكړو [يعنى د هغه جنګيدل غضبناك كيدل خلق خپل مدد د پاره بلل يا د چامدد كول اعلاء كلمة الحق او د دين د اظهار د پاره نه وو بلكې محض تعصب يعنى د خپل قوم د ظلم حمايت او د هغوى نا روا جانبداري په بنياد ووا] ⑦او په دې حالت كې هغه ووژل شو نو د هغه مرګ به د جاهليت د مرګ برابر وي

حل اللغات: ①وَفَارَقَ: جدا شو. ②مِيتَةً جَاهِلِيَّةً: دجاهليت مرګ. ③رَايَةٍ: جهنډا. ④عِمِّيَّةٍ: روندوالې. (جنګ چه حق اوباطل ئې متردد وى) ⑤لِعَصَبِيَّةٍ: دتعصب په وجه. دخاندانى تعلق په وجه ⑥قِتْلَةٌ جَاهِلِيَّةٌ: دجاهليت مرګ.

①وَمَنْ خَرَجَ عَلَى أُمَّتِي بِسَيْفِهِ يَضْرِبُ بَرَّهَا وَفَاجِرَهَا ②وَلَا يَتَحَاشَى مِنْ مُؤْمِنِهَا ③وَلَا يَفِي لِذِي عَهْدٍ عَهْدَهُ ④فَلَيْسَ مِنِّي وَلَسْتُ مِنْهُ.» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①او كوم سړى چې خما د امت خلاف توره پورته كړي او د هغه په ذريعه خما د امت ښه او خراب سړى يې ووژل ②او خما د امت د مسلمان پروايي ونه كړه [يعنى د دې

¹) اخرجه مسلم في كتاب الإمارة/باب الأمر بلزوم الجماعة عند ظهور الفتن وتحذير الدعاة إلى الكفر(رقم ٥٣ (١٨٤٨) والنسائي في كتاب تحريم الدم/باب التغليظ فيمن قاتل تحت راية عمية (رقم-٤١١٤) وابن ماجه في كتاب الفتن/باب العصبية (رقم-٣٩٤٨) واحمد في المسند:٢/١٣٩

خبري هيڅ پروايي ونه کړه چې د يومسلمان وژل څومره لوی جرم دی او د دې وبال او عذاب څومره سخت دی! [۳] او نه هغه د عهد والا عهد پوره کی نو نه هغه څما د امت نه دی يعنی څما په لار دتلونکو نه نه دی [۴] او نه څما د هغه سره څه تعلق شته (مسلم)

حل اللغات: ⑥لَايَتَحَاشَى: بې پرواهی نه کوی ⑨يَفِي: د وَفى يَفِى نه. وعده پوره کوی.

تسهيلات:

قوله: تَحْتَ رَايَةٍ عِمِّيَّةٍ:

د راية عمية نه مراد: رايه جهنډې ته وائی او په عميه کښې په عين باندې زيردې او پيش هم جائزدې يعنی د تعصب د پاره د داسې جهنډې لاندې جنګ کوی د کوم حق او باطل کيدل چه معلوم نه وی.

[۳٦۷۰] بهترين او بدترين حاکم

۳٦۷۰-[۱۰] ( ) [۱] وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [۲]: «خِيَارُ أَئِمَّتِكُمُ الَّذِينَ تُحِبُّونَهُمْ وَيُحِبُّونَكُمْ وَتُصَلُّونَ عَلَيْهِمْ وَيُصَلُّونَ عَلَيْكُمْ [۳] وَشِرَارُ أَئِمَّتِكُمُ الَّذِينَ تُبْغِضُونَهُمْ وَيُبْغِضُونَكُمْ وَتَلْعَنُونَهُمْ وَيَلْعَنُونَكُمْ» [۴] قَالَ: قُلْنَا: يَارَسُولَ اللّٰهِ أَفَلَانُنَابِذُهُمْ عِنْدَ ذَلِكَ

ترجمه: [۱] او عوف ابن مالك اشجعي رضي الله عنه د رسول کريم صلی الله عليه وسلم نه نقل کوي چې رسول کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل [۲] ستاسو حاکمانو کې بهترين حاکمان هغه دي چې د هغوی سره تاسو محبت کوئ او هغوی ستاسو سره محبت کوي او تاسو د هغوی د پاره او هغوی ستاسو د پاره دعا غواړي او د دې په وجه خپلو کې ربط تعلق او محبت پيداوي [۳] او ستاسو حاکمانو کې بد ترين حاکمان هغه دي چې د هغوی سره تاسو بغض او عداوت ساتي او هغوی ستاسو سره بغض او عداوت ساتي او تاسو په هغوی لعنت وايئ او هغوی په تاسو [۴] حضرت عوف وايي چې مونږ صحابه وو رضي الله عنهم عرض اوکړو چې يا رسول الله! آيا په دې صورت مونږ د هغوی سره کړي عهد او وفاداري ماته نه کړو يعنی آيا هغه بدترين حاکمان معزول نه کړو او د هغوی خلاف د بغاوت جنډه پورته نه کړو

حل اللغات: ①خِيَارُ: غوره. بهترين. ②أَئِمَّة حاکمان. ③شِرَارُ: بدترين. خراب. ④نُنَابِذُهُمْ: نونږ وعده ماتوو. لوظ ماتوو.

[۱] قَالَ: لَا مَا أَقَامُوا فِيكُمُ الصَّلَاةَ لَا مَا أَقَامُوا فِيكُمُ الصَّلَاةَ [۲] أَلَا مَنْ وَلِيَ عَلَيْهِ وَالٍ فَرَآهُ يَأْتِي شَيْئًا مِنْ مَعْصِيَةِ اللّٰهِ [۳] فَلْيَكْرَهْ مَا يَأْتِي مِنْ مَعْصِيَةِ اللّٰهِ [۴] وَلَا يَنْزِعَنَّ يَدًا مِنْ طَاعَةٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضور صلی الله عليه وسلم وفرمايل نه ترڅوپوري چې هغوی ستاسو په مينځ کې مونځ قائموي نه ترڅوپوري چې هغوی ستاسو په مينځ کې مونځ قائموي [۳] خبردار! کوم سړی

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الإمارة/باب خيار الأئمة وشرارهم (رقم-٦٦ - (۱۸۵۵) واحمد فی المسند: ٦/٢٤

چې په تاسو حاکم مقرر شي او تاسو د هغه څه داسې فعل ووينې چې د الله ﷻ نافرماني باندې مبني وي [٣] نو د هغه هغه گناه بده گڼل پکارده ليکن د هغه د اطاعت [٤] او فرمانبرداري نه دست بردار کيدل نه دی پکار (مسلم)

حل اللغات: ⑤مَنْ وَلِيَ عَلَيْهِ: چاته چه اوسپارلې شی. ⑨وَالٍ: حاکم يا ولی جوړ کړې شی. ⑥وَلَا يَنْزِعَنَّ يَدًا: لاس دې نه اوباسی. دست برداره کيږي دې نه

تسهيلات:

قوله: لَا مَا أَقَامُوا فِيكُمُ الصَّلَاةَ:

د حاکم نه بغاوت نه کولو دپاره مونځ معيار گرځول: يعنی ترکومې چه يوحاکم پخپله مونځ کوی اونورخلق هم په اقامت الصلوة باندې آماده کوی نودنورو گناهونوپه وجه دهغه خلاف دبغاوت اعلان اووفاداری پرې خودل جائزنه دی. خوکه هغه پخپله ئې مونځ کول هم پرې خودل اونظام صلوة ئې هم قائم نه کړو نودداسې حاکم نافرمانی اودهغه د اطاعت نه وتل اودهغه معزول کول ضروری دی. ځکه چه مونځ د دين ستن ده اوکفر اود ايمان په مينځ کښې د مسلمان يوامتيازی نشان دې. که چرې يوحاکم د مونځ نه بې وفائی کوی اوددې نه ډډه کوی نودداسې حاکم وفاداری هم جائزنه ده. نن صبا مسلمانان حکمرانان ټول ددې حديث په زدکښې دی د عوامو بغاوت ضروری دې. خود عوامو د زړه اودماغ نه هم د مونځ اهميت وتلې دې الاماشاء الله. لهذا "فاستخف قومه فاطاعوه" په درجه کښې ټول په غفلت کښې پراته دی.

[٢٦٧١] د بدکرداره حاکمانو سره د وخت تيرولو طريقه

٣٦٧١-[١١] (١) [١] وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] «يَكُونُ عَلَيْكُمْ أُمَرَاءُ تَعْرِفُونَ وَتُنْكِرُونَ [٣] فَمَنْ أَنْكَرَ فَقَدْ بَرِءَ، [٤] وَمَنْ كَرِهَ فَقَدْ سَلِمَ [٥] وَلَكِنْ مَنْ رَضِيَ وَتَابَعَ [٦] قَالُوا: أَفَلَا نُقَاتِلُهُمْ قَالَ: لَا مَا صَلَّوْا لَا مَا صَلَّوْا [٧] أَيْ مَنْ كَرِهَ بِقَلْبِهِ وَأَنْكَرَ بِقَلْبِهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او بی بی ام سلمه رضي الله عنها وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [٢] داسې خلق به هم په تاسو حاکم مقرر شي چې ښه او خراب دواړه قسمه کارونه به کوي [٣] نو کوم سړي چې انکار وکړو ايعنی کوم سړی چې د خپل حاکم مخکې ژبې سره دې ويلو باندې قادر شو چې ستادا فعل خراب دی او هغه داسې اوويل هم نو هغه د نفاق او مداهنت سستي کولو نه پاك او خپلې اهمې ذمه واري نه بري شو [٤] او کوم سړی چې مکروه وگڼی ايعنی

---

(١) اخرجه مسلم فی كتاب الإمارة/باب وجوب الإنكار على الأمراء فيما يخالف الشرع. وترك قتالهم ما صلّوا. ونحو ذلك (رقم-٦٣ - (١٨٥٤) و ابو داود فی كتاب السّنّة/باب فی قتل الخوارج(رقم-٤٧٦٠) والترمذی فی كتاب الفتن عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/ (رقم-٢٢٦٥)

کوم سړی چې حاکم ته په مخ د هغه څه خراب فعل بیانولو باندې قادر نه وي لیکن په خپل زړه کې د هغه هغه فعل بد ګڼي] نو هغه سالم پاتې شو [یعنی د هغه فعل د خرابي او ګناه او د هغه وبال کې شریکیدو نه محفوظ شو] ⑤لیکن کوم سړی [چې د حاکم خراب افعال باندې] په زړه سره خوشحاله شو او خپله هم [په هغه کې مبتلاکیدو سره لکه چې د حاکم] اتباع پیروي یې وکړه [نو هغه ګناه او د هغه وبال کې شریك شو] ⑥صحابه و ﷺ عرض اوکړو چې یا رسول الله! [په داسې حالت کې چې حاکمان په خرابو کې مبتلا شي او د هغوی د بې لارې اثر په عوامو باندې پریوتل شروع شي نو] آیا مونږ د هغوی خلاف جنګ ونه کړو؟ ⑦حضور ﷺ وفرمایل نه ترڅوپورې چې هغوی مونځ کوي نه ترڅوپورې چې هغوی مونځ کوي یعنی کوم سړی چې په خپل زړه سره بد وګڼي او په زړه سره یې انکاروکړو (مسلم)

حل اللغات: ①تَعْرِفُونَ: معروف اوښه کارونه کوی. ②تُنْكِرُونَ: مُنکر او ناروا کارونه به کوی. ③فَمَنْ أَنْكَرَ: چاچه انکار اوکړو. ④فَقَدْ بَرِئَ: یقینا هغه بری شو، نجات ئې بیاموندو

تسهیلات:

قوله: تَعْرِفُونَ وَتُنْكِرُونَ:

په حدیث کښې د مختلفو جملو وضاحت: ① یعنی دَ دغه حکامو بعضې کارونه خو به ښه وی لیکن بعضې به

ښه نه وی نو تاسو دَ خو کارونو په پیژندګلو کولو سره داد ورکوئی او دَ خرابو ناخوښه کولو سره انکار کوئی

②فَمَنْ أَنْكَرَ: یعنی چه څوك دَهغې په نکیر او دَهغې قبائح په منع کولو باندې قادروی اوهغه منع کړو او په ژبه ئی ښه منع کړو

③ فَقَدْ بَرِئَ: یعنی دَ مداهنت او نفاق نه بچ شو

④ وَمَنْ كَرِهَ: یعنی چاچه په ژبه سره یا په لاس سره منع نه کړو لیکن هغه په زړه کښې ده ته بد اوونیل

⑤فَقَدْ سَلِمَ: یعنی دَهغوی سره دَ شرکت دَ نقصان نه بچ شو

⑥مَنْ رَضِيَ: یعنی دَ زړه نه ئی دَ هغه خراب افعال خوښ کړل.

⑦ وَتَابَعَ: یعنی په دغه ګناه کښې هغه سره شو

⑧أَفَلَا نُقَاتِلُهُمْ: یعنی هغوی سره بغیردَ وسلې نه جنګ اونه کړو چه دَهغوی ښه تردید اوکړې شی او جګړه اوکړی. دا یوه توجیه ده دویمه توجیه داده چه آیاهغوی قتل نه کړو.

⑨مَاصَلَّوْا: دلته خو صرف دَ مونځ كولوذكرهم راغلو اوباقي رواياتوكښې مونځ به قائم كوى الفاظ راغلي دى يعنى پخپله به هم كوى او په نورو باندې به ئې هم كوى.

⑩مَنْ كَرِهَ: داد بعضې راويانود طرف نه دَمجمل كلام تفسيردې اوس هغه مجمل كلمات كوم دى نو شيخ عبدالحق محدث دهلوى رحمه الله فرمائي چه دا تفسير "ومن انكر فقد سلم" دَپاره دى اوملاعلى قاري فرمائيلې دى چه دا تفسيرد سابقه دواړو جملودې يعنى فمن انكر اومن كره الخ.

[۳۶۷۲] حاكمانو ته دهغوى د حقوقو ادا كولو حكم

۳۶۷۲-[۱۳] ()[۱] ①وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②«إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ بَعْدِي أَثَرَةً وَأُمُورًا تُنْكِرُونَهَا ③قَالُوا: فَمَا تَأْمُرُنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ ④قَالَ: أَدُّوا إِلَيْهِمْ حَقَّهُمْ وَسَلُوا اللّٰهَ حَقَّكُمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①او عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه وايي چې رسول كريم ﷺ مونږ ته وفرمايل ②چې تاسو به زمانه وروسته ځان سره طرفداري او ډير داسې څيزونه وينئ چې تاسو به يې بد ګڼئ ③صحابه وُ رضي الله عنهم عرض اوكړو چې يارسول الله! بيا تاسو مونږ ته څه هدايت كوئ چې هغه وخت دې زمونږ رويه څه وي ④حضور ﷺ وفرمايل تاسو د هغه حاكمانو حق اداكوئ او خپل حق د الله جل جلاله نه غواړئ. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ①أَثَرَةً: ترجيح وركول.

تسهيلات:

د حديث د بعضې جملو وضاحت:

① اثرة: په امورحكومت كښې به خپل ځان سره ترجيحى سلوك مومې

② وأموراً تنكرونها: يعنى ډيرزيات افعال به اوګورې كوم چه به ته قطعاً خوښ نه كړې

③ حقهم: يعنى دهغوى اطاعت چه په تالازم دې داد هغوى حق دې دا پوره كړه.

"حقكم" يعنى خپل حق دَ الله تعالى نه غواړه چه هغه درته مال دَ غنيمت دركړى ستاحق به په دې صورت كښې تاته ملاؤ شى.

[۱]) اخرجه البخاري فى كتاب الفتن/باب قول النبيّ صلّى الله عليه وسلّم: «سترون بعدى أمورا تنكرونها» (رقم-۷۰۵۲) ومسلم فى كتاب الإمارة/باب الأمر بالوفاء ببيعة الخلفاء، الأول فالأول (رقم-۴۵ - (۱۸۴۳) والترمذى فى كتاب الفتن عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب فى الأثرة وما جاء فيه (رقم-۲۱۹۰) واحمد فى المسند: ۴۳۳/۱

[۳۶۷۲] ظالمانو حاکمانو ته د هغوی د حق ورکولو حکم

۳۶۷۳–[۱۳] (۱) [۱] «وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ قَالَ [۲]: سَأَلَ سَلَمَةُ بْنُ يَزِيدَ الْجُعْفِيُّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۳] فَقَالَ: يَا نَبِيَّ اللهِ أَرَأَيْتَ إِنْ قَامَتْ عَلَيْنَا أُمَرَاءُ يَسْأَلُونَا حَقَّهُمْ وَيَمْنَعُونَا حَقَّنَا فَمَا تَأْمُرُنَا؟ [۴] قَالَ: اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا [۵]، فَإِنَّمَا عَلَيْهِمْ مَا حُمِّلُوا [۶] وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او وائل بن حجر رضی الله عنه وايي [۲] چې حضرت سلمه ابن جعفي رضی الله عنه جناب رسول الله ﷺ نه سوال وکړ [۳] چې يا رسول الله! په دې باره کې زمونږ د پاره څه هدايت دی؟ که په مونږ باندې داسې حاکم مقرروي چې مونږ نه خو د خپل حق يعنی د اطاعت او فرمانبردارۍ مطالبه کوي ليکن مونږ ته زمونږ حق يعنی عدل او انصاف او د مال غنيمت حصه نه راکوي [۴] حضور ﷺ وفرمايل تاسو ظاهر کې د هغه خبره اورئ او په باطن کې د هغه فرمانبرداري کوی يعنی د هغه خبره او د هغه احکام اوريدل ظاهري اطاعت دی او د هغه په احکامو عمل کول باطني فرمانبرداري ده [۵] ياد لرئ په هغه، هغه څيز فرض دی چې د هغه په اوږو اچول شوی دی [يعنی راعايانه عدل او انصاف ورکول] [۶] او د هغوی حقوق اداء کول او په تاسو هغه څيز فرض دی چې ستاسو په اوږو اچول شوی دی [يعنی د خپل حاکم او سردار اطاعت او فرمانبرداري کول او که د حاکمانو د طرف نه ستاسو حق تلفي وي يا څه مصيبت پيښ شي نو په هغه باندې صبر کول] (مسلم)

حل اللغات: ① مَا حُمِّلُوا: څه چه په هغه بوج ور اچولې شوې دې (په ماتحتو باندې عدل او انصاف کول. ② مَا حُمِّلْتُمْ: څه چه په تاسو بوج در اچولې شوې دې (اطاعت د امير).

تسهيلات:

قوله: فَإِنَّمَا عَلَيْهِمْ مَا حُمِّلُوا وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ:

دمذکوره جملې مطلب: يعنی په حکمرانو باندې هم هغه لازم دی د څه چې هغوی مکلف دی که چرته هغوی په هغې حقوق الناس کښې کوتاهی کوی نو هغوی به ګناهګار وی دغه شان په رعيت باندې په جائزو کارونو کښې د هغوی تابعداري واجب ده که رعيت په هغې کښې کوتاهی کوی نو دالله به نيز به هغوی ماخوذاو ګناهګار وی

بهترين اصول: که چرته په دنياوی تاريخ باندې نظرو اچولې شی نه ټولې جګړې ددې څخه شروع کيږی چې يو کس د بل څخه خپل حق غواړی خو په ده باندې چې کوم حقوق د نورو خلقو وی هغه نه ورکوی که چرته هرسړې هغه حقوق ادا کوی کوم چې په ده باندې د نورو خلقو دی نو نور خلق به هم ده ته دده حقوق ورکوی او په دې طريقه به ټوله معاشره د مينې

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب الإمارة /باب فی طاعة الأمراء وإن منعوا الحقوق (رقم-۴۹ - (۱۸۴۶)) والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم /باب ما جاء ستكون فتن كقطع اللّيل المظلم (رقم-۲۱۹۹)

محبت څخه ډکه شي نبي عليه السلام په دې دوو جملو کښې د ټولې دنيا د امن ضمانت ورکړې دې که حاکم د رعيت حق ورکړو رعيت به حاکم ته د هغه حقوق ورکوی که ښځې خاوند ته خپل حق ورکړو نو خاوند به ښځې ته د هغې حق ورکوی دغه شان قياس په ټولوحقوق العباد باندې اوکړه

[۳۶۷۴] د امام د تابعدارۍ څخه د وتلو وعيد

۳۶۷۴–[۱۴] (۱) [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [۲] «مَنْ خَلَعَ يَدًا مِنْ طَاعَةٍ لَقِيَ اللهَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا حُجَّةَ لَهُ، [۳] وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً.» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او عبد الله ابن عمر رضی الله عنه وايي چه ما د رسول الله ﷺ نه دا واوريدل [۲] چه کوم سړی د امام يعنی د اسلامي مملکت سربراه د اطاعت نه لاس را باسي هغه به د قيامت په ورځ بارګاه رب العزت کې داسې حاضريږي چه د هغه سره به د ايمان د ليل نه وي [۳] او کوم سړی چه په دې حال کې مړشي چه د هغه ګردن د امام د بيعت يعنی امام برحق د اطاعت نه آزاد وي يعنی هغه د امام برحق نه باغي کيدو سره مړ شي نو د هغه مرګ به د جاهليت د مرګ برابر وي (مسلم)

حل اللغات: ① مَنْ خَلَعَ يَدًا: چاچه لاس وويستلو، دست برداره شو.

تسهيلات:

قوله: خَلَعَ يَدًا مِنْ طَاعَةٍ. أي طاعة كانت قليلة أو كثيرة: امام طيبی رحمه الله فرمايی چې وضع يد. دا د چا په لاس د بيعت کولو او وعدې کولو نه کنايه دی او داشان خلع اليد او نزع يد دا نقض عهد نه کنايه دی. أي خلع نفسه من بيعة الإمام. مطلب دا شو چې چا وعده مات کړه او ښپل نفس ئې د امام د بيعت نه اوويستلو

قوله: لَا حُجَّةَ لَهُ دهغه به هيڅ عذر نه قبليږی (مرقاة ج/۴ ص/۲۵۹)

[۳۶۷۵] پيغمبران او د بنی اسرائيلو سياست

۳۶۷۵–[۱۵] (۲) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ [۲]: «كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ [۳] كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي، [۴] وَسَيَكُونُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُونَ [۵] قَالُوا: فَمَا تَأْمُرُنَا؟ [۶] قَالَ: فُوا بِبَيْعَةِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ، [۷] أَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ فَإِنَّ اللهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او ابوهريره رضی الله عنه د نبي کريم ﷺ نه نقل کوي چه حضور ﷺ وفرمايل [۲] بني

[۱]) اخرجه مسلم فی كتاب الإمارة/باب الأمر بلزوم الجماعة عند ظهور الفتن وتحذير الدعاة إلى الكفر (رقم-۵۸ - (۱۸۵۱) واحمد فی المسند: ۲/۱۵۴

[۲]) اخرجه البخاری فی كتاب أحاديث الأنبياء/باب ما ذكر عن بنی إسرائيل (رقم -۳۴۵۵) ومسلم فی كتاب الإمارة/باب الأمر بالوفاء ببيعة الخلفاء. الأول فالأول (رقم-۴۴ - (۱۸۴۲) واحمد فی المسند: ۲/۲۹۷

اسرائيلو ته به انبياؤ ادب او تهذيب ښودلي [يعنى دهغوي مشري به يي كوله] ۳ او هركله چه يو نبي به وفات شو نو د هغه جانشين به دويم نبي شو دغه شان په يو بل پسي انبياء عليهم السلام د خپل قوم تربيت كوى ليكن زما نه وروسته هيڅ نبي راتلونكى نه دى ۴ البته ځما نه وروسته به امراء او خلفاء وي او ډير به وي چه د هغوى په ذمه به د امت رهنمايي وي ۵ صحابه عرض اوكړو هركله چه په يو وخت كښې امراء د ملك او امت د سيادت دعويدار وي او په خپل مينځ كې د يوبل مخالفت كوي نو هغه وخت د پاره تا شو مونږ ته څه هدايت فرمايي؟ ۶ حضور ﷺ وفرمايل اول د امير بيعت پوره كى چه ځومره مقدم وي يعنى هركله چه په يو وخت مثلًا دوه اميران د خپل سيادت دعوى وكړي نو د هغه امير بيعت او طاعت كوئ كوم چه مخكې مقرر شوى وي او د دويم مطلق پيروي مه كوئ ۷ او د هغه حقوق اداء كوئ او الله ﷻ هغه ته د خپل مخلوق د حفاظت او حكومت ذمه واري سپارلي ده د هغه په باره كې ځني هغه په خپله پوښتنه كوي

حل اللغات: ① تَسُوسُهُمُ: دَ باب نصر نه تسوس دَ سياست نه دې، سياست كول. حكمرانى كول. ② خُلَفَاءُ: أمراء، حكمرانان. ③ فَيَكْثُرُونَ: ډير زيات به وى، ④ فُوا: پوره كره. ⑤ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ: اول خليفه د اتباع حقدار دې، بيا وروسته بل ⑥ اسْتَرْعَاهُمْ: چه راعى ئې جوړ كړې دې. دحكومت ذمه وارى ئې ورته سپارلې ده.

تسهيلات:

قوله: تَسُوسُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ:

د سياست تعريف: مراد حكومت او ولايت دې په كوم كښې چه دَ امورحكومت خيال ساتل دى ملاعلى قارى رحمه الله دَ سياست تعريف داسې كړې دې "والسياسة القيام على الشئ بما يصلحه" يعنى دَ اصلاح په غرض يوشئ سنبالول اودَهغې خيال ساتل دَدې جملې نه معلومه شوه چه دَ دينى سياست دَ تولو نه زيات حقدار په هغه زمانه كښې انبياء كرام عليهم السلام وو اونن صبا زمونږ په زمانه كښې علماء كرام دى ځكه چه دَ يوځيزدينى اودنياوى اصلاح دَ علماؤ نه بغيرځوك كولې شى اوكوم سياست چه په دروغو اونفاق باندې قائم وى دَ هغې ماهرين هم دنيادار خلق دى

قوله: وَإِنَّهُ لَانَبِيَّ بَعْدِي:

د عيسى عليه السلام د راتګ حيثيت: دا جمله په واضحه توګه باندې دلالت كوى چه دَ رسول الله ﷺ نه پس بل نبى نشته دې

① باقى چه كله حضرت عيسىٰ عليه السلام راځى نوهغه به دَ يوامتى په حيثيت سره راځى اګرچه هغه به نبى وى ليكن حيثيت به ئې دَ يوامتى وى.

④ نبی کریم د روستو نبی نفی فرمائیلې ده او حضرت عیسی علیه السلام خو د نبی کریم نه مخکښې نبی جوړ شوي وو

د حدیث د بعضې جملو وضاحت: ① فَيَكْثُرُونَ: ملاعلی قاري رحمه الله فرمائی په دې لفظ کښې په فاء باندې زبر دې او ثاء باندې پیش دې د کثرت د وجې نه چه کله غلبه کیږی نو د دغه غلبې د پاره دا لفظ استعمالیږی مراد کثرت دې فرمائی چه په ثاء باندې زیر لوستل غلط دي

② "فَمَا تَأْمُرُنَا؟" دا د شرط محذوف جواب دې "اي اذا كثر الخلفاء بعدو وقع التنازع فيما بينهم فما تامرنا" ③ فُوا: دا د امر صیغه ده وفی یفی ضرب یضرب نه د وفاداری په معنی کښې دې یعنی پوره کړه

④ أَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ: دا د "فوابيعة الاول فالاول" نه بدل دې یعنی د وفاداری مطلب دا دې چه د هغه حقوق کوم چه د اطاعت او خدمت متعلق دی هغه حقوق هغه ته پوره ورکړه

⑤ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ: یعنی په کوم څیز چه الله تعالی هغه راعی ساتندونکي او والی جوړ کړې دي الله تعالی به د هغې متعلق د هغه نه تپوس کوی.

قوله: الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ:

دالاول فالاول مطلب: د دې مطلب دا دې چه کوم اول خلیفه جوړ شوي دې او تا د هغه په لاس باندې بیعت کړې دې نو اوس د هغه په موجودګئی کښې هم د هغه تابعداری کوه د بل چامه کوه

[۳۶۷۶] د اسلامی امارت باغی باره کښې د قتل حکم

٣٦٧٦—[١٦] (١) ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «إِذَا بُويِعَ لِخَلِيفَتَيْنِ فَاقْتُلُوا الْآخِرَ مِنْهُمَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابو سعید رضی الله عنه راوي دی ② چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل هرکله چې د دوو خلیفه ګانو بیعت وشي نو په هغوی کې چې کوم وروسته وي هغه قتل کئ (مسلم)

حل اللغات: ① بُويِعَ: بیعت اوکړې شي

تسهیلات: قوله: فَاقْتُلُوا الْآخِرَ مِنْهُمَا

د اسلامی حکومت خلاف بغاوت کونکی سزا: مطلب دا دې چه کله یو خلیفه موجود وی او د مسلمانانو امور په صحیح طریقه باندې د اسلام په رڼاکښې روان وی او بل سړې

(١) اخرجه مسلم في كتاب الإمارة/باب إذا بويع لخليفتين (رقم-٦١ - (١٨٥٣)

راپاسي او دكرسئي په خواهش كښې دَمسلمانانو دا اجتماعي صورت كښې ګډوډ كول غواړي او دَ خلافت اعلان كولو سره دَ هغه بيعت اخستل شروع كړي نو په تاسو باندې لازم ده چه هغه قتل كړئ ځكه چه هغه دَ الله تعالى دَحكم او اسلامي مملكت باغى دې دَهغوى سزا هم دغه ده كه چرې هغه دَبغاوت نه منع كيږي نه نو هغه دې قتل كړې شي هر څوك چه وي دَدې نه دَوړاندې حديث مفهوم هم دغه شان دې اودَدې نه پس راتلونكي حديث مطلب هم دغه شان دې. په دې حديث سره جمهوريت كوم چه په حقيقت كښې دَ يهوديت او عيسائيت لعنت دې جرړه كټ شوه. بل دَدې نه دامعلومه شوه چه دَ مسلمانانو پوره دنيا كښې هم يو خليفه كيدل پكار دي اوكه چرې انتظام كول مشكل وي اوعلاقه دَ يوبل نه ډيره لرې وي نو بيا ګنجائش شته ماډَ اسلامي خلافت په نوم كتاب كښې دَدې تفصيل ليكلې دې

[۳٦۷۷]په امت كښې د اختلاف راوستونكي كس سزا

۳٦۷۷-[۱۷] (۱) وَعَنْ عَرْفَجَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ۲«إِنَّهُ سَيَكُونُ هَنَاتٌ وَهَنَاتٌ ۳فَمَنْ أَرَادَ أَنْ يُفَرِّقَ أَمْرَ هَذِهِ الْأُمَّةِ وَهِيَ جَمِيعٌ فَاضْرِبُوهُ بِالسَّيْفِ كَائِنًا مَنْ كَانَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت عرفجه رضي الله عنه وايي چې ما د رسول كريم ﷺ نه واوريدل ۲ ډير نزدې تخريب او فساد به ظاهر شي ۳ نو كوم سړی چې په دې امت كې تفريق پيدا كول غواړي په داسې حال كې چې امت په خپل مينځ كې متحد او متفق وي نو هغه سړي توري سره ختم كړي برابره خبره ده كه هغه هرڅوك وي (مسلم)

حل اللغات: ①هَنَاتٌ وَهَنَاتٌ: وار په وار. پرله پسې. ②جَمِيعٌ: راجمع . متفق. ③كَائِنًا مَنْ كَانَ: كه هرڅوک وي.

تسهيلات:

دحديث د بعضې جملو وضاحت: ① انه: ضمير شان دَپاره دې

② **هنات وهنات**: په هاء باندې زبر دې او نون باندې هم زبر دې وار په وار او يوشان شراوفسادته وائي يعنى ډيرزر به دَ حكومت دَ حاصلولو دَپاره يوشان فتنې ښكاره كيږي.

③ **وهي جميع**: يعنى حال دادې چه امت متحد او متفق دې اودا سړې په امر اتفاقى كښې ګړبړ پيدا كوي

قوله: كَائِنًا مَنْ كَانَ:

د مذكوره جملې مطلب: يعنى كه دَ عزت مندونه وي ياصاحب تعليم وي ياد چانيزدې

(۱) اخرجه مسلم فى كتاب الإمارة/باب حكم من فرّق أمر المسلمين وهو مجتمع (رقم-۵۹ - (۱۸۵۲) و ابو داود فى كتاب السنّة/باب فى قتل الخوارج(رقم-٤۷٦۲) واحمد فى المسند: ٤/۳٤۱

خپلوان وی هغه په توره داسې اووهئی چه ټکړې ټکړې شی لکه څنګه چه هغه امت ذره ذره کول غوښتل. ځکه چه دَ امت اتحاد دَ ځان له کس په حیثیت او شخصیت باندې مقدم دی

[۲۶۷۸] په مسلمانانو کښې د بې اتفاقۍ پیدا کونکی سزا

۳۶۷۸—[۱۸] (۱) [۱] وَعَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [۲] «مَنْ أَتَاكُمْ وَأَمْرُكُمْ جَمِيعٌ عَلَى رَجُلٍ وَاحِدٍ [۳] يُرِيدُ أَنْ يَشُقَّ عَصَاكُمْ أَوْ يُفَرِّقَ جَمَاعَتَكُمْ [۴] فَاقْتُلُوهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت عرفجه ﷺ وایي چه ما د رسول کریم ﷺ نه واوریدل [۲] کوم سړی چه د امام وخت خلاف بغاوت کولو سره او د خپل خلافت او امارت اعلان کولو سره تاسو ته راشي په داسې حال کې چه تا سو ټول د مخکې نه په یو سړي متفق او یو خلیفه باندې متحد یي [۳] او هغه سړی ستا شو امسا شلول او اجتماعي تنظیم کې تفرقه پیدا کول غواړي [۴] نو تا شو هغه قتل کی (مسلم)

حل اللغات: ① وَأَمْرُكُمْ جَمِيعٌ: تاسو ټول متفق وئ ② يَشُقَّ: شلوی. څیری کوی ③ عَصَا: همسا

تسهیلات: قوله: يَشُقَّ عَصَاكُمْ:

د مذکوره جملې مطلب: عصاچوکې نه وائی یشق شلولو څیرلوته وائی مراد دَ مسلمانانو ډله پریخودل اوتلل دی. په چوکه سره د مسلمانانو اجتماعی حیثیت طرف ته اشاره ده او په څیرلو سره دَ دې ګډوډ کیدلو اوتفریق او اختلاف طرف ته اشاره ده

قوله: أَوْ يُفَرِّقَ جَمَاعَتَكُمْ

د دواړو جملو د قائل تعین: دَ ظاهری عبارت نه معلومیږی چه راوی ته شك پیدا شوې دې چه نبی کریم کومه یوه جمله ارشاد فرمائیلې وه مګر راجح قول دادې چه دا دواړه جملې دَ نبی کریم دی. رومبې جمله کښې "یشق عصاکم" تعلق دَ مسلمانانو دنیاوی امورو سره دې یعنی کوم سړې چه دَ مسلمانانو سیاسی طاقت په خارجه اوداخله پالیسئ کښې مداخلت کوی. او دَ دویمې جملې تعلق دَ مسلمانانو دینی احکامو اومذهبی معاملاتو سره دې چه داسړې په دې کښې فتنه پیدا کوی

[۲۶۷۹] مقرر شوی خلیفه څخه د مخالفت کونکی د قتلولو حکم

۳۶۷۹—[۱۹] (۲) [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «مَنْ بَايَعَ إِمَامًا

---

۱) اخرجه مسلم فی کتاب الإمارة/باب حکم من فرّق أمر المسلمین وهو مجتمع (رقم-۶۰ - (۱۸۵۲))

۲) اخرجه مسلم فی کتاب الإمارة/باب الأمر بالوفاء ببیعة الخلفاء. الأول فالأول (رقم-۴۶ - (۱۸۴۴)) والنسائی فی کتاب البیعة/باب ذکر ما علی من بایع الإمام وأعطاه صفقة یده وثمرة قلبه (رقم-۴۱۹۱) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب ما یکون من الفتن (رقم-۳۹۵۶) واحمد فی المسند:۲/۱۶۱

[۴] فَأَعْطَاهُ صَفْقَةَ يَدِهِ وَثَمَرَةَ قَلْبِهِ فَلْيُطِعْهُ إِنِ اسْتَطَاعَ [۴] فَإِنْ جَاءَ آخَرُ يُنَازِعُهُ [۵] فَاضْرِبُوا عُنُقَ الْآخَرِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله ابن عمرو رضی الله عنهما راوي دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] کوم سړی چه د امام نه بیعت اوکړو [۳] په دي طور چه هغه ته يي د خپل لاس صفقه او د خپل زړه ثمره ورکړله یعنی په ظاهري طور سره د هغه په لاس کي خپل لاس ورکولو سره د اطاعت او فرمانبرداري عهد يي اوکړو او د زړه خلوص سره يي هم د هغه حاکمیت او قیادت قبول کی نو هغه ته پکار دی چه هغه د خپله وسه پوري د هغه امام اطاعت او فرمانبرداري کوي [۴] او که بیا يو دويم سړی د خپل امامت اعلان وکړي او د خپل امام خلاف بغاوت وکړي [۵] نو د هغه څټ پريکړئ. (مسلم)

حل اللغات: ① صَفْقَةَ الْيَدِ: لاس په لاس باندي كيخودل. ② ثَمَرَةَ الْقَلْبِ: د زړه ثمره. اخلاص.

تسهیلات:

د حدیث د بعضې جملو وضاحت:

① **صفقة يده:** صفقه لاس په لاس باندي وهل اوكيخودلوته وائی اوده قسم اوبيعت په وخت لاس په لاس باندي وركولوسره معاقده اومعاهده كولې شي مراد لاس په لاس كخودل دی

② **وثمرة قلبه:** د زړه ثمره نه مراد اخلاص دې بعضې ليكلی دی چه صفقه يدنه مراد مال اوثمره قلب نه مراد خپل اهل وعيال سره ملاويدو سره بيعت كول دی

[۳۶۸۰] د امارت د طلب كولو ممانعت

۳۶۸۰ ــ [۲۰] (^۱) [۱] وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «لَا تَسْأَلِ الْإِمَارَةَ [۳] فَإِنَّكَ إِنْ أُعْطِيتَهَا عَنْ مَسْأَلَةٍ وُكِلْتَ إِلَيْهَا [۴] وَإِنْ أُعْطِيتَهَا مِنْ غَيْرِ مَسْأَلَةٍ أُعِنْتَ عَلَيْهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او عبد الرحمن ابن سمره وايي چه رسول كريم صلی الله علیه وسلم ماته وفرمايل [۲] حكومت او سيادت مه طلب كوه [۳] ځكه كه ستا خواهش او طلب باندي تاته حكومت او سيادت دركول شي نو ته به هغه ته حواله شي چه ته د هغه منصب ذمه واري انجام كړي په داسي حال كي د منصب او امارت ذمه واري دومره مشكل او مشقت طلب وي چه بغير مدد الهي هيڅ سړی هغه انجام كولي نشي [۴] او ستا د خواهش او طلب نه بغير كه تاته حكومت او سيادت د الله د طرف نه دركړی شي نو ستا مدد به كيږي يعني د حق تعالی د

---

[۱]) اخرجه البخاری فی كتاب الأحكام/باب من لم يسأل الإمارة أعانه الله عليها(رقم-۷۱۴۶) ومسلم فی كتاب الإمارة/باب النّهی عن طلب الإمارة والحرص عليها (رقم-۱۳ - (۱۶۵۲) و ابو داود فی كتاب الخراج والإمارة والفیء/باب ما جاء فی طلب الإمارة (رقم-۲۹۲۹) والترمذی فی كتاب النّذور والأيمان عن رسول الله صلّی الله عليه وسلّم/باب ما جاء فيمن حلف على يمين فرأى غيرها خيرا منها (رقم-۱۵۲۹) والنسائی فی كتاب آداب القضاة/باب النّهی عن مسألة الإمارة (رقم-۵۳۸٤) واحمد فی المسند: ۶۲/۵

طرف نه به دا توفيق در كول شي چه ته عدل او انصاف او نظم او ضبط سره د هغه ذمه واري پوره کړی شي

حل اللغات: ① الْإِمَارَةَ: حکمرانی. ② وُكِلْتَ: ته به حواله شي (په مشقت کې به اخته شې) ③ أُعِنْتَ: ستا نصرت او مدد به اوکړې شي

تسهيلات: قوله: لَاتَسْأَلِ الْإِمَارَةَ:

په خلافت او جمهوریت کښې بنیادی فرق: په اسلامی خلافت اود جمهوریت په مصیبت کښې هم دغه بنیادی فرق دې چه دَ اسلامی خلافت دَعهدو حصول دَخدمت ذریعه وی اوپه جمهوریت کښې دَ دغه عهدو حصول دَ دنیا دَ گټلو اسباب او ذریعة وی اوس چه کوم کار دَ دین دَ ترویج او اشاعت دَپاره وی په هغې کښې به الله تعالی امداد کوی اوچه کله په خپل ځان باندې اعتماد کولوسره داعهدې دَ دنیا دَ گټې ذرائع جوړیږی نو دَالله تعالی امداد به شامل حال نه وی نو دکامیابئ په ځائ به دَناکامئ سره مخ کیږی

[۳۶۸۱] دنیاوی امارت او د آخرت ندامت

۳۶۸۱ — [۲۱] () ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ②: «إِنَّكُمْ سَتَحْرِصُونَ عَلَى الْإِمَارَةِ ③ وَسَتَكُونُ نَدَامَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ ④ فَنِعْمَ الْمُرْضِعَةُ وَبِئْسَتِ الْفَاطِمَةُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او ابوهریره رضی الله عنه د نبي کریم ﷺ نه نقل کوي چه رسول کریم ﷺ وفرمایل ② زه وینم چه تا شو به په راتلونکي زمانه کي د حکومت او سیادت حرص کي مبتلا شی ③ حالانکه هغه حکومت او سیادت چه حرص او طلب سره حاصل شي د قیامت په ورځ به د پښیمانی موجب وي ④ یاد ساته حکومت او سیادت ډیربنه پئ ورکونکی هم دی او ډیربد پئ پریکونکی هم دی . (بخاري)

حل اللغات: ① سَتَحْرِصُونَ: حرص کونکی به شئ. ② نَدَامَةً: پښیمانی. ③ الْمُرْضِعَةُ: پئ ورکونکي. (مهربانی نې هم ډیره ده) ④ الْفَاطِمَةُ: پئ پریکونکی (نامهربانه مور هم ده)

تسهيلات: قوله: فَنِعْمَ الْمُرْضِعَةُ:

د نعم او بئس د تانیث او تذکیر حکم: علامه مظهر رحمه الله فرمائی چه دَ "نعم او بئس" فاعل کله مؤنث وی نودا دواړه صیغې مؤنث هم راوړلې شی اومذکرهم راوړلې شی دلته "نعم" سره تاء تانیث نه ده او "بئست" سره لګیدلې ده دادې طرف ته اشاره کړې شوې ده چه دا دوه لغت دی اودواړه جائز دی. نو په یوه صیغه کښې یو لغت راوړلې شو او دویمه صیغه کښې دویم لغت راوړلې شو.

---

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب الأحکام/باب ما یکره من الحرص علی الإمارة (رقم-۷۱٤۸) والنسائی فی کتاب آداب القضاة/باب النهی عن مسألة الإمارة (رقم-۵۳۸۵)

قوله: وَبِئْسَتِ الْفَاطِمَةُ:

د حکومت تشبیه: یعنی حکومت او قیادت چه کله ملاویږی او سړې دَ اقتدار خاوند شی نودا قیادت دَ مهربانه مور په شان په غیږ کښې اخستلوسره دَ بدن پیئی ورکوی اودا پالی لیکن چه کله هم دغه قیادت اوحکومت خفه شی نودا دَ نامهربانه مور په شان دَ بچی په خله کښې مرچکې واچوی او پیئونه ئی اړوی نوعقل مندسړی له پکاردی چه دَداسې ناپائیداره څیز په طلب کښې خپل وخت ضائع نه کړی دَ حکومت دَ تلو راتلو دَ دریو مرحلو ذکر وړاندې راروان دې.

[۳۶۸۲] په آخرت کښې د حاکمانو انجام

۳۶۸۲—[۲۲] ()[۱]«وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ[۲]: قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ: أَلَا تَسْتَعْمِلُنِي؟[۳]قَالَ: فَضَرَبَ بِيَدِهِ عَلَى مَنْكِبِي. [۴]ثُمَّ قَالَ: يَا أَبَا ذَرٍّ إِنَّكَ ضَعِيفٌ وَإِنَّهَا أَمَانَةٌ[۵]: وَإِنَّهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ خِزْيٌ وَنَدَامَةٌ: [۶]إِلَّا مَنْ أَخَذَهَا بِحَقِّهَا وَأَدَّى الَّذِي عَلَيْهِ فِيهَا. [۷]وَفِي رِوَايَةٍ؛ قَالَ لَهُ: يَا أَبَا ذَرٍّ؛ إِنِّي أَرَاكَ ضَعِيفًا ؛ [۸]وَإِنِّي أُحِبُّ لَكَ مَا أُحِبُّ لِنَفْسِي: [۹]لَا تَأَمَّرَنَّ عَلَى اثْنَيْنِ؛ [۱۰]وَلَا تَوَلَّيَنَّ مَالَ يَتِيمٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱]او حضرت ابوذر ﷺ وايي [۲]چه يوه ورځ ما عرض اوکړو يارسول الله تا شو ما د يوځاى عامل حاكم ولي نه جوړوى [۳]د ابوذر ﷺ بيان دى څما په داخبره آوريدو سره حضور ﷺ دمهرباني د مخه څما په اوږه خپل لاس مبارك ووهئ [۴]بيايي وفرمايل اى ابوذر ﷺ: ته ناتوانه يي او دا سرداري د الله د طرف نه يو آمانت دى چه په هغه سره: بندګانو حقوق متعلق دي او په دي كي خيانت كول نه دي پكار [۵]او تاته دي معلومه وي چه سرداري به د قيامت په ورځ د رسوايي او پښيماني باعث وي [۶]خو داچي كوم سړى دا سرداري په حق سره حاصله كړه او هغه يي اداء كړه يعني كوم سړى چه د مستحق كيدو په وجه سردار جوړ شو او بيا هغه خپله زمانه حكومت كي د عدل او انصاف نوم روښانه كړو او رعايا سره يي د احسان او خير خواهي سلوك وكى نو هغه به د هغه د پاره د رسوايي او وبال باعث نه وي. [۷]او په يو روايت كي داسي دي چه رسول كريم ﷺ وفرمايل اى ابوذر، زه تا نا توان وينم چه ته به د سرداري بوج برداشت نه كړي [۸]او زه ستا د پاره هغه څيز خوښوم كوم چه خپل نفس د پاره خوښوم [۹]ته د دوو سړو هم سردار او حاكم مه جوړيږه [۱۰]او د يو يتيم هم د مال نګراني مه قبلوه (مسلم)

حل اللغات: ①: أَلَا تَسْتَعْمِلُنِي: آيا تاسو ما عامل نه جوړوئ؟ ②مَنْكِبِي: اوږه. ③خِزْيٌ: شرمندګى، پښيمانتيا ④لَاتَأَمَّرَنَّ: امير مه جوړيږه. ⑤وَلَاتَوَلَّيَنَّ: نګران مه جوړيږه.

[1]) اخرجه مسلم فى كتاب الإمارة/باب كراهة الإمارة بغير ضرورة (رقم-۱۶ - (۱۸۲۵) واحمد فى المسند:۱۷۳/۵

تسهیلات: قوله: وَإِنَّهَا أَمَانَةٌ:

د قومی عهدې امانت کیدل: یعنی کرسئ اواقتدار قومی امانت دې که چرې په دې کښې نقصان اوکړو نوقومی خیانت به وی.

قوله: خِزْيٌ وَنَدَامَةٌ:

په دنیا او آخرت کښې د خزی او ندامت وجه: یعنی دَ قیامت په ورځ به حکومت دَ رسوائیی او خیپمانتیا سبب جوړیږی. ددغه خیپمانتیا ترتیب به داشان وی کله چه سړې په اقتدارکښې راځی نوخلق پرې قسم قسم الزامات لګوی چه په دهوکه اوفریب راغلې دې په رشوت اودَ غلا په دروازه راغلې دې بیا چه کله یوخوورځې دغه سړې حکومت کوی اودَ قسماقسم ذمه وارو پوره کولونه عاجز راشی نوبیا خیپمانه شی دا دَ حکومت مینځمې دور دې چه افسوس زه په دغه زمانه کښې نه راتلم اوکله چه ترې حکومت په زور واخستې شی نوبیا یا په دنیا کښې رسوا شی یا په آخرت کښې رسواکیږی نو په اول کښې ملامتیا ده مینځ کښې ندامت دې او په آخره کښې رسوائی ده په راتلونکی حدیث نمبر (۳۷۳) کښې دا ترتیب راروان دې.

[۳۶۸۲] دَ منصب طلبګارته منصب نه ورکول

۳۶۸۲—[۲۳] ( )[۱] ‹‹وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ[۲]: دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَا وَرَجُلَانِ مِنْ بَنِي عَمِّي، [۳]فَقَالَ أَحَدُهُمَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ! أَمِّرْنَا عَلَى بَعْضِ مَا وَلَّاكَ اللَّهُ، [۴]وَقَالَ الْآخَرُ مِثْلَ ذَلِكَ، [۵]فَقَالَ: إِنَّا وَاللَّهِ لَا نُوَلِّي عَلَى هَذَا الْعَمَلِ أَحَدًا سَأَلَهُ وَلَا أَحَدًا حَرَصَ عَلَيْهِ. [۵]وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: لَا نَسْتَعْمِلُ عَلَى عَمَلِنَا مَنْ أَرَادَهُ.›› مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱]او ابو موسی رضی الله عنه وایي [۲]یوه ورځ زه او څما د تره د اولاد نه دوه سړي د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر شو [۳]په هغوی کي یوه عرض اوکړو چه یارسول الله! الله ﷻ تا شو د تمامو مسلمانانو او د روی زمین حاکم جوړ کړي يئ ماديو ځای یا د څه کار حاکم او والی مقرر کی [۴]دویم هم د دغه شان خواهش اظهار وکړو حضور ﷺ ورته وفرمایل قسم په خدای مونږ د دین او شریعت په دي امورو کي هیڅ داسي سړي والی او ذمه وار نه جوړ وو چه زمونږ نه د ولایت او ذمه واري طالب وي یا د دي حرص لري [۵]او په یوبل روایت کي دا الفاظ دي چه رسول کریم ﷺ وفرمایل مونږ څپل کار باندي هغه سړی عامل نه مقررو چه د دي اراده یعنی د عامل کیدو خواهش لري (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: ① وَلَّاكَ: چه والی. حکمران ئې جوړ کړي دي تا لره. ② حَرَصَ: حرص. لالچ.

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الأحکام/باب ما یکره من الحرص علی الإمارة (رقم-۷۱۴۹) ومسلم فی کتاب الإمارة/باب النهی عن طلب الإمارة والحرص علیها (رقم-۱۴ - (۱۷۳۳) و ابو داود فی کتاب الأقضیة/باب فی طلب القضاء والتسرع الیه (رقم-۳۵۷۹) واحمد فی المسند: ۴/۴۰۹

تسهيلات:

قوله لَانُوَلِّي عَلَى هَذَا الْعَمَلِ أَحَدًا سَأَلَهُ:

د عهدې د غوښتلو ممانعت: کوم سړي چه د يو منصب طلبګار وی هغه په حقيقت کښې په حب جاه کښې راګيرږدي چه دا د حب دنيا يوه اهم شعبه ده په دې وجه نبی کريم د همېشه دپاره داسې سړي د څه منصب اهل نه دې ګنړلې اونه ئې هغه ته څه منصب ورکړې اوکوم سړي چه د منصب طالب نه وی اوبيا په هغې باندې فائز شی نود هغه په زړه کښې دخدمت جذبه غوردنګونه وهی د کوم انجام چه ښه وی په افسوس سره وئيلی کيږی چه نن صباخو د منصبونو په حاصلولو باندې جګړې کيږی او رشوتونه ورکولې کيږی بلکه د دين تول منصبونه د دنيا د حصول ذرائع جوړې شوی دی الاماشاء الله

[٣٦٨٤] امارت نه خوښونکې حاکمان

٣٦٨٤-[٢٣] (١) ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ «تَجِدُونَ مِنْ خَيْرِ النَّاسِ أَشَدَّهُمْ كَرَاهِيَةً لِهَذَا الْأَمْرِ ٣ حَتَّى يَقَعَ فِيهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ٢ په خلقو کې به بهتر تاسو هغه سړی پيدا کړو چې د دې څيز يعنی حکومت او سيادت د ناخوښودلو په معامله کې د ټولو نه زيات سخت وي ٣ تردې چې هغه په دې کې مبتلا شي (بخاري ، مسلم)

حل اللغات ① يَقَعَ: واقع به شى. مبتلا به شى

تسهيلات:

قوله حَتَّى يَقَعَ فِيهِ:

د حديث دوه مفهومه: ① علامه طيبی رحمه الله فرمائی کوم سړي د سيادت قيادت اومناصب نه متنفر وی تاسو به هم هغه بهترين سړي مومئی ليکن که چرې هم دغه سړې په طلب د مناصب کښې او په حب جاه کښې راګيرشو نوتاسو به هغه بدترين سړې اومومئی

② يو سړي د څه منصب سيادت قيادت او حکومت نه سخت متنفروی تاسو به هم هغه يو بهترين سړي اومومې تردې چه که چرې هغه دص دغه مناصبو نفرت باندې قائم پاتې نه شو او په قيادت اوسيادت کښې راګير شو نودې سړی انجام به هم هغه وی چه په آخره کښې به خپيمانه وی اود ارمان اوافسوس لاسونه به مروړی

[١]) اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب علامات النبوّة في الإسلام (رقم-٣٥٨٨) ومسلم في كتاب فضائل الصّحابة رضي الله تعالى عنهم/باب خيار النّاس (رقم-١٩٩ - (٢٥٢٦) واحمد في المسند: ٤١٨/٢

[٢٦٨٥] د هر چا څخه د ماتحتو تپوس کيدل

٣٦٨٥ــ[٢٥] (١) [١] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ـ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ: [٢] «أَلَا كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، [٣] فَالْإِمَامُ الَّذِي عَلَى النَّاسِ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، [۴] وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ، وَهُوَ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، [٥] وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ عَلَى بَيْتِ زَوْجِهَا وَوَلَدِهِ وَهِيَ مَسْئُوْلَةٌ عَنْهُمْ،

ترجمه: [١] او عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [٢] خبردار په تاسو کې هرسړی د رعيت نګهبان (محافظ) دی او د قيامت په ورځ به په تاسو کې د هرسړی نه د هغه د رعيت په باره کې پوښتنه کيږي [٣] نو امام يعنی سربراه مملکت او حکومت چې د کومو خلقو محافظ دی هغه به د خپل رعيت په باره کې جواب ورکوي [۴] کوم سړی چې دخپل کور والاوو نګهبان دی هغه نه به د خپل کوروالاوو په باره کې پوښتنه کيږي [٥] ښځه چې د خپل خاوند د کور او د هغه د بچو نګهبانه ده هغه به د هغوی حقوقو په باره کې جواب ورکوي.

حل اللغات: ① رَاعٍ: شپونکې، نګران، ساتونکې. ② رَعِيَّتِ: رعيت، ماتحت، کوم څه چه د راعی ماتحت وی. ③ مَسْئُوْلَةٌ: تپوس، پوښتنه به کولې شی،

[١] وَعَبْدُ الرَّجُلِ رَاعٍ عَلَى مَالِ سَيِّدِهِ وَهُوَ مَسْئُوْلٌ عَنْهُ، [٢] أَلَا فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او د سړی غلام چې د خپل مالك د مال نهګبان دی هغه به د هغه د مال په باره کې جواب ورکوي [٢] نو آګاه شئ چې په تاسو کې هر سړی نهګبان دی او په تاسو کې هرسړی به د خپل رعيت په باره کې جواب ورکوي. (بخاري ، مسلم)

تسهيلات: قوله: أَلَا كُلُّكُمْ رَاعٍ:

د نګرانئ وضاحت: په دې حديث کښې چه دَ کومې نګرانئ ذکردې دَ هغه نګرانئ تعلق هغه خلقو سره دې دَ چاد حکم او قدرت چه ماتحت وی اوکوم خلق چه دَ چادَ حکم ماتحت نه وی دَهغوی باره کښې داحديث نه دې "رعيته"کښې چه کوم ضمير راګرځی هغه هم ددې مقصد دَپاره دې چه دا ذمه واری دَ هغه نګرانانو ده دَچادَ حکم ماتحت چه خلق دی.

د نګران او ماتحت مثالونه: ① دَ کور مشر به ذمه وار وی څکه چه په هغوی باندې دَ ده حکم چليږی

② دَملك دَحاکم په لاس کښې دَ هغه ملك دَ رعيت واګې دی هغه نه به دَ دغه رعيت باره

---

[١]) اخرجه البخاري في كتاب الأحكام/باب قول الله تعالى و {أطيعوا الله وأطيعوا الرّسول وأولي الأمر منكم} [النساء: ٥٩] (رقم-٧١٣٨) ومسلم في كتاب الإمارة/باب فضيلة الإمام العادل، وعقوبة الجائر، والحثّ على الرّفق بالرّعيّة، والنّهي عن إدخال المشقّة عليهم (رقم-٢٠ - (١٨٢٩) كتاب الخراج والإمارة والفيء/باب ما يلزم الإمام من حقّ الرّعيّة (رقم-٢٩٢٨) والترمذي في كتاب الجهاد عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء في الإمام (رقم-١٧٠٥) واحمد في المسند: ٥/٢

کښې تپوس کیږی
③ دکور په بچو باندې د کورد ښځې مشری ده
④ د مدرسې مهتمم به د طالبانو ذمه وار وی ځکه چه هغوی د ده د حکم ماتحت دی
⑤ د خادم نګرانی د آقا په مال باندې ده ددې خلقو نه به د قیامت په ورځ ددوی د ذمه وارو باره کښې تپوس کیږی
⑥ بعضې علماؤ وئیلی دی چه د انسان د بدن کوم اندامونه دی هغه ټول اندامونه د ده رعیت دې ددې باره کښې به هم سوال کیږی چه مثلاً د سترګې نګرانی دې ولې نه ده کړې د ژبې د شرمګاه او خپو لاسونو نګرانی اوحفاظت دې ولې نه دې کړې؟

[۳۶۸۶] د خائن اوظالم حاکم په باره کښې عذاب

۳۶۸۶ــ[۲۶] (¹) ١ وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: ٢ «مَا مِنْ وَالٍ يَلِي رَعِيَّةً مِنَ الْمُسْلِمِينَ، ٣ فَيَمُوتُ وَهُوَ غَاشٌّ لَهُمْ إِلَّا حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او معقل ابن یسار رضی الله عنه وایې چې رسول کریم ﷺ نه ما واوریدل ٢ چې کوم سړی حکومت او سیادت حاصلولو سره په خپل رعیت حکمرانې کوي ٣ او بیا په دې حالت کې مرشي چې هغه خپل رعیت باندې ظلم او د هغوی حقوقو کې خیانت کوی نو الله تعالی به په هغه جنت حرام کړي (بخاري مسلم)

حل اللغات: ①وَالٍ: والی . حکمران. ②يَلِي: چه حکمرانی کوی. ③رَعِيَّةً: ماتحت. ④غَاشٌّ: په شین باندې شددې . خائن . خیانت کونکې.

تسهیلات: **قوله**: وَهُوَ غَاشٌّ:

د لفظ غاش دوه معانی: ① ملاعلی قاری رحمه الله د غاش یوه معنی ظالم هم کړې ده چه هغه: عوامو حقوق نه اداکوی اود نورو خلقو مال راګیروی
② د خیانت ډیرزیات صورتونه دی دکوم صورت خیانت چه حاکم اوکړو په هغه باندې به دا وعیدلګی

قوله: إِلَّا حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ:

د تحریم الجنة دوه توجیهات: ① که هغه سره د مسلمانئې د دغه خیانتونو مرتکب شو نوهغه به جنت ته هغه خلقو سره نه ځی ځوك چه به بغیرد سزا جنت ته ځی بلکه دې به خپله سزا تیروی بیابه جنت ته ځی
② یعنی که چرې دغه حاکم داخیانتونه جائز ګنړی نوهغه کافرشو لهذا په هغه باندې جنت حرام دې

¹) اخرجه البخار ی فی کتاب الأحکام/باب من استرعی رعیّة فلم ینصح (رقم-۷۱۵۱) ومسلم فی کتاب الإیمان/باب استحقاق الوالی الغاشّ لرعیّته النّار (رقم-۲۲۷ - (۱۴۲) واحمد فی المسند:۵/۲۵

[۳۶۸۷] په حاکم باندې د رعيت د خير خواهۍ وجوب

۳۶۸۷- [۲۷] (١) ١ وَعَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ٢ «مَا مِنْ عَبْدٍ يَسْتَرْعِيهِ اللّٰهُ رَعِيَّةً، ٣ فَلَمْ يَحُطْهَا بِنَصِيحَةٍ، ٤ إِلَّا لَمْ يَجِدْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او حضرت معقل ابن يسار رضي الله عنه وايي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه واوريدل ٢ الله تعالیٰ چې په کوم سړي د رعيت نګهباني کوي يعنی کوم سړی چې د رعيت حاکم او نګهبان جوړ کړي ٣ او هغه خير خواهي سره نګهباني ونه کړي ٤ نو هغه به د جنت بوی هم نه ويني (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① يَسْتَرْعِيهِ: چه راعي جوړکړی ده لره. حکمران ئې جوړ کړی. ② يَحُطْهَا: نګهبني او نګراني کوی د هغې ③ رَائِحَةَ: بوئی. خوشبوئی

تسهيلات:

دحديث د بعضې جملو وضاحت:

① فلم يحطها: په حاء باندې پيش دې داد احاطه په معنی کښې دې مراد ترې نه نګراني اوساتل دی په راتلونکی حديث کښې

② "الحطمة" د ظالم په معنی کښې دې "بنصيحة" دا لفظ د دينی اودنياوی ټولو نيکړو ته شامل دي

قوله: إِلَّا لَمْ يَجِدْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ:

د مذکوره جملې په مطلب کښې درې اقوال: ① دا سړې په کفرباندې مړشوې وی

② دخول اولی سره په جنت کښې نه داخليږی

③ دا حديث په تغليظ تشديد اوزجراوتوبيخ باندې محمول دې

[۳۶۸۸] د بدترين حاکم علامت

۳۶۸۸- [۲۸] (٢) ١ وَعَنْ عَائِذِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ٢ «إِنَّ شَرَّ الرِّعَاءِ الْحُطَمَةُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ او عائذ ابن عمرو رضي الله عنه وايي چې ما درسول الله صلی الله علیه وسلم نه واوريدل ٢ شرداران او حاکمانو کې د ټولو نه بدترسردارهغه حاکم دی چې خپل رعيت باندې ظلم کوي (مسلم)

حل اللغات: ① الْحُطَمَةُ: ظلم کول

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الأحکام/باب من استرعی رعیّة فلم ینصح (رقم-۷۱۵۰) ومسلم فی کتاب الإمارة/باب فضیلة الإمام العادل. وعقوبة الجائر. والحثّ علی الرّفق بالرّعیّة. والنّهی عن إدخال المشقّة علیهم (رقم-۲۱ - (۱۴۲)

[2] اخرجه مسلم فی کتاب الإمارة/باب فضیلة الإمام العادل. وعقوبة الجائر. والحثّ علی الرّفق بالرّعیّة. والنّهی عن إدخال المشقّة علیهم (رقم-۲۳ - (۱۸۳۰) واحمد فی المسند: ۶۴/۵

تسهیلات:

د راوی حالات:

د حضرت عائذ بن عمرو المزنی ﷺ مختصر پیژندګلو: نوم: عائذ، کنیت ابوهبیره. دَ پلار نوم عمرو بن بلال بن عبید بن یزید بن رواحه وو. په صلح حدیبیه کښې حضور ﷺ سره وو او په بیعت رضوان کښې هم ورسره وو. کله چه بصره آباده شوه نو هلته لاړو په کور کښې به وو تلوراتلوبه نه.

وفات: د یزید په عهدکښې بصره کښې وفات شو. د جنازې دَ مونځ دَ پاره ئې ابوهریره ﷺ ته وصیت کړې وو دې د پاره چه دَ هغه وخت ګورنر عبیدالله دَ جنازې مونځ اونه کړی هم داسې اوشو.

مرویات: دَ هغوی نه اووه احادیث روایت دی یو په بخاری اومسلم دواړو کښې دې

قوله: إِنَّ شَرَّ الرِّعَاءِ الْحُطَمَةُ:

د الحطمة په مراد کښې دوه اقوال: ① په حاء پیش او طاء باندې زبردې دَ حاطم دَ مبالغه صیغه ده چه الحطم سره دَ ماتولوپه معنی کښې راځی. دادهغه ظالم حاکم متعلق دې چه په ظلم کولو سره خپل رعیت ماتوی او په هریومصیبت کښې په هغوی هیڅ رحم نه کوی ② دَ الحطمة نه مراد داسې خوراك كونكې حريص دې چه هرهغه څيزخوری كوم چه مخې ته راځی الرعا په راء باندې زیراوعین باندې مددې دَ جمعې صیغه ده دَ دې مفرد دراع دې کوم چه د نګران او حکمران په معنی کښې دې

د یو صحابی په حق کښې د ابن زیاد ګستاخی: ملاعلی قاری ﷫ دَدې حدیث په شان دې خائی کښې یوبل حدیث نقل کړې دې په هغې کښې یوه افسوسناکه قصه ده فرمائی عائذ بن عمرو ﷺ د حضوراکرم ﷺ صحابی وو یوځل دې دَ کوفې ظالم ګورنر اشدق لطيم الشيطان عبيدالله ابن زیاد له لاړو او وئی فرمائیل چه اې ځویه زما دَ نبی کریم نه اوریدلی دی رسول الله ﷺ فرمائیل چه " ان شرالرعاء الحطمة فاياك ان تكون منهم" یعنی بدترین حکمران ظالم حکمران دې بچ ځان ساته چرته ددوی نه نه شې "فقال له اجلس انما انت من نخالة اصحاب محمد صلى الله عليه وسلم فقال هل كانت لهم نخالة؟ انما كانت النخالة بعدهم وفى غيرهم (رواه مسلم)"

یعنی عبیدالله بن زیاد اووئیل چه کینه ته دَ محمد ﷺ دَ صحابه کرامو ﷺ پوستکې اوبوس ئې. صحابی په جواب کښې اوفرمائیل ولې دَنبی کریم په صحابه کرامو کښې پوستکی اوبوس هم وو؟ (نه روره) بوس او پوستکی خو دَهغوی نه پس خلقو کښې وو (هغوی خو ټول لُب او خالص مغزوو)

[٣٦٨٩] د نرم خويه حاکم دپاره دعا

٣٦٨٩-[٢٩] (١) [١] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «اللّٰهُمَّ مَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا فَشَقَّ عَلَيْهِمْ فَاشْقُقْ عَلَيْهِ [٣] وَمَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا فَرَفَقَ بِهِمْ فَارْفُقْ بِهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ بارګاه قاضي الحاجات کې دا عرض اوکړو [٢] اې خما پروردګاره! کوم سړی چې خما د امت دديني او دنياوي امورو کې د څه والي او متصرف جوړ شو او بيا هغه د خپل اختيار ولايت او تصرف په ذريعه خما د امت په خلقو مشقت او سختي مسلط کړي نو هغه سړي باندې ته هم مشقت او سختي مسلط کړې [٣] او کوم سړی چې خما د امت په امورو کې د څه شي والي او متصرف جوړ شو او هغه خما د امت خلقو سره د نرمي سلوک وکی نو هغه سړي سره ته هم د نرمي او مهرباني سلوك وفرمايه (مسلم)

حل اللغات: ① وَلِيَ: والي، نګران. ② فَشَقَّ: سختي ئې اوکړه ③ رَفَقَ: نرمي ئې اختيار کړه. شفقت ئې اوکړو.

تسهيلات:

قوله: مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا

د امر څخه مراد: د امر څخه مراد دادي چې يو کس ته د مسلمانانو يوه ذمه واري حواله شي

قوله: فَشَقَّ عَلَيْهِ، جزاء وفاقا يعنی دا حاكم به د رعيت د دنيا مشقتونو په قدر اخروی مشقتونو سره مخامخ كيږی.

قوله: فَرَفَقَ بِهِمْ، فَارْفُقْ بِهِ مهربان حاكم دپاره حديث پاك (ارحموا من فى الأرض يرحمكم من فى السماء) د دې پيش نظر په دين او دنيا دواړو د.كاميابی دعا ده امام طيبی رحمه الله فرمائی چې دا ارشاد خپل امت دپاره ډير زيات په شفقت او رحمت باندې مبنی دې

[٣٦٩٠] عادلان حاکمان د نور په منبرونو

٣٦٩٠-[٣٠] (٢) [١] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «إِنَّ الْمُقْسِطِينَ عِنْدَ اللهِ عَلَى مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ عَنْ يَمِينِ الرَّحْمٰنِ [٣] - وَكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ - [٤] الَّذِينَ يَعْدِلُونَ فِي حُكْمِهِمْ وَأَهْلِيهِمْ وَمَا وَلُوا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

---

[١] اخرجه مسلم فى كتاب الإمارة/باب فضيلة الإمام العادل، وعقوبة الجائر، والحثّ على الرّفق بالرّعيّة، والنّهى عن إدخال المشقّة عليهم (رقم-١٩ - (١٨٢٨) واحمد فى المسند: ٩٣/٦

[٢] اخرجه مسلم فى كتاب الإمارة/باب فضيلة الإمام العادل، وعقوبة الجائر، والحثّ على الرّفق بالرّعيّة، والنّهى عن إدخال المشقّة عليهم (رقم-١٨ - (١٨٢٧) والنسائى فى كتاب آداب القضاة/باب فضل الحاكم العادل فى حكمه (رقم-٥٣٧٩) واحمد فى المسند: ١٦٠/٢

ترجمه: [۱] او عبدالله ابن عمرو ابن العاص رضی الله عنهما وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲] بلاشبه عادل حکمران به د الله ﷻ په نز د نورپه منبرونو باندې ځای پیدا کړي چې د رحمن ذات ښي طرف ته وي [۳] او د الله دواړه لاسونه ښي دي او عادل حکمران [۴] هغه دی چې په خپلو احکامو خپل اهل او خپل زیرتصرف معاملاتوکې عدل او انصاف کوي (مسلم)

حل اللغات ① اَلْمُقْسِطِيْنَ: المقسط دباب افعال نه. عادل حکمرانان. ② مَنَابِرَ: دمنبر جمع. منبرونه. ③ يَمِيْن: ښی طرف.

تسهیلات:

قوله: اَلْمُقْسِطِيْنَ:

د قسط د لفظ دوه معانی: ① دَعدل او انصاف په معنی کښې دې قرآن کریم کښې راغلی دی چه ﴿ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ﴾ [سورة مائدة: ۴۲.]

② که چرې هم دغه ماده دباب افعال په ځائی مجرد کښې دَ ضرب یضرب نه قاسط راشی نوهغه به دَ ظلم او ستم او حق نه تجاوز په معنی کښې راځی. قرآن کریم کښې دی ﴿ وَاَمَّا الْقٰسِطُوْنَ فَكَانُوْا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا﴾ [سورة جن: ۱۵.]

قوله: عَنْ يَمِيْنِ الرَّحْمٰنِ:

دعادل حکمران د الله تعالی ښې طرف ته په منبر ناسته: دَالله تعالی په نیزدَ عادل حکمران مرتبه ډیره لویه وی هم دَدغه اوچتې مرتبې تعبیر اودَدې طرف ته اشاره کولودَپاره فرمائی چه دَالله تعالی ښی طرف ته به په منبرونوباندې ناس وی الغرض کوم خلق چه دَ لویومرتبو والا وی هغوی ښی طرف ته په نشست باندې کینولې شی اودَ الله تعالی دواړه د قدرت لاسونه ښی دی ګس لاس نسبتًا کمزورې وی په دې وجه دکمزورئی دغه وهم لرې کولودپاره ئې اوفرمائیل چه دَالله تعالی دواړه دَ قدرت لاسونه ښی دی

قوله: اَلَّذِيْنَ يَعْدِلُوْنَ:

په مختلفو شعبو کښې د عدل کولو مطلب: په دې عدل سره که په احکاماتو کښې عدل اوانصاف مراد وی نوبیادې نه امور مملکت مثلاً دَ انصاف امانت دیانت ټولې تقاضې پوره کول مراددی چه په دې شعبوکښې عدل کوی

قوله: وَأَهْلِيْهِمْ: په اهل اوعیال کښې دَ عدل مطلب دا دې چه دَ ده لاندې کوم خلق دی دَهغوی پوره خیال ساتی

قوله: وَمَاوَلُوا: اودَ تصرف لاندې څیزونو کښې دَعدل اوانصاف مطلب دادې چه دغه څیزونو کښې دَ حقدارانو دَحقوق پوره خیال ساتی. هم دا خلق به دَ نور په منبرونوباندې وی.

[۳۶۹۱] هر حاكم سره ښه او بد ملګري

۳۶۹۱-[۳۱] (¹) [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «مَا بَعَثَ اللهُ مِنْ نَبِيٍّ وَلَا اسْتَخْلَفَ مِنْ خَلِيفَةٍ [۳] إِلَّا كَانَتْ لَهُ بِطَانَتَانِ؛ [۴] بِطَانَةٌ تَأْمُرُهُ بِالْمَعْرُوفِ وَتَحُضُّهُ عَلَيْهِ، [۵] وَبِطَانَةٌ تَأْمُرُهُ بِالشَّرِّ وَتَحُضُّهُ عَلَيْهِ، [۶] وَالْمَعْصُومُ مَنْ عَصَمَهُ اللهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او ابو سعيد ﷺ روايت كوي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] الله ﷻ هيڅ نبي داسې نه دى راليږلى او داسې هيڅ خليفه يي نه دى مقرر كړي [۳] چې د هغه د پاره دوه پټ ملګري نه وي [۴] يو پټ ملګرى خو د نيك كار حكم وركوي او نيكۍ طرف ته يي راغب كوي [۵] او دويم پټ ملګرى د بدى حكم وركوي او د بدى طرف ته يي راغب كوي [۶] او معصوم بې ګناه هغه دى چې الله ﷻ يي د ګناهونو نه محفوظ وساتي (بخاري)

حل اللغات: ① بِطَانَةٌ: پټ ملګرې. مُشير. ② تَحُضُّهُ: دَ نصرينصر نه. ترغيب وركوى. بيداروى ئې ③ الْمَعْصُومُ: بې ګناه.

تسهيلات:

قوله: إِلَّا كَانَتْ لَهُ بِطَانَتَانِ:

د بطانتان نه مراد: يعنى دوه وزيران اودوه مشيران كوم چه دَ پټو دوو دوستانو په شان وى چه په يووخت كښې هم نه جدا كيږى. يو دَ نيكئى حكم كوى كوم ته چه الهام وائى كوم چه دَ فرښتې دَ طرف نه وى.

قوله: وَتَحُضُّهُ:

د تحض معنى او مطلب: راپكارونكى ته وائى مراد راپاسول او بيدار ساتل دى هم دَدې مضمون مطابق يوڅو احاديث باب الوسوسه كښې تيرشوى دى په كوم كښې چه انسان سره دَ شيطان او فرښتې لزوم خودلې شوې دې "والمعصوم" يعنى "بطانة الشر" او دَ شيطانى وسوسو نه بچ كونكې صرف يو دَ الله تعالى ذات دې

[۳۶۹۲] د نبى عليه السلام په دربار كښې د قيس بن سعد مقام

۳۶۹۲-[۳۲] (²) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: [۲] كَانَ قَيْسُ بْنُ سَعْدٍ مِنَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِمَنْزِلَةِ صَاحِبِ الشُّرَطِ مِنَ الْأَمِيرِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

---

¹) اخرجه البخارى فى كتاب الأحكام/باب بطانة الإمام وأهل مشورته " البطانة: الدّخلاء "(رقم-۷۱۹۸) والنسائى فى كتاب البيعة/باب بطانة الإمام (رقم-۴۲۰۲) واحمد فى المسند: ۳۹/۳

²) اخرجه البخارى فى كتاب الأحكام/باب الحاكم يحكم بالقتل على من وجب عليه. دون الإمام الّذى فوقه (رقم-۷۱۵۵) والترمذى فى كتاب المناقب عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب مناقب قيس بن سعد بن عبادة رضى الله عنه (رقم-۳۸۵۰)

ترجمه: ١او حضرت انس رضي الله عنه وايي ٢چې نبي ﷺ سره د حضرت قيس ابن سعد رضي الله عنه په حواله هغه خدمت وو کوم چې دامراوو او سلاطينو سره کوتوال سرانجام کوي . «بخاري»

حل اللغات ①صَاحِبِ الشُّرَطِ: شُرط دَ شرطي جمع ده کوتوال، پوليس والا.

تسهيلات:

قوله بِمَنْزِلَةِ صَاحِبِ الشُّرَطِ:

د شرط د لفظ معنٰی او وجه تسميه: علامه توربشتي رحمه الله ليکلي دی چه دا دَ شرطي جمع ده يا هغه سړی ته وائی چه دَ حاکم اوامير مخې مخې ته کيږي اوسياسی امور چلونکې وی چونکه داخلق دَ خپلې پيژندګلو دَپاره په خپل بدن باندې څه نښه لګوی په دې وجه دوی ته شرط اووئيلې شو دلته کوتوال او دَ حکم نافذ کونکې پوليس مراد دې

[٣٦٩٢] د ښځې د امارت مسئله

[٣٣] ()[1] ١وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ٢: «لَمَّا بَلَغَ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّ أَهْلَ فَارِسَ قَدْ مَلَّكُوا عَلَيْهِمْ بِنْتَ كِسْرَى ٣قَالَ: لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمُ امْرَأَةً». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١او حضرت ابوبکره رضي الله عنه وايي ٢هرکله چې رسول کريم ﷺ ته دا خبر ورسيدو چې فارس والاوو د کسرٰی لور خپله حکمرانه جوړه کړې ده ٣نو وي فرمايل هغه قوم هيڅ کله خلاصون نشي پيداکولی چې هغوی د ملك د امورو حاکم او واليه يوه ښځه جوړه کړې وي «بخاري»

حل اللغات ①مَلَّكُوا: بادشاه او حکمرانه ئې جوړه کړه.

تسهيلات:

قوله قَدْ مَلَّكُوا عَلَيْهِمْ بِنْتَ كِسْرَى:

دحديث پس منظر: کوم وخت چه شيرويه خپل پلارپرويز قتل کړو اوبيائی دَپلار کيخودې شوې زهر دوائی کړلوسره اوڅکل اوهغه هم مړشو نو په شاهی خاندان کښې دَ حکومت چلولودپاره څوك سړې پاتې نه شو نوبيا هغه خلقو دکسری لور "ارميدخت" بادشاه کړه نبی کريم ته چه کله ددې خبراوشو نونبی کريم داحديث ارشاد اوفرمائيلو.

دمختلفو ملکونو د بادشاهانو لقبونه:

① کسری به دَ فارس د هريوبادشاه لقب وو ② قيصر دَ روم دَ بادشاه لقب وو

③ دَمصرد بادشاه لقب فرعون وو ④ دَ حبشه د بادشاه لقب نجاشي

[1]) اخرجه البخاري في كتاب المغازي /باب كتاب النبيّ صلّى الله عليه وسلّم إلى كسرى وقيصر (رقم-٤٤٢٥) والترمذي في كتاب الفتن عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم (رقم-٢٢٦٢) والنسائي في كتاب آداب القضاة /باب النّهي عن استعمال النّساء في الحكم (رقم-٥٣٨٨) واحمد في المسند: ٣٨/٥

⑤ دَ يمن د بادشاه لقب تبع وو ⑥ دَ هندوستان د بادشاه لقب راجه وو

⑦ دَ ترکی د بادشاه لقب خاقان وو

قوله: لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمْ امْرَأَةً:

د ښځې د حکمرانۍ حکم: فلاح هغې ته وائي چه په امن وآمان سره دَدنيا معيشت او اقتصاديات هم په کاميابئ سره ترقي اوکړي اودَ ښه انجام سره دَ آخرت ټول امور هم ترقي اوکړي لکه دَ دين اودنيا ښيګړې اونيکئ ته فلاح وائي دَ ښځې په مشرئ سره دا دواړه څيزونه ختميږی لکه چه په پاکستان او بنګله ديش کښې داسې اوشو په دې حديث کښې په واضحه توګه سره معلومه شوه چه دَ ښځې مشرې نقصان ورکونکې اوتباه کونکې څيز دې کوم چه ناجائز دې ملاعلی قاري رحمه الله ليکي چه ښځه دَ بادشاه جوړيدو حيثيت نه لرى اونه قاضى او جج جوړيدې شى ځکه چه دَ دواړو کارونو دَ پوره کولودَپاره ښکاره عام بهرتلل وى دې دَپاره چه دَمسلمانانو اوعوامو معاملات اوګورى اوښځه خويو پټ څيز دې چه دَداسې وتلو صلاحيت نه لرى اودويمه خبره داهم ده چه ښځه ناقص العقل ده او قضاء کامل قيادت دې لهذادَغه کامل قيادت دَپاره دَکامل سړو ضرورت دې

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۶۹٤] داجتماعيت څخه د جدائي اختيارولو وعيد

۳٦۹۳-[۳۳] ( ) [۱] عَنِ الْحَارِثِ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «آمُرُكُمْ بِخَمْسٍ: بِالْجَمَاعَةِ، وَالسَّمْعِ، وَالطَّاعَةِ، وَالْهِجْرَةِ، وَالْجِهَادِ فِي سَبِيلِ اللهِ، [۳] وَإِنَّهُ مَنْ خَرَجَ مِنَ الْجَمَاعَةِ قِيدَ شِبْرٍ فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الْإِسْلَامِ مِنْ عُنُقِهِ إِلَّا أَنْ يُرَاجِعَ [٤] وَمَنْ دَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ فَهُوَ مِنْ جُثَى جَهَنَّمَ وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى وَزَعَمَ أَنَّهُ مُسْلِمٌ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حارث اشعري رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل [۲] زه تاسو ته د پنځو څيزونو حکم درکوم ① د مسلمانانو د جماعت قول او عمل او اعتقاد کې اطاعت کوئ يعنى د ملت اجتماعي هيئت په هرصورت کې برقرار ساتئ او د سربراهان ملت د طرف نه چې کوم احکام جاري شي هغه په هرحالت کې تسليم کړئ او د هغوی اطاعت کوئ ② امراء او علماء د شريعت مطابق چې کوم هدايات ورکړي هغه واورئ او تسليم کړئ يعنى وي منئ ③ د علماوو او امراوو د احکامو اطاعت او فرمانبرداري کوئ ④ هجرت

---

[1] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الأمثال عن رسول الله صلى الله عليه وسلم باب ما جاء في مثل الصلاة والصيام والصدقة (رقم-۲۸٦۳) واحمد في المسند: ٤/۱۳۰

كوئ ⑤ د الله ﷻ په لاركي جهاد كوئ ③او ياد لرئ كوم سړی چې د ملت اجتماعي هيئت نه يوه ليشت برابر جدا شو هغه گويا د اسلام رسی د خپل څټ نه اوبنكله څو داچي هغه واپس راشي ④او كوم سړی چې د جاهليت په شان عمل وكی هغه گويا د دوزخيانو د جماعت فرد دی اگر چې هغه روژې نيسي مونځ كوي او دا وايي چې زه مسلمان يم احمد والترمذي .

حل اللغات: ①قِيدَ: دَ مثل برابرئی اومقدار په معنی كښې دې. په اندازه. ②شِبْر: يوه لويشت ③خَلَعَ: وئې ويستله. اوبنكله. ④رِبْقَةَ: رسئ. ⑤جُثَى جَهَنَّمَ: د جهنم يو فرد دې.

تسهيلات:

د حديث د بعضې جملو وضاحت:

① بِالْجَمَاعَةِ: دَ اهل حق جماعت حقه مراددې چه دَحضرت آدم عليه السلام نه تر محمدرسول الله ﷺ پورې دَ اهل حق جماعت راروان دې

② "وَالْهِجْرَةِ" دَ ځان اوايمان بچ كولوپه غرض سره دَ داركفرنه داراسلام طرف ته تللو ته هجرت وائی

③ جُثَى: په جيم باندې پيش اوبيا الف مقصوره دې دَجثوة جمع ده په اصل كښې دَ شگې اوخاورې ډيرى ته وائی دلته مراد جماعت اوډله ده چه دَ دوزخ دَ ډلونه دا يوه ډله ده

قوله: وَمَنْ دَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ:

د دعوى الجاهليه نه مراد: دَ جاهليت نعره سره دَدې طريقې خپلول مراد دې دَ غلطوكارونوطرف ته دعوت وركول مراد دی يا په وخت دَ جنگ دَ قوميت نعره اوچتول مراد دی چه دَ ظالم دَ امداددَپاره يا دَ "للقوم" جاهلانه نعره لگول دی دا كبيره گناه ده په دې قسم نعروسره لكه چه دا سړې دَ امت اجتماعی حيثيت پاڼرې پاڼرې كول غواړی

[۳٦۹۵] دامير داهانت څخه ممانعت

۳٦۹۵-[۳۵] (¹) ①وَعَنْ زِيَادِبْنِ كُسَيْبٍ الْعَدَوِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: ②كُنْتُ مَعَ أَبِي بَكْرَةَ تَحْتَ مِنْبَرِ ابْنِ عَامِرٍ وَهُوَ يَخْطُبُ ③وَعَلَيْهِ ثِيَابٌ رِقَاقٌ، ④فَقَالَ أَبُو بِلَالٍ انْظُرُوا إِلَى أَمِيرِنَا يَلْبَسُ ثِيَابَ الْفُسَّاقِ: ⑤فَقَالَ أَبُو بَكْرَةَ: اسْكُتْ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: ⑥«مَنْ أَهَانَ سُلْطَانَ اللَّهِ فِي الْأَرْضِ أَهَانَهُ اللَّهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ①او زياد ابن كسيب عدوي تابعي رحمه الله وايي ②يوه ورځ زه دابوبكره صحابي رضي الله عنه سره د ابن عامر رضي الله عنه د منبر لاندي ناست وم هركله چې هغه ابن عامر خطبه وركوله ③او

¹) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الفتن عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب (رقم-۲۲۲٤) واحمد فی المسند: ٤۲/۵

هغه باريکي کپړي اغوستي وي ④په دي موقع يوتابعي ابوبلال ﷺ اوويل لږ تاسو زمونږ دي امير ته خو وګورئ ده د فاسقانو په شان کپړي اغوستي دي ⑤حضرت ابوبکره ﷺ ورته اوويل خاموش ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي ⑥کوم سړی چې د بادشاه توهين کوي کوم چې الله د خپل مخلوق د امورو سرته رسولو د پاره په زمکه مقرر کړي دی نو الله ﷺ به هغه سړی ذليل او خوار کړي

حل اللغات: ①رِقَاقٌ: باريکې، نرئ. ②ثِيَابَ الْفُسَّاقِ: جامې د فاسقانو. ③أَهَانَ: توهين اوکړی. سپکاوې يا بې عزتی اوکړی.

تسهيلات:

قوله: يَلْبَسُ ثِيَابَ الْفُسَّاقِ:

د ثياب الفساق وئيلو دوه وجوهات: ①ممکن ده چه دَغه والی لباس دَ ريښم وی کوم چه ممنوع دي اوعموماً ريښمن لباس نرم وی

② ممکن ده چه دَ ريښم نه وی ليکن زيات قيمتی وی کوم چه دَ اصحاب تعيش لباس وی اهل الله وئيلی دی "من رق ثوبه رق دينه".

حضرت ابوبکر ﷺ حضرت ابوبلال ﷺ دَدي پيغورونونه منع کړو چه ممکن ده په دې سره فتنه اوفساد خورشي. دويمه دا چه هرراتلونکي بادشاه دَمخکينی نه خراب کيدې شی

قوله: مَنْ أَهَانَ سُلْطَانَ اللهِ:

په سلطان الله کښې د اضافت حيثيت: په دې کښې اضافت تشريفيه دي يعنی دَ الله تعالی حکم معلوم شو کوم حاکم چه دَ الله تعالی نه وی نه دَ الله تعالی دين نافذکونکي وی اونه په دې باندې پخپله عمل کوی نوهغه دَ الله تعالی بادشاه نه دې بلکه کيدې شی چه هم دَ شيطان بادشاه وی

[٣٦٩٦] په ګناه کښې دامير د حکم نه منل

٣٦٩٦ - [٣٦] (¹) ①وَعَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سِمْعَانَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②«لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: ①حضرت نواس ابن سمعان ﷺ وايي رسول کريم ﷺ وفرمايل ②د مخلوق د څه داسې حکم هم تابعداري جائز نه ده چې په هغه کې د خالق نافرماني وي (شرح السنه)

تسهيلات:

د راوي مختصر تعارف:

حضرت نواس بن سمعان ﷺ: نوم نواس دَ پلار نوم سمعان بن خالد بن عمرو بن قرط وو. ده دَ

(¹) اخرجه البغوی فی شرح السنه رقم الحديث ٢٤٥٥

قبیله بنوکلاب سره تعلق لرلو په شام کښې اوسیدلواوپه اهل شام کښې دَ ده شمیر کیدلو دَ هغوی پلار د وفد په شکل کښې حضور ﷺ سره حاضرشو او پیغمبر ﷺ له هغه دَ خپلو تحفه هم ورکړه حضور ﷺ هغه قبوله کړه او دعائی ورته اوکړه.

مرویات: دَ هغه نه ۱۷ احادیث نقل دی په دې کښې درې په مسلم شریف کښې دی او باقی اصحاب السنن نقل کړی دی.

قوله لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الخَالِقِ الحاصل که مخلوق ته امیر او حاکم داسې حکم ورکړی چې په هغې باندې عمل کولو کښې د خالق نافرمانی وی نو د حاکم دداسې غیر شرعی حکم اطاعت نه دی کول پکار او که یو کس د غیر شرعی امورو په اطاعت باندې مجبوره کړې شو نو بیا په مکروه باندې هیڅ ګناه نشته دې

[۲٦۹۷] د حاکم دآخرت انجام

۲٦۹۷-[۳۷]()[۱]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲]«مَا مِنْ أَمِيرِ عَشَرَةٍ إِلَّا يُؤْتَى يَوْمَ القِيَامَةِ مَغْلُولًا[۳]حَتَّى يَفُكَّ عَنْهُ العَدْلُ، أَوْيُوبِقَهُ الجَوْرُ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه:[۱]او ابوهریره رضی الله عنه وایې چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲]هر امیر او حاکم برابره خبره ده که هغه د لس سړو امیر او حاکم وي د قیامت په ورځ به داسې راوستل شي چې د هغه په څټ کې به طوق وي [۳]تردې چې هغه ته به هغه طوق نه یاخو د هغه عدل نجات ورکړي یا د هغه ظلم به یې هلاک کړي. (دارمي)

حل اللغات: ①مَغْلُولًا: غَلّ نه. د مرئ طوق. ②يَفُكَّ: نصر ينصر نه دې. خلاص به کړی. ③يُوبِقَهُ: د باب افعال نه ايباق دې. هلاک به ئې کړی. ④الجَوْرُ: ظلم

تسهیلات:

د حدیث د بعضې جملو وضاحت:

① أَمِيرِ عَشَرَةٍ: یعنی معمولی شان حکمران وی که په لسو کسانو باندې د هغه حکومت وی

② مَغْلُولًا دمرئی طوق ته وائی دلته ددواړو لاسونو نه تړلې کیدل مراد دی چه دواړه لاسونه به ئې سټ سره تړلي شوي وي

[۲٦۹۸] د قیامت په ورځ د حاکمانو پښیمانتیا

۲٦۹۸-[۳۸]()[۱]وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲]«وَيْلٌ لِلأُمَرَاءِ، وَيْلٌ لِلعُرَفَاءِ، وَيْلٌ لِلأُمَنَاءِ، [۳]لَيَتَمَنَّيَنَّ أَقْوَامٌ يَوْمَ القِيَامَةِ أَنَّ نَوَاصِيَهُمْ مُعَلَّقَةٌ بِالثُّرَيَّا، [۴]يَتَجَلْجَلُونَ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ، [۵]وَأَنَّهُمْ لَمْ يَلُوا عَمَلًا». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ

[۱]) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحدیث ۲۵۱۵

[۲]) اخرجه البغوی فی شرح السنه رقم الحدیث ۲۴۶۸ واحمد فی المسند ۲/ ۳۵۲

ترجمه: [١] او ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [٢] افسوس دى امراوو او حكامو باندې آفسوس دى عرفاء باندې افسوس دى آمينانو باندې [٣] ډير خلق به د قيامت په ورځ آرزوكوي كاشكي چې په دنيا كې د هغوى د تندو وينسته ثريا كې تړلو سره هغوى زوړند شوى وې [٤] او د زمكي او آسمان په مينځ كې جوتې وركول شوي [٥] ليكن هغوى ته د څه كار ولايت او سرداري نه وي وركول شوي (شرح السنه)

حل اللغات: ① وَيْلٌ: هلاكت. د دوزخ يوه كنده ② لِلْعُرَفَاءِ: دا دعريف جمع ده. د قبيلې مشر. گورنر ③ أُمَنَاءِ: دَ امين جمع ده. امين امانتدار ته وائي، وزيرمال. خزانچي ④ لَيَتَمَنَّيَنَّ: تمنا او آرزو به كوى. ⑤ نَوَاصِي: تندې. د تندى وينسته. ⑥ مُعَلَّقَةٌ: زوړند ⑦ الثُّرَيَّا: پرقيدونكي جومپقه ستورى. ⑧ يَتَجَلْجَلُونَ: جوتې وركولې شي. خوزولې به شي ⑨ لَمْ يَلُوا: چه نه وي سپارلې شوي مشرى.

[١] وَرَوَاهُ أَحْمَدُ فِي رِوَايَتِهِ: أَنَّ ذَوَائِبَهُمْ كَانَتْ مُعَلَّقَةً بِالثُّرَيَّا، [٢] يَتَذَبْذَبُونَ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ [٣] وَلَمْ يَكُونُوا عُمِّلُوا عَلَى شَيْءٍ.

ترجمه: [١] دا روايت امام احمد رحمه الله هم نقل كړي دى د هغوى په روايت كې داسې دي چې هغوى به آرزو كوي كاشكي چې په دنيا كې د هغوى څونې ثريا سره تړلو كې [٢] هغوىٰ د زمكي او آسمان په مينځ كې زوړند وي [٣] ليكن هغوى په څه شي عاملان كار كونكي نه وي مقرر شوى

حل اللغات: ⑩ يَتَذَبْذَبُونَ: د يَتَجَلْجَلُونَ په معنى كښې دې. خوزول او جوتې وركول

تسهيلات: قوله: وَيْلٌ:

د ويل په معنى كښې دوه اقوال:

① دا لفظ دَ غم هلاكت او عذاب دَ سختوالى دَپاره ونيلې شى

② بعضې علماء وائى چه دا په دوزخ كښې دَ يوې كندې نوم دې په كوم كښې چه به ترخلو ينبتو كالوپورې سرې پريوځى او بيخ ته به نه رسيږى

قوله: وَيْلٌ لِلْعُرَفَاءِ:

د عرفاء نه مراد: ملاعلى قارى رحمه الله فرمائى عريف دَ قبيلې هغه مشر ته وائى چه دَ خپلې قبيلې دَ معاملاتو خيال ساتى دَهغوى دَمعاملاتو مشرى كوى اودَ وخت بادشاه دَهغه په ذريعه دَعوامو حالت معلومه وى د كلو او قبيلو سردار او دَ صوبوگورنران هم په دې كښې شامل دى (مرقات ج ٧ ص ٢١٨)

عرفاء كښې چودهرى، نواب. خان. ملك. ليډر او وډيره گان ټول داخل دى

أَوَكُلَّمَا وَرَدَتْ عُكَاظَ قَبِيلَةٌ بَعَثُوا إِلَيَّ عَرِيفَهُمْ يَتَوَسَّمُ

قوله: لِلْأُمَنَاءِ:

د امناء نه مراد: امين هغه سړى ته وائى كوم چه بادشاه په صدقات او محصولات باندې

مقررکړې وی یا دعاموخلقو د امانتونو امین مراددې. په دې عهده کښې د خیانت ډیره لویه خطره ده نن صبا ده ته وزیر مال یا خزانچی ونیلې شی

قوله: يَتَجَلْجَلُونَ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ

د تجلجل معنی: کوم سړې چه څه ځیزپورې زوړند شی حرکت کوی هغې ته تجلجل وائی. په نورو روایتونو کښې یتذبذبون لفظ راغلې دې هغه هم دغه دې

قوله: وَأَنَّهُمْ لَمْ يَلُوا عَمَلًا:

د قیامت په ورځ د ظالمانو حکمرانو ارمان: داد والی اوحاکم جوړیدو په معنی کښې دې یعنی داخلق به په قیامت کښې ارمان اوخپیمانتیاسره خواهش کوی چه افسوس مونږ په دنیاکښې ټول مشقتونه او ذلتونه برداشت کړې وې او په مظلوم رعایاکښې اوسیدلې لیکن د حکمرانئی دغه فانی عیش اوعشرت کښې نه وې پاتې شوې دې دپاره چه نن د عذاب دغه خطرناك مخ نه لیدلې کیدې. "الآن قدندمت ولم ينفع الندم"

[۳۶۹۹] د اکثرو حاکمانو په دوزخ کښې کیدل

---[۳۹] ()[۱] وَعَنْ غَالِبِ الْقَطَّانِ عَنْ رَجُلٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «إِنَّ الْعِرَافَةَ حَقٌّ وَلَا بُدَّ لِلنَّاسِ مِنْ عُرَفَاءَ [۳] وَلَكِنَّ الْعُرَفَاءَ فِي النَّارِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او غالب قطان د یوسړي نه او هغه سړی د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه (دادا) نه روایت کوي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲] چودهریتوب یو حقیقت دی او د خلقو د پاره د چودهریانو کیدل ضروري دی [۳] لیکن چودهریان به دوزخ ته ځي (ابوداود)

حل اللغات: ① الْعِرَافَةَ: سرداری مشری

تسهیلات:

قوله: إِنَّ الْعِرَافَةَ حَقٌّ:

د العرافة حق دوه مطلبونه: ① دلته حق په معنی د ثابت دې چه عرافه یو حقیقت دې ② یامطلب دا چه عرافه ثابت پاتې کیدل پکاردی

قوله: وَلَكِنَّ الْعُرَفَاءَ فِي النَّارِ:

د عرفاء په اور کښې د کیدو مطلب: یعنی دخلقو مختلف کارونه اوضروریات وی دا یوحاکم ته رسول ضروری وی اوداکار عرفاء او هم ددغه چودهریانو دې لیکن په دې کښې داخلق خیانت هم کوی اوظلم هم کوی ددې دپاره عرافه یعنی چودهراهټ په دوزخ کښې دې که چرې ددې منکراتونه بچ شی نوبیادا وعیدنه دې

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الخراج والإمارة والفیء /باب فی العرافة (رقم - ۲۹۳٤)

[۳۷۰۰] د ظالم حاکم سره د تعاون حرمت

۳۷۰۰-[۳۰] ()[۱] وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «أُعِيذُكَ بِاللهِ مِنْ إِمَارَةِ السُّفَهَاءِ، [۳] قَالَ: وَمَا ذَاكَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ [۴] قَالَ: أُمَرَاءُ سَيَكُونُونَ مِنْ بَعْدِي، [۵] مَنْ دَخَلَ عَلَيْهِمْ فَصَدَّقَهُمْ بِكَذِبِهِمْ وَأَعَانَهُمْ عَلَى ظُلْمِهِمْ، فَلَيْسُوا مِنِّي، وَلَسْتُ مِنْهُمْ، [۶] وَلَنْ يَرِدُوا عَلَيَّ الْحَوْضَ،

ترجمه: [۱] او حضرت کعب رضی الله عنه ابن عجره وايي چې رسول کريم ﷺ ماته وفرمايل [۲] زه تا د بيوقوفانو خلقو د سرداری د طور وطريقو نه يا د هغوی د مصاحبت او حمايت نه د الله جل جلاله پناه کې ورکوم [۳] کعب رضی الله عنه فرمايي ماعرض اوکړو يارسول الله! داخه دی؟ يعنې داسې سرداري به کله وي او څنګه به وي او هغه به کوم خلق وي [۴] حضور ﷺ وفرمايل ځما نه وروسته به په بعضو زمانو کې چې کوم سړی امير او حاکم وي هغوی به احمق او نادان د شريعت د قانون نه نابلده او ظالمان وي [۵] نو کوم خلق [چې دی احمق نادان کذاب او ظالمو اميرانو او حاکمانو ته] ورغلل د هغوی مصاحبت يې اختيار کی او د هغوی دروغو ته يې رېښتيا اوويل او د خپل قول او فعل په ذريعه د هغوی د ظلم امداد او حمايت يې اوکړو نو نه د هغوی زماسره څه تعلق شته او نه زه د هغوی سره څه تعلق لرم بلکه هغوی نه د خپلې بيزاری اظهار کوم [۶] او نه به هغه خلق حوض ته ماته راځي

حل اللغات: ① أُعِيذُكَ: زه تا په پناه کې ورکوم ② إِمَارَةِ: مشری. حکمرانی، ③ السُّفَهَاءِ: بې وقوفان.

[۱] وَمَنْ لَمْ يَدْخُلْ عَلَيْهِمْ وَيُصَدِّقْهُمْ بِكَذِبِهِمْ وَلَمْ يُعِنْهُمْ عَلَى ظُلْمِهِمْ، فَأُولَئِكَ مِنِّي، وَأَنَا مِنْهُمْ، [۲] وَأُولَئِكَ يَرِدُونَ عَلَيَّ الْحَوْضَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او کوم خلق چې نه خو هغه اميرانو او حاکمانو ته ورغلل او نه د هغوی دروغوته يې رېښتيا اوويل او نه يې د هغوی د ظلم امداد او حمايت اوکړو نو هغه خلق ځما دي او زه د هغوی يم [۲] او هغوی به حوض ته ماته راځي ترمذی نسائی

تسهيلات:

قوله: أُعِيذُكَ بِاللهِ مِنْ إِمَارَةِ السُّفَهَاءِ:

يو شعر اوګورئ

لا يصلح الناس فوضى لا سراة لهم ولا سراة اذا جهالهم سادوا

يعنې د يو حاکم نه بغيرپه ګړبړ کښې خلق صحيح کيدې نه شي او که جاهل حکمران وی نو هغه خود سره د خلقو حکمران نه دي

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب السفر/باب ما ذکر فی فضل الصلاة (رقم-۶۱۴) والنسائی فی کتاب البيعة/باب ذکر الوعيد لمن أعان أميرا علی الظلم (رقم-۴۲۰۷) والنسائی فی ۴/۲۴۳

[٣٧٠١] د حاكمانو صحبت د فتنې سبب

٣٧٠١-[٣١] (١) ١ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ٢ «مَنْ سَكَنَ الْبَادِيَةَ جَفَا، ٣ وَمَنِ اتَّبَعَ الصَّيْدَ غَفَلَ، ٤ وَمَنْ أَتَى السُّلْطَانَ افْتُتِنَ» . ٥ رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ: ٦ «مَنْ لَزِمَ السُّلْطَانَ افْتُتِنَ، ٧ وَمَا ازْدَادَ عَبْدٌ مِنَ السُّلْطَانِ دُنُوًّا إِلَّا ازْدَادَ مِنَ اللّٰهِ بُعْدًا».

ترجمه: ١ او ابن عباس رضي الله عنهما د نبي كريم ﷺ نه روايت كوي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ٢ كوم سړی چې په ځنګل کې اوسيږي هغه جاهل وي ٣ او كوم سړی چې په ښكار پسې تلی وي هغه غافل وي ٤ او كوم سړی چې بادشاه ته ځي راځي هغه په فتنه کې مبتلاكيږي ٥ (احمد ترمذي نسائي)، او د ابوداود په روايت کې داسې دي ٦ چې كوم سړی چې د بادشاه ملازمت کې وي [يعنی هغه سره حاضر باش او حاشيه نشين وي] هغه په فتنه کې مبتلا كيږي ٧ او كوم سړی چې د بادشاه څومره زيات قرب غوښتونكی وي هغومره د الله جل جلاله نه لرې وي.

حل اللغات: ① اَلْبَادِيَةَ: كلی. باندې. ② جَفَا: بې وفا. جاهل. ③ غَفَلَ: غافل شو. ④ افْتُتِنَ: په فتنه كښې پريوتل. ⑤ عَبْدٌ: غلام نوكر. ⑥ دُنُوًّا: نزدېكت ⑦ بُعْدًا: لرې والې.

تسهيلات:

قوله: مَنْ سَكَنَ الْبَادِيَةَ جَفَا:

د باندچيانو د سادګۍ وجه: په ځنګل اوكلوكښې اوسيدونكې چونكه دَعلم علماء او صلحاء دَ مجالسونه لرې اوسيږی اودَ ښاريو دَ تهذيب نه هم ناخبره وی په دې وجه هغه شاړپاړ وی نبی كريم دَ امر واقعی بيان كړې دې په كلوكښې دَ اوسيدونكوتنقيص مقصودنه دې

قوله: «وَمَنِ اتَّبَعَ الصَّيْدَ غَفَلَ:

د مذكوره ښكار مصداق: يعنی يو سړې ښكارپسې داسې لګيدلې وی چه نه ئی دَ خوراك خيال وی نه دَ مونځ فكر وی اونه دَځان پرواه وی اوداهرڅه دَ څه حلال رزق ګټلو په نيت سره نه وی بلكه دَعيش اولهو لعب په توګه داسې كوی نوښكاره خبره ده چه دا غفلت او ګناه ده په دې سره دَ دغه ښكاركولونه ممانعت نه كيږی په كوم كښې چه دامفاسدنه وی ځكه چه نبی كريم سره دَدې چه پخپله ئی ښكار نه دې كړې مګر دَ ښكار غوښه ئی خوړلې ده اوصحابه كرامو ته ئی دَ دې مسائل خودلی دی اودې نه ئی منع نه ده كړې.

---

١) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الصّيد/باب فی اتّباع الصّيد (رقم-٢٨٥٩) والترمذی فی كتاب الفتن عن رسول الله صلّی الله عليه وسلّم/باب (رقم-٢٢٥٦) والنسائی فی كتاب البيعة/باب فضل من تكلّم بالحقّ عند إمام جائر (رقم-٤٢٠٩) واحمد فی المسند: ٣٥٧/١

قوله: وَمَنْ أَتَى السُّلْطَانَ افْتُتِنَ:

د بادشاه دربار ته په حاضري کښې د خطري وجوه: یعنی کوم سړي چه بغیرد څه سخت ضرورت نه دبادشاه دربارته لاړو نوهغه په فتنه کښې پریوتلو ځکه چه که چرې هغه دبادشاه په ناجائز کارونوکښې موافقت کوی نود هغه دین به تباه برباد شی اوکه چرې مخالفت کوی نود هغه دنیا اوځان به په خطره کښې شی اوکه چرې یوسړی دبادشاه په دربارکښې د حق کلمه اووئیله نودغه خود ډیرلونی اجر خبره ده

[۳۷۰۲] په ګمنامی کښې سلامتیا

۳۷۰۲—[۳۲] () [۱] «وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِيكَرِبَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] ضَرَبَ عَلَى مَنْكِبَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: [۳] أَفْلَحْتَ يَا قُدَيْمُ إِنْ مُتَّ وَلَمْ تَكُنْ أَمِيرًا وَلَا كَاتِبًا وَلَا عَرِيفًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او مقدام رضی الله عنه ابن معدیکرب نه روایت دي [۲] چې رسول الله ﷺ د هغه یعنی مقدام رضی الله عنه په اوږه خپل لاس مبارك وهلو سره وفرمایل [۳] اې قدیمه که ستا داسې حالت کې مرګ وې چې نه ته امیر او حاکم یې نه منشي یې او نه چودهري نو تا فلاح خلاصون پیدا کړو (ابوداود)

حل اللغات: ① أَفْلَحْتَ: کامیابی دې حاصله کړه، کامیاب شوې. ② قُدَيْمُ: دمقدام تصغیر دی ③ عَرِيفًا: چودهری.

تسهيلات:

قوله: على منكبيه، إظهار للشفقة: داشان قدیم به تصغیر سره د محبت دپاره نې اووئیل

قوله: وَلَا عَرِيفًا: عریف ګمنام ته وئیلې کیږی، په دې کښې اشاره ده چې ګمنامی کښې راحت او آرام دې او شهرت کښې آفت او مصیبت دې

[۳۷۰۳] په ناجائزه د ټیکس اخستونکو جنت ته نه داخلیدل

۳۷۰۳—[۳۳] () [۱] وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ صَاحِبُ مَكْسٍ يَعْنِي الَّذِي يَعْشُرُ النَّاسَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او عقبه رضی الله عنه ابن عامر وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲] صاحب مکس به په جنت کې نه داخلیږي صاحب مکس نه د حضور ﷺ مراد حاکم او کار پردازر دی چې د خلقو نه خلاف شرع محصولات او ټیکس وصولوي (احمد ابوداود دارمي)

حل اللغات: ① صَاحِبُ مَكْسٍ: ټیکس اومحصول وصولونکي ② يَعْشُرُ النَّاسَ: چه دخلقو نه عُشر او زکوة راټولوی

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الخراج والإمارة والفیء/باب فی العرافة (رقم-۲۹۳۳)

[۲]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الخراج والإمارة والفیء/باب فی السعایة علی الصدقة (رقم-۲۹۳۷)واحمد فی المسند:۱۴۳/۴

تسهیلات:

قوله: لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ صَاحِبُ مَكْسٍ.

درانه ټیکسونه د حکومت ناکامی: مکس محصول او ټیکس ته وائی کوم چه په ناجائزه توګه خائی په خائی جوړشوی دی او په ظلم سره د خلقونه ټیکسونه وصولوی که هغه په اثربوړتونو باندې وی یا په نورو ځایونو کښې وی یا دغه قسم بلونو په شکل کښې وی په کوم کښې چه ظلم کړې شوې وی او د شریعت خلاف ټیکس نافذ کړې شوې وی هغه ټول په دې وعید کښې داخل دی شاه ولی الله رحمه الله لیکلی دی د یو حکومت د ناکامئ او تباهئ دپاره داکافی دی چه هغه په عوامو باندې درانه ټیکسونه مقرر کړی او که د حکومتی ضروریاتو پوره کولو دپاره مناسب ټکسنوه مقرر کړې شی نو دا جائز دي خو په دې شرط چې دغه ټکسونه هم د عوامو په مفادو کښې خرچ کولی شی خپل جیبونه ترې نشی ډکولې

[۳۷۰۴] د عادل امام فضیلت

۳۷۰۴-[۴۳] ( ) ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «إِنَّ أَحَبَّ النَّاسِ إِلَى اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَقْرَبَهُمْ مِنْهُ مَجْلِسًا: إِمَامٌ عَادِلٌ ③ وَإِنَّ أَبْغَضَ النَّاسِ إِلَى اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَشَدَّهُمْ عَذَابًا ④ وَفِي رِوَايَةٍ وَأَبْعَدَهُمْ مِنْهُ مَجْلِسًا: إِمَامٌ جَائِرٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه: ① او ابو سعید رضي الله عنه وايي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② د قیامت په ورځ به د الله جل جلاله په نز د ټولو نه زیات محبوب او د مرتبې د اعتبار نه زیات نزدې هغه سړی وي کوم چې عادل امام او حاکم وي ③ او د قیامت په ورځ به د الله جل جلاله په نز د ټولو نه زیات د نفرت مستحق او د ټولو نه زیات د عذاب سزاوار ④ او په یوبل روایت کې دادي چې د الله جل جلاله نه د ټولو نه زیات لرې به هغه سړی وي کوم چې ظالم امام او حاکم وي امام ترمذي رحمه الله دا روایت نقل کړې دی او ویلي یې دي چې دا حدیث حسن غریب دی

تسهیلات: قوله: إِنَّ أَحَبَّ النَّاسِ إِلَى اللهِ .... الخ:

ددې حدیث په تشریح کښې دوه شعرونه اوګورئ

کم یرفع الله بالسلطان مظلمة | فی دیننا رحمة منه دنیانا
لولا الخلیفة لم تامن لنا سبل | وکان اضعفنا نهبا لاقوانا

یعنی الله تعالی په خپله مهربانئ سره د عادل بادشاه په ذریعه باندې زمونږ د دین څومره مشکلات لرې کوی که چرې عادل بادشاه نه وې نو زمونږ امن به تباه وو او طاقتورو خلقو به کمزوری خلق ژوندی تیرولې

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الجهاد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء من یستعمل علی الحرب (رقم-۱۷۰۴) واحمد فی المسند: ۵۵/۳

[۳۷۰۵] د ظالم حاکم مخامخ د حق ځکولو فضیلت

۳۷۰۵-[۳۵] (1) ① وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «أَفْضَلُ الْجِهَادِ مَنْ قَالَ كَلِمَةَ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُودَاوُدَوَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او ابوسعید ﷛ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ② د ټولو نه ښه جهاد د هغه سړي دی چې د ظالم بادشاه په مخکې حقه خبره وکړي (ترمذي ابوداود ابن ماجه)

حل اللغات: ① جَائِر: ظالم

تسهيلات:

قوله: أَفْضَلُ الْجِهَادِ مَنْ قَالَ كَلِمَةَ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ:

د جهاد باللسان د جهاد بالنفس نه د افضليت وجوهات: دلته دَ من دکلمې نه مخکښې لفظ جهاد مقدر منل ضروری دی "اي جهادمن قال، يا افضل اهل الجهاد" په محذوف منلې شي

① دَ شيخ مظهر ﷫ په حواله سره هم ملاعلی قاری ﷫ نقل کړې دي دَ هغې خلاصه داده چه دَ ظالم حاکم دَ ظلم دَ وجې نه په زرګونو لاکهونو انسانانوته نقصان رسيږي اوهغه په نيغه لار راوستلو کښې دَ لکهنو مسلمانانو ښيګړه اوفائده ده په دې وجه دَ عموم نفع په رڼړا کښې دَ هغه جهاد نه افضل دې دَ کوم جهاد نفع چه دَدې نفع نه محدود ده بهرحال څه خلق صرف زباني جمع خرچ ته افضل جهاد وائی دادَدې حديث په مفهوم کښې کوتاه نظری ده اودَ جهاد مقدس نه دَ طبعی نفرت نتيجه ده هم مجاهدين خو حکمرانانو سره اينختې وی داد کلمه حق اودعوت حق مهم نه دې نو دَ څه سرمايه اوتجارت جنګ دې

② ملاعلی قاری ﷫ په مرقات فرمائی کوم چه ګنګوهی ﷫ په کوکب الدری کښې نقل کړې دي دَهغې خلاصه داده چه دَ ميدان جنګ مجاهد په دې اميدبانديې وی چه کيدې شی هغه دَ دښمن دَ لاسه په ميدان کښې شهيد شی او ممکن ده چه بچ شی ليکن دَ ظالم حاکم په مخکښې دَحق کلمه وئيل يقيني مرګ له دعوت ورکول دی ځکه چه که په صحيح معنو کښې ده امر بالمعروف اونهی عن المنکر کړې وی نوچونکه دې دَ ظالم په لاس او قابو کښې دي لهذا دَ ده بچ کيدل ګران دی اوکوم سړې چه پوهيږی چه دَدې کلام دَ کولودَ وجې نه به هغه ته مرګ ملاويږی اوبيا هغه کوی نودا ډيرلوئی کاردې په دې وجه دا افضل جهاد اوګرځولې شو

---

[1]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب التّرجّل /باب الأمر والنّهی (رقم-٤٣٤٤) والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلّی الله عليه وسلّم /باب ما جاء فی الخسف (رقم-٢١٨٤) و ابن ماجه فی کتاب الفتن /باب الأمر بالمعروف والنّهی عن المنکر (رقم-٤٠١١) واحمد فی المسند:١٩/٣

۳۷۰٦—(۱) وَرَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ.

ترجمه او احمد او نسائي دا روايت د طارق ابن شهاب ﷫ نه نقل کړي دی.

[۳۷۰۷] د حاکم دپاره د صالح وزیر فضیلت

۳۷۰۷—[۳٦] (۲) ① وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «إِذَا أَرَادَ اللهُ بِالْأَمِيرِ خَيْرًا جَعَلَ لَهُ وَزِيرَ صِدْقٍ ③ إِنْ نَسِيَ ذَكَّرَهُ، وَإِنْ ذَكَرَ أَعَانَهُ، ④ وَإِذَا أَرَادَ بِهِ غَيْرَ ذَلِكَ، جَعَلَ لَهُ وَزِيرَ سُوءٍ. ⑤ إِنْ نَسِيَ لَمْ يُذَكِّرْهُ، وَإِنْ ذَكَرَ لَمْ يُعِنْهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه ① او بي بي عائشه ﷺ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ② هرکله چې الله ﷻ د يو امير حکمران د دين او دنيا د خير اراده لري نو د هغه د پاره رينښتيني يعنې راست ګفتار او راست کردار وزير او مشير مقرر وي ③ هرکله چې هغه امير د الله احکام هير وي نو هغه وزيريې ورته يادوي او که هغه ياد لري نو هغه وزير يې په هغه کې مدد کوي ④ او هرکله چې د يو امير د خير اراده نه لري نو په هغه باندې بد طينت وزير او مشير مسلط کوي ⑤ که امير د خداى ﷻ احکام هيروي نو هغه وزيريې ورته نه يادوي که هغه يې نه هيروي نو هغه وزير يې مدد نه کوي. (ابوداود ، نسائي)

حل اللغات: ① وَزِيرَ صِدْقٍ: رښتونې وزير.مشير. ② أَعَانَ: مدد کوی ③ وَزِيرَ سُوءٍ: خراب او بدنيته وزير

تسهيلات:

نوټ: د ترجمې څخه د مفهوم ښکاره ده.

[۳۷۰۸] په قوم دغلط ګمانۍ نقصان

۳۷۰۸—[۳۷] (۳) ① وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② «إِنَّ الْأَمِيرَ إِذَا ابْتَغَى الرِّيبَةَ فِي النَّاسِ أَفْسَدَهُمْ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او ابو امامه ﷺ د نبي کريم ﷺ نه نقل کوي ② چې رسول کريم ﷺ وفرمايل حکمران چې په خلقو کې د شك او شبهې خبرې لټوي نو خلق خرابوي (ابوداود)

حل اللغات: ① ابْتَغَى: لټوی. ② الرِّيبَةَ: د شک شبهې خبرې

تسهيلات:

قوله: إِنَّ الْأَمِيرَ إِذَا ابْتَغَى الرِّيبَةَ فِي النَّاسِ أَفْسَدَهُمْ:

---

[۱]) اخرجه النسائی فی السنن کتاب البیعة /باب فضل من تکلّم بالحقّ عند إمام جائر (رقم-٤٢٠٩) واحمد فی المسند: ٣١٤/٤

[۲]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الخراج والإمارة والفیء /باب فی اتّخاذ الوزیر (رقم-٢٩٣٢) والنسائی فی کتاب البیعة /باب وزیر الإمام (رقم-٤٢٠٤)

[۳]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب /باب فی النّهی عن التّجسّس (رقم-٤٨٨٩) واحمد فی المسند: ٦/٤

د حاکم او محکوم په مینځ کښې د ښه تعلقاتو طریقه: په دې ارشاد مبارک سره یوبین الاقوامی قانون طرف ته اشاره کړې شوې ده چه د ملك او ملت سالمیت او د قومونو فلاح اوبهبود اود حاکم اومحکوم په مینځ کښې د خو تعلقاتو دپاره ضروری دی چه د حاکم او رعایا په مینځ کښې مکمل اعتماد قائم وی هرحاکم له پکاردی چه هغه په غورسره په دې خبره سوچ اوکړی چه ده ته د خپل رعایا د پوره تائید ضرورت دې که یوتنګ نظر او کم ظرف حکمران د خپل رعیت باره کښې یوشان شك شبه کښې اخته وی اود رعایا وفادارئی او د هغوی نقل وحرکت باندې بدګمانی کوی او د درغو په الزاماتو باندې هسې هغوی تنګه وی نو په حقیقت کښې هغه هم خپله خپه په تبروهی اود خپل حکومت جرړې برې کوی اوس ښکه چه حاکم په کومه طریقه د رعیت یوه طبقه بغیرد څه وجې نه د بدګمانئی نښه جوړولو سره په جیلونو کښې اچوی نود عوامو مخالف جذبات اود شك شبې رجحانات به زیاتیږی او هم دغه د حکومت تباهی ده

[۳۷۰۹] د خلقو پټو رازونو معلومولو نقصان

۳۷۰۹-[۳۸] (¹) ۱ وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: ۲ «إِنَّكَ إِذَا اتَّبَعْتَ عَوْرَاتِ النَّاسِ أَفْسَدْتَهُمْ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: ۱ او حضرت معاویه رضی الله عنه وایې ۲ چې ما د رسول کریم ﷺ نه واوریدل هرکله چې تاسو د خلقو پټ عیبونه تلاش کوئ نو هغوی به په خرابۍ کې مبتلاء کړی (بیهقی)

حل اللغات: ① عَوْرَاتِ: پټ عیبونه

تسهیلات:

قوله: إِنَّكَ إِذَا اتَّبَعْتَ عَوْرَاتِ النَّاسِ أَفْسَدْتَهُمْ: عورات الناس، أي عيوبهم الخفية حکمرانانو ته خطاب دې چې تاسو درعایا عیبونه مه لټوئی . که تاسو دالټوی نو هغوئ به په بدی کښې اخته شی واضحه دې وی چې حدیث مبارك کښې بلاوجه بدګمانی او شك وشبهې نه منع فرمائیلې شوې ده ګنې د بدمعاشانو او مشکوکو خلقو نګرانی د حاکم په ذمه کښې داخل دی

[۳۷۱۰] د حق تلفي کونکي حاکمانو په ظلم د صبر کولو فضیلت

۳۷۱۰-[۳۹] (²) ۱ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ «كَيْفَ أَنْتُمْ وَأَئِمَّةٌ مِنْ بَعْدِي يَسْتَأْثِرُونَ بِهَذَا الْفَيْءِ؟ ۳ قُلْتُ: أَمَا وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ أَضَعُ سَيْفِي عَلَى عَاتِقِي، ثُمَّ أَضْرِبُ بِهِ حَتَّى أَلْقَاكَ ۴ قَالَ: أَوَلَا أَدُلُّكَ عَلَى خَيْرٍ مِنْ ذَلِكَ، تَصْبِرُ حَتَّى تَلْقَانِي». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی النّهی عن التّجسّس (رقم-۴۸۸۸)
²) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب السّنّة/باب فی قتل الخوارج(رقم-۴۷۵۹) واحمد فی المسند:۵/۱۸۰

ترجمه: ①او ابوذر ﷛ وايي رسول كريم ﷺ مونږ په مخاطب كولو سره وفرمايل ②زمانه وروسته به تاسو دحاكمانو او سردارانو سره هغه وخت څه سلوك كوئ هركله چې هغوی هغه فئ مال غنيمت ځان سره ساتي [آيا د صبر لار به اختيار وي يا د هغوی خلاف به توره اوچتوي] ③ماعرض اوكړو چې يارسول الله واورئ قسم دی په هغه ذات چې تاسو يې په حق سره پيغمبر راليږلو يئ زه به خپله توره په اوږه كيږدم او بيابه په دي وهل شروع كړم تردي چې په دي سبب ستاسو سره يوځای شم ④حضور ﷺ ورته وفرمايل آيا زه تاته دي توري پورته كولو نه ښه خبره ونه ښايم نو واوره ته هغه وخت د صبر لار اختيار كړه تردي چې ته زماسره يوځای شي [ځكه چې د څه دنياوي حق تلف كيدو په صورت كې توري پورته كولو نه صبر كول او خاموش اوسيدل ښه هم دی او د دنيا د ځيزونو نه د بي رغبتی او زهد شايان شان هم دی.] (ابوداود)

حل اللغات: ①يَسْتَأْثِرُونَ: ترجيح به وركوی، ②الفَيْءِ: مفت مال، مال غنيمت. ③أَضَعُ: كيږدم. سَيْفِي: خپله توره، ④عَاتِقِي: په اوږه باندې، ⑤أَلْقَاكَ: چه تاسره ملاؤ شم

تسهيلات:

قوله: أَضَعُ سَيْفِي عَلَى عَاتِقِي:

د مذكوره جملې مطلب: يعنی په غاړه كښې به توره زوړندولوسره دهغه د وهلودپاره راوځم اوچه څوك ملاويږی دهغه سټ به الوزوم.

د مسلمانانو خپل مينځ كښې د جنګيدو په موقع د صحابۀ درې قسمه كردار: كله چه مسلمانان په خپل مينځ كښې جنګيږی او دا معلومه نه وی چه هغوی ولې جنګيږی نودداسې مواقع دپاره جدا جدا احاديث راغلی دی.

① هغه روايات په كومو كښې چه راغلی دی تاسو په كورونو كښې پټ شئی دننه لارشئی او توري ماتې كړئی. دحضرت ابوذر ﷛ هم دغه رائې ده اود صحابه كرامو يوه طبقه هم دغه طرف ته تللې ده.

② هغه روايات چې د اهل حق په حمايت كښې د جنګيدو حكم په كښې راغلې دي. د صحابه كرامو د يوې لوئی طبقې هم دغه نظريه وه.

③ هغه روايات په كومو كښې چې دا هدايت موجود دې كه چرې فتنه كورونوته راشی نو دفاع كوئی. په صحابه كرامو ﷡ كښې دحضرت عبدالله بن عمر ﷠ هم دغه رائې وه.

نودرې قسم روايات د دريو طبقو د خپل خپل مزاج مطابق قبول كړل. ليكن د حق د سرلوړئی دپاره په ميدان كښې راوتل د جمهور صحابه كرامو معمول دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۷۱۱] د عادل امام فضيلت

۳۷۱۱—[۵۰] ()[١] عَنْ عَائِشَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] «أَتَدْرُونَ مَنِ السَّابِقُونَ إِلَى ظِلِّ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ [٣] قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، [٤] قَالَ: الَّذِينَ إِذَا أُعْطُوا الْحَقَّ قَبِلُوهُ، [٥] وَإِذَا سُئِلُوهُ بَذَلُوهُ، [٦] وَحَكَمُوا لِلنَّاسِ كَحُكْمِهِمْ لِأَنْفُسِهِمْ».

ترجمه: [١] بي بي عائشه رضي الله عنها د رسول كريم ﷺ نه نقل كوي چې حضور ﷺ صحابه رضي الله عنهم ته وفرمايل [٢] تاسو ته معلومه ده چې د قيامت په ورځ به الله ﷻ د عرش يا د لطف وكرم سايه (سورې) طرف ته سبقت كونكي كوم خلق وي (يعنى د قيامت په ورځ به د ټولو نه مخكې كوم خلق د الله ﷻ عرش يا د هغه د فضل وكرم سايه (سورې) ته ځي) [٣] صحابه وکرامو عرض اوكړو الله او د هغه رسول ښه پوهيږي [٤] حضور ﷺ ورته وفرمايل سبقت وړونكي هغه خلق دي چې حق ورته وركړې شي نو هغه هغه قبلوي [٥] او كله چې د هغوى څخه د حق مطالبه كولى شي نو هغوى خلقو ته د هغوى حق وركوي [٦] او د خلقو حق كې هغه فيصله كوي كومه چې د خپل ذات په باره كې كوي

حل اللغات: ① أَتَدْرُونَ: آيا تاسو ته معلومه ده، ② السَّابِقُونَ: مخكښې كيدونكى. ③ ظِلِّ اللهِ: سيورې د الله لطف وكرم د الله تعالى ④ قَبِلُوهُ: قبلوى ئې. ⑤ بَذَلُوهُ: خرچ كوى ئې

تسهيلات:

قوله: السَّابِقُونَ:

د عادل حكمرانانو درې صفتونه: چونكه په دې حديث كښې وړاندې دوه درې خبرې ذكردى په هغې كښې د بعضې تعلق بغيرد څه واسطې دَ حكمرانانو سره دي او دَ بعضې تعلق بالواسطه هغوى سره دي په دې وجه دا حديث په باب الاماره كښې راوړلې شو او په عنوان كښې دَ عادل امام فضيلت عنوان اوترلې شو ګنى دَ السابقون په جمله كښې دَ عادل حكمران څه تخصيص نشته دي

① كله چې دهغوى په وړاندې دَ رعايا دَ ښيګړې اوبهترئى دَپاره څه حق خبره پيش كولې شي نوهغه ددې قبلولو سره په دې عمل كوى

② كله چې رعاياخپل حق غواړى نوهغه دوى تـه وركوى اودَهغوى پـه خيرښـيګړه او دَ ژوندضروريات پوره كولوكښې خرچ كوى او په هغې كښې بخل نه كوى.

③ چې هغوى دَ عدل انصاف او مساوات پـه تـول پـوره وى. هغـه چـه دَ خلقو متعلق څه

۱) اخرجه احمد في المسند: ۶/۶۷

فیصله کوی هم هغه فیصله دخپل خان باره کښي هم کوی کوم آرام راحت او سهولت چه د خپل خان دپاره خوښه وی هم هغه اصول د نورو دپاره هم خوښه وی داسي نه وی چه خپل امتیازات او قواعدئی جدا وی او دخلقو دپاره جدا وی بلکه دانصاف په تله کښي دواړه برابر اوپوره پوره وی نو دا بهترین حکمرانان دی

[۳۷۱۲] نبی علیه السلام ته د حاکمانو د ظلم ویره

[۵۱] (۱) وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: «ثَلَاثٌ أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي: الِاسْتِسْقَاءُ بِالْأَنْوَاءِ وَحَيْفُ السُّلْطَانِ وَتَكْذِيبٌ بِالْقَدَرِ».

ترجمه: او حضرت جابر رضی الله عنه وايي ما د رسول کريم ﷺ نه دا واو ريدل چي زه د خپل امت په حق کي ددرو خبرو نه ويريږم چي چرته هغه اختيارولو سره ګمراهي کي مبتلا نشي ① يو خو د سپوږمی چاند د منازلو د حساب نه باران غوښتل ② دويم د بادشاه دظلم کولو ③ او دريم تقدير دروغ کول يعنی دا عقيده ساتل چي تقدير الهي هيڅ څيز نه دی بلکه انسان څه فعل چي کوي هغه خپله د هغه خالق دی څنګه چي د جمعت قدريه مسلك دی

حل اللغات ① الِاسْتِسْقَاءُ: باران غوښتل. ② بِالْأَنْوَاءِ: داد نوء جمع ده. ستوري ③ حَيْفُ: ظلم وستم ④ تَكْذِيبٌ: دروغ ګڼړل. انکار کول ⑤ الْقَدَرِ: تقدير

تسهیلات:

قوله: الِاسْتِسْقَاءُ بِالْأَنْوَاءِ:

د الانواء د لفظ تحقيق: د چيتر ستوری ته وئيلي شی کوم چه په موسم د سپرلی کښي ښکاره کيږی راخی د کوم د وجي نه چه دعربو د جاهليت د عقيدي مطابق باران زيانيږی په نهايه ابن اثيرکښي ليکلی دی چه انواء د سپوږمنی ۲۸ منازل او برجونو نوم دي هره شپه سپوږمنی ددي نه په يو منزل کښي ورکوزيږی او په ۲۸ شپو کښي خپل منازل پوره کوی هم دغه وجه ده چه سپوږمنی په دوو شپو کښي غيبه وی

د انواء په باره کښي د عربو جاهلانه عقيده: بهرحال چه کله په مغرب کښي يومنزل او برج ډوبيږی نو هم هغه وخت په مشرق کښي يومنزل او برج راخيژی دعربو په جاهليت کښي خيال وو چه ددي سقوط او طلوع په زمانه کښي سخت بارانونه وی اسلام دا منع کړل ځکه چه د باران کيدل اونه کيدل دالله تعالی د قدرت په لاس کښي دی د يوستوری يا برج مثلاً سهيل ستوري يا سهيلی ستوري طرف ته نسبت کول د شرك سبب دي

(۱) اخرجه احمد فی المسند: ۹۰/۵

د حديث د بعضې جملو وضاحت:

① وَحَيْفُ السُّلْطَانِ: حيف ظلم او ستم ته وائي چنانچه د سلاطين ظلمونو دنيا پريشانه کړې ده

② وَتَكْذِيبٌ بِالْقَدَرِ: يعنى د تقدير انکار د دې تفصيل باب الايمان بالقدر کښې کتل پکار دى

د تکذيب بالقدر مطلب:

مشهوره مقوله ده «تعرف الاشياء باضدادها» يعنى څيزونه په خپل تضاد سره پيدندلې شى که تياره نه وه رڼا به چا نه پيژندله که خوشحالى نه وه غم به چا نه پيژندل، دغه شان دلته مونږ د ايمان بالقدر وضاحت کوو نو ددې څخه به تکذيب بالقدر په خپله معلوم شى

شرح السنه کښې ليکلى دى چه په تقدير باندې ايمان راوړل فرض دى او هغه دا سې چه بنده دا عقيده اوساتى چه الله تعالى د بنديګانو د افعالو خالق دې که هغه عمل د خير وى اوکه د شر وى اودا هرڅه د بنديګانو د پيدائش نه مخکښې الله تعالى په لوح محفوظ کښې ليکلى دى اوس چه کوم څه ظاهريږى ټول د الله تعالى فيصلې او ارادې سره کيږى خو الله تعالى په کفر باندې خفه کيږى. په دې وجه ئى د کفر او معصيت د پاره د سزا وعده کړې ده او په ايمان او طاعت باندې ئي د ثواب وعده کړې ده

[۲۷۱۲] ابوذر رضى الله عنه ته د يو څو خبرو وصيت

[۵۲] (۱) ① وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «سِتَّةَ أَيَّامٍ ② اعْقِلْ يَا أَبَا ذَرٍّ مَا يُقَالُ لَكَ بَعْدُ ③ فَلَمَّا كَانَ الْيَوْمُ السَّابِعُ قَالَ أُوصِيكَ بِتَقْوَى اللهِ فِي سِرِّ أَمْرِكَ وَعَلَانِيَتِهِ ④ وَإِذَا أَسَأْتَ فَأَحْسِنْ ⑤ وَلَا تَسْأَلَنَّ أَحَدًا شَيْئًا وَإِنْ سَقَطَ سَوْطُكَ ⑥ وَلَا تَقْبِضْ أَمَانَةً ⑦ وَلَا تَقْضِ بَيْنَ اثْنَيْنِ».

ترجمه: ① او ابوذر رضی الله عنه وايي چې رسول کريم صلی الله علیه وسلم شپږ ورځو پورې ماته دا وئيل ② اې ابوذر، وروسته چې کومه خبره تاته کيدونکي ده د هغه د پاره تيار اوسه [يعنی حضور صلی الله علیه وسلم شپږ ورځو پورې زه آګاه کولم چې زه به تاته يو هدايت کوم ته په هغه غور کوه او هغه ياد ساته او په هغه عمل کوه] ③ هرکله چې اومه ورځ شوه نو حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل زه تاته وصيت کوم چې ظاهر او باطن کې الله پاك نه ويريږه ④ هرکله چې ستا نه بدى وشي نو نيکي هم ورسره وکړه اخکه چې نيکي بدي رژه وي يا دا مقصد دى که ته د چاسره سراب سلوك وکى نو د هغه سره د نيکي سلوك هم وکړه ⑤ د چا په مخلوق کې د سوال لاس مه غزوه اګر چې ستا چابک راغورځيدلى وي ايعنى که په سورلى سور يې اوچابک درنه وغورځيږي نو د هغه د پورته کولو د پاره هم چاته مه وايه په خپله را کوز شه پورته يې

(۱) اخرجه احمد في المسند: ۵/۱۷۲

کړه! [٦] د چا امانت د ځان سره مه ایږده [٧] او د دوو سړو په مینځ کې حکم مه جوړیږه.

حل اللغات: ①اعْقِلْ: عقل نه کار واخله. غور اوکړه ②لِی بِرِ أَمْرِكَ: خپل پټ کار. باطن ③أَتَاكَ: چه ستانه څه بدی اوشی، گناه اوشی ④سَقَطَ: اوغورزیږی، ⑤سُوطُكَ: چابک.

تسهيلات:

د حديث د بعضي جملو وضاحت: ① سِتَّةَ أَيَّامٍ: دا ظرف واقع دې دَ قال دپاره یعنی دَ شپږو ورځونه پوشان نبی کریم ماته فرمائیل چه اې ابوذر!.روستو چه کومه خبره کیږی هغه په غورسره واوْره او ښه ئی یاده کړه او په دې عمل اوکړه.

② اعْقِلْ يَاأَبَاذَرٍّ داهم دغه قال مقوله ده په مینځ کښې ظرف واقع وو

③ وَلَا تَقْبِضْ أَمَانَةً: یعنی دَ چاامانت ځان سره مه ایږده ځکه چه په نفس باندې یقین نشته دې اودَ حالاتو اندازه نشته دې.

④ وَلَا تَقْضِ بَيْنَ اثْنَيْنِ: یعنی دَ دوو کسانو په مینځ کښې فیصله مه کوه. دَ دوو دَ قضا نه چه کله منع کړې شو نودَ زیاتو نه په طریقه اولی منع ده یعنی په دوو باندې هم قاضی مه جوړیږه. دنبی کریم دا حکم دَ ابوذر ﷺ خصوصی معروضی حالت دَ وجې نه وو چه ته دا کار مه کوه نور پریږده.

ابوذر ته د نبي کريم ﷺ پنځه وصيتونه: حضرت ابوذرغفاری ﷺ ته ئی دا پنځه خبرې اوخودلې

① تقوی اختیارکړه ② گناه پسې زر نیکی کوه ③ چانه څه مه غواړه

④ دَ چا امانت ځان سره مه ایږده ⑤ دَدوو کسانو په مینځ کښې قضا مه کوه یعنی دهغوی قاضی اوحکم مه جوړیږه

[۳۷۱٤] د يو حکمران د حکومت درې تدريجي مرحلې

٣٥٠٣-[٥٣] (١) [١] عَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ قَالَ: [٢] «مَا مِنْ رَجُلٍ يَلِي أَمْرَ عَشَرَةٍ فَمَا فَوْقَ ذَلِكَ [٣] إِلَّا أَتَاهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ مَغْلُولًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَدُهُ إِلَى عُنُقِهِ [٤] فَكَّهُ بِرُّهُ، [٥] أَوْ أَوْبَقَهُ إِثْمُهُ [٦] أَوَّلُهَا مَلَامَةٌ وَأَوْسَطُهَا نَدَامَةٌ وَآخِرُهَا خِزْيٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ».

ترجمه: [١] او ابو امامه ﷺ د نبي کريم ﷺ نه نقل کوي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [٢] کوم سړی چې د لس سړو یا د لسو نه هم د زیاتو خلقو حکمراني قبوله کړه [٣] الله ﷻ به هغه دقیامت په ورځ داسې طوق کې نختي حاضر کړي [یعني میدان حشر کې به راپاڅیږي] چې د هغه لاس به د هغه په څټ کې نختي وي [٤] تردې چې یا خو د هغه نیکي

---

(١) اخرجه احمد فی المسند: ٢٦٧/٥

هغه خلاص کړي [یعنی که هغه په دنیا کې خپل زیر دستو سره د عدل او انصاف معامله او حسنِ سلوك کړي وي نو دا به د هغه د نجات باعث شي] ⑤یا د هغه ګناه [یعنی خپل زیر دستو باندې د هغه شوی ظلم وغیره به هغه هلاکت عذاب کې مبتلا کړي] ⑥یاد لړئ د سرداري او حکمرانی ابتداء ملامت دی د دې مینځ پښیماني او ندامت دی او د دې آخر د قیامت په ورځ ذلت او رسوایي ده

حل اللغات: ①بَلِيَ: قبوله ئې کړه. ②مَغْلُولًا: غُلّ نه. د مرئ طوق. ③فَكَّهُ: آزاد او خلاص به ئې کړي. ④بِرُّهُ: نیکی. نیک سلوک دده. ⑤أَوْبَقَهُ: هلاک به ئې کړي. هلاکت ته به ئې اوغورزوی. ⑥إِثْمُهُ: ګناه او بد سلوکئ دده. ⑦مَلَامَةٌ: ملامتیا. ⑧نَدَامَةٌ: خپیمانتیا. ⑨خِزْيٌ: شرمندګی. رسوائی

تسهیلات:

قوله: إِلَّا أَتَاهُ اللهُ عَزَّوَجَلَّ مَغْلُولًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

د دنیاوی بادشاهانو په هتکړو کښې حاضری: یعنی هرقسم بادشاه به دَ الله تعالی په وړاندې په زنځیرونو کښې تړلې شوې او دَ لاسونو نه تړلې شوې راځی بیا که چرې عدل اوانصاف ئې کړې وی نوعدالت به هغه خلاص کړی ګنی په تړلولاسونوبه دوزخ کښې اچولې شی

قوله: أَوَّلُهَا مَلَامَةٌ:

د حکومت درې مراحل او د هغې وضاحت: ① **د خلقو الزامات و اعتراضات**: یعنی دَ حکومت ړومبې مرحله دَ خلقودَ الزاماتو اوریدل دی دَ اخوا نه اعتراض دیخوانه اعتراض چه په ناجائزه طریقه باندې حکومت کښې راغلې دې په غله دروازه راغلې دې دهوکې اوفریب سره راغلې دې رشوت ورکولوسره راغلې دې نااهل دې

② **ذمه واریانې**: کله چه دَ الزاماتو مرحله تیره شی نودې پسې دَ حکومت دَ ذمه وارو مرحله راځی ځکه چه

حاکم عاجزخو محنتونه مشقتونه کوی لیکن دَ رعایا مسئله نه حل کیږی نو زړه ئې موړشی په سوچ کولوشروع شی ځکه چه حکمران جوړشوې وی آخر زه په پخپله دې مصیبت کښې ولې دوب شوم دادَ ملامتیا مینځمې درجه ده دَ کوم طرف ته چه په حدیث کښې واوسطهاندامه سره اشاره کړې شوې ده

③ **رسوائی**: دَ رسوایئی ده په دنیاکښې هم او په آخرت کښې هم رسوائی ده. دَ آخرت دَ رسوایئی منظر خو هم په دې حدیث کښې مغلولاً لفظ نه واضح شوې ده او په دنیاکښې هم کله معزول کولې شی کله وژلې شی کله پهانسی کولې شی کله راګیرولې شی کله دَ ملك نه شړلې شی او دَ سمندرنه پورې غاړه چرته په جزیروکښې سروهلې بروهلې ګرځی

[٣٧١٥] د حضرت معاويه رضي الله عنه په حق کښې د حضور ﷺ پيشن ګويي

٣٧١٥-[٥٣] ( ) [١] وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «يَا مُعَاوِيَةُ إِنْ وُلِّيتَ أَمْرًا فَاتَّقِ اللّٰهَ وَاعْدِلْ [٣] قَالَ: فَمَا زِلْتُ أَظُنُّ أَنِّي مُبْتَلًى بِعَمَلٍ لِقَوْلِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حَتَّى ابْتُلِيتُ».

ترجمه: [١] او امير معاويه رضي الله عنه وايي يوه ورځ رسول الله ﷺ ماته وفرمايل [٢] اې معاويه! که ته څه کار يا څه ځاى کې امير او حاکم جوړ شي نو د امورِ حکومت پوره کولو کې الله ﷻ نه ويره کوه او عدل او انصاف د لاس نه مه پريږده [٣] حضرت معاويه رضي الله عنه وايي دا خيال مي برابر کوى چې د حضور ﷺ د فرمان په موجب به زه په څه کار [يعنى امارت او سرداري] کې مبتلا شم تردي چې زه مبتلا شوم [يعنى د حضور ﷺ فرمايل صحيح شو، او امارت او سرداري ماته نصيب شوه]

حل اللغات ① وُلِّيتَ: حکمراني درته اوسپارلې شي. حکمران جوړکړې شي. ② فَمَا زِلْتُ: هميشه به ووم. هر وخت به مې دا خيال وو. ③ مُبْتَلًى: چه مبتلا به شم.

تسهيلات:

قوله يَا مُعَاوِيَةُ إِنْ وُلِّيتَ أَمْرًا فَاتَّقِ اللّٰهَ وَاعْدِلْ:

د حديث څخه معلومې شوې فائدې:

① نبى عليه السلام په خصوصيت سره معاويه رضى الله عنه ته خطاب کړې دې اودا ورته وائى که چرته تا ته حکمرانى ملاؤ شوه نو دالله تعالى څخه ويريږه او انصاف کوه اودا سې اوشوه چې حضرت معاويه رضى الله عنه د اسلامى رياست د بل چا د شراکت څخه بغير حکمران شو نو دا د نبى عليه السلام پيشن ګوئى شوه

② د معاويه رضى الله عنه د نبى عليه السلام په قول باندې يقين وو چې ماته به الله تعالى حکمرانى راکوى اوزه به په امتحان کښې اخته کيږم ما ته به پکار وى چې د نبى عليه السلام په وصيت باندې عمل اوکړم

[٣٧١٦] د ماشومانو يعنى د بيوقوفانو د حکمرانى څخه پناه غوښتل

٣٧١٦-[٥٥] ( ) [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «تَعَوَّذُوا بِاللّٰهِ مِنْ رَأْسِ السَّبْعِينَ وَإِمَارَةِ الصِّبْيَانِ». [٣] رَوَى الْأَحَادِيثَ السِّتَّةَ أَحْمَدُ وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ حَدِيثَ مُعَاوِيَةَ فِي دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ.

ترجمه: [١] او ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [٢] د اويا کالو د ابتداء نه او د بچو د حکومت نه د الله پناه غوارئ [٣] مذکوره بالاشپږ حديثونه امام احمد رحمه الله او د امير معاويه رضي الله عنه روايت بيهقي هم دلائل النبوة کې نقل کړي دى د اويا ٧٠ کالو د ابتداء

) اخرجه البيهقى فى دلائل النبوة

) اخرجه احمد فى المسند: ٣٢٦/٢

نه مراد د سنه هجري اووم دهايي اوومه لسيزه ده چې د هغه ابتداء سنه ۶۱ هـ نه كيږي د سنه ۶۰ هـ په آخركي د حضرت معاويه ﷺ دور حكومت د هغوى په وفات ختم شو

حل اللغات ①رَأْسِ السَّبْعِينَ: د اويا كالو ابتداء. ②إِمَارَةِ: حكومت. الصِّبْيَانِ: جمع د صبي، ماشومان

تسهيلات:

قوله تَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنْ رَأْسِ السَّبْعِينَ:

د راس السبعين او امارة الصبيان مصداق: دَ اوياؤكالو شروع دَ ۶۱هجرى نه كيږى اودَ ۶۰هجرى په آخره كښې دَ حضرت معاويه ﷺ دور حكومت دهغوى په وفات باندې ختم شو اودَ يزيد دَ حكومت شروع اوشوه. او دې سره دَ صحابه كرامو ﷺ دَ مبارك حكومت سورې دَ دنيا نه اوچت شو اودَ انتشار او فساد دور شروع شو يزيد درې كاله اواته مياشتې حكومت كولوسره دَدنيانه لاړو. دهغه دَ غټوغټو مكروه كارونونه يوه خرابه واقعه دَ كربلا واقعه ده. په كوم كښې چه سيدناحضرت امام حسين ﷺ شهيدكړې شو.

قوله وَإِمَارَةِ الصِّبْيَانِ دَ يزيدنه پس دَ حكومت واكې دَ بنوسفيان خاندان نه اووتل دَ مروان په لاس كښې راغلو. په حديث كښې هم دادَ بنومروان حكومت ته دَ ماشومانو حكومت سره تعبيركړې شوې دې. په يو روايت كښې دى چه نبى كريم په خوب كښې اوليدل چه دَنبى كريم په منبرباندې دَ بنومروان ماشومان لوبې كوى. دَ حجاج بن يوسف ټول ظلمونه اودَ وليد فاسق حكومت آخركوم يوظلم پريخودو اودَ نه كولوكوم يوكار ئې اونه كړو. دَ بنومروان په دورحكومت كښې بيشكه چه دَ دين اسلام ترقى هم اوشوه اوجهاددهم زيات كړې شو خو چه په هغوى كښې كوم يوڅو ظالمان راغلل هغوى دَ دنيانقشه ګنده كړه افسوس په دې خبره باندې دې چه د امام حسين ﷺ په موجودګئى كښې يزيد اودَ حضرت عبدالله بن زبير ﷺ په موجودګئى كښې حجاج بن يوسف دَ كرسئى دَپاره دوى سره جنګيده

[۲۷۱۷] د رعاياؤ د اعمالو مطابق حكمران راتلل

۳۷۱۷–[۵۶] ( ) ①وَعَنْ يَحْيَى بْنِ هَاشِمٍ عَنْ يُونُسَ بْنِ أَبِي إِسْحَاقَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ②«كَمَا تَكُونُونَ كَذَلِكَ يُؤَمَّرُ عَلَيْكُمْ».

ترجمه: ①او يحيى بن هاشم د يونس ابن اسحاق نه او هغه د خپل پلار نه نقل كوي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ②څنګه چې تاسو يئ هغه شان به په تاسو حكمرانان مقرريږي.

حل اللغات: ①يُؤَمَّرُ: اميران. حاكمان به درباندې مقرر كولې شي.

( ) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۳۷۹۲

تسهيلات:

قوله: كَذٰلِكَ يُؤَمَّرُ عَلَيْكُمْ:

داعمالو مطابق د حكمرانو تسلط: مطلب دادي چه حكمرانان هم دَدې معاشرې پيداواروى كه چرې معاشره خرابه وى نو خراب حكمرانان به راځى اوكه چرې معاشره ښه وى نو ښه حكمرانان به پيداكيږى دَ اردو محاوره ده (جیسے روح ویسے فرشتے) چه څنګه روح وى هم هغه شان فرښتې به راځى اولكه چه په يوبل حديث كښې راغلى دى "اعمالكم عمالكم".

[۲۷۱۸] د عادل باشاده دالله د سيورى سره تشبيه

۳۷۱۸-[۵۷] (۱) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «إِنَّ السُّلْطَانَ ظِلُّ اللّٰهِ فِي الْأَرْضِ، [۳] يَأْوِي إِلَيْهِ كُلُّ مَظْلُومٍ مِنْ عِبَادِهِ، [۴] فَإِذَا عَدَلَ: كَانَ لَهُ الْأَجْرُ وَعَلَى الرَّعِيَّةِ الشُّكْرُ، [۵] وَإِذَا جَارَ كَانَ عَلَيْهِ الْإِصْرُ وَعَلَى الرَّعِيَّةِ الصَّبْرُ».

ترجمه: [۱] او ابن عمر ﷺ وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] بادشاه د زمكي په مخ د الله سورى دى [۳] چې د هغه لاندې د الله ﷻ بنده ګانو كې مظلوم بنده پناه حاصلوي [۴] هركله چې بادشاه عدل او انصاف كوي نو هغه ته ثواب حاصليږي او رعايا باندې د هغه شكر واجب كيږي [۵] او هركله چې هغه ظلم او طغياني كوي نو هغه ګنهګاريږي او رعايا (رعيت) باندې صبر لازميږي.

حل اللغات: ① ظِلُّ اللّٰهِ: د الله سيورى، (لطف وكرم). ② يَأْوِي: پناه حاصلوى. ③ الرَّعِيَّةِ: رعايا، ماتحت. ④ جَارَ: چه ظلم اوكړى. ⑤ الْإِصْرُ: وبال، بوج.

تسهيلات: قوله: إِنَّ السُّلْطَانَ ظِلُّ اللّٰهِ:

د ظل الله مفهوم: لكه څنګه چه دَ يوڅيز سورې دَنمر ګرمى رامنع كوى اودَالله تعالى مخلوق دَ تكليف رسيدو نه منع كوى هم دغه شان بادشاه دَخپل رعيت خلق دَمختلف قسم تكليفونو او سختودَ رسيدونه منع كوى دَ انما الامام جنة چه كوم مفهوم دې هم هغه مفهوم دَدې حديث هم دې "ظل الله" كښې اضافت تشريفيه دې

[۳۷۱۹] د نرم خويه امير لويه مرتبه

۳۷۱۹-[۵۸] (۲) [۱] وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «إِنَّ أَفْضَلَ عِبَادِ اللّٰهِ عِنْدَ اللّٰهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ: إِمَامٌ عَادِلٌ رَفِيقٌ، [۳] وَإِنَّ شَرَّ النَّاسِ عِنْدَ اللّٰهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِمَامٌ جَائِرٌ خَرِقٌ».

(۱) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۷۳۶۹
(۲) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۷۳۷۱

ترجمه: [۱] او حضرت عمر ابن خطاب رضي الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲] د قيامت په ورځ به د الله ﷻ په نزد په بنديانو کې د بلندي مرتبې د اعتبار نه د ټولو نه ښه شرى هغه وي کوم چې عادل اونرمي کونکى حاکم وي [۳] او د قيامت په ورځ به د الله ﷻ په نزد بنديانو کې د مرتبې د اعتبار نه د ټولو نه بدتر هغه سړى وي کوم چې ظالم او سختي کونکى حاکم وي

حل اللغات: ① رَفِيقٌ: نرمي، مهرباني. ② جَائِرٌ: ظالم. ③ خَرِقٌ: سختی کونکې

تسهيلات:

قوله: وَإِنَّ شَرَّ النَّاسِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ: ملا على قارى رحمه الله فرمائی چې د حديث په ړومبي جمله کښې افضل عباد الله ذکر شو ، او په دويمه حصه کښې شرالناس ذکر شو ددې وجه داده چې عبادالله،شرالناس دا د واړاه د مقابلې تقاضا کوى خکه چې عبادالله خو هغه خلق دی کوم چې د الله ﷻ اطاعت کوی او ددې په مقابله کښې چې کوم شرالناس دی هغوئ د شر په اعتبار سره ډير مخکښې دی يا د شرالناس په ذکر کښې يوه دقيقې نکتې طرفته اشاره کول مقصود دی چې کوم خلق د الله ﷻ اطاعت او فرمان بردارى کوی نو هغه د الله ﷻ بهترين بندگان دی. ليکن کوم خلق چې بدی کوی نو دوی بدی به د خلقو سره وی نو په دې وجه ئې په بدو معاملاتو کښې د شر نسبت خلقو طرفته اوکړو والله اعلم (مرقاة ج/۷ص/۲۳۰).

[۳۷۲۰] مسلمان لره په ويره کښې داچولو وعيد

۳۷۲۰-[۵۹] () [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «مَنْ نَظَرَ إِلَى أَخِيهِ نَظْرَةً يُخِيفُهُ [۳] أَخَافَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». [۴] رَوَى الأَحَادِيثَ الأَرْبَعَةَ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الإِيمَانِ [۵] وَقَالَ فِي حَدِيثِ يَحْيَى: هَذَا مُنْقَطِعٌ وَرِوَايَتُهُ ضَعِيفٌ.

ترجمه: [۱] او عبدالله ابن عمر رضي الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړی چې خپل مسلمان ورورته ويرونکی نظر سره وګوري [۳] نو د قيامت په ورځ به الله ﷻ هغه بيروي [۴] مذکوره څلور روايتونه بيهقي رحمه الله شعب الايمان کې نقل کړي دی [۵] او د يحيى ابن هاشم دروايت په باره کې ويلي دي چې دامنقطع قطع دی اوديحيى روايت ضعيف ګڼل کيږي.

حل اللغات: ① نَظْرَةً: په داسې نظر سره. ② يُخِيفُهُ: چه اوبيروی هغه.

[1]) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۷۴۶۸

تسهيلات:

قوله يُخِيفُهُ أَخَافَهُ اللّٰهُ:

د حديث د ترجمه الباب سره مناسبت: داحديث په دې باب کښې دَ راوړلومقصد دادې چه کله د قتل نه بغير دَيو مسلمان ويرول او دړهکه کول دومره لويه گناه ده نو دَدې نه تجاوز کولو سره دَهغه قتل کول به څومره لوئې جرم وی

[٣٧٢١] د الله تعالی تابعداری د بادشاهانو د نرمی سبب

٣٧٢١—[٢٠] ()[١] وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «إِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى يَقُولُ: أَنَا اللّٰهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنَا [٣] مَالِكُ الْمُلُوكِ، [٤] وَمَلِكُ الْمُلُوكِ، [٥] قُلُوبُ الْمُلُوكِ فِي يَدِي، [٦] وَإِنَّ الْعِبَادَ إِذَا أَطَاعُونِي، [٧] حَوَّلْتُ قُلُوبَ مُلُوكِهِمْ عَلَيْهِمْ بِالرَّحْمَةِ وَالرَّأْفَةِ،

ترجمه: [١] او ابو درداء رضي الله عنه وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [٢] الله جل جلاله حديث قدسي كې ارشاد فرمايي زه الله يم څما نه ماسوا بل معبود نشته [٣] زه د بادشاهانو مالك [٤] او د بادشاهانو بادشاه يم [٥] د بادشاهانو زړونه څما په لاس ايعني څما په قبضه قدرت كې دی! [٦] هركله چې څما اكثره بندګان زما اطاعت او فرمانبرداري كوي [٧] نو زه د هغوی په حق كې د بادشاهانو زړونه رحمت او مهرباني طرفته ګرځوم

حل اللغات: ① مَالِكُ الْمُلُوكِ: دبادشاهانو مالک، ② مَلِكُ الْمُلُوكِ: دبادشاهانو بادشاه. ③ قُلُوبُ الْمُلُوكِ: زړونه د بادشاهانو. ④ حَوَّلْتُ: زه راګرځوم. ⑤ الرَّأْفَةِ: رحمت. نرمي. مهرباني

[١] وَإِنَّ الْعِبَادَ إِذَا عَصَوْنِي حَوَّلْتُ قُلُوبَهُمْ بِالسُّخْطَةِ وَالنِّقْمَةِ [٢] فَسَامُوهُمْ سُوءَ الْعَذَابِ [٣] فَلَا تَشْغَلُوا أَنْفُسَكُمْ بِالدُّعَاءِ عَلَى الْمُلُوكِ [٤] وَلَكِنِ اشْغَلُوا أَنْفُسَكُمْ بِالذِّكْرِ وَالتَّضَرُّعِ [٥] كَيْ أَكْفِيَكُمْ مُلُوكَكُمْ». رَوَاهُ أَبُو نُعَيْمٍ فِي الْحِلْيَةِ.

ترجمه: [١] او چې هركله بندګان زما نافرماني كوي نو زه د عادل او نرم خويه بادشاهانو زړونه غضبناكي او سخت ګيري طرفته ګرځوم [٢] د هغه نتيجه داشي چې هغه بادشاه هغوی په سختو سزاګانو كې مبتلا كوي [٣] څكه په داسې صورت كې تاسو خپل څانونه دهغه بادشاهانو د پاره بددعاء كولو كې مه مشغولوئ [٤] بلكه زما بارګاه كې تضرع او زاری كولو سره خپل څان څما ذكر كې مشغول كی [٥] چې زه تاسو د هغه بادشاهانو د شر نه وساتم [دا روايت ابو نعيم خپل كتاب حلية الاولياء كې نقل كړي دی]

حل اللغات: ⑥ السُّخْطَةِ: ناراضګی. غضب. ⑦ النِّقْمَةِ: سختی. غصه. ⑧ فَسَامُوا: راګيروی. مبتلا كوی. ⑨ الدُّعَاءِ عَلَى الْمُلُوكِ: بادشاهانو ته بد دعا او خيري كول

() ابو في الحلية ٢/ ٣٨٩

تسهيلات:

قوله: حَوِّلَتْ قُلُوبَ مُلُوكِهِمْ عَلَيْهِمْ بِالرَّحْمَةِ:

د حکمران طبقې د په والې فسخه: يعنى دَ بادشاهانو زړونه زما په لاس کښې دى که چرې تاسو صحيح پاتې شوئى نو زه به دا صحيح کړم اوکه چرې تاسو صحيح نه شوئى نو زه به دَهغوى زړونه سخت کړم بيا به هغوى تاسوته سختې سزاګانې درکوى لهذا تاسو زما اطاعت کوئى او په ذکراوفکرکښې اخته اوسئى زه به ستاسو دَطرف نه دَهغوى دَپاره کافى شم يعنى دَ هغوى دَ شرارت نه به تاسو محفوظ اوساتم

[۱] بَابُ مَا عَلَى الْوُلَاةِ مِنَ التَّيْسِيرِ

په حاکمانو باندې دَ نرمئ د وجوب بيان

خلاصة الباب:

فيه تسعة أحاديث مشتملة على ثلاث مسائل:

① الأمربالتيسير: ۱، ۲، ۳.

② الزجر للغادر: ۴، ۵، ۶.

③ النهي عن احتجاب الأميرعن الناس: ۷، ۸، ۹.

د دينِ اسلام مزاج: دَدين اسلام دا مزاج دې چه هغه دَ انسانانومعاملات او حقوق کښې طرفين يوبل ته نيزدې کوى اسلام دَ دواړوطرفو خلقو دَ حقوقودَ ادائيګى احساس ورکوى اسلام که چرې ماموريته نصيحت کوى نو هلته امراء ته هم نصيحت کوى چنانچه دې نه وړاندې احاديثوکښې زيات نصيحت رعايانه وو چه دَ خپلوحاکمانو اطاعت کوئى اوس حاکمانوته نصيحت کولې شى چه تاسو نرمى کوئى او په رعاياباندې شفقت کوئى اودَهرقسم آسانئى ورکوئى

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳۷۲۲] حکمران ته د نرمئ اختيارولو حکم

۳۷۲۲-[۱] (¹) [۱] عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] إِذَا بَعَثَ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِهِ فِي بَعْضِ أَمْرِهِ [۳] قَالَ: «بَشِّرُوا وَلَا تُنَفِّرُوا وَيَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابو موسى رضي الله عنه وايي [۲] چې رسول کريم ﷺ چې به کله خپل يوصحابي رضي الله عنه څه

---

¹) اخرجه مسلم فى كتاب الجهاد والسير/باب فى الأمر بالتيسير. وترک التنفير (رقم ۶ - (۱۷۳۲) و ابو داود فى كتاب الأدب/باب فى كراهية المراء (رقم ۴۸۳۵) واحمد فى المسند: ۴/۳۹۹

کار باندې مامور کولي ایعنی د یوځای حاکم جوړولو سره لیږلو نو هغه ته به یې داهدایت کوی! [۲]چې خلقوته په طاعاتو او عباداتو او نیك کار کولو باندې د اجر او ثواب خوشخبري ورکوي او هغوی په گناهونو د الله ﷻ د عذاب نه دومره زیات مه بیروئ چې هغوی د رحمت خداوندي نه نا امیده شي او د خلقو سره د آساني سلوك کوئ ایعنی هغوی نه د زکوة وغیره وصولولو کې د نرمي او آسانی طریقه اختیاروي او د خلقو نه د زکوٰة وغیره مال واجب مقدار نه زیات وصولولو سره هغوی په تکلیف او تنګی کې مه مبتلا کوئ ! (بخاري مسلم)

حل اللغات: ①بَشِّرُوا: خوشخبری ورکوئ. ②لَاتُنَفِّرُوا: نفرت مه پیدا کوئ. ③يَسِّرُوا: آسانی پیدا کوئ. ④لَاتُعَسِّرُوا: سختی، تنګی مه پیدا کوئ.

تسهیلات:

قوله: **في بعض أمره** یعنی د حکومت کارونو دپاره به ئې یو مامور لیږلو

قوله: **بشروا** په دې کښې دوه احتماله دی ① دا خطاب هغه خاص صحابی ته دې کوم چې ئې کار دپاره لیږلو. ② په دې کښې عموم دې ، مطلب دادې چې خلقو ته دهغوئ په سابقه گناهونو د توبې او په نیکو عملونو باندې د الله ﷻ د بخشش او رحمت زیرې ورکړئ علامه طیبی رحمه الله فرمائی چې دا مقابله د معنویه د قبیل نه ده . داسې وئیل پکار وو چې : (بشروا ولا تنذروا استأنسوا ولا تنفروا)

قوله: **ولا تنفروا، أي لا تخوفهم بالمبالغة في إنذارهم** یعنی دوئ دگناهونو په رانیولو باندې دومره مه ویروه چې دوئ د الله ﷻ د رحمت نه مایوسه شی او اسلام نه ئې نفرت پیدا شی د إنذار والا آیتونو او حدیث الباب کښې هیڅ تعارض نشته دې. انذار والا آیتونو کښې خلق ویرولې شی او د الله ﷻ درته کړئی د راباللو حکم ورکړې شوې دې. او په حدیث الباب کښې د مایوسه کولو او متنفر کولو نه منع کړې شوې ده

قوله: **ویسروا، أي سهلوا عليهم الأمور من أخذ الزكاة باللطف بهم** یعنی ډیر په آسانی سره مسلمانان د صوم وصلوة پابند جوړ کړئی ، او د زکوة او صدقاتو په اخستلو کښې ورسره نرمی اختیار کړئی

قوله: **ولا تعسروا، أي بالصعوبة عليهم بأن تأخذوا أكثر مما يجب عليهم أو أحسن منه أو بتتبع عوراتهم وتجسس حالاتهم** دوئ سره سختی مه کوئی چې په دوئ باندې څومره زکوة وغیره واجب دې چې دهغې نه ترینه زیات واخلی. یا ددوئ د مال نه ښه او ښائسته مال مه اخلی. او ددوئ عیبونو مه لټوئ او ددوئ د حالاتو تجسس مه کوئی. (مرقاة: ج۷/ص/۲۳۳)

[۳۷۲۳] د سانتیا پیدا کولو ترغیب

۳۷۲۳ـ[۲] (۱) ①وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②«يَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا ③وَسَكِّنُوا وَلَا تُنَفِّرُوا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①او حضرت انس ﷺ وايي چې رسول کريم ﷺ حاکمانو او عاملانو د پاره وفرمايل ②د خلقو سره د آسانۍ سلوك کوئ هغوی په مشکلاتو او سختو کې مه مبتلا کوئ ③هغوی ته د الله ﷻ د نعمتونو د خوش خبرئ په ذريعه تسکين او تسلي ورکوئ او هغوی د الله د عذاب نه [د ډير زيات بيرولو په ذريعه سره يا هغوی باندې داسې گران او سخت بوج اچولو سره چې هغوی د الله په نافرماني مجبوره کړئ] نفرت او خوف کې مه مبتلا کوئ (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ①وَسَكِّنُوا: تسکين، تسلي ورکوئ.

تسهيلات:

قوله: وسكنوا: دکاف په تشديد سره، (أمر من التسكين، أى سكنوهم بالبشارة والطاعة) يعنې اسلام کښې خلقو ته آسانۍ او فضائل بيانوئ او خلقو ته اطمينان ورکړئ او پخپله هم رينښتوني او مضبوط ايمان والا جوړ شئ. داشان دې حديث پاك کښې حکمرانانو ته هم خطاب دې چې خپل اعمال درست کړئ (الناس على دين ملوكهم) ددې پيش نظر به رعايا په خپله درست شي.

قوله: لاتنفروا: صاحب نهايه ددې معنی ليکی چې دوئ په داسې ځيزونو مه مکلف کوئ چې دوئ کښې نفرت پيدا شي.

[۳۷۲۴] حضرت معاذ ﷺ ته د رسول الله ﷺ نصيحت

۳۷۲۴ـ[۳] (۲) ①وَعَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ: ②«بَعَثَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - جَدَّهُ أَبَا مُوسَى وَمُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ: ③فَقَالَ: يَسِّرَا وَلَا تُعَسِّرَا، ④وَبَشِّرَا وَلَا تُنَفِّرَا، ⑤وَتَطَاوَعَا وَلَا تَخْتَلِفَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①او ابوبرده ﷺ نه روايت دی ②چې رسول کريم ﷺ د هغه نيکه يعنې ابوموسی اشعري ﷺ او معاذ ﷺ يمن ته وليږل ③او هغوی ته يي وفرمايل د خلقوسره د آسانۍ سلوك کوئ مشکلاتو او سختو کې يې مه مبتلا کوئ ④خوشخبري ورته اوروئ خوف او نا اميدي کې يې مه مبتلا کوئ ⑤په خپل مينځ کې په اتفاق او اتحاد سره کار کوئ او په خپل مينځ کې اختلاف مه کوئ (بخاري مسلم)

حل اللغات: ①تَطَاوَعَا: خپل مينځ کښې اتفاق او اتحاد ساتئ. ②لَا تَخْتَلِفَا: اختلاف مه کوئ

¹) اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب قول النبيّ صلّى الله عليه وسلّم: «يسّروا ولا تعسّروا»(رقم-۶۱۲۵) ومسلم فی کتاب الجهاد والسّير/باب فی الأمر بالتّيسير. وترک التّنفير (رقم-۸ - (۱۷۳٤))واحمد فی المسند:۱۳۱/۳

²) اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب قول النبيّ صلّى الله عليه وسلّم: «يسّروا ولا تعسّروا»(رقم-۶۱۲٤) ومسلم فی کتاب الجهاد والسّير/باب فی الأمر بالتّيسير. وترک التّنفير (رقم-۷ - (۱۷۳۳))واحمد فی المسند: ٤۱۲/٤

تسهیلات: قوله: جَدَّهُ:

په حدیث کښې يو اشکال او د هغې حل: ابوبرده رضي الله عنه دَ حضرت ابوموسٰی اشعری رضي الله عنه خوئی دې نمسې نه دې نوهغه ځنګه وائی چه زما نیکه نبی کریم روان کړو کیدل خوداسې پکار وو چه دَ ابوبرده رضي الله عنه په ځائی دَ ابن ابی برده رضي الله عنه لفظ وې نودَ ابوبرده دَ خوئی نیکه او دادا ابوموسٰی اشعری رضي الله عنه وو. دَمشکوة په ټولو نسخوکښې ابوبرده رضي الله عنه لیکلې شوې دې کیدې شی چه دادَ کاتب غلطی وی. بهرحال لوستونکی له ابن ابی برده رضي الله عنه وئیل پکاردی.

[۳۷۲۵] دَ قیامت په ورځ د غدار رسوائی

۳۷۲۵-[۴] (۱) ⑴ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ⑵ «إِنَّ الْغَادِرَ يُنْصَبُ لَهُ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ⑶ فَيُقَالُ هٰذِهِ غَدْرَةُ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ⑴ او ابن عمر رضي الله عنه وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل ⑵ د قیامت په ورځ د عهد شکن د رسوایي د پاره به یوه نښنه ودرول شي ⑶ او وبه وئیل شي چې دا د فلان ابن فلان د عهد شکني علامه ده. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ⓵ الْغَادِرُ: عهد شکنی کونکې، لوظ ماتونکې. ⓶ يُنْصَبُ: اودرولې به شی. ⓷ لِوَاءٌ: جهنډا. نښه. ⓸ غَدْرَةٌ: د عهد شکنۍ نښه.

تسهیلات:

قوله: إن الغادر قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چې غدر په اصل ترك الوفاء ته وئیلې کیږی او دا عام دی . که یو کس خپله وعده ماته کړی او که خپل امان.

قوله: فيقال هٰذِهِ غَدْرَةُ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ مطلب دادې چې وعده ماتونکی به چې کوم ځائې ولاړ وی هغه ځائې کښې به د هر یو وعده خلافۍ په قدر بیرغونه ښخ کړې شوی وی د بیرغ اوچتوالی به د وعده خلافۍ برابر وی چې دې رسوائ سره مخ شی.

۳۷۲۶-[۵] (۲) ⑴ وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ⑵ «لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ⑶ يُعْرَفُ بِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب ما يدعى النّاس بآبائهم (رقم-۶۱۷۸) ومسلم فی کتاب الجهاد والسّير/باب تحريم الغدر (رقم-۱۰ - (۱۷۳۵) و ابو داود فی کتاب الجهاد/باب فی الوفاء بالعهد (رقم-۲۷۵۶) والترمذی فی کتاب السّير عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء أنّ لكلّ غادر لواء يوم القيامة (رقم-۱۵۸۱) و ابن ماجه فی کتاب الجهاد/باب الوفاء بالبيعة (رقم-۲۸۷۲) واحمد فی المسند:۴۱۱/۱

[۲]) اخرجه البخاری فی کتاب الجزية/باب إثم الغادر للبرّ والفاجر (رقم-۳۱۸۶) ومسلم فی کتاب الجهاد والسّير/باب تحريم الغدر (رقم-۱۴ - (۱۷۳۷) واحمد فی المسند:۲۷۰/۳

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضی الله عنه د نبي کریم ﷺ نه نقل کوي [۲] چې رسول کریم ﷺ وفرمایل د قیامت په ورځ به هر عهد شکن وعده ماتونکي د پاره یوه نښه مقرره وي [۳] چې د هغه په ذریعه به پیژندل کیږي (بخاري ، مسلم)

تسهیلات:

قوله: لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُعْرَفُ بِهِ:

الحاصل هر دهوکې مار دپاره به یو نښه وی چې ددې په ذریعه به دې د قیامت په ورځ پیژندلې کیږی ددې نه معلومه شوه چې د مجرم جرم به دنښې نه معلومیږی د چا نه به د پوښتې ضرورت نه وی او راتلونکی حدیث پاك کښې راځی چې د قیامت په ورځ به دهر وعده خلاف دپاره د هغه مقعد سره نزدې یو نښه وی او دا به دهغه د وعده خلافی په قدر اوچته وی

[۳۷۲۷] په میدان حشر کښې دَ غدار سزا

۳۷۲۷-[۲] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ عِنْدَ اسْتِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. [۳] وَفِي رِوَايَةٍ: لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ [۴] يُرْفَعُ لَهُ بِقَدْرِ غَدْرِهِ [۵] أَلَا وَلَا غَادِرَ أَعْظَمُ غَدْرًا مِنْ أَمِيرِ عَامَّةٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او ابوسعید رضی الله عنه د نبي کریم ﷺ نه نقل کوي [۲] چې حضور ﷺ وفرمایل د قیامت په ورځ به د هر عهد شکن د رسوایي د تشهیر د پاره د هغه د مقعد نزدې یوه نښه وي [۳] او په یوروایت کې داسې دي د قیامت په ورځ به هرعهد شکن د پاره یوه نښه وي [۴] چې د هغه د عهد شکنې په قدر به پورته کیږي [یعنی د هغه چې څومره زیاته عهدشکنې وي د هغه نښه او د هغه تشهیر به زیات وي] [۵] خبردار، هیڅ عهد شکنې د اعتبار نه د امام عام یعنی حکمران د وخت نه لوی نشته [یعنی د حکمران عهد شکنې د ټولو نه لویه عهد شکنې ده.] (مسلم)

حل اللغات: (۱) اسْتِهِ: مقعد ، کوناټې (۲) أَمِيرِ عَامَّةٍ: دعامو خلقو حکمران

تسهیلات:

قوله: وَلَا غَادِرَ أَعْظَمُ غَدْرًا مِنْ أَمِيرِ عَامَّةٍ:

د مذکوره جملې درې مطلبونه: (۱) یو امیربغاوت اوکړی اودَخلیفة المسلمین خلاف عوام راپاسوی او بغاوت کولو سره په حکومت باندې ناجائزه قبضه اوکړی. نه اهل رائې سره مشوره وی، نه دَخیر ښیګړې فکر وی صرف په زبردستئی او تغلیب سره په ملك باندې قابض شوې وی. په دې صورت کښې "من امیرعامة" پخپله به هم دغه قابض بادشاه وی چه

[۱] اخرجه مسلم فی صحیحه رقم الحدیث (۱۷۳۸.۱۵)

دَ ده نه لوئی غدار بل څوك نشته دي دَ حديث

④ علامه نووی رحمه الله فرمائی دا هم کیدې شی چه په دې کښې رعیت دَ غدارئی خیانت او بغاوت نه منع کړې وی چه تاسو دخپل خلیفه خلاف بغاوت مه کوئی مه فتنې راوچته وئی علامه نووی رحمه الله فرمائی چه رومبې مطلب صحیح دې دا دویم مطلب صرف یو احتمال دې

⑤ دَ رعایا نه یو سړې دَ مسلمانانو یو متفقه امام او خلیفه خلاف دَ بغاوت جهنډا اوچته کړی او سابقه عهد وپیمان او دَ خلیفه بیعت ماتوی دا لوئی غدار دې په دې صورت کښې "من امیر عامة" نه رعایا او دَعوام نه به یو باغی مراد اخستې شی علامه نووی رحمه الله دا حدیث په لږ آسان انداز سره داسې پیش کوی فرمائی چه مشهوره داده چه په دې حدیث کښې هر قسم خیانت او غداری غلط ګرځولې شوی دی خاص کر دَهغه بادشاه او خلیفه دَ وخت غداری ئې ډیره نقصانی ګرځولې ده چه دَ مسلمانانو دَ امانتونو او ذمه وارو محافظ جوړ کړې شوې وی او هغه دَ دغه حفاظت وعده اوکړه دَ حکومت اختیارئی قابو کړې وی او بیا خپلو عوامو سره غداری کوی خیانت کوی او په هغوی باندې ترس نه خوری نه او نه شفقت کوی نو دا یو لوئی غدار امام دې چاچه خپلې ذمه وارئی شاته کړې دی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۷۲۸] دَ رعیت حاجتونو لره د نه پوره کولو وعید

۳۷۲۸ - [۷] (۱) [۱] عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ أَنَّهُ قَالَ لِمُعَاوِيَةَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [۲] «مَنْ وَلَّاهُ اللهُ شَيْئًا مِنْ أَمْرِ الْمُسْلِمِينَ [۳] فَاحْتَجَبَ دُونَ حَاجَتِهِمْ وَخَلَّتِهِمْ وَفَقْرِهِمْ [۴] احْتَجَبَ اللهُ دُونَ حَاجَتِهِ وَخَلَّتِهِ وَفَقْرِهِ» [۵] فَجَعَلَ مُعَاوِيَةُ رَجُلًا عَلَى حَوَائِجِ النَّاسِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ،

ترجمه: [۱] او عمرو بن مره نه روایت دی چې مره رضی الله عنه معاویه رضی الله عنه ته اوویل چې ما د رسول الله نه واوریدل چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] کوم سړی چې الله تعالی د مسلمانانو د څه کار والی او حکمران جوړ کړي [۳] او هغه د مسلمانانو د حاجت روايي او محتاجی نه حجاب وکی یعنی د هغوی ضرورت او حاجت يي پوره نه کړی [۴] نو الله جل جلاله به د هغه والی او حاکم د حاجت روايي او محتاجی نه حجاب وکړي (یعنی هغه به د هغه د مطلوب نه لري ساتي او د هغه دعا به نه قبلوي) [۵] امیر معاویه رضی الله عنه ددي حدیث په اوریدو سره ډیر متاثر شو او هغه یو سړی په دي کار مقرر کی چې هغه به د خلقو په ضروریاتو نظر ساتي

---

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الخراج والإمارة والفیء/باب فیما یلزم الإمام من أمر الرّعیّة والحجبة عنه (رقم-۲۹۴۸) والترمذی فی کتاب الأحکام عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی إمام الرّعیّة (رقم-۱۳۳۲) واحمد فی المسند: ۲۳۱/۴

او د هغوی حاجتونه دي پوره کوي (ابوداود ترمذي)

حل اللغات: ① وَلَّاهُ: چه حکمران ئې جوړکړي، ورته حکمراني اوسپارلې شي. ② فَاحْتَجَبَ: حجاب اوپرده اوکړي (حاجت روائي نه کوي) ③ وَخَلَّتِهِمْ: ضرورت، حاجت. هغه حاجت په کوم سره چه خلل پريوځي

[١] وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ وَلِأَحْمَدَ: [٢] «أَغْلَقَ اللَّهُ لَهُ أَبْوَابَ السَّمَاءِ دُونَ خَلَّتِهِ وَحَاجَتِهِ وَمَسْكَنَتِهِ».

ترجمه: [١] او د احمد په روايت کې داسې دي [٢] چې الله ﷻ به د هغه والي او حاکم حاجت روايي او محتاجي نه د آسمان دروازي بندي کړي.

حل اللغات: ④ أَغْلَقَ: بند به کړي، ⑤ مَسْكَنَتِهِ: دمحتاجئ او فقيرئ دده نه.

تسهيلات:

قوله: فَاحْتَجَبَ دُونَ حَاجَتِهِمْ وَخَلَّتِهِمْ وَفَقْرِهِمْ:

د مسلمانانو د حقوقو خيال نه ساتونکې حکمران دپاره وعيد: يعنی په غريبانانو اوبي وسه خلقو ته دروازې بندولوسره دَ چا دَ خير بنيګړې تپوس نه کوی دَ مظلوم خبره نه اوری کوتوال اوسنتری حاجب په دروازه کښې کينولو سره څوك دننه نه پريږدی دَ ضرورت مندو نه پټيږی نوالله تعالی هم دَ داسې والی اوحاکم دَ حاجت او ضرورت نه عارضه پيش کولونه پرده اوحجاب کوی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٧٢٩] په رعيت دروازه بندول د الله تعالى د رحمت دزوازه د بندولو سبب

٣٧٢٩-[٨] ()[١] عَنْ أَبِي الشَّمَّاخِ الْأَزْدِيِّ عَنِ ابْنِ عَمٍّ لَهُ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] أَنَّهُ أَتَى مُعَاوِيَةَ فَدَخَلَ عَلَيْهِ، فَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [٣] «مَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ النَّاسِ شَيْئًا، [٤] ثُمَّ أَغْلَقَ بَابَهُ دُونَ الْمُسْلِمِينَ، أَوِ الْمَظْلُومِ، أَوْ ذِي الْحَاجَةِ [٥] أَغْلَقَ اللَّهُ دُونَهُ أَبْوَابَ رَحْمَتِهِ عِنْدَ حَاجَتِهِ وَفَقْرِهِ أَفْقَرَ مَا يَكُونُ إِلَيْهِ».

ترجمه: [١] ابوشماخ ازدي نه روايت دی د هغه د تره زوی چې د نبي کريم ﷺ يوصحابي وو [٢] يوه ورځ امير معاويه ﷜ ته راغلو هرکله چې د هغه په خدمت کې حاضر شو نو هغه اوويل ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي [٣] کوم سړی چې د خلقو د څه کاروالي جوړ شو [٤] او هغه په مسلمانانو يا په يو مظلوم باندې يا په يو حاجتمند باندې خپله دروازه بنده وساتله [يعنی هغه يي د خپل حاجت او ضرورت په وخت ځان ته پرې نه ښودل يا د هغه حاجت يي پوره نه کړی] [٥] نو الله ﷻ به په هغه د هغه د ضرورت حاجت او محتاجي په

() اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ٧٣٨٤

وخت کله چې هغه هغه طرف ته ډیر زیات حاجتمند او محتاج وي د خپل رحمت دروازې بندي کړي [یعنی که هغه څه وخت د خپلي دنیا یا عقبی په باره کې د الله ﷻ بارګاه کې د خپل حاجت او ضرورت اظهار وکړو نو الله ﷻ به د هغه هغه حاجت او ضرورت هم پوره نه کړي]

حل اللغات: ① وَلِيَ: والی او مشر جوړشو.

تسهیلات:

قوله: ثُمَّ أَغْلَقَ بَابَهُ دُونَ الْمُسْلِمِينَ یعنی که چرې هغه په یو وخت کښې دَخپلې دنیا اودَ آخرت باره کښې څه حاجت دَالله تعالی په حضورکښې پیش کوی اودَدې اظهارکوی نو الله تعالی به دهغه ضرورتونه اوحاجات نه پوره کوی. او حال دادې چه دغه بنده به دې وخت کښې دَتولونه زیات دَ دغه ضرورت طرف ته محتاج وی یا که چرې هغه په دنیاکښې دَ یومخلوق ته دَ خپل څه حاجت اظهارکوی نو الله تعالی به دَ هغه دغه حاجت او ضرورت هم نه پوره کوی.

[۲۷۳۰] دعمر فاروق رضی الله عنه خپلو حاکمانو ته هدایات

۳۷۳۰-[۹] (۱) ① وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ② أَنَّهُ كَانَ إِذَا بَعَثَ عُمَّالَهُ ③ شَرَطَ عَلَيْهِمْ أَنْ لَا تَرْكَبُوا بِرْذَوْنًا ④ وَلَا تَأْكُلُوا نَقِيًّا ⑤ وَلَا تَلْبَسُوا رَقِيقًا ⑥ وَلَا تُغْلِقُوا أَبْوَابَكُمْ دُونَ حَوَائِجِ النَّاسِ ⑦ فَإِنْ فَعَلْتُمْ شَيْئًا مِنْ ذَلِكَ فَقَدْ حَلَّتْ بِكُمُ الْعُقُوبَةُ ⑧ ثُمَّ يُشَيِّعُهُمْ. رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: ① او د حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه په باره کې منقول دی ② هرکله چې عمال حکام به یې چرته لیږل ③ نو هغوی سره به یې شرط لګوی [یعنی دا هدایات به یې ورکول] چې ترکي آس باندې مه سوریږي ④ میده او باریکه د اوړو روټئ وغیره مه خورئ ⑤ نری کپړې مه آغوندی ⑥ او د خلقو د حاجت او ضرورت په وخت د هغوی نه خپله دروازه مه بندوئ ⑦ یاد لرئ که تاسو د دې نه څه څیز اختیار کی نو تاسو به دنیا او عاقبت کې د سزا مستحق شئ ⑧ د دې نه وروسته حضرت عمر رضی الله عنه به هغوی سره څه لرې پورې د رسولو د پاره تلو [دا دواړه حدیثونه بیهقي رحمه الله په شعب الایمان کې نقل کړي دی.]

حل اللغات: ① عُمَّالَهُ: حاکمان. عُشر اوزکوة راټولونکی ② بِرْذَوْن: ترکی آس. ③ نَقِيًّا: پاك، ④ رَقِيقًا: د اوړو نرئ روټئ. ⑤ حَلَّتْ: نازل به شی ⑥ الْعُقُوبَةُ: عذاب ⑦ يُشَيِّعُ: رخصت کولو دپاره څه ځائې پورې ورسره تلو.

---

(۱) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۷۳۹٤

تسهيلات: قوله: شَرَطَ عَلَيْهِمْ:

په گورنر په برذون اس باندې د سورلۍ نه کولو شرط لګول: یعنی چه کوم وخت به حضرت عمر فاروق رضی الله عنه یو گورنر دَ یو علاقې دَپاره گورنر مقرر کولو او روانولونو هغه سره به ئې دا شرط لګولو چه په برذون باندې به سورلی نه کوي برذون ښکلې ترکی اس ته وائی شارحین حدیث مثلاً علامه طیبی رحمه الله او ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چه دَ برذون په ممانعت سره په عربی اس باندې سورلئی ممانعت په طریقه اولی سره معلومیږی ځکه چه دَبرذون په مقابله کښې عراب یعنی عربی اس ډیر ښکلې وی دا ممانعت ئې دَدې دَپاره اوکړو چه په گورنر کښې تکبر اولوئی پیدا نه شی ځکه چه متکبر حاکم دَخادم په ځائې ظالم جوړیږی.

قوله: وَلَاتَأْكُلُوانَقِيًّانَقِيًّا:

د میده روټۍ د استعمال د ممانعت وجه: دا هغه اوړوته وائی چه په دویم ځل چهاڼ کړې شوې وی په نورو الفاظو کښې دَدې ترجمه میده او سپین اوړو روټئی یا دَ نرۍ چهاڼۍ نه چهاڼ کړې شوې اوړو روټئ نه هم ممانعت دَدې دَپاره اوکړو چه گورنر عیش پرست نه شی دحضرت عمر فاروق رضی الله عنه دَ فرمان خلاصه دا شوه چه کبرمه کوئی دَ عیش او تنعم ژوندون مه تیره وی او خلقو ته دَ انصاف ورکولو نه ډډه مه کوئی یعنی پخپله هم ټیک او سیږئی او نور هم ټیک ساتئی ګنی په خلاف ورزی کولو به سزا درکوم

[۲] بَابُ الْعَمَلِ فِي الْقَضَاءِ وَالْخَوْفِ مِنْهُ

دَقضاء په منصب کار کول اودَهغې نه دَویرېدلو بیان

خلاصة الباب:

فيه ثلاثة عشر حديثاً مشتملة على تسع مسائل:

① عدم قضاء القاضي وقت الغضب: ۱.
② وجوب الإجتهاد على القاضي عند عدم النص : ۲، ۷.
③ كون المجتهد يخطئ ويصيب: ۲.
④ القضاء سبب الهلاك والحسرة : ۳ ،۴، ۹، ۱۰، ۱۳۔
⑤ أنواع القضاة: ۵، ۶.
⑥ القضاء بالكتاب والسنة أولاً : ۷.
⑦ وجوب سماع كلام الفريقين على القاضي: ۸۔
⑧ ذكر القاضي الجائر: ۵، ۶، ۱۱.
⑨ إعانة الله تعالى مع القاضي العادل : ۴، ۱۱، ۱۲.

دَباب الامارة په شروع کښې چونکه دَ القضاء لفظ په عنوان کښې راغلې وو په دې وجه دَقضاء سره متعلق مختصر شان بحث هلته لیکلې شوې دې هم هلته اوګورئ

د باب خلاصه: دې نه وړاندې دَامام اوامیردَمسائلو اوفضائلو بیان اوشو. اوس به په دې باب کښې دوه خبرې په خاص توګه بیانولې شي اول داچه قاضي دَخپلو ټولو فیصلودَپاره ماخذ اومبدأ صرف کتاب الله او سنت رسول الله ﷺ او اجتهاد جوړکړی او هم دا درې ماخذ دې خپل اصول او راه نماجوړکړی دویم به دا بیان کیږی چه دَقضاء منصب دومره لوئی او لوړ مقام دې اودَدې دومره ذمه وارئی دی چه هرسړی له دَدې منصب نه شانه کیدل پکاردی اوتروسه پورې دا نه دی قبلول پکار

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۳۷۳۱] دغصې په حالت کښې دفیصلې کولو څخه ممانعت

۳۷۳۱–[۱] (۱) ① عَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ② «لَا يَقْضِيَنَّ حَكَمٌ بَيْنَ اثْنَيْنِ وَهُوَ غَضْبَانُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الأحکام/باب: هل يقضی القاضی أو يفتی وهو غضبان (رقم-۷۱۵۸) ومسلم فی کتاب الأقضية/باب كراهة قضاء القاضی وهو غضبان (رقم-۱۶ - (۱۷۱۷) والترمذی فی کتاب الأحکام عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء لا يقضی القاضی وهو غضبان (رقم-۱۳۳٤) والنسائی فی کتاب آداب القضاة/باب لنهی عن أن يقضی فی قضاء بقضاءين (رقم-٥٤۲۱) وابن ماجه فی کتاب الأحکام / باب لا يحکم الحاکم وهو غضبان (رقم-۲۳۱۶) واحمد فی المسند:۳۶/۵

ترجمه: [۱] حضرت ابوبکره رضي الله عنه وايي چې ما د رسول الله ﷺ نه دا واوريدل [۲] هر کله چې يو حَکَم او قاضي د غوصې په حالت کې وي نو هغه وخت دې هغه د دوو سړو نزاعي معامله کې فيصله نه کوي. (بخاري، مسلم)

تسهيلات: قوله: وَهُوَ غَضْبَانُ:

د غصې په حالت کښې د فيصلې نه کولو تعليم: دَ غصې په حالت کښې فيصله مه کوه دغه شان دَ سخت خفګان ياسختې ګرمئ يا يخنئ په حالت يا بيمارئ کښې يا په اولږه اوتنده کښې فيصله مه کوه. ځکه چه دَ داسې عوارض په وخت فکرمغلوب کيږي اواجتهادي قوت دا کار نه کوي نو په دې کښې ډيره زيانه خطره ده چه قاضي دَ غيظ اوغضب دَ وجې نه دَ صحيح فيصلې په ځائې غلطه فيصله اوکړي اودانصاف تقاضې به پوره نه کړې شي لهذا دغه شان په هنګامي حالت کښې فيصله نه دې کول پکار

[۳۷۳۲] قاضي ته دَاجتهاد اختيار

۳۷۳۲ — [۲] (۱) [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو وَأَبِي هُرَيْرَةَ قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «إِذَا حَكَمَ الْحَاكِمُ فَاجْتَهَدَ فَأَصَابَ فَلَهُ أَجْرَانِ [۳] وَإِذَا حَكَمَ فَاجْتَهَدَ فَأَخْطَأَ فَلَهُ أَجْرٌ وَاحِدٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او عبد الله ابن عمرو رضي الله عنه او ابوهريره رضي الله عنه دواړه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲] هر کله چې يو حاکم د څه حکم يا فيصلې ورکولو اراده وکړي او اجتهاد وکړي [يعنی د غور او فکر په ذريعه حکم او فيصله ورکړي] او بيا د هغه هغه حکم او فيصله صحيح [يعنی د کتاب او سنت موافق وي] نو هغه ته به دوچند اجر ورکولي شي يو اجر د اجتهاد کولو [۳] او دويم اجر د صحيح فيصلې کولو او که هغه څه داسې حکم او فيصله ورکړه چې په هغه کې هغه اجتهاد وکړو ليکن په نتيجه اخذ کولو کې غلط شو [يعنی صحيح کولو کې خطا شو نو هغه ته به يو اجر ورکول کيږي] (بخاري. مسلم)

حل اللغات: ① فَأَصَابَ: صحيح وه. د قرآن اوحديث موافق وه

تسهيلات: قوله: فَاجْتَهَدَ فَأَصَابَ:

د مجتهد دپاره دوه اجرونه: يعنی که يو قاضي او حاکم څه فيصله کول غواړي ليکن په کتاب اوسنت کښې اودغه شان په فقه اسلامی کښې څه واضح نص موجود نه وی اوداقاضي اوس دَ اجتهادطرف ته مجبوردې اوس قاضي په اضطراری حالت کښې دې چه کتاب اوسنت، اجماع امت او دَ اسلامی عدالتونو دَ فيصلو په رڼرا کښې څه فيصله اوکړي. اوس که په دې حالاتو کښې قاضي ښه سوچ اوفکر کولوسره فيصله اوکړه اوهغه

(۱) اخرجه البخاری فی صحيحه رقم الحديث ۷۳۵۲ ومسلم رقم الحديث (۱۷۱۶.۱۵) والترمذی فی السنن رقم الحديث ۱۳۳۶

فيصله صحيح اووتله نوهغه ته به دوه اجرونه ملاويږي يو د صحيح فيصلې ثواب اودويم د هغه د محنت او مشقت ثواب دې که چرې د هغه نه فيصله کولوکښې څه غلطي اوشي نو مسئله اود حکم ثواب خو به په وجه د غلطئ نه ملاويږي خود هغه د محنت کوشش اوجدوجهدبه يواجر ملاويږي ليکن دا هغه وخت ده چه کله حاکم عالم قاضي او مجتهد د اجتهاد اهليت لري که چرې د اجتهاد اهل نه وي اوهغه په فيصله کښې غلطي اوکړه نود ثواب په ځائې به ګناه کيږي د دې حديث نه يوه ضابطه دا راؤوتله چه د لوئې اجتهاد د پاره د لوئې علم اولوئې سوچ ضرورت دې بل د اجتهاد حق په هغه اجتهادي اوفروعي مسائلو کښې دې په کوم کښې چه د مختلف وجوهاتو احتماله ګنجائش وي غيرمحتمل نص يا د شريعت په واضحه احکاماتو نه تقليد شته او نه د اجتهاد ضرورت بيا دابحث دې چه آيا حق يودې يا د هرمجتهد په اجتهاد کښې جدا جدا حق دې نوراجح او صحيح دادې چه حق يو دې کوم چه لاعلى التعيين چاسره هم کيدې شي

په اسلام کښې د اجتهاد او د مجتهدينو مقام: د مذکوره حديث نه چه يوطرف ته دا مسئله ثابتيږي چه قاضي په فروعي مسائلوکښې د اجتهاد حق لري اوهغه کله صحيح فيصله کوي اوکله غلطي کيږي نوبل طرف ته دا خبره هم ثابتيږي چه په اسلام کښې د مجتهد اواجتهاد يو لوئې مقام دې که چرې هغه په خپل اجتهادکښې صحيح خبرې ته رسيږي نوهغه ته به دوه ثوابونه ملاويږي ګنې يو ثواب خود هغه د پاره خامخا دې لهذا فقهاء اومجتهدينوته بد وئيل يا په هغوي باندې تنقيدکول بدبختي ده د دې حديث نه داهم معلومه شوه چه "المجتهد يخطئ ويصيب" يو فيصله شوې حقيقت دې

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۷۳۲] د قضاء د منصب ازمانښت

۳۷۳۲-[۳] (۱) ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «مَنْ جُعِلَ قَاضِيًا بَيْنَ النَّاسِ فَقَدْ ذُبِحَ بِغَيْرِ سِكِّينٍ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ② کوم سړی چې د خلقو قاضي مقرر شو ګويا هغه بغير چاړه ذبح شو (احمد ترمذي وابوداود او ابن ماجه)

حل اللغات: ① جُعِلَ: جوړکړې شو. مقررکړې شو. ② بِغَيْرِ سِكِّينٍ: بغير چاړه.

(۱) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأقضية/باب في طلب القضاء (رقم-۳۵۷۲) والترمذي في كتاب الأحكام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء عن رسول الله صلى الله عليه وسلم في القاضي (رقم-۱۳۲۵) و ابن ماجه في كتاب الأحكام / باب ذكر القضاة (رقم-۲۳۰۸) واحمد في المسند:۲/۲۳۰

تسهیلات:

قوله: مَنْ جُعِلَ قَاضِيًا:

د قاضی جوړیدو بغیرد چاړې ذبحه کیدو سره په تشبیه کښې اقوال: ① علامه طیبی رحمه الله فرمائی دَ بدنی قتل متعارف طریقه خو په چاقو چاړې سره کیږی نبی کریم دا متعارف طریقه دَ قتل پریخودوسره چه دکوم قتل ذکرکړې دې هغه دَ دین تباهی او روحانی هلاکت مراد کیدې شی دَ ظاهری بدن هلاکت مراد نه شی کیدې

② قاضی عیاض رحمه الله فرمائی نبی کریم ددې کلام نه هغه قتل مراد اخستې دې چه دَ چاړې نه علاوه وی لکه مرئی خفه کول په اوبو کښې ډوبول یا په اور کښې سوزول یا دَ چاخوراك ځنباك بندلو سره قتل کول دا هغه صورتونه دی چه په چاړې سره دَ قتل کولو په نسبت زیات سخت دی ځکه چه په دې کښې دَ قتل کولو وخت اوږد وی په دې وجه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه قاضی جوړیدل داسې دی لکه چه څوك دَ چاړې نه بغیر ذبح کړې شو

③ صدرالشریعه رحمه الله فرمائی لکه څنګه چه بغیردَ چاړې په ذبح سره په بدن بندې هیڅ ظاهری اثر نه ښکاری مګر دننه نه رګونه پرې کیږی دغه شان په قضاء کښې به تاسو ته په ظاهرکښې هیڅ نقصان نه ښکاری بلکه هم مزې مزې به وی لیکن په روحانی اوباطنی توګه باندې خطرناك اثر کیږی.

④ علامه مظهر رحمه اللهفرمائی چه دَ قضاء دَ عهدې خطره ډیره زیاته ده اوددې ضرر ډیر لوئی دې ځکه چه قاضی ډیر کم عدل اوانصاف باقی ساتلې شی ددې دپاره چه دَ نفس رجحانات ډیرزیات دی کله یوسړې دَخپلې خوښې طرف ته کله دَ خپل خادم طرف اوکله دَ صاحب منصب طرف ته مائل کیږی اوکله دَ رشوت قبلولو طرف ته مائل کیږی اودَ رشوت معامله خو نه ټیك کیدونکې لاعلاج بیماری ده

په خپل ځان د عدم اعتماد په صورت کښې د قضاء منصب قبلول: بعضې علماؤ ددې حدیث نه دا مسئله راویستې ده چه دَ کوم سړی په خپل ځان باندې کامل یقین اوکامل اعتماد او باور نه وی هغه دې قاضی نه جوړیږی ځکه چه دا خطرناك صورت دې اوکه چرې هغه سړې په خپل ځان باندې ښه مطمئن وی نوهغه دې قضاء قبوله کړی لویو لویو صحابه کرامو او تابعینو حضراتو دَ قضاء عهده نه ده قبوله کړې امام ابوحنیفه رحمه الله دَ قضاء عهدنه قبلولو دَ وجې نه په جیل کښې کوړې اوخوړلې لیکن دَ حکومت دَ قضاء طرف ته تیت نه شو. الکاشف: ۲۷۵/۷.

[۳۷۲۴] د قاضي جوړيدو خواهش نه کول

—[۴] (۱) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «مَنِ ابْتَغَى الْقَضَاءَ وَسَأَلَ [۳] وُكِلَ إِلَى نَفْسِهِ، [۴] وَمَنْ أُكْرِهَ عَلَيْهِ [۵] أَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْهِ مَلَكًا يُسَدِّدُهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُودَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

توجمه: [۱] او حضرت انس ﷺ وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړى چې په خپل زړه كې د منصب او قضاء طلب او خواهش كوي او بيا سربراه مملكت نه د هغه درخواست گذارشي تردي چې د هغه په درخواست هغه قاضي جوړ شي [۳] نو هغه منصب د هغه نفس ته حواله كولى شي يعنى هغه ته د خپل فرض منصبي آنجامولو كې د الله ﷻ توفيق او مدد حاصل نه وي [۴] او كوم سړى چې د هغه د طلب او خواهش نه بغير په زبردستي په هغه منصب فائز شي [۵] نو الله ﷻ په هغه يوه فرشته مقرره وي چې هغه گفتار او كردار كې راست او درست ساتي (ترمذي ابوداود ابن ماجه)

حل للغات: ① وُكِلَ: حواله كړې شو . اوسپارلي شو ② أُكْرِهَ: زور پرې اوكړې شو. په زور مقرر كړې شو. ③ مَلَكًا: فرشته. ④ يُسَدِّدُهُ: نيغه لار به ورته ښائى

تسهيلات:

قوله: من ابتغى، أي طلب في نفسه: خپل ځان دپاره ئې طلب كړو (القضاء أي الحكومة الشاملة لأمارة) مطلب دا چې هغه خپل ځان دپاره حكومت طلب كړي

قوله: وسأل خلقو نه د حكومت طلب كولو مطلب دادې چې هغه خلق تيار كړى چې خلق دې ته ووڅ وركړى او دې اوگټي.

[۳۷۲۵] جنتي او دوزخي قاضي

—[۵] (۲) [۱] وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «الْقُضَاةُ ثَلَاثَةٌ وَاحِدٌ فِي الْجَنَّةِ وَاثْنَانِ فِي النَّارِ: [۳] فَأَمَّا الَّذِي فِي الْجَنَّةِ فَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَقَضَى بِهِ، [۴] وَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَجَارَ فِي الْحُكْمِ فَهُوَ فِي النَّارِ، [۵] وَرَجُلٌ قَضَى لِلنَّاسِ عَلَى جَهْلٍ فَهُوَ فِي النَّارِ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

توجمه: [۱] او حضرت بريده ﷺ وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] قاضي په درې قسمه وي يوقسم خو جنت ته تلونكي او دوه قسمه دوزخ ته تلونكي [۳] جنت ته تلونكى قاضي

---

۱) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأقضية/باب في طلب القضاء والتسرّع إليه (رقم-۳۵۷۸) والترمذي في كتاب الأحكام عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم في القاضي (رقم-۱۳۲٤) وابن ماجه في = كتاب الأحكام / باب ذكر القضاة(رقم-۲۳۰۹)

۲) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأقضية/باب في القاضي يخطئ (رقم-۳۵۷۳) والترمذي في كتاب الأحكام عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم في القاضي (رقم-۱۳۲۲) وابن ماجه في كتاب الأحكام / باب الحاكم يجتهد فيصيب الحقّ (رقم-۲۳۱۵)

هغه سړی دی چې هغه حق وپیژندی یعنی په دي پوهه شي چې حق په دي خبره کې دی او بیا د حق مطابق یي فیصله وکړله [۴] او څوك چې په حق پوهه شو یعنی حق یي وپیژندی خو د دي باوجود خپل حکم او فیصله کې یي ظلم وکی یعنی هغه سره د پوهې قصداً حق پامال کی نو هغه دوزخي دی [۵] دغه شان کوم سړی چې د خپل جهالت په وجه حق ونه پیژندی او په دي حالت کې د خلقو د تنازعاتو فیصله یې وکړله نو هغه دوزخي دی حکه چې هغه حق رسي کې کوتاهي او تقصیر وکړو (ابوداود ابن ماجه)

حل اللغات ① اَلْقُضَاةُ: جمع د قاضی ده. قاضیان ② فَجَارَ: ظلم ئې اوکړو

تسهیلات:

قوله اَلْقُضَاةُ ثَلَاثَةٌ: الحاصل داشان حدیث پاك په جامع صغیر کنبې هم دي (القضاة ثلاثة اثنان فی النار وواحد فی الجنة رجل علم الحق فقضی به فهو فی الجنة ورجل قضی للناس علی جهل فهو فی النار ورجل عرف الحق فجار فی الحکم فهو فی النار) د قاضیانو دري قسمه دی دوه قسمه قاضیان به په اور کنبې داخلیږی او یو قسم قاضیان به جنت کنبې لهذا هغه قاضی چې حق ئې اوپیژندو اود حق مطابق ئې فیصله اوکړه نو هغه به جنت کنبې داخلیږی او چا چې د حق پیژندلو نه پس هم حق پریښودلو او فیصله ئې اوکړه یائې فیصله بغیر دعلم نه اوکړه نو دا دواړه جهنمیان دی

[۳۷۳٦] د کامیاب او ناکام حکمران معیار

[۲] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «مَنْ طَلَبَ قَضَاءَ الْمُسْلِمِينَ حَتَّى يَنَالَهُ، [۳] ثُمَّ غَلَبَ عَدْلُهُ جَوْرَهُ فَلَهُ الْجَنَّةُ، [۴] وَمَنْ غَلَبَ جَوْرُهُ عَدْلَهُ فَلَهُ النَّارُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل کوم [۲] سړی چې د مسلمانانو د منصب قضاء طالب او درخواست ګذار شو تردي چې هغه هغه حاصل هم کی [۳] او بیا د خپل فرائض منصبي آدائیګی کې د هغه عدل او انصاف په ظلم غالب شو نو هغه به د جنت مستحق وي [۴] او د کوم سړي ظلم چې د هغه په عدل او انصاف غالب شو نو هغه به د دوزخ سزا وار وي (ابوداود)

حل اللغات ① عَدْلُهُ: انصاف دده. ② جَوْرَهُ: په ظلم دده

تسهیلات:

قوله: ثم غلب عدله جوره فله الجنة ظلم باندي د عدل د غلبې نه مراد دادي چې یو د بل نه زیات وی او بل هم وجود لری او چونکه حکم د غالب مطابق وی په دي وجه که عدل

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الاقضیة/باب فی القاضی یخطئ (رقم-۳۵۷۵)

وانصاف غالب وی نو جنت به ملاویږی او که ظلم غالب وی نو جهنم به ملاویږی علماء کرامو لیکلی دی چې ددې جملې مطلب دادې چې هغه حاکم داسې وی چې دظلم دپاره رکاوټ جوړ شی لکه ددې حا کم عدل وانصاف داشان حاوی وی چې د هیڅا ظلم سر اوچت نه کړی نوداسې حاکم دپاره جنت دې

قوله: ومن غلب جوره که د حاکم ظلم په عدل باندې غالب وی نو بیا داسې حاکم دپاره جهنم دې

[۲۷۳۷] د قياس او اجتهاد جواز

٣٧٣٧ ـ[٧] (١)١ «وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٢ لَمَّا بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ قَالَ: كَيْفَ تَقْضِي إِذَا عَرَضَ لَكَ قَضَاءٌ؟ ٣ قَالَ: أَقْضِي بِكِتَابِ اللّٰهِ، ٤ قَالَ: فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِي كِتَابِ اللّٰهِ؟ ٥ قَالَ: فَبِسُنَّةِ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، ٦ قَالَ: فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِي سُنَّةِ رَسُولِ اللّٰهِ؟ ٧ قَالَ: أَجْتَهِدُ رَأْيِي وَلَا آلُو،

ترجمه: ١ او معاذ ابن جبل رضی الله عنه نه روایت دی ٢ چې رسول کریم ﷺ معاذ رضی الله عنه قاضي او حاکم جوړولو سره یمن ته لیږي نو هغه نه یې د امتحان په طور پوښتنه وکړه هرکله چې تاته څه قضیه پیښه شي نو څنګه فیصله به کوي ٣ هغه اوویل زه به د کتاب الله قرآن کریم موافق فیصله کوم ٤ ورته یې وفرمایل که ته هغه مسئله صراحةً کتاب الله کې پیدانه کې ٥ هغه اوویل بیا به زه د سنت رسول الله ﷺ حدیث نبوي موافق فیصله کوم ٦ وي فرمایل که ته هغه مسئله سنت کې پیدانه کې ٧ نو هغه اوویل بیا زه دخپل عقل نه اجتهاد کوم او خپل اجتهاد او حقیقت رسی کې به کوتاهي نه کوم

حل اللغات: ① لَاآلو: کوتاهي به نه کوم

١ قَالَ: فَضَرَبَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَى صَدْرِهِ، ٢ وَقَالَ: الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي وَفَّقَ رَسُولَ رَسُولِ اللّٰهِ لِمَا يَرْضَى بِهِ رَسُولُ اللّٰهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ١ معاذ یا هغه راوي چې هغه داحدیث د معاذ رضی الله عنه نه روایت کړي دی وایي چې حضور ﷺ په دې اوریدو سره خپل لاس مبارك د معاذ رضی الله عنه په سینه راتیرکړو (چې د هغه د برکته هغه خپلي خبري باندې ثابت قدم اوسئ او د هغه په علم کې اضافه وي) ٢ او وي فرمایل ټول تعریفونه د الله د پاره دي چې هغه د رسول الله ﷺ استازي (یعنی معاذ رضی الله عنه ته د دې څیز توفیق ورکړو چې په هغه سره د الله رسول ﷺ راضي شو) (ترمذي ابوداود دارمي)

حل اللغات: ② وَفَّقَ: توفیق ئې ورکړو

---

(١) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأقضية/باب اجتهاد الرأي في القضاء (رقم-٣٥٩٢) كتاب الأحكام عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء في القاضي كيف يقضي (رقم-١٣٢٧) واحمد في المسند: ٢٣٠/٥

تسهیلات:

قوله: أَجْتَهِدُ رَأْيِي:

دسنت نه د قیاس د حجتیت دلیل: یعنی که دَ کتاب سنت او اجماع امت واضحه فیصله مخې ته نه وی نوزه به دَ هغه قضیه دَپاره په قرآن اوحدیث کښې ګورم چه دَدې مسئلې مثال کومه یوه مسئله ده اودَدې مسئلې په شان بیان شوې مسئله کومه یوه ده اودَ دې حکم څه دې؟ نوزه به هغه جزئیه په دې باندې قیاس کوم هم ددې نوم اجتهاد دې دلته دَ رائې نه مراد هغه رائې ده چه دَ قرآن اوحدیث نه مستنبط او ماخوذ وی اودهغې په رڼاکښې وی ګنی صرف دَ خالص خپلې ذاتی رائې اعتبارنشته دې

دَ فقهاء کرامو په نیز هغه قیاس هم دَ اصول شرعیه نه یواصل دې کوم چه دَ شرعی نصوص نه مستنبط وی لکه څنګه چه دَدې حدیث نه په واضحه توګه دَدې قسم قیاس اودَدې قسم رائې اواجتهادته شرعی حجت ګرځولې شوې دې دَ جمهورو هم دغه مسلک دې او اهل ظواهرغیرمقلدین حضرات قیاس شرعی حجت نه منی هغوی وائی چه دَ ټولو نه اول قیاس ابلیس کړې وو چه مردود اوګرځیدو

د قرآن نه د قیاس د حجتیت دلیل: جمهور فرمائی چه دَ قرآن کریم آیت ﴿لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ يَسْتَنْبِطُوْنَهُ﴾ کښې دَ اجتهاد استنباط او قیاس طرف ته اشاره ده اوزیر بحث حدیث واضح دلیل دې څکه چه نبی کریم دَ حضرت معاذ ډیر تعریف اوتوثیق اوکړو باقی دَ ابلیس قیاس قیاس نه وو بلکه دَ صریح حکم په مقابله کښې حجت بازی وه دغه د ټولو په نیز ناجائز دی

[۳۷۲۸] د فریقینو بیان اوریدو څخه روسته فیصله کول

۳۷۲۸–[۸] (۱) [۱] «وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: بَعَثَنِي رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَى الْيَمَنِ قَاضِيًا، [۲] فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ: تُرْسِلُنِي وَأَنَا حَدِيثُ السِّنِّ وَلَا عِلْمَ لِي بِالْقَضَاءِ؟ [۳] فَقَالَ: إِنَّ اللّٰهَ سَيَهْدِي قَلْبَكَ وَيُثَبِّتُ لِسَانَكَ: [۴] إِذَا تَقَاضَى إِلَيْكَ رَجُلَانِ فَلَا تَقْضِ لِلْأَوَّلِ حَتَّى تَسْمَعَ كَلَامَ الْآخَرِ،

ترجمه: [۱] او حضرت علي کرم الله وجهه فرمايلي دي هرکله چې رسول کریم ﷺ ځما قاضي جوړولو سره يمن ته د ليږلو اراده وکړه [۲] نو ماعرض اوکړو چې تاسو ما قاضي جوړولو سره ليږلو چې د خپلي کم عمري په وجه ناتجربه کار هم يم او د منصب قضأ د ذمه واريو پوره طور سره علم هم راته نشته [۳] نو حضور ﷺ راته وفرمايل ته په دي باره

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأقضية/باب كيف القضاء (رقم-۳۵۸۲) والترمذی فی کتاب الأحكام عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی القاضی لا یقضی بین الخصمین حتّی یسمع کلامهما (رقم-۱۳۳۱) و ابن ماجه فی کتاب الأحکام / باب ذکر القضاة(رقم-۲۳۱۰) واحمد فی المسند:۸۳/۱

کې فکر مه کوه الله به ستا ژړه ته د فهم او فراست هدایت ورکړي او ستا ژبه به فصیح او برحق حکم او فیصله کولو باندې ثابته لري [۲] بیا حضور ﷺ اد منصب قضاء په ذمه واریو د انجام دي سلسله کې دا تعلیم اوا هدایت اوکړو چې هرکله تاته دوه سړي خپله قضیه راوړي نو ته د مخکې سړي مدعي په حق کې ترهغه وخته پورې څه حکم او فیصله مه کوه ترڅو پورې چې د دویم سړي یعنې د مدعا علیه بیان وانه وري

حل اللغات ① حَدِيثُ السِّنِّ: کم عمره. نو جوان.

[۱] فَإِنَّهُ أَحْرَى أَنْ يَتَبَيَّنَ لَكَ الْقَضَاءُ، [۲] قَالَ: فَمَا شَكَكْتُ فِي قَضَاءٍ بَعْدُ». [۳] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد وَابْنُ مَاجَهْ. [۴] وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ أُمِّ سَلَمَةَ إِنَّمَا أَقْضِي بَيْنَكُمْ بِرَأْيِي، فِي بَابِ الْأَقْضِيَةِ وَالشَّهَادَاتِ إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى.

ترجمه: [۱] ځکه چې دا یعنې د مدعا علیه بیان به تاته صحیح حکم او فیصله کولو کې به مدد درکړي [۲] حضرت علي ﷺ فرمايي د حضور ﷺ د دي مبارکي دعا دبرکته او د حضور ﷺ په دي هدایت او تعلیم عمل کولو نه وروسته زه د هیڅ قسم قضیې حکم او فیصله کولو کې مذبذب نه شوم [۳] دا دې روایت ترمذي ابوداود او ابن ماجه کړې دې [۴] او حدیث دام سلمه إِنَّمَا أَقْضِي بَيْنَكُمْ بِرَأْيِي، به په باب الْأَقْضِيَةِ وَالشَّهَادَاتِ کښې ذکر کړو ان شاء الله

حل اللغات ② أَحْرَى: ډیره لائق ده. ښه مدد به دې اوکړی ③ مَا شَكَكْتُ: شک مې نه دې کړې. مذبذب شوې نه یم

تسهیلات:

قوله ترسلني إلخ تقدیری عبارت داشان دې . أترسلني . آیا ته ما لیږې حالانکه (وَأَنَا حديث السن أي والحال أني صغير العمر قليل التجارب)، او حال دادې چې زما عمر کم دې او دقضا تجربه مې نشته دې

قوله ولا علم لي، أي كاملا بالقضاء یعنی خه د کاملې قضا اهل نه یم . ددې مطلب دا نه دې چې ما کښې ددې اهلیت نشته دې او نه د قضاء د علم نفی مراد ده بلکه ددې نه مراد دادې چې فریقین نه کلام آوریدل او ددوی په مینځ کښې فیصله کول مشکل دی . په دې وجه په دې کار کښې ما سره مدد اوکړه په دې باندې نبی کریم ﷺ دا کلمات اوفرمائیل چې (إن الله سيهدي قلبك أي بالفهم ويثبت لسانك أي بالحكم) ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چې هم دا مثال د حضرت موسی علیه السلام او حضرت هارون علیه السلام وو (قَالَ الله تعالى اِذْهَبَا إِلَى فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَىٰ) تاسو دواړه فرعون ته ورشئ هغه سرکشی اختیار کړې ده . دې دواړو عرض اوکړو (قَالَا رَبَّنَا إِنَّنَا نَخَافُ أَنْ يَفْرُطَ عَلَيْنَا أَوْ أَنْ يَطْغَىٰ ۝ قَالَ لَا تَخَافَا إِنَّنِي مَعَكُمَا أَسْمَعُ وَأَرَىٰ ۝)

قوله: فلاتقض للأول حتى تسمع كلام الآخر: دا دقضاء اصول دى چې يك طرفه خبره آؤريدو نه پس فيصله كول جائز نه دى تر كومې پورې چې د دواړو فريقو خبره آؤريدلې شوې نه وى ددې وجه داده چې كيديشى غائب سره داسې دليل او حجت وى كوم چې د دې بل فريق دعو باطلوى او دده حجت ختم كړى ددې حديث پاك په بنياد علماء كرامو ليكلى دى چې قاضى لره دا جائز نه دى چې دمقدمې يو فريق سره په تنهائى كښې ملاقات اوكړى تر كومې چې دويم فريق موجود نه وى . واضحه دې وى چې د فريقينو په موجودګى د هغوئ خبره آؤريدل قاضى لره ضرورى دى. مفتى دپاره ضرورى نه دى ځكه چې د مفتى كار د صورت مسئوله جواب وركول وى

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۷۳۹] دقيامت په ورځ دظالم حاكم انجام

۳۷۳۹-[۹] ()[۱]عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -:[۲] "«مَا مِنْ حَاكِمٍ يَحْكُمُ بَيْنَ النَّاسِ،[۳] إِلَّا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَلَكٌ آخِذٌ بِقَفَاهُ،[۴] ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ،[۵] فَإِنْ قَالَ: أَلْقِهْ أَلْقَاهُ فِي مَهْوَاةٍ أَرْبَعِينَ خَرِيفًا»". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَهْ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه:[۱] حضرت عبد الله ابن مسعود ﷛ وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] هرهغه حاكم چې په خلقو باندې خپل حكم او فيصله جاري او نافذ كوي [۳] د قيامت په ورځ به داحكم الحاكمين بارګاه كې داسې پيش شي چې يوه فرښته به هغه د څټ نه راونيسي [۴] بيابه هغه فرښته خپل سرآسمان طرف ته پورته كړي ولاړي به وي [۵] تردې كه الله ﷻ دا حكم وركړي چې دى په دوزخ كې واچوئ نو هغه به دى د دوزخ په كنده كې واچوي چې د څلوېښت كاله د مسافت په قدر ژوره (ګهرا) ده (احمد ابن ماجه بيهقي په شعب الايمان)

حل اللغات: ①قَفَا: څټ. ②أَلْقِهْ: وانې چوئ. وئې غورزوئ. ③مَهْوَاةٍ: ژوره كنده. ④خَرِيفًا: دخزان موسم ته خريف وائى دې نه مراد كال دې

تسهيلات:

قوله: ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ:

د فرشتو د الله د حكم انتظار: لكه چه د محكمه عدالت قانون دې چه مجرم عدالت ته حاضره وى اوبيا د فيصلې انتظاركولې شى. دلته به هم د الله تعالى په حضوركښې فرښته پورته كتوسره انتظاركوى چه د الله تعالى رب العزت د طرف نه به څه حكم كيږى. كه چرې حكم اوشو چه دې دوزخ كښې واچوئى نو فرښته دې يوې ژورې كندې ته غورزه وى

() اخرجه ابن ماجه فى السنن كتاب الأحكام / باب التغليظ فى الحيف والرّشوة (رقم-۲۳۱۱) واحمد فى المسند:۱/۴۳۰

چه دَ څلويښتو کالو په اندازه ژوره ده دا څه تحديدنه دې بلکه دَ دغه کندې دَ زيات نه زيات ژوروالي بيانول دی.

[۲۷۴۰] د قيامت په ورځ د قاضي حسرتناکه آرزو

۳۷۵۰-[۱۰] ( ) [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "«لَيَأْتِيَنَّ عَلَى الْقَاضِي الْعَدْلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ سَاعَةٌ [۳] يَتَمَنَّى أَنَّهُ لَمْ يَقْضِ بَيْنَ اثْنَيْنِ فِي تَمْرَةٍ قَطُّ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها د نبي کريم ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمايل [۲] د قيامت په ورځ هرکله چې دحاکمانو سردارانو او د قانون او انصاف د ذمه وارو نه به سخته مواخذه کيږي نو عادل او منصف قاضي د پاره به هم داسې يوه لمحه راشي [۳] چې په هغه کې به هغه داسې آرزو کوي کاش ارمان چې هغه ته د دوو سړو په مينځ کې د يوې خرما د قضيې هم د فيصلې کولو ذمه داري آنجام کول نه راتلی

تسهيلات:

قوله: لَيَأْتِيَنَّ عَلَى الْقَاضِي الْعَدْلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

دامصدر دفاعل په معنی کښې دې يا دمبالغې په معنی کښې يا مضاف محذوف (أي ذوالعدل) او ځينو ليکلی دی چې يوم القيامة داد ليأتين فاعل دې او يتمنی حال مجرور دې . يا دا د فاعل نه حال دې ، (تعليق الصبيح ج/۴ص/۲۸۰).

[۲۷۴۱] عادل قاضي سره د الله تعالی نصرت

۳۷۵۱-[۱۱] ( ) [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲]: «إِنَّ اللّٰهَ مَعَ الْقَاضِي مَا لَمْ يَجُرْ، [۳] فَإِذَا جَارَ تَخَلَّى عَنْهُ وَلَزِمَهُ الشَّيْطَانُ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ. [۴] وَفِي رِوَايَةٍ: "«فَإِذَا جَارَ وَكَلَهُ إِلَى نَفْسِهِ»".

ترجمه: [۱] او عبد الله ابن ابي اوفی رضي الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲] قاضي چې ترڅوپورې د ظلم او نا انصافي لار نه اختيار وي نو الله تعالی هغه سره وي يعنی د حق تعالی توفيق او تائيد د هغه شامل حال وي [۳] خو کله چې ظلم او نا انصافي اختيار کړي نو الله تعالی د هغه نه جدا شي يعنی هغه نه د حق تعالی د تائيد او توفيق سوری تري نه لري شي او شيطان د هغه ملګری جوړ شي (ترمذي ابن ماجه) [۴] او د ابن ماجه په يوروايت کې دا الفاظ دي چې قاضي کله د ظلم او نا انصافي لار اختيار کړي نو الله تعالی د هغه کار هغه ته حواله کړي يعنی هغه د خپل توفيق او تائيد نه محروم کړي.

[۱]) اخرجه احمد في المسند: ۶/۵۷

[۲]) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الأحكام عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم /باب ما جاء في الإمام العادل (رقم-۱۳۳۰) و ابن ماجه في كتاب الأحكام / باب التّغليظ في الحيف والرّشوة (رقم-۲۳۱۲)

حل اللغات: ① لَمْ يَجُرْ: چه ظلم او ناانصافی ئې نه وی کړې. ② جَارَ: ظلم. نا انصافی اوکړی. ③ تَخَلّٰی: لرې شی، جدا شی.

تسهیلات:

قوله: مالم يجر، أي مالم يظلم. ترکومې چې قاضی ظلم اونه کړی

قوله: تخلی عنه، أي تبرأ الله منه. کله چې قاضی ظلم کوی نو الله ﷻ دده نه بری کیږی، او د الله ﷻ د توفیق اورحمت سیوری دده نه پورته کیږی

قوله: لزمه الشيطان، أي ولازمه العصيان. د شیطان د ملګری جوړیدو مطلب دادې چې هغه نافرمانی شروع کړی

[۳۷۴۳] دعادل قاضی سره مدد کونکې فرښتې

۳۷۴۳- [۱۲] () ① وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ: ② أَنَّ مُسْلِمًا وَيَهُودِيًّا اخْتَصَمَا إِلَى عُمَرَ، ③ فَرَأَى الْحَقَّ لِلْيَهُودِيِّ، فَقَضَى لَهُ عُمَرُ بِهِ. ④ فَقَالَ لَهُ الْيَهُودِيُّ: وَاللّٰهِ لَقَدْ قَضَيْتَ بِالْحَقِّ، ⑤ فَضَرَبَهُ عُمَرُ بِالدِّرَّةِ، وَقَالَ: وَمَا يُدْرِيكَ؟ ⑥ قَالَ الْيَهُودِيُّ: وَاللّٰهِ إِنَّا نَجِدُ فِي التَّوْرَاةِ أَنَّهُ لَيْسَ قَاضٍ يَقْضِي بِالْحَقِّ إِلَّا كَانَ عَنْ يَمِينِهِ مَلَكٌ، وَعَنْ شِمَالِهِ مَلَكٌ،

ترجمه: ① او سعید ابن مسیب رحمه الله راوي دی ② چې یوه ورځ د حضرت عمر په خدمت کې یومسلمان او یو یهودي خپله جګړه اختستو سره راغلل ③ حضرت عمر رضی الله عنه چې د قضیې د تحقیق نه وروسته ولیدل چې یهودي په حقه دی نو د هغه یهودي په حق کې یې فیصله وکړله ④ یهودي چې په خپل حق کې فیصله واوریده نو هغه اوویل قسم په خدای تاسو د حق مطابق فیصله وکړله یا داچې تاسو د حق تعالی توفیق او تائید سره دا منصفانه فیصله وکړه ⑤ حضرت عمر رضی الله عنه په دي اوریدو سره هغه یوه دره ووهی او ورته وي وفرمایل تاته دا څنګه معلومه شوه چې ما په حقه فیصله وکړله ⑥ یهودي اوویل قسم په خدای مونږ په تورات کې دالیکلي پیداکړي دي چې کوم قاضي د حق مطابق فیصله کوي د هغه ښي طرف ته یوه فرښته وي او د هغه چپ طرف ته یوه فرښته وي

حل اللغات: ① الدِّرَّة: دوره. چابک

① يُسَدِّدَانِهِ وَيُوَفِّقَانِهِ لِلْحَقِّ مَادَامَ مَعَ الْحَقِّ، ② فَإِذَا تَرَكَ الْحَقَّ عَرَجَا وَتَرَكَاهُ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ① هغه دواړي فرښتي هغه ته تقویت رسوي او د حق توفیق ورکوي ترڅوپوري چې هغه په حق وي ② او هرکله چې قاضي حق پریږدي نو هغه فرښتي آسمان ته لاړي شي او هغه پریږدي (مالك)

حل اللغات: ② يُسَدِّدَانِهِ: هغه ته تقویت ورکوی. نیغه لاره ورته ښائی ③ وَيُوَفِّقَانِهِ: توفیق ورته ورکوی. ④ عَرَجَ: اوخیژی. پورته لاړ شی (آسمان ته)

() اخرجه مالک فی الموطا کتاب الأقضية /باب الترغیب فی القضاء بالحقّ (رقم-۲)

تسهيلات: قوله: أَنَّ مُسْلِمًا وَيَهُودِيًّا اخْتَصَمَا إِلَى عُمَرَ:

د عمر رضي الله عنه د يهودي په حق كښې فيصله: دافيصله دَ اسلام دَ انصاف نه ډك نظام شاهكاردې اودَ شيعه ګانو په مخ څپيړه ده چه كوم عمردَ حق داسې پاسبانى كوى چه يهوديان دهغه احترام كوى خو ولې رافضي وائى چه هغه په اهل بيت باندې ظلم اوكړو

قوله: فَضَرَبَهُ عُمَرُ بِالدِّرَّةِ:

د يهودي د ځبرو دليل: حضرت عمر ﷺ هغه يهودي دَ خوش طبعې په توګه په چوكه اووهلو اوكوړه ئې ورنيغه كړه وئې فرمائيل چه تاته څنګه معلومه شوه چه دافيصله په حق باندې شوې ده يهودي اووئيل تورات كښې ليكلي دي چه دَ حق اوانصاف كونكي حاكم نه چاپيره فرښتې وى چه په فيصله كولوكښې دَ هغه امدادكوى اوچونكه تاسو په حق باندې فيصله اوكړه دَ دې نه معلومه شوه فرښتې تاسوسره دى اودَ چانه چاپيره چه فرښتې وى هغه په حق باندې وى لهذا تاسو په حق يئې اوستاسو فيصله هم حق ده

[۳۷۴۳] دقضاء منصب دقبلولو نه د ابن عمر رضى الله عنهما انكار

[۱۳] (¹) ۱ وَعَنِ ابْنِ مَوْهَبٍ: ۲ أَنَّ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ لِابْنِ عُمَرَ: اقْضِ بَيْنَ النَّاسِ. ۳ قَالَ: أَوَتُعَافِينِي؟ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ! ۴ قَالَ: وَمَا تَكْرَهُ مِنْ ذَلِكَ وَقَدْ كَانَ أَبُوكَ يَقْضِي؟ ۵ قَالَ: لِأَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: "«مَنْ كَانَ قَاضِيًا فَقَضَى بِالْعَدْلِ، فَبِالْحَرِيِّ أَنْ يَنْقَلِبَ مِنْهُ كَفَافًا»". ۶ فَمَا رَاجَعَهُ بَعْدُ فِي ذَلِكَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ او ابن موهب ﷺ وايي ۲ چې حضرت عثمان ابن عفان ﷺ په خپله زمانه خلافت كې حضرت ابن عمر ﷺ ته اوويل چې د خلقو قاضي جوړ شه يعنى حضرت عثمان ﷺ د حضرت ابن عمر ﷺ په خدمت كې د قضاء منصب پيش كړو ۳ حضرت ابن عمر ﷺ ورته اوويل اې امير المؤمنين ما د دې كار نه معاف كړه ۴ حضرت عثمان ﷺ ورته وفرمايل تاسو دا منصب ولې نه خوښوي حالانكه ستاسو پلار بزرګوار حضرت عمرفاروق ﷺ به د خپل دور خلافت نه علاوه هم د نبي كريم ﷺ په زمانه كې د قضاء كار كوى ۵ حضرت ابن عمر ﷺ ورته اوويل ما د رسول كريم ﷺ نه دا اوريدلي دي كوم سړى چې د قضاء په منصب قائم شو او انصاف باندې مبني فيصلې كوي نو هغه د دې لائق دى چې هغه دې منصب نه برابر سرا برجدا شي يعنى نه نقصان ورسوي نه فائده نه ثواب پيداكړي نه عذاب ۶ د دې نه وروسته حضرت عثمان ﷺ حضرت ابن عمر ﷺ سره په دې باره كې څه خبره ونه كړه. (ترمذي)

¹) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الأحكام عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم فى القاضى (رقم-۱۳۲۲)

حل اللغات ① أَوَتُعَافِينِي: آيا ته به ما معاف کړې؟ يعنی په دې معامله کښې ما معاف کړه ② فَبِالْحَرِيِّ: نو هغه ددې لائق دې ③ أَنْ يَنْقَلِبَ: چه جدا شي. ④ كَفَافًا: برابر سرابر

۳۷۲۳ ‒ ( ) [۱] وَفِي رِوَايَةِ رَزِينٍ، عَنْ نَافِعٍ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ قَالَ لِعُثْمَانَ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ! لَا أَقْضِي بَيْنَ رَجُلَيْنِ، [۲] قَالَ: فَإِنَّ أَبَاكَ كَانَ يَقْضِي. [۳] فَقَالَ: إِنَّ أَبِي لَوْ أُشْكِلَ عَلَيْهِ شَيْءٌ سَأَلَ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، وَلَوْ أُشْكِلَ عَلَى رَسُولِ اللهِ لَهُ شَيْءٌ سَأَلَ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ، [۴] وَإِنِّي لَا أَجِدُ مَنْ أَسْأَلُهُ،

ترجمه: [۱] او د رزين په روايت کې چې هغه د نافع رحمه الله نه نقل کړي دی دا الفاظ دي چې ابن عمر رضی الله عنه اوويل اې امير المؤمنين زه خو د دوو سړو په مينځ کې هم څه فيصله نه کوم څه چې د ډيرو خلقو قاضي دي جوړ شم [۲] حضرت عثمان رضی الله عنه ورته وفرمايل ستاسو پلار بزرګوار حضرت عمر فاروق رضی الله عنه خو به فيصلې کولې [۳] نو حضرت ابن عمر په جواب کې وفرمايل چې ځما پلار خو دا وه چې هغوی ته به څه مشکل پيښ شو نو د رسول کريم صلی الله علیه وسلم نه به يې پوښتنه کوله او که رسول کريم ته به څه مشکل پيښ شو نو د جبرائيل علیه السلام نه به يې پوښتنه کوله [۴] او زه داسې سړی نه شم پيدا کولې چې د هغه نه پوښتنه وکړم او ما د رسول کريم صلی الله علیه وسلم نه دا اوريدلي دي چې کوم سړی د الله جل جلاله پناه وغوښتله هغه د لوی ذات پناه وغوښتله

حل اللغات ① أُشْكِلَ: مشکل به پيښ شو.

[۱] وَسَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ عَاذَ بِاللهِ، فَقَدْ عَاذَ بِعَظِيمٍ». [۲] وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: «مَنْ عَاذَ بِاللهِ فَأَعِيذُوهُ». [۳] وَإِنِّي أَعُوذُ بِاللهِ أَنْ تَجْعَلَنِي قَاضِيًا! [۴] فَأَعْفَاهُ، قَالَ: لَا تُخْبِرْ أَحَدًا.

ترجمه: [۱] او ما د حضور صلی الله علیه وسلم نه دا هم اوريدلي دي چې کوم سړی د الله جل جلاله په ذريعه پناه وغواړي نو هغه په لوئي ذات سره پناه اوغوښته ،نو پناه ورته ورکړه، [۲] او ما د نبی عليه السلام څخه اوريدلی دی چې فرمائيل ئې څوک چې د الله په ذات سره پناه غواړی نو پناه ورکوئ [۳] اوزه د الله په ذات سره پناه غواړم چې تاسو ما قاضي مقرر کړئ [۴] نو حضرت عثمان رضی الله عنه هغه معاف کړو ليکن هغه ته يې وفرمايل بل څوک مه خبروه ،چې هغه منصب قضاء قبوله نه کړي ګيني خلق به عام طور سره ددې منصب نه تيښته کوي او نظام حکومت به معطل پاتې شي ،

حل اللغات: ② عَاذَ: پناه ئې اوغوښتله. ③ فَأَعْفَاهُ: نو هغه ئې معاف کړو

تسهيلات:

قوله: اَقْضِي بَيْنَ النَّاسِ مطلب دادي چې ته منصب د قضاء قبول کړه

[۱]) اخرجه رزين

قوله أَوْتُعَافِينِي يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ اې امير المؤمنين ماته معافى اوكړه زه دا نشم قبولولې او ما دې په قبلولو باندې مه مجبوروه

قوله كَفَافًا كفاف هغه څيز ته وائي چې نه د ضرورت نه كم وي او نه زيات يعنى هغه څيز په قدر دحاجت وي. (التعليق الصبيح ج/۴ ص/۲۸۱)

[۳] بَابُ رِزْقِ الْوُلَاةِ وَهَدَايَاهُمْ

دَقاضيانو دوظيفو اودتحفو تحالفو بيان

خلاصة الباب:

فيه أحد عشر حديثاً مشتملة على أربع مسائل:

① الإعطاء للولاة والمنع عنهم بأمر الله تعالى : ۱.
② الزجر بالتصرف في بيت المال بغير حق: ۲، ۴، ۶، ۷، ۸.
③ نفقة الولاة في بيت المال ومقدارها: ۲، ۵، ۷، ۹.
④ حرمة أخذ الرشوة: ۹، ۱۱.

د رزق او هدايا په مينځ كښې فرق: ① دَ رزق لفظ دَهغه تنخواه دَپاره استعمالولې شي چه هره مياشت په حساب سره وركولې شي

② عطيه او هديه هغه ده كوم چه په كال كښې يوځل يا دوه ځل دَ حكومت دَ طرف نه فوج ته څه مال وركولې شي هغې ته عطيه وائي

د بيت المال نه د قاضيانو وظيفې د تقررى جواز:

په اصولي توګه په دې خبره ځان پوهه كول پكاردي چه قاضي او حاكم چونكه دمسلمانانو په كارونو كښې راګيردى په دې وجه هغوى ته تنخواه وركول جائزدي ليكن چه دا تنخواه نه دومره زياته وي چه تعيش ژوندون جوړشي اونه دومره كمه وي چه د تحقير او فقيرئي نوبت راشي بلكه په اندازه دَ كفاف كيدل پكاردي دَقاضي اوحاكم دَتنخواه اخستلو په جوازباندې دا څلوردلائل اوګورئي

د تنخواه د اخستلو د جواز دلائل:

① دَحضرت عائشه صديقه رضي الله عنها هغه روايت دليل دې چه دَ حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه دَ خليفه جوړيدونه پس دَهغوى خطبه ده په كوم كښې چه دا الفاظ راغلي دي (وشغلت بأمر المسلمين فسيأكل آل ابي بكر من هذا المال ويحترف للمسلمين فيه) (مشكوة ص ۳۲۵)

② دَحضرت بريده رضي الله عنه هغه روايت دليل دې كوم چه دَ مشكوة شريف فصل ثاني ص ۳۲۶ باندې دې. نبى كريم فرمائى (من استعملناه على عمل فرزقناه رزقا فما اخذ بعده فهو غلول)

(ابوداؤد) دي روایت سره بالکل متصل دَحضرت عمر ﷺ روایت دي په کوم کښې چه دا الفاظ دی (عملت علی عهدرسول الله صلی الله علیه وسلم فعملنی) یعنی ماته تنخواه راکړې شوه دې نه پس حدیث نمبر (۳۷۵۱) کښې دَ حضرت مستوردبن شداد ﷺ روایت دې په کوم کښې چه دا الفاظ دی (من کان لنا عاملا فلیکتسب زوجةً فان لم یکن له خادم فلیکتسب خدما الخ)

③ دَ مستدرك حاكم هغه روایت دلیل دې دَ کوم الفاظ چه دا دی (انه علیه السلام استعمل عتاب بن اسید علی مکة فتوفی النبی صلی الله علیه وسلم وهو عامل علیها وفرض النبی صلی الله علیه وسلم له اربعین اوقیة فی سنة)

④ ټول خلفاء او قضاة اوعساکر المسلمین تنخواهګاني اخستي دی چه دَ سلف صالحین دَ زماني نه راروان دی اودَ فقهاؤ په دې اتفاق دې چه "لاباس برزق القاضی"

دبعضې فقهاؤ قول او دهغې تضعیف: اودَ بعضې فقهاؤ خیال دې چه دَ شروع نه دې قاضی او حاکم دَ تنخواه او معاوضه شرط نه لګوی بلکه په رضادې کارشروع کړی بیادې حاکم دَهغه دَپاره وظیفه مقررکړی خو په دغه رضاکارانه معامله بندي دا اعتراض راوځیږی چه دا یوه معامله ده. یوه معاهده اومعاقده ده نودغه شان مجهول معاقده به څنګه جائزشي بل که قاضی پخپله فقیروی اودَ حکومت دَ طرف نه وظیفه هم نه وی نو په دې سره به دَ قضاء دَعهدې توهین تذلیل اوتحقیرکیږی. لهذا دَ پورتنو څلورو واړو دلائلو په رڼاکښې متاخرین فقهاء معاوضه اخستل دَ نه اخستلونه غوره ګرځولی دی دې دَپاره چه بیا په دې عهده باندې نوړو راتلونکوته پریشانی نه وی.

دَ شرعی منصب په نه ختمیدو دَ اجرت عدمِ جواز: ① که دَ شریعت یومنصب داسې دې چه دَاجرت اخستلو ورکولونه بغیرنه ختمیږی. نو په داسې اطاعت باندې اجرت اخستل جائزنه دی مثلاً دَ تراویح په ختم قرآن باندې اجرت اخستل ناجائزدی.

ختمات فی المحافل وغیره داسې امور دی چه دَدې په ختمیدو باندې دَ شریعت هیڅ یومنصب نه ختمیږی نو په داسې طاعاتوباندې اجرت اخستل ورکول جائزنه دی. تراویح خو دَختم قرآن په ځائی وړو سورتونوسره هم کیدلې شی.

دَ شرعی منصب په ختمیدو دَ اجرت دَ اخستو جواز: مفتی شفیع رحمه الله لیکلی دی دَ مناصب شریعیه نه یومنصب که دَ اجرت نه بغیرختمیږی نودَ شریعت دَ منصب بچ کولودَپاره اجرت اخستل ورکول جائزدی. مثلاً امامت، قضاء، اذان، تدریس اوتعلیم که چرته بغیردَ معاوضې پریخودې شی نو ټول مناصب به ختم شی. په دې وجه متاخرین علماء استیجار علی الطاعة دَدې مجبورئی دَ وجې جائزګرځولی دی.

په دینو امورو اجرت اخستونکی ته دوه اجرونه: علامه شامی رحمه الله لیکلی دی چه د دین په کارباندې معاوضه اخستونکی ته دوه ثوابونه ملاویږی یوثواب په دې چه هغه د خپلو بچود کسب فریضه پوره کوی او بل په دې وجه چه دا سړې د دین دخورولوپه خدمت کښې لګیادې

د ناپوهه خلقو اعتراض او د هغې رد: اوس چه کوم ناپوهه خلق اعتراض کوی چه دا علماء په طاعاتو باندې اجرت اخلی ناجائز دې نو پخپله دا اعتراض غلط دې بلکه دادَ هغه خلقو خیال اومنصوبه ده چه دَ اسلام اودین داخه لږ ډیرکار کیږی داهم بندشی په دې وجه مفتی محمد شفیع رحمه الله لیکلی دی چه کوم خلق دا اعتراض کوی هغه ملحد اوبې دینه خلق دی

د قاضی دپاره د تحفو او ډالو د اخستلو او دعوت د قبلولو د جواز صورتونه: ① صاحب: هدایه لیکلی دی چې قاضی دَخپلو هغه دوستانونه هدیه اخستې شی چه دَ قضاء منصب ته دَ راتلونه وړاندې به ئې هغه ته ورکولې دَدې نه علاوه جائزنه دی

② دقاضی دَخپلوانونه هدیه اخستلې شی ځکه چه دا صله رحمی ده کومه چه ماتولې نه شی

③ قاضی دَهغه خلقو دَ خوراك دعوت قبلولې شی کوم چه دَهغه خپلوان وی یا دوستان وی او دَ اول نه ئې عادت وو

④ که عام دعوت وی که قاضی راځی اوکه نه راځی هغه د دعوت پروګرام کولی شی قاضی سره ئې څه تخصیص نه وی نوقاضی دپاره شرکت جائز دی

قاضی دپاره د دعوت د نه قبلولو صورتونه: ① که دَ دعوت کونکی داخیال وی که قاضی نه راځی نو هغه به دعوت نه کوی نو په داسې دعوت کښې قاضی له تګ صحیح نه دې

② قاضی دَداسې سړی دعوت هم نه شی کولې چه عدالت کښې په څه مقدمه کښې پیش کیدونکې وی اودا خبره ده چه دواړه خصمین دعوت کښې راؤغواړی بل قاضی به دَ خصمین په مینځ کښې کینولو کښې اوړلوراوړلو کښې هم مساوات قائم کوی

تنبیه: بهرحال سرکاری حکمرانانوته دَډیر احتیاط ضرورت دې ځکه چه په قومی دولت کښې دَخیانت کولونه توبه کول هم آسان نه دی چه دَ چاچاحق په کوم کوم ځائی کښې وهلې وو داحساب ډیرزیات مشکل دې

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۷۴۵]د نبی علیه السلام ورکړه او منع

۳۷۴۵-[۱] (۱) [۱]عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [۲]«مَا أُعْطِيكُمْ وَلَا أَمْنَعُكُمْ، أَنَا قَاسِمٌ أَضَعُ حَيْثُ أُمِرْتُ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱]حضرت ابوهريره ﷛ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲]زه نه خو تاسو ته درکوم او نه تاسو محروم کوم زه خو صرف تقسيمونکی يم چې کوم ځای ماته د اينبودلو حکم شوی دی زه يي هلته اږدم (بخاري)

حل اللغات ①قَاسِمٌ: تقسيمونکي. ②أَضَعُ: ايږدم.

تسهيلات:

قوله: أُعْطِيكُمْ وَلَا أَمْنَعُكُمْ:

د نبی کريم ﷺ د تقسيم بنياد: يعنی زه په خپل اختيارسره نه چاته څه ورکوم اونه منع کوم دمال دتقسيم باره کښې چه زه څه کوم هغه دالله تعالی د حکم مطابق وی د الله تعالی چه کوم ځائی حکم وی زه هلته ورکوم اوچرته چه حکم نه وی زه هلته نه ورکوم زه خو صرف ويشونکې اوتقسيم کونکې يم ورکونکې خو د الله تعالی ذات دې

[۲۷۴۶]په قومی مال کښې د ناجائزه تصرف سزا

۳۷۴۶-[۲] (۲) [۱]وَعَنْ خَوْلَةَ الْأَنْصَارِيَّةِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [۲]«إِنَّ رِجَالًا يَتَخَوَّضُونَ فِي مَالِ اللّٰهِ بِغَيْرِ حَقٍّ، [۳]فَلَهُمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱]او بي بي خوله انصاريه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲]ډير خلق د الله په مال کې ناحق تصرف کوي يعنی زکوٰة غنيمت او د بيت المال کې د امام او حکمران د اجازت نه بغير تصرف کوي او خپل حق او خپل محنت نه زيات وصول کوي [۳]هغوی به د قيامت په ورځ د دوزخ د اور سزا وار وي (بخاري)

حل اللغات: ①يَتَخَوَّضُونَ: مشغوليږی. تصرف کوی.

تسهيلات:

قوله: خولة الأنصارية. خوله دوه دی ، يو خوله بنت ثامر بله خوله بنت ثعلبه کومه چې د اوس ابن صامت ﷛ زوجه محترمه ده دلته ترې خوله بنت ثامر مراد ده دا خوله بنت ثامر د قبيله دانصارو قبيلې سره تعلق ساتی ددې احاديث اهل مدينه کښې زيات دی ددوئ

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب فرض الخمس/باب قول الله تعالی: {فَأَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ} [الأنفال: ۴۱] " (رقم-۳۱۱۷)
(۲) اخرجه البخاری فی کتاب فرض الخمس/باب قول الله تعالی: {فَأَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ} [الأنفال: ۴۱] " (رقم-۳۱۱۸)

نه نعمان بن ابى العياش زرقى روايت كړې دې. او څينو ونيلى دى چې دا د خوله قيس بنت بنى المالك بن النجار لور ده او ثامر د قيس لقب دې او صحيح خبره داده چې دا دوه جدا جدا ښځې دى

قوله: ان رجالا، اى من العمال وغيرهم يعنى چالره چې دزكوة وغيره وصولى دپاره مختلفو خايونو ته ليږلئ شى

قوله: يتخوضون امام راغب رحمه الله فرمائى چې خوض نه مراد (شروع فى الماءوالمرورفيه) دى او دا آيت سره مقتبس دى (ذَرْهُمْ فِي خَوْضِهِمْ يَلْعَبُونَ)(انعام: ۹۱)

قوله: فى مال الله مال نه مراد بيت المال دې يا د زكوة مال دې يا د خراج يا د جزئې يا د غنيمت مال دې (مرقاة ج/7 ص/244)

قوله: بغيرحق، أى بغيرإذن من الإمام يعنى د امام د اجازت نه بغير او د خپل عمل او حق نه زيات اخستل نو د قيامت په ورځ به دسزا حقدار وى څكه چې په ناحقه د مال اخستلو سزا جهنم ده.

[۲۷٤۷] د حكمران دپاره د قومى خزانې څخه د تنخواه اخستلو حق

۲۷٤۷-[۳] ()[۱] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲] لَمَّا اسْتُخْلِفَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [۳] لَقَدْ عَلِمَ قَوْمِي أَنَّ حِرْفَتِي لَمْ تَكُنْ تَعْجِزُ عَنْ مُئُونَةِ أَهْلِي، [۴] وَشُغِلْتُ بِأَمْرِ الْمُسْلِمِينَ، [۵] فَسَيَأْكُلُ آلُ أَبِي بَكْرٍ مِنْ هَذَا الْمَالِ، [٦] وَيَحْتَرِفُ لِلْمُسْلِمِينَ فِيهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي [۲] چې حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه چې خليفه جوړ شو نو وي فرمايل [۳] څما د قوم خلق يعنى مسلمانان پوهيږي چې څما كارو بار څما د اهل وعيال د اخراجاتو د پاره كافي وو [۴] او س زه د مسلمانانو په امورو كې مشغول شوى يم او د دې په وجه خپل كاروبار جاري نشم ساتلى [۵] نو د ابوبكر اهل وعيال به ددې بيت المال نه خوري [٦] او ابوبكر رضي الله عنه به د دې بيت المال امدني كې اضافه كوله د دې حفاظت كول او دا به د مسلمانانو ضروريات او نورو مصارفو كې د خرچ كولو په ذريعه د مسلمانانو خدمت كوي

حل اللغات: ①اسْتُخْلِفَ: چه خليفه جوړشو. ②حِرْفَة: كاروبار. ③مَئُونَة: اخراجات. ضروريات ④يَحْتَرِفُ: كاركسب كوى

تسهيلات:

د حديث د بعضې جملو وضاحت: ① "تَعْجِزُ" د عاجز راتلو په معنى كښې دې يعنى كاروبار عاجزنه وو زما د اهل وعيال د خرچ نه كم نه وو

[1]) اخرجه البخارى فى كتاب البيوع /باب كسب الرّجل وعمله بيده (رقم-۲۰۷۰)

④ "فَيَأْكُلُ" دا د حق الخدمت طرف ته اشاره ده
⑤ "وَيَحْتَرِفُ" د دې لفظ نه دلته خدمت مراد دې او فيه د ضمير مال طرف ته راجع دې.
ملاعلی قاری رحمه الله دا ضمير "فياكل" معنی مضمون اومفهوم طرف ته راواپس کړې دې.
د بعضې صحابؓ کاروبارونه: بهرحال حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه به د ریښمو اوکپړې کاروبار کولو اوحضرت عمر رضی الله عنه د غلې تجارت کولو د حضرت عثمان تجارت کهجورې اوغنم وو اوحضرت ابن عباس رضی الله عنهما تجارت عطریات کښې وو

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۷۴۸] د تنخواه څخه د زیات اخستلو حرمت

۳۷۴۸—[۴] (۱) ۱ عَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ۲ "«مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ عَلَى عَمَلٍ، فَرَزَقْنَاهُ رِزْقًا، ۳ فَمَا أَخَذَ بَعْدَ ذَلِكَ فَهُوَ غُلُولٌ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ حضرت بریده رضی الله عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل ۲ کوم سړی چې مونږ په څه کار مامور کې او هغه ته مو رزق ورکړ یعنی د هغه کار اجرت او تنخواه مو مقرره کړه ۳ د دې نه وروسته که هغه د خپلې تنخواه نه زیات څه وصول کړي نو دا مال غنیمت کې خیانت دی. (ابوداود)

حل اللغات: ① اِسْتَعْمَلْنَاهُ: عامل ئې جوړکړو. مامور ئې کړو. ② غُلُولٌ: خیانت.

تسهیلات:

د حدیث د بعضې جملو وضاحت:

قوله: من استعملناه یعنی ده لره د یوې عهدې عامل جوړ کړو

قوله: فرزقناه رزقا.....أي مقدارمعينا: معین مقدار کښې هغه وظیفه ورکړې شوه بیا دې نه پس نور مال ئې واخستو . یعنی ده په مال کښې خیانت اوکړو (مرقاةج ۷ص ۳۴۶)

[۳۷۴۹] د عامل اجرت

۳۷۴۹—[۵] (۲) ۱ «وَعَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ عَمِلْتُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ۳- فَعَمَّلَنِي». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت عمر رضی الله عنه وايي ۲ د رسول کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه کې زه عامل جوړ شوم ۳ او د هغه أجرت تنخواه ماته راکول شوه (ابوداود)

حل اللغات: ① عَمِلْتُ: عامل جوړشوم. ② فَعَمَّلَنِي: نوزه ئې عامل جوړ کړم

[۱] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الخراج والإمارة والفيء/باب في أرزاق العمال(رقم-۲۹۴۳)
[۲] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الخراج والإمارة والفيء/باب في أرزاق العمال(رقم-۲۹۴۴) والنسائي في كتاب الزكاة/باب من آتاه الله عزّ وجلّ مالا من غير مسألة (رقم-۲۶۰۴)واحمد في المسند: ۵۲/۱

تسهيلات:

قوله: عملت،أي عملا من أعمال الأمارة يعنى د امارت د عملونو نه ئې يو عمل اوكړى

قوله: عهدرسول الله ﷺ،أي في زمانه وبأمره: د نبى كريم ﷺ په زمانه كښې يا د نبى كريم ﷺ په حكم سره.

قوله: فعملني،أي عطاني: او كله امام توربشتى رحمه الله فرمائى چې ددې مطلب دادې چې (أي اعطاني عمالتي وأجرة عملي) ماته ئې زما د كار اجرت راكړو (مرقاة ايضا) او كله علمني بمعنى ولانى هم مستعمل كيږى نو دې صورت كښې به مطلب دا وى چې (عملت في أمر المسلمين ومصالحهم عملا فأعطاني عمالتي) ما د امور مسلمين او ددوئ د مصالحو نه يو كار اوكړونو رسول كريم ﷺ ماته زما مزدورى راكړه . اوله معنى حديث سره زياته مناسبه ده. (التعليق الصبيح ج/۴ص/۲۸۴)

ددې حديث پاك نه معلومه شوه چې په دينى خدماتو باندې معاوضه اخستل درست دى په دې شرط چې هغه ضرورى وى.

[۳۷۵۰] په قومى خزانه كښې بې اجازته تصرف باندې د غلول اطلاق

حديث—[۲] (١) ⑴وَعَنْ مُعَاذٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ⑵: «بَعَثَنِي رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَى الْيَمَنِ، ⑶فَلَمَّا سِرْتُ، أَرْسَلَ فِي أَثَرِي، فَرُدِدْتُ. ⑷فَقَالَ: " أَتَدْرِي لِمَ بَعَثْتُ إِلَيْكَ؟ لَا تُصِيبَنَّ شَيْئًا بِغَيْرِ إِذْنِي، فَإِنَّهُ غُلُولٌ ﴿وَمَنْ يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾ [آل عمران: ۱۶۱] ⑸لِهَذَا دَعَوْتُكَ فَامْضِ لِعَمَلِكَ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ⑴و حضرت معاذ رضی الله عنه وايي ⑵چې رسول كريم ﷺ زه عامل جوړولو سره يمن ته وليږلم ⑶هركله چې زه يمن تلو د پاره روان شوم او لږ لرې ولاړم نو حضور ﷺ ځما بلنې د پاره يوسړى په ماپسې را وليږلو زه واپس راغلم ⑷نو حضور ﷺ راته وفرمايل ته پوهيږې چې ما په تاپسې دبللو د پاره سړى ولې درليږلى وو ما ددې اګاه كولو د پاره ته رابللى يې چې ته د خپل ملازمت د مودې په دوران كې ځما د اجازت نه بغير څه ځيز مه اخله ځكه چې دا خيانت دى او كوم سړى چې خيانت وكړي هغه به د قيامت په ورځ هغه شي سره راځي چې په هغه كې هغه خيانت كړي دى ⑸د دې ويلو د پاره ماته راغوښتى وې اوس ته په خپل كارپسې لاړ شه (ترمذي)

حل اللغات: ①سِرْتُ: روان شوم. ②فِي أَثَرِي: په ما پسې. ③فَرُدِدْتُ: نو زه واپس راغلم ④لَاتُصِيبَنَّ شَيْئًا: ته څه ځيز ته مه رسيږه. مه اخله. ⑤غُلُولٌ: خيانت ⑥فَامْضِ: اوس ته لاړشه. ⑦لِعَمَلِكَ: دخپل كار دپاره

(١) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الأحكام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى هدايا الأمراء (رقم-۱۳۳۵)

تسهيلات:

قوله: فَلَمَّا سِرْتُ أَرْسَلَ فِي أَثَرِي امام توربشتی رحمه الله فرمائی چې «أثرالشئ حصول ما يدل على وجوده» د يو څيز د اثر حصول ددې په وجود باندې دلالت کوی . لکه په لاره د قدمونو نښې ددې د منزل مقصود دلالت کوی

قوله: وَمَنْ يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ امام طيبي رحمه الله فرمائی چې داشان احا ديث نور هم شته دې چې په هغې کښې نبی کريم ﷺ ارشاد فرمائيلي دې «لاألفين أحدكم يجئ يوم القيامة على رقبته بعيرله رغاء» څه چې تاسو کښې د قيامت په ورځ څوک داسې اونه ګورم چې هغه په دې حال کښې راشی چې دده په څټ باندې يو اوښ وی او هغه آوازونه کوی.

[۳۷۵۱] بې تنخواه حاکم دپاره د بيت المال څخه د اخستلو حد

۳۷۵۱-[۷] ( )[۱] وَعَنِ الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۲] «مَنْ كَانَ لَنَا عَامِلًا فَلْيَكْتَسِبْ زَوْجَةً، [۳] فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ خَادِمٌ فَلْيَكْتَسِبْ خَادِمًا، [۴] فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَسْكَنٌ فَلْيَكْتَسِبْ مَسْكَنًا». [۵] وَفِي رِوَايَةٍ: «مَنِ اتَّخَذَ غَيْرَ ذَلِكَ فَهُوَ غَالٌّ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او مستورد رضی الله عنه ابن شداد وايي ما د رسول الله ﷺ نه دا واوريدل [۲] کوم سړی چې مونږ عامل د يوځای حاکم جوړ کړي دی که د هغه ښځه نه وي نو هغه ته پکار دی چې هغه يوه ښځه په نکاح کړي [۳] که هغه سره څوک خادم غلام او وينځه نه وي نو هغه ته پکار دی چې هغه يو غلام واخلي [۴] او که د هغه څه کورنه وي نو هغه ته پکار دی چې يو کور جوړکړي يا واخلي [۵] او په يوروايت کې داهم دی که هغه د دې نه علاوه څه واخلي نو هغه به خيانت کونکی وي. (ابوداود)

حل اللغات: ① عَامِل: حاکم. ② فَلْيَكْتَسِبْ: نو اودې ګټی ③ مَسْكَنٌ: د اوسيدو ځائې. کور. ④ غَالٌّ: خيانت کونکې

تسهيلات:

قوله: فَلْيَكْتَسِبْ زَوْجَةً:

د مذکوره جملې مطلب: مطلب دا چه حاکم دَ خپل زيرتصرف بيت المال نه دَ ښځې مهر اونان نفقه مقدار په اندازه دَ کفاف بغيراسراف روپئی اخستلې شی ليکن دا په هغه صورت کښې دی کله چه دَ دغه حاکم تنخواه دَ بيت المال نه مقررنه وی که چرې دَهغه تنخواه مقرروی نوبيابه دغه ضروريات هم دَهغې نه پوره کولې شی. دغه شان دَ خپل

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الخراج والإمارة والفیء/باب فی أرزاق العمال(رقم-۲۹۴۵)واحمد فی المسند: ۴/۲۹۹

اوسیدو ضروریات مطابق یوکور اوذخدمت دپاره یوغلام اوکه د غلامانودور نه وي نودهغي د قیمت مقدار د بیت المال نه اخستی شي که د ضرورت نه زیات اخلی نوحرام به وی خکه چه ضرورتونه خویوه اوږده سلسله ده په دې وجه د ضابطې لاندې تنخواه مقررکول د نن صباد دور مطابق زیات بهتردی. د مدارسو دمهتمیمینو حضراتو د پاره هم تنخواه مقررکول د عافیت سبب دې

[۳۷۵۲] قومي خزانه کښې د خیانت حرمت

۳۷۵۲–[۸] ()[۱] وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ عَمِيرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲]«يَاأَيُّهَا النَّاسُ! مَنْ عُمِّلَ مِنْكُمْ لَنَا عَلَى عَمَلٍ، [۳] فَكَتَمَنَا مِنْهُ مِخْيَطًا فَمَا فَوْقَهُ فَهُوَ غَالٌّ، [۴] يَأْتِي بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. [۵] فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ، فَقَالَ: يَارَسُولَ اللّٰهِ! اقْبَلْ عَنِّي عَمَلَكَ.

ترجمه: [۱] او حضرت عدي رضی الله عنه ابن عمیره وایي چې رسول کریم ﷺ یوه ورځ مسلمانانو ته په خطاب کولو سره وفرمایل [۲] اې خلقو! په تاسو کې چې کوم سړی زمونږ د طرف نه دیوکار عامل جوړ شي یعنی چې مونږ یې په څه خدمت مثلاً زکوٰة وغیره وصولولو باندې مامور کړو [۳] او هغه د هغه کار آمدنی نه د ستنې (سوئي) برابر یا د دې نه زیات زمونږ نه پټ کړي یعنی څه چې وصول کړي په هغه کې زمونږ د اجازت او علم نه بغیر لږ یا ډیر واخلي نو هغه خیانت کونکی دی [۴] او هغه به د قیامت په ورځ هغه خیانت کړي شي سره راځي [۵] په دې اوریدو سره یو انصاري اودریدلو او عرض یې اوکړو چې یارسول الله تاسو چې د وصولي کوم کار ماته حواله کړي دی هغه زما نه واپس واخلئ

حل اللغات: ① عُمِّلَ: عامل. حاکم جوړکړې شو. ② فَكَتَمَ: نو پټ ئې کړو. ③ مِخْيَط: دمیم په کسرې سره. ستن یا د ستنې برابر. ④ غَالٌّ: خیانت کونکی.

[۱] قَالَ: وَمَا ذَاكَ؟ قَالَ سَمِعْتُكَ تَقُولُ: كَذَا وَكَذَا [۲] قَالَ: وَأَنَا أَقُولُ ذَٰلِكَ، مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ عَلَى عَمَلٍ; فَلْيَأْتِ بِقَلِيلِهِ وَكَثِيرِهِ [۳] فَمَا أُوتِيَ مِنْهُ أَخَذَهُ، وَمَا نُهِيَ عَنْهُ انْتَهَى» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ، وَأَبُودَاوُدَ، وَاللَّفْظُ لَهُ.

ترجمه: [۱] حضور ﷺ وفرمایل ولې؟ هغه عرض اوکړو ما چې ستاسو نه داسې واوریدل یعنی تاسو چې د دې کار په سلسله کې کوم وعید بیان کړي دی د هغه په وجه خو فزده شوی یم ځکه چې دا کار د خطا نه خو خالي نه دی که زه په څه خطا کې مبتلا شم نو د قیامت په ورځ به څه جواب ورکوم [۲] حضور ﷺ وفرمایل هو زه دا وایم چې مونږ کوم سړی عامل مقرر کی هغه ته پکار دی چې هغه څه وصول کړي برابره خبره ده که هغه لږ وي یا زیات ټول دې مونږ ته راوړي [۳] او په هغه کې د اجرت تنخواه په طور چې څه هغه ته

() اخرجه مسلم فی کتاب الإمارة/باب تحریم هدایا العمّال (رقم) ۳۰ - (۱۸۳۳) و ابو داود فی کتاب الأقضیة/باب فی هدایا العمّال (رقم-۳۵۸۱) واحمد فی المسند: ۱۹۲/۴

ورکول شي هغه دي واخلي او څه چې ورنه کول شي د هغه نه دي منع شي اوس ددي واضحي تنبيه نه وروسته کوم سړی چې هغه کار آنجام کوي هغه دي د دې ذمه واري قبوله کړي او کوم سړی چې دي شرائط سره د دې آنجام دهي کې ځان معذوره وګني هغه دي دا ذمه واري نه قبلوي (مسلم ابوداود) الفاظ د ابوداود دي

تسهيلات:

د راوي مختصر تعارف:

حضرت عدى بن عميره ﷺ: نوم ئې عدى دې اود پلار نوم ئې عميرة دې نسب نامه ئې داسې ده عدى بن عميرة بن فروة بن زرارة ابوزر الكندى دا كندى خضرمى دې.

وفات: دَ كوفې اوسيدونكې دې بيا جزيرې طرف ته لاړو او هم هلته وفات شو.

مرويات: دَ هغه نه ټول درې احاديث نقل دى يويه مسلم شريف كښې دې باقى دوه په نورو كتابونو كښې دى بخارى شريف كښې دَ هغه نه يوروايت هم نشته. (۳)

قوله: مخيطا، أي إبرة فما فوقه أي في القلة او الكثرة او الصغيرة او الكبر امام طيبى ﷫ فرمائى چې دې ځائې د حقارت پيش نظر مثال وركول دى لكه څنګه چې الله ﷻ فرمائى چې (إِنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَحْيِي أَنْ يَضْرِبَ مَثَلًا مَا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا) (البقرة: ٢٦)

قوله: اخذه وما نهى عنه : د كوم څيز د اخستلونه چې منع كړې شو بدې دهغې نه منع شئ امام طيبى ﷫ فرمائى چې (من استعملنا) دا تكرير په معنى او بيان مزيد وضاحت كوى يعنى (أنا أقول ذلك ولا أرجع عنه فمن استطاع أن يعمل فليعمل ومن لم يستطع فليترك) كوم كس چې ددې كار طاقت لرى نو هغه دې دا اوكړى ګنى بيا دې پريږدى چې كار كولو طاقت هم نه وى او ددې ذمه په خپل سر باندې اخلى

[۳۷۵۳] رشوت اخستونكى او وركونكى باندې لعنت

۳۷۵۳-[۹] (١) ①وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ②«لَعَنَ رَسُولُ اللهِ الرَّاشِيَ وَالْمُرْتَشِيَ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ①او عبد الله ابن عمرو ﷺ وايي ②چې رسول كريم ﷺ په رشوت اخستونكى او رشوت وركونكي دواړو باندې لعنت ويلى دى (ابوداود ابن ماجه)

حل اللغات: ①الرَّاشِيَ: رشوت اخستونكي. ②وَالْمُرْتَشِيَ: رشوت وركونكي

---

[١]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأقضية/باب فى كراهية الرّشوة (رقم-٣٥٨٠) والترمذى فى كتاب الأحكام عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فى الرّاشي والمرتشي فى الحكم (رقم-١٣٣٧) و ابن ماجه فى كتاب الأحكام /باب التّغليظ فى الحيف والرّشوة (رقم-٢٣١٣) واحمد فى المسند:٢/١٦٤

۲۷۵۴-( ) وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ عَنْهُ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ.

ترجمه: ترمذي دا روايت د عبد الله ابن عمرو رضي الله عنه او ابو هريره رضي الله عنه نه

۲۷۵۵-( ) وَرَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ" عَنْ ثَوْبَانَ، وَزَادَ: "وَالرَّائِشَ. يَعْنِي: الَّذِي يَمْشِي بَيْنَهُمَا.

ترجمه: او بيهقي شعب الايمان كې د حضرت ثوبان رضي الله عنه نه نقل كړي دی او د بيهقي په روايت كې دا الفاظ هم دي چې حضور ﷺ هغه سړی چې د رشوت وركونكي او رشوت اخستونكي په مينځ كې واسطه جوړه شي په هغه هم لعنت ويلی دی

حل اللغات. ①الرَّائِشَ: چه د رشوت په معامله كښې خي راخي. د رشوت واسطه

تسهيلات:

قوله: لَعَنَ رَسُولُ اللهِ الرَّاشِيَ وَالْمُرْتَشِيَ:

د رشوت تعريف: رشوت هغه مال ته وائي چه يوحاكم ته دَ ابطال حق اودَ احقاق باطل دَپاره وركړې شي په كوم سره چه دَ نورو حق اووهلې شي يعنى دَ صاحب حق حق اووهلې شي اودَ رشوت په زور باندې هغه بل چاته وركړې شي كه رشوت دَخپل حق دَحصول او اثبات دَپاره وركړې شي يا دَ ظلم دفع كولو دَپاره وركړې شي نودا په حقيقت كښې يو تاوان دې دَ دې په جوازكښې كلام نشته دې ځكه چه دادَ خپل ځان نه دَ ظلم دفع كول دی

قوله: الرَّاشِيَ وَالْمُرْتَشِيَ:

د خپل حق حاصلولو دپاره د رشوت وركولو حكم: رشوت وركونكى ته راشى وائى اودَ اردو والا عوام راشى رشوت اخستونكى ته وائى دادَ عواموغلطى ده ځكه چه رشوت اخستونكى ته عربى كښې مرتشى وائى او وركونكى ته راشى وائى

[۲۷۵٦] د صالح انسان دپاره د حلال مال ښه والی

۲۷۵٦-[۱۰] ( ) ①«وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ أَرْسَلَ إِلَيَّ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ②"أَنِ اجْمَعْ عَلَيْكَ سِلَاحَكَ وَثِيَابَكَ، ثُمَّ ائْتِنِي. ③قَالَ: فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ يَتَوَضَّأُ. ④فَقَالَ: يَا عَمْرُو! إِنِّي أَرْسَلْتُ إِلَيْكَ لِأَبْعَثَكَ فِي وَجْهٍ يُسَلِّمُكَ اللهُ وَيُغْنِمُكَ، ⑤وَأَزْعَبَ لَكَ زَعْبَةً مِنَ الْمَالِ.

ترجمه: ①او عمرو ابن العاص رضي الله عنه وايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ د يو سړي په ذريعه ماته دا پيغام را وليږلو ②چې ته خپل هتيار او كپړې راجمع كړه يعنى د سفر تياري وكړه او بيا ماته راشه ③حضرت عمرو رضي الله عنه وايي ما د رسول الله ﷺ د فرمان مطابق د سفر

---

[1]) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الأحكام عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فى الرّاشى والمرتشى فى الحكم (رقم-۱۳۳٦)

[2]) اخرجه احمد فى المسند ۵/ ۲۷۹ والبيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۵۵۰۳

[3]) اخرجه البغوى فى شرح السنه رقم الحديث ۲٤۹۵،واحمد فى المسند: ۱۹۷/٤

تیاري کولو سره د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شوم حضور ﷺ هغه وخت اودس کوی ③خما په لیدو سره یې وفرمایل اې عمرو، ماتاته سړی درلیږلو سره ځکه مې راغوښتی یې چې زه تا یوطرف ته د یوځای حاکم یا عامل جوړولو سره ولیږم الله ﷻ به تاته سلامتي او مالِ غنیمت درکړي ⑤او زه هم تاته څه مال درکړم.

حل اللغات: ① سِلَاحَكَ: خپله وسله. ② وَجْهٍ: طرف ③ يُسَلِّمَكَ: سلامتی به درکړی. ④ وَيُغَنِّمَكَ: مال غنیمت به درکړی. ⑤زَغْبَةً: د باب فتح نه د لوښی وغیره ډکولو په معنی کښې راځی څه مال.

①فَقُلْتُ: يَارَسُولَ اللهِ! مَاكَانَتْ هِجْرَتِي لِلْمَالِ، وَمَاكَانَتْ إِلَّالِلّٰهِ وَرَسُولِهِ. ②قَالَ: نِعِمَّا بِالْمَالِ الصَّالِحِ لِلرَّجُلِ الصَّالِحِ» "③رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ. وَرَوَى أَحْمَدُ نَحْوَهُ. ④وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ: "«نِعْمَ الْمَالُ الصَّالِحُ لِلرَّجُلِ الصَّالِحِ»".

ترجمه: ①ما عرض اوکړو یارسول الله څما هجرت کول یعنی څما ایمان قبلول خالصةً لله وو او څما هجرت صرف دالله دپاره او دهغه د رسول ﷺ د خوشنودي او رضا د پاره وو ②حضور ﷺ وفرمایل نیك بخت سړي د پاره ښه مال ښه څیز دی ③شرح السنه، امام احمد ﷫ هم دغه شان روایت نقل کړي دی ④او د هغوی په روایت کې دا الفاظ دي چې نیك سړي د پاره ښه مال ښه څیز دی.

حل اللغات: ⑥نِعِمَّا: ډیر ښه دی.

تسهیلات: **قوله:** يُسَلِّمَكَ اللهُ:

د حضرت عمرو بن عاص رضی الله عنه بحیثیت ګورنر د مقرر کیدلو قصه:

یعنی زه تا د جهاد دپاره لیږم یا تا عامل جوړولو سره یوطرف ته روانوم الله تعالی به تا په حفاظت کښې هم ساتی او تاته به د غنیمت مال هم درکوی

د عمرو بن العاص مختصر تعارف: حضرت عمرو بن العاص ﷛ په ۵هجری کښې مسلمان شوي وو او حضرت خالدبن ولید ﷛ په ملګرتیا کښې د مدینې منورې طرف ته هجرت کړې بعضې وئیلی دی چه ۸هجری کښې مسلمان شوې وو نبی کریم هغه د عمان ګورنر مقرر کړې وو کیدې شی چه په دې حدیث کښې هم د هغه تقرر قصه ده.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٣٧٥٧] د سفارش کونکی څخه د هدیه د قبلولو حرمت

٣٧٥٧-[١١] ()[1] ①عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ②«مَنْ شَفَعَ لِأَحَدٍ شَفَاعَةً، ③فَأَهْدَى لَهُ هَدِيَّةً عَلَيْهَا، فَقَبِلَهَا; ④فَقَدْ أَتَى بَابًا عَظِيمًا مِنْ أَبْوَابِ الرِّبَا». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ①حضرت ابو امامه ﷛ نه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل ②کوم سړی چې یو بادشاه یا حاکم ته د یو سړي مثلًا د زید سفارش کوي ③او هغه زید هغه سفارش

[1]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب فی فضل من قتل کافرا (رقم-٣٤٩٥)

کونکي ته د سفارش عوض کې یو څیز بطور هدیه او تحفه راولیږلو. او هغه سفارش کونکي هغه تحفه قبوله کړي ۴ نو هغه د سود دروازو کې په یوه لویه دروازه داخل شو (ابوداود)

حل اللغات: ① شَفَاعَةً: سفارش.

تسهیلات: قوله: مِنْ أَبْوَابِ الرِّبَا:

په حدیث کښې په رشوت باندې د ربا د اطلاق وجه: په دې حدیث سره چه د سفارش کوم صورت بیان کړې شوي دې د هغې په معاوضه کښې چه کوم څه اخستلې شي هغه د رشوت په زمره کښې راځی مګر دې ته د رشوت په ځائی د سود په نوم سره په دې وجه یاد کړې دې چه دا یوه داسې ګټه ده چه سفارش کونکی ته بغیر د معاوضې حاصله شوې ده او د سود تعریف ملاعلی قاری رحمه الله د دې حدیث په ضمن کښې داسې کړې دې "وهو في الشرع فضل خال من عوض شرط لاحد العاقدين" یعنی سود د هغه زیاتی ګټې نوم دې چه د مالی معاوضې نه بغیر معامله کونکونه یو کس ته ملاؤ شوې وی

[۴] بَابُ الْأَقْضِيَةِ وَالشَّهَادَاتِ

د فیصلو او شهادتونو بیان

خلاصة الباب:

فيه ثمانية وعشرون حديثاً مشتملة على ثلاث عشر مسئلة:

① البينة على المدعي واليمين على من أنكر: ۱، ۶، ۷، ۱۲، ۱۸.

② قباحة اليمين وشهادة الزور: ۲، ۳، ۷، ۱۰، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۲.

③ عدم تحليل الحرام بحكم الحاكم: ۴، ۱۳.

④ النهي عن الدعوى الكاذبة: ۸.

⑤ الزجر لمن كثر خصامه: ۵.

⑥ فضيلة الشهادة بالحق: ۹.

⑦ القرعة في اليمين: ۱۰، ۱۶.

⑧ حكم المدعين: ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶.

⑨ طريق التحليف: ۱۷.

⑩ من لا تقبل شهادتهم: ۲۳، ۲۴، ۲۵.

⑪ وجوب الكيس والتيقظ عند الدعوى: ۲۶.

⑫ جواز الحبس في التهمة: ۲۷.

⑬ طريق قعود الخصمين: ۲۸.

تسهیلات: قوله: الْأَقْضِيَةِ:

د اقضیه مفهوم:

او قضایا د قضية جمع ده او قضیه هغه نزاعی معامله ته وائی کوم چه حاکم او قاضی سره په دې غرض سره اوړی دې د پاره چه د فریقینو په مینځ کښې دغه جګړه ختمولو د پاره څه حکم او فیصله اوکړی

قوله: وَالشَّهَادَاتِ:

د شهادات مفهوم:

د شهادة جمع ده. ګواهی ورکولو ته شهادت وائی او په اصطلاح کښې فریقینو نه د یو فریق حق د بل فریق په مقابله ثابتولو نوم شهادت دې

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳۷۵۸] بغیر د ګواهانو د دعوې عدم اعتبار

۳۷۵۸–[۱] (١) [١] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، قَالَ: [٢] «لَوْ يُعْطَى النَّاسُ بِدَعْوَاهُمْ، [٢] لَادَّعَى نَاسٌ دِمَاءَ رِجَالٍ وَأَمْوَالَهُمْ، [٣] وَلَكِنَّ الْيَمِينَ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل [٢] که خلقو ته خاص د هغوی په دعوی د هغوی مدعا ورکول شي یعنی که مدعي نه نه خو شاهد طلب شي او نه مدعا علیه نه تصدیق وشي بلکه خاص د هغه په دعوی د هغه د مال او جان داقسم نه مدعا ورکول شي [٢] نو خلق به د خپلو سرو خون او د خپل مال او د دروغو دعوی کول شروع کړي [٣] نو یوازې د مدعي بلا شاهدی بیان معتبر نه دی لیکن قسم اخستل په مدعا علیه ضروري دی (مسلم)

حل اللغات: ① يُعْطَى: ورکولې شی. ② الْمُدَّعَى عَلَيْهِ: په چا چه دعوی شوې وی.

[١] وَفِي شَرْحِهِ لِلنَّوَوِيِّ أَنَّهُ قَالَ: وَجَاءَ فِي رِوَايَةِ الْبَيْهَقِيِّ بِإِسْنَادٍ حَسَنٍ، أَوْ صَحِيحٍ، زِيَادَةٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ مَرْفُوعًا: [٢] «لَكِنَّ الْبَيِّنَةَ عَلَى الْمُدَّعِي وَالْيَمِينَ عَلَى مَنْ أَنْكَرَ».

ترجمه: [١] او نووي رحمه الله په خپل کتاب شرح مسلم کې لیکلی دی د بیهقي رحمه الله په روایت کې کوم چې حسن یا صحیح اسناد نه منقول دی حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه مذکوره بالاحدیث کې بطریق مرفوع د دې الفاظو اضافه هم منقوله ده [٢] یو شاهد پیش کول د

---

١) اخرجه البخاری فی کتاب تفسیر القرآن/باب {إنّ الذین یشترون بعهد الله وأیمانهم ثمنا قلیلا. أولئک لا خلاق لهم} [آل عمران: ٧٧] : لا خیر {ألیم} [البقرة: ١٠] : «مؤلم موجع من الألم. وهو فی موضع مفعل» (رقم-٤٥٥٢) ومسلم فی کتاب الأقضیة/باب الیمین علی المدّعی علیه (رقم-١ - (١٧١١)

مدعي په ذمه دی او قسم اخستل د هغه سړي حق دی چې انکاروکړي يعنی مدعا عليه

حل اللغات: ③أَنْكَرَ: چه انکار اوکړی.

تسهيلات: قوله: لَوْيُعْطَى النَّاسُ بِدَعْوَاهُمْ:

د حرف لو وضاحت: دا لوفرضيه دې او يعطى دَ مجهول صيغه ده يعنی فرض کړه که خلقوته صرف دَهغوی دَ دعوی په بنياد باندې مال ورکول شروع شی اودَ ګواهانوضرورت نه وی نوڅه خلق به دَ نورو ذاتی مالونه اودهغوی ځانونه اخستل شروع کړی هم دَدې دَپاره دَ اسلام دا قطعی ضابطه ده چه اول دَمدعی نه ګواه اوغوښتې شی اوکه ګواه موجودنه وی نوبيابه مدعی ته قسم ورکولې شی.

په حديث کښې د ګواهانو د نه ذکر کولو وجه: په حديث کښې صرف د قسم ذکر دې د ګواهانو نشته ځکه مسئله ډيره واضحه اومشهوره وه په دې وجه داذکرنه کړې شو اودَمنکردَپاره دَ قسم ذکراوکړې شو. صاحب مشکوة دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دَ يوروايت اضافه کولوسره دا مفهوم او ګواهانو اودَ قسم مضمون مکمل کړو اودَ صاحب مشکوة طرز پوره کتاب کښې عموماًهم دغه دې چه دَ يومجمل حديث تفسير راتلونکی بل حديث سره کوی.

[۳۷۵۹] په دروغه قسم خوړونکی باندې دالله تعالی غصه

۳۷۵۹–[۲] ()[۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۲] «مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينِ صَبْرٍ وَهُوَ فِيهَا فَاجِرٌ يَقْتَطِعُ بِهَا مَالَ امْرِءٍ مُسْلِمٍ [۳] لَقِيَ اللَّهَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ» [۴] " فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَصْدِيقَ ذَلِكَ: ﴿إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا﴾ [آل عمران: ۷۷] إِلَى آخِرِ الْآيَةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] و حضرت ابن مسعود رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل [۲] کوم سړی چې په يوشي باندې مقيد کيدو سره يعنی د حاکم مجلس کې محبوس کيدو سره قسم واخستلو او هغه په خپل قسم کې دروغجن وي چې د هغه مقصد قسم اخستوسره د يو مسلمان سړي مال حاصلول وي [۳] نو هغه به د قيامت په ورځ د الله جل جلاله سره په داسې حال کې ملاقات کوي چې الله جل جلاله به په هغه غضبناک وي [۴] نو د دې ارشاد په تصديق کې الله جل جلاله دا آيت نازل کړو إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا الخ.

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب تفسير القرآن/باب {إنّ الّذين يشترون بعهد الله وأيمانهم ثمنا قليلا. أولئک لا خلاق لهم} [آل عمران: ۷۷] : لا خير{أليم} [البقرة: ۱۰] : «مؤلم موجع من الألم. وهو فی موضع مفعل» (رقم-۴۵۴۹) ومسلم فی کتاب الإيمان/باب وعيد من اقتطع حق مسلم بيمين فاجرة بالنّار (رقم-۲۲۰ - (۱۳۸) والترمذی فی کتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلّم/باب: ومن سورة آل عمران(رقم-۳۰۱۲) و ابن ماجه فی کتاب الأحکام / باب من حلف على يمين فاجرة ليقتطع بها مالا (رقم-۲۳۲۳)

حل اللغات: ①يَمِينِ صَبْرٍ: محبوس کیدو، او راایسارولو سره قسم اخستل. ②فَاجِرٌ: دروغجن. ③يَقْتَطِعُ: قطع کوی. غصب کوی. حاصلوی. ④غَضْبَانٌ: غضبناک. غصه

تسهیلات: قوله: مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينِ صَبْرٍ:

د یمین صبر درې مطلبونه: ① دَ یمین صبر نه مراد یمین کاذب دې مثلاً یوسړې دَ بل سړی مال ضائع کولو نیت سره دَ دروغو قسم خوری دا یمین صبر دې دامفهوم آسان هم دې اود حدیث دَ راتلونکو جملو نه ددې تائید هم کیږی ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه د حدیث مطلب دلته مراد دې او په حدیث کښې دَ آیت تکمیل داسې دې ﴿ أُولَٰئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ وَلَا يَنظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾

② یمین صبر دلته حبس اوقید کولوپه معنی کښې مستعمل شوې دې لهذا دَ حدیث مطلب داشو چه یوسړی ته حاکم په عدالت کښې دَ یوې مقدمې په سلسله کښې دَ قسم خوړلودپاره راحصار کړو دَعدالت کاروائی په دې قسم باندې موقوف ده دیخواحاکم هغه ته دَ قسم خوړلو حکم ورکړو دَ کوم په وجه چه په هغه باندې قسم خوړل اطاعت دَ امیر لازم هم دې په داسې قسم کښې چه کوم سړې دروغ وائی نوهغه به ډیر ګناهګار شی

③ دَ یوسړی نه دَ قسم خوړلو مطالبه اوکړې شوه اودَ هغه په قسم سره دویم سړې قید کیدې شی هغه دَ دروغو قسم اوخوړلودَ کوم په نتیجه کښې بل سړې راګیرشو داقسم خوړل ډیره ګناه ده.

[۳۷۶۰] دقسم په ذریعه دچاپه مال ناحقه قبضه کونکی باندې دجنت حرمت

٣٧٦٠-[٣] ()① وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«مَنِ اقْتَطَعَ حَقَّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ بِيَمِينِهِ: ③ فَقَدْ أَوْجَبَ اللَّهُ لَهُ النَّارَ، وَحَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ. ④ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: وَإِنْ كَانَ شَيْئًا يَسِيرًا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ ⑤ قَالَ: وَإِنْ كَانَ قَضِيبًا مِنْ أَرَاكٍ»" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابو امامه رضی الله عنه وايي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② کوم سړی چې د خپل دروغ قسم په ذریعه د یومسلمان سړي حق غصب کی ③ بلاشبه الله تعالی د هغه د پاره اور واجب کی او په هغه يي جنت حرام کی ④ یوسړي په دي اوریدو سره حضور صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو اګر چې هغه حق څه معمولی شی وي؟ ⑤ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل هو اګر چې دمسواک د وني یوه ټکره یعنی مسواک وي (مسلم)

حل اللغات: ①اقْتَطَعَ: غصب کوی. حاصلوی. ②قَضِيبًا: څه حصه دمسواک د وونې. ③أَرَاكٍ: یو قسم وونه، د مسواک وونه. دکیکر وونه

---

(١) اخرجه مسلم فی کتاب الإیمان/باب وعید من اقتطع حقّ مسلم بیمین فاجرة بالنّار (رقم-٢١٨ - (١٣٧) والنسائی فی کتاب آداب القضاة/باب القضاء فی قلیل المال وکثیره،(رقم-٥٤١٩) ومالک فی الموطا کتاب الأقضیة/باب ما جاء فی الحنث علی منبر النّبیّ صلّی الله علیه وسلّم (رقم-١١) واحمد فی المسند:٢٦٠/٥

تسهیلات: قوله: أَوْجَبَ اللّٰهُ لَهُ النَّارَ:

د مذکوره جملې دوه مطلبونه:

① دَ داسې سړی سزا دَ دغه بدعمل په وجه بیشکه هم دغه دوزخ دې لیکن په قیامت کښې فیصله په معجون مرکب باندې کیږی دَ یو عمل په خاصیت سره مجموعی فیصله نه کیږی او د اهم ممکن دی چه الله تعالی دَ دغه سړی مغفرت اوفرمائی

② د دې حدیث تعلق هغه سړی سره دې چه دَ یو مسلمان حق خوړل حلال گنړی دَ ده دَپاره دوزخ واجب دې او جنت په ده باندې حرام دې

قوله: وَحَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ:

په عدم دخول جنت کښې تاویل: یعنی دا سړې به په اول ځل خلاصې بیاموندونکو سره جنت ته نه ځی بلکه دَ سزا خوړلونه پس به ځی. ځکه چه دَاهل سنت په نیز مرتکب کبیره مخلد فی النار نه دې الکاشف: **۷/۲۹۶**.

[۳۷۶۱] د قاضی په فیصله د بل د حق عدم حلت

۳۷۶۱-[۴] (۱) ① وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② "«إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ، ③ وَإِنَّكُمْ تَخْتَصِمُونَ إِلَيَّ، ④ وَلَعَلَّ بَعْضَكُمْ أَنْ يَكُونَ أَلْحَنَ بِحُجَّتِهِ مِنْ بَعْضٍ، ⑤ فَأَقْضِي لَهُ عَلَى نَحْوِ مَا أَسْمَعُ مِنْهُ، ⑥ فَمَنْ قَضَيْتُ لَهُ بِشَيْءٍ مِنْ أَخِيهِ، فَلَا يَأْخُذَنَّهُ، ⑦ فَإِنَّمَا أَقْطَعُ لَهُ قِطْعَةً مِنَ النَّارِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او بي بي ام سلمه رضي الله عنها وايي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل ② په دې کې شك نشته چې زه یو انسان یم ③ او تاسو خپلې قضیې جګړې ماته راوړئ ④ ممکنه ده په تاسو کې یوسړی خپل دلائل پیش کولو کې ددویم نه زیات د فصیح او بلیغ بیان حامل وي ⑤ او زه د هغه مدلل بیان اوریدو سره د هغه مطابق فیصله وکړم ⑥ نو هغه سړی چې زه د هغه په حق کې د یوداسې شي فیصله وکړم چې په حقیقت کې د هغه د مسلمان ورور وي نو هغه څیز دې نه اخلي ⑦ ځکه چې په داسې صورت کې ګویا زه د هغه په حق کې د اور د یوې ټکړې فیصله کوم (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① تَخْتَصِمُونَ: تاسو قضیې او جګړې راوړئ. ② أَلْحَنَ: زیات فصاحت او صفایئ سره خبره کوی ③ فَلَا يَأْخُذَنَّهُ: نو نه دې اخلی. ④ قِطْعَةً: حصه. ټکړه

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الحیل/باب إذا غصب جاریة فزعم أنّها ماتت. فقضی بقیمة الجاریة المیّتة. ثمّ وجدها صاحبها فهی له. ویردّ القیمة ولا تکون القیمة ثمنا (رقم-۶۹۶۷) ومسلم فی کتاب الأقضیة/باب الحکم بالظّاهر. واللّحن بالحجّة (رقم-٤ - (۱۷۱۳) و ابو داود فی کتاب الأقضیة/باب کیف القضاء (رقم-۳۵۸۲) والترمذی فی کتاب الأحکام عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی التّشدید علی من یقضی له بشیء لیس له أن یأخذه (رقم-۱۳۳۹)والنسائی فی کتاب آداب القضاة/باب الحکم بالظّاهر (رقم-٥٤٠١) وابن ماجه فی کتاب الأحکام / باب قضیّة الحاکم لا تحلّ حراما ولا تحرّم حلالا (رقم-۲۳۱۷)واحمد فی المسند:۲۹۰/۶

تسهيلات:

قوله إِنَّمَا أَنَابَشَرٌ: يعنی زه يو انسان يم عالم الغيب نه يم زه ظاهر ته گورم فيصله کوم لهذا سهو او نسيان يعنی هيره بشری تقاضه ده يو انسان عالم الغيب خو وی نه يو سړی به په خپل ظاهری الفاظو سره او په زوردار کلام سره خپله مدعا ثابته کړی او په حقيقت کښې به هغه په دغه خبره کښې په حق باندې نه وی ليکن هغه به دَ قوت بيان د وجې نه په حق باندې معلوميږی نوزه به دَ هغه په حق کښې فيصله کوم حالانکه حق به د يو بل سړی وی نو ياد لرئ په داسې غوره ژبه چه زه هغه ته څه هم ورکړم هغه به دَ دوزخ ټکړه وی

د قاضی د فيصلې ظاهراً او باطناً نفاذ کښې ۲ مذاهب:

اوس دلته دَ فقهاؤ اختلاف دې چه قضاء دَ قاضی صرف په ظاهری کښې نافذ ده يې په ظاهر او باطن دواړو کښې نافذ ده

① دَ جمهورو او صاحبينو په نيزقضاء دَقاضی ظاهراً نافذ ده باطناً نافذ نه ده

② امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی چه قضاء دَ قاضی ظاهراً او باطنًا دواړه شان نافذ ده په ظاهراو باطن کښې دَ نافذ کيدو مطلب دادې چه په ظاهری شريعت کښې په دنيا کښې څنګه چه هغه فيصله نافذ کيږی په آخرت کښې يعنی دَ الله تعالی په نيز به هم هغه فيصله صحيح شميرلې کيږی

د محل د اختلاف: اوس دَ محل اختلاف تعيين ضروری دې چه دَ فقهاؤ په کوم ځائې کښې اختلاف دې او په کوم ځائی کښې اتفاق دې نودا ګڼړل پکاردی که چرې قضاء دَ قاضی په املاک مرسله کښې وی نو په اتفاق سره به ظاهراً قضاء نافذ وی او باطن به نافذ نه وی او که چرې قضاء دَ قاضی په املاک غيرمرسله کښې يعنی په املاک مفيده کښې يا په غير اموال کښې وی مثلاً نکاح طلاق وغيره په عقود او فسوخ کښې وی نو په دې صورت کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې د ائمه ثلاثه او صاحبينو په نيز قضاء دَ قاضی به صرف ظاهراً نافذ کيږی باطناً به نه نافذ کيږی

دَ امام ابو حنيفه رحمه الله په نيزقضاء دَ قاضی ظاهراً هم نافذ ده او باطناً هم نافذ ده

صورت د مسئلې: دمثال په توګه يوې ښځې دعوی اوکړه چه فلانکی سړی ماسره واده کړې دې په دې باندې دغه ښځې دوه د دروغو ګواهان هم پيش کړل او واده ئې ثابت هم کړو حالانکه په حقيقت کښې هيڅ واده بنادی نه ده شوې

د اول فريق مذهب: اوس ائمه ثلاثه فرمائی چه دا ښځه به په ظاهر کښې دَدغه سړی ښځه وی ليکن په باطن کښې يعنی فيما بينه وبين الله دادَ دغه سړی ښځه نه ده. لهذا دا سړې دې ښځې سره جماع نه شی کولې که چرې کوی نو ګناهګار به کيږی

د دویم فریق مذهب: دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزدا بنځه ظاهراً او باطناً دَ دغه سړی بنځه شوه دې سره جماع کول جائز دی اوس دَ فریقینو دَ دلائل نه مخکښې په دې خبره باندې ځان پوهه کول ضروری دی چه املاك مرسله او املاك مقیده څه ته وائی نویاد لرئی چه املاك مرسله هغه مالونه دی چه یوسړی په څه څیز کښې دَ ملکیت دعوىٰ اوکړه مګر دَ ملك سبب ئی بیان نه کړو چه په کومه وجه دا مال دَ هغه ملکیت دې دې ته املاك مرسله وائی او املاك غیرمرسله هغې ته وائی چه دعوىٰ ئی دَ ملکیت اوکړه او ورسره ئی دَ ملکیت سبب اوعلت هم بیان کړو چه په میراث کښې دا مال ملاؤ شوې دې یا اخستې دې یا چاهبه کړې دې ګویا دا املاك مقیده دی. نودَ فقهاؤ اختلاف صرف په املاك مقیده اوغیر اموال یعنی عقود اوفسوخ کښې دې اموال مرسله کښې اختلاف نشته دې

داول فریق دلیل: ① دام سلمه رضي الله عنها زیر بحث حدیث د دوی مستدل دې ځکه چه نبی کریم دَ خپلې فیصلې نه پس په صفاالفاظو کښې اوفرمائیل چه په حقیقت کښې که دغه سړې دَ دې څیز حقدارنه وی نوهغه دې هیڅ کله هغه نه اخلی ځکه چه داد ده دَپاره دَ دوزخ ټکړه ده دَدې نه معلومه شوه چه فیصله صرف په ظاهر کښې نافذ کیږی اوپه باطن کښې نه نافذ کیږی.

داول فریق د دلیل جوابونه: ①دا حدیث په املاك مرسله باندې حمل دې

② بل په دې حدیث کښې دَ شهادت تذکره هم نشته دې دلته صرف دَ غوړې ژبې او زور بیان ذکر دې زیر نظر حدیث خو دَ دروغو ګواهئی او دَدې په نتیجه کښې فیصلې سره متعلق دې

د دویم فریق دلائل: ① قاضی ته ولایت عامه حاصل دې نوکه اول نکاح نه وی شوې نو اوس اوشوه ځکه چه دَ ګواهانو پیش کیدونه پس قاضی فیصله واؤروله نودا په حقیقت کښې انشاء عقد دې دَ نوی سر نه نکاح اوشوه اوس باطناً هم دا دَ دې سړی بنځه ده

② دَ لعان حکم د دوی مستدل دې نبی کریم په واضحه الفاظو کښې فرمائیلی دی "احدکماکاذب" دَدې واضح اعلان نه باوجود دَ نبی کریم فیصله نافذ شوه اوفریقین یعنی بنځه خاوند دَ یوبل نه جدا شو

③ دَ حضرت علی رضي الله عنه بواثرد دوی مستدل دې کوم چه طحاوی نقل کړې دې. کوم وخت چه حضرت علی رضي الله عنه دغه شان دَ یوې مقدمه فیصله واؤروله نوهغه بنځې عرض اوکړو اې امیرالمؤمنین اوس دې سړی سره زما نکاح اوکړه دې دَپاره چه زنا نه وی. په دې باندې حضرت علی رضي الله عنه اوفرمائیل "شاهداك زوجاك" یعنی ستا دوو ګواهانو ستا نکاح اوکړه لکه چه دا انشاء عقد اوشو نوې نکاح ده.

[۳۷۶۲] الله تعالی ته مبغوض ترین خلق

۳۷۶۲-[۵] () [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«إِنَّ أَبْغَضَ الرِّجَالِ إِلَى اللَّهِ الْأَلَدُّ الْخَصِمُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] د الله تعالی په نزد په خلقو كې بدترين او مبغوض ترين سړی هغه دی چې ډير زيات ناحقه جګړي كونكی وی. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① أَبْغَضَ. زيات ناخوښه. مبغوض. ② الْأَلَدُّ: د لَدِيْدٌ نه .سخت جګړمار. ③ الْخَصِمُ: جګړالو. جګړي خوښونكي.

تسهيلات: **قوله**: الْأَلَدُّ الْخَصِمُ:

د مذكوره الفاظو وضاحت: "تو ألدّ" سخت جګړمار او "خصم" هغه چه د هغه په طبيعت كښې جګړه پرته وی په كثرت سره جګړې كوی نو په دې دوو لفظونو كښې څه تكرار نشته دې د هرلفظ خپل مطلب دې.

[۳۷۶۳] په قسم او ګواه سره د دعوی د ثبوت حکم

۳۷۶۳-[۲] () [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] "قَضَى بِيَمِينٍ وَشَاهِدٍ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] و حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي [۲] چې رسول كريم ﷺ په يوه قضيه كې يو شاهد او په يوه قسم باندې فيصله وكړله. (مسلم)

تسهيلات: **قوله**: قَضَى بِيَمِينٍ وَشَاهِدٍ:

د يو ګواه په موجودګئ كښې د يمين په اعتبار كښې ۲ مذاهب:

ددې حديث نه معلوميږی كه چرې مدعی دعوی اوكړه او هغه سره د دعوی د ثبوت د پاره دوه ګواهان نه وی نو هغه دې يو ګواه پيش كړی او يو خل دې قسم اوخوری نو دعوی به ثابته شی او مال به ورته حاصل شی. په دې مسئله كښې د فقهاؤ اختلاف دې چه آيا مدعی نه يو ګواه سره د دويم ګواه په ځائی قسم اخستې شی كه نه؟

[۱]) اخرجه البخاری فی كتاب الإجارة/باب قول الله تعالی: {وهو ألدّ الخصام} [البقرة: ۲۰۴] (رقم-۲۴۵۷) ومسلم فی كتاب القدر/باب فی الألدّ الخصم (رقم-۵ - (۲۶۶۸) والترمذی فی كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب: ومن سورة البقرة (رقم-۲۹۷۶) والنسائی فی كتاب آداب القضاة/باب الألدّ الخصم (رقم-۵۴۲۳) واحمد فی المسند:۶/۵۵

[۲]) اخرجه مسلم فی كتاب الأقضية/باب القضاء باليمين والشّاهد (رقم-۳ - (۱۷۱۲) و ابو داود فی كتاب الأقضية/باب القضاء باليمين والشّاهد (رقم-۳۶۰۸) وابن ماجه فی كتاب الأحكام/باب القضاء بالشّاهد واليمين (رقم-۲۳۷۰) واحمد فی المسند:۱/۳۱۵

① دريو اړه ائمه او جمهور فرمائي که چرې معامله اوقضيه د حدود او قصاص نه علاوه په مالونو کښې وي او مدعي سره صرف يو ګواه موجود وي نومدعي د دويم ګواه د تکميل دپاره پخپله يو قسم خوړلې شي دې دپاره چه ګواهي مکمل شي اودمدعي مدعاثابته شي

② ائمه احناف فرمائي چه د يو ګواه د وجې نه مدعانه شي ثابتيدې او په مدعي باندې په يوصورت کښې هم قسم نه راځي د فيصلې دپاره ضروري دي چه مدعي سره دوه ګواهان وي ګنې د مدعاعليه نه به قسم اخستې شي

داول فريق دليل: زيربحث حديث د دوي مستدل دې سره ددې چه په دې کښې دا تصريح نشته دې چه قسم د مدعي نه اخستې شوې دې ليکن ددې په بعضې طرقو کښې دا سې لفظ موجود دې لهذا جمهورو هم په دې فيصله اوکړه.

د اول فريق د دليل جوابونه:

① مذکوره حديث خبرواحد دې دادَ قرآن پاك د آيت مقابله نه شي کولې

② په دې حديث کښې احتمال دې چه ددې مطلب داوي چه کله مدعي سره ګواه نه وي نود مدعا عليه نه به قسم اخستې شي او احتمال راتلوسره استدلال باقي نه پاتې کيږي

③ په دې حديث کښې د نبي کريم د مختلف فيصلو ذکر دې چه نبي کريم کله د ګواهانو په بنيادباندې فيصله فرمائيلې ده اوکله د قسم په بنيادباندې فيصله کړې ده لکه چه په حديث کښې د يوې فيصلې خبره نه ده بلکه په مختلفو وختونو کښې د مختلفو فيصلو دوه صورتونه خودلې دي

④ د زيربحث حديث تعلق حفظ دماء سره دې دا ضابطه نه ده بلکه يوه معروضي فيصله وه د کوم په وجه چه دا حکم راغلې دې واقعه داسې اوشوه چه د بنوعنبر څه کافران په ميدان جهادکښې ګيرکړې شوې وو کله چه هغوي مدينې ته راوستلې شو نوهغوي دعوي اوکړه چه مونږ کوم وخت اونيولې شوې وو هغه وخت مونږ مسلمانان وو په دې باندې هغوي سره يو ګواه وو اود بل ګواه د پاره دهغوي نه قسم واخستې شو نو شبه پيدا شوه په کوم سره چه د هغوي د وينې حفاظت اوشو يا داحديث د صلح په څه صورت باندې محمول دې ضابطه هم هغه ده کومه چه په مشهور احاديثو کښې ده او احنافو اخستې ده

د دويم فريق دلائل:

① د قرآن عظيم آيتونه ﴿ وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِنْ رِجَالِكُمْ فَإِنْ لَمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ ﴾ [سورة بقره ۲۸۲]. دويم آيت کښې دی ﴿ وَأَشْهِدُوا ذَوَيْ عَدْلٍ مِنْكُمْ ﴾ [سورة طلاق ۲].د دوی مستدل دی

④ هغه مشهور حديث د دوی مستدل دې دَ کوم الفاظ چه دادی «البينة على المدعى واليمين على من أنكر» او په حديث کښې دَ ضابطه په توګه تقسيم کار بيان کړې شوي دي نو دمدعى کار ګواه پيش کول دی او دمدعى عليه کار قسم خوړل دی په دې کښې اشتراک نشته دي

[۳۷٦٤] د مدعى عليه د قسم اعتبار

۳۷۳-[٤٧] (١) ⌈١⌉ وَعَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ ⌈٢⌉: «جَاءَ رَجُلٌ مِنْ حَضْرَمَوْتَ، وَرَجُلٌ مِنْ كِنْدَةَ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ⌈٣⌉ فَقَالَ الْحَضْرَمِيُّ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! إِنَّ هَذَا غَلَبَنِي عَلَى أَرْضٍ لِي. ⌈٤⌉ فَقَالَ الْكِنْدِيُّ: هِيَ أَرْضِي وَفِي يَدِي، لَيْسَ لَهُ فِيهَا حَقٌّ. ⌈٥⌉ فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِلْحَضْرَمِيِّ: "أَلَكَ بَيِّنَةٌ؟" قَالَ: لَا،

توجمه: ⌈١⌉ او علقمه ابن وائل رضي الله عنه دخپل پلار نه نقل کوي هغه اوويل ⌈٢⌉ يوه ورځ د نبي کريم ﷺ په خدمت کښې يو سړی د حضر موت اوسيدونکی او يو سړی د کنده دواړه حاضر شوه ⌈٣⌉ حضرمي يعنی دحضرت موت اوسيدونکی عرض اوکړو يا رسول الله دا سړي خما زمکه غصب کولو سره په هغه قبضه کړيده ⌈٤⌉ کندي اوويل هغه خما زمکه ده او خما لاس يعنی خما قبضه کښې ده د دې سړي په دې زمکه هيڅ حق نشته ⌈٥⌉ رسول الله ﷺ د دواړو فريقو بيان اوريدو سره حضرمي ته وفرمايل آيا تاسره شاهد شته؟ هغه اوويل نه

حل اللغات: ① حَضْرَمَوْتَ: د يمن د يوې علاقې نوم. ② كِنْدَةَ: د يوې قبيلې نوم دي

⌈١⌉ قَالَ: "فَلَكَ يَمِينُهُ". ⌈٢⌉ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ الرَّجُلَ فَاجِرٌ، لَا يُبَالِي عَلَى مَا حَلَفَ عَلَيْهِ، وَلَيْسَ يَتَوَرَّعُ مِنْ شَيْءٍ. ⌈٣⌉ قَالَ: "لَيْسَ لَكَ فِيهِ إِلَّا ذَلِكَ". ⌈٤⌉ فَانْطَلَقَ لِيَحْلِفَ. ⌈٥⌉ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَمَّا أَدْبَرَ: ⌈٦⌉ "لَئِنْ حَلَفَ عَلَى مَالِهِ لِيَأْكُلَهُ ظُلْمًا، لَيَلْقَيَنَّ اللَّهَ وَهُوَ عَنْهُ مُعْرِضٌ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

توجمه: ⌈١⌉ حضور ﷺ ورته وفرمايل اوس ستا دي دعوي دار ومدار د دې مدعا عليه په قسم دی که دې دقسم نه انکاروکړي نو ستا دعوی به تسليم شی او که ده قسم واخستلو نو ستا دعوی به باطله شي ⌈٢⌉ هغه حضرمي اوويل يا رسول الله! دا سړی خو فاجر دروغجن دی ده ته د دې خبرې هيڅ پرواه نشته چې ده په کوم څيز قسم آخستلو دی هغه رښتيا دي يا دروغ او دی د هيڅ شي نه پرهيز نه کوي ⌈٣⌉ حضور ﷺ ورته وفرمايل بهرحال ستا په حقله د دې سړي د طرف نه ماسوا د دې قسم نه نورڅه نشته ⌈٤⌉ په دې اوريدو سره هغه کندي سړي قسم د پاره روان شو ⌈٥⌉ وهرکله چې هغه شاوګرځوله نو

---

[١]) اخرجه مسلم فی کتاب الإيمان/باب وعيد من اقتطع حقّ مسلم بيمين فاجرة بالنّار (رقم-٢٢٣ - (١٣٩) والترمذی فی کتاب الأحكام عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فی أنّ البيّنة على المدّعى واليمين على المدّعى عليه (رقم-١٣٤٠)

رسول کريم ﷺ وفرمايل [٦] که داسړی د حضرمي په مال قسم واخستلو چې د ده مال په زبردستۍ هضم کړي نو الله ﷻ سره به په داسې حال کې ملاقات وکړي چې الله ﷻ به د هغه نه بيزاره وي (مسلم)

حل اللغات: ③فَاجِرٌ: دروغجن. فاسق. ④يَتَوَرَّعُ: پرهيز کوی. ځان ساتی. ⑤أَدْبَرَ: شائې کړه. ⑥مُعْرِضٌ: مخ اړونکې. بيزاره به وی.

تسهيلات: **قوله**: إِنَّ الرَّجُلَ فَاجِرٌ:

د گواهانو د عدم وجود په وخت قسم اخستل: يعنی فاسق فاجرسړې دې دَ قسم خوړلوبه څه پرواه اونه کړی اوزما مال به اوخوری نه دا سړې په قول کښې صحيح دې نه فعل کښې نبی کريم اوفرمائيل هرڅه چه وی کله چه تاسره گواه نشته دې نوته به د ده نه هم قسم اخلې

قوله: فَانْطَلَقَ:

د روانيدو په غرض کښې دوه اقوال: ① ممکن ده چه داسړې دَ اودس جوړولودَپاره تلې وی دې دپاره چه اودس اوکړی اوقسم اوخوری.

② اوداهم ممکن ده چه کولاؤ ميدان کښې مخامخ شوې وی دې دَپاره چه قسم اوخوری شوافعو دَ قسم خوړلودَپاره په اودس کښې کيدلوحکم ورکوی

د قسم خوړلو نه واپس کيدل: دا سړې دَ قسم خوړلودَپاره تيارشوې وو خوچه کله نبی کريم وعيد واؤرولو نوده اووئيل چه دا زمکه زما نه ده بلکه زمادَدې روړ ده لکه څنګه چه په حديث نمبر(۳۷۷٦) کښې راځی.

د حديث فوائد: علامه نووی فرمائی چه په دې حديث کښې دَ يوڅو فوائدو بيان دې

① کله چې مدعی سره گواه نه وی نو په مدعاعليه باندې قسم خوړل لازم دی

② دَ فاسق قسم هم دغه شان مقبول دې څنګه چه دَ يوعادل قسم مقبول وی.

③ صاحب يد او قبضې والا دَ دغه اجنبی نه اولی دې کوم چه صاحب يدنه وی

[۲۷٦٥] په دروغه دعوی کولو د جهنم وعيد

۳۷٦۵–[۸] (١) [١] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: [٢] "«مَنِ ادَّعَى مَا لَيْسَ لَهُ، [٣] فَلَيْسَ مِنَّا، وَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوذر ﵁ نه روايت دی هغه د رسول کريم ﷺ نه واوريدل [٢] کوم سړی چې د يوداسي شي دعوی وکړه چې د هغه نه وي [٣] هغه زمونږ نه نه دی او هغه ته پکار دی چې خپل ځای په دوزخ کې تلاش کړي (مسلم)

حل اللغات: ①وَلْيَتَبَوَّأْ: تلاش دې کړی. جوړ دې کړی. ②مَقْعَدَهُ: خپل ځائې. استوګنه.

(١) اخرجه مسلم فی کتاب الإيمان/باب بيان حال إيمان من رغب عن أبيه وهو يعلم (رقم-١١٢ - (٦١) وابن ماجه فی کتاب الأحکام / باب من ادّعی ما ليس له وخاصم فيه (رقم-٢٣١٩)

تسهيلات:

قوله: مَالَيْسَ لَهُ:

په حسب او نسب کښې د دروغو د دعوي کولو حکم: شيخ عبدالحق رحمه الله په اشعة اللمعات کښې ليکلی دی چه دالفظ په ظاهره د املاکو او اموالو دپاره ونيلي شی ليکن دَدې په عموم کښې دحسب اونسب دعوي اود ظاهر اوباطن ټولي دعوي هم راځی يعنی يوسړي د بزرګئی د دروغو دعوی کوی، د علم په دروغه دعويدار دی د احوالو او لويو اعمالو اود فتوحاتو، کراماتو او کشف الهاماتو دعويدار په دروغه. او په حقيقت کښې هغه په دغه مقام باندې نه وی د حديث دا وعيد ټولوته شامل دي [اشعة المعات ۳۴۲/۳]

[۳۷۶٦] بهترين ګواه

۳۷۶۳-[۹] (١) ① وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "② «أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ الشُّهَدَاءِ؟ ③ الَّذِي يَأْتِي بِشَهَادَتِهِ قَبْلَ أَنْ يُسْأَلَهَا»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او زيد ابن خالد رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل ② ايا زه تاته د بهترينو شاهدانو په باره کې ونه ښايم، ③ وي فرمايل واوره چې په شاهدانو کې بهترين شاهد هغه دی چې شاهدي طلب کولو نه مخکې شاهدي ورکړي (مسلم)

حل اللغات: ① خَيْرِ: غوره. بهترين.

تسهيلات:

قوله: أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ الشُّهَدَاءِ؟:

د حديث دوه مطلبونه: ① دحقوق الله معامله ده زکوة دي د رمضان د مياشتې معامله ده دکفارې مسئله ده دوقف وصايااو صدقات معامله ده د وخت حاکم ته معلومه نه ده اود بيت المال دا حق ضائع کيږی په دې موقع باندې يوسړې راغلو اوهغه ګواهی ورکړه اوحاکم ئی خبرکړو نوده قومی فريضه اداکړه په دې وجه دا بهترين ګواه دي

② د يوسړی د چاحق يوځائی کښې ګيرکړې وی اودَدې دپاره هغه سره څه ګواه نشته دي نه هغه ته د يوګواه علم شته په دې موقع دوه ګواهان راځی اوګواهی ورکولو سره حقدارته دهغه حق وررسوی دا بهتريم ګواهان دی

د احاديثو په مينځ کښې تعارض: ددې حديث نه پس د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه حديث راروان دې په هغې کښې پخپله وړاندې وړاندې کيدوسره د ګواهئی ورکونکی سخت

---

(١) اخرجه مسلم فی کتاب الأقضية/باب بيان خير الشّهود (رقم-١٩ - (١٧١٩)) و ابو داود فی کتاب الأقضية/باب فی الشّهادات (رقم-٣٥٩٦) والترمذی فی کتاب الشّهادات عن رسول الله صلّی الله عليه وسلّم/باب ما جاء فی الشّهداء أيّهم خير (رقم-٢٢٩٥) و مالک فی الموطا کتاب الأقضية/باب ما جاء فی الشّهادات (رقم-٣) واحمد فی المسند: ١٩٣/٥

بدونیلی سوی دی حالانکه په زیربحث حدیث کښې د هغه تعریف کړې شوې دې دا ظاهری تعارض دې

د تعارض دفع: مذمت د دروغو په گواهئی کښې د زور لګولو راغلې دې اوتعریف د رښتونی شهادت راغلې دې یا د مذمت تعلق د نااهل شهادت سره دې اود مدح تعلق اهلیت لرونکی شهادت سره دې

د فاسق د ګواهۍ په قبلولو کښې ۲ مذاهب:

① امام شافعی رحمه الله فرمائی چه د فاسق شهادت په مطلق توګه قابل قبول نه دې

② احناف فرمائی چه قاضی له د فاسق ګواهی ردکول پکاردی لیکن که چرې هغه قبوله کړه نو د فیصلې د پاره دا ګواهی جائزده فقهاء لیکلی دی چه ګواهی ورکول فرض دی ددې پتول په هیڅ شان سره جائزنه دی په دې شرط چه مدعی ګواهی اوغواړی او په حدودو کښې د ګواهئی نه ورکولو ګنجائش دې

[۲۷٦۷] د دروغو ګواهی ورکولو مذمت

۲۷٦۷–[۱۰] ()[۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۲] «خَيْرُ النَّاسِ قَرْنِي، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، [۳] ثُمَّ يَجِيءُ قَوْمٌ تَسْبِقُ شَهَادَةُ أَحَدِهِمْ يَمِينَهُ وَيَمِينُهُ شَهَادَتَهُ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او ابن مسعود رضی الله عنه وایې چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] د ټولو نه ښه هغه خلق دی چې زما په زمانه کې دي یعنی صحابه رضی الله عنهم بیا هغه چې د دوئ سره متصل دی یعنی تبع تابعین [۳] او بیا په آخر کې به داسې خلق پیدا شي چې په هغوی کې به د یو شاهدي د هغه د قسم نه مخکې وي اوقسم به د هغه د شاهدي نه مخکې وي (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: ① قَرْنِي: قرن زمانې ته وائی. ② يَلُونَهُمْ: چه نزدې وی دوی ته. ③ تَسْبِقُ: مخکښې کیږی به.

تسهیلات:

قوله: خَيْرُ النَّاسِ قَرْنِي:

د قرن په مصداق کښې اته اقوال: د قرن د لفظ ډیرې معانې دی د هرې یوې معنی احتمال په کښې شته

() اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب فضائل أصحاب النبيّ صلّى الله عليه وسلّم ، ومن صحب النبيّ صلّى الله عليه وسلّم، أو رآه من المسلمين، فهو من أصحابه» (رقم-٣٦٥١) ومسلم في كتاب فضائل الصّحابة رضي الله تعالى عنهم/باب فضل الصّحابة ثمّ الّذين يلونهم ثمّ الّذين يلونهم (رقم-٢١٢ - (٢٥٣٣) والترمذي في كتاب الشّهادات عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب منه (رقم-٢٣٠٣) و ابن ماجه في كتاب الأحكام/باب كراهية الشّهادة لمن لم يستشهد (رقم-٢٣٦٢) واحمد في المسند: ٤٤٢/١

① د صحابه کرامو زمانه ② دیرش کاله
③ دهرسړی خپله زمانه ④ شپیته کاله
⑤ څلویښت کاله ⑥ اتیا کاله
⑦ اویا کاله ⑧ پوره سل کاله

قوله: تَسْبِقُ شَهَادَةُ أَحَدِهِمْ:

د دروغو ګواهۍ د ورکولو کثرت: دادَ بې پرواهئی غفلت او دَدین نه دَ ویزاره کیدو یوکیفیت طرف ته اشاره کړې شوې ده چه دَ یوبل نه زیات دَ دروغو دَ ګواهئی دَپاره رامنډې وهی راځی چنانچه نن صبا دا نقشه بالکل په مکمل توګه باندې موجود ده دَ عدالتونو په مخکښې دَ دروغوګواهانوپه کرایه باندې مکان اخستې ناست دی چه دَ چاهم ضرورت شی دې فوراً ورتوپ کړی اوګواهی ورکړی اوپیسو اخستوسره خپل عزت غیرت اوخپل دیانت اوامانت اودَخپل دین سودا کوی.

په مغل دورِ حکومت کښې د دروغژن ګواه سزا: په برصغیرهندوستان باندې کوم وخت د مغل حکمرانانو دور وو نوهغوی به دَ دروغو ګواهی ورکونکی په تندی باندې داغ لګولو دې دَپاره چه دَدې دروغژن سړی ګواهی دَ همیشه دَپاره مردود شی کله چه د انګریز ملعون دور راغلو نو هغوی دَ نورو اسلامی قوانینوسره دا قانون هم معطل کړو اووئی وئیل چه په دې سره دَ انسانیت سپکاوې کیږی لکه چه دَهغوی په نیز هریوانسان دروغژن جوړول دَ انسانیت تعظیم دی

[۳۷۶۸] قسم د پاره خسنړې (قرعه) اچول

۳۷۶۸ -[۱۱] (¹) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَرَضَ عَلَى قَوْمٍ الْيَمِينَ، فَأَسْرَعُوا، [۳] فَأَمَرَ أَنْ يُسْهَمَ بَيْنَهُمْ فِي الْيَمِينِ: أَيُّهُمْ يَحْلِفُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایې [۲] رسول کریم ﷺ څنې خلقو ته قسم پیش کړو یعنی هغوی ته یې اوویل قسم واخلئ چې د مدعي دعوی صحیح نه ده هغه خلقو قسم اخستو کې تادي وښودله [۳] نو حضور ﷺ وفرمایل قسم اخستلو د پاره د دې خلقو په مینځ کې دې قرعه (پچه) واچول شي چې په هغوی کې دې کوم سړی قسم واخلي (بخاري)

حل اللغات: ① عَرَضَ: پیش ئې کړو. ② فَأَسْرَعُوا: جلتي او تادی اوکړه هغوی. ③ يُسْهَمَ: قرعه. پچه دې واچولې شي.

(¹) اخرجه البخاري في كتاب الشهادات/باب إذا تسارع قوم في اليمين (رقم. ۲۶۷۴)

تسهیلات:

قوله: عَرَضَ عَلَى قَوْمِ الْيَمِينَ:

د حدیث دوه مفهومه: ① علامه طیبی رحمه الله او نور محققین فرمائی دوو کسانو دَ یوڅیز دعویٰ اوکړه اوهغه څیزدَ دریم سړی په لاس کښې دې دواړو مدعیانوسره هیڅ ثبوت ګواه نشته دې یا دواړو سره ګواه شته خودا دریم سړې دَ چا په لاس کښې چه هغه څیز دې اووائی چه ماته پته نشته دادَ چادې. بل طرف ته هر یومدعی وائی چه دا څیززما دې اودَ دغه بل مدعی نه دې. په دې صورت کښې دا دواړه سړی دَیوبل دَ پاره مدعیان هم دی اومنکر هم دی اودَ منکر دَپاره قسم دې. نودَدې انکار په صورت کښې به خسنړې اچولې شی چه دَ چا خسنړې راؤوتلو هغه به قسم خوری اومال دې اوړی

② عام شارحینو فرمائی یوسړی په یوډله یا یوقوم باندې دَخپل حق دعویٰ اوکړه دغه سړی سره دوه ګواهان نه وو دَ قوم ټولو خلقو دَدې سړی دعویٰ رد کولوسره انکار اوکړو. اوس دې خلقوته دَ قانون مطابق قسم پیش کړې شو نوټولو په قسم خوړلوباندې راضی کیدل ښکاره کړل او زر زر دَ قسم خوړلودَپاره رااوړاندې کیدل نبی کریم دَ قسم خوړلودَپاره دَهغوی په مینځ کښې خسنړې واچولو دَ چا خسنړې (پچه) چه راؤخی هم هغه به قسم خوری ټول دې قسم نه خوری دَ حدیث ظاهری مفهوم هم دادې

د متروک له المال په تعین کښې ۲ مذاهب:

① امام شافعی رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی مال به دَ دغه دریم سړی په لاس کښې پریخودې شی

② امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی دغه مال به دَ دواړو مدعیانو په مینځ کښې برابر تقسیمولې شی

داول فریق دلیل: په دې دواړو کښې تعارض راغلو نودَ دواړو دلیل ساقط شو

د دویم فریق دلیل: راتلونکی دَ ام سلمه رضی الله عنها روایت د دوی مستدل دې کوم کښې چې دَدې تصریح موجود ده. مال تقسیم کړئی دَ انصاف خیال اوساتئی اوبیا خسنړې واچوئی اوبیا دَ یوبل دَپاره معافی تلافی اوکړئی.

نوټ: یاد لرئ دا نیم نیم تقسیم کول به هغه څیزونوکښې وی کوم څیزونه چه تقسیم قبلوی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۷۶۹] د مدعی او مدعی علیه ذمه واریانې

۳۷۶۹-[۱۲] (¹) [۱] عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] "«الْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِي، وَالْيَمِينُ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] عمروبن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه «دادا» نه روایت کوي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲] شاهد دمدعي په ذمه دی او قسم دمدعا علیه په ذمه «ترمذي»

تسهیلات:

قوله: الْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِي:

د گواه پیش کولو حق مدعی ته دي که مدعی سره گواه نه وی او مدعی د مدعی علیه د دعوی صحیح منلو نه انکار اوکړی نو په مدعی علیه باندې به قسم وی

[۲۷۷۰] د دوو مدعیانو په صورت کښې شرعی حکم

۳۷۷۰-[۱۳] (²) [۱] وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، [۲] «عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: فِي رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا إِلَيْهِ فِي مَوَارِيثَ لَمْ تَكُنْ لَهُمَا بَيِّنَةٌ إِلَّا دَعْوَاهُمَا. [۳] فَقَالَ: "مَنْ قَضَيْتُ لَهُ بِشَيْءٍ مِنْ أَخِيهِ; فَإِنَّمَا أَقْطَعُ لَهُ قِطْعَةً مِنَ النَّارِ.

ترجمه: [۱] او بي بي ام سلمه رضي الله عنها [۲] د نبي کریم ﷺ نه د دوو سړو د قضیې په باره کې نقل کوي چې د خپل یو میراث معامله اختسو سره د حضور ﷺ په خدمت کې راغلی وو او په هغه دواړو کې د یوه هم څوك شاهد نه وو بلکه صرف دعوی او دعوی وه [یعنی په هغوی کې هریوسړی دربارِ رسالت کې دعوی وکړه چې فلانی شی څما دی چې ماته په میراث کې حاصل شوی دی او دویم سړی هم د هغه شي په باره کې دا دعوی وکړه او په دواړو کې هیڅ یو د خپلي دعوی ثبوت کې شاهد نه لرلو] [۳] حضور [د هغه دواړو بیان په اوریدو سره] وفرمایل یاد لرئ زه چې کوم سړي د پاره د څه داسې شي فیصله وکړم چې د هغه د ورور حق وي نو هغه څیز د هغه د پاره د اور د یوي ټکړي نه علاوه نور څه نه دی [مثلًا مدعي د یوڅیز دعوی کړي ده چې د هغه په باره کې هغه ښه پوهیږي چې هغه د هغه نه دی بلکه واقعةً د مدعا علیه دی لیکن هغه د دروغ شاهدانو او دروغ قسمونو په ذریعه خپله دعوی ثابته کړله او ما د ظاهري قانون مطابق د هغه په شاهدی او قسم باندې اعتبار کولو سره د هغه په حق کې فیصله وکړله او هغه څیز مي هغه ته ورکی نو

¹) اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحدیث ۱۳۴۱

²) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأقضیة /باب فی قضاء القاضی إذا أخطأ (رقم-۳۵۸٤) واحمد فی المسند:۶/۳۲۰

هغه ته یاد ساتل پکار دی چې هغه څیز به د هغه په حق کې د اور یوه ټکره ثابته شي یعنی هغه به د دوزخ د اور سزا وار جوړ کړي ۔

حل اللغات: ①اخْتَصَمَا : دوه کسانو جګړه اوکړه. قضیه اوفیصله ئې وړاندې کړه. ②مَوَارِيثَ : میراث. ③قِطْعَةً :ټکړه. حصه

①فَقَالَ الرَّجُلَانِ: كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا: يَا رَسُولَ اللهِ! حَقِّي هَذَا لِصَاحِبِي، ②فَقَالَ: لَا، وَلَكِنِ اذْهَبَا، فَاقْتَسِمَا، وَتَوَخَّيَا الْحَقَّ، ثُمَّ اسْتَهِمَا، ثُمَّ لِيُحَلِّلْ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْكُمَا صَاحِبَهُ». ③وَفِي رِوَايَةٍ، قَالَ: "«إِنَّمَا أَقْضِي بَيْنَكُمَا بِرَأْيِي فِيمَا لَمْ يُنْزَلْ عَلَيَّ فِيهِ»" رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:①په دې دواړو کې هر یوه ددې اوریدو سره عرض اوکړو یا رسول الله خما حق خما دملګری یعنی فریقِ مخالف د پاره دی زه خپله دعوی ترک کوم ②حضور ﷺ وفرمایل نه داځنګه ممکنه ده چې شی دې یو وي او د هغه حقداران دوه وي بلکه تاسو دواړه لاړ شئ دا شی نیم په نیمه تقسیم کړئ او خپل خپل حق واخلئ ایعنی تقسیم کې د عدل او ایمانداری لحاظ وساتئ او دا طریقه اختیار کئ چې مخکې هغه څیز دوه حصې کئ او که دا تنازعه وي چې هغه په دواړو حصو کې کومه حصه چاته ورکول شي نو هغه دواړو حصو باندې قرعه واچوئ چې دا فیصله شي چې په هغه دواړو حصو کې کومه حصه کوم سړي ته حاصلیږي دغه شان تاسو دواړو کې هریو دی هغه حصه واخلي چې په هغه د هغه قرعه راختلې ده او بیا په تاسو کې هریوه ته پکار دی چې هغه خپل حق خپل ملګري ته معاف کړو چې د هغه د طرف نه تلی وي ③او په یو روایت کې دا الفاظ هم دي حضور ﷺ وفرمایل زه ستاسو د دواړوپه مینځ کې دا فیصله دخپلې رایه او خپل اجتهاد سره کوم په دې معامله کې په ماوحي نه ده نازله شوي (ابوداود)

حل اللغات: ④فَاقْتَسِمَا: د شراکت په بنیاد برابر تقسیم اوکړئ ⑤تَوَخَّيَا الْحَقَّ: أي اطلبا الحق، یعنی د عدل او انصاف ښه خیال ساتئ

تسهیلات:

قوله: ثُمَّ لِيُحَلِّلْ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْكُمَا صَاحِبَهُ:

د تحلیل مطلب: دا دَ باب تفعیل نه دې دَ حلال کولو په معنی کښې دې یعنی خپل مینځ کښې دَتقسیم نه پس معافي تلافی کوئی سبحان الله ایثار اوهمدردی اودَمحبت دې ملګرو ښکلې نمونه قائمه کړه.

[۳۷۷۱] د قابض په حق کښې فیصله

۳۷۷۱-[۱۳] (۱) [۱] وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: [۲] «أَنَّ رَجُلَيْنِ تَدَاعَيَا دَابَّةً، فَأَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا الْبَيِّنَةَ أَنَّهَا دَابَّتُهُ نَتَجَهَا، [۳] فَقَضَى بِهَا رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلَّذِي فِي يَدِهِ» رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: [۱] او جابر ابن عبد الله ﷺ وايي [۲] دوو سړو د يو ځاروي په باره کې دربار رسالت کې دعوى وکړه او په هغه دواړو کې هر يو خپل شاهد پيش کړل چې دا ځاروى د هغه ايعنى ځما دى ايعنى ماکره دا حيوان پيدا شوى دى ما د ده په مور نر پريښى ووا چې د هغه په نتيجه کې دي پيدا شوى دى او دغه شان د ده د پيداکړي دو زه سبب جوړ شوى وم ګويا په هغه دواړو کې هريوه دا دعوى وکړله [۳] نو رسول کريم ﷺ هغه حيوان د هغه سړي حق اوګرځولو چې د هغه قبضه کې وو. (شرح السنه)

حل اللغات: ① تَدَاعَيَا: دواړو دعوى اوکړه. ② نَتَجَهَا: باب ضرب نه. ددې په بچى راوړلو کښې مې خدمت کړې دې

تسهيلات:

قوله: فَقَضَى بِهَا رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لِلَّذِي فِي يَدِهِ:

د قابض د ګواهانو د غير قابض په ګواهانو برترى: ددې حديث نه په ظاهرى توګه بندې داخبره واضحه شوه که دَ دووکسانو په يوځيزکښې تنازعه پيداشي او دواړه بينه پيش کړى نودَ صاحب اليد (قابض) بينه به راجح وى. ملاعلى قارى رحمه الله فرمائى چه وئيلى شوى دى چه داحديث په دې باندې دلالت کوى چه دَ صاحب يدقابض بينه په هرحال کښې دَغيرقابض په مقابله کښې راجح ده ملاعلى قارى رحمه الله فرمائى چه دَ ظاهرى حديث نه هم داسې معلوميږى چه داحکم په ځناورو کښې دې

د حيواناتو نه علاوه په نورو ځيزونو کښې په مذکوره مسئله کښې ۲ مذاهب:

① په مذکوره صورت کښې که چرې دعوىٰ په غيرحيوان کښې وى امام شافعى رحمه الله فرمائى که هرقسم صورت وى اوهرقسم ځيزوى په هرحالت کښې دَ قابض بينه دَ غيرقابض په مقابله کښې راجح دې

② احناف فرمائى په غير حيوان کښې به دواړه مدعيان قسم خورى او دا ځيزبه په خپل مينځ کښې نيم نيم تقسيم کوى

داول فريق دليل: مذکوره حديث د دوى مستدل دې ځکه چې په دې کښې د غير حيوان نفى نشته.

---

(۱) اخرجه البغوى فى شرح السنه رقم الحديث ۲۵۰۴. والدارقطنى ۴/ ۲۰۹ رقم الحديث ۲۱

د اول فريق د دليل جواب: حقيقت دادې چه دا حديث دَ احنافو دليل دې ځکه چه په دې کښې دَ حيوان او دَهغه دَ بچې پيدا کيدو په واضحه توګه باندې بيان موجود دې.

د دويم فريق دليل: په نورو احاديثو کښې دَدې ذکر دې

[۲۷۷۲] د دوو مدعيانو په مينځ کښې د متنازعه مال تقسيم

۳۷۷۲-[۱۵] (١) ① وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: ② «أَنَّ رَجُلَيْنِ ادَّعَيَا بَعِيرًا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ- صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ③ فَبَعَثَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا شَاهِدَيْنِ، ④ فَقَسَمَهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَيْنَهُمَا نِصْفَيْنِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ،

ترجمه: ① او ابو موسى اشعري رضی الله عنه وايي ② چې درسول کريم ﷺ په زمانه کې دوو سړو يو اوښ په باره کې دعوی وکړه (يعنی هر يوه اوويل چې دا اوښ ځما دی) ③ او بيا په هغه دواړو کې هر يو د خپلي خپلي دعوي ثبوت کې دوه دوه شاهدان پيش کړل ④ نو رسول کريم ﷺ هغه اوښ د دواړو په مينځ کې نيم په نيمه تقسيم کی (ابوداود)

① وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ وَلِلنَّسَائِيِّ، وَابْنِ مَاجَهْ: "② «أَنَّ رَجُلَيْنِ ادَّعَيَا بَعِيرًا لَيْسَتْ لِوَاحِدٍ مِنْهُمَا بَيِّنَةٌ، ③ فَجَعَلَهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَيْنَهُمَا».

ترجمه: ① او د ابوداود په يوبل روايت او د نسائي او ابن ماجه روايت کې داسې دي ② چې دوو سړو د يو اوښ په باره کې دعوی وکړه ليکن هغه په دواړو کې هيڅ يوسره شاهد نه وو ③ نو رسول کريم ﷺ هغه اوښ د دواړو مشترکه حق اوګرځولو (ابوداود)

تسهيلات:

قوله: فَقَسَمَهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -:

د مذکوره حديث په توجيه کښې اقوال: ① يعنی نبی کريم دغه متنازع اوښ دَ دواړو مدعيان په مينځ کښې تقسيم کړو.

② ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه کيدې شی دا اوښ دَ يودريم سړی په قبضه کښې ووځوك چه دَ اوښ دعويدارنه وو نوچه کله دواړو ګواه پيش کړو او چاته ترجيح حاصله نه وه نو اوښ په مينځ تقسيم کړې شو

③ علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه کيدې شی هغه اوښ دَ دواړو په قبضه کښې وی نو په دواړو کښې تقسيم کړې شو

---

١) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأقضية/باب الرّجلين يدّعيان شيئا وليست لهما بيّنة (رقم-٣٦١٥) والنسائى فى كتاب آداب القضاة/باب القضاء فيمن لم تكن له بيّنة (رقم-٥٤٢٤) وابن ماجه فى كتاب الأحكام/ باب الرّجلان يدّعيان السّلعة وليس بينهما بيّنة (رقم-٢٣٣٠)

قوله: لَيْسَتْ لِوَاحِدٍ مِنْهُمَا بَيِّنَةٌ

د تعارض اشکال: په دې روایت کښې دا اوخودلې شو چه یوسره هم بینه نه وه اوددې نه وړاندې روایت کښې اوخودلې شو چه دواړو سره بینه موجوده وه.

د اشکال جواب: ددې تعارض لرې کولو دپاره علماؤ لیکلی دی چه کیدې شی دا دواړه جدا جدا قضیې وې او ممکن ده چه هم یوه قضیه وی لیکن کله چه دَ دواړو ګواهی په وجه دَ تعارض رداوګرځولې شوه نو دواړه بغیردَ ګواه نه پاتې شو یعنی مقبول ګواهی یوسره هم نه وه.

[۳۷۷۳] د قسم خوړلو دپاره خسنړې اچول

٣٧٧٣-[١٦] (١) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، ② «أَنَّ رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا فِي دَابَّةٍ، وَلَيْسَ لَهُمَا بَيِّنَةٌ. ③ فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- "اسْتَهِمَا الْيَمِينَ"». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره رضي الله عنه وایي ② د دوو سړو د یو حیوان په باره کې جګړه شوه چې په هغه دواړو کې هر یو هغه حیوان ته خپل ملکیت ویلي او هغه دواړو سره شاهد نه وو ③ نو رسول کریم ﷺ وفرمایل قسم باندې قرعه واچوئ [د چا په نوم چې قرعه راوخې هغه دې قسم اخستو سره اووائي چې دا حیوان څما دی نو د هغه په حق کې دې فیصله وشي.] (ابوداود ابن ماجه)

حل اللغات: ① اسْتَهِمَا: پچه او خسنړه واچوئ،

تسهیلات: **قوله**: "اسْتَهِمَا الْيَمِينَ":

د قسم دپاره د خسنړې د اچولو حکم: یعنی تاسو دواړه دَ قسم دَ پاره خسنړې واچوئی دَ چا خسنړې چه راؤوتلو هغه به قسم خوری اومال به اوچتوی ددې روایت په شان یوروایت وړاندې تیرشوې دې کوم چه دَ ابوهریره رضي الله عنه نه روایت شوې دې او په حدیث نمبر(۳۷٦۸) کښې تیرشوې دې هلته ددې مسئلې تفصیل دې. بل په حدیث نمبر(۳۷۷۳) کښې هم ددې وضاحت موجود دې.

[۳۷۷٤] مدعا علیه ته د قسم ورکولو طریقه

٣٧٧٤-[١٧] (٢) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا: ② «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ لِرَجُلٍ حَلَّفَهُ: ③ "احْلِفْ بِاللّٰهِ الَّذِي لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ، ④ مَا لَهُ عِنْدَكَ شَيْءٌ. يَعْنِي لِلْمُدَّعِي»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

[1]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأقضیة/باب الرّجلین یدّعیان شیئا ولیست لهما بیّنة (رقم-۳٦۱۸) وابن ماجه فی کتاب الأحکام/باب القضاء بالقرعة (رقم-۲۳٤٦)

[2]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأقضیة/باب کیف الیمین (رقم-۳٦۲۰)

ترجمه: [۱] او ابن عباس نه روايت دى [۲] يوه قضيه كې چې كوم سړى يعنى مدعا عليه ته قسم وركول وو [۳] هغه ته نبي كريم ﷺ وفرمايل ته په دي خبره د الله ﷻ قسم واخله چې د هغه نه ماسوا بل معبود نشته [۴] چې د دې سړي يعنى مدعي په تاهيڅ حق نشته (ابوداود).

تسهيلات:

قوله: احْلِفْ بِاللّٰهِ..الخ:

دعدم گواه په صورت كښې د مدعى عليه نه قسم اخستل: داخو واضح دى چه كله مدعى سره گواه نه وى نو د مدعليه نه به قسم اخستلې شى. نبى كريم دلته هم د دغه اصولو لاندې فيصله اوفرمائيله چه "احلف" ته قسم اوخوره. دَ قسم په سلسله كښې داخبره ياد ساتل ضرورى دى چه قسم وركول په عدالت كښې دَ قاضى حق دې. د مسلمان نه به د هغه دَعقيده توحيد مطابق قسم اخستلې شى اوعيسائى ته به وئيلې شى چه دَ انجيل نازلونكى رب قسم اوخوره او يهودى ته به وئيلى شى چه دَ تورات دَ نازلونكى رب قسم اوخوره او مجوسى وغيره ته به دَ الله تعالى دَ قسم خوړلو وئيلې شى. داخبره هم دَ ياد ساتلوده چه دَ مدعليه دَ قسم به په هرصورت كښې اعتبار كيږى كه هغه سړې عادل وى اوكه عدل په كښې نه وى

[۳۷۷۵] مدعاعليه ته د قسم حق وركول

د-۲-[۱۸] (۱) [۱] وَعَنِ الْأَشْعَثِ بْنِ قَيْسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ [۲]: «كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَ رَجُلٍ مِنَ الْيَهُودِ أَرْضٌ، [۳] فَجَحَدَنِي، فَقَدَّمْتُهُ إِلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۴] فَقَالَ: "أَلَكَ بَيِّنَةٌ؟" قُلْتُ: لَا.

ترجمه: [۱] اشعث رضي الله عنه ابن قيس نه روايت دى هغه اوويل [۲] يوه زمكه څما او د يهودي په مينځ كې مشتركه وه [۳] ليكن يهودي هغه زمكه باندې څما د حصي تسليمولو نه انكار وكړو ما هغه د نبي كريم ﷺ په خدمت كې راوستى او خپله معامله مي ورته پيش كړه [۴] حضور راته وفرمايل آيا تاسره شاهد شته؟ ما عرض اوكړو نه

[۱] قَالَ لِلْيَهُودِيِّ: "احْلِفْ" [۲] قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! إِذَنْ يَحْلِفَ وَيَذْهَبَ بِمَالِي، [۳] فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالَى: ﴿إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا﴾ [آل عمران: ۷۷] الْآيَةَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] حضور ﷺ يهودي ته وفرمايل ته قسم واخله [۲] په دي اوريدو سره ما عرض اوكړو چې يارسول الله دى به داوخت قسم واخلي او څما مال به هضم كړي الله ﷻ [۳] د دې قسم د يوى قضيي په سلسله كې اچې د هغه ذكر د ابن مسعود رضي الله عنه روايت كې تير

---

۱) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأقضية/باب إذا كان المدّعى عليه ذمّيا أيحلف (رقم-۳۶۲۱) والترمذى فى كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب: ومن سورة آل عمران(رقم-۲۹۹۶) و ابن ماجه فى كتاب الأحكام باب البينة على المدّعى. واليمين على المدّعى عليه (رقم-۲۳۲۲) واحمد فى المسند: ۲۱۱/۵

شوي دي] دا آيت نازل کړو إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا (الآيه) ترجمه يقيناً کوم خلق چې حقيره معاوضه د هغه عهد په مقابله کې آخلي چې الله جَلَّ جَلَالُهُ سره هغوی کړي دي او په مقابله د خپلو قسمونو الخ دا روايت ابوداود او ابن ماجه نقل کړي دي.

تسهيلات: قوله فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى.

اشکال: په دې روايت باندې دا سوال دی چه کله په يهودي باندې دغه صحابي اعتراض اوکړو نو د الله تعالى د طرف نه يو آيت نازل شو اوس سوال دادې چه په دغه آيت کښې د دې صحابي د اعتراض جواب څنګه راغلو؟

د اشکال جواب: کله چې صحابي اووئيل دا يهودي دې قسم به خوري نو د قرآن کريم آيت د وعيد په توګه رانازل شو په کوم کښې چه الله تعالى د دروغو په قسمونو او بدعهدئ په وعدو باندې سخت نکير اوفرمائيلو په دې سره لکه چه يهودي ته تنبيه اوشوه که چرې ته غلط قسم خوري نو د دې سزا به ډيره خطرناکه وي بل د دې آيت مضمون او په تورات کښې د دروغو په قسم باندې سخت وعيد هم د يوشان قسم احکام دي نو په دې آيت سره يهودي ته ياد ګيرنه ورکړې شوه چه ګوره که د دروغو قسم خورې نو ته د خپل کتاب تورات د حکم مطابق به سزا خوري داخه چه د دې سوال په جواب کښې ليکلی دي د يوحده پورې علامه طيبي رَحِمَهُ اللَّهُ هم ليکلی دی او د دې سوال حل صرف هم دغه دې الکاشف ۳۰۷-۷/۳۰۶.

[۳۷۷۶] په دروغه قسم خوړلو څخه د يو سړي ويرېدل

٣٧٧٦-[١٩] (١) [١] وَعَنْهُ، [٢] «أَنَّ رَجُلًا مِنْ كِنْدَةَ، وَرَجُلًا مِنْ حَضْرَمَوْتَ، اخْتَصَمَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي أَرْضٍ مِنَ الْيَمَنِ. [٣] فَقَالَ الْحَضْرَمِيُّ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! إِنَّ أَرْضِي اغْتَصَبَهَا أَبُو هَذَا، وَهِيَ فِي يَدِهِ.

ترجمه: [١] حضرت اشعث رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ابن قيس نه روايت دی [٢] د قبيله کنده يو سړي او د حضرت موت يو سړي دواړو د يمن د يوې زمکې په باره کې خپله قضيه آخستو سره د رسول کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شو [٣] حضرمي عرض اوکړو يا رسول الله د دې سړي پلار زما نه څما زمکه په زور واخستې وه او اوس هغه د ده په قبضه کې ده زه تاسو ته درخواست کوم چې څما هغه زمکه دې ماته واپس راکول شي

[١] قَالَ: هَلْ لَكَ بَيِّنَةٌ؟ [٢] قَالَ: لَا، وَلَكِنْ أُحَلِّفُهُ، وَاللَّهِ مَا يَعْلَمُ أَنَّهَا أَرْضِي اغْتَصَبَنِيهَا أَبُوهُ؟ [٣] فَتَهَيَّأَ الْكِنْدِيُّ لِلْيَمِينِ. [۴] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: لَا يَقْتَطِعُ أَحَدٌ مَالًا بِيَمِينٍ، إِلَّا لَقِيَ اللَّهَ وَهُوَ أَجْذَمُ. [۵] فَقَالَ الْكِنْدِيُّ: هِيَ أَرْضُهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

[١]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأقضية/باب الرّجل يحلف على علمه فيما غاب عنه (رقم-٣٦٢٢) واحمد فی المسند:٢١٢/٥

ترجمه: [۱] حضور ﷺ حضرمي ته وفرمايل آيا تاسره شاهد شته؟ چې شاهدي وركړي چې هغه زمكه واقعتا ستا ده [۲] هغه عرض اوكړو نه ليكن زه به ده ته په خداى قسم وركولو سره دا اقرار په كوم چې ده ته نه ده معلومه چې دا زمكه څما حضرمي ده چې د ده پلار زما نه په زور واخستې وه [۳] نو هغه كندي قسم اخستو د پاره تيار شو خو كوم وخت چې قسم اخستو د پاره تيار شو [۴] نو رسول كريم ﷺ ورته وفرمايل ياد لره كوم سړى هم چې دروغ قسم اخستلو سره د چا مال هضم كړي هغه به د الله ﷻ سره داسې حال كې ملاقات كوي چې د هغه لاس به پريكړي وي [۵] كندي په دې اوريدو سره اوويل زه اقرار كوم چې هغه زمكه د دې سړي ده. (ابوداود)

حل اللغات: ① اغْتَصَبَهَا: په زور زبردستئ ئې اخستې ده. ② فَتَهَيَّأَ: نو تيار شو. ③ أَجْذَمُ: پرې شوې. كټ شوې.

قوله: وَلَكِنْ أُحَلِّفُهُ...الخ:

يعنى د دې سړي پلار هغه زمكه زمانه په زور اخستې وه او هم هغه زمكه دَدې سړي په قبضه كښې ده چونكه هغه سره ګواه نه وو په دې وجه هغه اوويل چه زه به ده له قسم وركوم ليكن قسم به داسې وى چه داسړې به پخپله وائى چه په الله تعالى قسم چه ماته بالكل معلومه نه ده چه دا زمكه دَدې سړى ده دَ چانه چه زما پلار په زور اخستې ده

قوله: إِلَّا لَقِيَ اللّٰهَ وَهُوَ أَجْذَمُ:

د اجذم د لفظ تحقيق: هغه سړې دَداسې قسم خوړلودَپاره تيارشو خو كله چه نبى كريم وعيد واؤرولو نوهغه اقرار اوكړو چه دا زمكه واقعى هم دَدې حضرمى سړى ده "اجذم" جذام يومشهوره او خطرناكه بيمارى ده په كوم سره چه دَ بدن اندامونه دَ حدنه زيات چاقيدو سره پړسيږى او بيا پرې كيدو سره ټكړې ټكړې كيږى.

په لغت كښې هم جذم،ضرب يضرب نه په تيزئى سره دَ پرې كيدو په معنى كښې دې اودَ پوره لاس په پرې كيدو باندې هم ونيلې شى

[۳۷۷۷] په دروغو قسم خوړل اوګناه كبيره

۳۷۷۷—[۳۰] ( ) [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أُنَيْسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «إِنَّ مِنْ أَكْبَرِ الْكَبَائِرِ الشِّرْكَ بِاللّٰهِ، وَعُقُوقَ الْوَالِدَيْنِ، وَالْيَمِينَ الْغَمُوسَ، [۳] وَمَا حَلَفَ حَالِفٌ بِاللّٰهِ يَمِينَ صَبْرٍ، [۴] فَأَدْخَلَ فِيهَا مِثْلَ جَنَاحِ بَعُوضَةٍ، [۵] إِلَّا جُعِلَتْ نُكْتَةٌ فِي قَلْبِهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

[۱]) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة النساء (رقم-۳۰۲۰) واحمد فى المسند: ۴۶۵/۳

ترجمه: [۱] او عبد الله بن أنيس ﷛ وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] په لويو ګناهونو كې د ټولو نه لوی ګناهونه دادي ① الله ﷻ سره څوك شريكول ② د مور پلار نافرماني كول③ او په دروغو باندې قسم اخستل [۳] ياد لړئ كوم قسم اخستونكى چې د مجبورى او د قيد په حالت كې هم په خداى قسم واخستلو [۴] او هغه په قسم كې د ماشي د وزر برابر ايعنى لږ شان هم دروغ شامل كړل! [۵] نو د هغه په زړه كې قيامته پورې يوه نكته پيدا كيږي چې د هغه وبال به په آخرت كې ظاهر شي [دا روايت ترمذي نقل كړي دى او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دى.]

حل اللغات: ① الْغَمُوسَ: دروغ قسم. ② يَمِينَ صَبْرٍ: محبوس كيدو. او را ايسارولو سره قسم اخستل. دروغ قسم خوړل ③ جَنَاحِ: وزر. ④ بَعُوضَةٍ: ماشې. ⑤ نُكْتَةً: داغ

تسهيلات:

قوله: وَمَا حَلَفَ حَالِفٌ بِاللهِ يَمِينَ صَبْرٍ:

يمين صبر نه مراد : دلته دَ يمين صبرنه په عدالت كښې دننه قسم خوړل مراد دي يعنى دَعدالت په كمره كښې كه يوسړې په خپل قسم كښې لږ شان هم دروغ وائى نودَدې سړى په زړه باندې دَ ګناه يوه نكته يعنى داغ جوړيږى اودا داغ دَ رين اثر دي لكه چه دا دَمهر جباريت يوه حصه ده دا اثر به دَدې سړى دَزړه نه ترقيامته پورې نه ختميږى.

[۳۷۷۸] دَمكان اوزمان په وجې دَ قسم حيثيت زياتيدل

۳۷۷۸ — [۲۱] (¹) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «لَا يَحْلِفُ أَحَدٌ عِنْدَ مِنْبَرِي هٰذَا عَلَى يَمِينٍ آثِمَةٍ، [۳] وَلَوْ عَلَى سِوَاكٍ أَخْضَرَ إِلَّا تَبَوَّأَ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ، [۴] أَوْ وَجَبَتْ لَهُ النَّارُ». رَوَاهُ مَالِكٌ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ﷛ وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړى چې څما دې منبر سره قسم واخستلو او د هغه قسم دروغ وي [۳] اګر چې د يوشين مسواك د پاره وي نو هغه د دوزخ په اور كې ځان ته ټيكانه تياروي [۴] يا دايي وفرمايل چې د هغه د پاره د دوزخ اور واجب كيږي ،مالك ابوداود ابن ماجه،

حل اللغات: ① يَمِينٍ آثِمَةٍ: ګناهګار قسم. دروغ قسم. ② سِوَاكٍ: مسواک. ③ أَخْضَرَ: شين. ④ تَبَوَّأَ: تيار كړي دي. ⑤ مَقْعَدَهُ: ځاني دكيناستلو خپل. استوګنه

¹) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأيمان والنذور/باب ما جاء فى تعظيم اليمين عند منبر النبيّ (رقم-۳۲٤۶) و ابن ماجه فى كتاب الأحكام / باب اليمين عند مقاطع الحقوق (رقم-۲۳۲۵) ومالک فى الموطا كتاب الأقضية/باب ما جاء فى الحنث على منبر النبيّ صلّى الله عليه وسلّم (رقم-۱۰)

تسهیلات:

قوله لَا يَحْلِفُ أَحَدٌ عِنْدَ مِنْبَرِي هَذَا:

په مبارک او مقدس مقام کښې د قسم خوړلو وعید: په جمات کښې منبر اومحراب هسې هم یومقدس مقام دې اوبیا دَ مسجد نبوی دَ منبر شان خو څه بل څه دې اوبیا دَ منبر نسبت دَحضور ﷺ طرف ته کولوسره خو دَ دغه منبر شان بې مثال شو

اوس دَ دروغو قسم خوړل خو هسې هم ډیره لویه ګناه ده که هغه هرځائی کښې وی لیکن که یو سړې دَداسې مقدس مقام سره دَدروغو قسم اوخوری نودا دَالله تعالی غضب ته دعوت ورکول دی دغه شان دَمقدس مقام د وجې نه دَ قسم حیثیت اوعظمت زیاتیږی دغه شان دَ جمعې په ورځ دَمازیګیر نه پس قسم خوړل دَ زمانې دَعظمت دَ وجې نه دَ قسم حیثیت زیاتیږی او په دې کښې تغلیظ راځی دَ یومقام اومکان دَ وجې نه دَتغلیظ مثل علماء کرامو لیکلې دې که یوسړې په مکه کښې وی نو دَ حجراسود اومقام ابراهیم په مینځ کښې ځائی دَ ټولونه معظم دې په دې کښې دَ قسم حیثیت زیاتیږی

اوکه یوسړې په مدینه کښې وی نودَنبی کریم قبرسره ځائی ډیرمعظم دې اوکه یوسړې په بیت المقدس کښې وی نودَ قسم دَپاره دَ ټولونه معظم ځائی ګنبدصخرا سره ځائی دې او په عام دنیاکښې جامع مسجد او بیا عام جمات مقدس مقامات دی شوافعو حضرات: قسم تغلیظ مکان اوزمان په ذریعه سره جائزمنی لیکن احناف وائی چه قسم صرف قسم دې دَ یوزمان اومکان دَ وجې نه دَدې په حیثیت باندې اثر نه پریوځی ظاهری نصوص شوافعو سره دی

قوله وَلَوْعَلَى سِوَاكٍ أَخْضَرَ:

د سواکِ اخضر نه مراد: د شین مسواك نه کم څیز مراد دې که هغه شین مسواك وی اوکه اوچ وی دمسلم شریف په یو روایت کښې قضیبامن أراك الفاظ راغلی دی یعنی دَمسواك ونه اودَ کیکرښاخ دې نه هم مراد قلیل یعنی کم څیز دې

[۲۷۷۹] د دروغو ګواهئ او د شرک برابری

٣٧٧٩-[٢٢] ()[١] وَعَنْ خُرَيْمِ بْنِ فَاتِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ[٢]: «صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - صَلَاةَ الصُّبْحِ، فَلَمَّا انْصَرَفَ، قَامَ قَائِمًا،[٣] فَقَالَ: " عُدِلَتْ شَهَادَةُ الزُّورِ بِالْإِشْرَاكِ بِاللَّهِ. ثَلَاثَ مَرَّاتٍ،[٤] ثُمَّ قَرَأَ: ﴿فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ - حُنَفَاءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِ﴾ [الحج: ٣٠-٣١] ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأقضیة /باب فی شهادة الزّور (رقم -٣٥٩٩) وابن ماجه فی کتاب الأحکام /باب شهادة الزّور (رقم-٢٣٧٢)

ترجمه: [١] او خريم ابن فاتك رضي الله عنه وايي [٢] چې يوه ورځ رسول كريم ﷺ چې د سحر د مونځ نه فارغه شو نو صحابه رضي الله عنهم ته خطاب كولو د پاره اودريدلو [٣] او دري ځله يي دا الفاظ وفرمايل چې د دروغو شاهدى د شرك بالله برابره ده [٤] د دې نه وروسته حضور ﷺ بطور دليل دا آيت تلاوت كړو فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ حُنَفَاءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِ پليتي ، د بتانو د پرستش، نه ځان اوساتئ او دروغ ويلو نه پرهيز كوئ. اوشئ تاسو د باطل نه حق طرف ته رجوع كونكي نه شرك كونكي دالله سره دا روايت ابوداود او ابن ماجه نقل كړي دى

حل اللغات: ① انْصَرَفَ: اوګرځيدو. ② شَهَادَةُ: ګواهى. ③ الزُّور: دروغ. ④ الرِّجْسَ: پليتى. ⑤ الْأَوْثَانِ: جمع د وثن . بُتان. ⑥ قَوْلَ الزُّورِ: دروغ وينا . ⑦ حُنَفَاءَ: حق طرف ته رجوع كونكى

٣٧٨٠ - (١) [١] وَرَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ عَنْ أَيْمَنَ بْنِ خُرَيْمٍ، [٢] إِلَّا أَنَّ ابْنَ مَاجَهْ لَمْ يَذْكُرِ الْقِرَاءَةَ.

ترجمه: [١] او دا روايت احمد او ترمذي هم ايمن ابن خريم نه نقل كړي دى [٢] او د ابن ماجه نقل كرده روايت كې د آيت شريف تلاوت كول مذكور نه دى

تسهيلات:

دراوي مختصر تعارف:

حضرت خريم بن فاتك رضي الله عنه مختصر حالات: نوم خريم دَ پلارنوم فاتك الاسدى دې اوابويحيى دَ هغه كنيت دې. په صلحه حديبيه كښې شركت كونكې صحابى دې. دَ هغه تعلق شام سره وو اوبعضو هغه په اهل كوفه كښې شميرلې دې.

مرويات: دَ هغوى نه لس روايتونه نقل دى كوم چه په سنن كښې موجود دى. بخارى اومسلم دَ هغه نه يو روايت هم نه دې نقل كړې.

قوله: عُدِلَتْ شَهَادَةُ الزُّورِ بِالْإِشْرَاكِ بِاللَّهِ:

د حديث پاك حاصل دادې چې په دروغه قسم خوړل اوشرك كول دواړه ګناه كبيره دى لكه څنګه چې ظاهرى پليتى په بدن يا كپړا باندې اولګى نو داشان بت پرستى زړهٔ ګنده كوى لكه څنګه تاسو د ظاهرى پليتى نه نفرت كوئى نو هم دغه شان نفرت د باطنى ګندګى نه هم اوكړئى. او د بدن نه زيات ته د زړهٔ او روح فكر اوكړه

قوله: ثلاث مرات: نبى كريم ﷺ دا خبرې درې ځل اوكړې. دا تكرار د وعيد او د مبالغې تاكيد دپاره دې.

---

(١) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الشّهادات عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فى شهادة الزّور (رقم ٢٣٠٠) واحمد فى المسند: ٤/٣٢٦

[۳۷۸۱] غیر معتبر گواهي

۳۷۸۱-[۲۳] ( ) [۱] وَعَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«لَا تَجُوزُ شَهَادَةُ خَائِنٍ، وَلَا خَائِنَةٍ، وَلَا مَجْلُودٍ حَدًّا، وَلَا ذِي غِمْرٍ عَلَى أَخِيهِ، وَلَا ظَنِينٍ فِي وَلَاءٍ وَلَا قَرَابَةٍ، وَلَا الْقَانِعِ مَعَ أَهْلِ الْبَيْتِ» ". [۳] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. وَيَزِيدُ ابْنُ زِيَادٍ الدِّمَشْقِيُّ الرَّاوِي مُنْكَرُ الْحَدِيثِ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه ﷺ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲] ددي (شپږ قسمه) خلقو شاهدي جائز او معتبره نه وه ① د خيانت کونکي سړي او خيانت کونکي ښځي ② په کوم سړي چې د تهمت حد جاري شوی دی ③ دښمن چې د خپل مسلمان ورور برخلاف وي ④ هغه سړی چې د ولاء په باره کې متهم وي ⑤ هغه سړی چې د قرابت په باره کې متهم وي ⑥ هغه سړی چې په يوکور قانع وي [۳] امام ترمذي دا روايت نقل کړي دی او ويلي يي دي چې دا حديث غريب دی او د دې حديث يو راوي يزيد ابن زياد دمشقي منکر الحديث دی

حل اللغات: ① خَائِنٍ: خيانت کونکې. ② مَجْلُودٍ: چه کوړې (شرعی سزا) ورکړې شوې وی. ③ حَدًّا: شرعی سزا او جرم. ④ ذِي غِمْرٍ: بُغض او کينه لرونکې. حسد ساتونکې. ⑤ ظَنِينٍ: چه تهمت پرې لګيدلې وی. ⑥ وَلَاءٍ: د آزاد کړی غلام ميراث. ⑥ قَرَابَةٍ: رشته داری. ⑦ الْقَانِعِ: ګذاره کونکې.

تسهيلات:

قوله: لَا تَجُوزُ شَهَادَةُ خَائِنٍ، وَلَا خَائِنَةٍ:

د ګواه د عدالت ضرورت: په دې حديث کښې اودې نه پس راتلونکې دوو احاديثو کښې دداسې خلقو بيان دې دچا ګواهی چه نه قبليږی. د اسلام په نظرکښې چه څومره د حاکم عادل کيدل ضروری دی هم دومره د ګواه عادل کيدل هم ضروری دی دې دپاره چه د فيصلې پورې د رسيدو واسطه اووسيله هم صحيح وی. په دې حديث کښې هم دداسې خلقو ګواهی غيرمعتبرګرځولې شوې ده چه څوک د عدل اوانصاف په معيارباندې نه پوره کيږی لکه خائن سړې اوخائنه ښځه. د خيانت مفهوم عام کيدې شی څوک چه په دنيا اودين دواړو کښې خيانت کونکې وی. چونکه دخيانت د وجې نه داخلق فاسقان شوی دی اود شهادت دپاره عادل کيدل ضروری دی په دې وجه ددوی ګواهی معتبر نه ده. په عرف عام کښې خائن هم هغه دې چه دخلقو په مالونو کښې اوامانتونو کښې خيانت کوی ددې حديث په رڼاکښې هم دغه مفهوم زيات واضح دې. بعضې مطلق فاسق مراد اخستې دې

---

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الشّهادات عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فیمن لا تجوز شهادته (رقم-۲۲۹۸)

قوله: وَلَا مَجْلُودٍ حَدًّا:

د مجلود تعریف: مجلود دَ جلد نه دې اوجلد کوړې ته وائی یعنی چاته چه په حد قذف کښې کوړې لګیدلې وی په

د توبې نه ورسته د محدود فی حد القذف د ګواهی په قبلولو کښې ۲ مذاهب:

① داسې قاذف باندې چه کله حد نافذ کیدوسره په کوړو باندې اووهلې شی نودې نه پس که دامحدود توبه اوکړی نوبیا دَ شوافعو په نیز دَ هغه ګواهی معتبر ده

② د احنافو په نیز که توبه هم اوباسی نو بیا ئې هم توبه نه ده قبول

د اول فریق دلیل: ځکه چه ﴿إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ﴾ استثناء ﴿وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا﴾ نه ده نوچه کله قاذف توبه اوکړی نودَ ده ګواهی به معتبره شی سره دَدې چه قذف ورته لګیدلې وی بلکه دَ ټولو حدودو هم دغه حکم دې

داول فریق د دلیل جواب: او آیت ﴿إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا﴾ استثناء ﴿وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾ سره ده ځکه چه دا قریب هم ده او شهادةً نکره راوړلوسره دَعموم طرف ته اشاره هم ده چه دَځه قسم ګواهی منظوره نه ده اودَ ابداً په الفاظو سره نور تاکید هم پیدا کړې شوې دې اوزیر نظر واضح حدیث هم دې. لهذا محدودفی القذف چه کله خپله ژبه دَ یو پاکدامنې ښځې په بهتان کښې ککړه کړه نودَ ده سزا هم دغه ده چه دَهمیشه همیشه دپاره دَ ده په خله باندې اعتبار اونه کړې شی.

د دویم فریق دلیل: دَ نورو حدودو حکم هم دغه شان دې لیکن حد قذف لګیدونه پس سړې دَهمیشه دپاره مردودالشهادت جوړیږی. په دې وجه په توبه کولوسره دَ هغه ګواهی معتبرکیدې نه شی

د حدیث د بعضې جملو وضاحت: ① وَلَا ذِي غِمْرٍ: غمر دښمنئی بغض اوعداوت اوحسدته وائی نودَ داسې قسم کینه حسد اودښمنئی جذبه لرونکی سړی ګواهی په یومسلمان رور باندې جائز نه ده که هغه دَ ده سکه رور وی اوکه عام مسلمان وی ځکه چه دَ دښمنئی او عداوت داجذبه به دې په عدالت باندې قائم پاتې کیدو ته پرینږدی

② **قوله**: وَلَا ظَنِينٍ فِي وَلَاءٍ: ظنین متهم ته وائی لکه ﴿وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍ﴾ آیت هم په دې معنی کښې دې

د متهم في الولاء فسق او د عدم قبول شهادت وجه: میراث ته وئیلې شی یعنی یوغلام چه کله آزاد شی اوبیامړشی نودَ دغه آزاد کړې شوی غلام میراث به دَ آزادونکی آقا وی اوس که چرته غلام په خپل نسبت کښې دروغ وائی چه مثلاً زه حارث آزاد کړې یم حالانکه خلقوته ښه پته ده چه دې حارث نه بلکه زید آزاد کړې دې نوداغلام په دې نسبت

کښې "متهم في الولاء" دي دي دَ اصل مالك حق وهل غواړي په دې سره دا فاسق شو اودَ فاسق ګواهي معتبر نه ده لهذا دَ ظنين في الولاء ګواهي مردود ده

⑦قوله وَلَاقَرَابَةٍ:

د ظنين في القرابة ه مردود الشهادت کيدو وجه: هم دغه شان معامله دَ ظنين في القرابة هم ده چه مثلاً يوسړې وائي زه دَ عمر خوئي يم حالانکه خلقوته ښه پته ده چه دې دروغ وائي داخودَ عمر خوئي نه دې بلکه دَ بکر خوئي دې نو په دې دَ دروغو نسبت سره دا سړې مردود الشهادة شو لهذا دَده ګواهي معتبر نه ده

⑧قوله: وَلَا الْقَانِعِ مَعَ أَهْلِ الْبَيْتِ:

د قانع مصداق: القانع نه مراد هرهغه سړې دې چه دَ چا په نان اونفقه اوخرچه باندې ګذاره کوي لکه خادم چه دې نوکردې شاګرددې مريد دې

د ګواهۍ دعدم قبوليت وجه: دَدوی ګواهي ځکه معتبر نه چه دَدې دواړو په مفادات کښې اشتراك دې نوکيدې شي چه دا سړې دَ دغه مفاداتو په رڼړاکښې په ګواهئ کښې دَ طرفدارئ نه کارواخلي اوغلطه ګواهي ورکړي احناف فرمائي چه هم دَدې مفاداتو په رڼړا کښې دَ ښځې ګواهي دَخاوند په حق کښې معتبر نه ده نه دَ خاوند ګواهي دَ ښځې په حق کښې صحيح ده شوافعو حضرات دا صحيح مني

[۳۷۸۲] مردود الشهادة کسان

٣٧٨٢ – [٢٣] (١) ①وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② «لَا تَجُوزُ شَهَادَةُ خَائِنٍ، وَلَا خَائِنَةٍ، وَلَا زَانٍ، وَلَا زَانِيَةٍ، وَلَا ذِي غِمْرٍ عَلَى أَخِيهِ. ③وَرَدَّ شَهَادَةَ الْقَانِعِ لِأَهْلِ الْبَيْتِ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ①او عمرو ابن شعيب رحمه الله خپل پلار نه او د هغه پلار د خپل نيکه (دادا) نه او هغه د نبي کريم ﷺ نه نقل کوي حضور ﷺ وفرمايل ② ①نه خو د خيانت کونکي سړي ②او خيانت کونکي ښځي شاهدي درسته ده ③نه د زنا کونکي سړي ④او زنا کونکي ښځي شاهدي درسته ده ⑤دغه شان د دښمن شاهدي د خپل دښمن خلاف به مقبول نه وي ③او حضور ﷺ په يوه مقدمه کې د هغه سړي شاهدي رد کړله چې د يو کور په کفالت او پرورش کې وي او هغه شاهدي د هغه کور والا وو په حق کې ورکړي (ابوداود)

حل اللغات: ①ذِي غِمْرٍ: بُغض او کينه لرونکې. حسد ساتونکې. ②الْقَانِعِ: ګذاره کونکې.

---

[١] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأقضية/باب من ترد شهادته (رقم-٣٦٠٠) وابن ماجه في كتاب الأحكام/باب من لا تجوز شهادته (رقم-٢٣٦٦) واحمد في المسند:١٨١/٢

تسهیلات:

قوله: وَرَدَّ شَهَادَةَ الْقَانِعِ لِأَهْلِ الْبَيْتِ هغه خادم چې د هغه خرچ د بل چا په ذمه وي نو دهغه ګواهي معتبره نه ده خکه چې دې ګواهي ورکوي خو د خپل ذات دپاره فائده لټوي (التعليق الصبيح ج۴ص۲۹۷)

[۳۷۸۳] د کلي والي د ګواهي حیثیت په مقابله د ښهري کښې د شهادت حیثیت

۳۷۸۳—[۲۵] ( )[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «لَا تَجُوزُ شَهَادَةُ بَدَوِيٍّ عَلَى صَاحِبِ قَرْيَةٍ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] حضرت ابو هریره رضی الله عنه د رسول کریم نه نقل کوي حضور وفرمایل [۲] په ښار کې د وسیدونکي په حق کې یا د هغه خلاف په ځنګل کې د اوسیدونکي شاهدي به درسته نه وي (ابوداود ابن ماجه)

حل اللغات ① بَدَوِيّ: کلي وال. باندې والا. ② صَاحِبِ قَرْيَةٍ: دښار اوسیدونکي

تسهیلات:

قوله: لَا تَجُوزُ شَهَادَةُ بَدَوِيٍّ:

د بدوی نه مراد: بدوی دَ بداوه طرف ته منسوب دې اوبداوه کلي اوصحرا ته وائي دا دَ حضاره په مقابله کښې راځي. دَ بدوی نه مراد هغه کلي وال دې کوم چه جټ ځنګلي او جاهل وي

د کلي وال د ګواهي د نه قبلولو دوه وجوهات: ① کله چه کلي وال داسې وي نو هغه سره به علم نه وي تمیزبه ئي نه وي اوځه طریقه به ئي نه وي دَ ښکته پورته نه به خبرنه وي د ګواهئي ورکولو دَ شرطونونه به خبرنه وي دَ غفلت او نسیان یعنی هیرې به په هغه باندې غلبه وي

② ملاعلي قاري رحمه الله یوه وجه دا هم بیان کړې ده چه عمومًا په کلو اوښاریو کښې دښمنئي وي نود عداوت په وجه به دَ دوی ګواهي غیرمقبول وي

په حدیث الباب کښې توجیه: بهرحال که چرې بدوی کښې سلیقه وي پوهه وي اوتمیزپه کښې وي نود جمهورو په نیزدَ هغه ګواهي دَ عاموانسانانو په شان به مقبول وي او امام مالك رحمه الله فرمائي چه په مطلق توګه باندې دَ یوکلي وال ګواهي به په یوښاری باندې مقبول نه وي جمهورو دا زیربحث حدیث په غالبي اواکثری احوال باندې محمول کړې دې

---

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأقضیة/باب شهادة البدویّ علی أهل الأمصار (رقم-۳۶۰۲) وابن ماجه فی کتاب الأحکام/باب من لا تجوز شهادته (رقم-۲۳۶۷)

[۳۷۸٤] مدعی ته د مدعا په ښه طریقه د بیا نولو ترغیب

۳۷۸۴-[۲۶] (ا) ۱ وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، ۲ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَضَى بَيْنَ رَجُلَيْنِ، ۳ فَقَالَ الْمَقْضِيُّ عَلَيْهِ لَمَّا أَدْبَرَ: حَسْبِيَ اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ. ۴ فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَلُومُ عَلَى الْعَجْزِ وَلَكِنْ عَلَيْكَ بِالْكَيْسِ، ۵ فَإِذَا غَلَبَكَ أَمْرٌ فَقُلْ: حَسْبِيَ اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او عوف رضي الله عنه ابن مالك وايي ۲ يو وخت رسول كريم ﷺ د دوو سړو په مينځ كې د يوې مقدمې فصيله وكړله چې د يوسړي خلاف او د دويم په حق كې وه د مقدمې فيصله وكړله چې د يوسړي خلاف او د دويم په حق كې وه ۳ د مقدمې فيصله چې د كوم سړي خلاف شوي وه هغه د مجلسِ نبوي نه پاڅيدو سره واپس تلوكي اوويل چې حَسْبِيَ اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ يعنى ماته خما الله كافي دى او هغه بهترين كار ساز دى ۴ نبي كريم ﷺ په دې اوريدو سره وفرمايل: الله جل جلاله ناداني او لاپرواهي باندې ملامت كوي تاته دانايي او هوښياري ضروري ده ۵ كه په دې هم په تا څه مصيبت راشي نو حَسْبِيَ اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ وايه (ابوداود)

حل اللغات: ①اَلْمَقْضِيُّ عَلَيْهِ: دچا په خلاف چه فيصله اوشى، ②أَدْبَرَ: شاتې كړه، روان شو، ③يَلُومُ: ملامت كوى. ④اَلْعَجْز: عاجز پاتې كيدل، ⑤الْكَيْس: هوښيار

تسهيلات:

قوله: حَسْبِيَ اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ:

د روايت پس منظر: دملاعلى قارى رحمه الله دَ بيان نه معلوميږى چه دغه سړى غالبًا دَچانه قرض اخستې وو اورسيدئى ليكلې وو بياهغه قرض واپس كړو مگر داغفلت ترې اوشو چه دَ قرض واپس كولو وخت كښې ئى څه رسيد اوثبوت جوړنه كړو قرض وركونكى په هغه باندې دعوىٰ اوكړه چه زما قرضه اداكړه په تاباندې دومره قرض دې اودا رسيد دې دې عاجز په جواب كښې اووئيل چه ماخوقرض اداكړې دې هغه ورته اووئيل تاسره څه ثبوت دې چه تا واپس كړې دې په دې باندې مدعى مقدمه اوگټله اودغه عاجز دَ غم ارمان او افسوس اظهاراوكړو او وئى وئيل چه حسبى الله ونعم الوكيل

قوله: إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى يَلُومُ عَلَى الْعَجْزِ:

د لين دين بهترينه ضابطه: كله چه دغه سړى حسبى الله ونعم الوكيل اولوستلو نولكه چه په ضمنى توگه باندې هغه دَ نبى كريم په فيصله باندې مطمئن نه شو سره دَدې چه هغه په

[۱]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأقضية /باب الرّجل يحلف على حقّه (رقم-۳۶۲۷) واحمد فى المسند:۲۵/۶

الفاظ کښې دَدې اظهاراونه کړو لیکن معامله په الله تعالی باندې پرېخودوسره ئې په اشاره دَخپلو جذباتو اظهاراوکړو. نبی کریم هغه ته په واضحه توګه اوفرمائیل چه په تا باندې خودا لازم وو چه ته خپله مقدمه او دَهغې په دلائل کښې هوښیار اوسیدې. که ستا دعوی صفا وه تاسره ګواه وې یا بل څه ثبوت وې. اوس چه نه تا بیان صفا ورکړونه دې ثبوت اوخودلو اودَ مدعی مخامخ عاجز پاتې شوې نواوس حسبی الله ونعم الوکیل لولې؟

د تدبیر کولو نه وروستو په الله تعالی باندې بهروسه کول: دا ایت خوهغه وخت وئیل پکاردی چه کله انسان خپل ټول تدبیرونه او ټول احتیاط په کار کښې راولی اوبیا عاجز پاتې شی او په هغه باندې دَ بچ کیدو ټولې لارې بندې شی نوهغه وخت دې حسبی الله ونعم الوکیل لولی. الله تعالی انسان دَ انسان په نادانئی اوعجز اولاپرواهئی باندې ملامت کوی لهذا دَ ملامتیاذمه وار ته پخپله ئې الکیس: هوښیاری بیداری تیزنی اوچالاکئی ته وئیلې شی.

[۳۷۸۵] د ملزم د قید کولو ثبوت

٣٧٨٥-[٢٧] ()[١]وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، [٢]«أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حَبَسَ رَجُلًا فِي تُهْمَةٍ». [٣]رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَزَادَ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ: «ثُمَّ خَلَّى عَنْهُ».

ترجمه:[١] و بهز ابن حکیم د خپل پلار نه او هغه د خپل د نیکه (دادا) نه نقل کوي [٢]چې رسول کریم ﷺ یوسړی د تهمت په بناء قید کړي وو. [٣](ابوداود) او ترمذي او نسائي دا الفاظ هم نقل کړي دي چې بیا حضور ﷺ هغه پرېښودی (رها کړلو)

حل اللغات: ①حَبَسَ: قید کړې وو. ②تُهْمَةٍ: په تهمت، دروغ الزام کښې. ③خَلَّى عَنْهُ: پرې ئې خودو

تسهیلات:

قوله: حَبَسَ رَجُلًا فِي تُهْمَةٍ:

د تهمت په وجه د قید کولو حکم: یعنی دَتهمت په بنیاد باندې نبی کریم دغه سړې قید کړې وو. داسې معلومیږی چه یوسړی په هغه باندې دَ قرض دعوی کړې وه یا په دې سړی باندې بل څه الزام وو په دې وجه نبی کریم دغه سړې په قید حوالات کښې ساتلې وو دې دَپاره چه مدعی خپله دعوی صحیح ثابتولو دَپاره څه ثبوت پیش کړی. لیکن چه کله مدعی خپله دعوی ثابته نه کړې شوه نونبی کریم هغه سړې هم په هغه ورځ روستو دَ الزام نه بری کولو سره پرېخودو. ددې حدیث نه معلومیږی چه ملزم په قید کښې ساتل دَ

---

[1]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأقضية/باب فی الحبس فی الدّین وغیره (رقم-٣٦٣٠) والترمذی فی کتاب الدّیات عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی الحبس فی التّهمة (رقم-١٤١٧) والنسائی فی کتاب قطع السّارق/باب امتحان السّارق بالضّرب والحبس (رقم-٤٨٧٦)

شرعی حکم مطابق دی. هسې علماؤ لیکلی دی دنبی کریم په زمانه کښې د مجرمانو دپاره باقاعده جیل نه وو ځکه چه په مسلمانانو کښې جرائم نه وو. البته کافران نبی کریم په قید کښې ساتلی دی لیکن دهغوی دپاره هم باقاعده څه جیل نه وو. هغوی به د جنګی قیدیانو په شان په صحابه کرامو باندې تقسیم کولې شو اوصحابه کرامو به د هغوی نګرانی کوله.

د قید دوه قسمونه: علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه ددې حدیث نه معلومه شوه چه قید کول په دوه قسمه باندې دی ① حبس عقوبت: حبس عقوبت خود څه واجب حکم د وجې نه کیږی ② حبس تهمت دې. حبس تهمت صرف د انکشاف حقیقت پورې وی په دې وجه هغه سړې نبی کریم څه ساعت پس خلاص کړو.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۷۸٦] د فریقینو د قاضی په مخکې د حاضریدو وجوب

۳۷۸٦-[۲۸] ()[۱] عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «قَضَى رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّ الْخَصْمَيْنِ يَقْعُدَانِ بَيْنَ يَدَيِ الْحَاكِمِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] عبد الله ابن زبیر رضی الله عنه وایي [۲] چې رسول کریم ﷺ دا عدالتي فرمان ضابطه جاري کړله چې مدعي او مدعا علیه دواړه دي د حاکم روبرو مخکې کیني (احمد ابوداود)

د راوي مختصر تعارف:

حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه: نوم عبدالله ابوحبیب، ابوبکر او خبیب کنیت دې. د پلار نوم ئی زبیر د مور بی بی نوم ئی اسماء وو د هغه لقب ذات النطاقین وو. په سن ۱ھ کښې د مهاجرینو په کور رومبې هم دوی پیدا شو. رسول الله ﷺ تبرکًا کهجوره اوچیچله او د هغه په خُله کښې واچوله د اووه کالو په عمر کښې د رسول الله ﷺ سره بیعت شو.

د تولونه اول په جنګ یرموك کښې شریك شو. (۴) بیا چه په دغه جنګ کښې کومه توره په لاس کښې واخستله هغه ئی ترمرګه پورې د لاس نه پریښوتله. حضرت ابن زبیر رضی الله عنه د ډیرو ژبو ماهر وو. د هغه ډیر زیات غلامان وو چه مختلف ژبې به ئی وئیلې. حضرت ابن زبیر رضی الله عنه به دغه ټولو نه سره د هغوی په مورنئی ژبه کښې خبرې کولې.

وفات: ۷۲ ھ ذیقعده کښې عبدالملك حجاج بن یوسف دحضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه د مقابلې د پاره روان کړو دغه وخت هغه په حرم شریف کښې پناه اخستې وه. څومیاشتو پورې په حرم شریف کښې راګیر وو او د څومیاشتو پورې داسې اُور اوکاڼړی وریدل چه ښکاریده لکه چه آسمان به په زمکه باندې راشی (۶) آخر جمادی الثانی ۷۳ ھ کښې حواری رسول د ځیګر ټکړه او ذات النطاقین نور نظر خپل رب له اورسیدو.

[1]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأقضیة /باب کیف یجلس الخصمان بین یدی القاضی (رقم-۳۵۸۸)

روایات: دَ هغوی نه ۳۳ روایتونه نقل دی په کوموکښې چه دوه په مسلم او بخاری کښې دی په ۶ بخاری او په ۲ کښې مسلم منفرد دې.

حل اللغات: - ① قضی دلته دا قضی دَ حکم او فیصله کولو په معنی کښې نه بلکه "اوجب" په معنی کښې دې چه دا حکم واجب دې

تسهيلات:

قوله: أَنَّ الْخَصْمَيْنِ يَقْعُدَانِ بَيْنَ يَدَيِ الْحَاكِمِ:

د خصمينو په مينځ کښې برابری کول: یعنی دَ عدل انصاف او مساوات دَ اصولو په رنړا کښې په قاضی او حاکم باندې واجب دی چه هغه دې دَ عدالت په کمره کښې مدعی او مدعاعلیه برابر اویوشان کینه وی سره دَدې که دَ دواړو په مینځ کښې دَ رتبو په اعتبار سره هرڅومره فرق ولې نه وی. که یو غریب سره چرته دَ وخت دَ حاکم هم تنازعه وی نو قاضی له پکاردی چه هغه دې دا حاکم هغه غریب سره برابر کینه وی هم دغه هغه ګرانه مرحله ده دکوم باره کښې چه علامه طیبی رحمه الله فرمائی: "ولیس علی القاضی امراشق والااخوف من التسویة بین الخصمین" یعنی دَ قاضی دَپاره دَدې نه زیات ګران او خطرناکه مرحله هیڅ یوه نه ده چه کله دَعدالت په کمره کښې مدعی اومدعلیه پیش وی نو چه په هغه ددواړو کښې برابری اوکړی. واقعی علامه طیبی رحمه الله دَ رښتیاؤ او حقیقت طرف ته نشان دهی کړې ده. نن صباحو په عدالتونوکښې دَ انصاف دَتقاضو نام اونشان هم نشته صرف دَ پیسو سوداګرئی په بنیاد باندې اصول جوړیږی اوماتیږی. دَ انګریزانوعدالتونوته دَ عدالت نوم ورکول دَ عدالت توهین دې.

د اسلام د ترقئ راز او انصاف: دَ اسلام دَ ترقئی په وختونوکښې په اسلامی عدالتونوکښې په حاکم اومحکوم کښې دَ مساوات کښې دَ ښکلی واقعاتو هیڅ کمې نشته دې چه دَ پوره دنیا دَپاره معیار او قابل تقلید نمونه ده. په دې تیرهیروخت کښې هم کوم وخت دَ اسلام دَ ښکلی اصولو په بنیادباندې په افغانستان کښې دَ طالبانو اسلامی عدالتونه قائم شو نودَ انصاف او مساوات نهرونه روان شو چه هرانصاف خوښونکی او شرافت غوښتونکی انسان دَپاره قابل تقلیدنمونه وه لیکن دهشت خوښونکی تخریبی عناصر اودَ انسانیت دشمن قوتونو دا برداشت نه کړې شو لیکن په دنیاباندې داخبره واضحه شوه که اسلام یونیم زرکاله وړاندې یوژوندې اوکلک مذهب وو نوهغه نن هم هغه شان مؤثر او ژندې دې اوراتلونکی وخت کښې به هم ترکومې چه دنیاقائمه وی ان شاء الله ژوندې او آباد وی. الله تعالی دې دَخپل دین حفاظت اوکړی آمین یارب العالمین.

[۱۹] كِتَابُ الْجِهَادِ

د جهاد بيان

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

خلاصة الباب:

فيه اثنان وسبعون حديثاً مشتملة على ثمانى عشرة مسئلة:

① فضيلة جهاد المجاهدين: ۱، ۲، ۴، ۹، ۲۴، ۲۶، ۳۵، ۳۷، ۴۲، ۵۸، ۶۳، ۶۴، ۶۶، ۶۹.

② فضيلة القتل والخروج في سبيل الله: ۴، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۲، ۲۳، ۲۴، ۲۶، ۳۷، ۴۴، ۴۵، ۴۸، ۴۹، ۶۵، ۶۷، ۶۸، ۷۰، ۷۱.

③ فضيلة الرباط والمرابط: ۵، ۷، ۲۶، ۴۰، ۵۲، ۵۳، ۶۱.

⑤ فضيلة الإعانة مع الغزاة وقباحة عدمها: ۱۱، ۱۲، ۵۴.

⑥ فضيلة الانفاق فى سبيل الله: ۱۳، ۳۸، ۳۹، ۶۹.

⑧ فضيلة تمنى الشهادة وأقسامها: ۲۲، ۲۵.

⑨ كون الجهاد فرض كفاية فى بعض الأحيان: ۱، ۱۴، ۳۰.

⑩ كون إقامة الدين بالجهاد: ۱۵، ۳۲.

⑪ الزجر على ترك الجهاد: ۲۷، ۳۳، ۴۷.

⑫ الجهاد فى سبيل الله وفى غير سبيل الله: ۲۸، ۵۷، ۵۸، ۵۹، ۶۲.

⑬ ثواب المعذورين: ۲۹.

⑭ وجوب نية الجهاد: ۲۷، ۳۱.

⑮ أقسام الجهاد: ۳۴، ۳۵.

⑯ جواز ركوب البحر للجهاد: ۵۰، ۵۱.

⑰ حكم أخذ الأجرة على الجهاد: ۵۴، ۵۵، ۵۶.

⑱ وجوب إمضاء أمر الرسول الله ﷺ: ۶۰.

دَ نسخو اختلاف: دَ بخارى شريف په اكثرو نسخو كښې عنوان كښې "كتاب" مذكور نه دې، صرف ابن شبويه او نسفى داسې عنوان ذكر كړيدې.
بيا بسمله په ټولو نسخوكښې دَ مذكوره بالا عنوان نه روستوده، البته دَ نسفى په نسخه كښې بسمله دَ عنوان نه وړاندې ده. (۱)

---

۱) (عمدة القارى (ج ۱۴ ص ۷۸)-

دَ جهاد لغوی معنی: دا دَباب مفاعله مصدر دې دَ دې معنی محنت مشقت او کوشش کول دی. په دې معنی کښې دَ جیم په کسره سره مستعمل دې. دَ جیم په فتحه سره په وزن دَ سحاب یعنی سخته شاړه زمکې ته وائی ۱.(۱)

اصطلاحی تعریف: دَ جهاد اصطلاحی تعریف دې "القتال مع الکفار لتقویة الدین" (۲) یعنی دَ دین دَ مضبوطیا او استحکام دَ پاره کافرانو سره جنګیدل.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی "وشرعا بذل الجهد فی قتال الکفار" (۳) او علامه عینی رحمه الله "لاعلاء کلمة الله تعالی" اضافه کریده.(۴) یعنی دَ الله تعالی دَ دین دَ سرلوړنی دَ پاره کافرانوسره دَ جنګیدو کوشش کول.

دَ جهاد صورتونه: علماو دَ جهاد مختلف صورتونه بیان کړی دی.

① جهاد مع الکفار　② جهاد مع الفساق
③ جهاد مع الشیطان　④ جهاد مع النفس.

دَ دې تفصیل دا دې چه جهاد مع الکفار په لاس، مال، ژبه او زړه سره کیږی
اوجهاد مع الفساق لاس، بیا ژبه او بیا زړه سره کیږی.
او دَ جهاد مع الشیطان مطلب دا دې چه هغه په زړه کښې شك شبهې پیدا کوی یا بد عملونه ښائسته کوی او پیش کوی نو چه دَ دې نه خان اوساتی.
جهاد مع النفس دا دې چه دَ دینی امورو ذده کړه اوبه دې عمل کولوکښې سرې خپل خان مشغول اوساتی او بیا دَ دې په خودلوکښې لګیا شی. (۵)
دغه شان علماؤ لیکلی دی چه یو ظاهری جهاد وی او بل باطنی. ظاهری جهاد خو همدغه وی چه کافرانو وغیره سره وی او جهاد باطنی دَ خپل نفس ناجائزو امورو کښې مخالفت اودَ شریعت دَ تابعدارئی نوم دې.
دې نه پس تاسو دا اوګڼړنی چه په بعض روایاتوکښې دې جهاد ته چه نفس اوباطن سره وی هغه نی جهاد اکبر ګرځولې دې خکه چه کافرانو سره جهاد خو کله کله وی خودَ نفس سره دَ سړی مقابله هر وخت او هره ګهړئی وی نو په دې وجه دا اهم او اکبر دې.(۶) دغه

۱) (تاج العروس (۲/مادة جهد. ص۳۲۹) وعمدة القاری (ج۱۴ص۷۸) دَ جهاد مشروعیت او مقصد او دَ دې ضرورت پیژندلودپاره کشف الباری کتاب المغازی (ص۱۲-۳۶) اوګوری.
۲) (شرح الکرمانی(ج۱۲ص۹۲)-
۳) (فتح الباری(ج۶ص۳)-
۴) (عمدة القاری (ج۱۴ص۷۸)-
۵) (فتح الباری (ج۶ ص۷۸)-
۶) (تعلیقات لامع الدراری (ج۷ ص۲۰۷-۲۰۸)-

شان بیهقي په کتاب الزهد (١) کښې دَ حضرت جابر رضي الله عنه روایت نقل کړیدې چه رسول الله ﷺ دَ غزوه نه واپس تشریف راوړو اوونې فرمائیل "رجعنا من الجهاد الاصغر الى الجهاد الاكبر" (٢).

جهاد فرض کفایه دې که فرض عین؟: دې نه پس په دې خبره پوهه شئی چه دَ امت دَ علماؤ دَ جهاد په حکم کښې اختلاف دې. جمهور علماء جهاد ته فرض کفایه وائی یعنی هغه جهاد چه کافرانو سره وی هغه فرض کفایه دې چه دَ څه خلقو په ادائیګئی سره دَ ټول امت نه ساقطیږی اوکه څوك هم دَ کافرانو سره دَ جهاد دَ پاره اونه ځی نو ټول امت به ګناهګار وی.

لیکن الله دې نکړی که کافرانو په دارالاسلام باندې حمله اوکړه نو په هغه صورت کښې دَ هغه ځایْ په خلقو باندې جهاد فرض عین دې. ترهغې چه دَ هغوی حمله زیاته شی نو بیا چه په کوم کوم ځایْ کښې دَ هغوی رخ وی نودَ هغه ځایْ دَ خلقو دَپاره جهاد فرض عین دې. (٣)

او یو وخت داسې هم راتلې شی چه جهاد به په ټولو مسلمانانو باندې فرض عین شی. علامه عینی رحمه الله "بنایه" کښې عمرو بن دینار، عطاء بن ابی رباح، ابن شبرمة او سفیان ثوری رحمهم الله نه نقل کړی دی چه جهاد مطلقًا واجب نه دې (۴) او دَ ابن المسیب رحمه الله مسلك دا دې چه جهاد په هر حال کښې فرض عین دې. (۵)

دَ نبی کریم ﷺ په زمانه کښې دَ جهاد څه حکم وو دَ دې متعلق تفصیل "باب وجوب النفیر" کښې راځی، انشاء الله په دې به هم هلته خبرې کیږی.

مشروعیتِ جهاد: دَ جهاد مشروعیت په مدینه منوره کښې شویدې. په شروع کښې نبی کریم ﷺ ته همدغه حکم ورکړیشوې وو چه په تاباندې کوم احکام نازلیږی هغه ته په

---

١) (اتحاف السادة المتقين (ج٨ص٦٥٧) وتعليقات لامع الدراري (ج٧ص٢٠٨)-

٢) (انظر كشف الخفاء للعجلوني (ج١ص٢٤٤) علامه عجلوني رحمه الله په دې حديث باندې كلام كولو سره فرمائي "قال الحافظ ابن حجر في تسديدالقوس: هو مشهور على الالسنة وهو من كلام ابراهيم بن ابي عبلة" - محمد بن زياد المقدسي فرمائي "سمعت ابن ابي عبلة وهو يقول لمن جاء من الغزو: قد رجعتم من الجهاد الاصغر فما فعلتم بالجهاد الاكبرجهاد القلب؟" (سير اعلام النبلاء ج٦ ص٣٢٥) او شيخ السلام علامه تيميه رحمه الله فرمايي "لااصل لهو ولم يروه احد من اهل المعرفة بافوال النبي صلى الله عليه وسلم" مقدمة مشارق الاشواق الى مصارع العشاق (ج١ص٣١). حضرت شيخ الاسلام مدني رحمه الله په خپل يو مكتوب نمبر ١٠٥ كښې ليكي: "صوفياء په كتابونوكښې "رجعنا من الجهاد الاصغر الى الجهاد الاكبر" ته صحيح حديث ونيلې شويدې. ليكن دِ عسقلاني (كشف الخفاء ج١ص٤٢٤) قول دې چه امام نسائي دَ ابراهيم بن عبله كلام خودلې دې دَ الفاظو ركاكت يو زبردست قرينه ده چه دا دَ حضور ﷺ قول نه شي كيدې او نه دَ حديث متداول كتابونوكښې شاه عبدالعزيز رحمه الله غوندې متبحر محدث كتلې دې...... (مكتوب شيخ الاسلام ج١ص٣٠٧-٣٠٨)-

٣) (بدائع الصنائع (ج٢ص٩٨) فصل واما بيان كيفية فرق الجهاد...... والهداية (ج٢ص٥٥٨)-

٤) (البناية (ج٢ص٧٨٩)-

٥) (اوجز المسالك (ج٨ص١٩٩) وتنظيم الاشتات لحل عويصات المشكوة (ج٣ص٩٠)-

ښکاره اعلان کوه او بيانوه.دَ الله تعالى ارشاد مبارك دي ﴿ فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ﴾ (۱) نو واوروه په کولاؤ وينا سره دوی ته څه چه تاته حکم وی او دَ مشرکانو پرواه مه کوه.

دې نه پس حضور اکرم ﷺ ته دَ مجادله حسنه اجازت ورکړيشو اوفرمائيلي شو﴿أُدْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ﴾ (۲) يعنى راغواړئى دَ خپل رب لارې ته پخو خبرو باندې ئى پوهه کړه او نصيحت ورته په ښه شان سره واوروه. او الزام ورته ورکړه څنګه چه بهتر وى.

بيا دَ هغې نه پس مدينې طرف ته هجرت اوشونو په شروع کښې مدافعانه جهاد اجازت ورکړيشو. يعنى چه کله په تاسو باندې حمله اوشى يا په مسلمانانو باندې حمله اوشى نو دا حمله بندول او دَ دې دَ مقابلې کولو اجازت ورکړيشو. ارشاد اوفرمائيلې شو ﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ﴾ چه حکم شويدې هغه خلقو ته چا سره چه کافران جنګيږى، په دې وجه چه په هغوى باندې ظلم اوشو او الله تعالى دَ هغوى په امداد کولو قادر دې.

بيا دې نه پس ارشاد اوشو﴿ فَإِذَا انْسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ﴾ (۳) بيا چه کله تيرې شى مياشتې دَ پناه نومشرکان وژنئى، چرته چه مومئى اودَ هغوى دَ نيولو راګيرولو دَ پاره هر ځائ کښې په لټون کښې کينئى. دلته مطلقًا دَ اقدامى او دفاعى جهاد حکم نازل شو. (۴)

[۳۷۸۷] افضل جهاد

۳۷۸۷-[۱](۵) ۱عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲" «مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَرَسُولِهِ، ۳وَأَقَامَ الصَّلَاةَ، ۴وَصَامَ رَمَضَانَ؛ ۵كَانَ حَقًّا عَلَى اللهِ أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ، ۶جَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللهِ، أَوْ جَلَسَ فِي أَرْضِهِ الَّتِي وُلِدَ فِيهَا. ۷قَالُوا: أَفَلَا نُبَشِّرُ بِهِ النَّاسَ؟

ترجمه: ۱حضرت ابوهريره ﷛ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ۲کوم سړی چې د الله ﷻ او د هغه د رسول په ذريعه دنياته راليږلی شريعت باندې ايمان راوړي ۳او مونځ يي قائم کی ۴او د رمضان روژې يي ونيولې ۵نو الله ﷻ باندې د هغه د فضل وکرم او د

۱) (الحجر: ۹۴)-
۲) (النحل:۱۲۵)-
۳) (التوبة:۵)-
٤) (انظر البناية (ج۲ص ۷۸۹) وزادالمعاد فى هدى خير العباد (ج۳ ص۶۹-۷۲)-
۵) اخرجه البخارى فى كتاب الجهاد والسِّير/باب درجات المجاهدين فى سبيل الله. يقال: هذه سبيلى وهذا سبيلى (رقم-۲۷۹۰) واحمد فى المسند:۲/۳۳۵

خپلي وعدي د مخه واجب دی چې هغه سړی په جنت کې داخل کړي ⑥برابره خبره ده که هغه د الله په لار کې جهاد وکړي او په یوروایت کې دا الفاظ هم دي برابره خبره ده که هغه هجرت وکړي او که په خپل کور او وطن کې چرته چې پیداشوی دی ناست وي یعنی نه جهاد وکړي او نه هجرت وکړي صحابه په دي اوریدو سره ⑦عرض اوکړو آیا مونږ خلقوته دا خوشخبري وانه روو

①قَالَ: إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ أَعَدَّهَا اللهُ لِلْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللهِ، ②مَا بَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، ③فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللهَ فَاسْأَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ ④فَإِنَّهُ أَوْسَطُ الْجَنَّةِ وَأَعْلَى الْجَنَّةِ، ⑤وَفَوْقَهُ عَرْشُ الرَّحْمٰنِ، وَمِنْهُ تَفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ①حضور ﷺ ورته وفرمایل لیکن د جهاد کونکو دا فضیلت هم واورئ چې په جنت کې سل درجي دي چې الله ﷻ د دې خلقو د پاره تیاري کړي دي چې د الله په لار کې جهاد کوي ②او د هغه د دوو درجو درمیاني فاصله دومره ده څومره چې د آسمان او زمکي په مینځ کې فاصله ده ③نوهرکله چې تاسو د الله څخه جهاد باندې درجه عالي غواړئ نو جنت فردوس څني غواړئ ④ځکه چې هغه فردوس اوسط جنت دی یعنی د جنت تولو درجاتو کې د تولو څخه ښه او افضل دی او د تولو څخه بلند جنت دی ⑤او د هغه اوچت د الله ﷻ عرش دی گویا هغه د عرشِ الهي په سوري کې دی او د هغه څخه د جنت نهرونه بهیږي یعنی کوم څلورځیزونه چې د جنت د نهرونو اصل دی لکه اوبه پئ شراب او عسل (شهد) هغه د جنت فردوس څخه جاري کیږي (بخاري)

حل اللغات: ①الْفِرْدَوْسَ: په جنتونو کښې د یو اعلی جنت نوم دې. د عرش د سوری لاندې دې. د نورو جنتونو نهرونه ددې نه رابهیږي. ②تَفَجَّرُ: راجاری دی، رابهیږي

تسهیلات:

قوله: وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَصَامَ رَمَضَانَ:

دحج په عدمِ ذکر باندې اشکال: دلته په حدیث کښې دَ صلاة او صوم ذکر خو شته لیکن دَ حج او زکوة ذکر نشته. سره دَ دې چه څنګه مونځ او روژه دَ اسلام بنیادی ارکانونه دی دغه شان زکوة او حج هم بنیادی ارکان دی.

جوابونه: ① علامه کرمانی رحمه الله او ابن بطال رحمه الله دا توجیه بیان کړیده چه دَ باب په حدیث کښې زکوة او حج نه ذکرکیدو وجه دَ دې دواړو دَ هغه وخت پورې نه فرض کیدل دی. (۱)

② حافظ صاحب جواب ورکړیدې چه دلته دَ زکوة او حج ذکر دَ یو راوی نه حذف

۱) (انظر شرح الکرمانی (ج۱۲ص۹۸-۹۹)وشرح ابن بطال (ج۵ص۱۳)-

شویدي خکه چه دَ ترمذی په روایت کوم چه حضرت معاذ بن جبل ﷺ نه مروی دي په هغې کښې دَ حج ذکر موجود دې (۱)

او هم په دې کښې حضرت معاذ ﷺ فرمائی (لاادری اذکر الزکاة امر لا؟)(۲)

③ حافظ صاحب دونم جواب دا ورکړیدي چه دَ حدیث مقصد دَ ارکان اسلام استیعاب نه دې په دې وجه په مونځ او روژه اکتفاء اوکړیشوه. (۳)

قوله: ((كَانَ حَقًّا عَلَى اللهِ أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ)):

په الله باندې د حق کیدو مطلب: په دې کښې حق په طریقه دَ فضل وکرم دې. دا مطلب نه دې چه الله تعالی باندې دَ هغه سړي جنت کښې داخلول واجب دی. بلکه مطلب دا دې چه الله تعالی به په خپل فضل او کرم سره هغه په جنت کښې داخل کړی (۴)

قوله: جَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللهِ،أَوْجَلَسَ فِي أَرْضِهِ الَّتِي وُلِدَ فِيهَا:

دجهاد څخه معذورو خلقو ته تسلی: په دې عبارت کښې حضور ﷺ هغه سړی ته چه ځوك جهاد نشی کولې تسلی ورکوی چه هغه هم دَ اجرنه محروم نه دې خکه چه په ایمان باندې استقامت او نور فرائضو ادا کولو التزام به هغه جنت ته رسوی. خیر دې که دَ هغه درجه دَ مجاهدینو دَ درجې نه کمه وی.(۵)

دَ فی سبیل الله مطلب: اوس په دې ځان پوهه کړئی چه دَ سبیل الله لفظ په دوو معنو کښې استعمالیږی:

① یوه معنی دَ دې عام ده، دَ خیر هغه کار دکوم مقصد چه دَ الله تعالی رضا او تقرب الی الله وی په هغې دَ سبیل الله اطلاق کیږی لکه دَ فرائضو ادا کول. نوافل او دَ نورو عباداتو او طاعاتو اهتمام وغیره،دا اطلاق فی سبیل الله عام دې. امام بخاری رحمه الله هم په (کتاب الجمعة) کښې ((عبایة بن رفاعة)) په طریق یو حدیث نقل کوی، په دې کښې دی:

((ادرکنی ابوعبس وانا اذهب الی الجمعة فقال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: من اغبرت قدماه فی سبیل الله حرمه الله علی النار)) (۶)

حضرت عبایه بن رفاعة فرمائی چه زه دَ جمعه دَ ادا کولودَپاره جمات ته روان ووم. ماته حضرت ابوعبس ﷺ ملاؤ شو او وئی فرمائیل مادَ رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه دَ

۱) (انظر الجامع للترمذی (ج۲ص۷۹) ابواب صفة الجنة باب ماجاء فی صفة درجات الجنة رقم(۲۵۳۰)-
۲) (انظرفتح الباری (ج۶ص۱۲)-
۳) (انظرفتح الباری (ج۶ص۱۲)-
٤) (حواله بالا –
۵) (انظر فتح الباری(ج۶ص۱۲) وشرح ابن بطال (ج۵ص۱۳)-
۶) (انظرصحیح البخاری(ج۱ص ۱۲٤)کتاب الجمعة باب المشی الی الجمعة رقم(۹۰۷)-

كوم سړي قدمونه چه د الله تعالى په لاركښې په دوړوككړ شي نو الله تعالى به په هغه باندې د دوزخ اُور حرام كړي، يعنى د دوزخ اُور به هغه ته نه رسي.

دلته **ذهاب الى الجمعة** باندې حضرت ابوعبس ﷺ د حضور اكرم ﷺ حديث واورولو او هغه **ذهاب الى الجمعة سبيل الله** سره تعبير كړه، دا اطلاق عام دې.

② دوئمه معنى د في سبيل الله خاص ده، هغه جهاد او قتال دې، نو چه كله في سبيل الله مطلق ذكر شي نو ذينه مراد قتال وي. (۱)

قوله: أَفَلَا نُبَشِّرُ بِهِ النَّاسَ؟: صحابه كرامو رضي الله عنهم عرض اوكړو يارسول الله! آيا مونږ خلقو ته دَدې زيرې وركړو. حضور ﷺ ته مخاطب كونكې صحابى حضرت معاذ بن جبل ﷺ وو. لكه چه د ترمذى په روايت كښې دى ((**قال معاذ: الا اخبر بهذا الناس؟**)) (۲). يا حضرت ابوالدرداء ﷺ وو لكه چه د طبرانى په روايت كښې دى. (۳)

قوله: إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ

دَ جنت د درجو په شمار باندې اشكال: دَ جنت څومره درجې دى په دې كښې اختلاف دې. د حديث باب نه خو دا معلوميږى چه دَ جنت ټولې درجې سل دى . اودَ عبدالله بن عمر ﷺ په روايت كښې فرمائيلې شوى دى ((**يقال يعنى لصاحب القران: اقرا وارق ورتل كما كنت ترتل فى الدنيا، فان منزلتك عند اخر اية تقرؤبها**))(۴)

ملاعلى قارى ﷫ فرمائى چه په حديث كښې راغلى دى چه دَ جنت درجې دَ قرآن كريم دَ آياتونو برابر دى. دَ پورتنى حديث نه هم دې طرف ته اشاره كيږى چه دَ جنت درجې دَ قرآن كريم دَ آياتونو دَ شمير مطابق دى او دَ قرآن مجيد آياتونه (٦٦٦٦) خو معروف دى، نو صرف سل درجات په جنت كښې كيدل څنګه قبول كړيشى؟

جوابونه: ①دَ دې اشكال جواب حضرت شيخ الحديث صاحب دا وركړيدې چه ((**ان فى الجنة مائة درجة**)) روايت نه لوئ درجات مراد دى او دَ درجات صغائرتذكره دلته نه ده شوې.اودَ جنت ټول منازل دَ قرآن پاك دآياتونو برابر دى.(۵)

۱) (انظر النهاية لابن الاثير الجزرى (ج۲ص۳۳۸-۳۳۹) مادة سبل وشرح القسطلانى (ج۵ص۴۹)-
۲) (انظر الجامع للترمذى (ج۲ص۷۹)ابواب صفة الجنة باب ماجاء فى صفة درجات الجنة رقم (۲۵۳۰)-
۳) (فتح البارى (ج۲ص۱۲)-
٤) (انظر الجامع للترمذى (ج۲ص۱۱۹) ابواب فضائل القران باب (ان الذى ليس فى جوفه من القران كالبيت الخرب) رقم (۲۹۱٤) وسنن ابى داؤد (ج۱ص۲۰۶) كتاب الصلاة باب استحباب الترتيل فى القراءة رقم (۱٤٦٤)-
۵) (تعليقات الشيخ الكاندهلى على الكوكب الدرى (ج۳ص۳۱۰)-

② حافظ ابن حجر فرمائی چه دَ حدیث دَ سیاق نه دا معنی نه لازمیږی چه دَ جنت درجې هم سل دی بلکه نورې هم دی. لیکن ذکر دَ مجاهدینو کیږی نو صرف هم دَ دوی دَ درجو تعیین شویدې. (۱)

قوله: مَابَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَابَيْنَ السَّمَاءِوَالْأَرْضِ:

دَ جنت دَ دوو درجو په مینځ کښې فاصله؟: دَباب په حدیث کښې راغلی دی ((مابين الدرجتين كما بين السماء والارض)) چه دَ جنت دَ دوو درجو په مینځ کښې به خومره فاصله وی خومره چه دَ آسمان او زمکې په منیځ کښې ده.

دزمکې او آسمان په مینځ کښې په فاصله باندې اشکال: اوس دَ زمکې او آسمان په مینځ کښې خومره فاصله ده؟ په دې سلسله کښې مختلف روایات دی. دَ ترمذی شریف په روایت کښې دی چه دَ زمکې او آسمان په مینځ کښې دَ پنځوسوو کالو فاصله ده.

((...ثم قال: هل تدرون كم بينكم وبينها؟ قالوا: الله ورسوله اعلم، قال: بينكم وبينها مسيرة خمس مائة سنة))(۲) دَ ابن ماجه، سنن ابی داؤد او هم ترمذی یو روایت کوم چه حضرت عباس بن عبدالمطلب رضی الله عنه نه مروی دې:

((قال: فان بعد ما بينهما اما واحدة واما اثنتان اوثلاث وسبعون سنة...))(۳) دَ زمکې او آسمان په مینځ کښې ۷۱، ۷۲ یا ۷۳ کالو فاصله ده.

دَاشکال جوابونه: ① علامه انورشاه کشمیری رحمه الله دَ حضرت عباس بن عبدالمطلب رضی الله عنه دَ روایت باره کښې فرمائی چه دا روایت وهم دې، چه یو راوی دَ روایت نه ۴۲۰ نه زیات کالونه ساقط کړی دی. صحیح دا دی چه دَ دې دواړو په مینځ کښې دَ پنځو سوو کالو فاصله ده. (۴)

② حافظ ابن حجر رحمه الله په دواړو روایتونو کښې جمع او تطبیق لار اختیارولوسره فرمائی چه په کوم روایت کښې ۷۱، ۷۲ یا ۷۳ کالو ذکر دې هلته سرعت سیر مراد دې او چه کوم ځائ کښې پنځه سووکالو ذکر دې هلته بطوء سیر مراد دې. یعنی دَ سرعت سیر په اعتبار سره ۷۱، ۷۲ یا ۷۳ کالو فاصله جوړیږی او دَ بطوء سیر په اعتبار سره پنځه سوو کالو فاصله جوړیږی. (۵)

---

۱) (فتح الباری (ج۶ص۱۲)-

۲) (انظر الجامع للترمذی (ج۶ص ۱۶۵) ابواب تفسیر القران (باب ومن) سورة الحدید رقم (۳۲۹۸)-

۳) (انظر سنن ابن ماجه باب فی الجهمیة رقم (۴۷۲۳) والجامع للترمذی (ج۲ص۱۶۹) ابواب تفسیر القران (باب) ومن سورة الحاقة رقم (۳۳۲۰)-

۴) (انظر فیض الباری (ج۳ص ۴۲۰)-

۵) (انظر فتح الباری (ج۱۳ص۴۱۳-۴۱۴)-

③ علامه خليل احمد سهارنپوري رحمه الله دا جواب ورکړيدي چه دَ روايتونو په مينځ کښې دا تفاوت دَ سائر(تلونکي) په اعتبار سره دې. ځکه چه دَ انسان او اس په چال کښې خو ښکاره خبره ده چه فرق دې.(١)

قوله: فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللّٰهَ فَاسْأَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ.

د جنت الفردوس تعارف: "فردوس" هغه باغ ته وائي په کوم کښې چه هر څيز وي، ګلونه او ميوې په دې کښې وي، دَ خوارک څښاك سامان هم په دې کښې وي او نهرونه هم په دې کښې وي.(٢) دَ دې جمع فراديس راځي.(٣)

قوله: فَإِنَّهُ أَوْسَطُ الْجَنَّةِ وَأَعْلَى الْجَنَّةِ.

د اوسط معنی: علامه ابن بطال فرمائي چه اوسط نه مراد متوسط وي يعنی فردوس دَ جنت په مينځ کښې واقع دې او جنت دا دَ څلورو واړو طرفونو نه راګير کړيدې.(۴)

قوله: وَمِنْهُ تَفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ.

د منه د ضمير په مرجع کښې دوه اقوال: هم دَ فردوس نه دَ جنت نهرونه جاري شوي دي.

① بعضې حضراتو "منه" ضمير عرش ته راګرځولي دې. په دې صورت کښې به مطلب دا وي چه دَ عرش نه دَ جنت نهرونه راوځي.(۵)

② ليکن ابن حجر رحمه الله فرمائي چه "منه" ضمير دَ عرش طرف ته ګرځول وهم دې بلکه دا ضمير دَ فردوس طرف ته راګرځي او په دې صورت کښې به معنی وي چه دَ فردوس نه دَ جنت نهرونه راوځي.(۶)

[٣٧٨٨] دَ ايمان څخه روسته افضل عمل

٣٧٨٨-[٢](٧) ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "«مَثَلُ الْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ كَمَثَلِ الصَّائِمِ الْقَائِمِ الْقَانِتِ بِآيَاتِ اللّٰهِ، ② لَا يَفْتُرُ مِنْ صِيَامٍ وَلَا صَلَاةٍ حَتَّى يَرْجِعَ الْمُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

١) (بذل المجهود (ج١٨ص٢٥٧)-
٢) (عمدة القاري(ج١٤ص٩٠)-
٣) (مجمع بحار الانوار (ج٤ص١١٥) ((مادة فردس-
٤) (انظر شرح ابن بطال(ج٥ص١٢)-
٥) (انظر فتح الباري (ج٦ص١٣)-
٦) (انظر فتح الباري(ج٦ص١٣)-
٧) اخرجه البخاري في كتاب الجهاد والسير/باب: أفضل الناس مؤمن مجاهد بنفسه وماله في سبيل الله (رقم-٢٧٨٧) ومسلم في كتاب الإمارة/باب فضل الشهادة في سبيل الله تعالى (رقم-١١٠-(١٨٧٨) ومالك في الموطا كتاب الجهاد/باب الترغيب في الجهاد (رقم-١)

ترجمه: [۱] ابو هريره ﷺ وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] د الله ﷻ په لار كې جهاد كونكى داسې دى څنګه چې روژه نيونكى مونځ طاعت او عباداتو كې مشغول اوسيدونكى او د الله ﷻ د آيتونو يعنى د قرآن كريم تلاوت كونكى [۳] چې روژې نيولو او مونځ كولو يعنى عباداتو كې مشغوليدو څخه هيڅ كله نه ستړى كيږي تردي چې د الله په لار كې جهاد كونكى خپل كورته واپس راشي (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① اَلْقَانِتِ: مشغول اوسيدونكې، عبادت كونكې ② لَايَفْتُرُ: نه ستړې كيږي.

تسهيلات:

قوله: مَثَلُ الْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ

دحديث پس منظر: حضورپاك دا حديث دَ يوصحابى دَ سوال په جواب كښې ارشاد فرمائيلې دې هغه دَ مجاهد فى سبيل الله دَدرجاتو حاصلولو درخواست كړې وو يو حديث كښې راغلى دى چه يوې ښځې هم درخواست كړې وو زما خاوند جهاد ته تلې دې زه داسې عمل كول غوارم چه دَهغه دَ درجاتو برابر درجه حاصله كرم نوحضورپاك اوفرمائيل دا ممكن نه دى اوكه يوسړې داسې كولې شى چه ټوله شپه مونځونه كوى او ټوله ورځ روژه ساتى اودَهغه يوساعت اولمحه دَعبادت نه خالى تيره نه شى نوهغه دَ مجاهد مرتبه حاصلولې شى څكه چه دَ مجاهدهم ټول لمحات په عبادت كښې شمير كيږى او داسې عمل څوك نه شى كولې لهذا دَ مجاهد مرتبه څوك نه شى حاصلولې دا تعليق بالمحال دې

د جهاداومونځ په افضليت كښې ۲ مذهبين:

① بعضې علماؤ جهاد دَمونځ نه پس افضل ګرځولې دې

② اكثرعلماؤ مونځ دَ جهاد نه افضل ګرځولې دې

داول فريق دليل: زيربحث حديث د دوى مستدل دې په دې كښې جهاد ته افضل عمل ونيلې شوې دې دغه شان بعضې نورو احاديثو څخه هم جهاد افضل الاعمال معلوميږي

د دويم فريق دلائل: هغه احاديث د دوى مستدلات دى په كومو كښې چې مونځ افضل عمل خودلې شوې دې

په روايانو كښې تطبيق: بعضې علماؤ داسې بهتر تطبيق كړې دې چه كله جهاد فرض عين وى نودا مطلقًا دَ ټولو اعمالونه افضل دې ليكن چه كله جهاد فرض كفايه وى نومونځ مطلقًا افضل دې

د خلوت او جلوت په افضليت كښې ۲ مذاهب:

① يوه ډله دې طرف ته تلې ده چه خلوت نشينى افضل ده

② حافظ ابن حجر او علامه نووی رحمه الله دامت دَ جمهور علماؤ مذهب دا نقل کړيدي چه خلقو سره يو ځائ اوسيدل افضل دی خو په دې شرط چه په فتنه کښې دَ پريوتلوويره نه وی ګنی نو نه.

داول فريق دلائل: حديث الباب د دوی مستدل دي په دې کښې نبی کريم ﷺ دَ جهاد څخه روسته دَ ټولونه افضل خلوت نشينی ګرځولې ده.

داول فريق د دليل دوه جوابونه: ① دا حديث دَ سختو فتنو او جنګونو زمانه باندې محمول دې چه کله دَ سړی خپل ايمان هم محفوظ نه شی.

② دَ دې حديث محمل هغه سړې دې دَ چا دَ تکليفونونه چه نور خلق محفوظ نه وی اوهغه دَ خلقو دَ تکليف رسولونه صبر کيدې نشی.

د دويم فريق دلائل: ① ((المؤمن الذی يخالط الناس، ويصبر علی اذاهم، اعظم اجرا من المؤمن الذی لايخالط الناس، ولايصبر علی اذاهم))

② علامه نووی رحمه الله دا ذکر کوی چه ټول انبياء کرام صلوات الله وسلامه عليهم.

جمهور صحابه کرام، تابعين او علماء او زاهدان خلقو سره هم په جلوت کښې اوسيدل او دَ اختلاط او جلوت فائدې به ئی حاصلولې لکه دَ جُمعې دَ مانځه حاضری، دَ جمع مونځ، دَ جنازې مونځ، دَ بيمار تپوس اودَ الله تعالی دَ ذکر حلقې وغيره.(۱)

نوټ: داخبره په ذهن کښې ساتل پکار دی چه دا ټول اختلاف هغه وخت دې چه کله فتنه عام نه وی او که چرې فتنه عام وی نو هم خلوت افضل دې ځکه چه دَ عامو فتنو محظوراتوکښې پريوتلو قوی انديښنه وی. خوداسې هم کيږی چه دَ الله تعالی عذاب هم دَ فتنويه خلقو باندې راځی ولې دَ هغې اثر په غير اصحاب فتن باندې هم واقع کيږی لکه چه ارشاد ربانی دې ﴿وَاتَّقُوْا فِتْنَةً لَّا تُصِيْبَنَّ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْكُمْ خَآصَّةً﴾ (۲) يعنی ويريږئی دَ هغه فتنې نه چه په تاسوکښې به صرف ظالمانوخلقوته نه رسی بلکه غيرظالمانوته به هم هغه عذاب راځی.(۳)

[۲۷۸۹] په هر حال کښې د مجاهد کاميابی

۲۷۸۹-[۳] (۱) ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "«اِنْتَدَبَ اللهُ لِمَنْ خَرَجَ فِي سَبِيْلِهِ لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا إِيْمَانٌ بِيْ وَتَصْدِيْقٌ بِرُسُلِيْ؛ ② أَنْ أُرْجِعَهُ بِمَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ وَغَنِيْمَةٍ، أَوْ أُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

۱) (حواله بالا-

۲) (الانفال(۲۵)-

۳) (انظرفتح الباری(ج۱۳ص۴۲) مزيد اوګورئ کشف الباری (ج۲يص۸۵-۸۸)-

۱) اخرجه البخار ی فی کتاب الايمان/باب الجهاد من الايمان (رقم-۳۶) ومسلم فی کتاب الإمارة/باب فضل الجهاد والخروج فی سبيل الله (رقم-۱۰۳ - (۱۸۷۶) والنسائی فی کتاب الإيمان وشرائعه/باب الجهاد (رقم-۵۰۲۹) ومالک فی الموطا کتاب الجهاد/باب الترغيب فی الجهاد (رقم-۲)واحمد فی المسند:۱۱۷/۲

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] الله تعالى فرمايي كوم سړى چې د الله په لار كې جهاد د پاره ووزى الله تعالى د هغه ضامن شو هغه جهاد د پاره په ما د هغه ايمان او ځما د رسولانو د تصديق څخه علاوه بل چا ونه ايستي يعنى د هغه په جهاد كې تلل دخان ښودلو او رياكاري د پاره يا د دنيا څه طلب او خواهش پيش نظر نه وو [۲] بلكه هغه خو خاص د رضا او خوشنودي د طلب د پاره وتلى دى نو زه به هغه يا خو بغير غنيمت محض د آخرت اجر اوثواب سره يامال غنيمت سره واپس كړم ياكه شهيد شو نو زه به هغه بغير حساب او عذاب د ټولو څخه مخكې جنت ته تلونكو سره په جنت كې داخل كړم يا د هغه د مرګ څخه وروسته به د قيامت د ورځي څخه هم مخكې په جنت كې داخل كړم څنګه چې يې په قرآن كې فرمايلي دي چې كوم خلق د الله په لار كې شهيدان شويدي هغوى مړه مه ګڼى بلكه هغوى دخپل رب سره ژوندي دي (بخاري . مسلم)

حل اللغات: ① انتدب" ددې معنى ضامن كيدل اوذمه وارى اخستل دى ② نَالَ: چه حاصل كړې ني دى

تسهيلات:

قوله: أَنْ أُرْجِعَهُ بِمَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْغَنِيمَةٍ أَوْأُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ:

مجاهد ته خامخا يوه ګټه ملاويدل: «أرجع» مجرد دې د باب ضرب نه استعماليږى كله چه ددې مصدر يعنى رجوع وى.نودا لازم وى.اوكله چه ددې مصدر رجع وى نودا متعدى وى [۱] دلته متعدى دې.

ددې جملې حاصل دا دې.چه كوم كس صرف دالله تعالى د رضا دپاره دايمان بالله او تصديق بالرسل سره ميدان جهاد ته لاړشي.نوياخو به شهيد شي.اوجنت ته به لاړ شي.اويا به ژوندې پاتې شي.او واپس به راشي.په دې صورت كښې به ورسره يا اجر وى.اويا به مال غنيمت وى.

د «أو» كلمې د معنى په تحقيق كښې درې اقوال: ① كرماني رحمه الله دا ارشاد فرمائيلې دې چه دا «أو» د مانعة الخلو دپاره دې.يعنى په دواړو كښې به يو خامخا وى.اودواړه جمع كيدې شى [۲]

② حافظ ابن عبدالبر. اوعلامه قرطبى رحمهما الله رائې دا دې چه دا «أو» په معنى د «واو» دې.

③ دحافظ ابن حجر رحمه الله رائې دا ده.چه په اصل كښې د غنيمت سره كوم اجر وى.هغه لږ وى.ددې وجې ددې تذكره نه ده شوې.امام مسلم د حضرت عبدالله بن عمرو بن

---

[۱] تاج العروس (۵\۳۴۸)

[۲] شرح كرماني (۱۱\۱۵۶)

العاص ﷜ نه مرفوعاً يو روايت دا نقل کړې دې.«ما من غازية تغزو فى سبيل الله فيصيبون الغنيمة إلا تعجلوا ثلثي أجرهم من الآخرة ويبقى لهم الثلث، وإن لم يصيبوا غنيمة تم لهم أجرهم»(۱) يعنى كه د مجاهدينو لښکر د جهاد دپاره لاړ شي.اودغنيمت سره واپس راشي.نودوى ته دوه حصې اجرېه دنيا كښې ملاويږى.اويوه حصه ئې آخرت ته باقى پاتې شى.اوكه جهاد اوكړى.د غنيمت نه بغير راواپس شى.نود دوى ټول اجر آخرت دپاره ذخيره شى.(۲)

[۲۷۹۰] د حضور ﷺ د جهاد جذبه او د شهادت شوق

۳۷۹۰—[۳](۳) ۱ وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "۲ «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْلَا أَنَّ رِجَالًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ لَا تَطِيبُ أَنْفُسُهُمْ أَنْ يَتَخَلَّفُوا عَنِّي، ۳ وَلَا أَجِدُ مَا أَحْمِلُهُمْ عَلَيْهِ؛ مَا تَخَلَّفْتُ عَنْ سَرِيَّةٍ تَغْزُو فِي سَبِيلِ اللهِ. وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَوَدِدْتُ أَنْ أُقْتَلَ فِي سَبِيلِ اللهِ، ثُمَّ أُحْيَا، ثُمَّ أُقْتَلَ، ثُمَّ أُحْيَا، ثُمَّ أُقْتَلَ، ثُمَّ أُحْيَا، ثُمَّ أُقْتَلَ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ ابوهريره وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ۲ قسم دى په هغه ذات چې د هغه په لاس كې ځما ساه ده كه ماته دا خوف او لحاظ نه وى چې ډير هغه مسلمانان چې مفلس او نادار دي خپل باره كې ددي خبري ښخه خوشحاله نه دي چې هغوى زما ښخه وروسته او زما ښخه جدا وي ۳ او ماته څه داسې سورلى حاصله نه ده چې په هغه هغوى ټول سواره كړم نو زه به د الله په لار كې جهاد كونكى هيڅ لښكر ښخه وروسته نه پاتې كيدم ۴ قسم دى په هغه ذات چې د هغه په لاس كې ځما ساه ده ځما خواهش او آرزو خو داده چې زه د الله په لار كې ووژل شم بيا ژوندى شم بيا ووژل شم بيا ژوندى شم بيا ووژل شم بيا ژوندى شم بيا ووژل شم بيا ژوندى شم يعنى بار بار ژوندى شم او بار بار ووژل شم چې هر ځل نوى ثواب حاصلوم. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① سَرِيَّةٍ: سرية په جهاد كښې تلونكى لښكر ته وائى جمع ئې سرايا راځى. ② لَوَدِدْتُ: زما ارمان دې. زړه مې غواړى.

---

(۱) صحيح مسلم (۱۲\۱٤۰) كتاب الإمارة باب بيان قدر ثواب من غزا فغنم ومن لم يغنم وسنن النسائى (۱۲\٥٦) كتاب الجهاد باب ثواب السرية التي تحقيق وسنن أبي داود كتاب الجهاد باب في السرية تحقيق رقم ۲٤۹۷ وسنن ابن ماجه كتاب الجهاد باب النية في القتال رقم ۲۷۸٥ وأحمد في مسنده (۱۱\۱٦۹)_

(۲) فتح البارى (٦\۱٦۹)_

(۳) اخرجه البخارى فى كتاب الجهاد والسّير /باب تمنّى الشّهادة(رقم-۲۷۹۷) ومسلم فى كتاب الإمارة /باب فضل الجهاد والخروج فى سبيل الله (رقم-۱۰٦ - (۱۸۷٦) والنسائى فى كتاب الجهاد /باب: تمنّى القتل فى سبيل اللّه تعالى (رقم-۳۱٥۲) وابن ماجه فى كتاب الجهاد /باب فضل الجهاد فى سبيل اللّه (رقم-۲۷٥۳) واحمد فى المسند: ۲/۲۷۳

تسهيلات:

قوله: وَلَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي مَا قَعَدْتُ خَلْفَ سَرِيَّةٍ:

که ما سره دا ويره نه وه.چه زما امت به په مشقت کښې اخته شی.نوزه به د يولښکرنه هم بغيرګډونه نه ووم پاتې شوې.په هره سريه کښې به مې شرکت کولو.خود مشقت د ويرې د وجې زه په هره سريه کښې شرکت نه کوم. 2

د مشقت وجوه: ① که نبی ﷺ د جهاد دپاره تلو.نود مدينې منورې په انتظامی امورو اومعاملاتوکښې به تعطل پيدا شوې وو.خکه چه نبی ﷺ په خپله موجود نه وو.نو روسته چه کوم واقعات راتلل.اوکوم حالات واقع کيدل.دهغې فيصله اوتصفيه به څنګه کيده؟نود معاملاتودې تعطل په وجه به خلق په مشکل اوپريشانئ کښې وو.

② که نبی ﷺ په خپله جهاد ته تشريف اوړلو.نوددې مطلب به دا وو.چه د امير دپاره په جهاد کښې شرکت ضروری دې.نو روسته چه کوم خلفاء راتلل. دهغوی دپاره به ګرانه وه.چه هغوی به په هرجهاد کښې وتل.اوښکاره خبره ده.چه په دې کښې مشقت دې.

③ نبی ﷺ به کله جهاد ته تشريف اوړلو.نوبه اهل ايمان کښې به څوك هم په مدينه منوره کښې ايساريدو باندې راضی نه وو.په هغوی کښې به د هريو دا خواهش وو.چه هغه د نبی ﷺ سره په جهاد کښې شريك شی.اوچه ټولو د تلو خواهش کولو. نو د ټولو دپاره به په سورلئ انتظام کول ګران وو.اوتکليف اومشقت به پيش کيدلو.

قوله: وَلَوَدِدْتُ أَنِّي أُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ أُحْيَا:

زما ارمان دې.چه زه د الله تعالی په لارکښې قتل کړې شم.اوبيا راژوندې کړې شم.بيا قتل کړې شم.او بيا راژوندې کړې شم.ا،بيا زه دالله تعالی په لارکښې شهيد کړې شم.

اشکال: دلته کښې اشکال دې.هغه دا چه د نبی ﷺ مرتبه خو د شهيدانو د مرتبې نه زياته اوچته ده. نو بيا نبی ﷺ د شهادت ارمان ولې کولو.

خودا څه عجيبه خبره نه ده.څکه چه په بعضې وختونوکښې لوئې سړی ته د معمولی معمولی څيزونو خواهش هم وی.ګورئ يوکس ته مخامخ بريانی (په روژو کښې مالګه مصالحه مرچکئ وغيره واچوی.اوګډ وډ ئې کړی) قورمه اومتنجن (يوقسم خوږ پولاؤ) اونبه نبه څيزونه موجود وی.ددې باوجود هغه وائی.اچار اوچټنی راوړئ.نوددې ښه قسم خوراکونو په مقابله کښې د اچار اوچټنئ څه حيثيت دې؟ خوهغه بيا هم د اچار اوچټنئ مطالبه کوی.

نبی ﷺ ته چه الله تعالی کوم مقام اومرتبه ورکړې ده.هغه په څوڅوچنده د شهادت د مرتبې نه اعلی او اوچت دې.خوشهادت هم اګرچه ددوی دمقام نه کم دې.هم د فضيلت

ميو څيز ضرور دي.نو ځکه نبي ﷺ ددې تمنا کړې ده.(۱)
ددې نه علاوه د نبي ﷺ ددې تمنا کولو مقصود د شهداؤ اجر اوثواب حاصلول نه دی.ځکه چه اجراوثواب خو نبي ﷺ ته د شهادت نه بغیرهم ددې نه زیات ملاؤ شوي ده.بلکه حقیقت حال دا دې.چه نبي ﷺ د شهادت تمنا ددې دپاره اوکړله.چه په دې کښې یوخاص لذت دې.

وہ کم ہیں تڑپنے میں جنہیں ملتی ہے لذت
یوں آپ کی شمشیر کے بسمل تو بہت ہیں

که د شهادت مرتبه حاصلول نې مقصود وو.نویوځل شهید کیدل به کافي وو.خونبي ﷺ چه باربار د شهادت تمنا کوی.نودا په دې خبره دال دې.چه په شهادت کښې یوخاص خوند دې.کوم چه نبي ﷺ یوځل نه بلکه باربارحاصلول غواړی.(۲)

[۳۷۹۱] د الله په لار کښې د څوکۍ فضیلت

۳۷۹۱–[۵] (۳) ① وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① سهل ابن سعد ﷺ وايي چې رسول کریم ﷺ وفرمايل ② د الله په لار کې د يوې ورځي چوکيداري ددنيا او د دنيا د ټولو څيزونو ځخه ښه ده . (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① رباط. څوکيداری کول،هغه ځائې چرته چې لښکر د ملکی سرحد د حفاظت دپاره قيام کوی.

تسهيلات:

قوله: رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ"دادَ ارتباط نه دي چه دَ تړلو په معنی کښې راځی ځکه چه په اسلامی سرحداتو باندې څوکئی کونکې سرې هم خپل اس اوخپل ځان په سرحدباندې تړلو سره پهره ورکوی. دَ قرآن پاك دَ آيت ﴿وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ﴾ [سورت الانفال، ۶۰] او دَ یوبل آیت ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا﴾ [سورت آل عمران، ۲۰۰] نه رباط ماخوذ دي. په احاديثوکښې دَ رباط ډير فضيلتونه ذکر دی

په رباط او حراسة کښې فرق: په احاديثوکښې يولفظ "حراسة" هم راغلې دې چه دَ څوکیدارئ په معنی کښې دې. حراسه او رباط کښې دومره فرق دې چه حراسه هغه

---
(۱) فضل الباری (۱۱-۴۵۰)_
(۲) المصدرالسابق)_
(۳) اخرجه البخاري فی کتاب الجهاد والسّیر/باب الغدوة والرّوحة فی سبیل الله، وقاب قوس أحدکم من الجنّة (رقم-۲۷۹۲)

ځوکی دارئی نه وائی چه دننه ملك کښې وی اورباط هغه پهره دارئی ته وائی چه دکافر ملك په سرحداتو باندې نظر ساتلو اوداسلامی ملك دَحفاظت دَپاره وی. لهذا دَ دوو مسلمانانو ملکونو په مینځ کښې په سرحداتو باندې چه کومه پهره ورکولې شی دَ رباط فضیلت هغوی ته حاصل نه دې. دغه شان تبلیغی اجتماعاتو باندې ځوکی داری کونکی باندې دَ رباط احادیث ورلګول جائز نه دی. دَدې دَپاره دَ حراسه دَ احادیثو فضیلت حاصلیدې شی. په لغوی توګه باندې دَ رباط اطلاق کله کله په نورو اعمالو باندې هم شوې دې مګر هغه اصطلاحی رباط نه دې.

قوله: خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا: دَدې جملې دوه مفهومه دی. اول دا چه دَدنیا دَ ټولو نعمتونو اودَدې ټول سازو سامان نه په رباط کښې یوه ورځ پهره ورکول بهتر دې ځکه چه دَ آخرت ثواب باقی دې اودَ دنیا نعمتونه فانی دی. دویم مفهوم دادې که دَ دنیا ټول دولت دَ الله تعالی په لارکښې خرچ کړې شی اولوئی ثواب ورته ملاؤ شی په رباط کښې یوه ورځ تیرولو ثواب دَدې نه ډیر زیات دې. داقسم جمله چه چرته هم استعمال شوې وی دَهغې هم دغه دوه مفهومه بیانولې شی. لکه څنګه چه په راتلونکی حدیث کښې هم دغه جمله راغلې ده.

فائده: دَ اسلامی سرحدونو دَ حفاظت په فضیلت کښې یو څو نور احادیث: دَ اسلامی سرحدونو ساتنه اوحفاظت (یعنی رباط) فضیلت کښې خو ډیر احادیث وارد شوی دی(۱) نو استیعاب خو مقصد نه دې په دې وجه یو څو احادیث مونږ لیکو:

① حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی:

((رباط یوم ولیلة خیر من صیام شهر وقیامه، وإن مات جری علیه عمله الذی کان یعمله، وأجری علیه رزقه، وأمن الفتّان))(اللفظ لمسلم) (۲)

دَ یوې شپې ورځې پهره ورکول دَ یوې میاشت دَ قیام او صیام نه بهتر دی او که چرې (په دې دوران)کښې هغه مړشو نودَهغه اعمال چه په دنیاکښې هغه کول، دَ هغه دَ پاره جاری وی او په هغه باندې به دَ هغه رزق جاری کولې شی اوهغه به دَ شیطان نه محفوظ وی.

② حضرت عثمان رضی الله عنه نه مرفوعا مروی دی:

((رباط یوم فی سبیل الله خیر من ألف یوم فیما سواه من المنازل))(۳)

---

۱) (راجع لتلک الأحادیث الواردة فی فضل الرباط فی سبیل الله: الجامع الأحکام القرآن (ج ٤ص ٣٢٤)-
۲) (الحدیث أخرجه مسلم فی کتاب الإمارة باب فضل الربات فی سبیل الله عزوجل رقم (٤٩٣٨) والترمذی فی فضائل الجهاد باب ماجاء فی فضل المرابط رقم (١٦٦٥) والنسائی فی کتاب الجهاد فضل الرباط رقم (٣١٦٩-٣١٧٠)-
۳) (الحدیث أخرجه الترمذی أبواب فضائل الجهاد باب ماجاء فی فضل المرابطة. رقم (١٦٦٧) والنسائی فی سننه الصغری کتاب الجهاد فضل الرباط رقم (٣١٧١-٣١٧٢) وابن ماجه أبواب الجاهد باب فضلؤالرباط فی سبیل الله رقم (٢٧٦٦)

دَ الله تعالی په لارکښې دَ يوې ورځې څوکيدار کول په نورو ځايونوکښې تيرو شوو زرو کالونه بهتر دی.

④ حضرت فضاله بن عبيد رضي الله عنه نه روايت دې چه نبی کريم ﷺ فرمائيلی: ((كل الميت يختم على عمله، إلا المرابط، فإنه ينمو له عمله إلى يوم القيامة، ويؤمن من فتان القبر)). (اللفظ لأبي داؤد)(۱)

دَ هر مړی په اعمالو باندې مهر لګولې شی (بندولې شی) سوا دَ مرابط نه. دَ هغه عمل دَ هغه دَ پاره دَ قيامته پورې زياتولې شی او هغه دَ قبر دَ فتنې نه په امن او محفوظ کيږی.

[۳۷۹۲] دَ سبيل الله مصداق

۳۷۹۳-[۲] ( ) ①وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ②«لَغَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، أَوْ رَوْحَةٌ ③خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①او حضرت انس رضي الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ②يو سحر د پاره يا د يومابنام د پاره د الله په لار کې د جهاد د شرکت په غرض تلل ③د دنيا او د دنيا دخيزونو څخه ښه دی. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ①لَغَدْوَةٌ: بالفتح- معنى ده، دَ سحر وخت يوځل راوتل او "غدو" لفظ دَ سحر نه تر زوال پورې وخت شامل دې. ②رَوْحَةٌ: بالفتح- معنى ده يو ځل مابنام راوتل او "رواح" لفظ دَ زوال نه پس تر شپې پورې وخت شامل دې.

تسهيلات:

قوله: لَغَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، أَوْ رَوْحَةٌ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا:

دَ حديث په مطلب کښې اقوال: ① ابن المهلب رحمه الله فرمائی چه ((خيرمن الدنيا)) مطلب دا دې چه دَ دې لږې غوندې زمانې ثواب او بدله په جنت کښې دَ دنيا دَ ټولوزمانونه بهتر ده. (۳)

② ابن دقيق العيد رحمه الله فرمائی چه دَ حديث مطلب دا دې چه "غدوة" او "روحة" په ذريعه به کوم ثواب حاصليږی هغه بهتر دې دَ هغه ثواب نه کوم چه دنيا او مافيها دَ الله تعالی دَ طاعت دَ پاره خرڅ کولوسره حاصليږی(۴)

۱) (الحديث رواه أبوداؤد أبواب الجهاد فى فضل الرباط رقم (۲۵۰۰) والترمذى أبواب فضائل الجهاد باب ماجاءفى فضل من مات مرابطا رقم (۱۶۲۱)-

۲) اخرجه البخارى فى كتاب الرّقاق/باب مثل الدّنيا فى الآخرة (رقم-۶۴۱۵) ومسلم فى كتاب الإمارة/باب فضل الغدوة والرّوحة فى سبيل الله (رقم-۱۱۳ - (۱۸۸۱) واحمد فى المسند:۳۳۹/۵

۳) (شرح ابن بطال (ج۵ص۱۳)-

۴) (انظر فتح البارى(ج۶ص۱۴)-

حافظ رحمه الله دَ ابن دقيق العيد رحمه الله قول ذکر کولونه پس فرمائی چه دَ دې قول تائيد دَ دې حديث نه هم كيږي كوم چه عبدالله بن المبارك رحمه الله كتاب الجهاد كښې دَ حضرت حسن بصری رحمه الله نه مرسلاً نقل کړيدې.

((قال: بعث رسول الله صلى الله عليه وسلم جيشًا فيهم عبدالله بن رواحة، فتأخر ليشهد الصلاة مع النبي صلى الله عليه وسلم، فقال له النبي صلى الله عليه وسلم: والذي نفسي بيده لو أنفقت ما في الأرض ما أدركت فضل غدوتهم)) (١)

نبی کریم ﷺ يو لښکر اوليګلو، په دې کښې عبدالله بن رواحه رضی الله عنه هم وو، هغه روستو دَ رسول الله ﷺ سره په مانځه کښې دَ شريکيدودَ پاره حصار شو (کله چه هغوی ﷺ ته معلومه شوه) نووئي فرمائيل، دَ الله قسم! ته چه څه په زمکه کښې دی هغه صدقه کړې نو بيا هم دَ هغوی دَ غدوې فضيلت نشې حاصلولې.

دَ سحراومابنام دتخصيص وجه: دلته دَ سحر اومابنام ذکر غالبًا صرف دَ دې دَپاره شويدې چه هم دَسحراومابنام په سفرباندې دَ تلو رواج وو،ګنې که سرې دَ ورځې په مينځينئى حصه کښې دَ دين دَخدمت په سلسله کښې لاړشي نو يقينًا دَ هغه دَ تګ هم هغه فضيلت دې.(٢)

قوله: فِي سَبِيلِ اللّٰهِ"

د في سبيل الله مصداقات: ①دَ الله تعالى دَ لارې نه دَ جهاد لار او په جهادکښې شرکت مراد دې. علامه ابن حجررحمه الله فتح الباری کښې دَ سبيل الله په شرح کښې ليکی "اي الجهاد". قرآن عظيم کښې دا لفظ باربار راغلې دې دَ قرآن په لوستلوسره معلوميږی چه دَ سبيل الله لفظ په دريوطريقو سره استعمال کړې شوې دې. دَدې اولنې اطلاق او استعمال دَ جهاد دَپاره شوې دې اوجهاد فی سبيل الله سره دا لفظ خاص دې لکه ﴿ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ﴾ اودَدې په شان نور آياتونه دی دا جهاد سره خاص دې او په صريح توګه په قرآن کښې دَ سبيل الله لفظ ۴۶ ځل ذکرشوې دې

② دَدې لفظ دويم اطلاق اواستعمال دَعموم په توګه دَ مطلق دين دَپاره شوې دې چه دَ دين دَ ټولو شعبودَپاره عام دې هيڅ يوشعبې سره خاص نه دې لکه ﴿يَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾ آيت شو. اودَدې نه علاوه نور آياتونه دی په صريح توګه باندې په قرآن عظيم کښې دالفظ ۲۵ مقاماتوکښې ذکر دې.

١) (انظر فتح الباری(ج۶ص۱٤)-

٢) (معارف الحديث (ج۱ص۱۶۱)-

③ دَدې لفظ دريم اطلاق په مشترکه توګه باندې شوې دې کله په انفاق فی سبيل الله کښې استعمال شوې کله په جهادکښې استعمال شوې دې اوکله دَ مطلق دين دَپاره استعمال شوې دې لکه ﴿ وَأَنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ ﴾ والا آيت دې. په صريح توګه باندې دا لفظ ۷مقاماتوکښې استعمال شوې دې.

④امام احمد بن حنبل رحمه الله دَ سبيل الله په مفهوم کښې دَ يوحديث دَ وجې نه حاجيان او دَعلم دين طالبان هم داخل منلى دى. صاحب هدايه په کتاب الزکوة کښې اودَ فی سبيل الله په تشريح کښې ليکلى دى "اي المنقطع الغزاة لانه المتفاهم عندالاطلاق" يعنى چه کله فی سبيل الله مطلق استعمال شي نودَدې رومبې مصداق مجاهدين دى. دَ مشکوة شريف کتاب الجهادکښې دالفظ تقريبًا ۹۰ ځل راغلې دې کوم چه دَجهاد دَپاره استعمال شوې دې.

⑤ په عموميت کښې د تبليغ لار هم په في سبيل الله کښې داخله ده. اوځوک چې په تبليغ کښې وتلى وى هغه ته هم في سبيل الله وئيلى شى خو في سبيل الله په تبليغ پورې خاص کول لويه غلطى ده. ددې ځخه ځان راويستل ضرورى دى.

[۳۷۹۲] دالله په لار کښې د يوې ورځې شپې د څوکۍ فضيلت

۳۷۹۳-[۷] (۱) ① وَعَنْ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: ② "«رِبَاطُ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، ③ خَيْرٌ مِنْ صِيَامِ شَهْرٍ وَقِيَامِهِ، ④ وَإِنْ مَاتَ جَرَى عَلَيْهِ عَمَلُهُ الَّذِي كَانَ يَعْمَلُهُ ⑤ وَأُجْرِيَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ، وَأَمِنَ الْفَتَّانَ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او سلمان فارسي رضي الله عنه وايي چې ما درسول کريم صلى الله عليه وسلم ځخه واوريدل ② په جهاد کې د يوې ورځې او يوې شپې خدمت انجام کول ③ د يوې مياشتې روژې او شب بيدارى ځخه ښه دى ④ او که هغه چوکيدار د دې خدمت آنجامولو په دوران کې مړ شي نو د هغه د دې عمل ثواب چې په هغه هغه خپل ژوند کې عامل وو جاري به وي يعنى خپل ژوند کې چې په کوم نيك عمل عامل وو د هغه ثواب به هغه ته د مرګ ځخه وروسته هم هميشه رسيږي ⑤ او د هغه د پاره د جنت طعام او شراب ځخه د هغه رزق جاري کول کيږي او هغه د شيطان يادجال د مکر او دهوکه ځخه يا په قبر کې د عذاب د فرښتې د فتنې ځخه محفوظ وي. (مسلم)

حل اللغات: ①رِبَاطُ: پهره ورکول ②جَرَى: جارى وى ③الْفَتَّانَ: د مبالغې صيغه ده، د ډيرې فتنې اچونکې (يعنى عذاب ورکونکې)

[1]) اخرجه مسلم فى كتاب الإمارة/باب فضل الرّباط فى سبيل الله عزّ وجلّ (رقم-١٦٣ - (١٩١٣) والنسائى فى كتاب الجهاد/باب فضل الرّباط (رقم-٣١٦٧)واحمد فى المسند: ٤٤٠/٥

تسهيلات:

قوله: رِبَاطُ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ فِي سَبِيلِ اللهِ

د مرابط في سبيل الله ثوابونه: ① دَ يوې ورځې او يوې شپې پهره دَالله تعالى په لارې دَ جهاد كښې دَ يوې مياشتې تولـه ورځ روژه او تولـه شپه تهجدنه افضل ده.

② دَ مرابط نيك عمل كوم چه هغه په دنيا كښې كولودَمرگ نه پس به دَهغه ثواب بنديږى نه بلكه جارى به وى. دغه شان دَهغه دَمرگ نه پس به په قبر كښې دَ جنت دَنعمتونو په صورت كښې رزق جارى شي

③ مرابط فى سبيل الله به دَعذاب قبر دَ فتنې نه محفوظ وى

قوله: وَأَمِنَ الْفَتَّانَ:

د فتنې څخه مراد: ① دَ فتان په لفظ كښې فاء باندې فتحه اوضمه دواړه دى اوپه تاء باندې شدده. دې نه دَعذاب قبرفتنه هم مراد اخستې شي

② دَ دجال فتنه هم اخستې شى اودَ شيطان فتنه هم اخستې شى بعضې شارحينو دالفظ دَ جمع صيغه گرځولې ده دكوم مفردچه فاتن دې

③ ددې نه ئى دَ دوزخ دَ داروغه فتنه مراد اخستې ده بهرحال كله چه مرابط دَدومره لويو فتنونه محفوظ پاتې كيږى نوورې فتنې به هيڅ هم نه وى.

[۳۷۹٤] دالله تعالى دلارې گرد د جهنم څخه حفاظت

٣٧٩٤-[٨] () ①وَعَنْ أَبِي عَبْسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ②" «مَا اغْبَرَّتْ قَدَمَا عَبْدٍ فِي سَبِيلِ اللهِ فَتَمَسَّهُ النَّارُ» " رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او ابوعبس ﷛ وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ② د كوم بنده پښې چې د الله په لار كې په جهاد كې په خاورو ككړې شي نو بيا هغه د دوزخ اور نه مسه كوي (بخاري)

د راوي مختصر تعارف:

حضرت ابو عبس عبدالرحمن بن جبر ﷛: نوم عبدالرحمن كنيت ابوعبس دَ هغه كنيت دَ هغه دَ نوم نه ډير مشهوردې. پوره نوم عبدالرحمن بن جبر بن عمرو بن زيد بن جشم بن مجدد انصارى دې. بدرى صحابى دې دَ لوئ فضيلت والا دې.

وفات: دَ هغه وفات ۳۴ھ كښې مدينه منوره كښې دَ حضرت عثمان ﷛ په دورخلافت

[1]) اخرجه البخاری فی كتاب الجهاد والسّير/باب من اغبرّت قدماه فی سبيل الله (رقم-۲۸۱۱) والترمذی فی كتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/ ما جاء فی فضل من اغبرّت قدماه فی سبيل الله (رقم-۱۶۳۲) والنسائی فی كتاب الجهاد/باب: ثواب من اغبرّت قدماه فی سبيل الله (رقم-۳۱۱۶)

کښې شوې وو او هم هغوی دَ ده دَ جنازې مونځ کړې ووااو په جنت البقیع کښې خښ شوې دې.

مرويات: دَ هغه نه پنځه روايتونه نقل دی يو بخاری کښې دې باقی ترمذی نسائی وغيره کښې دی.

حل اللغات: ①اغْبَرَّتْ:د لار په دوړه اوخاوره باندې ککړ کيدل

قوله: مَااغْبَرَّتْ قَدَمَا عَبْدٍ فِي سَبِيلِ اللهِ:

دَ الله تعالى په لاركښې دَ حركاتو اوتصرفاتو عظمت: دَ حديث مطلب دا دې چه دَ دوړو په موجودګئ سره به ئى دَ دوزخ أور نه سوزوی او په دې کښې دَ الله تعالى په لاركښې تصرفاتو او حركاتو ته اشاره ده. لږه شان اندازه اولګوئى چه صرف په قدمونو باندې دَ دوړو لګيدو په وجه دَ دوزخ أور حراميږی نو دَ هغه سړی به څه مرتبه او فضيلت وی چا چه خپل پوره طاقت، قوت او کوشش دَ الله تعالى په لاركښې لګولې وی.(۱)

دَ حديث باب هَم معنى يو څو نور احاديث: ①ابن حبان رحمه الله دَ حضرت جابر رضی الله عنه نه دَ روايت باب دَ معنى په شان روايت نقل کړيدې. چه حضرت جابر رضی الله عنه فرمائى چه هغه په غزوه کښې وو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل: ((من اغبرت قدماه في سبيل الله حرمه الله على النار)). حضرت جابر رضی الله عنه فرمائى چه کله خلقو دَ نبى کريم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك واوريدو نو هغوی دَ خپلو خپلو سورلونه راؤدانګل او دَ دغه ورځ نه وړاندې مونږ خلق دومره پيدل تلونکی نه دی ليدلی. (۲)

②دغه شان علامه طبرانی رحمه الله هم دَ حضرت ابوالدرداء رضی الله عنه نه مرفوعاً نقل کړی دی چه نبى کريم صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائيلو((من اغبرت قدمه في سبيل الله باعد الله منه النار مسيرة ألف عام للراكب مستعجل))(۳)

يعنى دَ چا قدم چه دَ الله تعالى په لار کښې دَ دوړو شو نو الله تعالى به دَ هغه نه دَ دوزخ أور دومره لرې کړی څومره چه دَ يو تيز سور دَ زرو کالو مسافت وی.

مطلب دا چه يو تيز رفتار سور په زرکاله کښې څومره فاصله کوی دَ هغې په اندازه به الله تعالى دَ دغه سړی نه دَ دوزخ أور لرې کړی دَ چا قدمونه چه دَ الله تعالى په لاركښې دَ دوړوشوې وی.

۱) (فتح الباری (ج۶ص۳۰)-
۲) (الإحسان بترتيب صحيح ابن حبان (ج۸ص۶۲)-
۳) (مجمع الزوائد للهيثمی (ج۵ص۲۸۵)-

[۳۷۹۵] د كافر او دهغه د مسلمان قاتل په جهنم كښې عدم اجتماع

۳۷۹۵-[۹] (¹) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «لَا يَجْتَمِعُ كَافِرٌ وَقَاتِلُهُ فِي النَّارِ أَبَدًا» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] كافر او د هغه وژونكى مسلمان هيڅ كله هم په دوزخ كې يوځاى كيدى نشي (مسلم)

تسهيلات:

قوله: لَا يَجْتَمِعُ كَافِرٌ وَقَاتِلُهُ فِي النَّارِ أَبَدًا

دعدم اجتماع فى النار په مفهوم كښې ځلور اقوال: په دې حديث كښې د هغه مسلمان دپاره ډير زيرې دې چه د هغه په لاس سره يو كافر قتل شي. هغه دا چه د هميشه دپاره د جهنم نه محفوظ شو، دا ډير فضيلت دې، خو شارحين حديث دا په خپل عموم باندې نه دې پريخودلې، په نورو ايتونو او احاديثو باندې نظر ساتلو سره. په دې كښې څواقوال دى

① د دې څخه هغه مراد دې چې باقاعده جهاد ته ځي او كافران قتلوى

② د اور د عذاب نه به محفوظ شى كه د ګناهونو د وجې په عذاب شو هم نو بغير د اور نه به وى، مثلا په اعراف كښې پاتې كيدل په جنت كښې د دخول اولى نه

③ كه د څه وجې د اور عذاب اوشى نو بيا هم هغه طبقه نار كښې به نه داخليږى كومه چه د كفارو دپاره ده.

④ خاص د دې كافر مقتول طبقه مراد ده چه دواړه به په يو طبقه كښې جمع نه شى والحديث اخرجه مسلم قاله المنذرى.

[۳۷۹۶] د بهترين ژوند مالك

۳۷۹۶-[۱۰] (²) [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [۲] «مِنْ خَيْرِ مَعَاشِ النَّاسِ لَهُمْ، [۳] رَجُلٌ مُمْسِكٌ عِنَانَ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ، يَطِيرُ عَلَى مَتْنِهِ، كُلَّمَا سَمِعَ هَيْعَةً، أَوْ فَزْعَةً، طَارَ عَلَيْهِ يَبْتَغِي الْقَتْلَ وَالْمَوْتَ مَظَانَّهُ، أَوْ رَجُلٌ فِي غُنَيْمَةٍ فِي رَأْسِ شَعَفَةٍ مِنْ هَذِهِ الشَّعَفِ، أَوْ بَطْنِ وَادٍ مِنْ هَذِهِ الْأَوْدِيَةِ، يُقِيمُ الصَّلَاةَ وَيُؤْتِي الزَّكَاةَ وَيَعْبُدُ رَبَّهُ حَتَّى يَأْتِيَهُ الْيَقِينُ، لَيْسَ مِنَ النَّاسِ إِلَّا فِي خَيْرٍ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] دانسانانو په ژوند كې

---

¹) اخرجه مسلم فى كتاب الإمارة/باب من قتل كافرا ثمّ أسلم (رقم-۱۳۰ - (۱۸۹۱) و ابو داود فى كتاب الجهاد/باب فى فضل من قتل كافرا (رقم-۲٤۹۵)

²) اخرجه مسلم فى كتاب الإمارة/باب فضل الجهاد والرّباط (رقم-۱۲۵ - (۱۸۸۹) وابن ماجه فى كتاب الفتن/باب العزلة (رقم-۳۹۷۷)

بهترین ژوند د هغه سړي دی [۲] چې د الله په لار کې د خپل آس واګې ونیسي او هرکله چې د چا خوف زده آواز یا د چا فریاد کولو آواز واوري نو تادي سره د آس په شا سور شي او د هغه خوفزده یا فریادرس اواز طرف ته په منډه ورشي او خپل مرګ یا هغه ځای تلاش کوي چرته چې د مرګ ګمان وي یعنی هغه چې د یوخوفزده ژړا فریاد یا د مدد غوښتونکي اواز واوري نو تادي سره روان شي او هغه آواز تلاش کولو سره موقع ته رسیدو سره د فریاد کونکي مدد کوي او د دې خبري څخه نه ویریږي چې ځما په ځان جوړه نشي او ماته دخپل ژوند څخه لاس وینځل راشي یا بهترین ژوند د هغه سړي دی چې دځو بزو سره هغه غرونو څخه د یو غر په څوکو یا هغه وادیوڅخه یوي وادي کې اقامت ګزین دی او مونځ کوي او که هغه بزي (چیلۍ) حد نصاب ته رسیږي نو د هغه زکوٰة اداکوي او د خپل پروردګار عبادت او بندګي کې مشغول وي تردي چې د هغه مرګ راشي او داسړی د انسانانو شر نه دی بلکه صرف د خیر په مینځ کې ژوند تیروي. (مسلم)

حل اللغات: ① مَعَاشِ: دادَ عیش نه دې یعنی دَ انسان بهترین ژوندون ② مُمْسِكٌ: نیونکې وی. ③ عِنَانَ: واګې، ④ يَطِيرُ: الوتوته وائی دلته مراد تیزې منډې وهل دی لکه چه الوزی. ⑤ مَتْنِهِ: متن شا (ملا) ته وائی. ⑥ هَيْعَةٌ: په ویرې سره دَفریاد آوازته هیعة وائی. ⑦ فَزْعَةٌ: دَویرې زیاتې ویرې په وخت دَامداد اونصرت دَپاره رابللوته فزعه وائی. "أو" دَتنویع دَپاره دې دَدواړو معنی نیزدې نیزدې ده ویریدلې فریاد کونکې سړې مراددې. ⑧ مَظَانَّهُ: دَمظنة جمع ده ګمان کونکې، او ضمیرمفرد ځکه راوړلې شوې دې چه دهریوطرف ته راجع دې یا دَاقرب طرف ته ضمیرراګرځی کوم چه مرګ دې. ⑨ غُنَيْمَةٍ: دادَ غنم تصغیردې دَتقلیل دَپاره دې. یعنی دَ چیلوپه یوه ټکره کښې دې. ⑩ شَعَفَةٍ: شین عین اوفاء باندې فتحه ده دَغر څوکې ته وائی.

قوله: لَيْسَ مِنَ النَّاسِ إِلَّا فِي خَيْرٍ. یعنی نه خلقوته پخپله تکلیف ورکوی اونه دَخلقو په شرکښې خپل ځان مبتلا کوی.

د خلوت حکم: دَ شرفساد اوفتن ومحن په وخت سړی له پکاردی چه دَ خپل دین دَحفاظت دَپاره دَ آسانئی والا ژوند پریږدی دَ خلقو نه ځان له شی ورك ژوند او په یوګوټ کښې ژوند تیرول اودَفقر وفاقې اومشقت والا ژوندون اختیارکړی. په ګوټ کښې وخت تیرول اودَخلقونه ځان له ژوند تیرول هغه وخت کښې افضل دې کله چه دَدین اوایمان خطره وی ګنی په عاموحالاتوکښې دَخلقو په مینځ کښې اوسیدل اودَهغوی دَاصلاح فکرکول اودَهغوی مشقتونه برداشت کول افضل دی. دَ ټولو انبیاؤ اولیاؤ اوعلماؤ هم دغه معمول وو.

[۳۷۹۷] د مجاهد دپاره د سامان تیارولو فضیلت

۳۷۹۷-[۱] ()[۱] وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَقَدْ غَزَا، [۳] وَمَنْ خَلَفَ غَازِيًا فِي أَهْلِهِ، فَقَدْ غَزَا» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او زید رضی الله عنه ابن خالد وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړی چې د الله په لار کې د جهاد کونکي سامان درست کی هغه گویا جهاد وکړو یعنی هغه هم د جهاد کونکو په حکم کې داخل دی او د جهاد په ثواب کې شریك دی [۳] او کوم سړی چې د یوغازي او مجاهد د هغه اهل وعیال د پاره نائب او خلیفه جوړ شی یعنی کوم سړی چې د یوغازي او مجاهد جهاد ته دتلو څخه وروسته د هغه د اهل وعیال خدمت گذار او نگهبان جوړ شی هغه هم گویاجهادوکړو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ①جَهَّزَ: سامان، اسباب تیار کړی.

تسهیلات:

قوله: مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ:

دَ تجهیز نه څه مراد دي؟: دَ تجهیز معنی چاته دَ سفر اسباب او سامان ورکولو ده.که زیات وی اوکه کم، تر دې چه چاته تار او ستن ورکول هم په دې کښې داخل دی. طبرانی (۲) دَ حضرت واثله بن اسقع رضی الله عنه نه روایت نقل کړیدې،

((قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: مامن أهل بيت لايغزو منهم غاز أو يجهز غازيا بسلك أوإبرة أو ما يعدلها من الورق أويخلفه في أهل بخيرإلا أصابهم الله بقارعة قبل يوم القيامة)) (۳)

که دَ یوې کورنئی نه یو کس هم غزوه کښې شرکت اونکړی یا دَ یوغازی دَ ستنې تار یا دَ دې برابر چاندئی سره تیاری اونکړی یا دَ هغه دَ بال بچ تپوس پوښتنه اونکړی نو دَ قیامت نه وړاندې وړاندې به الله تعالی هغه په څه مصیبت کښې اخته کړی.

یو اشکال: لیکن دلته یو اشکال پیدا کیږی او هغه دا چه امام بن ماجه رحمه الله دَ حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه نه یو روایت نقل کړیدې دَ هغې الفاظ دا دی ((سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: من جهز غازيا حتى يستقل كان له مثل أجره حتى يموت أويرجع)) (۴)

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسّیر/باب فضل من جهّز غازیا أو خلفه بخیر(رقم-۲۸۴۳) ومسلم فی کتاب الإمارة/باب فضل إعانة الغازی فی سبیل الله بمرکوب وغیره، وخلافته فی أهله بخیر(رقم-۱۳۵ - (۱۸۹۵) و ابو داود فی کتاب الجهاد ، باب ما یجزئ من الغزو (رقم-۲۵۰۹) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب فضل من جهّز غازیا (رقم-۳۱۸۰)وابن ماجه فی کتاب الجهاد/باب من جهّز غازیا (رقم-۲۷۵۹) واحمد فی المسند: ۱۱۵/۴

۲) (مجمع الزوائد (ج۵ص ۲۸۴) وقال العینی (ج ۱۴ص۱۳۷) وإسناده ضعیف-

۳) (عمدةالقاری (۱۴ص۱۳۷)-

۴) (أخرجه امام ماجه أبواب الجهادباب من جهز غازیا رقم (۱۸۵۸)-

ماذَ رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی که چا یو غازی ته دَ سفر مکمل سامان او اسباب ورکړل نودَ هغه دَپاره به هم دَ دغه غازی په شان ثواب وی تر دې چه هغه غازی به یا شهید شی یا به واپس راشی.

په حدیث شریف کښې دَ ((یستقل)) الفاظ دی او دَ استقلال معنی خو پوره تیاری کول دی، دَ دې دَ پاره دا وئیل چه صرف ستن او تار ورکول هم تجهیز دې صحیح نه دی.

دوه جوابونه: علامه عینی رحمه الله دَ دې دوه جوابونه ارشاد فرمائیلی:

① حدیث واثله بن الاسقع ضعیف دې په دې وجه دَ احتجاج قابل نه دې.

② اوکه دَ دې صحت اومنلې شی نو بیا هم دَ هغه سړی په حق کښې وعید دې چه دَ سره دَ هیڅ قسمه سامان دَ مجاهد سره امداد اونکړی په دې وجه هیڅ تعارض نشته. (۱)

قوله: فَقَدْ غَزَا:

د غزا کولو دوه مطلبه: ① ابوحاتم ابن حبان رحمه الله فرمائی چه مطلب دا دې چه ده ته به هم دَ غازی اجر ورکولې شی، سره دَ دې چه هغه په جهاد کښې شرکت نه دې کړې.(۲) بیا دَ یو بل طریق نه بسرین سعید رحمه الله نه دا روایت نقل کړې: ((...کتب له مثل أجره، غیر أنه لاینقص من أجره شيء...))(۳)

② علامه کشمیری صاحب رحمه الله فرمائی چه یوکارخو یا یو سړې پوره کوی یا دَ هغې دَ پوره کولو دَ پاره دَ یوپوره ډلې ضرورت وی، اوس که هغه کار دَ یو ډلې په کار کولوسره پوره کیږی نو په هغې کښې به هر یو کس ته دَ فاعل اجر حاصل وی که هغه په دې کار کښې پخپله شریك وی یا په څه طریقه ئې هم په دې کښې معاونت کړی لکه جهادچه دې. دا یو داسې امر دې دَ څه دَپاره چه دَ مجاهدینو دَ جماعت هم ضرورت دې چه اوجنګیږی. دغه شان دَ هغوی دَپاره دَ داسې سړو هم ضرورت وی چه دَ دې مجاهدینو معاونت اوکړی او دَ هغوی شاته دَ هغوی په غیرموجودګئی کښې دَ هغوی دَ کور مال حال خبرواخلی او دَ هغوی دَ پالنې خیال اوساتی. په دې وجه معاونت کونکې اودَ مجاهدینو شاته دَ هغوی دَ کور مال حال خبراخستونکې هم دَ الله تعالی په لارکښې دَ جهاد کونکی په شان دې.

خلاصه دا شوه چه چا په جنګ کښې پخپله حصه واخستله او چا چه په څه طریقه سره هم

---

۱) (عمدةالقاری (ج ۱٤ص۱۳۷) وقد وردت أحادیث کثیرة فی تجهیز الغازی وخلفه بخیر. فمن أراد الاطلاع علیهافلینظر عمدةالقاری (ج ۱٤ص۱۳۷)۔

۲) (الإحسان بترتیب صحیح ابن حبان(ج۸ص۷۱)۔

۳) (حواله سابقه (ج۸ص۷۲) کتاب السیر ذکرالبیان بأن المجهز إنما یأخذ کحسنات الغازی... رقم (٤٦١٤)

دَ هغه مجاهد معاونت اوکړو دا تول په جهاد کښې مشترك دی، دا صحیح ده چه دَ اخلاص، سخاوت نفس، مال دَ خرچ کولو او خان قربانی کولو په وجه به دَ هغه په اجرکښې کمی زیاتی اعتبارکښې به اختلاف وی.(١)

فائده: امام طبری رحمه الله فرمائی:

((وفيه من الفقه أن كل من أعان مؤمنا على عمل بر فللمعين عليه أجر مثل العامل، وإذا أخبر الرسول أن من جهز غازيا فقد غاز، فكذلك من فطر صائما أو قواه على صومه، وكذلك من أعان حاجا(٢) أو معتمرا بما يتقوى به على حجه أو عمرته حتى يأتي ذلك على تمامه فله مثل أجره))(٣)

یعنی دَ مذکوره حدیث نه دا فائده مستنبط شوه چه یو سړې دَ یو مؤمن په نیك كار کښې امداد اوکړی نو هغه معاون او ناصر ته به هم دَ هغې په شان اجر حاصل وی. او چه کله نبی کریم ﷺ دَ دې خبرې خبر ورکړوکه چا مجاهد له دَ جهاد سامان ورکړو نو لکه چه هغه پخپله هم جهاد اوکړو، دغه شان که چا په یو روژه دار باندې روژې ماتې اوکړو یا دَ روژې په سلسله کښې ئې هغه له تقویت ورکړو، دغه شان چا چه دَ یو حاجی معتمر په څه داسې څیز سره امداد اوکړو چه هغه دَ حج یا عمرې سر ته رسولو دَ پاره په هغې قادرشو نودې امداد کونکی ته به دَجهاد ،روژې، حج اویا عمرې برابر اجر ورکولې شی.

[٣٧٩٨] دمجاهدینو دښځو د احترام حکم

٣٧٩٨ـ[١٢]( ) [١] وَعَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[٢]«حُرْمَةُ نِسَاءِ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ كَحُرْمَةِ أُمَّهَاتِهِمْ، وَمَا مِنْ رَجُلٍ مِنَ الْقَاعِدِينَ يَخْلُفُ رَجُلًا مِنَ الْمُجَاهِدِينَ فِي أَهْلِهِ فَيَخُونُهُ فِيهِمْ: [٣] إِلَّا وُقِفَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَيَأْخُذُ مِنْ عَمَلِهِ مَا شَاءَ، فَمَا ظَنُّكُمْ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت بریده رضي الله عنه وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [٢] د مجاهدینو د بیبیانو عزت او حرمت په کورونوکي په ناستو یعنی جهاد ته نه تلونکو والاوو باندې داسې لازم دی څنګه چې د هغوئ دخپلومیندو عزت او حرمت په هغوی لازم دی یعنی کوم خلق چې په څه وجه جهاد ته نشي تلی او په خپلو کورونو کې پاتې شوي دي هغوی ته پکار دی چې کوم خلق جهاد ته تللي دي د هغه مسلمانانو د بیبیانو عزت او آبروکي خیانت ونه کې او هغوی ته په بدنظر ونه ګوري بلکه هغوی په خپل حق کې داسې حرامي وګڼي ګویا

١) (فیض الباری (ج٣ص٤٢٧)-
٢) (إشارة إلى ماورواه الرافعي. انظر تلخیص الجبیر(ج ٤ص١٠١)-
٣) (شرح ابن بطال(ج٥ص٥١)-
٤) اخرجه مسلم فی کتاب الإمارة/باب حرمة نساء المجاهدین. وإثم من خانهم فیهن (رقم-١٣٩ - (١٨٩٧) و ابو داود فی کتاب الجهاد/باب فی حرمة نساء المجاهدین علی القاعدین (رقم-٢٤٩٦) والنسائی فی کتاب الزکاة/باب المعدن(رقم-٢٤٩٥) واحمد فی المسند: ٣٥٥/٥

چې هغوئ يې میندي دي [۳] تو یاد لرئ ناستو یعنی جهاد ته نه تلونکو کې چې کوم سړی د یو مجاهد د اهل وعیال یعنی د هغه د ښځې او منیځو او نورو خپلوانو د پاره نائب او خلیفه جوړ شو یعنی د هغوی نګران جوړ شو او بیا د هغه مجاهد د اهل وعیال عزت او آبرو کې خیانت اوکړو نو هغه به د قیامت په ورځ د هغه مجاهد مخکې ودرول شي او مجاهد چې د هغه د نیکو اعمالو څخه څومره غواړي وابه خلي په داسې حالت کې ستاسو څه فکر دی؟

حل اللغات: ①حُرْمَةُ: عزت، د عزت حفاظت ②الْقَاعِدِينَ: ناست خلق، جهاد ته نه تلونکی خلق. ③يَخْلُفُ: خلیفه او نائب جوړشی، ④فَيَخُونُهُ: نو خیانت پکښې اوکړی

تسهیلات:

قوله: إِلَّاوُقِفَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَأَخَذَ مِنْ عَمَلِهِ مَا شَاءَ:

مجاهدته د خائن د نیکو اخستلواختیار: یعنی دغه خیانت کونکې به دمجاهدمخې ته اودرولې شی اوهغه چه دده نه څومره نیکیانې اخستل غواړی اخستلې به شی

قوله: فَمَا ظَنُّكُمْ؟:

د مذکوره جملې مفهوم: خائن نه به الله تعالی دقیامت په ورځ دهغه تولې نیکنی مجاهدته ورکوی آیاد الله تعالی باره کښې ستاسوڅه شك شته دې؟ داسې خیال اوشك مه کوئی یعنی ستاسو څه خیال دې چه د قیامت په ورځ دَدې ضرورت په موقع باندې به مجاهد دَهغه څه نیکی پریږدی؟ نه بلکه هرڅه به اخلی

دمجاهد حق وهلودګناه عظمت: بهرحال په دې حدیث کښې دَمجاهدډیر لوئی فضیلت بیان کړې شوې دې دکوم دائره چه دَ هغه خاندان او قبیلې پورې خوریږی چه دَ مجاهد دَ بیبیانو احترام په عام مسلمانانو داسې لازم دی لکه څنګه چه دَخپلو مئیندو احترام لا زم دې

[۳۷۹۹] په جهاد کښې د مالي مدد فضیلت

۳۷۹۹—[۱۳] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، [۲] قَالَ: «جَاءَ رَجُلٌ بِنَاقَةٍ مَخْطُومَةٍ [۳] فَقَالَ: هَذِهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، [۴] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "لَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ سَبْعُمِائَةِ نَاقَةٍ كُلُّهَا مَخْطُومَةٌ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] ابو مسعود انصاري رضی الله عنه وایي [۲] چې یوه ورځ دربار نبوت کې یو سړی مهار نیولی د اوښې سره حاضر شو [۳] او عرض يې اوکړو چې دا د الله د لار د پاره ده یعنی زه

---

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب الإمارة/باب فضل الصدقة فی سبیل الله وتضعیفها (رقم-۱۳۲ - (۱۸۹۲) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب: فضل الصدقة فی سبیل الله عزّ وجلّ (رقم-۳۱۸۷) واحمد فی المسند: ۲۷۴/۵

دا اونبه د الله د رضا د پاره په جهاد کې پیش کوم [۲] رسول کریم ﷺ ورته وفرمایل زه ستا دا پیشکش تحسین سره قبلوم او تاته دا بشارت درکوم چې د دې په بدله کې به تاته دقیامت په ورځ اوه سوه ۷۰۰ اوښې درکول کیږي اوټولو ته به مهار لګیدلی وي (مسلم)

حل اللغات ① مَخْطُومَةٌ: دخطام نه دې چه د واګې اوجلب په معنی کښې دې یعنی واګه اوجلب اچولې شوې اوښه

تسهیلات:

قوله لَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ سَبْعُمِائَةِ نَاقَةٍ كُلُّهَا مَخْطُومَةٌ

یو په اووه سوه ثواب ملاویدل: یعنی د دغه یوې اوښې په بدله کښې به الله تعالی اووه سوه اوښې ورکوی داحدیث دهغه حدیث په شان دې په کوم کښې چه راغلی دی چه کوم سړې په کورکښې ناست وی مګر هغه د جهادد میدان دپاره یوه روپیئی اولیږله نو الله تعالی به هغه ته د اووه سوو روپوثواب ورکوی.

[۲۸۰۰] د مجاهد د کاروبار د نګرانئ کولو فضیلت

[۱۴] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] بَعَثَ بَعْثًا إِلَى بَنِي لَحْيَانَ مِنْ هُذَيْلٍ. [۳] فَقَالَ: "لِيَنْبَعِثْ مِنْ كُلِّ رَجُلَيْنِ أَحَدُهُمَا، وَالْأَجْرُ بَيْنَهُمَا» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] ابو سعید خدري رضی الله عنه وایي چې رسول کریم ﷺ [۲] د قبیله هذیل د یوشاخ بنولحیان په مقابله کې د جهاد د پاره د یولښکر د لیږلو اراده وکړله [۳] نو حکم یې اوکړو چې په دوو سړو کې دي یوسړی جهاد ته د تلو د پاره اُوځی یعنی د هري قبیلي ځخه دي نیم په نیمه سړی جهاد ته ولاړ شي او نیم دي پاتې شي چې په جهاد کړي د تلونکو د اهل وعیال خبر ګیري کوي او د جهاد ثواب به دواړو ته برابرملاویږی. (مسلم)

حل اللغات ① بَعْثًا: بعث په اصل کښې لیږلو ته وائی دلته تړې د بعث فعل په قرینه لښکر مراد دي.

تسهیلات:

قوله لِيَنْبَعِثْ مِنْ كُلِّ رَجُلَيْنِ أَحَدُهُمَا

په هردوو کسانو کښې دویم ته د جهاد د پاره د تلوحکم: دا د جهاددپاره لیږلود تشکیل یوصورت دې یعنی دهرکورنه دې یوسړې جهادله لاړشی اودویم دې دهغه دکوردخیال ساتلودپاره شاته پاتې کیږی ثواب به ددواړو یوشان برابروی مجاهدته به د جهاد دتللوثواب ملاویږی بل طرف ته به دهغه دکور بال بچ خیال ساتونکی ته به په دغه نګرانئی کښې د جهاد پوره ثواب ملاویږی.

[۱]) اخرجه مسلم فی كتاب الإمارة/باب فضل إعانة الغازي فی سبيل الله بمركوب وغيره، وخلافته فی أهله بخير(رقم-۱۳۷ - (۱۸۹۶) واحمد فی المسند: ۴۹/۳

[٢٨٠١] د قيامته پورې د جهاد باقي باتې کيدل

٢٨٠١ــ[١٥] (١) ١ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ "«لَنْ يَبْرَحَ هٰذَا الدِّيْنُ قَائِمًا، ٣ يُقَاتِلُ عَلَيْهِ عِصَابَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ حَتّٰى تَقُوْمَ السَّاعَةُ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ او جابر ابن سمره رضي الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ٢ دا دين به هميشه قائم وي ٣ او په مسلمانانو کې به يو نه يوجماعت د دې دين د حفاظت د پاره ترقيامته پورې جنګيږي يعنی د زمکي مخ به د جهاد څخه خالي نه وي چرې نه چرې او څه نه څه صورت کې به هميشه جهاد کيږي . (مسلم)

حل اللغات: ① لَنْ يَبْرَحَ: هميشه به وی. ② عِصَابَةٌ: د سړو يو جماعت، جمع ئې عصائب راځي

تسهيلات:

قوله: لَنْ يَبْرَحَ هٰذَا الدِّيْنُ قَائِمًا:

په دنيا کښې د مجاهدينو وجود: يعنی ترکومې چه په زمکه باندې يوداسې جماعت وی چه جهادکوی نودادين به قائم اودائم وی. دَ مجاهدينو داجماعت به کله دَ دنياپه يوګوټ کښې وی نوکله به په بل ګوټ کښې وی. ليکن زمکه به دَدوی نه خالی نه پاتې کيږی البته داخبره ده چه قرب قيامت کښې به دا ډله ختمه شی.

علامه طيبی رحمه الله فرمائی چه نن صبا په روم کښې دا ډله مشغوله ده. بيافرمائی چه تحقيقی خبره داده چه دَدې جماعت نه دَمجاهدينوهغه جماعت مراد دې چه يوزمان اومکان سره خاص نه دې. (يعنی دَ دنياپه مختلفوعلاقوکښې به وی)

[٢٨٠٢] د شهيد د وينو بوی او مشک

٢٨٠٢ــ[١٦] (٢) ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ "«لَا يُكْلَمُ أَحَدٌ فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ، ٣ وَاللّٰهُ أَعْلَمُ بِمَنْ يُكْلَمُ فِي سَبِيْلِهِ إِلَّا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ٤ وَجُرْحُهُ يَثْعَبُ دَمًا، اللَّوْنُ لَوْنُ الدَّمِ، وَالرِّيْحُ رِيْحُ الْمِسْكِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ٢ کوم سړی چې د الله په لار يعنی په جهاد کې زخمي شي ٣ او الله هغه سړی ښه پيژني چې د هغه په لار کې زخمي

[١]) اخرجه مسلم فی كتاب الإمارة/باب قوله صلّى الله عليه وسلّم: «لا تزال طائفة من أمّتي ظاهرين على الحقّ لا يضرّهم من خالفهم» (رقم-١٧٢ - (١٩٢٢)

[٢]) اخرجه البخاری فی كتاب الجهاد والسّير/باب من يجرح فی سبيل الله عزّ وجلّ(رقم-٢٨٠٣) ومسلم فی كتاب الإمارة/باب فضل الجهاد والخروج فی سبيل الله (رقم-١٠٥ - (١٨٧٦) والترمذی فی كتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/ ما جاء فيمن يكلم فی سبيل الله (رقم-١٦٥٦)والنسائی فی كتاب قسم الفیء (رقم-٤١٤٧) وابن ماجه فی كتاب الجهاد/باب القتال فی سبيل الله سبحانه وتعالى (رقم-٢٧٩٥) ومالک فی الموطا كتاب الجهاد/باب الشّهداء فی سبيل الله (رقم-٢٩)

کیږي نو هغه مجاهد به د قیامت په ورځ په داسې حال کې راځي ③ چې د هغه د زخم څخه به ويني بهيږي او د هغه رنګ خو به د ويني خون په شان وي ليكن د هغه خوشبويي به د مشكو په شان وي (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① يُكْلَمُ: د باب نصر او ضرب نه د مجهول صيغه ده د زخم لګيدو په معنی کښې دې ② جُرْحُ: زخم ③ يَثْعَبُ: دا فتح يفتح نه دې د زخم نه د فوارې په شان وينه بهيدو ته وائي

تسهيلات:

قوله. لَايُكْلَمُ أَحَدٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ:

په في سبيل الله كښې د زخمي كيدو فضيلت: په حديث شريف كښې دَ الله تعالى په لاركښې دَ زخمي كيدونكى سړى فضيلت بيانيږى چه دَ الله تعالى په لاركښې زخمي كيدونكې به دَ قيامت په ورځ په دې داسې حال كښې دَ الله تعالى په درباركښې حاضريږى چه دَ الله تعالى دَ پاره وركړيشوې قربانى به دَ هغه په بدن باندې وى او هغه به دَ وينو رنګ بدن واخلى او دَ الله تعالى په درباركښې به حاضريږى اودَ هغه وينې نه به دَ وينې بوئ نه دَ مشك خوشبو روانه وى.

د زخم په مراد کښې دوه اقوال: ① ((في سبيل الله)) : نه مراد خو هم جهاد دې چه زخمى شوې خو په جهاد كښې وى ليكن لفظ هر هغه زخم ته شامل دې چه دَ الله تعالى دَپاره لګيدلې وى او هغه ته هم كوم كښې چه سړې دَ خپل حق دفاع كولو سره زخمى شى (۱)
② ددې خبرې هم احتمال دې چه دَ زخم نه مراد هغه زخم وى دَ كوم دَ وجه نه چه دَ زخم جوړيدونه وړاندې سړې مړ شى. نه هغه زخم چه په دنياكښې جوړ شوې وى ځكه چه دَ زخم جوړيدونه زخم اودَ وينې بهيدلو اثر آخر ختم شى ليكن دا دَ دې خبرې نفى نه كوى چه دَ زخم دَ جوړيدو په صورت كښې هغه ته هيڅ فضيلت نه حاصليږى خو ظاهر خو هم دغه دى چه دلته هغه سړې مراد دې چه دَ قيامت په ورځ په داسې حالت كښې حاضر شى چه دَ هغه دَ زخم نه وينه بهيږى او دا په هغه وخت كښې ممكن دى چه كله دَ دنيا نه دَ رخصت كيدو په وخت زخم په خپل حالت باندې وى.(۲)
ددې مضمون تائيد دَ دې حديث شريف نه هم كيږى كوم چه علامه هيثمى رحمه الله دَ حضرت انس رضي الله عنه نه روايت كړيدې. دې كښې دى: ((عليه طابع الشهداء))(۳) په دې به دَ شهداؤ مهر وى او مهر دا زخم دې كوم نه چه وينه بهيږى.

---

۱) (عمدة القارى(۱٤ج ۱۰۰) وشرح ابن بطال (ج۵ص ۲۰)-
۲) (فتح البارى (ج۶ص ۲۰)-
۳) (مجمع الزوائدللهيثمى(ج۵ص ۲۹۷)-

قوله: وَاللّٰهُ أَعْلَمُ بِمَنْ يُكْلَمُ فِي سَبِيلِهِ:او هم الله تعالى ته معلومه ده چه څوك په دې لاركښې زخمي كيږي.

دا په حديث كښې جمله معترضه ده، دينه مقصود دا دي چه دَ نيت اخلاص هم وي. زخمي كيدل صرف دَ الله تعالى دَ پاره وي رياكارئى دَ پاره نه وي نو ده ته به داثواب ملاويږي ګنى نو نه به ملاويږي. (۱)

علماء ليكى دى چه شهيد به په هم دغه حالت كښې كوم كښې چه شهيد شوې وى دَ اوچتولو حكمت دا دې چه دَ هغه سره دَ خپل فضيلت ګواهي او سند هم وى چه هغه خپل ځان دَ الله تعالى په تابعدارئى كښې قربان كړې وو. (۲)

[۳۸۰۳] د شهيد د نيا ته د واپس تلو او بيا د شهيد كيدو خواهش

۳۸۰۳-[۱۷] ( ) ۱ وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ «مَا مِنْ أَحَدٍ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ، يُحِبُّ أَنْ يُرْجَعَ إِلَى الدُّنْيَا وَلَهُ مَا فِي الْأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ، ۳ إِلَّا الشَّهِيدُ يَتَمَنَّى أَنْ يُرْجَعَ إِلَى الدُّنْيَا، فَيُقْتَلَ عَشْرَ مَرَّاتٍ، لِمَا يَرَى مِنَ الْكَرَامَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت انس ﷺ وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ۲ په جنت كې داخليدونكى هيڅ سړى به دانه خوښوي چې هغه دنياته واپس ولاړ شي او د جنت د نعمتونو په عوض كې د دنيا ټول څيزونه قبول كړي ۳ خو شهيد به دا آرزوكوي چې هغه دنيا ته واپس ولاړ شي او لس ځله د الله په لار كې شهيد شي ځكه چې هغه د شهادت د عظمت او د هغه په ثواب پوهيږي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① يَتَمَنّى: آرزوكوي، خواهش كوي.

تسهيلات:

نوټ: د شهيدانو دنيا ته د واپس تلو تمنا كولو تفصيل د حديث نمبر (۳۸۰۴) په شرح كښې راځي.

[۳۸۰٤] د شهيد دپاره د حيات برزخي ثبوت

۳۸۰۳-[۱۸] ( ) ۱ وَعَنْ مَسْرُوقٍ، قَالَ: «سَأَلْنَا عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ هَذِهِ الْآيَةِ: ﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ﴾ [آل عمران: ۱۶۹] الْآيَةَ. ۲ قَالَ: إِنَّا قَدْ سَأَلْنَا

۱) (عمدة القاري (۱٤ ص ۱۰۰)-
۲) (فتح الباري (ج۶ ص ۲۰).
[3]) اخرجه البخاري في كتاب الجهاد والسير/باب تمنّى المجاهد أن يرجع إلى الدّنيا(رقم-۲۸۱۷) ومسلم في كتاب الإمارة/باب فضل الشّهادة في سبيل الله تعالى (رقم-۱۰۹ - (۱۸۷۷) واحمد في المسند: ۱۳۱/۳
[4]) اخرجه مسلم في كتاب الإمارة/باب بيان أنّ أرواح الشّهداء في الجنّة. وأنّهم أحياء عند ربّهم يرزقون (رقم-۱۲۱ - (۱۸۸۷) والترمذي في كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب: ومن سورة آل عمران(رقم-۳۰۱۱)

عَنْ ذٰلِكَ. [۳]فَقَالَ: أَرْوَاحُهُمْ فِي أَجْوَافِ طَيْرٍ خُضْرٍ، لَهَا قَنَادِيلُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ، تَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شَاءَتْ، [۴]ثُمَّ تَأْوِي إِلَى تِلْكَ الْقَنَادِيلِ، فَاطَّلَعَ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ اطِّلَاعَةً،

ترجمه: [۱]او مسروق تابعي رحمه الله وايي مونږ د عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه د دې آيت کريمه تفسير پوښتنه وکړه «وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ» ترجمه. کوم خلق چې د الله په لار کې جهاد کې وژل شوي دي تاسو په هغوی د مرده خيال مه کوئ بلکه هغوی خپل پروردگار سره ژوندي دي او هغوی ته رزق ورکول کيږي. الخ [۲]نو هغوی اوويل مونږ درسول کريم ﷺ څخه د دې آيت کريمه دتفسير پوښتنه وکړله [۳]حضور ﷺ وفرمايل د دې شهداؤ روحونه د شين رنګ د مرغانو په قالب کې وي د هغوی د اوسيدو د پاره د عرش الهي لاندي په منزله د خالو قنديلونه زوړند شوي دي هغه روحونه په جنت کې چرته چې د هغوی زړه غواړي ميوي خوري [۴]بيا هغه قنديلونو ته په ورتلو سره په هغه کې اوسيږي بيا پروردګار هغه شهيدانو طرف ته تاکوي

حل اللغات: ① أَجْوَافِ طَيْرٍ: اجواف دَ جوف جمع ده دَمرغني ججوري ته وائي چرته چه ابتدائي توګه خوراك جمع کيږي کوم چه دَمرغئي دَ مخوکې دَلاندې پرسيدلې حصه وی دکوم دَپاره چه په نورو روایاتوکښې دَ حواصل لفظ راغلي دي ② قَنَادِيلُ: د قنديل جمع ده . فانوس ته وائي. ③ تَسْرَحُ: خوراک څکاک کوی. ④ فَاطَّلَعَ: دَ نظر اوتجلی په معنی کښې دې يعنی الله تعالی په کتلوسره داسې اوکتل کوم چه دَالله تعالی شان سره لائق وی

[۱]فَقَالَ: هَلْ تَشْتَهُونَ شَيْئًا؟ [۲]قَالُوا: أَيَّ شَيْءٍ نَشْتَهِي وَنَحْنُ نَسْرَحُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ شِئْنَا؟ [۳]فَفَعَلَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ [۴]فَلَمَّا رَأَوْا أَنَّهُمْ لَنْ يُتْرَكُوا مِنْ أَنْ يَسْأَلُوا [۵]قَالُوا: يَا رَبِّ! نُرِيدُ أَنْ تَرُدَّ أَرْوَاحَنَا فِي أَجْسَادِنَا حَتَّى نُقْتَلَ [۶]فَلَمَّا رَأَى أَنْ لَيْسَ لَهُمْ حَاجَةٌ تُرِكُوا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱]او فرمايي آيا تاسو ته د څه شي خواهش شته [۲]هغوی عرض کوي مونږ د څه شي خواهش وکو حالانکه په جنت کې چې چرته زمونږ زړه غواړي ميوي خورو [۳]الله تعالی د هغوی سره دري ځله معامله کوي يعنی دري ځله دهغوی څخه دا پوښتنه کوي [۴]او هرکله چې هغوی ته يقين اوشی چې بغير د سوال کولو څخه هغوی نشی پريخودې [۵] نو هغوی به عرض اوکړی اې ربه مونږ خواهش لرو چې زمونږ روحونه زمونږ بدنونو ته واپس شي چې مونږ (دوباره) شهيدان شو [۶] هرکله چې الله تعالی په علم ظاهری سره اوګوري چې د دوی څخه حاجت نشته نو داسې به پرخودې شي

حل اللغات: ⑤ رَأَوْا: يعنی شهداؤ چه کله اوکتل ⑥ لَنْ يُتْرَكُوا: دَمجهول صيغه ده يعنی شهداء اوکتل چه دوی به دَ سوال کولو نه بغيرنه شی پريخودې.

دراوي مختصر تعارف:

حضرت مسروق رحمه الله: نوم مسروق، ، كنيت ابوعائشه، دپلار نوم د جاهليت زمانه كښې ئې دپلار نوم اجدع او اسلامي نوم ئې عبدالرحمان وو ددوى تعلق ديمن خاندان همدان سره وو

اسلام : دومره معلوميږى چه دحضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه زمانه كښې مسلمان شوې وو يخپله وائي چه ماحضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه پسې مونځ كړې دې [۱]

هركله چه د عمرفاروق رضي الله عنه په زمانه كښې مدينې ته راغلو نو حضرت عمرفاروق رضي الله عنه ترينه دنوم تپوس اوكړو نودوى ورته اووئيل مسروق بن اجدع نوحضرت عمرفاروق رضي الله عنه ورته اوئيل چه نه ته مسروق بن عبدالرحمان ئې

علامه شعبى رحمه الله فرمائى چه ما دمسروق پشان طالب علم كله هم نه دې ليدلې حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها به دې خپل خوئې گنړلو او دۀ ته به ئې خوئې وئيلو دهغې رضي الله عنها نه هم دوى يخپله علم حاصل كړې وو حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى چه مسروق فقيه وو علامه نووى رحمه الله فرمائى چه دهغوئ جلالت شان، توثيق او فضيلت او امامت باندې تول متفق دى دې سره سره هغه الله جل جلاله نه ډير ويريدونكئ او ښه عابد، توبه استغفار كولو والا وو او دنيا نه ډير لاتعلقه وو اود الله جل جلاله په ذات ډير اعتماد كولووالا وو

وفات په كال ۷۳ هجرئى كښې وفات شو.

نورو معلوماتو دپاره اوگورئى ① طبقات ابن سعد ۳۸۴/۵ ② تهذيب الاسماء ۱ ۸۸. تذكرة الحفاظ ۱ ۴۲ ③ تهذيب التهذيب ۱۰/ ۱۱۰)۔

تسهيلات:

قوله أَرْوَاحُهُمْ فِي أَجْوَافِ طَيْرٍ خُضْرٍ:

اعتراض يعنى د تناسخ د عقيدې اثبات : ددې حديث نه دَ هندوانو اوچينيانو څه خلق عقيده د تناسخ (آواگون) ثابتوى د تناسخ مطلب دَهغوى په نيز دادې چه په دې دنياكښې كله سړې مړكيږى نودهغه روح په يوبل حيوان كښې منتقل كيږى كه مړكيدونكې نيك او ښه سړې وى نودهغه روح د بادشاه يا يوحاكم په بدن كښې ورمنتقل كيږى دكوم په ذريعه چه دا روح مزې كوى اوهم دغه دَده جنت دې اوكه چرې مړكيدونكې سړې خراب وونودهغه روح په خر يا سپى يا بل څه ذليل حيوان كښې ورځى خلق هغه وهى او تنگوى ئې په كوم سره چه دا روح ذليل كيږى هم دغه دَ ده جهنم اودوزخ دې سوال دادې چه آيا دې حديث نه دا عقيده ثابتيږى كه نه؟

---

[۱] طبقات ابن سعد ۳۸٤/۵).

جواب وله: ① دَدې حدیث تعلق آخرت سره دې په آخرت کښې به دا روحونه دَ مرغو په جورو کښې وی اوکوم خلق چه دَ تناسخ قائل دی او هغوی په دنیا کښې دَمړ کیدونکی روح په بل څه کښې دَ داخلیدلو قائل دی آخرت خودغه خلق منی نه نو بیا دَآخرت دَحدیث نه څنګه استدلال کوی؟

② دَ تفهیم او تسهیل دَپاره دویم جواب داسې اوګڼړئی چه دلته دَ شنې مرغئی کوم تعبیر دې دا دَ جنت دَ سورلونه دَ یوې سورلئی طرف ته اشاره ده مثلاً هیلی کاپټر دې په دې کښې په دنیا کښې سړې سوریدو سره دَدنیا مختلف اطرافو کښې الوزی بیا واپس خپل ځائی ته راځی دَهیلی کاپټر دَ مخې والا حصه بالکل دمرغئی د ججورې په شان ده په شیشه کښې هرقسم سیل او تفریح کیږی نو دلته هم دَ طیرخضر مرغو نه دَ جنت شنه هیلی کاپټر مراد کیدې شی

③ دادې چه دا شنې مرغئی دَ شهداؤ دَ روحونو دَپاره په توګه دَ ظروف او صندوق دی نه دا چه دغه روحونو دَ مرغو په قالب او بدن کښې حلول کړې دې ددې مثال داسې دې چه یو سړی مرغلره په صندوق کښې کیخودله نو دا صندوق دَمرغلرې د پاره ظرف دې نه چه دې مرغلرې په صندوق کښې حلول کړې دې

قوله: يَارَبِّ! نُرِيدُ أَنْ تَرُدَّ أَرْوَاحَنَا فِي أَجْسَادِنَا:

دشهیدانو دنیا ته د دوباره تلو مطالبه: یعنی هرکله چې هغوی په دې پوهیږې چې د پروردګار مراد دادی چې مونږ د څه خواهش اظهار وکو نو هغوی عرض کوي اې زمونږ پروردګاره! زمونږ بس دا خواهش دی چې زمونږ روحونه دنیا ته واپس ولیږلو چې مونږ یو ځل بیا ستا په لار کې قتل شو هرکله چې الله ﷻ دا وینې چې د هغوی څه مقرر خواهش او حاجت نشته ځکه چې هغوی د کوم خواهش اظهار کړې دی د هغه پوره کول د الله د ارادې او مصلحت خلاف دی دویم داچې هغوی ته په مخکښې ځل کوم عظیم ثواب او اجر ورکول شوی دی او په دې وجه هغوی ته څه حاجت او خواهش نشته که هغوی دوباره هم دنیا ته ولیږل شي نو هغه اجر او ثواب به دوباره هم هغوی ته ورکولې شي او د دې هغوی ته هیڅ حاجت نشته ځکه چې دشهید اجر او ثواب یو دی کوم چې هغه ته حاصل دی نو هغوی پرینښودل شي یعنی الله ﷻ د هغوی ځخه پوښتنه کول پریږدي (مسلم)

[۲۸۰۵] په شهادت سره د حقوق العباد څخه علاوه ټول ګناهونه معاف کیدل

۲۸۰۵—[۱۹] (¹) [۱] وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَامَ فِيهِمْ، فَذَكَرَ لَهُمْ "أَنَّ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَالْإِيمَانَ بِاللهِ أَفْضَلُ الْأَعْمَالِ، [۲] فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! [۳] أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فِي سَبِيلِ اللهِ، يُكَفِّرُ عَنِّي خَطَايَايَ؟ [۴] فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: نَعَمْ، إِنْ قُتِلْتَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَأَنْتَ صَابِرٌ مُحْتَسِبٌ، مُقْبِلٌ غَيْرُ مُدْبِرٍ،

توجمه: [۱] ابو قتاده ﷺ وايي يوه ورځ رسول کريم ﷺ د صحابه ؤ ﷺ په مخکې خطبه ارشاد وفرمايله او په خطبه کې يي هغوی آګاه کړل چې د الله په لار کې جهاد کول او په الله باندې ايمان راوړل د ټولو څخه بهتر اعمال دي [۲] په دې اوريدو سره يو سړی اودريدلو او عرض يي اوکړو يا رسول الله [۳] ماته دا وښايي که زه د الله په لار کې ووژل شم نو آيا ځما ګناهونه به معاف شي؟ [۴] رسول کريم ﷺ هغه ته وفرمايل هو په شرط د دې چې ته د الله په لار کې په داسې حال کې ووژل شي چې ته سختيو باندې صبر کونکی يي د ثواب طالب يي او شاښودلو سره تښتيدونکی نه يي بلکه د دښمن په مقابله کې جم کيدونکی يي

[۱] ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: كَيْفَ قُلْتَ؟ [۲] فَقَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فِي سَبِيلِ اللهِ: أَيُكَفَّرُ عَنِّي خَطَايَايَ؟ [۳] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ: نَعَمْ، وَأَنْتَ صَابِرٌ مُحْتَسِبٌ، مُقْبِلٌ غَيْرُ مُدْبِرٍ، [۴] إِلَّا الدَّيْنَ فَإِنَّ جِبْرِيلَ قَالَ لِي ذَلِكَ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

توجمه: [۱] بيا رسول کريم ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه تاڅه ويلي وه؟ [۲] هغه عرض اوکړو ماته دا وښايي که زه د الله په لار کې ووژل شم نو آيا ځما ګناه به معاف شي [۳] رسول کريم ﷺ ورته وفرمايل په شرط د دې چې ته صبر کونکی يي د ثواب طالب يي او شاښودلو سره تښتيدونکی نه يي بلکه د دښمن په مقابله کې جم کيدونکی يي [۴] خو دين يعنی هغه قرضه نه معاف کيږي چې د هغه د آدائيګی نيت نه وي او ماته جبرائيل ﷺ دا فرمايلي دي د ايمان د ټولو د ښه عمل کيدل خو ظاهر دی (مسلم)

حل اللغات: ① مُحْتَسِبٌ: د ثواب اميد ل ساتونکې ② مُقْبِلٌ: دشمن سره مخامخ مقابله کونکې. ③ غَيْرُ مُدْبِرٍ: د دشمن څخه تيښته کونکې نه وی.

(¹) اخرجه مسلم في كتاب الإمارة/باب من قتل في سبيل الله كفرت خطاياه إلا الدين (رقم-۱۱۷ - (۱۸۸۵) والترمذي في كتاب الجهاد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فيمن يستشهد وعليه دين (رقم-۱۷۱۲) والنسائي في كتاب الجهاد/باب من قاتل في سبيل الله تعالى وعليه دين (رقم-۳۱۵۶) ومالك في الموطا كتاب الجهاد/باب الشهداء في سبيل الله (رقم-۳۱) واحمد في المسند: ۵/۴۰۵

تسهیلات: قوله: وَأَنْتَ صَابِرٌ مُحْتَسِبٌ:

د صابر څخه مراد: دَصابرنه مراد په میدان جنګ کښې دَ کافرانو په مقابله کښې صبرکول مراددی چه بزدلی دې نه ښائی جزع فزع دې نه کوی اودَمحتسب نه دَ ثواب امیدکول مراددی. چه جهاد خالص دَالله تعالی دَ رضادَپاره وی دَ آخرت ثواب مطلوب وی دَ دنیاڅه غرض په کښې نه وی اوځان خودل او ریاکاری په کښې نه وی بل دَ څه قومی تعصب او حمایت جذبه هم نه وی.

قوله: كَيْفَ قُلْتَ؟ حضورپاك ته دَدغه سړی سوال معلوم وومګردوباره سوال ئې ځکه اوکړو چه هغه سړې ښه په غورسره جواب واوري او په جواب کښې چه کومه اضافه ده په هغې باندې پوهه شی.

قوله: إِلَّا الدَّيْنَ:

د قرض د نه معاف کیدو وجه: دې نه مراد څه خاص قرض نه دې بلکه حقوق العبادمراددی هغه په جهاداوشهادت سره معاف کیدې نه شی دې نه علاوه ټول حقوق الله معاف کیدې شی ملاعلی قاری رحمه الله په مرقات کښې لیکلی دی چه په سمندری جنګ کښې کوم سړې شهیدشی هغه نه حقوق العباد هم معاف کیږی بعضې روایاتوکښې دی چه په شروع کښې حکم هم دغه شان وو بیا الله تعالی داآسانی اوفرمائیله چه شهیدته به حقوق العباد هم داسې معاف کولې شی چه دَ حق خاوندته به په قیامت کښې دَدې په عوض ثواب ورکوی هغه به راضی شی اوشهیدبه معاف شی. بهرحال مجاهد سره میدان جهادته دَ تللونه وړاندې وصیت کولوسره دَ قرض انتظام کول پکاردی. په مسلم شریف کښې دَدې روایت الفاظ داسې دی "يغفر للشهيد كل ذنب إلا الدين" معلومه شوه چه جهاد اوشهادت دَ ګناهونو دَ وینځلو دَ ټولو نه لويه ذريعه ده. دَ راتلونکی روایت تشریح اوتوضیح هم دغه شان ده.

[۳۸۰۶] د جهاد په وجه د ګناهونو معاف کیدل

٣٨٠٦-[٢٠] (١) ⦗١⦘ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ⦗٢⦘ "«الْقَتْلُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ يُكَفِّرُ كُلَّ شَيْءٍ إِلَّا الدَّيْنَ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ⦗١⦘ عبد الله ابن عمرو بن العاص څخه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل ⦗٢⦘ دَ الله په لار کې یعنی په جهاد کې قتلیدل دین حقوق العباد څخه علاوه ټول ګناهونه رژوي (مسلم)

حل اللغات: ① يُكَفِّرُ: معاف کوی.رژوی.

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الإمارة/باب من قتل فی سبیل الله کفرت خطایاه إلّا الدّین (رقم-۱۲۰ - (۱۸۸۶)

تسهیلات:

قوله: الْقَتْلُ فِي سَبِيلِ اللهِ يُكَفِّرُ كُلَّ شَيْءٍ: د ابن مسعود رضی الله عنه روایت ابونعیم په حلیة الأولیاء کښې نقل کړې دې چه القتل في سبيل الله يكفر الذنوب كلها إلا الأمانة في الصلوة والأمانة في الصوم والأمانة في الحديث او دا په ټول امانتونو کښې غټ او سخت امانتونه دي

قوله: إِلَّا الدَّيْنَ: مستثنی متصل ده یعنی هغه دین دکوم چه د ادا کولو نیت نه وی علامه توربشتی رحمه الله فرمائی چه دلته د دین نه مراد هغه حقوق دی کوم چه مسلمانانو سره تعلق لری علامه سندهی رحمه الله د نسائی په حاشیه کښې د إلاالدين دا معنی ذکر کړې ده چه دین پوره کولو وصیت کول نفس دین مذموم دی او دهغې د ادا کولو کوشش نه کول هم مذموم دی (التعلیق الصبیح ج۴، ص۳۰۷)

[۲۸۰۷] قاتل او مقتول دواړه په جنت کښې

۳۸۰۷-[۲۱] (١) ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "«يَضْحَكُ اللَّهُ تَعَالَى إِلَى رَجُلَيْنِ ③يَقْتُلُ أَحَدُهُمَا الْآخَرَ، يَدْخُلَانِ الْجَنَّةَ: ④يُقَاتِلُ هَذَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيُقْتَلُ، ثُمَّ يَتُوبُ اللَّهُ عَلَى الْقَاتِلِ فَيُسْتَشْهَدُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①حضرت ابوهريره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل ②الله تعالی هغه دوو سړو باندې خاندي یعنی د هغوی څخه راضي کیږي او خپل رحمت سره هغوی ته متوجه کیږي ③چې یو په هغوئ کې هغه بل قتل کړي اوبیا دواړه جنت ته داخل شي ④په هغوی کې یو خو هغه دی چې د الله په لار کې جهاد کوي او شهید شي ترڅو چې هغه په جنت کې داخل شي بیا الله تعالی د هغه قاتل ته د توبې توفیق ورکوي او هغه د کفر څخه تائب کیدو سره ایمان راوړي او بیا د الله په لار کې جهاد کولو سره شهید کیږي نو هغه هم په جنت کې داخلول کیږي (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① يَضْحَكُ: خاندی.

تسهیلات:

قوله: يَضْحَكُ اللهُ تَعَالَى:

الله تعالی ته دَ ضحک په نسبت باندې اشکال: دلته په حدیث باب کښې دَ الله تعالی دَ طرف د ضحك نسبت کړی شوی دې او ضحك دَ مخلوق صفت دې. نود دې نه دَ خالق

---

(١) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسّیر /باب الکافر یقتل المسلم. ثمّ یسلم. فیسدّد بعد ویقتل (رقم-۲۸۲۶) ومسلم فی کتاب الإمارة /باب بیان الرّجلین یقتل أحدهما الآخر یدخلان الجنة (رقم-۱۲۸ - (۱۸۹۰)) والنسائی فی کتاب الجهاد /باب تفسیر ذلک (رقم-۳۱۶۶) ومالک فی الموطا کتاب الجهاد /باب الشّهداء فی سبیل الله (رقم-۲۸) واحمد فی المسند: ۲/۴۶۴

مخلوق سره تشبیه لازم راځي؟

جوابونه: ① علامه کرماني فرمائي چه ضحك او دا قسم نور مثالونو اطلاق که په الله تعالی باندې وی نو دَ دې نه مجازاً دَ دې لوازم مراد کیږی او لازم الضحك دَ الله تعالی رضا ده. دلته به دَ ضحك نه مراد دَ الله تعالی رضاوی. (۱)

② علامه خطابي رحمه الله فرمائي چه هغه ضحك کوم چه دَ انساني صفاتو نه دی اودَ سړی دَ خه خوشحالئی او فرحت دَ اظهار دَ پاره کیږی، دَ دې اطلاق الله تعالی دَ پاره ناجائز دې. دَ دې ذکرکولو وجه دلته دا ده چه دا دَ بشر په تعجب باندې دلالت کوی. دَ خه تعجب وغيره دَ وجه او دَ الله تعالی په صفت کښې که چرې دا لفظ اوونيلې شی نو دا د رومبنی سړی په حق کښې اخبار عن الرضااودَ دوئم سړی په حق کښې اخبار عن القبول دې. یعنی الله تعالی د رومبی په فعل راضی شو اودَ دوئم فعل ئی قبول کړلو اودَ دې دواړو حضراتوبدله جنت دې سره دَدې چه دَدواړو حالتونه مختلف او مقاصد جدا جدا دی. (۲)

امام بخاری رحمه الله (کتاب التفسیر)(۳) په روایت کښې دَ ضحك تفسیر ((الرحمة)) سره کړیدې. نو علامه خطابي رحمه الله فرمائي چه دا تفسیر قریب دې خو ضحك د رضا په معنی محمول کول اقرب واشبه دې. (۴)

③ امام خطابي رحمه الله نور فرمائي چه دَ دې جملې معنی داهم کیدیشی چه الله تعالی فرښتې دَ دې دواړو حضراتو په فعل باندې په تعجب کښې اچوی او هغوی خندوی. (۵)

④ ابن فورك رحمه الله فرمائي مطلب دا دې چه الله تعالی دَ خپل فضل اظهار فرمائي لکه چه اهل عرب وائي ((ضحك الأرض من النبات)) کله چه زمکه خپل شینکي(بوټی) ښکاره کړی. (۶)

⑤ علامه ابن الجوزي رحمه الله فرمائي چه په دې قسم جملوکښې دَ اکثرو سلفو صالحینو عمل دا پاتې شويدې چه هغه په خپل ظاهرباندې پريخودې شی اوعقيده صرف دَدې خبرې اوساتلې شی چه الله تعالی دَ مخلوق دَ صفاتونه بری دې او په ظاهر باندې دَ پريخودلو مطلب دا دې موږ ته دَ دې باره کښې خه علم نشته او الله تعالی دَ مخلوق دَ

---

۱) (شرح الكرماني (۱۲ص۱۲۳)-
۲) (أعلام الحديث للخطابي (ج۲ص۱۳۲۵) وأيضًا انظر شرح ابن بطال (ج۵ص۳۸)-
۳) (هذاكما قال العلامة الخطابي في أعلام الحديث (ج۲ص۱۳۶۷) في رواية الفربري وليس عن ابن معقل. قال الحافظ في الفتح: لم أرذلک في النسخ التي وقعت لنا من البخاري انظر فتح الباري (ج۸ص۶۳۲)-
۴) (أعلام الحديث للخطابي (ج۲ص۱۳۶۷)-
۵) (أعلام الحديث للخطابي (ج۲ص۱۳۶۷)-
۶) (عمدةالقاري (ج۱۴ص۱۲۳)-

صفاتونه منزه دي (۱)

قوله يُقَاتِلُ هٰذَا فِي سَبِيلِ اللهِ فَيُقْتَلُ: دې اول دَ الله تعالى په لاركښې جنګ كوى او شهيد كيږي

دَصحيح مسلم په روايت كښې دَدې نه وړاندې داهم مذكوردى چه صحابه كرامورضوان الله عليهم اجمعين په حيرانتيا سره سوال اوكړو((قالوا:كيف يارسول الله؟))(۲) چه يا رسول الله! دا به څنګه وى چه مقتول به هم جنت ته ځي او ورسره قاتل هم.

دَ قاتل نه مراد مسلمان يا كافر؟: علامه ابن عبدالبر او ابن بطال رحمهما الله فرمائى چه دَ اهل علم په نزد دَدې حديث مطلب دادې چه اول قاتل كافروويعنى مسلمان دَ كافردَلاسه مړشوې وو(۳)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى دا هم كيدې شى چې دَ اول قاتل نه مراد مسلمان وى ځكه چه په حديث كښې دَ قاتل لفظ عام دې. ((ثم يتوب الله على القاتل)) كه چرې يو مسلمان بل مسلمان عمداً او بلاشبهه قتل كړى بيا توبه اوكړى اودَ الله تعالى په لاركښې جنګ كولو سره شهيد شى نو ښكاره خبره ده چه دې هم قاتل دې ليكن جنت ته به ځي.

ليكن دا دوئم مطلب به دَ دې حضراتو په نزد صحيح او درست كيدېشى څوك چه دَ قاتل دَ توبې قبليدو قائل دى، لكه حضرت ابن عباس، زيدبن ثابت. ابن عمر او حضرت ابوهريره رضى الله عنهم. خو چه كوم حضرات دَ قاتل دَ توبې دَ قبوليت قائل نه دى دَ هغوى په نزد هم رومبنى معنى صحيح ده. (۴)

قوله: ثُمَّ يَتُوبُ اللهُ عَلَى الْقَاتِلِ:

د توبې څخه مراد: شهادت په مرتبه باندې سرفراز كيږي. د((تاب الله على)) معنى داده چه الله تعالى دتوبې توفيق وركوى او قبلوى (۵)

علامه ابن بطال او علامه عينى رحمهما الله فرمائى چه دَ توبې نه مراد دلته اسلام دې. يعنى الله تعالى هغه ته د اسلام قبلولو توفيق وركوى.(۶)

د دې دليل د مسلم شريف د روايت داالفاظ دى:((فيهديه إلى الإسلام))(۷)

---

۱) (فتح البارى (ج۶ص۴۰)
۲) (صحيح مسلم كتاب الإمارة باب بيان الرجلين يقتل أحدهما الآخر يدخلان الجنة رقم (٤٨٩٤)-
۳) (عمدةالقارى (ج ١٤ص١٢٣) وشرح ابن بطال (ج۲ص۳۸)
٤) (فتح البارى (ج۶ص۴۰) وانظر لمزيد من التفصيل فى قبولية توبة القاتل عمدا وعدمها كشف البارى كتاب التفسير(ص١٥٨)-
٥) (مختار الصحاح مادة توب -
۶) (شرح ابن بطال (ج۵ص۳۸) وعمدةالقارى (ج ١٤ص١٢٣)-
۷) (صحيح مسلم كتاب الإمارة باب الرجلين يقتل أحدهما الآخر يدخلان الجنة رقم(٤٨٩٤)-

[۳۸۰۸] په اخلاص سره د شهادت آرزو كولو باندې د شهادت درجه ملاويدل

۳۸۰۸—[۲۲] () [۱] وَعَنْ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] «مَنْ سَأَلَ اللّٰهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ: [۳] بَلَّغَهُ اللّٰهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ، [۴] وَإِنْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] سهل ابن حنيف رضي الله عنه وايي چې رسول كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل [۲] كوم سړى چې رښتينى زړه يعنى د طلب صادق جذبې سره د الله تعالى څخه د شهادت طالب وي [۳] نو الله تعالى هغه د شهيدانو درجې ته رسوي [۴] اگر چې هغه خپله بستره باندې مړ شي يعنى هغه د صدق نيت او طلب صادق په وجه د شهيدانو په شان ثواب پيدا كړي (مسلم)

د راوى مختصر تعارف: سهل بن حنيف: د حديث د راوى نوم حضرت سهل د پلار نوم ئې حنيف كنيت ئې ابو سعيد او ابوثالث وو. د بدر سره ئې د په نوور ټولو غزگانو كښې شركت كړې دې په احد كښې چه كوم صحابه كرام په ميدان جنگ كښې ثابت قدم پاتې شوى وى په هغوى كښې دې هم وو. د جنگ جمل نه پس د بصرې والى جوړ كړې شو په جنگ صفين كښې ئې د حضرت على په ملگرتيا كښې شركت كړې وو (۲).

د دوى په باره كښې راځى چه ډير زيات ښكلې وو يو ځل ئې غسل كول چه يو انصارى صحابى اوليدو هغه اووئيل دا څنگه ښكلې بدن دې! ما خو داسې بدن نه دې ليدلې ددې نه پس دوى بيمار شو نبى كريم ته قصه بيان شوه نو وې فرمائيل خلق د خپل ورور بدن ب مال اووينى او دعا نه كوى ددې وجې نظر لگى

وفات: په ۳۸ هجرى كښې په كوفه كښې وفات شوې وو. حضرت على ئې د جنازې مونځ كړې وو او د دوى په جنازه كښې ئې د څلورو تكبيرونو په ځائې شپږ تكبيرونه وئيلى وو او دا ئې اوفرمائيل چه دا بدرى صحابى دې

مرويات: د دوى نه ۴۰ احاديث نقل دى په هغې كښې بخارى او مسلم په څلور باندې متفق دى او په مسلم كښې دوه زياتى موجود دى

حل اللغات: ① بَلَّغَهُ: اوبه رسوى هغه. ② مَنَازِلَ: جمع د منزل ده. درجه. اومرتبه.

تسهيلات:

قوله: مَنْ سَأَلَ اللّٰهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ: بَلَّغَهُ اللّٰهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ:

د شهادت په سوال حكمى شهادت ملاويدل:

چونكه د اعمالو مدار په نيتونو باندې دې په دې وجه په رښتونى او پوخ نيت سره چه

() اخرجه مسلم فى كتاب الإمارة/باب استحباب طلب الشّهادة فى سبيل الله تعالى (رقم-۱۵۷ - (۱۹۰۹)) و ابو داود فى كتاب الصّلاة، باب فى الاستغفار (رقم- ۱۵۲۰) والترمذى فى كتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/ ما جاء فيمن سأل الشّهادة (رقم-۱۶۵۳) والنسائى فى كتاب الجهاد/باب مسألة الشّهادة (رقم-۳۱۶۲) وابن ماجه فى كتاب الجهاد/باب القتال فى سبيل الله سبحانه وتعالى (رقم-۲۷۹۷)

كوم مسلمان په جهادفي سبيل الله كښې شهادت غواړي اوبيادالله تعالى نه دغه دعاهم غواړي نوالله تعالى هغه د شهادت مقام ته رسوی سره ددې چه هغه په خپل كوركښې په خپل كټ پوزې وفات شي

دمسلمان په زړه كښې د شهادت جذبه:

په دې حديث سره مسلمانانو ته يوه اوچته جذبه اوحوصله وركول مقصوددی چه دهرمسلمان په زړه اودماغوكښې د جهاد جذبه اود شهادت شوق هروخت موجودكيدل پكاردي د شهادت غوښتلومطلب دانه دې چه مرګ د وخت نه وړاندې راشي بلكه مطلب دادې چه كوم مرګ په خپل وخت باندې راتلونكې دې هغه په شهادت كښې بدل شي

[۲۸۰۹] دشهادت په وجه جنت الفردوس ملاويدل

۳۸۰۹—[۲۳] (۱) ۱ وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، «أَنَّ الرُّبَيِّعَ بِنْتَ الْبَرَاءِ، وَهِيَ أُمُّ حَارِثَةَ بْنِ سُرَاقَةَ، أَتَتِ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲ فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَلَا تُحَدِّثُنِي عَلَى حَارِثَةَ، ۳ وَكَانَ قُتِلَ يَوْمَ بَدْرٍ، ۴ أَصَابَهُ سَهْمٌ غَرْبٌ، ۵ فَإِنْ كَانَ فِي الْجَنَّةِ صَبَرْتُ، ۶ وَإِنْ كَانَ غَيْرُ ذٰلِكَ اجْتَهَدْتُ عَلَيْهِ فِي الْبُكَاءِ. ۷ فَقَالَ: يَا أُمَّ حَارِثَةَ إِنَّهَا جِنَانٌ فِي الْجَنَّةِ، وَإِنَّ ابْنَكِ أَصَابَ الْفِرْدَوْسَ الْأَعْلَى» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ حضرت انس رضی الله عنه وايي څما د پلار خور بي بي ربيع بنت براء چې د حضرت حارثه رضی الله عنه ابن سراقه مور ده يوه ورځ د نبي كريم صلی الله علیه وسلم په خدمت كې حاضره شوه ۲ او هغه اوويل يا نبي الله آيا تاسو به ماته څما د ځوی حارثه رضی الله عنه حال بيان نه كړی ۳ او حارثه د بدر په ورځ د بدر غزا كې شهيد شوی وو ۴ او هغه ته يوداسې تير لګيدلی وو چې د هغه چلوونكی معلوم نه شو چې څوك وو ۵ كه هغه په جنت كې وي نو زه به صبر كوم ۶ او كه څه بل ځای كې وي نو زه به د ژړا كوشش كوم يعنې ښه به وژاړم څنګه چې د ښځو عادت دی ۷ حضور ورته وفرمايل اې دحارثه رضی الله عنه مور! حقيقت دادی چې په جنت كې ډير باغونه دي او ستا ځوی فردوس اعلى ته رسيدلی دی چې د جنت د ټولو څخه اعلى درجه ده (بخاري)

حل اللغات: ①أَصَابَهُ: چه رسيدلې وی هغه ته. ② سَهْمٌ: غشې. ③غَرْبٌ: هغه غشې چې د نامعلومه طرف څخه راخوشې شوې وی ④جِنَانٌ: د جنة جمع ده. ډير جنتونه

تسهيلات:

قوله: وَهِيَ أُمُّ حَارِثَةَ بْنِ سُرَاقَةَ" په جنګ بدركښې حضرت حارثه بن سراقه رضی الله عنه يوكوهی سره د اوبوحاصلولودپاره ناست وو چه ناڅاپې د يوطرف نه غشې راغلو اولګيدو په كوم

۱) اخرجه البخاري في كتاب الجهاد والسير/باب من أتاه سهم غرب فقتله (رقم-۲۸۰۹) والترمذي في كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة المؤمنون (رقم-۳۱۷۳) واحمد في المسند: ۳/۱۲٤

سره چه هغه شهيد شو دامعلومه نه شوه چه غشي دَ کوم طرف نه راغلو او اولګيدو احتمال وو چه دَ يومسلمان غشي لګيدلي وی په کوم سره چه دَهغه شهادت ته نقصان رسيدلي وی بل هغه وخت دَ جنګ دَ ميدان نه باهرهم وو اومرګ ئی واقع شوې وو هم دي دوو خبرو دَحضرت حارثه رضي الله عنه مور پريشانه کړې وه چه نه ده معلومه چه دَ حارثه رضي الله عنه انجام به څنګه وی هم دَدې پريشانئی دَ لرې کولو دَپاره ئی دَحضورپاک نه سوال اوکړو که دَ حارثه رضي الله عنه انجام ښه وی نو زه به دَهغه په مرګ صبراوکړم ګنی په دويم صورت کښې به جزع فزع کولوسره ښه ژړا وينا شروع کړم حضورپاک هغې ته تسلی ورکړه اوزيرې ئی ورکړې چه جنت يونه دې بلکه مختلف درجاتو باندې مشتمل مختلف جنتونه دی اوستا خوئی خو په ډير ښکلي او اوچت جنت الفردوس کښې دې دَدې حديث نه معلومه شوه چه دَ جهاد په ميدان کښې دَ چا په ګولئی لګيدوسره هم الله تعالی شهادت ورکوی نن صبا په جهاد کښې غلطئی سره داسې واقعات کيږی

[۲۸۱۰] شهادت ته هرکلې

۲۸۱۰—[۲۴] (¹) [۱] وَعَنْهُ قَالَ: «انْطَلَقَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَأَصْحَابُهُ [۲] حَتَّى سَبَقُوا الْمُشْرِكِينَ إِلَى بَدْرٍ، [۳] وَجَاءَ الْمُشْرِكُونَ. [۴] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "قُومُوا إِلَى جَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ" [۵] قَالَ عُمَيْرُ بْنُ الْحُمَامِ: بَخٍ بَخٍ! [۶] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "مَا يَحْمِلُكَ عَلَى قَوْلِكَ: بَخٍ بَخٍ؟"

توجمه: [۱] او انس رضي الله عنه وايي د بدر د غزا په موقع رسول کريم صلى الله عليه وسلم او د حضور صلى الله عليه وسلم صحابه رضي الله عنهم مديني څخه روان شول [۲] او د مشرکانو څخه مخکې د بدر و ميدان جنګ ته ورسيدل [۳] بيا [د اسلامي مجاهدينو رسيدو څخه وروسته] چې د مشرکينو لښکر راغلو [او د مقابلې تياري شروع شوه] [۴] نو حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل د جنت لاروته ولاړ شي هغه جنت چې د هغه عرض د آسمان او زمکې د عرض برابردی [۵] يوصحابي عمير رضي الله عنه ابن حمام دا ارشاد اوريدو سره اوويل ډير ښه ډيرښه [۶] رسول کريم صلى الله عليه وسلم ځني پوښتنه وکړه تا ډير ښه ډيرښه ولې اوويل

حل اللغات: ① عُمَيْرٌ: دا وړوکي مجاهد په جنګ بدرکښې دَ ټولو نه اول شهيد شوې وو ② بَخٍ بَخٍ: باء مفتوح اوخاء ساکن ده دَ مبالغې په توګه دا لفظ مکررډې عرب په خوشحالئ او حيرانتياکښې اودَ مدح په وخت داکلمه استعمالوی دَدې ترجمه ده ډير ښه. ډيرښه او واه واه

[۱] قَالَ: لَا وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ! إِلَّا رَجَاءَ أَنْ أَكُونَ مِنْ أَهْلِهَا. [۲] قَالَ: "فَإِنَّكَ مِنْ أَهْلِهَا". [۳] قَالَ: فَأَخْرَجَ تَمَرَاتٍ مِنْ قَرْنِهِ، فَجَعَلَ يَأْكُلُ مِنْهُنَّ. [۴] ثُمَّ قَالَ: لَئِنْ أَنَا حَيِيتُ حَتَّى آكُلَ تَمَرَاتِي إِنَّهَا لَحَيَاةٌ طَوِيلَةٌ [۵] قَالَ: فَرَمَى بِمَا كَانَ

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الإمارة/باب ثبوت الجنّة للشّهيد (رقم-۱۴۵ - (۱۹۰۱) واحمد فی المسند: ۱۳۷/۳

مَعَهُ مِنَ التَّمْرِ، ٦ ثُمَّ قَاتَلَهُمْ حَتَّى قُتِلَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ عمير رضي الله عنه اوويل يا رسول الله! ما دا الفاظ داظهار تعجب يا دڅه بل مطلب سره نه وه ويلي بلکه ما په حقيقت کې د دې الفاظو په ذريعه د خپل هغه ارزو اظهار کړې دي چې زه هم جنتي جوړ شم ٢ حضور ﷺ ورته وفرمايل په دې کې څه شك نشته چې ته جنتي يې ٣ راوي وايي حضرت عمير رضي الله عنه د سرکار دوعالم ﷺ د ژبې مبارکې څخه دا خوشخبري بشارت اوريدو سره د خپل ترکش څخه څه کجوري راوښکلې او د هغه خوړل يې شروع کړل ٤ او بيا يې اوويل که زه دې تولو کجورو خوړلو پورې ژوندی پاتې شوم نو ژوند به اوږد وي ٥ نو هغه هغه کجوري چې د هغه سره وي وغورځولې ٦ او کفارو سره په جنګ شو تردې چې شهيد شو. (مسلم)

حل اللغات: ③ قَرَن: ترکش، تيکه په کوم کښې چې غشي کيخودې شي

تسهيلات:

قوله: "مَا يَحْمِلُكَ عَلَى قَوْلِكَ: بَخٍ بَخٍ؟":

د نبي کريم په زيري ځان قرباني کول: حضورپاك دَحضرت عمير رضي الله عنه دا معلومول اوغوښتل چه آيا ده دا کلمه په ارادې سره په ژبه راوړلې ده يا داسې اتفاقي توګه باندې ئې وئيلې ده. حضرت عمير رضي الله عنه جواب ورکړو بغيردَ ارادې نه نه بلکه رښتونې اراده مې ده چه دا جنت ماته ملاوُشي اوزما ځان قربان شي. کله چه دَ حضورپاك دَ طرف نه ورته زيرې ملاوُشو نودَ څه تاخيرنه بغير هغه خپل سر په تلی کښې کيخودو اودَ کهجورې ژولو او خوړلوپورې وخت ئې هم برداشت نه کړو او اوجنګيدو

قوله: ثُمَّ قَاتَلَهُمْ حَتَّى قُتِلَ:

د خود کشۍ حکم: علماء کراموددې حديث او دَحضرت عمير رضي الله عنه دا اقدام دَ "خودکش بمبار" دَ کاروائی دَپاره دَ دليل په توګه پيش کړې دې يادلرئی په کافرانوباندې بمبارحمله کول خودکشی نه ده بلکه دا په حقيقت کښې نورو لره وژونکې حمله ده خلق دې ته خودکش حمله وائی. البته په ملك کښې دننه داسې کړبړ پيداکول ښه خبره نه ده.

[۳۸۱۱] دشهيدانو قسمونه

«۳۸–[۲۵] (¹) ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ " «مَا تَعُدُّونَ الشَّهِيدَ فِيكُمْ؟ ٣ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ! مَنْ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَهُوَ شَهِيدٌ. ٤ قَالَ: إِنَّ شُهَدَاءَ أُمَّتِي إِذًا لَقَلِيلٌ: ٥ مَنْ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَهُوَ شَهِيدٌ، ٦ وَمَنْ مَاتَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَهُوَ شَهِيدٌ، ٧ وَمَنْ مَاتَ فِي الطَّاعُونِ فَهُوَ شَهِيدٌ، ٨ وَمَنْ مَاتَ فِي الْبَطْنِ فَهُوَ شَهِيدٌ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

¹) اخرجه مسلم في كتاب الإمارة/باب بيان الشهداء (رقم) ۱۶۵ - (۱۹۱۵)

ترجمه: ① حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول کریم ﷺ د صحابه رضی الله عنهم څخه پوښتنه وکړه ② تاسو په خپل ځان کې څوك شهید شمیرئ ③ صحابه رضی الله عنهم عرض اوکړو یا رسول الله: کوم سړی چې د الله په لار کې ووژل شي هغه شهید دی ④ حضور ﷺ وفرمایل په دې صورت کې به څما په امت کې د شهیدانو تعداد ډیرکم شی ⑤ کوم سړی چې د الله په لار کې ووژل شي هغه خو حقیقي شهید دی ⑦ لیکن کوم سړی چې د وبا په مرض کې مړ شي هغه هم شهید دی ⑧ او کوم سړی چې د خیټې په ناجوړی کې یعنی اسهال وغیره کې مړ شي هغه هم شهید دی "یعنی داټول هم د حقیقي شهداوو درجات او ثواب کې دي نه داچې د هغوی جمیع احکامو کې

حل اللغات: ① اَلْبَطْن: خیټې ته وائی دلته ترې د خیټې بیماری (اسهال) مراد ده.

تسهیلات: قوله: مَاتَعُدُّونَ الشَّهِيدَ فِيكُمْ؟:

د شهید په مطلب کښې څلور اقوال – ① **الشهید:** شهید د فعیل په باندې دې او فعیل وزن کله دَ اسم مفعول په معنی کښې راځی نوکه چرې دلته شهید دَمشهود اسم مفعول په معنی کښې واخستې شی نومطلب به داشی چه دَاعزازاواکرام دَپاره هغه ته فرښتې حاضریږی

② کله دَاسم فاعل په معنی کښې راځی. نو شاهد اسم فاعل په معنی کښې واخستې شی نودَدې معنی به داشی چه شهیدپخپله دَ الله تعالی دَنعمتونو دَ مشاهدې دَپاره اود الله تعالی دَ دیداردَپاره حاضریږی یادَمرګ په وخت په جنت کښې دَخپلو درجاتو مشاهده کوی

③ دَ شهیدلفظ دَ شهادت په معنی کښې دې یعنی شهیدپخپله په خپل عمل سره دَخپل اخلاص ګواهی ورکوی

④ شهید ته ځکه شهیدوائی چه ټول مسلمانان او فرښتې دهغه دَپاره دَ جنت ګواهی ورکوی

د شهید تعریف: په اسلام کښې شهیدپه حقیقت کښې هغه سړې وی چه دکافرانودَمقابلې په وخت کښې اووژلې شی یاپه ظلم سره په تیره آله باندې قتل کړې شی اوهغه دَ دنیاوی څیزونونه دَ نفع او چتولونه بغیرمړشی داحقیقی شهیددې

حکمی شهیدان: ددې نه علاوه د یو څوشهیدانو ذکر په زیربحث حدیث کښې راغلې دې دا دَ ثواب په اعتبارسره شهداء دی دَ نورو احکامو په اعتبار سره شهداء نه دی

① یعنی کوم سړې چه دَ جهادپه لارکښې په خپل مرګ مړ شی

② یاکوم سړې چه په طاعون سره مړشی

③ یا دَ هیضې نه مړشي یا دَغرنه را پریوتلو سره مړشي
④ یا په اورکښې اوسوزي او مړ شي
⑤ یا په اوبو کښې ډوب شي او مړشي
⑥ یا دَ بچي پیدا کیدو کښې ښځه مړه شي
⑦ یا دَعلم په حاصلولو کښې طالب علم مړشي داټول شهداء داسې دي چه صرف دَ ثواب په اعتبارسره شهداء شمیرډی. ځکه چه دَ شهید یواصل ثواب دي او یوفضل ثواب دې داخلق په اصل ثواب کښې شریك دي اوفضل ثواب کښې شریك نه دي

علامه طیبی رحمه الله لیکی ومن مات بالطاعون أوبوجع فی البطن ملحق بمن قتل فی سبیل الله لمشارکته إیاه فی بعض ماینال من الکرامة بسبب ماکابده من الشدة لافی جملة الأحکام والفضائل (طیبی ج۷ص۲۸۲) [الکاشف: ۷/۲۳۸] یعنی کوم سړې چه دَ طاعون یا هیضې نه مړشی هغه مقتول فی سبیل الله سره په بعضې فضائلو اوکراماتو کښې شریك اوملحق دې ځکه چه هغه مشقت اوچت کړې دې لیکن په ټولو احکامو او ټولو فضائلو کښې شریك نه دې

د حقیقی او حکمی شهید په مینځ کښې فرق: دَشهیدحقیقی او شهیدحکمی په مینځ کښې فرق باره کښې ملاعلی قاری رحمه الله لیکی والمعنی أنهم یشارکون فی نوع من أنواع المثوبات التی یستحقها الشهداء لاالمساوات فی جمیع أنواعها یعنی مطلب دادې چه شهید حکمی دَ شهید حقیقی په بعضې فضائلو کښې شریك دې په پوره ثواب کښې مساوات نشته دې

د احکامو په اعتبار سره د شهیدانو قسمونه: دلته داخبره هم په ذهن کښې یادساتل پکاردی چه دَاحکاماتو په اعتبارسره شهداء درې قسمه دی ① رومبې هغه شهیددې چه دَدنیاپه اعتبارسره هم شهیددې اودآخرت په اعتبارسره هم شهیددې په ده باندې به دَ شهیددنیاوی احکام نافذ کیږی چه غسل نه بغیربه په خپلو کپړوکښې دَ وینوسره خښولې شی داکامل مؤمن شهیددې کوم ته چه به په آخرت کښې درجات ملاویږی

② دویم هغه شهیددې چه دَ آخرت په اعتبارسره شهیدنه دې صرف دَدنیاپه اعتبارسره شهیددې داهغه بدعقیده مقتول دې یا منافق دې یا قادیانې یا رافضی دې یا ذکری، بهائی وغیره دې داسې خلق شهیدان کیږی نه البته په دوی به دَ شهداؤ دنیاوی احکام نافذ کیږی

③ دریم هغه شهیددې چه دَ آخرت شهیددې مګر دَدنیاشهیدنه دې داهغه سړې دې چه دَطاعون وغیره نه مړشوې دې ده ته به په آخرت کښې دَ شهیدثواب ملاویږی لیکن دَ شهیددنیاوی احکام به په ده باندې نه نافذ کیږی نور تفصیل زما کتاب دعوت جهادکښې اوګورئی

[۳۸۱۲] دَمجاهد داجر تقسیم

۳۸۱۲-[۲۶] (¹) ① وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "② «مَا مِنْ غَازِيَةٍ، أَوْ سَرِيَّةٍ، تَغْزُو وَتَسْلَمُ ③ إِلَّا كَانُوا قَدْ تَعَجَّلُوا ثُلُثَيْ أُجُورِهِمْ. ④ وَمَا مِنْ غَازِيَةٍ، أَوْ سَرِيَّةٍ، تُخْفِقُ وَتُصَابُ إِلَّا تَمَّ أُجُورُهُمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① حضرت عبدالله ابن عمرو رضی الله عنه وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ② جهاد كونكى كوم جماعت يا جهاد كونكى كوم لښكر چې جهاد وكړو او مالِ غنيمت اخستو سره صحيح او سالم واپس راغلو ③ هغه ته د هغه دوتهايي ۲-۳ اجر زر يعنى دي دنيا كې حاصل شو ④ او جهاد كونكى كوم جماعت يا جهاد كونكى كوم لښكر چې جهاد وكړو او نه صرف داچې هغه ته مالِ غنيمت حاصل نه شو بلكه د هغه جماعت او لښكر خلق زخميان شوه يا شهيدان شوه نو د هغوى اجر پوره باقي پاتې شو. (مسلم)

حل اللغات: ① غَازِيَةٍ: په غزوه چې نبى كريم په كښې په خپله شريک شوې وى دَدې موصوف قطعة يا جماعة محذوف دې. ② سَرِيَّةٍ: هغه جنگى لښكر. ③ تُخْفِقُ: دَ إخفاق نه دې چه دَناكامئ اومحرومتيا په معنى كښې دې يعنى جهادئى اوكړو خو مال غنيمت ورته حاصل نه شو. ④ تُصَابُ: دادَمصيبت رسيدو په معنى كښې دې يعنى يازخمى شوياشهيدشو يا بل څه مصيبت سره مخامخ شو.

تسهيلات:

قوله: إِلَّا كَانُوا قَدْ تَعَجَّلُوا ثُلُثَيْ أُجُورِهِمْ:

د مجاهدد دوو اجرونوپه مفهوم كښې دوه اقوال:

علامه ابن ملك رحمه الله په دې حديث باندې دَ پوهيدلودَپاره دَدې مطلب داسې بيان كړې دې چه غازى ته كله دَ غنيمت مال حاصل شو اوصحيح سالم هم راواپس شو نوهغه دَ خپل جهادَ ثمراتو نه دوه ثمرات حاصل كړل اودريم ثمردخول جنت دې كوم چه لاتراوسه باقى دې اوكه چرې غازى نه غنيمت حاصل كړو اونه صحيح سالم راواپس شو نودَهغه كامل او پوره ثواب محفوظ كړې شو الغرض يومجاهدهغه دې چه صحيح سالم مال دَغنيمت سره واپس شو دويم هغه دې چه صحيح سالم خو راواپس شو ليكن مال دَغنيمت ئې په لاس رانغلو اودريم هغه چه زخمى شو يا شهيدشو مال هم ورته حاصل نه شو

② په دې حديث كښې دَمجاهد اجراوثواب په دې اثلاثو باندې تقسيم كړې شوې دې. غنيمت حاصلول يوثلث دې اوصحيح سالم راواپس كيدل دويم ثلث دې اودَ جهاد اخروى

¹) اخرجه مسلم فى كتاب الإمارة/باب بيان قدر ثواب من غزا فغنم، ومن لم يغنم (رقم-١٥٤ - (١٩٠٦)) و ابو داود فى كتاب الجهاد/باب فى السّريّة تخفق (رقم-٢٤٩٧)

ثواب دريم ثلث دي نو چه کوم سری غنيمت هم حاصل کړو او صحيح سالم هم راوابس شو دهغه دوه ثلث اول صرف د آخرت حصه يو ثلث ئې باتي شو اوچاچه دلمه دواړه ثلث حاصل نه کړه نو دهغه اجر کامل او مکمل باتي شو کوم چه دري اثلاث دي

خلاصه ① يو مجاهد هغه دي چه صحيح سالم مال د غنيمت سره وابس شو

② دويم هغه دي چه صحيح سالم خو راوابس شو ليکن مال د غنيمت ئې په لاس رانغلو

③ دريم هغه چه زخمي شو يا شهيد شو مال هم ورنه حاصل نه شو

[٣٨١٢] په زړه کښې د جهاد جذبه نه ساتلو باندې وعيد

٣٨١٣-[٢٧] (١) [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ وَلَمْ يُحَدِّثْ بِهِ نَفْسَهُ، [٣] مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ» "، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلی الله علیه وسلم وفرمايل [٢] کوم سری چې مؤمن مړ شي او جهاد ونه کړي او نه د هغه په زړه کې د جهاد خيال تير شي [٣] نو د هغه مرگ به يو قسم په نفاق وي (مسلم)

حل اللغات ① يُحَدِّثْ: خبرداري ورکړي. ② نَفْسَهُ: دامنصوب بنزع الخافض دي معنى في نفسه

تسهيلات:

قوله مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ الخ

دهر مسلمان په زړه کښې د جهاد جذبه ساتل: يعنى کوم سری چه نه جهاد او کړو او نه ئې د جهاد څه جذبه لرله چه افسوس زه هم چرته په جهاد کښې شريك وي نه هغه د جهاد تياري او کړو نه ئې چرته وسله اوساتله او نه ئې زدکړه اوکړه نو دداسې سرى چه کله مرگ راځي نو په نفاق باندې به راځي

دجهاد په حکم کښې مذهبين:

① عبدالله بن مبارك رحمه الله حضرت حسن بصرى رحمه الله او سعيدبن مسيب رحمه الله فرمائي چې جهاد فرض عين دي فرض کفايه په کښې نشته

② جمهور امت په نيز جهاد په دوه قسمه دي فرض عين او فرض کفايه

داول فريق دليل: ځکه چې په دې کښې د هغه کس باره کښې د نفاق په مرگ باندې د مر کيدو ذکر دې څوک چې په زړه کښې دجهاد جذبه او اراده نه ساتی

---

[١]) اخرجه مسلم فى كتاب الإمارة/باب ذم من مات. ولم يغز، ولم يحدث نفسه بالغزو (رقم ١٥٨ (١٩١٠)) و ابو داود فى كتاب الجهاد . باب كراهية ترك الغزو (رقم ٢٥٠٢) والنسائى فى كتاب الجهاد/باب التشديد فى ترك الجهاد (رقم ٣٠٩٧)

د دويم فريق دليل:

دَ قرآن پاك دَ آياتونودَ وجې نه قبول كړى دى ارشاد دې ﴿ وَفَضَّلَ اللهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا﴾[سورة النساء، الايه:۹۵]

[۲۸۱۴] حقيقى مجاهد

۳۸۰۳—[۲۸] ()[١] وَعَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ:[٢] «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ:[٣] الرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلْمَغْنَمِ،[٤] وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِلذِّكْرِ،[٥] وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِيُرَى مَكَانُهُ، فَمَنْ فِي سَبِيلِ اللهِ؟[٦] قَالَ: "مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللهِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[١] ابو موسى اشعري ﷛ وايي [٢] چې يوسړى د نبي كريم ﷺ په خدمت كې حاضر شو او عرض يې اوكړو[٣] چې يو خو هغه سړى دى چې د غنيمت مال حاصلولو د پاره جنګ كوي [۴] يو هغه سړى دى چې د ذكر يعنى ګونګسو او شهرت د پاره چې هغه ته سمع وايي جنګ كوي يو هغه سړى دى چې د هغه مرتبه وكتل شي يعنى خپل شجاعت او بهادري د پاره جنګ كوي [۵] چې هغه ته ريا وايي نو په دې دواړو كې څوك د الله په لار كې جهاد كونكى دى [٦] حضور ﷺ ورته وفرمايل كوم سړى چې د دې د پاره جنګ كوي چې د الله دين سربلند شي په حقيقت كې هغه سړى د الله په لار كې جهاد كونكى دى (بخاري مسلم)

حل اللغات:① لِلْمَغْنَمِ: دا مصدر ميمى دې.مال غنيمت.② لِلذِّكْرِ: ذكر په ډيرو معانيوراغلي دي دلته ترې مراد شهرت دې.

تسهيلات:

قوله: وَالرَّجُلُ يُقَاتِلُ لِيُرَى مَكَانُهُ:

د ليرى په تركيب كښې دوه احتمالات: ① بعضو حضراتو فرمائيلى دى چه دا د باب إفعال نه دې څوكه دا معروف اولوستلې شى نو ددى فاعل به هغه ضمير شى كوم چه الرجل طرف ته راجع دى اومفعول ثانى محذوف دى او عبارت به دا شان وي يقاتل ذلك الرجل ليرى هومكانه نو معنى به داشى چه هغه جنګ دې دپاره كولو چه خپله بهادرى او شجاعت ښكاره كړى په دى صورت كښې يقاتل للذكر كښې فرق به دا وى چه اول كس د شهرت دپاره جنګ كوى او دويم كس د رياكارى دپاره جنګ كوى

() اخرجه البخاري في كتاب الجهاد والسّير/باب من قاتل لتكون كلمة الله هي العليا(رقم-۲۸۱۰) ومسلم في كتاب الإمارة/باب من قاتل لتكون كلمة الله هي العليا فهو في سبيل الله (رقم-۱۴۹ - (۱۹۰۴) و ابو داود في كتاب الجهاد . باب من قاتل لتكون كلمة الله هي العليا(رقم-۲۵۱۷)والنسائي في كتاب الجهاد/باب من قاتل لتكون كلمة الله هي العليا (رقم-۳۱۳۶)وابن ماجه في كتاب الجهاد/باب النيّة في القتال (رقم-۲۷۸۳) واحمد في المسند: ۴۵۲/۴

② که لیری مجهول اولوستلې شي نو په دی صورت کښې الرجل طرف ته ضمیر به دفاعل قائم مقام شی او مکانه‌به مفعول ثانی شی نو په دی صورت کښې به معنی دا شی چه هغه ددی دپاره جنګ کوی چه هغه ته د جنت مقام وخودلی شی نو ګویا چه هغه د إعلاءکلمةالله دپاره جنګ نه کوی بلکه د جنت مقام لیدولو دپاره جنګ کوی او ددی تائید مذکوره حدیث د راتلونکی جملی نه کیږی

قوله: لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا:

د کلمې څخه په مراد کښې دوه احتمالات:

① د کلمې نه مراد د اسلام طرف ته دعوت ورکول دی

② یو کس تر هغه پورې د الله تعالی په لار کښې نه شمارل کیږی تر کومې پورې چه هغه د إعلاءکلمةالله نیت نه وی کړی. (التعلیق الصبیح ج۴، ص۳۱۱)

دَقتال پنځه اسباب: دَ حدیث باب مختلف طرق وراندې کیخودو سره دا خبره حاصلیږی چه دَ قتال پنځه اسباب کیدیشی.

① دَ غنیمت طلب

② دَ بهادرئی څرګندونه

③ ځان خودل

④ حمیت

⑤ غضب.

د نبی علیه السلام د تفصیلی جواب په ورکولو کښې نکته: په دې کښې هر یو سبب دَ مدح او ذم اړخ لري. دَ دې دَ پاره نبی کریم ﷺ دَ سوال کونکی دَ سوال جواب په او یا نه کښې ورنه کړو بلکه دا ئې اوفرمائیل ((من قاتل لتكون كلمة الله هي العليا فهو في سبيل الله)) (۱) دَچا جنګ چه دَ الله تعالی دَ کلمې دَ سرلوړئی دَ پاره وی هم هغه قتال في سبيل الله دې.

فائده: دَحضور ﷺ جواب جوامع الکلم دې: دَ حضور ﷺ پورته ذکر شوې جواب دَ بلاغت او ایجاز دَ اعلی پیمانې حامل دې او دا جمله دَ جوامع الکلم څخه ده. ځکه چه که هغوی ﷺ دَ سوال کونکی دَ ذکر شوی امورو جواب ورکولو چه هغه په في سبيل الله کښې داخل نه دی نود دې خبرې احتمال وو چه دَ هغوی نه علاوه قتال که دَ څه بل څه دَ سبب نه وی نو هغه فی سبیل الله دې خو داسې څه خبره نشته. دَ دې دَپاره هغوی ﷺ جامع او مانع جمله اختیار اوفرمائیله او په جواب کښې ئې دَ ماهیت قتال نه دَ مقاتل دَ حال طرف ته عدول اوکړو.

---

۱) (فتح الباری (ج۶ص۲۸)-

[۲۸۱۵] د عذر په وجه په جهاد کښې د عدم شرکت حکم

۲۸۱۵—[۲۹] (¹) وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَجَعَ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ،[۲] فَدَنَا مِنَ الْمَدِينَةِ، فَقَالَ: "إِنَّ بِالْمَدِينَةِ أَقْوَامًا،[۳] مَا سِرْتُمْ مَسِيرًا،[۴] وَلَا قَطَعْتُمْ وَادِيًا إِلَّا كَانُوا مَعَكُمْ". [۵] وَفِي رِوَايَةٍ: "إِلَّا شَرِكُوكُمْ فِي الْأَجْرِ. [۶] قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ! وَهُمْ بِالْمَدِينَةِ؟ [۷] قَالَ: وَهُمْ بِالْمَدِينَةِ حَبَسَهُمُ الْعُذْرُ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او انس ﷺ وايي هرکله چې نبي کریم ﷺ غزوه تبوک څخه واپس راتلی [۲] او مديني ته نژدې ورسيدو نو وي فرمايل په مدينه کې ځني خلق داسې دي اچې په سفر جهاد کې په ظاهره ستاسو سره نه وه [۳] ليکن تاسو داسې هيڅ لار نه ده قطع کړي [۴] او هيڅ داسې وادي او ځنګل څخه نه يئ تير شوي چې په هغه کې هغوی ستاسو سره نه وه ايعنی د هغوی جسم خو د هغوی په کورونو کې وو ليکن د هغوی دعاګاني د هغوی زړونه او د هغوی همتونه ستاسو سره وه [۵] او په يوروايت کې دی مګر هغوی تاسو سره په ثواب کښې شريک دی. [۶] صحابه ﷺ په دې اوريدو سره عرض اوکړو چې يارسول الله! او هغه خلق په مدينه کې دي ايعنی هرکله چې هغوی زمونږ سره جهاد ته نه دي تللي او په خپلو کورونو کې موجود دي بيا هغوی زمونږ سره څنګه وه؟ [۷] حضور ﷺ ورته وفرمايل هغوی په مدينه کې دي ليکن د دې باوجود هغوی په اجر او ثواب کې ستاسو سره شريك دي ځکه چې د هغوی عذر هغوی منع کړي وه يعنی هغوی د خپلو عذرونو په سبب ستاسو سره جهاد ته ولانه ړه (بخاري)

حل اللغات: ① مَسِيرًا: دا صيغه د اسم آله ده. لارې ته وائي. ② وَلَا قَطَعْتُمْ: او تاسو نه تيريږئ. ③ وَادِيًا: خوړ. ځنګل. ميدان. ④ حَبَسَهُمْ: ګير کړي وی هغوی لره.

تسهیلات:

قوله: مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ، وهي أرض بين الشام والمدينة.

فَدَنَا: أي قاربهم

قوله: إِنَّ بِالْمَدِينَةِ أَقْوَامًا، أي جماعات ممن يتمنون الغزو ويحدثون أنفسهم بالخروج: يعنی هغه جماعتونه کومو چه د جنګ کولو تمنی لرله او يو بل سره به يئ جهاد ته د تللو خبری کولې ليکن دوی څه معذوری منع کړی وو.

قوله: إِلَّا كَانُوا مَعَكُمْ، أي بالقلب والهمة والدعاء والنية. امام نووی رحمه الله فرمائی چه د خير په کارونو کښې د نيت فضيلت طرف ته اشاره مقصود ده

¹) اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب نزول النبيّ صلّى الله عليه وسلّم الحجر (رقم-۴۴۲۳) وابن ماجه في كتاب الجهاد/باب من حبسه العذر عن الجهاد (رقم-۲۷۶۴)

دَ عذر تعريف: دَ بخاري شريف شارحينو دَ عذر تعريف دا ليكلي دي: ((هوالوصف الطارئ على المكلف المناسب للتسهيل عليه))(١)

يعنى عذر مكلف ته پيښيدونكي هغه صف دي دَ څه په وجه چه په شرعى احكامو كښې هغه سره دَ آسانتيا معامله كولې شي.

٣٨١٣-(٢) [١] وَرَوَاهُ مُسْلِمٌ عَنْ جَابِرٍ.

ترجمه: [١] او مسلم دا روايت دحضرت جابر رضي الله عنه څخه نقل كړي دى (بخاري)

[٢٨١٧] د مور پلار په خدمت د جهاد اطلاق

٣٨١٤-[٣٠] (٣) [١] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [٢] «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَاسْتَأْذَنَهُ فِي الْجِهَادِ. [٣] فَقَالَ: أَحَيٌّ وَالِدَاكَ؟. قَالَ: نَعَمْ. [٤] قَالَ: فَفِيهِمَا فَجَاهِدْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [٥] وَفِي رِوَايَةٍ: "فَارْجِعْ إِلَى وَالِدَيْكَ فَأَحْسِنْ صُحْبَتَهُمَا»".

ترجمه: [١] عبد الله رضي الله عنه ابن عمرو وايي [٢] يو سړى د رسول كريم ﷺ په خدمت كې حاضريدو سره جهاد ته د تلو اجازت اوغوښتلو [٣] حضور ﷺ څني پوښتنه وكړه آيا ستا مور پلار ژوندي دي؟ هغه عرض اوكړو چې هو [٤] نو حضور ﷺ ورته وفرمايل بيا ته د هغوى په مينځ كې په اوسيدو سره جهاد كوه (يعنى پوره محنت او تندي سره د هغوى خدمت كوه چې ستا په حق كې دا جهاد دى) [٥] او د مسلم په يو روايت كې دا الفاظ دي حضور ﷺ هغه سړي ته وفرمايل بيا ته خپل مور پلار ته ورشه او د هغوى صحبت بهتر جوړكړه يعنى د هغوى خدمت او د هغوى د حقوقو آدائيگى په ښه شان كوه

حل اللغات: ① فَجَاهِدْ: دلته د جهاد اصطلاحي معنى نه ده مراد بلكه لغوى مراد ده يعنى د دوى په خدمت كښې كوشش كوه

تسهيلات:

قوله: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَاسْتَأْذَنَهُ فِي الْجِهَادِ:

دَ رجل نه څوك مراد دي؟: دَ باب په روايت كښې دَ نوم تصريح نشته چه دا څوك وو البته

---

١) (حواله بالاو شرح الكرماني (ج١٢ص ١٢٩)-

٢) اخرجه مسلم فى كتاب الإمارة /باب ثواب من حبسه عن الغزو مرض او عذر آخر (رقم-١٥٩ - (١٩١١) و ابن ماجه في كتاب الجهاد /باب من حبسه العذر عن الجهاد (رقم-٢٧٦٥) واحمد في المسند:٣/٣٠٠

٣) اخرجه البخارى في كتاب الجهاد والسّير /باب [ص:٥٩] الجهاد بإذن الأبوين (رقم-٣٠٠٤) ومسلم فى كتاب البرّ والصّلة والآداب /باب برّ الوالدين وأنّهما أحقّ به (رقم-٥ - (٢٥٤٩) و ابو داود فيّ كتاب الجهاد /باب فى الرّجل يغزو، وأبواه كارهان (رقم-٢٥٢٩) والترمذى فى كتاب الجهاد عن رسول اللّه صلّى اللّه عليه وسلّم /باب ما جاء فيمن خرج فى الغزو وترك أبويه (رقم-١٦٧١) والنسائى فى كتاب الجهاد /باب: الرّخصة فى التّخلّف لمن له والدان (رقم-٣١٠٣)واحمد فى المسند: ٢/٨٠٨

د نورو روايانونه ثابتيږي چه دا جاهمه بن عباس وو چه په جهاد کښې د شرکت د اجازت د پاره د رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضرشوې وو چنانچه امام احمد او امام نسائی رحمهم الله د معاويه بن جاهمه په طريق يوروايت نقل کړې دې په هغې کښې دى أن جاهمة جاء إلى النبي صلى الله تعالى عليه وسلم فقال يارسول الله ! أردت الغزو وجئت لاستشيرك، فقال: هل لك من أم؟ قال: نعم؛ قال: الزمها.(۱) يعنى جاهمه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضرشو عرض ئى اوکړو يارسول الله ؛ زماجهاد ته د تللو خواهش دې تاسو سره د مشورې دپاره حاضرشوې يم حضورپاك اوفرمائيل آيا ستا مورژوندئى ده؟ هغه ونيل اوجى حضورپاك اوفرمائيل هم هغې سره اوسيږه

قوله فَفِيهِمَا فَجَاهِدْ

د تخصيص وجه: دَ مفهوم دَ ادائيګئى دپاره خو فجاهد فيهما تعبيرهم صحيح وو خو ففيهما جارمجرور دَ اختصاص دپاره دَ امر نه مقدم کړو د کوم نه چه د موريلار اهميت اودهغوى خدمت مقدم کولوتاکيدمقصوددې

د جهاد په ځائې د والدينو خدمت باره کښې بل حديث: دغه شان نور واقعات هم نقل دى چه دَ جهاد اجازت دپاره څوك راغلل نوحضورپاك هغوى ته د جهاد په ځائې د موريلار د خدمت حکم ورکړو

صحيح مسلم کښې عن ناعم مولى ام سلمة عن عبدالله بن عمرو په طريق سره روايت مروى دې چه يوسړى د رسول الله ﷺ په لاس مبارك باندې د هجرت او جهاد بيعت کولوخواهش ښکاره کړو حضورپاك دهغه نه تپوس اوکړو فهل من والديك أحدحي؟ آيا ستاوالدين کښې څوك ژوندى شته؟ هغه عرض اوکړو اوجى دواړه ژوندى دى حضور پاك اوفرمائيل ارجع إلى والديك فاحسن صحبتها (۲) خپل موريلارله لاړشه اوهغوى سره اوسيدوکښې ښه سلوك کوه

په عام حالت کښې دجهاددپاره دَموريلاردَ اجازت حکم: جمهورفقهاء امام ابوحنيفه. امام مالك امام شافعى امام احمد او سفيان ثورى رحمهم الله فرمائى که نفيرعام نه وى اوجهادفرض کفايه وى نودموريلاردَ اجازت نه بغيرجهاد ته تلل جائز نه دى د والدين

---

(۱) رواه النسائي في سننه:۵۳/۲ في كتاب الجهاد باب الرخصة في التخلف لمن له والدة. وأحمد في مسنده:۴۲۹/۳ وفتح الباري:۱۷۳/۶.

(۲) صحيح مسلم:۳۱۳/۲كتاب البروالصلة باب برالوالدين وأيهما أحق به رقم:۲۵۴۹.

خدمت فرض عین او جهاد فرض کفایه دې. فرض عین پریخودل او فرض کفایه اداکول گناه ده [۱] دَدوی استدلال دَ حدیث باب صحیح مسلم اوسنن ابوداؤد مذکوره روایاتونه دي چه رسول الله ﷺ سائل ته دَ جهاد په ځائې دَ والدین دَ خدمت حکم ورکړو.

د نفیرِ عام په وخت کښې د والدینو د اجازت حکم: البته که نفیرعام وی اوجهادفرض عین وی نو په دغه صورت کښې په ټولو مسلمانانو باندې وتل واجب دی دَ والدین اختیارباقی نه پاتې کیږی دَ هغوی دَ اجازت نه بغیرتلل واجب دی. [۲] علامه ابن حزم مراتب الاجماع کښې فرمائی که په جهادکښې دَ شرکت په وجه دَ والدین دَ هلاکت یا ضیاع اندیښنه وی نوبالاجماع دَ جهادفرضیت ساقط کیږی خوکه دَ ځان دَهلاکت اندیښنه نه وی نوبیاهم وتل دَ جمهورو په نیز دَ والدین په اجازت باندې موقوف دی. [۳] علامه ابن حزم رحمه الله چه دَ جمهوروطرف ته دَ کوم مذهب نسبت کړې دې په هغې کښې دَ ده نه تسامح شوې ده. صحیح دادی چه دَ جمهورو په نیز که دَ والدین دَ ضیاع اندیښنه وی نودَ جهاد فرضیت نه ساقطیږی دَهغوی دَ اجازت نه بغیرجهادته تلل جائزدی مسنداحمد اومستدرك حاکم کښې دَعمرو الغفاری مرفوع روایت دې لاطاعة لمخلوق في معصية خال [۴] علامه ظفراحمد عثمانی رحمه الله دَدې نه استدلال کولوسره فرمائی فيه دلالة على أنه لاحاجة إلى إذن الوالدين، إذا كان الجهاد فرض عين، وإن منعا عنه فلا طاعة لهما.[۵] یعنی دا روایت په دې باندې استدلال کوی چه کله جهاد فرض عین وی نودَ والدین اجازت ضروری نه دې که چرې هغوی دَ وتلو نه منع کوی نودَهغوی اطاعت جائزنه دې.

د نیا نیکه څخه د جهاد د پاره تلو د اجازت اخستلو حکم: دَ احنافو او شوافع په نیز جد او جده یعنی نیاانیکه دواړه دَوالدین په حکم کښې دی [۶] یعنی دَ جهادفرض کفایه کیدو په صورت کښې دهغوی خدمت به واجب وی اوکه فرض عین وی نو خروج به واجب وی اودَ هغوی اطاعت به جائزنه وی.

د کافرانو والدینو څخه د جهاد تلو د پاره اجازت غوښتلو کښې ۳ مذاهب:

① دَ جمهورفقهاؤ په نیز که چرې والدین غیرمسلم وی نوهغوی نه دَ فرض کفایه جهاد په

---

[۱]) فتح الباري:۱۷۳/۶ وعمدة القاري: ۲۴۸/۱۴ وفتح القدير:۱۹۱/۵ وتكملة فتح الملهم:۳۲۰/۵.
[۲]) فتح الباري:۱۷۳/۶ وعمدة القاري: ۲۴۷/۱۴.
[۳]) عمدة القاري:۲۴۷/۱۴.
[۴]) مسندأحمد۶۶/۵ ومستدرک حاكم:۴۴۳/۳ مناقب الحكم بن عمر الغفاري.
[۵]) إعلاء السنن: ۱۳/۱۲.
[۶]) فتح الباري:۱۷۳/۶ وإعلاء السنن: ۱۱/۱۲.

صورت کښې هم د اجازت اخستلو ضرورت نشته (١)

② سفیان ثوری رحمه الله فرمائی چه دغیرمسلم والدین هم هغه حکم دې کوم چه د مسلمان والدین حکم دې لهذا د غیر مسلم والدین نه هم اجازت اخستل ضروری دی

داول مذهب دلیل: د جمهورو استدلال دادې چه د صحابه کرام رضي الله عنهم یولوئی تعداد په جهاد کښې شرکت کړې دې دکومو والدین چه کافران اومشرکان وو لکه ابوبکر صدیق، ابوحذیفه بن عتبه او ابوعبیده رضي الله عنهم ابوحذیفه بن عتبه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په جنګ بدرکښې شریک وو. د دوی پلار رئیس المشرکین وو دغه شان د ابوعبید رضي الله عنه د پلارهم د هغه د تورې په وار باندې مرګ واقع شو (٢)

د دویم مذهب دلیل: د هغوی دلیل دادې چه په کوموروایاتوکښې رسول الله صلى الله عليه وسلم سائل ته د جهادپه ځائی د والدین د خدمت حکم ورکړې په دې کښې عموم دې چه والدین کافروی یا مسلمان د هغوی د خدمت مطلقًا حکم دې په کوم کښې چه کافراومسلمان والدین دواړه شامل دی لهذا چه څنګه د مسلمان والدین نه اجازت اخستې شی هغه شان به د کافر والدین نه اجازت هم اخستل ضروری وی (٣)

جواب: د دې څخه جواب دا دې چه دکوم روایاتو سره د عموم حکم ثابتیږی د مذکوره واقعاتو د وجه نه هغه عموم باقی پاتې نه شو په دې وجه فرض کفایه د جهاد په صورت کښې د مشرك والدین د اجازت څه حیثیت پاتې نه شو (٤)

[۲۸۱۸] د مکې په فتح د مکې څخه د هجرت ختمیدل

> ۲۸۱۸—[۳۱] (٥) [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ، قَالَ يَوْمَ الْفَتْحِ: [٢] «لَا هِجْرَةَ بَعْدَ الْفَتْحِ، وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ، [٣] وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول کریم صلى الله عليه وسلم د مکي د فتح په ورځ وفرمایل [٢] اوس د مکي د فتح څخه وروسته هجرت نشته لیکن جهاد او نیت باقي دی [٣] هرکله چې تاسو د جهاد د پاره وبلل شئ نو تول سمدستي ځئ ځکه چې د نفیر عام په موقع جهاد ته تلل فرض دي اوددې فرض آدائیگی هریوه باندې ضروري ده (بخاري مسلم)

---

(١) المغنى لابن قدامة: ٣٧٨/١ والمجموع شرح المهذب: ٢٧/٢١.
(٢) المغنى لابن قدامة: ٣٧٨/١.
(٣) المغنى لابن قدامة: ٣٧٨/١٠.
(٤) المغنى لابن قدامة: ٣٧٨/١.
(٥) اخرجه مسلم فى كتاب الحج/باب تحريم مكة وصيدها وخلاها وشجرها ولقطتها. إلا لمنشد على الدوام (رقم-٤٤٥-١٣٥٣) و ابو داود فى كتاب الجهاد/باب فى الهجرة هل انقطعت؟(رقم-٢٤٨٠) والترمذى فى كتاب السير عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الهجرة (رقم-١٥٩٠) والنسائى فى كتاب البيعة/باب ذكر الاختلاف فى انقطاع الهجرة (رقم-٤١٧٠)وابن ماجه فى كتاب الجهاد/باب الخروج فى النفير (رقم-٢٧٧٣) واحمد فى المسند:٣٥٥/١

حل لغات ① نُنْبِرْتُمْ "استنفرتم" د ماضي مجهول صيغه ده په جهاد کښې د وتلو مطالبه ② فَانْفِرُوا: نفرعام نه وئي کله د وخت حاکم یا د جهاد امیر په جهاد کښې د وتلو دپاره تاسو راؤغواړي

تسهیلات

قوله لَا هِجْرَةَ بَعْدَ الْفَتْحِ:

هجرت تعریف: هجرت د الله تعالی اود هغه د رسول ﷺ درضادپاره اودخپل ځان ومال دحفاظت دپاره خپل وطن مالوف ترك كولونوم هجرت دې

د هجرت نه کولو مصداق: یعنی دمکې مکرمې نه چه مدینې منورې ته کوم خاص هجرت فرض وو دهغې فرضیت ختم شو ځکه چه اوس مکه مکرمه دارالاسلام جوړشو اوس دهغه ځائې نه د هجرت ضرورت پاتې نه شو

دهجرت دحکم دوام: د نورې دنیا نه د هجرت فریضه اوس هم باقي ده یادلرئی هجرت د سختې نوم نه دې بلکه بنځه اوبچې په محفوظ ځائی کښې پریخودوسره بیا د راوابس کیدونوم هجرت دي ﴿وَأَخْرِجُوهُم مِّنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ﴾ [سورت بقره: ۱۹۱] دالله تعالی حکم دي چه

دهجرت قسمونه: ① دهجرت یوقسم دادي چه د دارکفرنه دارامن ته سړې هجرت اوکړي لکه چه د مکې نه حبشې ته شوې وو

② دویم قسم د دارکفرنه دار اسلام طرف ته هجرت کول دی لکه د مکې نه مدینې منورې ته هجرت شوې

③ د هجرت دریم قسم دادي چه سړې د دارالفتن نه دارالتقوی طرف ته هجرت اوکړي لکه د پاکستان نه به خلقو د طالبانو د اسلامي خلافت طرف ته هجرت کولو نن صبا هلته افغانستان کښې امریکه قابض ده دکوم په وجه چه اوس هغه دارحرب کښې بدل شوې دې

④ دهجرت څلورم قسم هغه دې چه خلق به د مدینې د اطرافو او قبائلو نه دعلم زده کولو په غرض مدینې ته راتلل اوقیام ئې کولو دې ته به د هجرت القبائل نوم ورکولې شو زیربحث حدیث کښې صرف دمکې نه مدینې طرف ته دهجرت نفی کړې شوې ده

قوله وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ:

د جهاد د ذکر کولو نکته: چونکه هجرت د جهاد دپاره پیش خیمه وی نودَدې په نفی سره وهم کیدې شو چه کله هجرت ختم شو نوجهاد هم ختمیدل پکاردی ددې وهم د لرې کولودپاره حضورپاك د "لكن" سره د جهاد استدراك اوفرمائیلو چه جهاد اوددې نیت اوس هم باقي دي

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۸۱۹] د اسلام د غلبې دپاره د مجاهدينو د ډلې وجود

۲۸۱۹—[۳۲] (¹) [۱] عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۲] «لَا يَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ [۳] ظَاهِرِينَ عَلَى مَنْ نَاوَأَهُمْ [۴] حَتَّى يُقَاتِلَ آخِرُهُمُ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] عمران ﷜ ابن حصين وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] خما د امت څه نه څه جماعت به هميشه د حق حمايت او حفاظت د پاره برسر جنګ وي [۳] او كوم سړي چې دې جماعت سره دښمني كوي په هغه به غالب وي [۴] تردې چې د دې امت آخري خلق به مسيح دجال سره جنګ كوي (ابوداود)

حل اللغات: ① نَاوَأَهُمْ: د ماضي معروف صيغه ده چې مسلمانانو سره دشمني كوي

تسهيلات:

قوله: ظَاهِرِينَ أي غالبين او معروفين مشهورين. يعني دوی سره چه څوك دښمني كوي دوی به په هغوی باندې غالب راځي دَدې جملې مطلب اومفهوم داسې شو چه په دې امت كښې به يوه طائفه منصوره دَمجاهدينو هميشه دَپاره قائم وي دابه هيڅوك ختمه نه كړې شي هغوی به كله دَمتو په زور په دنيا غالب راځي اوكله به صرف دَ معرفت او شهرت په اعتبار سره قائم وي

د مجاهدينو عموم: ملاعلي قاري ﷫ ليكلي دي چه دَ مجاهدينو دا ډله يوعلاقې سره خاص نه ده بلكه ددنيا په مختلفو حصوكښې به وي او په آخره كښې به دَحضرت مهدي او حضرت عيسى ﷤ په صورت كښې دا ډله راښكاره كيږي دجال به اوژلي شي او غټ جنګونه به وي د قرب قيامت پورې به دغه ډله قائمه وي

[۲۸۲۰] مطلقاً په جهاد كښې دعدم شركت وعيد

۲۸۲۰—[۳۳] (²) [۱] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] «مَنْ لَمْ يَغْزُ [۳] وَلَمْ يُجَهِّزْ غَازِيًا [۴] أَوْ يَخْلُفْ غَازِيًا فِي أَهْلِهِ بِخَيْرٍ [۵] أَصَابَهُ اللّٰهُ بِقَارِعَةٍ قَبْلَ يَوْمِ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ابو امامه د نبي كريم ﷺ څخه نقل كوي حضور ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړى چې نه خو په خپله جهاد وكړو [۳] او نه د چا مجاهد سامان يې درست كړى [۴] او نه د يو غازي د

¹) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الجهاد/باب في دوام الجهاد (رقم-۲۴۸۴) واحمد في المسند: ۴/۴۲۹
²) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الجهاد، باب كراهية ترك الغزو (رقم-۲۵۰۳) وابن ماجه في كتاب الجهاد/باب التغليظ في ترك الجهاد (رقم-۲۷۶۲)

جهاد په دوران کې د هغه د اهل وعیال په حق کې خیر ښیګړې سره د هغه نائب جوړ شو
[۵] نو الله ﷻ به هغه د قیامت څخه مخکې په څه ناڅه مصیبت کې مبتلا کړي (ابوداود)

حل اللغات ① بِقَارِعَةٍ: دا بلا اومصیبت ته وائی جمع ئې قوارع. راځی

د جهاد نه کولو باندې وعید: په دې حدیث مبارک کښې د جهاد درې صورتونه ذکرشوی دی چې هرمسلمان لره په دې درې صورتونوکښې په یوکښې شرکت کول پکار دې اوکه یوکس په یوکښې هم شرکت اونکړو نود مرګ څخه وړاندې به خامخا ده ته دالله تعالی عذاب رسیږی

د جهاد درې صورتونه:

① په خپله په جهاد کښې شرکت کول.

② بل غازی د جهاد دپاره لیږل

③ د بل غازی د بال بچ خسمانه او حفاظت کول.

[۳۸۲۱] دَ ځان مال اوژبې په ذریعه دَجهاد حکم

[۳۴] ()[۱] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِأَمْوَالِكُمْ، وَأَنْفُسِكُمْ، وَأَلْسِنَتِكُمْ.» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت انس رضی الله عنه د نبي کریم ﷺ څخه نقل کوي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲] مشرکینو یعنی د اسلام دښمنانو سره تاسو په خپل ځان ومال او د خپلي ژبي په ذریعه جهاد کوئ

تسهیلات: قوله: جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِأَمْوَالِكُمْ الخ

دجهاد درې قسمونه: ① **جهاد بالمال:** دَمال په ذریعه ئې دَ جهاد کولو حکم مقدم کړو ځکه چه مال سره جهادعام دې چه ټولو انواعو دَ بشر ته شامل دې ځکه چه دَمال سره جهاد بوداګان خلق ماشومان ښځې اوسړی جوړناجوړه ټول کولې شی بل دَ مال نه بغیر یو مجاهد د جنګ میدان ته رسیدې هم نه شی اوجنګیدې هم نه شی ځکه چه کرایه خرچه اووسله ترکومې نه وی نو جهادبه څنګه اوشی

② **جهاد بالنفس:** دغه شان دَ ځان په ذریعه جهادهغه دې چه دا ځان دَ جهاد په میدان کښې په کارراشی او جهادته دَ ده نه فائده اورسی صرف په کورکښې محنت او عبادت ته جهادبالنفس نه شی وئیلې کیدې دغه شان جهادباللسان هغه وی چه دَ چا تحریر او تقریر اوترغیب اوترهیب سره جهادته فائده اورسی صرف پټکی سره متعلق یوه ګهنټه

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد . باب کراهیة ترک الغزو (رقم-۲۵۰٤) والنسائی فی کتاب الصوم/ذکر الاختلاف علی موسی بن طلحة فی الخبر فی صیام ثلاثة أيام من الشهر(رقم-۲٤۳۱) واحمد فی المسند: ۱۲٤/۳

تقریرته جهاد نه شي وئیلې کیدې

③ **جهاد باللسان:** په ژبه سره جهادداهم دې چه ددې فضائل اومسائل بیان کړې شي اوهروخت دَ مجاهدینو دپاره دعاګانې کوي په ژبه سره جهادداهم دې چه په دښمن باندې رعب واچولې شي هغه ته سختې خبرې اوکړې شي او دَ جهادمتعلق اشعار اوونیلې شي اودَترغیب دَپاره نظمونه اوونیلې شي حضرت حسان رضی الله عنه او نورو شاعرانو صحابه کرامو هم دغه شان کړې دی تبلیغ والا چه کوم بیان کوی دا جهادنه دې بلکه وعظ او بیان دې

[۲۸۲۲] دجنت طرف تلو عملونه

۳۸۲۲ـ[۳۵] (۱) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "② «أَفْشُوا السَّلَامَ، وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ، ③ وَاضْرِبُوا الْهَامَ: تُوَرَّثُوا الْجِنَانَ». ④ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① او ابوهریره رضی الله عنه وايي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② سلام عام کړئ یعنی هرآشنا او نا آشنا ته سلام کوئ او غریب او محتاجو خلقو باندې طعام خورئ ③ او د کفارو د فتنې او فساد بیخ کنې کوئ د جنت وارث به جوړ شئ ④ داروایت ترمذي نقل کړي دی او ویلي یي دي چې دا حدیث غریب دی

حل اللغات: ① أَفْشُوا : دامرصیغه ده.عام کول ② الْهَامَ : دهام معنی سر.ده دکافرانو سرونه اووبنئ یعنی هغوی قتل کړئ. ③ تُوَرَّثُوا: وارثان به جوړکړې شئ تاسو دَ جنت، ④ الْجِنَانَ: جنان د جنت جمع ده.

تسهیلات:

قوله: أَفْشُوا السَّلَامَ: أي أشيعوا وعموا. یعنی په مسلمانانو کنبې د اسلامی سلام رواج خور کړئ امر استحباب دپاره دې او ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چه سلام کنبې ابتدا کول یو داسې سنت دې کوم چه د فرضو نه هم افضل دې. ځکه چه سلام کول سنت دی او مخکې والې کول افضل دی او جواب ورکول فرض دی کوم چه مفضول دی ددی وجهې نه قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه بأن تسليم على من تراه عرفته أولم تعرفه.

قوله: وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ: دا دعزت او اکرام دشعائرو نه دې. فقیر مسکین هر یو باندې د خوراک کولو دا حکم دې

قوله: وَاضْرِبُوا الْهَامَ: أي الرأس أي اقطعوا روس الكفار وهو كناية عن الجهاد. یعنی په جهاد کنبې د حربی کافر سر قلم کوئ.

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی فضل إطعام الطعام(رقم-۱۸۵۴)

قوله: تُورِّثُوا: مطلب دا دی چه سخاوت او شجاعت د جنت حاصلولو ذریعه ده

قوله: الْجِنَانَ: أی جنات النعیم فی دار السلام لقوله تعالٰی وتلك الجنة التی أورثتموها بما کنتم تعملون۔ په دې کښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چه کله انسان مشکلات او مجاهدات برداشت کوی او دخپلې خوښې څیزونه ترک کوی او خپل ژوند د شریعت مطابق تیروی اگر که مصائب برداشت کولو په کښې هم راشی نو دا مصائب د هغه دپاره درجات عالیه سبب جوړیږی بهر حال هر جنتی به په جنت کښې خپل ځائی هم واخلی او د کافر په حصه کښې چه کوم ځائی دې هغه به هم واخلی، ددی وجهې نه وراثت فرمایلې شوې دې

هم دغه شان چونکه جنتونه هم ډیر دی، ددې وجهې نه جنان جمع صیغه یې ذکر کړې ده باقی د سلام متعلق نور هم ډیر احادیث دی مثلاً أفشوا السلام او په دویم روایت کښې دی چه أفشوا السلام تسلموا وفی روایة أفشوا السلام بینکم تحابوا، وفی روایة أفشوا السلام کی تعلوا۔ تاسو سلام کوئ۔ دیو بل د طرف نه به سلامتی مومی او په یو بل روایت کښې دی چه تاسو سلام کوئ ځکه چه سلام کولو سره به ستاسو محبت زیاتیږی

دسلام حکمت: په ابتدا داسلام کښې کله چه به مسلمانان په دین اسلام کښې به داخلیدل نو دیو بل نه به یریدل، ځکه چه معلومات به نه وؤ چه څوک څنګه انسان دې نو ددی وجهې نه د سلام حکم راغلو، چه تاسو یو بل ته سلام کوئ ځکه چه ستاسو هغه ویره او وحشت ختم شی او ستاسو په مینځ کښې محبت زیات شی

قوله: وَاضْرِبُوا الْهَامَ: یعنی کافرانو سره جهاد کوئی اود هغوی سرونه مات کړئی د ضرورت په وخت کښې جهاد فرض دې او اهل سنت والجماعة د دې خبرې قائل دی چه جهاد به ترقیامته پورې جاری وی دې د پاره چه دالله تعالی حکم اوچت وی او کافران د دنیانه ختم شی اود شعائر اسلام نوم اوچت شی

قوله: تُورِّثُوا الْجِنَانَ: یعنی چه کله تاسو داکارونه کوئی نوجنت به لکه د وراثت په شان په مضبوطه قبضه سره تاسو ته حاصل شی د کومې وعده چه الله تعالی متقیانو سره فرمائیلې ده

[۲۸۲۳] په جهاد کښې د څوکۍ فضیلت

۲۸۲۳—[۳٦] (۱) [۱] وَعَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] «كُلُّ مَيِّتٍ يُخْتَمُ عَلَى عَمَلِهِ [۳] إِلَّا الَّذِي مَاتَ مُرَابِطًا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ، [٤] فَإِنَّهُ يُنَمَّى لَهُ عَمَلُهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، [٥] وَيَأْمَنُ فِتْنَةَ الْقَبْرِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب فی فضل الرّباط (رقم-۲۵۰۰) والترمذی فی کتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/ ما جاء فی فضل من مات مرابطا (رقم-۱٦۲۱) واحمد فی المسند: ٦/ ۲۰

ترجمه: ① او فضاله ابن عبيد د رسول كريم ﷺ څخه نقل كوي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ② هرسړى په خپل عمل باندې اختتام پذير كيږي ايعنى د هرسړي عمل د هغه د ژوند پورې وي مرګ څخه وروسته د هغه عمل په دې طور باقي نه پاتې كيږي چې هغه ته دې نوى ثواب حاصليږي ا ③ ليكن كوم سړى چې د الله په لار كې يعنى په جهاد كې پاسباني كولو سره مړ شي ④ نو د هغه د پاره د هغه عمل به ترقيامته پورې زياتيږي ⑤ او هغه به د قبر د فتنې او عذاب څخه په آمان وي ترمذي ابوداود

حل اللغات: ① يُخْتَمُ: خاتمه كولې شي، اختتام پذير كيږي، ② مُرَابِطًا: پهره وركونكې وى. ③ يَنْمَى: داد نما څخه دمجهول صيغه ده.اضافه اوزيادت ④ فِتْنَةَ الْقَبْرِ: فتنه په مختلفو معانيو راغلې ده دلته ترې عذاب قبر مراد دې.

٣٨٢٣- (١) ① وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ.

ترجمه: ① او دارمي دا روايت د عقبه رضي الله عنه ابن عامر څخه نقل كړي دى

قوله: كُلُّ مَيِّتٍ يُخْتَمُ عَلَى عَمَلِهِ: ځكه چه د فاعل مرګ افعال ختموى. ددې وجهې نه كله چه انسان مړ شي نو هغه د خپل اهل وعيال نه جدا شي او دهغه اعمال نامه بند كړى شي او مهر پرې اولګولى شي، نو بيا دهغه په اعمال نامه كښې څه هم نشى ليكل كيدى مګر هغه انسان كوم چه د إعلاءكلمة الله دپاره جنګ وكړو او اسلامى سرحد باندى هر وخت د جنګ دپاره تيار وؤ اوهم پدې حالت كښې مړ شو نو قيامت پورى به ددې افعالو ثواب ددى په اعمال نامه كښې ليكلې كيږي.

[٣٨٢٥] لږ وخت په جهاد كښې د شركت فضيلت

٣٨٢٥-[٣٧] (٢) ① وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ② «مَنْ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فُوَاقَ نَاقَةٍ ; ③ فَقَدْ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ ④ وَمَنْ جُرِحَ جُرْحًا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ ⑤ أَوْ نُكِبَ نَكْبَةً ⑥ فَإِنَّهَا تَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَأَغْزَرِ مَا كَانَتْ، ⑦ لَوْنُهَا الزَّعْفَرَانُ، وَرِيحُهَا الْمِسْكُ. ⑧ وَمَنْ خَرَجَ بِهِ خُرَاجٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ ⑨ فَإِنَّ عَلَيْهِ طَابَعَ الشُّهَدَاءِ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① معاذ رضي الله عنه ابن جبل څخه روايت دى چې هغه د رسول كريم ﷺ څخه واوريدل ② كوم سړى چې د الله په لار كې د اوښې د فواق په قدر ايعنى لږ وخت د پاره هم وجنګيدلو ا هغه د پاره ابتداء څخه جنت واجب شو ④ او كوم سړى چې د الله په لار

[١]) اخرجه الدارمى فى السنن رقم الحديث ٢٤٢٥

[٢]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الجهاد/باب فيمن سأل الله تعالى الشهادة (رقم-٢٥٤١) والترمذى فى كتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/ ما جاء فيمن يكلم فى سبيل الله (رقم-١٦٥٧) والنسائى فى كتاب الجهاد/باب: ثواب من قاتل فى سبيل الله فواق ناقة (رقم-٣١٤١)وابن ماجه فى كتاب الجهاد/باب القتال فى سبيل الله سبحانه وتعالى (رقم-٢٧٩٢) واحمد فى المسند:٢٣٠/٥

(جهاد) کې د دښمنانو دهتیارونو څخه زخمي شو⑤ یا هغه څه زخم تکلیف کې مبتلا شو⑥ نو هغه زخم به د قیامت په ورځ په داسې حالت کې راشي څنګه چې هغه په دنیا کې وو (یعنی هغه سړی به د قیامت په ورځ داسې حالت کې راشي چې د هغه هغه زخم به زیات تازه حالت کې وي)⑦ او د هغه رنګ به د زعفران په شان او د هغه خوشبویي به د مشك په شان وي⑧ او د کوم سړي په بدن کې چې د الله په لار (جهاد) کې ننکی راوخته ⑨ نو د قیامت په روځ به هغه ننکی یا ننکی والا باندې د شهیدانو مهر وي (یعنی هغه سړي سره به د شهیدانو علامه وي چې وپیژندل شي چې هغه د دین د سربلندي او حفاظت د پاره جد وجهد یعنی کوشش کړي وو هغه ته به هغه اجر او انعام ورکول شي کوم چې مجاهدین اسلام ته حاصلیږي) . (ترمذي ابوداود نسائي)

حل اللغات: ①فَوَاقَ :د پئ لوشلو په منځ منځ کې معموله وقفه. لږ ساعت. ②جُرِحَ: دَ دښمن اوکافرانو دَ طرف نه زخم لګیدل③نُكِبَةً: عام مصیبت چه لاره کښې په څه حادثاتی توګه باندې پیښیږی. ④كَأَغْزَرِ: په شان د تازه زخم، ⑤خُرَاجٌ: د خاء باندې ضمه او راء باندې شد دې په بدن باندې دانه او پولئی ته وائی. ⑥طَابَعُ الشُّهَدَاءِ: طابع مهرته وائی مګر دلته مطلق علامت مراد دې

تسهیلات:

قوله: مَنْ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللهِ فَوَاقَ نَاقَةٍ:

د فواق په تفسیر کښې دوه اقوال: ①دَاوښې پیئی چه کله راولشلې شی نودَهغې بچې غلانځې ته وریریخودې شی. اوښه دَ خپل بچی دَپاره پیئی راپریږدی. سړې راخی بچې اخواکوی اوپیئی پخپله اوباسی. په دې باندې اوښه نور پیئی بند کړی. سړې چالاك وی هغه دَ اوښې بچې دوباره لاندې راولی او غلانځې پورې اولګوی. اوښه ګنړی چه بچې راغلو هغه بیا پیئی لاندې غلانځې ته راپریږدی. سړې بیا راشی بچې اخواکړی او پیئی پخپله راؤلشی. دغه شان معامله دوه درې ځل کیږی. دَ یوځل پیئی لشلو اودوباره لشلوپه مینځ کښې چه کومه وقفه وی هغې ته فواق ناقه وائی. دکوم نه مراد چه لږه شان وقفه ده

② بعضې شارحینو دَ فواق مطلب دا بیان کړې دې چه دَپیئولشونکې چه کله دَ اوښې په غلانځه زور لګوی اودَپیئوراشلودپاره لاس لاندې طرف ته اوړی بیائی پورته اوړی دَدې په مینځ کښې چه کومه لږه شان وقفه ده هغې ته فواق ناقه وائی یعنی دَ دومره معمولی وخت پورې هم که چرته چا دَ جهادپه مقدس جنګ کښې حصه واخستله دَهغه دَپاره به جنت واجب وی.

[٢٨٢٦] د جهاد بالمال فضيلت

٣٨٢٦-[٣٨] (١) ١ وَعَنْ خُرَيْمِ بْنِ فَاتِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ «مَنْ أَنْفَقَ نَفَقَةً فِي سَبِيلِ اللهِ، ٣ كُتِبَ لَهُ سَبْعُمِائَةِ ضِعْفٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ.

توجمه: ١ خريم ﷺ ابن فاتك وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ٢ كوم سړی چې د الله په لار كې يعنی جهاد كې د خپل مال څخه څه هم خرڅ كړي ٣ هغه د پاره اووه سوه ٧٠٠ چنده ثواب ليكل كيږي (ترمذي)

حل اللغات: ① ضِعْفٍ: څو چنده زيات، ډير زيات

تسهيلات:

قوله: مَنْ أَنْفَقَ نَفَقَةً فِي سَبِيلِ اللهِ:

د الله په لار كښې دخرچ كولو چه كوم ثواب دې نو ددی ادنی درجه يې دلته ذكر كړې ده چه په جهاد كښې خرچ شوې مال به خپل مالک لره اوه سوه چنده زيات ثواب حقدار جوړ كړې نو دا دالله په رضا باندی موقوف ده چه چا لره الله وغواړی ددې نه به هم زيات وركړی والله يضاعف لمن يشاء او دا خبره دی واضح وی چه دثواب مختلف درجات د اخلاص د درجو په لحاظ سره هم دی او مال چه كوم ځايونو كښې خرچ شو دهغې داهميت په اعتبار سره هم چه داسې خرچ سره چه دين ته څومره فائده زياته وی نو ثواب به يې هم هغه هومره زيات وی

[٢٨٢٧] غوره صدقه

٣٨٢٧-[٣٩] (٢) ١ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ «أَفْضَلُ الصَّدَقَاتِ ظِلُّ فُسْطَاطٍ فِي سَبِيلِ اللهِ، ٣ وَمِنْحَةُ خَادِمٍ فِي سَبِيلِ اللهِ، ٤ أَوْ طَرُوقَةُ فَحْلٍ فِي سَبِيلِ اللهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

توجمه: ١ ابو امامه ﷺ وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ٢ بهترينه صدقه د هغه خيمي د سوری ده چې د الله په لار كې ايعنی يو مجاهد يا حاجي يا د علم دين طالب وغيرها ته وركول شي ٣ او بهترينه صدقه هغه خادم دی چې د الله په لار كې (كليةً يا عاريةً) وركول شي ٤ او بهترينه صدقه د الله په لار كې داسې اوښه وركول دي چې د نر جفتي قابله وي ايعنی د الله په لار كې داسې اوښه وركول افضل دی چې نرسره د جفتي عمرته رسيدلی وي چې د سورو په كار راشي!

---

١) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلّی الله عليه وسلّم/ ما جاء فی فضل النّفقة فی سبيل الله (رقم-١٦٢٥) والنسائی فی كتاب الجهاد/باب فضل النّفقة فی سبيل الله تعالی(رقم-٣١٨٦) واحمد فی المسند: ٣٤٥/٣

٢) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلّی الله عليه وسلّم/ ما جاء فی فضل الخدمة فی سبيل الله (رقم-١٦٢٧) واحمد فی المسند: ٢٧٠/٥

حل اللغات ① فُسْطَاط: غټه خيمه ② مِنْحَةٌ: په ډالئ يا په عاريت سره غلاء ورکول ③ طَرُوقَةٌ: طروقة هغه اوښې ته وائي چه دَ نراوښ د جماع کولو قابله وي يعني خوانه اوښه ④ فَحل: فحل نراوښ

[۲۸۲۸] دَالله د لار ګرد او جهنم د لوګي عدم اجتماع

۲۸۲۸-[۳۰] (۱)[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «لَا يَلِجُ النَّارَ مَنْ بَكَى مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ [۳] حَتَّى يَعُودَ اللَّبَنُ فِي الضَّرْعِ، [۴] وَلَا يَجْتَمِعُ عَلَى عَبْدٍ غُبَارٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَدُخَانُ جَهَنَّمَ». [۵] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَزَادَ النَّسَائِيُّ فِي أُخْرَى: (فِي مَنْخِرَيْ مُسْلِمٍ أَبَدًا. [۶] وَفِي أُخْرَى: («فِي جَوْفِ عَبْدٍ أَبَدًا، [۷] وَلَا يَجْتَمِعُ الشُّحُّ وَالْإِيمَانُ فِي قَلْبِ عَبْدٍ أَبَدًا»).

ترجمه: [۱] او ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲] هغه سړی به دوزخ ته نه ځي چې د الله د خوف څخه يي ژړلي وي [۳] ترديچې پئ غولانځوته واپس لاړي نشي [۴] او هيڅ بنده کې د الله د لاري غبار او د دوزخ لوګی يوځای کيدی نشي [يعنی د کوم مسلمان جسم چې د الله په لار يعنی جهاد کې غبارآلود شي هغه د دوزخ لوګی نشي مسه کولی حاصل داچې مجاهد به دوزخ ته نه ځي. [۵] (ترمذي) او نسائي يو دويم روايت کې دا الفاظ هم نقل کړي دي او د هيڅ مسلمان د پوزي دواړو سپيږموکي د الله د لاري غبار او د دوزخ لوګی هيڅ کله هم يوځای کيدی نشي [۶] او د نسائي په يوروايت کې دا الفاظ دي د بنده په خيټه کې د الله د لاري غبار او د دوزخ لوګی هيڅ کله يوځای کيدی نشي [۷] او د هيڅ بنده په زړه کې کامل ايمان او بخل هيڅ کله يوځای کيدی نشي

حل اللغات ① لَا يَلِجُ: نه به ځي. نه به داخليږي. ② الضَّرْعِ: غلانځه. په کومه کښې چې پئ جمع کيږي ③ الشُّحُّ: بخل. بخيل توب. ④ مَنْخِرَيْ: منخرد پوزي سوري يعنی سپيږمه. ⑤ الشح: شح يوخاص قسم کنجوسئ ته وائي په کوم کښې چه سړې حرام خوری او واجب الاداء حق زکوة منع کړی او د نورو خلقو مال په ظلم سره اوخوری

تسهيلات:

قوله: حَتَّى يَعُودَ اللَّبَنُ فِي الضَّرْعِ:

غلانځې ته د پيو د واپس کيدو مطلب: دا دَ تعليق بالمحال يومثال دې ځکه چه دَ تينونه وتلي پيئ دوباره تينوکښې نه شی ورتلې

قوله: وَلَا يَجْتَمِعُ الشُّحُّ وَالْإِيمَانُ فِي قَلْبِ عَبْدٍ أَبَدًا:

په يو زړه کښې د کنجوسئ او ايمان د نه جمع کيدو وضاحت: علامه طيبي رحمه الله فرمائي چه په انسان کښې درې څيزونه دی دکوم نه چه انسان مرکب دې روح. نفس او زړه په لغوی

(۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/ ما جاء فی فضل الغبار فی سبیل الله (رقم-۱٦۳۳) واحمد فی المسند: ٥/ ۲۷۰

اعتبار سره قلب (زړه) ته قلب ځکه وائی چه په دې کښې دَحرکت او انقلاب معنی پرته ده اوس کیږی دا چه کله دا زړه حرکت کوی نودَ روح په صفاتو باندې متصف کیږی کوم سره چه زړه روښانه اومنور کیږی اوکله دا قلب حرکت کوی نودَ نفس په صفاتو سره متصف کیدوسره بیږی دَ نفس دَ صفاتونه یو شح او بخل دې. کله چه زړه دَ شح او بخل په ککړوالی سره خراب شی نودا تیاره شی. کله چه زړه تیاره شو نودَ ایمان رڼا ختمه شوه په دې وجې اوفرمائیل چه شح او ایمان یوځائی کیدې نه شی [الکاشف: ۷-۳۵۰-۳۵۱]

[۲۸۲۹] په دوو سترګو د جهنم د اور حراموالې

۳۸۲۹-[۳۱] (¹)[۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۲] «عَيْنَانِ لَا تَمَسُّهُمَا النَّارُ: عَيْنٌ بَكَتْ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ،[۳] وَعَيْنٌ بَاتَتْ تَحْرُسُ فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه:[۱] ابن عباس ﷠ وایې چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲] دوه سترګې داسې دي چې د دوزخ اور یې نشي مس کولی یوه هغه سترګه چې د الله د خوف څخه ژړیدلې وي [۳] او دویمه هغه سترګه چې د الله په لار [یعنی جهاد کې د کفارو څخه د مجاهدینو نګهباني کولو سره] یې شپه تیره کړي وي. (ترمذي)

حل اللغات: ① عَيْنَانِ: دعین جمع ده، سترګه، ② بَكَتْ: چه جاړی. ③ بَاتَتْ: شپه ئې تیره کړه. ④ تَحْرُسُ: نګهبانی او نګرانی کوی.

تسهیلات:

قوله: عَيْنَانِ لَا تَمَسُّهُمَا النَّارُ:

په دوه قسمه سترګو د جهنم د اور حراموالې: په دې حدیث کښې دَ دوو قسم سترګو فضیلت بیان شوې دې یودَ عالم اوعابد دَ سترګو چه په عبادتونو اوعلم کښې مشقتونه برداشت کوی اودویم دَ مجاهد سترګه ده چه په څوکئی کښې بیداره وی په دواړو باندې دَ دوزخ اور حرام دې

[۲۸۳۰] د جهادی عبادت په کورنی عبادت فضیلت

۳۸۳۰-[۳۲] (²)[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ:[۲] «مَرَّ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِشِعْبٍ[۳] فِيهِ عُيَيْنَةٌ مِنْ مَاءٍ عَذْبَةٌ، فَأَعْجَبَتْهُ،[۴] فَقَالَ: لَوِ اعْتَزَلْتُ النَّاسَ فَأَقَمْتُ فِي هَذَا الشِّعْبِ.[۵] فَذَكَرَ ذَلِكَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -

---

(¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/ ما جاء فی فضل الحرس فی سبیل الله (رقم-۱۶۳۹)

(²) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/ ما جاء فی فضل الغدوّ والرّواح فی سبیل الله (رقم-۱۶۵۰) واحمد فی المسند: ۲/۵۲۴

ترجمه: [۱] ابو هریره رضي الله عنه وايي [۲] د يو سفر په دوران کې د رسول کريم ﷺ يو صحابي رضي الله عنه د يو غره په دره تير شو [۳] چې په هغه کې د خوږو اوبو يوه چينه وه نو هغه چينه په هغوی ډيره ښه ولګيده [۴] هغه اوويل کاشکې آرمان چې زه دې خلقو څخه جدايي اختيار کړم او دې درې ته راشم [۵] هرکله چې د رسول کريم ﷺ په مخکې ددې خبرې ذکر وشو

حل اللغات: ① شِعْب: د غر دره. ② عُيَيْنَةٌ: چينه. ③ مَاءٍعَذْبَةٌ: خوږې اوبه. ④ اعْتَزَلْتُ: جدا شم.

[۱] فَقَالَ: لَا تَفْعَلْ، فَإِنَّ مَقَامَ أَحَدِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ سَبْعِينَ عَامًا، [۲] أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ وَيُدْخِلَكُمُ الْجَنَّةَ؟ [۳] اغْزُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ، مَنْ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَوَاقَ نَاقَةٍ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] نو هغه صحابي رضي الله عنه ته يې وفرمايل ته داسې مه کوه ځکه چې په تاسو کې د يو سړي د الله په لار يعنی په جهاد کې قيام کول د هغه په کورکې د اويا کاله مونځ کولو څخه ښه دی [۲] آيا ته دا نه خوښوي چې الله ﷻ تا کامل طور سره وبخښي او تا د ابتداء څخه په جنت کې داخل کړي [۳] د الله په لار کې جهاد کوه ځکه چا چې د الله په لار کې د اوښې د فواق په قدر يعنی لږ شان هم جهاد وکړو د هغه د پاره جنت واجب شو (ترمذي)

حل اللغات: ⑤ فَوَاقَ: د پئ لوشلو په منځ منځ کې معموله وقفه. لږ ساعت.

تسهيلات:

قوله: فَقَالَ: لَاتَفْعَلْ:

د عزلت نشنئ څخه په منع کولو دوه اقوال: ① مذکوره صحابی ددې وجهې نه منع کړې شو چه ددوی په غزوه کښې شاميليدل واجب وو.

② امام طيبی رحمه الله فرمائی ممکنه ده چه مذکوره صحابی دجهاد د فراغت نه پس عليحدګې اختيارول غوښتل. ځکه چه د زاهدانو او عابدانو عادت دې

قوله: أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ سَبْعِينَ عَامًا:

اشکال په دې حديث کښې د جهاد فضيلت په عبادت باندې يو په اويا کاله دې او په بل حديث کښې يو په شپيته کاله دې ظاهره په دواړو احاديثو کښې تعارض دې

د اشکال جواب ① ددی نه مراد کثرت (زيادت) دې تحديد نه دې باقی د حديث حاصل دا شو چه ګوشه نشيني (يو طرف ته کيدلو) سره بخښش او معفرت نه حاصليږی ددې وجهې نه دا تاويل کوی چه په هغه زمانه کښې جهاد واجب وو او نفل دپاره واجب ترک کول ګناه ده. ددی وجهې نه نبی کريم ﷺ دا خبره صحابی ته واضح کړه چه که تاسو داسی وکړئ نو تاسو به د ډير فضيلتونو نه محروم شی او په دې کې يو فضيلت په مذکوره حديث کښې هم بيان شو

د عزلت او جلوت افضليت: ① دا حديث په دې خبره دلالت کوي چه خلقو سره يوځې اوسيدل ده د ګوشه نشينۍ نه افضل دی او خصوصا د نبی کريم ﷺ په زمانه کښې دا افضليت زيات وؤ البته د نبی کريم ﷺ د زمانې نه بعد په خلقو کښې د اوسيدلو د وجهې که د فساد ويره وی نو بيا هم ګوشه نشينی افضل ده

په اسلام کښې د رهبانيت عدم جواز: په دې حديث کښې نبی عليه السلام د دغه صحابی دا خواهش رد کړلو چه هغه دخلقو نه ځان له شي او په يوه دره کښې کينی اوالله الله کوی ځکه چه د شريعت تقاضا دا ده چه انسان هم په دې دنيا کښې اوسی اود خلقو سره ملاويږی دهغوی حقوق ادا کوی اوورسره دالله په لار کښې جهاد کوی کله چه موقع اوضرورت پيښ شی نوددې ټولو اعمالو نه ځان له کيناستل په شريعت کښې مطلوب نه دی ځکه چه په اسلام کښې رهبانيت نشته ځکه چه د رهبانيت تقاضا دا وه چه ټول کارونه پريږدی اود ټولو خلقو نه ځان له شی اود الله تعالی عبادت کوی ددې نه بغير به جنت نشو ملاويدې ليکن د اسلامی شريعت تقاضا دا ده چه تاسو هم په دې دنيا کښې اوسيږئ دا بهادری نه ده چه سړې دنيا پريږدی اويو طرف ته کينی بهادری دا ده چه په دې دنيا کښې اوسيږی اودا دنيا دې خراب نکړی بلکه هم په دې دنيا کښې اوسيږی او د دين مطابق ژوند تيروی په زړه کښې د ګناه تقاضا پيدا کيږی اوانسان ترې ځان بچ ساتی نو دا د ده کمال دې دنيا پريخودل اويو طرف ته کيناستل کمال نه دې

[٣٨٣١] په جهاد کښې د څوکۍ فضيلت

٣٨٣١-[٣٣] (١) ① وَعَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: ② «رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ يَوْمٍ فِيمَا سِوَاهُ مِنَ الْمَنَازِلِ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت عثمان ؓ د رسول کريم ﷺ څخه نقل کوي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ② د الله په لار [يعنی جهاد کې د کفر سرحدونو باندې] ديوې ورځې د پاره هم د پاسباني خدمت ددی [پاسباني دمنصب او خدمت] څخه علاوه په نورو عبادتو نو کې دزرو ورځو پورې دمشغوليدو څخه ښه دی (ترمذي نسائي)

تسهيلات:

قوله: رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ:

ددی حديث تعلق هغه کس سره دې کوم چه د اسلامی سرحداتو دحفاظت او نګهبانی دپاره منتخب شوې وی نو دی ته رباط وئيلې شی او دغه شان په مسجد کښې د يو مونځ نه تر بل مونځ پوری انتظار کولو ته هم رباط وئيلې شی.

---

[١] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلى الله عليه وسلّم / ما جاء فی فضل المرابط (رقم-١٦٦٧) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب فضل الرّباط (رقم-٣١٦٩) واحمد فی المسند: ٦٥/١

[۲۸۲۲] د شهيدانو په اول كښې جنت ته داخليدل

۲۸۲۲-[۳۴] (۱) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② «عُرِضَ عَلَيَّ أَوَّلُ ثَلَاثَةٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ: ③ شَهِيدٌ، وَعَفِيفٌ مُتَعَفِّفٌ، ④ وَعَبْدٌ أَحْسَنَ عِبَادَةَ اللّٰهِ ⑤ وَنَصَحَ لِمَوَالِيهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① حضرت ابوهريره ﷛ وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ② خما مخكې هغه مخكنې درې سړي پيش شوه چې په شروع كې به په جنت كې داخليږي ③ په هغوى كې يوسړى خو شهيد دى دويم هغه سړى دى چې حرامو څخه ځان اوساتي اوسوال نه كوي [يعنى فسق وفجور څخه بچ كيدونكى او د چا څخه سوال نه كونكى] ④ او دريم سړى هغه غلام دى چې هغه د خپل الله هم ښه اطاعت او عبادت كوي ⑤ او د خپلو مالكانو هم خير خواه پاتې شي

حل اللغات: ① وَعَفِيفٌ: دحرامو څخه ځان ساتونكې ② مُتَعَفِّفٌ: د سوال كولو پرهيز كونكې

تسهيلات:

قوله: عُرِضَ عَلَيَّ أَوَّلُ ثَلَاثَةٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ:

دَ ټولونه مخكښې جنت كښې داخليدونكى: داخلق به دَ انبياء كرامو نه پس دَ ټولونه مخكښې جنت كښې داخليدونكې وى اودا صرف درې كسان نه دى لكه درې قسمه خلق به وى په كوم كښې چه به په اول نمبر باندې شهدا وى بيا به پاكباز اوپاكدامن خلق وى چه دَ فسق اوفجور او سوال نه ئى ځان محفوظ ساتلې وو او په دريم نمبر باندې حكم منونكى غلام وى چاچه اسلام قبول كړې وى اودَ مولى اطاعت ئى كړې وى

[۲۸۲۳] افضل مجاهد او افضل شهيد

۲۸۲۳-[۳۵] (۲) ① وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ حُبْشِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: ② أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «سُئِلَ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ؟ ③ قَالَ: طُولُ الْقِيَامِ ④ قِيلَ: فَأَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ؟ ⑤ قَالَ: جُهْدُ الْمُقِلِّ. ⑥ قِيلَ: فَأَيُّ الْهِجْرَةِ أَفْضَلُ؟ ⑦ قَالَ: مَنْ هَجَرَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ. ⑧ قِيلَ: فَأَيُّ الْجِهَادِ أَفْضَلُ؟ ⑨ قَالَ: مَنْ جَاهَدَ الْمُشْرِكِينَ بِمَالِهِ وَنَفْسِهِ ⑩ قِيلَ: فَأَيُّ الْقَتْلِ أَشْرَفُ؟ ⑪ قَالَ: مَنْ أُهْرِيقَ دَمُهُ وَعُقِرَ جَوَادُهُ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ① او عبد الله ابن حبشي څخه روايت دى ② چې د نبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وشوه د مونځ اعمال اركان څخه كوم عمل ركن افضل دى ③ حضور ﷺ وفرمايل طويل

[1]) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/ ما جاء فى ثواب الشهداء (رقم-۱۶۴۲) واحمد فى المسند: ۴۲۵/۲

[2]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الصّلاة/كتاب الصّلاة،باب طول القيام (رقم-۱۴۴۹) والنسائى فى كتاب الزكاة/باب جهد المقلّ (رقم-۲۵۲۶) واحمد فى المسند: ۴۱۱/۳

اوږد قیام کول ۴ بیا څنې پوښتنه وشوه کومه صدقه افضله ده ۵ وي فرمایل د مفلس او محتاج جد وجهد کول ایعنی هغه خیرات افضل دی چې څوك مفلس او محتاج د خپل فقر او افلاس باوجود محنت او مشقت کولو سره ورکړي ا ۶ پوښتنه وشوه کوم هجرت ښه دی ۷ وي فرمایل د هغه سړي هجرت چې هغه څیز پرېږدي کوم چې الله حرام کړي دی ایعنی اګر چې د هجرت معنی دار الکفر پرېښودلو سره دار الاسلام ته تلل دي لیکن حرام څیزونه پرېښودلو سره حلال څیزونه اختیارولو ته هم هجرت وايي بلکه دا هجرت ښه دیا ۸ پوښتنه وشوه کوم جهاد ښه دی؟ ۹ وي فرمایل د هغه سړي جهاد چې د خپل مال او خپل جان په ذریعه مشرکینو سره جهاد کوي ۱۰ پوښتنه وشوه په جهاد کې څنګه قتلیدل ښه دي ایعنی کوم شهید افضل دیا وي فرمایل د هغه سړي قتلیدل چې د هغه وینه وبهیول شي او د هغه د آس پښې پریشي ایعنی هغه شهید افضل دی چې خپله هم ووژل شي او د هغه آس هم ووژل شيا (ابوداود)

حل اللغات: ① طُولُ الْقِيَامِ: اوږد قیام. (مونځ کښې اوږده اوږده رکعتونه کول) ② جُهْدُ الْمُقِلِّ: د محتاج محنت اومشقت. ③ هَجَرَ: پرېږدی. ④ أَشْرَفُ: افضل. بهتر. ⑤ أُهْرِيقَ: اوبهیولي شی. ⑥ وَعُقِرَ: پرې شی. کټ کړې شی. ⑦ جَوَادُ: ښه او قیمتی.

۱ وَفِي رِوَايَةِ النَّسَائِيِّ: «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سُئِلَ: ۲ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ؟ ۳ قَالَ: إِيمَانٌ لَا شَكَّ فِيهِ، ۴ وَجِهَادٌ لَا غُلُولَ فِيهِ، ۵ وَحَجَّةٌ مَبْرُورَةٌ. ۶ قِيلَ: فَأَيُّ الصَّلَاةِ أَفْضَلُ؟ ۷ قَالَ: طُولُ الْقُنُوتِ» ۸ ثُمَّ اتَّفَقَا فِي الْبَاقِي.

ترجمه: ۱ او د نسائي په روایت کې داسې دي چې د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وشوه ۲ په اعمالوکي کوم عمل افضل دی؟ ۳ حضور ﷺ وفرمایل هغه ایمان چې په هغه کې د هیڅ قسم څه شك نه وي ۴ هغه جهاد چې په هغه کې د حاصل شده مالِ غنیمت په باره کې څه قسم خیانت نه وي شوی ۵ او حج مقبول ۶ بیا څنې پوښتنه وشوه په مونځ کې کوم څیز افضل دی ۷ وي فرمایل اوږد قیام کول ۸ د دې څخه وروسته د حدیث الفاظ (ابوداود او نسائي) یوشان نقل کړي دي

حل اللغات: ⑧ غُلُولَ: شک شبه. دهوکه. ⑨ مَبْرُورَةٌ: مقبول. ⑩ طُولُ الْقُنُوتِ: اوږد قیام. (مونځ کښې اوږده اوږده رکعتونه کول)

تسهیلات:

نوټ: په حل اللغات کښې د ګرانوټکو وضاحت اوشو باقی د حدیث مطلب آسان دي.

[٢٨٣٤] شهيدانو باندې د الله تعالى انعامات

٣٨٣٤-[٣٦] ( ) ١ وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ «لِلشَّهِيدِ عِنْدَ اللّٰهِ سِتُّ خِصَالٍ: ٣ يُغْفَرُ لَهُ فِي أَوَّلِ دَفْعَةٍ، ٤ وَيَرَى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ، ٥ وَيُجَارُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، ٦ وَيَأْمَنُ مِنَ الْفَزَعِ الْأَكْبَرِ، ٧ وَيُوضَعُ عَلَى رَأْسِهِ تَاجُ الْوَقَارِ، ٨ الْيَاقُوتَةُ مِنْهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا، ٩ وَيُزَوَّجُ اثْنَتَيْنِ وَسَبْعِينَ زَوْجَةً مِنَ الْحُورِ الْعِينِ، ١٠ وَيُشَفَّعُ فِي سَبْعِينَ مِنْ أَقْرِبَائِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ١ او مقدام ابن معدي کرب ﷺ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ٢ د حق تعالى په نز د شهيد د پاره شپږ خصلتونه يعنى شپږ امتيازي انعامات دي ٣ ① د هغه مخکنى څل کې يعنى د هغه دويني مخکنى قطره غورځيدو سره بخښنه کيږي ٤ ② د هغه د ساه وتلو په وخت ورته په جنت کې خپله ټيکانه ښودل کيږي ٥ ③ هغه د قبر د عذاب څخه محفوظ وي ٦ ④ هغه د لوى ويرې يعنى د اور د عذاب څخه مامون وي ٧ ⑤ د هغه په سر به د عظمت او وقار تاج اېښودل کيږي ٨ چې د هغه يو ياقوت به د دنيا او د دنيا د ټولو څيزونو څخه ښه او قيمتي وي ٩ ⑥ د هغه ښځولي (زوجيت) کې به دغتو خوبصورت سترګو والا دوه اويا ٧٢ حوري ورکولي شي ١٠ او د هغه د عزيز او اقرباوو څخه به د اويا سړو په حق کې د هغه شفاعت قبلول کيږي

حل اللغات: ① دَفْعَةٍ: ساعت، ② مَقْعَدَهُ: ټکانه او ځاى دهغه، ③ يُجَارُ: محفوظ کولي شى. ④ الْفَزَعِ: لويه ويره. عذاب. ⑤ الْحُورِ الْعِينِ: غټو سترګو والا حورې.

تسهيلات:

قوله: يُغْفَرُ لَهُ فِي أَوَّلِ دَفْعَةٍ:

داول دفعة څخه مراد: په دال باندې زبر اوپيش دواړه راتلي شي. دَ شهيدد بدن نه دَ وينې رومبې څاڅکې چه په زمکه باندې پريوځي هغه مراد دي مطلب دا چه دغه دَ وينې رومبى څاڅکى په پريوتو سره شهيد معاف کيږى

قوله: وَيَرَى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ:

يو خصلت شماول: يعنى دَ ساه وتلو په وخت شيهدته په جنت کښې دَ هغه مقام خودلې شي. دا دواړه خصلتونه هم په يو خصلت کښې شميرل پکاردى دې دَپاره چه په حديث کښې دَ شپږ شمير په ځائى پاتې شى ګنى اووه خصلتونه به شى

[١]) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلى الله عليه وسلّم/ باب فى ثواب الشّهيد (رقم-١٦٦٣) و ابن ماجه فى كتاب الجهاد /باب فضل الشّهادة فى سبيل الله (رقم-٢٧٩٩)

قوله: وَيَأْمَنُ مِنَ الْفَزَعِ الْأَكْبَرِ:

د فزع اکبر په مصداق کښې څلور اقوال: دَ لوئې يرې سره دَ قرآن پاك دې آيت طرف ته اشاره ده ﴿ لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ ﴾

① دې څخه دَ قيامت نفخه آخره مراد ده

② دې څخه دَ جهنم عذاب مراد دې

③ دې څخه په اور باندې پيش كيدل مرا دې

④ دې څخه قبر عذاب مراد دې خودا قول كمزورې دې خكه چې هم په دې حديث كښې د عذاب قبرد عذاب څخه د حفاظت خپله مستقل ذكر موجود دې نوكه مونږ د فزع اكبر څخه عذاب قبر واخلو ،نودا به تكرار شي.

قوله: وَيُشَفَّعُ فِي سَبْعِينَ مِنْ أَقْرِبَائِهِ:

د اويا جهنميانو شفاعت كول: يعنى دَ خپلو رشته دارانونه به دَ اوياؤ داسې خلقو سفارش كوى دَ چا دَ پاره چه دَ دوزخ فيصله شوې وى.

[۳۸۲۵] په جهاد كښې په عدم شركت باندې عذاب

۳۸۳۵-[۲۷] ()[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] «مَنْ لَقِيَ اللَّهَ بِغَيْرِ أَثَرٍ مِنْ جِهَادٍ [۳] لَقِيَ اللَّهَ وَفِيهِ ثُلْمَةٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړى چې د الله جل جلاله په حضور كې په داسې حال كې حاضر شي چې په هغه د جهاد څه اثر نه وي [۳] نو هغه به گويا الله جل جلاله سره په داسې حال كې يوځاى شي چې دهغه دين به ناقص وي (ترمذي ابن ماجه)

حل اللغات: ① ثُلْمَةٌ: په ثاء باندې ضمه او لام ساكن دې نقصان او خلل ته وائى

تسهيلات:

قوله: مَنْ لَقِيَ اللَّهَ بِغَيْرِ أَثَرٍ مِنْ جِهَادٍ: دَ اثر نه مراد بدنى زخم هم كيدې شى چه ظاهرى اثر وى او ښكارى دغه شان دَدې نه معنوى اثر هم مراد كيدې شى چه دَ جهاد په لاره كښې دَ خاورو دوړو لګيدو سره جوړيږى يا په جهادكښې دَمال خرچ كولو سره اويا دَ نورو مشقتونو برداشت كولوسره حاصل شى بهرحال په يومسلمان باندې لازم دى چه دَ جهاد په وجه هغه ته دَ جهاد ظاهرى اومعنوى علامت حاصل شى چه دَهغه دَ ايمان دَ تكميل سندجوړشي.

---

[۱] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء فى فضل المرابط (رقم-۱۶۶۶) و ابن ماجه فى كتاب الجهاد/باب فضل الشهادة فى سبيل الله (رقم-۲۷۶۳)

قوله: لَقِيَ اللّٰهَ وَفِيهِ ثُلْمَةٌ يعنی د قيامت په ورځ که د يوسړی په بدن باندې د جهاد معنوی يا ظاهری علامت نه وی نود دغه سړی ايمان به ناقص پاتې وی. بعضې خلق وائی اول ايمان جوړکړئی بيا جهاد کوئی حالانکه داحديث ښائی چه د جهاد نه بغيرايمان نه جوړيږی

[۲۸۳۶] د شهيد د شهادت په وخت تکليف نه محسوسول

۲۸۳۶-[۳۸] (¹) ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «الشَّهِيدُ لَا يَجِدُ أَلَمَ الْقَتْلِ ③ إِلَّا كَمَا يَجِدُ أَحَدُكُمْ أَلَمَ الْقَرْصَةِ». ④ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

توجمه: ① او ابوهريره رضی الله عنه وايي چې رسول کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل ② شهيد د خپل قتل څخه وروسته دومره تکليف محسوسوي ③ څومره تکليف چې تاسو کې يوسړی د ميږي چيچلو باندې محسوسوي ④ (ترمذي نسائي دارمي) او ترمذي ويلي دي چې دا حديث حسن غريب دی

حل اللغات: ① أَلَمَ: تکليف، ② الْقَرْصَةِ: د ميږی چيچل. د ميږی چک

تسهيلات:

قوله: إِلَّا كَمَا يَجِدُ أَحَدُكُمْ أَلَمَ الْقَرْصَةِ: الم درد ته وائی اوقرصه د ميږی چك لگولوته وائی يا په دوو گوتو سره څکوندئی لگولوته وائی. مطلب دادې چه شهيد د شهادت د خوند د وجې نه دمرگ تکليف نه محسوسوی دا احتمال هم شته چه د آخرت د نعمتونو د مشاهدې د وجې نه هغه ته د مرگ تکليف لکه د ميږی د چك لگولو برابر معلوميږی. د ميږی په چك لگولوسره په بدن کښې خوږ خوږ درد محسوسيږی

[۲۸۳۷] الله تعالی ته خوښې دوه قطرې

۲۸۳۷-[۳۹] (²) ① وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② «لَيْسَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَى اللّٰهِ مِنْ قَطْرَتَيْنِ، وَأَثَرَيْنِ: ③ قَطْرَةُ دُمُوعٍ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ، ④ وَقَطْرَةُ دَمٍ تُهَرَاقُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ، ⑤ وَأَمَّا الْأَثَرَانِ: فَأَثَرٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ، ⑥ وَأَثَرٌ فِي فَرِيضَةٍ مِنْ فَرَائِضِ اللّٰهِ تَعَالَى». ⑦ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

(¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/ ما جاء فی فضل المرابط (رقم-۱۶۶۸) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب ما يجد الشهيد من الألم (رقم-۳۱۶۱) وابن ماجه فی کتاب الجهاد/باب التغليظ فی ترک الجهاد (رقم-۲۸۰۲)

(²) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/ ما جاء فی فضل المرابط (رقم-۱۶۶۹)

ترجمه: [۱] ابو امامه رضی الله عنه د نبي كريم ﷺ څخه روايت كوي [۲] د الله په نزد دوو قطرو او دوو نښو څخه زيات محبوب هيڅ څيز نشته [۳] ① يوخو د الله دخوف څخه د څڅيدلو اوښكو قطره ده [۴] ② او دويمه قطره دويني ده چې د الله په لار كې بهيدل شوي وي [۵] او دوو نښو څخه يوه نښه خو داده چې د الله په لاركي جوړه شوي وي [۶] او دويمه نښه هغه ده چې د الله تعالى د طرف څخه فرض شوى څيزونو كې د يوفرض شي په سلسله كې پيدا شوى وي [۷] امام ترمذي دا روايت نقل كړي دى او ويلي يي دي چې دا حديث حسن غريب دى

تسهيلات:

قوله: وَأَمَّا الْأَثَرَانِ: يو اثرخو دَ جهاد دَ عمل دي دَ كوم تفصيل چه تيرشوي دي. دويم اثر دَعبادت فرضيه دې چه په يخنئى كښې په عبادت سره خپې لاسونه چوى يا دَ سجدې په اندامونو باندې نښې جوړيږى يا دَ روژه دار دَخلې دَ خوشبوئى اثر ښكاره كيږى يا دَ حاجى په بدن دَ حج په دوران كښې دَ خاورو دوړو لګيدو اثر ښكارى دا دَ فرائضو اثر دې

[۳۸۳۸] دشرعى ضرورت نه بغير د بحري سفر ممانعت

۳۸۳۸—[۵۰] (۱) [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «لَا تَرْكَبِ الْبَحْرَ إِلَّا حَاجًّا، أَوْ مُعْتَمِرًا، أَوْ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ ; [۳] فَإِنَّ تَحْتَ الْبَحْرِ نَارًا، وَتَحْتَ النَّارِ بَحْرًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] عبد الله ابن عمرو رضی الله عنه وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] تاسو په اراده د حج يا عمري يا د الله په لار كې جهاد د پاره تلو څخه علاوه په سمندر كې سفر مه كوئ [۳] ځكه چې د سمندر لاندي اور دى او د اور لاندي سمندر دى

تسهيلات:

قوله: لَا تَرْكَبِ الْبَحْرَ: يعنى دَ حج عمرې او جهاد په غرض سره دَ سمندر سفر كوئى دې نه علاوه په سمندر كښې دَ سفر كوشش مه كوئى ځكه چه دَ سمندر لاندې اور دې. دا كلام يا خو په حقيقت باندې محمول دې چه واقعى دَ سمندر لاندې اور دې دكوم طرف ته چه په والبحر المسجور كښې اشاره موجود ده دَدغه اور لاندې بيا اوبه دى او بيا هوا ده دا ټول دَالله تعالى په قدرت باندې قائم دى يا دا په كلام په مجاز باندې محمول دى يعنى په سمندر كښې سختې خطرې موجود دى دَغرقيدو قوى امكانات دى لهذا دَ ضرورى سفرنه علاوه دَدې سفرنه دى كول پكار

بدريائے منافع بیشمار است — اگر خواہی سلامت بر کنار است

(۱) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الجهاد/باب فى ركوب البحر فى الغزو (رقم-۲۴۸۹)

[۳۸۳۹] په بحری سفر کښې د مړی دپاره د شهید درجه

۳۸۳۹—[۵۱] (۱) [۱] وَعَنْ أُمِّ حَرَامٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «الْمَائِدُ فِي الْبَحْرِ الَّذِي يُصِيبُهُ الْقَيْءُ لَهُ أَجْرُ شَهِيدٍ، [۳] وَالْغَرِيقُ لَهُ أَجْرُ شَهِيدَيْنِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] بي بي أم حرام ﷞ څخه روايت دی چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲] سمندر او سمندر کې چې د کوم سړي په سرچکر راځی او د هغه په وجه هغه قی ووهی نو هغه ته به ديوشهيد ثواب حاصليږی [۳] او کوم سړی چې د سفر په دوران کې سمندر کې غرق شی نو هغه ته به د دوو شهيدانو ثواب حاصليږي.

حل اللغات: ① الْمَائِدُ: مَادَ يَمِيْدُ نه اسم فاعل دې دَ سر چکر او سرتاويدل ② الْغَرِيْقُ: چه غرق شی. ډوب شی.

تسهيلات:

قوله: الْمَائِدُ فِي الْبَحْرِ الَّذِي يُصِيبُهُ الْقَيْءُ لَهُ أَجْرُ شَهِيدٍ:

په دينی غرض په سمندری سفر کښې د سر چکر راتلو ثواب: دَ سر چکر او سرتاويدو په معنی کښې دې په سمندرکښې داسې کيږی. دَ سمندردَ چپو او طوفانونودَ وجې داسې کيږی. بيا اولټئی کيږی دَ قی چه کوم قيددې دا اتفاقی دې که اولټئی وی اوکه نه وی مجاهدته دَ سمندرپه دې سفرکښې دا ثواب ملاويږی.

دَ حج اوعلم په سفرکښې هم داسې ثواب ملاويږی. ليکن دَتجارت په غرض چه کوم سفر وی په هغې کښې دا ثواب نشته دې.

[۳۸۴۰] په جهاد کښې هر مرګ موجب شهادت

۳۸۴۰—[۵۲] (۲) [۱] وَعَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۲] «مَنْ فَصَلَ فِي سَبِيلِ اللهِ، فَمَاتَ، أَوْ قُتِلَ، [۳] أَوْ وَقَصَهُ فَرَسُهُ، أَوْ بَعِيرُهُ، [۴] أَوْ لَدَغَتْهُ هَامَّةٌ، [۵] أَوْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ بِأَيِّ حَتْفٍ شَاءَ اللهُ، [۶] فَإِنَّهُ شَهِيدٌ، وَإِنَّ لَهُ الْجَنَّةَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] ابو مالك اشعري ﷛ وايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل [۲] چې کوم سړی چې د الله ﷻ په لار کې يعنی دجهاد په شان مقاصدو د پاره د کور څخه ووزی او د زخمي کيدو په وجه مړ شی يا هغه قتل شی [۳] يا د هغه آس يا د هغه اوښ هغه پښو کې ميده کړي [۴] يا څه زهريلا حيوان لکه مار وغيره يي وچيچی [۵] يا د څه بيماری په وجه ناځاپه د الله مرضی سره په خپله بستره باندې مړ شی [۶] نو هغه په هرصورت کې شهيد دی [يعنی يا خو هغه حقيقي شهيد دی يا د شهيد په حکم کې دی] او د هغه د پاره جنت

---

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد ، باب فضل الغزو فی البحر (رقم-۲۴۹۳)

(۲) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد /باب فيمن مات غازيا (رقم-۲۴۹۹)

دی (یعنی هغه به د ابتداء څخه شهیدانو او صالحانو سره په جنت کې داخلیږي) (ابوداؤد)

حل اللغات: ①فَصَلَ: جدا شي، اوځي. ②وَقَصَهُ: چه اس راګذارکړو سټ ئې ورله مات کړو. ③لَدَغَتْهُ: تِك ورکړو هغه ته، ④هَامَّةٌ: زهريلا ځناور، لکه مار لړم وغيره حشرات الارض. ⑤حَتْفِ: قدرتي مرګ ته حتف وائي.

تسهيلات:

قوله: فَمَاتَ، أَوْقُتِلَ، أَوْوَقَصَهُ فَرَسُهُ، أَوْبَعِيرُهُ...الخ:

د شهادت صورتونه:

په دې حديث کښې د شهادت مختلف صورتونه خودلې شوی دی.

① په جهاد کښې وتلی وی اوپه خپل مرګ مړشي.
② په جهاد کښې دکافر دلاسه شهيد شي.
③ اس يا اوښ ئې راغورځوی اومړشي.
④ په حشرات الارض کښې ئې څخه ضرری ځيزاوچيچی.
⑤ يا په سفرکښې بيمارشي اوخپله بستره مړشي.

نوپه دې ټولوصورتونوکښې دې شهيد دې اوجنت ته به داخليږي.

[۳۸٤۱] جهاد څخه کورته په واپس هم ثواب

۳۸٤۱ - [۵۳] ()[۱] وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ:[۲] قَفْلَةٌ كَغَزْوَةٍ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه:[۱] عبدالله ابن عمرو ﷺ څخه روايت دی چې رسول کريم ﷺ وفرمايل[۲] د جهاد څخه وروسته راتلل هم د جهاد په شان دی.

تسهيلات:

قوله: قَفْلَةٌ كَغَزْوَةٍ

دجهاد نه واپس راتلل جهاد ته د تګ پشان: دجهادنه په واپسئ ب ې چه کوم سړې کورته واپس کیږی هغه واپس کیدوته قفلة وئيلې شوی ده لکه چه د جهاددميدان نه اوځی ترکومې پورې چه کورته نه وی رسيدلې هغه وخته پورې هغه په جهادکښې شميرلې کيږی او ثواب ورته ملاويږی.

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب فی فضل القفل فی سبیل الله تعالی (رقم-۲٤۸۷) واحمد فی المسند: ۱۷٤/۲

[٣٨٤٢] مجاهد سره مالی معاون ته د دوو اجرونو ملاویدل

٣٨٤٢—[٥٤] (١) ١ وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ «لِلْغَازِي أَجْرُهُ، ٣ وَلِلْجَاعِلِ أَجْرُهُ وَأَجْرُ الْغَازِي». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ عبد الله ابن عمرو ﷛ وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل ٢ جهاد کونکي ته د هغه خپل اجر حاصلیږي [یعنی مجاهد د پاره چې د جهاد کوم مخصوص اجر دی هغه ورته پوره ورکولي شي] ٣ او جاعل یعنی مال ورکونکي ته د هغه خپل اجر هم ورکولي شي او د جهاد کونکی هم.

تسهیلات:

قوله: وَلِلْجَاعِلِ أَجْرُهُ وَأَجْرُ الْغَازِي:

د جاعل په تفسیر کښې دوه اقوال:

① جاعل هغه سړی ته وائی چه څوك یو غازی ته مال ورکړی او جهاد له ئی روان کړی

② لیکن ابن ملك ﷫ فرمائی چه د دې جاعل نه هغه سړې مراد دې چه مزدور په مزدوری سره جهاد باندې روان کړی او معاوضه ورکوی او پخپله د جهاد نه شاته پاتې کیږی

د دوه اجرونو ملاویدلو مطلب: دغه مذکوره کس ته دوچنده ثواب ملاویږی. یو د مال خرچ کولو او بل د غازی د جهاد کولو. خودلته دا خبره یاد ساتل پکار دی چې د غازی یو اجر به د دې کس د دوو اجرونو څخه د عزاز په اعتبار سره زیات وی دا دوچنده اجر داسې دې لکه څنګه چې نبی علیه السلام د هغه کس د پاره دوه اجرونه بیان کړی دې څوک چې قرآن پاک په سختۍ او تکلیف وائی اود ماهربالقرآن د پاره ئې یو اجربیان کړې دې هلته هم محدثین فرمائی چې د ماهر بالقرآن یو اجر به په سختۍ سره قرآن ویونکی څخه زیات وی

[٣٨٤٣] د اجرتی مجاهد حکم

٣٨٤٣—[٥٥] (٢) ١ وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، سَمِعَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ٢ «سَتُفْتَحُ عَلَيْكُمُ الْأَمْصَارُ، ٣ وَسَتَكُونُ جُنُودٌ مُجَنَّدَةٌ، ٤ يُقْطَعُ عَلَيْكُمْ فِيهَا بُعُوثٌ، ٥ فَيَكْرَهُ الرَّجُلُ الْبَعْثَ، فَيَتَخَلَّصُ مِنْ قَوْمِهِ، ٦ ثُمَّ يَتَصَفَّحُ الْقَبَائِلَ يَعْرِضُ نَفْسَهُ عَلَيْهِمْ، ٧ مَنْ أَكْفِيهِ بَعْثَ كَذَا، ٨ أَلَا وَذَلِكَ الْأَجِيرُ إِلَى آخِرِ قَطْرَةٍ مِنْ دَمِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ ابو ایوب ﷛ څخه روایت دی هغه د نبي کریم ﷺ څخه واوریدل ٢ چې دیر نزدې ستاسو د پاره به لوی لوی ښارونه فتح شي ٣ او د لښکر به جدا جدا جنډې وي ٤ چې په هغه کې به ستاسو د پاره فوجونه متعین شي ٥ نو کوم سړی چې امام [یعنی د

---

[1] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد /باب الرّخصة فی أخذ الجعائل (رقم-٢٥٢٦) واحمد فی المسند:٢/١٧٤

[2] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد /باب فی الجعائل فی الغزو (رقم-٢٥٢٥) واحمد فی المسند:٥/٤١٣

مملکت د سرباره] د طرف څخه خپل ځان بلا معاوضه فوج سره ملګرى په جهاد کې تلل ناخوښه کړي نو هغه به د خپل قوم څخه وتښتي چې په جهاد کې دتلو څخه بچ شي ⑥ او بیا نوري قبیلي تلاش کولو سره به ګرځي او د هغوی په مخکې خپل خدمات پیش کوي ⑦ او وايي به کوم سړی دی چې هغه زه داسې لښکر سره کفایت کړم [یعنی هغه څوك دی چې خما خدمات په اجرت سره حاصل کړي او مانوکر وساتي چې زه د هغه د طرف څخه لښکرته تلو سره د جنګ محنت او مشقت په خپله ذمه واخلم حاصل داچي هغه سړی به بغیر اجرت څخه خاص د الله ﷻ د خوشنودي د پاره جهاد کې تلو د پاره تیار نه وي حضور ﷺ د داسې سړي مذمت فرمايي] چې خبردار! هغه سړی به د خپلي ويني آخري قطري پوري مزدور وي [یعنی داسې سړی غازي یا مجاهد ګڼل غلط دي بلکه هغه به د کیرايي ټټووي چې د نورو د طرف څخه میدان جنګ کې جنګ کوي تردي چې قتل شي]

حل اللغات: ①الْأَمْصَارُ: د مصر جمع ده. ښارونه. ②مُجَنَّدَةٌ: ډلې ډلې کړې شوي. جدا جدا جنډې. ③بُعُوثٌ: فوځونه. ④يَتَصَفَّحُ: تلاش کړي. اولټوي. ⑤الْقَبَائِلَ: نورې قبیلې. مختلفې قبیلې

تسهیلات:

قوله: فَيَكْرَهُ الرَّجُلُ الْبَعْثَ:

د یو مجاهد دعدم اجر بیان: یعنی دلښکرامیرچه کله تاسونه یوه ډله جداکړی اود دښمن طرف ته ئې روانه کړی نویوسړي به دغه تلل نه خوښوی بلکه د اجرت اومزدورئی دپاره به جدا شي اوبیابه خپل ځان قبائلوته پیش کړی چه ما لره به په مزدورئی اومعاوضه باندي د لیږلودپاره څوك تیاروی چه زه دهغه د طرف نه کافی شم اوهغه زما دکورخرچې برداشت کړی اوزه دهغه د طرف نه جهادله لاړشم فرمائی چه دي به د آخری قطرې د وينې پورې هم مزدوروی د جهاد ثواب به ورته نه ملاويږی

په اجرت باندي د جهاد کولوحکم: د مالکیه اواحنافو په نیزباندي په اجرت باندي جهادکول جائزدی مګر د شوافع په نیزبالکل منع دی زیر بحث حدیث د شوافع په حق کښې دي

[۳۸۴۴] په اجرت باندي جهادته د تلو مسئله

۳۸۴۳-[۵۲] (¹) ①وَعَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ②«آذَنَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِالْغَزْوِ③ وَأَنَا شَيْخٌ كَبِيرٌ لَيْسَ لِي خَادِمٌ،④ فَالْتَمَسْتُ أَجِيرًا يَكْفِينِي،⑤ فَوَجَدْتُ رَجُلًا سَمَّيْتُ لَهُ ثَلَاثَةَ دَنَانِيرَ⑥ فَلَمَّا حَضَرَتْ غَنِيمَةٌ،⑦ أَرَدْتُ أَنْ أُجْرِيَ لَهُ سَهْمَهُ،⑧ فَجِئْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَذَكَرْتُ لَهُ.⑨ فَقَالَ: "مَا أَجِدُ لَهُ فِي غَزْوَتِهِ هَذِهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ إِلَّا دَنَانِيرَهُ الَّتِي تَسَمَّى» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

¹) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الجهاد /باب فی الرّجل یغزو بأجر الخدمة (رقم-۲۵۲۷) واحمد فی المسند: ۲۲۳/۴

ترجمه: [۱] او یعلی رضي الله عنه ابن امیه وایي [۲] په یوه موقع رسول کریم ﷺ خلق جهاد ته د تلو د پاره اګاه کړل [۳] زه بوډا وم او زماسره څوك خادم نه وو [۴] څکه ماڅوك داسې مزدور تلاش کی چې د جهاد په دوران کې څما خدمت وشي [۵] نو ماته یوسړی حاصل شو چې د هغه اجرت دري دیناره ما مقرر کړه [۶] بیا [د جهاد څخه فراغت څخه وروسته] هرکله چې مال غنیمت راغلو [۷] نو ما اراده وکړه چې د مال غنیمت څخه د هغه سړي هم حصه ورکړم [۸] او [په دي باره کې مسئله معلومولو د پاره] د نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر شوم او صورت حال مي ورته بیان کی [۹] حضور ﷺ وفرمایل ماته د شریعت په حکم کې د دې سړي د پاره د دې جهاد د تعلق څخه په دنیا او آخرت کې علاوه د دې دینارو څخه چې متعین شوي دي بل هیڅ څیز نه حاصلیږي. (ابوداؤد)

تسهیلات:

قوله: إِلَّادَنَانِيرَهُ یعنی دغه أجرتی مجاهدته به دَمتعین دنانیرو نه سوا هیڅ هم نه ملاویږی

اجرتی غازی ته په مال غنیمت کښې د حصې په ملاویدو کښې ۳ مذاهب:

① امام اوزاعی رحمه الله او اسحاق بن راهویه رحمه الله او په یوقول کښې امام شافعی رحمه الله فرمائی چه دا سړې مزدور دې که په میدان جهاد کښې اوجنګیږی او که اونه جنګیږی ده ته به دَ مال غنیمت نه هیڅ نه ملاویږی.

② امام مالك رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی چه دې سړی ته به په هرحال کښې حصه ورکولې شی. دَ احنافو دَ اصول او قواعدوهم دغه تقاضاده

③ بعضې علماؤ دا لار اختیار کړې ده چه دې سړی ته اختیاردې چه دَمزدورئی پیسې اخلی او که دا پریږدی په مال غنیمت کښې حصه اخلی

دلائل: ظاهری احادیث دَ شوافع په حق کښې دی

[۲۸۴۵] په د نیاوی غرض سره په جهاد عدم ثواب

۳۸۴۵-[۵۷] (١) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، «أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! [۲] رَجُلٌ يُرِيدُ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَهُوَ يَبْتَغِي عَرَضًا مِنَ الدُّنْيَا؟ [۳] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "لَا أَجْرَ لَهُ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی یوسړي عرض اوکړو یا رسول الله [۲] یوسړی د الله په لار کې د جهاد کولو اراده لري حالانکه هغه د دې جهاد په ذریعه د مال او اسباب خواهشمند دی [۳] رسول کریم ﷺ وفرمایل د هغه په نصیب کې ثواب نشته (ابوداود)

حل اللغات: ① عَرَضًا: مال او اسباب.

---

(١) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد /باب فی من يغزو ويلتمس الدنيا (رقم-۲۵۱۶) واحمد فی المسند:۲/۲۹۰

تسهیلات:

قوله: وَهُوَ يَبْتَغِي عَرَضًا دنیاوی سازوسامان ته عرض وئیلې شوې دې یعنی چه کوم سړې په خالص نیت او دَ اعلاء کلمة الله په غرض نه بلکه دَدنیاوی مال او اسباب دَپاره جهاد کوی نوهغه دَ آخرت دَ ثواب نه محرومیږی. ښکاره خبره ده چه کله یوسړې دومره لوئی جهاد دومره دَ سپکې دنیادَپاره کوی او پخپله هم په زړه کښې دَثواب نیت نه کوی نوولې خپل په خپله به هغه پوره ثواب اونخلی؟ داسې به هیڅ کله نه کیږی. دَدې حدیث په رڼا کښې دَمسلمانانو ملکونو فوجونه که صرف دَ مزدورئی په غرض سره په فوج کښې بهرتی کیږی نوهغوی ته به هم څه ثواب نه ملاویږی.

[۲۸٤٦] د حقیقي جهاد تعریف

۲۸٤٦—[۵۸] ()[۱] وَعَنْ مُعَاذٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -:[۲] " «الْغَزْوُ غَزْوَانِ،[۳] فَأَمَّا مَنِ ابْتَغَى وَجْهَ اللّٰهِ، وَأَطَاعَ الْإِمَامَ،[٤] وَأَنْفَقَ الْكَرِيمَةَ، وَيَاسَرَ الشَّرِيكَ،[۵] وَاجْتَنَبَ الْفَسَادَ؛ [٦] فَإِنَّ نَوْمَهُ وَنَبْهَهُ أَجْرٌ كُلُّهُ.[۷] وَأَمَّا مَنْ غَزَا فَخْرًا، وَرِيَاءً، وَسُمْعَةً،[۸] وَعَصَى الْإِمَامَ، وَأَفْسَدَ فِي الْأَرْضِ،[۹] فَإِنَّهُ لَمْ يَرْجِعْ بِالْكَفَافِ» ". رَوَاهُ مَالِكٌ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت معاذ رضي الله عنه وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲] جهاد په دوه قسمه دی [۳] کوم سړی چې د مولی رضاطلب کولو د پاره په جهاد کې شرکت اوکړو د امام [یعنی سربراه مملکت او قانون حکومت اسلامي] اطاعت یي اوکړو[٤] خپل پاك مال او پاك ځان یي د الله په لار کې صرف کی او دخپل شریك کار سره یي ښه معامله وساتله[۵] او فتنه او فساد څخه بچ کیدلو [یعنی لوټ مار کولو فساد خورولو او د خیانت کولو په ذریعه حدود شریعت څخه تجاوز اونکړی][٦] نو د هغه خوب او د هغه ویښه ټول د اجر او ثواب موجب دی [۷] او کوم سړی چې بطریق فخر یعنی ناموري او ښودني او آورولو د پاره جهاد وکړو[۸] او د امام نافرماني یي وکړه او د زمکي په مخ یي فتنه او فساد خورکړو[۹] نو هغه به څه بدله اخستو سره واپس نه راځي یعنی داسې جهادونه، نه خو د هغه ګناه بخښل کیږي او نه هغه ته څه ثواب حاصلیږي (مالك ابوداود نسائي)

حل اللغات: ① يَاسَرَ: ښه معامله او نرمی ئې اوساتله. ② الشَّرِيكَ: شریکوال. شریک کار. ③ نَبْهَهُ: بیدار. ویښه دهغه. ④ سُمْعَةً: آورولو او شهرت دپاره، ⑤ الْكَفَافِ: برابری،

[1]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب فی من یغزو ویلتمس الدنیا (رقم-۲۵۱۵) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب: فضل الصدقة فی سبیل الله عزّ وجلّ (رقم-۳۱۸۸) ومالک فی الموطا کتاب الجهاد/باب الترغیب فی الجهاد (رقم-٤۳) واحمد فی المسند:۵/۲۳٤

تسهیلات:

قوله: وَأَنْفَقَ الْكَرِيمَةَ یعنی په جهاد کښې ئی خپل ښه قیمتی مال خرچ کړو
قوله: وَعَصَى الْإِمَامَ یعنی دَ وخت دَامیرالمؤمنین نافرمانی هم کوی اودَخپل جهادی امیرهم نافرمانی کوی هروخت فسادکوی او پروپیګنډې کوی
قوله: فَإِنَّهُ لَمْ يَرْجِعْ بِالْكَفَافِ یعنی داسړې به برابر اوسالم نه واپس کیږی چه نه ګناه وی اونه ثواب وی بلکه دې به ګناه سره راواپس کیږی اوکه چرې دَ کفاف نه ثواب مرادواخستې شی نومطلب به داشی چه دا سړې به ثواب ګټلو سره نه واپس کیږی

[۲۸٤۷] دشهرت په غرض مجاهد دپاره عذاب

٣٨٤٧–[٥٩] ()[١] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّهُ قَالَ: [٢] «يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَخْبِرْنِي عَنِ الْجِهَادِ، [٣] فَقَالَ: "يَا عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عَمْرٍو! إِنْ قَاتَلْتَ صَابِرًا مُحْتَسِبًا ;[٤] بَعَثَكَ اللّٰهُ صَابِرًا مُحْتَسِبًا. [٥] وَإِنْ قَاتَلْتَ مُرَائِيًا مُكَاثِرًا ;[٦] بَعَثَكَ اللّٰهُ مُرَائِيًا مُكَاثِرًا. [٧] يَا عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عَمْرٍو! عَلَى أَيِّ حَالٍ قَاتَلْتَ، أَوْ قُتِلْتَ ;[٨] بَعَثَكَ اللّٰهُ عَلَى تِلْكَ الْحَالِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] عبدالله رضي الله عنه ابن عمرو ابن عاص څخه روایت دی هغه عرض اوکړو[٢] یا رسول الله ماته د جهاد په باره کې ونبایه (په کوم قسم جهاد د ثواب موجب دی)[٣] حضور ﷺ وفرمائیل عبدالله ابن عمرو! که ته داسې حال کې جنګ وکړې چې صبر کونکی او ثواب غوښتونکی یې [٤] نو الله ﷻ به تا د قیامت په ورځ صبر کونکی او ثواب غوښتونکی راپورته کوي (یعنی ته چې څنګه دې صفات سره جهاد کویاو په دې صفاتو مړ شې دغه شان الله ﷻ به تادې صفات سره ولاړ وي او تاته به د هغه ثواب درکړي څنګه چې په یو روایت کې دی كَمَا تَعِيشُونَ تَمُوتُونَ وَكَمَا تَمُوتُونَ تُحْشَرُونَ یعنی تاسو چې په کوم حالت کې ژوند تیروي په هغه حالت به مړه کیږي او په کوم حالت چې مړي په هغه به راپاڅي)[٥] او که تاسو د نمائش نیت سره او خپل زور ښودلو د پاره جنګ کوئ (یعنی که تاسو په خلقو کې د فخر کولو د پاره جنګ کوي چې زه مال طاقت او د لښکرو په اعتبار سره ستاسو څخه زیات یم او د جهاد د حکم اتباع کې ستاسو څخه زیات کونکی یم)[٦] نو الله ﷻ به تا د قیامت په ورځ نمائش کونکی او زور ښونکی ولاړ وي (یعنی په میدان حشر کې به ستا په باره کې اعلان کیږي چې داسړی هغه څوك دی چې د نمائش په نیت او فخر کولو او زیات مال ومنال حاصلولو د پاره جنګیدلی وو)[٧] اې عبدالله ابن عمرو یاد لره ته چې په کوم حال کې جنګ کوي یا کوم حال کې وژل کیږي [٨] الله ﷻ به تا په هغه حال کې اوچتوي (ابوداود)

[١]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد /باب فی الرّجل یموت بسلاحه (رقم-٢٥٣٩)

حل اللغات: ① مُحْتَسِبًا: ثواب غوښتونکي، ② مُرَائِيًا: ریا کونکې. ③ مُکَاثِرًا: زور او طاقت ښودل. لوئی او بهادری ذباتل.

تسهیلات:

قوله: مُحْتَسِبًا دَ ثواب په نیت کارکولوته وائی.

قوله: بَعَثَكَ اللّٰهُ په قیامت کښې دَ اوچتولو په معنی کښې دې.

قوله: مُرَائِيًا ریاکارئی اوخان خودلوته وائی.

قوله: مُکَاثِرًا خپل صفتونه کولو او ضباتلو په غرض چه یو کار اوکړې شی اودَ خپل لوئی والی دَ ښکاره کولودپاره چه کوم کار اوکړې شی دهغې دَپاره مکاثر لفظ وئیلې شی شارحینو حدیث دَمکاثرمطلب دَمال زیاتول هم اخستی دی چه صرف دَمال دَ جمع کولو دَپاره جنګیږی. دا مطلب زیات واضح دې.

[۳۸٤۸] د سرکشه امیر د معزول کولو جواز

٣٨٤٨-[٦٠] (¹) ① وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ: ② "«أَعَجَزْتُمْ إِذَا بَعَثْتُ رَجُلًا فَلَمْ يَمْضِ لِأَمْرِي ③ أَنْ تَجْعَلُوا مَكَانَهُ مَنْ يَمْضِي لِأَمْرِي»؟". ④ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. وَذُكِرَ حَدِيثُ فَضَالَةَ: "«وَالْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ»". فِي كِتَابِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: ① عقبه رضي الله عنه ابن مالك د نبي کریم ﷺ څخه نقل کوي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل ② آیا تاسو د دې څخه عاجزه یئ چې هرکله زه یوسړی ستاسو حاکم او امیر جوړولو سره ولیږم او هغه څما د حکم فرمانبر داري نه کوي [یعنی هغه څما د څه حکم مخالفت وکړي نو تاسو هغه معزول (لري) کی!] ③ او د هغه په ځای څوك دويم داسې سړی مقرر کړی چې څما مفوضه کار آنجام کړي. ④ (ابوداود)

حل اللغات: ① فَلَمْ يَمْضِ: زما حکم نه منی، تابعداری نه کوی.

تسهیلات:

قوله: فَلَمْ يَمْضِ لِأَمْرِي

د مذکوره جملې مطلب: یعنی چه زما حکم نه منی نوته دغه امیر معزول کړه او داسې امیر مقررکړه چه زما حکم نافذ کوی لکه چه حضورپاك فرمائی مثلاً ما یو امیر مقرر کړو مګر هغه وړاندې تلوسره خودسره شو اودَ شر مجموعه شوه. زمادَ خودلې شوو قوانین په ځائی خپله لار متعین کوی اوخپل قانون جوړولوسره تګ کوی نوته هغه معزول کړه.

¹) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الجهاد/باب فیمن یسلم ویقتل مکانه فی سبیل الله عزّ وجلّ (رقم-٢٥٣٧)واحمد فی المسند: ١١٠/٤ .

د نا اهل حاکم د معزوله کولو صورتونه: ① ملاعلی قاری رحمه الله لیکی چه که یوحاکم دَ رعیت په مال باندې تجاوزکوی اودَهغه په اخوا کولو سره جنگ اوجدل او فتنې خوریدو خطره وی نو داسې حاکم مه چیړئی بلکه پریږدئی ئی

② خوکه یوحاکم خلقو لره وژنی عوام اوخواص قتل کوی نوکه دَهغه معزول کولواو قتلولوکښې دَ ډیر جنگ جگړې خطره ده نوهغه دې پریخودې شی اوکه په معزول کولواو قتلولو کښې دَ خونریزئی کمه خطره اوباقی ساتلوکښې دَ زیاتې تباهئی خطره ده نوبیا هغه اودَ هغه دَ پارټئی خلق قتلول جائزدی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۸۴۹] په اسلام کښې د رهبانیت عدم جواز

۳۸۴۹-[۶۱] ()[۱] ① عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي سَرِيَّةٍ، ③ فَمَرَّ رَجُلٌ بِغَارٍ فِيهِ شَيْءٌ مِنْ مَاءٍ وَبَقْلٍ، ④ فَحَدَّثَ نَفْسَهُ بِأَنْ يُقِيمَ فِيهِ وَيَتَخَلَّى مِنَ الدُّنْيَا، ⑤ فَاسْتَأْذَنَ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي ذَلِكَ. ⑥ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "إِنِّي لَمْ أُبْعَثْ بِالْيَهُودِيَّةِ، وَلَا بِالنَّصْرَانِيَّةِ،

ترجمه: ① ابو امامه رضی الله عنه وایي ② یو وخت مونږ د نبي کریم ﷺ سره په یولښکر کې ووتو ③ د سفر په دوران کې هرکله چې په مونږ کې یوسړی د یو داسې غار وادي په مینځ کې تیر شو چې په هغه کې څه اوبه او سبزه وه ④ نو هغه په خپل زړه کې سوچ وکړو چې هغه په خپله دي غارکي پاتې شي او د دنیا څخه کناره کشي وکړي ⑤ هغه په دي باره کې د رسول کریم ﷺ څخه اجازت وغوښتله ⑥ حضور ﷺ ورته وفرمایل یاد لره نه خو زه دین یهودیت ورکولو سره دي دنیاته رالیږل شوی یم او نه دین عیسائیت ورکولو سره چې زه تاسو خلقوته د رهبانیت تعلیم درکړم بي ځایه مشقت او تکلیف کې مو مبتلا کړم او د خلقو سره د اوسیدو او د دنیا د لذتونو څخه مطلقًا د کناره کشي اجازت درکوم

حل اللغات: ① بَقْلٍ: سبزه. شنه گیا وابنه.

① وَلَكِنِّي بُعِثْتُ بِالْحَنِيفِيَّةِ السَّمْحَةِ، ② وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ ③ لَغَدْوَةٌ، أَوْ رَوْحَةٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ، خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا، ④ وَلَمَقَامُ أَحَدِكُمْ فِي الصَّفِّ ⑤ خَيْرٌ مِنْ صَلَاتِهِ سِتِّينَ سَنَةً». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ① بلکه زه خو دین حنیفیه درکولو د پاره رالیږل شوی یم چې یو آسانه دین دی [چې په هغه کې نه د انسانیت عامه د پاره بي ځایه تکلیف او حرج دی او نه د ضرورت څخه زیات مشقت او محنت دی قسم دی ② په هغه ذات پاك چې د هغه په قبضه کې د

[۱]) اخرجه احمد فی المسند: ۵/۲۶۶

محمد ﷺ ساه ده ③ د ورځي صرف ابتدايي يا آخري حصه کې يعنې سحر او مابنام د الله لار يعنې جهاد کې تلل ددنيا او مافيها د ټول څيزونو ښه ښه دى ④ او په تاسو کې د چا په ميدانِ جنګ کې د جماعت د مونځ په صف کې دريدل ⑤ د هغه د شپيته کاله ځان ته کولو مونځ ښه ښه دى.

حل اللغات: ②بِالْحَنِيفِيَّةِ: داد حنفاء طرف ته منسوب دې دين توحيدمراددي ③ السَّمْحَةِ: داد آسان اوواضح په معنى کښې دې ④لَغَدْوَةٌ: بالفتح– معنى ده، د سحر وخت يوخل راوتل او "غدو" لفظ د سحر نه تر زوال پورې وخت شامل دې. ⑤رَوْحَةٌ: بالفتح– معنى ده يو خل مابنام راوتل او "رواح" لفظ د زوال نه پس تر شپې پورې وخت شامل دې.

تسهيلات:

قوله: إِنِّي لَمْ أُبْعَثْ بِالْيَهُودِيَّةِ، وَلَا بِالنَّصْرَانِيَّةِ: يعنې جهاد پريخودل او په غارونوکښې کيناستل او رهبانيت اختيارولوسره په عبادت کښې لګيا کيدل اود عامې معاشرې نه ځان له جدا کيدوسره دَدرويش جوړيدو په اسلام کښې ګنجائش نشته دې بلکه دَدې دين لوئى عبادت د جنګ ميدان دې د دې مونږکى د شپې راهبان او د ورځې شهسواران وى

کھایا ہے ہمیں اے دوست طیبہ کے والی ﷺ نے
کہ بوجہلوں سے ٹکرا کرا بھرنا عین ایمان ہے
جہاں باطل مقابل ہو وہاں نوک سناں سے بھی
برائے دینِ اسلام رقص کرنا عین ایمان ہے

قوله: وَلٰكِنِّي بُعِثْتُ بِالْحَنِيفِيَّةِ السَّمْحَةِ:

يعنې زما رب زه په دين توحيدباندې راليږلې يم چه دټولو نه آسان دين دې په کوم کښې چه د يهودو اونصارى په شان بې ځايه تشدد نشته دې اونه څه داسې مشقت دې چه ناقابل برداشت وى.

[۳۸۵۰] په جهاد کښې د نيت د اخلاص آخري درجه

۳۸۵۰–[۱۲] (¹) ①وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "② «مَنْ غَزَا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَلَمْ يَنْوِ إِلَّا عِقَالًا فَلَهُ مَا نَوَى»". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ①عباده ابن صامت ﷺ وايې چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ② چا چې د يوې رسى دحاصلولو په نيت هم دالله په لارکې جهاد وکړو نو هغه ته به هغه څيز حاصليږي د څه چې يې نيت کړي دى. (نسائي)

حل اللغات: ①عِقَالًا: رسئ، پړي،

¹) اخرجه النسائي في السنن كتاب الجهاد/باب: من غزا في سبيل الله ولم ينو من غزاته إلّا عقالا (رقم-۳۱۳۸) واحمد في المسند: ۵/۳۱۵

تسهيلات:

قوله: مَنْ غَزَا فِي سَبِيلِ اللهِ وَلَمْ يَنْوِ إِلَّا عِقَالًا فَلَهُ مَا نَوَى، أي تحصيله هو حبل صغير يشدّ به ركبة البعير لئلا يفر.
يعني هغه وړوكي پړي كوم سره چه اوښ ترلې شي ددې دپاره چه اوښ اونه تښتي او د حديث حاصل دا شو چه د يو كس نيت دا وي چه ماته به په مال غنيمت كښي كم نه كم د اوښ ترولو پړي ملاوشي نو دا نيت يي اګرچه ډير معمولي دې چونكه نيت ئې خالص نه دې نو ددې وجهې نه به ده ته دجهاد ثواب نه ملاويږي او دغه شان كه شهرت ئې مقصود وي نو بيا به هم هغه ثواب نه ملاويږي

قوله: عِقَالًا رسئ ته په عربي كښې عقال وائي يعني كه په جهاد كښې يو سړي دَ يوې رسئ هم نيت اوكړو نوهم هغه رسئ به ورته ملاويږي ثواب به ورته نه ملاويږي علماء كرام فرمائي چه دا په جهاد كښي دَ اخلاص آخري حد اودَ تقوي آخري مقام اوخودلي شو چه د معمولي نه معمولي څيز نيت هم په جهاد كښي پاكيزه عمل سره شامل نه وي خوكه يو سړي جهاد سره دَ مال نيت هم لري نو په دې سره به دَ جهاد ثواب نه باطل كيږي اوشرعًا داسې نيت كول جائزدي. بلكه علماء كرامو ليكلي دي چه كه يو سړي رياكارئ سره جهاد كوي په دې كښي به هم دَ جهادټول عمل نه ضائع كيږي سره دَدې چه رياكاري بې كاره ده بهرحال يودَتقوىٰ مقام دې او بل دَ فتوىٰ مقام دې فرق ذهن كښي ساتل پكاردي

[۲۸۵۱] په جهاد سره د درجاتو پورته كيدل

[۲۳] (¹) ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② " مَنْ رَضِيَ بِاللهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، ③ وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا، وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ ". ④ فَعَجِبَ لَهَا أَبُو سَعِيدٍ. فَقَالَ: ⑤ أَعِدْهَا عَلَيَّ يَا رَسُولَ اللهِ! فَأَعَادَهَا عَلَيْهِ، ⑥ ثُمَّ قَالَ: " وَأُخْرَى يَرْفَعُ اللهُ بِهَا الْعَبْدَ مِائَةَ دَرَجَةٍ فِي الْجَنَّةِ، ⑦ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ".

ترجمه: ① ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ② كوم سړی چې دالله رب كيدو باندې د اسلام دين حق كيدو باندې ③ او د محمد ﷺ رسول كيدو باندې راضي شو ايعني په زړه سره يې داټول ومنل) نو د هغه د پاره جنت واجب شو ④ ابو سعيد رضي الله عنه چې دا ارشاد واوريدی نو هغه ته ډېر تعجب وشو هغه عرض اوكړو ⑤ يارسول الله! دا كلمات يو ځل بيا ځما په مخكې ارشاد وفرمايه حضور ﷺ د هغه په مخكې دا كلمات بيا ارشاد كړلي ⑥ بيا يې وفرمايل يوشی بل دی چې د هغه په سبب

¹) اخرجه مسلم في كتاب الإمارة/باب بيان ما أعدّه الله تعالى للمجاهد في الجنّة من الدّرجات (رقم-١١٦ - (١٨٨٤) والنسائي في كتاب الجهاد/باب: درجة المجاهد في سبيل الله عزّ وجلّ (رقم-٣١٣١)

الله ﷻ په جنت کې بنده د سل درجې په بلندۍ رسوي [۷] او په هغه کې د هر دواړو درجو په مينځ کې دومره فاصله ده څومره چې د آسمان او زمکې په مينځ کې ده

[۱] قَالَ: وَمَا هِيَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ [۲] قَالَ: "الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] ابو سعيد رضي الله عنه عرض اوکړو [۲] يارسول الله! هغه څه څيز دی وي فرمايل هغه د الله په لار کې جهاد کول دي هغه د الله په لار کې جهاد کول دي هغه د الله په لار کې جهاد کول دي (مسلم)

تسهيلات:

قوله وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ:

په وجبت له الجنة کښې د ماضي په راوړلو کښې دوه وجوهات:

① په وجبت کښې ئې د ماضي صيغه ددې دپاره راوړله چې ده جنت ته داخليدل داسې يقيني دی لکه څنګه چې په ماضي کښې يو کارشوې وی او خلقوته د هغې علم وی

② په وجبت کښې ئې د ماضي صيغه دې دپاره راوړله چې دنيا به هم ده دپاره دالله تعالى سره د تعلق او محبت په وجه جنت اوګرځی او د عقبى جنت کيدل خوښکاره خبره ده

قوله وَأُخْرَى يَرْفَعُ اللَّهُ بِهَا الْعَبْدَ:

د اخرى کلمې په موصوف کښې درې احتمالات:

① يعنې اوبله کلمه دا ده

② يعنې اوبله فائده دا ده.

③ يعنې او بله د تعجب خبره دا ده

[۲۸۵۲] جنت د تورو د سيورې د لاندې

۲۸۵۲–[۶۳] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«إِنَّ أَبْوَابَ الْجَنَّةِ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوفِ". [۳] فَقَامَ رَجُلٌ رَثُّ الْهَيْئَةِ [۴] فَقَالَ: يَا أَبَا مُوسَى! أَنْتَ سَمِعْتَ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ هَذَا؟ قَالَ: نَعَمْ. [۵] فَرَجَعَ إِلَى أَصْحَابِهِ، فَقَالَ: أَقْرَأُ عَلَيْكُمُ السَّلَامَ [۶] ثُمَّ كَسَرَ جَفْنَ سَيْفِهِ، فَأَلْقَاهُ، [۷] ثُمَّ مَشَى بِسَيْفِهِ إِلَى الْعَدُوِّ فَضَرَبَ بِهِ حَتَّى قُتِلَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضرت ابو موسى رضي الله عنه څخه روايت دی هغه په يو مجلس کې دابيان وکړو چې رسول کريم ﷺ فرمايلي دي [۲] د جنت دروازې د تورو په سورې کې دي [۳] په دې اوريدو سره يو خسته حال سړی اودريدلو [۴] او هغه اوويل اې ابوموسى' آيا تا د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي يعنى د رسول الله ﷺ څخه ستا دا اوريدل د يقين په طور دی هغه

[۱] اخرجه مسلم فى صحيح رقم الحديث ۱۹۰۲، ۱۴۶ والترمذى رقم الحديث ۱۶۵۹. واحمد فى المسند ۴/ ۳۹۶

اوویل هو[۵] په دي اوریدو سره هغه سرې خپلو ملګرو طرف ته تاؤ شو او هغه اوویل زه تاسو ته آخري سلام کوم [۶] بیا هغه د خپلې توري تیکی ماتولو سره او غورځولي [یعني د دې په ذریعه هغه د خپلي ارادي اظهار وکړو چې اوس به زه واپس نه راځم [۷] یعني خپله توره آخستو سره دښمنانو طرف ته روان شو او د هغوی سره وجنګیدلو تردي چې شهید شو. (مسلم)

حل اللغات: ①ظِلَالِ: سیوري، ②رَثُّ الْهَيْئَةِ: شلیدلې زړې جامې او خیرن ګډوډ ویښته اودَخراب حال صورت ③كَسَرَ: مات کړی ④جَفْنَ سَيْفِهِ: دَتورې تیکی (قاش) ته وائی

تسهیلات:

قوله: تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوفِ

د تحت ظلال السیوف په مفهوم کښې دوه اقوال: دَدې جملې دوه مفهوم دی

① مجاهد کله دَ یو کافر په سرباندې دَ وهلو دَپاره توره اوچتوی او سورې په کافرباندې پریوځی نودَهغې لاندې جنت دې ځکه چه دَ کافرپه وژلوبه ثواب حاصلیږی کوم چه به موجب جنت جوړیږی.

② چه کله یو کافردَمسلمان په سرباندې دَ وهلودَپاره توره اوچتوی اودَتورې سورې په مسلمان باندې راځی نودَ دغه سوری لاندې جنت دې ځکه چه مسلمان ته به شهادت ملاویږی کوم چه دَجنت سبب دې. دلته دَابواب په لفظ سره اشاره کیږی چه مجاهد چرته هم وی هم دَ جنت په لار به وی.

[۲۸۵۲] داحد دشهیدانو په باره کښې زیري

۲۸۵۲—[۶۵] (¹)[۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ لِأَصْحَابِهِ: [۲] " إِنَّهُ لَمَّا أُصِيبَ إِخْوَانُكُمْ يَوْمَ أُحُدٍ، [۳] جَعَلَ اللَّهُ أَرْوَاحَهُمْ فِي جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ، [۴] تَرِدُ أَنْهَارَ الْجَنَّةِ تَأْكُلُ مِنْ ثِمَارِهَا، [۵] وَتَأْوِي إِلَى قَنَادِيلَ مِنْ ذَهَبٍ مُعَلَّقَةٍ فِي ظِلِّ الْعَرْشِ، [۶] فَلَمَّا وَجَدُوا مَأْكَلَهُمْ وَمَأْثَرَهُمْ، وَمَقِيلَهُمْ.

ترجمه: [۱] حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې رسول کريم ﷺ خپلو صحابه رضي الله عنهم ته وفرمایل [۲] هرکله چې ستاسوورونه په احد غزاکي شهیدان شول [۳] نو الله ﷻ د هغوی روحونه دشین رنګ د مرغانو قالب کې منتقل کړل [۴] نو هغه روحونه د هغه مرغانو په قالب کې د جنت نهرونو ته راځي چې د هغه میوي خوري [۵] او بیا د هغه سوني قندیلونو کې اوسیږي کوم چې د عرش په سوري کې زوړند دي [۶] هرکله چې هغه روحونو د خپل خوراك څښاك او استوګني لطف اندوزي پیدا کړه

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب فی فضل الشهادة (رقم-۲۵۲۰) واحمد فی السند: ۱/۲۶۶

حل اللغات: ①جَوْف: خیټه (قالب)، ②تَرِدُ: وارديږی، څی راځي، ③قَنَادِيلَ: فانوسونه، ④مَأْكَلِهِمْ: خوراکونه ځيل، ⑤مَأْثَرِهِمْ: د استوګنې ځايونه ځيل، ⑥وَمَقِيلِهِمْ: د اوده کيدو او څملاستلو ځايونه ځيل

[۱] قَالُوا: مَنْ يُبَلِّغُ إِخْوَانَنَا عَنَّا أَنَّا أَحْيَاءٌ فِي الْجَنَّةِ [۲] لِئَلَّا يَزْهَدُوا فِي الْجَنَّةِ [۳] وَلَا يَنْكُلُوا عِنْدَ الْحَرْبِ. [۴] قَالَ اللهُ تَعَالَى: أَنَا أُبَلِّغُهُمْ عَنْكُمْ [۵] فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى: ﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ﴾ [آل عمران: ۱۶۹] إِلَى آخِرِ الْآيَاتِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] نو هغوی اوويل څوك شته چې زمونږ د طرف څخه زمونږ ورونړو ته داپيغام ورسوي چې مونږ په جنت کې ژوندي شو او د حق تعالی د داسې داسې نعمتونو څخه لطف اندوز يو [۲] چې هغوی جنت حاصلولو کې بې رغبتي او کوتاهي ونه کړي ابلکه د جنت دې درجاتو حاصلولو ته راغب شي [۳] او د جهاد په وخت سستي ونه کړي [۴] الله ﷻ د هغوی داخبره اوريدو سره وفرمايل خوف مه کوئ ستاسو د طرف څخه به زه هغوی ته دا پيغام اورسوم [۵] نو الله ﷻ دا آيت نازل کړو وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًا بَلْ اَحْيَآءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ آخر د آيت پوري. (ابوداود)

حل اللغات: ⑦لِئَلَّا يَزْهَدُوا: چه بې رغبتی اونکړی، کوتاهی اونکړی. ⑧لَا يَنْكُلُوا: سستی اونکړی

تسهيلات:

قوله: جَعَلَ اللّٰهُ أَرْوَاحَهُمْ فِي جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ

د نيکانوخلقو روحونه د شنو مرغو په شکل کښې: مطلب دا دې چه څنګه په دنيا کښې د انسان په جسم کښې روحونه موجود وؤ او د انسانی جسم تربيت يې کولو نو هم دغه شان الله پاک دا روحونه د شنه مرغانو په جسمونو کښې د امانت په توګه اينبودلی دی.

د روحونو د مرغانوپه صورتونو کښې د ګرځيدومثال: ددې روحونو دپاره دشنو مرغانو جسمونه دغه شان دی څنګه چه مونږ دپاره په دنيا کښې لباس يا مکان دې ددی وجهې نه په حديث کښې فی جوف لفظ راغلې دې او جنتی غذاګانی ددی روحونو دپاره به وی او ددې روحونو په جنت کښې سير کول دغه شان دی څنګه چه مونږ په هوائی جهاز کښې سفر کوو.

د روح د بدن سره تعلق نه ختميدل: او دا خبره ياد ساتل پکاره دی چه د شهيد روح په جنت کښې سيل کول او دهغه جسم په قبر کښې خالي وی نو دا خبره صحيح نه ده بلکه د شهيدانو ارواح د شهيدانو جسمونو سره تعلق ساتلو باوجود هم دجنت سيل کوی او جنت د نعمتونو نه خوند او مذې اخلی.

كما في القرآن: ويستبشرون بالذين لم يلحقوا بهم،او د قرآن پاک بل مقام كښې ذكر دی ولا تقولوا لمن يقتل في سبيل الله أموات،او شهيدانو ته مړی مه وائې او بل ځائی كښې يو آيت ذكر دې كوم چه په حديث الباب كښې هم مذكور دې چه تاسو شهيدانو ته مړې مه ګڼئ

[۳۸۵٤] په دنيا كښې د مؤمنانو درې قسمونه

٣٨٥٣—[٢٦] (١) [١] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " [٢] «الْمُؤْمِنُونَ فِي الدُّنْيَا عَلَى ثَلَاثَةِ أَجْزَاءٍ: [٣] الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ، ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا، [٤] وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، [٥] وَالَّذِي يَأْمَنُهُ النَّاسُ عَلَى أَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ، [٦] ثُمَّ الَّذِي إِذَا أَشْرَفَ عَلَى طَمَعٍ تَرَكَهُ لِلَّهِ عَزَّ وَجَلَّ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [٢] په دنيا كې درې قسمه مومنان دي [٣] يو خو هغه دي چې الله او د هغه رسول باندې ايمان راوړي او بيا هيڅ شك او شبهه كې مبتلا نه شی [٤] او هغوی د خپلو ځانونو او د خپلو مالونو په ذريعه د الله په لار كې جهاد وكړو (يعنی د مؤمنينو داهغه جماعت دی چې خپل ايمان يې كامل او خپل نفس يې مهذب پاكيزه جوړكی او په دې سره د مخلوق خدا فلاح او بهبودې او د هغوی پاكيزګی د پاره هم جد وجهد وكړو او دا هغه جماعت دی چې د مرتبې د اعتبار څخه د ټولو څخه اعلی او اشرف دی) [٥] دويم قسم مومن هغه سړی دی چې د هغه څخه دخلقو مال وجان محفوظ وي (يعنی اګر چې هغه د مخلوق خدا د فلاح د بهبودې د پاره جد وجهد اونكړی ليكن د دې په ذريعه خلقوته يې هيڅ قسم نقصان او ضرر هم ونه رسوی او نه خو هغه اختلاط وكی او نه طمع او په حرص كې مبتلا شی) [٦] او بيا دريم قسم مومن هغه دی چې هركله د هغه په زړه كې طمع پيدا شي نو د الله د خوف څخه هغه طمع پريږدي (احمد)

حل اللغات: ① لَمْ يَرْتَابُوا: شک شبه اونه کړی ② أَشْرَفَ: پيدا شی. ③ طَمَعٍ: طمع. حرص

تسهيلات: قوله: ثُمَّ الَّذِي إِذَا أَشْرَفَ عَلَى طَمَعٍ تَرَكَهُ لِلَّهِ عَزَّ وَجَلَّ:

د مذكوره جملې مفهوم: د مومنانو ددې اخری جماعت وصف دا بيان كړې شوې دې چه كه چرې ددوي په زړه كښې د دنيا د څه څيز طمع اوحرص پيدا كيږی نو دوی په هغې عمل نه كوی بلكه د الله تعالی رضا حاصلولو دپاره دا طمع او حرص پريږدی. نو ګويا چه دا هغه جماعت دې كوم چه د دنيادارو سره تعلق او اختلاط لرلو او ددی تعلق په وجه ددوی په زړه كښې طمع اوحرص پيدا شو ليكن په عين موقع باندې الله تعالی دوی په طمع او حرص باندې د عمل كولو نه اوساتل او دا جماعت د مرتبې په اعتبار سره د

---

(١) اخرجه احمد في المسند:٣/٨

اولنی دوه جماعتونو نه ادنی دي بیا ددې دریم جماعت نه وروستو د مومنانو نور هم قسمونه دي، لیکن هغه ټول د مرتبې په اعتبار سره ساقط دی

[۲۸۵۵] د شهید آرزو او آرمان

۳۸۵۵ـ[۶۷] (¹)[۱] وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي عَمِيرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «مَا مِنْ نَفْسٍ مُسْلِمَةٍ يَقْبِضُهَا رَبُّهَا، [۳] تُحِبُّ أَنْ تَرْجِعَ إِلَيْكُمْ، [۴] وَأَنَّ لَهَا الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا، غَيْرُ الشَّهِيدِ». [۵] قَالَ ابْنُ أَبِي عَمِيرَةَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۶] وَلَأَنْ أُقْتَلَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ: أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ يَكُونَ لِي أَهْلُ الْوَبَرِ وَالْمَدَرِ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت عبدالرحمن ﷛ بن ابي عميره څخه روايت دی چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲] د شهيد څخه علاوه بل هيڅ داسې مسلمان سړی نشته چې د خپل پروردګار د طرف څخه خپل روح قبض کړی [۳] ددې څخه وروسته داخبره خوښه کړي چې هغه واپس راتلو سره تاسو ته راشي [۴] او د دنيا او مافيها خيزونه حاصل کړي مګرصرف شهيد . ايعني شهيد حق تعالی ته درسيدو څخه وروسته چې د شهادت د عظيمې مرتبې سعادتونه او عظمتونهويني نو پروردګار ته د دې خواهش اظهار کوي چې هغه روح واپس ورکولو سره دوباره دنياته راشي او د الله په لار کې بيا ووژل شي[۵] عبد الرحمن بن ابي عميره ﷛ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل[۶] په الله قسم ځما د الله په لار کې قتليدل ځما په نز د دې خيز څخه زيات ښه دی چې خيمو والا او حويلو والا ځما مملوك او محکوم وي. (نسائي)

حل اللغات: ① أَهْلُ الْوَبَرِ: وَبَر دَ اوښ ويښتو اوپشم ته وائی. مراد خيمې اودخيمووالاخلق. خانه بدوش② الْمَدَرِ، دې نه مراد دخاورو او پخو کورونوخلق دی.

تسهيلات:

قوله: أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ يَكُونَ لِي أَهْلُ الْوَبَرِ وَالْمَدَرِ

د مذکوره جملې مطلب: مطلب دادي چه زما جهاد ددي نه زيات خوښ دي چه زه د دغه ټولو خلقو حاکم جوړشم اوحکومت اوکړم [الکاشف: ۷/۳۷۱]

[۲۸۵۶] جنتيان کسان

۳۸۵۶ـ[۶۸] (²)[۱] وَعَنْ حَسْنَاءَ بِنْتِ مُعَاوِيَةَ، قَالَتْ - حَدَّثَنَا عَمِّي، قَالَ: [۲] «قُلْتُ لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: مَنْ فِي الْجَنَّةِ؟ [۳] قَالَ: "النَّبِيُّ فِي الْجَنَّةِ، وَالشَّهِيدُ فِي الْجَنَّةِ، [۴] وَالْمَوْلُودُ فِي الْجَنَّةِ، وَالْوَئِيدُ فِي الْجَنَّةِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

---

¹) اخرجه النسائي في السنن كتاب الجهاد/باب: تمنى القتل في سبيل الله تعالى (رقم-۳۱۵۳) واحمد في المسند: ۲۱۶/۴

²) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الجهاد/باب في فضل الشهادة (رقم-۲۵۲۱) واحمد في المسند: ۵۸/۵

ترجمه: [۱] او بي بي حسناء بنت معاويه (ابن سليم) وايي ماته خما تره حضرت اسلم ﷺ ابن سليم بيان وكړو [۲] چې يوه ورځ ما د نبي كريم ﷺ څخه د ريافت اوكړو چې په جنت كې به كوم خلق وي؟ [۳] نو حضور ﷺ وفرمايل په جنت كې به نبيان وي شهيدان وي [۴] په جنت كې به بچي وي او په جنت كې به هغه وي چې هغه ژوندي ښخ شوي وي (ابوداود)

حل اللغات: ① اَلْمَوْلُودُ: وړوكى بچى ته مولود وائى. ② اَلْوَئِيدُ: ژوندې ښخ شوې بچې ونهد په معنى د موؤد دي.

تسهيلات:

قوله: وَالْمَوْلُودُ فِي الْجَنَّةِ:

د مولود په مصداق كښې دوه اقوال: ① امام طيبى رحمه الله فرمائى چه د مولود نه مراد هغه ماشوم دې كوم چه پيدا كيدو ته نزدى وى، خواه هغه دكفارو اولاد وى او كه دمسلمانانو اولاد وى هغه ټول جنتيان دى، اګر كه د اهل ايمان والا ماشومان به د جنت په اعلى مقام كښې وى او د كفارو ماشومان به دجنت په ادنى مرتبه كښې وى او يا د اهل جنت خادمين به وى.

② امام خطابى رحمه الله فرمائى چه مولود نه مراد ناپوهه ماشوم دې يا كچه (بې مودې) ماشوم دې كوم چه ضائع شي.

قوله: فِي الْجَنَّةِ:

د څلور قسمه خلقو په جنت كښې د كيدو وجه: باقى حديث كښې خاص كر د څلور قسمه خلقو ذكر شوې دې نو كيدې شى چه د اول الذكر دواړو تخصيص د فضل او شرف په اعتبار سره وې او د آخر الذكر دواړو تخصيص په دې سبب نه دې چه دوى به د څه سبب او عمل نه بغير جنت ته داخليږى.

[۲۸۵۷] په مال او جان سره د جهاد كونكى مجاهد فضيلت

۲۸۵۷ - [۲۹] (¹) [۱] وَعَنْ عَلِيٍّ وَأَبِي الدَّرْدَاءِ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي أُمَامَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، وَعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ أَجْمَعِينَ، كُلُّهُمْ يُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ قَالَ: [۲] «مَنْ أَرْسَلَ نَفَقَةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَأَقَامَ فِي بَيْتِهِ، [۳] فَلَهُ بِكُلِّ دِرْهَمٍ سَبْعُمِائَةِ دِرْهَمٍ.

ترجمه: [۱] حضرت علي ﷺ ابودرداء ﷺ ابوهريره ﷺ ابو امامه ﷺ عبد الله ابن عمر ﷺ عبدالله ابن عمر ﷺ جابر ابن عبد الله ﷺ او عمران ابن حصين ﷺ داټول د رسول كريم ﷺ څخه داحديث بيانوي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړى چې د الله په لار جهاد كې روپى پيسي او اسباب او سامان وليږلو اوپه خپله په خپل كوركي

---

¹) اخرجه ابن ما جه فى السنن كتاب الجهاد/باب فضل النفقة فى سبيل الله تعالى (رقم-۲۷۶۱)

ناست وي ايعنى په جهاد كې په خپله شريك نه شو بلكه په روپو او پيسو او سامان سره يې په جهاد كې مدد وكړو ا٣ نو هغه ته به د هر درهم په بدله كې داووه سوه درهمه ثواب حاصليږي

حل اللغات: ① أَرْسَلَ:چا چې د جهاد دپاره اوليږله يعني خرچ ئې كړه

١ وَمَنْ غَزَا بِنَفْسِهِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَأَنْفَقَ فِي وَجْهِهِ ذٰلِكَ ;٢ فَلَهُ بِكُلِّ دِرْهَمٍ سَبْعُمِائَةِ أَلْفِ دِرْهَمٍ "،٣ ثُمَّ تَلَا هٰذِهِ الْآيَةَ: ﴿وَاللّٰهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَاءُ﴾ [البقرة: ٢٦١]». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ١ او كوم سړى چې بنفسِ خود هم جهاد وكړو او په جهاد كې روپى پيسي او مال هم خرڅ كې ايعنى جنګ كې خپله هم شريك شو او مالي مدد يې هم وكړوا ٢ نو هغه ته به د هر درهم په بدله كې د اووه لاك درهم ثواب حاصليږي اځكه چې هغه خپل نفس هم مشقت كې مبتلا كې او خپل مال يې هم خرڅ كې ا ٣ بيا حضور ﷺ دا آيت تلاوت كړو وَاللّٰهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَاءُ يعنى الله ﷻ چې چاته غواړي د هغه ثواب كې نوره اضافه كوي

تسهيلات:

قوله: فَلَهُ بِكُلِّ دِرْهَمٍ سَبْعُمِائَةِ دِرْهَمٍ:

في سبيل الله كښې يو په اووه سوه ثواب ملاويدل: دې نه وړاندې حديث نمبر(٣٨٢٩) اوحديث نمبر(٣٨٢٦) كښې داخبره ذكر ده چه جهادفى سبيل الله كښې دَ يوې اوبښې بدله كښې به اووه سوه اوبښې ملاويږى او په دنياكښې دَ يودرهم خرچ كولوپه بدله كښې په قيامت كښې اووه سوه درهم ملاويږى په زيربحث حديث كښې هم دَدې تذكره ده

د شركت په اعتبار سره مجاهدينو دوه قسمونه:

① هغه سړې دې چه مجاهدينو ته پيسې ليږى مگر پخپله په كوركښې ناست دې په جهادكښې شريك نه دې ده ته به دَ يودرهم په بدله كښې اووه سوه ملاويږى

② هغه سړې دې چه پخپله هم په جهادكښې شريك دې او په دغه لار كښې پيسه هم خرچ كوى نو په زيربحث حديث كښې دى چه ده ته به دَ يودرهم په عوض اووه لاكهه درهم ملاويږى. اوس دلته هم دواړه كسان جدا جدادى. دَ دواړو په عمل كښې هم فرق دې اود دواړو اجر اوثواب كښې هم فرق دې لهذا دواړه جدا جدا كيځودل پكاردى

[٢٨٥٨] د شهيدانو اوو قسمونه

٣٨٥٨—[٤٠] (١) ١ وَعَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ٢ " «الشُّهَدَاءُ أَرْبَعَةٌ: رَجُلٌ مُؤْمِنٌ جَيِّدُ الْإِيمَانِ، ٣ لَقِيَ

---

[١]) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/ ما جاء فى فضل الشّهداء عند الله (رقم-١٦٤٤)

الْعَدُوَّ فَصَدَقَ اللّٰهَ حَتّٰى قُتِلَ.[۴] فَذٰلِكَ الَّذِي يَرْفَعُ النَّاسُ إِلَيْهِ أَعْيُنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ هٰكَذَا "[۵] وَرَفَعَ رَأْسَهُ حَتّٰى سَقَطَتْ قَلَنْسُوَتُهُ، [٦] فَمَا أَدْرِي أَقَلَنْسُوَةَ عُمَرَ أَرَادَ، أَمْ قَلَنْسُوَةَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -

ترجمه: [۱] او فضاله ابن عبيد وايي ما د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه واوريدل وايي ما د رسول كريم ﷺ څخه واوريدل [۲] چې شهيد په څلور قسمه وي يو خو هغه سړى چې كامل الايمان مسلمان وو[۳] او هركله چې د دښمن سره مقابله وشوه نو هغه الله جل جلاله ته په رښتيا وښودل تردي چې جنګ كولو كې قتل شو[۴] نو دا هغه سړى دى چې هغه طرف ته به د قيامت په ورځ خلق داسې سر پورته كولو سره ګوري [۵] په دي ويلو هغه خپل سر پورته كى تردي چې د هغه خولى ولويده [٦] د حديث راوي (چې روايت يي حضرت فضاله رضي الله عنه څخه نقل كړي دى) وايي ماته معلومه نه ده چې د حضرت فضاله مراد د چا توپى وه (يعنى هغه دا واضحه نه كړه چې حضرت عمر رضي الله عنه حديث بيانولو وخت د حضور ﷺ په شان سر پورته كولو سره وښودل نو) د هغوى توپى ولويده يا (هغوى د روايت حديث په وخت دا وښودل چې) د نبي كريم ﷺ توپى مباركه ولويده (بهرحال حاصل داچي د قيامت په ورځ به داسړى دومره عالي مرتبه وي چې خلق به هغه طرف ته سرپورته كولو سره ګوري)

حل اللغات: ①جَيِّدٌ: ډيرښه، بهترين. ②قَلَنْسُوَة: توپئ

[۱] قَالَ: " وَرَجُلٌ مُؤْمِنٌ جَيِّدُ الْإِيمَانِ، لَقِيَ الْعَدُوَّ، [۲] كَأَنَّمَا ضُرِبَ جِلْدُهُ بِشَوْكِ طَلْحٍ، مِنَ الْجُبْنِ، [۳] أَتَاهُ سَهْمٌ غَرْبٌ فَقَتَلَهُ، فَهُوَ فِي الدَّرَجَةِ الثَّانِيَةِ. [۴] وَرَجُلٌ مُؤْمِنٌ خَلَطَ عَمَلًا صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا، [۵] لَقِيَ الْعَدُوَّ فَصَدَقَ اللّٰهَ حَتّٰى قُتِلَ. [٦] فَذٰلِكَ فِي الدَّرَجَةِ الثَّالِثَةِ. [۷] وَرَجُلٌ مُؤْمِنٌ أَسْرَفَ عَلٰى نَفْسِهِ، لَقِيَ الْعَدُوَّ، [۸] فَصَدَقَ اللّٰهَ حَتّٰى قُتِلَ: فَذَاكَ فِي الدَّرَجَةِ الرَّابِعَةِ» ". [۹] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] بيا حضور ﷺ وفرمايل او دويم هغه سړى چې جيد الايمان مومن وو او كوم وخت چې دښمن سره مقابله وشوه [۲] نو هغه د خپل بزدلى په وجه داسې په نظر راغلو لكه چې د هغه په بدن كې د آزغني ونې ازغى وي ايعنى دى د هغه سړي د خوف د وجې څخه په رپيدو شو او ددهشت څخه په بدن د ويښتو د اودريدلو كيفيت يي كنايةً بيان كړي دى) [۳] او بيا يوتير راتلو سره باندې هغه ولګيدلو چې د هغه چلونكى نامعلوم وو او هغه تير هغه د مرګ په ګودر خكته كى نو داسړى د مخكني په نسب د دويمي درجې دى [۴] او دريم سړى هغه مومن وو چې هغه ځه ښه او ځه خراب اعمال كړي وه [۵] هركله چې دښمن سره مقابله وشوه نو هغه الله جل جلاله په رښتيا وښودلو تردي چې په جنګ كولو كې قتل شو[٦] نو داسړى د دريمي درجې دى [۷] او څلورم سړى هغه مسلمان دى چې هغه په خپل ځان ډېر اسراف كړي وو يعنى هغه ډير ګناهونه كړي وه او كله چې د دښمن سره مقابله وشوه[۸] نو هغه الله جل جلاله په رښتيا وښودلو تردي چې جنګ كولو كې ووژل شو نو

داسې د خلورمي درجي دی⑨ امام ترمذي دا روایت نقل کړي دی او ویلي یي دي چې داحدیث حسن غریب دی

حل اللغات: ③جِلْدَ: خرمن. ④بِشَوْكِ طَلْحٍ: دکیکروغیره ازغی داره ونه. ⑤الْجُبْنِ: بزدلی. ⑥أَتَاهُ: چه راشي یا اولګی په هغه باندې ⑦ سَهْمٌ: غشي. ⑧غَرْبٌ: هغه غشي چې د نامعلومه طرف څخه راخوشې شوې وی

تسهیلات: **قوله:** فَصَدَقَ اللهَ:

د جملې دوه مطلبه: ①داصیغه دَ تخفیف سره لوستلې شوې ده کومه چه مشهوره ده په دې صورت کښې به دَدې مطلب دا وی چه دې مجاهد په خپله بهادرئی اوتکړه توب سره هغه وعده پوره کړه کومه وعده چه هغه الله تعالی سره کړې وه تردې چه هغه شهید کړې شو. قال الله تعالی ﴿ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ﴾ [سورت احزاب:۲۳].

② علامه طیبی رحمه الله دَدې جملې مطلب داسې بیان کړې دې چه الله تعالی دَ مجاهدین فی سبیل الله صفت داسې بیان کړې دې چه هغوی صبرکونکی وی اوپه اخلاص سره دَ ثواب په نیت جنګیدونکی وی کله چه دغه سړی په خپل فعل سره په خپله ثابت قدمئی اواخلاص سره جنګیدل ثابت کړل نولکه چه هغه په خپل کردار سره دَ الله تعالی قول رښتیا ثابت کړو "صدق الله حتی قتل" هم دغه مطلب دې. [الکاشف: ۷/ ۳۷۳]

قوله: وَرَفَعَ رَأْسَهُ حَتَّى سَقَطَتْ قَلَنْسُوَتُهُ:

دحدیث څخه د دوو خبرو معلومیدل: ①حضرت عمر رضی الله عنه یاحضورپاک دَ شهید اوچت درجات خودلو دَپاره دَ آسمان طرف ته دومره سر اوچت کړو چه دَ هغوی ټوپئی شاته پریوتله دَدې حدیث نه دَ شهید دَ اوچتو درجاتو چه یوطرف ته ثبوت ملاویږی

② بل طرف ته دَحضورپاک ټوپئی مبارکه په سرکول هم ثابتیږی

قوله: أَفَمَا أَدْرِي أَقَلَنْسُوَةَ عُمَرَ أَرَادَ

په قلنسوة کښې دوه احتمالات: ① حضرت فضاله دَحضرت عمر رضی الله عنه دَ ټوپئی پریوتل اووئیل

② دَ نبی کریم ﷺ دَ ټوپئی پریوتلو خبره ئې اوکړه په ظاهره دکلام نه معلومیږی چه دَ حضورپاک ټوپئی مراد ده ځکه چه هم دغه متبادر ده

قوله: كَأَنَّمَا ضُرِبَ جِلْدُهُ بِشَوْكِ طَلْحٍ مِنَ الْجُبْنِ:

د بزدلی تشبیه: شوك ازغی ته وائی اوطلح کیکر وغیره ازغي داره ونې ته وائی په کوم کښې چه لوئی لوئی ازغی وی. یعنی دَ بزدلئی دَ وجې نه دَهغوی غونې زیږ شی لکه چه په هغه کښې ازغی ننوځی

په جهاد کښې د شرکت په اعتبار سره څلور قسمه مسلمانان:

① جید الایمان بهادر دي ② جید الایمان بزدل دي

③ لږ گناهگار دی ④ مکمل گناهگار دی

تول شهیدان دی معلومه شوه چه گناهگار سړي هم جهاد کښې حصه اخستې شی

[۳۸۵۹] په جهاد کښې د منافق د قتل حکم

۳۸۵۹-[۱۷]() ① عَنْ عُتْبَةَ بْنِ عَبْدِ السُّلَمِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "② «الْقَتْلَى ثَلَاثَةٌ: مُؤْمِنٌ جَاهَدَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ، ③ فَإِذَا لَقِيَ الْعَدُوَّ قَاتَلَ حَتَّى يُقْتَلَ". ④ قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِيهِ: ⑤ "فَذَلِكَ الشَّهِيدُ الْمُمْتَحَنُ فِي خَيْمَةِ اللّٰهِ تَحْتَ عَرْشِهِ، ⑥ لَا يَفْضُلُهُ النَّبِيُّونَ إِلَّا بِدَرَجَةِ النُّبُوَّةِ. ⑦ وَمُؤْمِنٌ خَلَطَ عَمَلًا صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا، ⑧ جَاهَدَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ، إِذَا لَقِيَ الْعَدُوَّ قَاتَلَ حَتَّى يُقْتَلَ"

ترجمه: ① حضرت عتبه رضی الله عنه ابن عبد السلمي وايي چې رسول کریم ﷺ وفرمايل ② کوم خلق چې په جهاد کې ووژل شي هغه په دري قسمه وي ① یو خو هغه کامل مؤمن چې هغه د الله په لار کې خپل ځان او د خپل مال په ذريعه جهاد وکړو ③ د دښمن سره چې د هغه مقابله شوه نو هغه پوره شجاعت او بهادري سره جهادوکی تردي چې ووژل شو ④ نبي کریم ﷺ د دي سړي په باره کې وفرمايل ⑤ دا هغه شهید دی چې د جهاد مشقتونو او مصیبتونو باندې د صبر کولو آزمائش کې مبتلا شو دا شهید به په آخرت کې دالله په خیمه کې دالله ترعرش لاندي وي ⑥ نو هغه ته به د حق تعالی کمال قُرب او د هغه په حضور کې خاص درجه حاصله وي او انبياء به ځني صرف درجه په نبوت کې زیات وي ⑦ او ② دویم هغه مؤمن دی چې د هغه اعمال گډوډ وي هغه څه نیك عمل کړي وي او څه بد عمل ⑧ هغه د خپل ځان او مال په ذريعه د الله په لار کې جهاد وکړو او هرکله چې دښمن سره مقابله وشوه نو پوره بهادري او شجاعت سره وجنګیدلو تردي چې قتل شو

حل اللغات: ① الْمُمْتَحَنُ: دَاسم مفعول صیغه ده په ازمیښت او امتحان کښې دَ اچولو په معنی کښې دي ② خَيْمَةِ اللّٰهِ: دالله خیمه ،کمال قرب الهی ته اشاره ده،

① قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِيهِ: "مُمَصْمِصَةٌ مَحَتْ ذُنُوبَهُ وَخَطَايَاهُ، ② إِنَّ السَّيْفَ مَحَّاءٌ لِلْخَطَايَا، ③ وَأُدْخِلَ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شَاءَ. ④ وَمُنَافِقٌ جَاهَدَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ، ⑤ فَإِذَا لَقِيَ الْعَدُوَّ قَاتَلَ حَتَّى يُقْتَلَ; ⑥ فَذَاكَ فِي النَّارِ، إِنَّ السَّيْفَ لَا يَمْحُو النِّفَاقَ»". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① نبي کریم ﷺ د دي سړي په باره کې وفرمايل چې شهادت يا خصلت پاکونکی دی چې د هغه گناهونه او خطاگاني رژوي ② او په دي کې شك نشته چې توره خطاگاني

() اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحدیث ۲۴۱۱

ډیري زیاتي رڑوی ③ دا هغه شهید دی چې کومي دروازي څخه تلل غواړي په جنت کې به داخلیږي ④ او ③ دریم سړی منافق دی اګر چې هغه د خپل ځان او مال په ذریعه جهاد وکړو⑤ او هرکله چې د دښمن سره مقابل شو نو بنه وجنګیدلو تردي چې قتل شو⑥ لیکن دا سړی به دوزخ ته ځي ځکه چې توره نفاق نه رڑوي. «دارمي»

حل اللغات: ③مُمَصْمِصَةٌ: د ممحرجة په وزن باندې دې، صفائی. طهارت او پاکوالی. ④مَحَتْ ذُنُوبَهُ: چه رڑوی ګناهونه دهغه. ⑤مَحَّاءُ: رڑونکې او ورانونکې

تسهیلات:

قوله: فَذَلِكَ الشَّهِيدُ الْمُمْتَحَنُ فِي خَيْمَةِ اللهِ تَحْتَ عَرْشِهِ

د مذکوره لفظ مفهوم: ددې دامعنی هم کیدې شی چه الله تعالی ددې عظیم شهید زړه د ایمان اوتقوی دپاره کولاؤکړو او ایمان اوتقوی باندې دهغه شرح صدر اوشو لکه چه په آیت کښې دی ﴿أُولَئِكَ الَّذِينَ امْتَحَنَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوَى﴾ [سورة الحجرات:۲] داخلق به د عرش لاندې دالله تعالی په ورکړې شوې خیمه کښې وی

قوله: مُمَصْمِصَةٌ مَحَتْ ذُنُوبَهُ وَخَطَايَاهُ:

د ممصمصة معنی: په وزن باندې د صفائی طهارت اود پاکوالی په معنی کښې دې یعنی دا شهادت د ګناهونونه سرې پاك اوصفاكونكې دې

د ممصمصة په موصوف کښې دوه احتمالات: ① دا صفت دې اوددې موصوف لفظ "شهادة" دې أی شهادة ممصمصة

② دا صفت دې اوددې موصوف لفظ خصلة دې خصلة ممصمصة،

قوله: فَذَاكَ فِي النَّارِ

د منافق مجاهد جنت ته عدم دخول: یعنی منافق سره ددې چه جهاداوکړی بنه اوجنګیږی اودنیاوی شهیدهم جوړشی په خپلو کپړوکښې د شهیدپه شان بغیردغسل نه دفن هم شی بیابه هم دجنت په ځائی دوزخ ته ځی ځکه چه توره ګناهونه وینځی مګر غلطه عقیده بدلولې نه شی

[۲۸۶۰] په یوه شپه څوکی باندې د جنت حکم

۲۸۶۰–[۴۲] (۱)① عَنِ ابْنِ عَابِسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي جِنَازَةِ رَجُلٍ،② فَلَمَّا وُضِعَ قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: لَا تُصَلِّ عَلَيْهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ!③ فَإِنَّهُ رَجُلٌ فَاجِرٌ، ④فَالْتَفَتَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِلَى النَّاسِ،⑤فَقَالَ: هَلْ رَآهُ أَحَدٌ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلِ الْإِسْلَامِ؟"

(۱) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۲۴۹۷

ترجمه: [۱] ابن عائذ رضي الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ د يو سړي جنازې سره لاړل چې د هغه د جنازې مونځ وکړي [۲] کوم وخت چې جنازه کېښودل شوه نو حضرت عمر ابن خطاب رضي الله عنه عرض اوکړو يا رسول الله! [۳] تاسو د دې جنازې مونځ مه کوئ! ځکه چې دی يو فاسق سړی وو [۴] په دې اوريدو سره حضور ﷺ خلقو طرف ته متوجه شو او وې فرمايل [۵] آيا په تاسو کې يوه داسې د اسلام په څه کارکولو باندې ليدلی دی [يعنی که په تاسو کې چا دی په خپل ژوند کې څه داسې عمل کولو باندې ليدلی وي چې حقيقي اسلام باندې دلالت کوي نو هغه دې مونږ ته وښايي]

حل اللغات: (۱) فَالْتَفَتَ: نو متوجه شو.

[۱] فَقَالَ رَجُلٌ: نَعَمْ، يَارَسُولَ اللهِ! حَرَسَ لَيْلَةً فِي سَبِيلِ اللهِ، [۲] فَصَلَّى عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَحَثَا عَلَيْهِ التُّرَابَ، [۳] وَقَالَ: " أَصْحَابُكَ يَظُنُّونَ أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ، [۴] وَأَنَا أَشْهَدُ أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ " [۵] وَقَالَ: " يَا عُمَرُ! إِنَّكَ لَا تُسْأَلُ عَنْ أَعْمَالِ النَّاسِ ; وَلَكِنْ تُسْأَلُ عَنِ الْفِطْرَةِ» ". [۶] رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: [۱] يو سړي عرض اوکړو هو يا رسول الله! دې سړي يوه شپه د الله په لار [يعنی جهاد] کې د پاسباني خدمت انجام کړي دی [۲] په دې اوريدو سره حضور د هغه د جنازې مونځ وکړی او دفن کولو څخه وروسته د هغه په قبر يې خاوري واچولې [۳] او ګويا مړي مخاطب کولو سره يې وفرمايل ستا د ملګرو خو دا ګمان دی چې ته دوزخي يې [۴] او زه ددې خبرې شاهدي ورکوم چې ته جنتي يې [۵] اوبيا يې حضرت عمر رضي الله عنه ته وفرمايل اې عمر رضي الله عنه! ستا څخه به دخلقو د اعمالو په باره کې پوښتنه کيږي بلکه ستا څخه به د اسلام د دين په باره کې پوښتنه کيږي [۶] (دا روايت بيهقي په شعب الايمان کې نقل کړي دی)

حل اللغات: (۲) حَرَسَ: نګهبانی او نګرانی ئې کړې وه. (۳) وَحَثَا: واچولې (خاورې). (۴) الْفِطْرَةِ: فطرت (اسلام).

تسهيلات:

قوله: هَلْ رَآهُ أَحَدٌ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلِ الْإِسْلَامِ؟

په دنياوي احکامو کښې په ظاهره فيصله کول يعنی چا دغه سړي په داسې عمل باندې ليدلې دې چه دهغه په حقيقی اسلام باندې دلالت کوی. يو سړی اووئيل چه ما دې جهادفی سبيل الله کښې يوځل په څوکيدارئی ليدلې وو. دې اوريدوسره حضورپاك د جنازې مونځ ورکړو ځکه چه په ايمان او اسلام باندې دجهاديوعمل دلالت اوکړو. د غيب معامله الله تعالی سره ده. مړي د مرګ نه پس په خو الفاظوسره يادول پکاردی حکم لګول دبنده کارنه دی. په دې وجه حضورپاك حضرت عمر رضي الله عنه ته تنبيه ورکړه او دغيب په معامله باندې دحکم لګولونه ئې منع کړو چه نفس اسلام ته ګوره. په قيامت کښې به د

فطرت اسلام سوال کيږی دَ پتو اعمالوپه لټونکې مه پريوځه. بياحضورپاک دا سرې مخاطب کړو او ورته ئې اوفرمائيل چه خلق ستادَدوزخې کيدو خيال کوی ليکن زه ګواهی ورکوم چه ته جنتی ئې. يوخوداسلام وجه ده چه ته مسلمان ئې بل دَ جهادعمل دې چه يوعظيم عمل دې. سبحان الله جهادڅومره لوئی عمل دې چه بې عمل هم دلته باعمل دې.

[۱] بَابُ إِعْدَادِ آلَةِ الْجِهَادِ

دَ جهاد دَ سامان دَ تيارلی بيان

خلاصة الباب:

فيه أحد وثلاثون حديثاً مشتملة على ثمانى مسائل:

① كون الرمي من آلات الجهاد والترغيب فيه: ١، ٢، ٣، ۴، ۵، ١٢، ١٣.

② كون الخيل من آلات ا لجهاد وأقسامها وفضيلتها: ۶، ٧، ٨، ٩، ١٧، ١٨، ١٩، ٢٠، ٢١، ٣٠.

③ المسابقة فى الخيل والإبل و البغل: ١٠، ١١، ١۴، ١۵، ١۶.

④ النهى عن توليد البغال: ٢٢، ٢٣.

⑤ حكم لمع السيف بالذهب والفضة: ٢۴، ٢۵.

⑥ كون الدروع من آلات الجهاد: ٢۶.

⑦ كون القوس والرماح من آلات الجهاد: ٣١.

⑧ لون الراية في الجهاد: ٢٧، ٢٨، ٢٩.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٣٨٦١] د جهاد د تيارى حكم

٣٨٦١-[١] (١)[١] عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [٢] «سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَقُولُ: [٣] "﴿وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ﴾ [الأنفال: ٦٠] [۴] أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ، أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ، أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت عقبه ابن عامر ﷛ وايي[٢] ما د رسول کريم ﷺ څخه په منبر دا واوريدل[٣] او تاسو کافرو سره جنګ کولو د پاره د خپل طاقت او قوت کوم څيز هم چې

(١) اخرجه مسلم فى كتاب الإمارة/باب فضل الرّمى والحثّ عليه، وذمّ من علمه ثمّ نسيه (رقم-١۶٧ - (١٩١٧) والترمذى فى كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ومن سورة الأنفال (رقم-٣٠٨٣)و ابن ماجه فى كتاب الجهاد/باب الرّمى فى سبيل الله (رقم-٢٨١٣) واحمد فى المسند: ١۵٧/۴

تیارولی او فراهم کولی شي وکړي[٢] یادلرئ تیر اندازي قوت دی یاد لرئ تیر اندازي قوت دی یادلرئ تیر اندازي قوت دی (مسلم)

حل اللغات: ①الرَّمْيُ: غشی ویشتل.

تسهیلات:

قوله: وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ

هرمسلمان د جهاد په تیاری مکلف کیدل: إعداد دَ سامان وغیره دَتیاری په معنی کښې دي صاحب مشکوة داعنوان هم دَدې آیت په رنړاکښې قائم کړې دې شاه اسماعیل شهید رحمه الله دَدې آیت په تفسیر کښې لیکلی دی چه په وأعدوا کښې دَامرچه کومه صیغه ده ټول مسلمانان دَدې مخاطب دی اوپه هرمسلمان باندې فرض اولا زم دی چه هغه دې په ذاتي توګه باندې دَ جهاد تیاری اوکړی اوخپل یوقوت دې پیدا کړی اودا قوت سره ددې چه دَ پوره دنیا دَ قوت برابرنه وی بیاهم دَخپل طاقت مطابق قوت پیدا کول ضروری دی

په نوئ ټیکنالوجۍ کښې د ترقۍ کولو ضرورت: دَ حضورپاك په زمانه کښې په اسونو سورلی، شمشیرزنی، نیزه بازی او غشی ویشتل وغیره سامان دَجهاد او مروج وسله وه. نن ټوپك توپ راکټ لانچر هوائی جهاز جیټ جهاز ټینکونه توپونه بکتربند ګاډی کشتئی بمونه ایټم بم اودکروز میزائل وغیره زمانه ده لهذا په مسلمانانو باندې لا زم دی چه دا ټولې مروج وسلې دَښه نه ښه تیارکړی. فتح اوظفرخودَ الله تعالی په لاس کښې دې لیکن الله تعالی پخپله مسلمانانوته دَدې اسبابو دَاستعمال حکم ورکړې دې په اسبابو باندې توکل ناجائزدې دَ اسبابو استعمال خودَ اسلام حکم دې ګنی اسباب یکسر مسترد کولو سره سرې په فرقه ضاله جبریه کښې داخلیږی.

قوله: أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ

هرې زمانې سره مناسب وسله حاصلول: داس لفظ عجیبه جامع لفظ دې په دې کښې دتورې وار هم داخل دې په کانړی ویشتل په غشی ویشتل دَ توپ ګوله ویشتل بم غورزول راکټ فائرکول ټول دَرمی په مفهوم کښې داخل دی. [الکاشف: ۷/۲۷۶]

[٣٨٦٢] د روم د فتحې زیرې

٣٨٦٢ - [٢] (١)① وَعَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ② «سَتُفْتَحُ عَلَيْكُمُ الرُّومُ وَيَكْفِيكُمُ اللهُ، ③ فَلَا يَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَلْهُوَ بِأَسْهُمِهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[١] اخرجه مسلم فی کتاب الإمارة/باب فضل الرّمی والحثّ علیه. وذمّ من علمه ثمّ نسیه (رقم-١٦٨ - (١٩١٨) والترمذی فی کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ومن سورة الأنفال (رقم-٣٠٨٣) واحمد فی المسند: ٤/١٥٧

ترجمه: [۱] حضرت عقبه رضي الله عنه وايي چې ما درسول کريم ﷺ څخه واوريدل [۲] ډير نزدې ستاسو د پاره به روم فتح شي او الله تعالى به ستاسو د اهل روم د شر انگيزو څخه کفايت وکړي [۳] نو خبردار! چې په تاسو کې هيڅ سړی خپل تيرونو سره لوبو کولو کې سستي ونه کړي (مسلم)

حل اللغات: ① أَنْ يَلْهُوَ: چه لوبې کوی، ② بِأَسْهُمِهِ: خپلو غشو سره

تسهيلات:

قوله: سَتُفْتَحُ عَلَيْكُمُ الرُّومُ:

د ايتم بم اومزائيلو مقابله کښې ځان وړاندې کول: يعنی دَ شام اوروم خلق په غشو ويشتلو کښې ډيرماهر دی تاسو به دَهغوی مقابله په غشو ويشتلوسره کوئی لهذا د غشو ويشتلو هنرښه زده کړئ اوکله چه الله تعالى تاسوته په دغه خلقوباندې فتح درکړی نوداسې مه کوئی چه دَ وسلې شغل دَدې وجې نه پريږدئی چه اوس خوشام فتح شوې دې اوس دَ وسلې څه ضرورت دې بلکه دَ وسلې شغل دَهميشه دَپاره داسې جاری اوساتئی لکه چه داستاسو دَ لوبوڅه حصه ده. ځکه چه کوم يووخت هم دَدې ضرورت پيښيدې شی مسلمانانوله سوچ کول پکاردی چه هغوی نن صبادَجهاد په حوالې سره څنګه په غفلت کښې پريوتی دی. توره ئی غيبه کړې شوه او په لاس کښې دَ ذلت بيټ واخستلو

[۲۸٦۲] د تير اندازئ اهميت

۳۸۸۳-[۳] ( ) [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۲] «مَنْ عَلِمَ الرَّمْيَ، ثُمَّ تَرَكَهُ، [۳] فَلَيْسَ مِنَّا، أَوْ قَدْ عَصَى». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضرت عقبه رضي الله عنه وايي چې ما د رسول کريم ﷺ څخه دا واوريدل [۲] چې کوم سړی تير آندازي زده کړه او بيايي پريښودله [۳] نو هغه زمونږ څخه نه دی يعنی زمونږ په طريقو تلونکو کې شامل نه دی يا داچې هغه نافرماني وکړه (مسلم)

تسهيلات:

قوله: فَلَيْسَ مِنَّا:

د ليس منا په مفهوم کښې اقوال: ① هغه زمونږنه نه دې ددې مطلب دا دې چه هغه مونږ ته نزدې نه دې او دا د يو داسې کس په شان دې د کوم شمار چه زمونږ په جماعت کښې نه کيږی

② مطلب ئي دې چه دا دهغه جماعت نه نه دې کوم نه چه مونږ راضي نه يو.

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب الإمارة/باب فضل الرّمی والحثّ عليه. وذمّ من علمه ثمّ نسيه (رقم-۱٦۹ - (۱۹۱۹) وابن ماجه فی کتاب الجهاد/باب الرّمی فی سبيل الله (رقم-۲۸۱٤)

د جنګی مهارت زده کول او بیا د هغې د هیرولو حکم: ددې نه معلومه شوه چه کوم کس تیراندازي ازده کړي او بیا یې پرېږدي نو دا ډېر بدکار دې او کوم کس چه تیراندازي نه وه ازده کړې نو هغه د دې حدیث په زمره کښې شامل نه دې.لیکن د کوم کس په زړه کښې چه د جهاد جزبه هم پیدا نه شي نو دا کس ددې حدیث مصداق جوړیږي چه د کوم کس په زړه کښې د جهاد جذبه هم پیدا نه شي نو هغه د منافقت په مرګ مړشو، البته کوم کس چه تیراندازي ازده کړه او بیا د سستۍ دوجهې نه پرېښودله نو ددې مطلب دا شو چه ده د استهزا په توګه دا کار وکړو نو دا د کفران نعمت مترادف دې.

[۲۸٦٤] د تیر اندازۍ عملي ترغیب

۳۸۶۳- [۳] ()[۱] وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَى قَوْمٍ مِنْ أَسْلَمَ [۳] يَتَنَاضَلُونَ بِالسُّوقِ. فَقَالَ: [۴] "ارْمُوا بَنِي إِسْمَاعِيلَ! فَإِنَّ أَبَاكُمْ كَانَ رَامِيًا، [۵] وَأَنَا مَعَ بَنِي فُلَانٍ" لِأَحَدِ الْفَرِيقَيْنِ. [٦] فَأَمْسَكُوا بِأَيْدِيهِمْ، فَقَالَ: "مَا لَكُمْ؟" [۷] قَالُوا: وَكَيْفَ نَرْمِي وَأَنْتَ مَعَ بَنِي فُلَانٍ؟ [۸] قَالَ: "ارْمُوا وَأَنَا مَعَكُمْ كُلِّكُمْ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او سلمه ﷺ بن اکوع وايي [۲] یوه ورځ رسول کریم ﷺ د بني اسلم یوې قبیلې ته تشریف راوړو [۳] او هغه خلقو هغه وخت بازار کې په خپل مینځ د تیر آندازي مشق کوی حضور ﷺ [چې په دې حالت کې هغوی ولیدل نو ډېر خوشحاله شو او] وې فرمایل [۴] اې د اسماعیل اولاده یعنی اې عربو تیر اندازي کوئ ځکه چې ستاسو پلار حضرت اسماعیل ﷺ تیر انداز وو [۵] او زه هم فلاني قبیلې سره یم یعنی هغه وخت چې د بني اسلم دوو فریقو په خپل مینځ کې د تیر آندازي مشق کوی حضور ﷺ په هغوی کې د یونوم اخستو سره وفرمایل چې دې مشق کې د دې فریق په طرف یم [٦] لیکن دویم فریق خپل لاس اونیولو [یعنی حضور ﷺ چې د یوفریق طرف ته شو نو مقابل فریق تیر اندازی څخه خپل لاس رانښکې] حضور ﷺ ورته وفرمایل تاسو ته څه وشو [یعنی تاسو تیرویشتل ولې بند کړل] [۷] هغوی اوویل مونږ په دې صورت کې تیر آندازي څنګه کولی شو هرکله چې تاسو فلانی فریق سره یې [یعنی مونږ دا نه شوبرداشت کولي چې تاسو مونږ پرېښودلو سره دویم فریق طرف ته شي] [۸] حضور ﷺ وفرمایل ښه ده تاسو تیر آندازي کوئ زه تاسو ټولو سره یم (بخاري)

حل اللغات: ① يَتَنَاضَلُونَ: د تیراندازۍ مشق ئې کولو، په غشو ئې نښه ویشتله. ② بِالسُّوقِ. بعضې حضراتو فرمائیلی دی چه سوق په مدینه منوره کښې د یو خاص ځائ نوم دې.

[۱]) اخرجه البخاری فی كتاب المناقب/باب نسبة اليمن إلى إسماعيل ، منهم أسلم بن أفصى بن حارثة بن عمرو بن عامر من خزاعة» (رقم-۳۵۰۷)

تسهيلات: قوله: "اِرْمُوا":

د رمي د حكم كولو مقصد: يعني په تيراندازی باندې هميشه والې وكړئ.

قوله: فَإِنَّ أَبَاكُمْ:

د اب څخه مراد: ددې نه مراد حضرت اسماعيل عليه السلام دې، چه ستاسو پلار په تيراندازی كښې كمال لرلو، تاسو دهغه اولا د ئي، ددې وجهې نه تاسو دخپل پلار په ميراث كښې كمال حاصل كړئ.

[٢٨٦٥] د حضرت ابوطلحه رضي الله عنه تير اندازي

٢٨٦٥-[٥] (١) [١] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [٢] «كَانَ أَبُو طَلْحَةَ يَتَتَرَّسُ مَعَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِتُرْسٍ وَاحِدٍ، [٣] وَكَانَ أَبُو طَلْحَةَ حَسَنَ الرَّمْيِ، [٤] فَكَانَ إِذَا رَمَى تَشَرَّفَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَيَنْظُرُ إِلَى مَوْضِعِ نَبْلِهِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت انس رضي الله عنه وايي [٢] ابوطلحه رضي الله عنه به په ميدانِ جنگ كې د يوډهال په ذريعه د حضور ﷺ بچاو كوی [٣] ابوطلحه رضي الله عنه يو ښه تير آنداز وو [٤] هغه به د دښمنانو باندې لوی مهارت او چابكدستي سره تير اندازي هم كوله او د حضور ﷺ حفاظت به يي هم كوی هغه چې به تير ويشتلي نو نبي كريم ﷺ به كتل چې تير كوم ځای ولويدی او چرته لګيدلی دی (بخاري)

حل اللغات: ① يَتَتَرَّسُ: په ډهال سره ئې حفاظت كولو. ② حَسَنَ الرَّمْي: ښه غشی ويشتونكې. ماهر تير انداز. ③ تَشَرَّفَ: غور سره به ئې كتل، وراوچتيدو سره كتل. ④ نَبْلِهِ: د غشی د لګيدلو او پريوتلو ځائې.

تسهيلات:

قوله: بِتُرْسٍ وَاحِدٍ"

په يو ډال سره د حفاظت كولو مقصود: يعني دَ يوډهال په ذريعه به ئې دَحضورپاك بچاوَ كولو دوه ډهالونه نه وو. دا دَ ډير نيزديكت طرف ته اشاره ده چه ورسره ورسره وو.

[٢٨٦٦] د آسونو فضيلت

٢٨٦٦-[٦] (٢) [١] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] "«الْبَرَكَةُ فِي نَوَاصِي الْخَيْلِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[١]) اخرجه البخاری فی كتاب الجهاد والسير/باب المجن ومن يترس بترس صاحبه (رقم-٢٩٠٤) واحمد فی المسند: ٢٨٦/٣

[٢]) اخرجه البخاری فی كتاب الجهاد والسير/باب: الخيل معقود فی نواصيها الخير إلی يوم القيامة (رقم-٢٨٥١) ومسلم فی كتاب الإمارة/باب الخيل فی نواصيها الخير إلی يوم القيامة (رقم-١٠٠ - (١٨٧٤) والنسائی فی كتاب الخيل/باب: بركة الخيل (رقم-٣٥٧١) واحمد فی المسند: ١١٤/٣

ترجمه: [۱] حضرت انس ﷺ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲] د آسونو په تندوکې برکت دی (بخاري مسلم)

تسهيلات: قوله: الْبَرَكَةُ فِي نَوَاصِي الْخَيْلِ:

په جهاد کښې د اسونود کردار عظمت: أي في ذواتهم. يعنى تنندى نه مراد ذات دې. مطلب دا دې چه الله تعالى د جهادی اسونو په وښتو کښې يو خاص قسم برکت اچولې دې ځکه چه د اسونو په ذريعه جهاد کولې شي، په کوم کښې چه د دنيا او آخرت ګټه ده. ددې وجهې نه الله تعالى خاص طور باندې د اسونو ذکر کړې دې کما في القرآن، وأعدوا لهم ما استطعتم من قوة ومن رباط الخيل. اګرچه په قوت کښې اس هم شامل وؤ مګر بيا ئې هم په خصوصى طور باندې ددې ذکر د عظمت په وجه اوکړو.

[۲۸٦۷] اسونو سره د خير رفاقت

۲۸٦۷-[٤] (۱) [۱] وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَلْوِي نَاصِيَةَ فَرَسٍ بِإِصْبَعِهِ، يَقُولُ: [۳] "الْخَيْلُ مَعْقُودٌ بِنَوَاصِيهَا الْخَيْرُ إِلَى الْقِيَامَةِ: [٤] الْأَجْرُ وَالْغَنِيمَةُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جرير ابن عبدالله بجلي ﷺ وايي [۲] چې رسول کريم ﷺ د يو اس د تندي وينستو څخه خپلې ګوتي سره ول ورکولو او فرمايل يې [۳] آسونه هغه څاروي دی چې د هغوی تندو کې ترقيامته پورې خير او ښيګړه تړل شويده ځکه چې د اسونو په ذريعه د جهاد کولو سعادت حاصليږي چې په هغه کې د دنيا او آخرت خير ښيګړه ده [٤] اخنګه چې يوه موقع کې وفرمايل شوا چې په جهاد کې د آخرت ثواب حاصليږي او د دنيا مال غنيمت حاصليږي (مسلم)

حل اللغات: (۱) يَلْوِي: وَل به ئې ورکولو. تاوول ئې. (۲) نَاصِيَةَ: تندي. (۳) مَعْقُودٌ: تړلې شوي دي

تسهيلات:

قوله: الْخَيْلُ مَعْقُودٌ بِنَوَاصِيهَا الْخَيْرُ إِلَى الْقِيَامَةِ:

په اسونو کښې د برکت کيدو وجه: دا دَناصية جمع ده دَ تندی وينستوته وائی مګرمرادد اسونو ذات دې دَ اسونو په تندوکښې خيراوبرکت دَقيامته پورې ځکه تړلې شوې دې چه جهادبه دَقيامته پورې قائم وی اودَ جهاد لويه ذريعه اسونه دی نو په اسونوکښې جهاددې او په جهادکښې دَ قيامته پورې دَدين او دَ دنيا ښيګړه ده لهذا په اسونوکښې دا ښيګړه ده

(۱) اخرجه مسلم فى كتاب الإمارة/باب الخيل فى نواصيها الخير إلى يوم القيامة (رقم-٩٧ - (١٨٧٢) والنسائى فى كتاب الخيل/باب: فتل ناصية الفرس (رقم-٣٥٧٢)

[۳۸۶۸] دَ جهادی اسونو د هرڅه تللې کیدل

۳۸۶۸-[۸] (۱) ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ "«مَنِ احْتَبَسَ فَرَسًا فِي سَبِيلِ اللهِ ; ۳ إِيمَانًا بِاللهِ وَتَصْدِيقًا بِوَعْدِهِ ; ۴ فَإِنَّ شِبَعَهُ وَرِيَّهُ، وَرَوْثَهُ، وَبَوْلَهُ فِي مِيزَانِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ۲ کوم سړی چې د الله په لار کې کار اخستو د پاره خپل کور کې اس وتړی ۳ چې په الله ﷻ باندې ايمان راوړي او د هغه وعدې لره رښتني ګڼی ۴ نو د هغه آس سيری او سيرابي [يعنی هغه آس چې په دنيا کې څه وخوړل او وڅښل] او د هغه خاشنړه او د هغه متيازې د قيامت د ورځې پورې د هغه سړي د اعمالو ترازو په تله کې تلل کيږي. (بخاري)

حل اللغات: ① اِحْتَبَسَ: اوساتی. اوتړی. ② شِبَعَهُ: موړيدل دې. ③ رِيَّهُ: خړوب کيدل او سيراب کيدل داسونو. ④ رَوْثَهُ: خاشنړه د اسونو ⑤ بَوْلَهُ: متيازې د اسونو.

تسهيلات:

قوله: فَإِنَّ شِبَعَهُ وَرِيَّهُ:

دَ خوراك څيزونه "ريه" دَ څکلوڅيزونه. لکه څنګه چه دَ جهادی اسونو په ساتنه کښې دومره ثواب دې هم دغه شان نن صبا دَ جهاد دَپاره په وسله ساتلو کښې هم ثواب ملاويږی اوکله چه دَ اس دا شان دې نو په دې باندې دَ سوريدونکی جهاد کونکی مجاهد به څه شان وی؟

[۳۸۶۹] داشکل آس ناخوښی

۳۸۶۹-[۹] (۲) ۱ وَعَنْهُ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَكْرَهُ الشِّكَالَ فِي الْخَيْلِ. ۲ وَالشِّكَالُ: أَنْ يَكُونَ الْفَرَسُ فِي رِجْلِهِ الْيُمْنَى بَيَاضٌ وَفِي يَدِهِ الْيُسْرَى ۳ أَوْ فِي يَدِهِ الْيُمْنَى وَرِجْلِهِ الْيُسْرَى. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ به آس کې شکال نه خوښولو ۲ او شکال دادې چې د آس ښۍ پښه او چپ لاس باندې سفيدي وي ۳ يا ښي لاس او چپه پښه باندې سفيدي وي (مسلم)

حل اللغات: ① الشِّكَالُ: د اس روستنۍ ښی خپه او مخکنۍ ګسه خپه کښې سپينوالی ته وائی. ② الْخَيْلُ: آس.

---

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الجهاد والسير/باب من احتبس فرسا " في سبيل الله لقوله تعالى: {ومن رباط الخيل} [الأنفال: ۶۰] (رقم-۲۸۵۳) والنسائي في كتاب الخيل/باب علف الخيل (رقم-۳۵۸۲) واحمد في المسند: ۲/۳۷۴

[۲] والترمذي في كتاب الجهاد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء ما يكره من الخيل (رقم-۱۶۹۸) والنسائي في كتاب الخيل/باب الشكال في الخيل (رقم-۳۵۶۷) وابن ماجه في كتاب الجهاد/باب ارتباط الخيل في سبيل الله (رقم-۲۷۹۰) واحمد في المسند: ۲/۳۸۴

تسهیلات: قوله: وَالشِّكَالُ

د شکال اس په تعریف کښې دوه اقوال: ① راوی په حدیث کښې دَ شکال اس مکمل تعارف کړې دې

② عام اهل لغت دې سره اتفاق نه کوی صاحب قاموس وغیره اهل لغت لیکلی دی چه شکال اس هغه وی دکوم چه درې خپې سپینې وی اویوه خپه ئې دَ باقی بدن په شان وی یادَدې عکس اوګنړئی چه یوه خپه سپینه وی اوباقی درې خپې دَ بدن په رنګ وی.

[۲۸۷۰] داسونو د زغل ذکر

۲۸۷۰-[۱۰] (۱) ① وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا: ② «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سَابَقَ بَيْنَ الْخَيْلِ الَّتِي أُضْمِرَتْ ③ مِنَ الْحَيْفَاءِ، وَأَمَدُهَا ثَنِيَّةُ الْوَدَاعِ، ④ وَبَيْنَهُمَا سِتَّةُ أَمْيَالٍ، ⑤ وَسَابَقَ بَيْنَ الْخَيْلِ الَّتِي لَمْ تُضْمَرْ مِنَ الثَّنِيَّةِ إِلَى مَسْجِدِ بَنِي زُرَيْقٍ، ⑥ وَبَيْنَهُمَا مِيلٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او عبد الله ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی ② چې یوه ورځ رسول کریم صلی الله علیه وسلم د هغه دوو اسونو په مینځ کې مسابقه (ګهوړ دوړ) وکی چې اضمار شوی وو ③ او دا مسابقت د حیفاء څخه شروع شو او ثنیه الوداع باندې ختم شو ④ او هغه دواړو مقاماتو [یعنی حیفاء او ثنیة الوداع] په مینځ کې د شپږ میله فاصله وه ⑤ او د کومو اسونو چې اضمار نه وه شوی د هغوی په مینځ کې د ثنیة الوداع څخه د مسجد بني زریق پورې مسابقت ګهوړ دوړ وکی ⑥ او د هغه دواړوو مقاماتو یعنی ثنیة الوداع او مسجد بني زریق درمیاني فاصله یو میل وه . (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: ① سَابَقَ : دمنډې مقابله ئې کړې وه. ② أُضْمِرَتْ : چه زغلولو دپاره اموخته کړې شوی وی ③ الْحَيْفَاء: د یو مقام نوم دې. ④ أَمَدُهَا : آخری حد دهغې. ⑤ ثَنِيَّةُ الْوَدَاعِ: د یو مقام نوم دې. ⑥ أَمْيَالٍ: د میل جمع ده. د مسافت یوخاص مقدار. ⑦ لَمْ تُضْمَرْ: چه زغلولو دپاره اموخته کړې شوی نه وو

تسهیلات:

قوله: سَابَقَ بَيْنَ الْخَيْلِ:

د نبی علیه السلام داسونو په دوه قسمه مقابله کښې حصه اخستل:

① نبی علیه السلام په خپله زمانه کښې دَ دوو قسمه اسونو په مسابقت کښې حصه

---

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسّیر/باب السّبق بین الخیل (رقم-۲۸۶۸) ومسلم فی کتاب الإمارة/باب المسابقة بین الخیل وتضمیرها (رقم-۹۵ - (۱۸۷۰) و ابو داود فی کتاب الجهاد/باب فی السّبق (رقم-۲۵۷۵)والنسائی فی کتاب الخیل/باب: إضمار الخیل للسّبق (رقم-۳۵۸٤) ومالک فی الموطا کتاب الجهاد/باب ما جاء فی الخیل والمسابقة بینها. والنّفقة فی الغزو (رقم-٤٥)

اخستې ده يو قسم تربيت يافته ټريننګ شوی اسونه وو د هغوی مسابقت د شپږ ميله فاصلې پورې په منډه کښې وو

② دويم قسم هغه اسونه وو چه اموخته کړې شوې نه وو تربيت يافته کړې شوې نه وو دهغوی دمسابقت فاصله درې ميلو پورې وه حضورپاك پخپله هم ټريننګ کړې دې او په نورو باندې ئې هم کړې دې په اسونو زغلولوکښې ئې پخپله هم حصه اخستې ده او نور ئې هم تيارکړی دی لکه چه په حديث نمبر(۳۸۶۵) کښې راځی

قوله: الَّتِي أُضْمِرَتْ مِنَ الْحَيْفَاءِ:

د اسونو تربيت طريقه: اسونه دَ اموخته کولو په غرض سره زغلولې شی دې عمل ته تضمير وائی دَدې طريقه دا وی چه اول په اس باندې ښه خوراك څښاك اوکړې شی او چاق کړی شی بيا خلوينبتو ورځو پورې سحر وختی په نهره باندې زغلولې شی او ډير کم خوراك ورکولې شی ترڅې چه په مزه مزه خلوينبتو ورځوکښې دَ اس خيټه ملا پورې اولګی دا تضمير شوې اس وی چه دَ هوا په شان زغلی

[۳۸۷۱] د هرعروج څخه روسته زوال

۳۸۷۱-[۱۱] ([۱])[۱] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «كَانَتْ نَاقَةٌ لِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تُسَمَّى الْعَضْبَاءَ، وَكَانَتْ لَا تُسْبَقُ، [۳] فَجَاءَ أَعْرَابِيٌّ عَلَى قَعُودٍ لَهُ، فَسَبَقَهَا، [۴] فَاشْتَدَّ ذَلِكَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۵] "إِنَّ حَقًّا عَلَى اللَّهِ أَنْ لَا يَرْتَفِعَ شَيْءٌ مِنَ الدُّنْيَا إِلَّا وَضَعَهُ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت انس ﷺ وائي [۲] چې رسول کريم ﷺ سره يوه اوښه وه د هغه نوم عضباء وو او هغه هيڅ کله وروسته نه پاتې کيدله [يعنی د هغه چې به کوم اوښ سره زغليدوکې مقابله وشوه نو هغه به يې وروسته پرينبودله او خپل به ځنې مخکې کيدله] [۳] ليکن يوه ورځ يو ديهاتی باندچې خپل اوښ باندې راغلو او هرکله چې هغه خپل اوښ عضباء سره وزغلوی نو د هغه اوښ ځنې مخکې شو [۴] داخبره په مسلمانانو سخته تيره شوه نو رسول کريم ﷺ ورته وفرمايل [۵] د حق تعالی دا ثابت شده فيصله ده چې د دنيا کوم څيز هم سربلند کيږي الله هغه پست کوي (بخاري)

حل اللغات: ① الْعَضْبَاءَ: دَ حضورپاك (ص) دَ يوې اوښې نوم عضباء وو ② لَا تُسْبَقُ: روسته به نه پاتې کيدله (يو اوښ به هم ددې نه مخکښې کيدې نه شو) ③ قَعُودٍ: دَدوو کالونه واخله تر شپږو کالو عمر کښې اوښ ته قعود وائی ④ فَسَبَقَهَا: نوهغه ترې مخکښې شوه (په زغلولو کښې)

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسير/باب ناقة النبیّ صلّی الله عليه وسلّم(رقم-۲۸۷۲) و ابو داود فی کتاب الأدب/باب فی کراهية الرّفعة فی الأمور(رقم-۴۸۰۲) والنسائی فی کتاب الخيل/باب الجنب (رقم-۳۵۹۲) واحمد فی المسند: ۱۰۳/۳

تسهیلات: قوله: تُسَمّٰى الْعَضْبَاءَ:

دعضباء اوښې وجه تسمیه: په اصل کښې چه دکومې اوښې غوږونه په پیدائشي توګه باندې نه وی یا غوږ پرې شوې وی هغې ته عضباء وائی. دلته دَدغه اوښې غوږونه موجود وو خو واړه وو. په دې وجه دې ته دَ عضباء نوم ورکړې شوې وو

قوله: وَكَانَتْ لَا تُسْبَقُ:

د عضباء په منډه کښې سبقت: یعنی یو اوښ دَ دې نه مخکښې تلې نه شو اودا روستو کولې نه شو دَ مجهول صیغه ده. عضباء به په عام توګه باندې دَ مقابلې دَپاره تیار ساتلې شوې وه. هغې دَ ټولو اوښانو نه په منډه کښې یو ریکارډ قائم کړې وو

قوله: فَاشْتَدَّ ذٰلِكَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ:

دنیاوی ترقی، لره زوال: یعنی دَ صحابه کرامو باندې د هغه کلی وال اوښ وړاندې کیدل اودَ حضورپاك دَ اوښې ریکارډ ماتیدل سخت بد اولګیدل ځکه چه دَ عربو په معاشره کښې په مسابقت کښې شاته پاتې کیدل دَ شرم سبب وو. په دې باندې حضورپاك صحابه کرامو ته تسلی ورکړه چه دَ دنیا په معامله کښې څوك سر اوچتوی او وړاندې کیږی او نوموړې کیږی نو یووخت کښې الله تعالی هغه شاته راغورزوی دې دَپاره چه دَ دنیا فخر ختم شی لهذا دې اوښې سره هم الله تعالی هم دغه معامله اوکړه دَ پریشانه کیدو ضرورت نشته دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۸۷۲] د جهادی وسلې جوړونکی جنت ته تلل

۳۸۷۲ــ[۱۲] (۱) [۱] عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "[۲] «إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى يُدْخِلُ بِالسَّهْمِ الْوَاحِدِ ثَلَاثَةَ نَفَرٍ الْجَنَّةَ: [۳] صَانِعَهُ يَحْتَسِبُ فِي صَنْعَتِهِ الْخَيْرَ [۴] وَالرَّامِيَ بِهِ، وَمُنْبِلَهُ. [۵] فَارْمُوا، وَارْكَبُوا، [۶] وَأَنْ تَرْمُوا أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ تَرْكَبُوا. [۷] كُلُّ شَيْءٍ يَلْهُو بِهِ الرَّجُلُ بَاطِلٌ، [۸] إِلَّا رَمْيَهُ بِقَوْسِهِ، [۹] وَتَأْدِيبَهُ فَرَسَهُ، وَمُلَاعَبَتَهُ امْرَأَتَهُ، فَإِنَّهُنَّ مِنَ الْحَقِّ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ،

ترجمه: [۱] عقبه ابن عامر رضی الله عنه وایي چې ما درسول کریم ﷺ څخه واوریدل [۲] الله جل جلاله په کفارو د چلونکي یوتیر بدله کې درې سرې په جنت کې داخلوي [۳] یو خو د هغه تیر جوړونکی هرکله چې هغه خپل روز ګار سره د ثواب هم امید لري ایعنی هرکله چې هغه تیر جوړوي نو خپل روزګار سره دانیت هم کوي چې زه دا تیر په جهاد کې په کار راتلو دپاره جوړوم [۴] دویم په جهاد کې تیر چلونکی او دریم تیر ورکونکی ایعنی هغه سری

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن رقم الحدیث ۲۵۱۳ والترمذی فی السنن رقم الحدیث ۱۶۳۷ . والنسائی رقم الحدیث ۳۵۷۸

چې د تیر اندازۍ په لاس کې خپل یا د هغه تیر ورکړي او برابره خبره ده که هغه مخکې یې ورکړي یا نبني پورته کولو سره یې ورکړي[۵] نو تاسو تیر اندازي کوئ او آسونو باندې سورلی کوئ (یعنی د تیر اندازی او د اس د سورلی مشق کوئ)[٦] او ستاسو تیر اندازی ځما په نزد سورلی کولو څخه زیاته ښه ده[۷] او یاد لرئ چې انسان چې کوم څیز د لهو ولعب (یعنی محض د لوبې او تفریح په طور اختیار کړي) هغه باطل او ناروا دی [۸] خوخپلې لیندی سره تیر آندازي کول[۹] خپل اس ته تربیت ورکول او خپلې ښځې سره لوبې او تفریح کول دا ټول څیزونه حق دي (ترمذي ابن ماجه)

[۱] وَزَادَ أَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ: " «وَمَنْ تَرَكَ الرَّمْيَ بَعْدَمَا عَلِمَهُ رَغْبَةً عَنْهُ، فَإِنَّهُ نِعْمَةٌ تَرَكَهَا» ".[۲]، أَوْ قَالَ: " كَفَرَهَا".

ترجمه:[۱] ابوداود او دارمي خپل روایت کې دا الفاظ هم نقل کړي دي او کوم سړی چې تیر آندازی زده کولو څخه وروسته هغه د بې نیازی اود بیزاری جذبې سره پریږدي نو هغه تیر آندازي یو نعمت دی چې هغه پریښی دي[۲] یا دایې وفرمایل چې هغه د هغه نعمت ناشکري وکړله.

حل اللغات: ①صَانِعَهُ: جوړونکې دهغې، ②وَمُنَبِّلَهُ: غشی ویشتونکې مجاهد ته چه غشې ورکوی هغه ته مُنَبِّل وائی، ③يَلْهُو: چه لوبې ورسره کوی. ④كفرها" یدلته کفر د ناشکری په معنی کښې دې

تسهيلات:

قوله: يُدْخِلُ بِالسَّهْمِ الْوَاحِدِ ثَلَاثَةَ نَفَرٍ الْجَنَّةَ:

د یو غشی په ذریعه دریسې کسان جنت ته داخلیدل: یعنی په جهاد کښې استعمالیدونکې دَ یو غشی په ذریعه دَ ښه نیت دَ وجې نه دري کسان جنت کښې داخلیږی

① صانع ② رامی ③ منبل

قوله: فَارْمُوا، وَارْكَبُوا:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① غشی ویشتل هم زده کړئی او په اسونو سوریدل هم زده کړئی دَدواړه کارونه دَ جهادی تربیت حصه ده

② غشی ویشتل هم کوئی او په اسونو سوریدوسره نیزه هم استعمالوئی حضورپاک اوفرمائیل چه زما د نیزه بازئی نه غشی ویشتل ډیر خوښ دی

دغشوویشتلو ضرورت: ځکه چه په غشو ویشتو کښې خوداعتمادی زیاته ده اوخالص دَ زمکې جنګ دې په کوم سره چه دَ جنګ نتیجه په لاس راځی خلاصه دا چه هرقسم مشق کول ښه دی لیکن دَ غشو ویشتو مشق دَ نورو مشقونونه زما زیات خوښ دی چنانچه په احادیثوکښې غشی ویشتل مقدم ساتلې شوی دی بهرحال مشق کول اوهیرول ګناه ده

[٢٨٧٢] تيرا ندازي جنت ته د تلو سبب

٢٨٧٣-[١٣] ()[١] وَعَنْ أَبِي نَجِيحٍ السُّلَمِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [٢] "«مَنْ بَلَغَ بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ، فَهُوَ لَهُ دَرَجَةٌ فِي الْجَنَّةِ،[٣] وَمَنْ رَمَى بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَهُوَ لَهُ عِدْلُ مُحَرَّرٍ،[٤] وَمَنْ شَابَ شَيْبَةً فِي الْإِسْلَامِ، كَانَتْ لَهُ نُورًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ» ". [٥] رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي " شُعَبِ الْإِيمَانِ ". وَرَوَى أَبُو دَاوُدَ الْفَصْلَ الْأَوَّلَ،[٦] وَالنَّسَائِيُّ الْأَوَّلَ وَالثَّانِيَ، وَالتِّرْمِذِيُّ الثَّانِيَ وَالثَّالِثَ،[٧] وَفِي رِوَايَتِهِمَا: "مَنْ شَابَ شَيْبَةً فِي سَبِيلِ اللّٰهِ" بَدَلَ: "فِي الْإِسْلَامِ".

ترجمه: [١] او ابو نجيح سلمي ﷛ وايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل [٢] كوم سړی چې د الله په لار يعنی جهاد کې يو تير ننبي باندې ورسوی [يعنی هغه تير چلولو سره كافر يي ووژی] نو د هغه د پاره په جنت کې يوه ډيره لويه درجه ده [٣] او کوم سړی چې د الله لار يعني جهاد کې تير وويشتلو [برابره خبره ده كه هغه كافر ته ولګيدلو يا ونه لګيدی] نو دهغه د پاره د يوبرده غلام يا وينځې آزادولو برابر دی [٤] او کوم سړی چې د اسلام په حالت کې بوډا شو او مړ شو [يعنی الله هغه د اسلام په حالت کې بر قرار وساتی تردې چې هغه بوډا شو او مړ شو] نو هغه بوډاتوب به هغه د پاره د قيامت په ورځ نور وي [٥] دا روايت بيهقي ﷫ په شعب الايمان کې نقل کړي دی ابوداود دا روايت صرف مخکنی جزء [يعنی من بلغ بسهم في سبيل الله فهوله درجة في الجنة] نقل کړي دی [٦] نسائي مخکنی او دويم جزء چې په هغه کې د تير اندازي فضيلت بيان شوی دی نقل کړي دی او ترمذي دويم او دريم جزء نقل کړي دی [٧] او د بيهقي او ترمذي په روايت کې (في الاسلام) يعنی د اسلام په حالت کې په ځای في سبيل الله يعنی د الله په لار کې درج دی

حل اللغات: ① عِدْلُ مُحَرَّرٍ: دغلام آزادولو برابر دی. ② شَابَ شَيْبَةً: ځوانی ئې زړه کړه، بوډا شو.

تسهيلات:

قوله: مَنْ بَلَغَ بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ:

دبلغ مفهوم: يعنی چه يو غشي په ننبه باندې اولګيدو يا چه كوم باندې كافر اولګيدو "ومن رمى" يعنی د كافرانو طرف ته غشي اوويشتلې شو كه اولګيدو او كه اونه لګيدو.

قوله: وَرَوَى أَبُو دَاوُدَ الْفَصْلَ الْأَوَّلَ:

د حديث درې حصې: ددې حديث درې حصې دی دغه حصوته فصل اول ثانی او ثالث وئيلې شوې دې

① د من بلغ نه د ومن رمى پورې يوه حصه ده دې ته فصل اول اووئيلې شو ابوداؤد هم دومره نقل کړې دې،

() اخرجه ابوداود في السنن رقم الحديث ٢٥١٣ والترمذی في السنن رقم الحديث ١٦٣٨ . والنسائی رقم الحديث ٣١٤٣

④ دَ ومن رمی نه دَومن شاب پورې دویمه حصه ده امام نسائی رحمه الله اول او دویمه حصه نقل کړې ده او ترمذی دویمه اودریمه حصه نقل کړې ده.

⑤ دریمه حصه دَ ومن شاب نه آخر پورې ده دَ فصل نه مراد حصه اوجزء دې.

قوله: وَفِي رِوَايَتِهِمَا:

د مذکوره جملې وضاحت: په ظاهره دَ تثنیې دا ضمیر دَنسائی اوترمذی طرف ته راګرځی ځکه چه دواړه خوا خواکې دی لیکن داسې نه ده ځکه چه نسائی دریم جزء نه دې نقل کړې لهذا دَ تثنیې دا ضمیر دَ ترمذی او بیهقی طرف ته راګرځی ځکه چه بیهقی پوره حدیث نقل کړې دې.

اشکال: بیهقی "شیبة في الإسلام" لفظ استعمال کړې دې لکه چه پورته په حدیث کښې دی نودَ بیهقی باره کښې وئیلی کیدې شی چه هغه فی سبیل الله لفظ نه دې استعمال کړې بیا دلته صاحب مشکوة څنګه اووئیل چه "وفي روايتهما في سبيل الله الخ"؟

داشکال جواب: بیهقی نه دوه روایتونه نقل دی یو کښې دَ فی الإسلام لفظ دې کوم چه په ترمذی کښې نشته دې. او په دویم روایت کښې فی سبیل الله لفظ دې کوم چه په ترمذی کښې هم شته اوبیهقی کښې هم دې. لهذا "وفي روايتهما" جمله صحیح شوه. (تدبروتشکر)

[۲۸۷٤] په جهادی مقابله کښې د شرط لګولو جواز

٣٨٧٤ - [١٤] (١) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«لَا سَبَقَ إِلَّا فِي نَصْلٍ، أَوْ خُفٍّ، أَوْ حَافِرٍ»". ③ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② د مسابقت د شرط د مال اخستل صرف [دریو څیزونو یعنی] تیر چلولو اوښ زغلولو او (ګهوړ دوړ کې) جائز دی ③ (ترمذي ابوداود نسائي)

حل اللغات: ① سَبَقَ: په وړاندې کیدلو کښې شرط لګول. ② نَصْلٍ: اى ذونصل "نصل تیره څوکې ته وائی کوم چه په نیزه او غشی کښې وی. ③ خُفٍّ: "اى ذوخف" اوښ ته وائی. ④ حَافِرٍ: "اى ذوحافر" اس ته وائی.

تسهیلات: قوله: لَا سَبَقَ إِلَّا فِي نَصْلٍ:

د شرط لګولو دوه صورتونه:

① په عامو معاملاتو او امورو کښې شرط لګول ناجائز دی او د عدم جواز وجه بې دا ده

(١) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الجهاد/باب فی الرّمى (رقم-٢٥٦٤) والترمذى فی كتاب الجهاد عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فی الرّهان والسّبق (رقم-١٧٠٠) والنسائی فی كتاب الخيل/باب: السّبق (رقم-٣٥٨٥) وابن ماجه فی كتاب الجهاد/باب السّبق. والرّهان (رقم-٢٨٧٨) واحمد فی المسند: ٢/٤٧٤

چې دا جواري ده
② دَانعام شرط لګول په جهادي تربيت كښې جائز دی دې کوم څيزونه چه دَ جهاد په وسائلو او ذرائعو كښې شامل دی

په جهاد کښې د شرط لګولو د جواز وجه: دَ هغې په مسابقت كښې شرط لګول اودَ شرط پيسې اخستل په اصل کښې په جهاد کښې ترغيب ورکولو دَوجې نه وی او اعداد الهٔ جهاد اودَدې دَ تشويق او ترغيب په حكم كښې راځی په دې وجه دا جائز ګرځولې شوی دی

د جواز په باب کښې د جهاد بعضې خصوصيات: جهاد عجيبه عبادت دې اودَدې عجيبه اوځان له احكام دی ډير څيزونه په نورو ځايونو كښې ناجائز وی ليكن په جهاد كښې جائز وی

① د تكبرتګ او مشی به عامو حالاتو كښې ناجائز په جهاد كښې جائز دې
② دروغ ونيل په عامو حالاتو كښې ناجائز په جهاد كښې جائز دی
③ د بريتانو اوږدول په عامو حالاتو كښې ناجائز په جهاد كښې جائز دی

قوله: فِي نَصْلٍ، أَوْ خُفٍّ، أَوْ حَافِرٍ:

په بعضې څيزونو کښې د شرط لګولو جواز: په حديث كښې دا درې څيزونه خاص كړې شوی دی دَ كوم نه چه معلوميږی چه دَدې نه علاوه په بل څيزكښې شرط لګول اورقم حاصلول ناجائز دی.

ليكن فقهاؤ دَدې دريو څيزونو په حكم كښې هغه څيزونه هم شامل كړی دی چه په اعداد الهٔ جهاد كښې استعماليږی مثلاً

① قچر خر اوهاتهی يا پيدل منډه وهلو سره مقابله كول شو
② يا دَ ټوپك وغيره نښه ټيك كول شو

دجواز وجه: كله چه دا څيزونه صرف دَ تربيت په غرض سره وی نوپه دې كښې هم شرط لګولو سره رقم وصول كولې شی ځكه چه علت مشترك دې ماد فقهاؤ داخبره نقل كړې ده.

[۲۸۷۵] داسونوپه جهادی مقابله کښې د شرط جواز

۲۸۷۵-[۱۵] (۱) ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② "«مَنْ أَدْخَلَ فَرَسًا بَيْنَ فَرَسَيْنِ، ③ فَإِنْ كَانَ يُؤْمَنُ أَنْ يَسْبِقَ، فَلَا خَيْرَ فِيهِ، ④ وَإِنْ كَانَ لَا يُؤْمَنُ أَنْ يَسْبِقَ، فَلَا بَأْسَ بِهِ» ". ⑤ رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ". وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ، قَالَ: "«مَنْ أَدْخَلَ فَرَسًا بَيْنَ فَرَسَيْنِ، ⑥ يَعْنِي وَهُوَ لَا يَأْمَنُ أَنْ يَسْبِقَ، فَلَيْسَ بِقِمَارٍ. ⑦ وَمَنْ أَدْخَلَ فَرَسًا بَيْنَ فَرَسَيْنِ، وَقَدْ أَمِنَ أَنْ يَسْبِقَ، فَهُوَ قِمَارٌ» ".

---

(۱) اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحديث ۲۶۵٤ . وابوداود فی السنن رقم الحديث ۲۵۷۹ . واحمد فی المسند ۲/ ۵۰۵

ترجمه: [۱] حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړی چې د دوو آسونو په مينځ کې خپل آس شامل کی [۳] که هغه اس داسې وي چې د هغه د تيز رو کيدو په وجه د هغه په باره کې دايقين دی چې هغه به دي دواړو آسونو څخه مخکې شي نو په دي کې خيرنشته [۴] او که دايقين نشته چې هغه به مخکې شي نو بيا په دي کې هيڅ حرج نشته [۵] (شرح السنة) او د ابوداود په روايت کې دا الفاظ دي چې حضور ﷺ وفرمايل که يو سړی د دوو اسونو په مينځ کې خپل آس شامل کړي [۶] يعنی چې د هغه په باره کې دايقين نشته چې هغه به مخکې وځي نو دا جواري جواري نه ده [۷] او که يو سړی د دوو آسونو په مينځ کې خپل داسې آس شامل کړي چې د هغه په باره کې دايقين دی چې هغه به مخکې شي نو دا جواري ده.

حل اللغات: ① قِمَار: جواری.

تسهيلات: قوله: وَمَنْ أَدْخَلَ فَرَسًا بَيْنَ فَرَسَيْنِ:

د اسونو د مقابلې دوه صورتونه: ① هغه صورت چې په هغې کښې دريم ګړې محلل نه وی.
② هغه صورت چې په هغې کښې دريم ګړې يعنی محلل وی.

داول صورت درې صورتونه: ① د دوو سرو په مينځ کښې د اسونو منډې مقابله ده که يو کمپنئی يا حاکم په دوی کښې د وړاندې کيدو د پاره د انعام په توګه څه شرط کيخودې وی نو دا جائز دې

② د دواړو اسونو د مالکانو نه يو خپل ملګری ته اووئيل که چرې ته وړاندې لاړې نوزه به دومره رقم درکوم اوکه چرې زه وړاندې لاړم نو هيڅ به هم نه اخلم دا صورت هم جائز دې
③ که د دواړو طرفونه دواړو شرط کيخودو نو دا معامله جواری ده کوم چه ناجائز ده

د دويم صورت درې صورتونه: ① که په دې کښې دريم ګړې محلل راغلو نو بيا به د طرفين معامله جائز وی محلل هغه دريم سړی ته وائی چه خپل اس راولی اوشرط لګونکو سره نی شامل کړه او وائی چه که زه تاسو دواړو نه وړاندې اووتلم نو تاسو دواړو نه به دومره رقم اخلم اوکه چرې زه شاته پاتې شوم نوزه به تاسو ته هيڅ نه درکوم اوزما نه به هيڅ هم نه اخلئی نو د دغه محلل داخليدو سره د اسونو د منډې رومبې شرط تړونکو دواړو سړو د پاره د شرط رقم حلال شو هم په دې وجه ده ته محلل وائی
② که چرې محلل وړاندې اونه وتلو اودې دواړو کښې څوک وړاندې شو نو هغه به د خپل مقرر ملګری نه مقرر شرط وصول کړی اوکه چرې دواړه په يو ځائی اورسيدل نو چاته به هم رقم نه ملاويږی. نو که د محلل اس د دغه دواړو د اسونو نه وړاندې کيدل يقينی نه وی بلکه دا احتمال وی چه وړاندې به اوځی يا به شاته پاتې شی.

③ اوكه تولو خلقوته په يقيني توګه باندې معلومه وي چه هم دمحلل اس به وړاندې اوځي نوبيا داسړې محلل نه شي جوړيدې بلكه پوره معامله به ناجائزشي.

[٢٨٧٦] داسونوپه زغل كښې د جلب او جنب مما نعت

٣٨٧٦-[١٦] (١) ①وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② "«لَا جَلَبَ وَلَا جَنَبَ»". زَادَ يَحْيَى فِي حَدِيثِهِ: "فِي الرِّهَانِ". ③رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ مَعَ زِيَادَةٍ فِي بَابِ "الْغَصْبِ".

ترجمه: ①عمران ابن حصين رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ اوفرمائيل② چې نه جلب جائز دی او نه جنب او يو راوي يحيى په خپل روايت كې لفظ في الرهان هم نقل كړي دی [يعنی د هغه په روايت كې دادی چې رهان يعنی د اسونو شرط او مسابقت كې نه جلب جائز دی نه جنب]③ دا روايت ابوداود او نسائي نقل كړي دی او ترمذي هم دا روايت څه زائد الفاظو او معاني سره باب الغصب كې نقل كړي دی.

حل اللغات: ①جَلَبَ: رابنكل. ②جَنَبَ: اړخ. ③الرِّهَانِ: د اسونو د منډې مقابله، مسابقت.

تسهيلات: قوله: لَا جَلَبَ وَلَا جَنَبَ:

دجلب اوجنب په درې بابونو كښې استعمال: ① **جلب** او "**جنب**" دا اصطلاح په كتاب الزكوة كښې هم استعمال كړې شوې ده ②په كتاب الجهاد كښې هم استعمال كړې شوې ده ③كتاب البيوع كښې ددې صرف يولفظ "جلب" استعمال كړې شوې دې. كتاب الزكوة او بيوع كښې ددې تفصيل تيرشوې دې هلته كتل پكاردی.

په جهاد كښې د جلب مفهوم: دلته په كتاب الجهاد كښې ددې اصطلاح مفهوم دادې چه د اسونو زغلولوپه مقابله كښې يوسړې په خپل اس پسې شاته يو بل سړې سور ساتي اوهغه په خپل اس باندې سور دې مګر د مقابلې سړی اس د شانه شړی آوازونه وركولوسره هغه تيزوی دا ناجائز دی.

د جلب مثالونه: ① د اوښانو په مقابله كښې ظالمان عرب معصوم بچې سوروی. ماشوم د ويرې د وجې چغې وهي نواوښ ويريږی اوتيزې منډې وهي. الله تعالى داسې ظالمان خپل ځائې ته اورسوی.

② د خر زغلولودپاره په هغې سور په تين وغيره كښې كانړې واچوی اوهغه شرنګوی اوخر منډه وهي.

(١) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الجهاد/باب في الجلب على الخيل في السباق (رقم-٢٥٨١) والترمذي في كتاب النكاح عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/ ما جاء في النهي عن نكاح الشغار (رقم-١١٢٣) والنسائي في كتاب الخيل/باب الجنب (رقم-٣٥٩١)واحمد في المسند: ٤/٤٣٩

قوله: وَلَاجَنَبَ:

په جهاد کښې د جنب مفهوم: جنب دادې چه مقابله کونکی خان سره یوفارغ اس په اړخ کښې ساتلې دې. دې دپاره چه کله خپله سورلی ستړې شی نوچه په دې تازه دم اس باندې سورشی کوم چه په اړخ کښې دې داهم ناجائز دی.

[۲۸۷۷] د بهترین آس نښې

٣٨٧٧ـ[١٧] () [١] وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] " «خَيْرُ الْخَيْلِ الْأَدْهَمُ الْأَقْرَحُ الْأَرْثَمُ، [٣] ثُمَّ الْأَقْرَحُ الْمُحَجَّلُ طَلْقُ الْيَمِينِ، [٤] فَإِنْ لَمْ يَكُنْ أَدْهَمَ، فَكُمَيْتٌ عَلَى هَذِهِ الشِّيَةِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] ابوقتاده رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ څخه نقل کوي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲] بهترين آس تور آس دی چې د هغه په تندي لږ شان سپين ټکی وي او پوزي جانب ته يي سپينوالی وی [۳] بيا هغه ښه دی چې د هغه په تندي لږ شان سفيدی وي او لاس پښې يي سپين وي [۴] ليکن ښه لاس يي سپين نه وي او که تور اس نه وي بيا د دې قسم کميت هم بهتر اس دی. (ترمذي دارمي)

حل اللغات: ① الْأَدْهَمُ: تك تور اس. ② الْأَقْرَحُ: تور اس چه په تندی ئې سپين داغ وی چه د غرۀ نه کم وی. ③ الْأَرْثَمُ: توراس چه دشوړن د پې نه اوچت پوزې طرف ته ئې سپينوالې وی. ④ الْمُحَجَّلُ: تور اس چه لاس خپې ئې سپين وی. ⑤ طَلْقُ الْيَمِينِ: هغه اس چه ښی خپه ئې سپينه نه وی، ⑥ فَكُمَيْتٌ: هغه اس چه د سټ بره حصه اود لکئی ويښته ئې تور وی. ⑦ الشِّيَةِ: د شية جمع شيات ده داس هغه داغ ته وائی چه د بدن د عام رنګ مخالف وی.

تسهيلات:

قوله: ثُمَّ الْأَقْرَحُ الْمُحَجَّلُ:

داسونو درې قسمونه: په دې حديث کښې د ښه والی په اعتبار د اسونو درې قسمونه بيان شوی دی

① اهم د هغه په تندي لږ شان سپين ټکی وي او پوزي جانب ته يي سپينوالی وی

② هغه هغه چې د هغه په تندي لږ شان سفيدی وي او لاس پښې يي سپين وي ليکن ښه لاس يي سپين نه وي

③ که تور اس نه وي بيا د دې قسم کميت هم بهتر اس دی.

باقی د هريو وضاحت په حل اللغات کښې شوې دې

() اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحديث ١٦٩٦، وابن ماجة رقم الحديث ٢٧٨٩

[٢٨٧٨] د درې قسمه اسونو د حاصلولو ترغیب

٣٨٢٨-[١٨] (١) [١] وَعَنْ أَبِي وَهْبٍ الْجُشَمِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] "«عَلَيْكُمْ بِكُلِّ كُمَيْتٍ أَغَرَّ مُحَجَّلٍ، [٣] أَوْ أَشْقَرَ أَغَرَّ مُحَجَّلٍ، [٤] أَوْ أَدْهَمَ أَغَرَّ مُحَجَّلٍ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] ابو وهب جشمي رضي الله عنه وايي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [٢] ستاسو د پاره سپین تندی او سپین لاس پښو والا کمیت آس ضروري دی یعنی که تاسو آس ساتئ نو داسې آس ساتئ [٣] یا اشقر آس کیدل پکار دي چې د هغه تندی هم سپین وي او لاس پښې یې هم سپیني وي [٤] یا تور سپین تندی وي او سپین لاس پښې وي (ابوداود نسائي)

حل اللغات: ① كُمَيْتٍ: هغه اس چه د ستې بره حصه اودَ لکئ ویښته ئې تور وی. ② أَغَرَّ: د غرة نه دې هغه اس چه په تندی ئې سپینوالې وی. ③ مُحَجَّلٍ: چه لاس خپې ئې سپین وی. ④ أَشْقَرَ: سور رنګ والا آس.

تسهیلات:

قوله: عَلَيْكُمْ كُمَيْتٍ أَغَرَّ مُحَجَّلٍ:

په کمیت اواشقر کښې فرق: کیمت او أشقر کښې دا فرق دې چه د کیمت لکې او د ختې رنګ تور وی او د أشقر سور وی، په حدیث مبارک کښې د عمده (ښه) قسمه اسونو د ترتیب بیان دې

[٢٨٧٩] سره اسونه او د برکت سبب

٣٨٢٩-[١٩] (٢) [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[٢] «يُمْنُ الْخَيْلِ فِي الشُّقْرِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [٢] د آسونو برکت د سور رنګ آسونو کې وي (ترمذي ابوداود)

حل اللغات: ① يُمْنُ: خیر او برکت. ② الشُّقْر: سور رنګ والا اس

تسهیلات:

نوټ: ددې حدیث وضاحت د حدیث نمبر (٣٨٢٨) په تسهیل کښې تیرشوې دي

(١) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب فیما یستحب من ألوان الخیل (رقم-٢٥٤٣) والنسائی فی کتاب الخیل/باب ما یستحب من شیة الخیل (رقم-٣٥٦٥)واحمد فی المسند: ٣٤٥/٤

(٢) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب فیما یستحب من ألوان الخیل (رقم-٢٥٤٥) والترمذی فی کتاب الجهاد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء ما یستحب من الخیل (رقم-١٦٩٥)واحمد فی المسند: ٢٧٢/١

[۲۸۸۰] دآسونو د بعضو وېښتو د کټ کولو ممانعت

۲۸۸۰—[۲۰] (۱) ⟦۱⟧ وَعَنْ عُتْبَةَ بْنِ عَبْدٍ السُّلَمِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ⟦۲⟧ "«لَا تَقُصُّوا نَوَاصِيَ الْخَيْلِ، وَلَا مَعَارِفَهَا، وَلَا أَذْنَابَهَا ⟦۳⟧ فَإِنَّ أَذْنَابَهَا مَذَابُّهَا، وَمَعَارِفَهَا دِفَاؤُهَا، وَنَوَاصِيهَا مَعْقُودٌ فِيهَا الْخَيْرُ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ⟦۱⟧ عتبه رضي الله عنه ابن عبد السلمي څخه روايت دی هغه د رسول الله ﷺ څخه واوريدل ⟦۲⟧ د آسونو ① د تندي وېښته ② د هغوی د څټ وېښته ③ او د هغوی د لکيانو وېښته مه پريکوئ ⟦۳⟧ ځکه چې ① د هغوی لکۍ د هغوئ مچ بنکي (مچان وغيره شړونکي) دی چې د هغه ښوررولو سره مچان او چينجي الوځوي ② او د هغوی ايال هغوی ته د ګرمي رسولو ځيزونه دي ③ او دهغوی د تندي وېښتو سره خيربنيګړه تړل شويده (ابوداود)

حل اللغات: ① لَا تَقُصُّوا: قص د پرې کولو په معنی کښې دي ② نَوَاصِيَ: دناصية جمع ده د تندی وېښتو ته وائی ③ مَعَارِفَهَا: دَدې مفرد عرف دي يامعرفة دي دَ اس په سټ باندې چه کوم وېښته اوچت ولاړ وی هغه مراد دی کوم ته چه ايال وائی ④ أَذْنَابَهَا: دَدې مفرد ذنب دي لکۍ ته وائی مراددَ لکۍ وېښته دی دَحديث په باقي حصه کښې دَدې ممانعت علت طرف ته اشاره کړې شوې ده ⑤ مَذَابُّهَا: داد ذب نه دې دَ دفع کولو په معنی کښې دې يعنی دَ لکۍ په وېښتو سره اس مچان وغيره دفع کوی داد ده پکې دې ⑥ مَعْقُودٌ: يعنی دَ تندی په وېښتو کښې الله تعالی برکت کيخودې دې ⑦ دِفَاؤُهَا: دفاء ګرمئی ته وائی يعنی دَ ايال په وېښتو سره اس ګرمی حاصلوی دې دَپاره چه سټ ئی دَ يخوالی وغيره نه محفوظ وی.

تسهيلات:

نوټ: په حديث کښې اهم د ګرانو لغاتو حل دې هغه په حل اللغات کښې شوې دې باقی مطلب د ترجمې څخه واضح دې

[۲۸۸۱] دآسونو په باره کښې څو هدايات

۲۸۸۱—[۲۱] (۲) ⟦۱⟧ وَعَنْ أَبِي وَهْبٍ الْجُشَمِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " ⟦۲⟧ «ارْتَبِطُوا الْخَيْلَ، وَامْسَحُوا بِنَوَاصِيهَا وَأَعْجَازِهَا - أَوْ قَالَ: أَكْفَالِهَا - ⟦۳⟧ وَقَلِّدُوهَا، وَلَا تُقَلِّدُوهَا الْأَوْتَارَ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ⟦۱⟧ او وهب جشمي رضي الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ⟦۲⟧ آسونه تړلي ساتئ د

---

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب فی کراهية جز نواصی الخيل وأذنابها (رقم-۲۵۴۲) واحمد فی المسند: ۴/۱۸۴

(۲) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد. باب إکرام الخيل وارتباطها والمسح علی أکفالها (رقم-۲۵۵۳) والنسائی فی کتاب الخيل/باب ما يستحب من شية الخيل (رقم-۳۵۶۵) واحمد فی المسند: ۴/۱۴۵

هغوی په تندو او شا لاس تیروئ یا د اعجازها په ځای اکفالهایي وفرمایل او د دې دوارو لفظونو یوه معنی ده یعنی شا [۳] او د هغوی په څټ کې پټی واچوي لیکن د هغوی په څټ کې د لیندی جڼی مه ترئ. (ابوداود نسائي)

حل اللغات: ① ارْتَبِطُوا: ترلې ساتئ. پالنه کوئ. ② وَأَعْجَازِهَا: اعجاز دَ عجز جمع ده کوناتی ③ أَكْفَالِهَا: اکفال: دکفل جمع ده دَدوارو ترجمه شاتنئی حصه ده یعنی دَ انس و محبت اودَصفائی په غرض دَاس په ملا او شاته حصه باندې لاس وهئ. ④ وَقَلِّدُوهَا: دَ اس په مرئی کښې پړې اچوئی دې دَپاره چه دَاسلام دَ دښمنانو اودَ دین دَ سرلوړئی دَپاره هروخت تیار وی. ⑤ الْأَوْتَارَ: دادَ وتر جمع ده دَ لیندې لرګی او تسمې ته وائی.

تسهیلات:

قوله: وَلَا تُقَلِّدُوهَا الْأَوْتَارَ:

داوتار په مفهوم کښې دوه اقوال: ① مطلب داچه دا تسمه دَاس په غاړه کښې مه اچوئی دې سره به اس اونخلی زوړندبه شی

② دَ وترنه مراد هغه شرکیه تاراوتسمه ده کوم چه به عربو دَ ضرردَدفع کولودَپاره دَ څناورو په غاړوکښې ترله اودَ شرك عقیده به ئی لرله اسلام دا ردکړه

[۳۸۸۲] د اهل بیت رسول ﷺ دري مخصوص احکام

۳۸۸۲ — [۲۲] () [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ [۲]: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَبْدًا مَأْمُورًا، مَا اخْتَصَّنَا دُونَ النَّاسِ بِشَيْءٍ [۳] إِلَّا بِثَلَاثٍ: أَمَرَنَا أَنْ نُسْبِغَ الْوُضُوءَ، وَأَنْ لَا نَأْكُلَ الصَّدَقَةَ، وَأَنْ لَا نُنْزِيَ حِمَارًا عَلَى فَرَسٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او ابن عباس ﷺ وایي [۲] چې رسول کریم ﷺ یو مامور بنده وو حضور ﷺ مونږ ته یعنی خپل اهل بیت ته نورو خلقو څخه جدا کولو سره دریو خبرو څخه علاوه د څه بلي خبري مخصوص طور سره حکم نه دی کړي [۳] او هغه دري خبري چې د هغه خاص طور سره اهل بیت ته حکم ورکول شوی وو دادي ① چې مونږ اودس پوره کوو ② مونږ د صدقي مال نه خورو ③ مونږ په آسپو خرونه نه اچوو (ترمذي نسائي)

حل اللغات: ① مَا اخْتَصَّنَا: نه یو خاص کړی مونږ لره ② نُسْبِغَ: پوره کوو مونږ. ③ لَا نُنْزِيَ: مونږ نه خیجو .نه اچوو.

---

[۱]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الصلاة،باب قدر القراءة في صلاة الظهر والعصر (رقم-۸۰۸) والترمذي في كتاب الجهاد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في كراهية أن تنزى الحمر على الخيل (رقم-۱۷۰۱) والنسائي في كتاب الخيل/باب التشديد في حمل الحمير على الخيل (رقم-۳۵۸۱) واحمد في المسند: ۱/۲۲۵

تسهيلات:

قوله: كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَبْدًا مَأْمُورًا:

نبی علیه السلام د شریعت د احکامو پابند جوړول:

یعنی حضورپاك د الله تعالی د حکم پابند بنده وو کوم حکم چه به د الله تعالی د طرف نه ملاویدلو هغه به ئی په عاموخلقو کښې یوشان جاری ساتلو داسې نه ده چه خپل خپلوان ئی په خصوصی حکم سره خاص کړل اونورخلق ئی هیرول هم دغه شان احکامو کښې حضورپاك به هیڅ قسم فرق او خصوصیت روا نه ساتلو

قوله: مَا اخْتَصَّنَا دُونَ النَّاسِ بِشَيْءٍ إِلَّا بِثَلَاثٍ:

د اهل بیتوتخصیص کول: هم دغه وجه ده چه حضرت ابن عباس رضی الله عنه دا وضاحت فرمائی چه حضورپاك مونږ اهل بیتو ته هم د یوخیز خصوصی حکم نه دی راکړی اود دریو څیزونو ئی په خاص توګه تاکیدی حکم کړی دی سره ددی چه امت په دی کښې مونږ سره بیاهم په دوو څیزونو کښې شریك دی مګر مونږ ته په خاص توګه حکم راکړی شوی دی

په دی دریو څیزونو کښې د اهل بیتوتخصیص کول:

① مکمل اودس کول دی اګرچی عبدالله بن عباس د اهل بیتوته خصوصیاتو کښې شامل کړی دی خو په کامل اومکمل اودس جوړولو کښې باقی امت هم شریك دی

② صدقه نه خوړل دی صدقه نه خوړل د اهل بیتو خصوصیت دی لکه څنګه چی یو حدیث کښې راغلی دی چی حضرت حسن یا حسین په خوله کښې قجوره واچوله نو نبی علیه السلام دهغوی د خولې څخه هغه قجوره راویستله او وې فرمائل کیدی شی دا قجوره دصدقې وی.

③ خر په اسپې باندې نه څیزول دی خر په اسپه باندې څیژولوسره د اسپې نسل خرابیږی اود اعلی څیز په ځائی کم تر څیز په لاس راځی څکه چه قچر د اس نه ادنی دی

[۲۸۸۲] په اسپې د خر اچولو ممانعت

۲۸۸۳—[۲۳] (۱) ۱ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ ۲: «أُهْدِيَتْ لِرَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَغْلَةٌ، فَرَكِبَهَا، ۳ فَقَالَ عَلِيٌّ: لَوْ حَمَلْنَا الْحِمَارَ عَلَى الْخَيْلِ فَكَانَتْ لَنَا مِثْلُ هَذِهِ ; ۴ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "إِنَّمَا يَفْعَلُ ذَلِكَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ"». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ۱ حضرت علي رضی الله عنه څخه روایت دی ۲ په یوه موقع د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت یو قچر بطور هدیه پیش شو نو حضور صلی الله علیه وسلم په هغه سور شو ۳ حضرت علي رضی الله عنه عرض اوکړو

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد ، باب فی کراهیة الحمر تنزی علی الخیل (رقم-۲۵۶۵) والنسائی فی کتاب الخیل باب التشدید فی حمل الحمیر علی الخیل (رقم-۳۵۸۰) واحمد فی المسند: ۱/۱۰۰

که مونږ په اَسپو خرونه واچوو نو مونږ ته به هم داسې خچر حاصل شي ۞په دي اوریدو سره رسول کریم ﷺ وفرمایل دا کار هغه خلق کوي چې ناواقف وي (ابوداود نسائي)

حل اللغات: ①بَغْلَةٌ: قچر

تسهیلات:

قوله: إِنَّمَا يَفْعَلُ ذٰلِكَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ:

په اس باندې د خر اچولو مذمت: یعني خراسپې ته پریخودل دَنامعقول خلقو کاردي که چرې داخلق هوښیاروې نو په اسپه باندي به ئې اس پریخودې وی دې دپاره چه دَ نبه نسل اسونه پیداشی دَخرد نسل نه به بیکاره قچر پیداکیږی داخلق دَ صحیح فیصلې نه اخوا شوی دی اودَ صحیح لارې نه اؤختی دی چه په دې مکروه کارکښې مشغول شوی دی

[۲۸۸٤] په توره مزین کولو کښې د لږو سپینو زرو خلط کولو جواز

۳۸۸۴—[۲۴] ( ) ①وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ ②«كَانَتْ قَبِيعَةُ سَيْفِ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ فِضَّةٍ.» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ①حضرت انس ﷺ وايي ②چې د رسول الله ﷺ د توري د قبضې ټوپی د سپینو زرو وه (ترمذي ابوداود نسائي دارمي)

حل اللغات: ①قَبِيعَةٌ: دَ تورې ټوپئ ته وائی کوم چه دَ لاسکی نه شاته وی موټې هم ورته وائی

تسهیلات:

قوله: كَانَتْ قَبِيعَةُ سَيْفِ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ فِضَّةٍ:

د ښائست دپاره په توره کښې د سپینوزوو د استعمال جواز: په شرح السنه کښې لیکل شوی دی چه دا حدیث په دې خبره دلالت کوی چه توره وغیره په چاندی باندی خائسته کول جائز دی البته په دې کښې سونا استعمالول جائز نه دی. هم دغه شان په جنګ کښې د استعمالیدونکی چارې، خنجر، برچې وغیره هم دا حکم دې چه چاندی سره (مزین) خائسته کول جائز دی

[۲۸۸۵] د نبی علیه السلام په توره کښې سره او سپین زر

۳۸۸۵—[۲۵] ( ) ①وَعَنْ هُودِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ جَدِّهِ مَزِيدَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ ②: دَخَلَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمَ الْفَتْحِ ③وَعَلَى سَيْفِهِ ذَهَبٌ وَفِضَّةٌ، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ①او هود ابن عبدالله ابن سعد دخپل نیکه دادا څخه چې د هغه نوم مزیده وو نقل

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد، باب فی کراهیة الحمر تنزی علی الخیل (رقم-۲۵۸۳) والترمذی فی السنن رقم الحدیث ۱۶۹۱

[۲]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الجهاد عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی السّیوف وحلیتها (رقم-۱۶۹۰)

كوي ۲چې رسول الله ﷺ د مكي د فتح په ورځ په مكه كې داخل شو ۳نو هغه وخت د حضور لاس مبارك كې چې كومه توره وه په هغه د سوني او سپين زرو كار شوى وو امام ترمذي دا روايت نقل كړي دى او ويلي يي دي چې دا حديث غريب دى.

تسهيلات:

قوله: وَعَلَى سَيْفِهِ ذَهَبٌ وَفِضَّةٌ:

په توره كښې د سرو زرو د لګولو حكم: الحاصل. ددې حديث په بنياد باندې دسونې استعمال جائز ګرځول صحيح نه دى ځكه چه ددې حديث سند قوى نه دې بلكه ضعيف دې

[۲۸۸۶] د نبى عليه السلام دوه زرغې اچول

٣٨٨٦-[٢٦] (١) ١وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٢كَانَ عَلَيْهِ يَوْمَ أُحُدٍ دِرْعَانِ ٣قَدْ ظَاهَرَ بَيْنَهُمَا. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ١سائب ؓ ابن يزيد ځخه روايت دى ٢چې د غزوه اُحُد په ورځ د نبي كريم ﷺ په جسم مبارك دوه زغري وي ٣حضور ﷺ يوه په بلې اغوستي وه (ابوداود ابن ماجه)

حل اللغات: ① دِرْعَانِ: د دِرْعٌ جمع ده، دِرْعٌ زغرې ته وائى. ② قَدْ ظَاهَرَ: يو دَ بل دَپاسه اغوستل.

تسهيلات:

قوله: قَدْ ظَاهَرَ بَيْنَهُمَا:

دحديث ځخه معلومې شوي دوه مسئلې: ①معلومه شوه دَ زيات نه زيات وسله استعمالول دَتوكل منافى نه دى. ②اودا هم معلومه شوه چه حضور پاك پخپله جنګ كړې دې او په ښه مكمل اندازكښې ئى كړې دې كوم خلق چه دا عيب يا شرم ګڼړى يادَدې نه انكاركوى هغوى دې دَخپل ايمان خيراوغواړى

[۲۸۸۷] د نبى عليه السلام په جنډه كښې دوه رنګونه

٣٨٨٧-[٢٧] (٢) ١وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ ٢: «كَانَتْ رَايَةُ نَبِيِّ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سَوْدَاءَ، ٣وَلِوَاؤُهُ أَبْيَضَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ١ابن عباس ؓ وايي ٢د نبي كريم ﷺ لويه جنډه د تور رنګ وه ٣او وړه جنډه د سپين رنګ (ترمذي ابن ماجه)

حل اللغات: ① رَايَةٌ: قومى لويه جهنډه. ② سَوْدَاءَ: تور رنګي. ③ لِوَاءٌ: وړه جهنډا.

[1]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الجهاد/باب فى لبس الدّروع (رقم-٢٥٩٠) كتاب الجهاد عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فى السّيوف وحليتها (رقم-١٦٩٠) و ابن ماجه فى كتاب الجهاد/باب السّلاح (رقم-٢٨٠٦) واحمد فى المسند: ٢٩٣/٣

[2]) اخرجه الترمذى فى السنن رقم الحديث ١٦٨١ وابن ماجة رقم الحديث ٢٨١٨

تسهیلات:

قوله: كَانَتْ رَايَةُ نَبِيِّ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-سَوْدَاءَ:

د نبي عليه السلام د جنډې رنګ: دا جهنډا توره وه اودَ تورې مطلب دانه دې چه بالكل توره وه بلكه دَ لرې نه به توره ښكاريده اوكه دَ نيزدې نه به چا دې ته كتل نو په دې كښې به سپينې پټئى ښكاريدې اوهم دې ته نمره برګه وائى

قوله: -وَلِوَاؤُهُ أَبْيَضَ:

سپينه جنډه دامن اشاره: يعنى دَ حضورپاك جنګى وړه جهنډا به سپينه وه چه دَ امن طرف ته اشاره ده.

[۲۸۸۸] د نبی علیه السلام د تور پټکی ذکر

۲۸۸۸-[۲۸] ()[۱] وَعَنْ مُوسَى بْنِ عُبَيْدَةَ مَوْلَى مُحَمَّدِ بْنِ الْقَاسِمِ، قَالَ[۲]: «بَعَثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْقَاسِمِ إِلَى الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، يَسْأَلُهُ عَنْ رَايَةِ رَسُولِ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-. [۳] فَقَالَ: كَانَتْ سَوْدَاءَ مُرَبَّعَةً مِنْ نَمِرَةٍ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] موسى ابن عبيده رحمه الله چې د محمد ابن قاسم تابعي آزاد كرده غلام وو وايي [۲] يوه ورځ محمد ابن قاسم زه د حضرت براء رضي الله عنه ابن عازب صحابي ته وليږلم چې دا معلوم كړم چې د حضور ﷺ جنډه څنګه وه [۳] نو حضرت براء رضي الله عنه وفرمايل د حضور جنډه د تور رنګ وه (د هغه كپړه څوكور او د نمره په شان وه) (احمد ترمذي ابوداود)

حل اللغات: ① مُرَبَّعَةً: يعنى دَدې اوږدوالې او پلنوالې څلورګوټى وو ② مِنْ نَمِرَةٍ: دَ پړانګ په رنګ كپړې څخه جوړ شوې څادر

تسهیلات:

قوله: كَانَتْ سَوْدَاءَ مُرَبَّعَةً مِنْ نَمِرَةٍ:

د نبی علیه السلام د جنډې رنګ: هغه كمبل يا څادر ته وائى كوم كښې چه تورې او سپينې كرخې وى. او په لغت كښې نمر مشهور ځناور يعنى پړانګ ته وائى. نو ددې وجهې نه د كپړې تشبيه ئې داسې پړانګ سره وركړى ده دكوم په څرمنه باندې چه تورې او سپينې كرخې وى، نو ددې نه دا معلومه شو چه د نبى كريم ﷺ جهنډا بلكل توره نه وه بلكه تورې او سپينې كرخې په كښې موجود وې.

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الجهاد رقم الحديث ۲۵۹۱ والترمذی فی السنن رقم الحديث ۱۶۸۰

[۳۸۸۹] د نبوي جنډې سپین رنګ

۳۸۸۹ - [۲۹] () [۱] وَعَنْ جَابِرٍ: [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - دَخَلَ مَكَّةَ وَلِوَاؤُهُ أَبْيَضُ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] حضرت جابر ﷺ وايي [۲] نبي کريم ﷺ د مکي د فتح په ورځ په مکه کې داخل شو نو هغه وخت د حضور ﷺ لاس مبارك کې سپينه جنډه وه (ترمذي ابوداود ابن ماجه)

تسهيلات: قوله: وَلِوَاؤُهُ أَبْيَضُ:

دنبی علیه السلام د جنډې سپین رنګ: ددې حدیث نه معلومه شوه چه دنبی کریم ﷺ جهنډا سپينه وه لهذا څرنګه چه توره جهنډا وه هم دهغه شان سپينه جهنډا هم وه

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۸۹۰] د نبی علیه السلام په نظر کښې د اسونو قدر او قیمت

۳۸۹۰ - [۳۰] [۱] عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ [۲]: «لَمْ يَكُنْ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَعْدَ النِّسَاءِ مِنَ الْخَيْلِ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت انس ﷺ وايي [۲] د رسول کريم ﷺ په نظر مبارك کې د ښځو څخه وروسته (د جهاد مقاصدو د پاره) د آسونو څخه زيات محبوب او خوښ بل هيڅ څيز نه وو. (نسائي)

تسهيلات:

قوله: بَعْدَ النِّسَاءِ مِنَ الْخَيْلِ:

د نبی علیه السلام د اسونوسره محبت: امام طيبى رحمه الله فرمائى چه د اسونو ذکر د جهاد څخه کنايه ده يعني د نبی علیه السلام ښځو سره د مينې څخه پس په جهاد کښې د اسونو سره مينه وه په دې کښې دې طرف ته اشاره ده چې جهاد ته پوره توجه ورکول پکار دی

د نبی علیه السلام د ښځو سره محبت په يو حديث کښې نبی کريم ﷺ فرمايلى دى حبب إلى الطيب والنساء دلته نساء سره ئي خوشبو محبوبه ګرځولې ده ښځې هم محبوب دى او ددې نه پس محبوب ترين څيز په جهاد کښې استعماليدونکى اسونه دى کله چه ددې احاديثو نه معلومه شو چه نبی کريم ﷺ ته ښځې او اسونه محبوب وؤ نو ددې وجهې نه دا وهم ذهن ته راځى چه نبی کريم ﷺ ازدواجى ژوند طرف ته ډير مائل وؤ.

[1]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الجهاد/باب فى الرآيات والألوية (رقم-۲۵۹۲) والترمذى فى كتاب الجهاد عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فى الألوية (رقم-۱۶۷۹) و ابن ماجه فى كتاب الجهاد/باب الرآيات والألوية (رقم-۲۸۱۷)

د نبي عليه السلام د ښځو سره د محبت وجه، ملا علي قاري رحمه الله فرمائي چې نبي کريم ﷺ په يو وخت کښې د څلور زره کسانو طاقت لرلو، او هر يو کس له څلور ښځو سره واده کول جائز دی نو ګويا چه دا ټول تعداد شپاړس زره جوړيږي او بنی کريم ﷺ په يو وخت کښې د دومره زنانو سره د واده کولو طاقت لرلو مګر نبي کريم ﷺ دومره طاقت باوجود هم نهه ښځې کړې وې او دا د نبي کريم ﷺ يو کمال هم دې (مرقاة، ج۷، ص۳۲۵)

دحديث څخه دوه خبرې معلوميدل: ① ددې حديث نه معلومه شوه چه خپلو ښځو سره محبت کول دا د کمال تقوى دليل دې ځکه چه کوم کس چه د خپلې ښځې سره محبت کوی نو هغه به د پردو ښځو طرف ته نه مائل کيږی

② جهاد سره محبت کول دا د کمال ايمان دليل دې کوم کس چه جهاد سره محبت لرې نو هغه به دا غواړی چه اسلام ته طرقی ملاو شی.

[۳۸۹۱] دعربی ليندو د ساتلو ترغيب

٣٨٩١—[٣١] ( ) [١] وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ[٢]: «كَانَتْ بِيَدِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَوْسٌ عَرَبِيَّةٌ [٣] فَرَأَى رَجُلًا بِيَدِهِ قَوْسٌ فَارِسِيَّةٌ، [٤] قَالَ: "مَا هَذِهِ؟ أَلْقِهَا، وَعَلَيْكُمْ بِهَذِهِ وَأَشْبَاهِهَا وَرِمَاحِ الْقَنَا [٥] فَإِنَّهَا يُؤَيِّدُ اللهُ لَكُمْ بِهَا فِي الدِّينِ وَيُمَكِّنُ لَكُمْ فِي الْبِلَادِ» ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] او حضرت علي رضي الله عنه وايي [٢] په [يو ميدان کې يا هسي په يوه موقع] د رسول کريم ﷺ په لاس مبارك کې عربي لينده وه [٣] هرکله چې حضور ﷺ د يو صحابي سړي په لاس کې فارسي ايراني لينده وليدله [٤] نو وي فرمايل دا څه دي؟ دا وغورځوه تاسو ته داسې يعنی عربي لينده ساتل پکار دی او تاسو ته کاملې نيزی ساتل پکار دی [٥] يقيناً د دې په ذريعه به الله ﷻ دين سربلند کولو کې ستاسو مدد وکړو او د دښمنانو ښارونو کې به تاسو جم کړي. (ابن جامه)

حل اللغات: ① قَوْسٌ: لينده. ② رِمَاحٌ: نيزه. ③ الْقَنَا: نيزه. ④ يُؤَيِّدُ: مدد کوی. ⑤ يُمَكِّنُ: قوت ورکوی

تسهيلات:

قوله: فَرَأَى رَجُلًا بِيَدِهِ قَوْسٌ فَارِسِيَّةٌ:

د کمان دوه قسمونه: ① يو عربی کمان وی دَحضور پاك په لاس مبارك کښې عربی کمان وو ② دويم فارسی کمان وی دَ يو صحابی په لاس کښې فارسی ايرانی کمان وو. حضور پاك دا خوښ نه کړو اووئی فرمائيل دا اوغورزوه اوعربی کمان په لاس کښې واخله او استعمال ئی کړه

[١]) اخرجه ابن ما جه فی السنن کتاب الجهاد/باب السلاح (رقم-٢٨١٠)

د فارسی لیندې نه خوښولو دوه وجوهات: ① ملاعلی علی قاری ﷫ علامه طیبی ﷫ او نورو شارحینوحضرات فرمائی چه دَدغه صحابی خیال وو چه فارسی کمان مضبوط وی دې سره مونږ ته دَ زیات نه زیات فتوحات حاصلیږی په دې باندې حضورپاك اوفرمائیل ستا خیال صحیح نه دې آلات حرب اوضرب سره فتوحات نه حاصلیږی بلکه داد الله تعالی په نصرت او امداد سره حاصلیږی دا نصیحت په خپل ځائی بالکل صحیح دې

② حضورپاك په فارسی کمان باندې عربی کمان ته ولې ترجیح ورکړه؟ ما د بعضې علماؤ نه اوریدلی دی چه عربی کمان دَ ماتیدونه پس هم په جنګ کښې په کار راتللو مګر فارسی کمان کښې دا صفت نه وو په دې وجه حضورپاك دَ عربی کمان د ښکلې کیدو دَ وجې نه دَ دې دَ اختیارولو حکم ورکړو دا یوه ډیره ښه توجیه ده افسوس چه چرته په کتاب کښې لیکلې وې

③ حضورپاك دَخپلې علاقې او قومی وسلې حوصله افزائی کړې ده چه عربی کمان زمونږ جوړکړې شوې دې مونږ له په دې باندې إعتمادکول پکاردی اودَ بل په جوړه شوې وسله باندې خپل قومی بنیاد نه دی کیخودل پکار حضرت خالد ﷜ به هم په عام جنګونو کښې خپلې قومی وسلې ته ترجیح ورکوله که دَ غیرو وسله به هرڅومره ښکلې ولې نه وه دَ حدیث سیاق اوسباق دې دواړو توجیهاتو سره بالکل موافق دې ځکه چه حضورپاك فرمائیلی دی چه هم دَدې وسلې اوجهادپه برکت باندې الله تعالی په دین کښې ستاسو امدادفرمائی او په ملکونوکښې تاسو کلکوی

[٢] بَابُ آدَابِ السَّفَرِ

دَ سفر دَ آدابو بيان

خلاصة الباب:

فيه أربعة وثلاثون حديثاً مشتملة على سبع عشرة مسئلة:

① الوقت المناسب للسفر: ١، ١٧، ١٨، ٣١.
② المنع عن الوحدة في السفر وفضيلة الجماعة: ٢، ١٩، ٢٠.
③ المنع عن مصاحبة بعض الأشياء في السفر: ٣، ٤، ٥، ٣٣.
④ الإحسان مع دواب السفر: ٦، ٢٥، ٢٦.
⑤ الإحسان مع من عجزت دابته عن السفر: ٧، ٢٨.
⑥ المنع عن السفر بلا ضرورة: ٨.
⑦ استحباب استقبال المسافر: ٩.
⑧ جواز الإرداف على الدابة: ٩، ١٠.
⑨ وقت القدوم على الأهل: ١١، ١٢، ١٣، ١٥، ٣٠.
⑩ إعطاء الصدقة بعد القدوم من السفر: ١٤.
⑪ سنية دخول المسجد بعد القدوم من السفر: ١٥، ١٦.
⑫ حكم التأمير في السفر: ٢٠.
⑬ تعقيب الأمير والإعانة مع الرفقاء: ٢٢، ٣٤.
⑭ آداب النزول في الطريق: ٦، ٢٣، ٢٩.
⑮ التناوب على الدآبة: ٢٤.
⑯ الركوب على مقدم دابة الغير بإذنه: ٢٧.
⑰ طريق الاستراحة في التعريس: ٣١.

حل اللغات: ①آداب: دَدې مفرد ادب دې احترام كول. د حق خيال ساتل. ②لَايَطْلُبُوْنَ: اونه رِدى دوى قدمونه. ③مَوْطِنًا: په داسې لار. ④وَلَايَنَالُوْنَ: اونه حاصلوى دوى. قابو كوى نه. ⑤نَيْلًا: په حاصلولو سره. په قابول كولو سره.

تسهيلات: قوله: آدَابِ السَّفَرِ:

د ادب تعريف: خصائل حميده خپلول او خصائل رذيله نه ذبچ كيدلونوم ادب دې يعنى هرخيزته دَ هغه جائزمقام اومناسب حق وركولونوم ادب دې.

د نبي کريم ﷺ غير جهادي سفرونه: دَ سفرنه مراد عام اومطلق سفردي مګردلته زيات تر دَحضورپاك دَ جهادي سفرونو او دَ هغې دَ آدابوبيان کړي شوي دي.
① حضورپاك دَ نبوت ملاويدونه وړ اندې دَ دياړلسوکالوپه عمرکښې دَ شام طرف ته يو سفرکړي وو کوم چه نامکمل پاتې شوې وو اوحضورپاك مکې مکرمې ته واپس راغلي وو.
② بياحضورپاك دَ ۲۵کالوپه عمرکښې دَشام طرف ته دَتجارت په غرض دويم سفرکړي وو.
③ دَ نبوت ملاويدونه پس دَحضورپاك يوسفردَمکې نه طائف طرف ته شوي وو دَدې مقصد دَطائف والوته دَاسلام دعوت هم ورکول وو اودَخپلو ملګرودَپاره دَ امن اوپناه ځائي لټول هم مقصود وو.
④ بيا دَمکې نه مدينې طرف ته حضورپاك ۵۳کالوپه عمرکښې دَ هجرت يوعظيم الشان سفر کړي وو
⑤ دَ مدينې منورې نه په ۶هجرى کښې دَحضورپاك يوسفردَ عمرې دَپاره اوشو چه په حديبيه باندې ختم شو اوحضورپاك بغيردَ عمرې نه مدينې ته لاړو.
⑥ بيا راتلونکی کال کښې دَ عمرة القضاء يوسفرشوې وو.
⑦ بيا په لسم هجرى کښې حضورپاك دَ حج په اراده دَ يولاك پينځه ويشت کم وزيات صحابه کراموسره دَحجة الوداع سفر اوکړو.
دنبى کريم ﷺ جهادى سفرونه: دَ حضورپاك دَ دغه اووه سفرونو نه علاوه باقى ټول سفرونه دَجهاد دَپاره شوى دى چه په جزيرة العرب کښې دننه وو دَ جزيره عرب نه بهردَ حضور پاك يوجهادى سفرشوې وو چه دَ غزوه تبوك دَپاره دَ شام دَ زمکې طرف ته شوې وو
د جهادی سفر آداب: بهرحال دَجهاددَ سفريوڅو آداب هم ليکلې کيږى اوګورئى
① په عدد او عُدد باندې نظرلاړنه شى بلکه چه صرف په الله تعالى باندې يقين وى اوتعلق مع الله ښه مضبوط وى.
② چه دَاعلاء کلمة الله خالص نيت وى
③ دَ فتح نه پس دې نه تکبرکوى نه ظلم بلکه عاجزى دې کوى
④ اوچت ځائي اوښکته ځائى ته دَ تللوراتللو په وخت ژبه دَالله تعالى په ذکراو الله اکبر په نعروسره ګويا وى
⑤ چه سفردَحضوراکرم دَ طريقې مطابق وى
⑥ بغيردَ څه تکبر نه ډير په عاجزئى سره لاړشى او راشى
⑦ په خپل مينځ کښې جګړه او اختلاف نه وى بلکه تعاون وى
⑧ دښمن سره دَ جنګ خواهش اونه کړې شى خوچه کله جنګ وى نو په ثابت قدم اوسيدوسره دې ښه صبرکوى.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۸۹۲] د زیارت په ورځ د سفر خوښول

۳۸۹۲-[۱] (۱) ۱ عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ۲: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ خَرَجَ يَوْمَ الْخَمِيسِ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ، ۳ وَكَانَ يُحِبُّ أَنْ يَخْرُجَ يَوْمَ الْخَمِيسِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ کعب رضی الله عنه ابن مالك راوي دی ۲ چې نبي کریم ﷺ غزوه تبوك د پاره د زیارت جمعرات په ورځ روان شوی وو ۳ او حضور ﷺ داخوښوله چې د جهاد د سفر ابتداء د جمعرات زیارت د ورځې څخه وکړي (بخاري)

حل اللغات: ① يَوْمَ الْخَمِيسِ: دَ زیارت ورځ ته خمیس وائی.

تسهیلات:

قوله: وَكَانَ يُحِبُّ أَنْ يَخْرُجَ يَوْمَ الْخَمِيسِ:

د نبی علیه السلام د زیارت په ورځ سفر کول: دَ رسول الله ﷺ به اکثر سفرونه هم دَخمیس په ورځ کیدل او کله کله دَ دې خلاف هم شوی دی.

د زیارت په ورځ د سفر کولو درې وجوهات:

① په خمیس خُمس کښې مناسبت لفظی دې خمس دَ مال غنیمت حصې ته وائی

② دَ ټولې هفتې اعمال دَخمیس په ورځ الله تعالی ته وړاندې کولې شی دَ جهادلوئی عمل هم په دې ورځ وی نو څه ښه به وی.

③ دَ رسول الله ﷺ دَ لښکرنوم الخمیس وو دکوم چه به پنځه حصې وې یعنی "مقدمة الجیش، ساقة الجیش، میمنة الجیش، میسرة الجیش او قلب الجیش" هم دَدې په مناسبت سره به حضورپاك دَخمیس په ورځ سفرکولو

یهودیانو په خیبرکښې دَ حضورپاك لښکر اولیدلو نوهغوی په دې موقع باندې اووئیل "محمد والخمیس والله" په دې وجه د تفاول په توګه حضورپاك دَخمیس ورځ عموماً دَ سفرد پاره خوښه کړې ده

[۲۸۹۳] یواځې د سفر کولو ممانعت

۳۸۹۳-[۲] (۲) ۱ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "۲ «لَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ مَا فِي الْوَحْدَةِ مَا أَعْلَمُ، ۳ مَا سَارَ رَاكِبٌ بِلَيْلٍ وَحْدَهُ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسّیر/باب من أراد غزوة فورّی بغیرها، ومن أحبّ الخروج یوم الخمیس (رقم-۲۹۵۰) و ابو داود فی کتاب الجهاد/باب فی أیّ یوم یستحبّ السّفر (رقم-۲۶۰۵) واحمد فی المسند:۳/۴۵۵-۴۵۶

[2] اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسّیر/باب السّیر وحده،(رقم-۲۹۹۸)وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب فضل لا إله إلّا الله (رقم-۳۷۹۸) واحمد فی المسند: ۲/۲۳

ترجمه: ①حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ وايي رسول كريمﷺ وفرمايل ②كه خلق داخيز كوم چې تنها يوازي سفر كولو څخه پيښيږي دومره پوهه شي څومره چې زه پوهه يم ③نو هيڅ سوار به د شپې هيڅ كله د سفر كولو همت اونكړي (بخاري)

حل اللغات: ①سَارَ: سفر كول

تسهيلات: قوله: مَاسَارَرَاكِبٌ بِلَيْلٍ وَحْدَهُ:

د ځانله سفر كولو ممانعت: يعنى دَ ځان له سفركولوچه كوم دنياوى اواخروى نقصانات ماته معلوم دى كه هغه چاته معلوم شى نوهيڅ يوسور به ځان له سفر اونه كړى.

د ځانله سفر كولو دنياوى او اخروى نقصانات: ① دنياوى نقصان دادې چه دَحادثې په وخت يا دَ سامان دَ حفاظت په وخت دَهغه دَ امداددَپاره به څوك هم نه وى اوخاص كر چه كله دَجهاد زمانه وى نودَ ځان له سړى دَپاره به دَ ځان څومره خطره وى.

② دينى نقصان خودادې چه په جمع سره مونځ ځان له سړى ته نه نصيب كيږى

په موجوده زمانه كښې د ځانله سفر كولو حكم: ①نن صبا دَ اجتماعى اسفارو ترتيب وى څوك هم چرته يواځې نه وى. كيدې شى په دې سفر كښې او دَ پخوانى زمانې په سفركښې فرق وى پخوا زمانه كښې آبادى كمه وه خلق كم وو نو ځانله سفر كول به ډيرو خطراتو سره مخ وو. په موجوده زمانه كښې آسانتيا زياته ده او آبادى هم ډيرې دى ددې وجې هغه خطر نشته كوم چې په پخوانى زمانه كښې وو

② په هغه وخت كښې كښې خلق فارغ او اوزګار وو د دنيا محبت نه وو نن صبا هر سړې د دنيا په كارونو كښې مشغول دې. كه يو ملګرې بل ته اووائى چې ما سره فلانى ځائې ته لاړ شه هغه په مشكله تياريږى.

③ پخوا مينه محبت زيات وو او نن صبا خود غرضى ده د دې وجې يوبل سره سفرونه او دهغې مشكلات نشى برداشت كولې

خوددې هرڅه باوجود فائده اوګټه په اجتماعى سفر كښ ده ځانله سفر په هيڅ صورت كښې د اجتماعى سفر مرتبې ته نشى رسيدې

[٣٨٩٤] د قافلې سره د سپى او جرس په موجودګۍ كښې د فرشتو عدم مرافقت

٢٨٩٣-[٣] (١) ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ②"«لَا تَصْحَبُ الْمَلَائِكَةُ رُفْقَةً فِيهَا كَلْبٌ وَلَا جَرَسٌ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

---

[1]) اخرجه مسلم فى كتاب الأشربة/باب كراهة الكلب والجرس فى السفر(رقم-١٠٣ - (٢١١٣) و ابو داود فى كتاب الجهاد/باب فى تعليق الأجراس (رقم-٢٥٥٥) والترمذى فى كتاب الجهاد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية الأجراس على الخيل (رقم-١٧٠٣) واحمد فى المسند: ٢٦٢/٢

ترجمه: [١] حضرت ابوهريره ﷺ وايي [٢] چې رسول كريم ﷺ وفرمايل هغه قافلي سره فرښتي نه وي كومي كې چې سپى او جرس وي. (مسلم)

حل اللغات: ① رُفْقَةٌ: قافله ② جَرَسٌ: گنګرو، ټلي.

تسهيلات:

قوله: لَا يُحِبُّ الْمَلَائِكَةُ رُفْقَةً:

د فرشتو څخه مراد: دَرحمت فرښتي مراددی هغه به نه وی دَرحمت فرښتي اوكراماً كاتبين خو ورسره وی دَ جرس نه مراد گهنگرو او ټلئی مراد دی كومې چه غربيږی په دې سره دَ موسيقئی حرمت په آسانئی سره معلوميږی

قوله: فِيهَا كَلْبٌ:

د سپی څخه مراد: دَ سپی نه شوقيه سپې مراددې كلب صيد يا كلب حراسه يعنی ښكاری اودَ څوكئی سپې مراد نه دې.

[٣٨٩٥] جرس باندې د شيطانی بابجې اطلاق

٣٨٩٥- [٣] () [١] وَعَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] "«الْجَرَسُ مَزَامِيرُ الشَّيْطَانِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دی [٢] چې رسول كريم ﷺ وفرمايل جرس يعنی (گنگرو او گنتی) مزامير شيطان يعنی شيطاني باجی دی (مسلم)

حل اللغات: ① مَزَامِيرُ: د مزمار جمع ده، باجې. سرود

تسهيلات:

قوله: الْجَرَسُ مَزَامِيرُ الشَّيْطَانِ:

د مزامير لفظ جمع راوړلو وجه: مزامير لفظ ئی دجمع څكه ذكر كړو چه ددې په آواز كښې دا سې تسلسل وی كوم چه نه منقطع كيږی.

جرس ته د مزامير الشيطان وئيلو وجه: او جرس ته مزامير شيطان ددې وجهې نه وئيلې شوی دی چه دا انسان د ذكر واستغراق او د عبادت د مشغوليت نه وباسی

[١]) اخرجه مسلم فی كتاب الأشربة /باب كراهة الكلب والجرس فی السفر(رقم-١٠٤ - (٢١١٤) و ابو داود فی كتاب الجهاد /باب فی تعليق الأجراس (رقم-٢٥٥٦) واحمد فی المسند:٢/٣٨٢

[۲۸۹۶] داوښ په غاړه کښې دلیندې نه پرېښودلو اعلان

۳۸۹۰-[۵] () ①وَعَنْ أَبِي بَشِيرٍ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ ②«كَانَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ، فَأَرْسَلَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- رَسُولًا: ③لَا تُبْقَيَنَّ فِي رَقَبَةِ بَعِيرٍ قِلَادَةٌ مِنْ وَتَرٍ، أَوْ قِلَادَةٌ إِلَّا قُطِعَتْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①ابو بشیر انصاري ﷜ څخه روایت دی ②هغه په یو سفر کې د رسول کریم ﷺ سره ملګری وو نو هغه بیان کوي چې د هغه سفر په موقع رسول کریم ﷺ یو سړی قافلې ته د دې حکم اعلان کولو د پاره ولیږلو ③چې د اوښ په څټ کې دې د لیندی د جی پټې باقي نشي ساتلی یا دایي وفرمایل چې پټې دې باقي نشي ساتلی بلکه پرې دې کړی شي (بخاري مسلم)

حل اللغات: ①لَا تُبْقَيَنَّ: باقی دې نه شی ساتلې کیدې. پاتې دې نه پریږدی. ②رَقَبَة: څټ. مرۍ. ③بَعِير: اوښ. ④قِلَادَةٌ: غاړکۍ. ⑤وَتَر: د لیندې غاړه.

تسهیلات: **قوله**: لَا تُبْقَيَنَّ فِي رَقَبَةِ بَعِيرٍ قِلَادَةٌ مِنْ وَتَرٍ:

د ممنوع قلاده څخه مراد: دَ قلاده ممانعت څکه راغلي دې چه په دې کښې کړنګیدونکی ګونګروګان وی اوکه چرې ګونګرو نه وی اوخه شرکیه پټئی نه وی نوصرف دَ قلادې یعنی غاړکئی ممانعت نه دې

قوله: إِلَّا قُطِعَتْ:

د قلادې د کټ کولو دري وجوهات: ① نبی کریم ﷺ د قلاده کټ کولو حکم ددې وجهې وفرمائیلو چه خلقو به دې سره ګنګرې ترلو او دا ځیزونه دمزامیر الشیطان څخه دی او درحمت د فرښتو دپاره مانع دی.

② په قلاده کښې باجه او آواز والا څیزونه شامل دی دَ نومو په آواز سره چه دښمن نه مونځ کونکو او دمجاهدینو د نقل وحرکت پته لګیدله.او دا د جنګی تدابیر خلاف دي

③ بعضو خلقو به یو غلط رسم هم کولو او د هغې طریقه دا وه چه خلقو به د څناورو په مرې کښې یو پټې اچوله اوداګمان به ئې کولوچه په دې پټې سره به څناوردآفتونو وغیره نه محفوظ وی لهذا نبی کریم ﷺ ددې نه منع وفرمایاه څکه چه هیڅ یو څیز هم د الله تعالی فیصله نشی بدلولې. نن صبا هم خلق داسی غلط حرکتونه کوی نو دا ټول منع دی.

() اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسّیر/باب ما قیل فی الجرس ونحوه فی أعناق الإبل (رقم-۳۰۰۵) ومسلم فی کتاب الأشربة/باب کراهة قلادة الوتر فی رقبة البعیر (رقم-۱۰۵ - (۲۱۱۵) و ابو داود فی کتاب الجهاد/باب فی تقلید الخیل بالأوتار (رقم-۲۵۵۲) ومالک فی الموطا کتاب صفة النّبیّ صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی نزع المعالیق والجرس من العنق (رقم-۳۹) واحمد فی المسند:۲۱۶/۵

[۲۸۹۷] په اوښانو د سفر کولو څو آداب

۲۸۹۷—[۲] (¹) [۱]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲]" «إِذَا سَافَرْتُمْ فِي الْخِصْبِ فَأَعْطُوا الْإِبِلَ حَظَّهَا مِنَ الْأَرْضِ، [۳]وَإِذَا سَافَرْتُمْ فِي السَّنَةِ فَأَسْرِعُوا عَلَيْهَا السَّيْرَ، [۴]وَإِذَا عَرَّسْتُمْ بِاللَّيْلِ فَاجْتَنِبُوا الطَّرِيقَ فَإِنَّهَا طُرُقُ الدَّوَابِّ، وَمَأْوَى الْهَوَامِّ بِاللَّيْلِ» ". [۵]وَفِي رِوَايَةٍ: " «إِذَا سَافَرْتُمْ فِي السَّنَةِ فَبَادِرُوا بِهَا نِقْيَهَا» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱]او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل [۲]هرکله چې تاسو دآبادکالي زمانه کې په اوښانو سفر کوئ نو هغه او ښانو ته د هغوی د زمکې څخه د خوارك حق ورکوئ يعني هغوی ته د وابنو خوړلو موقع ورکوئ په دې طور چې د سفر په دوران کې لږ لږ ساعت وروسته څريدو د پاره پريږدې چې هغوی په ډکه خيټه څري او تيزځي [۳]او هرکله چې تاسو د قحط سالی په زمانه کې سفر کوئ نو په هغوئ تادي سره سفر کوئ يعنې د سفر په دوران کې په لاره کې تاخير مه کوئ چې اوښان د پوره خوراك نه پيدا کړي دو په وجه کمزوري کې مبتلا کيدو څخه مخکې تاسو منزل مقصود ته ورسوي [۴]او هرکله چې تاسو په شپه کې چرته پړاؤ کوئ نو په لار کې پړاؤ مه کوئ ځکه چې په هغه چوپايه ګرځي او هغه د موذي زهريلا حيوان لکه مار لړم وغيره مسکن او د هغوی ګذرګار وي [۵]او په يو روايت کې دادي چې هرکله تاسو د قحط سالي په زمانه کې په اوښانو سفر کوئ نو په تيزی سره سفر قطع کوئ هرکله چې په اوښانو کې ګودا يعنی د بدن طاقت موجود وي. (مسلم)

حل اللغات: ① الْخِصْبِ: دَ آبادنی ارزانئی او آسانئی په زمانه کښې سفرته الخصب وائی ② السَّنَةِ: خشک سالی. اوچ کالی . قحط ③ عَرَّسْتُمْ: تعريس دَ شپې په آخری حصه کښې ډيره اچول ④ طُرُقُ الدَّوَابِّ: د خناور لاره. ⑤ وَمَأْوَى: ټکاونړه. د اوسيدو ځائ ⑥ الْهَوَامِّ: حشرات الارض. موذی خناور ⑦ فَبَادِرُوا: جلتی اوکړئ. تيزی کوئ. ⑧ نِقْيَهَا: قوت او طاقت دهغې.

تسهيلات:

قوله: فَاجْتَنِبُوا الطَّرِيقَ:

په لاره کښې د شپې تيرولو ممانعت: يعنی په لارکښې قيام مه کوئی بلکه دَ لارې نه اخوا شپه تيره کړئی دې دپاره چه خناور او حشرات الارض او جناتو نه بچ شئی ځکه چه دَ شپې دا ګرځي راځي خيزونه په لارو باندې راځي

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الإمارة/باب مراعاة مصلحة الدّواب فی السّير. والنّهی عن التّعريس فی الطّريق (رقم-۱۷۸ - (۱۹۲۶) و ابو داود فی کتاب الجهاد/باب فی سرعة السّير والنّهی عن التّعريس فی الطّريق(رقم-۲۵۶۹) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلّی الله عليه وسلّم/باب (رقم-۲۸۵۸) واحمد فی المسند: ۳۷۸/۲

[٢٨٩٨] په سفر کښې د ضرورت مند ملګرې خيال ساتل

٢٨٩٨–[٤] ()[١] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ[٢]: «بَيْنَمَا نَحْنُ فِي سَفَرٍ مَعَ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ عَلَى رَاحِلَةٍ فَجَعَلَ يَضْرِبُ يَمِينًا وَشِمَالًا، [٣] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "مَنْ كَانَ مَعَهُ فَضْلُ ظَهْرٍ فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لَا ظَهْرَ لَهُ [٤] وَمَنْ كَانَ لَهُ فَضْلُ زَادٍ فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لَا زَادَ لَهُ" [٥] قَالَ: فَذَكَرَ مِنْ أَصْنَافِ الْمَالِ [٦] حَتَّى رَأَيْنَا أَنَّهُ لَا حَقَّ لِأَحَدٍ مِنَّا فِي فَضْلٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او ابو سعيد خدري ﷺ وايي [٢] په يوه موقع چې مونږ رسول الله ﷺ سره په سفر کې ملګري وو اچانک يو سړی رسول الله ﷺ ته په اوښ راغلو او اوښ يې د کمزوري څخه چپه ولپه تاويدل شروع کړل [٣] په دې ليدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل کوم سړي سره چې د خپل ضرورت څخه زياته سورلی وي هغه ته پکار دی چې هغه سورلی هغه سړي ته ورکړي د کوم سره چې سورلی نه وي [٤] او کوم سړي سره چې د خپل ضرورت څخه زيات د خوراك څښاك سامان وي هغه ته پکار دی چې هغه د خوراك څښاك سامان هغه سړي ته ورکړي د کوم سره چې د خوراك څښاك سامان نه وي [٥] راوي وايي د دې څخه وروسته حضور ﷺ د مال او د څيزونو د اقسامو ذکر وکړو [يعنی حضور ﷺ د څيزونو نوم اخستو سره وفرمايل کوم سړي سره چې فلانی شی او فلانی شی مثلًا کپړه وغيره د خپل حاجت څخه زياته وي نو هغه په هغه سړي خرچ کول پکار دي کوم سړي سره چې هغه سره شی نه وي] [٦] تردې چې [د حضور ﷺ ترغيب او نصيحت سره] مونږ ته احساس وشو [چې په مونږ کې چاته هغه شي باندې] څه حق نشته چې د هغه سره د هغه د ضرورت څخه زيات دی [بلکه د هغه شي حقيقي مستحق هغه سړی دی چې هغه وخت د هغه څيزونو څخه محروم دی] (مسلم)

حل اللغات: ①رَاحِلَةٍ: اوښ. سورلی. ②يَضْرِبُ: تالئ وهل، تاوول. ③ظَهْرٌ: شا. سورلی. ④فَلْيَعُدْ: د عَادَيَعُوْدُ نه په معنی د واپس کولو. او احسان کولو. ⑤زَاد: توښه. د خوراک څکاک سامان

تسهيلات:

قوله: يَضْرِبُ يَمِينًا وَشِمَالًا:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① شارحين حديث دَدې حديث دامطلب بيان کړې دې چه دَدې سړی سورلی دومره کمزورې شوې وه چه هغه اودريدې نه شوه. په دې وجه هغه يوطرف ته اوبل طرف ته تالئی خوړلې او پريشانه وه اوهغه سړی به دا ښی اوګس طرف ته تاوهله دا توجيه بعيده ده

[١]) اخرجه مسلم فی كتاب اللقطة/باب استحباب المؤاساة بفضول المال (رقم-١٨ - (١٧٢٨) و ابو داود فی كتاب الزكاة/باب فی حقوق المال (رقم-١٦٦٣) واحمد فی المسند: ٣٤/٣

② یضرب دَ تاوولو په معنی کښې دې. چنانچه دَمسلم شریف په یوروایت کښې دَ یصرف لفظ موجود دې چه دَ راتاوولو په معنی کښې دې. دَ مسلم په دې روایت کښې دَ یصرف نه پس بصره لفظ هم موجود دې. په دې سره مطلب نورزیات واضح شو. دَ دغه سړی سورلی چونکه ډیره زیاته ستړې شوې وه اوهغه سره دَ سفر سامان هم نه وو په دې وجه هغه نبی اوګس طرف ته سترګې تاوولې چه یومسلمان دَهغه امداداوکړی. نو په دې توجیه سره به پوره حدیث باندې پوهیدل آسان شی ځکه چه دې نه پس حضورپاك دغه سړی سره دَامداد کولوترغیب ورکړې دې.

قوله: فَلْيَعُدْ بِهِ:

د فلیعد په مفهوم کښې دوه اقوال: ① په اساس البلاغه کښې علامه زمخشری رحمه الله دَدې معنی رفق اونرمی خودلې ده. ای فلیرفق به، يقال هذا الأمر أعود عليك، أي أرفق بك. علامه طیبی رحمه الله دا معنی لیکلې ده

② په منجد کښې یې لیکلی دی چه عادیعود واپس کولو او احسان په معنی کښې دې "يقال عاد السائل اي ردّهُ وصرفه، عاد فلانًا بالمعروف صنعه معه" یعنی هغه سره نې احسان اوکړو. دَ زیر بحث حدیث مناسب هم دغه معنی ده

د نبی علیه السلام د ترغیب اثر: مطلب دا شو چه کوم سړی سره څه زیاتی سورلی یا سامان وی هغه دې په خپل محتاج رور باندې احسان اوکړی وردې کړی. حضورپاك دومره ترغیب ورکړو چه صحابه کرامو خیال اوکړوچه په زیاتی سامان باندې دَهغوی هیڅ حق نشته دې

[۲۸۹۹] دسفری مقصد پوره کیدو څخه روسته کورته تلوار کول

۲۸۹۹—[۸] (1) ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② " «السَّفَرُ قِطْعَةٌ مِنَ الْعَذَابِ، يَمْنَعُ أَحَدَكُمْ نَوْمَهُ وَطَعَامَهُ وَشَرَابَهُ، ③فَإِذَا قَضَى نَهْمَتَهُ مِنْ وَجْهِهِ فَلْيُعَجِّلْ إِلَى أَهْلِهِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل ②سفر د عذاب یوه ټکره ده چې تاسو نه خو آرام او راحت سره خوب ته پرېږدي او نه طریقي سره خوراك څښاك ته مو پرېږدي ③هرکله چې په تاسو کې یوسړی چرته په سفر باندې ولاړ شي او د خپل سفر غرض پوره کړي یعنی د کوم مقصد د پاره چې یې سفر کړي دی هغه مقصد

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسیر/باب السرعة فی السیر (رقم-۳۰۰۱) ومسلم فی کتاب الإمارة/باب السفر قطعة من العذاب. واستحباب تعجیل المسافر إلی أهله بعد قضاء شغله (رقم-۱۷۹ - (۱۹۲۷) ومالک فی الموطا کتاب الاستئذان/باب ما یؤمر به من العمل فی السفر(رقم-۳۹) واحمد فی المسند:۴۹۶/۲

پوره شي نو هغه ته پکار دی چې خپل کور والاوو ته په واپس راتلو کې تادي وکړي (بخاري مسلم)

حل اللغات: ①قِطْعَةٌ: ټکړه. حصه. ②نَهْمَتَهُ: ضرورت، حاجت

تسهيلات:

قوله: فَإِذَا قَضَى نَهْمَتَهُ مِنْ وَجْهِهِ فَلْيُعَجِّلْ إِلَى أَهْلِهِ:

دحکم په اعتبار سره د سفر دوه قسمونه: ① د سفر یو قسم واجب اوفرض وی لکه د حج سفر وغیره نود داسې واجب سفر کښې دا حکم نه دې سره دَدې چه دا حدیث هغې ته هم شاملیدې شی

②دویم قسم غیرواجب سفر لکه عام تجارتی یا سیاحی سفر یعنی که غیرواجب سفر وی او هغې ته مسافر متوجه کیدوسره دَمقصد پوره کولودپاره تلې دې دَ هغه ځائی نه چه کله مقصد پوره شی نوزر دې کورته واپس راځی داحکم دَ غیرواجب سفرونو دَپاره دې

قوله: السَّفَرُ قِطْعَةٌ مِنَ الْعَذَابِ:

سفرته د عذاب حصه وئیلو وجه: سفردَ عذاب ټکړه ځکه گرځولي شوې ده چه انسان دَ ټولو آسانونه محروم پاتې کیږی. که چرته سهولت حاصل هم وی بیاهم دَ کورنه جدا کیدل دَ وطن اوخاندان نه جدا کیدل ولې څه کمه پریشانی ده؟ په بې مقصد سفرونوکښې اکثر کتلې شوی دی چه دَ بسونو حادثې پیښیږی لکه دَمزارونودپاره سفر په میلونو باندې او دَ سیل دَپاره اکثر سفرونه دَ مصیبتونوسره مخ کیږی

[۳۹۰۰] د مسافر مشر د استقبال مسنونیت

٣٩٠٠-[٩] (١) [١] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ جَعْفَرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [٢] «إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ تُلُقِّيَ بِصِبْيَانِ أَهْلِ بَيْتِهِ، [٣] وَإِنَّهُ قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ فَسُبِقَ بِي إِلَيْهِ، فَحَمَلَنِي بَيْنَ يَدَيْهِ، [٤] ثُمَّ جِيءَ بِأَحَدِ ابْنَيْ فَاطِمَةَ، فَأَرْدَفَهُ خَلْفَهُ، [٥] قَالَ: فَأُدْخِلْنَا الْمَدِينَةَ ثَلَاثَةً عَلَى دَابَّةٍ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او عبد الله ابن جعفر ﷛ وایي [٢] کله چې به رسول کریم ﷺ د سفر څخه وروسته تشریف راوړو نو د حضور ﷺ به استقبال کیدی یعنی د حضور ﷺ اهل بیت به خپل بچي د حضور خدمت کې لیږل [٣] یوه ورځ چې حضور ﷺ د سفر څخه واپس تشریف راوړو او مدیني ته نزدې راورسیدو نو زه د حضور ﷺ په خدمت کې پیش شوم حضور ﷺ زه پورته کړم او خپل مخې ته یې سورکړم [٤] بیا د بي بي فاطمې په دواړو

---

(١) اخرجه مسلم فی کتاب فضائل الصّحابة رضی الله تعالی عنهم/باب فضائل عبد الله بن جعفر رضی الله عنهما (رقم-٦٦-(٢٤٢٨) و ابو داود فی کتاب الجهاد/باب فی رکوب ثلاثة علی دابّة (رقم-٢٥٦٦) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب رکوب ثلاثة علی دابّة (رقم-٣٧٧٣) واحمد فی المسند: ٢٠٣/١

خامنو کې يوځوی يعنی حضرت حسن رضي الله عنه يا حضرت حسين رضي الله عنه راوستل شو نو حضور ﷺ هغه خپل وروسته سور کړو ⑤او بيا دغه شان مونږ دري سره په يوه حيوان باندې سواره په مدينه کې داخل شو. (مسلم)

حل اللغات: ①سُبِقَ بِيْ: وراندې کړې شوم، ②فَأَرْدَفَهُ:نو سور ئې کړو هغه روسته.

تسهيلات:

قوله: إِذَاقَدِمَ مِنْ سَفَرٍ تُلُقِّيَ بِصِبْيَانِ أَهْلِ بَيْتِهِ:

د نبی عليه السلام دوه قسمه استقبال: ① دَ غزواتو دَ سفرونو نه په واپسئی صحابه کرامو دَحضورپاك استقبال کړې دې.

② دَحضورپاك لوئی استقبال دَمدينې خلقو په وسله خوزولوسره هغه وخت کړې وو کله چه حضورپاك دَمکې نه هجرت کولوسره مدينې ته تشريف راوړلې وو

د ماشومانو په ذريعه استقبال: مطلب داچه دَ ماشومانو په ذريعه سره به دَحضورپاك استقبال کولې شو يعنی دَاهل بيت ماشومان به دَ حضورپاك دَملاقات دَپاره اوړل کيدل په دې وجه دَعزت دار ميلمه په راتلوباندې هم دغه شان دَ علمی شخصياتو په راتلوباندې که چرې عوام الناس استقبال کوی نودابه ناجائزنه وی. خو بيا هم دَشرعی منکراتو نه پاك کيدل پکاردی. څه دَ اوچ مزاج والا خلق استقبال ته ناجائزوائی

[٢٩٠١]په سورلئ ځان سره خپله بی بی سورول

٢٩٠١—[١٠] (١) ①وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، ②أَنَّهُ أَقْبَلَ هُوَ وَأَبُو طَلْحَةَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ③وَمَعَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- صَفِيَّةُ مُرْدِفُهَا عَلَى رَاحِلَتِهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ①حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی ②چې انس رضي الله عنه او طلحه رضي الله عنه رسول کريم ﷺ ملګرې د خيبر د سفر څخه واپس راغلل ③نو په هغه موقعه بي بي صفيه رضي الله عنها نبي کريم ﷺ سره وه او حضور ﷺ هغه خپلې سورلی باندې کينولې وه

حل اللغات: ①مُرْدِفُهَا: سوره کړې ئې وه هغه.

تسهيلات: قوله: صَفِيَّةُ مُرْدِفُهَا عَلَى رَاحِلَتِهِ:

د حديث پس منظر: دا د خيبر نه د واپس کيدلو د وخت واقعه ده چه حضرت صفيه رضي الله تعالی عنها د خيبر په مال غنيمت کښې وه او حضرت دحيه کلبی رضي الله عنه ته په تقسيم کښې رسيدلې وه بيا نبی کريم ﷺ دوې نه واخستله او آزاده ئې کړه او نکاح ئې ورسره وکړه او ځان سره ئې په سورلئ کينوله او مدينې منورې ته ئې راوستله

(١) اخرجه البخاری فی باب قول الرّجل: جعلنی اللّه فداک وقال أبو بکر للنّبیّ صلّی الله علیه وسلّم: «فدیناک بآبائنا وأمّهاتنا» (رقم-٦١٨٥) ومسلم فی کتاب الحجّ /باب ما يقول إذا قفل من سفر الحجّ وغيره (رقم-٤٢٩ - (١٣٤٥)

[۳۹۰۲] د سفر څخه د حضور ﷺ د واپس راتلو وخت

۳۹۰۲—[۱۱] () ①وَعَنْهُ، قَالَ②: «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَا يَطْرُقُ أَهْلَهُ لَيْلًا، ③وَكَانَ لَا يَدْخُلُ إِلَّا غُدْوَةً، أَوْعَشِيَّةً». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①حضرت انس رضی الله عنه وايي ②رسول الله ﷺ به خپل كور والاوو ته د سفر څخه د شپې په وخت واپس نه راتلی ③بلكه د ورځې ابتدايي حصه كې يعنى سحر وخت يا آخري حصه كې يعنى ماښام وخت به په كور كې داخليدى. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ①لَايَطْرُقُ: د شپې به نه راتلو. ②غُدْوَةً: سحر وخت. ③عَشِيَّةً: ماښام

تسهیلات:

قوله: لَايَطْرُقُ أَهْلَهُ لَيْلًا:

د اوږد سفر څخه د شپې كورته د راتلو ممانعت: دَ حضرت انس رضی الله عنه دَدې حديث تعليم دادې چه دَسفرنه كله سړې كورته راځى نوهغه له پكاردى چه دَ ورځې وخت كښې راشى دې پسې دَ حضرت جابر رضی الله عنه حديث نمبر(۳۹۰۳) كښې په واضحه توګه منع كړې شوې ده چه دَ اوږد سفرنه پس دَ شپې وخت په كورته نه دى داخليدل پكار

د تعارض اشكال: دې دواړو احاديثوسره دَ راتلونكې حضرت جابر دَ حديث نمبر(۳۹۲۱) تعارض دې په كوم كښې چه دَ شپې په وخت كورته راتلل بهتر او ښه ګرځولې شوى دى

د اشكال جواب: ① چه كله سفراوږد وى اوخاوند دَ ډيرې مودې دَپاره دَ كور نه بهراوغائب پاتې وى نو په داسې صورت كښې ناڅاپى كورته نه دى راتلل پكار بلكه دَ ورځې اول په جمات كښې دوه ركعته مونځ كول پكاردى اوخلقو سره دَ ملاقات نه پس كورته تلل پكاردى دې دَپاره چه په كوركښې ښځه خپل ځان جوړراجوړكړې اوكه چرې سفردَ لرې نه وى بلكه دَ نيزدې وى نودَ شپې په اوله حصه كښې راتلل بهتر دى لكه څنګه چه په راتلونكى حديث نمبر(۳۹۲۱) كښې راځى. دَدې وجه داده چه دَ شپې په اوله حصه كښې راتلوسره به پخپله دغه مسافرته تسلى وى اودَ ناوخته راتلو په وجه به دكور خلق هم پريشانه وى. دې نه علاوه په اوله حصه دَ شپې كښې به خاوند ښځې سره كوروالې كولوسره ښوله شپه آرام هم اوكړى

② علامه نووى رحمه الله فرمائى چه په كومو احاديثوكښې دَ شپې راتلونه ممانعت دې دَهغه احاديثو تعلق هغه صورت سره دې چه كله سفر اوږد وى اودَخاوند دَ راتګ څه پته نه وى نوكه چرې خاوند ناڅاپى داخل شى اوښځه ئى خيرنه خچنه ناسته وى نوكورنى تعلقات

() اخرجه البخاری فی كتاب الحج/باب الدّخول بالعشیّ (رقم-۱۸۰۰) ومسلم فی كتاب الإمارة/باب كراهة الطّروق، وهو الدّخول ليلا، لمن ورد من سفر(رقم-۱۸۰ - (۱۹۲۸)

په خراب شی په مختصر سفرکښې به دا صورت نه وی. بل که چرې سفر اوږد وی اوخاوند ډَخپل راتګ نه مخکښې خبر کړې وی نو په دې صورت کښې هم خاوند هروخت راتلې شی اسلام غوارې چه دَ کورنظام دې دَمضبوط نه زیات مضبوط وی مګر یهود اونصاری اودَ هغوی ایجنټان این جی اوز عائلی نظام تباه کول غواړی دې پسې چه کوم حدیث دې دَ هغې هم دغه تشریح ده.

[۲۹۰۲] دشپې په وخت دسفر څخه دواپس نه راتلو هدایت

۲۹۰۲-[۱۲] ()[۱] وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«إِذَا أَطَالَ أَحَدُكُمُ الْغَيْبَةَ [۳] فَلَا يَطْرُقْ أَهْلَهُ لَيْلًا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت جابر ﷜ وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲] کله چې په تاسو کې د چا د غیر حاضرې موده اوږده شي یعنې د هغه په سفر کې زیاتې ورځې ولګیږي [۳] نو هغه دې سفرڅخه دواپس راتلوپه وخت په خپل کورکې دشپې په وخت نه داخلیږي (بخاري مسلم)

حل اللغات: ①الْغَيْبَةَ: د غیر حاضرې موده. ②فَلَا يَطْرُقْ:نو د شپې دې نه راځی.

تسهیلات:

قوله: فَلَا يَطْرُقْ أَهْلَهُ لَيْلًا:

دشپې کورته د راتلو نقصان: په شرح السنة کښې یو روایت منقول دې چه حضرت ابن عباس ﷜ بیان کړې دې چه نبی کریم ﷺ د طرف نه ددې ممانعت نه ورستو دوه کسانو په داسې حالت کښې د سفر نه راوپس شو چه شپه وه نو دوې کورته دشپې داخل شول نو دوې خپلې ښځې پردو سړو سره اومندلې.

په موجوده وخت کښې د شپې د سفرڅخه د راتلو حکم: موجوده زمانه د موبائیل ده چې څوک د سفرڅخه کورته راځی نو هغه د وړاندې خبر ورکړی وی چې زه به په فلانی وخت د شپې در رسیږم اود کور خلقو ته هم پته وی په دې وجه دحدیث ممانعت په داسې صورت باندې حمل نه دې بلکه د حدیث محمل هغه موقع ده چې کورته خبرنه کیږی او ناڅاپه کورته راتلل وی

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب النّکاح/باب لا یطرق أهله لیلا إذا أطال الغیبة. مخافة أن یخوّنهم أو یلتمس عثراتهم (رقم-۵۲۴۴) ومسلم فی کتاب الإمارة/باب کراهة الطّروق. وهو الدّخول لیلا. لمن ورد من سفر(رقم-۱۸۳ - (۷۱۵) و ابو داود فی کتاب الجهاد/باب فی الطّروق (رقم-۲۷۷۶) والترمذی فی کتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلّى الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی کراهیة طروق الرّجل أهله لیلا (رقم-۲۷۱۲) واحمد فی المسند:۳۰۲/۳

[۳۹۰۴] د سفر څخه ته د شپې کورته د نه راتلو فائده

۳۹۰۳—[۱۳] (۱) ۱ وَعَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ۲ "«إِذَا دَخَلْتَ لَيْلًا فَلَا تَدْخُلْ عَلَى أَهْلِكَ ۳ حَتَّى تَسْتَحِدَّ الْمُغِيبَةُ وَتَمْتَشِطَ الشَّعِثَةُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت جابر ﷺ وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ۲ که تاسو سفر څخه د واپس راتلو خپل ښار او آبادي کې د شپې وخت راورسيږي نو په خپل کور کې مه داخليږئ ۳ ترڅو پورې چې ښځه خپل زير ناف ويښته صاف نه کړي او هغه ښځه چې د هغه ويښته ګډوډ وي ګمنز کمڅی ونه کړي (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① تَسْتَحِدَّ: اوسپنه استعمالول يعنی دنامه لاندې ويښته لرې کول. ② الْمُغِيبَةُ: د کور نه بهر د سړي د غير حاضرئ موده. ③ وَتَمْتَشِطَ: امتشاط ګمنز استعمالولو ته وانی ④ الشَّعِثَةُ: د ښځې ګډ وډ ويښته

تسهيلات: قوله: تَسْتَحِدَّ الْمُغِيبَةُ:

د سړي اوښځې دپاره د زياتی ويښتو کټ کولودوه طريقې: ① دَ سړي دَپاره اوسپنه استعمالول په طبی لحاظ سره فائده مند دی

② دَ ښځې دَپاره دَ اوسپنې په ځائی خه بل څه طريقه اختيارول بهتر دی مثلاً راشوکول بال صفا وغيره استعمالولو سره لرې کول مناسب دی

[۳۹۰۵] د سفر څخه واپس راتلو بانديې د دعوت کولو مسنونيت

۳۹۰۵—[۱۴] (۱) ۱ وَعَنْهُ، ۲ أَنَّ النَّبِيَّ لَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ نَحَرَ جَزُورًا، أَوْبَقَرَةً. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ حضرت جابر ﷺ وايي ۲ نبي کريم ﷺ چې مديني ته تشريف راوړو نو حضور ﷺ اوښان يا غواوی ذبح کړي (بخاري)

حل اللغات: ① جَزُورًا: اوښان يا غوايان.

تسهيلات: قوله: نَحَرَ جَزُورًا:

د سفر څخه په واپسی د دعوت کولومسنونيت: دجيم پهٔ فتحې سره او د زا په ضمې سره چه کله به نبی کريم ﷺ دلرې سفر نه واپس مديني منورې ته راغلو نو اوښ يا بل څاروي به ئي ذبح کړو اوددعوت اهتمام به ئي وکړو.نو ددې نه معلومه شوه چه سفرنه په واپسی باندې اهل قرابت (رشته دارو) له دعوت کول مسنون دی او دې ته دعوت قدوم وئيلې شي

(۱) اخرجه البخاري فی کتاب النّکاح/باب طلب الولد (رقم-۵۲۴۶) ومسلم فی کتاب الإمارة/باب کراهة الطّروق. وهو الدّخول ليلا. لمن ورد من سفر(رقم-۱۸۲ - (۷۱۵) و ابو داود فی کتاب الجهاد/باب فی الطّروق (رقم-۲۷۷۸) واحمد فی المسند:۱۰۳/۳

(۲) اخرجه البخاري فی کتاب الجهاد والسّير/باب الطّعام عند القدوم وکان ابن عمر يفطر لمن يغشاه (رقم-۳۰۸۹) واحمد فی المسند:۳۰۱/۳

[۲۹۰٦] د نبی علیه السلام د سفر څخه د واپس راتلو وخت

۲۹۰٦-[۱۵] (١) [۱] وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ [۲]: «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَا يَقْدَمُ مِنْ سَفَرٍ إِلَّا نَهَارًا فِي الضُّحَى، [۳] فَإِذَا قَدِمَ بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ فَصَلَّى فِيهِ رَكْعَتَيْنِ، [٤] ثُمَّ جَلَسَ فِيهِ لِلنَّاسِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] کعب ﷺ ابن مالك وايي [۲] نبي کريم ﷺ د څاښت وخت څخه علاوه بل هيڅ وخت به د سفر څخه واپس نه راتلی [۳] حضور ﷺ چې به د سفر څخه واپس راتلی نو مخکې به يې مسجد ته تشريف وړی او هلته دناستي څخه مخکې به يې تحية المسجد يا د څاښت دوه رکعاته مونځ کوی [٤] او بيا د خلقو سره ملاقات د پاره به هلته کيناستلو (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: لَا يَقْدَمُ مِنْ سَفَرٍ إِلَّا نَهَارًا فِي الضُّحَى:

د نبی علیه السلام د سفر څخه واپسی په مختلفو وختونو کښې: د چاشت وخت دا د اکثريت په اعتبار سر وئيلې شوی دی، يعنی نبی کريم ﷺ به اکثر د چاشت په وخت کښې د سفر نه واپس تشريف راوړو نو ددې وجهې نه چاشت وخت ذکر کړې دې. ګنې ورستونی حديث کښې دا ذکر شوي دي چه نبی کريم ﷺ به د ورځې په اول حصه يعنی د سحر په وخت کښې او په آخری حصه يعنی د ماښام په وخت کښې سفر نه واپس تشريف راوړو نو ددې نه دا معلومه شوه چه نبی کريم ﷺ به صرف د سحر وخت کښې د سفر نه واپس تشريف نه راوړو بلکه د ماښام وخت کښې به ئې هم واپس تشريف راوړو.

[۲۹۰۷] د سفر په واپسی جوماتت ته د تلو حکم

۲۹۰۷-[۱٦] (٢) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي سَفَرٍ، فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ قَالَ لِي: [۳] "ادْخُلِ الْمَسْجِدَ فَصَلِّ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ"» رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ﷺ وايي [۲] زه يو سفر کې نبي کريم ﷺ سره ملګری وم کوم وخت چې مونږ مديني ته واپس راغلو نو حضور ﷺ ماته وفرمايل [۳] جومات ته لاړ شه او هلته دوه رکعاته مونځ وکړه (بخاري)

---

١) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسّير/باب الصّلاة إذا قدم من سفر(رقم-٣٠٨٨) ومسلم فی کتاب صلاة المسافرين وقصرها /باب استحباب الرّكعتين فی المسجد لمن قدم من سفر أوّل قدومه (رقم) ٧٤ - (٧١٦) و ابو داود فی کتاب الجهاد/باب فی الصّلاة عند القدوم من السّفر(رقم-٢٧٨١) والنسائی فی کتاب المساجد/باب الرّخصة فی الجلوس فيه والخروج منه بغير صلاة (رقم-٧٣١)

٢) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسّير/باب الصّلاة إذا قدم من سفر(رقم-٣٠٨٧) ومسلم فی کتاب صلاة المسافرين وقصرها /باب استحباب الرّكعتين فی المسجد لمن قدم من سفر أوّل قدومه (رقم) ٧٢ - (٧١٥)

تسهيلات: قوله: اُدْخُلِ الْمَسْجِدَ فَصَلِّ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ:

د سفر څخه په واپسۍ جمات کښې دوه رکعته مونځ کول: ددې حديث نه دا معلومه شوه چه مسافر کله د سفر نه واپس راشي نو اول مسجد ته تلل دنبی کريم ﷺ نه فعلاً او قولاً ثابت دي او په دې کښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چه په دې کښې د شعائر الله تعظيم دي او مسجد د الله تعالی کور دې او مسجد ته تلونکې ګويا د الله تعالی سره ملاقات کونکې دې لهذا کوم کس چه د سفر نه را واپس شي نو د هغه په حق کښې نور بهتر څه کيدې شی چه هغه د ټولونه مخکې د الله تعالی کورته لاړ شي او د الله تعالی سره ملاقات اوکړي او د الله تعالی شکريه ادا کړي څکه چه الله تعالی ددې کس سفر په عافيت سره ختم کړو او واپس يې خپل اهل وعيال ته په عافيت سره ورسولو

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۹۰۸] په سحر وختی کار شروع کولو کښې د برکت دعا

۳۹۰۸-[۱۷] (۱) [۱] عَنْ صَخْرِ بْنِ وَدَاعَةَ الْغَامِدِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «اللّٰهُمَّ بَارِكْ لِأُمَّتِي فِي بُكُورِهَا» " [۳] «وَكَانَ إِذَا بَعَثَ سَرِيَّةً، أَوْ شَيْئًا بَعَثَهُمْ مِنْ أَوَّلِ النَّهَارِ»، [۴] وَكَانَ صَخْرٌ تَاجِرًا. فَكَانَ يَبْعَثُ تِجَارَتَهُ أَوَّلَ النَّهَارِ، فَأَثْرَى وَكَثُرَ مَالُهُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] صخر رضي الله عنه بن وداعه غامدي وايي [۲] يوه ورځ رسول الله ﷺ دا وفرمايل يعنی داسې دعايي وفرمايله اي الله! څما د امت د پاره د ورځې ابتدايي حصه کې برکت ورکړي [يعنی څما د امت خلق که د ورځې ابتدايي حصه په سحر کې د علم په طلب کې مشغول وي يا خپل ذريعه معاش کې مصروف وي ياسفر وغيره کوي نو په هغه کې دي هغوی ته برکت حاصل وي] [۳] حضور ﷺ چې به وړوکی لوی لښکر ليږلو نو هغه به يې د ورځې ابتدايي حصه کې ليږلو [۴] او صخر رضي الله عنه چې يوتاجر سوداګر وو د دې دعاء برکت حاصلولو پيش نظر خپل تجارت مال به يې د ورځې ابتدايي په حصه کې ليږلو نو هغه مالدار شو او د هغه په مال کې ډيره اضافه وشوه (ترمذي ابوداود دارمي)

د حضرت صخر بن وداعه الغامدی تعارف: نوم عمرو دې او پوره نسب نامه ئې داسې ده. عمرو بن کعب با الحارث بن کعب بن عبدالله بن مالك بن نضر بن الازد. ده دَ قبيله الازد دَ خاندان غامدسره تعلق لرلو. ابن حجرؒ وائی چه حجازی صحابی دې خو قيام ئې په طائف کښې وو.

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب فی الابتکار فی السفر (رقم-۲۶۰۶) والترمذی فی کتاب البيوع عن رسول الله صلّی الله عليه وسلّم/باب ما جاء فی التبکير بالتّجارة (رقم-۱۲۱۲) و ابن ماجه فی کتاب التّجارات/ باب ما يرجی من البرکة فی البکور (رقم-۲۲۳۶) واحمد فی المسند:۴۱۶/۳

وفات: دَ اسماء الرجال والا دَ ده دَ وفات دَ کال په بیانولو کښې خاموش دی.
مرویات: علامه برقی رحمه الله وئیلي دی ده نه صرف یوحدیث نقل دې خوابن جوزی په تلقیح کښې وئیلي دی چه ده نه دوه احادیث نقل دی.
حل اللغات: ①بُكُورِهَا: د سحر ابتدائی حصه. سحر وختی. ②سَرِيَّةً: وړوکې لښکر. ③فَأَثْرَى: نو ښه مالدار شو. ④وَكَثُرَ مَالُهُ: دا دَ اثری تشریح ده یعنی مال ئې زیات شو
تسهیلات: **قوله**: فَأَثْرَى وَكَثُرَ مَالُهُ:
صبا وختی کاروبار ته په تلو کښې برکت: نن صباد کافرانو په شان مسلمان امت دَدې حدیث خلاف روان دې دَ ورځې ۱۱ یا ۱۲ بجې دوکان ته راځی په دې کښې به خاورې برکت راشی
البته زه افغانستان ته ډیر تلې راغلې یم دهغه ځائې دوکانداران سحر وختی دوکانونه خلاصوی اوبیا د ماښام څخه يې بندوی بعضې دوکانداران خو په کښې لا د سحر ناشته هم په دوکانونو کښې کوی خصوصاً خوست کښې دا معمول پابندۍ سره جاری دی الله تعالی دې زمونږ په خوږ وطن پاکستان کښې هم دوکاندارانو ته د سحروختی مارکیټونو پرانستلو توفیق ورکړی

[۳۹۰۹] دشپې په وخت د سفر کولو حکم

۳۹۰۹—[۱۸] (۱) ①وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ②" «عَلَيْكُمْ بِالدُّلْجَةِ، ③فَإِنَّ الْأَرْضَ تُطْوَى بِاللَّيْلِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ①او حضرت انس رضی الله عنه وایي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل ②تاسو د شپې په وخت تلل دځان د پاره ضروري وګنئ ③ځکه چې د شپې وخت زمکه رانغښتلی شي (ابوداود)
حل اللغات: ①الدُّلْجَةِ: د شپې په شروع کښې په سفر تلل. ②تُطْوَى: رانغښتلې شی
تسهیلات:
قوله: عَلَيْكُمْ بِالدُّلْجَةِ، فَإِنَّ الْأَرْضَ تُطْوَى بِاللَّيْلِ
دحدیث مفهوم: دحدیث مفهوم دَدې حدیث مطلب دانه دې چه دَ ورځې سفرمه کوئی دورځې د سفر څو حضورپاك حکم ورکړې دې چه دَ وخته سفرکوئی دلته مطلب دادې چه د ورځې سفرسره څه حصه دَ شپې هم شاملوئی ځکه چه دَ شپې په سفر کښې یوخوګرمی او دهوپ نه وی بل دا چه څه به نظر نه راځی په دې وجه په سفرکښې ځانله والي او برکت وی هم دا په حدیث کښې داسې ذکرشو لکه چه دَده دَپاره زمکه راغونډولې شی

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب فی الدلجة رقم-(۲۵۷۱) واحمد فی المسند:۳/۳۰۵

[۲۹۱۰] د سفر د شرکاؤ کم از کم تعداد

۳۹۱۰-[۱۹] ()[۱]وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " [۲]«الرَّاكِبُ شَيْطَانٌ، وَالرَّاكِبَانِ شَيْطَانَانِ، وَالثَّلَاثَةُ رَكْبٌ» ". رَوَاهُ مَالِكٌ، وَالتِّرْمِذِيُّ، أَبُودَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه:[۱]عمرو ابن شعيب ﷺ د خپل پلار څخه او هغه د خپل نيکه (دادا) څخه نقل کوي چې رسول کريمﷺ وفرمايل [۲] ①يو سوار يوشيطان دى ②دوه سواره دوه شيطانان دي ③او دري سواره قافله ده .(مالك ترمذي ابوداود نسائي)

حل اللغات: ①رَكْبٌ: قافله.

تسهيلات:

قوله: وَالثَّلَاثَةُ رَكْبٌ:

ګاډله سفر کوېکې ته د شيطان وئيلو وجوهات: يعني دري سواره جماعت دي يوسور يا دوه سواره شيطانان دى

① يويا دوو ملګروته کله څه پريشانى اورسى نو شيطان ډير خوشحاليږى

② داهم ممکن ده چه يويا دوه ملګرى به شيطان په آسانئى سره ګمراه کړې شى په دې وجه دې ته سفرى شيطان اووئيلې شو خلاصه دا چه په سفرکښې کم نه کم دري ملګرى کيدل پکار دى

په ګنړې سره د سفر کولو فائدې: ① که چرته يوملګرې دَ څه کاردَپاره لاړشى نوباقى دوه به په خپل مينځ کښې په تسلئى سره اوسيږى اوکه چرې دَ هغه په راتلوکښې تاخيراوشى نوچه بل دَ خبر دَپاره لاړشى

② دې دپاره چه دَ مونځ اداکولو په وخت صحيح طريقې سره په جمع باندې مونځ اوکړې شى

③ د يوبل د سامان حفاظت به کوى

په موجوده زمانه کښې په ګنړه د سفر کولو حکم: دَ حضورپاك په زمانه کښې به دَ سفرونومعامله ډيره خطرناکه وه دَ عربودَصحراګانو سختئى لانورې وې اودَ دښمن خطرې جدا وې په دې وجه دَ دريو جماعت کيدل دَيو ادنٰى درجې انتظام وو. نن صبا خوهغه صورت نشته دې مګر بياهم په ظاهرحديث باندې عمل کولوکښې بيشميره فائدې دى

() اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الجهاد/باب فى الرّجل يسافر وحده (رقم-۲۶۰۷) والترمذى فى كتاب الجهاد عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فى كراهية أن يسافر الرّجل وحده (رقم-۱۶۷۴)

[۲۹۱۱] په سفر کښې د امیر د جوړولو حکم

۲۰-[۲۰] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «إِذَا كَانَ ثَلَاثَةٌ فِي سَفَرٍ فَلْيُؤَمِّرُوا أَحَدَهُمْ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوسعید خدري ﷺ څخه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲] که مثلًا په سفر کې دري سړي وي نو په هغوی کې یو امیر جوړول پکار دی (ابوداود)

تسهیلات:

قوله: فَلْيُؤَمِّرُوا أَحَدَهُمْ:

په سفر کښې د امیر د جوړولو حکم: دریو یادَدریونه زیاتو کسانوله پکاردی چه هغوی دې په سفرکښې خپل یوښه ملګرې خپل امیرجوړ کړی دَدې دَپاره چه هغه په سفرکښې دَټولوکارونو انتظام اوخیال کوی اودَ اختلاف اوجګړې په صورت کښې صحیح فیصله اوکړی دَدې دَپاره هوښیار پوهه او غمخوار سړې پکاردې چه هغه خپل ځان دَملګرو خادم تصورکړی نه چه مخدوم خپل ځان دَټولونه وړوکې اوګڼړی ملګروله هم پکاردی چه په جائزکارونوکښې دَهغه تابعداری اوکړی.

[۲۹۱۲] د سفر غوره ملګری

۲۱-[۲۱] (۲) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، قَالَ: [۲] «خَيْرُ الصَّحَابَةِ أَرْبَعَةٌ، [۳] وَخَيْرُ السَّرَايَا أَرْبَعُمِائَةٍ، [۴] وَخَيْرُ الْجُيُوشِ أَرْبَعَةُ آلَافٍ، [۵] وَلَنْ يُغْلَبَ اثْنَا عَشَرَ أَلْفًا مِنْ قِلَّةٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] ابن عباس ﷺ د نبي کریم ﷺ څخه روایت کوي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲] مثلًا د یو سفر بهترین ملګری او رفقاء هغه دی چې کم نه کم د څلورو په تعداد کې وي [۳] په کوچنیو لښکرو کې بهترین لښکر هغه دی چې په هغه کې څلور سوه مجاهدین وي [۴] او لوی لښکرو کې بهترین لښکر هغه دی چې په هغه کې دولس زره مجاهدین وي [۵] او دولس زره مجاهدین د کموالي په وجه هیڅ کله نه مغلوب کیږي (ترمذي ابوداود دارمي) او ترمذي ویلي دي چې داحدیث غریب دی

حل اللغات: ① الصَّحَابَةِ: ملګری. ② السَّرَايَا: وړې لښکرې. ③ الْجُيُوشِ: لوئې لښکرې.

---

(۱) اخرجه ابوداود في السنن کتاب الجهاد/باب في القوم يسافرون يؤمّرون أحدهم (رقم-۲۶۰۸)

(۲) اخرجه ابوداود في السنن کتاب الجهاد/باب فيما يستحبّ من الجيوش والرّفقاء والسّرايا (رقم-۲۶۱۱) والترمذي في کتاب السّير عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء في السّرايا (رقم-۱۵۵۵)

تسهیلات:

قوله: خَيْرُ الصَّحَابَةِ أَرْبَعَةٌ:

په سفر کښې د څلورو ملګرو د شرکت فضیلت: یعنی بهترین ملګری څلور دی ځکه چه درې ادنی درجه ده اودې نه کم منع دی. دڅلورو په ډله کښې که یوامام شی نودرې کامل جماعت دې اوکه چرې یوبیمارشی او یو وصی جوړکړی نوباقی دوه به ګواهان شی.

قوله: وَخَيْرُ السَّرَايَا أَرْبَعُمِائَةٍ:

د سریه دوه مصداقات: ① سرایا جمع ده ددې مفرد سریه ده. دا چهاپه مار فوجی دستې ته وائی سریه هغه وی چه د څلورو سوو نه زیات نه وی اوکه چرې زیات شو نو بیا هغه په جیش کښې داخل دی.

② هغه لښکر په کوم کښې چې نبی علیه السلام نه وی که نبی علیه السلام په کښې تشریف فرما وی نو هغې ته غزوه وائی.

په اسلام کښې ټول سرایا ۵۶ دی په کوم کښې چه حضورپاك شرکت نه وو کړې.

قوله: وَخَيْرُ الْجُيُوشِ أَرْبَعَةُ آلَافٍ:

د جیش تعداد: دغزوه موته چه کومه سریه وه هغه په درې زره صحابه کرامو باندې مشتمل وه. په دې وجه هغه د سریه د تعریف نه اووتله او د جیش په حکم کښې راغله سره ددې چه په هغې کښې حضورپاك شریك نه وو. د جیش اسامه هم دغه معامله وه هغه سره څلور زره لښکر وو. څلور زره لښکر لوئی تعداد دې په دې وجه دې ته بهترین لښکراووئیلې شو. څنګه چه د سریه دپاره څلور سوا لوئی تعداد دې کوم چه بهترین ګرځولې شوې دې

قوله: وَلَنْ يُغْلَبَ اثْنَا عَشَرَ أَلْفًا مِنْ قِلَّةٍ:

د دولسو زرو فوج ماتې نه خوړلو مطلب: یعنی د دولسو زرو لښکر په دې وجه ماتې نه خوری چه هغوی لږ دی. هغوی چه کوم ماتې خوړلې دې دهغې څه بل څه وجه کیدې شی ځکه چه دولسو زرو لښکر یودویژن فوج دې دا لوئی تعداد دې نود تعداد د وجې نه ماتې نه دې خوړلې کیدې شی چه د څه نافرمانئی یا غرور تکبر د وجې نه ئی ماتې خوړلې وی.

[۳۹۱۲] د سفر د ملګرو رعایت

۳۹۱۳ - [۲۲] (¹) ⓵ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ ⓶: «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَتَخَلَّفُ فِي الْمَسِيرِ، ⓷ فَيُزْجِي الضَّعِيفَ، وَيُرْدِفُ، وَيَدْعُو لَهُمْ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد، باب فی لزوم الساقة (رقم - ۲۶۳۹)

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ﷺ وايي [۲] چې رسول کريم ﷺ به د سفر په دوران کې د تلو په وخت [د تواضع او انکساری په وجه او د نورو د مدد او خبر ګيری پيش نظر] د قافلې څخه وروسته تلی [۳] ① حضور ﷺ به د کمزوری سورلی شړله چې هغه ملګرو سره يو ځای شي ② او کوم کمزور او ضعيف سړی چې به د سورلی څخه د محروم کيدو په وجه پياده تلو هغه به يې په ځان پسي وروسته سوررلو ③ او هغه قافلې والاوو د پاره به يې دعا کوله. (ابوداود)

حل اللغات: ① يَتَخَلَّفُ: روسته روسته به تلو، ② فِي الْمَسِيرِ: دسفر په دوران کښې، ③ يُزْجِي: شړله به ئې (سورلی)، ④ يُرْدِفُ: سوررلو به ئې وروسته (ځان پسې)،

تسهيلات: قوله: يَتَخَلَّفُ فِي الْمَسِيرِ:

د سفر د ملګرو د ډيرو خبرو خيال ساتل: ① نبی کريم ﷺ به د صحابه کرام رضی الله عنهم نه ورستو تللو وجه تواضع او تعاون وؤ.

② نبی کريم ﷺ به د شاه طرف نه سورلي شړلې دې دپاره چه کمزوره سورلي خپلو رفيقانو ته ملاو شی.

③ کمزوري کس به نبی کريم ﷺ ځان سره په سورلئ شاته کينولو..

④ نبی کريم ﷺ به ټولو خلقو ته دعا کوله.نو د حديث حاصل دا شو چه نبی کريم ﷺ به په قافله کښې د کمزورو خلقو او کمزورو سورلو ډير خاص خيال ساتلو او ټولو ته به يئ دعا کوله.

[۳۹۱۴] يو ځاي کښې دمه کولو پې وخت د ملګرو راجمع کيدل

۳۰ـــ[۲۳] () [۱] وَعَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ [۲]: «كَانَ النَّاسُ إِذَا نَزَلُوا مَنْزِلًا تَفَرَّقُوا فِي الشِّعَابِ وَالْأَوْدِيَةِ»، [۳] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «إِنَّ تَفَرُّقَكُمْ فِي هَذِهِ الشِّعَابِ وَالْأَوْدِيَةِ إِنَّمَا ذَلِكُمْ مِنَ الشَّيْطَانِ». [۴] فَلَمْ يَنْزِلُوا بَعْدَ ذَلِكَ مَنْزِلًا إِلَّا انْضَمَّ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ، [۵] حَتَّى يُقَالَ: لَوْ بُسِطَ عَلَيْهِمْ ثَوْبٌ لَعَمَّهُمْ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت ثعلبه خشني ﷺ وايي [۲] مخکې به عام طور سره داسې کيدل چې خلق صحابه ﷺ به په يو منزل پړاؤ کوز شولو نو جدا جدا کيدو سره غرونو درود او واديو کې به خواره شوه [يعنی څوك به چرته کوز يدلو او څوك چرته] [۳] رسول کريم ﷺ [دا طريقه ختمولو د پاره په دي طورا] وفرمايل پوهه شئ چې ستاسو په دي طور دي دريو او واديو کې جدا جدا کيدلو سره کوز يدل خاص د شيطان د طرف څخه دی [يعنی دا د شيطان د

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد ، باب ما يؤمر من انضمام العسكر وسعته (رقم-۲۶۲۸) واحمد فی المسند: ۱۹۳/۴

دهوکي په سبب دی چې هغه ځکه تاسو جدا جدا کول غواړي چې دښمن په تاسو حصارول پیداکړي او تاسو ته نقصان او ازار ورسوي؛ [۴] د دې ارشاد څخه وروسته خلق چې به کله په یو منزل پړاؤ کوز یدل نو په خپل مینځ کې به دومره نزدې نزدې تیکاؤ کیدل [۵] چې وئیل کیږي که په دې تولو یوه کپړه خوره کړی شي نو دوئ تول به پټ کړي.

حل اللغات: ① الشِّعَابِ: د شعبُ جمع ده، د یو غر دَره، ② الْأَوْدِيَةِ: وادیانې. ③ انْضَمَّ: جخت جخت او نزدې نزدې به کیدل، ④ لَعَمَّهُمْ: نو دوی تول به پټ کړی.

تسهيلات: قوله: إِنَّ تَفَرُّقَكُمْ فِي هَذِهِ الشِّعَابِ وَالْأَوْدِيَةِ إِنَّمَا ذَلِكُمْ مِنَ الشَّيْطَانِ:

په میدان جنګ کښې صفتونه جوړول په عهد نبوی پوره خاص کیدل: چونکه په هغه زمانه کښې به په صف جوړولوسره جنګ کیدلو نودَملګرو یوځائی کیدل به ډیر ضروری وو ځکه چه ځان له ملګرې به ئې لیدلو نو دښمن به راګیرولو خونن صبا هوائی بمباری کیږی بل راکټ اوګولې راپریوځی نودَدې دَپاره به حکمت عملی هم هغه وی چه دَبچاؤته پاره ښه مفیدوی.

[۲۹۱۵] په سفر کښې د نبی علیه السلام د ملګرو خیال ساتل

[۲۳] ()[۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «كُنَّا يَوْمَ بَدْرٍ، كُلُّ ثَلَاثَةٍ عَلَى بَعِيرٍ، [۳] فَكَانَ أَبُو لُبَابَةَ، وَعَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ زَمِيلَيْ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، [۴] قَالَ: فَكَانَتْ إِذَا جَاءَتْ عُقْبَةُ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَا: نَحْنُ نَمْشِي عَنْكَ». [۵] قَالَ: " «مَا أَنْتُمَا بِأَقْوَى مِنِّي، وَمَا أَنَا بِأَغْنَى عَنِ الْأَجْرِ مِنْكُمَا» ". رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: [۱] عبد الله ابن مسعود ﷺ وایي [۲] دبدر په ورځ (یعنی دجنګ بدر په موقع) زمونږ دا حالت ووچی په مونږ کی هر دری سړی په یوه اوښ باندی سوریدل (یعنی دری دری سړودپاره یو اوښ وو او هغوی دري سره به په نمبر نمبر په یو اوښ باندې سوریدل)، [۳] او ابو لبابه ﷺ اوحضرت علي ﷺ د رسول کریم ﷺ په اوښ کې ورسره شریك وو [۴] حضرت عبد الله بیان کوي چې صورت حال داوو چې کله به په هغه اوښ د رسول کریم ﷺ د ختکته کیدو نمبر راغلو نو ابولبابه ﷺ او حضرت علي ﷺ به عرض کوی چې ستاسو په بدله کې به مونږ پیاده ځو تاسو ﷺ په اوښ سواره شئ [۵] لیکن حضور ﷺ به ورته وفرمایل نه تاسو زما څخه زیات طاقت لرئ چې بس تاسو د پیاده تلو طاقت لرئ او زه پیاده نشم تلی او نه زه د آخرت زیات ثواب حاصلولو کې ستاسو څخه بي پرواه یم یعنی زه د آخرت د اجر او ثواب ستاسو څخه کم محتاج نه یم. (شرح السنه)

حل اللغات: ① زَمِيلَيْ: ملګری، شریک، ② عُقْبَةُ: دکوزیدلو نمبر، ③ أَغْنَى: بې پرواه، بیزاره.

() اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحدیث ۲۶۸۶ واحمد فی المسند ۱/ ۴۲۲

تسهیلات:

قوله: وَمَا أَنَا بِأَغْنَى عَنِ الْأَجْرِ مِنْكُمَا:

په جنګ بدر کښې د مسلمانانو د اوښانو شمار: جنګ بدرته د تلونکو ۳۱۳ صحابه کرامو سره صرف ۷۰ اوښان وو په دې وجه به په یو یو اوښ باندې ډیرو ملګرو سفرکولو. مثلاً دریو کسانوته به یو اوښ ملاویدلو نودوه به سواره وو او یو به جلب نیولو سره پیدل روان وو.

د نبی علیه السلام د نوبت ملګری: حضورپاك سره هم دغه معامله اوشوه. حضورپاك سره حضرت علی رضی الله عنه اوحضرت ابولبابه رضی الله عنه ملګری وو. کله چه به د حضورپاك د پیدل تللو اود اوښ جلب نیولو نمبر راتلو نودواړو ملګروبه ورته وئیل یارسول الله مونږ به ستاسو د طرف نه پیدل لاړشو. حضورپاك به اوفرمائیل تاسو ما نه زیات طاقتور هم نه ئی اونه زه د پیدل تګ د ثواب نه بې پرواه یم لهذا په مقرره ترتیب باندې به ځو.

د نبي علیه السلام عاجزی اود جهاد فضیلت: د دې حدیث نه د جهادی سفر د فضیلت اوعظیم ثواب پته لګی اوداهم معلومه شوه چه په حضورپاك کښې څومره تواضع اوانکساری وه اوداهم معلومه شوه چه حضورپاك د خپلو ملګرود پاره څومره مهربان وو. هغه چا رښتیا وئیلی دی:

لم يخلق الرحمن مثل محمد   ابدا وعلمي أنه لا يخلق

ترکومې پورې چه د حضورپاك تقلید دې ترهغه حده پورې د بشریت سلیقه هم بشر ته ملاویږی.

[۳۹۱٦] په سورلی باندې د تقریر کولو ممانعت

۳۹۱٦-[۲۵] (١) [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، [٢] قَالَ: لَا تَتَّخِذُوا ظُهُورَ دَوَابِّكُمْ مَنَابِرَ، [٣] فَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى إِنَّمَا سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُبَلِّغَكُمْ إِلَى بَلَدٍ لَمْ تَكُونُوا بَالِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ الْأَنْفُسِ، [٤] وَجَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فَعَلَيْهَا فَاقْضُوا حَاجَاتِكُمْ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] ابو هریره رضی الله عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه نقل کوي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل [٢] د خارویو شا منبر مه جوړوئ [٣] ځکه چې الله تعالی حیوان خاص د دې د پاره ستاسو تابع کړي دی چې هغوئ تاسو هغه ښارونه او علاقو ته ورسوي چرته چې تاسو د پیاده تلو په ذریعه جاني مشقت او محنت سره رسیږي [یعنی د حیوان څخه مقصود په هغوی سورلی کول او د هغوی په ذریعه خپل مقصد حاصلول دي نو هغوی ته تکلیف رسول روانه دي] [٤] او الله تعالی زمکه ستاسو د پاره دي غرض ته پیدا کړیده نو تاسو په دي خپل کارونه او خپل حاجتونه پوره کوئ. (ابوداود)

---

(١) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد باب فی الوقوف علی الدابة (رقم-۲۵۶۷)

حل اللغات: ①ظُهُورَ: شاګاني، ②مَنَابِرَ: منبرونه، ③بَالِغِيهِ: رسيدونکی، ④بِشِقِّ: په تکليف او مشقت سره

تسهيلات:

قوله لَا تَتَّخِذُوا ظُهُورَ دَوَابِّكُمْ مَنَابِرَ:

د څناورو څخه د منبر جوړولو ممانعت: يعني دَ سورلئ دَځناورو شا دَ کيناستلو اودَخطبي ورکولودَپاره منبر مه جوړوئ چه بغيردَ ضرورت نه اوبغيردَ سفر نه دَهغوی شاګاني دَخپل ګپ شپ دَپاره قيام ګاه جوړه کړئ آخرهغه هم ساه والا دی. هغي ته هم دَ آرام او راحت موقع ورکوئ. دَهغی دَ شاګانونه راکوزشئ اوخپل مجلسونه په زمکه باندې اولګوئ.

د سورلئ په شا باندې د خطبه ورکولواستثنائي صورت: دې نه هغه صورت مستثنی دې چه دَيوخاص ضرورت لاندې دَ سورلئ په شا باندې کينی اوخطبه ورکړی دې دَپاره چه آوازئی ترلرې پورې اورسی لکه څنګه چه حضورپاک په يوم عرفه کښې کړې وو

[۲۹۱۷] د سورلو د راحت خيال کول

٣٩١٧-[٢٦]()①وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ②كُنَّا إِذَا نَزَلْنَا مَنْزِلًا لَا نُسَبِّحُ حَتَّى نَحُلَّ الرِّحَالَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ①او حضرت انس ﷺ وايي ②مونږ چې به د سفر په دوران کې يا وروسته څه منزل باندې کوز شو نو د ترهغه وخته پورې به مو نفل مونځ نه کوی ترڅوپورې چې د ځارويو څخه مو سامان نه وو کوز کړې. (ابوداود)

حل اللغات: ①لَا نُسَبِّحُ: نفل مونځ به نه کولو مونږ، ②نَحُلَّ: مونږ به پرانستلو. مونږ به کوزولو. ③الرِّحَالَ: سامان.

تسهيلات:

قوله: لَا نُسَبِّحُ حَتَّى نَحُلَّ الرِّحَالَ:

د سبحه په مصداق کښې دوه اقوال ① د "سبحه" او "تسبيح" اطلاق اکثر په نفل مونځونو باندې کيږي

② بعضی حضرات فرمائي چه دلته د چاشت مونځ مراد دې ځکه چه په هغه زمانه کښې عام طور په پړاونو کښې د دمه کولو وخت به هم د چاشت وخت وو،

د حديث مطلب دا دې چه صحابه کرامو به د مونځ ډير خيال ساتلو ليکن د خپل ځناور خيال ساتلو اهتمام به ئې هم کولو.

[1]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب فی نزول المنازل (رقم-۲۵۵۱)

[۲۹۱۸] په يوه سورلۍ په مخکې حصه باندې د کيناستو حقدار

۳۹۱۸ - [۲۷] (١) ١ وَعَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ ٢: «بَيْنَمَا رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَمْشِي إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ مَعَهُ حِمَارٌ، ٣ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ ارْكَبْ وَتَأَخَّرَ الرَّجُلُ، ٤ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "لَا، أَنْتَ أَحَقُّ بِصَدْرِ دَابَّتِكَ، إِلَّا أَنْ تَجْعَلَهُ لِي". ٥ قَالَ جَعَلْتُهُ لَكَ»، فَرَكِبَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ حضرت بريده ﷺ وايي ٢ چې رسول کريم ﷺ په يو سفر کې پياده لار وهله چې په دې دوران کې اچانك يو سړی خپل خره سره [يعنی په هغه سور] حضور ته راغلو ٣ او عرض يې اوکړو چې يارسول الله څما په خره سور شه او په دې ويلو سره هغه سړی د خره وروسته طرف ته سور شو چې حضور ﷺ مخکې کيني ٤ ليکن حضور ورته وفرمايل زه مخکې نه کينم څکه چې په خپله سورلۍ د مخکې کيناستو ته مستحق يې خو داچې ته ما د هغه حقدار جوړکړې [يعنی اګر چې د هغه سړي په وروسته کيدل د دې د پاره وو چې ګويا حضور ﷺ يې مخکې د کيناستو حقدار جوړ کړې وو ليکن حضور ﷺ د کمال احتياط پيش نظر په هغه واضحه کړه چې زه ستا په سورلۍ هغه وخت مخکې کينم هرکله چې ته ښکاره الفاظو کې ماته دمخکې ناستې د پاره اووائې] ٥ هغه سړي اوويل چې زه په صراحت سره دا وايم چې ماتاسو ددې حقدار جوړکړې يئ د دې څخه وروسته حضور ﷺ مخکې کيناستلو. (ترمذي ابوداود)

حل اللغات: ١ بِصَدْرِ دَابَّتِكَ: صدر سينې ته وائی، د څاروی مخکښې حصه.

تسهيلات:

قوله: أَنْتَ أَحَقُّ بِصَدْرِ دَابَّتِكَ:

د سورلۍ د مالک د سورلۍ په مخکې سيټ د کيناستو استحقاق: د نبی کريم ﷺ مذکوره عمل هم په تواضع او انکساری باندې محمول دې او نبی کريم ﷺ ورستو کيناستو نه شرم محسوس نه کړو او ورستو کيناستو باندې راضی شو. مګر کله چه مذکوره کس په صراحت سره خپل حق نبی کريم ﷺ ته وسپارلو. نو بيا نبی کريم ﷺ مخکې کيناستلو نو ددې نه دا معلومه شوه چه سورلۍ باندې د مخکې کيناستو حق د سورلۍ والا دې او د سورلۍ مالک خپل حق چا له ورکوی نو هغه ته اختيار دې

[۲۹۱۹] شيطاني اوښ او شيطاني کور

۳۹۱۹ - [۲۸] (٢) ١ وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ «تَكُونُ إِبِلٌ لِلشَّيَاطِينِ وَبُيُوتٌ لِلشَّيَاطِينِ". ٣ فَأَمَّا إِبِلُ الشَّيَاطِينِ فَقَدْ رَأَيْتُهَا يَخْرُجُ أَحَدُكُمْ

[1]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد /باب ربّ الدابّة أحقّ بصدرها (رقم-۲۵۷۲)
[2]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد /باب ربّ الدابّة أحقّ بصدرها (رقم-۲۵۶۸)

بِنُجَيبَاتٍ مَعَهُ قَدْ أَسْمَنَهَا فَلَا يَعْلُو بَعِيرًا مِنْهَا وَيَمُرُّ بِأَخِيهِ قَدِ انْقَطَعَ بِهِ فَلَا يَحْمِلُهُ. ۴ وَأَمَّا بُيُوتُ الشَّيَاطِينِ فَلَمْ أَرَهَا». ۵ كَانَ سَعِيدٌ يَقُولُ: لَا أُرَاهَا إِلَّا هٰذِهِ الْأَقْفَاصَ الَّتِي يَسْتُرُ النَّاسُ بِالدِّيبَاجِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ او سعيد ابن ابي هند تابعي رحمه الله د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت کوي هغوی دابيان وکړو چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ ځني اوښان د شيطانانو د پاره شي او ځني د کورونو دشيطانانو د پاره شي ٣ کوم اوښان چې د شيطانانو د پاره شي هغه ماليدلي دي څنګه چې ستاسو څخه يوسړی د ښه قسم اوښي اخستو سره اُوځي چې هغه ښي څربې کړي ليکن په هغه کې يواوښ باندې سوريږي نه او هرکله چې په يوسفر کې خپل هغه مسلمان ورور سره لار قطع کوي چې د خپلې کمزوری او سورلی څخه د محرومې په وجه تلو تلو کې ستړی شوی وي نو هغه هم په هغه اوښ نه سوروي ۴ او کوم کورونه چې د شيطان د پاره وي هغه ماليدلي نه دي ۵ د حديث راوي حضرت سعيد رضي الله عنه وايي ځما ګمان دادی چې هغه کورونه کوم چې د شيطانانو د پاره دی هغه پنجري دی چې خلق يې د ريشمي کپړې پردو سره پټوي. (ابوداود)

حل اللغات: ① نُجَيبَاتٍ: ښه اوښان. ② أَسْمَنَهَا: څربې اوښې. ③ فَلَا يَعْلُو: سوريږي پرې نه. ④ الْأَقْفَاصَ: داد قفص جمع ده قفص پنجرې ته وائي دلته مراد کجاوه ده. ⑤ الدِّيبَاجِ: ريښم، د ريښمو کپړې

تسهيلات:

قوله: وَيَمُرُّ بِأَخِيهِ قَدِ انْقَطَعَ بِهِ فَلَا يَحْمِلُهُ:

بل څوک په سورلۍ د نه سورولو حکم: يعني اوښ خالي پريږدي او شړی ئی، نه بل څوک په دې باندې سوره وی او نه پخپله سوريږی. ځکه چه دهغه ضرورت نه وی بلکه کله په خپل مجبوره رور باندې تيريږی هم مګر هغه سوره وی نه داشيطانی اوښ دې چه دده په شاباندې د يومجبور اوغريب حق نشته دې.

قوله: لَا أُرَاهَا إِلَّا هٰذِهِ الْأَقْفَاصَ الَّتِي يَسْتُرُ النَّاسُ بِالدِّيبَاجِ:

سورلو ته د شيطانی پنجرو ويلو وجه: هغه کجاوې په کومه کښې چه ريښمينی کپړې اچولې شوې وی نود ريښمود وجې نه دا کجاوې شيطانی پنجرې او جالئی جوړې شوې

[٣٩٢٠] په يو خالي ځائ کښې د پړاو اچولو د پاره دوه هدايات

٣٩٢٠-[٢٩] (١) ١ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذٍ، عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ٢ «غَزَوْنَا مَعَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، ٣ فَضَيَّقَ النَّاسُ الْمَنَازِلَ وَقَطَعُوا الطَّرِيقَ، ۴ فَبَعَثَ نَبِيُّ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مُنَادِيًا فِي النَّاسِ: ۵ "أَنَّ مَنْ ضَيَّقَ مَنْزِلًا، أَوْ قَطَعَ طَرِيقًا، فَلَا جِهَادَ لَهُ"». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

[1]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الجهاد، باب ما يؤمر من انضمام العسكر وسعته (رقم-٢٦٢٩) واحمد في المسند:٣/٤٤١

ترجمه: ①او سهل ابن معاذ د خپل پلار څخه نقل کوي هغه اوويل ②يو ځل مونږ درسول الله ﷺ سره جهاد ته ولاړو او پړاؤ باندې موقيام وکړ ③نو خلقو د هغه پړاؤ ټول ځايونه تنګ کړل او لار يې پريکړله يعنى بعضې خلقو بلا ضرورته يا د ضرورت څخه زيات ځايونو باندې قبضه وکړله چې د هغه په وجه د نورو خلقو ځايونه تنګ شول دغه شان لاره هم تنګه شوه چې د هغه سره تلونکو راتلونکو ته پريشاني شروع شوه ④په دې ليدو سره نبي کريم ﷺ يو اعلانچي خلقو ته داعلان کولو د پاره وليږلو ⑤چې کوم سړی ځای تنګ کړي يا لار يې پرې کړه نو خلقوته د ضرر او تکليف رسولو په وجه هغه ته به د جهاد ثواب نه حاصليږي . (ابوداود)

حل اللغات: ①ضَيَّقَ: تنګ کړی، ②قَطَعَ طَرِيقًا: پرې ئې کړه لار، لوټ مار ئې اوکړو.

تسهيلات:

قوله: أَنَّ مَنْ ضَيَّقَ مَنْزِلًا، أَوْقَطَعَ طَرِيقًا، فَلَا جِهَادَ لَهُ

په جهادی سفر کښې چاته په تکليف ورکولوسره د ثواب کميدل: د حديث حاصل دا دې چه په يوه غزوه کښې بعضو حضراتو په لاره کښې سامان کيخودلو، په کوم سره چه لاره بند شوه او بعضو حضراتو د ضرورت نه زيات ځائی ګيرکړو کوم سره چه په غزوه کښې موجود نورو خلقو ته تکليف وؤ نو نبی کريم ﷺ وفرمايل چه تکليف ورکونکی مجاهد ته به د جهاد پوره ثواب نه ملاويږی

[۳۹۲۱] سفر څخه د واپس راتلو بهترين وخت

[۳۰] ( )①وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، قَالَ: ② "«إِنَّ أَحْسَنَ مَا دَخَلَ الرَّجُلُ أَهْلَهُ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ أَوَّلَ اللَّيْلِ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ①او حضرت جابر رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ څخه نقل کوي حضور ﷺ وفرمايل ②د سفر څخه واپس راتلو سړي د پاره خپل کور والاوو ته رسيدو د پاره بهترين وخت د شپې ابتدايي حصه ده. (ابوداود)

تسهيلات: قوله: أَحْسَنَ مَا دَخَلَ الرَّجُلُ:

په کلمه ،،ما،، کښې دوه احتمالات: ① قاضی عياض رحمه الله فرمايي چه دلته ما موصوله ده او محذوف طرفته راجع ده، او هغه وخت دې په کوم وخت کښې چه سړې کور ته راځی.

② که ما مصدريه شی نو مضاف به محذوف وی، أي، ، إن أحسن دخول الرجل أهله أول الليل،، په دې صورت کښې به أهله د إن دپاره د خبر کيدو په وجهې محلاً مرفوع دې.

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد /باب فی الطروق (رقم-۲۷۷۷)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۹۲۲] د سفر په دوران کښې د نبی علیه السلام د خوب کیفیت

۳۹۲۲-[۳۱] (١) ۱عَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲«كَانَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا كَانَ فِي سَفَرٍ فَعَرَّسَ بِلَيْلٍ اضْطَجَعَ عَلَى يَمِينِهِ، ۳وَإِذَا عَرَّسَ قُبَيْلَ الصُّبْحِ نَصَبَ ذِرَاعَهُ وَوَضَعَ رَأْسَهُ عَلَى كَفِّهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱او حضرت ابو قتاده رضی الله عنه وایي ۲رسول کریم ﷺ چې به په سفر کې وو نو یو پړاو باندې د شپې آخري حصه کې یعنی سحر ختو څخه مخکې به کوز یدلو او په ښي اړخ به اوده کیدو ۳او کله چې به سحر څخه لږ مخکې کوز یدلو نو خپل ښي لاس اودرولو سره د هغه په تلی هتهیلي به یي خپل سر مبارك اینبودلي یعنی لږ وخت د پاره په دي دوران کې به یي آرام فرمایه چې خوب باندې غالب نشي

حل اللغات: ①عَرَّسَ: کوزیدلوبه، پړاؤ به ئې کولو. ②اضْطَجَعَ: څملاستلوبه. ③نَصَبَ: اودرولو به ئې.

تسهیلات:

قوله: إِذَا كَانَ فِي سَفَرٍ فَعَرَّسَ بِلَيْلٍ:

د صبا په وخت کښې د خوب په کیفیت کښې دوه طریقې: ① یعنی دَ شپې په آخری حصه کښې چه به حضورپاك ډیره اچوله نوکه په صبا صادق کښې به لږ وخت وو نو حضورپاك به په ښی اړخ باندې ډېه لګولو سره آرام کولو ځکه چه وخت به زیات وو

②که وخت به ډیر کم وو نو حضورپاك به ښې لاس اودرولو او دَهغې په تلی باندې به ئې آرام کولو دې دَپاره چه دَ سحر مونځ قضانه شي.

[۳۹۲۳] د سحر په وخت کښې د سفر شروع کولو فضیلت

۳۹۲۳-[۳۲] (٢) ۱وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ۲«بَعَثَ النَّبِيُّ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَبْدَ اللهِ بْنَ رَوَاحَةَ فِي سَرِيَّةٍ، فَوَافَقَ ذَلِكَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، ۳فَغَدَا أَصْحَابُهُ، وَقَالَ: أَتَخَلَّفُ وَأُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-، ثُمَّ أَلْحَقُهُمْ، ۴فَلَمَّا صَلَّى مَعَ رَسُولِ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- رَآهُ، فَقَالَ: "مَا مَنَعَكَ أَنْ تَغْدُوَ مَعَ أَصْحَابِكَ؟" فَقَالَ: أَرَدْتُ أَنْ أُصَلِّيَ مَعَكَ، ثُمَّ أَلْحَقَهُمْ. ۵فَقَالَ: "لَوْ أَنْفَقْتَ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مَا أَدْرَكْتَ فَضْلَ غَدْوَتِهِمْ"». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱او ابن عباس رضی الله عنهما وایي ۲چې رسول کریم ﷺ عبد الله ابن رواحه رضی الله عنه د جهاد د پاره یو لښکر سره ولیږلو اتفاقي طور هغه د جمعي ورځ وه چې حضور ﷺ ورته جهاد ته

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب المساجد/باب قضاء الصلاة الفائتة، واستحباب تعجیل قضائها (رقم) ۳۱۳ - (۶۸۳) واحمد فی المسند:۳۰۹/۵

[2]) اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحدیث ۵۲۷ واحمد فی المسند ۱/ ۲۲٤

د تلو حکم ورکړي وو ③نو د هغه ملګری یعنی د لښکر خلق د سحر وخت کې روان شول لیکن عبد الله ﷺ په خپل زړه کې سوچ وکړو یا یوملګري ته یې اوویل زه به وروسته راونیږم چې مخکې دلته په مدینه کې رسول کریم ﷺ سره د جمعې مونځ وکړم بیا به لښکر والاوو سره یوځای شم ④عبد الله ﷺ وایي چې رسول کریم ﷺ د جمعې مونځ وکی او حضو ﷺ هغه ولیدلو چې هغه هم دلته موجود دی نو ورته وي فرمایل ته د سهر په وخت کې خپلو ملګرو سره تلو څخه څه څیز منع کړی هغه عرض اوکړو ما داغوښتل چې ستاسو سره د جمعې مونځ وکړم بیا به د خپلو ملګرو سره یو ځای شم ⑤په دې اوریدو سره حضور ﷺ ورته وفرمایل که ته د زمکې په مخ ټول څیزونه هم خرڅ کړې نو په سحر وخت کې تلونکو د خپلو ملګرو ثواب به حاصل نه کړې. (ترمذي)

حل اللغات: ①فَوَافَقَ: اتفاقی طور، موافق شوه، ②فَغَدَا: سخر وخت کښې روان شول، ③أَتَخَلَّفُ: روسته به روان شم، ④أَلْحَقُهُمْ: هغوی سره به یو ځائ شم.

تسهيلات:

قوله: فَوَافَقَ ذٰلِكَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ:

دحدیث پس منظر: په ۸ هجری کښې نبی کریم ﷺ تقریبًا درې زره صحابه کرام دَ روما دَ سلطنت سره دَجهاد دَپاره روان کړی وو. حضرت زید ﷺ اودَ هغوی نه پس حضرت جعفر ﷺ اوبیا عبدالله بن رواحه ﷺ دریواړه حضورپاك یوبل پسې ترتیب سره امیران جوړکړی وو. کله چه دَ مدینې منورې نه دا حضرات اووتل نوحضرت عبدالله بن رواحه ﷺ حضورپاك سره دَ جمعې دَمونځ اداکولو په غرض سره په مدینه کښې حصار شو دَهغوی دواړه ملګری اسلامی لښکر سره لاړل. دَجمعې ورځ وه حضرت عبدالله بن رواحه ﷺ سوچ اوکړو چه کیدې شی چه دا دَ ژوند آخری جمعه وی اودَ حضورپاك آخری زیارت وی دَ مسجدنبوی آخری مونځ وی په دې غرض دَ جمعې مونځ حضورپاك پسې دَ کولو دَپاره حصار شو. جمعه ئې اداکړه کله چه حضورپاك هغه اولیدلو نوتپوس ئې اوکړو چه په څه وجه دې تاخیرکړې دې؟ هغوی عذر بیان کړو چه ملګرو سره ملاویدل څه ګرانه خبره نه ده اوس به لاړ شم. حضورپاك سره دَجمعې دَ مونځ اداکولو فضیلت حاصل شو.

قوله: مَا أَدْرَكْتَ فَضْلَ غَدْوَتِهِمْ:

د الله په لار کښې د یو صبا وتلو ثواب: په دې باندې حضورپاك اوفرمائیل په زمکه کښې چه کوم څه دی هغه ټول هم خرچ کړې بیا هم دَجهاد په سفرکښې سحروختې دَ تلو فضیلت نه شې حاصلولې. معلومه شوه چه دَجهاد عمل ډیر اوچت عمل دې اودادَ ټولو نه افضل عمل دې. [الكاشف، ۲۱۲/۷]

[۳۹۲٤] د شرمخ د څرمن د استعمال ممانعت

۳۹۳۳-[۳۳] (١) [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «وَلَا تَصْحَبُ الْمَلَائِكَةُ رُفْقَةً فِيهَا جِلْدُ نَمِرٍ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او ابوهریره رضی الله عنه وايي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [٢] هغه قافلې سره د رحمت فرښتې نه وي چې په هغه کې د شرمښ څرمن وي (یعنی د شرمښ په څرمن سوریدو سره ناسته یادهغه استعمالول ممنوع دی ځکه چې په دي سره دتکبرشان پیدا کیږي) (ابوداود)

حل اللغات: ① لَاتَصْحَبُ: نه ملګري کیږی، ② رُفْقَةً: قافله، ③ جِلْدُ: څرمن. ④ نَمِرٍ: پرانګ. شیرمخ.

تسهیلات:

قوله: وَلَا تَصْحَبُ الْمَلَائِكَةُ رُفْقَةً فِيهَا جِلْدُ نَمِرٍ:

د شرمخ د څرمن په وجود سره د فرښتو دعدم شرکت وجه: یعنی دَ شرمخ څرمن ئی په سورلئی خوره کړه اوسفر کوی یا ئی په زمکه باندې خوره کړې او په هغې کینی چونکه په دې سره په زړه او دماغوکښې تکبر پیدا کیږی چه زه په شرمخ ناست یم دَدې تکبر په وجه د رحمت فرښتې ملګرتیانه کوی.

[۳۹۲۵] د سفر امیر که د ملګرو خادم

۳۹۳۵-[۳٤] (٢) [١] وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [٢] «سَيِّدُ الْقَوْمِ فِي السَّفَرِ خَادِمُهُمْ، [٣] فَمَنْ سَبَقَهُمْ بِخِدْمَةٍ لَمْ يَسْبِقُوهُ بِعَمَلٍ إِلَّا الشَّهَادَةَ» " رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي " شُعَبِ الْإِيمَانِ "

ترجمه: [١] او سهل رضی الله عنه بن سعد وايي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [٢] په سفر کې د جماعت یعنی د سفر کونکو امیر او سردار د هغوی خادم دی [٣] کوم سړی چې د هغه سفر کونکو په خدمت کې سبقت وي وړی د هغه په مقابله کې هیڅ سړی د شهادت څخه علاوه د بل هیڅ عمل په ذریعه سبقت نشي اوړی یعنی مخکې کیدی نشي (بیهقي)

حل اللغات: ① سَيِّدُ: سردار، مشر، ② خَادِمُ: خدمت کونکې.

تسهیلات:

قوله: سَيِّدُ الْقَوْمِ فِي السَّفَرِ خَادِمُهُمْ

دحدیث په مفهوم کښې دوه اقوال: ① کوم سړي چې دَ خپلو ملګرو امیر جوړشو نودَ ملګرو خادم هم دغه دې. بیا هغه له پکاردی چه دَخپلو ملګروخدمت کوی. داسې دې نه وی چه پخپله مشر جوړشی کینی او په نورو باندې حکم چلوی. په دې وجه دَ حدیث په

(١) اخرجه ابوداود في السنن كتاب اللّباس /باب في جلود النّمور والسّباع (رقم-٤١٣٠)
(٢) اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ٨٤٠٧

آخري الفاظو كښې ارشاد دې چه خادم كله دَخدمت په وجه وړاندې كيږي نو دَهغه مقام ته هيڅوك نه شي رسيدلې مګر هغه سړې چه دَ شهادت مقام حاصل كړي.

② كوم سړې چې دَخپلو ملګرو خدمت كوي هغه په اصل كښې دَ ټولو سردارجوړيږي. ځكه چه هغه دَ خدمت دَ وجې نه دَ ټولو زړونه اوګټي. بل په هركاركښې خلق دَهغه محتاج وي دغه شان هغه دَ ټولو سردارجوړيږي سره دَ دې چه سړې غريب وي.

[۳] بَابُ الكِتَابِ إلَى الكُفَّارِ وَدُعَائِهِمْ إلَى الإِسْلَامِ

كافرانوته دَخطونوپه ذريعه دَدعوت وركولوبيان

خلاصة الباب:

فيه أحد وثلاثون حديثاً مشتملة على ست مسائل:

① إرسال المكاتيب إلى الملوك: قيصر: ۱،-كسرى: ۲، نجاشي: ۳،/ فارس: ۱۱

② المكاتيب التفصيلية إلى الملوك: ۱، ۱۱۔

③ الدعوة إلى الإسلام قبل القتال: ۴۔

④ عدم تمنى القتال وهذا من الدعوة قبل القتال: ۵۔

⑤ الكف عن القتال إلى عدم سماع الأذان: ۶، ۱۰۔

⑥ تأخير الإغارة على الكفار إلى الظهر: ۵، ۷، ۸، ۹۔

كافرانوته د جنګ نه وړاندې د دعوت وركولو دوه صورتونه: ① كافرانوته دَ جنګ نه وړاندې دعوت وركول واجب دي په دې شرط چه هغوي ته دعوت نه وي رسيدلې.

② كافرانوته كه چرې د جنګ نه وړاندې د اسلام دعوت وررسيدلې وي نوبيا په دويم ځل دعوت وركول مستحب دي. په دې باندې دكتاب الجهادپه شروع كښې په تفصيل سره خبره شوې ده.

د دعوت مختلفې طريقې: دَ دعوت ډيرې زياتې طريقې دي پخپله ورتلل اودعوت وركول يا په يونشرياتي ادارې سره اعلان كول يا په يوه مشهوره واقعه باندې كافران خبرول چه مسلمان هم يوقوم دې چه ځان سره خپل آسماني كتاب او مذهب لري. هم دَدغه طريقونه يوه طريقه كافرانوته دَدعوت دَپاره خط ليكل هم دي. په اسلام كښې دعوت يوه شعبه ده ليكن دَدې څه خاص متعين شكل نشته دې. دَ زمانې دَ احوالو مطابق چه څوك كومه يوه جائزطريقه هم اختياره وي دَ دعوت كار كيږي.

د صلح حديبيه فائدې: كله چه حضورپاك دَمكې كافرانوسره دَ لسوكالو دَپاره په حديبيه كښې په جنګ بندئي باندې صلح اوكړه نو دَدغه صلحې ډيرې زياتې فائدې حاصلې شوې.

① کافرانو ډیر نیزدې نه مسلمانان اولیدل اوپه خپل مینځ کښې تعلق لرلو دوجې نه کافران په ښه شان سره په اسلام باندې پوهه شو اوبیا ښه پوره تعداد کښې ئې اسلام قبول کړو

② حضورپاك کله په جزیره عرب کښې د دښمن نه مطمئن اوفارغ شو نو د جزیره عرب نه بهرئې د دنیا ټولوکافرانوته د خطونو په ذریعه د اسلام دعوت ورکړو حضورپاك سره ددې چه پخپله د جزیره عرب نه بهر نه دې تلې مګر د خطونو په ذریعه حضورپاك د دعوت پیغام اورسولو اودومره دعوت ضروری اود جهاد د پاره کافی وو

د نبی علیه السلام د مختلفو ملکونو حاکمانو ته د اسلام دعوت ورکول: هغه وخت په دنیاباندې دوه لویوطاقتونوحکومت کولو (لکه څنګه چه زمونږ په دورکښې روس اوامریکه وو روس خو درې ورې شو اوس ان شاء الله د امریکې نمبردې) د یوطاقت نوم فارس وو اودبل طاقت نوم روم وو. خلقو به د فارس مشرته کسری او د روم مشرد قیصر په نوم باندې یادولو. حضورپاك قیصر اوکسری دواړو ته خطونه اولیږل چنانچه هغه خلقو به د مهرنه بغیرڅه خط نه قبلولو په دې وجه حضورپاك یوه ګوتمه جوړه کړه او په هغې باندې ئې دا نقش کړل محمدرسول الله. ددې د لیکلوطریقه داسې وه چه لفظ د الله د ټولو د پاسه وو دې نه پس لفظ رسول اود دې نه پس د ټولولاندې محمد لفظ وو

الله

رسول

محمد

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۹۳۶] د قیصر روم په نوم د نبی علیه السلام خط

۲۹۳۶-[۱] (۱) ١ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا: ٢ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَتَبَ إِلَى قَيْصَرَ يَدْعُوهُ إِلَى الْإِسْلَامِ، ٣ وَبَعَثَ بِكِتَابِهِ إِلَيْهِ دِحْيَةَ الْكَلْبِيَّ، ٤ وَأَمَرَهُ أَنْ يَدْفَعَهُ إِلَى عَظِيمِ بُصْرَى لِيَدْفَعَهُ إِلَى قَيْصَرَ، ٥ فَإِذَا فِيهِ: "بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللّٰهِ وَرَسُولِهِ إِلَى هِرَقْلَ عَظِيمِ الرُّومِ، سَلَامٌ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَى،

ترجمه: ١ ابن عباس رضی الله عنه وايي ٢ نبي کریم ﷺ قیصر یعنی د روم بادشاه ته یوخط ولیکی په هغه کې د اسلام دعوت ورکول شوی وو ٣ او هغه خط یې د دحیة کلبي صحابي رضی الله عنه

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب بدء الوحی/کیف کان بدء الوحی إلی رسول الله صلّی الله علیه وسلّم؟(رقم-۷) ومسلم فی کتاب الجهاد والسّیر/باب کتاب النّبیّ صلّی الله علیه وسلّم إلی هرقل یدعوه إلی الإسلام (رقم-۷۴ - (۱۷۷۳)) واحمد فی المسند:۲۶۳/۱

په لاس ليږلى وو ۴او هغه ته يي داحكم كړي وو چې هغه خط د بصرى حاكم ته ورسوئ چې هغه يي قيصر ته ورسوي ۵په هغه خط كې داليكلي وو: بسم الله الرحمن الرحيم دمحمد د جانب څخه چې د الله خاص بنده او رسول دی د هرقل په نوم چې د روم حكمران اعلى دى ،په هغه چادي سلامتيا وي چې د اسلام د قبوليت او خپل نيك كردار او اعمالو په ذريعه د هدايت پيرو ی وكړی د دې

حل اللغات: ①دِحْيَةَ الْكَلْبِيُّ: د يو صحابي نوم دي.

۱أَمَّا بَعْدُ، فَإِنِّي أَدْعُوكَ بِدِعَايَةِ الْإِسْلَامِ ۲أَسْلِمْ تَسْلَمْ. وَأَسْلِمْ يُؤْتِكَ اللَّهُ أَجْرَكَ مَرَّتَيْنِ، ۳وَإِنْ تَوَلَّيْتَ فَعَلَيْكَ إِثْمُ الْأَرِيسِيِّينَ، وَ﴿قُلْ يَاأَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ﴾ [آل عمران: ۳]»)" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ۴وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ، قَالَ: "مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللَّهِ" وَقَالَ: "إِثْمُ الْيَرِيسِيِّينَ" وَقَالَ: "بِدِعَايَةِ الْإِسْلَامِ".

ترجمه: ۱څخه وروسته زه تاته د اسلام كلمه شهادت دعوت دركوم ۲ته اسلام قبول كړه د دنيا او آخرت د عذاب څخه به محفوظ او مامون شي ته مسلمان شه الله ﷻ به درته دوچنده اجر دركړي يو اجر خو خپل نبي باندې د ايمان راوړلو او دويم اجر ما محمد باندې د ايمان راوړلو ۳او كه تا مخ وګرځولو [يعنى اسلام قبول نه كړي نو په تا دې واضحه وي چې د دې انكار او اعراض مخ اړولو په وجه به] په تا صرف د خپلې ګناه وبال نه وي بلكه ستا د ملك والاوو او ستا د رعيت ګناه به هم په تاوي څكه چې ستا اسلام نه راوړلو سره هغوى به هم په كفر كې مبتلا وي څكه د هغوى د ګمراهي ذمه واري به هم په تاوي ﴿اې اهل كتابو! داسې كلمي او دين طرف ته راشئ چې زمونږ او ستاسو په مينځ كې يوشان مشترك دى يعنى دې كلمه اودين كې زمونږ او ستاسو د رسولانو او كتابونو په مينځ كې څه اختلاف نشته او هغه كلمه اودين دادى چې مونږ د الله څخه ماسوا د بل چا عبادت نه كوو د هغه سره څوك نه شريك كوو او په مونږ كې هيڅوك د الله څخه ماسوا رب جوړ نه كړى څنګه چې عيسايانو حضرت عيسى عليه السلام رب جوړ كړي دى كه اهل كتاب ددې خبري قبلولو څخه اعراض او انكاروكړي نو اې مؤمنانو تاسو دا اعلان وكړئ چې اې كافرانو شاهدان اوسئ چې مونږ مسلمانان يو.﴾ (بخاري مسلم) ۴او د مسلم په يوروايت كې مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ: په ځاي مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللَّهِ: دى او «إِثْمُ الْأَرِيسِيِّينَ په ځاى إِثْمُ الْيَرِيسِيِّينَ دى او د: بِدَاعِيَةِ الْإِسْلَامِ په ځاى بِدِعَايَةِ الْإِسْلَامِ دى.

حل اللغات: ②أَسْلِمْ: اسلام قبول كړه، مسلمان شه، ③تَسْلَمْ: ته به سلامت پاتې شې، ④تَوَلَّيْتَ: تا مخ واړولو، انكار دې اوكړو، ⑤الْأَرِيسِيِّينَ: د قوم غټان او چوهدريان خو دلته ترې عام ماتحت مراد دى. ⑥دِعَايَةِ الْإِسْلَامِ: د اسلام دعوت.

تسهيلات:

قوله: وَبَعَثَ بِكِتَابِهِ إِلَيْهِ دِحْيَةَ الْكَلْبِيُّ:

د دحية الكلبي د سفارت د انتخاب وجه: دا صحابي ډير ښائسته اووجيهه اوشكيل وو. دَ "يوسف هذه الامت" په لقب سره مشهور ووهم په دې وجه حضورپاك دَ سفيرپه توګه روان كړې وو اوحضرت جبرائيل آمين به هم دَده په شكل كښې وحي راوړله او راتلو به.

قوله: مِنْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللهِ وَرَسُولِهِ إِلَى هِرَقْلَ عَظِيمِ الرُّومِ:

د هرقل تعارف: دا دَ روم دَبادشاه نوم دې. په هغه زمانه كښې دَ دنيا په غټو طاقتونوكښې يوطاقت روم وو دَ كوم دارالخلافه چه قسطنطينية وو. اودَ يورپ دَ مختلف ممالكونه علاوه دَمصر شام اوفلسطين علا قې هم دَ ده زير اثر وې. دَ هرقل په نوم باندې حضورپاك يوخط اوليږلو دَ حضرت دحيه كلبي ﷺ په واسطه سره. دَ بصرىٰ شام ګورنرته داخط اورسيدو اوهغه هرقل ته اورسولو. هرقل اولوستلو او ډير په احترام ئې خان سره كيخودو.

فائده: د مختلفوملكونود بادشاهانولقبونه: ① دَ فارس دَ بادشاه لقب خسرو وو كوم ته چه په عربي كښې كسرىٰ وائي.

② دَ تركودَ بادشاه لقب خاقان وو. ③ دَ مصر دبادشاه لقب فرعون وو

④ دَ روم دَ بادشاه لقب به قيصر وو ⑤ دَ يمن دَبادشاه لقب تبع وو.

⑥ دَحبشه دَبادشاه لقب نجاشي. ⑦ دَ چين دَ بادشاه لقب فغفور وو.

⑧ دَ هندوستان دَ بادشاه لقب راجه وو

قوله: عَظِيمِ الرُّومِ:

غيرمسلم په ښه لقب سره د يادولوجواز: دَدې لفظ نه معلومه شوه چه دَ دنيا په لحاظ دَ يولوئي منصب والا سړى دَ مقام خيال ساتل جائز دى. حضورپاك هرقل دَ عظيم الروم په نوم سره يا كړې دې دَ غيرمسلم دَباره دَ سلام طريقه "والسلام على من اتبع الهدىٰ" وى په دې وجه حضورپاك السلام عليكم اونه فرمائيل.

قوله: بِدِعَايَةِ الْإِسْلَامِ:

د دعاية الاسلام مفهوم: داعيه عافية اودَ عاقبة په شان مصدر دې كوم چه دَ الدعوة په معنى كښې دې. په يوروايت كښې "دعاية" هم دې اوهغه هم دَ دعوت په معنى كښې دې.

قوله: تَسْلَمْ:

په دنيا كښې مختصر مګر مؤثرخط: يعنى عقائد فاسدو شركيه اواخلاق رذّيه قبيحه اوهلاكتونونه به بچ شې. دا لفظ دَ تاء فتحې او دَ سين په سكون سره اودَ لام فتحې

اوميم په سکون سره دي. وئيلی شی که په دنياکښې چرته چا دَ تولونه زيات زور دار اومختصرخط ليکلې دې نوهغه دَ حضرت سليمان عليه السلام خط دې کوم چه په قرآن کښې ذکردې. ليکن دَدغه خط نه دَ حضورپاك خط زيات مختصر اوزيات زوردار دې

قوله: يُؤْتِكَ اللَّهُ أَجْرَكَ مَرَّتَيْنِ:

د دوؤ اجرونو د ملاويدو وجه: دَ يهودو اونصارىٰ نه چه کوم سړې په خپل نبى باندې ايمان راوړى اوبيا محمد ﷺ قبول کړى نوهغوى ته به دوه اجرونه ملاويږى

قوله: وَإِنْ تَوَلَّيْتَ فَعَلَيْكَ إِثْمُ الْأَرِيسِيِّينَ:

د اريسين په اعراب کښې دوه اقوال: ① دې همزه مفتوح ده دَ دې نه پس راء باندې کسره ده ياء ساکن ده بيا په سين باندې کسره بيا په ياء باندې شد اوبيا ياء ساکن او په آخره کښې نون دې.

② دا لفظ يريسيين هم راغلې دې دَ همزه په ځائى باندې ياء مفتوح ده باقى کلمه هم دغه انداز سره ده. دا لفظ اريسين هم راغلې دې په همزه باندې کسره راء باندې شد دې بيا ياء ساکن ده.

د اريسيين مصداق: دَ صحيح قول مطابق په ملك چوهدرى اوپه غټوکسانانوباندې دَدې لفظ اطلاق کيدلو چنانچه بعضې رواياتوکښې "أَكَّارِيْنَ" لفظ هم راغلې دې چه دَ زميندار اومزارع په معنى کښې دې. په حديث کښې دَدې لفظ نه عام رعايا مراد اخستې شوې دې

قوله: أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ:

دتحليل اوتحريم واکدارانوباندې د ارباب اطلاق: هيڅ يوسړى ته دَ حلال حرامولو او دَحرام حلالولواختيار ورکول هغه رب جوړول دى. عيسايانو خلقو به دا اختيار خپلو مشرانوته ورکولو. حضرت عدى بن حاتم رضی اللہ عنہ چه کله مسلمان شو نوهغه دَ رسول الله ﷺ نه سوال اوکړو يارسول الله مونږ هيڅ کله هم خپل پادريان رب نه دى جوړکړى؟ حضورپاك ارشاد اوفرمائيلو چه آيا هغوى ته مو دَ حلال حرام کولو اختياروركړې وو که نه؟ هغه وئيل چه دا اختيارخو مو ورکړې وو حضورپاك اوفرمائيل چه هم دغه خو رب جوړول دى.

دهرقل په رد عمل: هرقل دَ رسول الله ﷺ دَ خط ډير زيات احترام اوکړو اودَخپل ملك مشرانوته ئى دَ ايمان راوړو درخواست هم اوکړو ليکن خلق په دې اوران شو لهذا هغه اسلام قبول نه کړو اګرچه دَ قبلولوئى بار بار خواهش اوکړو. امام بخارى رحمه الله په بخارى شريف کښې اشاره کړې ده چه هرقل په کفرباندې مړشوې دې. په عام توګه دَ مذهب په اعتبار دَ روم خلق عيسايان وو.

د هرقل وفات: كله چه صحابه كرام په انطاكيه باندې قابض شو نو هرقل د بنځې اوبچو سره په كشتئى كښې كيناستو اود شام په زمكه باندې ئ نظر واچولواو وئې وئيل "السلام عليك يا أرض الشام لا أراك الى يوم القيامة" دې وينانه پس خپل خوئى قسطنطين له لاړو او بيا مړشو

[٢٩٢٧] د فارس بادشاه پرويز په نوم د نبى عليه السلام خط

٣٩٢٧–[٢] () ١ وَعَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٢ بَعَثَ بِكِتَابِهِ إِلَى كِسْرَى مَعَ عَبْدِ اللهِ بْنِ حُذَافَةَ السَّهْمِيِّ، ٣ فَأَمَرَهُ أَنْ يَدْفَعَهُ إِلَى عَظِيمِ الْبَحْرَيْنِ، ٤ فَدَفَعَهُ عَظِيمُ الْبَحْرَيْنِ إِلَى كِسْرَى ٥ فَلَمَّا قَرَأَ مَزَّقَهُ، ٦ قَالَ ابْنُ الْمُسَيَّبِ: فَدَعَا عَلَيْهِمْ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ يُمَزَّقُوا كُلَّ مُمَزَّقٍ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ او ابن عباس رضي الله عنه وايي ٢ نبي كريم ﷺ د كسرى په نوم خپل خط مبارك د عبد الله ابن حذافه سهمي رضي الله عنه په لاس وليږلو چې تقريباً په هغه مضمون مشتمل وو كوم چې قيصر وغيره ته ليږلى وو ٣ او هغه ته يي داحكم وركړى چې هغه داخط مبارك د بحرين حاكم ته يوشي چې هغه يي كسرىٰ ته ورسوي ٤ نو عبد الله ابن حذافه رضي الله عنه هغه خط مبارك د بحرين حاكم ته وي وړى او د بحرين حاكم هغه كسرىٰ ته ورسوى ٥ كسرىٰ چې خط اووئيلو نو په هغه د عمل كولو په ځاى هغه يي اوشلولو ٦ د حديث يوراوي ابن مُسيَّب وايي چې حضور ﷺ كسرىٰ او د هغه رعايا د پاره يي دابد دعا وكړله چې هغوى دي ټكړې ټكړې كړى شي بالكل ټكړې ټكړې يعنى څنګه چې دا خط يي ټكړې ټكړې كړلو دغه شان هغوى دي هم ټكړې ټكړې شي (بخاري)

حل اللغات: ① عَظِيمِ الْبَحْرَيْنِ: د بحرين بادشاه، ② كِسْرَى: د بحرين د بادشاه نوم دې ③ مَزَّقَهُ: اوئې شلولو. ④ دَعَا عَلَيْهِمْ: بد دعا ئې ورته اوكړه، ⑤ كُلَّ مُمَزَّقٍ: ټكړې ټكړې دې شي،

تسهيلات:

قوله: إِبَعَثَ بِكِتَابِهِ إِلَى كِسْرَى مَعَ عَبْدِ اللهِ بْنِ حُذَافَةَ السَّهْمِيِّ:

د حديث پس منظر: د روم په شان فارس هم د ساسانيانو ايرانيانو عظيم طاقتور سلطنت وو. يوطرف ته د دې حدود سنده پورې خواره شوى وو او د بل طرف نه عراق اود عربو څه علاقې مثلاً يمن بحرين اوعمان هم د دې ماتحت وو. داد ايشياء عظيم مملكت اود دنيا دويم سپرپاور وو. د بادشاه لقب ئې خسرو وو كوم ته چه په عربى كښې كسرىٰ وئيلې كيدلو. هغه وخت د دغه بدبخت بادشاه نوم پرويز وو حضورپاك د حضرت عبدالله بن حذافه سهمى رضي الله عنه په لاس باندې د كسرىٰ په نوم خط اوليږلو. پرويز ډير مغرور وو هغه

[١]) اخرجه البخاري في كتاب الجهاد والسّير/باب دعوة اليهود والنّصارى، وعلى ما يقاتلون عليه، وما كتب النبيّ صلّى الله عليه وسلّم إلى كسرى، وقيصر، والدّعوة قبل القتال(رقم-٢٩٣٩) واحمد في المسند: ٢٤٣/١

غصه شو چه زما نوم ئی روستو لیکلې دې خپل نوم ئی اول لیکلې دې. په دې باندې هغه دَ حضورپاك خط اوشلولو وئی غورزولو. حضورپاك هغه ته بددعا اوکړه

دخط شلولو څخه روسته پیښ شوی واقعات: ① په تاریخ کښې لیکلی دی چه دې بدبخت دَ حضورپاك دَ گرفتارولو دَپاره دوه کسان مدینې ته روان کړل. دا قاصدان مدینې ته راغلل حضورپاك اوفرمائیل چه دَ صبا پورې انتظار اوکړئ.

② ، دویم صبا حضورپاك هغوی ته اوفرمائیل زما رب ستاسو رب اووژلو اودَ پرویز خوئی شیرویه هغه قتل کړې دې.

③ یا شیرویه دَ پلار په خزانه کښې دَ زهرو نه ډکه یوه شیشه اولیدله په کوم چه لیکلې وو "دواء نافع للباه" هغه دَ قوت باء دائی اوگنړله زهر ئی اوڅکل او مرشو. شپږ میاشتو کښې دواړه ختم شو.

④ بیا خلقو بنت کسریٰ (آرمیدخت) خپله مشره جوړه کړه. رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو هغه قوم هیڅ کله کامیابیدې نه شی دَچا مشری چه دَ ښځې په لاس کښې وی.

⑤ بیا دَحضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه په مشرئی کښې صحابه دغه طرف ته متوجه شو اودَ فارس آخری بادشاه یزدجر ئی په خاوروکښې دَ همیشه دَپاره اوده کړو اودَ قیامته پورې دَ قیصر اوکسریٰ نوم اونښه ختمه شوه.

[۲۹۲۸] مختلفو بادشاهانو ته دَ نبی علیه السلام دعوتی خطونه

۳۹۲۸-[۳] (¹) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: [۲] أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَتَبَ إِلَى كِسْرَى وَإِلَى قَيْصَرَ وَإِلَى النَّجَاشِيِّ وَإِلَى كُلِّ جَبَّارٍ يَدْعُوهُمْ إِلَى اللّٰهِ، [۳] وَلَيْسَ بِالنَّجَاشِيِّ الَّذِي صَلَّى عَلَيْهِ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضرت انس رضی الله عنه وایي [۲] چې نبي کریم ﷺ د ایران بادشاه کسرٰی د روم بادشاه قیصر د حبشو بادشاه نجاشی او هر متکبر او مقتدر بادشاهانو ته خطونه ولیکل چې په هغه کی هغوی الله یعنی د اسلام دین طرف ته وبلل شوه [۳] او دانجاشی چې حضور ﷺ ورته داخط لیکلی وو هغه نجاشی نه دی چې د هغه د پاره نبي کریم ﷺ په مدینه کې غائبانه د جنازې مونځ کړي وو. (مسلم)

تسهیلات:

قوله: وَإِلَى النَّجَاشِيِّ وَإِلَى كُلِّ جَبَّارٍ يَدْعُوهُمْ إِلَى اللّٰهِ:

---

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الجهاد والسّیر/باب کتب النّبیّ صلّی الله علیه وسلّم إلی ملوک الکفّار یدعوهم إلی الله عزّ وجلّ (رقم-۷۵ - (۱۷۷٤) والترمذی فی کتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب فی مکاتبة المشرکین (رقم-۲۷۱۶)

دنجاشي تعارف: دنجاشي لفظ په اصل کښې نجوس وو دحبشې بادشاه ته به هغه خلقو نجوس وئيلې وو عربو دالفظ نجاشي جوړکړو نن صبا دحبشه نوم کافرانو ايتهوپيا کيخودلې دې دپاره چه د مسلمانانو تاريخ ختم کړی په زيربحث حديث کښې دا تنبيه ده چه حضورپاك د حبشي کوم نجاشي ته خط ليکلې وو داهغه نجاشي دې چاچه اسلام قبول کړې وو او حضورپاك دهغه د جنازې مونځ ورکړې وو

[۲۹۲۹] مجاهدينو ته څوهدايات

۳۹۲۹-[۴] () [۱] وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ [۲]: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أَمَّرَ أَمِيرًا عَلَى جَيْشٍ، أَوْ سَرِيَّةٍ [۳] أَوْصَاهُ فِي خَاصَّتِهِ بِتَقْوَى اللَّهِ وَمَنْ مَعَهُ مِنَ الْمُسْلِمِينَ خَيْرًا، [۴] ثُمَّ قَالَ: "اغْزُوا بِاسْمِ اللَّهِ، فِي سَبِيلِ اللَّهِ، [۵] قَاتِلُوا مَنْ كَفَرَ بِاللَّهِ، [۶] اغْزُوا فَلَا تَغُلُّوا، وَلَا تَغْدِرُوا، وَلَا تُمَثِّلُوا، وَلَا تَقْتُلُوا وَلِيدًا، [۷] وَإِذَا لَقِيتَ عَدُوَّكَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ فَادْعُهُمْ إِلَى ثَلَاثِ خِصَالٍ -، أَوْخِلَالٍ-

ترجمه: [۱] سلمان بن بريده خپل پلار حضرت بريده رضی الله عنه څخه نقل کوي هغه وفرمايل [۲] رسول الله ﷺ چې به يو سړی د يو کوچني يالوی لښکر امير مقرر کوی نو خاص طور سره د هغه دذات سره متعلق [۳] هغه ته به يې دالله څخه د ويرېدلو او د هغه سره جهاد ته تلونکو مسلمانانو سره د خير ښېګړې کولو نصيحت کوی چې د مجاهدينو لښکر ستا په حکم کې څې هميشه د هغوی سره د خير ښيګړې معامله کوه او د هغوی په حق کې حُسنِ سلوك احسان نرمي او د ملاطفت رويه اختياروه [۴] او د دې څخه وروسته به يې دا فرمايل د الله نوم اخستو سره د الله په لار کې جهاد کوه يعنی د الله ﷻ رضا او خوشنودي د پاره [۵] او د هغه د دين جنډه سربلند کولو په غرض اسلام دښمنه طاقتونو سره جنګ کوه د هغه سړي خلاف جهاد کوه چې هغه په الله سره کفر کړي دی [۶] جهاد کوه ① د غنيمت مال کې خيانت مه کوه ② عهد شکني مه کوه ③ مثله مه کوه يعنی د چا اعضاء جسم لکه پوزه غوږ وغيره مه پريکوه ④ او بچی مه قتلوه [۷] او اې امير لښکر هرکله چې ته د خپل مشرکو دښمنانو مخې ته ورسيږې نو مخکې هغوی ته د درېو څيزونو څخه د يوه اختيارولو دعوت ورکړه يا د حديث راوي د خپل شك اظهار کوي چې حضور ﷺ ثلث خصال په ځای ثلث خلال وفرمايه خصال او خلال دا [دواړو يوه معنی ده]

حل اللغات: ① أَمَّرَ: مقررکول به ئې. ② لَاتَغُلُّوا: غنيمت کښې خيانت مه کوه. ③ لَاتَغْدِرُوا: عهد شکنی مه کوه. ④ وَلَاتُمَثِّلُوا: مثله مه کوه. ⑤ وَلِيدًا: واړه ماشومان.

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الجهاد والسّیر/باب کتب النّبیّ صلّی الله علیه وسلّم الی ملوک الکفّار یدعوهم إلی الله عزّ وجلّ (رقم-۷۵ - (۱۷۷۴) ومسلم فی کتاب الجهاد والسّیر/باب تأمیر الإمام الأمراء علی البعوث. ووصیّته إیّاهم بآداب الغزو وغیرها (رقم-۳ - (۱۷۳۱) و ابو داود فی کتاب الجهاد/باب فی دعاء المشرکین (رقم-۲۶۱۲) والترمذی فی کتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب فی مکاتبة المشرکین (رقم-۲۷۱۷)

[۱] فَأَيَّتُهُنَّ مَا أَجَابُوكَ فَاقْبَلْ مِنْهُمْ وَكُفَّ عَنْهُمْ، [۲] ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ، فَإِنْ أَجَابُوكَ فَاقْبَلْ مِنْهُمْ وَكُفَّ عَنْهُمْ، [۳] ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى التَّحَوُّلِ مِنْ دَارِهِمْ إِلَى دَارِ الْمُهَاجِرِينَ، [۴] وَأَخْبِرْهُمْ أَنَّهُمْ إِنْ فَعَلُوا ذَٰلِكَ فَلَهُمْ مَا لِلْمُهَاجِرِينَ، وَعَلَيْهِمْ مَا عَلَى الْمُهَاجِرِينَ، [۵] فَإِنْ أَبَوْا أَنْ يَتَحَوَّلُوا مِنْهَا فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّهُمْ يَكُونُونَ كَأَعْرَابِ الْمُسْلِمِينَ، [۶] يُجْرَى عَلَيْهِمْ حُكْمُ اللّٰهِ الَّذِي يُجْرَى عَلَى الْمُؤْمِنِينَ، [۷] وَلَا يَكُونُ لَهُمْ فِي الْغَنِيمَةِ وَالْفَيْءِ شَيْءٌ إِلَّا أَنْ يُجَاهِدُوا مَعَ الْمُسْلِمِينَ،

ترجمه: [۱] په دې خصلتونو کې چې کوم څيز تاسره اختيار کړي نو ته هغه منظور کړه او هغه د دې څخه زيات په څه بل شي مه مجبوره کوه [۲] بيا هغوی ا سلام ته راؤبله يعنی هغه دروخيزونو کې د ټولو مخکنی شی دادی چې هغوی ته د اسلام دعوت ورکړه که هغوی دعوت قبول کړي نو ته يي هم منظور کړه او د هغوی سره جنګ کولو څخه منع شه [۳] بيا که هغوی اسلام قبول کی نو هغوی ته د خپل ملك يعنی دار الحرب څخه د مهاجرينو ملك يعنی دار الاسلام ته د منتقل کيدو يعنی د هجرت دعوت ورکړه [۴] او هغوی ته دا وښايه که هغوی داسې وکړي يعنی هجرت کولو سره دار الاسلام ته راشي نو هغوی ته به هغه حقوق حاصل وي کوم چې مهاجرينوته حاصل دی او په هغوی به هغه ذمه واري عائد کيږي کومې چې مهاجرينو باندې عائد دی [۵] که هغوی ترك سکونت اختيارولو ته تيار نه وي نو هغوی ته وښايه چې په داسې صورت کې به هغوی د ديهاتی مسلمانانو په شان وي [۶] او په هغوی به د الله داسې حکم نافذ کول کيږي کوم چې ټولو مسلمانو باندې نافذ کيږي يعنی مونځ روژه اوزکوٰة وغيره واجب کيدل او د قصاص اوديت په شان د احکامو نافذ کيدل [۷] او د غنيمت او مال فئ کې به د هغوی هيڅ حصه نه وي البته هغوی ته به هغه وخت حصه ورکولې شي هرکله چې مسلمانانو سره شريکيدو سره جهاد وکړي

حل اللغات: ⑨ كُفَّ: بند اوسه، منع شه، ⑦ فَاقْبَلْ: قبول کړه. ⑧ التَّحَوُّلِ: منتقل کيدل، ⑨ أَعْرَابِ: د باندو اوسيدونکی، کلی وال،

[۱] فَإِنْ هُمْ أَبَوْا فَسَلْهُمُ الْجِزْيَةَ، فَإِنْ هُمْ أَجَابُوكَ فَاقْبَلْ مِنْهُمْ وَكُفَّ عَنْهُمْ، [۲] فَإِنْ هُمْ أَبَوْا فَاسْتَعِنْ بِاللّٰهِ وَقَاتِلْهُمْ، [۳] وَإِذَا حَاصَرْتَ أَهْلَ حِصْنٍ فَأَرَادُوكَ أَنْ تَجْعَلَ لَهُمْ ذِمَّةَ اللّٰهِ وَذِمَّةَ نَبِيِّهِ فَلَا تَجْعَلْ لَهُمْ ذِمَّةَ اللّٰهِ وَلَا ذِمَّةَ نَبِيِّهِ، [۴] وَلَكِنِ اجْعَلْ لَهُمْ ذِمَّتَكَ وَذِمَّةَ أَصْحَابِكَ، [۵] فَإِنَّكُمْ أَنْ تُخْفِرُوا ذِمَمَكُمْ وَذِمَمَ أَصْحَابِكُمْ أَهْوَنُ مِنْ أَنْ تُخْفِرُوا ذِمَّةَ اللّٰهِ وَذِمَّةَ رَسُولِهِ،

ترجمه: [۱] او که هغوی د اسلام دعوت قبول نه کړي او د مسلمانيدو څخه انکاروکړي نو دويم شی دادی چې هغوی څخه د جزئې مطالبه وکړه که هغوی جزيه ورکول قبول کړل نو ته هم هغه قبول کړه او د هغوی سره جنګ کولو څخه منع شه [۲] او که هغوی جزيه ورکول هم قبول نه کړي نو دريم شی دادی چې ته د الله ﷻ څخه مدد طلب کولو سره د هغوی

سره جنګ شروع کړه [۳] او هرکله چې ته د يوې قلعه يا د کلي (ښار) د خلقو يعنی د دښمن محاصره وکړې او هغه قلعه او کلي (ښار) واله ستا څخه د الله او د هغه د نبي عهد امان آخستل وغواړي نوته هغوی ته د الله او د هغه د نبي د طرف څخه د امان ورکولو عهد مه کوه [۴] بلکه خپل او د خپلو ملګرو د طرف څخه عهد امان ورکړه [۵] ځکه که ته خپل او د خپلو ملګرو ورکړي عهد امان مات کړې نو دابه د الله او د هغه د رسول د عهد امان ماتولو څخه زيات اسانه وي

[۱] وَإِنْ حَاصَرْتَ أَهْلَ حِصْنٍ فَأَرَادُوكَ أَنْ تُنْزِلَهُمْ عَلَى حُكْمِ اللهِ فَلَا تُنْزِلْهُمْ عَلَى حُكْمِ اللهِ، [۲] وَلَكِنْ أَنْزِلْهُمْ عَلَى حُكْمِكَ فَإِنَّكَ لَا تَدْرِي أَتُصِيبُ حُكْمَ اللهِ فِيهِمْ أَمْ لَا؟»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او هرکله چې ته د يوې قلعه د خلقو محاصره وکړې او هغه قلعه واله تاته د الله په حکم د خپلې محاصرې پورته کولو درخواست وکړي نو ته د الله په حکم د هغوی محاصره مه پورته کوه [۲] بلکه په خپل حکم باندې د هغوی محاصره پورته کړه ځکه چې تاته دا معلومیدی نشي چې ته د هغوی په باره کې فیصله کولو په وخت کې د الله حکم ته رسیدلی يې يانه يعنی تاته به دا څنګه معلومه شي چې تا د هغوی د محاصرې پورته کولو کومه فیصله کړې ده هغه د الله په نز صحیح هم ده که نه او د هغه د حکم مطابق هم ده يانه او کیدی شي چې ستا څخه خطاء وشي څنګه چې د مجتهد شان دی چې هغه صحیح حکم ته هم رسیدی شي او خطاء کې هم اخته کیږي. (مسلم)

حل اللغات: ⑩ أَنْ تُخْفِرُوا: که تاسو مات کړئ، بې لوظی اوکړئ.

تسهيلات: **قوله:** ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ

اول حکم د اسلام دعوت ورکول: د اسلامی جهاد اول حکم دا دې چې کوم قوم سره جهاد کولې شی هغوی ته به دا اسلام دعوت ورکړې شي.

قوله: ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى التَّحَوُّلِ مِنْ دَارِهِمْ إِلَى دَارِ الْمُهَاجِرِينَ:

د اسلام قبلولو څخه روسته دوه صورتونه: ① دحدیث مطلب دادې چه دعوت نه پس که چرې خلقو اسلام قبول کړو نوبيا دغه خلقوته اووايئې چه هغه ښارونوته راشئی چرته چه مسلمانان آباددی. که دغه خلقو هجرت اوکړواو دکلونه ښاریوته راغله نودمهاجرینوتول حقوق به هغوی ته ملاویږی

قوله: فَإِنْ أَبَوْا أَنْ يَتَحَوَّلُوا مِنْهَا فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّهُمْ يَكُونُونَ كَأَعْرَابِ الْمُسْلِمِينَ:

② که چرې هغه خلق ښاریوته رانغلل نوبیابه دهغوی معامله دکلیوالو په شان کیږی. که په جهاد کښې شریك شونوبه مال غنیمت کښې به ورته حصه ملاویږی ګنی نه به ملاویږی البته داسلام قوانین به په هغوی باندې نافذ کیږي.

قوله: فَإِنْ هُمْ أَبَوْا فَسَلْهُمُ الْجِزْيَةَ

دویم حکم د جزیه د قبلولو صورت: یعنی که کافرانو اسلام قبول نه کړو نودَدعوت اسلام دویم خصلت دادې چه دَهغوی په وړاندې دَ جزیه ورکولو خبره کیږدئی.

قوله: فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ:

دریم حکم جهاد کول: که دَ جزیه ورکولونه هم دغه خلقو انکاراوکړو نوبیادَدعوت اسلام دریم خصلت دادې چه دَ الله تعالی نوم واخلئی او دغه خلقوسره جنګ اوکړئی.

قوله: وَإِذَا حَاصَرْتَ أَهْلَ حِصْنٍ:

په خپل اختیارصلح کول: دَ جهاددَمقدس جنګ دَ آدابونه یوادب دادې چه کله تاسودَ یوقلعې نه ګیره واچوئی او دَقلعې والا تاسو نه دَالله تعالی دَ نوم په ذمه وارئی وعدهٔ اوامان اخستل غواړی نو تاسو دَالله تعالی په ذمه وارئی باندې معاهده مه کوئی بلکه په خپل اختیاراو سوچ باندې معاهده کوئی ځکه چه که معاهده دَ ځه مجبورئی دَ وجې نه ماتول وی نودابه بهتر وی چه ستاسو په حوالې سره کوم عهد اوامان ورکړې شوې وو هغه مات شی اودَالله تعالی اودَهغه دَ رسول ﷺ نافرمانی اونه شی.

قوله: فَأَرَادُوكَ أَنْ تُنْزِلَهُمْ عَلَى حُكْمِ اللَّهِ:

د محصورینوسره فیصله د خپل امیرپه رائې سره کول: دغه شان دَ جنګ په آدابو کښې دویم ادب دادې که دَ یوې قلعې محاصرین په دې شرط دَ قلعه نه راکوزیدل غواړی چه دَهغوی باره کښې دَالله تعالی ځه حکم وی هغه به په دوی باندې نافذ کیږی داسې معاهده هم مه کوئی بلکه هغوی ته اووایه چه زمونږ په حکم باندې راکوزشئی کومه فیصله چه مونږ کوو هغه به نافذ وی داځکه چه تاسو ته ځه معلومه ده چه دَدوی باره کښې دَ الله تعالی ځه حکم دې او چرته دې. هغه خلق به ځه بل ځه وائی او تاسو به ځه بل ځه وایئې دغه شان به تاسو په کشمکش کښې پریوځئی. په دې وجه هغوی ته صفا او وائی چه زمونږ مشر کومه فیصله اوکړی هم دَ هغې به اعتبار وی. ښکاره خبره ده چه مسلمان مشربه دَ شریعت خلاف فیصله نه کوی کومه فیصله چه هم وی په انصاف او حکمت باندې به وی.

[۲۹۳۰] د نمر د زوال ځغه روسته د جنګ د شروع کولو حکمت

۲۹۳۰—[۵] (۱) ۞وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: ۞«أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي بَعْضِ أَيَّامِهِ الَّتِي لَقِيَ فِيهَا الْعَدُوَّ انْتَظَرَ حَتَّى مَالَتِ الشَّمْسُ، ۞ثُمَّ قَامَ فِي النَّاسِ فَقَالَ: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ! لَا تَتَمَنَّوْا

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسّیر/باب: کان النّبیّ صلّی الله علیه وسلّم إذا لم یقاتل أوّل النّهار أخّر القتال حتّی تزول الشّمس (رقم-۲۹۶۵) ومسلم فی کتاب الجهاد والسّیر/باب کراهة تمنّی لقاء العدوّ والأمر بالصّبر عند اللّقاء (رقم-۲۰ - (۱۷۴۲) و ابو داود فی کتاب الجهاد/باب فی کراهیة تمنّی لقاء العدوّ (رقم-۲۶۳۱)

لِقَاءَ الْعَدُوِّ، وَاسْأَلُوا اللهَ الْعَافِيَةَ، فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوا، [۳] وَاعْلَمُوا أَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوفِ"، [۴] ثُمَّ قَالَ: " اللّٰهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ، وَمُجْرِيَ السَّحَابِ، وَهَازِمَ الْأَحْزَابِ، اهْزِمْهُمْ وَانْصُرْنَا عَلَيْهِمْ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] عبد الله ابن ابي اوفی وايي [۲] چې رسول کريم ﷺ خپلو ورځو څخه يوه ورځ کله چې حضور ﷺ دښمن سره په مقابله وو يعنی د جهاد په موقع ميدانِ جنګ کې وو نمر زوال کيدو پورې د جنګ شروع کولو انتظار کولو بيا چې نمر په زوال شو [۳] نو حضور ﷺ خلقوته خطبه ورکولو د پاره اودريدلو او وي فرمايل اې خلقو! تاسو دښمن سره د مقابلې ارزو مه کوئ يعنی دا مه غواړئ چې کفارو سره د قتل وقتال بازار ګرم شی ځکه چې داغوښتل ګويا د ابتلاء او مصيبت خواهش کول دي چې ممنوع دي بلکه الله ﷻ څخه د آمن وعافيت طالب وشي هو کله چې د دښمن سره مقابله شی نو بيا پوره بهادری سره ټينګ اوسئ او صبر او استقامت څخه کار اخلي [۳] او په دي خبره پوهه شئ چې جنت د تورو د سايه (سورې) د لاندي دی يعنی تاسو جنت ته بالکل نزدې يئ [۴] د دې څخه وروسته حضور ﷺ دا دعا وکړله: اې الله! کتاب نازلونکيه! وريځي چلونکيه او د کفارو جماعت ته شکست ورکونکيه دي دښمنانو ته شکست ورکړي او مونږ ته په دوئ فتح راکړي (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① مَالَتِ الشَّمْسُ: مائل شو نمر، زوال اوشو. ② لَاتَمَنَّوْا: تمنا مه کوئ، خواهش مه لرئ. ③ ظِلَالِ: سيوری. ④ مُجْرِيَ: چلونکې. ⑤ السَّحَابِ: وريځې. ⑥ هَازِمَ: شکست ورکونکې. ⑦ الْأَحْزَابِ: ډلې.

تسهيلات: **قوله:** لَاتَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ:

د جنګ د تمنا کولو څخه ممانعت: مطلب دا دې چه دجنګ تمنا او ارمان مه کوی ځکه چه جنګ يوه بلا (مصيبت او ازميښت) دې او د بلا تمنا او ارمان کول صحيح نه دې بلکه ددې نه د فخر او تکبر بوی راځی، ددې وجهې نه د جنګ تمنا کولو نه ځان ساتی او په خپل طاقت او قوت باندې بهروسه مه کوئ او همشه د الله تعالی دفضل او رحمت دعاګانې غواړئ

قوله: وَاسْأَلُوا اللهَ الْعَافِيَةَ:

د مصيبت په وخت کښې د عافيت سوال کول: مګر کله چه تاسو باندې کوم مصيبت يا بيماری راشی نو په هغې صبر کوئ او د الله تعالی نه د عافيت دعاګانې غواړئ او کله چه کفارو سره د جنګ موقع راشی نو بهادری او همت نه کار اخلې او دغه شان خپله تمنا کولو سره په انسان کښې تکبر او په ځان باندې کامل اعتماد کول راځی او دا کار د عبديت نه خلاف دې نو ددې وجې د لقاءعدو نه ممانعت دې، هم دغه شان د لقاءعدوانجام

هم معلوم نه دي چه فتح به حاصليږي او كه شكست، نو دديږ وجې هم ممنوع دي. (التعليق الصبيح ج۴ ص۳۵۳)

قوله: أَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوفِ:

د مذكوره جملې مطلب او وسعت: ظل نه مراد هغه سايه (سورې) دي كوم چه د انسان او د تور په ميخ كښې حائل شوې ځيز نه حاصليږي

د تورې نه مراد جنګې وسلحې دي په دې كښې ټوپک، راکټ، مزائيل وغيره په جهاد كښې په كار راتلونكې ټولې وسلحې مراد دې حديث الباب كښې د تورى ذكر ددې دپاره شوې دې چه په هغې زمانه كښې به عموماً په جنګ كښې توره استعماليده او د تورى د سورى (سايه) نه مراد په جهاد كښې چليدونكى تورى دى اګركه هغه د كفارو وې يا د مسلمانانو

دمقابلې ځغه وړاندې د خپلې فتحې د دعا غوښتلو مسنونيت: په حديث الباب كښې د دښمن خلاف د خپلې فتح دپاره دعاګانو غوښتو ذكر دې نو دديې نه معلومه شوه چه د جهاد نه مخكې د مخالفينو خلاف دعا كول او د الله تعالى نه مدد غوښتل سنت دي.

[۲۹۳۱] د صبا راختو ځغه وړاندې په دشمن د حملې كولو ممانعت

—[۲] (۱) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ إِذَا غَزَا بِنَا قَوْمًا لَمْ يَكُنْ يَغْزُو بِنَا حَتَّى يُصْبِحَ وَيَنْظُرَ إِلَيْهِمْ، [۳] فَإِنْ سَمِعَ أَذَانًا كَفَّ عَنْهُمْ، وَإِنْ لَمْ يَسْمَعْ أَذَانًا أَغَارَ عَلَيْهِمْ، [۴] قَالَ: فَخَرَجْنَا إِلَى خَيْبَرَ، فَانْتَهَيْنَا إِلَيْهِمْ لَيْلًا، فَلَمَّا أَصْبَحَ وَلَمْ يَسْمَعْ أَذَانًا رَكِبَ وَرَكِبْتُ خَلْفَ أَبِي طَلْحَةَ [۵] وَإِنَّ قَدَمِي لَتَمَسُّ قَدَمَ نَبِيِّ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -».

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷺ وايي [۲] چې نبي كريم ﷺ چې به په مونږ سره ديو دښمن قوم سره جهاد كوى يعنى كله چې د جهاد په موقع يو داسې دښمن آبادي باندى د حمله اور كيدو اراده فرمايله چې د هغوى د حالاتو به علم نه وو او مونږ خلق به د حضور ﷺ سره په جهاد كې شريك وه نو د سحر كيدو ځغه مخكې به زمونږ سره په هغوى نه حمله اوركيدو [۳] بيا چې سحر به شو نو د هغه دښمنانو آبادى او د هغوى په ټيكاوټو به يې نظر اچوى چې مشاهدې يا قرائن ځغه دامعلومه شي چې داكوم خلق دي ① كه د هغوى د طرف ځغه به د اذان اواز واوريدل شو نو د هغوى سره جنګ كولو ځغه به منعه شوه ② او كه د آذان اواز به يې وانه وريدلو او قرينى ځغه به ثابته شوه چې داخلق مسلمانان

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الأذان، باب ما يحقن بالأذان من الدماء (رقم-۶۱۰) ومسلم في كتاب الجهاد والسير/باب غزوة خيبر (رقم-۱۲۰ - (۱۳۶۵) والترمذي في كتاب السير عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب في البيات والغارات (رقم-۱۵۵۰) والنسائي في كتاب المواقيت/باب التغليس في السفر (رقم-۵۴۷) ومالك في الموطا كتاب الجهاد/باب ما جاء في الخيل والمسابقة بينها، والنفقة في الغزو (رقم-۴۸)

نه دي نو په هغوی به يي حمله کوله ④حضرت انس رضي الله عنه وايي کوم وخت چې مونږ د حضور ﷺ سره د جهاد د پاره خيبرته روان شو نو د هغوی سرحدونو ته د شپې وخت ورسيدو کوم وخت چې سحر شو او د هغوی د طرف څخه آذان وانه وريدل شو نوحضور ﷺ په سورلی سور شو او زه د ابو طلحه رضي الله عنه په سورلی هغه پسي وروسته کيناستم ⑤او زمونږ سورلی د حضور سورلی ته دومره نزدې وه چې څما پښې به دحضور ﷺ په قدم مبارك لګيدلي

حل اللغات: ①كَفَّ: بند به شو، منع به شو، ②أَغَارَ: حمله به ئې کوله،

①قَالَ: فَخَرَجُوا إِلَيْنَا بِمَكَاتِلِهِمْ وَمَسَاحِيهِمْ، ②فَلَمَّا رَأَوُا النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالُوا: مُحَمَّدٌ وَاللهِ، مُحَمَّدٌ وَالْخَمِيسُ، ③فَلَجَئُوا فِي الْحِصْنِ، فَلَمَّا رَآهُمْ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ④قَالَ: "اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ، خَرِبَتْ خَيْبَرُ، إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ ﴿فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ﴾ [الصافات:١٧٧]». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①حضرت انس رضي الله عنه وايي هرکله چې سحر کيدو باندې خيبرواله زمونږ د راتګ څخه ناخبره خپلو پټو ته تلو د پاره خپل پهاوړي تهيلی يعنی د کرکيلی سامان آخستلو د خپلو کورونو څخه راووتل او زمونږ طرف ته راغلل ②او هغوی حضور ﷺ وليدلو نو په چغو چغو يي وئيل شروع کړل محمد ﷺ راغلو قسم په خدای محمد راغلو او د هغوی لښکر راغلو ③په دې ويلو سره هغوی وتښتيدل او په قلعه کې پناه ګزين شول ④هرکله چې رسول کريم ﷺ هغوی داسې په تيښته وليدل نو ګويا دا د هغوی شکست تعبير کولو او د فال د مخه يي وفرمايل الله ډيرلوی دی الله ډير لوی دی خيبر برباد شو په دې کې شك نشته زمونږ د مسلمانانو جماعت يا انبياء چې کله د يوقوم په ميدان کې د جنګ د پاره کوز شي نو د هغه ويرولی قوم سحر ډير خراب شي (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: ③مَكَاتِلِهِمْ: مكاتل "دَ مكتل جمع ده غټې تهيلئی ته متكل وائی، د كر كيلې سامان والا بوجئ. ④مَسَاحِيهِمْ: مساحي "مفرد ئی مسحات دې زمکې وغيره کرلو سامان (کدال وغيره) ته وائی. ⑤الْخَمِيسُ: دَ پنځو دستو لښکرته خميس وائی. ⑥فَلَجَئُوا: نو پناه ئې واخسته، پټ شول. ⑦الْحِصْنِ: قلعه. ⑧خَرِبَتْ: برباد شو. ⑨سَاحَةِ: ميدان، علاقه. ⑩فَسَاءَ: خراب شی. ⑪الْمُنْذَرِينَ: ويرولی شوی،

تسهيلات: قوله: وَالْخَمِيسُ:

د حملې کولو څخه وړاندې د اذان د انتظار کولوحکمت: دَ کافرانو په يوه علاقه دَحملې کولو نه مخکښې که چرې اذان اوشی نوبيا په احتياط سره جنګی کاروائی کول پکار دی دې دَپاره چه مسلمانانوته نقصان اونه رسيږی ليکن که اذان نه وی نوبيا په ښه پوره انداز سره حمله کيږی په دې وجه حضورپاك احتياط اوکړو.

[۳۹۳۲] د حملې دپاره د ماسپخين د وخت انتظار کول

۳۹۳۲-[۷] ()[۱] وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ مُقَرِّنٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «شَهِدْتُ الْقِتَالَ مَعَ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] فَكَانَ إِذَا لَمْ يُقَاتِلِ الْقِتَالَ أَوَّلَ النَّهَارِ انْتَظَرَ حَتَّى تَهُبَّ الْأَرْوَاحُ وَتَحْضُرَ الصَّلَاةُ.» رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

توجمه: [۱] او نعمان بن مقرن وايي [۲] زه د رسول کريم ﷺ سره په جنګ کې شريك شوم [۳] کله چې به يوه ورځ حضور ﷺ دسهر په وخت کې جنګ شخه شروع کوله نو د هغه وخت انتظاريه يې کولو هرکله چې هوا اوچليږی اودماسپخين دمونځ وخت راشي. (بخاري)

د راوي مختصر تعارف:

د حضرت نعمان بن مقرن تعارف: نوم نعمان دَ پلار نوم عمرو بن مقرن بن عائدمزني. کنيت ابوعمرو دې بعضو ابوالحکيم کنيت بيان کړې دې. مشهور صحابی دې. دَ څلورو کسان سره دَ رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو اومسلمان شو. بصره کښې اوسيدو بيا کوفې ته لاړو. حضرت عمر ﷺ هغه دَ نهاوند حاکم مقررکړې وو.

وفات: ۲۰ هـ کښې په مقام نهاوند کښې شهيد شو.

مرويات: دَ هغه نه شې روايتونه نقل دی.

حل اللغات: ① تَهُبَّ: اوچليږی، ② الْأَرْوَاحَ: هواګانې.

تسهيلات:

قوله: فَكَانَ إِذَا لَمْ يُقَاتِلِ الْقِتَالَ أَوَّلَ النَّهَارِ:

د جهاد کولو دپاره دوه وختونه: ① جهاد مقدس به دَ رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې په دوو وختونو کښې کيدلو. دَ سحرنه واخله تر نمر تيزيدوپورې بيا به بنديدلو.

② دې نه پس به ماسپښين کښې کيدلو کله چه تاؤ به کم شو.

د ماسپخين د وخت د انتظار کولو دوه وجوهات: ① په زيربحث حديث کښې داخبره کړې شوې ده چه که چرې حضورپاك دَ سحروختی په جهادکښې دَ جنګ دپاره نه وتلو نوحضورپاك به انتظار کولو چه دَ ماسپښين نه پس دَ نصرت او دَ امداد هواګانې راوالوزی. دَ هواګانوالوتلو مطلب دادې چه دَ الله تعالی دَ طرف نه امداد نازل شی.

① دَ ماسپښين دَمونځ نه پس عامو مسلمانانو په مونځونو کښې او دَ مونځونونه پس دَ مجاهدينو دَپاره دعاګانې غوښتلې چه يا الله دَ مجاهدينو نصرت او امداد اوفرمائې. معلومه شوه چه دَ مجاهدينو دَ پاره په جماتونو کښې دعاګانې کول پکاردی.

() اخرجه البخاری فی کتاب الجزية/باب الجزية والموادعة مع أهل الحرب (رقم-۳۱۶۰)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۹۳۳] د غرمي د زوال څخه وروسته د جنګ ابتداء

۲۹۳۳—[۸] (¹) ⓵ عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ مُقَرِّنٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ⓶ «شَهِدْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، فَكَانَ إِذَا لَمْ يُقَاتِلْ أَوَّلَ النَّهَارِ انْتَظَرَ ⓷ حَتَّى تَزُولَ الشَّمْسُ وَتَهُبَّ الرِّيَاحُ وَيَنْزِلَ النَّصْرُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ⓵ نعمان ﷺ ابن مقرن وايي ⓶ زه رسول کريم ﷺ سره په غزاګانو کې شريک شوی يم حضور چې به د ورځې ابتدايي حصه کې يعنی د سحر په وخت کې جنګ نه چيړی نو ترهغه وخته پورې به يې د جنګ د ابتداء کولو انتظار کولو ⓷ ترڅوپورې چې به نمر نه وو زوال شوی هوا به نه وه چليدلي او د نصرت يعنی د فتح هوا به نه وه نازله شوي يا د نصرت نازليدو مطلب دادی چې ترڅوپورې د ماسپخين د مونځ څخه وروسته د اسلام د مجاهدينو د پاره د مسلمانانو د دعا برکت سره به د فتح آثار ظاهر شوي نه وه. (ابوداود)

حل اللغات: ⓵ وَيَنْزِلَ: او نازل به شو، ⓶ النَّصْرُ: مدد

تسهيلات:

نوټ: د دي حديث شرح په مخکنی حديث نمبر (۲۹۳۲) په تسهيل کښې تيره شوې ده.

[۲۹۳٤] دَ نبی عليه السلام د جنګ وختونه

۲۹۳٤—[۹] (²) ⓵ وَعَنْ قَتَادَةَ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ مُقَرِّنٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ⓶ «غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَكَانَ إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ أَمْسَكَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، ⓷ فَإِذَا طَلَعَتْ قَاتَلَ، فَإِذَا انْتَصَفَ النَّهَارُ أَمْسَكَ حَتَّى تَزُولَ الشَّمْسُ، ⓸ فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ قَاتَلَ حَتَّى الْعَصْرِ، ثُمَّ أَمْسَكَ حَتَّى يُصَلِّيَ الْعَصْرَ، ثُمَّ يُقَاتِلُ. ⓹ قَالَ قَتَادَةُ: كَانَ يُقَالُ: عِنْدَ ذَلِكَ تَهِيجُ رِيَاحُ النَّصْرِ، وَيَدْعُو الْمُؤْمِنُونَ لِجُيُوشِهِمْ فِي صَلَاتِهِمْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ⓵ قتاده ﷺ د حضرت نعمان ابن مقرن ﷺ څخه روايت کوي هغه وفرمايل ⓶ ما د نبي کريم ﷺ په ملګرتيا کې جهاد کړي دی حضور ﷺ به د سحر ختو څخه وروسته ترهغه وخته پورې جنګ نه شروع کوی ترڅوپورې چې د سحر د مونځ څخه فارغه شو او نمر به نه وو راختلی ⓷ چې نمر به راوختلو نو جنګ [جهاد] به يې شروع کوی بيا چې به کچه غرمه شوه [يعنی شرعي کچه غرمه چې د ځابنت وخت دی چې پخې غرمې ته نزدې وي] نو د غرمي زوال کيدو پورې به د جنګ څخه منع شو ⓸ بيا چې غرمه به په زوال شوه

---

¹) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الجهاد، باب في أيّ وقت يستحبّ اللّقاء (رقم-۲۶۵۵) والترمذى فی كتاب السّير عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فی السّاعة الّتى يستحبّ فيها القتال (رقم-۱۶۱۳) واحمد فی المسند:۵/٤٤٤

²) اخرجه الترمذى فی السنن كتاب السّير عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فی السّاعة الّتى يستحبّ فيها القتال (رقم-۱۶۱۲)

او د ماسپخین مونځ به یي اوکړو نو ترمازیگر پورې به یې جنګ کوی بیابه منع شوه تردي چې د مازیگر مونځ کولو څخه وروسته بیابه په جنګ کې مشغول شوو ۵ قتاده رحمه الله وایي ونیل کیږي یعنی سحابه رضي الله عنهم به د حضور ﷺ د دي جنګي نظام الاوقات د حکمت به باره کې ونیل؛ داپه دې وجه وو چې په دي وختونوکي د نصرت و فتح هواګاني چلیږي او مسلمانان خپلو مونځو کې دخپلو لښکرو د پاره د فتح او کامرانی دعاګاني کوي (یعنی مونځ څخه وروسته دعاګاني غواړي یا د مونځ په دوران کې دعاګاني کوي څنګه چې د قنوت ویلو په سلسله کې احادیث منقول دي) (ترمذي)

حل اللغات: ① اِنْتَصَفَ النَّهَارُ: و رځ به نیمه شوه، کچه غرمه، د ځاخت وخت، ② تُهِبُّ: چلیږی، ③ رِيَاحُ: هواګاني، ④ النَّصْرُ: مدد.

تسهیلات:

نوټ: د دي حدیث تشریح وړاندې په یو نزدې حدیث ۳۹۳۲ په تسهیل کښې تیره شوې ده.

[۳۹۳۵] د اذان په اوریدو د حملې کولو څخه مما نعت

۳۹۳۵-[۱۰] () ١ وَعَنْ عِصَامٍ الْمُزَنِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ٢ «بَعَثَنَا رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي سَرِيَّةٍ، فَقَالَ: ٣ "إِذَا رَأَيْتُمْ مَسْجِدًا، أَوْ سَمِعْتُمْ مُؤَذِّنًا فَلَا تَقْتُلُوا أَحَدًا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ عصام مزنی رحمه الله وایي ٢ چې رسول الله ﷺ مونږ د جهاد دپاره په یو وړوکی لښکرکې ولیږو او وي فرمایل ٣ هرکله چې په یوځای کې تاسو جومات مسجد ووینی یامؤذن څخه آذان واوری نو هلته هیڅوك مه قتلوی. (ترمذي ابوداود)

تسهیلات:

قوله: إِذَا رَأَيْتُمْ مَسْجِدًا:

په دارالحرب کښې د حملې په وخت د مسلمانانو وجود دوه صورتونه: ① که مسلمانان په دار رب کښې وی او په خپل مذهب په آزادی سره عمل نشی کولې خو د څه مجبوری . هجرت نشته کولې نوبیو اسلامی لښکرکه په داسې دارالحرب باندې حمله کوی هغوی به پوره احتیاط کوی چې مسلمان قتل نکړی

② که په دارالحرب کښې مسلمانان اوسیږی اوهغوی دَ اعلان او خبر باوجود دَ کافرانونه جدا نه شی نوبیابه دهغوی لحاظ نه شی ساتلی جنګ به ورسره کولې شی اګرچه کفار مسلمانانولره دَ ډهال په توګه استعمال کړی هغه وخت دکافر په نیت وهل پکاردی دَداسې مسلمان وینه بلادیت ده

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد باب فی دعاء المشرکین (رقم-۲۶۳۵) والترمذی فی کتاب السیر عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب (رقم-۱۵٤۹)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۹۳٦] اهل فارس ته د خالد بن ولید رضي الله عنه خط

۲۹۳٦-()[۱۱] ① عَنْ أَبِي وَائِلٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ② كَتَبَ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ إِلَى أَهْلِ فَارِسَ: بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ مِنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ إِلَى رُسْتَمَ وَمِهْرَانَ فِي مَلَأِ فَارِسَ. ③ سَلَامٌ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَى. ④ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّا نَدْعُوكُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ، ⑤ فَإِنْ أَبَيْتُمْ فَأَعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَأَنْتُمْ صَاغِرُونَ، ⑥ فَإِنْ أَبَيْتُمْ. فَإِنَّ مَعِي قَوْمًا يُحِبُّونَ الْقَتْلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَا يُحِبُّ فَارِسُ الْخَمْرَ، ⑦ وَالسَّلَامُ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَى. رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: ① حضرت ابووائل رضي الله عنه وايي ② حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه د يران خلقو يعنى د سردارانو په نوم داخط وليږلو بسم الله الرحمن الرحيم د خالد بن ويد د طرف څخه د رستم او مهران په نوم چې د ايران د سردارانو څخه دى ③ په هغه چادي سلامتيا وي چې د حق او هدايت پيروي كوي ④ د دې څخه وروسته واضحه دي وي چې مونږ تاسو ته د اسلام قبلولو دعوت دركوو ⑤ كه تاسو اسلام نه قبلوى نو ذلت او خوارى سره خپل لاس سره جزيه اداء كړئ ⑥ او كه تاسو دي جزيي اداء كولو څخه هم انكار كوى نو ناسو ته خبريدل پكار دى چې هلاكت او پښيماني ستاسو مقدر جوړ شوى دى ځكه چې بې شك شبهې زماسره د داسې خلقو جماعت دى چې وينه بهيول يا د الله په لار كې ځان قربانول داسې خوښوي څنگه چې د ايران خلق شراب خوښوي [يعنى څنگه چې تاسو ايران واله د شرابو په نشه كې كيف او سرور حاصلوئ دغه شان څما د جماعت خلقوته قتل وقتال كې سرمستي او سرشاري حاصليږي يا هغوى ته ځان اخستلو او ځان وركولو كې هغه خوښي او لذّت حاصليږي كوم چې تاسو په شرابو كې محسوسوئ] ⑦ او سلامتيا دي په هغه وي چې د هغه حق او هدايت پيروي كوي.

حل اللغات: ① مَلَأ: سرداران، مشران، ② فَارِسَ: ايران، ③ إِنْ أَبَيْتُمْ: كه تاسو انكار اوكړو. ④ عَنْ يَدٍ: په خپل لاس سره، ⑤ صَاغِرُونَ: ذليله، رسوا.

تسهیلات:

قوله: يُحِبُّونَ الْقَتْلَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَا يُحِبُّ فَارِسُ الْخَمْرَ:

د خالدبن ولد رضي الله عنه خط: يعنى دا خيال د دماغونه اوباسئى چه مونږ د مرگ نه ويريدونكي يو مونږ ته د جنگ په ميدان كښې جنگيدلوسره او د شهادت جام نوش كولوسره هم هغه شان مستى اومزه حاصليږى لكه څنگه چه تاسو ته په شرابوڅكلو كښې خوند اومزه حاصليږى. د داسې قوم مقابله تاسو نه شئى كولې لهذا زمونږ لار هيڅ بې هيڅه مه بندوئى. سبحان الله دا يودور وو په كوم چه اسلام ترڅنه پورې ناز كوى.

---

[1] اخرجه البغوى فى شرح السنة باب ا لتأمير فى الحرب (جزء:۱۱ ص:۹)

حضرت خالد رضي الله عنه داخط دَ فارس خلقوپه نوم هغه وخت ليکلې وو کله چه هغوی دَ جهادپه شروع کښې په عراق کښې وو بياحضرت صديق اکبر رضي الله عنه هغه دَعراق نه شام طرف ته راؤغوښتلو اودَ لښکراميرئی جوړکړو. هغوی دَ مصر په لار صعيدمصرته اورسيدل اوهلته ئی عظيم جهاد اوکړو

[۴] بَابُ الْقِتَالِ فِي الْجِهَادِ

په جهادکښې دَ جنګ دَ ترتيب بيان

خلاصة الباب:

فيه ثلاثة وعشرون حديثاً مشتلمة على إثنى عشرة مسئلة:

① حصول الجنة بسبب الجهاد في سبيل الله: ١-

② التأهب للجهاد في سبيل الله: ٢، ١١-

③ جواز التورية للقتال قولاً وفعلاً: ٢، ٣-

④ جواز الاستخدام من النساء في سفر الجهاد: ۴، ۵-

⑤ النهي عن قتل بعض الناس وحكمهم: ۶، ۷، ۹، ۱۶، ۱۹، ۲۰-

⑥ جواز إهلاک أموال الكفار في القتال: ۸، ۱۷-

⑦ استعمال السهام والسيوف والمنجنيق في القتال: ۱۰، ۱۸، ۲۳-

⑧ وقت القتال: ۱۴، ۱۷-

⑨ شعارالمجاهدين في القتال: ۱۲، ۱۳، ۱۴-

⑩ النهي عن الصوت عند القتال: ۱۵-

⑪ الإجابة للمبارزة: ۲۱-

⑫ جواز التحيز إلى فئة المسلمين: ۲۲-

د باب القتال في الجهاد مباحث: دَفقهې په ټولوکتابونوکښې دې باب سره کيفية القتال لفظ لګولې شوې دې. په احاديثوکښې هم کيفيت قتال بيانول مقصوددی ځکه چه په دې باب کښې څومره احاديث مذکوردی تقريبًا په ټولوکښې دَ قتال دَ څه نه څه کيفيت ذکردې. ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی ای فی حث القتال وترغيبه وثوابه يعنی په دې باب کښې دَ کافرانوسره دَ جنګيدلو دَترغيب بيان دې. دَدې دَ ثواب بيان دې او کافرانوسره دَ جنګيدلودَپاره دَ تيارولو او تيزولو بيان دې.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۹۳۷]شهيد او جنت

۳۷ـ[۱] ()[۱]عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲]«قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ يَوْمَ أُحُدٍ: أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ، فَأَيْنَ أَنَا؟ [۳]قَالَ "فِي الْجَنَّةِ" [۴]فَأَلْقَى فِي يَدِهِ، ثُمَّ قَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

توجمه:[۱]حضرت جابر ﷺ وايي [۲]د احد د جنګ په ورځ د جنګ په ميدان کې يو سړی نبي کريم ﷺ ته اوويل تاسو وښايئ که زه قتل شم [يعنی د اسلام د دښمنانو د لاسه په جهاد کې شهيد شم نو زه به کوم ځای يم يعنی جنت ته به ځم يا دوزخ ته؟ [۳]حضور ورته وفرمايل جنت ته [۴]په دې اوريدو سره هغه سړی جنت ته د تلو ارزو کې د شهادت مرتبه زر تر زر حاصلولو د پاره هغه کجوري وغورځولي چې د خوراك د پاره يې په لاس کې وې او په جهاد کې مشغول شو تردې چې شهيد شو. (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: فَأَيْنَ أَنَا؟:

شهادت في سبيل الله او جنت: يو صحابی فرمائی که زه په جهاد کښې شهيد شم نو زه به جنت ته ځم که جهنم ته، نو نبی کريم ﷺ وفرمائيل چه ته به د جنت اعلی مقام ته ځې کوم چه د شهيدانو دپاره دې، نو کله چه دا زيرې يی واوريدو نو لاس کښې ئی چه کومې قجورې وې هغه يی وغورځولې او په جنګ کښې مشغوله شو تر دې چه شهيد شو.

[۲۹۳۸]په جنګ کښې د توريه سنت

۳۸ـ[۲] ()[۱]وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲]«لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللّٰهِ يُرِيدُ غَزْوَةً إِلَّا وَرَّى بِغَيْرِهَا، [۳]حَتَّى كَانَتْ تِلْكَ الْغَزْوَةُ يَعْنِي غَزْوَةَ تَبُوكَ - غَزَاهَا رَسُولُ اللّٰهِ فِي حَرٍّ شَدِيدٍ، [۴]وَاسْتَقْبَلَ سَفَرًا بَعِيدًا، وَمَفَازًا وَعَدُوًّا كَثِيرًا، [۵]فَجَلَّى لِلْمُسْلِمِينَ أَمْرَهُمْ، [۶]لِيَتَأَهَّبُوا أُهْبَةَ غَزْوِهِمْ، [۷]فَأَخْبَرَهُمْ بِوَجْهِهِ الَّذِي يُرِيدُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

توجمه:[۱]کعب ابن مالك ﷺ وايي [۲]چې رسول کريم ﷺ چې به د څه غزا يعنی جهاد کولو اراده کوله نو د هغه په ځای به يې د دويم ځای توريه فرمائيله [۳]تردې چې داغزا

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب غزوة أحد (رقم-۴۰۴۶) ومسلم فی کتاب الإمارة/باب ثبوت الجنّة للشّهيد (رقم-۱۴۳ - (۱۸۹۹)والنسائی فی کتاب الجهاد/باب ثواب من قتل فی سبيل الله عزّ وجلّ (رقم-۳۱۵۴) واحمد فی المسند: ۳۰۸/۳

[۲]) اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب حديث کعب بن مالک. وقول الله عزّ وجلّ: {وعلى الثّلاثة الّذين خلّفوا} [التوبة: ۱۱۸] (رقم-۴۴۱۸) ومسلم فی کتاب التّوبة/باب حديث توبة کعب بن مالک وصاحبيه (رقم-۵۳ - (۲۷۶۹) واحمد فی المسند: ۴۵۶/۳

يعني غزوه تبوك واقع شوه رسول كريم ﷺ غزوه تبوك د سخت تريني ګرمۍ په زمانه کې وکړله [۴] حضور ﷺ د دې د پاره د لرې سفر وکړو او بې آب وګياه ځنګلات يې قطع کړل او په دې کې د دښمنانو تعداد هم ډير زيات وو [۵] حضور ﷺ چې د دې غزا اراده وکړله نو په دې باره کې مسلمانانو ته يې صاف صاف اعلان اوکړو او ددې غزا په دوران کې پيښيدونکي مشکلات او پريشاني يې وضاحت سره بيان کړې [۶] چې خلق د جهاد د پاره په ښه شان تيار شي او خپل د جهاد سامان درست کړي [۷] او حضور ﷺ صحابه ﷺ ته د هغه لارو او مقاماتو په باره کې هم ښودلې وو چې حضور ﷺ تبوك ته درسيدو د پاره اختيارول غوښتل. (بخاري)

حل اللغات: ① وَرَّى: دا لفظ دَ تورية نه دې کوم چه دَ باب تفعيل نه دې. توريه تعريض او کنايه ته وائي ② مَفَازًا: بې آب وګيا ميدان، صحرا. ③ فَجَلّٰى: نوښکاره ئې اوکړو. صفا صفا ئې اووئيل. ④ لِيَتَأَهَّبُوا: چه ښه تيارې وکړي. ⑤ أُهْبَةً: د ساز وسامان.

تسهيلات:

قوله: لَمْ يَكُنْ رَسُوْلُ اللّٰهِ يُرِيْدُ غَزْوَةً إِلَّا وَرَّى بِغَيْرِهَا:

د توريه تعريف: توريه تعريض او کنايې ته وائي چې د يو څيز دوه معانی وی يوه قريبه وی او بله بعيده وی متکلم د خپلې خبرې څخه بعيده معنی واخلی او مخاطب د ده د خبرې څخه قريبه معنی واخلی.

مثال: دهجرت په موقع د نبی عليه السلام سره حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه وو يو کس نبی عليه السلام نه پيژندلو او ابوبکر رضی الله عنه ئې پيژندلو نو د ابوبکر رضی الله عنه څخه يې تپوس اوکړو ،،من معک،، تاسو سره دا سړې څوک دې؟ دوی ورته اوفرمائيل ،،رجل يهديني السبيل،، دا يو سړې دې چې لار راته ښائی، دلته مخاطب ترې قريبه معنی واخستله چې دليل (د دال په زير سره) دې يعنی هغه کس چې دنياوی لار ورته ښائی اوابوبکر صديق رضی الله عنه ترې بعيده معنی واخستله يعنی د آخرت لاره، يعنی دا حضرت راته د آخرت لار ښآئی نو دې ته توريه وائی.

په جنګ کښې د توريې صورت: په جنګ کښې توريه دا ده چې چه دَ دښمن نه اصل حقيقت پټ کړې شی اوبله خبره ظاهره کړې شی. مثلاً تګ يوطرف ته دې اوتفتيش اوتذکرې دَ بل طرف شروع کړې شی. دَمثال په توګه دَ حضورپك اراده دَ فتح مکې په موقع باندې مکې ته دَ تلو وه ليکن حضورپاك دَ خيبر دَ احوال لټون اوتذکرې شروع کړې. په دې حکمت عملی کښې دا فائده وی چه دښمن په ناخبرئی کښې وی اوهغوی دَ جنګ دَ تيارې نه غافل پاتې شی او په هغوی باندې حمله کيږی. هم دې ته "الحرب خدعة" وئيلې

شوې دې. په دې کښې تصریح نه وی که په صراحت سره اووئیلې شی چه زه حیدر آباد ښارته ځم او په زړه کښې ئې پټ ساتلی وی چه زه مقبوضه کشمیر ته ځم نودا توریه نه ده بلکه دا صریح دروغ دی دکوم چه په شریعت کښې اجازت نشته دې.

قوله: حَتَّى كَانَتْ تِلْكَ الْغَزْوَةُ يَعْنِي غَزْوَةَ تَبُوكَ:

په غزوه تبوک کښې د توریې په ځائې د صراحت څخه د کار اخستلو وجه: حضورپاک په غزوه تبوک کښې د کنایې اوتعریض نه کار وانخستلو بلکه په واضحه توګه ئې اعلان اوکړو چه د جهاد دپاره تبوک ته تلل دی. ددې تصریح وجه داوه چه دا د مشقتونونه ډک سفر وو، لار ډیره زیاته لرې وه ځکه چه دمدینې نه تبوک تقریباً زر کلومیټره دې. د خوراك د څیزونو کمې وو اوسخته ګرمی وه نود مکمل تیاری ضرورت وو. په دې وجه حضورپاك ښکاره اعلان اوکړو.

د غزوه تبوک مختصرپیژندګلو: دا غزوه په ۹هجری کښې پیښه شوې وه او حضورپاك سره د دیرش زرو لښکر وو، په مقابله کښې رومیان عیسایان د لاکهونو په تعداد کښې وو. دمدینې نه دخیبر په لاره تلوسره وړاندې دالعُلا علاقه راځی دې نه پس مدائن صالح او وادی ثمود راځی دې نه پس د تبوک علاقه ده.

[۳۹۲۹] په جنګی حکمت عملی عمل کول

٣٩٣٠—[٣] ()[1] وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«الْحَرْبُ خَدْعَةٌ»" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت جابر ﷺ وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [٢] جنګ د مکر ودهوکه نوم دی (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① خَدْعَةٌ: چال اوتدبیر. مکر اوحیله.

تسهیلات: **قوله**: الْحَرْبُ خَدْعَةٌ:

دخدعة په اعراب کښې دوه اقوال ① دالفظ د خاء په ضمې سره دې او دال ساکن دې ② مګر د اهل لغت په نیزپه خاء باندې فتحه او په دال سکون ډیر فصیح او بهتر دې

دحدیث مطلب: په جنګ کښې کثرت د تعداد دومره فائده نه ورکوی څومره چه مکر او فریب او چال او تدبیر ورکوی نن صبادې چل اوتدبیرته حکمت عملی وائی چنانچه

[1]) اخرجه البخار ی فی کتاب الجهاد والسّیر/باب: الحرب خدعة (رقم-۳۰۳۰) ومسلم فی کتاب الجهاد والسّیر/باب جواز الخداع فی الحرب (رقم-۱۷ - (۱۷۳۹) و ابو داود فی کتاب الجهاد . باب المکر فی الحرب (رقم-۲۶۳۶) والترمذی فی کتاب الجهاد عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی الرّخصة فی الکذب والخدیعة فی الحرب (رقم-۱۶۷۵) واحمد فی المسند:۳۰۸/۳

کامیاب کماندر هغه وی چه دَ جنګی حکمت عملئ او داؤ پیچ نه زیات کار اخلی او دَدښمن لوئی فوج په شاته کیدو باندې مجبور کړی.

د حکمت عملئ د جواز شرط: په دې جنګی حکمت عملی کښې هر تدبیر او مکر اوحیله جائز ده لیکن دا ضروری ده چه په دې حکمت عملی سره دَ مقرر شوې معاهدې خلاف ورزی اونه شی اونه هغه مقرر شوې معاهده ماته شی کومه معاهده چه دښمن سره شوې وی.

په جهاد کښې د روغو وئیلو اجازت: علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه دَ جهاد په معامله اودَدې په فائده کښې صریح دروغ وئیل هم جائز دی مګر تعریض زیات بهتر دې. په دې وجه دَ ښکاره دروغو نه بچ کیدل پکاردی.

[۲۹٤۰] په جهاد کښې د ښځو د شرکت حکم

۳۹۳۰-[۴] (۱) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ [۲]: كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَغْزُو بِأُمِّ سُلَيْمٍ، وَنِسْوَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ مَعَهُ، [۳] إِذَا غَزَا يَسْقِينَ الْمَاءَ وَيُدَاوِينَ الْجَرْحَى. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضرت انس رضی الله عنه وايي [۲] رسول کریم صلی الله علیه وسلم چې به صحابه وُ رضی الله عنهم سره جهاد ته تشریف وړی نو د ځان سره به يې بي بي ام سليم رضی الله عنها او د انصارو نوري ښځې هم بوتلې [۳] هغه ښځو به د اسلام غازيانو باندې اوبه څکلې او د زخميانو مرهم پټی او خدمت به يې کولو (مسلم)

حل اللغات: (۱) الْجَرْحَى: زخمیان.

تسهيلات:

قوله: يَغْزُو بِأُمِّ سُلَيْمٍ، وَنِسْوَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ مَعَهُ:

د جهاد دوه صورتونه او د ښځو حکم: (۱) په ښځوباندې په عاموحالاتو کښې جهادفرض نه دې (۲) که دا جهادفرض عين شی او دشمن دَ کورونودَ دروازوپوري راؤرسی. بیا په هره ښځه باندې دَخپل عزت اوناموس دَ حفاظت دَپاره جنګیدل فرض دی

قوله: إِذَا غَزَا يَسْقِينَ الْمَاءَ وَيُدَاوِينَ الْجَرْحَى:

د بوډۍ ګانوزنانوپه جهاد کښې د شرکت جواز: اوکه په عاموحالاتو کښې ښځې په جهادکښې شریکیدل غواړی نو ځواني ښځې ځان سره بوتلل جائزنه دی. بوډۍ ګانې ښځې دَ زخميانودَخيال ساتلو اومرهم پټئ کولودَپاره او اوبه ورکولو او خوراك پخولو په غرض سره تلې شی

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب الجهاد والسير/باب غزوة النساء مع الرّجال (رقم-۱۳۵ - (۱۸۱۰) و ابو داود فی کتاب الجهاد/باب فی النساء يغزون (رقم-۲۵۳۱) والترمذی فی کتاب السير عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فی خروج النساء فی الحرب (رقم-۱۵۷۵)

بعضي فقهاؤ ليكلى دى چه په ميدان جنګ کښې بالکل په آخرى مورچو کښې د ضرورت په وخت د پردي سره ښځې په جنګ کښې شرکت هم کولې شى که خاوند د خپل خدمت يا د مباشرت ضرورت پوره کولو دپاره ښځه بوتلل غواړى نو د آزادي ښځې په ځائې خپله وينځه ددي خدمت دپاره بوتلل ډير بهتردى

د زنانو دپاره د زخمى مجاهدينو د علاج حدود: د زخميانو په خدمت کښې ښځې د زخمى دبدن په هغه حصه باندي دوائى لګولې شى چرته چه زخم لګيدلي دي او هغه حصې ته لاس هم لګولې شى دي نه علاوه عام بدن ته لاس نه شى لګولې

په جنګ کښې د ښځو د شرکت دوه فائدي: ① په هغه زمانه کښې به ښځو لره جنګ ته د بوتللو يوه فائده دا وه چې ښځوبه سړو ته د تختيدونه پيغور ورکولو او منع کول به ئې په دې وجه به سړى ښه په زړه جنګيدل ام سليم. ام عماره. ام عطيه. ام ابان. خوله وغيره رضي الله عنهن هغه بهادري ښځې دى چه په ډيرو جنګونو کښې ئې باقاعده حصه اخستې ده او کافران ئې تختولى دى

② د ښځو د وجې نه به سړى په بهادرئى سره جنګيدل او د تختيدونو به ئې نه شو اخستلې

[۲۹۴۱] په غزواتو کښې د زنانو خدمات

۳۹۳۳—[۵] (¹) وَعَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سَبْعَ غَزَوَاتٍ أَخْلُفُهُمْ فِي رِحَالِهِمْ، فَأَصْنَعُ لَهُمُ الطَّعَامَ، وَأُدَاوِي الْجَرْحَى، وَأَقُومُ عَلَى الْمَرْضَى. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: بي بي ام عطيه رضي الله عنها وايي زه د رسول کريم ﷺ سره په اوو غزاګانو کې شريکه شوي يم زه به د جنګ په ميدان کي ① د هغه مجاهدينو شخه وروسته د هغوى په ډيرو کي اوسيدم ② هلته به مي د هغوى د پاره طعام پخولو ③ او د زخميانو مرهم پټى ④ او دوا دارو به مي کول ⑤ او د بيمارانو خدمت به مي کولو (مسلم)

حل اللغات: ① أَخْلُفُهُمْ: روستو د هغوى نه. ② رِحَالِهِمْ: په ډيرو د هغوى کښې. په سامانونو د هغوى کښې. ③ الْجَرْحَى: زخميان. ④ أَقُومُ: خدمت به مي کولو

[۲۹۴۲] په جهاد کښې د ښځو او د بچو د قتل ممانعت

۳۹۳۴—[۶] (²) وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ قَتْلِ النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

¹) اخرجه مسلم فى كتاب الجهاد والسير /باب النساء الغازيات يرضخ لهن ولا يسهم. والنهى عن قتل صبيان أهل الحرب (رقم-۱۴۲ - (۱۸۱۲)

²) اخرجه البخارى فى كتاب الجهاد والسير /باب قتل النساء فى الحرب (رقم-۳۰۱۵)

ترجمه: [۱] او عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما وايي [۲] چې رسول كريم ﷺ د ښځو او هلكانو د قتل څخه منع فرمايلي ده (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ قَتْلِ النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ:

په مذكوره كسانو كښې د بعضو د قتلولو جواز صورتونه: ① ماشوم هم كه دَ جنگ دَپاره ميدان ته راځي اوځه نه ځه په جنگ كښې حصه اخلي نو هغه هم قتلولې شي ② دغه شان هغه ماشوم چه دَ سردار او بادشاه بچې وى په كوم باندې چه ټول خلق متفق كيدو سره راجمع كيږى. دَ دغه ماشوم قتلول هم جائز دى.

③ دغه شان كه مسلمانان دَ شپې په كافرانو باندې حمله اوكړى او په كورونوكښې ښځې اوبچى اووژلې شى نوداهم دَ مجبورئى دَ وجې نه جائز دى. ځكه چه دَدې نه بچ كيدل گران دى.

④ كه پادرى او ښځې كافرانوته جنگى مشورې وركوى يا په جنگ كښې شركت كوى يا مالى امدادكوى يا پادرى واده كړې وى او بچى پيدا كول شروع كړى نوبيا دَ دغه خلقو وژل جائز دى.

⑤ دَ شيخ فانى نه زوړ بوډا مراد دې دوى مه وژنئى هغه كه هلته جنگى تدبير او مشورې وركوى نووژل ئى جائز دى. حضورپاك دَ دريد بن صمه دَ وژلوحكم وركړې وو او دَهغه عمر ۱۲۰ كاله وو. په جنگ حنين كښې هم داسې شوې وو ځكه چه دريد ډير زيات پوهه او مشوره كار سړې وو.

[۲۹۴۲] دشپې په حمله كښې د ښځواو د زنا نو قتليدل

> ۳۹۴۳-[۷] ( ) [۱] وَعَنِ الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ [۲]: «سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ أَهْلِ الدِّيَارِ يُبَيَّتُونَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ، [۳] فَيُصَابُ مِنْ نِسَائِهِمْ وَذَرَارِيِّهِمْ، قَالَ [۴]: "هُمْ مِنْهُمْ". [۵] وَفِي رِوَايَةٍ: "هُمْ مِنْ آبَائِهِمْ"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او صعب ابن جثامه رضي الله عنه وايي [۲] چې رسول كريم ﷺ څخه د هغه مشركينو په باره كې پوښتنه وشوه كوم چې كور واله دي (يعنى چې ابادي كې وسيږيا [۳] كه هغوى باندې د شپې حمله وشي او د هغه په نتيجه كې د هغوى ښځې او بچې ووژل شي نو څه حكم دى [۴] حضور ﷺ وفرمايل هغوى هم د هغوى څخه دي [۵] او په يو روايت كې دي چې حضور ﷺ وفرمايل هغوى د خپلو پلرونو تابع دي (بخاري مسلم)

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الجهاد والسير /باب إذا نزل العدوّ على حكم رجل (رقم-۳۰۴۳)

حل اللغات: ① يَبِيتُونَ: د شپې حمله اوشي په هغوی باندې، ② فَيُصَابُ: ورسولې شي، قتل کړې شي. ③ وَذَرَارِيِّهِمْ: اولاد د هغوی

تسهيلات:

قوله: يُبَيَّتُونَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ:

دشپې په حمله کښې د ښځو او د ماشومانو د قتل حکم: په دښمن باندې په حالت د غفلت کښې د شپې حمله کول او که په دې حمله کښې بغير د ارادې نه ښځې يا ماشومان قتل شي نو ددوې باره کښې ئې وفرمايل چه دا هم د سړو په شان دی او د ښځو او د ماشومانو د غير ارادی قتل دوجهې نه په مجاهدينو باندې څه قسمه ګناه نشته ځکه چه تياره کښې امتياز کول مشکل وي. او د ابن عمر ﷛ په حديث کښې دښځو او ماشومانو په ارادی سره قتل کولو نه منع راغلې ده.

قوله: قَالَ: هُمْ مِنْهُمْ:

دقتل په جواز کښې د سړو او ښځو د سړو سره برابری: يعنی په ښځو او ماشومانو باندې به هم د سړو په ضمن کښې حمله کولې شي.

[۲۹٤٤] د کافرانو د ونو د پريکولو او سوزولو حکم

۳۹۴۳–[۸] (١) ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، ② «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَطَعَ نَخْلَ بَنِي النَّضِيرِ وَحَرَّقَ، ③ وَلَهَا يَقُولُ حَسَّانُ: وهان على سراة بنى لؤى ... حريق بالبويرة مستطير ④ وَفِي ذٰلِكَ نَزَلَتْ ﴿مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً عَلَى أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ اللّٰهِ﴾ [الحشر: ٥]» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابن عمر ﷛ وايي ② چې رسول کريم ﷺ د بني نضير د کجورو د ونو پريکولو او سوزلو حکم وکی ③ په دې باره کې د دربارِ رسالت صحابي شاعر حضرت حسان ابن ثابت انصاري ﷛ دا شعر اووئيلو يعنی د بني لؤیّ سردارانو د پاره خوره شوي بويره مقام سوزول آسان شو ④ او د دې متعلق دا آيت کريمه نازل شو مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً عَلَى أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ الله هغه چې تاسو د کجورو د ونو څخه څه پريکړیٔ يا مو د هغه په جرړو ولاړې پريښودلې يعنی پرې مونه کړلې نو دا ټول د الله په حکم سره دي (بخاري . مسلم)

حل اللغات: ① حَرَّقَ: اوئې سوزول، ② لِينَةٍ: د کجورو ونې، ③ أُصُولِهَا: په تنو خپلو . په جرړو خپلو .

[١] اخرجه البخاری فی کتاب المغازی / باب حديث بنی النضير. رقم الحديث ٤٠٣١. ومسلم فی کتاب الجهاد والسير / باب جواز قطع اشجار الکفار وتحريقها رقم الحديث ٤٦٥١

تسهيلات:

قوله: قَطَعَ نَخْلَ بَنِي النَّضِيرِ وَحَرَّقَ:

په مدينه کښې د يهودو درې قبيلې: رسول الله ﷺ چه کله د مکې نه مدينې ته هجرت اوکړو نو په مدينه کښې د حضورپاك واسطه د يهوديانو سره راغله په هغه وخت په مدينه کښې د يهوديانو درې قبيلې وې.

① بنوقريظه

② بنوقينقاع دوی سره څه معاهده نه وه کړې نومسلمانانوهم د شروع نه هغوی د مدينې نه اوويستل دوی سره څه معاهده نه وه کړې نومسلمانانوهم د شروع نه هغوی د مدينې نه اوويستل

③ بنونضير دوی سره نبی عليه السلام معاهده اوکړه مگر بيائی غداری اوکړه ترديې چه د حضورپاك د قتل سازش ئی اوکړو په دې باندې مسلمانانو د هغوی محاصره اوکړه هغوی قلعه کښې بند شو حضورپاك د هغوی د باغونو د سوزولو حکم ورکړو په دې باندې يهودو اوويل چه دا خوصرف فساد دې. په دې باندې د قرآن آياتونه نازل شو چه دا هرڅه د الله تعالى په حکم باندې شوی دی.

د بنونضير د علاقې نوم: بويره د بنونضير د علاقې نوم دې چرته چه د هغوی باغونه وو دغه باغونوته چه کله اور اولگولې شو نو په دې باندې حضرت حسان رضي الله عنه د طنز په توگه باندې يوڅو اشعار اوويل د کوم نه چه يوشعر په دې حديث کښې ذکردې يعنی په قريشو باندې ډير آسان تير شو هغه اورکوم چه مونږ په بويره مقام کښې لگولې وو چه شغلې ئی وهلې او راؤچتيدو

اوس مسئله دا راؤوتله که د باغونو او د فصلونو د سوزولو ضرورت پيښيږی نوسوزول جائز دی ليکن بغير د مجبورئی نه نه دی سوزول پکار

قوله: وَهَانَ عَلَى سَرَاةِ بَنِي لُؤَيّ:

د بنو لوئې په مصداق کښې دوه اقوال: ① د بنو لوئې څخه مراد مراد صحابه کرام اخستې شی چه هغوی نه اور لگولو کښې څه مشکل پيښ نه شو يعنی يوسری هم مزاحمت اونه کړې شو

② د بنی لوئی څخه مراد د مکې قريش هم کيدې شی اوډا زيات واضح دی مطلب دا چه په بويره مقام کښې لگيدلې اور د کافرانو د پاره آسان شو هغوی مزاحمت اونه کړې شو او په آسانئی سره ئی دغه ذلت قبول کړو ابوسفيان بن حارث چه د حضورپاك خپلوان وو هغه د دې شعر جواب ورکړو.

أَدَامَ اللهُ ذٰلِكَ مِنْ صَنِيعٍ وَحَرَّقَ فِي نَوَاحِيهَا السَّعِيرُ
سَتَعْلَمُ أَيُّنَا مِنْهَا بِنُزْهٍ وَتَعْلَمُ أَيُّ أَرْضَيْنَا نَضِيرُ

يعنى الله تعالي دَ دې اور شغلې دَ مديني په اطرافو کښې خوري کړې او دې ته ئې هميشه والې ورکړى ډير زر به تاسو ته پته اولګى چه ددې اور نه مونږ خومره لرې يو اوتاسو ته به داهم پته اولګى چه دا په مونږ کښې د چا د زمکې نقصان دې

[۳۹۴۵] په دشمن د ناخاپه حملې کولو جواز

۳۹۴۵-[۹] (۱) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَوْنٍ: أَنَّ نَافِعًا كَتَبَ إِلَيْهِ يُخْبِرُهُ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَخْبَرَهُ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - غَارَ عَلَى بَنِي الْمُصْطَلِقِ غَارِّينَ فِي نَعَمِهِمْ بِالْمُرَيْسِيعِ فَقَتَلَ الْمُقَاتِلَةَ وَسَبَى الذُّرِّيَّةَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او عبد الله ابن عون رحمه الله څخه روايت دی چې د حضرت ابن عمر رضي الله عنه ازاد کړده غلام حضرت نافع رحمه الله عبد الله ابن عون رحمه الله ته يوخط وليکی چې په هغه کې حضرت نافع رحمه الله هغه خبرکی چې ابن عمر رضي الله عنهما نافع رحمه الله ته بيان وکړو چې نبي کريم ﷺ بني مصطلق باندې هغه وخت حمله کړې وه هرکله چې هغوی مريسيع کې د خپلو څاروو په مينځ کې غافل پراته وه نو حضرت د هغوی جنګيالې قتل کړل او د هغوی ښځې او بچې ئې قيديان جوړولو سره راوستل (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: ① غَارَ: حمله ئې کړې وه. ② سَبَى: قيديان ئې کړل

تسهيلات:

قوله: غَارَ عَلَى بَنِي الْمُصْطَلِقِ:

د بنومصطلق پيژنګلو: دَ بنوخزاعه يوخانګه ده او مريسيع دَ يوخائى نوم دې چه دَمديني نه تقريبًا ۸۰ کلوميټره فاصله باندې دې ۵ هجرى کښې په دې مقام باندې جنګ شوې وو اوکافران وژلې شوى وو هم په دې سفرکښې په حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها باندې بهتان لګيدلې وو

قوله: غَارِّينَ فِي نَعَمِهِمْ:

په ناخبرۍ کښې دحملې کولو جواز: يعنى هغه خلق بالکل بې خبره وو دې نه معلومه شوه چه کله دعوت يوځل اورسيږى نوبيا بغيردَ دعوت نه په کافرانو باندې حمله کيدې شى که چرې دعوت نه وى رسيدلې او په کاروائى کولوکښې مصلحت وى نوبياهم حمله کيدې شى سره دَدې چه منع ده

(۱) اخرجه البخاري في كتاب العتق/ باب من ملك من العرب رقيقا فوهب وباع وفدى وسبى الذرية رقم الحديث ۲۵۴۱، ومسلم في كتاب الجهاد والسير/ باب جواز الاغارة على الكفار الذين بلغتهم دعوة الاسلام رقم الحديث ۴۶۱۶

قوله: فَقَتَلَ الْمُقَاتِلَةَ وَسَبَى الذُّرِّيَّةَ:

د ماشومانو قید کول: یعنی دَ جنګ قابل خلق ئی قتل کړل او واړه ماشومان ئی ګرفتار کړل او غلامان ئی جوړ کړل

[۳۹٤٦] دغشو ساتلو هدایت

۳۹۴۶-[۱۰] (¹) [۱] وَعَنْ أَبِي أُسَيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ لَنَا يَوْمَ بَدْرٍ حِينَ صَفَفْنَا لِقُرَيْشٍ وَصَفُّوا لَنَا: [۳] "إِذَا أَكْثَبُوكُمْ فَعَلَيْكُمْ بِالنَّبْلِ» ". [۴] وَفِي رِوَايَةٍ: "«إِذَا أَكْثَبُوكُمْ فَارْمُوهُمْ وَاسْتَبْقُوا نَبْلَكُمْ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. [۵] وَحَدِيثُ سَعْدٍ: "هَلْ تُنْصَرُونَ "، سَنَذْكُرُهُ فِي بَابِ "فَضْلِ الْفُقَرَاءِ". [۶] وَحَدِيثُ الْبَرَاءِ: بَعَثَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَهْطًا فِي بَابِ "الْمُعْجِزَاتِ" إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى.

ترجمه: [۱] حضرت ابو اسید ﷺ وایي [۲] چې نبي کریم ﷺ د بدر د غزا په ورځ په میدان جنګ کي هرکله چې مونږ د قریشو خلاف او قریش زمونږ خلاف صف آراشو نومونږ ته داحکم راکول شو [۳] چې هرکله دښمن یعنی قریش مکه تاسو ته دومره نزدې راشي چې ستاسو تیر هغوی ته رسیدی شي نو هغوی په تیر ولی [۴] او په یوبل روایت کې دادی چې حضور ﷺ وفرمایل هغه دښمنانو باندې هغه وخت تیر وچلوي هرکله چې هغوی تاسو ته نزدې راشي او خپل تیرونه باقي وساتئ [یعنی خپل ټول تیرونه مه ختموئ بلکه په احتیاط استعمالولو سره څه باقي هم وساتئ چې دښمن بي وسلي کیدو څخه فائده اخستو سره په تاسو غالب رانشي.] (بخاري) [۵] او د حضرت سعد روایت هَلْ تُنْصَرُوْنَ به باب فضل الفقراء کي [۶] او د حضرت براء روایت بَعَثَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ رَهْطًا به په باب المعجزات کي انشاء الله تعالى مونږ ذکر کو.

د حضرت ابواسید مالک بن ربیعه تعارف: نوم مالك ابواسید ئی کنیت اودَ قبیله خذرج سره تعلق وو. نسب نامه ئی مالك بن ربیعه بن بدن بن عامر بن عوف بن حارث. دَ هجرت نه وړاندې مسلمان شوې وو. په ټولوغزواتوکښې ئی شرکت کړې وو. دَ بدر دَ شرکت تذکره خو په بخاری شریف کښې هم ذکر ده. دَ مکې دَ فتحې په موقع باندې دَ بنوساعده جهنډا هم دَ ده په لاس کښې وه. دَ وفات نه وړاندې ئې دَ سترګو نظر ختم شوې وو.

وفات: ۶۸ه مدینه منوره کښې وفات شو. په بدری صحابه کرامو ﷺ کښې دَ ټولونه آخری صحابی ﷺ هم دې وفات شو. دَ مرګ په وخت کښې دَ هغوی عمر ۷۸ کاله وو.

مرويات: دَ دوی دَرواياتوشمير ۲۸ دې په دې کښې څلور په بخاری اوڅلورمسلم کښې دی او په یو باندې دَ دواړو اتفاق دې.

(¹) اخرجه البخاري فی کتاب الجهاد / باب التحريض على الرمی رقم الحديث ۲۹۰۰

حل اللغات: ① أَكْثَبُوكُمْ: رانزدې شی هغوی تاسوته. ② النَّبْلِ: غشی، نیزې. ③ وَاسْتَبْقُوا" یعنی غشی فضول مه ضائع کوئی بلکه د ضرورت د موقع دپاره ئی بچ اوساتئی

تسهیلات:

قوله: إِذَا أَكْثَبُوكُمْ فَعَلَيْكُمْ بِالنَّبْلِ: یعنی کله چه کافران ښه رانیزدې شی بیا په هغوی باندې غشی اوورونئی دې دپاره چه یو غشې هم ضائع نه شی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۹٤۷] د جنګ په میدان کښې د لښکر تیاری

۳۹۳۷-[۱۱] (۱) ① عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ ②: «عَبَّأَنَا النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِبَدْرٍ لَيْلًا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ①عبد الرحمن بن عوف ﷺ وایي ②چې نبي کریم ﷺ په بدر کې مونږ د شپې تعبیه کړلو یعني تیاریي کړلو.

حل اللغات: ① عَبَّأَنَا: دا د تعبیة نه دې د تیارولو او ډکولو په معنی کښې دې

تسهیلات:

قوله: عَبَّأَنَا النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

دشمن باندې د نزدې څخه د حملې کولوتدبیر: یعنی حضورپاك د بدر په موقع کښې د شپې په وخت زمونږ صفونه جوړکړی وو اودا هدایت ئی اوفرمائیلو چه ترکومې پورې دښمن رانیزدې شوې نه وی دې نه مخکښې غشی مه خرابوئی بلکه چه کله دښمن نیزدې راشی بیا غشی اوولئی.

[۲۹٤۸] د اسلام د مجاهدینو دپاره امتیازي نښې

۳۹۳۸-[۱۲] (۲) ① وَعَنِ الْمُهَلَّبِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "«إِنْ بَيَّتَكُمُ الْعَدُوُّ ③ فَلْيَكُنْ شِعَارُكُمْ حم لَا يُنْصَرُونَ»" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ①حضرت مهلب ﷺ وایي ②چې رسول الله ﷺ په غزوه خندق کې مونږ ته وفرمایل که دښمن په تاسو د شپې حمله وکړي ③نو ستاسو مسلمانانو علامه (نام شب) حم لَا يُنْصَرُونَ الفاظ کیدل پکار دي. (ترمذي ابوداود)

حل اللغات: ① بَيَّتَكُمْ: د شپې حمله اوکړی په تاسو، ② شِعَارُكُمْ: پټه علامه اوخاص نښه.

(۱) اخرجه الترمذی فی کتاب الجهاد / باب ما جاء فی الصف والتعبیة عند القتال رقم الحدیث ۱۷۷۸

(۲) اخرجه الترمذی فی کتاب الجهاد / باب ما جاء فی الشعار رقم الحدیث ۱۷۸۳

تسهیلات: قوله: حم لَا يُنْصَرُونَ:

د نبی علیه السلام د کوډ ورډز اصطلاح: یعنی اې حکم نازلونکیه الله دَ کافرانو امدادمه کوه په فوجی اوجنګی اصطلاح کښې داسې مختصر الفاظو ته کوډ ورډ وائی دې دپاره چه دَ خپلو ملګرو دَ پیژندګلودپاره په میدان کښې یوعلامت وی

[۲۹۴۹] د اسلامی لښکر خفیه ټکی (کورډ ورډ)

۲۹۴۹- [۱۳] (¹) [۱] وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] كَانَ شِعَارُ الْمُهَاجِرِينَ: عَبْدَ اللّٰهِ، وَشِعَارُ الْأَنْصَارِ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او سمره ابن جندب رضی الله عنه وایي [۲] یوي بلي غزاکي لفظ عبد الله د مهاجرینو علامه وه او لفظ عبد الرحمن د انصارو علامه وه. (ابوداود)

[۲۹۵۰] د مسلمانانو شعار (أَمِتْ)

۲۹۵۰- [۱۴] (²) [۱] وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ [۲]: غَزَوْنَا مَعَ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، زَمَنَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَبَيَّتْنَاهُمْ نَقْتُلُهُمْ، [۳] وَكَانَ شِعَارُنَا تِلْكَ اللَّيْلَةَ: أَمِتْ أَمِتْ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] سلمه ابن اکوع وایي [۲] د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې مونږ یو وخت د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په سربراهي کې جهاد وکړو مونږ دښمنانو باندې د شپې حمله وکړه او هغوی مو قتل کړل [۳] او په هغه شپه زمونږ شناختي علامه اَمِتْ اَمِتْ الفاظ وه: د دې الفاظو معنی ده اې الله! دښمن د مرګ په ګودر کوز کړې (ابوداود)

حل اللغات: ① فَبَيَّتْنَاهُمْ: د شپې حمله اوکړه مونږه په هغوی باندې. ② أَمِتْ أَمِتْ: مړه ئې کړې. مړه ئې کړې.

تسهیلات:

قوله: وَكَانَ شِعَارُنَا تِلْكَ اللَّيْلَةَ: أَمِتْ أَمِتْ:

د مذکوره جملې مطلب: دلته تکرار تاکید دپاره دې. بعضې حضراتو فرمایلی دی چه مخاطب الله تعالی دې چه یاالله دا دښمنان زمونږ په لاس هلاک او تباه کړې او یا کفر ختم کړې چه ټول کفار مسلمانان شی.

[۲۹۵۱] د جنګ په وخت کښې د شور کولو کراهت

۲۹۵۱- [۱۵] (³) [۱] وَعَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] كَانَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَكْرَهُونَ الصَّوْتَ عِنْدَ الْقِتَالِ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

(¹) اخرجه ابوداود فی کتاب الجهاد / باب فی الرجل ینادی بالشعار رقم الحدیث ۲۵۹

(²) اخرجه ابوداود فی کتاب الجهاد رقم الحدیث ۲۵۹۸

(³) اخرجه ابوداود فی کتاب الجهاد / باب فیما یومر به من الصمت عند اللقاء رقم الحدیث ۲۶۵۸

ترجمه: [۱] قیس ابن عباد رحمه الله وايي [۲] د رسول الله ﷺ صحابه و رضي الله عنهم به د جنګ په میدان کې د جنګ په وخت د الله نوم اخستو څخه علاوه شور وشغب نه خوښوی

تسهیلات:

قوله: يَكْرَهُونَ الصَّوْتَ:

په جهاد کښې فخریه نعرې بد ګڼل: امام مظهر رحمه الله فرمائی چه د جنګ کونکو عام عادت دا وي چه د جنګ په وخت کښې د ډیر تعداد په وجه یا دښمن لره د ویرولو په وجه یا د شجاعت او بهادری ښکاره کولو په وجه اوچت آوازونه کوی او دا وائي "أنا الشجاع الطالب للحرب" لیکن صحابه کرامو به دغه شان آوازونه بد او مکروه ګڼل بلکه صحابه کرامو به د الله تعالی ذکر کولو او الله اکبر به ئي وئيلو. (التعليق الصبيح ج ۴، ص ۳۶۰)

[۲۹۵۲] د دښمن د ماشومانو د قتلولو ممانعت

> ۲۹۵۲ - [۱۶] (۱) [۱] وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "«اقْتُلُوا شُيُوخَ الْمُشْرِكِينَ، وَاسْتَحْيُوا شَرْخَهُمْ" ; أَيْ صِبْيَانَهُمْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] سمره ابن جندب رضي الله عنه د رسول کریم ﷺ څخه نقل کوي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۲] د مشرکینو یعنی دښمنانو لوی عمر واله خلق قتلوئ او دهغوی کم عمره بچي ژوندي پریږدئ. (ترمذي ابوداود)

حل اللغات: ① شُيُوخَ: ډیر عمر والا، بوډاګان. ② اسْتَحْيُوا: ژوندی پریږدئ. ③ شَرْخَهُمْ: أَيْ صِبْيَانَهُمْ: ماشومان دهغوی.

تسهیلات: قوله: شُيُوخَ الْمُشْرِكِينَ:

دشيوخ څخه مراد: دَ شیوخ مفرد شیخ دې دلته دَ شیخ نه مراد بوډا نه دي بلکه دَ بچو په مقابله کښې ځوانان او سړی مراد دي.

[۲۹۵۳] د دښمن د باغونو او فصلونو د سوزولو جواز

> ۲۹۵۳ - [۱۷] (۲) [۱] وَعَنْ عُرْوَةَ قَالَ [۲]: «حَدَّثَنِي أُسَامَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ عَهِدَ إِلَيْهِ قَالَ: [۳] "أَغِرْ عَلَى أُبْنَى صَبَاحًا وَحَرِّقْ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت عروه رحمه الله وايي [۲] چې حضرت اسامه رضي الله عنه ماته دا بیان وکړو هرکله چې رسول الله ﷺ اسامه رضي الله عنه د یولښکر امیر جوړولو سره جهاد د پاره ولیږلو نو دا هدایت او تاکید یي ورته وکی [۳] چې ته اُبنا باندې دسهار په وخت کې حمله وکړه او د دښمن کور بار فصل او درمن او ونې او باغونه وسوزوه (ابوداود)

---

(۱) اخرجه ابوداود فی کتاب الجهاد / باب فی قتل النساء رقم الحدیث ۲۶۷۲
(۲) اخرجه ابوداود فی کتاب الجهاد / باب فی الحرق فی بلاد العدو رقم الحدیث ۲۶۱۸

حل اللغات: ① أَهِرْ: يعنى په كافرانو باندې تباهى اوبربادى واچوئ ② أَبْنَى: دا په شام كښې دَ يوځائى نوم دې دلته حضورپاك دَ تباهئى اوبربادئى حكم وركړې وو

تسهيلات:

نوټ: ترجمې څخه مطلب واضح دې

[٣٩٥٤] د نږدې څخه په دشمن د حملې كولو هدايت

٣٩٥٤-[١٨]() ① وَعَنْ أَبِي أُسَيْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمَ بَدْرٍ: " ② إِذَا أَكْثَبُوكُمْ فَارْمُوهُمْ، ③ وَلَا تَسُلُّوا السُّيُوفَ حَتَّى يَغْشَوْكُمْ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او ابو اسيد ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ د جنګ بدر په ورځ د اسلام مجاهدينو ته وفرمايل ② په ميدانِ جنګ كې چې كفار يعنى دښمن تاسو ته بالكل نږدې راشي نو په هغوى تير چلوئ ③ او توره ترهغه وخته پورې د تيكي څخه مه را اوباسئ ترڅوپورې چې هغوى تاسو ته بالكل نږدې راونه رسيږي. (ابو داود)

حل اللغات: ① وَلَا تَسُلُّوا: تاسو ما راؤباسى. ② يَغْشَوْكُمْ: پټ كړى تاسو يعنى بالكل رانږدې شى تاسو ته.

تسهيلات:

قوله: حَتَّى يَغْشَوْكُمْ:

د كافرانو د مقابلې دپاره دوه طريقې: د حديث الباب نه دا خبره ظاهره شوه چه كله كفار لرې وى نو په غشو باندى په هغوئ حمله كوى او كله چه هغوى نږدى شى نو بيا په تورو باندى جنګ كوئ

[٣٩٥٥] د دښمن د مزدورانو او خادمانو د قتلولو ممانعت

٣٩٥٥-[١٩]() ① وَعَنْ رَبَاحِ بْنِ الرَّبِيعِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ ②: «كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي غَزْوَةٍ فَرَأَى النَّاسَ مُجْتَمِعِينَ عَلَى شَيْءٍ، فَبَعَثَ رَجُلًا فَقَالَ ③: " انْظُرُوا عَلَى مَا اجْتَمَعَ هَؤُلَاءِ؟ ④ " فَجَاءَ فَقَالَ: عَلَى امْرَأَةٍ قَتِيلٍ ⑤ فَقَالَ: " مَا كَانَتْ هَذِهِ لِتُقَاتِلَ ⑥ " وَعَلَى الْمُقَدِّمَةِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ، ⑦ فَبَعَثَ رَجُلًا فَقَالَ: " قُلْ لِخَالِدٍ: لَا تَقْتُلِ امْرَأَةً وَلَا عَسِيفًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او رباح ابن ربيع ﷺ وايي ② مونږ په يوه غزاكې د رسول كريم ﷺ سره د جنګ په ميدان كې وو حضور ﷺ وليدل چې څه خلق په يوځاى كې په څه شي سره جمع دي حضور ﷺ يو سړى وليږلو او وي فرمايل ③ هلته لاړشه او وګوره خلق څه شي سره جمع كيږي؟ ④ هغه سړى واپس راغلو عرض يي اوكړو چې يوه ښځه قتل شويده خلق د هغه لاش ته راجمع شوي دي ⑤ حضور ﷺ وفرمايل هغه ښځې خو جنګ نه كوي ⑥ بيا هغه

() اخرجه ابوداود فى كتاب الجهاد / باب فى سل السيوف عند اللقاء رقم الحديث ٢٦٦٤

() اخرجه ابوداود فى كتاب الجهاد / باب فى قتل النساء رقم الحديث ٢٦٧١

ولي قتل شوه د لښکر د مخکنو صفونو مقدمة الجيش کی حضرت خالد بن وليد رضی الله عنه وو [۷] نو حضرت خالد ته يي څوک واستولو اودا فرمان يي ورکړو چې ښځې او مزدوران مه وژنه. (ابوداود)

حل اللغات: ① الْمُقَدِّمَةِ: د لښکر رومبنی خلق. ② عَسِيفًا: خادم، غلام

تسهيلات: قوله: وَلَا عَسِيفًا:

دعسيف معنی: عسيف يعني اجير او خادم کوم چه د جنګجو سره د هغه د خدمت دپاره وی، يعنی غلام اوښځې په جهاد کښې مه قتلوئ.

[۲۹۵٦] جهاد ته د تګ په وخت کښې مجاهدينو ته هدايات

٣٩٥٦-[٢٠] (١) [١] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ [٢]: «انْطَلِقُوا بِاسْمِ اللّٰهِ، وَبِاللّٰهِ وَعَلَى مِلَّةِ رَسُولِ اللّٰهِ، [٣] لَا تَقْتُلُوا شَيْخًا فَانِيًا، وَلَا طِفْلًا صَغِيرًا، وَلَا امْرَأَةً، [۴] وَلَا تَغُلُّوا، [٥] وَضُمُّوا غَنَائِمَكُمْ، [٦] وَأَصْلِحُوا، [٧] وَأَحْسِنُوا فَإِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] وحضرت انس رضی الله عنه وايي رسول کريم صلی الله عليه وسلم د مجاهدينو جهاد ته د ليږلو په وخت دا هدايات ورکړل [٢] ځئ د الله په نوم اخستوسره د الله تائيد او توفيق سره او د الله د رسول په دين باندې د دغه ځای څخه کوچ کوئ [٣] ياد لرئ شيخ فاني يعنی ډيربوډا سړي مه وژنئ. مه وړوکې هلك او مه ښځه قتلوئ [۴] د غنيمت په مال کې خيانت مه کوئ [٥] د غنيمت مال جمع کوئ [٦] په خپل مينځ کې صلح او صفايي ساتئ [د اصلحوا ① يوه معنی خو داده چې تاسو مجاهدين خپل تنازعات ختمولو سره د يوبل سره ميل ميلاپ سره اوسئ ② يا دا معنی ده که تاسو مصلحت ووينئ نو د دښمن سره صلح کوئ ③ او دا معنی هم کيدی شي چې تاسو خپل ديني او دنياوي معاملات ټيك ساتئ] [٧] او په خپلو کې يو د بل سره خير ښيګړه کوئ ځکه چې الله تعالی خير ښيګړه کونکی دوست لري

تسهيلات:

نوټ ددې حديث شرح وړاندې د حديث نمبر (۳۹۴۲) په تسهيل کښې تيره شوې ده.

[۲۹۵۷] دبدر د جنګ آغاز

٣٩٥٧-[٢١] (٢) [١] «وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ [٢]: لَمَّا كَانَ يَوْمُ بَدْرٍ تَقَدَّمَ عُتْبَةُ بْنُ رَبِيعَةَ، وَتَبِعَهُ ابْنُهُ وَأَخُوهُ، [٣] فَنَادَى: مَنْ يُبَارِزُ؟ [۴] فَانْتُدِبَ لَهُ شَبَابٌ مِنَ الْأَنْصَارِ، فَقَالَ: مَنْ أَنْتُمْ؟ فَأَخْبَرُوهُ. [٥] فَقَالَ: لَا حَاجَةَ لَنَا فِيكُمْ، إِنَّمَا أَرَدْنَا بَنِي عَمِّنَا. [٦] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "قُمْ يَا حَمْزَةُ! قُمْ يَا عَلِيُّ! قُمْ يَا عُبَيْدَةُ بْنَ الْحَارِثِ! [٧]" فَأَقْبَلَ حَمْزَةُ إِلَى عُتْبَةَ، وَأَقْبَلْتُ إِلَى شَيْبَةَ، [٨] وَاخْتَلَفَ بَيْنَ عُبَيْدَةَ وَالْوَلِيدِ ضَرْبَتَانِ، فَأَثْخَنَ كُلُّ

(١) اخرجه ابوداود في كتاب الجهاد / باب في دعاء المشركين رقم الحديث ٢٦١٤

(٢) اخرجه ابوداود في كتاب الجهاد / باب في المبارزة رقم الحديث ٢٦٦٥

وَاحِدٍ مِنْهُمَا صَاحِبَهُ، [۹] ثُمَّ مِلْنَا عَلَى الْوَلِيدِ فَقَتَلْنَاهُ، وَاحْتَمَلْنَا عُبَيْدَةَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت علي كرم الله وجهه وايي [۲] كوم وخت چې د جنګ بدر ورځ راغله او د جنګ په ميدان کې د اسلام مجاهدين او د مكي كفار د يوبل مخکې صف آراشول [۳] نو د مكي د كفارو څخه عتبه ابن ربيعه د جنګ د پاره صف څخه راوتلو سره را مخکې شو هغه پسي د هغه ځوی يعني وليد ابن عتبه او د هغه ورور شيبه ابن ربيعه هم راغلو عتبه په چغه اوويل څوك شته چې زمونږ مقابلي ته د جنګ د پاره ميدان ته راشي [۴] د اسلام د مجاهدينو د جانب څخه د دې جواب د انصارو څو ځوانانو ورکی يعني هغوی عتبه او د هغه د ملګرو سره جنګ كولو د پاره صف څخه ميدان ته راووتل عتبه چې هغوی وليدل نو پوښتنه يي ورڅخه وكړه چې تاسو څوك يئ؟ هغه ځوانانو عتبه ته وښودل چې مونږ د مديني انصار يو [۵] عتبه ورته اوويل مونږ ته ضرورت نشته يعني مونږ ستاسو سره د جنګ اراده نه لرو بلكه مونږ خو د خپل ترۀ ځامنو يعني مكي څخه هجرت كولو سره تلونكو قريشي مسلمانانو سره جنګ كول غواړو [۷] په دي اوريدو سره رسول كريم ﷺ خپل صف مخاطب كولو سره وفرمايل اې حمزه رضي الله عنه ته ودريږه اې علي رضي الله عنه ته ودريږه اې عبيده ابن حارث ته ودريږه [او مخکې كيدو سره طاقت نشه كې د دې سرمستو د غرور او تكبر سرمات كړ] نو حمزه رضي الله عنه د عتبه مقابلي ته ورغلو [او هغه يې قتل كړو] او زه [يعني علي رضي الله عنه] د شيبه مقابلي ته ورغلم [او هغه مې قتل كړو] [۸] او د عبيده او وليد په مينځ كې دوه سخت ګذارونه وشول او په هغوی كې هريوه خپل مقابل زخمي او كمزوری كی [۹] بيا مونږ په وليد حمله وكړله او هغه مو قتل كړو او عبيده چې د وليد د ګذار څخه سخت زخمي شوی وو د جنګ د ميدان څخه مو په پورته كولو سره راوړو

حل اللغات: ①مَنْ يُبَارِزُ: څوک شته زمونږ دمقابلې؟ ②فَانْتَدَبَ: نو راووتل. ③فَأَثْخَنَ: نو زخمي كړو. ④مِلْنَا: حمله اوكړه مونږ. ⑤احْتَمَلْنَا: راپورته كړو مونږ

تسهيلات:

قوله: وَكَانَ شِعَارُنَا:

د كافرانو د طرف د مبارزې اعلان: د سيدنا علي رضي الله عنه نه روايت دې (چه په جنګ بدر كښې) درې كفار عتبه بن ربيعه او د هغه نه روستو د هغه ځوئې وليد بن عتبه. او د عتبه رور شيبه بن ربيعه. دا درې واړه ميدان ته رامخكښې شو او هر يو چغه كړې چه (من يبارز؟) نو د هغې په جواب كښې درې انصاری ځوانان ميدان ته راغلل (عبدالله بن رواحه. عوف بن عفراء. معوذ بن عفراء) چه كله دوی مقابلې ته راغلل نو عتبه ترې تپوس اوكړو (من انتم؟) هغوی ورته اووې چه مونږ فلانې فلانې يعني د انصارونه يو.

قوله: لَاحَاجَةَ لَنَا فِيكُمْ:

دانصاروسره د مقابلې څخه انکار: نو هغه ډیر په فخر او تکبر سره اووې چه مونږ ته ستاسو ضرورت نشته (انما اردنا بنی عمنا) مونږ ته خو د مقابلې دپاره د خپل خاندان قریشو سړی پکار دی، رسول اللهﷺ او مسلمانانو دا ټول منظر لیدلو. پس هغه وې فرمائیل (قم یاحمزة، قم یاعلی، قم یاعبیدة ابن الحارث) پس دا درې واړه حضرات میدان ته راغلل چونکه مقابله فردا فردا وه په دې وجه سیدنا حمزه رضی الله عنه د عتبه طرف ته متوجه شو. علی رضی الله عنه فرمائی چه زه د شیبة طرف ته متوجه شوم (دې دواړو خو خپل مقابل الحمد الله ختم کړل) وړاندې علی رضی الله عنه فرمائی ء د عبیده او د هغه د مقابل ولید ترمینځه مقابله اوشوه. هر یو بل لره زخمی کړو (مونږ چونکه فارغ شوې وو نو مائل شو د ولید طرف ته) او هغه مو قتل کړو. او خپل ملګرې عبیده مو د میدان نه راوچت کړلو.

په اسلام کښې اولنۍ مبارزه: حافظ لیکلې دی چه دا د ټولو نه اولنۍ مبارزه ده کومه چه په اسلام کښې پیښه شوې ده. ابن قدامه په جواز مبارزه باذن الامام کښې دا واقعه هم پیش کړې ده د دې نه علاوه هم بعض نور مثالونه د دې لیکلې شوې دی چه د هغې نه په بعض کښې د امام اذن هم ثابت نه دې، که څوک غواړی هلته دې اوګوری. د حدیث الباب نه معلومیږی چه مبارزه باذن الامام او بغیر د اذن الامام دواړه جائز دی لکه چه دا د جمهورو مسلک دې، ځکه چه د حمزه او علی مبارزه خو بالاذن وه خو د انصارو مبارزه بغیر د امام د اذن نه وه. لم ینکر علیهم النبی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ، قاله الخطابی.

قوله: ثُمَّ مِلْنَا عَلَى الْوَلِيدِ فَقَتَلْنَاهُ:

دمبارز دااعانت حکم: دلته یوه مسئله بله اختلافی ده، هغه دا چه د مبارز اعانت جائز دې یا نه؟ د قیاس تقاضه خو دا ده چه جائز نه وی ځکه چه مقابله د کافر سره ده. پس د امام اوزاعی او سحنون مالکی په نزد دا اعانت مکروه دې لکن عند الجمهور تجوز لهذا الحدیث. (اوجز) په دې حدیث باندې منذری سکوت کړې دې او د دې تخریج ئې نه دې کړې. په صحیح بخاری کښې مختصرادا دی. قیس بن عباد فرمائی چه دا آیت کریمه (هذان خصمان اختصموا فی ربهم) د هغه خلقو په باره کښې نازل شوې دې چا چه په جنګ بدر کښې مبارزه کړې وه. حمزه او علی او عبید حافظ لیکی چه په دې روایت کښې د مبارزه تفصیل نه دې ذکر شوې او بیا د دې نه روستو حافظ د سیرة ابن اسحاق وغیره نه د دې مبارزې تفصیل ذکر کړې دې (فتح الباری (ص ۴۶ ج ۷)

[٢٩٥٨] د مدد رارسيدو په غرض د ميدان څخه د تختيدو جواز

٢٩٥٨- [٢٢] ()[١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [٢] «بَعَثَنَا رَسُولُ اللّٰهِ فِي سَرِيَّةٍ، [٣] فَحَاصَ النَّاسُ حَيْصَةً [٤] فَأَتَيْنَا الْمَدِينَةَ، فَاخْتَفَيْنَا بِهَا، وَقُلْنَا: هَلَكْنَا"، [٥] ثُمَّ أَتَيْنَا رَسُولَ اللّٰهِ- صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! نَحْنُ الْفَرَّارُونَ. [٦] قَالَ: "بَلْ أَنْتُمُ الْعَكَّارُونَ وَأَنَا فِئَتُكُمْ» "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت ابن عمر ﷺ وايي [٢] يو وخت رسول كريم ﷺ يوخاى ته د جهاد د پاره زمونږ يولښكر وليږلو [٣] هلته رسيدو سره زمونږ د لښكر خلق په تيښته شول [٤] نو مونږ مديني ته واپس راغلو نو د شرم او ندامت څخه خپلو كورونو كې پټ كيناستو او مونږ په خپل مينځ كې خپل زړه كې اوويل چې د دښمنانو د مقابلي څخه تښتيدو سره مونږ چې كومه ګناه كړي ده د هغه په وجه خو ګويا مونږ هلاك شو [٥] بيا مونږ درسول كريم ﷺ په خدمت كې حاضر شوو او عرض مو وكړو يارسول الله! مونږ خو په ميدان پرېښودلو سره را تښتيدونكي خلق يو [٦] حضور ﷺ وفرمايل نه بلكه تاسو دوباره حمله كونكي خلق يئ او زه ستاسو جماعت يم. (ترمذي)

[١] وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ نَحْوَهُ وَقَالَ: "«لَا، بَلْ أَنْتُمُ الْعَكَّارُونَ" [٢] قَالَ: فَدَنَوْنَا فَقَبَّلْنَا يَدَهُ [٣] فَقَالَ: "أَنَا فِئَةُ الْمُسْلِمِينَ» ". [٤] وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ أُمَيَّةَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ: كَانَ يَسْتَفْتِحُ. وَحَدِيثُ أَبِي الدَّرْدَاءِ " ابْغُونِي فِي ضُعَفَائِكُمْ" فِي بَابِ "فَضْلِ الْفُقَرَاءِ" إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالَى.

ترجمه: [١] او ابوداود هم داسې روايت نقل كړي دى او په هغه كې دا الفاظ دي چې نه بلكه تاسو دوباره حمله كونكي خلق يئ [٢] ابن عمر ﷺ وايي امونږ چې وليدل چې حضور زمونږ څخه د څه جواب طلب كولو يا څه سرزنش كولو په ځاى شفقت آميز آنداز كې زمونږ حوصله آفزائي وكړله نو د زيات عقيدت او محبت څخه! مونږ حضور ﷺ ته ورنزدي شو او دحضور ﷺ لاس مبارك مو ښكل كړو [٣] حضور ﷺ وفرمايل زه د مسلمانانو جماعت يم [٤] اوحديث داميه بن عبدالله كان يستفتح الخ اوحديث دابو درداء ابغوني في ضعفائكم به په باب فضل الفقراء كې ذكر كړو ان شاء الله تعالى

حل اللغات: ① حَاصَ: اوتختيدل. ② حَيْصَةً: په تيښته كولوسره. ③ فَاخْتَفَيْنَا: نو پټ كيناستو مونږ. ④ الْفَرَّارُونَ: دمبالغې صيغه ده. ډيره تيښته كونكى. زيات تختيدونكى. ⑤ الْعَكَّارُونَ: دمبالغې صيغه ده. دوباره حمله كونكى. بار بار حمله كونكى. ⑥ فَدَنَوْنَا: نومونږ نزدې شو. ⑦ فِئَةُ: جماعت. ډله

[١]) اخرجه الترمذي في كتاب الجهاد / باب ما جاء في الفرار من الزحف رقم الحديث ١٨٢٠

تسهیلات:

قوله: بَلْ أَنْتُمُ الْعَكَّارُونَ وَأَنَا فِئَتُكُمْ:

دصحابؤ دخالدبن ولید په ویناواپس کیدوباندې د تیختې گمان کول: مطلب هم دغه دي چه تاسو دَدښمن نه تختیدلی نه ئی بلکه دَخپل مرکز طرف ته راغلی ئي صحابه کرامو خیال اوکړو چه مونږ راؤتختیدو حقیقت داسې نه وو بلکه حضرت خالد بن ولید په ډیر هوښیارتوب سره صحابه دَ تنگ مقام نه شاته راوستل اوبیا په کولاؤ میدان کښې اوجنگیدل نودښمن اوتختیدو صحابه واپس راغله حضرت خالد رضي الله عنه چه فوج دکومې حکمت عملئی لاندې شاته کړې وو هم دغه صحابه کرامو تیختنه اوگڼړله

دحدیث پس منظر: سیدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما خپله یوه واقعه عبدالرحمن بن ابی لیلی ته بیانوی چه یو کرت زه په یوه سریه کښې اوم د رسول الله ﷺ د سرایا نه. زمونږ د سریه والا د انهزام او شکست د وجې نه د جنگ نه اوتختیدل. زه هم په تیختنه کونکو کښې اوم. پس چه کله مونږ د میدان جنگ نه راوتلو نو مونږ سوچ اوکړو بلکه خپل مینځ کښې مو یو بل ته اووې چه اوس څه اوکړو مونږ خو د جنگ نه تختیدلي یو. او واپس شوي یو د الله پاک په غضب سره، یعنی داسې کار مو کړې دي کوم چه د الله پاک او د هغه د رسول د غضب باعث وی. نو مونږ د هغه سره دا صلاح او مشوره اوکړه چه مدینې منورې ته داخل شو. یعنی په مدینه کښې د شپې په وخت داخلیدو سره خپلو خپلو ورونو ته اورسیږو نو د شپې به مو څوک وینی هم نه. بیا د سحر په وخت به د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو. هغه فرمائی. پس مونږ مدینې ته داخل شو بیا به د تجویز او ارادې مطابق سحر د رسول الله ﷺ په خدمت کښې د تلو اراده اوکړه په دې خیال چه که زمونږ قصور معاف کیږی نو په مدینه منوره کښې به ایسار شو. او که داسې نه وی نو د مدینې منورې نه به چرته لرې لاړ شو.

دصبا دمانځه نه وړاندې د نبی علیه السلام د دروازې سره ناسته: هم دا ټول مضمون مونږ په ذهن کښې ساتلو سره د سحر د مانځه نه مخکښې د هغه د حجرې په دروازه باندې کیناستلو. چه کله رسول الله ﷺ بهر تشریف راوړلو نو مونږ د هغه په لیدو باندې اودریدو. او د خپل جرم اعتراف کولو سره مو هغه ته عرض اوکړو ﴿ نحن الفرارون ﴾ چه مونږ ټول میدان جنگ نه تیختنه کونکی یو. رسول الله ﷺ زمونږ طرف ته متوجه شو او وې فرمائیل ﴿ لا بل انتم العکارون ﴾ رسول الله ﷺ اوفرمائیل نه بلکه تاسو واپس کیدو سره دوباره حمله کونکی یئ «د رسول الله ﷺ دا طرز عمل او کلام اوریدلو سره په مونږ کښې ساه راغله او په هغه باندې مو خان قربان کړو. پس وړاندې په روایت کښې دی»

بس مونږ هغه ته نور هم نږدې شو او مونږ ټولو د هغه لاس مبارک خکل کړو.

قرآني آيت طرف ته اشاره: رسول الله ﷺ زمونږ نوره هم توجه پيدا کړه او وې فرمائيل (**انا فئة المسلمين**) چه زه د مسلمانانو پناه ګاه يم او د مرکزی فوج قائم مقام يم. رسول الله ﷺ هغوی ته (**عكارون**) اوفرمائيلو. يعنی (**متحيزون**) او دا اشاره ده د آيت کريمه طرف ته (**وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَى فِئَةٍ فَقَدْ بَاءَ بِغَضَبٍ مِنَ اللَّهِ**) يعنی کوم سړې چه ميدان جنګ پريخودلو سره اوتختی هغه د الله پاک د غضب مستحق وی. خو د دې حکم نه دوه مستثنی دی. يو متحرف لقتال. او يو متحيز الی فئة. يعنی دا دوه کسان د فرار من الزحف په وعيد کښې داخل نه دی. او رسول الله ﷺ د ابن عمر رضي الله عنه دې سريه ته (**متحيزا الی فئة**) نه شمار کړل. د دې مطلب دا دې چه که مسلمان فوجی د مختصر او ناکافی کيدو د وجې نه د ميدان جنګ نه په دې وجه واپس شی چه د مرکزی فوج نه تعاون حاصل کړی نو بيا دا په دې وعيد کښې داخله نه ده. او دا فرار. فرار نه دې. په داسې طريقه چه رسول الله ﷺ هغه خلقو ته فرمائی او تسلی ورکوی چه ستاسو دا تيخته فرار نه دې بلکه **تحيزالی فئة** دې. مدينه منوره او رسول الله ﷺ په منزله د مرکزی فوج دی. لهذا تاسو دوباره د مقابله کولو دپاره دلته ماته د مدد اخستلو دپاره راغلی يئ.

د حديث په متابعت کښې دحضرت عمر رضي الله عنه قول: حافظ ابن کثير فرمائی چه په يوه موقع باندې سيدنا عمر رضي الله عنه هم داسې فرمائيلې وو. چه کله په جنګ جسر کښې د مجوسيانو د لښکر د کثرت وجې ابو عبيد شهيد کړې شو د وجې نه نو سيدنا عمر رضي الله عنه اوفرمائيل (**لوانحازالی کنت له فية**) چه که هغه زما طرف ته راغلې وې يعنی په طور د مدد طلب کولو نو زه به د هغوی دپاره (**فية**) ثابت شوې وې

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۹۵۹] د طائف غزوه کښې د منجنيق (منجنيق) استعمال

۲۹۵۹ - [۲۳] (¹) [۱] عَنْ ثَوْبَانَ بْنِ يَزِيدَ: [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَصَبَ الْمَنْجَنِيقَ عَلَى أَهْلِ الطَّائِفِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ مُرْسَلًا

ترجمه: [۱] او ثوبان ابن يزيد ځخه روايت دی [۲] چې نبي کريم ﷺ د اهل طائف په مقابله کې منجنيق نصب کی دا روايت ترمذي بطريق ارسال نقل کړي دی

(¹) اخرجه الترمذی فی کتاب الادب / باب ما جاء فی الاخذ من اللحية رقم الحديث ۲۹۸۹

حل اللغات: ①نَصَبَ: نصب ئې کړل. اوئې لګول. ②الْمَنْجَنِيقَ: چمرېټاق. پټاقه ‹د کانړي ويشتلو آله. لينده›

تسهيلات: قوله: نَصَبَ الْمَنْجَنِيقَ:

د منجنيق د استعمال طريقه: دا په اصل کښې دَ فارسئى لفظ دې يعنى "من چه نيک" زه ښومره ښه يم دا به يوجنګی وسله وه کومه چه به په لاس باندې استعماليدله اودَ نن صبا دَ راکټو کاربه ئې کولو. دَدې به دا صورت وو چه يولوئى کانړې به ئې په دې آله کښې کيخودو او رابنکلوبه ئې اوبيابه ئې وړېريخودلو هغه کانړې به په زوره لاړو قلعې سره به اولګيدلو په کوم سره چه به ديوالونه ماتيدل بيا به صحابه کرام دننه وردا خليدل

د طائف دقلعې فتح کولودپاره په اول ځل د منجنيق استعمال: دَ طائف قلعه چونکه ډيره مضبوطه وه او په دې کښې مالک بن عوف دکافرانو کمان کولو ۲۵ ورځو پورې قلعه فتح نه شوه په دې وجه دَدې دَپاره منجنيق استعمال کړې شو په اسلام کښې دا ړومبې موقع ده چه صحابه کرامو منجنيق استعمال کړو. په دې جنګ کښې حضرت طفيل بن عمرو ﷺ ته منجنيق اوټينک ملاؤشوې وو. دَ ياجرش مقام نه دوو صحابه کرامو ټينک راوستلې وو اودلته استعمال شوې هم وو. بل حضورپاک دَ قلعه نه چاپيره تراخه ازغى خواره کړى وو چه دننه نه څوک په تيختنه لاړنه شي

دطائف موجوده محل وقوع: طائف نن هم دَ حجاز لوئى ښار دې دَ مکې نه ۳۶ يا ۴۵ ميل فاصله باندې واقع دې کوم چه ۹۰ کلوميټر دې نن صبا چه کوم ځائى ته مشناة وائى هم په دې ځائى کښې اصل طائف آباد وو دې وخت کښې په طائف کښې دوه باغونه دى چرته چه دوه واړه واړه جماتونه جوړشوى دى دَيوجمات نوم مسجد على دې اودَدويم جمات نوم مسجد الجعشى دې دَدې دوو جماتونو په مينځ کښې يو وادى ده دکوم نوم چه "وج" دې دَمحققينوخيال دې چه هم دَدې مقام نه حضورپاک دَ طائف محاصره کړې وه اوغالبًا هم په دې ځائى حضورپاک منجنيق نصب کړې وو نن صبا چه دَ طائف جامع مسجد کوم ځائى جوړدې هم په دې ځائى حضور پاک په طائف کښې قيام کړې وو

[۵] بَابُ حُكْمِ الْأُسَرَاءِ

د قیدیانو د احکاماتو بیان

خلاصة الباب:

فيه سبعة عشر حديثاً مشتملة على اثنى عشرة مسئلة:

① فضيلة من يقاد إلى الجنة في السلاسل: ١.

② جواز قتل الجاسوس: ٢، ٣.

③ حكم التنفيل بسلب الجاسوس: ٢، ٣.

④ جواز حبس العدو: ٤، ٥، ٧، ١٥.

⑤ التثبت في أمر الأسير: ٥، ٧، ١٧.

⑥ جواز فك الأسير بشفاعة أحد: ٦.

⑦ إلقاء القتلى في البيرذلة لهم: ٨.

⑧ رد الأسارى إلى المقاتلين بعد توبتهم: ٩.

⑨ التفدية بالأسير بالعوض المالي: ١٠، ١٤.

⑩ حكم المن على الأسير: ١١، ١٢.

⑪ حكم قتل الأسير: ١٢، ١٣، ١٥، ١٧.

⑫ عدم رد من هاجر إلى دار الإسلام قبل تمام الصلح: ١٦.

قوله الْأُسَرَاءِ:

د اسیر لغوی معنی: أسراء د اسیر جمع ده . اسیر قیدی او راګیر شوی سړی ته وائی د جنګ په میدان کښې چه څنګه مقابله کیږی او خلق وژلې کیږی هلته خلق ګرفتارولې هم شی ګرفتار د دواړو طرفونو وی د مسلمانانو هم وی او د کافرانو هم وی

د قیدیانو سره څلور طریقې اختیارول: ①کله هسې بغیر د څه عوضه احسان کولو سره پریخودې شی لکه اندیا چې په پاکستان باندې په اوویشتمې فروری کال ۲۰۱۹ کښې حمله اوکړه او پاکستانی پائلټ هغوی جهاز اوغورځولو . او د هغوی یو پائیلټ ئې ګرفتار کړو چې نوم ئې ابی نند وو . او زمونږ وزیر اعظم عمران خان هغه اندیا ته بغیر د څه عوض او بدلې څخه واپس حواله کړو اګرچې په دې واپس کولو باندې ډیر پاکستانیان خفه وو

④ کله دَ قيديانو بدلون کولې شی لکه څنګه چې پاکستان په کال ۲۰۲۰ کښې د ملائشيا سره د قيديانوتبادله کړې وه.

⑤ کله په تاوان اداکولوسره خلاصولې شی لکه څنګه چې پاکستان د امريکې ريمنډوس امريکې څخه عوض واخستلو اوامريکې ته ئې حواله کړو

⑥ کله قتلولې هم شی لکه څنګه چې په يو جنګ کښې مسلمانانود يهوديانو قيديان قتل کړی وو نوپه اسلام کښې دَ قيديانو مکمل قوانين موجود دی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۹٦۰] په هتکړو کښې جنت ته داخليدل

٣٩٦٠ - [١] (١) [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، «عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] " عَجِبَ اللّٰهُ مِنْ قَوْمٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ فِي السَّلَاسِلِ» [٣] وَفِي رِوَايَةٍ: " «يُقَادُونَ إِلَى الْجَنَّةِ بِالسَّلَاسِلِ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] او ابوهريره رضی الله عنه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه نقل کوي چې رسول کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل [٢] الله په هغه قوم باندې تعجب کوي يعنی هغه خلقو څخه خوشحاليږلو چې په زنځيرونو کې تړلي په جنت کې داخليږي [٣] او په يو روايت کې دا الفاظ دي چې الله جَلَّ جَلَالُهُ د هغه خلقو څخه خوشحاليږلو چې په زنځيرونو کې تړلي جنت طرف ته بوتلل شي (بخاري)

حل اللغات: ① عَجِبَ: تعجب کوی. خوشحاليږی. ② السَّلَاسِلِ: زنځيرونه. ③ يُقَادُونَ: راوستلې به شی. بوتللې به شی.

تسهيلات:

قوله: عَجِبَ اللّٰهُ مِنْ قَوْمٍ:

دتعجب څخه مراد: الله تعالی په داسې قوم باندې تعجب اوفرمائيلو چه په زنځيرونو کښې تړلې به جنت کښې داخليږی تعجب دلته دَ رضا اوخوشحالئی په معنی کښې دې اومطلب دادې چه دَ داسې خلقو نه به الله تعالی راضی اوخوشحاله وی چه په زنځيرونو کښې تړلې شوی جنت ته داخليږی

قوله: يُقَادُونَ إِلَى الْجَنَّةِ بِالسَّلَاسِلِ

په هتکړو کښې جنت ته داخليدو کښې اقوال: ① دَ حديث اکثر شارحينو وئيلی دی چه دې نه هغه کافران مراد دی کوم چه مسلمانانو قيديان جوړکړی په زنځيرونوتړلې دارالاسلام ته راوستې دی اوهم په دغه حال کښې هغوی مسلمانان شوی دی. دَ جنت نه

(١) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد / باب الاساری فی السلاسل رقم الحديث ٣٠١٠

مراد بعض خلقو اسلام مراد اخستې دې څکه چه اسلام دَ جنت دداخليدو سبب دې په دې وجه على سبيل المجاز سبب وئيلو سره مسبب مرادواخستلې شو (١)

② علامه ابن جوزى رحمه الله وضع سلاسل په مجازباندې محمول کولوسره وئيلى دى:

يدخلون الجنة فى السلاسل "مطلب دا نه دې چه هغه خلق به په زنځيرونوکښې تړلې شوې اسلام کښې داخليږى بلکه دا دَاکراه نه کنايه ده اومطلب دادې چه هغه خلق قيدى جوړيدوسره دارالاسلام ته راوستې شى خوچه کله دَ اسلام دَ حقانيت معترف کيږى نو په خپله خوشحالئى به په اسلام کښې داخليږى. (٢)

③ علامه کرمانى رحمه الله اودَهغوى په اتباع کښې علامه برماوى رحمه الله فرمائيلى چه دَ قوم نه دلته هغه مسلمانان قيديان هم مراد کيدې شى چه کافرانوسره په زنځيرونوکښې تړلې وى او بيا په تړلوکښې وفات شى ياقتل کړې شى نو دَ حشر په ورځ به هغوى هم دغه شان راوچتولې شى دَ داسې خلقو جنت کښې داخيدل يقينى دى په دې وجه په حديث کښې دَ حشر په ورځ راوچتيدلوتعبير دخول جنت سره اوکړې شو (٣) خلاصه دا چه دَدې حضراتو په نيز "يدخلون الجنة فى السلاسل" حشرنه کنايه ده

④ ليکن علامه عينى رحمه الله فرمائيلى دى چه دکرمانى داتوجيه دَمجازدَ قبيل نه ده کله چه لفظ جنت دَهغې په حقيقى معنى محمول کولې شى نودا په مجاز باندې دَ محمول کولوڅه ضرورت دې اوڅه مانع هم نشته چه دَ جنت نه دلته مصداق حقيقى مراد وى او يدخلون الجنة فى السلاسل تقدير وى. يدخلون الجنة، وکانوا فى الدنيا فى السلاسل (٤)

⑤ علامه طيبى رحمه الله فرمائى دلته دَ سلاسل نه مراد دَ جذب هغه کيفيت دې چه دَ الله تعالى منتخب بنديګان دَ ضلالت نه هدايت طرف ته راکاږى اودَ قعرمذلت نه ښکته پريوتلو نه درجات عاليه طرف پورته راکاږى ښکاره خبره ده چه دَدې توجيه په صورت کښې دَحديث الفاظ په حقيقت باندې محمول نه دى په دې وجه حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عينى رحمه الله فرمائيلى دى چه دَعلامه طيبى رحمه الله دا توجيه هم دَ مجازدَ قبيل نه ده (٥) حقيقت دادې چه لفظ جنت نه دلته حقيقى معنى مراد اخستل راجح دى لکه چه دَعلامه عينى رحمه الله رائې ده اودَدې جملې مطلب دادې چه کله کافران مسلمانان په ميدان جهاد

[١] عمدة القارى:٤٨٢/٦ إرشاد السارى:٤٨٢/٦.
[٢] فتح البارى:١٧٩/٦ وإرشاد السارى:٤٨٢/٦.
[٣] شرح الكرمانى:٢٢/١٣عمدة القارى:٣٥٨/١٥ إرشاد السارى:٤٨٢/٦.
[٤] عمدة القارى٣٥٨/١٥.
[٥] فتح البارى:١٧٩/٦ عمدة القارى:٣٥٨/١٥.

کښې راګیر کړی او په زنځیرونو کښې اوتړی او قتل ئې کړی نو هغوی به هم په هغه حال کښې جنت ته داخلولې شی. دابه دهغوی دپاره داعزاز سبب وی چه هغوی داسې تکلیفونه او سختئی برداشت کولوسره دالله تعالی په لارکښې خپل ځان قربانی کړو والله اعلم

دغه شان وضع سلاسل هم په حقیقت باندې محمول دې هم دغه رائې دَ حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه قسطلانی رحمه الله هم ده.

د ابن جوزی اوعلامه طیبی د اقوالو تضعیف: دَ حافظ ابن جوزی رحمه الله په نیزدَدې نه اکراه اوعلامه طیبي رحمه الله په نیزدَدې نه دَ جذب کیفیت مراددې دا صحیح نه ده. حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه قسطلانی رحمه الله فرمائیلی دی چه وړاندې په کتاب التفسیرکښې حضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت نه دَدې تائیدکیږی چه وضع سلاسل په حقیقت باندې محمول دې حضرت ابوهریره رضي الله عنه دَ ﴿ كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ ﴾ تفسیر داسې کړې دې خیرالناس للناس یاتون بهم في السلاسل في أعناقهم حتی یدخلوا في الاسلام (۱)

حافظ ابن حجر رحمه الله دَ یوبل روایت نه هم استدلال کړې دې چه دَ ابوالطفیل رضي الله عنه دَ طریق نه امام بخاری رحمه الله مرفوعًا نقل کړې دې

روایت دادې رأیت ناسا من امتي یساقون إلی الجنة في السلاسل کرهًا، قلت یارسول الله من هم؟ قال: قوم من العجم یسبیهم المهاجرون فیدخلونهم في الاسلام مکرهین (۲)

[۳۹۶۱] د دښمن د جاسوس د قتلولو حکم

۳۹۶۱- [۲] (۳) [۱] وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ [۲]: «أَتَى النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَيْنٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ وَهُوَ فِي سَفَرٍ، [۳] فَجَلَسَ عِنْدَ أَصْحَابِهِ يَتَحَدَّثُ، ثُمَّ انْفَتَلَ، [۴] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "اطْلُبُوهُ وَاقْتُلُوهُ" [۵] فَقَتَلْتُهُ فَنَفَّلَنِي سَلَبَهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت سلمه ابن اکوع رضي الله عنه فرمایي [۲] یو وخت د مشرکینو دښمنانو یو جاسوس نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغلو کوم وخت چې حضور صلی الله علیه وسلم په سفر کې وو [۳] هغه جاسوس د معلومات حاصلولو د پاره د حضور صلی الله علیه وسلم صحابه رضي الله عنهم سره کیناستلو او خبري یې وکړي بیا لاړو [۴] نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته چې د هغه په باره کې معلومه شوه نو حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل هغه تلاش کی او قتل یې کئ [۵] نوما هغه تلاش کی او قتل مې کړو حضور صلی الله علیه وسلم د هغه سامان او اسباب ماته راکړل (بخاري مسلم)

(۱) صحیح بخاری: ۲/۶۵۴ کتاب التفسیر باب کنتم خیرأمة أخرجت للناس رقم: ۵۸۸۷.
(۲) فتح الباري: ۶/۱۷۱.
(۳) اخرجه البخاري في کتاب الجهاد / باب الحربي اذا دخل دار الاسلام بغیر امان رقم الحدیث ۳۰۵۱. ومسلم

حل اللغات: ①-عَيْنٌ: جاسوس. ②انْفَتَلَ: لاړو. واپس شو. ③فَنَفَّلَنِي: راتې کړو ماته (دانعام په طور). ④سَلَبَهُ: دهغه سامان او اسباب

تسهيلات: قوله: وَهُوَفِي سَفَرٍ:

دسفر تعين: په صحيح مسلم کښې امام مسلم رحمه الله دترجمة الباب متذکره روايت دَ عکرمه بن عمار په طريق سره نقل کړې دې په هغې کښې تصريح ده چه دا دَغزوه هوازن سفروو (۱)

قوله: فَجَلَسَ عِنْدَأَصْحَابِهِ يَتَحَدَّثُ، ثُمَّ انْفَتَلَ:

دکافرانود جاسوس راتلل اوبيا تلل: دَ بهرنه راتلونکې داجاسوس دَ صحابه کرامو په ډله کښې شامل شو هغوی سره يوځائې شو هغوی سره ترخوراك پورې اوکړو اوهغوی ته خبر اونه شو چه دا دَ دښمن مخبر اوجاسوس دې بيا دا چه هغه په پټه باندې په داسې مهارت سره اوتختيدو چه صحابه کرامو ته قطعًا احساس اونه شو

قوله: "اطْلُبُوهُ وَاقْتُلُوهُ:

حضورپاك اوفرمائيل هغه اولټوئی اوقتل ئی کړئی. نو حضرت سلمه بن اکوع رضي الله عنه فرمائی هغه ما قتل کړو اودَهغه وسله او سامان حضورپاك هم هغه ماته راکړل (۲)

قوله: فَقَتَلْتُهُ:

د جاسوس د قتلولو حکم: دا سړې چونکه جاسوس ووپه دې وجه دَ ده قتلول ضروری وو دغه شان هغه کافرهم قتلولې شی چه حربی وی اوبغيردَ امان طلب کولونه دَ مسلمانانو علاقه کښې داخل شوې وی

قوله: فَنَفَّلَنِي سَلَبَهُ:

سلمه بن اکوع ته زياتی حصه ورکول: دَ نفل جمع انفال راځی دَدې معنی دَ زياتوالی ده فاء ساکن اومتحرك دواړه شان لوستل صحيح دی لهذا فنفله سلبه معنی به په دې صورت کښې داسې شی رسول الله صلى الله عليه وسلم سلمه بن اکوع رضي الله عنه ته دَهغه دَمقررحصې نه زياته ورکړه په نفلی مونځ باندې هم دَ نوافل اطلاق دَدې دپاره کيږی چه هغه زياتی فرائض وی ابن اثير رحمه الله ليکی **النفل بالتحريك: الغنيمة، وجمعه أنفال. والنفل بالسكون وقد يحرك: الزيادة، وبه سميت النوافل في العبادات، لانها زائدة على الفرائض.** (۳)

---

(۱) صحيح مسلم:۸۸/۲کتاب الجهاد باب استحقاق القاتل سلب القتيل رقم:۱۷۵۴.وفيه: قال (سلمة بن الاکوع رضي الله عنه)غزونامع رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم هوازن..... الخ.

(۲) فتح الباري:۱۶۸/۶ وعمدة القاري: ۴۱۱/۱۴.

(۳) النهاية لابن الير:۹۹/۵وفتح الباري:۵۱۲/۵.

په دې کښې دوه صورتونه: دحربی کافردارالاسلام ته د داخلیدو دوه صورتونه دی
① که چرې کافرحربی دَ امان طلب کولو نه بغیرد دارالاسلام په حدودوکښې داخل شی
② که چرې کافر حربی اووائی چه ما امان راوړلې راغلې یم

په اول صورت کښې (۳) مذاهب:

① دَامام مالك رحمه الله امام ته اختیاردې چه که هغه ئې قتل کوی قیدی ئې جوړه وی اوکه فدیه اخستوسره ئې پریږدی.(۱)
② امام شافعی رحمه الله په نیزقتل کولوغلام جوړولو او فدیه اخستل پریخودلوسره دَ امن اواحسان اختیارهم حاکم وخت ته حاصل دې.(۲)
③ که چرې کافر حربی دعویٰ اوکړی چه هغه دَخپل ملك دَحاکم د طرف نه دَ قاصد په حیثیت سره راغلې دې نو احناف(۳) او حنابله(۴) په نیز دَدغه دا خبره به په دې شرط قبلولې شی چه هغه سره دَحاکم وخت تحریروی اویقین وی چه دا تحریر هم دَ حاکم وخت دې

په دویم صورت کښې (۳) مذاهب:

①امام اوزاعی امام شافعی او امام احمد رحمهم الله په نیزدې دَ هغه داخبره ردکړې شی او امام ته اختیاردې چه هغه دې دَ خپل اختیار مطابق ده ته کوم قسم سزا هم چه وی ورکړی (۵) هم دغه مسلك دَ امام مالك رحمه الله هم دې (۶)
② دَ احنافو دَ فقهاؤ په نیز حربی جاسوس دَ خپلې دعوی دَ تصدیق دَپاره دې ثبوت پیش کړی نودَ دې نه تعارض کول جائزنه دی. سزا ورکولونه دې بغیرپریخودې شی (۷)
③ امام محمد رحمه الله فرمائی هغه چه چاله په لاس ورغلودَهغه غلام دې جوړکړې شی (۸)
④ امام احمد رحمه الله فرمائی که چرې دَ تجارت په غرض په دارالاسلام کښې دَ حربیانو تګ راتګ معمول وی او په دې صورت کښې مشتبه جاسوس دَ یوسوداګرپه حیثیت سره خپله پیژندګلو اوکړی نودې نه به تعارض نه شی کولې (۹)
علامه شامی رحمه الله په ردالمحتارکښې لیکلی دی که یومسلمان کافرحربی ته دَ امان

۱) فتح الباری:۶/۱۶۸.
۲) المجموع شرح المهذب للنوی:۲۱/۲۳۸ باب عقد الذمة.
۳) ردالمختارعلی الدرالمحتار: ۴/۱۶۸سعید.
۴) المغنی لابن قدامة: ۱۰/۴۳۳ فصل:۷۴۹۱.
۵) المغنی لابن قدامة: ۴۳۳/۱۰ فصل:۷۴۹۱.
۶) شرح ابن بطال:۵/۲۱۳.
۷) ردالمحتار علی الدرالمختار: ۴/۱۶۸سعید.
۸) شرح ابن بطال:۵/۲۱۳.
۹) المغنی لابن قدامة: ۱۰/۴۳۳.

ورکولودعوی اوکړه نو دوو مسلمانانو ګواهانو نه دي د دي دعوی تصدیق واخلی چه واقعتاً هغه دي حربی ته امان ورکړي دي؟ که ګواهانو تصدیق اوکړو نو دي به پریخودي شی (١)

د دارالحرب د مسلمان دالاسلام ته د داخلیدوحکم: ① که په دارالاسلام کښي داخلیدونکي حربی مسلمان وی نو د امام ابوحنیفه امام شافعي او بعض فقهاء مالکیه رائي داده چه امام وخت دي هغه ته د خپلي خوښي مناسب سزا ورکړی دي قتل کول جائزنه دی (٢)

② امام مالك رحمه الله فرمائی یجتهدفیه الامام خو علامه عینی او امام نووی رحمه الله فرمائی چه د دغه اجتهاد وضاحت امام مالك رحمه الله نه دي فرمائیلي چه د دي مطلب څه دي؟(٣) البته قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه د بعض فقهاء مالکیه د رائي مطابق مسلمان حربی قتل کول جائزدی وقال عیاض: قال کبار أصحابه ـ أی أصحاب مالك ـ یقتل (٤)

[٣٩٤٣] د کافرسامان د هغه د مسلمان قاتل دپاره

٣٩٤٣-[٣](٥) ١ وَعَنْهُ، قَالَ ٢: «غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - هَوَازِنَ، ٣ فَبَيْنَا نَحْنُ نَتَضَحَّى مَعَ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٤ إِذْ جَاءَ رَجُلٌ عَلَى جَمَلٍ أَحْمَرَ، فَأَنَاخَهُ، وَجَعَلَ يَنْظُرُ، ٥ وَفِينَا ضَعْفَةٌ وَرِقَّةٌ مِنَ الظَّهْرِ، وَبَعْضُنَا مُشَاةٌ ٦ إِذْ خَرَجَ يَشْتَدُّ فَأَتَى جَمَلَهُ، ٧ فَأَثَارَهُ فَاشْتَدَّ بِهِ الْجَمَلُ،

ترجمه: ١ وسلمه رضي الله عنه ابن اکوع وایي ٢ مونږ د رسول کریم ﷺ سره د قبیله قیس یوشاخ هوازن خلاف جهاد کي شریك وو ٣ یوه ورځ هغه وخت چي مونږ رسول کریم ﷺ سره د غرمي طعام خوړلو ٤ چانك یوسړی چي ددښمن جاسوس وو او سور اوښ باندي سور وو هغه اوښ کینولو او اخوا دیخوایي کتل (یعنی هغه زمونږ د حالت او کیفیت آنداز اخستله) ٥ هغه وخت مونږ د خپلي خسته حالی او پیاده پائي په وجه ډیر کمزوري کیدو زمونږ سره د سورلی کمی وو او په مونږ کي بعضي خلق پیاده وه ٦ هغه سړي (چي زمونږ د کمزوری اندازه ولګوله چي مونږ د سورلو د کمی او خپلي خسته حالي په وجه سخت پریشان او کمزوري یو نو دښمن ته د دي اطلاع ورکولو د پاره هغه) اچانك زمونږ د مینځ څخه په منډه ووتلو ٧ او خپل اوښ ته رسیدو سره په هغه سوریدو څخه هغه یي ودروی

١) ردالمحتار علی الدرالمختار: ٢٦٦/٦ کتاب الجهاد فصل فی استئمان الکافر. دارالمعرفة بیروت.
٢) عمدة القاری: ٢٩٧/١٤.
٣) شرح النووی علی صحیح مسلم: ٨٩/٢ وعمدة القاری: ٢٩٧/١٤.
٤) عمدة القاری: ٢٩٧/١٤ وبذل المجهود: ١٧٨/١٢ الابواب والتراجم ص: ٢٠٣.
٥) اخرجه البخاری ومسلم

او هغه اوښ هغه اخستو سره تیزی سره وزغلوی

حل اللغات: ① فَأَنَاخَهُ: کینوله هغه اوښه. د اوښې کناستو دپاره استعمالیږی. ② ضَعْفَةٌ: کمزوری. ③ رِقَّةٌ: ستړی والې. ④ مُشَاةٌ: پیاده تلونکی. ⑤ يَشْتَدُّ: په تیزئ سره. ⑥ أَثَارَهُ: راوې پارولو هغې لره (راپاڅې خولو).

٫١ فَخَرَجْتُ أَشْتَدُّ حَتَّى أَخَذْتُ بِخِطَامِ الْجَمَلِ، فَأَنَخْتُهُ، ٫٢ ثُمَّ اخْتَرَطْتُ سَيْفِي، فَضَرَبْتُ رَأْسَ الرَّجُلِ، ٫٣ ثُمَّ جِئْتُ بِالْجَمَلِ أَقُودُهُ وَعَلَيْهِ رَحْلُهُ وَسِلَاحُهُ، ٫٤ فَاسْتَقْبَلَنِي رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَالنَّاسُ. ٫٥ فَقَالَ: "مَنْ قَتَلَ الرَّجُلَ؟" ٫٦ قَالُوا: ابْنُ الْأَكْوَعِ ٫٧ فَقَالَ: "لَهُ سَلَبُهُ أَجْمَعُ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ ما چې داصورت حال ولیدلو نو زه هم د هغه خلقو د مینځ څخه ووتلم او هغه سړي پسې مې منډه کړه او هغه مې رالاندې کی او د اوښ مهار مې اونیولو او هغه مې کینولو ٢ او بیا خپله توره راؤښکلو سره په هغه سړي مې ګذار وکړو چې د هغه سر ختم شو ٣ د دې څخه وروسته اوښ چې په هغه باندې د هغه سامان وو او د هغه هتیار وو رانښکلو سره مې راوړل ٤ کوم وخت چې رسول کریم ﷺ او نور خلق څما مخې ته راغلل ٥ نو حضور ﷺ وفرمایل هغه سړی چا قتل کړې دی ٦ صحابه و ﷺ اوویل سلمه ابن اکوع ﷺ ٧ نو حضور ﷺ وفرمایل د هغه ټول سامان حقدار هم دی یعنی سلمه ﷺ دی (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ⑦ بِخِطَامِ: مهار. واګې. ⑧ اخْتَرَطْتُ: ما راؤښکله. ⑨ أَقُودُهُ: رانښکلو مې هغه. ⑩ رَحْلَهُ: سامان او اسباب دهغه. ⑪ سِلَاحُهُ: وَسله دهغه. جنګی سامان. ⑫ سَلَبُهُ: پاتې مال دهغه. ⑬ أَجْمَعُ: ټول

تسهيلات:

قوله: غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - هَوَازِنَ:

د هوازن پیژندګلو: داد یومشهورې قبیلې نوم دې چه په غشو ویشتلو کښې ډیر مشهور وو په حنین او اوطاس کښې هوازن سره لویه معرکه اوشوه دعرفات او طائف په مینځ کښې د یوې وادئ نوم حنین دې

قوله: فَبَيْنَا نَحْنُ نَتَضَحَّى مَعَ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

دتضحیه مختلف معانی: ① دالفظ د تضحیه نه دې په اصل کښې په سفرکښې د واښو په خائی کښې د کوزیدلو او د اوښانو خرولو او آرام کولودپاره به استعمالیدلو

② بیا د نرمئ دپاره استعمالیدو بیا د چاشت د مونځ دپاره استعمال شو

③ بیا د چاشت په وخت دخوراك دپاره استعمال شو دلته هم دغه معنی مراد ده.

[٢٩٦٣] د مديني د عهد شکن یهودیا نو متعلق فیصله

٣٩٦٣-[٣] ( ) ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ ②: «لَمَّا نَزَلَتْ بَنُو قُرَيْظَةَ عَلَى حُكْمِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ، بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَجَاءَ عَلَى حِمَارٍ، ③ فَلَمَّا دَنَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "قُومُوا إِلَى سَيِّدِكُمْ". ④ فَجَاءَ فَجَلَسَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ⑤ "إِنَّ هَؤُلَاءِ نَزَلُوا عَلَى حُكْمِكَ". ⑥ قَالَ: فَإِنِّي أَحْكُمُ أَنْ تُقْتَلَ الْمُقَاتِلَةُ وَأَنْ تُسْبَى الذُّرِّيَّةُ. ⑦ قَالَ: "لَقَدْ حَكَمْتَ فِيهِمْ بِحُكْمِ الْمَلِكِ. ⑧ وَفِي رِوَايَةٍ: "بِحُكْمِ اللَّهِ"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

توجمه: ① ابوسعید خدري رضي الله عنه وايي ② هرکله چې په مدينه کې آباد د بنو قريظه يهود سعد ابن معاذ رضي الله عنه خپل حکم فيصله کونکی منلو باندې راکوز شو [يعنی هغوی په دي آماده شول چې سعد ابن معاذ رضي الله عنه کومه فيصله وکړي مونږ به هغه منو] نو رسول الله ﷺ د حضرت سعد رضي الله عنه راغوښتلو د پاره يوسړی وليږلو نو سعد ابن معاذ رضي الله عنه په يو خره باندې سور راغلو ③ کوم وخت چې هغه نږدې راورسيدو نو رسول کريم ﷺ حاضرينو ته اوويل تاسو خلق د خپل سردار [تعظيم يا د هغه مدد د پاره] ودريږئ ④ سعد ابن معاذ رضي الله عنه حضور ته نږدې کيناستلو نو رسول کريم ﷺ هغه مخاطب کولو سره وفرمايل ⑤ دا خلق يعنی د بنوقريظه يهوديان تا حکم فيصله کونکی جوړولو باندې راضي شوي دي ⑥ سعد ابن معاذ رضي الله عنه اوويل زه دا فيصله کوم چې دي يهوديانو کې کوم خلق د جنګ کولو صلاحيت لري هغوئ دي قتل شي او د هغوی ښځي او بچي دي قيد کړي شي ⑦ حضور ﷺ په دي اوريدو سره وفرمايل تا د دوئ په باره کې د بادشاه د حکم مطابق فيصله کړيده [يعنی تا داسي فيصله کړيده چې په هغه سره الله ﷻ هم راضي دی] ⑧ او په يوروايت کې دا الفاظ دي چې تا د الله د حکم مطابق فيصله کړيده (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: ① دَنَا: نږدې شو ② الْمُقَاتِلَةُ: جنګيالی، جنګ کونکی ③ تُسْبَى: قيديان دې جوړکړې شي.

تسهيلات:

قوله: قُومُوا إِلَى سَيِّدِكُمْ:

دحديث پس منظر: حضرت سعد رضي الله عنه دَ انصارو سردارو جنګ خندق کښې هغه باندې ژور زخم لګيدلې وو هغه دَ يهودو اودَ بنوقريظه په غدارئی باندې دَ الله تعالى نه دعاغوښتې وه چه اې الله ماته ترهغه وخته پورې مرګ مه راکوې ترکومې پورې چه په يهودو باندې خپل زړه يخ نه کړم هلته دَ جنګ خندق نه پس فوری مسلمانانو دَ بنوقريظه محاصره اوکړه ٢٥ ورځونه زياته محاصره وه نوهله يهوديان دَخپلو قلعه ګانونه په

---

[١]) اخرجه البخاري في كتاب الجهاد والسّير/باب إذا نزل العدوّ على حكم رجل (رقم-٣٠٤٣) ومسلم في كتاب الجهاد والسّير/باب جواز قتال من نقض العهد، وجواز إنزال أهل الحصن على حكم حاكم عدل أهل للحكم (رقم-٦٤ - (١٧٦٨) واحمد في المسند:٢٢/٣

راکوزیدو باندې راضي شو مګر بدبختواووئیل چه زمونږ فیصله دې محمد ﷺ نه کوی بلکه سعدبن معاذ رضی الله عنه دې اوکړی د حضرت سعد رضی الله عنه دغه خلقو سره پخوانی تعلقات هم وو اوداخلق د یوبل حلیف هم وو د یهودیانوخیال وو چه سعدبه زمونږ په حق کښې فیصله اوکړی

د سعد دپاره د اودریدو حکم کولو وجه: حضرت سعد رضی الله عنه چونکه زخمي وو په دې وجه مسجدنبوی د خوانه په خرباندې سور راوستلې شو کله چه محله بنوقریظه ته اورسیدو نوحضورپاك اوفرمائیل "قومواالی سیدکم"چونکه دهغوی د امداد ضرورت وو په دې وجه حضورپاك اوفرمائیل د خپل سردار د امداددپاره اودریږئی دې د خرنه راکوز کړئی

د یوې غلط فهمۍ ازاله: لهذا ددې حدیث د هغه حدیث سره تعارض نشته دې په کوم کښې چه راغلی دی "من سره أن یتمثل له الرجال قیاماً فلیتبؤمقعده من النار"ځکه چه دلته مجبوری وه شوقیه د چا د پاره لاس په نامه اودریدل منع دی. دویم جواب دادې چه دلته صرف د استقبال په توګه د احترام اواکرام دپاره اودریدل وو دې نه صرف استقبال ثابتیږی داعاجمو د ممنوع قیام سره ددې څه تعلق نشته دې دکوم ذکر چه من سره والا حدیث کښې دې

قوله: لَقَدْ حَكَمْتَ فِيهِمْ بِحُكْمِ الْمَلِكِ:

د سعد د فیصلې تائید: بهرحال حضرت سعد رضی الله عنه فیصله اوکړه چه د جنګ قبل یهودیان قتل کړئی اوښځې او ماشومان غلامان جوړکړئی هم دغه فیصله د تورات هم وه حضورپاك اوفرمائیل د سعد فیصله دعرش د بادشاه فیصله ده

[۲۹۶٤] د یمامه د سردار د اسلام راوړلو واقعه

۲۹۶۴ـ[۵] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ [۲]: «بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ ـ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ خَيْلاً قِبَلَ نَجْدٍ، [۳] فَجَاءَتْ بِرَجُلٍ مِنْ بَنِي حَنِيفَةَ، يُقَالُ لَهُ: ثُمَامَةُ بْنُ أُثَالٍ، سَيِّدُ أَهْلِ الْيَمَامَةِ [۴] فَرَبَطُوهُ بِسَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ، [۵] فَخَرَجَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ ـ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ فَقَالَ: [۶] "مَاذَا عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ؟" [۷] فَقَالَ: عِنْدِي يَا مُحَمَّدُ! خَيْرٌ: [۸] إِنْ تَقْتُلْ تَقْتُلْ ذَا دَمٍ، [۹] وَإِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ عَلَى شَاكِرٍ، [۱۰] وَإِنْ كُنْتَ تُرِيدُ الْمَالَ فَسَلْ تُعْطَ مِنْهُ مَا شِئْتَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي [۲] رسول کریم ﷺ یولښکر جهاد کولو د پاره نجد ته ولیږلو د لښکر [۳] خلقو د قبیله بنوحنیفه یوسړي نیولو سره مدینې ته راوستی

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب وفد بنی حنیفة. وحدیث ثمامة بن [ص:۱۷۰] أثال (رقم-۴۳۷۲) ومسلم فی کتاب الجهاد والسّیر/باب ربط الأسیر وحبسه. وجواز المنّ علیه (رقم-۵۹ - (۱۷۶٤) و ابو داود فی کتاب الجهاد . باب فی الأسیر یوثق (رقم-۲۶۷۹)

چې د هغه نوم ثمامه ابن اثال وو چې د يمامه ښار د خلقو سردار وو [۴] هغه سړی مسجد نبوي کې يوې ستنې سره وتړل شو چې ونه تښتي [۵] رسول کريم ﷺ هغه ته تشريف راوړو او د هغه څخه يې پوښتنه وکړه [۶] وايه ثمامه تاسره د ويلو او د اوريدلو د پاره څه دي يعنی ونبايه چې ستا څه حال دی يا ځما په باره کې ستا څه خيال دی زه به تاسره څنګه سلوک کوم [۷] ثمامه اوويل زماسره خير او خير دی [يا زماسره ډير مال دی] [۸] که تاسو ما قتل کړئ نو يوخون واله سړی به قتل کړئ چې د قتليدو مستحق دی [د دې الفاظو په ذريعه ګويا ثمامه د خپل تقصير اعتراف او اقرار وکړو يا د هغه د دې الفاظو دا مطلب وو که تاسو ماقتل کړئ نو يوداسي سړی به قتل کړئ چې د هغه خون به ضائع کيږي نه خکه چې ځما قوم به ځما خون معاف نه کړي بلکه ستاسو څخه به بدله اخلي په دې صورت کې هغه ګويا د خپل امارت رياست او دجاهت دعوٰی وکړله] [۹] او که تاسو ما باعزته رهاکړئ زماسره ښه سلوک وکړئ نو يوسړي سره به ښه سلوک وکړئ چې شکر ګذار او قدردان دی [يعنی زه به هم د دې نيك سلوك تاسو ته بدله درکړم] [۱۰] او که تاسو مال غواړئ نو وغواړئ څومره مال چې غواړئ دربه کول شي

حل اللغات: ① خَيْلًا: د شهسوارانو يوه دسته، ② رَبَطُوهُ: اوئې تړلو هغه. ③ سَارِيَة: ستن. ④ مَا عِنْدَكَ: يعنی ستا څه خيال دې چه زه به تاسره څه کوم؟ ⑤ عِنْدِي يَا مُحَمَّدُ! خَيْرٌ: يعنی ستاباره کښې ښه ګمان دې خکه چه ته به ظلم نه کوې. ⑥ ذَادَمٍ: وينې والا يعنی مجرم. ⑤ عَلَى شَاكِرٍ: شکر ګذار. قدردان.

[۱] فَتَرَكَهُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حَتَّى كَانَ الْغَدُ، [۲] فَقَالَ لَهُ: "مَا عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ؟" [۳] فَقَالَ: عِنْدِي مَا قُلْتُ لَكَ: إِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ عَلَى شَاكِرٍ، وَإِنْ تَقْتُلْ تَقْتُلْ ذَا دَمٍ، وَإِنْ كُنْتَ تُرِيدُ الْمَالَ فَسَلْ تُعْطَ مِنْهُ مَا شِئْتَ. [۴] فَتَرَكَهُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حَتَّى كَانَ بَعْدَ الْغَدِ، [۵] فَقَالَ لَهُ: "مَا عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ؟" [۶] فَقَالَ: عِنْدِي مَا قُلْتُ لَكَ: إِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ عَلَى شَاكِرٍ، وَإِنْ تَقْتُلْ تَقْتُلْ ذَا دَمٍ، وَإِنْ كُنْتَ تُرِيدُ الْمَالَ فَسَلْ تُعْطَ مِنْهُ مَا شِئْتَ.

ترجمه: [۱] په دې خبرو اوريدو سره حضور ﷺ هغه په خپل حال پريښودی چې دويمه ورځ راغله [۲] نو حضور ﷺ بيا د هغه څخه پوښتنه وکړه وايه ثمامه تاسره ويلو اورېدلو د پاره څه شته؟ [۳] هغه اوويل زماسره هغه څيز دی چې ماويلي دي او که تاسو ښه سلوك وکړئ نو يوداسي سړي سره به ښه سلوك وکړئ چې شکر ګذار او قدردان دی که تاسو ماقتل کې نو يوخون واله سړی به قتل کړئ او که تاسو مال غواړئ نو وغواړئ څومره مال چې غواړئ دربه کول شي [۴] حضور ﷺ په دې ورځ هم د هغه خبرې اوريدو سره په خپل حال پريښودی چې دريمه ورځ راغله [۵] نو حضور ﷺ بيا د هغه څخه پوښتنه وکړه وايه ثمامه تاسره څه دي؟ [۶] هغه اوويل زماسره هغه څيز دی چې ماويلي دي که تاسو

راسره ښه سلوك وكړئ نو داسې سړي سره به ښه سلوك وكړئ چې شكر گذار او قدردان دی كه قتل مي كړئ نو يو خون واله سړی به قتل كړئ او كه تاسو مال غواړئ نوو غواړئ خومره مال چې غواړئ دربه كول شي

۱ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " أَطْلِقُوا ثُمَامَةَ " ۲ فَانْطَلَقَ إِلَى نَخْلٍ قَرِيبٍ مِنَ الْمَسْجِدِ، فَاغْتَسَلَ، ثُمَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ، ۳ فَقَالَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، ۴ يَا مُحَمَّدُ! وَاللهِ مَا كَانَ عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ وَجْهٌ أَبْغَضَ إِلَيَّ مِنْ وَجْهِكَ، ۵ فَقَدْ أَصْبَحَ وَجْهُكَ أَحَبَّ الْوُجُوهِ كُلِّهَا إِلَيَّ، ۶ وَاللهِ مَا كَانَ مِنْ دِينٍ أَبْغَضَ إِلَيَّ مِنْ دِينِكَ، ۷ فَأَصْبَحَ دِينُكَ أَحَبَّ الدِّينِ كُلِّهِ إِلَيَّ،

ترجمه: ۱ په دې اوريدو سره رسول كريم ﷺ حكم وكړ چې ثمامه دې رهاشي ۲ نو رهايي څخه وروسته ده ويلو اوريدلو څخه بغير د كجورو هغه كڼ باغ ته ورغلو غسل يې وكړو بيا راغې او د حضور ﷺ مخكې يې ۳ وويل أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ يعني زه د ريښتيني زړه د اعتراف او اقرار سره شاهدي اداكوم چې الله څخه ما سوا بل معبود نشته او شاهدي اداكوم چې محمد ﷺ د الله بنده او د هغه رسول دی ۴ بيا يې اوويل اې محمد! قسم په خدای ځما په نز د زمكې په مخ ستاسو د مخ څخه زيات نفرت آنگيز هيڅ څيز نه وو يعنې ځما ستاسو د ذات څخه زيات نفرت بل هيڅ شي سره نه وو ۵ ليكن اوس ستاسو مخ مبارك ځما په نز د دنيا د ټولو مخونو څخه زيات خوږ دی ۶ قسم په خدای ځما په نزد ستاسو د دين څخه زيات نفرت آنگيز دين نه وو ۷ ليكن اوس ستاسو دين ځما په نز د ټولو دينونو څخه زيات خوږ دی

حل اللغات: ۹ أَطْلِقُوا: پرېږدئ. خلاص كړئ.

۱ وَوَاللهِ مَا كَانَ بَلَدٌ أَبْغَضَ إِلَيَّ مِنْ بَلَدِكَ، فَأَصْبَحَ بَلَدُكَ أَحَبَّ الْبِلَادِ كُلِّهَا إِلَيَّ. ۲ وَإِنَّ خَيْلَكَ أَخَذَتْنِي وَأَنَا أُرِيدُ الْعُمْرَةَ، فَمَاذَا تَرَى؟ ۳ فَبَشَّرَهُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، وَأَمَرَهُ أَنْ يَعْتَمِرَ، ۴ فَلَمَّا قَدِمَ مَكَّةَ، قَالَ لَهُ قَائِلٌ: أَصَبَوْتَ؟ ۵ فَقَالَ: لَا، وَلَكِنِّي أَسْلَمْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، ۶ وَلَا وَاللهِ لَا يَأْتِيكُمْ مِنَ الْيَمَامَةِ حَبَّةُ حِنْطَةٍ حَتَّى يَأْذَنَ فِيهَا رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -». رَوَاهُ مُسْلِمٌ، وَاخْتَصَرَ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ او قسم په خدای ځما په نزد ستاسو د ښار څخه زيات نفرت انگيز بل هيڅ شهر نه وو ليكن اوس زما په نزد ستاسو ښار د دنيا د ټولو ښارونو څخه ماته زيات خوږ دی ۲ بيا هغه عرض اوكړو يا رسول الله ستاسو لښكر زه هغه وخت گرفتار كړي وم چې ما دعمره اداء كولو د پاره مكې ته د تلو اراده كوله نو اوس تاسو ماته څه حكم راكوئ آيا زه عمرې د پاره مكې ته لاړ شم يا نه ۳ رسول كريم ﷺ مخكې خو بشارت وركړ چې د اسلام قبلولو په وجه تاته شرف او عظمت د انسانيت حاصل شوی دی او ستا مخكنې گناهونه بخښل شويدي بيايي هغه ته د عمرې كولو حكموكړو ۴ د دې څخه وروسته

ثمامه عمري کولو د پاره مکي ته ورسیدو یو ویونکي هغه ته اوویل چې ته بې دینه شوی یې ⑤ثمامه جواب ورکی نه ما د رسول کریم ﷺ په لاس مبارك اسلام قبول کړي دی زه بې دینه شوی نه یم ⑥او یادلرئ قسم په خدای اوس به د یمامه څخه تاسو ته د غنمو یوه دانه هم نشي درلیږلی ترڅوپوري چې رسول کریم ﷺ د هغه اجازت اونکړی (مسلم) دا روایت بخاري هم اختصار سره نقل کړي دی.

حل اللغات: ⑦أَصَبَوْتَ؟: آیا ته صابی اوبددین شوې؟ ⑧حَبَّةُ حِنْطَةٍ: دانه د غنمو

تسهیلات:

قوله: بَعَثَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خَيْلًا قِبَلَ نَجْدٍ:

دثمامه گرفتاري: دَ شهسوارانو یوه دسته دَ جهاد په غرض دَ نجدطرف ته روانه کړې شوې وه هغوی ثمامه گرفتارکړو چه دَ قوم سردار وو او دَ مسجدنبوی دَ ستنونه یوې ستنې پورې اوتړلې شو.

قوله: وَإِنْ تَقْتُلْ تَقْتُلْ ذَادَمٍ:

یعنی که ما قتل کړې نوزما بدله به اخستې شی زما وینه به ضائع کیږی نه دویم مطلب دادې چه ما قتل کړې دې مجرم یم تاسو به یومجرم قتل کړئی.

قوله: إِنْ تُنْعِمْ: یعنی که احسان دې اوکړواوزه دې معاف کړم نو په یوشریف زاده قدردان شکرشناس او شکرکونکې سړی باندې به احسان اوکړې. درې ورځې دغه شان سوال او جواب روان وو بیا په دریمه ورځ حضورپاك دَ احسان په توگه هغه پریخودو څکه چه دَ خلیفه اوامیر په اختیارکښې داسې خلاصول جائز دی.

قوله: أَصَبَوْتَ؟: آیا ته صابی اوبددین شوې؟ هغه اوفرمائیل نه بلکه زه مسلمان شوې یم اوس به دَمحمد عربی ﷺ دَسفارش نه بغیر دَیمامه نه دَ غلې یوه دانه هم اهل مکه له نه راځی

[۲۹۶۵] جبیر ابن مطعم رضی الله عنه ته د اسلام ترغیب

۲۹۶۵ — [۲] (¹) ①وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، ②«أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ فِي أُسَارَى بَدْرٍ ③"لَوْكَانَ الْمُطْعِمُ بْنُ عَدِيٍّ حَيًّا، ثُمَّ كَلَّمَنِي فِي هَؤُلَاءِ النَّتْنَى لَتَرَكْتُهُمْ لَهُ»" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ①او جبیر ابن مطعم رضی الله عنه وایي ②رسول کریم ﷺ د جنگ بدر د قیدیانو په باره کې وفرمایل ③که مطعم ابن عدي ژوندی وی او مانه یې د دې ناپاکو قیدیانو په حق کې سفارش کړې وې نومابه دا قیدیان دمطعم په سفارش (رهاکړي وی) پریښی وی. (بخاري)

حل اللغات: ①النَّتْنَى: ناپاکه. بدبویه.

¹) اخرجه البخاری فی کتاب فرض الخمس/باب ما منّ النبیّ صلّی الله علیه وسلّم علی الأساری من غیر أن یخمّس (رقم-۳۱۳۹)؛ وابو داود فی کتاب الجهاد/باب فی النّهی أن یقدّ السّیر بین إصبعین (رقم-۲۵۸۹) واحمد فی المسند: ۸۰/۴

تسهيلات:

قوله: وَعَنْ جُبَيْرِبْنِ مُطْعِمٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ:

د حالت كفر سماع په حالت اسلام كښې نقل كول: حضرت جبير رضي الله عنه دَدې حديث راوى دې مګر كوم وخت چه هغوى دا حديث اؤريدلې دې هغه وخت هغه مسلمان نه وو بلكه په جنګ بدركښې د نورو كافرانوسره ګرفتارشوې وو حديث خوئى په حالت دَ كفركښې اوريدلې دې مګر بيان ئى په حالت دَاسلام كښې كوى

دمطعم بن عدى پيژندګلو: دَهغوى دَ پلار نوم مطعم بن عدى وو هغه دكفرپه حالت كښې مړشوې وو مطعم بن عدى هغه سړې وو چاچه حضورپاك ته دَ طائف نه په واپسئ باندې پناه وركړې وه اوحضورپاك ئى خپل ځان سره مكه مكرمه كښې خپله داخل كړې وو چونكه هغه لوئى احسان كړې وو په دې وجه حضورپاك ﴿هَلْ جَزَآءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ﴾ په توګه باندې اوفرمائيل چه كه نن مطعم ژوندې وې اودَ بدر دَ دې بدبوئى داره مشركانو قيديانو په باره كښې ئى ماته سفارش كړې وې نودَهغوى دَ خاطره به مې ټول پريخودې وې

[٢٩٦٦] په حديبيه كښې د نيولى شوى كافرانو پريخودل

٣٩٦٦ ـ [٤] (١) ①وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، ②«أَنَّ ثَمَانِينَ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ هَبَطُوا عَلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ جَبَلِ التَّنْعِيمِ مُتَسَلِّحِينَ، ③يُرِيدُونَ غِرَّةَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَأَصْحَابِهِ، ④فَأَخَذَهُمْ سِلْمًا، فَاسْتَحْيَاهُمْ. ⑤وَفِي رِوَايَةٍ: فَأَعْتَقَهُمْ، فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى ﴿وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ﴾ [الفتح: ٢٤]». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①حضرت انس رضي الله عنه راوي دى ②د صلح حديبيه په كال د نبي كريم ﷺ خلاف د مكي اتيا سړي هتيار اخستو سره د تنعيم د غر څخه راكوز شولو ③د هغوى اراده داوه چي نبي كريم ﷺ او د هغوى صحابه وُ رضي الله عنهم باندي ناڅاپي حمله كولو سره هغوى ته نقصان ورسوى ④ليكن حضور ﷺ جنګ څخه بغير هغوى ټول بي بس او ذليل كولو سره ګرفتار كړل او بيا هغوى يي ژوندي پريښودل ⑤او په يو روايت كي داسي دي اوبيا هغوى رها شو په دي سره الله ﷻ دا آيت نازل كړو وَهُوَ الَّذِي كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ او هغه الله داسې دى چې هغه د مكې اطرافو كې د كفارو لاسونه ستاسو خلاف او ستاسو لاسونه د هغوى خلاف بند كړل (مسلم)

(١) اخرجه مسلم فى كتاب الجهاد والسّير/باب قول الله تعالى: {وهو الّذى كفّ أيديهم عنكم} [الفتح: ٢٤] الآية (رقم-١٣٣ - ١٨٠٨) و ابو داود فى كتاب الجهاد . باب فى المنّ على الأسير بغير فداء (رقم-٢٦٨٨) والترمذى فى كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب: ومن سورة الفتح (رقم-٣٢٦٤) واحمد فى المسند:٣/١٢٤

حل اللغات: ① هَبَطُوا : راکوز شول، ② مُتَسَلِّحِينَ: وسله ، جنګی سامان راخستونکی، ③غِرَّةً : ناخاپی حمله، ④سِلْمًا: بغیر د جنګ نه، ⑤اسْتَحْيَاهُمْ: ژوندی ئې پریخودل، آزاد ئې کړل.

تسهيلات:

نوټ: د حدیث د ترجمې څخه مطلب واضح دی.

[٢٩٦٧] په بدر کښې مړه شوو مشرکانو ته خطاب

٣٩٦٧ــ[٨] ()[١] وَعَنْ قَتَادَةَ قَالَ ذَكَرَ لَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنْ أَبِي طَلْحَةَ، [٢]«أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَمَرَ يَوْمَ بَدْرٍ بِأَرْبَعَةٍ وَعِشْرِينَ رَجُلًا مِنْ صَنَادِيدِ قُرَيْشٍ [٣]فَقُذِفُوا فِي طَوِيٍّ مِنْ أَطْوَاءِ بَدْرٍ خَبِيثٍ مُخْبِثٍ [٤]وَكَانَ إِذَا ظَهَرَ عَلَى قَوْمٍ أَقَامَ بِالْعَرْصَةِ ثَلَاثَ لَيَالٍ [٥]فَلَمَّا كَانَ بِبَدْرٍ الْيَوْمَ الثَّالِثَ أَمَرَ بِرَاحِلَتِهِ فَشُدَّ عَلَيْهَا رَحْلُهَا، ثُمَّ مَشَى وَاتَّبَعَهُ أَصْحَابُهُ [٦]حَتَّى قَامَ عَلَى شَفَةِ الرَّكِيِّ فَجَعَلَ يُنَادِيهِمْ بِأَسْمَائِهِمْ يَا فُلَانُ بْنَ فُلَانٍ ;

ترجمه: [١] او قتاده رحمه الله وایي چې انس بن مالک رضي الله عنه د ابوطلحه رضي الله عنه حوالي سره زمونږ مخکې دا بیان وکړو [٢] چې د الله نبي ﷺ د بدر د جنګ په ورځ دمکي د قریشو د کفارو څلورویشت مقتولین سردارانو په باره کې حکم وکی [٣] چې هغوی دي خپلي تیکاوني ته ورسول شي نو د هغوی مړي د بدر په یوداسي کوهي کې وغورځول شوه چې ناپاک وواو ناپاک کونکی وو [٤] د رسول کریم ﷺ دا عادت وو چې کله حضور ﷺ یوقوم [یعنی دښمنانو باندې غلبه او فتحه راله نو هغه د جنګ په میدان کې به یې دري شپې قیام فرمایلو] د دې عادت مطابق حضور ﷺ د جنګ ګټلو څخه وروسته د بدر د جنګ په میدان کې هم دري شپې قیام وکی [٥] او هرکله چې دري ورځې تیري شوی نو حضور ﷺ د خپلي سورلی اوښي باندې د کجاوي تړلو حکم وکی کجاوه وتړل شوه او حضور ﷺ د هغه ځای څخه روان شو او صحابه رضي الله عنهم هم ورپسي روان شول [٦] هرکله چې هغه کوهي ته ورسیدو چې په هغه کې د قریشو د سردارانو مړي غورځول شوي وه نو حضور ﷺ د هغه کوهي په غاړه اودریدلو اودهغه سردارانو او د هغوی د پلرونو نومونه اخستل یې شروع کړل چې اې فلان ابن فلان او اې فلان ابن فلان اوبیا هغوی مخاطب کولو سره یې وفرمایل

حل اللغات: ① صَنَادِيدِ: دَ صندید جمع ده أشراف اوسردار ته وائی. ② فَقُذِفُوا: نو اوغورزولی شو. ③ طَوِيّ: کوهی. ④خَبِيثٍ: ناپاک. ⑤ مُخْبِثٍ: ناپاکه کونکې. ⑥ الْعَرْصَةِ: صحن (د جنګ میدان). ⑦شَفَةِ الرَّكِيِّ: دکوهی غاره.

[١] أَيَسُرُّكُمْ أَنَّكُمْ أَطَعْتُمُ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّا قَدْ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا [٢] فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا تُكَلِّمُ مِنْ أَجْسَادٍ لَا أَرْوَاحَ لَهَا [٣] قَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب المغازی /باب قتل أبی جهل (رقم-٣٩٧٦) ومسلم فی کتاب الجنّة وصفة نعیمها وأهلها/باب عرض مقعد المیّت من الجنّة أو النّار علیه، وإثبات عذاب القبر والتعوّذ منه(رقم-٧٨ - (٢٨٧٥) واحمد فی المسند: ١٤٥/٣

مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ لِمَا أَقُولُ مِنْهُمْ ④ وَفِي رِوَايَةٍ مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ مِنْهُمْ وَلَكِنْ لَا يُجِيبُونَ. ⑤ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَزَادَ الْبُخَارِيُّ قَالَ قَتَادَةُ أَحْيَاهُمُ اللهُ حَتَّى أَسْمَعَهُمْ قَوْلَهُ تَوْبِيخًا وَتَصْغِيرًا وَنِقْمَةً وَحَسْرَةً وَنَدَمًا».

ترجمه: ①چې آيا اوس تاسو ته دا ښه معلومېږي چې تاسو د الله او د هغه د رسول اطاعت کړي وې بيشکه مونږ ته خو هغه څيز معلوم شو چې د هغه زمونږ سره زمونږ رب قطعي وعده کړي وه [يعنی ستاسو په مقابله کې زمونږ فتح او باطل طاقتونو باندې زمونږ غلبه] او آيا تاسو هم هغه څيز پيدا کړو چې د هغه ستاسو پروردګار ستاسو سره قطعي وعده کړي وه [يعنی ستاسو د عذاب مطلب داچې مونږ ته خو د الله د وعدې مطابق فتح او کاميابي حاصله شوه آيا تاسو ته هم عذاب حاصل شو چې د هغه څخه ستاسو پروردګار تاسو بيرولي وئ ګويا د حضور ﷺ داسوال د زجر او توبيخ د مخه وو] ②حضرت عمر رضی الله عنه عرض اوکړو يارسول الله! آيا تاسو داسې جسمونه مخاطب کوئ چې په هغوی کې رحونه نشته ③رسول کريم ﷺ ورته وفرمايل قسم دی په هغه ذات چې د هغه په لاس کې د محمد ﷺ ساه ده دې جسمونو ته چې زه څه وايم ته د هغه زيات اوريدونکی نه يي ④او په يو رايت کې داسې دي ته د دوئ څخه زيات اوريدونکی نه يي ليکن فرق صرف دومره دی چې ته جواب ورکولو باندې قادر يې او دوئ جواب نشي ورکولی. ⑤(بخاري مسلم) بخاري رحمه الله داهم نقل کړي دی قتاده رحمه الله وفرمايل الله تعالیٰ هغه سرداران د قريشو د حضور ﷺ د خطاب په وخت ژوندی کړي وو چې د حضور ﷺ خبره واوري چې دهغه سره په دې دنيا کې د حضور ﷺ په مخکې هغوی ته سرزنش وشو او هغوی ذلت خواري عذاب افسوس او پښيماني محسوس کړله.

حل اللغات: ⑧تَوْبِيخًا: دپاره د رټلو او ملامته کولو. ⑨ وَتَصْغِيرًا: دپاره د ذليل کولو. ⑩ وَنِقْمَةً: پښيمانه کول.

تسهيلات:

قوله: فَقُذِفُوا فِي طَوِيٍّ مِنْ أَطْوَاءِ بَدْرٍ خَبِيثٍ مُخْبِثٍ:

په طوی او قليب کښې فرق: آباد کوهی ته وائی او قليب هغه کوهی ته وائی کوم چه وران او شاړ وی. راويانو زيات خيال نه دې کړې نو دَ طوی لفظ هم بعضې راويانو ذکر کړې دې او بعضو دَ قليب لفظ استعمال کړو لږ شان فرق دې چا خيال نه دې کړې. دَ بدر کوهی وران او شاړ وو.

قوله: فَجَعَلَ يُنَادِيهِمْ: دَ تبکيت او تذليل، توهين، تحقير او تخسير په غرض حضور پاک دَ قريشو سردارانو سره دا خبرې اترې کړی دی. حضرت حسان رضی الله عنه دغه منظر په خپلو اشعارو کښې داسې بيان کړې دې:

فغادرنا أبا جهل صريعا وعتبة قد تركنا بالجبوب
وشيبة قد تركنا في رجال ذوي حسب اذا نسبوا النسيب
يناديهم رسول الله ما قذفناهم كباكب في القليب
الم تجدوا كلامي كان حقا وامر الله يأخذ بالقلوب
فما نطقوا ولو نطقوا القالوا اصبت وكنت ذا رأي مصيب

ترجمه مونږ ابوجهل پرمخې غورزولوسره پریخودو او عتبه هم مونږ په کانړیزه زمکه باندې پریخودو. اوشیبه مونږ داسې خلقو سره قتل کړو او پریخودو چه دَ لوئی حسب نسب والا وو. رسول الله ﷺ هغوی ته هغه وخت آواز ورکولوکوم وخت چه مونږ هغوی گنده کوهی کښې بسکته پورته غورزولوسره پریخودې وو حضورپاك اوفرمائیل چه آیا تاسو زما خبره رښتیا اوموندله؟ حالانکه دَ الله تعالی حکم په زړونو کښې ورکوزیږی کافرانودَ قریشو خبره اونه کړه که چرې هغوی جواب ورکولې شوې نوهم دا به ئی وئیل چه تاسو رښتیا وئیلې وو اوستاسو رائې صحیح وه.

نوټ: د سماع موتی وړاندې تفصیل سره تیره شوې ده

[۳۹٦۸] وفد هوازن ته د دوو خبرو اختیار ورکول

۳۹٦۸ـــ[۹] (¹) ⦗١⦘ وَعَنْ مَرْوَانَ وَالْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ: ⦗٢⦘ «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَامَ حِينَ جَاءَهُ وَفْدُ هَوَازِنَ مُسْلِمِينَ ⦗٣⦘ فَسَأَلُوهُ أَنْ يَرُدَّ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ وَسَبْيَهُمْ ⦗٤⦘ فَقَالَ فَاخْتَارُوا إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ إِمَّا السَّبْيَ وَإِمَّا الْمَالَ ⦗٥⦘ قَالُوا فَإِنَّا نَخْتَارُ سَبْيَنَا ⦗٦⦘ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَأَثْنَى عَلَى اللهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ،

ترجمه: ⦗١⦘ ومروان او مسور ابن مخرمه راویان دي ⦗٢⦘ چې رسول کریم ﷺ هغه وخت خطبه ارشاد فرمایلو د پاره اودریدلو کوم وخت چې قبیله هوازن خلق اسلام قبلولو ښخه وروسته د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شول ⦗٣⦘ او هغوئ حضور ﷺ ته داعرض اوکړو چې د هغوی مال او قیدیان واپس ورکړي ⦗٤⦘ حضور ﷺ هغوی ته وفرمایل په دوو څیزونو کې یو څیز اختیار کئ یا خوبه قیدیان رها شي یا مال واپس واخلئ ⦗٥⦘ هغوی عرض اوکړو مونږ خپل قیدیان رها کول خوښوو ⦗٦⦘ بیا رسول کریم ﷺ د صحابه ﷺ مخکې خطبه وفرمایله مخکې حضور ﷺ د الله ﷻ حمد او ثناء بیان کړه چې د هغه هغه مستحق دی

⦗١⦘ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ إِخْوَانَكُمْ قَدْ جَاءُوا تَائِبِينَ ⦗٢⦘ وَإِنِّي قَدْ رَأَيْتُ أَنْ أَرُدَّ إِلَيْهِمْ سَبْيَهُمْ ⦗٣⦘ فَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ أَنْ يُطَيِّبَ ذٰلِكَ فَلْيَفْعَلْ ⦗٤⦘ وَمَنْ أَحَبَّ مِنْكُمْ أَنْ يَكُونَ عَلَى حَظِّهِ ⦗٥⦘ حَتَّى نُعْطِيَهُ إِيَّاهُ مِنْ أَوَّلِ مَنْ يَفِيءُ اللّٰهُ عَلَيْنَا

¹) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب إذا وهب شيئا لوكيل أو شفيع قوم جاز (رقم-۲۳۰۷) و ابو داود في كتاب الجهاد ، باب في فداء الأسير بالمال (رقم-۲٦۹۳)واحمد في المسند: ۳۲۷/٤

قلملحل [٦] فقال الناس قد طيبنا ذلك يا رسول الله

ترجمه: [١] بيايي وفرمايل د دې خخه وروسته د دې قبيله هوازن خلق چې ستاسو ديني يانسبي ورونه دي دخپل كفر خخه توبه كولو سره او مسلمانيدو سره تاسو ته راغلي دي [٢] ما داخيز مناسب گڼلى دى چې د دوي قيديان واپس وركړم [٣] نو په تاسو كې چې كوم سرى خوښي سره قيديان واپس كول غواړي هغوى دې داسې وكړي يعنى هغه سره چې كوم قيديان دي هغه دي واپس راكړي [٤] او كوم سرى چې خپلې حصي باندې قائم اوسيدل غواړي [٥] نرهغه وخته پورې چې مونږ هغه ته د هغه عوض د هغه مخكې راتلونكى مال خخه ور كړو كوم چې الله ﷻ مونږ ته د غنيمت په طور راكړي نو هغه دي داسې وكړي ايعنى كوم سرى چې د خپلې حصي قيديان بغير معاوضه وركول نه غواړي نو هغه دي مونږ ته وښايي چې هغه به څه معاوضه آخلي چې مونږ دا انتظام وكو چې اوس چرته مخكې د غنيمت مال راشي د هغه خخه د هغه هغه معاوضه اداء شيا [٦] خلقو يعنى صحابه ﷺ وو يا بلا امتياز ټولو صحابه وُ ﷺ عرض اوكړو يارسول الله مونږ په دي يعنى د قيديانو په واپس دركولو په خوښى سره آماده يو

حل اللغات: ① عَلَى حَظِّهِ: په حصه باندې، معاوضه باندې.

[١] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِنَّا لَا نَدْرِي مَنْ أَذِنَ مِنْكُمْ مِمَّنْ لَمْ يَأْذَنْ [٢] فَارْجِعُوا حَتَّى يَرْفَعَ إِلَيْنَا عُرَفَاؤُكُمْ أَمْرَكُمْ [٣] فَرَجَعَ النَّاسُ فَكَلَّمَهُمْ عُرَفَاؤُهُمْ، [٤] ثُمَّ رَجَعُوا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَأَخْبَرُوهُ أَنَّهُمْ قَدْ طَيَّبُوا وَأَذِنُوا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] رسول كريم ﷺ وفرمايل مونږ ته دي مجمع كې دانشي معلوميدى چې په تاسو كې كوم سرى راضي دى او كوم سرى راضي نه دى د دې فرق نشي كيدى [٢] نو تاسو ټول خلق خپل خپل كورته واپس لاړ شئ او خپل خاندان او د قبيلې د سردارانو خخه په دې باره كې مشوره واخلي تردې چې ستاسو هغه سرداران تفصيل سره زمونږ په مخكې تاسو فيصله پيش كړو [٣] نو ټول خپلو كورونو ته واپس ولاړل او هركله چې د هغوى سردارانو د هغوى سره خبرې اترې وكړې [٤] نو هغه خلق د حضور ﷺ په خدمت كې واپس راغلل او حضور ﷺ ته يې وښودل چې هغوى د قيديانو واپس وركولو باندې راضي دي او هغوى د دې امر اجازت وركړي دى.

حل اللغات: ② طَيَّبُوا: راضى دى. ③ أَذِنُوا: اجازت ئې وركړې دي

تسهيلات:

قوله: فَسَأَلُوهُ أَنْ يَرُدَّ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ وَسَبْيَهُمْ:

دجنګ حنين مال غنيمت: په جنګ حنين كښې شپږ زره انسانان قيد شوي وو په كوم كښې چه ماشومان هم وو ښځې هم وې اوبوډاګان اوځوانان هم وو. حضورپاك دَ غنائمو

په تقسيم كښې كافي تاخيراوكړو دې دپاره چه دَ هوازن خلق دَ مذاكراتودپاره راشي. هغه خلق ډير تاخيرسره راغلل ليكن داسې قصيدې ئې اووئيلې چه خلق ئې اوژړول. حضورپاك اوفرمائيل چه اوس دَ غنائمو مالونه تقسيم شوى دى. اوس تاسو په دوو خبروكښې يوه خبره خوښه كړئى يا مال واپس واخلئى يا مال پريږدئى خپل قيديان واپس كړئى. هغوى خلقو اووئيل چه مونږ خپل انسانان واپس كول غواړو.

قوله: أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ إِخْوَانَكُمْ قَدْ جَاءُوا تَائِبِينَ:

د نبى عليه السلام مدبرانه فيصله: رسول الله ﷺ دَ صحابه كرامو په وړاندې يوه خطبه اووئيله او وئى فرمائيل چه دَهوازن خلق مسلمانان شوى دى او راغلى دى. اوس دَ دوى قيديان چه څوك په خوشحالئى سره واپس كول غواړي واپس دې كړي اوڅوك چه نه واپس كول غواړي هغوى دې هم قيديان واپس كړي. مګر هغوى دې دَ خپل قيدى په بدله كښې زمونږ نه بياغلام واخلي. صحابه كرامو وئيل مونږ په واپس كولوباندې راضي يو. حضورپاك اوفرمائيل چه مونږ ته نه ده معلومه چه څوك خوشحال دې اوڅوك خوشحال نه دې. تاسو دَخپلې قبيلې سردارانوسره خبره اوكړئى. سردارانوهم دَ خوشحالئى اظهاراوكړو نوبيا ټول قيديان واپس كړې شو اومالونه تقسيم شو په كوم كښې چه څلويښت زره چيلئى وې څليريش زره اوښان وو اوڅلور زره اوقيه په لاس كښې راغلى وو.

[۲۹۶۹] د قيديانو تبادله

۲۹۶۹—[۱۰] (¹) [۱] وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ [۲]: «كَانَ ثَقِيفُ حَلِيفًا لِبَنِي عُقَيْلٍ [۳] فَأَسَرَتْ ثَقِيفُ رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۴] وَأَسَرَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَجُلًا مِنْ بَنِي عُقَيْلٍ [۵] فَأَوْثَقُوهُ فَطَرَحُوهُ فِي الْحَرَّةِ [۶] فَمَرَّ بِهِ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَنَادَاهُ يَا مُحَمَّدُ يَا مُحَمَّدُ فِيمَ أُخِذْتُ

ترجمه: [۱] او عمران ﷛ بن حصين وايي [۲] قبيله ثقيف د بنو عقيل حليف وو. [۳] كوم وخت چې د قبيله ثقيف خلقو د رسول كريم ﷺ صحابه ګرفتار كړل [۴] نو د رسول كريم ﷺ صحابه ﷛ وو د بنو عقيل يو سړى ګرفتار كى [۵] او هغه يې مضبوطي ستن سره تړلو سره حرّه [كاڼريجنه زمكه] كې وغورځوى [۶] رسول كريم ﷺ د اخوا څخه تير شو نو هغه قيدي ورته آواز وكى محمد ﷺ محمد ﷺ ! زه په كوم جرم كې ګرفتار شوى يم

حل اللغات: ① حَلِيفًا: دجنګ بندئ لوظ كونكى، معاهده كونكى، ② أَسَرَتْ: قيدكړل، ③ طَرَحُوهُ: وئې غورزولوهغه،

(¹) اخرجه مسلم فى كتاب النّذر/باب لا وفاء لنذر فى معصية الله، ولا فيما لا يملك العبد (رقم-۸ - (۱۶۴۱) و ابو داود فى كتاب الأيمان والنّذور/باب فى النّذر فيما لا يملك (رقم-۳۳۱۶) واحمد فى المسند: ۴/۴۳۰

١ قَالَ بِجَرِيرَةِ حُلَفَائِكُمْ ثَقِيفٍ ٢ فَتَرَكَهُ وَمَضَى ٣ فَنَادَاهُ يَا مُحَمَّدُ يَا مُحَمَّدُ فَرَحِمَهُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٤ فَرَجَعَ وَقَالَ مَا شَأْنُكَ ٥ قَالَ إِنِّي مُسْلِمٌ ٦ فَقَالَ لَوْ قُلْتَهَا وَأَنْتَ تَمْلِكُ أَمْرَكَ أَفْلَحْتَ كُلَّ الْفَلَاحِ ٧ قَالَ فَفَدَاهُ رَسُولُ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِالرَّجُلَيْنِ اللَّذَيْنِ أَسَرَتْهُمَا ثَقِيفٌ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١حضور ﷺ ورته وفرمايل د خپل حليف قبيله ثقيف د خلقو په جرم کې يعنې د قبيله ثقيف خلقو زمونږ دوه مسلمانان نيولي دي د هغوی په بدله کې ته نيول شوی يې ٢په دې ويلو سره حضور ﷺ هغه په خپل حال يعنې په هغه ځای کې پرېښودی او په مخکې لاړل هغه ٣بيا حضور ﷺ ته اواز وکړ محمد ﷺ محمد ﷺ! ٤د رسول کريم ﷺ په هغه رحم راغلو حضور ﷺ هغه ته واپس راغلو او ورته وې وفرمايل ته په کوم حال کې يې ٥هغه اوويل زه مسلمان يم ٦حضور ﷺ ورته وفرمايل کاشکې چې تا داخبره هغه وخت کړې وو هرکله چې ته د خپل اختيار مالك وې [يعنې ته چې د قيد کيدو څخه مخکې په ځان دې اختيار لرې او په تا څه دباؤ نه وو] که هغه وخت په طريقه د رغبت دې داويلي وې چې زه مسلمان يم نو تا به نجات پيدا کړې وو کامل نجات [يعنې په دنيا کې خو به دې دا نجات پيدا کړې وو چې قيد شوی به نه وې او په آخرت کې به دې د دوزخ د عذاب څخه خلاصون پيدا کړې وو] ٧راوي وايي د دې څخه وروسته رسول کريم ﷺ هغه د هغه دوو سړو په بدله کې چې ثقيف گرفتار کړې وو، پرېښودلو. (مسلم)

حل اللغات: ② جَرِيرَةِ: په جرم کښې، ⑤ أَفْلَحْتَ: ته به کامياب وې، ⑥ فَفَدَاهُ: نو پرېخودلو هغه.

تسهيلات:

قوله: قَالَ بِجَرِيرَةِ حُلَفَائِكُمْ ثَقِيفٍ فَتَرَكَهُ.

د قيديانو د بدلون فيصله: په معاهده معاقده او محالفه کښې به داسې کيدل چه دَ يوبل په بنه او بدو کښې به دواړه برابر شريکيدل. بنوثقيف او بنوعقيل دَ يوبل معاهدوو بنوثقيف دَ صحابه کرامو نه دوه کسان قيد کړې وو. صحابه کرامو دَ بنوعقيل يو سړې گرفتار کړو اوئې تړلو په گرمو شګو باندې ئې واچولو. حضورپاك هلته تيريدلو نو هغه قيدی آواز ورکړو چه زه ئې په کوم جرم کښې گرفتار کړې يم؟ حضورپاك جواب ورکړو ستاسو دَ معاهد بنوثقيف په جرم کښې ته راګير کړې شوې ئې هغوی زمونږ دوه کسان گرفتار کړی دی. بله ورځ دغه سړی بيا آواز ورکړو زه مسلمان شوې يم. حضورپاك اوفرمائيل چه که اول دې اسلام راوړلې وې نو يوه خبره وه اوس خو ته دَ نفاق په توګه هم وئيلې شې چه زه مسلمان يم دې دَ پاره چه تاته آزادی ملاؤ شي. دې نه پس حضورپاك دَ خپلو دوو صحابه کرامو په بدله کښې دا سړې پريخودو. په دې حديث سره دَ قيديانو دَ بدلون تعليم ملاؤ شو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۹۷۰] د جنګ بدر د قیدیانو څخه د ابو العاص د پرېښودو واقعه

۳۹۷۰–[۱۱] ()[١] عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ[٢]: «لَمَّا بَعَثَ أَهْلُ مَكَّةَ فِي فِدَاءِ أُسَرَائِهِمْ[٣] بَعَثَتْ زَيْنَبُ فِي فِدَاءِ أَبِي الْعَاصِ بِمَالٍ[٤] وَبَعَثَتْ فِيهِ بِقِلَادَةٍ لَهَا كَانَتْ عِنْدَ خَدِيجَةَ أَدْخَلَتْهَا بِهَا عَلَى أَبِي الْعَاصِ[٥] فَلَمَّا رَآهَا رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-رَقَّ لَهَا رِقَّةً شَدِيدَةً[٦] وَقَالَ إِنْ رَأَيْتُمْ أَنْ تُطْلِقُوا لَهَا أَسِيرَهَا وَتَرُدُّوا عَلَيْهَا الَّذِي لَهَا فَقَالُوا نَعَمْ

ترجمه:[١] بي بي عائشه رضي الله عنها وایي [٢] د بدر په جنګ کې چې الله ﷻ حضور ﷺ ته د مکي کفارو باندې غلبه او فتح ورکړله او په هغوی کې څه خو قتل شو او څه قیدي جوړولو سره مدیني ته راوستل شو بیا حضور ﷺ د هغوی د رهایي په بدله کې مال طلب کې نو اهل مکه د هغوی د رهایي خلاصون په بدله کې معاوضه ولیږله [٣] د حضور ﷺ نور مبارکه بي بي زینب رضي الله عنها هم د خپل خاوند ابو العاص درهایي په بدله کې څه مال ولیږلو [٤] چې په هغه کې د هغه هغه هار هم وو کوم چې مخکې بي بي خدیجي رضي الله عنها سره وو او خپلي لور بي بي زینب رضي الله عنها ته یي دابو العاص سره د نکاح په وخت داخ جهیز کې ورکړي وو [٥] رسول کریم ﷺ چې هغه هار ولیدلو نو بي بي زینب رضي الله عنها د پاره د حضور ﷺ زړه مبارك ډیر نرم شو (یعنی هغه وخت د خپلي لور بي بي زینب رضي الله عنها دغربت او تنهایي احساس کولو سره او د بي بي خدیجي رضي الله عنها د جدایي یا د تازه کیدو په وجه چې د هغه په ښت کې به داهار وو د حضور ﷺ په زړه مبارك جوش راغلی) [٦] او حضور ﷺ صحابه و رضي الله عنهم ته وفرمایل که تاسو مناسب ګنی نو د زینب رضي الله عنها د خاطره ابو العاص قیدي بلامعاوضه رها کی او زینب رضي الله عنها ته د هغه ټول څیزونه چې هغه د ابو العاص در هایي د پاره رالیږلی دی واپس راکی صحابه و رضي الله عنهم عرض اوکړو ښه ده چې مونږ د بي بي زینب رضي الله عنها مال واپس ورکولو سره ابو العاص بلا معاوضه رهاکوو نو ابو العاص آزاد شو

حل اللغات: ①فِدَاء: دقیدی آزادولو فدیه. ②قِلَادَة: هار، امیل. ③رَقَّ: نرم شو.

[١] وَكَانَ النَّبِيُّ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-أَخَذَ عَلَيْهِ أَنْ يُخَلِّيَ سَبِيلَ زَيْنَبَ إِلَيْهِ[٢] وَبَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-زَيْدَ بْنَ حَارِثَةَ وَرَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ[٣] فَقَالَ كُونَا بِبَطْنِ يَأْجَجَ حَتَّى تَمُرَّ بِكُمَا زَيْنَبُ فَتَصْحَبَاهَا حَتَّى تَأْتِيَا بِهَا». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او د رهایي په وخت حضور ﷺ د ابو العاص څخه دا عهد او وعده واخستله چې هغه حضور ﷺ ته د زینب رضي الله عنها د راتلو په لار کې خند جوړنشي یعنی حضور ﷺ د ابو العاص درها کولو په وخت هغه ته اوویل دا پخه وعده وکړه چې مکي ته رسیدو سره

() اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد، باب فی فداء الأسیر بالمال (رقم-۲۶۹۲) واحمد فی المسند: ۶/۲۷۶

به زینب رضی الله عنها ماته مدینې ته رالیږلو او د هغه په لار کې به خند کیږي نه ۲بیا رسول کریم ﷺ زید ابن حارثه رضی الله عنه او په انصارو کې یو سړی مکې ته ولیږلو ۳او هغوی ته یې اوویل تاسو خلق بطن یاجج کې ایسار شي هرکله چې زینب رضی الله عنها د مکې څخه روانیدو سره هلته تاسو ته راشي نو تاسو د هغه سره شئ او مدینې ته یې راولئ. (احمد ابوداود)

حل اللغات: ④يَأْجَجَ: د مکې په لار کښې یوه وادی ده، ⑤فَتَصْحَبَاهَا: نو تاسو دهغې ملګری شئ.

تسهیلات:

قوله: بَعَثَتْ زَيْنَبُ فِي فِدَاءِ أَبِي الْعَاصِ بِمَالٍ:

د ابوالعاص د خلاصولو دپاره د زینب هار رالیږل: ابوالعاص دحضورپاک خوم وو دده په نکاح کښې حضرت زینب رضی الله عنها وه حضرت زینب رضی الله عنها د خپل خاوند دراخلاصولو دپاره هغه هار اولیږلو کوم هار چه د رخصتئی په وخت حضرت خدیجة الکبری رضی الله عنها هغې ته ورکړې وو حضورپاک چه کله دا هار اولیدلو نو زوړ وخت ورته رایادشو په حضورپاک باندې د ژړا کیفیت راغې اوحضورپاک خپلو صحابه کرامو ته اوفرمائیل چه که زمادَ لور هار هم واپس کړې شی اوقیدی هم پریخودې شی نو ښه به وی.

بغیرعوضه د ابوالعاص آزادول: صحابه کرامو دا خبره خوښه کړه اوحضورپاک ابوالعاص سره دا شرط اولګولو چه زما لور مدینې ته روانه کړه چنانچه ابوالعاص وفاداری اوکړه او د بطن یا جج په مقام باندې ئی حضرت زینب رضی الله عنها دوو صحابه کراموته حواله کړه اوصحابه کرامودا مدینې ته بوتله. په دوی کښې یو دحضورپاک په خوئی نیولې زیدبن حارثه وو دَدې حدیث نه معلومه شوه چه دین یومضبوط نظام دې اودَ دې دَ آبادولو دَپاره ډیرې لوئی قربانئی ورکړې شوی دی.

[۲۹۷۱] د جنګ بدر قتل شوي قیدیان

۲-[۱۲] (¹) وَعَنْهَا «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَمَّا أَسَرَ أَهْلَ بَدْرٍ قَتَلَ عُقْبَةَ بْنَ أَبِي مُعَيْطٍ وَالنَّضْرَ بْنَ الْحَارِثِ وَمَنَّ عَلَى أَبِي عَزَّةَ الْجُمَحِيِّ.» رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

او بي بي عائشه رضی الله عنها راویه ده چې رسول کریم ﷺ د بدر په جنګ کې د مجاهدینو خلاف جنګیدونکو کوم کفار قید کړي وو په هغوی کې عقبه ابن ابي معیط او نضر ابن حارث يې قتل کړه او ابو عزه جمحي بې آزاد کولو سره ممنون کی

حل اللغات: ①أَسَرَ: قید کړی وو. ②وَمَنَّ: او آزاد ئې کړو. خلاص ئې کړو.

¹) اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحدیث ۲۷۱۱

تسهيلات:

قوله: لَمَّا أَسَرَ أَهْلَ بَدْرٍ:

د دريو کافرانو پيژندګلو:

① عقبه بن ابی معيط هغه بدبخت وو چه حضورپاك ته ئې په مكه مكرمه كښې سخت تكليف رسولې وو. عقبه دَ اوچتې درجې بې وقوف اودَابوجهل يوكارخاص او چمچه وه هغه څوځل په حضورپاك باندې لاس اوچت كړې وو او په بدن باندې ئې ورته ګندګى اچولې وه. دې په جنګ بدر كښې قيد كړې شوې وو اوقتل كړې شو

② نضر بن حارث دَ قرآن دښمن وو اودوى پورې به ئې توقې مسخرې كولې. اودا په بې وئيل محمد(صلى الله عليه وسلم) تاسو ته د عاديانو اوثموديانو قصې كوى راځې زه تاسو ته دهغې څخه ښكلې قصې كوم دغه شان د نبى عليه السلام په مذمت كښې به ئې اشعار وئيلو او وينزې به يې ګرولې. دې په جنګ بدر كښې قيد كړې شوې وو اوقتل كړې شو

③ ابوعزه جمحى شاعرو دې هم په جنګ بدر كښې ګرفتارشوې وو خو دې نبى عليه السلام په دې شرط باندې خلاص كړو چه بيابه دَ مسلمانانو خلاف نه لاس استعمالوى اونه ژبه. دا بدبخت بيا دَاحدميدان ته راغلو او بيا په لار كښې راګيركړې شو اودَ ګرفتارئى نه پس حضورپاك دَده دَقتلولو حكم وركړو او وئى فرمائيل چه مسلمان دَ يوې سورې نه دوه ځل نه شى چيچلې.

[۳۹۷۲] عقبه بن ابی معيط ته د نبی عليه السلام جواب

۳۹۷۲-[۱۳] () وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَمَّا أَرَادَ قَتْلَ عُقْبَةَ بْنَ أَبِي مُعَيْطٍ قَالَ مَنْ لِلصِّبْيَةِ قَالَ النَّارُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

او ابن مسعود ﷺ راوي دى چې رسول كريم ﷺ چې د عقبه ابن ابي معيط د وژلو اراده وكړله نو هغه اوويل ځما بچى به څوك پالي؟ حضور ﷺ ورته وفرمايل اور. ابو داود.

تسهيلات:

قوله: قَالَ مَنْ لِلصِّبْيَةِ:

د مذكوره جملې مطلب: كه تاسو څه قتل كړم نو ځما د بال بچ پرروش (خيال) به څوك ساتى، نو نبى كريم ﷺ وفرمائيل چه هغوې به اور كښې وى.

[1]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الجهاد /باب فى حمل السّلاح إلى أرض العدوّ (رقم-۲۷۸۶)

قوله: قَالَ النَّارُ:

د في النار په مفهوم کښې دوه احتمالات: ① دا چه علی أسلوب الحکیم جواب دې چه تا دپاره اور تيار دې ته د خپل ځان غم و فکر کوه، د بچو غم مه کوه او د هغوې الله تعالی کفيل دې. "ومامن دابة فی الأرض إلاعلی الله رزقها". [التعلیق الصبیح ج۴، ص۳۷۱]

② د النار نه مراد ضائع کيدل دی چه ستا په شان به دوې هم اور کښې سوزی.

[۲۹۷۳] د جنګ بدر قيديا نو باره کښې مسلمانانو ته د دوو خبرو اختيار

۲۹۷۳ — [۱۴] () [۱] وَعَنْ عَلِيٍّ «عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّ جِبْرِيلَ هَبَطَ عَلَيْهِ فَقَالَ لَهُ [۲] خَيِّرْهُمْ يَعْنِي أَصْحَابَكَ فِي أُسَارَى بَدْرٍ الْقَتْلَ، أَوِ الْفِدَاءَ عَلَى أَنْ يُقْتَلَ مِنْهُمْ قَابِلًا مِثْلُهُمْ [۳] قَالُوا الْفِدَاءَ وَيُقْتَلُ مِنَّا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت علي کرم الله وجهه د رسول کریم ﷺ څخه روايت کوي چې حضرت جبرائیل علیه السلام حضور ﷺ ته تشريف راوړو او ورته وي وئيل [۲] چې تاسو ﷺ خپلو صحابه ؤ ﷺ ته د جنګ بدر د قيديانو په باره کې اختيار ورکی برابره خبره ده که هغه قيديان قتل کړي يافديه واخلي يعنی مال اخستو سره هغوی پريږدي ليکن د فديه آخستو په صورت کې به راتلونکي کال ته د هغه صحابه ﷺ دومره يعنی اويا سرې وژلی شي [۳] صحابه ﷺ دا اختيار اوريدو سره عرض اوکړو چې مونږ فديه آخستل او خپل اويا سرو وژل اختيار وو دا روايت امام ترمذي رحمه الله نقل کړي دی او ويلي يي دي چې دا حديث غريب دی.

حل اللغات: ① هَبَطَ: راکوز شو. ② الْفِدَاءَ: دقيدی دخلاصولو فديه.

تسهيلات:

قوله: الْقَتْلَ، أَوِ الْفِدَاءَ:

صحابه کرامو ته دجنګ بدرپه قيديانوکښې د دوو خبرو اختيار: بدرکښې چه کوم خلق ګرفتار شوی وو هغه دَ اهل مکه اويا کسان وو په کوم کښې چه لوئی لوئی نوموړی اشخاص هم وو. حضورپاك ته الله تعالی د دوو خبرو اختيارورکړې وو

① د دوی د قتلولو اختيار

② د دوی څخه فديه اخستل

قوله: أَوِ الْفِدَاءَ عَلَى أَنْ يُقْتَلَ مِنْهُمْ قَابِلًا:

د فديه په صورت کښې د اويا کسانو د شهادت پيشنګوئی: ليکن دَ فديه په صورت کښې به

[1] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب السّیر عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی قتل الأساری والفداء (رقم-۱۵۶۷)

بیا ستاسو اوياكسان وژلې كيږي دا فيصله حضورپاك دَ صحابه كرامو په مخكښې كيخوده اوخپله رائې ئې دا ښكاره كړه چه فديه اخستل ښه دي صديق اكبر رضي الله عنه هم فديه اخستل بهتر اوګرځول دي دپاره چه د فديه په مال سره به دَ جهاد ميدان مستحكم شي. باقي مونږ دَ شهادت لټونكي يو كه زمونږ كسان راتلونكي كال كښې شهيدان شي نوهيڅ بدې نشته دَعام صحابه كرامو هم دغه رائې وه

دعمر اوسعد بن معاذ رضي الله عنهما مخالفت: صرف دَحضرت عمر رضي الله عنه اوحضرت سعد بن معاذ رضي الله عنهما دواړو رائې دا وه چه دا دَ قريشو صناديد دي فديه نه دي اخستل پكار بلكه قتلول پكاردي بهرحال فيصله دَ حضوراكرم صلى الله عليه وسلم اوعام صحابه كرامو په رائې باندې اوشوه په دې باندې دَ الله تعالى دَطرف نه سخت وعيد راغلو حضورپاك اوفرمائيل چه دَغه ونې پورې عذاب رسيدلې وو كه چرې عذاب راغلې وې نودَ عمر اوسعدنه بغيربه بل څوك نه بچ كيدل

يواشكال: ددې اوس سوال دادې چه كله مسلمانانوله الله تعالى دَ دواړو څيزونو نه دَ يواختيارولو اختيار وركړې وو نوبيا دا وعيد او رټنه ولې راغله؟

د اشكال جواب: ددې جواب دادې چه دا اختيارهم دَامتحان په توګه باندې وو دَ الله تعالى په نيزفديه نه اخستل ووچه ټول كافران قتل شي په دې وجه رټنه راغله

[۲۹۷٤] د قيديانو تحقيق او تفتيش

۳۹۷۴–[۱۵] ( ) [۱] «وَعَنْ عَطِيَّةَ الْقُرَظِيِّ قَالَ [۲] كُنْتُ فِي سَبْيِ بَنِي قُرَيْظَةَ، عُرِضْنَا عَلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] فَكَانُوا يَنْظُرُونَ فَمَنْ أَنْبَتَ الشَّعَرَ قُتِلَ وَمَنْ لَمْ يُنْبِتْ لَمْ يُقْتَلْ [۴] فَكَشَفُوا عَانَتِي فَوَجَدُوهَا لَمْ تُنْبِتْ فَجَعَلُونِي فِي السَّبْيِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او عطيه قرظي رحمه الله وايي [۲] دَ بني قريظه كوم خلق چې قيدي جوړولو سره رواستل شوی وو په هغوی كې زه هم وم مونږ رسول كريم صلى الله عليه وسلم ته پيش شو [۳] هغه وخت صحابه رضي الله عنهم داطريقه اختيار كړه چې په قيديانو كې كوم كم عمر واله وو د هغوی د نامه لاندې حصې كولاؤولو سره يې كتله د چا د نامه لاندې حصې باندې چې ويښته راختلی وو هغه به قتلولی شو ځكه چې د نامه لاندې حصه باندې ويښته راوتل د بلوغ علامه ده نو داسې سړي به دمسلمانانو سره جنګ كونكی شميرل كيدي او د چا ويښته چې نه وو راختلی هغه به نه شو قتلولی ځكه چې هغه به ذريت يعنی بچو كې شمير كيدی [۴] نو څما د نامه لاندې حصه هم خلاصه شوه هركله چې هلته ويښته پيدانه شوه نو زه هم په قيديانو كې ژوندی وساتل شوم (ابوداود ابن ماجه دارمي)

[۱]) اخرجه ابوداود فى السنن رقم الحديث ٤٤٠٤ والترمذى فى السنن رقم الحديث ۱۵۸٤ والنسائى فى السنن رقم الحديث ۳٤۲۹

حل اللغات: ① عُرِضْنَا: پيش كړې شو مونږه. ② أَنْبَتَ: راختلې وى. ③ الشَّعَرَ: ويښته. ④ عَانَتِي: عانة د نامه لاندې حصې ته وائي په كومه چه ويښته راخيږي (سپغز)

تسهيلات:

قوله: فَمَنْ أَنْبَتَ الشَّعَرَ قُتِلَ:

زيرناف ويښته د بلوغ علامت ګرځول: دا د بنوقريظه طرف ته نسبت دې حضرت عطيه ﷺ ته الله تعالى د اسلام توفيق ورکړو او اوس هغه په آخرت کښې به مزوکښې دې او په دنياکښې د مسلمانانو دپاره شيخ الحديث جوړشو صحابه کرامو د نامه لاندې ويښته د بلوغ علامت ګرځولې دې فقهاء کرامو هم دا د بالغ کيدو نښه ګرځولې ده

[٢٩٧٥] دحديبيه په موقع مشرکانو ته د غلامانو د واپس کولو څخه انکار

٣٩٧٥ـ[١٢] (١) [١] وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ [٢] «خَرَجَ عِبْدَانٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَعْنِي يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ قَبْلَ الصُّلْحِ فَكَتَبَ إِلَيْهِ مَوَالِيهِمْ [٣] قَالُوا يَا مُحَمَّدُ وَاللَّهِ مَا خَرَجُوا إِلَيْكَ رَغْبَةً فِي دِينِكَ وَإِنَّمَا خَرَجُوا هَرَبًا مِنَ الرِّقِّ [٤] فَقَالَ نَاسٌ صَدَقُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ رُدَّهُمْ إِلَيْهِ [٥] فَغَضِبَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -

ترجمه: [١] او حضرت علي كرم الله وجهه وايي [٢] د حديبئي د صلح په ورځ د مسلمانانو او د مكي د كفارو په مينځ كې د معاهدې ليكلو څخه مخكې څه غلامان د مكي څخه رانلو سره د رسول كريم ﷺ په خدمت كې حاضر شو دهغوى مالكانو حضور ﷺ ته وليكل [٣] اې محمد ﷺ قسم په خداى دا غلامان تاسو ته د دې د پاره نه دى راغلي چې ستاسو دين طرف ته رغبت لري بلكه داخلق د غلامۍ څخه د خلاصيدو په غرض راتښتيدلى دى [٤] كله چې صحابه ﷺ كې خني خلقو چې دا مكتوب خط وليدلو نو عرض يې اوكړو يارسول الله تاسو دا غلامان خپلو مالكانو ته واپس وليږئ هغوى بالكل صحيح خبره ليكلې ده [٥] په دې اوريدو سره حضور ﷺ غضبناك شو

حل اللغات ① مَوَالِيهِمْ: د مولى جمع ده. مالكان دهغوى ،دغلام مالك ته مولى وائي ② هَرَبًا: په تيختنه.

[١] وَقَالَ مَا أُرَاكُمْ تَنْتَهُونَ يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ [٢] حَتَّى يَبْعَثَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ مَنْ يَضْرِبُ رِقَابَكُمْ عَلَى هَذَا [٣] وَأَبَى أَنْ يَرُدَّهُمْ وَقَالَ هُمْ عُتَقَاءُ اللَّهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او وې فرمايل اې قريشو! زه وينم چې تاسو خپلې سركښى او نافرماني څخه نه منع كيږئ [٢] ترڅو پورې چې الله ﷻ په تاسو هغه سړي مسلط نه كړي چې ستاسو دا فيصلې اچې دا غلامان دې د هغوى مالكانو ته واپس وليږل شي او دغه شان د هغوى د مسلمانيدو څخه وروسته هغوى دې دار الحرب ته حواله شي] په بناء ستاسو څټونه دې

[١] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الجهاد . باب في عبيد المشركين يلحقون بالمسلمين فيسلمون (رقم-٢٧٠٠)

والوخول شي ⑦او بيا حضور ﷺ د هغه غلامانو د واپسی مطالبه رد کړله او وي فرمايل چې دوئ د الله ﷻ آزاد کړده دي. (ابوداود)

حل اللغات: ③ مَنْفَرٌ: ډله، جماعت، ⑥ عُتَقَاءُ اللهِ: د الله آزاد کړي شوی.

تسهيلات:

قوله: فَغَضِبَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د نبی عليه السلام د غصه کيدو وجه: حضورپاك ځکه په غصه شوچه داغلام خالص مسلمان وو اوخلقو دا مطالبه کوله چه دې خپلو پخوانو مشرانوته واپس کړئی اود آزادولو نه پس بيا دې غلام جوړ کړئی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۹۷٦] د حضرت خالد د عدم احتياط يوه واقعه

۲۹۷٦-[۱۷] () ①عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ ②«بَعَثَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ إِلَى بَنِي جَذِيمَةَ فَدَعَاهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ ③فَلَمْ يُحْسِنُوا أَنْ يَقُولُوا أَسْلَمْنَا ④فَجَعَلُوا يَقُولُونَ صَبَأْنَا صَبَأْنَا ⑤فَجَعَلَ خَالِدٌ يَأْسِرُ وَيَقْتُلُ ⑥وَدَفَعَ إِلَى كُلِّ رَجُلٍ مِنَّا أَسِيرَهُ ⑦حَتَّى إِذَا كَانَ يَوْمٌ أَمَرَ خَالِدٌ أَنْ يَقْتُلَ كُلُّ رَجُلٍ مِنَّا أَسِيرَهُ

ترجمه: ①حضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي ②رسول كريم ﷺ خالد ابن وليد يوي قبيلي بني جذيمه ته وليږلو خالد رضي الله عنه هغه خلقوته د اسلام دعوت وركی ③هغه خلق د اضطراب او پريشانۍ په حالت كې په ښه شان يي دا ونه وئيل شوه چې مونږ اسلام راوړو يعنی هغوی خپلو ژبو سره د اسلام كلمه پوره طور سره اداء نه کړی شوه ④بلکه هغوی دا وئيل شروع کړل چې صَبَأْنَا صَبَأْنَا يعنی مونږ خپل دين پريښودی خپل دين پريښودی ⑤خالد رضي الله عنه چې د هغوی د ژبي څخه دا واوريدل نو د هغوی بعضې خلق يي قتلول او بعضې گرفتارول شروع کړل ⑥او بيا مونږ خلق چې هغه سره وو هغوی څخه هرسړي ته د هغه قيدي حواله شو يعنی داخلق قيدي جوړ شول هغوی زمونږ په مينځ كې تقسيمولو سره يو يو قيدي هريوه ته حواله شو او داحكم يي اوكړو چې مونږ د دې قيديانو ترهغه وخته پورې حفاظت او نگراني كوو ترڅوپورې چې مونږ ته د هغوی د قتلولو حكم راكول شي ⑦هركله چې هغه ورځ راغله چې خالد رضي الله عنه د هغه قيديانو د قتلولو فيصله وكړله نو مونږ ته يي حكم راكی چې په مونږ كې هرسړی دې خپل قيدي قتل کړي

حل اللغات: ①صَبَأْنَا صَبَأْنَا: مونږ خپل دين پريښودی، مونږ خپل دين پريښودې. يعنی اسلام مو قبول کړي دي. ②يَأْسِرُ: قيد كول به ئي.

[1]) اخرجه البخاری فی كتاب الأحكام/باب إذا قضی الحاكم بجور، أو خلاف أهل العلم فهو رد(رقم-۷۱۸۹) واحمد فی المسند: ۱۵۱/۲

١ فَقُلْتُ وَاللهِ لَا أَقْتُلُ أَسِيرِي وَلَا يَقْتُلُ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِي أَسِيرَهُ ٢ حَتَّى قَدِمْنَا عَلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَذَكَرْنَاهُ ٣ فَرَفَعَ يَدَيْهِ فَقَالَ اللَّهُمَّ إِنِّي أَبْرَأُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ خَالِدٌ مَرَّتَيْنِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ دا حکم اوريدو سره ما يعنى ابن عمر رضي الله عنه اوويل قسم په خداى زه خپل قيدي نه قتلوم او نه به څما ملګرو کې څوك سړى خپل قيدي قتلوي بلکه مونږ خلق به خپل قيديان ترهغه وخته پورې په خپل حفاظت کې ساتو ترڅوپورې چې مونږ د رسالت دربانه ونه رسيږو او په دې باره کې څه آخري حکم حاصل نه کو ٢ نو مونږ خپل قيديان په خپل حفاظت کې وساتل تردې چې د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شو او د حضور ﷺ مخکې مو پوره واقعه بيان کړه ٣ حضور ﷺ د واقعې تفصيل اوريدو سره خپل دواړه لاسونه پورته کولو سره دا اوويل چې اې الله! زه ستا په حضور کې د خالد رضي الله عنه د عمل څخه د خپلې بيزارى او بې رضايي اظهار کوم حضور ﷺ دا الفاظ دوه ځله ارشاد وفرمايله. (بخاري)

حل اللغات: ٣ أَنِّي أَبْرَأُ: زه بيزارى ښکاره کوم.

تسهيلات:

قوله: صَبَأْنَا صَبَأْنَا:

دابن عمر رضى الله عنهما د قيديانو د قتلولو څخه انکار کول: دادَ اسلام قبلولو يو تعبير وو په دې باره کښې صحابه کرامو رضي الله عنهم او حضرت خالد رضي الله عنه داخيال اونه کړو چه دا خلق په اسلام کښې دَداخليدلو په غرض دا الفاظ وائى. په دې وجه بعضې صحابه کرامو خپل قيديان دَ خلاصولو په ځائى قتل کړل. په دې باندې حضورپاك لاسونه اوچت کړل اودَ حضرت خالد رضي الله عنه دَدې فعل نه ئې دَ براءت اعلان اوکړو. علماؤ ليکلى دى چه دَ وينې تويولو په سلسله کښې په مبهم الفاظو باندې کله هم عمل نه دى کول پکار.

[۶] بَابُ الأَمَانِ]

دامان ورکولوبیان

خلاصة الباب:

فيه ثمانية أحاديث مشتملة على أربع مسائل:

① اعتبار أمان المرأة: ۱، ۲.

② عدم جواز الغدر في الأمان: ۳، ۴.

③ عدم جواز الغدر بالرسول: ۵، ۶، ۸.

④ حكم الوفاء بحلف الجاهلية: ۷.

دامان تعريف: امن او امان د خوف اويرې ضد دې چانه د خان مال او عزت او ناموس تحفظ ورکولوته امن ونیلې شي

دامان درې صورتونه: ① معاهد اوحلیف یعني کوموملکونو یاخلقوسره چه دَ جنګ نه کولوخصوصی حکم ورکړې شوې وی اودَ وخت خلیفه هغوی سره دَ جنګ نه کولومعاهده کړې وی په ټولو مسلمانانوباندې دَدې خیال ساتل ضروری دی یاد ساتنی چه کافرانوسره د لسو کالونه زیات دَ جنګ بندنی معاهده کول جائزنه دی

② یوکافرحربی داراسلام ته راشی امن اوغواړی او په مسلمانانو کښې اوسیږی ده ته مستأمن ونیلې شی دَده دَ خان اومال دواړو حفاظت ضروری دې اودادَ مسلمانانو ذمه واری ده

③ کوم سړې چه د یوقوم. ملك یا دَ یوقبیلې دَطرف نه قاصدجوړشوې راغلې وی دَهغه حفاظت لازم دې لفظ امان دې دریواړو صورتونوته شامل دې

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۹۷۷] دبي بي اُمّ هاني يو رشته دارته امان ورکول

۲۹۷۷—[۱] ( ) [۱] «عَنْ أُمِّ هَانِئٍ بِنْتِ أَبِي طَالِبٍ قَالَتْ [۲] ذَهَبْتُ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَامَ الْفَتْحِ فَوَجَدْتُهُ يَغْتَسِلُ وَفَاطِمَةُ ابْنَتُهُ تَسْتُرُهُ بِثَوْبٍ [۳] فَسَلَّمْتُ فَقَالَ مَنْ هَذِهِ فَقُلْتُ أَنَا أُمُّ هَانِئٍ بِنْتُ أَبِي طَالِبٍ [۴] فَقَالَ مَرْحَبًا بِأُمِّ هَانِئٍ [۵] فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ غُسْلِهِ قَامَ فَصَلَّى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ مُلْتَحِفًا فِي ثَوْبٍ،

---

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب الجزية/باب أمان النساء وجوارهنّ (رقم-۳۱۷۱) ومسلم في كتاب الحيض/باب تستر المغتسل بثوب ونحوه (رقم ۷۲ (۳۳۶) و ابو داود في كتاب الصلاة،باب صلاة الضحى (رقم-۱۲۹۰) ومالك في الموطا كتاب قصر الصلاة في السفر . باب صلاة الضحى (رقم-۲۸)

ترجمه: ①بي بي ام هاني ﷺ بنت ابي طالب وايي ②د مكي د فتح په موقع زه د رسول كريم ﷺ په خدمت كې حاضر شوم رسول كريم ﷺ هغه وخت غسل كوى او د هغوى ﷺ لور بي بي فاطمي ﷺ كيږي سره په حضور ﷺ پرده كړيوه ③ماسلام عرض كى حضور ﷺ پوښتنه وكړه څوك ده ماعرض اوكړو زه ام هانى بنت ابوطالب يم ④حضور ﷺ وفرمايل ام هاني دي په خيره راشي ⑤بيا چې حضور ﷺ د غسل څخه فارغه شو نوجسم مبارك څخه كپړه چاپيره كولو سره حضور ﷺ اودريدلو او د څاښت مونځ يي اته ركعاته وكى

حل اللغات: ①مُلْتَحِفًا: چاپيره كونكې وو.

①ثُمَّ انْصَرَفَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ زَعَمَ ابْنُ أُمِّي عَلِيٌّ أَنَّهُ قَاتِلٌ رَجُلًا ②أَجَرْتُهُ فُلَانَ بْنَ هُبَيْرَةَ ③فَقَالَ رَسُولُ اللهِ قَدْ أَجَرْنَا مَنْ أَجَرْتِ يَا أُمَّ هَانِئٍ، وَذٰلِكَ ضُحًى» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ④وَفِي رِوَايَةٍ لِلتِّرْمِذِيِّ قَالَتْ: أَجَرْتُ رَجُلَيْنِ مِنْ أَحْمَائِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَمَّنَّا مَنْ أَمَّنْتِ.

ترجمه: كوم وخت چې د مونځ څخه فارغه شو نو ما عرض اوكړو يارسول الله څما د مور خوى يعني دحضرت علي ﷺ گمان دى چې هغه د هغه سړي قتلونكى دى ②كوم ته چې ما په خپل كور كې پناه وركړيده يعنى فلانى سړى چې د هبيره څوى دى ③نو رسول كريم ﷺ وفرمايل اې اُمّ هاني ! چاته چې تا پناه وركړي ده گويا هغه ته مونږ پناه وركړه بي بي امّ هاني ﷺ وايي دا واقعه د څاښت د وخت ده ④او د ترمذي په روايت كې داسې دي چې بي بي اُمّ هاني ﷺ رسول كريم ﷺ ته عرض اوكړو ما دوو سړو ته پناه وركړيده چې څما د خاوند رشته دار دى چې رسول كريم ﷺ وفرمايل زمونږ د طرف څخه هغه سړي په امان دى چاته چې تا آمان وركړي دى.

حل اللغات: ②أَحْمَائِي: زما دخاوند رشته داران

تسهيلات:

قوله: فَوَجَدْتُهُ يَغْتَسِلُ وَفَاطِمَةُ ابْنَتُهُ تَسْتُرُهُ بِثَوْبٍ:

دغسل محل وقوع: حضورپاك د فتح مكه په موقع باندې دَ وادى محصب سره په يوځائى باندې دَ خپل اوسيدودپاره يوه خيمه نصب كړې وه اوهم هلته ئې خپله جنډا خښه كړې وه. په دغه ځائى باندې نن صبا يوجمات موجود دې دَ كوم نوم چه مسجد راية دې كوم چه دَ چهپره بازار په آخره كښې واقع دې حضورپاك په دې ځائى كښې غسل فرمائيلو چه ام هانى ﷺ هلته راغله. دَام هانى اصل نوم فاخته يا عاتكه وو دَحضورپاك دَ تره ابوطالب لور وه. دَهغې دَخاوند نوم هبيره وو

د فتح مكې په موقع د امن ملاويدو څلور شرطونه: دَ فتح مكه په ورځ حضورپاك دَعام معافئى اعلان كړې وو خو څو شرطونه ئې لگولى وو.

① چې څوک حرم ته داخل شی. هغه په امن کښې دې.
② چې څوم مسجد حرام ته داخل شی هغه په امن کښې دې.
③ چې څوك وسله او غورزوی هغه په امن کښې دې
④ چې دَ کور دروازه بنده کړی هغه په امن کښې دې.
⑤ چې څوم دَ ابوسفیان کورته داخل شی هغه په امن کښې دې.

قوله: قَدْ أَجَرْنَا مَنْ أَجَرْتِ يَا أُمَّ هَانِئٍ:

د امن ملاويدل: حضرت علی رضی الله عنه چه کله دَخپلې خور ام هانی رضی الله عنها کورکښې داخل شو نوهلته یو سړې ملاؤ شو. حضرت علی خیال اوکړو لکه چه دې سړی ته امن حاصل نه دې لهذا هغه ئې قتلول غوښتل حضرت ام هانی رضی الله عنها رامخې ته شوه مگر حضرت علی رضی الله عنه سخت په غصه کښې وو. ام هانی رضی الله عنها رامنډه کړه اوحضورپاك له راغله او امن ئې حاصل کړو. حضورپاك امن ورکړو. ام هانی رضی الله عنها حضرت علی رضی الله عنه ته ابن امی دَ شفقت په توگه اوئیل څکه چه دَمور مینه زیاته وی.

قوله: وَفِي رِوَايَةٍ لِلتِّرْمِذِيِّ:

د مامون کس تعارف: دَ فلان بن هبیره نه هم دغه سړې مراد دې چه دَ هبیره څوئی وو. په تفصیلی روایت کښې دی چه دا دوه سړی وو چه دَ هبیره رشته دار وو کیدې شی یوئی څوئی وی دويم بل څوك وی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۹۷۸] د ښځې د امان په مسلمانانو لزوم

۳۹۷۸–[۲] ([1]) ⓵عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ⓶«إِنَّ الْمَرْأَةَ لَتَأْخُذُ لِلْقَوْمِ يَعْنِي تُجِيرُ عَلَى الْمُسْلِمِينَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ⓵حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل ⓶ښځه د یوقوم د پاره عهد آخستی شي یعنی هغه د مسلمانانو د طرف څخه پناه ورکولی شي (ترمذي)

تسهيلات: **قوله**: إِنَّ الْمَرْأَةَ لَتَأْخُذُ لِلْقَوْمِ:

دښځې د امان ورکولو اعتبار: یعنی دَ کم نه کم تر بې نامې سړې تردې چه که ښځه هم په جنگ کښې یوکافرته پناه ورکړی نو په ټولو مسلمانانوباندې لازم دی چه هغوی دَدغه ښځې دَ عهد او امان حفاظت او خیال اوساتی اوغداری اونه کړی.

---

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب السیر عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی أمان العبد والمرأة (رقم-۱۵۷۹)

[۲۹۷۹] د امن ورکولو څخه روسته د قتلولو سزا

۲۹۷۹-[۳] (¹) [۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَمِقِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ [۲] «مَنْ أَمَّنَ رَجُلًا عَلَى نَفْسِهِ فَقَتَلَهُ أُعْطِيَ لِوَاءَ الْغَدْرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: [۱] و عمرو بن حمق وايي چې ما د رسول کريم ﷺ څخه واوريدل [۲] کوم سړی چې چاته د سرآمان ورکړي او بيا هغه قتل کړي نو د قيامت په ورځ به هغه ته د بدعهدي نښنه ورکول شي (شرح السنه)

حل اللغات: ① لِوَاءَ: جهنډا، ② الْغَدْرِ: دهوکه، بې لوظی.

تسهیلات:

قوله: مَنْ أَمَّنَ رَجُلًا عَلَى نَفْسِهِ فَقَتَلَهُ:

د مامون د قتلولو سزا: د يعنې په عرصاتو دَ قيامت کښې به مشهورولې شي چه فلانکی سړی غداری کړې وه په دې شهرت سره به دَ دغه سړی تذليل اوسپکاوې کيږي. خلقوته به وئيلې شي چه اوګورئی دا سړې څومره ذليل دې.

قوله: أُعْطِيَ لِوَاءَ الْغَدْرِ:

د وعده خلافي جنډه ملاويدل: ده ته به د وعده خلافې جهنډا ورکړې شي، لکه چه دا کنايه ده ددې نه چه د قيامت په ورځ به د خلقو مينځ کښې شرمنده کړې شي او په بل حديث کښې ذکر دی چه قيامت په ورځ به د وعده خلافي کونکو دپاره يو خاص نښنه وي چه هغوي سره به دوې پيژندلې شي چه دا هغه خلق دې کومو چه به غدارې او بې لوظی کوله، او دا خبره دې واضح وي چه د قيامت په ورځ به د مسلمانانو پټ ګناهونه نه ظاهريږي بلکه ښکاره ګناهونه به ظاهريږي، نو لهذا حديث الباب د پرده پوشی والا حديث خلاف نه دې.

[۲۹۸۰] د وعدې د پوره کولو تاکيد

۲۹۸۰-[۴] (²) [۱] وَعَنْ سُلَيْمِ بْنِ عَامِرٍ قَالَ [۲] «كَانَ بَيْنَ مُعَاوِيَةَ وَبَيْنَ الرُّومِ عَهْدٌ [۳] وَكَانَ يَسِيرُ نَحْوَ بِلَادِهِمْ [۴] حَتَّى إِذَا انْقَضَى الْعَهْدُ أَغَارَ عَلَيْهِمْ [۵] فَجَاءَ رَجُلٌ عَلَى فَرَسٍ، أَوْ بِرْذَوْنٍ [۶] وَهُوَ يَقُولُ اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ وَفَاءٌ لَا غَدْرٌ [۷] فَنَظَرُوا فَإِذَا هُوَ عَمْرُو بْنُ عَبَسَةَ فَسَأَلَهُ مُعَاوِيَةُ عَنْ ذَلِكَ

ترجمه: [۱] او سليم ابن عامر تابعي رحمه الله وايي [۲] امير معاويه رضي الله عنه او د روميانو په مينځ کې دا معاهده شوې وه چې دومره ورځې به يو بل سره جنګ نه کوئ [۳] او حضرت معاويه

¹) اخرجه ابن ماجه فى السنن كتاب الدّيات/باب من أمن رجلا على دمه فقتله (رقم-۲۶۸۸) واحمد فى المسند:۵/۲۲۳

²) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الجهاد/باب فى الإمام يكون بينه، وبين العدوّ عهد فيسير إليه (رقم-۲۷۵۹) والترمذى فى كتاب السّير عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء فى الغدر (رقم-۱۵۸۰)

رضي الله عنه به د دې وعدې په زمانه کې د روميانو په ښارونو کې گشت لگولو د حالاتو اندازه به يې اخستله [۴] چې کله د وعدې موده تيره شي نو په هغه ورځ روميانو باندې په يو ځل حمله وکړي او د هغوی تيکاوني به لوټ کړي که هغه د گښتې په ذريعه د هغوی د حالاتو او تيکاونو جائزه اخستو په ځای خپل کيمپ کې پروت وې او بيا د وعدې موده ختميدو باندې حمله يې کړې وې نو د هغه روميانو د بيداريدو په وجه جنگي فائده نه شوه حاصليدی [۵] بيا په هغه ورځو کې هرکله چې امير معاويه رضي الله عنه خپل لښکر والاوو سره د روميانو په ښار کې گرځيدی يو سړی عربي يا ترکي اس باندې سوريدو ويلو سره راغلو [۶] چې الله اکبر الله اکبر د وفا لحاظ ساتي نه چې د بدعهدي يعنی تاسو باندې معاهده پوره کول لازم دی نه چې تاسو د معاهدې خلاف ورزي کوی گويا هغه دا واضحه کړه چې تاسو خلق د وعدې په زمانه کې د دښمنانو په ښارونو کې گشت لگولو گرځئ نو دا د خپل وعدې د پاسداری لحاظ ساتلو علامه نه ده بلکه دا وعده شکني او د وعدې د خلاف ورزي حکم کې داخل دی [۷] هرکله چې خلقو وليدل نو معلومه شوه چې دا سړی يوصحابي حضرت عمرو ابن عَبَسه رضي الله عنه دی، حضرت معاويه رضي الله عنه د هغه څخه داخبره ويوښتله چې د روميانو په ښارونو کې گرځيدل د عهد شکني برابر څنگه دی

حل اللغات: ① يَسِيرُ: تلو راتلو به، ② نَحْوَ: طرف، ③ أَغَارَ: حمله به اوکړي، ④ بِرْذَوْنٍ: تُرکی اس.

[۱] فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ يَقُولُ مَنْ كَانَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ قَوْمٍ عَهْدٌ فَلَا يَحُلَّنَّ عَهْدًا وَلَا يَشُدَّنَّهُ [۲] حَتَّى يَمْضِيَ أَمَدُهُ أَوْ يَنْبِذَ إِلَيْهِمْ عَلَى سَوَاءٍ [۳] قَالَ فَرَجَعَ مُعَاوِيَةُ بِالنَّاسِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] هغه اوويل ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي د کوم سړي او يوقوم په مينځ کې چې وعده وي نو هغه ته پکار دی چې هغه خپله وعده ماته نه کړي او نه يې بدله کړي [۲] ترڅو چې د هغه وعده موده تيره شي يا هغوی خبرولو سره د برابري په بنياد خپله وعده ماته کړي يعنی د هغه وعدې خلاف کول يا خو په هغه صورت کې جائز دي هرکله چې د وعدې وخت ختم شوی وي يا په هغه صورت کې جائز دي هرکله چې د څه مجبوري يا مصلحت په بناء د مودې په دوران کې وعده ماتول ضرور شوی وي او مخالف فريق د مخکې څخه اگاه شوی وي چې زمونږ او ستاسو په مينځ کې کومه وعده شوې وه مونږ هغه ماتوو اوس مونږ او تاسو دواړه برابر يو چې د چا څه مرضي وي هغه دې وکړي [۳] د حديث راوي مسلم ابن عامر وايي امير معاويه رضي الله عنه د حضرت ابن عَبَسَه رضي الله عنه داخبره او د حضور صلى الله عليه وسلم د حديث په اوريدو سره خپلو خلقو سره د روميانو د ښار څخه خپل کيمپ ته واپس راغلو (ترمذي ابوداود)

حل اللغات: ⑤ لَا يَشُدَّنَّهُ: تغير دې نه کوی په معاهده کښې، ⑥ فَلَا يَحُلَّنَّ: معاهده دې نه ماتوی اوغداری دې نه کوی. ⑦ يَنْبِذَ: د وعدې ماتولو خبرداری ورکول.

تسهیلات:

قوله: وَكَانَ يَسِيرُ نَحْوَ بِلَادِهِمْ:

دمعاهدې په دوران کښې په دشمن د حملې د تیاری کولو حکم: حضرت معاویه رضی الله عنه دَ معاهدې په دوران کښې حمله نه کول غوښتل بلکه هغوی دا سوچ اوکړو چه کله دَمعاهدې موده ختمه شی نودَحملې کولودَپاره به فوج تیار شی په دې غرض هغه اسلامی فوجونه دَ روم سرحدته رسول غوښتل. حضرت معاویه رضی الله عنه دا تیاری کوله چه یو صحابی په عربی اس یا ترکی اس باندې راغلو او وئی فرمائیل چه وفاداری کوئی غداری مه کوئی یعنی یا دَ مودې پوره کیدو نه پس فوج روان کړئی اویا په وجه دَ مصلحت دَمعاهدې دَختمولو واضح اعلان اوکړئی دې دَپاره چه دښمن ناخبره پاتې نه شی. "ينبذ اليهم على سواء" هم دغه مطلب دې. حضرت معاویه رضی الله عنه دا حدیث اوریدو سره فوجونه واپس کړل. سبحان الله دَ دین دَ یوې خبرې څومره خیال ساتل وو؟ دَدې حدیث ترجمه اومطلب صاحب مظاهر حق جدید صحیح نه دې لیکلې خیال کول پکاردی

قوله: وَلَا يَشُدَّنَّهُ:

په معاهده کښې دخیانت ممانعت: مطلب دادې چه په معاهده کښې دې څه تغیر نه کوی که دَنوې معاهده سره ولې نه وی دائی دَ مبالغې په توګه اوفرمائیل چه په معاهده کښې دې څه تغیرنه کوی ګنی دَ تجدید دَ معاهدې ممانعت نشته دې.

[۳۹۸۱] د معاهدې پابندی کول

۳۹۸۰—[۵] (¹) [۱] وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ قَالَ [۲] «بَعَثَتْنِي قُرَيْشٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَلَمَّا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أُلْقِيَ فِي قَلْبِيَ الْإِسْلَامُ [۳] فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي وَاللَّهِ أَرْجِعُ إِلَيْهِمْ أَبَدًا [۴] قَالَ، إِنِّي لَا أَخِيسُ بِالْعَهْدِ وَلَا أَحْبِسُ الْبُرُدَ وَلَكِنِ ارْجِعْ [۵] فَإِنْ كَانَ فِي نَفْسِكَ الَّذِي فِي نَفْسِكَ الْآنَ فَارْجِعْ [۶] قَالَ فَذَهَبْتُ، ثُمَّ أَتَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَأَسْلَمْتُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او ابورافع رضی الله عنه وایي [۲] د صلح حدیبیه په مقام کفارِ قریش زه خپل قاصد جوړولو سره درسول الله ﷺ په خدمت کې ولیږلم هرکله چې څما نظر په رسول الله ﷺ ولګیدلو نو بې اختیاره څما په زړه کې د اسلام صداقت او حقانیت ځای وکړلو [۳] ما عرض اوکړو یارسول الله قسم په خدای زه به اوس هیڅکله دې کفار قریش ته واپس ورنشم [۴] حضور ﷺ وفرمایل زه نه خو وعده ماتوم او نه قاصدان بنده وم البته اوس ته واپس لاړ شه [۵] که ستا په زړه کې هغه څیز یعنی اسلام قائم وي کوم چې داوخت دی نو بیا ماته راسه [۶] حضرت ابورافع رضی الله عنه وایي د حضور ﷺ د حکم مطابق زه مکې ته واپس

¹) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الجهاد/باب في الإمام يستجنّ به في العهود (رقم-۲۷۵۸) واحمد في المسند: ۸/۶

ولاړم او بیا د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شوم او اسلام مې قبول کې یعنی د خپل اسلام اعلان مې وکړو (ابوداود)

حل اللغات: ① لَا أَخِيسُ: ای لا أنقض العهد. خاس یخیس دَ معاهدې ماتولوپه معنی کښې دې. ② لَا أَحْبِسُ: نه بندوم ③ الْبُرُدَ: دادَ برید جمع ده. ډاك او پیغام اوړونکی راوړونکی قاصدته وائی.

تسهیلات:

قوله: وَلَا أَحْبِسُ الْبُرُدَ:

دبرید مختلف لغوی مراحل: ① علامه طیبی رحمه الله لیکی چه برید په اصل کښې قچرته وئیلې شو دا لفظ په اصل کښې بریده دم وو کوم چه دَ فارسئی لفظ دې یعنی هغه قچرډ کوم دَ لکئی وینښته چه پرې کړې شوی وی. دَداسې قچرو دَ لکئی نه به اوږده وینښته پرې کولې شو بیا عربو دا مخفف کړو نو برید شو.

② بیا دَدې اطلاق دَ قچرپه سوریدونکی باندې اوشو.

③ بیا برید په هغه مسافت باندې وئیلې شو کوم چه دَ اس دَمنډې مقدارووچه دولس میله پورې به وو.

د ډاک رسولو پخوانی طریقه: پخوانئی زمانه کښې دَ ډاك او پیغام اوړلو راوړلو یوعجیبه تیزنظام قائم وو. هغه به داسې وو چه په هر بریدباندې به ښه تازه اس ولاړ وو مثلاً دَ لاهورنه دهلی پورې دَمغل بادشاهانو په زمانه کښې په هربریدباندې به اسونه وو. دږلس میله پورې اس دَ ښه تیز ګاډی په شان منډې وهی بیا ستړې کیږی دَ یوبریدپورې چه به دغه اس منډه وهله نودَ یوبریدنه پس به دا اس پاتې کیدو اودَ هغه ځائی نه به تازه دم اس سامان اخستلو او روانیدلوبه دویم برید ته رسیدوسره به اودریدو. دَهغه ځائی نه به بل اس روانیدو. نودَسحر دَ وخت تماتر په دَ لاهورنه دَ ماښام کیدونه وړاندې دهلی ته رسیدل اودَهغه ځائی نه به لاهورته سامان راتلو دَ ډاك نظام به هم دغه شان چلیدلو

[۲۹۸۲] دقاصدانود قتلولو حرمت

۲۹۸۲ ــ [۶] () [۱] وَعَنْ نُعَيْمِ بْنِ مَسْعُودٍ [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ لِرَجُلَيْنِ جَاءَا مِنْ عِنْدِ مُسَيْلِمَةَ [۳] أَمَا وَاللَّهِ لَوْلَا أَنَّ الرُّسُلَ لَا تُقْتَلُ لَضَرَبْتُ أَعْنَاقَكُمَا». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او نعیم ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی [۲] رسول کریم ﷺ هغه دوو سړوته وفرمایل کوم چې د مسیلمه څخه راغلی وو [۳] چې یادلرئ قسم په خدای که د قاصد

[۱] اخرجه ابوداود: فی السنن کتاب الجهاد/باب فی الرّسل (رقم-۲۷۶۱) واحمد فی المسند: ۳/۴۸۷

قتلول شرعي طور سره ممنوع نه وی نو مابه ستاسو څټونه الوځولي وی ؛احمد ابوداود،

حل اللغات: ①الرُّسُلَ: قاصدان

تسهيلات:

قوله: قَالَ لِرَجُلَيْنِ:

د قاصدانو مصداق: دا دوه قاصدان وو دَ يونوم عبدالله بن نواحه وو اودَ بل نوم ابن اثال وو لکه چه په حديث نمبر(۳۹۸۳) کښې راځي.

قوله: جَاءَا مِنْ عِنْدِ مُسَيْلِمَةَ:

د مسيلمه کذاب پيژندګلو: داسړې مسيلمه کذاب وو چه دَحضورپاك دَ وصال نه پس ئې دَ نبوت دعویٰ کړې وه. بلکه دَحضورپاك په آخرى عمرکښې ئې دعویٰ کړې وه. حضورپاك له په يووفدکښې دې هم راغلې وو مګر ملاقات ئې نه دې کړې ده حضورپاك ته يوخط ليکلې وو حضورپاك په جواب کښې "الى مسيلمة الكذاب" ليکلې وو هم په دې سره کذاب مشهورشو. حضرت صديق اکبر ﷺ چه دَ مرتدينو خلاف کوم جنګونه کړې وو په هغې کښې زيات جنګونه هم دې مسيلمه کذاب سره شوی وو حضرت خالد ﷺ په ده باندې حمله اوکړه مسيلمه کذاب سره څلويښت زره طاقتور فوج وو دَ يمامه په جنګ کښې په يوه قلعه کښې لاس په لاس جنګ اوشوپه ګنړ شميرکښې صحابه کرام شهيدان شو. وحشى بن حرب ﷺ په مسيلمه کذاب باندې حمله اوکړه او قتل ئې کړو دغه وخت دَ مسيلمه کذاب عمر ۱۲۰ کاله وو. چرته چه دا جنګ اوشو دَ اکثرو مړو دَ وجې نه دَ دغه ځائې نوم حديقة الموت مشهورشوې وو الرسل قاصدچه څنګه پيغام راوړی هم هغه شان واپس پيغام اوړی هم په دې وجه دا په خپل مينځ کښې دَ رابطې اودَ مذاکراتو واحد ذريعه وی. کوم چه دَ طرفينو په مفادکښې وی. په دې وجه په بين الاقوامی توګه دَ قاصدانو احترام کولې شی اودوی قتلولې نه شی دَ اسلام قانون هم دغه دې ليکن نن صباچه کوم سفيران وی داصرف جاسوسان وی مګرنوم ئې دَ قاصد اوسفيردې

قوله: لَضَرَبْتُ أَعْنَاقَكُمَا:

په متنبى باندې د ايمان راوړلکى سزا: يعنى دَحضورپاك په وړاندې دې دواړو قاصدانو دَ مسيلمه کذاب دَ نبوت ګواهی ورکړه په دې وجه واجب القتل وو خوکه قاصدان نه وې.

[۲۹۸۳] د جاهلیت په زمانه کښې د شوو وعدو پوره کولو حکم

٢٩٨٣ - [٤] ()[١] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ[٢] «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ فِي خُطْبَتِهِ[٣] أَوْفُوا بِحِلْفِ الْجَاهِلِيَّةِ فَإِنَّهُ لَا يَزِيدُهُ يَعْنِي الْإِسْلَامَ إِلَّا شِدَّةً[۴] وَلَا تُحْدِثُوا حِلْفًا فِي الْإِسْلَامِ». [۵] رَوَاهُ وَذَكَرَ حَدِيثَ عَلِيٍّ: "الْمُسْلِمُونَ تَتَكَافَأُ" فِي كِتَابِ الْقِصَاصِ.

ترجمه:[١] او عمرو ابن شعیب خپل پلار څخه او هغه د خپل نیکه (دا دا) څخه نقل کوي [٢] چې رسول کریم ﷺ یوه ورځ د خپلي خطبي په دوران کې دا وفرمایل [٣] چې تاسو د زمانه جاهلیت قسم پوره کوي ځکه چې هغه یعنی اسلام هغه قسم زیات مضبوطوي مطلب دادی چې خپل قسم او خپل وعده پوره کول په اسلام کې ډیر زیات ضروري دی د دې اعتبار څخه اسلامي احکام او ایفایي وعده [۴] او حلف کې څه قضاء نشته او په اسلام کې حلف یعنی قسم ته رواج مه ورکوي. [۵] امام ترمذي رحمه الله داحدیث د حسین ابن ذکوان په سند سره بروایت عمرو رضی الله عنه نقل کړي دی او ویلي یې دی چې دا حدیث حسن دی. اودعلي رضی الله عنه روایت المسلمون تتکافا دمانهم په کتاب القصاص کې ذکرشوي دي.

حل اللغات: ① أَوْفُوا: وفا کوئ، پوره کوئ، ② حِلْف: معاهده، ③ لَا تُحْدِثُوا: نوې معاهده مه کوئ، ④ تَتَكَافَأُ: برابر دی (یوشان دی).

تسهیلات:

قوله: قَالَ فِي خُطْبَتِهِ أَوْفُوا بِحِلْفِ الْجَاهِلِيَّةِ:

دجاهلیت د زمانې معاهدې د پوره کولو حکم: یعنی دَ جاهلیت په زمانه کښې چه کومه معاهدې شوې ده دَهغې خیال اوساتئی اسلام هغه نه ماتوی بلکه نوره ئی مضبوطه اومستحکم کوی. لیکن په دې کښې به هغه تولو قواعدو ته کتلې شی چه دَ اسلام دَ قواعدو مطابق وی دَ اسلام مخالف قواعدبه په ځائی نه شی ساتلې.

قوله: وَلَا تُحْدِثُوا حِلْفًا فِي الْإِسْلَامِ:

من جانب الله د میراث دحقولو تقرری: یعنی دَمیراث دَ احکاماتودَ نافذ کیدونه پس دَ بل څه نوې معاهده ضرورت نشته چه څوك چاله خپل وارث جوړولو معاهده اوکړی ځکه چه کوم حقوق اسلام ورکړی دی میراث هغه متعین کړی دی.

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب السیر عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الحلف (رقم-١٥٨٥)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۹۸۴] د قاصدانو د قتلولو څخه ممانعت

۳۹۸۳-[۸] (۱) [۱] عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ [۲] «جَاءَ ابْنُ النَّوَّاحَةِ وَابْنُ أُثَالٍ رَسُولَا مُسَيْلِمَةَ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ لَهُمَا [۳] أَتَشْهَدَانِ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ [۴] فَقَالَا نَشْهَدُ أَنَّ مُسَيْلِمَةَ رَسُولُ اللَّهِ [۵] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - آمَنْتُ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ [۶] وَلَوْ كُنْتُ قَاتِلًا رَسُولًا لَقَتَلْتُكُمَا [۷] قَالَ عَبْدُ اللَّهِ فَمَضَتِ السُّنَّةُ أَنَّ الرَّسُولَ لَا يُقْتَلُ» . رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] ابن مسعود رضي الله عنه وايي [۲] چې مسيلمه د نبوت مدعي دوه قاصدان ابن نواحه او ابن اثال د رسول کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شو حضور ﷺ هغوی ته وفرمايل [۳] آيا تاسو ددي حقيقت شاهدی ورکوي چې زه د الله رسول يم [۴] هغه دواړو وئيل نه. بلکه مونږ د دې امر شاهدي ورکوو چې مسيلمه د خدای رسول دی [۵] نبي کريم ﷺ په دې اوريدو سره وفرمايل ما په الله او د هغه په رسول ايمان راوړي دي [۶] که زه د قاصدانو او استازو قتلونکی وی نو يقيناً مابه تاسو دواړه قتل کړي وو [۷] عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه وايي د حضور ﷺ د دې ارشاد ګرامي پيشِ نظر بيا داسنت جاري شو يعنی دا ضابطه وګرځيده چې هيڅ قاصد او استازي دې نشي قتلولی برابره خبره ده که هغه هرڅومره غير مناسب خبره ولي ونه کړي او د قتل شزا دار ولي نه وي. (احمد)

تسهيلات:

قوله: فَقَالَ لَهُمَا أَتَشْهَدَانِ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ:

د مسيلمه د قاصدانو سره د نبی عليه السلام مکالمه: حضورپاك دَ مسيلمه كذاب دَ دوو قاصدانونه دَ خپل نبوت اورسالت ګواهی اوغوښتله نوهغوی په جواب کښې اووئيل چه مونږ خو صرف مسيلمه رسول منو په دې وجه ستاسو دَ نبوت ګواهی نه شو ورکولې دَدې په جواب کښې حضورپاك دَ لوئی منصف په حيثيت سره جواب کښې اوفرمائيل چه زه الله تعالی اودَهغه رسولان منم مسيلمه كذاب رسول نه دې بلکه كذاب اوملعون دې اوستاسو دَ ناخوښه خبرو اترو په وجه تاسو واجب القتل ئی ليکن زه قاصدان نه قتلوم په دې وجه تاسو بچ شوئی.

(۱) اخرجه احمد فی المسند: ۱/۳۸۴

[۷] بَابُ قِسْمَةِ الْغَنَائِمِ وَالْغُلُولِ فِيهَا]

دَ مال غنيمت تقسيم او په دې كښې خيانت بيان

خلاصة الباب،

فيه تسعة واربعون حديثاً مشتملة على اربع عشرة مسئلة:

① حل الغنائم للأمة المحمدية: ١، ١٧، ٢٨۔
② التنفيل وإيفاءه: ٢، ٥، ٦،٧، ١٨، ١٩، ٢٠، ٢٣، ٤٣، ٤٤۔ ذكرهذا تبعا و تتميما۔
③ سهام الراكب والراجل في الغنيمة: ٣، ٢٢۔
④ عدم السهم في الغنيمة للمرأة والعبد والصبي: ٤، ٢١۔
⑤ رد مال المسلم إليه بعد الآخذ من الكفار: ٨۔
⑥ حكم الخمس: ٩، ١٠، ٤٢، ٤٧۔
⑦ حكم الفيئ: ١٠۔
⑧ الزجرلمن يغل في الغنيمة: ١١، ١٢، ١٤ ، ٢٧، ٢٨، ٢٩، ٣٠، ٣١، ٣٢، ٤٠ ، ٤٩۔
⑨ جوازالانتفاع ببعض الغنائم: ١٥، ١٦، ٣٦، ٣٧، ٣٨۔
⑩ جواز التنفيل بعد إخراج الخمس: ٢٤، ٢٥۔
⑪ السهم في الغنيمة لمن يحضر القتال : ٢٦۔
⑫ إصطفاء النبي ﷺ سيفه ذالفقار: ٣٤۔
⑬ إعطاء الغنيمة للمؤلفة القلوب: ٤٥۔
⑭ السهم لبعض الغائبين: ٤٦۔

دغنيمت لغوى معنى، غنائم دَ غنيمت جمع دہ میدان جهادكښې دَ جنګ په ذريعه چه دكافرانونه كوم مال حاصليږى هغې ته مال غنيمت وائى. كه يومال دَ جنګ نه بغيرحاصل شى هغې ته مال فئى وائى دكوم ذكرچه په جداباب كښې راتلونكې دې مال غنيمت ته انفال اونفل هم وائى. نفل دَ زياتى په معنى كښې دې. چونكه دَ جهاداصل مقصود اعلاء كلمة الله وى اومال دَ دغه مقصود نه زياتى وى په دې وجه دې ته نفل او زياتى وئيلې شى

غنيمت سره متعلق بعضې اصطلاحات،

① **الغنيمة**: په جهادفى سبيل الله كښې دَ متو په زور باندې چه دَ كافرانونه كوم مال اخستې شى هغې ته غنيمت وائى.

② **الفئ**: دَ جنګ نه بغيرصرف په كافرانوباندې دَحملې په ذريعه چه كوم مال حاصليږى هغې ته مال فئ وائى.

③ **تنفیل** دا دَنفل نه دې کوم چه دَ زیاتی په معنی کښې دې بادشاه یا دَ جنګ امیر په څه کارنامه باندې دَ مجاهد دَپاره دَ انعام چه کوم اعلان کوی هغه تنفیل دې مثلاً بادشاه وائی که چا فلانکې قلعه فتح کړه نو هغه ته به دَ دغه قلعې دَ مال لسمه حصه مال ورکولې شی یا د کافر بادشاه لور به هغه ته ملاویږی.

④ **السلب**: سلب په زور دَ اخستلو په معنی کښې دې. بادشاه یا امیرالحرب چه کله اعلان اوکړی چه کوم سړی کوم کافر قتل کړو نو هغه ته به دَ دغه مقتول دَبدن سامان ملاویږی. مثلاً ګهړئی کپړې څپلې دَ جیب سامان وسله او سورلی وغیره ټول په سلب کښې داخل دی.

⑤ **الرضخ**: رضخ دَعطیه یعنی ورکړې په معنی کښې دې. کوموخلقوته چه دَ مال غنیمت نه حصه نه شی ورکولې هغه که په جهاد کښې چرته حاضر شی نو دَغنیمت دَحصې په ځائی هغه ته څه ورکړه کیږی هم دغې ته رضخ وائی. دَ خمس اخوا کولو نه پس دَباقی مال نه دا عطیه غلامانو ماشومانو اوښځوته ورکولې شی.

⑥ **الصفی**: صفی دَ انتخاب او خوښولو په معنی کښې دې دَغنیمت دَتقسیم نه وړاندې به نبی کریم چرته یوه توره یا زغره یا وینځه منتخب کوله او اخستله به ئی دَدې نوم صفی وو چنانچه وئیلې شی چه ام المؤمنین صفیة رضی الله عنها من الصفیة دَ نبی کریم نه پس دا حصه منسوخ کړې شوه. اوس دَ یو بادشاه دَ پاره دَمال غنیمت نه صفی اخستل جائزنه دی.

⑦ **غلول**: په مال غنیمت کښې خیانت ته غلول وئیلې شی چه ډیره لویه ګناه ده باقی تفصیلات زما دَ کتاب دعوت جهاد په ابواب غنائم کښې دی هلته کتل پکاردی

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳۹۸۵] مسلمانانو دپاره د مال غنیمت د مال حلال والې

۳۹۸۵-[۱] (۱) ①عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②قَالَ " «فَلَمْ تَحِلَّ الْغَنَائِمُ لِأَحَدٍ مِنْ قَبْلِنَا ③ذَلِكَ بِأَنَّ اللهَ رَأَى ضَعْفَنَا وَعَجْزَنَا ④فَطَيَّبَهَا لَنَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت ابوهریره رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نقل کوي ② چه حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل د غنیمت مال زمونږ څخه مخکې هیڅ امت د پاره حلال نه وو ③ هر کله چې الله تعالی زمونږ مالي حیثیت کمزورې او مونږیې عاجز ولیدو ④ نو دا مال غنیمت یې زمونږ د پاره حلال اوګرځولو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① طَيَّبَهَا: پاک ئې اوګرځولو مونږ دپاره، یعنی حلال ئې کړو راته.

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب فرض الخمس/باب قول النبیّ صلی الله علیه وسلم: «احلّت لکم الغنائم» (رقم-۳۱۲۴) ومسلم فی کتاب الجهاد والسّیر/باب تحلیل الغنائم لهذه الأمّة خاصّة (رقم-۳۲ - (۱۷۴۷) واحمد فی المسند: ۳۱۷/۲

تسهيلات:

قوله: فَلَمْ تَحِلَّ الْغَنَائِمُ لِأَحَدٍ مِنْ قَبْلِنَا:

دامت محمدي بعضي خصوصيات: ① پخوانو امتونو کښې دَ غنيمت مال او دَ قربانئ غوښه استعمالول منع وو دَ آسمان نه به اور راتلو اوقبول شوې مال به ئې سوزولو. دَدې امت دَپاره په الله تعالى حلال اوګرځول.

② په يهوديانو باندې وازګه حرام کړې شوې وه

③ دَ پخوانو امتونودَپاره دَ جمات نه بهر اودَ جمع نه بغير مونځ کول جائز نه وو دَدې امت ④ دَپاره دا ټول جائز دي.

⑤ دَ پخوانو امتونودَپاره دَ اوبو نه علاوه دَ طهارت دَ حاصلولو بل هيڅ ذريعه نه وه دَدې امت دَپاره ئې خاوره دَ اوبو په ځائې کړه اودَ تيمم حکم ورکړې شو.

⑥ په يهوديانو دَ هفتې په ورځ دَ کبانو ښکار کول حرام وو

⑦ په يهوديانو دَ اوښ غوښه حرام وه.

⑧ پخوانو امتونو چې به دَ شپې ګناه کوله نودَ ورځې به ورته په دروازه ليکلې شوې.
د پخوانو امتونو په کپړا چه به نجاست لګيدلو نوهغه به ئې پرې کوله دَ وينځلو اجازت نه وو.

[۳۹۸۶] د مقتول سلب د قاتل دپاره

۳۹۸۶ — [۲] (1) ⑴ وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، ⑵ قَالَ: «خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَامَ حُنَيْنٍ، ⑶ فَلَمَّا الْتَقَيْنَا كَانَتْ لِلْمُسْلِمِينَ جَوْلَةٌ، ⑷ فَرَأَيْتُ رَجُلًا مِنَ الْمُشْرِكِينَ قَدْ عَلَا رَجُلًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ، ⑸ فَضَرَبْتُهُ مِنْ وَرَائِهِ عَلَى حَبْلِ عَاتِقِهِ بِالسَّيْفِ، ⑹ فَقَطَعْتُ الدِّرْعَ، ⑺ وَأَقْبَلَ عَلَيَّ ⑻ فَضَمَّنِي ضَمَّةً ⑼ وَجَدْتُ مِنْهَا رِيحَ الْمَوْتِ، ⑽ ثُمَّ أَدْرَكَهُ الْمَوْتُ ⑾ فَأَرْسَلَنِي،

ترجمه: ⑴ ابو قتاده رضي الله عنه وايي چه ⑵ (د فتح مکي څخه وروسته) د غزوه حنين په کال مونږ (د جهاد د پاره) د رسول الله ﷺ سره روان شو ⑶ کوم وخت چې کافرو سره زمونږ مقابله وشوه نو څه وخت د پاره مسلمانانو ته د شکست صورت حال مخې ته راغې ⑷ ما وليدل چې يو مشرک يو مسلمان باندې غالب راغلې دې ⑸ ما د هغه د وروستو څخه د

---

[1]) اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب قول الله تعالى: {ويوم حنين إذ اعجبتكم كثرتكم فلم تغن عنكم شيئا وضاقت عليكم الأرض بما رحبت ثمّ ولّيتم مدبرين. ثمّ أنزل الله سكينته} [التوبة: ۲۶]- إلى قوله - {غفور رحيم} [البقرة: ۱۷۳] (رقم-۴۳۲۱) ومسلم في كتاب الجهاد والسّير/باب استحقاق القاتل سلب القتيل (رقم-۴۱ - (۱۷۵۱))و ابو داود في كتاب الجهاد/باب في السّلب يعطى القاتل (رقم-۲۷۱۷) والترمذي في كتاب السّير عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء في من قتل قتيلا فله سلبه (رقم-۱۵۶۲) ومالک في الموطا كتاب الجهاد/باب ما جاء في السّلب في النّفل (رقم-۱۸)

هغه د غاړې په رګ د توري (مضوط) ګذار اوکړو [۶] نو د هغه زغره مې پريکړله [۷] هغه مشرك په ماباندې حمله اوکړه [۸] او هغه دومره زور سره زه دباو کړم [۹] چې د هغه په وجه ماته د مرګ مزه راغله [يعنی زه مرګ ته نزدې شوم] [۱۰] بيا هغه مرګ رالاندې کړو [۱۱] نو هغه زه پريښودم.

حل اللغات: ① جَوْلَةٌ: ګشت، تاويدل، يعنی کافران په مونږ باندې راتاوٙ شو ② عَلَا: غلبه ئې کړې ده، زور آورشوی دی، ③ حَبْلِ عَاتِقِهِ: د غاړې رګ، ④ النَزْعَ: زغره، ⑤ ضَمَّةً: زور، دباوٙ،

[۱] فَلَحِقْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، [۲] فَقُلْتُ: مَا بَالُ النَّاسِ؟ [۳] قَالَ: أَمْرُ اللَّهِ، [۴] ثُمَّ رَجَعُوا [۵] وَجَلَسَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۶] فَقَالَ: مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا [۷] لَهُ عَلَيْهِ بَيِّنَةٌ [۸] فَلَهُ سَلَبُهُ [۹]" فَقُلْتُ: مَنْ يَشْهَدُ لِي؟ [۱۰] ثُمَّ جَلَسْتُ، [۱۱] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِثْلَهُ [۱۲] فَقُلْتُ: مَنْ يَشْهَدُ لِي؟ [۱۳] ثُمَّ جَلَسْتُ، [۱۴] ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِثْلَهُ، [۱۵] فَقُمْتُ،

ترجمه: [۱] د دې څخه وروسته زه حضرت عمر ابن خطاب سره يوځای شوم [۲] او ورته ومې وئيل خلقو ته څه شوی دی [چې د دښمن د مقابلې څخه تښتې؟] [۳] هغوی اوويل د الله حکم داسې دی [يعنی داڅه چې کيږي د قضاء او قدر مطابق کيږي] [۴] بيا خلق [د دې عارضې پسپايي څخه وروسته دوباره جنګ د پاره ميدان جنګ ته] واپس راغلل [۵] او رسول کريم ﷺ په يوځای کيناستلو [۶] او وې فرمايل کوم سړی چې د دښمن يو سړی قتل کړو [۷] او د هغه د قتلولو څوك شاهد وي [اګر که هغه يوشاهد وي] [۸] نو مقتول څخه اخستل شوی مال به د هغه قتلونکی سړی [يعنی د قاتل] وي [۹] [په دې اوريدو سره ما اراده وکړه چې د هغه مشرك د قتليدو واقعه بيان کړم ليکن] په زړه کې مې اوويل چې څما شاهدې به کوم سړی اداکوي [چې ما هغه مشرك قتل کړی دی] [۱۰] آخر زه کيناستم [۱۱] رسول کريم ﷺ دغه شان بيا وفرمايل [چې کوم سړی د دښمن يو سړې قتل کړو او د هغه د قتلولو څوك شاهد وي نو مقتول څخه اخستل شوی مال به د هغه سړي وي] [۱۲] ما بيا [دا اوريدلو سره خپله واقعه بيانول وغوښتل ليکن ما] په زړه کې اوويل چې څما شاهدې به کوم سړی اداکوي [۱۳] نو زه بيا کيناستم [۱۴] رسول کريم ﷺ دغه شان بيا [په دريم ځل] وفرمايل [۱۵] دا ځل هم زه ودريدم [خو په ژبې سره مې څه ونه وئيل]

حل اللغات: ⑥ سَلَبُهُ: د دشمن پاتې شوی مال،

[۱] فَقَالَ: "مَا لَكَ يَا أَبَا قَتَادَةَ؟" [۲] فَأَخْبَرْتُهُ، [۳] فَقَالَ رَجُلٌ: صَدَقَ، وَسَلَبُهُ عِنْدِي فَأَرْضِهِ مِنِّي. [۴] فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: لَاهَا اللَّهِ، [۵] إِذًا لَا يَعْمِدُ إِلَى أَسَدٍ مِنْ أُسْدِ اللَّهِ [۶] يُقَاتِلُ عَنِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَيُعْطِيكَ سَلَبَهُ. [۷] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "صَدَقَ فَأَعْطِهِ" [۸] فَأَعْطَانِيهِ، [۹] فَابْتَعْتُ بِهِ مَخْرَفًا فِي بَنِي سَلِمَةَ؛ [۱۰] فَإِنَّهُ لَأَوَّلُ مَالٍ تَأَثَّلْتُهُ فِي الْإِسْلَامِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضور ﷺ وفرمایل اې ابو قتاده رضی الله عنه څه خبره ده [چې ته څه عرض او حاجت د پاره برابر ودرېږې او کیني خو په ژبې سره څه نه وايې] ② بیا ما حضور ﷺ ته اووئیل [چې ما فلانی مشرك قتل کړي دی] ③ یو سړي [څما په خبره اوریدو سره] اوویل [ابوقتاده رضی الله عنه] رښتیا وائي او د هغه مشرك مال زماسره موجود دې تاسو هغوی څما د طرف څخه راضي کړئ [چې دي خپل حق څخه دستبردارشي او هغه ته د هغه مشرك د مال په عوض کې څه بل څیز ورکړې شي یا هغه په دي خبره راضي کړئ چې هغه زماسره په دي حقله څه مصالحت وکړي] ④ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه [دا اوریدو سره هغه سړي ته] اوویل نه، قسم په خدائ داسې نشي کیدی ⑤ [رسول کریم ﷺ] په دي معامله کې د ابو قتاده رضی الله عنه د مرضی خلاف څه اراده نه کوي ابو قتاده رضی الله عنه د الله د زمریانو څخه یو زمري دې ⑥ چې دالله او د هغه د رسول ﷺ خوشنودي د پاره دښمن سره جنګ کوي بیا دا [څنګه ممکنه ده چې کوم مال باندې د ابوقتاده رضی الله عنه حق دې] هغه تاته درکړي ⑦ رسول کریم ﷺ هغه سړي ته وفرمایل ابوبکر رضی الله عنه ټیك وايي ته ابوقتاده رضی الله عنه ته د هغه مشرك (مقتول) مال ورکړه ⑧ نو هغه سړی هغه مال ما ته راکړو ⑨ او ما وروسته د هغه مال په ذریعه یوباغ واغستلو چې قبیله بنو سلمه کې واقع وو ⑩ او دا د ټولو څخه مخکنی مال وو چې ماته اسلام راوړلو څخه وروسته حاصل شو. (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: ⑤ لَاهَا اللّٰهِ: "ای لاوالله" دا قسم دې خو زیات مشهور نه دې. ⑧ مَخْرَفًا: باغ. ⑨ تَأَثَّلْتُهُ: چه ما هغه حاصل کړو، ذخیره کول او حاصلولو ته وائي.

تسهیلات:

قوله: فَقَالَ رَجُلٌ: صَدَقَ، وَسَلَبُهُ عِنْدِي فَأَرْضِهِ مِنِّي:

دحدیث پس منظر: اصل قصه داسې وه چه یوکافر جنګ حنین کښې یومسلمان پسې شو حضرت ابوقتاده رضی الله عنه د شانه هغه کافر په توره باندې اووهلو هغه راتاؤ شو اوحضرت ابوقتاده رضی الله عنه نی دومره دباؤ کړو چه د مرګ خوشبوئی بوئی کړه لیکن چونکه کافر ډیر زیات زخمی شوې وو په دې وجه راپریوتلو ابوقتاده رضی الله عنه واپس شو د هغه د بدن سامان یو بل صحابی کوز کړو نبی کریم چه کله د سلب اعلان اوکړو نوابوقتاده رضی الله عنه ګواه لټول شروع کړه دې دپاره چه د دغه مقتول سلب حاصل کړې شی. بیا دغه سړی د سلب د اخستلو اعتراف اوکړو مګر د سلب نه واپس کولوخبره ئی اوکړه او په دې باندې صدیق اکبر رضی الله عنه قسم خوړلوسره اوفرمائیل چه داسې به هیڅ کله نه کیږی. بیا نبی کریم سلب ابوقتاده رضی الله عنه ته ورکړو ابوقتاده رضی الله عنه په محله بنی سلمه کښې په دغه سامان باندې یوباغ واخستلو دکوم نه چه هغه مال ذخیره کړو. مخرف باغ ته وائی.

قوله: مَنْ يَشْهَدُ لِي؟

د مذكوره جملې مطلب: يعنى ما په زره كښې اوونيل چه زما په مقتول باندې به زما د پاره څوك ګواهي وركړى صرف او دريدم بيا كيناستم په ژبه مې هيڅ اونه وئيل

قوله: فَأَرْضِهِ مِنِّي:

د راضى كولو دريې صورتونه: يعنى يوسړى اقرار اوكړو چه د مقتول سلب زما سره دې او قاتل ابوقتاده ﷺ دې اوس په دې درې طريقو كښې ماته هره يوه منظور ده

① تاسو زما د طرفه هغه راضى كړئى

② هغه له د خپل طرف نه څه مال وركړئى

③ هغه دې په مفت كښې ماته مال پريږدى.

قوله: إِذًا:

د ،،اذا،، د استعمال مفهوم: تنوين سره دې "اى اذا صدق ابوقتادة" يعنى چه كله د ابوقتاده خبره رښتيا وى.

قوله: لَا يَعْمِدُ:

د ابوبكر رضى الله عنه د قول مطلب: د ضرب يضرب نه دې "اى لايقصد النبى فى إبطال حقه واعطاء سلبه إياك" يعنى چه كله د ابوقتاده ﷺ خبره رښتياوى نو قسم په خدائى چه نبى كريم ﷺ به داسې چرې هم اونه كړى چه د الله تعالى د زمرو نه د يوزمرى مال تاته دركړى

قوله: تَأَثَّلْتُهُ:

د مقتول د سلب په استحقاق كښې مذهبين:

① د جمهورو په نيز سلب يو ضابطه اوقاعده ده چه چاكوم وخت هم يو كافر مړكړو د هغه سلب هم د دغه قاتل دې

② احناف فرمائى چه سلب مستقل ضابطه نه ده بلكه په وختى توګه باندې د اميرالحرب يا د بادشاه د اعلان په بنياد باندې ملاويږى كه چرې امير اعلان اونه كړو نوچاته به هم نه ملاويږى ظاهر احاديث د جمهورو په حق كښې دى

[۳۹۸۷] د مال غنيمت تقسيم

۳۹۸۷-[۳] (۱) ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: ② «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَسْهَمَ لِلرَّجُلِ وَلِفَرَسِهِ ثَلَاثَةَ أَسْهُمٍ: ③ سَهْمًا لَهُ وَسَهْمَيْنِ لِفَرَسِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[1]) اخرجه البخارى فى كتاب الجهاد والسّير/باب سهام الفرس (رقم-۲۸۶۳) ومسلم فى كتاب الجهاد والسّير/باب كيفيّة قسمة الغنيمة بين الحاضرين (رقم-۵۷ - (۱۷۶۲)) و ابو داود فى كتاب الجهاد/باب فى سهمان الخيل (رقم-۲۷۳۳) وابن ماجه فى كتاب الجهاد/باب قسمة الغنائم (رقم-۲۸۵۴)

ترجمه: [۱] او ابن عمر [۲] وايي چه رسول كريم ﷺ مال غنيمت څخه د يوسړي او د هغه اس د پاره درې حصې وركړې [۳] يعني يوه حصه خو خپله د هغه او دوه حصې د هغه د اس (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① سَهْمًا: حصه

تسهيلات:

قوله: ثَلَاثَةَ أَسْهُمٍ: ميدان جهاد كښې دوه قسمه خلق جنګيږي يوقسم هغه خلق وى چاسره چه اس وى اودويم قسم پيدل خلق وى. اوس دَ اس والا حصه او پيدل والا حصه كښې خوفرق دې چه دَ اس والا ته به زياته ملاويږى او پيدل ته به كمه ملاويږى ليكن دَحصې په تعين كښې دَ فقهاؤ اختلاف دې چه چاته به څومره حصه ملاويږى.

د فارس مجاهد په حصه كښې دوه مذاهب:

① دَ ائمه ثلاثه جمهورو په نيزبه پيدل ته يوه حصه ملاويږى او اس والا ته به درې حصې ملاويږى. يوه حصه به دَهغه خپله وى اودوه حصې به هغه ته دَ اس دَ وجهې ملاويږى

② دَ ائمه احناف په نيز به پيدل ته يوه حصه ملاويږى او اس والا ته به دوه حصې ملاويږى. يوه حصه به دَهغه وى اوبله حصه به ئې دَ اس وى

د اول فريق دليل: دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دې چه په خپله مدعاباندې واضح دليل دې

د اول فريق د دليل څخه دوه جوابونه: ① صاحب هدايه فرمائى دَحضرت ابن عمر رضي الله عنه په دواړو روايتونو كښې تعارض دې نودواړه ساقط دى. لهذادَ حضرت مجمع بن جاريه رضي الله عنه روايت دَ احنافو دَ استدلال دَپاره سالم پاتې شو. (خودا جواب ديرتسلى بخش نه دې)

② دا په تنفيل او نور زياتى انعام باندې محمول دې دې دَپاره چه په دې طريقه سره دَ اسونو والوحوصله افزائى اوشى اوخلق دَ زيات نه زيات اسونه واخلى او جهاد له راشى

د دويم فريق دلائل: ① وَعَنْ مُجَمِّعِ بْنِ جَارِيَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «قُسِمَتْ خَيْبَرُ عَلَى أَهْلِ الْحُدَيْبِيَةِ، فَقَسَمَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ سَهْمًا، وَكَانَ الْجَيْشُ أَلْفًا وَخَمْسَمِائَةٍ فِيهِمْ ثَلَاثُمِائَةِ فَارِسٍ، فَأَعْطَى الْفَارِسَ سَهْمَيْنِ، وَالرَّاجِلَ سَهْمًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: او مجمع رضي الله عنه بن جاريه وايي په خيبر كې حاصل شوى مال غنيمت او زمكه د هغه خلقو په مينځ كې تقسيم شو كوم چې په حديبيه كې شريك وه رسول كريم ﷺ د خيبرمال غنيمت او زمكه اتلس حصو كې تقسيم كړله او صلح حديبيه كې شريك د لښكر تعداد پنځلس سوه سړو باندې مشتمل وو چې په هغه كې درې سوه سواره وه دغه شان سواروته حضور ﷺ دوه حصې وركړې او پياده ته يوه حصه اوابوداود رحمه الله داروايت نقل

کړې دی او ویلي يي دي چې په دي باره کې د ابن عمر رضي الله عنه روايت زيات صحيح دی او په هغه اکثره آئمه وو عمل کړي دی او د مجمع رضي الله عنه په دي روايت کې واهمه واقع شويده مجمع ويلي دي چې دري سوه سواره وه حالانکه د سورو تعداد دوه سوه وو.

استدلال: په دې کښې په واضحه توګه باندې ذکر دی چه په خيبر کښې پيدل ته يوه حصه او اس والا ته دوه حصې ورکړې شوې وې الفاظ داسې دی «فأعطى الفارس سهمين والراجل سهماً» دَحضرت مجمع بن جاريه رضي الله عنه په روايت کښې دَ اموال غنائم دَ حصو تقسيم اودَ مجاهدينو دَ تعداد بيان هم موجود دې دکوم نه چه دَ احنافو دَ مسلك په واضحه توګه ثبوت کيږی اودَ جمهورو دَ مسلك نفی کيږی. هغه داسې چه دَ خيبر دَ مالونو حصې ۱۸ وې او مجاهدين پنځلس سوه وو په کوم کښې چه درې سوه دَ اسونووالا وو او دولس سوه پيدل وو دَ دريو سوو اسونو والا نه هر سلو کسانو ته دوه دوه حصې ورکړې شوې نو شپږ حصې لاړې باقی دولس حصې پاتې شوې اودَ دولس سوو پيدل والونه هر سل سلو ته يوه يوه حصه ورکړې شوه نو پنځلس سوو مجاهدينو باندې اتلس حصې پوره تقسيم شوې

که چرې دَ جمهورو دَمسلك مطابق دَ اسونو والؤته درې حصې ورکړې شوې وې نودريو سوو مجاهدينو ته به ۹ حصې ملاؤشوې وې او دولس سوو ته به دولس حصې ملاؤ شوې وې نودغه شان به دَ ټول مال غنيمت ۲۱حصې شوې وې حالانکه دَحضرت مجمع بن جاريه رضي الله عنه په روايت کښې په واضحو الفاظو کښې راغلی دی «فقسمها رسول الله ﷺ ثمانية عشر سهماً» يعنی ټولې اتلس حصې وې

د مجمع بن جاريه په حديث باندې د ضعف اعتراض: دَدې روايت متعلق امام ابوداؤد رحمه الله فرمائی چه دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنه دا زير بحث روايت اصح او راجح دې اودَ مجمع بن جاريه رضي الله عنه په روايت کښې يوراوی ته وهم شوې دې په حقيقت کښې درې سوا اسونو والا نه وو دوه سوا اسونووالا وو دوو سوو ته شپږ حصې ملاؤ شوې وې.

داعتراض جواب: که چرې دوه سوا دَ اسونو والا هم اومنلې شی بيابه هم دَ جمهورو خبره جوړه نه شی ځکه چه داخو فيصله شوې ده چه مجاهدين پنځلس سوه وو چه دَ حديبيه نه نيغ راغلی وو او خيبرکښې جنګيدل که اسونو والا دوه سوا وو نوپيدل ديارلس سوا شو چاته چه ديارلس حصې ورکړې شوې نوشپږ او ديارلس به نورلس حصې شی حالانکه داخبره فيصله شوې ده چه حصې هم اتلس وې

④ په مصنف ابن ابی شيبه کښې دَحضرت ابن عمر رضي الله عنه روايت د دوی مستدل دې الفاظ ئې دا دی «للفارس سهمان وللراجل سهم»

د مصنف ابن ابی شیبه د روایت وجه ترجیح: احنافو دحضرت ابن عمر رضي الله عنهما روایت راجح گرځولې دي ددې وجه دا ده چه اس د جهاد آله ده او سرې ذی الاله دې د آلې درجه د ذی الاله نه زیاتیدل نه دی پکار ځکه چه انسان د اس نه بغیر جنگ کولې شی لیکن اس بغیرد نسان نه جنگ نه شی کولې

[۳۸۸] په مال غنیمت کښې د غلامانو او د ښځو دپاره د حصې نشتوالې

٣٩٩٨ – [٣] (١) ١ وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ هُرْمُزَ، قَالَ: ٢ «كَتَبَ نَجْدَةُ الْحَرُورِيُّ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ ٣ يَسْأَلُهُ عَنِ الْعَبْدِ وَالْمَرْأَةِ ٤ يَحْضُرَانِ الْمَغْنَمَ، ٥ هَلْ يُقْسَمُ لَهُمَا؟ ٦ فَقَالَ لِيَزِيدَ: اكْتُبْ إِلَيْهِ ٧ أَنَّهُ لَيْسَ لَهُمَا سَهْمٌ، ٨ إِلَّا أَنْ يُحْذَيَا. ٩ وَفِي رِوَايَةٍ: كَتَبَ إِلَيْهِ ابْنُ عَبَّاسٍ: ١٠ إِنَّكَ كَتَبْتَ إِلَيَّ تَسْأَلُنِي: ١١ هَلْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَغْزُو بِالنِّسَاءِ؟

ترجمه: ١ او یزید ابن هرمز وایې ٢ چې نجده حروري ابن عباس رضي الله عنهما ته یوخط ولیکلو ٣ چې په هغې کې ئ د غلام او د ښځو په باره کې دا تپوس کړې وو ٤ چې هرکله هغوی د مال غنیمت د تقسیم په وخت موجود وي ٥ نو هغوی ته به هم د مال غنیمت څخه حصه ورکول شي یانه؟ ٦ ابن عباس رضي الله عنهما یزید ته یعنی ماته وفرمایل چې ته ځما د طرف څخه [نجده حروري ته] دا جواب ولیکه ٧ چې د دې دواړو حصه مقرره نه ده ٨ البته (د تقسیم په وخت) هغوی ته دي دغه شان څه ورکول شي ٩ او په یوروایت کې داسې دي چې ابن عباس رضي الله عنهما [نجده ته] جواب کې ولیکل ١٠ چې تاخط لیکلو سره زما څخه دا تپوس کړې وو ١١ چې آیا رسول الله ﷺ به په جهاد کې ښځې د ځان سره بوتلې

حل اللغات: ① الْحَرُورِيُّ دا د حرورا طرف ته منسوب دې چه د کوفې په اړخونوکښې د یو ځائې نوم دې د خوارجو رومبې اجتماع هم په دې مقام باندې شوې وه ② نَجْدَةُ: د خوارجو دمشرنوم دې ③ الْمَغْنَمَ: مال غنیمت. ④ أَنْ يُحْذَيَا: حذی عطیې ته وائی غلامانو او ښځو ته د مال غنیمت نه څه عطیه ورکول

١ وَهَلْ كَانَ يَضْرِبُ لَهُنَّ بِسَهْمٍ: ٢ فَقَدْ كَانَ يَغْزُو بِهِنَّ ٣ يُدَاوِينَ الْمَرْضَى ٤ وَيُحْذَيْنَ مِنَ الْغَنِيمَةِ، ٥ وَأَمَّا السَّهْمُ فَلَمْ يَضْرِبْ لَهُنَّ بِسَهْمٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ او آیا حضور ﷺ به هغه ښځو ته مال غنیمت څخه حصه ورکوله؟ [نو د دې جواب دادی] ٢ چې حضور ﷺ به ښځې په جهاد کې د ځان سره بوتلې ٣ چې د بیمارانو دارودرمل به یې کول او د زخمیانو مرهم پټئ به یې لګوله ٤ او هغوی ته به د مال غنیمت څخه هسې لږ څه ورکول شو ٥ لیکن هغوی د پاره څه حصه نه وه مقرره شوي (مسلم)

(١) اخرجه مسلم فی کتاب الجهاد والسّیر/باب النّساء الغازیات یرضخ لهنّ ولا یسهم. والنّهی عن قتل صبیان أهل الحرب (رقم-١٣٩ - (١٨١٢)) و ابو داود فی کتاب الجهاد/باب فی المرأة والعبد یحذیان من الغنیمة (رقم-٢٧٢٧)

تسهيلات:

قوله: أَنَّهُ لَيْسَ لَهُمَا سَهْمٌ، إِلَّا أَنْ يُحْذَيَا:

د غلامانو او ښځو په مالِ غنيمت کښې عدم حصه: غلامانو او ښځو ته حصه نه شی ورکولې صرف دَ خوشحالولو او وزرہ ساتنې په توګه څه عطيه ورکولې شی خکه چه په دوی باندې دَ جنګيدو ذمه واری نشته دې هم دغه مسئله دَ نابالغ هلکانو هم ده

[۳۹۸۹] بعضې مجاهدينو ته دَ انعام په توګه دَ زياتي ورکولو جواز

۳۹۸۹ — [۵] (۱) [۱] وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: " [۲] «بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِظَهْرِهِ مَعَ رَبَاحٍ غُلَامِ رَسُوْلِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] وَأَنَا مَعَهُ، [۴] فَلَمَّا أَصْبَحْنَا [۵] إِذَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ الْفَزَارِيُّ قَدْ أَغَارَ عَلَى ظَهْرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۶] فَقُمْتُ عَلَى أَكَمَةٍ [۷] فَاسْتَقْبَلْتُ الْمَدِيْنَةَ [۸] فَنَادَيْتُ ثَلَاثًا: يَا صَبَاحَاهُ،

ترجمه: [۱] او سلمه ابن اکوع ﷺ وايي چه [۲] [د مسلمانانو او د قريشو په مينځ کې وعده کيدو څخه [وروسته حديبيي څخه د واپس راتلو په دوران کې په لار کې] رسول کريم ﷺ د خيلې سورلئ اوښ رباح سره چې د رسول کريم ﷺ غلام وو مخکې وليږلو [۳] زه هم رباح سره شوم [مونږ دوارو د شپې په يوځای کې قيام اوکړو] [۴] کوم وخت چې سحر شو [۵] نو مونږ ته معلومه شوه چې عبد الرحمن فزاري [چې د مسلمانانو يومشهور دښمن او کافر وو] د رسول کريم ﷺ په اوښانو يي حمله وکړله [او هغه يي د ځان سره وتښتول] [۶] زه يوي غونډي (ټيلی) باندې وختم [۷] او د مديني طرف ته مې مخ کړو [۸] او درې څله مې يا صباحاه [يعنی خبردار دښمن را ورسيدو] نعره هم بلنده کړه

حل اللغات: ① بِظَهْرِهِ: په واپسئ کښې. ② أَغَارَ: حمله کولو او تباهئ کولو ته وئيلې شی ③ أَكَمَةٍ: اوچتې غونډئ ته وائی

[۱] ثُمَّ خَرَجْتُ فِي آثَارِ الْقَوْمِ [۲] أَرْمِيْهِمْ بِالنَّبْلِ، [۳] وَأَرْتَجِزُ وَأَقُوْلُ: [۴] أَنَا ابْنُ الْأَكْوَعِ وَالْيَوْمُ يَوْمُ الرُّضَّعِ [۵] فَمَا زِلْتُ أَرْمِيْهِمْ [۶] وَأَعْقِرُ بِهِمْ [۷] حَتَّى مَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ بَعِيْرٍ مِنْ ظَهْرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۸] إِلَّا خَلَّفْتُهُ وَرَاءَ ظَهْرِي، [۹] ثُمَّ اتَّبَعْتُهُمْ أَرْمِيْهِمْ، [۱۰] حَتَّى أَلْقَوْا أَكْثَرَ مِنْ ثَلَاثِيْنَ بُرْدَةً [۱۱] وَثَلَاثِيْنَ رُمْحًا [۱۲] يَسْتَخِفُّوْنَ، [۱۳] وَلَا يَطْرَحُوْنَ شَيْئًا [۱۴] إِلَّا جَعَلْتُ عَلَيْهِ آرَامًا مِنَ الْحِجَارَةِ،

ترجمه: [۱] زه د هغه قوم [يعنی د عبد الرحمن او د هغه د ملګرو] قدمونو په نښه روان شوم [۲] او تير پسې مې بل تير ويشتلو [۳] هغه وخت څما په ژبه اوچت آواز کې رجز يعنی رزميه شعر وو [۴] أَنَا ابْنُ الْأَكْوَعِ وَالْيَوْمُ يَوْمُ الرُّضَّعِ [يعنی اي د دين دښمنانو په کولاو غوږ

(۱) اخرجه مسلم في كتاب الجهاد والسّير/باب غزوة ذي قرد وغيرها (رقم-۱۳۲ - (۱۸۰۷) واحمد في المسند: ۵۲/۴

واورئ! زه د اكوع څوى يم نن ورځ د خرابو خلقو ايعني ستاسو دښمنانو دينا د هلاكيدو ورځ ده [٥] ما دغه شان برابر تيرونه ويشتل [٦] او د هغوى د سورلو پښي مي پريكولي اپه مخكې تلم! [٧] تردي چې د رسول كريم ﷺ د اوښانو څخه الله پيدا كړى هيڅ اوښ باقي پاتې نه شو [٨] چې ما خپل وروسته نه وي پريښى. [٩] ما تيرونو وررولو سره د هغوى تعاقب جاري وساتلو [١٠] تردي چې هغوى د ديرشو څخه زيات خپل څادرونه [١١] او ديرش نيزي [١٢] وغورځولي دي دپاره چه خان سپک کړى ايعني هغوى تښتيدو كې خپل څادرونه او خپلي نيزي غورځولي چې د جسم د سپك كيدو په وجه تيښته كې آساني وي! [١٣] او هغوى چې كوم څيز غورځولو [١٤] ما به په هغې د نښي په طور كاڼي اېښودل

حل اللغات: ⑫ النَّبْلِ: غشى، نيزي، ⑤ وَأَرْتَجِزُ: ماد رجز شعرونه ونيل ⑥ يَوْمُ الرُّضَّعِ: ددې مفرد راضع دي. كمينه او ذليل ته وائي ⑦ عَلَى ظَهْرِ: د ظهرنه مراد د سورلئ اوښان دى ⑧ وَأَعْقِرُ: او خپې مې ماتولې. ⑨ خَلْفَهُ: روسته مې پريخودل هغه. ⑩ بُرْدَةً: څادرونه. ⑪ رُمْحًا: نيزې. ⑫ يَسْتَخِفُّونَ: يعني زياتى سامان ئى اوغورزولو دې دپاره چه د تيختې دپاره سپك شى ⑬ يَطْرَحُونَ: چه غورزول به هغوى. ⑭ آرَامًا: ددې مفرد ارم دې. علامت ته وائى

[١] يَعْرِفُهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ، [٢] حَتَّى رَأَيْتُ فَوَارِسَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٣] وَلَحِقَ أَبُو قَتَادَةَ فَارِسُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَبْدِ الرَّحْمَنِ [٤] فَقَتَلَهُ [٥] قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[٦] خَيْرُ فُرْسَانِنَا الْيَوْمَ أَبُو قَتَادَةَ، [٧] وَخَيْرُ رَجَّالَتِنَا سَلَمَةُ". [٨] قَالَ، ثُمَّ أَعْطَانِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَهْمَيْنِ: [٩] سَهْمَ الْفَارِسِ وَسَهْمَ الرَّاجِلِ، [١٠] فَجَمَعَهُمَا إِلَيَّ جَمِيعًا، [١١] ثُمَّ أَرْدَفَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَاءَهُ عَلَى الْعَضْبَاءِ [١٢] رَاجِعَيْنِ إِلَى الْمَدِينَةِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] چې رسول كريم ﷺ او د هغوى ملګري كه وروسته څخه راشي نو د به پيژني [٢] تردي چې ماد رسول كريم ﷺ سواره په راتلو وليدل [٣] او بيا مي دا وليدل چې! حضرت ابوقتاده ﷺ چې هغه نه به د رسول كريم ﷺ شهسوار ونيل كيدو عبد الرحمن بي رالاندې كړو اكوم چې هغه د حضور ﷺ اوښان تښتول غوښتل! [٤] او هغه يي قتل كړو [٥] بيا ادې هنګامي ختميدو څخه وروسته! رسول كريم ﷺ وفرمايل [٦] نن زمونږ په سورو كي د ټولو څخه ښه ابو قتاده ﷺ دې [٧] او په پيادو كې د ټولو څخه ښه پياده سلمه ابن اكوع دې [٨] د دې څخه وروسته رسول كريم ﷺ اهغه كافرو څخه په لاس راغلى مال زمونږ په مينځ كې تقسيم كړو نو! ماته يې دوه حصې راكړي [٩] يوه حصه د سوار اچې هغه بحسب اختلاف مذهب دوه حصې دي يا دري حصې! او يوه حصه د پياده [١٠] دواړه حصې يوځاى كولو سره ماته يي راكړي [١١] او بيا زه رسول كريم ﷺ خپلي اوښي عضباء باندې ترشا كينولم [١٢] او د مديني طرف ته روان شو «مسلم»

تسهیلات:

قوله: يَاصَبَاحَاهُ:

دپخوانی زمانې د خطرې تلې: پخوانئی زمانه کښې به چه څوك دَ امداد دَپاره رابللې شو نو دَ عربو په معاشره کښې به داقسم نعرې لګولې شوې دَدې مطلب دادې چه دښمن دَ سحرپه وخت کښې حمله کړې ده تیارشئی او امدادوکړئی فوجی کاروائی اکثر دَ سحر په وخت کښې کیږی

قوله: وَالْيَوْمُ يَوْمُ الرُّضَّعِ

د مذکوره رجزپه مفهوم کښې دوه اقوال: ① نن به هم هغه خلق کامیاب وی چاله چه شریفانو ښځو پیئی ورکړی وی یعنی نن به په پیئو فیصله کیږی دَ بهادرې مور پیئی به ئې بهادر جوړوی اودَ ویریدونکې مور پیئی به ئې وریدونکې جوړوی

② درضع په مفهوم کښې دوه اقوال ددې معنی کمینه او ذلیل دې یعنی نن دَ دغه کمینه او ذلیلو خلقو دَ هلاکت ورځ ده چه په خله کښې سینې نیولوسره پیئی څکی دې دَپاره چه دَ پیئو لوشلو آواز څوك نه اوری اوپیئی اونه غواړی

قوله: إِلَّا جَعَلْتُ عَلَيْهِ آرَامًا مِنَ الْحِجَارَةِ .

د آرام لغوی تحقیق: ددې مفرد ارم دې لکه أعناب اوعنب. علامت ته وائی په کلوکښې اوس هم دا رواج دې چه په لرګی وغیره څیزونو باندې کانړې ایږدی داعلامت وی چه داد چا مال دې نوڅوك دې ته لاس نه لګوی بعضې خلق درې کانړی ایږدی کوم چه دَ دریو طلاقو د قسم خوړلوطرف ته اشاره کوی ارم په معنی دَعلامت دې

[۳۰۰] بعضې مجاهدینوته د هغوی د حصې څخه زیاته برخه ورکول

۳۰۰-[۲] ([1]) ١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: ٢ «أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُنَفِّلُ بَعْضَ مَنْ يَبْعَثُ مِنَ السَّرَايَا: ٣ لِأَنْفُسِهِمْ خَاصَّةً ٤ سِوَى قِسْمَةِ عَامَّةِ الْجَيْشِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او ابن عمر رضی الله عنهما وايي ٢ چه رسول کريم ﷺ به بعضې خلقو د پاره څه زياته حصه مقررکوله کوم چې به هغوی د جهاد دپاره ليږل ٣ د عام لښکر په نسبت دا حصه به خاص کردهغوي دپاره وه ٤ دعام لښکر دحصې څخه سوا (زیاتی حصه به وه) (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① يُنَفِّلُ: زياتی حصه به ئې مقررولہ

[1]) اخرجه البخاري فی کتاب فرض الخمس/باب: ومن الدليل على أنّ الخمس لنوائب المسلمين (رقم-۳۱۳۵)ومسلم فی کتاب الجهاد والسیر/باب الأنفال (رقم-۳۹ - (۱۷۵۰) و ابو داود فی کتاب الجهاد/باب فی نفل السرية تخرج من العسكر (رقم-۲۷۴۶)

تسهيلات:

قوله: كَانَ يُنَفِّلُ بَعْضَ مَنْ يَبْعَثُ مِنَ السَّرَايَا:

بعضي مجاهدينوته د زياتي وركولو بعضي وجوه: نبی کریم ﷺ به د مال غنيمت په تقسيم كښي بعضو مجاهدينو ته د خپلې حصې نه هم زياته حصه وركوله، او د دې زياتي حصه وركولو بعضي وجوهات دا كيدې شي

① زياته حصه وركول جهاد طرف ته د رغبت وركولو په وجه وو او دا د لښكر امير دپاره جائز دی

② زياته حصه وركول د بهادرۍ په وجه وو

[۳۰۳] ابن عمر رضي الله عنه ته د خمس څخه زياتي حصه وركول

> ۳۰۳ ـ [۷] (١) [١] وَعَنْهُ، قَالَ [٢] «نَفَّلَنَا رَسُولُ اللهِ نَفَلًا سِوَى نَصِيبِنَا مِنَ الْخُمُسِ، [٣] فَأَصَابَنِي شَارِفٌ، [٤] وَالشَّارِفُ: الْمُسِنُّ الْكَبِيرُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او ابن عمر ﷠ وايي [٢] چه يو وخت رسول كريم ﷺ مونږ خلقوته د خمس د مال څخه زمونږ د مقرر حصو څخه علاوه هم څه زيات مرحمت كړل [٣] نو زما حصه كي يو شارف راغلو [٤] او شارف هغه اوښي ته وايي چې بوډئ او د ډير عمر وي (مسلم)

حل اللغات: ① نَفَلًا: زياتي. ② شَارِفٌ: أي الْمُسِنُّ الْكَبِيرُ: ډير عمر والا اوښه.

تسهيلات:

نوټ: د ترجمې څخه مطلب واضح دي

[۳۰۴] د مسلمانانو په مال د كافرانو د قبضي حكم

> ۳۰۴ ـ [۸] (٢) [١] وَعَنْهُ، قَالَ: [٢] «ذَهَبَتْ فَرَسٌ لَهُ [٣] فَأَخَذَهَا الْعَدُوُّ، [٤] فَظَهَرَ عَلَيْهِمُ الْمُسْلِمُونَ [٥] فَرُدَّ عَلَيْهِ فِي زَمَنِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [٦] وَفِي رِوَايَةٍ: [٧] أَبَقَ عَبْدٌ لَهُ، [٨] فَلَحِقَ بِالرُّومِ [٩] فَظَهَرَ عَلَيْهِمُ الْمُسْلِمُونَ، [١٠] فَرَدَّ عَلَيْهِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ [١١] بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] او د ابن عمر ﷠ په باره كې منقول دی [٢] چه يو خل د هغه اس وتښتيدلو [٣] چې دښمنانو (يعنی كافرو) اونيولو [٤] بيا چې مسلمانانو ته په هغه كافرو فتح حاصله شوه (او د هغوی مال غنيمت كې هغه اس هم راغلو) [٥] نو ابن عمر ﷠ ته د هغه اس وركړې شو (او هغه مال غنيمت كې شمير نه شو) او دا (واقعه) د رسول كريم ﷺ د

---

(١) اخرجه مسلم في كتاب الجهاد والسير/باب الأنفال (رقم-۳۸ - (۱۷۵۰)

(٢) اخرجه البخاري في كتاب الجهاد والسير/باب إذا غنم المشركون مال المسلم ثمّ وجده المسلم (رقم-۳۰۶۷) و ابن ماجه في كتاب الجهاد/باب ما أحرز العدوّ ثمّ ظهر عليه المسلمون (رقم-۲۸٤۷)

زماني ده ⑥ او په يو روايت کې دادی ⑦ چې د ابن عمر رضي الله عنه غلام اوتښتيدلو ⑧ او روم ته ورسيدو ⑨ بيا چې مسلمانانو ته په روميانو فتح حاصله شوه ⑩ نو خالد ابن وليد رضي الله عنه ابن عمر رضي الله عنه ته د هغه غلام ورکړو ⑪ او دا د نبي کريم ﷺ د زماني څخه وروسته واقعه ده. (بخاري)

حل اللغات: ① ظَهَرَ: غلبه حاصله کړه، زورآور شو. ② أَبَقَ: اوتختيدو.

تسهيلات:

قوله: فَأَخَذَهَا الْعَدُوُّ:

دمذکوره جملې مطلب: يعنی دَحضرت ابن عمر رضي الله عنه اس اوتختيدو نودښمن اونيولو بيامسلمانان غالب شو او اس ئی دَهغوی نه واپس کړو دغه شان دَهغوی غلام تختيدلې ووبيا مسلمانان غالب شو نوهغه هم مسلمانانوواپس کړو

په مال مسلم دکافر قبضه سبب د ملکيت دې که نه په دې کښې ۲ مذاهب:

که چرې کافران دَ مسلمانانوڅه مال باندې غلبه اوکړی او خپل ځان سره ئی يوسی اواحراز هم اوکړی نوآيا هغه خلق به دَ دغه مال مالکان شی که نه؟ په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

① امام شافعي رحمه الله فرمائی چه کافران به دَ دغه مال مالکان کيږی نه داچه دَ چا مال دې هم دَهغه به وی نوکه روستو بيا مسلمانانوغلبه حاصله کړه اوهم هغه مال ئی په زور واخستلو نودَشوافعو په نيزبه دا مال اصل مالك ته ورکولې شی لکه چه دامال دَهغه دَملکيت نه نه دې وتلې.

② دَجمهوروپه نيزبه کافران دَ دغه مال مالکان شی. نوکه چرې دا مال په کافرانوکښې نه دې تقسيم شوې اودَ مسلمانانو لاس ته دَ تقسيم نه مخکښې راغلو نودابه دَ اصل مالك وی. ليکن په کافرانوکښې دَ تقسيميدو نه پس که دَ مجاهدينو لاس ته راغلو نواوس به دا په مال غنيمت کښې شاملولې شی اوپه عامو مسلمانانو به تقسيمولې شی.

داول فريق دلائل:

① وَعَنْهُ، قَالَ: «ذَهَبَتْ فَرَسٌ لَهُ فَأَخَذَهَا الْعَدُوُّ، فَظَهَرَ عَلَيْهِمُ الْمُسْلِمُونَ فَرُدَّ عَلَيْهِ فِي زَمَنِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَفِي رِوَايَةٍ: أَبَقَ عَبْدٌ لَهُ، فَلَحِقَ بِالرُّومِ فَظَهَرَ عَلَيْهِمُ الْمُسْلِمُونَ، فَرَدَّ عَلَيْهِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

توجمه: اودابن عمر رضي الله عنه په باره کې منقول دی يووقت د هغه آس وتښتيدلو چې دښمنانو يعنی کافرو اونيولو بيا چې مسلمانانو ته په هغه کافرو فتح حاصله شوه او د هغوی مال غنيمت کې هغه آس هم راغلو نو ابن عمر رضي الله عنه ته د هغه آس ورکول شو او هغه مال

غنيمت کې شمير نه شو دا واقعه د رسول کريم ﷺ د زماني ده او په يو روايت کې دادې چې د ابن عمر رضي الله عنهما غلام تښتيدلو سره روم ته ورسيدو بيا چې مسلمانانو ته په روميانو فتح حاصله شوه نو خالد ابن وليد رضي الله عنه ابن عمر رضي الله عنهما ته د هغه غلام ورکړې دا د نبي کريم ﷺ د زماني څخه وروسته واقعه ده (بخاري)

② په بخارى کښې د سلمه بن اکوع واقعه ده په هغې کښې سلمه بن اکوع ته د راجل او فارس حصې ملاوشوې وو

د دويم فريق دليل: ① جمهوروړ "للفقراء المهاجرين" نه استدلال کړې دې طرزد استدلال دا سې دې چه د صحابه کرامو اموال په مکه مکرمه کښې وو ليکن د کافرانولاس ته د تلود وجهې الله تعالى د دغه مال مالکان د فقراؤ په نوم سره ياد کړی دی دې نه معلومه شوه چه د مسلمانانودا مال د کافرانو په ملکيت کښې تلى وو اود تقسيم نه پس کافران د هغې مالکان شوى وو اود تقسيم نه مخکښې کافران د دغه مال مالکان نه جوړيږى

د تخيدلى غلام د واپس ملاويدو په مسئله کښې ۲ مذاهب:

که چرې غلام مرتد کيدوسره اوتختيدو نود ټولو امامانوپه نيز اتفاقاً کافران به د هغه مالکان شى.

① که مسلمان يا ذمى غلام اوتختيدو اوکافران دهغې مالکان شى نو امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائى چه کافران د دې مالکان کيدې نه شى.

② مګر جمهور وائى چه دمرتد غلام په شان دمسلمان غلام به هم کافران مالکان شى

د فريقينو دلائل: دواړو فريقو د زير بحث حديث د اجزاؤ نه استدلال کړې دې مګر دا باريک اجتهادى فرق دې په دې وجه د دلائلو ضرورت نشته.

[٣٣] د خيبر د مال خمس څخه د بنو عبد شمس او بنو نوفل محروميتيا

٣٣-[٩] (١) ١ وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: ٢ «مَشَيْتُ أَنَا وَعُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ٣ فَقُلْنَا: أَعْطَيْتَ بَنِي الْمُطَّلِبِ مِنْ خُمُسِ خَيْبَرَ، ٤ وَتَرَكْتَنَا ٥ وَنَحْنُ بِمَنْزِلَةٍ وَاحِدَةٍ مِنْكَ؟! ٦ فَقَالَ: "إِنَّمَا بَنُو هَاشِمٍ وَبَنُو الْمُطَّلِبِ شَيْءٌ وَاحِدٌ" ٧ قَالَ جُبَيْرٌ: ٨ وَلَمْ يَقْسِمِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِبَنِي عَبْدِ شَمْسٍ وَبَنِي نَوْفَلٍ شَيْئًا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ او جبير ابن مطعم رحمه الله وايي ٢ چه زه او حضرت عثمان ابن عفان رضي الله عنه د رسول کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شو ٣ او عرض مو وکړو چې تاسو د خيبر د خمس څخه بنو مطلب ته حصه ورکړله ٤ او مونږ ته مو رانه کړله ٥ حالانکه ستاسو په اعتبار سره مونږ

(١) اخرجه البخارى فى کتاب المغازى/باب غزوة خيبر (رقم-٤٢٢٩)

تول د یوي مرتبي یو ۶ حضور ﷺ وفرمایل [زه د دې څخه علاوه نور په هیڅ نه پوهیږم] چې بنوهاشم او بنو مطلب یودی ۷ حضرت جبیر رضی الله عنه وایي ۸ چې رسول کریم ﷺ بنو عبد شمس [یعنی حضرت عثمان رضی الله عنه وغیره] او بنو نوفل [یعنی حضرت جبیر رضی الله عنه وغیره] ته څه ورنه کړل (بخاري)

حضرت جبیر بن مطعم رضی الله عنه مختصر تعارف: نوم ئې جبیر کنیت ابومحمد، دَ پلار نوم ئې مطعم قریشي وو. دَ صحیح قول مطابق حضرت جبیر رضی الله عنه دَ صلح حدیبیه او فتح مکه په مینځمنی موده کښې مسلمان شوې (۱) دَ حنین په عزوه کښې شریك شوې وو په واپسئ کښې حضور پاك ﷺ سره وو (۲). دې دَ علم الانساب لوئ عالم وو او په دې کښې ډیر ماهر وو. داعلم هغه دَ حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه نه حاصل کړې وو. حضرت عمر رضی الله عنه ته چه کله دَ نسب دَ تحقیقاتو ضرورت پیش شو نو د ده په مدد سره به ئې تحقیقات کول. دې دَ خپل قوم سردار ووخویه ده کښې دَ تکبر نوم هیڅ ځیز نه وو. دَ قریشو په حکیم ترین خلقو کښې دَ ده شمیر وو. (۳)

وفات: ۵۷ھ کښې مدینه منوره کښې وفات شوې وو. (۴) یوشاعر وائی:

موت سے کس کو رستگاری نہیں ہے؟ آج وہ کل ہماری باری ہے

ترجمه: دَ مرګ نه هیڅ چا ته خلاصې نشته نن هغه مړشو صبا زمونږ واردې.

مرویات: دَ هغه نه ۶۰ شپیته احادیث نقل دی په دې کښې شپږ متفق علیه دی. بخاری اومسلم په یو یو کښې منفرد دی.

تسهیلات:

قوله: مِنْ خُمُسِ خَيْبَرَ:

دحدیث پس منظر: دَمال غنیمت نه پنځمه حصه دَ بیت المال وی اودَ خمس دا حصه به دَ نبی کریم په ذوی القربی اوفقراء وغیره کښې تقسیمیدله دَخیبر مال چه کله راغلو نونبی کریم دَخمس نه خپل ذوی القربی بنوهاشم اوبنوالمطلب ته ورکړه مګر بنونوفل او بنی عبدالشمس ته ئې هیڅ ورنه کړل

د عثمان او د جبیر بن مطعم د نبی علیه السلام په خدمت کښې حاضری: په دې خبره دَ پوهیدلودَپاره حضرت عثمان رضی الله عنه اوحضرت جبیربن مطعم رضی الله عنه نبی کریم له لاړل اوعرض ئې اوکړو یارسول الله! قرابت کښې مونږ او بنوالمطلب ستاسو دَپاره برابر یو داخبره صحیح ده چه ستاسو تعلق دَ بنوهاشم سره دې په دې فضیلت کښې مونږ مداخلت نه کوو چه بنوهاشم ته دې ولې ورکړو لیکن بنوالمطلب اومونږ قرابت کښې ستاسودَپاره

(۱) اصابه). (۲) مسنداحمد ۸۴/۴) (۳) اسدالغابه ۲۷۳/۱) (۴) استیعاب

برابرېو ځکه چه دَ عبدمناف څلورځامن وودکومو نومونه چه دادي: ① هاشم ② مطلب ③ عبدشمس ④ نوفل

نبي كريم دَهاشم دَ اولاد نه وو حضرت عثمان دَ عبدشمس دَ اولاد نه وو حضرت جبير بن مطعم دَ نوفل دَ اولاد نه وو. دَ دې حضراتو شكايت دا وو چه بنوالمطلب ته چه كله په خمس كښې حصه وركړې شوه نوموږ دې ولې پرېخودو حالانكه په قرابت دارئ كښې هيڅ فرق نشته دې؟

دنبي عليه السلام جواب: دَ دې په جواب كښې نبي كريم اوفرمائيل چه دَ قرابت حق صرف بنوهاشم اوبنوالمطلب ته حاصل دې ځكه چه دې خلقو په اسلام اوجاهليت كښې دَ يوځائى اوسيدو مظاهره كړې ده. ځكه چه كله قريشو بنوهاشم سره بائيكاټ اوكړو نوبنوالمطلب دَ بنوهاشم ملګرتيا اوكړه اوبنوعبدشمس او بنونوفل بائيكاټ كولوكښې دَ كافرانو پوره ملګرتيا اوكړه لهذا دَهغوى قرابت زمونږ نه ختم شو نو په خمس كښې هم دَهغوى حق پاتې نه شو. راتلونكى حديث نمبر(۳۰۲۷) كښې دَدې واقعې نور تفصيل موجود دې.

[۳۰۳]د مال فئ حكم

۳۰۳—[۱۰] ()① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ② قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "③ «أَيُّمَا قَرْيَةٍ أَتَيْتُمُوهَا ④ وَأَقَمْتُمْ بِهَا، ⑤ فَسَهْمُكُمْ فِيهَا ⑥ وَأَيُّمَا قَرْيَةٍ عَصَتِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ; ⑦ فَإِنَّ خُمُسَهَا لِلَّهِ وَلِرَسُولِهِ، ⑧ ثُمَّ هِيَ لَكُمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او ابوهريره ﷺ وايي ② چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ③ كوم كلي (ښار) ته چې تاسو لاړ شئ ④ او په هغې كې قيام اوكړو ⑤ نو د هغې په مال كې ستاسو حصه ده ⑥ او كوم كلي (ښار) چې د الله او د هغه د رسول ﷺ نافرماني اوكړى ⑦ نو د هغې په مال كې پنځمه حصه د الله او د هغه رسول ﷺ د پاره ده ⑧ او بقيه ستاسو ده (مسلم)

حل اللغات: ① عَصَت: نافرمانى اوكړى،

تسهيلات:

قوله: أَيُّمَا قَرْيَةٍ أَتَيْتُمُوهَا وَأَقَمْتُمْ بِهَا، فَسَهْمُكُمْ فِيهَا:

د مفتوحه علاقو دوه قسمونه: ① يعنى داسې زمكې ته تاسو راغلئى او په كښې حصار شوئى چه دَ هغه ځائى خلقو نه جنګ اوكړو اونه ئى مزاحمت اوكړو اودَهغوى مالونه دَ غنيمت په توګه تاسوته ملاؤشو نودا مال فئ دې. په كوم كښې چه مجاهدين مقاتلين

---

(۱۰) اخرجه مسلم فى كتاب الجهاد والسّير/باب حكم الفىء (رقم-۴۷ - (۱۷۵۶)) و ابو داود فى كتاب الخراج والإمارة والفىء/باب فى إيقاف أرض السّواد وأرض العنوة (رقم-۳۰۳۶) واحمد فى المسند:۳۱۷/۲

اومدینه کښې اوسیدونکی غیرمجاهدین ټول شریکیږی او ټولو ته حصه ملاویږی او په دې کښې خمس نه وی

④کوم ښاریوچه د الله تعالی نافرمانی کړې ده یعنی دغه ځائی اوسیدونکو د مجاهدینو مقابله اوکړه جنګ ئې اوکړو اوماتې خوړلوسره اوتختیدل او دغنیمت مال مسلمانانو ته ملاؤشو نو په دې کښې به خمس ویستلوسره بیت المال ته حواله کولې شی او باقی څلورحصې به په مجاهدینو کښې تقسیمیږی

په مال فئ کښې عدم خمس: بهرحال د حدیث خلاصه داده چه مال فئ کښې خمس نه وی په مال غنیمت کښې وی آخری جمله ئې هم لګه کښې ئې فرمائیلی دی چه خمس هم به تاسو مسلمانانو کښې تقسیمیږی زما ذاتی مال نه دې

[۳۹۹۵] په مال غنیمت کښې د خیانت کونکو دپاره عذاب

۳۹۹۵—[۱۱] ( ) ① وَعَنْ خَوْلَةَ الْأَنْصَارِيَّةِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ③ "«إِنَّ رِجَالًا يَتَخَوَّضُونَ فِي مَالِ اللَّهِ بِغَيْرِ حَقٍّ ④ فَلَهُمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او بي بي خولة انصاریه رضی الله عنها وایي ② چه ما د رسول کریم ﷺ څخه دا واوریدل ③ چې بعضې خلق د الله په مال (یعنی غنیمت، فئ او د زکوٰة په مال) کې بغیر دځه استحقاق نه تصرف کوي ④ نو داسې خلق به د قیامت په ورځ د اور سزاوار وي (بخاري)

د حضرت خوله انصاریه مختصر تعارف: نوم خوله کنیت ام محمد او ام حبیبه وو. د پلار نوم ئې عامر وو. بعضو د پلار نوم قیس بن فهد ونیلې دې او بعض خلقو د عامرقیس بن فهد لقب ورکړې دې. بعضو ونیلی دی چه د خولانیه قبیلې نه وه.

مرویات: بعض وائی چه د هغې نه هم یوروایت نقل دې او بعضو ونیلی دی چه د هغې نه اته احادیث نقل دی یو روایت کوم چه په کتاب کښې موجود دې هغه بخاری کښې دې.باقی د احادیثو په نورو کتابونوکښې دی د هغې نه نعمان بن ابی العیاش عموما روایت کوی.

حل اللغات: ①یَتَخَوَّضُونَ: خوض ورننوتل او مشغولیدل. دلته په مال غنیمت کښې تصرف کول مراد دی

تسهیلات:

قوله: إِنَّ رِجَالًا يَتَخَوَّضُونَ فِي مَالِ اللَّهِ:

په قومی مالیت کښې د خیانت حکم: خوض د ورننوتلو په معنی کښې دې دلته په اوقاف، مال غنیمت، زکوٰة او په مال فئ کښې بې ځایه تصرف کول مراد دی داخبره یاد لرئی چه

(1) اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب غزوة خیبر (رقم-۲۸۱۸) واحمد فی المسند: ۶/۴۱۰

په دې احاديثو کښې ظاهراً په غلول او مال غنيمت کښې دَ خيانت کولو الفاظ راغلی دی مګر داصرف مال غنيمت نه دې بلکه مشترکه قومی دولت او دَمسلمانانو امانت مراد دې لهذا په سرکاری ادارو کښې، مذهبی مدارسو کښې اوجهادی اوغيرجهادی تنظيمونو کښې چه کوم مشترکه مالونه وی په هغه ټولو باندې دا الفاظ صادق راځی. ځوک دې دا خيال نه کوی چه داخودَ مال غنيمت دَ خيانت خبره ده زه سرکاری دفتر يا کمپنی يا مدرسه يا دَ تنظيم يا دَ اوقاف په مال کښې خيانت کوم

[٣٩٩٣] مشترکه قومی څيز کښې دَخيانت مختلف صورتونه

٣٩٩٣—[١٢] ()① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «قَامَ فِينَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ ③ فَذَكَرَ الْغُلُولَ، ④ فَعَظَّمَهُ وَعَظَّمَ أَمْرَهُ، ⑤ ثُمَّ قَالَ: ⑥ "لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ⑦ عَلَى رَقَبَتِهِ بَعِيرٌ لَهُ رُغَاءٌ ⑧ يَقُولُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَغِثْنِي، ⑨ فَأَقُولُ لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا، ⑩ قَدْ أَبْلَغْتُكَ. ⑪ لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ فَرَسٌ لَهُ حَمْحَمَةٌ،

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي ② چه رسول کريم ﷺ زمونږ مخکې خطبه ارشاد وفرمايله ③ او[د هغه خطبي په دوران کې] په مالِ غنيمت کې د خيانت ذکر يې اوکړو ④ حضور ﷺ دا ډيره لويه ګناه وښودله او په ډير اهميت سره يې بيان کړله ⑤ بيايي وفرمايل ⑥ خبردار زه په تاسو کې هيڅوک د قيامت په ورځ په دې حال کې ونه وينم ⑦ چې هغه په خپل څټ بربړ کونکې اوښ سورکړي (ميدان حشر ته) راشي [مثلًا کوم سړی چې مالِ غنيمت کې د اوښ خيانت وکړي نو هغه سړې به ميدان حشر کې داسې حالت کې راشي چې د هغه په غاړه به هغه اوښ سوروي او بربړ به کوي] ⑧ او بيا ماته دا اووائي يا رسول الله څما فرياد رسي (شفاعت) وکړئ ⑨ او زه د هغه په جواب کې دا اووايم چې زه اوس ستا د هيڅ شي ذمه وار نه يم [يعنی زه تا د الله د عذاب څخه خلاصولې نشم] ⑩ څکه چې ماتاته [په دنيا کې د شريعت احکام] رسولي وو ⑪ او خبردار زه په تاسو کې څوك د قيامت په ورځ په دي حال کې ونه وينم چې هغه په خپل څټ هنرهنر کونکې اس سورکړي (ميدان حشرته) راشي

حل اللغات: ① الْغُلُولَ: خيانت. ② لَا أُلْفِيَنَّ: زه اونه وينم. بيا نه مومم. ③ رُغَاءٌ: د اوښ بربړ کول. ④ أَغِثْنِي: زما فرياد رسی اوکړه. زما مدد اوکړه. ⑤ فَرَسٌ: اس. ⑥ حَمْحَمَةٌ: د اس هنريدل.

() اخرجه البخاري فی كتاب الجهاد والسير/باب الغلول وقول الله تعالى: {ومن يغلل يأت بما غلّ} [آل عمران: ١٦١] (رقم ٣٠٧٣) ومسلم فی كتاب الإمارة/باب غلظ تحريم الغلول (رقم-٢٤ - (١٨٣١) واحمد فی المسند: ٢/٤٢٦

① فَيَقُولُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَغِثْنِي، ② فَأَقُولُ: لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا، ③ قَدْ أَبْلَغْتُكَ. ④ لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلٰى رَقَبَتِهِ شَاةٌ لَهَا ثُغَاءٌ، ⑤ يَقُولُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَغِثْنِي، ⑥ فَأَقُولُ: لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا، ⑦ قَدْ أَبْلَغْتُكَ. ⑧ لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلٰى رَقَبَتِهِ نَفْسٌ لَهَا صِيَاحٌ، ⑨ فَيَقُولُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَغِثْنِي، ⑩ فَأَقُولُ: لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا، ⑪ قَدْ أَبْلَغْتُكَ. ⑫ لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلٰى رَقَبَتِهِ رِقَاعٌ تَخْفِقُ،

ترجمه: ① اوبيا ماته دا اووائي چي يارسول الله ځما فرياد رسي وكړئ ② نو زه به د هغه په جواب کي اووايم چي زه ستا دپاره څه نشم کولي ③ ځکه چي ماتاته [د شريعت احکام] رسولي وو [يعنى ته مي د مخکي څخه اګاه کړي وې چي مال غنيمت کي خيانت يا په څه شي کي ناحق تصرف کول لويه ګناه ده] ④ او خبردار زه به تاسو کي هيڅوک د قيامت په ورځ په داسي حال کي ونه وينم چي هغه خپل څټ باندي بې بې (د ګډي آواز) کونکى بزه (چيلئ) راوړي (ميدانِ حشرته) راشي ⑤ او بيا ماته دا اووائي چي يارسول الله ځما فرياد رسي وکړئ ⑥ او زه د هغه په جواب کي دا اووايم چه زه اوس ستا د هيڅ شي ذمه وار نه يم ⑦ ځکه چي ماتاته [د شريعت احکام] رسولي وو ⑧ او خبردار زه به تاسو کي هيڅوک د قيامت په ورځ په داسي حال کي ونه وينم چي هغه خپل څټ باندي يو چغي وهونکى سړي [يعنى هغه غلام يا وينځه چي هغه د غنيمت قيديانو کي خيانت کولو سره اخستلي وي] سورکړي (ميدانِ حشرته) راشي ⑨ اوبيا ماته دا اووائي چي يارسول الله ځما فرياد رسي وکړئ ⑩ او زه د هغه په جواب کي دا اووايم چي زه اوس ستا د هيڅ شي ذمه وار نه يم ⑪ ځکه چي ماتاته [د شريعت احکام] رسولي وه ⑫ او خبردار زه تاسو کي هيڅوک د قيامت په ورځ داسي حال کي ونه وينم چي هغه په خپل څټ باندي هواکي بوږونکي کپړي اچولي (ميدان حشرته) راشي

حل اللغات: ⑤ ثُغَاءٌ: د چيلئ يا ګډي بې بې کول. ⑧ نَفْسٌ: انسان. ⑨ صِيَاحٌ: د انسان چغي او فرياد کول. ⑩ رِقَاعٌ: د رقعة جمع ده. د کپړي ټوټې. جهنډې. ⑪ تَخْفِقُ: چه خوزى راخوزى

① فَيَقُولُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَغِثْنِي، ② فَأَقُولُ: لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا، ③ قَدْ أَبْلَغْتُكَ. ④ لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلٰى رَقَبَتِهِ صَامِتٌ، ⑤ فَيَقُولُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَغِثْنِي، ⑥ فَأَقُولُ: لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا، ⑦ قَدْ أَبْلَغْتُكَ ". ⑧ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، ⑨ وَهٰذَا لَفْظُ مُسْلِمٍ، وَهُوَ أَتَمُّ.

ترجمه: ① او بيا ماته دا اووائي چي يارسول الله ځما فرياد رسي وکړئ ② او زه ورته په جواب کي دا اووايم چي زه اوس ستا د هيڅ شي ذمه وار نه يم ③ ځکه چي ما تاته [د شريعت احکام] رسولي وو ④ او خبردار زه به تاسو کي هيڅوک د قيامت په ورځ په دي حال کي ونه وينم چي هغه خپل څټ باندي سره زر سپين زر اچولي (ميدانِ حشرته) راشي ⑤ او بيا ماته دا اووائي چي يارسول الله ځما فرياد رسي وکړئ ⑥ او زه د هغه په جواب

کې دا اووایم چې اوس زه ستا د هیڅ شي ذمه وار نه یم ⑦ ځکه چې ماتاته [د شریعت احکام] رسولي وو ⑧ دارروایت [د معنی او مضمون په اعتبار څخه] بخاري او مسلم دواړو نقل کړي دي ⑨ او الفاظ د مسلم دي چې د بخاري د الفاظو په نسبت پوره او مکمل دی.

حل اللغات: ⑫صَامِتٌ: سره زر او سپین زر،

قوله: فَذَكَرَ الْغُلُولَ، فَعَظَّمَهُ وَعَظَّمَ أَمْرَهُ:

په مال غنیمت کښې د خیانت کولوسختوالي: دَ حضرت ابوهریره ﷺ روایت دې چه رسول اکرم ﷺ مونږ ته دَخطبه ورکولو دَپاره اودریدو اوپه مال غنیمت کښې دَغلا ذکر کولو سره دا گناه کبیره اوګرځوله او (دَدې په تنیجه کښې ملاویدونکې) سزا سختی ئې بیان کړه

قوله: لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ شَاةٌ:

دمذکوره جملې مفهوم: په تاسو کښې دې یو سړې هم په مال غنیمت کښې خیانت کونکې نه شی چه زه هغه دَ قیامت په ورځ په داسې حالت کښې اوګورم چه دَ هغه په سټ باندې چیلئی وی او چغې وهی یا اس وی او هنریږی اوهغه سړې فریاد کولوسره وائی یارسول الله! زما امداد (شفاعت) اوکړه نوزه به ورته وایم زه ستا امداد (شفاعت) نه شم کولې دَالله تعالی پیغام خوماتاسوته دررسولې وو.

قوله: لَا أَمْلِكُ لَكَ شَيْئًا:

دعدم ملک مصداق: مطلب دادې چه زه به دَ الله تعالی نه ستاسودَ بخښنې په درخواست کولوکښې امدادنه شم کولې ځکه چه شفاعت خودَ الله تعالی په رضاباندې موقوف دې په سورت انبیاء کښې دا مضمون واضحه کولوسره فرمائی: ⑨ لَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ارْتَضَى ⑦

قوله: قَدْ أَبْلَغْتُكَ:

دمذکوره جملې مطلب: دَدې جملې نه دَ رسول اکرم ﷺ منشاء داوه چه ماتاسوته دَ حق خبره خودلې وه په دې وجه دَخپل ځان دَ بخښلودَپاره به تاسو سره څه عذرنه وی. (۱)

علامه عینی رحمه الله حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه قسطلانی رحمه الله فرمائی چه دَ مذکوره ارشاد نه دَ رسول الله ﷺ مقصد دَدغه جرم دَ سختوالی احساس رابیدارول وو ګنی نبی کریم به دَ خپل امت دَ ګناهګارانودَپاره دَ قیامت په ورځ ضرور شفاعت کوی.

(۱) عمدة القاري: ۱۵/ ۱۰ وفتح الباري: ۶/ ۲۲۹.

قوله: لَاأُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ يَجِيءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رَقَبَتِهِ رِقَاعٌ تَخْفِقُ:

د مذکوره جملې مطلب: دَهغه په سټ کښې به دَ کپړې ټکړې وی چه حرکت به کوی. رقاع دَ رقعة جمع ده دَ کپړې ټکړې ته وائی (۱) تخفق: ای التحرك دَ باب ضرب نه دَدې معنی حرکت کول دی

د رقاع په مفهوم کښې اقوال: دَدې لفظ په تشریح کښې شراح حدیث مختلف اقوال نقل کړی دی ① علامه ابن جوزی رحمه الله فرمائی دې نه مطلقًا کپړې مراددی

② علامه حمیدی رحمه الله فرمائی چه دې نه هغه حقوق مراد دی کوم چه په رقاع کښې تحریر کیږی المراد بها ماعلیه من الحقوق المکتوبة فی الرقاع خودا رائې ردکولو سره ابن جوزی رحمه الله فرمائی چه رقاع په کپړو باندې محمول کول زیات مناسب او بهتردی (کوم چه حسی اومحسوس کیدونکې څیزدې) ځکه چه په حدیث کښې هم دَ حسی خیانت ذکردې ورد علیه ابن الجوزی: بان الحدیث سیق لذکر الغلول الحسی، فحمله علی الثیاب أنسب (۲)

د دویمې رائې تضعیف: خوددې رائې په رد کولوسره علامه کرمانی رحمه الله اوعلامه عینی رحمه الله فرمائی چه رقاع نه بعینه کپړې مراد نه دی بلکه دَدې په عموم کښې ځناور نقدی سامان کپړې ټول اجناس شامل دی

د غنیمت څخه د مالِ مسروقه د واپس کولووجوب: علامه ابن منذر رحمه الله فرمائی دَ مال غنیمت دَ تقسیم نه وړاندې په سارق باندې مسروقه مال واپس کول بالاجماع واجب دی

د مال مسروقه په مجاهدینوتقسیمولودعدم امکان په صورت کښې ۳ مذاهب:

① که دا مال دَ اسلامی لښکردَ خوریدونه پس واپس کړې شی او مستحقینوته دَدغه مال رسول ممکن پاتې نه شی نوامام ثوری امام اوزاعی امام مالك او امام احمدبن حنبل رحمهم الله مسلك دادې چه هغه سړې به دَ مسروقه مال خمس امیرته واپس کړی اوباقی حصه دې صدقه کړی (۳)

② امام شافعی رحمه الله فرمائی چه چاسره مال غنیمت وی نودَهغې دوه صورتونه دی:

۱- چه مال غنیمت دهغه شرعی حق وی یعنی دَ غنائم دَ تقسیم په وخت دَهغې مالك جوړشوې وی په دې صورت باندې ښکاره خبره ده چه دَهغې صدقه کول واجب نه دی

۲- چه شرعی حق نه وی بلکه غلائی کړې وی نو په دې صورت کښې ښکاره خبره ده چه

---

(۱) عمدة القاری:۱۵/۱۰ وارشادالساری:۱۸۲/۵.

(۲) ایضًا.

(۳) المغنی لابن قدامة:۵۲۶/۱۰ کتاب الجهاد أحکام فی الغلول. رقم الفصل:۷۶۰۷ وعمدة القاری:۱۰/۱۵ وفتح الباری:۲۲۹/۶ وبذل المجهود:۲۹۰/۱۲.

دا پردي مال دې او د پردی مال صدقه کول په يو صورت باندې هم جائزنه دی دا مال به د اموال ضائعه په حکم کښې وی يعنی دا به حاکم وخت ته واپس کول واجب وی

③ د احنافو په نيز امام ته اختيار دې چه د هغه سړی مال قبلولو نه انکارکولو سره اووائی چه هغه دې پخپله مستحق ته د هغه حق اورسوی يا دې د هغې خمس واخلی بيت المال کښې دې جمع کړی باقی حصه دې هغه سړې د لقطه په توګه خپل خان سره اوساتی يا دې مسکينانو ته ورکړی يا دې بيت المال کښې جمع کړی. خپل خان سره دې په هغه صورت کښې اوساتی چه کله د هغه اميدوی چه حقدارته به دغه مال اورسوی که چرې اميد ئې نه وی نو بيا دې په مسکينانو کښې تقسيم کړی يا دې بيت المال کښې جمع کړی (۱)

[۳۹۸] په حقوق المسلمين کښې د خيانت کولو سزا

۳۹۸-[۱۳] (۲) ① (وَعَنْهُ) قَالَ: ② «أَهْدَى رَجُلٌ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُلَامًا ③ يُقَالُ لَهُ: مِدْعَمٌ ④ فَبَيْنَمَا مِدْعَمٌ يَحُطُّ رَحْلًا لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ⑤ إِذْ أَصَابَهُ سَهْمٌ عَائِرٌ فَقَتَلَهُ ⑥ فَقَالَ النَّاسُ: هَنِيئًا لَهُ الْجَنَّةُ ⑦ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَلَّا ⑧ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ ⑨ إِنَّ الشَّمْلَةَ الَّتِي أَخَذَهَا يَوْمَ خَيْبَرَ مِنَ الْمَغَانِمِ ⑩ لَمْ تُصِبْهَا الْمَقَاسِمُ ⑪ لَتَشْتَعِلُ عَلَيْهِ نَارًا".

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي ② چه يو کس د رسول کريم ﷺ په خدمت کې يو غلام د هديه په طور پيش کړو ③ چې د هغه نوم مدعم وو ④ (يوه ورځ هغه ميدان جنګ کې) د رسول کريم ﷺ کجاوه خکته کوله ⑤ چې اچانك د يو نامعلومه سړی تير راغلو او هغه باندې ولګيدلو چې د هغې سره هغه په حق ورسيدو ⑥ خلقو اوويل مدعم ته دې جنت مبارك وي (يعنی مدعم خوش قسمته وو چې د حضور ﷺ په خدمت کولو سره شهيد شو او جنت ته ورسيدو) ⑦ په دې اوريدو سره حضور ﷺ وفرمايل نه. داسې نه ده ⑧ په هغه ذات مې دې قسم وي چې د هغه په لاس کې ځما ساه ده ⑨ هغه څادر چې مدعم د خيبر په ورځ د مال غنيمت څخه اخستلې وو ⑩ چه د هغې تقسيم لا نه وو شوې ⑪ هغه اور جوړيدو سره په مدعم شعلې ورروي

حل اللغات: ① مِدْعَمٌ: د غلام نوم دې ② يَحُطُّ: ښکته کوله ئې، ③ رَحْلًا: کجاوه، ④ عَائِرٌ: نامعلومه غشې چه ناڅاپی راشی او په چا ولګی ⑤ الشَّمْلَةَ: څادر، ⑨ الْمَقَاسِمُ: تقسيم، حصې حصې کول ⑥ لَتَشْتَعِلُ: د اور شغلې تيزول

(۱) بذل المجهود: ۱۲/۲۹۰.

(۲) اخرجه البخاری فی کتاب الأيمان والنّذور/ باب: هل يدخل فی الأيمان والنّذور الأرض، والغنم، والزّروع، والأمتعة (رقم -۶۷۰۷) ومسلم فی کتاب الإيمان/باب غلظ تحريم الغلول، وأنّه لا يدخل الجنّة إلّا المؤمنون (رقم-۱۸۳ - (۱۱۵) و ابو داود فی کتاب الجهاد ، باب فی تعظيم الغلول (رقم-۲۷۱۱)والنسائی فی کتاب الجهاد/باب: طلاق العبد (رقم-۳۴۲۷) ومالک فی الموطا کتاب الجهاد/باب ما جاء فی الغلول (رقم-۲۵)

[۱] فَلَمَّا سَمِعَ ذَلِكَ النَّاسُ [۲] جَاءَ رَجُلٌ بِشِرَاكٍ، أَوْ شِرَاكَيْنِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۳] فَقَالَ: "شِرَاكٌ مِنْ نَارٍ [۴] أَوْ شِرَاكَانِ مِنْ نَارٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] خلقو چې دا شدید وعید او تنبیه واوریده [چا چې مال غنیمت کې خیانت کول آسان ګڼلی وو او داګمان یې کړي وو چې واړه او حقیر څیزونو اخستلو باندې به څه مواخذه نه وي نو هغوی ورپیدل او هغوی چې مال غنیمت څخه کوچني او معمولي څیزونه اخستي وو د هغې واپس راوړل یې شروع کړل تردې چې] [۲] یو سړي یوه تسمه یا دوه تسمې واپس ورکولو د پاره د رسول کریم ﷺ په خدمت کې راوړې [۳] حضور ﷺ د هغې په لیدو وفرمایل دا د اور یوه تسمه ده [۴] یا د اور دوه تسمې دي [یعنی د خیانت څیز به یې په هرحالت کې د دوزخ د اور سزا وار کوی برابره خبره ده که هغه هرڅومره معمولي او حقیر شی وي] (بخاري ، مسلم)

حل اللغات: ⑧ شِرَاكٍ: تسمه، وَندني.

نوټ: په مال غنیمت کښې د خیانت مضمون په ګڼرو احادیثو کښې بیان شوي دي هغې ته رجوع پکار ده.

[۳۹۹۸] د مال غنیمت د یو کمبل په وجه جهنم ته تلل

۳۹۹۸ــ [۱۴] (¹) [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲] «كَانَ عَلَى ثَقَلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ [۳] يُقَالُ لَهُ كِرْكِرَةُ، [۴] فَمَاتَ، [۵] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۶] "هُوَ فِي النَّارِ" [۷] فَذَهَبُوا يَنْظُرُونَ [۸] فَوَجَدُوا عَبَاءَةً [۹] قَدْ غَلَّهَا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او عبد الله ابن عمرو ﷺ وايي [۲] چه يو سړی په يوي غزاکي د رسول کريم ﷺ د طرف څخه د سامان او اسباب نګران مقرر شو [۳] چه د هغه نوم کرکره وو [۴] کوم وخت چې هغه وفات شو [۵] نو رسول کريم ﷺ وفرمايل [۶] کرکره په دوزخ کې غورځول شوی دی [۷] خلقو د هغه سامان کتل شروع کړل [۸] نو په هغې کې يو کمبل پيدا شو [۹] چې هغه د مال غنيمت څخه په خيانت اخستي وه (بخاري)

حل اللغات: ① ثَقَل: بوج. سامان. ② كِرْكِرَةُ: د يو سړی نوم دي. ③ عَبَاءَةُ: کمبل. ④ غَلَّهَا: خيانت کړي ئې وو.

تسهيلات: قوله: عَبَاءَةً: د چوغې په شان څادر او کملی ته عباءة وئيلې شوي دي

¹) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسّیر/باب القلیل من الغلول (رقم-۳۰۷۴) وابن ماجه فی کتاب الجهاد/باب الغلول (رقم-۲۸۴۹) واحمد فی المسند: ۲/۱۶۰

[۳۹۹۹] د تقسیم څخه وړاندې د خوراک څکاک د څیزونو د استعمال جواز

۳۹۹۹-[۱۵] (١) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲] «كُنَّا نُصِيبُ فِي مَغَازِينَا الْعَسَلَ وَالْعِنَبَ [۳] فَنَأْكُلُهُ [۴] وَلَا نَرْفَعُهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي [۲] چه مونږ ته به غزاګانو کې عسل (شهد) او انګور حاصليدل [۳] نو مونږ به هغه خوړل [۴] او وړل به مونه (بخاري)

تسهيلات: **قوله:** كُنَّا نُصِيبُ فِي مَغَازِينَا الْعَسَلَ وَالْعِنَبَ:

د خوراکی اشیاؤ د تقسیم څخه وړاندې د استعمال جواز: اصول اوقاعده داده چه کوم څيزونه د خوراك څښاك سره متعلق وي يا د اسونو د ګياه سره متعلق وي نو د مال غنيمت د تقسيم نه مخکښې د داسې څيزونو خوړل او استعمالول جائز دي ليکن دا جائز نه دي چه هغه اوچت کړې شي او يوړلې شي. او ذخيره جوړکړې شي هم د دې ممانعت طرف ته په "ولاترفعه" کښې اشاره ده. د علماؤ په دې باندې اتفاق دې چه مجاهدين ترکومې پورې دارالحرب او محاذ د جنګ کښې وي هغه وخت هغوی ته د مال غنيمت نه په اندازه د ضرورت د خوراك څښاك د څيزونو د تقسيم نه مخکښې د استعمالولو اجازت دې او دارالاسلام يعنی د جنګ د محاذ نه واپس کيدو نه پس دا استعمالول جائز نه دی

[۴۰۰۰] د وازګې په ترلاسه کولو خوشحالی کول

۴۰۰۰-[۱۶] (٢) [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «أَصَبْتُ جِرَابًا مِنْ شَحْمٍ يَوْمَ خَيْبَرَ، [۳] فَالْتَزَمْتُهُ، [۴] فَقُلْتُ: لَا أُعْطِي الْيَوْمَ أَحَدًا مِنْ هٰذَا شَيْئًا، [۵] فَالْتَفَتُّ [۶] فَإِذَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَبَسَّمُ إِلَيَّ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [۷] وَذُكِرَ حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ "مَا أُعْطِيكُمْ" "فِي بَابِ" "رِزْقِ الْوُلَاةِ"

ترجمه: [۱] او عبد الله ابن مغفل وايي [۲] چه د خيبر په ورځ ماته دوازګي څخه ډکه يوه تهيلۍ په لاس راغله [۳] ما هغه پورته کړه خپلې سينې سره مې ولګوله [۴] او ازره کې ياژبي سره؛ مې اوويل نن به زه ددې وازګې څخه هيچاته نه ورکوم [۵] بيا چې ما په وروسته وکتل [۶] نو رسول کريم ﷺ ولاړ وو څما په دې فعل ئ اوخاندل (بخاري ، مسلم) [۷] او د ابوهريره رضی الله عنه حديث چې «ما اعطيتکم» ئې په «باب رزق الولاة» کښې ذکر کړې دي

حل اللغات: ① جِرَابًا: تهيلۍ. ② شَحْمٍ: وازګه

---

(١) اخرجه البخاری فی کتاب فرض الخمس/باب ما يصيب من الطّعام فی أرض الحرب (رقم-٣١٥٤)

(٢) اخرجه البخاری فی کتاب فرض الخمس/باب ما يصيب من الطّعام فی أرض الحرب (رقم-٣١٥٣) ومسلم فی کتاب الجهاد والسّير/باب جواز الأکل من طعام الغنيمة فی دار الحرب (رقم-٧٢ - (١٧٧٢) والنسائی فی کتاب الضّحايا/باب ذبائح اليهود (رقم-٤٤٣٥) واحمد فی المسند: ٥٦/٥

تسهیلات:

قوله: أَصَبْتُ جِرَابًا مِنْ شَحْمٍ يَوْمَ خَيْبَرَ:

د وازګې په موندلو خوشحالی کول: جنګ خیبرکښې په شروع کښې دَخوراك دومره تنګی راغله چه صحابه کرامو وابنه اوخوړل دَ خرغوښه ئی اوخوړله هلته یهودیان اوسیدل دَهغوی دَپاره وازګه استعمالول حرام وو لهذا په هغوی کښې چا دَ وازګې نه ډکه تهیلئی په ډیران باندې اغورزوله یوصحابی ته چه کله دا تهیله ملاؤ شوه نوسینې پورې ئی اولګوله چه پخپله به ئی خورم چاته به نه ورکوم کله چه ئی شاته اوکتل نونبی کریم مسکې کیدونکې ښکاره شو سبحان الله څه نظاره وه.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۰۰۱] د امت محمدی دپاره د مال غنیمت حلت

۴۰۰۱-[۱۷] (۱) [۱] عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۲] قَالَ: [۳] «إِنَّ اللّٰهَ فَضَّلَنِي عَلَى الْأَنْبِيَاءِ، [۴] أَوْقَالَ فَضَّلَ أُمَّتِي عَلَى الْأُمَمِ [۵] وَأَحَلَّ لَنَا الْغَنَائِمَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوامامه ﷛ د نبی کریم ﷺ څخه روایت کوي [۲] چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [۳] بلاشبه الله ﷻ ماته په نورو انبیاؤ باندې بزرګي او فضیلت راکړې دې [۴] یا دایي وفرمایل چې څما امت ته یې په نورو امتونو فضیلت او بزرګي ورکړې ده [۵] او مال غنیمت یي زمونږ د پاره حلال وګرځولو (ترمذي)

تسهیلات:

قوله: أَوْقَالَ فَضَّلَ أُمَّتِي عَلَى الْأُمَمِ:

دمذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① یعنی الله تعالی زمونږ دپاره مال غنیمت په خاص توګه حلال کړې دې څکه چه دا زمونږ دپاره د نورو امتونو نه لوې فضیلت دې ② ددې څخه مراد دا دی چه الله تعالی زمونږ امت ته په نورو امتونو ډیر فضیلتونه ورکړی دی او په هغې کښې یو فضیلت دمال غنیمت حلالوالي هم دې

[۴۰۰۲] د مقتول مال قاتل ته ورکول

۴۰۰۲-[۱۸] (۲) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَئِذٍ يَعْنِي: يَوْمَ حُنَيْنٍ: [۳] "مَنْ قَتَلَ كَافِرًا [۴] فَلَهُ سَلَبُهُ". [۵] فَقَتَلَ أَبُو طَلْحَةَ يَوْمَئِذٍ عِشْرِينَ رَجُلًا، [۶] وَأَخَذَ أَسْلَابَهُمْ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب السّیر عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی الغنیمة (رقم-۱۵۵۳) واحمد فی السند: ۲۴۸/۵

[۲] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب فی السّلب یعطی القاتل (رقم-۲۷۱۸) واحمد فی السند: ۱۱۴/۳

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه وايي [۲] چه رسول كريم ﷺ د غزوه حنين په ورځ وفرمايل [۳] كوم سړى چې يو كافر (دښمن) قتل كړو [۴] نو د مقتول مال او اسباب به د هغه قاتل وي [۵] ابوطلحه رضي الله عنه په هغه ورځ د دښمن شل سړي قتل كړل [۶] او د هغوى ټول مال او اسباب يي حاصل كړل (دارمي)

حل اللغات: ① أَسْلَابَهُمْ: سَلَبُهُ: د دشمن پاتې شوې مال.

تسهيلات:

قوله: مَنْ قَتَلَ كَافِرًا فَلَهُ سَلَبُهُ

د قاتل دپاره دسلب ملاويدو په قاعده شرعيه كښې ۲ مذاهب:

①: جمهورو په نيزد سلب ضابطه او قاعده ده چه په هرحال كښې به قاتل ته ملاويږى كه په موقع باندې څوك امير اعلان اوكړى اوكه اونه كړى

① داحنافو په نيزيه موقع باندې وختى اعلان ضرورى دې مستقل قاعده اوضابطه نشته دې يادلرئى په سلب كښې خمس نه وى، تفصيل وړاندې تيرشوې دې

[۴۰۰۳] په سلب كښې عدم خمس

[۱۹] ( ) [۱] وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ، وَخَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ: [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى فِي السَّلَبِ لِلْقَاتِلِ. [۳] وَلَمْ يُخَمِّسِ السَّلَبَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او عوف رضي الله عنه ابن مالك اشجعي او خالد رضي الله عنه ابن الوليد څخه روايت دى [۲] چې رسول كريم ﷺ د مقتول د مال او اسباب په باره كې حكم وفرمايلو چې هغه د قتلونكي (يعنى د قاتل) حق دې [۳] او هغه مال او اسباب څخه حضور ﷺ خمس (پنځمه حصه) اونه ښكله (څنګه چې به يې د مال غنيمت څخه اوښكله) (ابوداود)

تسهيلات:

قوله: قَضَى فِي السَّلَبِ لِلْقَاتِلِ

قاتل دپاره د سلب ملاويدو حيثيت: د مقتول كافر سامان به په طريقه د نفل يا په طريقه د تشريع قاتل ته ملاويږى

قوله: وَلَمْ يُخَمِّسِ السَّلَبَ

په سلب كښې عدم خمس: دمقتول سامان ئى د مال غنيمت په شان په پنځه قسمونو كښې تقسيم نه كړو. بلكه د مقتول ټول مال ئى قاتل مجاهد ته وركړو

[۱]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الجهاد /باب فى السلب لا يخمس (رقم-۲۷۲۱) واحمد فى المسند: ۶۸۲۶

[۴۰۰۳] د ابوجهل اصلي قاتل

۴۰۰۳ — [۲۰] ( ) [۱] وَعَنْ «عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] نَفَّلَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ سَيْفَ أَبِي جَهْلٍ، [۳] وَكَانَ قَتَلَهُ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وايي [۲] چي رسول كريم صلى الله عليه وسلم د بدر په ورځ د ابوجهل توره د غنيمت ځخه (زما د حصې نه) زياتى راكړه [۳] او د ابوجهل قاتل عبد الله بن مسعود وو (ابوداود)

تسهيلات: قوله: وَكَانَ قَتَلَهُ

د ابوجهل په قاتل کښې درې متعارض روايتونه: ① بعضې رواياتو کښې دی چه د عفراء دوو ځامنو قتل کړې وو

② بعضو کښې دی چه ابن مسعود رضي الله عنه وژلې وو.

③ بعضو کښې دی چه ړومبې حمله حضرت معاذ بن عمروبن جموح اوکړه بيا معوذ راغلو د هغه کار ئې ختم کړو.

د تعارض دفع کول: اصل حقيقت دادې چه په ابوجهل باندې د ټولونه ړومبې حمله حضرت معاذ رضي الله عنه اوکړه او د هغه پنډئی پرې کړه او د اس نه ئې ښکته راګذار کړو بيا د ازمری په شان معوذ وراودانګل په هغه باندې ئې ګذاراوکړو ترقيدوچه ابن مسعود رضي الله عنه اورسيدو او د هغه سرئی قلم کړو. په دې اعتبارسره د هريوطرف ته د ابوجهل قتلولو نسبت کړې شوې دې بلکه دا هم په رواياتو کښې دی چه فرښتو د ابوجهل په قتل کولو کښې عملاً حصه اخستې وه ليکن اصل کردار حضرت معاذ رضي الله عنه ادا کړې وو په دې وجه د هغه مکمل سلب هم هغه ته ملاؤشو باقی دواړو ته هم څه نه څه ورکړې شو لکه چه په زيربحث حديث کښې دی چه د ابوجهل توره حضرت ابن مسعود رضي الله عنه ته ورکړې شوه راتلونکی حديث ۴۳ اوحديث ۴۴ کښې پوره تفصيل راځی

[۴۰۰۵] غلام ته د مال غنيمت د ورکولو جواز

۴۰۰۵ — [۲۱] ( ) [۱] وَعَنْ «عُمَيْرٍ مَوْلَى آبِي اللَّحْمِ، قَالَ: [۲] شَهِدْتُ خَيْبَرَ مَعَ سَادَتِي، [۳] فَكَلَّمُوا فِيَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۴] وَكَلَّمُوهُ أَنِّي مَمْلُوكٌ [۵] فَأَمَرَنِي فَقُلِّدْتُ سَيْفًا، [۶] فَإِذَا أَنَا أَجُرُّهُ [۷] فَأَمَرَ لِي بِشَيْءٍ مِنْ خُرْثِيِّ الْمَتَاعِ، [۸] وَعَرَضْتُ عَلَيْهِ رُقْيَةً [۹] كُنْتُ أَرْقِي بِهَا الْمَجَانِينَ، [۱۰] فَأَمَرَنِي بِطَرْحِ بَعْضِهَا وَحَبْسِ بَعْضِهَا». [۱۱] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ إِلَّا أَنَّ رِوَايَتَهُ انْتَهَتْ عِنْدَ قَوْلِهِ: الْمَتَاعِ.

( ) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب من أجاز علی جريح مثخن ينفّل من سلبه (رقم-۲۷۲۲)

( ) والترمذی فی کتاب السير عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب هل يسهم للعبد (رقم-۱۵۵۷) وابن ماجه فی کتاب الجهاد/باب العبيد والنساء يشهدون مع المسلمين (رقم-۲۸۵۵) واحمد فی المسند:۲۲۳/۵

توجمه: [١] او عمير رضي الله عنه چې د ابي اللحم رضي الله عنه آزاد کړده غلام وو وايي [٢] چه زه د خپل مالکانو سره په غزوه خيبر کې شريک شوې يم [٣] دي غزاته د روانګي په وخت ځما مالکانو د رسول کريم ﷺ سره خبري اتري وکړي [يعنى هغوى ځما تعريف او صفت اوکړو او عرض يي اوکړو چې په ميدان جنګ کې جنګ د پاره يا د خدمت په غرض عمير رضي الله عنه هم د ځان سره بوځئ] [٤] او هغوى حضور ﷺ ته داهم اووئيل چې زه يو غلام يم [٥] هغه ﷺ [ځما د مالکانو درخواست منظور کړو او] ماته يي حکم اوکړو [چې زه مسلح شم او د مجاهدينو سره شامل اوسم] نو زه توري سره مسلح شوم [يعنى يوه توره ځما په ځټ کې واچول شوه زه چې به تلم نو د کم عمرئ په وجه يا د پست قدکيدو (مندري کيدو) په سبب] [٦] هغه توره په زمکه راښکلو سره به تلم [٧] بيا [په دښمنانو غلبه حاصليدو څخه وروسته د مال غنيمت تقسيم شروع شو نو] حضور ﷺ د هغه مال غنيمت څخه لږ ډير ماته د راکولو حکم اوکړو [٨] او په يوه موقع ما حضور ﷺ ته خپل منتر واورولو [٩] چې مابه د ليونتوب مريضانو باندي وئيلو [او حضور ﷺ څخه مي د هغې په باره کې معلوم کړل] [١٠] نو حضور ﷺ ماته د هغې د بعضې حصې د موقوف کولو او د بعضې حصو د باقي ساتلو حکم اوکړو [١١] داروايت ترمذي او ابوداود نقل کړي دي ليکن د ابوداود روايت لفظ المتاع باندې پوره شوې دې

حل اللغات: ① سَادَتِي: مالکان زما، ② فَقُلِّدْتُ: نوماته غاړه کښې واچولې شوه. ③ أَجُرُّهُ: ما راښکله. ④ خُرْثِيِّ الْمَتَاعِ: دَ کور معمولي شان سامان لکه کټوئی وغيره. ⑤ رُقْيَةٌ: دم دُرها. ⑥ الْمَجَانِينَ: ليونی، د ليونتوب مريضان، ⑦ بِطَرْحِ: څه حصه.

تسهيلات:

قوله: كُنْتُ أَرْقِي بِهَا الْمَجَانِينَ:

د دم درها جواز: يعنى مابه دم درها هم کوله ما چه کله دَنبى کريم (ص) په مخکښې دَ خپل دم درها الفاظ وړاندې کړل نونبى کريم صلى الله عليه وسلم بعضې منع کړل او بعضې ئې باقي اوساتل.

[٤٠٠٦] د خيبر د مال غنيمت تقسيم

٤٠٠٦ـ[٢٢] (١) [١] وَعَنْ مُجَمِّعِ بْنِ جَارِيَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [٢] «قُسِمَتْ خَيْبَرُ عَلَى أَهْلِ الْحُدَيْبِيَةِ، [٣] فَقَسَمَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ سَهْمًا، [٤] وَكَانَ الْجَيْشُ أَلْفًا وَخَمْسَمِائَةٍ [٥] فِيهِمْ ثَلَاثُمِائَةِ فَارِسٍ، [٦] فَأَعْطَى الْفَارِسَ سَهْمَيْنِ، [٧] وَالرَّاجِلَ سَهْمًا» . [٨] رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. وَقَالَ: [٩] حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ أَصَحُّ وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ، [١٠] وَأَتَى الْوَهْمُ فِي حَدِيثِ مُجَمِّعٍ [١١] أَنَّهُ قَالَ: " ثَلَاثُمِائَةِ فَارِسٍ، [١٢] وَإِنَّمَا كَانُوا مِائَتَيْ فَارِسٍ.

(١) اخرجه ابوداود في السنن رقم الحديث ٢٧٣٦، واحمد في المسند ٣/ ٤٣٠

ترجمه: او مجمع رضي الله عنه بن جاریه وایي ۲ چه په خیبر کې حاصل شوی مال غنیمت او زمکه د هغه خلقو په مینځ کې تقسیم شوه کوم چې په حدیبیه کې شریك وو ۳ رسول کریم ﷺ د خیبرمال غنیمت او زمکه اتلس حصو کې تقسیم کړله ۴ او صلح حدیبیه کې شریك د لښکر تعداد پنځلس سوه سړو باندې مشتمل وو ۵ چې په هغې کې درې سوه سواره وو ۶ دغه شان سواروته حضور ﷺ دوه حصې ورکړې ۷ او پیادؤ ته یوه حصه ۸ ابوداود رحمه الله دا روایت نقل کړي دی او ویلي یي دي ۹ چې په دې باره کې د ابن عمر رضي الله عنه روایت زیات صحیح دی او په هغې اکثرو آئمه ؤ عمل کړي دی ۱۰ او د مجمع رضي الله عنه په دې روایت کې واهمه واقع شویده ۱۱ په دې وجه مجمع ویلي دي چې درې سوه سواره وه ۱۲ حالانکه د سورو تعداد دوه سوه وو.

تسهیلات:

قوله: فَأَعْطِيَ الْفَارِسُ سَهْمَيْنِ، وَالرَّاجِلُ سَهْمًا:

د فارس دپاره د دوو حصو مستدل: دا حدیث د احنافو مستدل دی چه فارس دپاره دوه حصې دی او راجل دپاره یوه حصه ده.

اشکال: ددې روایت متعلق امام ابوداود رحمه الله فرمایي چه د ابن عمر رضي الله عنه زیر بحث روایت اصح او راجح دې او په دی روایت کښې د یو راوی نه وهم راغلې دې. چه په اصل کښې شهسوارن (په اسونو سواره) درې سوه نه وو بلکه دوه سوه وو او دوه سو ته شپږ حصې ملاوشوې وې؟

د اشکال جواب: که بالفرض والمحال مونږ دوه سوه شهسواران (په اسونو سورلی کونکی) تسلیم کړو نو بیا هم ستاسو خبره صحیح نه ده ځکه چه دا خبره یقینی ده چه مجاهدین پنځلس سوه وو نو که شهسواران دوه سوه وو نو پیدل تلونکې به دیارلس سوه وی. نو که دیارلس حصې دوې ته ورکړلې شوې نو بیا شپږ او دیارلس خو نورلس حصې جوړیږې. حالانکه دا خبره یقیني ده چه ټولې حصې اتلس وې نو لهذا شهسواران دوه سوه نه وؤ. بلکه شهسواران دوه سوه وؤ نه درې سوه

[۴۰۰۷] بعضې غازیانو ته زیاته حصه ورکول

۴۰۰۷ـ[۲۳] (۱) ۱ وَعَنْ حَبِيبِ بْنِ مَسْلَمَةَ الْفِهْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «شَهِدْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ۳ نَفَّلَ الرُّبُعَ فِي الْبَدْأَةِ، ۴ وَالثُّلُثَ فِي الرَّجْعَةِ» رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حبیب ابن مسلمه فهري رضي الله عنه وایي ۲ چه د (یوې غزا په موقع) زه د

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب فیمن قال الخمس قبل النّفل (رقم-۲۷۵۰) واحمد فی المسند: ۴/ ۱۶۰

حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شوم ۳ حضور ﷺ د جنګ په ابتداء کې جنګ کونکو ته د غنیمت د مال څخه څلورمه حصه زیاتی ورکړله ۴ او د واپس راتلو په وخت یې جنګ کونکو ته دریمه حصه زیاتی ورکړله. (ابوداود)

حل اللغات: ①نَفَّلَ: زیاتی حصه، ②الرُّبُعَ: څلورمه حصه، ③فِي الْبَدْأَةِ: په شروع کښې، ④فِي الرَّجْعَةِ: په واپس راتلو کښې.

تسهیلات: قوله: نَفَّلَ الرُّبُعَ:

دتنفیل معنی: دادَ تنفیل نه دې دَ انعام په توګه زیاتی حصې ته وئیلی شی

قوله: فِي الْبَدْأَةِ:

د بدأة صورت: دَ البدأة صورت دا وی چه مثلاً څه خلقو دَ اسلامی لښکرپه محاذباندې د رسیدونه وړاندې په کافرانو باندې حمله اوکړه بیا اسلامی لښکر راغلو اوکافرانو ماتې اوخوړلو دغه ړومبی ټولی ته به نبی کریم دَمال غنیمت دَتقسیم نه وړاندې دَټول مال څلورمه حصه دَ انعام په توګه ورکوله اوپه باقی مال کښې به هم د عامو مجاهدینو په شان دَ دوی حصه وه ځکه چه دغه خلقودَ ډیرې بهادرئی مظاهره اوکړه

قوله: وَالثُّلُثَ فِي الرَّجْعَةِ:

د رجعة صورت: د دې رجعة صورت به ئی دا وو چه مثلاً اسلامی لښکربه دَ جنګ دَ محاذ نه واپس لاړو مګر یو ټولې به تردغه وخته پورې اوس هم دَ دښمن په مقابله کښې جنګیدلو نبی کریم به داسې خلقو ته دَ تقسیم نه وړاندې دَ ټول مال دریمه حصه ورکوله ځکه چه دهغوی بهادری به دَ مخکینوکسانونه زیاته وه

دخمس څخه د تنفیل په تقدیم او تاخیر کښې دوه اقوال: ① انعام به دَخمس اخواکولونه پس د باقی څلورو حصونه ورکولې شو دا دَ احمدبن حنبل رحمه الله مسلك هم دې

② بعضو وئیلی دی چه دا انعام به دَ خمس دَ مال څخه ورکولې شو

مزید تفصیل په حدیث نمبر(۴۰۰۸) راروان دې

[۴۰۰۸] دخمس څخه روستهد خمس اوثلث ورکول

۴۰۰۸-[۲۴] ([1]) ۱ وَعَنْهُ ۲ «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُنَفِّلُ الرُّبُعَ بَعْدَ الْخُمُسِ وَالثُّلُثَ بَعْدَ الْخُمُسِ». ۳ إِذَا قَفَلَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حبیب ابن مسلمه فهري رضی الله عنه راوي دی ۲ چې رسول کریم ﷺ به [د جنګ په ابتداء کې جنګ کونکو مجاهدینوته د غنیمت د مال څخه] د خمس ویستلو څخه

[1]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الجهاد/باب فيمن قال الخمس قبل النفل (رقم-۲۷٤۹) واحمد في المسند: ۲/۳۰۰

وروستو ثلورمه زياتي ورکوله ۳ او کله چه به (اسلامي لښکر) د جهاد نه واپس (خپلو کورونوته) اورسيدو نود خمس ويستلونه وروستوبه ئې دريمه حصه زياتي ورکوله. (ابوداود)

حل اللغات: ① إذاقَفَلَ: کله چه به واپس شو (د غزوې نه).

تسهيلات: قوله: يُنَفِّلُ الرُّبُعَ بَعْدَ الْخُمُسِ وَالثُّلُثَ بَعْدَ الْخُمُسِ:

دتنفيل محل زماني: په مخکنی حديث کښې دا بيان شوي وو چه په ابتدا د جنګ کښې جنګ کونکي مجاهدينو ته ثلورمه حصه او دلښکر واپس کيدلو نه بعد جنګ کونکي مجاهدينو ته دريمه حصه ورکولې شوه ليکن دا وضاحت نه وو شوي چه ثلورمه يا دريمه حصه به د خمس ويستلو نه بعد ورکولی شي يا مخکې؟

نو په دې حديث کښې ددې وضاحت کړې شوي دې چه نبي کريم ﷺ به اول په مال غنيمت کښې خمس ويستلو او بيا به ئې ثلورمه او دريمه حصه ورکوله او بيا به ئې هغه په ټول لښکر باندې تقسيمولو.

[۴۰۰۹] په مال فئ کښې د څه حصې عدم تخصيص

۴۰۰۹- [۲۵] (¹) ١ وَعَنْ أَبِي الْجُوَيْرِيَّةِ الْجَرْمِيِّ، قَالَ: ٢ أَصَبْتُ بِأَرْضِ الرُّومِ جَرَّةً حَمْرَاءَ ٣ فِيهَا دَنَانِيرُ ٤ فِي إِمْرَةِ مُعَاوِيَةَ، ٥ وَعَلَيْنَا رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ، ٦ يُقَالُ لَهُ: مَعْنُ بْنُ يَزِيدَ ٧ فَأَتَيْتُهُ بِهَا، ٨ فَقَسَمَهَا بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ ٩ وَأَعْطَانِي مِنْهَا مِثْلَ مَا أَعْطَى رَجُلًا مِنْهُمْ، ١٠ ثُمَّ قَالَ: ١١ لَوْلَا أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ١٢ "يَقُولُ لَا نَفَلَ إِلَّا بَعْدَ الْخُمُسِ لَأَعْطَيْتُكَ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ١ او ابوجويريه رضي الله عنه وايي ٢ چه ما يوه ورځ د روم په زمکه کې د سور رنګ يو منګي پيدا کړو ٣ چې د دينارو ډکه وه ٤ د امير معاويه رضي الله عنه د خلافت په زمانه کې ٥ هغه وخت زمونږ د علاقي حاکم د رسول کريم ﷺ په صحابه و رضي الله عنهم کې يوسړی وو ٦ چې د هغه نوم معن ابن يزيد وو ٧ ما هغه [منګي د دينارونو] راواخستو او هغه ته راغلم ٨ هغه هغه دينارونه (د اسلام د مجاهدينو) په مينځ کې تقسيم کړل ٩ او د هغې څخه يې مانه هم دومره راکړل څومره چې د يوسړي په حصه کې راتله [يعنی ماته يې هم د نورو برابر راکړل څه زيات يي رانه کړل] ١٠ او بيا هغوی وفرمايل ١١ که ما د رسول الله ﷺ څخه دا نه وي اوريدلي چې هغوی فرمائيلي دي ١٢ چې دخمس تقسيمولو څخه روسته د حصې څخه زياته حصه ورکول نشته نو يقيناً (مابه تاته د نورو څخه زيات درکړي وی (ابوداود)

حل اللغات: ① جَرَّةٌ: منګې، چاټئ.

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب فی النّفل من الذّهب والفضّة ومن أوّل مغنم (رقم-۲۷۵۳) واحمد فی المسند: ۴۷۰/۳

تسهیلات: قوله: يُنَفِّلُ الرُّبُعَ بَعْدَ الْخُمُسِ وَالثُّلُثَ بَعْدَ الْخُمُسِ:

په مالِ فئ کښې عدم تنفیل: یعنی انعام وغیره دَهغه مال نه ورکولې شی دکوم نه چه خمس اوځی یعنی هغه دې مال غنیمت وی چه دَخمس لرې کولونه پس د باقی څلورو حصونه انعام ورکړې شی لهذا زه انعام ځکه نه شم درکولې چه دا مال غنیمت نه دې بلکه مال فئ دې چه دَ جنګ نه بغیرتاسوته حاصل شوې دې په دې وجه تاسو په دې کښې دَ انعام طمع اونه لرئی بلکه دَعامو مسلمانانو په شان به تاسو ته هم حصه ملاویږی

[۲۰۰] دخیبر په مال غنیمت کښې د بعضې صحابو دپاره حصه

۲۰۰-[۲۶] (١)[١] وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [٢] «قَدِمْنَا فَوَافَقْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٣] حِينَ افْتَتَحَ خَيْبَرَ، [٤] فَأَسْهَمَ لَنَا، [٥] أَوْ قَالَ: فَأَعْطَانَا مِنْهَا [٦] وَمَا قَسَمَ لِأَحَدٍ غَابَ عَنْ فَتْحِ خَيْبَرَ مِنْهَا شَيْئًا، [٧] إِلَّا أَصْحَابَ سَفِينَتِنَا جَعْفَرًا وَأَصْحَابَهُ، [٨] أَسْهَمَ لَهُمْ مَعَهُمْ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] ابوموسی اشعري ﷛ وایي [٢] چه کوم وخت چې مونږ د حبشې څخه راغلو او رسول کریم ﷺ ته ورسیدو [٣] کوم وخت چه خیبر فتح شو [۴] نو حضور ﷺ [د خیبر د مالِ غنیمت څخه] مونږ ته هم حصه راکړله [۵] یا ابوموسی اشعري ﷛ دا اوویل چې حضور ﷺ د خیبر د غنیمت مال څخه مونږ ته هم حصه راکړله [٦] او حضور ﷺ دی د غنیمت مال څخه هیڅ داسې سړي ته څه حصه ورنه کړله کوم چې د خیبر د فتح په موقع موجود نه وو [٧] علاوه د هغه سړي څخه چې د غزوهٔ خیبر په وخت حضور ﷺ سره وه او علاوه زمونږ د کشتی والو څخه یعنی د حضرت جعفر ﷛ او د هغه د ملګرو څخه [٨] چې حضور ﷺ هغه کشتئ والوته هم دهغوی [یعنی په غزوه خیبرکې شریك شوی مجاهدینو] سره حصه ورکړله [باوجود د دې چې مونږ په هغه غزاکې شریك نه وو] (ابوداود)

حل اللغات: ①فَوَافَقْنَا: نو اورسیدو مونږه. ②غَابَ: غائب وو، موجود نه وو. ③سَفِينَتِنَا: سفینة کشتئ ته وائی

تسهیلات:

قوله: قَدِمْنَا فَوَافَقْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ افْتَتَحَ خَيْبَرَ:

دحدیث پس منظر:

دَ جنګ خیبر په موقع دَحبشې نه دَمدینې طرف ته دَ دویم هجرت په موقع باندې حضرت جعفر ﷛ وغیره صحابه کرام رسیدلې وو نبی کریم دَهغوی دپاره په مال غنیمت کښې حصه مقررکړې وه نو ابوموسی اشعری رضی الله عنه دهغې بیان کوی

(١) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب فیمن جاء بعد الغنیمة لا سهم له (رقم-۲۷۲۵)

غیر مجاهدینو ته په مال غنیمت کښې حصه ورکولو کښې ۲ مذاهب:

① دَ امام شافعی رحمه الله اصل دادې چه کله په میدان جنګ کښې جنګ ختم شو اودَ کافرانو دَ ماتې خوړلونه پس دَ غنیمت مال دَمجاهدینو په لاس کښې راغلو نواوس دَ بهرنه دَ راتلونکی هیڅ چا په دې مال کښې هیڅ حق نشته دې دابه صرف په مجاهدینو باندې تقسیمیږی دَ شوافع په نیزدارالاسلام طرف ته دَ إخراج او إحراز شرط نشته دې

② داحنافو اصل دادې چه دَ مجاهدینودَ غلبې نه پس دَ مال غنیمت احراز او اخراج الی دار اسلام هم ضروری دې. دَ احراز نه وړاندې کوم خلق چه میدان جهادته اورسیدل هغوی به په مال غنیمت کښې حصه اخلی ګنی نه به اخلی

داول فریق دلیل: شوافع هم د دې حدیث الباب څخه استدلال کوی.فرمائی چه اهل سفینه ته حصه ځکه ورکړې شوه چه تردغه وخته پورې مال جمع کړې شوې نه وو پوره غلبه هم حاصله شوې نه وه نوشریك شو

د دویم فریق دلیل: احناف هم د دې حدیث الباب څخه استدلا ل کوی. فرمائی چه اهل سفینه ته ځکه حصه ورکړې شوه چه تردغه وخته پورې دَمال غنیمت اخراج او احراز نه وو شوې سره دَدې چه غلبه حاصله شوې وه

تطبیقی قول: بعضې حضرات وائی چه دَمجاهدینوپه رضا اورغبت سره هغوی ته حصه ورکړې شوه.

[۲۰۱] د خائن في الغنيمة باندې د جنازې کولوڅخه انکار

۴۰۰١-[۲۷] (¹)① وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ خَالِدٍ: ②«أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُوُفِّيَ يَوْمَ خَيْبَرَ③ فَذَكَرُوا لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،④ فَقَالَ: "صَلُّوا عَلَى صَاحِبِكُمْ"⑤ فَتَغَيَّرَتْ وُجُوهُ النَّاسِ لِذَلِكَ. ⑥ فَقَالَ: "إِنَّ صَاحِبَكُمْ غَلَّ فِي سَبِيلِ اللَّهِ"⑦ فَفَتَّشْنَا مَتَاعَهُ⑧ فَوَجَدْنَا خَرَزًا مِنْ خَرَزِ يَهُودَ⑨ لَا يُسَاوِي دِرْهَمَيْنِ». رَوَاهُ مَالِكٌ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① او یزید ابن خالد رضی الله عنه راوي دی ② چې د رسول کریم صلی الله علیه وسلم د صحابه و رضی الله عنهم څخه یوسړې د خیبر په ورځ وفات شو ③ صحابه و رضی الله عنهم رسول کریم صلی الله علیه وسلم ته د هغه ذکر وکړو [یعنی حضور صلی الله علیه وسلم ته بې اووئیل چې فلانی سړی وفات شوې دې] ④ حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل تاسو د هغه د جنازې مونځ اوکړئ [زه د هغه د جنازې مونځ نه کوم] ⑤ [خلقو چې داو اوریدل نو د دې [خوف] د وجې څخه د هغوی د مخونو رنګ بدل شو [چې نه ده معلومه چه حضور صلی الله علیه وسلم ولې د هغه د جنازې مونځ نه کوي] ⑥ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل [زه د

---

¹) والنسائي في كتاب الجنائز/باب الصلاة على من غلّ (رقم-١٩٥٩)وابن ماجه في كتاب الجهاد/باب الغلول (رقم-٢٨٤٨) ومالك في الموطا كتاب الجهاد/باب ما جاء في الغلول (رقم-٢٣) واحمد في المسند: ١١٤/٤

هغه د جنازي مونځ په دي وجه نه کوم] چې ستاسو دي ملګري د الله په لار کې [يعنی د غنیمت په مال کې] خیانت کړي وو ⑦ مونږ چې د هغه د اسبابو تالاشي واخسته ⑧ نو مونږ په هغه کې [د یهودیانو دښځو] د (غاړې) هار پیدا کړو ⑨ چې د دوو درهمو برابر هم نه وو [یعنی د هغې قیمت دوه درهمه څخه هم کم وو]. (مالك، ابوداود، نسائي)

حل اللغات: ① غَلَّ: خیانت ئې اوکړو، ② فَتَّشْنَا: تفتیش اوکړو مونږ، تلاشي واخستله مونږ، ③خَرَزًا: هار، امیل

تسهیلات: قوله: فَوَجَدْنَا خَرَزًا مِنْ خَرَزِ يَهُودَ:

د نبی علیه السلام د جنازې کولوځخه د انکار وجه:- یعنی مړ شوي کس د تقسیم نه مخکې معمول مشکرې اغستلی وې، ددې وجهې نه نبی کریم ﷺ جنازه ونه کړه.

یوه تنبیه: د نبی کریم ﷺ دا خفګان مونږ ته تعلیم راکولو دپاره وؤ. لهذا ددې مذکوره حدیث نه د صحابی فاسق کیدل مراد نه دي بلکه دې صحابی دا ګناه یوځل کړې وه او د فسق معنی دا ده چه ګناه کبیره کول یا صغیره ګناه همیشه کول او الله تعالی صحابه کرام د فسق نه ساتلي دي کما في القرآن "وکلا وعد الله الحسنی" لهذا د "الصحابة کلهم عدول" پیش نظر ټول صحابه کرام عادلان دي، او یو ځل نیم ګناه کولو سره عدالت نه ختمیږي. لهذا د مذکوره صحابی صحابیت مقبول دي ځنګه چه آدم علیه السلام د غنم دانه خوړلو باوجود هم نبی وؤ نبوت یې ختم نه شو

[۴۰۱۲] د مال غنیمت په حواله کولو کښې په تاخیر با ندې وعید

۳۰۰۰—[۲۸] (¹) ① وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ②«كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَصَابَ غَنِيمَةً، ③أَمَرَ بِلَالًا فَنَادَى فِي النَّاسِ، ④فَيَجِيئُونَ بِغَنَائِمِهِمْ، ⑤فَيُخَمِّسُهُ وَيُقَسِّمُهُ، ⑥فَجَاءَ رَجُلٌ يَوْمًا بَعْدَ ذَلِكَ بِزِمَامٍ مِنْ شَعْرٍ، ⑦فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! هَذَا فِيمَا كُنَّا أَصَبْنَاهُ مِنَ الْغَنِيمَةِ، ⑧قَالَ: "أَسَمِعْتَ بِلَالًا نَادَى ثَلَاثًا؟" ⑨قَالَ: نَعَمْ، ⑩قَالَ: "فَمَا مَنَعَكَ أَنْ تَجِيءَ بِهِ؟" ⑪فَاعْتَذَرَ. ⑫قَالَ: "كُنْ أَنْتَ تَجِيءُ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ⑬فَلَنْ أَقْبَلَهُ مِنْكَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما وايي ② چه رسول کریم ﷺ چې به د غنیمت مال جمع کولو سره د تقسیمولو اراده وکړله ③ نو حضرت بلال رضي الله عنه ته به یې [د اعلان کولو] حکم ورکړو نو هغه به د خلقو په مینځ کې اعلان اوکړو ④ او [د هغه د اعلان په اوریدو سره به] خلقو خپل خپل غنیمت راوړو [یعنی د چاسره چې به د غنیمت د مال کوم څیز هم وو هغه به یې د رسالت په دربار کې جمع کولو] ⑤ بیابه مخکې حضور ﷺ ځني خمس ایعنی

¹) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الجهاد، باب في الغلول إذا كان يسيرا يتركه الإمام ولا يحرّق رحله (رقم-۲۷۱۲) واحمد في المسند: ۲/۲۱۳

پنځمه اوباسله] او د هغې څخه وروسته به يې هغه د غنيمت مال [مجاهدينو کې] تقسيمولو ⑥ ايو ځل داسې وشوه چې] يوسړی [د غنيمت د مال څخه خمس ويستلو او هغه د مجاهدينو په مينځ کې د تقسيمولو څخه] يوه ورځ وروسته د ويښتو څخه جوړ يو مهار راوړو ⑦ او عرض يې اوکړو يارسول الله کوم د غنيمت مال چې ځما په لاس راغلی وو په هغه کې دامهار هم وو ⑧ حضور ﷺ ورته وفرمايل بلال ؓ چې دري ځله کوم اعلان کړي وو هغه تا اوريدلی وو؟⑨ هغه اوويل هو نو حضور ﷺ پوښتنه ورځخه وکړه چه بيا هغه وخت راوړلو څخه ته څه شي منع کړي وي؟ ⑪ هغه ددي تاخير د پاره څه عذر بيان کړو ⑫ حضور ﷺ ورته وفرمايل بس اوس دغه شان اوسه [يعنی اوس دا د ځان سره وساته] د قيامت په ورځ دا د ځان سره راوړه [او الله پاك ته د دې تاخير جواب ورکړه] ⑬ اوس زه دا ستا څخه هيڅ کله نه اخلم. (ابوداود)

حل اللغات: ① بِزِمَامٍ مِنْ شَعَرٍ: د ويښتو نه جوړشوې مهار

تسهیلات:

قوله: فَاعْتَذَرَ قَالَ: "كُنْ أَنْتَ تَجِيءُ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَلَنْ أَقْبَلَهُ مِنْكَ:

د عذر نه قبلولو وجه: چونکه دغه کس داسی عذر پيش کړو کوم چه د اوريدو قابل نه وو. ددې وجهې نبی کريم ﷺ وفرمائيل چه دا اوس ځان سره اساته زه به تاسو نه دا هيڅ صورت کښې قبول نکړم، او د نبی کريم ﷺ دا ارشاد ناراضګی ښکاره کولو دپاره وو. مالک جوړولو دپاره نه وو.

اشکال: نبی کريم ﷺ رحمة للعالمين دې ددې باوجود يې دا خبره څنګه وکړه په دې سره خو هغه کس ته مايوسی پيدا شی؟

داشکال جواب: د نبی کريم ﷺ دا فرمان ددې وجهې نه وو چه د اوبن مذکوره واګوو سره د ډيرو مجاهدينو حق متعلق وو. لهذا دا معلومات نه وو چه دا واګې د چاه په حصه کښې رسيدلو. اوس ځکه چه تقسيم نه پس ټول مجاهدين منتشر شوي وو. ددې وجهې نه نبی کريم ﷺ د ناراضګی اظهار وکړو چه اُوس هر مجاهد ته خپله حصه ورکول مشکل وو

[۴۰۱۳] د غنيمت په مال کښې د خيانت سزا

۴۰۰۳- [۲۹] (¹) ① وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ ② «أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ ③ حَرَّقُوا مَتَاعَ الْغَالِّ ④ وَضَرَبُوهُ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

¹) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الجهاد/باب في عقوبة الغالّ (رقم-۲۷۱۵)

ترجمه: [۱] او عمرو ابن شعيب د خپل پلار (شعيب رحمه الله) څخه او هغه (شعيب رحمه الله) د خپل نيكه (حضرت عبد الله ابن عمرو) څخه روايت كوي [۲] چي رسول كريم ﷺ او حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه او حضرت عمر فاروق رضي الله عنه [۳] د غنيمت په مال كې د خيانت كونكي سامان او اسباب وسوزلو [۴] او وهلي ي هم وو (ابو داود)

حل اللغات: ① حَرَّقُوا: چه او سوزوى. ② مَتَاعَ: سامان، اسباب. ③ الغَالِ: خيانت كونكي.

تسهيلات:

قوله: حَرَّقُوا مَتَاعَ الْغَالِ وَضَرَبُوهُ

د خائن مال سوزولو كښي دوه مذاهب:

داول فريق دليل: زيربحث حديث د دوى مستدل دي په دې كښې چه دَ نبى كريم صديق اكبر او فاروق اعظم رضي الله عنهم په زمانه كښې به دَ خائن مال سوزولې شو

① بعضې فقهاء لكه احمدبن حنبل رحمه الله وغيره وائى چه نن هم حكم هم هغه شان دې چه دَ خائن مال اوسوزولې شى او ژوندې ځناور دې بچ كړې شى اومصحف وغيره دې هم نه شى سوزولې هم دغه شان خيانت شوې مال دې هم نه سوزوى ځكه چه دا دَخائن مال نه دې بلكه دَ بيت المال مال دې. بل ژوندې ځناور سوزول هم منع دى

② دَ جمهور فقهاؤ په نيزدَ خائن مال اومتاع به نه شى شوزولې بلكه قاضى دې دَ تعزير په توګه خائن ته بل څه سزا وركړى.

داول فريق د دليل جواب: داحضرات فرمائى چه زير بحث حديث په تشديد اوتغليظ باندې محمول دې

چونكه بعض فقهاء دَ تحريق متاع دَ غال دَ جواز قائل دى اودَ حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه په يوروايت كښې هم دى چه په سنن ابوداؤد كښې نقل دې تحريق متاع غال تصريح ده په دې وجه وړاندې باب لاندې هم د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه روايت راروان دې امام بخارى رحمه الله د هغې متعلق باوركوى چه په دې روايت كښې دانقل نه دى چه حضورپاك دَ كركره نومى غلام مال اومتاع سوزولوحكم وركړې وو صحيح دادى چه حضورپاك داسې هيڅ حكم نه ووصادركړې دَ هذا أصح مطلب دادې چه صحيح هم دغه دى دَعبدالله بن عمرو رضي الله عنه په حديث باب كښې دَتحريق متاع غال ذكر نشته ([1])

په دې وجه امام بخارى رحمه الله ولوړېدلو كړ صيغه تمريض راوړلوسره دَعبدالله بن عمرو رضي الله عنه ذكر تحريق متاع الغال والا روايت تضعيف اوفرمائيلو اودَعدم ذكر تحريق الغال والا

[1]) عمدة القارى: ۱۱/۱۵.

روایت صحت طرف ته ارشاه اوکړه (۱) دَ مذکوره جملې نه امام بخاری رحمه الله د سنن ابوداؤد دَ هغه روایاتو دَ ضعف طرف ته اشاره کړې ده په کوم کښې چه تحریق متاع غال ذکردي

① په سنن ابوداؤد کښې دَحضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه روایت دې عن صالح بن محمد بن زائدة قال دخلت مع مسلمة أرض الروم فأتي برجل قد غل فسال سالما عنه فقال: سمع أبي يحدث عن عمر بن الخطاب عن النبي صلى الله تعالى عليه وسلم قال: إذا وجدتم الرجل قد غل فاحرقوا متاعه واضربوه (۲)
صالح بن محمد وائی چه زه مسلمه سره روم ته لاړم هلته یو غلول کونکې سړې راوستلې شو دَ سالم بن عبدالله نه دَده باره کښې تپوس اوکړې شو نوهغه اووئیل چه ما د خپل پلار (عبدالله بن عمر رضي الله عنه) ته عمر بن خطاب رضي الله عنه روایت کولوسره واوریدو چه حضور پاک صلى الله عليه وسلم اوفرمائیل کله چه تاسو غلول کونکې سړې اووینئ نو دَهغه مال اوسوزوئی او هغه اووژنئ

هم دَدې روایت باره کښې امام بخاری رحمه الله په خپل تاریخ کښې تحریرفرمائی يحتجون بهذا الحديث في أحراق رجل الغال، وهو باطل ليس له أصل، وراوية لايعتمد عليه. (۳) یعنی بعض تحریق متاع غال قائلین دَخپل مسلك دَ اثبات دَپاره دَدې حدیث نه استدلال کوی حالانکه داحدیث باطل دې دَدې هیڅ اصل نشته اودا روایت کونکې هم معتمد نه دې دَدې حدیث په سند کښې صالح بن محمد بن زائده ته ائمه رجال ضعیف ګرخولې دې امام ترمذی رحمه الله دَدې حدیث په ذیل کښې په صالح باندې جرح کولوسره تحریر فرمائی صالح منکر الحدیث ولم یامر النبي صلى الله تعالى عليه وسلم يحرق متاع الغال (۴)
دَ امام منذری رحمه الله قول دې وصالح بن محمد بن زائده تكلم فيه غير واحد من الئمة وقد قيل انه تفرد به (۵) امام دارقطنی رحمه الله هم دَدې مذکوره روایت تضعیف کولوسره فرمائی أنكروا هذا الحديث على صالح بن محمد، وهذا حديث لم يتابع عليه، ولا أصل لهذا الحديث عن رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم (۶)

---

۱) عمدة القاری:۱۵/۱۱.
۲) سنن أبی داؤد:۲/۱۵ کتاب الجهاد باب فی عقوبة الغال وعمدة القاری:۱۵/۱۱ وفتح الباری:۶/۲۳۰ وإرشادالساری:۵/۱۸۲.
۳) فتح الباری:۶/۲۳۰ وإرشادالساری:۵/۱۸۲.
۴) جامع الترمذی:۱/۲۷۰ أبواب الحدود باب ماجاء فی الغال مایصنع به. ونیل الاوطار:۸/۱۳۸ وفتح الباری:۶/۲۳۰ وأوجزالمسالک:۸/۳۳۹.
۵) نیل الاوطار للشوکانی:۸/۱۸۳۹ کتاب الجهادوالسیر باب التشدیدفی الغلول وتحریق رجل الغال.
۶) نیل الاوطار للشوکانی:۸/۱۸۳۹ کتاب الجهادوالسیر باب التشدیدفی الغلول وتحریق رجل الغال.

② د سنن ابوداؤد دويم روايت دي. **عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده: أن رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم وأبا بكر وعمر حرقوا متاع الغال وضربوه** [۱]

دا روايت هم سنداً ضعيف اومضطرب دې. دې په سند كښې زبيربن محمد الخراساني د نوم راوي متكلم فيه دې. امام بيهقي رحمه الله د ده باره كښې فرمائي **إنه مجهول** [۲] خلاصه دا شوه چه د امام بخاري رحمه الله په نيز تحريق متاع غال جائزنه دې. د مذكوره جملې نه هغوى د سنن ابوداؤد د دې روايتونه ضعيف او بې اصل كيدو طرف ته اشاره كړې ده. په كوم كښې چه تحريق متاع غال تصريح ده

په مال غنيمت كښې د خيانت مسئله: - امام اعظم ابوحنيفه امام مالك امام شافعي رحمهم الله او ډيروصحابه كرامو اوتابعين كرامو په نيز اميرياحاكم ته غلول كونكوډپاره بدني سزا اوتعزير تجويزكولو اختياردې. خود هغه مال اومتاع سيزل جائزنه دى [۳]

د مخالفينو مسلک او د هغوى د دلائلو رد: - حسن بصري. احمدبن حنبل. اسحاق. مكحول او امام اوزاعي رحمهم الله په نيزد هغه ټول مال اومتاع سوزول جائزدى [۴] البته امام اوزاعي رحمه الله فرمائي چه د تحريق د حكم كونكي اسلحه اولباس مستثنى دي هغه سوزول جائزنه دى [۵] خوحسن بصري رحمه الله فرمائي د حيوان اومصحف نه علاوه د هغه ټول مال او متاع اوسوزوئي [۶]

دې حضراتو د سنن ابوداؤد د رواياتونه استدلال كړې دې. امام بخاري رحمه الله د جمهورو تائيد كولوسره د دوى تضعيف كړې دې شاته د دې تفصيل تيرشوې دې. حضرت مولانا فخر الحسن ګنګوهي رحمه الله فرمائي د جمهورو په نيزد سنن ابوداؤد روايات تغليظ باندې محمول دى. اود هغې په نيزد رسول اكرم ﷺ نه د متاع غال د سوزولوحكم چرته نقل نه دې [۷]

امام طحاوي رحمه الله فرمائي كه دا روايات سنداً صحيح هم اومنلې شي خو بياهم د استدلال

---

[۱] سنن أبي داؤد:۲/۱۵ كتاب الجهاد باب في عقوبة الغال.
[۲] نيل الاوطار للشوكاني:۸/۱۸۳۹ كتاب الجهادوالسير باب التشديدفي الغلول وتحريق رحل الغال.
[۳] المغني لابن قدامة:۱۰/۵۲٤ كتاب الجهاد باب أحكام في الغلول وشرح النووي على صحيح مسلم:۲/۱۲۳كتاب الامارة باب غلظ تحريم الغلول وعمدة القاري:۱۵/۱۱ وشرح ابن بطال:۵/۲۳۵.
[۴] المغني لابن قدامة:۱۰/۵۲٤ كتاب الجهاد باب أحكام في الغلول رقم المسئلة: ۷۶۰۳ وشرح النووي على صحيح مسلم:۲/۱۲۳كتاب الامارة باب غلظ تحريم الغلول وشرح ابن بطال:۵/۲۳۵وفتح الباري:۶/۲۳۰ - ۲۳۱ وأوجزالمسالک للمحدث الكاندهلوي:۸/۳۳۸.
[۵] المغني:۱۰/۵۲٤وشرح النوى على صحيح مسلم:۲/۱۲۳.
[۶] المغني:۱۰/۵۲٤وشرح النوى على صحيح مسلم:۲/۱۲۳.
[۷] التعليق المحمود على سنن أبي داؤد للعلامة المحدث فخر الحسن گنگوهي:۲/۵ كتاب الجهاد باب في عقوبة الغال.

قابل نه شي جوړيدې ځکه چه دا په هغه وخت محمول دی او دمالی سزا حکم نافذ العمل وو روستو دا حکم منسوخ شوې اوس هرقسم مالی سزا منسوخ ده امام طحاوی رحمه الله فرمائی لوصح الحديث لاحتمل أن يكون حين كانت العقوبة بالمال (١)

[٤٠١٤] په خائن د پرده اچونکی حکم

٤٠٠٣–[٣٠] (٢) [١] وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [٢] كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [٣] «مَنْ يَكْتُمْ غَالًّا [٤] فَإِنَّهُ مِثْلُهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او سمره ابن جندب رضي الله عنه [٢] چې رسول کريم صلی الله علیه وسلم به فرمايل [٣] کوم سړی چې د غنيمت په مال کې د خيانت کونکي خيانت پټ کړو ايعنی هغه د امير او حاکم په علم کې داخبره رانه وستله چې فلاني سړي خيانت کړې دې] [٤] نو د ګنهګاريدو په اعتبار سره هغه هم د خيانت کونکی په شان دی (ابوداود)

حل اللغات: ① غَالًّا: خيانت کونکې

تسهيلات: قوله: مَنْ يَكْتُمْ غَالًّا فَإِنَّهُ مِثْلُهُ:

په خائن د پرده اچونکی د خائن سره شرکت: يعنی چاچه خائن پټ کړو هغه نی بچ کړو اوخيانت شوې مال ئی پټ کړو نودا سړې هم په خيانت کښې برابر شريک دې

[٤٠١٥] د تقسيم څخه وړاندې د مال غنيمت د خرڅولو ممانعت

٤٠٠٥–[٣١] (٣) [١] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ [٢] «نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شِرَاءِ الْمَغَانِمِ حَتَّى تُقْسَمَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه [١] او ابوسعيد رضي الله عنه وايي [٢] چه رسول کريم صلی الله علیه وسلم د غنيمت مال د تقسيميدو څخه مخکې د هغې د اغستلو څخه منع فرمايلي ده [ځکه چې د تقسيم څخه مخکې د هغې څوک مالك نه وي] (ترمذي)

تسهيلات:

قوله: نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ شِرَاءِ الْمَغَانِمِ حَتَّى تُقْسَمَ:

د حديث مفهوم: امام مظهر رحمه الله فرمائی ددې مطلب دا دي چه کوم مجاهدين خپله

(١) شرح النووی علی صحيح مسلم:١٣٢/٢ وشرح ابن بطال:٢٣٥/٥ وعمدة القاری:١١/١٥ وفتح الباری:٢٣١/٦ونيل الاوطار للشوكانی:١٣٩/٨.

(٢) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الجهاد/باب النهی عن الستر علی من غل (رقم-٢٧١٦)

(٣) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب السّير عن رسول الله صلّی الله عليه وسلّم/باب فی كراهية بيع المغانم حتّی تقسم (رقم-١٥٦٣) و ابن ماجه فی كتاب التّجارات/باب النّهی عن شراء ما فی بطون الأنعام وضروعها. وضربة الغائص (رقم-٢١٩٦) واحمد فی المسند:٤٢/٣

حصه خرڅول غواړي نو ددې خرڅول يې جائز نه دی،

د بيع د ممانعت درې وجوه: ① ددې غازی حصه مجهوله ده او دمجهول بيع ممنوع ده ② په دې کښې دا معلومات هم نشته چه خرڅونکی غازی ته به په مال غنيمت کښې حصه ملاويږي يا نه، ځکه چه بعض اوقات غازی په وجه د مال غنيمت نه محروميږي ③ دتقسيم نه وړاند هيڅ يو غازی د خپلې حصې مالک هم نه وی نو د ملکيت نه وړاندې مال خرڅول شرعاً جائز نه دی (كذا في المرقاة)

[۴۰۱۳] دتقسيم څخه وړاندې د حصو د خرڅولو ممانعت

۴۰۱۳ - [۳۲] (¹) [۱] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، «عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] أَنَّهُ نَهَى أَنْ تُبَاعَ السِّهَامُ حَتَّى تُقْسَمَ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او ابو امامه رضي الله عنه د رسول کريم ﷺ څخه روايت کوي [۲] چې حضور ﷺ د دې ممانعت اعلان اوکړو چې [د مال غنيمت] حصې تر څو پورې تقسيم نشي هغه دې خرڅ نه کړې شی (دارمي)

تسهيلات: **نوټ:** ددې حديث وضاحت دې څخه وړاندې د حديث نمبر (۴۰۱۶) په تشريح کښې تيرشو.

[۴۰۱۷] په غنيمت کښې خيانت کوونکو د پاره جهنم

۴۰۱۷ - [۳۳] (²) [۱] وَعَنْ خَوْلَةَ بِنْتِ قَيْسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲] سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "[۳] «إِنَّ هٰذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ، [۴] فَمَنْ أَصَابَهُ بِحَقِّهِ [۵] بُورِكَ لَهُ فِيهِ، [۶] وَرُبَّ مُتَخَوِّضٍ فِيمَا شَاءَتْ بِهِ نَفْسُهُ مِنْ مَالِ اللّٰهِ وَرَسُولِهِ [۷] لَيْسَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا النَّارُ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او بي بي خوله بنت قيس رضي الله عنها وايي [۲] چه ما د رسول کريم ﷺ څخه دا واوريدل [۳] چه بلاشبه دا مال شين او خوږ څيز دی ايعنی مال يو داسې څيز دی چې انسان ته په نظر ښه راځي او زړه خوشحالوي [۴] نوکوم انسان چې دا مال په حق ايعنی حلالې طريقې سره حاصلوي [۵] د هغه د پاره په دې کې برکت ورکړې کيږي [۶] او (يادلرئ) ډېر خلق [داسې دي چې] د الله او د هغه د رسول مال ايعنی د غنيمت د مال څخه کوم څيز چې د هغوی زړه غواړي په خپل تصرف کې راولي [۷] د قيامت په ورځ به د هغوی د پاره صرف اور وي (ترمذي)

¹) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحديث ۲۴۷۶

²) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الرؤيا عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب قوله لهم البشری فی الحياة الدنيا (رقم-۲۲۷۳) واحمد فی المسند: ۳۷۸/۶

حل اللغات: ① خَضِرَةٌ: شین، سرسبز، ② حُلْوَةٌ: خوږ، ③ بُورِكَ: برکت به واچولې شي، ④ رُبَّ: ډیر، اکثر، ⑤ مُتَخَوِّضٍ: مشغولیدونکی، تصرف کونکی.

تسهیلات: قوله: إِنَّ هَذِهِ الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ

د مال د شینکي سره د مشابهت دوه وجوه: ① نبی کریم ﷺ د مال تشبیه شنکي سره ورکړې ده چه څنګه شنکي ذر اوچیږي نو دغه شان مال هم زر فنا او ختمیږي. لهذا داسې فاني مال دپاره الله او رسول ناراض کول او خپل ایمان و تقوی بربادول د مسلمان شان سره مناسب نه دي

② دا مال په نیدولو کښې خائسته او په استعمال کښې مزیدار ښکاري لیکن که هم دا مال په حرام طریقې سره وی نو دا ډیر خطرناک دي او دې سره دنیا هم برباد او آخرت هم تباه کیږي.

قوله: فَمَنْ أَصَابَهُ بِحَقِّهِ بُورِكَ لَهُ فِيهِ

دحق نه مراد: دحق نه مراد جائز ذریعه ده یعني که مال حلال وی نو دا برکت والا وی او که داسې نه وی نو بیا د هلاکت ذریعه ده. لکه څنګه چه هوا د باغ طرف نه راشي نو دا دشفا ذریعه جوړیږي او که د ډهیران او ګندګی طرف نه راشي نو بیماری او بوئ ترې خوریږي

قوله: وَرُبَّ مُتَخَوِّضٍ فِيمَا شَاءَتْ بِهِ نَفْسُهُ:

د متخوض سره د تشبیه وجه: د خوض نه جوړشوې دې معنی ده په اوبو کښې ننوتل. لکه څنګه چه بغیر د سوچ او فکر نه په اوبو کښې ننوتل د هلاکت باعث دی نو هم دغه شان بغیر د تحقیق نه هر قسم مال اغستل هم د هلاکت باعث دی

[۲۰۱۸] د نبی علیه السلام ذالفقار توره په تنفیل کښې اخستل

۲۰۱۸–[۳۴] (۱) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَنَفَّلَ سَيْفَهُ ذَا الْفَقَارِ يَوْمَ بَدْرٍ». [۳] رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَزَادَ التِّرْمِذِيُّ: [۴] وَهُوَ الَّذِي رَأَى فِيهِ الرُّؤْيَا يَوْمَ أُحُدٍ.

ترجمه: [۱] او ابن عباس رضی الله عنهما وایي [۲] چه رسول کریم ﷺ خپله توره چې د هغې نوم ذوالفقار وو د جنګ بدر په ورځ د حصې څخه زیاتی اخستې وه [۳] ابن ماجه او ترمذي دا الفاظ هم نقل کړي دي [۴] چه او دا هغه توره ده چې د دې متعلق حضور ﷺ د احد دجنګ په ورځ خوب لیدلی وو !

حل اللغات: ① تَنَفَّلَ: زیاته ئې واخستله.

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب السّیر عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب فی النّفل (رقم-۱۵۶۱) و ابن ماجه فی کتاب الجهاد/باب السّلاح (رقم-۲۸۰۸) واحمد فی المسند: ۲۷۱/۱

تسهیلات:

قوله: تَنَفَّلَ سَيْفَهُ ذَا الْفَقَارِ يَوْمَ بَدْرٍ:

د ذالفقار پيژندګلو: فقار دَ ملا په تيرکښې مورو (بندونو) ته وائی د دې تورې په شا يا دغه شان موړې موړې وې يعنی آواره نه وی او يا داسې موړې وی څنګه چې د ملا په تيرکښې د ملا دتير جوړونه وی

د ذالفقار تورې حاصلونکې: دا توره د کوم کافرځخه ملاؤ شوې وه؟ دا توره دَ يو کافر منبه بن حجاج په لاس کښې وه حضرت علی رضي الله عنه هغه قتل کړو دَ هغه توره نبی کريم ﷺ ډيره خوښه کړه اوپه توګه دَ صفی نبی کريم ﷺ پخپله واخستله نبی کريم ﷺ په مختلفو جنګونو کښې دا استعمال کړه.

د مذکوره حکم نسخ: دَ صفی انتخاب صرف دَ نبی کريم ﷺ سره خاص وو بيا منسوخ شو نبی کريم ﷺ دغه توره حضرت علی رضي الله عنه ته ورکړه.

قوله: وَهُوَ الَّذِي رَأَى فِيهِ الرُّؤْيَا يَوْمَ أُحُدٍ:

په خوب کښې د ذالفقار تورې ماتيدل: دَ جنګ احدنه لږشان وړاندې نبی کريم ﷺ په خوب کښې چه کومه توره ماته ليدلې وه هغه هم دغه وه.

لافتى إلا علي لاسيف إلا ذوالفقار

[۳۰۹] د تقسيم څخه وړاندې د غنيمت د څيز د استعمال ممانعت

۴۰۰۰-[۳۵] (ⁱ) ① وَعَنْ رُوَيْفِعِ بْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، ② أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ③ «مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ④ فَلَا يَرْكَبْ دَابَّةً مِنْ فَيْءِ الْمُسْلِمِينَ ⑤ حَتَّى إِذَا أَعْجَفَهَا رَدَّهَا فِيهِ، ⑥ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ⑦ فَلَا يَلْبَسْ ثَوْبًا مِنْ فَيْءِ الْمُسْلِمِينَ ⑧ حَتَّى إِذَا أَخْلَقَهُ رَدَّهُ فِيهِ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او رويفع ابن ثابت رضي الله عنه څخه روايت دی ② چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ③ کوم سړې چې په الله او د آخرت په ورځ ايمان لري ④ (د هغه د پاره داقطعًا روانه دی) چې هغه د مسلمانانود مشترك غنيمت مال په يو حيوان (بلا ضرورت شرعي) سور شي ⑤ او بيا چې هغه حيوان کمزورې شي نو هغه د غنيمت په مال کې واپس ورکړي ⑥ او کوم سړې چې په الله او د آخرت په ورځ ايمان لري (د هغه د پاره قطعًا دا روانه دی) ⑦ چې هغه د مسلمانانو د مشترك غنيمت مال څه کپړه (بلا ضرورت شرعي) واچوي ⑧ او بيا چې هغه کپړه زړه شی نو بيت المال ته يې واپس ورکړي (ابوداود)

حل اللغات: ① فَيْء: مال غنيمت (په جهاد کښې دجنګ نه بغير حاصل شوې مال. ② إِذَا أَعْجَفَهَا چه کمزورې شی هغه. ③ رَدَّهَا: واپس ئې کړی. ④ إِذَا أَخْلَقَهُ: چه زړه ئې کړی.

ⁱ) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب النکاح /باب فی وطء السبايا (رقم-۲۱۵۹)

تسهيلات:

قوله: فَلَا يَرْكَبْ دَابَّةً مِنْ فَيْءِ الْمُسْلِمِينَ حَتَّى إِذَا أَعْجَفَهَا رَدَّهَا فِيهِ:

د حديث متبادره معنی: الحاصل ددې حديث د ظاهري مفهوم نه دا نتيجه اخذ شوې ده چه که څيل څناور باندې سورلی په مصرف کښې په کار راوستلو سره نه کمزوره کيږی نو بيا په دې څناور باندې سورلی کولو کښې هيڅ ګناه نشته.

د حديث صحيح مطلب: خو په حقيقت کښې دا مفهوم مراد نه دې او ددی نه دا نتيجه هم نه اخذ کيږي بلکه دا خبره محض محاورة فرمائيلی شوې ده او عام طور باندې په څناور سورلی کولو سره څنارو کمزورې کيږی. نو لهذا په داسې څناور باندې د سورلی کولو عادت جوړول غلط دي

[۴۰۲۰] په غنيمت کښې د خوراکي اجناسو د خوراک حکم

۴۰۲۰- [۳۶] (۱) [۱] وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي الْمُجَالِدِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى، قَالَ: [۲] قُلْتُ: [۳] «هَلْ كُنْتُمْ تُخَمِّسُونَ الطَّعَامَ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ [٦] قَالَ: أَصَبْنَا طَعَامًا يَوْمَ خَيْبَرَ، [۷] فَكَانَ الرَّجُلُ يَجِيءُ [۸] فَيَأْخُذُ مِنْهُ مِقْدَارَ مَا يَكْفِيهِ، [۹] ثُمَّ يَنْصَرِفُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او محمد ابن ابو المجالد د عبد الله ابن ابي اوفى رضي الله عنه څخه روايت کوي [۲] چې ما [د حضرت عبد الله رضي الله عنه] څخه پوښتنه وکړه [۳] آيا تاسو به د رسول الله ﷺ په زمانه کې د خوراك څيزونو کې هم خمس [يعنی پنځمه حصه] ويستله؟ [٦] هغه وفرمايل چه د غزوه خيبر په ورځ د خوراك څيزونه زمونږ لاس ته راغلي وو نو [۷] هرسړي به راتلو [۸] او د هغې څخه به يي په قدر د کفايت اخستل [۹] او واپس به تلو (ابوداود)

تسهيلات:

قوله: هَلْ كُنْتُمْ تُخَمِّسُونَ الطَّعَامَ:

د تپوس کولو مقصد: سائل تپوس کوی چې د خوراک د څيزونه څخه به هم خمس اغستلی کيږی او که کوم څيزونه د خوراک سره تعلق لری هغه به د تقسم څخه مستثنی وی

قوله: فَكَانَ الرَّجُلُ يَجِيءُ فَيَأْخُذُ مِنْهُ مِقْدَارَ مَا يَكْفِيهِ:

د جواب مفهوم: صحابی جواب ورکوی چې د خوراک څيزونو کښې به خمس نه وی ليکن ددې خبرې لحاظ سائل ضروری دی چه هر څيز دې دومره مقدار کښې واخستلې شی په څومره چه ضرورت او حاجت پوره کيږی

(۱) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الجهاد . باب في النّهي عن النّهبي إذا كان في الطّعام قلّة في أرض العدوّ (رقم-۲۷۰٤)

[۲۰۲] د خوراک په څيزونو کښې عدم خمس

۲۰۰۲-[۳۷] (۱) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا: [۲] «أَنَّ جَيْشًا غَنِمُوا فِي زَمَنِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا وَعَسَلًا، [۳] فَلَمْ يُؤْخَذْ مِنْهُمُ الْخُمُسُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او ابن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی [۲] چه يو ځل د رسول کريم ﷺ په زمانه کې د مسلمانانو لښکر اچې د جهاد څخه واپس راغلوا نو د غنيمت په مال کې د خوراك څيزونه او عسل (شهد) اخستو سره راغلو انو هغه لښکر والو هغه څيزونو څخه چې څه خوړلي څکلي وو يا هغوی چې څه بچ کړي راوړي ووا [۳] د هغې څخه د هغوی څخه خمس ايعنی پنځمه حصه! وانخستل شوه (ابوداود)

تسهيلات:

قوله: أَنَّ جَيْشًا غَنِمُوا فِي زَمَنِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا وَعَسَلًا:

د طعام څخه مراد: د طعام څخه مراد انواع دی يا غله ده او يا ددې څخه تيار شوی څزونه دی

[۲۰۳] په غنيمت کښې د خوراکی څيزونو عدم تقسيم

۲۰۰۳-[۳۸] (۲) [۱] وَعَنِ الْقَاسِمِ مَوْلَى عَبْدِ الرَّحْمٰنِ، [۲] عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۳] «كُنَّا نَأْكُلُ الْجَزُورَ فِي الْغَزْوِ [۴] وَلَا نَقْسِمُهُ [۵] حَتّٰى إِذَا كُنَّا لَنَرْجِعُ إِلٰى رِحَالِنَا [۶] وَأَخْرِجَتُنَا مِنْهُ مَمْلُوَّةٌ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او قاسم تابعي رحمه الله چې د عبد الرحمن آزاد کرده غلام دې [۲] د رسول کريم ﷺ د بعضې صحابه و رضی الله عنهم څخه روايت کوی [۳] چې مونږ به په غزاګانو کې د اوښ غوښه خوړله [۴] او هغه به مو نه تقسيموله [يعنی مونږ به محاذ جنګ باندې د ضرورت په وخت د غنيمت د مال اوښان ذبح کول او د هغې غوښې د تقسيمولو څخه بغير د خپل خپل حاجت په قدر به مو اخستله! [۵] تردې چې مونږ به د سفر په دوران کې خپلو ډيرو اوخيموته واپس راغلو [۶] نو زمونږ تهيلۍ به د غوښې څخه ډکې وې (ابوداود)

حل اللغات: ① الْجَزُورَ: اوښان. ② رِحَالِنَا: ديرو او خيمو خپلوته. ③ أَخْرِجَتُنَا: دَ خرج جمع ده تهيلۍ اود خوراك کيخودو لوښی ته وائی. ④ مَمْلُوَّةٌ: ډکې.

تسهيلات: قوله: كُنَّا نَأْكُلُ الْجَزُورَ فِي الْغَزْوِ

دمال غنيمت د څاروی ذبح کولو دوه صورتونه: ① دضرورت دَ وجهې مجاهدين ميدان جهادکښې اوښ ذبح کولې اوخوړلې شی په حديث الباب کښې چې د اوښ ذبح کولو

---

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الجهاد ، باب فی إباحة الطعام فی أرض العدو (رقم-۲۷۰۱)
(۲) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الجهاد ، باب فی إباحة الطعام فی أرض العدو (رقم-۲۷۰۶)

ذکر دي نو دا په ضرورت محمول دي

② بلاضرورته د غنیمت څخه د هیڅ قسم خاروی ذبح کول جائز نه دی تردې چې وانبه هم دمال غنیمت نه نشي اخستلې

قوله: وَأَخْرَجْتُنَا مِنْهُ مَمْلُوَّةً

د خوراک دپاره د خوراک د اجناسو ساتل: دادَ جهاد دَمیدان منظرخودل دی چه زمونږ لوښی به د غوښې څخه ډک وو او دا یاد ساتل پکار دی چې صحابوٗ رضی الله عنهم به دا غوښه دَ خوړلودَپاره اوړله دَ ذخیره کولودَپاره به نه وه

[٢٠٢٣] د قیامت په ورځ د خیانت کرو رسوائی

٢٠٢٣ – [٣٩] ()① وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، ② أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ: " ③ «أَدُّوا الْخِيَاطَ وَالْمِخْيَطَ، ④ وَإِيَّاكُمْ وَالْغُلُولَ، ⑤ فَإِنَّهُ عَارٌ عَلَى أَهْلِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» ". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① او عباده ابن صامت رضی الله عنه څخه روایت دی ② چه رسول کریم ﷺ به فرمایل ③ د تار او ستنې هم ادائیگی کوئ [یعنی د غنمت په مال کې دومره معمولي څیزونه هم پټولو سره مه ایږدئ] ④ او تاسو [د غنیمت په مال کې یا مطلق] خیانت کولو څخه پرهیز کوئ ⑤ ځکه چې په دې کې هیڅ شبهه نشته چې خیانت کول به خیانت کونکو خلقو ته د قیامت په ورځ د بې عزتي راوړونکې وي (دارمي)

حل اللغات: ① الْخِيَاطَ: خياط: تار ته وائی ② الْمِخْيَطَ: د گنډلو ستن. ③ الْغُلُولَ: خیانت. ④ عَارٌ: شرم. بې عزتی. رسوائی

٢٠٢٣ – ()① وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ.

ترجمه: ① او نسائي داروایت د عمرو ابن شعیب رحمه الله څخه او هغه د خپل پلار څخه او هغه د خپل نیکه څخه نقل کړې دی

تسهیلات: **قوله**: أَدُّوا الْخِيَاطَ وَالْمِخْيَطَ:

دحدیث مفهوم: مطلب دا دی چې دمال غنیمت د معمولی څیزڅخه هم ځان ساتی که د گنډلو ستن یا د هغې تار ولې نه وی ځکه چې د قیامت په ورځ به دا خیانت د رسوائی سبب گرځی لکه څنگه چې په یو بل حدیث کښې راځی د خیانت گراو دهوکه باز دپاره به په میدان حشریوه جنډه وی خلقو ته به پته لگی چې دا هغه کس دې چې په دنیا کښې ئې غدر دهوکه او خیانت کړې وو

---

(١) اخرجه ابن ماجه فی السنن کتاب الجهاد /باب الغلول (رقم-٢٨٥٠) واحمد فی المسند: ٣١٨/٥

(٢) اخرجه النسائی فی السنن کتاب الهبة /باب هبة المشاع (رقم-٣٦٨٨)

[٣٠٢٥] په مال غنیمت کښې وړوکې خيانت

٣٠٢٥—[٣٠] (١) ١ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: ٢ «دَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَعِيرٍ ٣ فَأَخَذَ وَبَرَةً مِنْ سَنَامِهِ، ثُمَّ قَالَ: ٤ "يَا أَيُّهَا النَّاسُ! إِنَّهُ لَيْسَ لِي مِنْ هَذَا الْفَيْءِ شَيْءٌ ٥ وَلَا هَذَا وَرَفَعَ إِصْبَعَهُ إِلَّا الْخُمُسَ، ٦ وَالْخُمُسُ مَرْدُودٌ عَلَيْكُمْ، ٧ فَأَدُّوا الْخِيَاطَ وَالْمِخْيَطَ" ٨ فَقَامَ رَجُلٌ فِي يَدِهِ كُبَّةٌ مِنْ شَعْرٍ، فَقَالَ: ٩ أَخَذْتُ هَذِهِ لِأُصْلِحَ بِهَا بَرْدَعَةً.

ترجمه: ١ او عمرو ابن شعیب د خپل پلار څخه او هغه د خپل نیکه څخه نقل کوي هغه اوويل ٢ چه يوه ورځ حضور ﷺ [مال فئ کې ملاو شوی] يو اوښ خواته تشريف راوړو ٣ او د هغې د قب يو ويښته دوه رانښکلو سره يي وفرمايل ٤ اې خلقو! حقيقت دادی چې دی مال فئ کې ځما هيڅ حصه نشته ٥ او [د حضور ﷺ په کومو ګوتو چې هغه ويښته وو خلقوته ښودلو د پاره] هغه ګوته پورته کولو سره يي وفرمايل چې دا مال هم [يعنی دومره معمولي حصه هم زما د پاره نشته] البته خمس [يعنی د پنځمي حصي زه حقدار يم] ٦ ليکن خمس هم [ځما ذات باندې نه خرڅ کيږي بلکه] په تاسو خرڅ کيږي [يعنی د خمس مال ستاسو په خير ښيګړه خرڅ کيږي په دې طور چې په هغې سره ستاسو د پاره هتيار او اسونه وغيره حاصلول کيږي] ٧ نو تاسو سره که د غنيمت ستن تار پورې وي نو هغه راوړئ جمع يې کړئ ٨ په دې اوريدو سره يوسړی چې د هغه په لاس کې د ويښتو د رسئ يوه ټکړه وه اودريدلو او هغه اوويل ٩ ما د رسې دا ټکړه د ځان سره ساتلي وه چې د دې په ذريعه به د پالان [کتی] لاندې شړئ ته غوټه ورکولو سره يي ټيک کړم [اوس په دې باره کې څه حکم دی؟]

حل اللغات: ① دَنَا: نزدې شو. ② وَبَرَةً: ويښته، معمولی شان ويښته. ③ سَنَامِ: قُب (د خاروی). ④ الْخِيَاطَ: تار. ⑤ الْمِخْيَطَ: ستن. ⑥ كُبَّةٌ مِنْ شَعْرٍ: دَ ويښتو يوه ګوله ⑦ بَرْدَعَةً: د زين اوګدئ لاندې کپړه.

١ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "أَمَّا مَا كَانَ لِي وَلِبَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَهُوَ لَكَ" ٣ فَقَالَ: أَمَّا إِذْ بَلَغَتْ مَا أَرَى ٤ فَلَا أَرَبَ لِي فِيهَا، ٥ وَنَبَذَهَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ رسول کريم ﷺ وفرمايل ٢ ترڅو پورې چې د هغه شي سوال دې کوم چې ځما او د بنو عبد المطلب د حصي دې نو هغه ستا دې [يعنی هغه ټکړې نه څه چې ځما د خاندان بنوهاشم او د هغوی د حليف او ملګری د بنو عبد المطلب د خلقو حصه ده نو هغه ستا ده هغه خو مونږ تا ته وبخښله ليکن په هغې کې څه چې زمونږ څخه علاوه د نورو مجاهدينو حصه ده د هغه په باره کې ته پوهه شه که تا هغه څخه هم د هغوی حصي

(١) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد، باب فی فداء الأسير بالمال (رقم-٢٦٩٤) واحمد فی المسند: ٢/١٨٤

معاف کړئ نو څه مواخذه به نه وي او که د هغوی حصې دي معاف نه کړي نو د قيامت په ورځ به نيول کيږي] ۳ هغه [سړی دا اوريدو سره] اوويل هرکله چې دا رسئ د ګناه دې حد ته رسيدلي ده کومه چې څما مخې ته ده ۴ نو بيا ماته د دې ضرورت نشته ۵ او [په دې ويلو سره] هغه هغه رسئ وغورځوله (ابوداود).

حل اللغات: ⑧فَلَا أَرَبَ: نو نشته دې حاجت زما.

تسهيلات:

قوله: أَمَّا مَا كَانَ لِي وَلِبَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَهُوَ لَكَ:

د مالِ غنيمت د معمولی څيز عظمت: نبی کريم د دغه سړی په جواب کښې اوفرمائيل که څرې دا معمولی څيز زماوي يا زما د خاندان وي نوما به درکړې وی مګر دا د بيت المال دي دغه سړی په جواب کښې اووئيل چه کله د دومره معمولی څيز معامله دومره وړاندې لاړه نو ما ته د دې هيڅ ضرورت نشته دې دې وينانه پس هغه ګوله په مال غنيمت کښې اوغورزوله

[۴۰۳۶] خمس هم په مسلمانانو خرچ کول

۴۰۳۶- [۳۱] (١) ١ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ٢ «صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى بَعِيرٍ مِنَ الْمَغْنَمِ، ٣ فَلَمَّا سَلَّمَ أَخَذَ وَبَرَةً مِنْ جَنْبِ الْبَعِيرِ، ٤ ثُمَّ قَالَ: ٥ "وَلَا يَحِلُّ لِي مِنْ غَنَائِمِكُمْ مِثْلُ هَذَا إِلَّا الْخُمُسُ، ٦ وَالْخُمُسُ مَرْدُودٌ فِيكُمْ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ او عمرو ابن عبسه ﷺ وايي ٢ چې رسول کريم ﷺ په يوه موقع يو اوښ ستره ګرځولو سره مونځ ته مونځ راکړو ٣ کوم وخت چې سلام يې اوګرځولو او د مونځ څخه فارغه شو نو د هغه اوښ د اړخ څخه يې يو دوه ويښته راؤښکل ٤ او بيايي وفرمايل ٥ چې ستاسو د غنيمت د مال څخه زما د پاره دومره يعني د دې ويښتو په قدر هم حصه نشته علاوه د خمس څخه ٦ او هغه خمس هم ستاسو ضرورتونوکي خرچ کول کيږي (ابوداود)

حل اللغات: ①وَبَرَةٌ: ويښته. ②جَنْبِ: اړخ. ③الْبَعِيرِ: اوښ

تسهيلات: **قوله**: أَخَذَ وَبَرَةً مِنْ جَنْبِ الْبَعِيرِ:

د دې واقعې په وقوع کښې دوه اقوال: ① که د اړخ يا طرف نه مراد د اوښ د قوب د يو طرف ويخته راويستل وي نو په دې صورت کښې به دا د تيرشوي حديث والا واقعه وی د کومې ذکر چه په تير شوی حديث کښې اوشو.

---

[1]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الجهاد/باب فى الإمام يستأثر بشىء من الفىء لنفسه (رقم-٢٧٥٥)

⑦ که د حدیث ظاهري مفهوم واغستلي شي نو په دي صورت کښې به ددې نه بله واقعه مراد وی

[۴۰۲۴] په غنیمت کښې د بنوهاشم او بنوالمطلب وحدت

۴۰۲۴–[۳۲] ()[۱] وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «لَمَّا قَسَمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَهْمَ ذَوِي الْقُرْبَى بَيْنَ بَنِي هَاشِمٍ وَبَنِي الْمُطَّلِبِ [۳] أَتَيْتُهُ أَنَا وَعُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ، فَقُلْنَا: [۴] يَا رَسُولَ اللّٰهِ! هَؤُلَاءِ إِخْوَانُنَا مِنْ بَنِي هَاشِمٍ، [۵] لَا نُنْكِرُ فَضْلَهُمْ [۶] لِمَكَانِكَ الَّذِي وَضَعَكَ اللّٰهُ مِنْهُمْ [۷] أَرَأَيْتَ إِخْوَانَنَا مِنْ بَنِي الْمُطَّلِبِ أَعْطَيْتَهُمْ وَتَرَكْتَنَا، [۸] وَإِنَّمَا قَرَابَتُنَا وَقَرَابَتُهُمْ وَاحِدَةٌ

ترجمه: [۱] او جبیر ابن مطعم ﷜ وايي [۲] هرکله چې رسول کریم ﷺ د غنیمت د مال څخه د خپل قرابت دارو حصه ایعنی خمس چې د هغې ذکر قرآن مجید کې دی! بنوهاشم او بنو عبد المطلب په مینځ کې تقسیم کړه [۳] نو زه ایعنی جبیر ﷜ د بنو نوفل د طرف څخه! او حضرت عثمان ابن عفان ﷜ اد بنو عبد شمس د طرف څخه! د رسول کریم ﷺ په خدمت کې حاضر شو او مونږ عرض اوکړو [۴] یا رسول الله! زمونږ دا ورونړه چې د هغوی تعلق بنوهاشم سره دي [۵] مونږ د هغوی د فضیلت او بزرګۍ څخه انکار خو نه کوو [۶] ځکه چې الله ﷻ تاسو په هغوی کې پیدا کړي یئ [۷] انو په دې اعتبار زمونږ په نسبت هغوی تاسو ﷺ ته زیات نزدې دی ځکه چې ستاسو او د هغوی جد (نیکه) یو دی یعنی هاشم اګر چې زمونږ او د هغوی جد اعلی (مشر نیکه) هم یو دی یعنی عبد مناف! [۷] لیکن مونږ ته دا اووایي چې د دې څه سبب دی چې تاسو ﷺ د خمس مال څخه اچې د ذوی القربی حصه ده! زمونږ هغه ورونړو ته خو حصه ورکړله چې د هغوی تعلق بنومطلب سره دی او مونږ مو محروم وساتلو [۸] حالانکه زمونږ ایعنی بنو نوفل او بنی عبد شمس! او د هغوی ایعنی بنی مطلب! قرابت یودې اپه دې طور چې څنګه د هغوی نیکه د هاشم ورور وو دغه شان زمونږ نیکه هم د هاشم ورور وو ګویا د هغه دواړو حضراتو د غرض حاصل داوو چې د غنیمت د مال څخه چې کوم خمس ویستل شی هغه د قرآن مجید د حکم مطابق ستاسو د قرابت دارو حصه ده نو ستاسو ﷺ د خپلو قرابت دارو یو شاخ بنو مطلب ته مال خمس څخه حصه ورکړله لیکن نورو دوو شاخونو یعنی بنونوفل او بنو عبد شمس ته موهیڅ ورنه کړل هرکله چې داټول شاخونه د یوجدّ اعلی یعنی د عبد مناف اولاد دې نو د دې امتیازي سلوک وجه څه ده؟!

حل اللغات: ① لَا نُنْكِرُ: مونږ انکار نه کوو.

) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الخراج والإمارة والفیء/ فی بیان مواضع قسم الخمس. وسهم ذی القربی (رقم-۲۹۸۰) والنسائی فی کتاب قسم الفیء (رقم-۴۱۳۷)

۱ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "إِنَّمَا بَنُو هَاشِمٍ وَبَنُو الْمُطَّلِبِ شَيْءٌ وَاحِدٌ هٰكَذَا" ۳ وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ». ۴ رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ. وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيِّ نَحْوُهُ وَفِيهِ: ۵ " «إِنَّا وَبَنُو الْمُطَّلِبِ لَا نَفْتَرِقُ فِي جَاهِلِيَّةٍ وَلَا إِسْلَامٍ، ۶ وَإِنَّمَا نَحْنُ وَهُمْ شَيْءٌ وَاحِدٌ» ". وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ.

ترجمه: ۱ نو حضور ﷺ اوفرمائیل ۲ چه بنوهاشم او بنومطلب یو خاندان دي دغسي. ۳ او د لاس گوتي يي د بل لاس د گوتو په مينځ کې داخلې کړې [او هغه طرف ته ئي اشاره اوکړه چې (زه) د دې څخه علاوه نور په هيڅ نه پوهيږم چې [څنگه د دې دواړو لاسونو داگوتي په خپلو کې يوځاى کيدو سره يوشئ شويدى دغه شان] بنوهاشم او بنو مطلب هم يودي ۴ شافعي، ابوداود او د نسائي په روايت کې هم داسې دي ۵ او په هغه کې [دا الفاظ] دي [چې حضور ﷺ وفرمايل] مونږ او د مطلب اولاد نه په زمانه جاهليت کې چرته د يوبل مخالف وو او په نه زمانه د اسلام کې ۶ [نو د دې څخه علاوه نور هيڅ نه دى] چې مونږ او هغوى دواړه يوشيز يو [په دې ويلو سره] حضور ﷺ د دواړو لاسونو گوتي په يوبل کې داخلې کړې.

حل اللغات: ⓟ وَشَبَّكَ: ورئې کړې په يوبل کښې. ⓟ لَانَفْتَرِقُ: نه به جدا کيدو. ديو بل مخالفت به مونه کولو.

تسهيلات:

نوټ: ددې حديث مکمل تشريح دې نه وړاندې حديث نمبر (۳۹۹۳) کښې تيره شوې ده هلته اوگورئ.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۰۲۸] د ابوجهل د قتل قصه

۴۰۲۸—[۴۳] (۱) ۱ «عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ، قَالَ: ۲ إِنِّي وَاقِفٌ فِي الصَّفِّ يَوْمَ بَدْرٍ ۳ فَنَظَرْتُ عَنْ يَمِينِي وَعَنْ شِمَالِي، ۴ فَإِذَا بِغُلَامَيْنِ مِنَ الْأَنْصَارِ ۵ حَدِيثَةٍ أَسْنَانُهُمَا، ۶ فَتَمَنَّيْتُ أَنْ أَكُونَ بَيْنَ أَضْلَعَ مِنْهُمَا، ۷ فَغَمَزَنِي أَحَدُهُمَا، فَقَالَ ۸ أَيْ عَمِّ! هَلْ تَعْرِفُ أَبَا جَهْلٍ؟ ۹ قُلْتُ: نَعَمْ، فَمَا حَاجَتُكَ إِلَيْهِ يَا ابْنَ أَخِي؟ ۱۰ قَالَ: أُخْبِرْتُ أَنَّهُ يَسُبُّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ۱۱ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَئِنْ رَأَيْتُهُ لَا يُفَارِقُ سَوَادِي سَوَادَهُ ۱۲ حَتَّى يَمُوتَ الْأَعْجَلُ مِنَّا،

ترجمه: ۱ عبد الرحمن ابن عوف رضی الله عنه وايي ۲ چه د غزوه بدر په ورځ زه د دښمن مقابل صف کې ولاړ وم ۳ ما چې خپل ښي چپ طرف ته نظر وکړو ۴ نو څه گورم چې زه د دوو

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب فرض الخمس/باب من لم يخمّس الأسلاب. ومن قتل قتيلا فله سلبه من غير أن يخمّس. وحكم الإمام فيه (رقم-۳۱۴۱) واحمد فی المسند: ۱۹۳/۱

انصارو هلكانو په مينځ كې ولاړوم [٥] چې بالكل نو عمروو [٦] ما دا ارمان اوكړو چې كاش چه دا وخت زه د دې دواړو ځخه د زيات طاقتور او تجربه كار سړو په مينځ كې ولاړ وې ايعنى ما هغه دواړه نوعمره هلكان د حوصلي او شجاعت په اعتبار سره بي وقعت وګڼل او دا خيال مي اوكړو چې دا دواړه نوعمره او بي تجربي دي ځكه كيدى شي چې د دښمن د حملي تاب رانه وړي او د جنګ په وخت كې وتښتي چې په هغې سره به ځما ذات باندې هم داغ ولګوي زه په دې خيالاتو او سوچ كې وم چې اچانك ا [٧] هغه دواړو كې يوهلك په ما نكاره اولګوله اوماته ئې اوويل [٨] كاكا جي، آياتاسو ابوجهل پيژنئ؟ اهغه كوم يودې او كوم ځاى دې؟ا [٨] ماورته اوويل هو زه يې پيژنم ليكن اې زما وراره، ستا ابوجهل سره څه غرض دى؟ [١٠] هغه اوويل ماته معلومه شويده چې هغه العين ابوجهل ا رسول كريم ﷺ ته كنځل كوي [١١] په هغه ذات قسم اخلم چې د هغه په قبضه كې ځما ساه ده كه زه هغه ووينم نو ځما جسم به د هغه د جسم څخه ترهغه وخته پورې نه جداكيږي [١٢] ترڅوپورې چې په مونږ كې يود مرګ طرف ته ورتلوكى تادي اونه كړى ايعنى دابوجهل په خلاف ځما په زړه كې دومره نفرت دې چې د هغه په ليدو سره په هغه باندې زه حمله وكړم او ترهغه وخته پورې به د هغه سره جنګ كوم ترڅو چې په مونږ دواړو كې د چا مرګ چې مخكې راتلونكى وي هغه مړ نشي برابره خبره ده كه زه شهيد شم يا زه هغه جهنم ته ورسوما

حل اللغات : ①خَيۡرَةٍ أَسۡنَانُهُمَا: تازه وو غاښونه دهغوى.يعنى كم عمره وو دواړه.② أَضۡلَعَ: د اقوى په معنى كښې دې. طاقتور.③ فَغَمَزَنِي : نوكاره ئې راباندې اولګوله. اوئې څكونډلم. ④ سَوَادِي سَوَادَهُ: اى جسمى جسمه وشخصى شخصه، د سواد څخه مراد بدن دې يعنى زما بدن دهغه د بدن نه. ⑤الأَعۡجَلُ: ډيره جلتى كونكې.

[١] فَتَعَجَّبۡتُ لِذَلِكَ،[٢] قَالَ: وَغَمَزَنِي الۡآخَرُ فَقَالَ لِي مِثۡلَهَا،[٣] فَلَمۡ أَنۡشَبۡ أَنۡ نَظَرۡتُ إِلَى أَبِي جَهۡلٍ[٤] يَجُولُ فِي النَّاسِ،[٥] فَقُلۡتُ أَلَا تَرَيَانِ؟ هَذَا صَاحِبُكُمَا الَّذِي تَسۡأَلَانِي عَنۡهُ. [٦] قَالَ: فَابۡتَدَرَاهُ بِسَيۡفَيۡهِمَا،[٧] فَضَرَبَاهُ حَتَّى قَتَلَاهُ،[٨] ثُمَّ انۡصَرَفَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ، فَأَخۡبَرَاهُ،[٩] فَقَالَ: "أَيُّكُمَا قَتَلَهُ؟"[١٠] فَقَالَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنۡهُمَا: أَنَا قَتَلۡتُهُ،

ترجمه: [١] اعبد الرحمن ﷺ وايي چه ا د هغه نوعمر هلك داخبره اوريدو سره زه حيران پاتې شوم اچې خدايه، د دې نوعمر هلك په زړه كې دحضور ﷺ سره څومره محبت دى او د هغه په جذباتو كې همت حوصله. شجاعت او بهادري څومره محشر بپاده يعنى ډيره زيانه ده ا [٢] عبد الرحمن ﷺ وايي بيا دويم هلك په ما نوكاره اولګوله او هغه الفاظ يې اوويل كوم چې مخكني هلك ويلي وو [٣] د دې څخه وروسته ماهيڅ توقف اونكړو او ابوجهل مي وليدلو [٤] چې د «دښمن» په خلقو كې ګرځي [٥] ما ا هغه طرف ته اشاره كولو

سره] هغه دواړو هلکانو ته اوويل آيا تاسو هغه سړي نه وينئ اچې د دښمن په ډله کې ګرځي] دغه ستاسو هغه مطلوب دې چې د هغه په باره کې تاسو زما څخه پوښتنه کوله ايعنی دغه سړې وپيژنئ دا ابوجهل دی] ⑥ عبد الرحمن ﷺ وايي [په دې اوريدو سره] هغه دواړو هلکانو خپلې تورې سنبال کړې او سمدستي د ابوجهل طرف ته ورغلل ⑦ او په هغه يې حمله وکړه ترديې چې هغه يې قتل کړو ⑧ بيا هغه دواړه حضور ﷺ ته راغلل او ددې واقعې څخه يې خبر کړو ⑨ حضور ﷺ پوښتنه تري نه اوکړه چه په تاسو دواړو کې کوم يو هغه قتل کړې دې؟ ⑩ په هغوی کې هريوه عرض اوکړو چې ماقتل کړې دې

حل اللغات: ⑥ لَمْ أَنْشَبْ: هيڅ وخت اونه لګيدو هيڅ انتظار مې اونه کړو. ⑤ يَجُولُ: ګشت نې کولو. ګرځيدو راګرځيدو، ⑧ فَابْتَدَرَاهُ: نو دواړو ناڅاپه حمله اوکړه په هغه باندې.

① فَقَالَ: "هَلْ مَسَحْتُمَا سَيْفَكُمَا؟" ② فَقَالَا: لَا ③ فَنَظَرَ رَسُولُ اللهِ إِلَى السَّيْفَيْنِ، فَقَالَ: ④ "كِلَاكُمَا قَتَلَهُ". ⑤ وَقَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَلَبِهِ لِمُعَاذِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ ⑥ وَالرَّجُلَانِ: مُعَاذُ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ، وَمُعَاذُ بْنُ عَفْرَاءَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضور ﷺ پوښتنه تري نه اوکړه چه آيا تاسو دواړو خپلې تورې صاف کړې دې؟ ② هغوی اوويل نه ③ نو حضور ﷺ د هغه دواړو تورې وکتلې او وې فرمايل ④ چې تاسو دواړو قتل کړې دې ⑤ او رسول کريم ﷺ حکم اوکړو چې د ابوجهل سامان دې معاذ ابن عمرو ابن جموح ته ورکړې شي ⑥ او هغه دواړه هلکان [چې ابوجهل يې قتل کړو] معاذ ابن عمرو ابن جموح او معاذ ابن عفراء وو (بخاري، مسلم)

تسهيلات:

قوله: حَتَّى يَمُوتَ الْأَعْجَلُ مِنَّا:

د مذکوره جملې مطلب: يعنی د چا د مرګ وخت چه زرشی اوهغه مرشی دا حمله هم د خودکش حملې په شان ده چه په اصل کښې نورو له لره وژونکې حمله ده

قوله: مُعَاذُ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ، وَمُعَاذُ بْنُ عَفْرَاءَ:

د دواړو ماشومانو مورپلاروضاحت: دې نه مخکښې ليکلې شوی دی چه دا دواړه د مور شريك رونړه وو اود مور نوم نی عفراء وو او د دواړو پلاران جدا جدا وو د معاذ پلار عمرو بن جموح وو اود معوذ د پلار نوم حارث وو اود دواړو د مور نوم عفراء وو نوچه د چاطرف ته هم نسبت اوشی صحيح دې هيڅ تعارض نشته دې

د ابوجهل قاتلان: اول حمله حضرت معاذ ﷺ کړې وه بيا معوذ حمله اوکړه عکرمه په معاذ باندې حمله اوکړه او اوتختيدو بيا حضرت ابن مسعود ﷺ روستو راغلو د ابوجهل سرئی قلم کړو فرشتو هم په دې کار خيرکښې حصه واخستله نو که په دې .

حضراتو کښې چاته هم د ابوجهل د قتل نسبت اوشی غلط به نه وی ځکه چې هر يو دهغه په قتل کښې حصه اخستې ده.

[۴۰۲۹] ابن مسعود رضي الله عنه د ابوجهل په سينه

۴۰۲۹ــ[۳۳] (۱) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ: [۳] "«مَنْ يَنْظُرُ لَنَا مَا صَنَعَ أَبُو جَهْلٍ؟" [۴] فَانْطَلَقَ ابْنُ مَسْعُودٍ فَوَجَدَهُ [۵] قَدْ ضَرَبَهُ ابْنَا عَفْرَاءَ حَتَّى بَرَدَ. [۶] قَالَ: "فَأَخَذَ بِلِحْيَتِهِ، فَقَالَ: أَنْتَ أَبُو جَهْلٍ؟. [۷] فَقَالَ: "وَهَلْ فَوْقَ رَجُلٍ قَتَلْتُمُوهُ؟. [۸] وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ: [۹] فَلَوْ غَيْرُ أَكَّارٍ قَتَلَنِي». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه وايي [۲] چه رسول کريم صلى الله عليه وسلم د جنګ بدر په ورځ د جنګ په ميدان کې وفرمايل [۳] کوم سړی دی چې په ليدو سره مونږ ته وښايي چې ابوجهل څه وکړل ايعنی دهغه څه حشر شو آيا هغه ووژل شو يا ژوندی دی! [۴] نو ابن مسعود رضي الله عنه ورغلو او هغه ابو جهل په دې حالت کې اوموندلو [۵] چې د عفراء دواړو ځامنو هغه په وهلو وهلو يخ ايعنی قريب المرګ! کړی وو [۶] حضرت انس رضي الله عنه وايي حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په دې ليدو سره ابوجهل د ږيرې څخه اونيولو او هغه ته يې اوويل ته ابوجهل يې کنه؟ [ابوجهل د ابن مسعود رضي الله عنه په دې سوال باندې پټ طنز او حقارت محسوس کړو [۷] او هغه اوويل ابيشکه زه ابوجهل يم ليکن! آيا ته د هغه سړي څخه زياتې مرتبې والا يې کوم چې تاقتل کړې دی؟ ايعنی کوم سړې چې تاقتل کړې دې د هغه څخه اوچتې مرتبې والا هيڅ سړې نشته د دې الفاظو په ذريعه ګويا ابوجهل دا دعوی وکړله چې قريشو کې زما څخه زيات لوئ مرتبې والا سړې نشته! [۸] او په يوروايت کې دادی چې ابوجهل په دې موقع داوويل [۹] که غير زراعت پيشه خلقو زه قتل کړې وې نو ډيره ښه به وې (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① أَكَّار: زراعت والا، زميندارى کونکی.

تسهيلات:

قوله: وَهَلْ فَوْقَ رَجُلٍ قَتَلْتُمُوهُ؟:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① يومطلب دادې چه دَدې سړی نه زيات تاخوك چرته وژلې دې يعنی زما نه لوئی به تاخوك نه وی وژلې زه د ټولو نه لوئی يم.
② بل مطلب دا دې چې خويو سړې دې وژلې دې په دې باندې څه فخرکوې باقی فوج خو موجود دې.

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب الجهاد والسّير /باب قتل أبي جهل (رقم-۱۱۸ - (۱۸۰۰)

دابوجهل سرکشي: بعضې روایاتوکښې دلته څه تفصيل دي هغه دا چه کله ابن مسعود رضي الله عنه راغلو نود ابوجهل په سینه باندې کیناستو نود دواړو په مینځ کښې دا مکالمه شوې وه

ابوجهل: اې ګډبه مبارك شه په ډیر اوچت مقام باندې ناست ئې مګر دا اووایه چه د جنګ میدان د چا په لاس کښې دې؟

ابن مسعود رضی الله عنه: میدان د محمد عربی ﷺ اود مسلمانانو په لاس کښې دی

ابوجهل: د فخرکولو خبره نه ده د یوسړی نه سوا دې هم څوك وژلې دې

ابن مسعود رضی الله عنه: ستا په شان اویا مردار پرانه دی

ابوجهل: دا اووایه چه زه چا وژلې یم؟

ابن مسعود رضی الله عنه: د عفراء ځوئی وژلې یئی

ابوجهل: "فلوغیراکارقتلنی" افسوس چه زه د زمیندار په ځائی چرته بل چا قتل کړې وې

ابن مسعود رضی الله عنه: د ابوجهل ږیرې له جټکه ورکولو سره "وقداخزاك الله یاعدوالله" اې د الله تعالی دښمنه الله تعالی ته رسوا کړې

ابن مسعود رضی الله عنه: زه تاقتلول غواړم

ابوجهل: دا څه ړومبې واقعه نه ده چه یو غلام آقا وژلې وی

ابن مسعود رضی الله عنه: زه ستا سر قلم کول غواړم ابوجهل ورته وئیل ته خپله توره اوښایه کله چه ابوجهل د ابن مسعود رضي الله عنه زنګ لګیدلې توره اولیدله نو وئی وئیل

ابوجهل: په دې سره نه بلکه زما توره واخله زما سرد تن نه جدا کړه مګر اوږوسره اوچت ئې پریکړه چه زما سر غټ ښکاری او محمد ﷺ اووائی چه واقعی د غټ سردار سر دې

ابن مسعود رضی الله عنه: ئې سرقلم کړو او دنبی کریم په مخکښې ئې کیخودو نبی کریم د شکر سجده اداکړه اووئی فرمائیل زما د امت فرعون اووژلې شو

[۴۰۳۰] چاته ورکړې سره دهغه د دینی فضیلت عدم لزوم

۴۰۳۰-[۳۵] (١) ۱ وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «أَعْطَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَهْطًا وَأَنَا جَالِسٌ، ۳ فَتَرَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِمْ رَجُلًا ۴ وَهُوَ أَعْجَبُهُمْ إِلَيَّ، ۵ فَقُمْتُ، فَقُلْتُ: ۶ مَا لَكَ عَنْ فُلَانٍ؟ ۷ وَاللَّهِ إِنِّي لَأُرَاهُ مُؤْمِنًا،

ترجمه: ۱ سعد ابن ابن وقاص رضي الله عنه وایي ۲ چه یوه ورځ هرکله چې زه [مجلس نبوي ﷺ

---

(١) اخرجه البخاری فی کتاب الزکاة/باب قول الله تعالی: {لا یسألون الناس إلحافا} [البقرة: ۲۷۳] وکم الغنی (رقم-۱۴۷۸) ومسلم فی کتاب الإیمان/باب تألف قلب من یخاف علی إیمانه لضعفه. والنّهی عن القطع بالإیمان من غیر دلیل قاطع (رقم-۲۳۶ - (۱۵۰)

کې] ناست وم، رسول کريم ﷺ يو جماعت ته څه مال ورکړو ③ او په هغه جماعت کې رسول کريم ﷺ يو سړی پرېښودو [يعنی هغه ته يې هيڅ ورنه کړل] حالانکه هغه سړی ځما په نز [د دين د په اعتبار سره] هغوی ټولو کې ښه وو ⑤ په دې [اليدو] سره زه ودريدم او حضور ﷺ ته مې عرض اوکړو ⑥ چې فلانی سړی د پاره څه دی [يعنی تاسو هغه د ځيلي عطيې څخه ولې محروم کړو ؟] ⑦ قسم په خدای زه خو دې مومن صادق ګڼم

حل اللغات: ① رَهْطًا: جماعت، ډله.

① فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَوْ مُسْلِمًا" ② ذَكَرَ ذَلِكَ سَعْدٌ ثَلَاثًا ③ وَأَجَابَهُ بِمِثْلِ ذَلِكَ، ④ ثُمَّ قَالَ: "إِنِّي لَأُعْطِي الرَّجُلَ ⑤ وَغَيْرُهُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْهُ ⑥ خَشْيَةَ أَنْ يُكَبَّ فِي النَّارِ عَلَى وَجْهِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ⑦ وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا ⑧ قَالَ الزُّهْرِيُّ فَنَرَى أَنَّ الْإِسْلَامَ الْكَلِمَةُ، ⑨ وَالْإِيمَانَ الْعَمَلُ الصَّالِحُ.

ترجمه: ① رسول کريم ﷺ وفرمايل [داسې مه وايه چې زه يې صادق مومن ګڼم بلکه] داسې وايه چې زه هغه مسلمان ګڼم ② سعد ﷺ د حضور ﷺ مخکې درې ځله داخبره وکړه ③ او حضور ﷺ هم هر ځل دغه شان جواب ورکړو ④ د دې څخه وروسته حضور ﷺ وفرمايل زه يو سړي ته مال ورکوم ⑤ حالانکه د هغه په نسبت دويم سړی ماته زيات خوښ وي ⑥ او د هغې وجه دا انديښنه ده چې چرته هغه سړی پرمخې په دوزخ کې وانه چول شي (بخاري ، مسلم) ⑦ او د بخاري او مسلم په يو روايت کې دادي ⑧ چه زهري دا ويلي دي چې د دې ارشاد ګرامي پيش نظر ځما دا اعتقاد دی چې اسلام په اصل کې د کلمې [يعنی د کلمهٔ شهادت] نوم دی ⑨ او ايمان د [قلب] عملِ صالح [يعنی د تصديق] نوم دی

حل اللغات: ② أَنْ يُكَبَّ: چه واچولې شي. اوغورزولې شي

تسهيلات:

قوله: أَوْ مُسْلِمًا:

د مذکوره جملې مطلب: علامه طيبی رحمه الله فرمائی چه أو د بل په معنی کښې دی يعنی نبی کريم خودل غواړی چه ايمان يو پټ باطنی امر دی د دې حکم مه لګوئی بلکه صرف په ظاهر باندې حکم اولګوئی کوم چه اسلام دی لهذا ده ته مسلم وايه مؤمن مه وايه.

قوله: فَنَرَى أَنَّ الْإِسْلَامَ الْكَلِمَةُ، وَالْإِيمَانَ الْعَمَلُ الصَّالِحُ:

په ايمان او اسلام کښې د تباين دليل: په دې روايت سره په اسلام او ايمان کښې د تباين پته لګی. تفصيل جلد ۱ کتاب الايمان کښې دی. [الکاشف، ۸/۶۱-۶۰]

[۴۰۳۱] په جنګ بدر کښې د عثمان رضی الله عنه دپاره حصه مقررول

۴۰۳۱—[۴٦] (۱) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ يَعْنِي يَوْمَ بَدْرٍ فَقَالَ: [۳] "إِنَّ عُثْمَانَ انْطَلَقَ فِي حَاجَةِ اللَّهِ، وَحَاجَةِ رَسُولِهِ، [۴] وَإِنِّي أُبَايِعُ لَهُ" [۵] فَضَرَبَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَهْمٍ، [٦] وَلَمْ يَضْرِبْ بِشَيْءٍ لِأَحَدٍ غَابَ غَيْرَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او ابن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دي [۲] چه رسول کريم ﷺ د بدر د جنګ په ورځ خطبه ويلو د پاره اودريدلو او وي فرمايل [۳] بلاشبه عثمان رضی الله عنه د الله او د هغه د رسول په کار تلي دي [۴] څکه زه خپله د هغه د طرف څخه بيعت کوم [۵] بيا رسول کريم ﷺ د حضرت عثمان رضی الله عنه دپاره [د بدر جنګ د غنيمت د مال څخه] حصه مقرره کړه [٦] او حضور ﷺ د حضرت عثمان رضی الله عنه څخه علاوه بل هيڅ سړي د پاره حصه مقرره نه کړه کوم چې په جنګ کې شريك نه وو. (ابوداود)

تسهیلات:

قوله: فَضَرَبَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَهْمٍ:

دعثمان رضی الله عنه دپاره د حصې د مقررولو وجه: حضرت عثمان رضی الله عنه دَ نبی کريم دَ لوربی بی حضرت رقيه رضی الله عنها په بيمارئی کښې خيال ساتلو کښې مشغول وو دَنبی کريم په حکم باندې په جنګ بدر کښې دَ شرکت کولو دَپاره نه وو تلي هغوی ته دَ بدر والو په شان درجه ملاؤ شوه او مال غنيمت کښې ورته حصه هم ملاؤ شوه

[۴۰۳۲] په مال غنيمت کښې د يو اوښ او د لسو چيلو برابرى

۴۰۳۲—[۴۷] (۲) [۱] وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْعَلُ فِي قَسْمِ الْمَغَانِمِ عَشْرًا مِنَ الشَّاءِ بِبَعِيرٍ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او رافع ابن خديج رضی الله عنه وايي [۲] چه رسول کريم ﷺ د غنيمت د مال د تقسيم په وخت يو اوښ د لسو بزو برابر اوګرځولو (نسائي)

تسهیلات:

قوله: يَجْعَلُ فِي قَسْمِ الْمَغَانِمِ عَشْرًا مِنَ الشَّاءِ بِبَعِيرٍ:

دمذکوره جملې مطلب: ددې مطلب دا دي چه نبی کريم ﷺ به د مال غنيمت په تقسيم کښې يو اوښ د لسو بيزو په برابر بي تقسيمولو يعنی که ديو مجاهد په حصه کښې به يو اوښ رسيدو نو بل مجاهد ته به ئي لس بيزي ورکولي

---

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب فيمن جاء بعد الغنيمة لا سهم له (رقم-۲۷۲٦)
(۲) اخرجه النسائی فی السنن کتاب الضحايا/باب ما تجزئ عنه البدنة فی الضحايا (رقم-۴۳۹۱) واحمد فی المسند: ۳/٦٤

[۴۰۳۳] دمال غنيمت مال په آسماني اور سره سوزېدل

۴۰۳۳—[۳۸] (١) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «غَزَا نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ، ③ فَقَالَ لِقَوْمِهِ: ④ لَا يَتْبَعْنِي رَجُلٌ مَلَكَ بُضْعَ امْرَأَةٍ ⑤ وَهُوَ يُرِيدُ أَنْ يَبْنِيَ بِهَا وَلَمَّا يَبْنِ بِهَا ⑥ وَلَا أَحَدٌ بَنَى بُيُوتًا وَلَمْ يَرْفَعْ سُقُوفَهَا، ⑦ وَلَا رَجُلٌ اشْتَرَى غَنَمًا، ⑧ أَوْ خَلِفَاتٍ ⑨ وَهُوَ يَنْتَظِرُ وِلَادَهَا، ⑩ فَغَزَا، ⑪ فَدَنَا مِنَ الْقَرْيَةِ ⑫ صَلَاةَ الْعَصْرِ، أَوْ قَرِيبًا مِنْ ذٰلِكَ،

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ② انبياء عليهم السلام كې د يونبي [يعنى د حضرت يوشع ابن نون عليه السلام ذكر دې چې يو ځل هغوی] د جهاد اراده وكړه [او هركله چې د جهاد د پاره روانيدل] ③ نو هغوی خپل قوم ته اوويل ④ زما سره دې هغه سړې نه ځي چا چې يوې ښځې سره نكاح كړې وي ⑤ او هغه خپل كورته راوستلو سره د هغې سره د جماع [كوروالى] اراده لري او لا تر اوسه پورې ئې ورسره جماع نه وی كړې ⑥ او زماسره دې هغه سړی نه ځي چې هغه كور جوړكړي وي ليكن تراوسه پورې يې په هغې چت نه وي اچولی ⑦ او هغه سړې دې هم زماسره نه ځي چې هغه بلاربې بزې (چيلئ) اخستې وی ⑧ يا ئې بلاربې اوښې اخستې وي ⑨ او د هغې د بچو د پيداكيدو منتظر وي ⑩ د دې ځخه وروسته هغه نبي عليه السلام [اخپل باقي ملګرو سره] د جهاد د پاره روان شو ⑪ او كوم وخت چې هغه كلي ته نزدې ورسيدو [چرته چې د جهاد اراده يې لرله] ⑫ نو د مازيګر وخت شوی وو [يعنى هغه داسې وخت هغه كلي ته ورسيدو چې د مازيګر د مونځ وخت ختم شوی وو يا ختميدو ته نزدې وو]

حل اللغات: ① بُضْعَ امْرَأَةٍ: د ښځې خاص اندام (شرمګاه)، ② أَنْ يَبْنِيَ: چه كوروالي اوكړي. ③ خَلِفَاتٍ: بلاربې اوښې. ④ وِلَادَهَا: د بچې پيدا كيدو دهغې،

① فَقَالَ لِلشَّمْسِ: ② إِنَّكِ مَأْمُورَةٌ وَأَنَا مَأْمُورٌ ③ اللّٰهُمَّ! احْبِسْهَا عَلَيْنَا، ④ فَحُبِسَتْ حَتّٰى فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْهِ ⑤ فَجَمَعَ الْغَنَائِمَ ⑥ فَجَاءَتْ يَعْنِي النَّارَ لِتَأْكُلَهَا، فَلَمْ تَطْعَمْهَا، ⑦ فَقَالَ إِنَّ فِيكُمْ غُلُولًا، ⑧ فَلْيُبَايِعْنِي مِنْ كُلِّ قَبِيلَةٍ رَجُلٌ، ⑨ فَلَزِقَتْ يَدُ رَجُلٍ بِيَدِهِ، ⑩ فَقَالَ: فِيكُمُ الْغُلُولُ، ⑪ فَجَاءُوا بِرَأْسٍ مِثْلِ رَأْسِ بَقَرَةٍ مِنَ الذَّهَبِ، ⑫ فَوَضَعَهَا، ⑬ فَجَاءَتِ النَّارُ فَأَكَلَتْهَا". ⑭ زَادَ فِي رِوَايَةٍ: " ⑮ فَلَمْ تَحِلَّ الْغَنَائِمُ لِأَحَدٍ قَبْلَنَا، ⑯ ثُمَّ أَحَلَّ اللّٰهُ لَنَا الْغَنَائِمَ ⑰ رَأَى ضَعْفَنَا وَعَجْزَنَا ⑱ فَأَحَلَّهَا لَنَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① نو هغه نبي عليه السلام نمر مخاطب كولو سره ورته اوويل ② ته هم په تلو مامور يې او زه هم د دې كلي فتح كولو باندې مامور يم ③ اې الله! ته دا نمر ودروه ④ نو نمر ودرول شو [يعنى د قديم ماهرين فلكيات د نظريې مطابق د نمر رفتار يا د جديد نظر يې مطابق

[1]) اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب قدوم الأشعريين [ص:۱۷۳] واهل اليمن (رقم ۴۳۹۱) ومسلم في كتاب الجهاد والسير/باب تحليل الغنائم لهذه الأمة خاصة (رقم-۳۲ - (۱۷۴۷) واحمد في المسند: ۲/۳۱۷

د زمکي ګردش په حکم الهي سره بند شو چې د شپې د تیارې څخه مخکې مخکې هغه نبي ﷺ جهاد وکړو] تردي چې الله ﷻ هغه نبي ﷺ ته فتح ورکړله ⑤ بیا چې د غنیمت مال جمع کړې شو ⑥ او د هغې د سوزلو د پاره اور راغلو نو هغه اور د غنیمت مال ونه سوزولو ⑦ په دې لیدو سره هغه نبي ﷺ خپلو ملګرو ته وفرمایل په تاسو کې د غنیمت په مال کې خیانت واقع شوې دې [یعنی په تاسو کې چا د غنیمت مال کې خیانت کړې دې چې د هغې په وجه دا اور خپل کار نه کوي] ⑧ نو په تاسو کې د هرې قبیلې یو یو سړې ته پکار دی چې هغه زما سره بیعت وکړي [کوم وخت چې بیعت شروع شو او د هرې قبیلې یو یو سړي خپل لاس د هغه نبي په لاس کې ورکړو] ⑨ نو د یو سړي لاس د هغه نبي په لاس باندې نختې پاتې شو ⑩ هغه نبي هغه سړي ته وفرمایل [په دې ذریعه دا ثابته شوه] چې خیانت ستا د قبیلې د طرفه څخه شوې دې ⑪ بیا د هغه قبیلې خلقو د سرو زرو یو سر راوړو چې د غوایي د سر په شان وو ⑫ او هغه یې کیښودلو ⑬ د دې څخه وروسته اور راغلو او هغه یې وسوزولو ⑭ او په یو روایت کې راوي دا عبارت هم نقل کړې دی ⑮ چې [رسول کریم ﷺ وفرمایل] زمونږ څخه مخکې د هیچا د پاره د غنیمت مال حلال نه وو ⑯ بیا الله ﷻ د غنیمت مال زمونږ د پاره حلال کړو ⑰ الله ﷻ مونږ [مالي طور سره] کمزوري او عاجز ولیدو ⑱ نو د غنیمت مال یې زمونږ د پاره حلال کړو (بخاري . مسلم)

حل اللغات: ⑤ احْبِسْهَا: اودروه دا (نمر)، ⑥ غُلُولًا: خیانت، ⑦ فَلَزِقَتْ: نو اونختلو.

تسهیلات:

قوله: غَزَا نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ:

د نبی مصداق: ① دا یوشع بن نون پیغمبر وو هغه فارغ البال یعنی اوزګار خوانان دَ جهاد دَپاره منتخب کړل دې دَپاره چه بې خطرې او جنګیږی [مسلم: ۷۵/۱]

قوله: إِنَّكِ مَأْمُورَةٌ وَأَنَا مَأْمُورٌ اللَّهُمَّ احْبِسْهَا عَلَيْنَا:

نمر د دوبیدو نه منع کول: یعنی ماته دَ جهاد حکم دې اوتاته دَ آسمان دَ سفر حکم دې اې الله ته دې رامنع کړې دې دَپاره چه زه دَجهاد عمل مکمل کړم او په ښارکښې داخل شم

قوله: فَحُبِسَتْ حَتَّى فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِ:

د مذکوره دعا وجه: دَنمر ډوبیدونه پس دَ هفتې ورځ شروع کیدونکې وه او دَ هفتې په ورځ دَهغوی دَپاره جهاد کول منع وو په دې وجه حضرت یوشع ﷺ دعا اوغوښتله دې دَپاره چه دَ جهاد دَعمل پوره والې اوشی او ښار فتح شی ګنی دَ بلې ورځې پورې به کافران خلق مضبوط شی دې وخت کښې هغوی کمزورې دی او دَهغوی خپې خویدلې دی ددې دعا نه پس نمر رامنع شو کله چه ښار فتح شو نو نمر ډوب شو. ددې نه دَ جهاد

دَاهمیت او عظمت پته لگی. دبنا رفتح کیدو نه پس مال غنیمت رایوځائی کړې شو

قوله: فَلْيُبَايِعْنِي مِنْ كُلِّ قَبِيلَةٍ رَجُلٌ:

د خائن د معلومولو طریقه: مګر دَ دستور مطابق اور هغه اونه سوزولو حضرت یوشع عليه السلام خلقوته دَمصافحې کولو حکم ورکړو. چه دَ خائن لاس دَهغوی لاس پورې اونختلو نو خائن معلوم شو دَدې حدیث نه معلومه شوه چه دَ یهودو انبیاؤ کرامو جهاد کړې دې. کوم خلق چه جهاد ته دهشت ګردي وائی هغوی په خپل نبی باندې اعتراض کوی [مسلم: ۱۷۵/۱]

[۴۰۳۳] په مال غنیمت کښې د خیانت عذاب

۴۰۳۳-[۳۹] (١) [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [٢] حَدَّثَنِي عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: "[٣] «لَمَّا كَانَ يَوْمُ خَيْبَرَ [٤] أَقْبَلَ نَفَرٌ مِنْ صَحَابَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٥] فَقَالُوا: فُلَانٌ شَهِيدٌ، وَفُلَانٌ شَهِيدٌ، [٦] حَتَّى مَرُّوا عَلَى رَجُلٍ، [٧] فَقَالُوا: فُلَانٌ شَهِيدٌ. [٨] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَلَّا [٩] إِنِّي رَأَيْتُهُ فِي النَّارِ [١٠] فِي بُرْدَةٍ غَلَّهَا، أَوْ عَبَاءَةٍ،

توجمه: [١] او ابن عباس رضي الله عنهما وايي [٢] چه حضرت عمر ابن خطاب رضي الله عنه مونږ ته دابیان وکړو [٣] چې د خیبر ورځ راغله [یعنی څه وخت چې غزوه خیبر ختمه شوه] [٤] نو د نبي کریم ﷺ دصحابه وُ رضي الله عنهم څه خلق راغلل [٥] او [په خپل مینځ کې] یي اوویل چې فلانې سړې شهید دې. فلانې سړې شهید دې [یعنی په هغه ورځ چې کوم مسلمانان شهیدان شوي وو د هغوی نومونه اخستو سره د هغوی د شهادت ذکر یي کولو] [٦] تردې چې هغه خلق د یو سړی [په لاش] باندې تیر شو [٧] او هغوی اوویل چې دا فلانی سړې شهید دې [٨] رسول کریم ﷺ په دې اوریدو سره وفرمایل هیڅ کله نه [تاسو خلقو چې کومه معنی کې دده ته شهید وایئ هغه صحیح نه ده] [٩] ځکه چې ما داسړې په دوزخ کې سوزیدونکی لیدلې دې [١٠] چه د غنیمت مال څخه ئې یو څادر یا وي فرمایل یو کرښیز [الکیردار] کمبل غلا کړې دې

[١] ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[٢] يَا ابْنَ الْخَطَّابِ اذْهَبْ فَنَادِ فِي النَّاسِ: [٣] أَنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا الْمُؤْمِنُونَ" [٤] ثَلَاثًا. [٥] قَالَ: فَخَرَجْتُ فَنَادَيْتُ: [٦] أَلَا إِنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا الْمُؤْمِنُونَ، [٧] ثَلَاثًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

توجمه: [١] بیا حضور ﷺ زه مخاطب کولو سره وفرمایل [٢] اې ابن خطاب، لاړ شه د خلقو په مینځ کې دا اعلان وکړه [٣] چې جنت ته به [ابتداءً] صرف مؤمن یعنی کامل مؤمن داخلیږي [٤] دا اعلان درې خله اوکړه [٥] حضرت عمر رضي الله عنه وايي چه زه ووتلم او دا اعلان

---

١) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب السیر عن رسول الله صلّی الله علیه وسلّم/باب ما جاء فی الغلول (رقم-١٥٧٤) واحمد فی المسند: ٣٠/١

مې اوکړو ⑥ چې خبردار په جنت کې به صرف مومن داخليږي. ⑦ دا اعلان مې درې ځله اوکړو. (مسلم)

حل اللغات: ① بُرْدَةٍ: څادر، ② عَبَاءَةٍ: کمبل.

تسهيلات:

قوله: فَقَالُوا: فُلَانٌ شَهِيدٌ:

په مقتول في المعركه باندې د شهيد اطلاق: د مذکوره صحابه کرامو مطلب دا وو چه دا خلق شهيدان دي نو فوراً جنت اورسيدل، ځکه چه د شهيد روح وتلو سره جنت ته رسي او دې ته شهيد هم ځکه وائي چه جنت ته حاضريدونکي. نو ددې په جواب کښې نبي کريم ﷺ وفرمايل چه دا کس شهيد خو دې ليکن جنت ته نه دې رسيدلې بلکه د خپل خيانت په سزا کښې مبتلا دې او ځه ئي د اور په عذاب کښې وينم.

قوله: لَا يَدْخُلُ الجَنَّةَ إِلَّا المُؤْمِنُونَ، ثَلَاثًا:

په عدمِ دخولِ جنت کښې درې اقوال: ① ابن الملک فرمائي چه په عرف کښې مومن هغه کس ته وئيلې شي کوم چه په نبی کريم ﷺ باندې او د نبی کريم ﷺ په شريعت باندې ايمان لري په دې اعتبار سره چه کوم کس خيانت وکړو نو ګويا چه دې کس د نبی کريم ﷺ او د هغه د دين د تصديق نه انکار وکړو او د تصديق په وجهې سره چه کوم احکام نافذ شوی په هغه ئي عمل ونه کړو نو لهذا خيانت ئي وکړو او دمؤمنانو د جماعت نه خارج شو. خودا مطلب صحيح نه دې.

② د نبی کريم ﷺ دا فرمان په وعيد، زجر وتشديد باندې مشتمل دې.

③ د نبی کريم ﷺ ددې ارشاد نه مراد متقي او پرهيزګار مؤمن دې. او داخليدو نه مراد بغير د عذاب نه د داخليدل دې.

د حديث صحيح مطلب: ددې ارشاد مطلب به داشي چه کوم مؤمن متقي او پرهيزګار نه وي او ګناه کوي نو دغه کس به په عذاب کښې مبتلا کيږی چه د ګناهونو سزا ورته ملاؤشی او د سزا نه بعد به جنت داخليږی.

قوله: كَلَّا إِنِّي رَأَيْتُهُ فِي النَّارِ:

د رؤيت في النار څخه مراد: چه ما هغه په جهنم کښې ليدلې دې. دا په ظاهره د هغه نصوصو خلاف دې کوم چه په دې خبره دلالت کوی چه چا لره حقيقتاً په جهنم کښې اچول به د حشر نه بعد واقع کيږی لهذا دا ارشاد به په تمثيل باندې محمول وی.

[۸]بَابُ الْجِزْيَةِ

دَ جزیه بیان

خلاصة الباب:

فيه سبعة أحاديث مشتملة على خمس مسائل:

① من يؤخذ عنه الجزية: ۱، ۲، ۴.

② من لا يؤخذ عن الجزية: ۳.

③ أخذ العشور من الجزية: ۵.

④ حكم الضيافة من الجزية: ۶، ۷.

⑤ مقدار الجزية: ۷.

د جزیه لغوی معنی: جزیه دَ جزاء نه جوړه شوې ده چه په لغوی اعتبار سره دَ بدلې په معنی کښې دې

د جزیه اصطلاحی تعریف: "الجزية مايؤخذمن أهل الذمة"یعنی جزیه هغه خاص محصول اوټیکس ته وائی چه دَ ذمیانونه دَهغوی دَ جان او دَمال دَ حفاظت په عوض کښې اخستلې شی په اسلامی حکومت باندې ذمه واری راځی چه هغوی دې دَ ذمیانو دَ جان اومال اودَ هغوی دَعزت او دَ ناموس حفاظت اوکړی

د جزیه دوه فائدې: ① چې کله هغوی اسلام او اهل اسلام دَ نیزدې نه اوګوری او دَ هیڅ یوطرف نه په هغوی باندې څه زور ظلم اوزیاتې نه وی اوهرطرف ته دَ اسلام شان اوغلبه وی د نفاذ اسلام برکات به وی نودیر زر به دَ اسلام آفاقی کشش هغوی دَ اسلام طرف ته راکاږی چنانچه په لاکهونوذمیانو په قرون اولی کښې هم دغه شان اسلام قبول کړې دې

② چه کله په ذمیانوباندې د جزیې بوج وی دَهغوی قانون به مغلوب وی اودَ اسلام قانون به غالب وی نو په کفرباندې پاتې کیدوکښې به دُ کافرانو هیڅ فائده نه وی بلکه دنیاوی نقصان به نی هم وی او اخروی نقصان هم په دې وجه دَ جزیه دَ ذلت نه دَ وتلودپاره اوددنیاوی فوائدو په غرض سره به هغوی دَاسلام طرف ته راځی

د جزیه قسمونه:

① **بعد الحرب:** چه اسلامی لښکردَ کافرانو په یوه علاقه باندې حمله کوی اودَ جنګ نه پس هغه فتح کوی اودَهغې نه پس دَ علاقې دکافرانو دَ ځان خلاصی په عوض په هغوی باندې جزیه نافذ کوی په دې کښې دَ وخت دَ خلیفه او دَلښکردَ امیر مرضی وی چه هغه څومره جزیه مقررکوی دَ کافرانو مرضی نه وی.

② **بعد الصلح**: دَ صلح په توګه ده هغه داچه کافران دَ ویرې دَ وجهې جنګ اونه کړی بلکه دَ صلح په توګه اسلامی لښکر په مخکښې جزیه ورکول قبول کړی دغه شان په جزیې کښې دَ طرفینو رضامندی ی دَ صلح نه پس په مسلمانانوباندې دَدې قائم ساتل لا زمی دی په دې صورت کښې دَ جزیه مقدار دَ طرفینو په رضامندئی سره وی

په ذمیانوباندې دَ اسلام دَ طرفه شرطونه: دَ جزیه اداکولوسره سره اسلام په ذمیانوباندې یوڅونور شرائط هم لګوی کوم چه دادی.

① ذمی به دَ خپل عبادت په ښکاره مشهورتیانه کوی

② ذمی به نوې ګرجا یا عبادت خانه نه جوړوی.

③ په بدن به څه خصوصی علامت ساتی چه دَ ذمی کیدو معلومات کیږی لکه دَ زنار استعمال یا په سرباندې چوټته ساتل وغیره

④ دَ اسلامی قوانینو او قواعدو دَ توهین اوسپکاوی نه به ډډه کوی

⑤ دَمسلمانانونه به زیات دَ شان شوکت لباس نه اچوی.

⑥ ذمیان به دَمسلمانانو نه عالی شان مکانات نه جوړوی.

⑦ جزیه به پخپله راوړی او په دفترکښې به اودریږی او په خپل لاس به ئی اداکوی

⑧ په اس باندې به سورلی نه کوی یا دَ مرسډیز او لینډکروزر سورلی به نه کوی

⑨ که چرې مسلمان محصل هغوی له لاړ شی نوذمی لره به دَ ګریوان نه نیسی او جټکه کولوسره به دَهغه نه جزیه وصول کوی

دا نهه شرائط دی چه دَدې نه پس دانه شی وئیلې کیدې چه یوذمی سرې به بغیرد اسلام قبلولونه پاتې شی. جزیه مقررکول په حقیقت کښې دَاسلام یودعوت دې چه کوم کافر دَ خپل خالق اومالك نه یاغی کیږی هغوی سره دا سلوك کول هم دَهغوی سره رعایت دې

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۰۳۵] د مجوسیا نو څخه د جزیه د اخستلو جواز

۲۰۳۵—[۱] (١) ① عَنْ بَجَالَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② كُنْتُ كَاتِبًا لِجَزْءِ بْنِ مُعَاوِيَةَ عَمِّ الْأَحْنَفِ، ③ فَأَتَانَا كِتَابُ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، ④ قَبْلَ مَوْتِهِ بِسَنَةٍ: ⑤ فَرِّقُوا بَيْنَ كُلِّ ذِي مَحْرَمٍ مِنَ الْمَجُوسِ. ⑥ وَلَمْ يَكُنْ عُمَرُ أَخَذَ الْجِزْيَةَ مِنَ الْمَجُوسِ ⑦ حَتَّى شَهِدَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ ⑧ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَهَا مِنْ مَجُوسِ هَجَرَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الجزیة /باب الجزیة والموادعة مع أهل الحرب (رقم-۳۱۵۶) و ابو داود فی کتاب الخراج والإمارة والفیء /باب فی أخذ الجزیة من المجوس (رقم-۳۰٤۳) والترمذی فی کتاب السّیر عن رسول اللّٰه صلّی اللّٰه علیه وسلّم /باب ما جاء فی أخذ الجزیة من المجوس (رقم-۱۵۸۶)

ترجمه: ١ حضرت بجاله [تابعي] وائي ٢ چه زه دحضرت جزء ابن معاويه [تابعي چې د حضرت احنف تره وو]. سره منشي وم ٣ يو وخت مونږ ته د امير المؤمنين حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه يو خط راغلو ٤ دحضرت عمر رضي الله عنه دوفات څخه يو كال مخكې ٥ [په هغې كې يې داحكم كړي وو] چې مجوسيانو [يعنى آتش پرستو] كې د هغوی د محارمو په مينځ كې جدايي راولئ ٦ [او راوي وايي] چې حضرت عمر رضي الله عنه به مخكې د مجوسيانو څخه جزيه نه اخستله ٧ تردي چې عبد الرحمن ابن عوف رضي الله عنه شاهدي وركړه ٨ [يعنى هغه دابيان وكړو] چې رسول كريم ﷺ د هَجَر د مجوسيانو څخه جزيه اخستي وه ابيا حضرت عمر رضي الله عنه د مجوسيانو څخه جزيه اخستل شروع كړل] «بخاري»

حل اللغات: ① اَلْمَجُوس: آتش پرست، ② هَجَرَ: د يوې علاقې نوم دي

١ وَذَكَرَ حَدِيثَ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، إِذَا أَمَّرَ أَمِيرًا عَلَى جَيْشٍ فِي "بَابِ الْكِتَابِ إِلَى الْكُفَّارِ".

ترجمه: ١ اود بريده رضي الله عنه روايت اذا امّر اميرا على جيش الخ به باب الكتاب الى الكفار كې ذكر شوي دي

تسهيلات:

قوله: فَرِّقُوا بَيْنَ كُلِّ ذِي مَحْرَمٍ مِنَ الْمَجُوسِ:

دمجوسيانو په مينځ كښې د تفريق وضاحت: دَ مجوسيانو په نيز مور لور خور وغيرها محارمو سره نكاح كول هيڅ دَ شرم خبره نه وه اونه منع وو په دې وجه حضرت عمر رضي الله عنه حكم وركړو چه داسې محارم دَتعلق ازدواج نه جدا كړئ

قوله: أَخَذَهَا مِنْ مَجُوسِ هَجَرَ:

دهجر څخه مراد: يمن سره نيزدې دَ يوې علاقې نوم دي كومې ته چه نن صبا احساء وائي دې نه علاوه مديني سره نيزدې د يوې علاقې نوم هم هجر وو

قوله: حَتَّى شَهِدَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ:

دعمر رضي الله عنه د مجوسيانو څخه جزيه اخستل: حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په شروع كښې دَمجوسيانو نه جزيه نه اخستله ځكه چه په قرآن كريم كښې آيت وو ٩ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ حَتّٰى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَّدٍ وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ ۞ ٧ [سورة التوبه، ٢٩] دَدې آيت نه په ظاهره معلوميدله چه دَ جزيې تعلق صرف د اهل كتاب يهود اونصاراؤ سره دي

مجوس اهل كتاب نه دي بلكه آتش پرست دي كله چه عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه گواهي وركړه چه نبی كريم دَ هجر علاقې دَ مجوسيانونه جزيه اخستله نوبيا عمر فاروق رضي الله عنه اخستل شروع كړه. دَ جزيه نه اخستلو مطلب دادې چه دوی ژوندی مه پريږدئی بلكه قتل دې كړې شی.

د عجمو کافرانو څخه د جذیه په اخستلو کښې ۲ مذاهب:

دَ اهل کتاب او مجوس نه علاوه دَنورو عجم کافرانو نه د جزیه اخستلو په حکم کښې اختلاف دې

① دَ امام شافعی رحمه الله په نیزدَاهل کتاب نه علاوه به دَ نورو کافرانونه جزیه نه شی اخستې که هغه عربی وی که عجمی. البته دَمجوسونه جزیه اخستل شته

② دَاحنافو په نیز اهل کتاب وغیره ټولو کافرانونه جزیه اخستلې شی البته دَ مشرکین عرب اومرتدینو نه به جزیه نه شی قبلولې. دَدوی دَپاره یا اسلام دې یا توره ده

د امام شافعي دلائل: ① امام شافعی رحمه الله ﴿مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ﴾ نه دَمفهوم مخالف په توګه استدلال کړې دې

جواب مفهوم مخالف زمونږ په نیزڅه دلیل نه دې لهذا دا پیش کول بیکاره دی

② دَمجوسیانو تخصیص اودَهغوی نه جزیه اخستل دَ زیر بحث حدیث دَ وجهې دی

د احنافو دليل: عجم کافران غلامان جوړول دَټولو په نیز جائز دی. دا دَدې خبرې دلیل دې چه دَهغوی نه جزیه اخستل هم جائز دی ځکه چه کله ژوندی پریخودل دکفر په حالت کښې جائز شو نوبیا جزیه اخستل هم جائز کیدل پکاردی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۰۳۶] د جزیه مقدار

۲۰۳۶ ـ [۲] ( ) [۱] عَنْ مُعَاذٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا وَجَّهَهُ إِلَى الْيَمَنِ [۳] أَمَرَهُ أَنْ يَأْخُذَ مِنْ كُلِّ حَالِمٍ يَعْنِي: مُحْتَلِمٍ دِينَارًا، [۴] أَوْعَدْلَهُ مِنَ الْمَعَافِرِيِّ: ثِيَابٌ تَكُونُ بِالْيَمَنِ» رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت معاذ رضی الله عنه څخه روایت دې [۲] کوم وخت چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم حضرت معاذ رضی الله عنه قاضي او حاکم جوړولو سره یمن ته لیږلو [۳] نو هغه ته یې داهدایت اوکړو چې (هلته) دې د هر بالغ څخه یودینار د جزیې په طور واخلي [۴] یا د یو دینار د قیمت معافري کپړه واخلی چې په یمن کې تیاریږي (ابوداود)

حل اللغات: ① مُحْتَلِمٍ: احتلام والا، بالغ. ② الْمَعَافِرِيِّ: معافری دَهمدان دَ یوې قبیلې نوم دې، هم دَدوی طرف ته دا کپړه منسوب وه

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الخراج والإمارة والفیء /باب باب فی تعشیر أهل الذمّة إذا اختلفوا بالتّجارات(رقم- ۳۰۳۸)

تسهيلات:

قوله: أَنْ يَأْخُذَ مِنْ كُلِّ حَالِمٍ يَعْنِي: مُحْتَلِمٍ دِينَارًا:

دجذيه مختلف مقادير: ① يعني دَ بالغ سړی نه به يو دينار جزيه اخستې شي
② که دينار نه وی نودَ هغې دينارد قيمت برابر معافری کپړه به اخستې شي

قوله: أَوْعَدْلَهُ مِنَ الْمَعَافِرِيِّ ثِيَابٌ تَكُونُ بِالْيَمَنِ:

د معافری مفهوم: معافری هم دَدوی طرف ته دا کپړه منسوب وه دَ روايت په آخره کښې راوی اشاره اوکړه چه دا به په يمن کښې جوړيدونکې يوه کپړه وه علماؤ ليکلی دی چه اوس معافری دَ يوې کپړې نوم دې اونسبت ختم شوې دې.

په ذمی باندې د جزيه په لزوم کښې د غنا په شرط کښې ۲ مذاهب:

① دَ شوافع مسلك دې چه بالغ سړې كه مالدار وی اوكه غريب وی په هغوی به هم په يوه اندازه باندې جزيه راځی
② دَ احنافو په نيزپه صاحب حيثيت مالداربانديې دكال ۴۸درهم جزيه ده په متوسط باندې ۲۴ درهم ده او په ادنیٰ فقيرباندې دولس درهم سالانه دی.

داول فريق دليل: زيربحث حديث د دوی دليل دې د دې څخه په ظاهره معلوميږی چه بالغ سړې كه مالدار وی اوكه غريب وی په هغوی به هم په يوه اندازه باندې جزيه راځی

داول فريق د دليل دوه جوابونه: ① زير بحث حديث مجمل هم دې د نورو آثارو څخه د جذيه په مقدار كښې تفصيل بيان شوې دې.
② دجذيه مذكوره مقدار دَ صلح په صورت باندې محمول هم دې

د دويم فريق دليل: احنافو دَ څه مرسل رواياتو او دَ حضرت عمر ﷛ دَ عمل نه استدلال كړې دې

[۲۰۳۷] په مسلمانانو د جزيه عدم وجوب

۲۰۳۷—[۳] (۱) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«لَا تَصْلُحُ قِبْلَتَانِ فِي أَرْضٍ وَاحِدَةٍ، ③ وَلَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِ جِزْيَةٌ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① ابن عباس ﷟ وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمايل ② په يوه زمكه كې دوه قبلې نه دي كيدل پكار ③ او مسلمانانو باندې جزيه عائد كيدی نشي (احمد ترمذي ابوداود)

---

(۱) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الخراج والإمارة والفىء/ باب فى الذمّىّ يسلم فى بعض السنة هل عليه جزية (رقم-۳۰۵۳) والترمذى فى كتاب الزّكاة عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما جاء ليس على المسلمين جزية (رقم-۶۳۳) واحمد فى المسند: ۲۲۳/۱

تسهيلات:

قوله: لَا تَصْلُحُ قِبْلَتَانِ فِي أَرْضٍ وَاحِدَةٍ:

د مذكوره جملي په مفهوم كښې دوه اقوال: ① دهيڅ يومسلمانانو د زمكي دپاره دامناسب اوصالح نه دى چه هلته دَ مغالبې اومقابلې اودَ مساوات په توګه دوه قبيلې آبادې وى دَدې به دا صورت وى چه په مسلمان ملك كښې كافران بغيرد جزيې اوسيږى يا به مسلمانان مجبوره جوړيدو سره دكافرانو په مينځ كښې ذلت سره اوسيږى

② دَيهودو او نصارىٰ دَپاره په جزيرهٔ عرب كښې دَاوسيدو هيڅ ګنجائش نشته ځكه چه دَهغوى قبله بيت المقدس ده اودَمسلمانانوقبله بيت الله ده اودا دواړه په مخالف طرفونوكښې دى لهذا دوى دَ جزيرهٔ عرب نه بهر اوباسئى لكه چه دَ "ارض واحدة" نه مراد جزيرهٔ عرب ده

قوله: وَلَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِ جِزْيَةٌ:

د مذكوره جملي په مفهوم كښې دوه اقوال: ① چه يو ذمى سړې وو هغه جزيه وركوله ليكن بيا هغه بنده كړه ليكن څه موده پس هغه مسلمان شو اوس په هغه چه كومه باقي جزيه وه دَ هغې وركول لازم نه دى ځكه چه اوس هغه مسلمان شوې دې او په مسلمان باندې جزيه نه وى.

② يوذمى سړې وو په هغه باندې جزيه مقرر وه بيا هغه مسلمان شو اوس هغه ذمى نه بلكه مسلمان دې نو اوس په هغه باندې جزيه نشته دې

[۴۰۳۸] په جزيه باندې صلح كول

۴۰۳۸–[۳] (۱) ① وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «بَعَثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ إِلَى أُكَيْدِرِ دُومَةَ ③ فَأَخَذُوهُ، ④ فَأَتَوْا بِهِ، ⑤ فَحَقَنَ لَهُ دَمَهُ، ⑥ وَصَالَحَهُ عَلَى الْجِزْيَةِ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ».

ترجمه: ① حضرت انس رضي الله عنه وايي ② چه رسول كريم ﷺ حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه د اكيدر دومه مقابلې د پاره وليږلو ③ نو حضرت خالد رضي الله عنه هغه د هغه د ملګرو سره اونيولو ④ او د حضور ﷺ په خدمت كې يې پيش كړو ⑤ حضور ﷺ د هغه خون معاف كړو ⑥ او په جزيه باندې يې د هغه سره صلح وكړله (ابوداود)

حل اللغات: ① فَحَقَنَ: نو معاف ئې كړو.

(۱) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الخراج والإمارة والفيء/باب باب فى تعشير أهل الذمّة إذا اختلفوا بالتّجارات(رقم-۳۰۳۷)

تسهيلات:

قوله: بَعَثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ إِلَى أُكَيْدِرِ دُومَةَ:

دحديث پس منظر: دومة تبوك سره خواکې دَ يو ښارنوم دې. دَهغې يومقامى بادشاه وو دَ کوم نوم چه اکيدر وو. دا دَ روما دَ سلطنت ماتحت وو. دَ غزوه تبوك په موقع باندې نبى کريم حضرت خالد ﷺ ته حکم ورکړو چه لاړشه او اکيدر ژوندې گرفتارکړه او راوله ئې. حضرت خالد ﷺ اوفرمائيل يارسول الله هغه سرې په ښارکښې دننه محفوظه قلعه کښې دې ژوندې ئې څنګه راولم؟ نبى کريم هغه ته اوفرمائيل هغه به تاته په ځنګل کښې ملاؤشى. حضرت خالد ﷺ چه کله قلعه ته نيزدې اورسيدو نو په دې کښې يوه غوا راغله او دَ قلعې ديوال سره ئې سر اومږلو. اکيدر هغې پسې راؤوتلو. غوا دَ ځنګل طرف ته او تختيدله او اکيدر ورپسې وو. حضرت خالد ﷺ په اکيدرباندې حمله اوکړه دَهغه رور او وژلې شو او پخپله گرفتارشو. کله چه اکيدر نبى کريم ته راوستلې شونونبى کريم دَهغه اکرام اوکړو. هغه ئې په خپل ښار باندې په ځائى اوساتلو مګر په هغه باندې ئې سالانه جزيه مقررکړه. دوه زره اوښانو اته سوه اسونو څلور سوه زغرو او څلور سوو نيزو باندې صلح اوشوه. روستو بيا اکيدر مسلمان شو. دَاکيدرنه علاوه هم دَډيرو کلو سردارانو نبى کريم سره صلح اوکړه اوجزيه ئې قبوله کړه. شل ورځې پس نبى کريم مدينې طرف ته واپس شو

[٢٠٣٩] په يهودو او نصاروڈ عشر (غيراصطلاحى) تقررى

٢٠٣٩–[٥] (١) ① وَعَنْ حَرْبِ بْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَبِي أُمِّهِ، عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، ② أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ③ («إِنَّمَا الْعُشُورُ عَلَى الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى، ④ وَلَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ عُشُورٌ»). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① حرب ابن عبيد الله دخپل نيکه [نانا] څخه او هغه د خپل پلار څخه نقل کوي ② چې رسول کريم ﷺ وفرمايل ③ يهودو او نصارى وو باندې عشر [يعنى لسمه حصه] واجب ده ④ [هرکله چې مسلمانانو باندې څلويښتمه حصه واجب ده نو] په دوئ عشر واجب نه دي (احمد ابوداود)

حل اللغات: ① اَلْعُشُورُ: دَدې مفرد عشر دې دَمال لسمې حصې ويستلو ته عشر وائي

(١) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الخراج والإمارة والفىء/باب باب فى تعشير أهل الذمّة إذا اختلفوا بالتّجارات(رقم-٣٠٤٦) واحمد فى المسند: ٣/٣٧٤

تسهيلات: قوله: إِنَّمَا الْعُشُورُ:

دعشر څخه مراد: دلته دعشر نه اصطلاحی عشر مرادنه دي بلکه لسمه حصه مراد ده او ددې لسمې حصې څخه هغه لسمه حصه مراد ده کومه چې په چونګۍ باندې دهغوی د مالونونه عموما لسمه حصه اخستې شي په دې وجه نی ورته عشر اووئیلو

د زمکې دوه قسمونه: ① عشری هغه زمکې ته وائی دکومې مالك چه مسلمان وی په مسلمان باندې صرف دخپلې زمکې د وجهې عشر فرض دي

② خراجی هغه زمکه وی دکومې مالك چه کافر اوذمی وی په هغه باندې د زمکې خراج لا زمی دي

قوله: عَلَى الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى:

په اهل کتابو د خراج څخه سوا د بل عشر په حکم کښې دوه مذهبونه:

① دَ شوافع مسلك دادې چه کله په يهودو اونصاراؤ باندې جزيه مقرره نوهم دغه کافی ده دې نه علاوه په هغوی باندې هيڅ عشر وغيره نشته دې.

② احناف فرمائی چه که چرې کافران په خپلو علاقو اوسرحدونوباندې دَمسلمانانو دَ مالونونه عشر اخلی نوموږبه هم دَهغوی نه عشر اخلو ګنی نه به اخلو داحديث دَ احنافو مؤيد دي

قوله: وَلَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ عُشُورٌ:

په مسلمان د عدم عشر مطلب: دَحديث مطلب دادې چه په مسلمان باندې دَهغه په اموال تجارت کښې عشر نشته دې. دَ مسلمان دَ زمکې دَعشرنفی دلته مقصودنه ده اوخراج سره سره په اهل کتاب باندې دَهغوی په اموال تجارت کښې عشرهم دي

[٣٠٣٠] په ذميانو د معاهدې په پوره کولو جبر کول

٣٠٣٠—[٦] (١) ① وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا نَمُرُّ بِقَوْمٍ ③ فَلَا هُمْ يُضَيِّفُونَا ④ وَلَا هُمْ يُؤَدُّونَ مَا لَنَا عَلَيْهِمْ مِنْ حَقٍّ ⑤ وَلَا نَحْنُ نَأْخُذُ مِنْهُمْ ⑥ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (إِنْ أَبَوْا إِلَّا أَنْ تَأْخُذُوا كَرْهًا فَخُذُوا)». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① عقبه ابن عامر ﷺ وايي ② چه ما رسول اللهﷺ ته دا عرض اوکړو يا رسول الله! موږ چې جهاد ته تلو سره د يو [فلاني] قوم په آبادئ تيريږو ③ نو هغه خلق نه زموږ ميلمستيا کوي ④ او نه موږ ته هغه څيز راکوي چې د هغې موږ [د اسلام له مخا] په هغوی حق لرو [يعنی د اسلام د مخه چې په هغوی زموږ داحق دی چې هغوی قرض

(١) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب السّير عن رسول الله صلّى الله عليه وسلّم/باب ما يحلّ من أموال أهل الذّمّة (رقم-١٥٨٩)

وغیره راکولو سره زمونږ ضرورتونه پوره کړي او زمونږ نګراني وکړیا هغوی دانه پوره کوي ⑤ او مونږ هغوی څخه څه څیز په زبر دستئ نه حاصلوو [په دې وجه مونږ سخت پریشانه کیږو او د هغوئ د دې رویه په وجه مونږ اضطراري حالت او لوی نقصان کې مبتلا کیږوا ⑥ رسول کریمﷺ وفرمایل که هغه خلقو [ستاسو میلمستیا کولو یا ستاسو په لاس نقد او قرض څه څیز خرڅولو څخه] انکار وکړو [او په دې صورت کې هغوی څخه څه څیز په زبردستئ د اخستلو څخه علاوه څه چاره نه وي] نو په زبردستئ تري نه واخلي (ترمذي)

تسهیلات:

قوله: إِنَّا نَمُرُّ بِقَوْمٍ فَلَا هُمْ يُضَيِّفُونَا:

دحدیث پس منظر: دَ رسول الله ﷺ په زمانه کښې به مجاهدین هرطرف ته دَ جهاد دَپاره تلل راتلل لارې به خالي وې چرته نه چرته به دَ ذمی خلقو آبادئی وې په دې وجه نبی کریم په دې ذمی خلقو باندې دَ معاهدې لاندې دَ جزیې سره دا هم لازمی کړې وو چه کله تاسو سره مسلمانان تیریږی نو دَ مجبورئی په وخت به په هغوی باندې خوراك کوئی او په کور کښې به ورله دَ اوسیدو انتظام کوئی.

قوله: إِنْ أَبَوْا إِلَّا أَنْ تَأْخُذُوا كَرْهًا فَخُذُوا:

د چا نه په زور د خوراک اخستلو عدم جواز: دَ یومسلمان دَپاره جائز نه دی چه هغوی دې دَاهل کتاب نه په زور باندې خوراك اوخوری. اوپه کومو احادیثو کښې چې که چرې اهل کتاب خوراك درنه کړو نوتاسو په زور دَهغوی نه اخلئی نودغه ټول په لاندې صورتونو باندې محمول دی

د ذمیانو څخه په زور د خوراک اخستلو جواز صورتونه: ① چې د مخمصې حالت وی د لوږې څخه انسان هلاکیږی نوهغه دپاره د بل څخه په زور د خوراک څیز اخستل جائزدی ② د مجبوری په وخت کښې په قرض سره د بل زوریوڅیز اخستل جائز دی چې مجبوری ختمه شی نوبیا به ئې ورته ورکوی

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۰۳]په ذمیانو د مسلمانانو د میلمستیا وجوب

۲۰۳- [٤] (١) ① عَنْ أَسْلَمَ ② أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، ضَرَبَ الْجِزْيَةَ ③ عَلَى أَهْلِ الذَّهَبِ ④ أَرْبَعَةَ دَنَانِيرَ، ⑤ وَالْوَرِقِ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا، ⑥ مَعَ ذَلِكَ أَرْزَاقُ الْمُسْلِمِينَ وَضِيَافَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

(١) اخرجه مالک فی الموطا کتاب الزکاة / باب جزیة أهل الکتاب والمجوس (رقم-٤٣)

ترجمه: [١]حضرت اسلم تابعي رحمه الله وايي [٢] چې حضرت عمر ابن خطاب رضي الله عنه [اخپل د خلافت په دورکي] هغوی [ذمیانو] باندې جزیه مقرره کړه [٣] چې ډیر زیات سره زر یې لرل [٤] څلور دیناره [٥] او کومو ذمیانو چې سپین زر لرل په هغوی ئ څلویښت درهمه جزیه مقرره کړه [٦] او د دې څخه علاوه ئ په هغوی د مسلمانانو د خوراك څښاك او د دریو ورځو میلمستیا مقرره کړي وه (مالك)

تسهيلات:

قوله: مَعَ ذٰلِكَ أَرْزَاقُ الْمُسْلِمِينَ وَضِيَافَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ

په ذمیانو مسلمانانو ضیافت حق: دې نه مراد هم هغه ضیافت دې دکوم ذکرچه دَدې نه وړاندې حدیث کښې راغلې دې دَحالاتو او اشخاصو دَ تفاوت دَ وجهې جزیه مقرر کولو کښې هم مختلف صورتونه په وجود کښې راغلي دی. دلته دَ کال څلوردیناره دَ سړی په سر ذکردی اوڅلویښت درهم دَ کال ذکردی. لیکن دې سره سره دَ ضیافت حق هم یو اضافی حق دې [سورة النساء:١٢٨]

[٩] بَابُ الصُّلْحِ

دَصلح بیان

خلاصة الباب:

فيه ثمانية أحاديث مشتملة على ثلاث مسائل:

① تفصيل صلح الحديبية: ١، ٢، ٣، ٥، ٨۔

② بيعة النساء يوم صلح الحديبية: ٤، ٧۔

③ الخيانة في عهد الصلح: ٦۔

دصلح لغوی معنی: په مغرب کښې دی چه صلح په معنی د نیکئ د فساد ضد دې او صلح اسم په معنی د مصالحة دې او تصالح د مخاصمت ضد دې

د حربیانو سره د صلح کولو حکم: امام ابن الهمام رحمه الله فرمائی چه اهل حرب سره یا د هغوی قوم سره د مال په بدله کښې بغیر د مال نه که امام المسلمین مناسب ګنړی او په هغې کښې د مسلمانانو مصلحت هم وی نو صلح کول جائز دی **لقوله تعالى ﴿ وإن جنحوا للسلم فاجنح لها ﴾ الاية**

د صلح د عدم جواز صورت: د صلح د جواز دپاره د مصلحت للمسلمين قيد بالاجماع ملحوظ دې خو که صلح کول د مصلحت خلاف وی نو بالاجماع صلح کول جائز نه دی.

قاضی ته دصلح اختیار: هم دغه شان قاضی ته هم حق شته چه خصمینو په مینځ کې د رفع

اللنزاع صلح ذکړی لکه څنګه چه د کعب بن مالک رضی الله عنه او ابن ابی حدرد په مینځ کښې نبی کریم ﷺ صلح کړی وه

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٣٠٣٣] د صلح حديبيه واقعه

٣٠٣٣-[١] (١) [١] عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، وَمَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا [٢] قَالَا: «خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ [٣] فِي بِضْعَ عَشْرَةَ مِائَةٍ مِنْ أَصْحَابِهِ، [٤] فَلَمَّا أَتَى ذَا الْحُلَيْفَةِ، [٥] قَلَّدَ الْهَدْيَ، [٦] وَأَشْعَرَ، [٧] وَأَحْرَمَ مِنْهَا بِعُمْرَةٍ، وَسَارَ [٨] حَتَّى إِذَا كَانَ بِالثَّنِيَّةِ الَّتِي يُهْبَطُ عَلَيْهِمْ مِنْهَا، [٩] بَرَكَتْ بِهِ رَاحِلَتُهُ، [١٠] فَقَالَ النَّاسُ: حَلْ حَلْ، [١١] خَلَأَتِ الْقَصْوَاءُ [١٢] فَقَالَ النَّبِيُّ: [١٣] (مَا خَلَأَتِ الْقَصْوَاءُ، [١٤] وَمَا ذَاكَ لَهَا بِخُلُقٍ، [١٥] وَلَكِنْ حَبَسَهَا حَابِسُ الْفِيلِ)

ترجمه: [١] اود مسور ابن مخرمه رضی الله عنه او مروان ابن حکم څخه روايت دي [٢] دا دواړه وايي چې رسول كريم ﷺ د حديبيه په كال د مديني څخه روان شو [٣] خپل يو زر صحابه رضی الله عنهم هم ورسره وو [٤] كوم وخت چې حضور ﷺ ذو الحليفه ته اورسيدو چه د مديني جنوب كښ [تقريباً شپږ ميله فاصله باندې واقع ده او دې ته ابيار علي هم وايي] [٥] نو د هدى [يعنى د خپلي قرباني ښاروي] په څټ كې يې پټه وتړله [٦] او زخم يې په ولګولو [٧] او بيا د ذوالحليفه څخه د عمري د پاره احرام تړلو سره په مخكي روان شو [٨] تردې چې كوم وخت ثنيه يعنى هغه كنډاو ته ورسيدل د كوم طرف څخه چې اهل مكه باندې وركوزيدل [٩] نو د حضور ﷺ اوښه چې د هغه نوم قصواء وو حضور ﷺ اخستو سره كيناستله [١٠] [هركله چې] خلقو [دا وليدل] نو خلقو دا وئيل شروع كړل چې حَلْ حَلْ [دا لفظ د اوښ اودرولو د پاره وئيل كيږي] [١١] قصواء نه ودريږى اړي كوي [١٢] رسول كريم ﷺ په دې اوريدو سره وفرمايل [١٣] نه قصواء نه اړي كوي [١٤] او نه دا د دې عادت دې [١٥] بلكه دا هغه ذات [الله تعالى] منع كړيده چا چې هاتهي منع كړي وو

حل اللغات: ① بِضْعَ: د درې نه واخله تر نهه پورې عدد دپاره استعماليږی. ② قَلَّدَ: غاړه كښې پټه اوتړله. ③ الْهَدْيَ: د قربانئ ښاروې ④ أَشْعَرَ: زخم ئې پرې اولګولو ⑤ أَحْرَمَ: احرام ئې اوتړلو ⑥ يُهْبَطُ: كوزيدل به. ⑦ حَلْ حَلْ: څه څه ⑧ خَلَأَتِ الْقَصْوَاءُ: قصوى اوښې اړى شروع كړه يعنى په ځائى اودريدله ⑨ خُلُقٍ: عادت. اخلاق. ⑩ حَابِسُ الْفِيلِ: د هاتيانو منع كونكي.

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الشروط /باب الشروط في الجهاد والمصالحة مع أهل الحرب وكتابة الشروط (رقم-٢٧٣١) و اخرجه ابوداود في السنن كتاب الجهاد /باب في صلح العدوّ (رقم-٢٧٦٥) واحمد في المسند: ٣٣١/٤

[۱] ثُمَّ قَالَ: (وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ [۲] لَا يَسْأَلُونِي خُطَّةً يُعَظِّمُونَ فِيهَا حُرُمَاتِ اللهِ [۳] إِلَّا أَعْطَيْتُهُمْ إِيَّاهَا)، [۴] ثُمَّ زَجَرَهَا، فَوَثَبَتْ، [۵] فَعَدَلَ عَنْهُمْ، [۶] حَتَّى نَزَلَ بِأَقْصَى الْحُدَيْبِيَةِ [۷] عَلَى ثَمَدٍ قَلِيلِ الْمَاءِ [۸] يَتَبَرَّضُهُ النَّاسُ تَبَرُّضًا، [۹] فَلَمْ يُلَبِّثْهُ النَّاسُ حَتَّى نَزَحُوهُ، [۱۰] وَشُكِيَ إِلَى رَسُولِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَطَشُ، [۱۱] فَانْتَزَعَ سَهْمًا مِنْ كِنَانَتِهِ، [۱۲] ثُمَّ أَمَرَهُمْ أَنْ يَجْعَلُوهُ فِيهِ، [۱۳] فَوَاللهِ مَا زَالَ يَجِيشُ لَهُمْ بِالرِّيِّ [۱۴] حَتَّى صَدَرُوا عَنْهُ، [۱۵] فَبَيْنَا هُمْ كَذَلِكَ،

ترجمه: [۱] بیایې وفرمایل قسم دې په هغه ذات چې د هغه په لاس کې ځما ساه ده [۲] قریش چې زما څخه داسې کومه خبره هم وغواړي چې په هغې کې د الله ﷻ [د حرم] عظمت وي [۳] نو زه به د هغوی هغه خبره پوره کوم [یعنی که نن د مکې خلق د صلح په وخت د داسې خبرې مطالبه اوکړی چې په هغې کې د حرمِ مکه د عظمت لحاظ وي نو زه به هغه پوره کوم] [۴] بیا حضور ﷺ اوښه پاخوله نو سمدستي پاڅیدله [۵] او حضور ﷺ د اهلِ مکه لار پرېښودلو سره [دویم طرف ته] روان شو [۶] تردې چې د حدیبیه آخرې غاړې ته رسیدو سره کوز شو [۷] چرته چې یوه کنده کې لږ شان اوبه وې [او هلته یې پړاو واچولو] [۸] خلقو د هغه کندې څخه لږې لږې شان اوبه اخستو سره استعمالول شروع کړل [۹] تردې چې لږ وخت کې یې ټولې اوبه راښکلې [یعنی هغه کنده کې اوبه ډیرې لږې وې په دې وجه د خلقو د کم مقدار اخستو باوجود هغه اوبه ډیرې زر ختمې شوې] [۱۰] خلقو د رسول کریم ﷺ په خدمت کې د تندې شکایت اوکړو [۱۱] حضور ﷺ د خپل تیر کش څخه یو تیر راوښکلو [۱۲] او صحابه وُ ﷺ ته یې حکم اوکړو چې دا د هغه اوبو په کنده کې وغورځوئ [ابیا راوي وایي] [۱۳] قسم په خدائ د هغه تیر د برکته د هغه خلقو سیراب کولو د پاره هیڅکله نه ختمیدونکې اوبو [ګویا] موجونه وهل [۱۴] تردې چې ټول د هغه اوبو څخه لرې [اخوا] [یعنی الله ﷻ په هغه کنده کې دومره زیاتې اوبه پیدا کړې چې د ټولو خلقو ضرورتونه ډیر په اطمینان سره پوره شوه بلکه چې د هغه ځای نه د تلو نه پس هم اوبه باقي وې] [۱۵] بهرحال صحابه ﷺ په دې حالت کې وو

حل اللغات: ① خُطَّةً: څه خبره، څه شرط ② ثَمَدٍ: منګې په کوم کښې چه لږې شان اوبه وي ③ تَبَرُّضًا: لږې لږې ا وبه اخستل ④ نَزَحُوهُ: راویستلې هغه. ⑤ الْعَطَشُ: تنده. ⑥ كِنَانَتِهِ: د تیرکش خپل نه. ⑦ يَجِيشُ: جوش ئې وهلو. ⑧ بِالرِّيِّ: ښه په کثرت سره اوبه راغلې چه خلق ورسره خړوب شو ⑨ صَدَرُوا: خړوب کیدو سره واپس راغله

[۱] إِذْ جَاءَ بُدَيْلُ بْنُ وَرْقَاءَ الْخُزَاعِيُّ فِي نَفَرٍ مِنْ خُزَاعَةَ، [۲] ثُمَّ أَتَاهُ عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ [۳] وَسَاقَ الْحَدِيثَ [۴] إِلَى أَنْ قَالَ: إِذْ جَاءَ سُهَيْلُ بْنُ عَمْرٍو، [۵] فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (اكْتُبْ هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ). [۶] فَقَالَ سُهَيْلٌ: وَاللهِ لَوْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ رَسُولُ اللهِ [۷] مَا صَدَدْنَاكَ عَنِ الْبَيْتِ، [۸] وَلَا قَاتَلْنَاكَ، [۹] وَلَكِنِ اكْتُبْ: مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ، [۱۰] فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (وَاللهِ إِنِّي لَرَسُولُ اللهِ [۱۱] وَإِنْ كَذَّبْتُمُونِي ". [۱۲]

الْكُتُبْ: مُحَمَّدُبْنُ عَبْدِاللهِ)

توجمه: ① چې اچانك بديل ابن ورقاء خزاعي د خزاعه څه خلقو سره [د مکي د کفارو د طرف څخه د مصالحت دپاره] راغلو② بيا عروه ابن مسعود هم د حضور ﷺ په خدمت کې راورسيدو ③ د دې څخه وروسته بخاري [هغه اوږدې خبري نقل کړي کومې چې د حضور ﷺ، بديل او عروه په مينځ کې وشوي چې صاحب مصابيح د اختصار پيش نظر دلته نقل نه کړې] ④ او بيا دابيان يې اوکړو چې آخر سهيل ابن عمرو [د اهل مکه آخري سفير او نمائنده جوړيدو سره] راغلو ⑤ نو نبي کريم ﷺ حضرت علي ﷺ ته وفرمايل چې وليکه دا هغه معاهده ده چې په هغې محمد رسول الله ﷺ صلح کړيده⑥ سهيل دا [الفاظ ليدو سره] اوويل قسم په خدائ که مونږ دا منلې چې تاسو د الله رسول يئ ⑦ نو نه به مونږ خانه کعبي ته تلو څخه منع کولې ⑧ او نه به مو درسره جنگ کولو ⑨ نو داسې وليکئ چه [دا هغه معاهده ده چې] په هغې محمد ابن عبد الله صلح کړيده ⑩ په دې اوريدوسره رسول کريم ﷺ وفرمايل قسم په خدائ زه د الله رسول يم ⑪ اگر چې تاسو ما دروغجن گڼئ [خير زه د مصالحت د خاطره الفاظو کې ستا دا ترميم تسليمومـ]⑫ اې علي! ته محمد ابن عبد الله وليکه.

حل اللغات: ⑩مَاصَدَدْنَاكَ: مونږ به نه وې بند کړې تاسو ،

① فَقَالَ سُهَيْلٌ: وَعَلَى أَنْ لَا يَأْتِيَكَ مِنَّا رَجُلٌ ② وَإِنْ كَانَ عَلَى دِينِكَ ③ إِلَّا رَدَدْتَهُ. ④ فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ قَضِيَّةِ الْكِتَابِ ⑤ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (قُومُوا فَانْحَرُوا ⑥ ثُمَّ احْلِقُوا) ⑦ ثُمَّ جَاءَ نِسْوَةٌ مُؤْمِنَاتٌ ⑧ فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى: ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا جَاءَكُمُ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ﴾ [الممتحنة: ١٠] الْآيَةَ ⑨ فَنَهَاهُمُ اللهُ تَعَالَى أَنْ يَرُدُّوهُنَّ ⑩ وَأَمَرَهُمْ أَنْ يَرُدُّوا الصَّدَاقَ ⑪ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى الْمَدِينَةِ ⑫ فَجَاءَهُ أَبُو بَصِيرٍ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ وَهُوَ مُسْلِمٌ،

توجمه: ① بيا سهيل دا اوويل چې ادې د صلح وعده کې داخبره هم تسليم کړئ که په تاسو کې يو سړې مونږ نه راشي نو مونږ به يې تاسو ته واپس نه دراستووليکن] زمونږ څخه که يو سړې تاسو ته راشي ② اگر چې هغه ستاسو دين قبول کړې وي ③ نو هغه به مونږ ته واپس راکوئ انو حضور ﷺ داهم قبوله کړه په دې موقع هم په واقعه کښ د اختصار څخه کار اخستل شوی دی يعنی صاحب مصابيح دې معاهدې سره متعلق د بخاري بيان کرده ټول تفصيل نه دې نقل کړې يا داچې د بخاري څه بل روايت دې چې په هغې کې صرف دومره قدر بيان شوی دی] بهرحال④ کوم وخت چې حضور ﷺ يا حضرت علي ﷺ صلح نامي ليکلو څخه فارغه شو⑤ نو رسول کريم ﷺ [اخپلو صحابه ﷺ تهـ] وفرمايل لاړ شئ څئ اوس د هدي حيوان ذبح کړئ⑥ بيا سرونه اوخرويئ ⑦ د دې څخه

وروسته مكي څخه څو ښځي مسلمانيدو سره راغلي ۸ نو الله ﷻ دا حكم نازل كړو: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا جَاءَكُمُ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ الآيه. اې ايمان والو! هركله چې تاسو ته مسلماني ښځي په هجرت راشي الخ ۹ نو الله ﷻ د دې آيت په ذريعه مسلمانان ددې خبري څخه منع كړل چې هغوی هغه ښځي د مكي كفاروته واپس وركړي ۱۰ او هغوی ته يې د دې خبري حكم وركړی چې د هغوی مهر واپس وركړی ۱۱ د دې څخه وروسته حضور ﷺ مديني ته تشريف راوړو ۱۲ څه ورځي وروسته د قريشو يوسړې ابو بصير راغې چه مسلمان شوې وو [مكې څخه راوتلو سره حضور ﷺ ته راغلو]

حل اللغات: ⑪ قَضِيَّةِ الْكِتَابِ: فيصله ليكل، صلح نامه. ⑫ اخْلِفُوا: سرونه اوخرايئ. ⑬ الصَّدَاقَ: مهرونه.

> ۱ فَأَرْسَلُوا فِي طَلَبِهِ رَجُلَيْنِ، ۲ فَدَفَعَهُ إِلَى الرَّجُلَيْنِ ۳ فَخَرَجَا بِهِ، ۴ حَتَّى إِذَا بَلَغَا ذَا الْحُلَيْفَةِ. نَزَلُوا ۵ يَأْكُلُونَ مِنْ تَمْرٍ لَهُمْ، ۶ فَقَالَ أَبُو بَصِيرٍ لِأَحَدِ الرَّجُلَيْنِ: ۷ وَاللَّهِ إِنِّي لَأَرَى سَيْفَكَ هَذَا يَا فُلَانُ جَيِّدًا، ۸ أَرِنِي أَنْظُرْ إِلَيْهِ. ۹ فَأَمْكَنَهُ مِنْهُ، ۱۰ فَضَرَبَهُ حَتَّى بَرَدَ ۱۱ وَفَرَّ الْآخَرُ حَتَّى أَتَى الْمَدِينَةَ، ۱۲ فَدَخَلَ الْمَسْجِدَ يَعْدُو، ۱۳ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (لَقَدْ رَأَى هَذَا ذُعْرًا) ۱۴ فَقَالَ: قُتِلَ وَاللَّهِ صَاحِبِي، ۱۵ وَإِنِّي لَمَقْتُولٌ. فَجَاءَ أَبُو بَصِيرٍ،

ترجمه: ۱ د مكي قريشو دوه سړي د هغه په تلاش كې مديني ته راوليږل ۲ حضور ﷺ [د صلح د معاهدې د مذكوره شرط مطابق] ابو بصير رضي الله عنه هغه دواړو سړو ته حواله كړو ۳ هغوی دواړو ابوبصير اخستو سره مكې ته روان شول ۴ او هركله چې يې [رومبنی منزل] ذوالحليفه كې قيام اوكړو ۵ او د هغوی سره چې كومې كجورې وې هغه يې خوړلې ۶ نو ابوبصير رضي الله عنه په هغوی كې يوسړي ته مخاطب كولو سره اوويل ۷ قسم په خدائ اې فلانيه! ځما خيال دې چې ستا دا توره ډيره ښه ده ۸ لږ يې ماته هم وښايه چې وې ګورم ۹ هغه سړی ابوبصير رضي الله عنه ته د هغه توري كتلو موقع وركړله [يعنی خپله توره يې د ابو بصير رضي الله عنه په لاس كې وركړله ۱۰ بس دومره كافي وه چې ابوبصير رضي الله عنه په هغه په هغه توري سره دومره سخت ګذار وكړو چې هغه سمدستي يخ شو [يعنی مړ شو] ۱۱ او بل سړي داليدو سره د هغه ځای څخه وتښتيدلو تردې چې مديني ته واپس راغلو ۱۲ او د خپل قتل د خوف څخه په منډه مسجد نبوي كې داخل شو ۱۳ رسول كريم ﷺ [د هغه حالت ليدو سره] وفرمايل چې داسړی خوفزده معلوميږي ۱۴ هغه سړي اوويل هو قسم په خدائ ځما ملګری خو قتل شو ۱۵ او ځما په قتلولو كې هم څه شك نشته [يعنی په ماباندې خوف دې چې زه به هم قتل شم يا زه بچ شوم ګيني زه به هم قتل شوې وم] بيا ابو بصير راغې.

حل اللغات: ⑩ بَرَدَ: يخ شو. ⑪ فَرَّ: اوتختيدو. ⑫ يَعْدُو: منډې ئې وهلې. ⑬ ذُعْرًا: هغه څه ويرونكې حادثه اوليدله ⑮ لَمَقْتُولٌ: قتل شوې يم.

[۱] فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (وَيْلُ أُمِّهِ [۲] مِسْعَرُ حَرْبٍ [۳] لَوْ كَانَ لَهُ أَحَدٌ) [۴] فَلَمَّا سَمِعَ ذٰلِكَ عَرَفَ [۵] أَنَّهُ سَيَرُدُّهُ إِلَيْهِمْ، [۶] فَخَرَجَ حَتّٰى أَتٰى سِيفَ الْبَحْرِ [۷] قَالَ: وَانْفَلَتَ أَبُو جَنْدَلِ بْنُ سُهَيْلٍ [۸] فَلَحِقَ بِأَبِي بَصِيرٍ [۹] فَجَعَلَ لَا يَخْرُجُ مِنْ قُرَيْشٍ رَجُلٌ قَدْ أَسْلَمَ [۱۰] إِلَّا لَحِقَ بِأَبِي بَصِيرٍ [۱۱] حَتّٰى اجْتَمَعَتْ مِنْهُمْ عِصَابَةٌ،

ترجمه: [۱] بیا رسول کریم ﷺ د هغه په لیدو سره وفرمایل افسوس دې د ده په مور یعنی د تعجب او حیرت مقام دې] [۲] دا [ابو بصیر خو] د جنګ اور بلونکې دې [۳] که د ده څوك مددګار وي [نو د ده مدد به یې کړي وو] [۴] ابو بصیر ﷺ چې د حضور ﷺ داخبره واوریده نو هغه پوهه شو [۵] چې حضور ﷺ ما بیا کافرو ته لیږي [۶] نو [دوباره کافروته د حواله کولو د خوف څخه ابوبصیر پټ په پټه] د مدینې څخه ووتلو تردې چې هغه د سمندر په ساحل یوې علاقې ته ورسیدو. [۷] راوي وایي چې ابوجندل بن سهیل ﷺ هم د کفارو د قبضې څخه وتلو سره اوتښتیدلو [۸] او ابوبصیر سره یوځای شو [۹] بیا خو داحال شو [په مکه کې] چه کوم سړي به اسلام قبلولو او د قریشو د قبضې څخه وتلو سره تښتیدلو [۱۰] نو د ابوبصیر سره به یوځای کیدو [۱۱] تردې چې څو ورځو کې [ابوبصیر سره د قریشو څخه] د خلاصیدونکو خلقو یوه لویه ډله جمع شوه.

حل اللغات: ۞ وَيْلُ: بد دعا ته وائی خو دلته په معنی د تعجب سره دې ۞ حَرْبٍ: جنګ. ۞ انْفَلَتَ: اوتختیدو.

[۱] فَوَاللّٰهِ مَا يَسْمَعُونَ [۲] بِعِيرٍ خَرَجَتْ لِقُرَيْشٍ إِلَى الشَّامِ [۳] إِلَّا اعْتَرَضُوا لَهَا، [۴] فَقَتَلُوهُمْ، وَأَخَذُوا أَمْوَالَهُمْ. [۵] فَأَرْسَلَتْ قُرَيْشٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۶] تُنَاشِدُهُ اللّٰهَ وَالرَّحِمَ [۷] لَمَّا أَرْسَلَ إِلَيْهِمْ فَمَنْ أَتَاهُ فَهُوَ آمِنٌ، [۸] فَأَرْسَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او قسم په خدای کله چې به دې خلقو واوریدل [۲] چې د قریشو څه قافله تجارت وغیره د پاره شام طرف ته روانه شویده [۳] نو هغوی پسې به لګیدل [۴] او د هغوی وژلو سره د هغوی مال او اسباب به یې اخستلو [آخر د دې خلقو په وجه چې قریش ډیر تنګ شول او سختې پریشانې کې مبتلا شول نو هغوی ته احساس وشو چې مونږ د مسلمانانو سره یو انتهایي غیر معقول شرط ترلو سره څومره لویه ناداني کړیده چې اوس د هغې نقصان وړو] [۵] نو یو سړي ئ سفیر او نمائنده جوړولو سره د رسول کریم ﷺ په خدمت کې ولیږلو [۶] او د هغه په ذریعه حضور ﷺ ته یې قسم ورکړو او د هغه قرابت د حق واسطه یې ورکړله [چې د هغوی او حضور ﷺ په مینځ کې وه او دا درخواست یې اوکړو چې تاسو څه ناڅه شکل کې دومره کرم یعنی مهرباني ضرور اوکړئ چې خپل یو سړی ابوبصیر ﷺ او د هغه ملګرو ته ولیږئ او دا حکم ورکړئ چې هغوی مدینې ته راشي او زمونږ هیڅ قافلې سره څه غرض نه کوي] [۷] او هرکله چې تاسو

داحکم ولیږئ او هغه خلق تاسو ته راشي نو بیا مونږ اهل مکه څخه چې کوم سړی مسلمانیدو سره تاسو ته راځي هغه به په امن کې وي ایعنی نه صرف داچې د هغه په لار کې به څه خند نشي اچولې بلکه د هغه به مونږ ته واپس راتلو ضرورت هم نه وي او هغوی اوویل چې تاسو ابوبصیر رضي الله عنه د هغه د طریقه کار څخه منع کړئ مونږ د صلح د معاهدي د دې شرط څخه منع شوا ۸ نو رسول کریم ﷺ یو سړی [ابوبصیر رضي الله عنه او د هغه ملګرو ته] ولیږلو [چې د هغه ئ په ذریعه هغوی ته داحکم ورکړو چې هغوی دي د قریشو قافلو سره څه چیړچاړ نه کوي او ماته دي راشي] (بخاري)

حل اللغات: ⑱تُنَاشِدُهُ: قسم ئې ورکړو هغه ته.

تسهیلات: قوله: عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ:

د حدیبیه محل وقوع: دَ یوکوهی نوم دې دَدې په وجه سره دَ ځائی نوم اوګرځیدو حدیبیه دَ مکې او دَ جدې په مینځ کښې دَ یومقام نوم دې دَ کوم څه حصه په حرم کښې داخل ده نن صبادې ته شمیسی وائی. دَمکې نه مغرب طرف ته ۱۵میله فاصله باندې حدیبیه واقع ده.دې ځائې کښې د حج یا عمرې احرام تړلودپاره میقات شروع کیږی په کال ۲۰۰۹ کښې حج ته تلې ووم.د خپلو څو ملګرو سره دلته ورغلې ووم.دلته یو کوهی هم وو بعضې کسانووئیل چې دا هغه شاړکوهی دې چې د نبی علیه السلام په لیاړو توکلو په کښې اوبه راوتلې وې.

قوله: أَنْ يَرُدُّوا الصَّدَاقَ:

کافرانو ته د مسلمانانو ښځومهرونه واپس کول: دَالله تعالی تکوینی معامله وه چه صلح حدیبیه کښې دستاویز لیکلو کښې دَ ښځوتذکره چاته هډو یاده هم نه شوه روستو بیا کافران خپیمانه شو مګر هیڅ ورته په لاس رانغله. پیغمبر اسلام ته وحی نازل شوه چه ښځې دَ کافرانو په لاس مه واپس کوئی البته دَ ښځومهر هغوی ته واپس کړئی. دادَ شروع دَ وخت معامله وه بیا په دې کښې بدلون راغلو. چنانچه نن دَ هیڅ قسم یومسلمان سړی کافرانوته دَ واپس کولو معاهده جائز نه ده.

قوله: وَيْلَ أُمِّهِ:

د مذکوره جملې مطلب: داجمله سره دَدې چه دَبد دعا دَپاره وضع کړې شوې ده مګرداد تعجب اوحیرانتیا دَپاره استعمالیږی. دلته دَ تعجب معنی ده.

قوله: مِسْعَرَ حَرْبٍ لَوْ كَانَ لَهُ أَحَدٌ:

د مسعر حرب په مفهوم کښې دوه اقوال: ① یعنی دَ جنګ اور تیزونکې دې. که چرې هغه سره څه ملګری یوځائی شی اودَ هغه امداداوکړی دامطلب زیات واضح دې.

④ ملاعلی قاری رحمه الله ددې مطلب دا ګرځولې دې چه جنګ ګرمونکې دې افسوس چه هغه ته څوك اوښاني چه ماله دې نه راځی چه زه دوباره هغه واپس نه کړم

قوله: فَخَرَجَ حَتَّى أَتَى سِيفَ الْبَحْرِ:

د ابوبصیر رضی الله عنه د سمندر غاړې سره ډیره کیدل: بهرحال نبی مکرم ابوبصیر دمدینې نه واپس اولیږلو مګردکافرانو لاس کښې ئی ورنه کړو ابوبصیر لاړو اوسمندر په غاړه ئی ځائی جوړ کړو اوس چه به دکافرانونه کوم مسلمان راخلاص شو راتلوبه نودَ ابوبصیر په معسکرکښې به پاتې کیدو. دادَ هغه مظلومانودَپاره یوه آزاده قبائلی علاقه جوړه شوه نو دَهغوی شمیر ۷۰ ته اورسیدو اوهغوی دکافرانو په مقابله کښې چهاپه مار جنګ شروع کړو دَهغوی په تجارتی قافلوباندې ئی حملې اوکړې

قوله: فَأَرْسَلَتْ قُرَيْشٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

دقریشونبی علیه السلام ته درخواست کول: نوبیا قریش پریشانه شو او نبی کریم ته ئی خط اولیکلو اودَ الله تعالی واسطه ئی ورکړه چه ابوبصیر اودَ هغه ملګری مدینې ته راؤغواړه نبی کریم دَ ابوبصیر په نوم خط روان کړو چه مدینې ته راشه هغه وخت ابوبصیر دَ زنکدن په حالت کښې وو هغوی خط واؤریدو او په خپله سینه باندې ئی کیخودو اوساه ئی ورکړه.

[۴۰۴۳] د صلح حدیبیه درې خاص شرطونه

۴۰۴۳—[۲] ([۱]) ۱ وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «صَالَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُشْرِكِينَ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ عَلَى ثَلَاثَةِ أَشْيَاءَ: ۳ عَلَى أَنَّ مَنْ أَتَاهُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ رَدَّهُ إِلَيْهِمْ ۴ وَمَنْ أَتَاهُمْ مِنَ الْمُسْلِمِينَ لَمْ يَرُدُّوهُ ۵ وَعَلَى أَنْ يَدْخُلَهَا مِنْ قَابِلٍ ۶ وَيُقِيمَ بِهَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ ۷ وَلَا يَدْخُلَهَا إِلَّا بِجُلُبَّانِ السِّلَاحِ ۸ وَالسَّيْفِ وَالْقَوْسِ وَنَحْوِهِ ۹ فَجَاءَ أَبُو جَنْدَلٍ يَحْجِلُ فِي قُيُودِهِ ۱۰ فَرَدَّهُ إِلَيْهِمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او براء ابن عازب رضی الله عنه وايي ۲ چه رسول کریم صلی الله علیه وسلم د حدیبیه په ورځ درې خبرو باندې صلح کړې وه ۳ اول خو دا چې د مکې د مشرکینو څخه کوم سړې مسلمانیدو سره حضور صلی الله علیه وسلم ته راشي حضور صلی الله علیه وسلم به هغه مشرکینو ته واپس کوي ۴ او مسلمانانو څخه چې کوم سړې مشرکینو ته راشي، مشرکین به هغه نه واپس کوي ۵ دویم داچې حضور صلی الله علیه وسلم به حج او عمرې د پاره سخکال (یعنی دې کال) کې په مکې کې نه داخلیږي بلکه آینده کال (مخ کال) ته به مکې ته راځي ۶ او صرف درې ورځې به په مکه کې پاتې کیږي ۷ او دریم داچې آینده کال چې په مکه کې داخلیږي نو خپل ټول هتیار به غلاف

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الصّلح /باب الصّلح مع المشرکین (رقم-۲۷۰۰) ومسلم فی کتاب الجهاد والسّیر /باب صلح الحدیبیة فی الحدیبیة (رقم-۹۲ - (۱۷۸۳) و ابو داود فی کتاب المناسک. باب المحرم یحمل السّلاح (رقم-۱۸۳۲)

کې ايښې راوړي ⑧ توره، لينده او دغه شان نور څيزونه ⑨ په دي موقع ابوجندل حضور ﷺ ته په داسې حال کې راورسيدو چې د هغه پښو کې بيړئ پرتې وې اچې د هغې په وجه هغه به په ټوپونو ټوپونو تلوم ⑩ ليکن حضور ﷺ هغه مشرکينو ته واپس کړو . (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① مِنْ قَابِلٍ: مخ کال، راروان کال، ② بِجُلُبَّانِ السِّلَاحِ: وسلې به په تيکو او بوجو کښې پرتې وی، ③ الْقَوْسِ: لينده، ④ يَحْجِلُ: ټوپونه ئې وهل، په ټوپونو روان وو ⑤ فِي قُيُودِهِ: په زنځيرونو کښې تړلې وو.

تسهيلات:

قوله: عَلَى ثَلَاثَةِ أَشْيَاءَ: په دي حديث کښې دَ صلح حديبيه دَ شرائطونه د اهمو درې شرطونو بيان دې اګرچې نور شرطونه هم داحاديثو او سيرت په کتابونو کښې ليکلی شوی دی خودلته صرف د درې شرطونو ذکردې.

قوله: عَلَى أَنَّ مَنْ أَتَاهُ مِنَ الْمُشْرِكِينَ رَدَّهُ إِلَيْهِمْ:

① **د مشرکانو کس هغوی ته واپس کول:** څوک مشرک مسلمانانوله راشی نومسلمانان به پابندوی چه هغه به دَ قريشو طرف ته واپس کوی که مسلمان ولې نه وی او کوم مسلمان چه دکافرانو طرف ته لاړشی نوهغوی به هغه قيدکوی واپس کوی به نه. هم دغه شرط وو چه دومره سخت وو چه صحابه کرام ئې سخت پريشانه کړل مګر هغوی دَ صلح نظم ضبط په خاتې اوساتلو اودَ اسلامی امارت دَ وفادارئې مظاهره ئې وکړه او شرط ئې قبول کړو

قوله: وَعَلَى أَنْ يَدْخُلَهَا مِنْ قَابِلٍ:

② **راتلونکی کال ته عمره کول:** راتلونکی کال مسلمانان عمرې له راځی نو وره وسله به خان سره راوړی اوهغه به هم په تيکو او غلافونوکښې وی بله داخبره چه دې کال به بغيرد عمرې نه ځی

قوله: وَيُقِيمَ بِهَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ:

③ **صرف درې ورځې په مکه کښې قيام کول:** راتلونکی کال کښې به صرف درې ورځې مسلمانان قيام کوی بيابه واپس ځی.

باقي درې شرطونه: ④ دي نه علاوه څلورم شرط دا وو چه لس کالو پورې به جنګ بندی وی

⑤ پنځم شرط دا چه کوم قبائل فريقينو کښې چاسره تلل غواړی هغه دې لاړشی هغوی به هم دَ معاهدې حصه منلی.

⑥ شپږم شرط دا چه دَ صلح په موده کښې به خيانت نه کيږی.

قوله: وَلَا يَدْخُلُهَا إِلَّا بِجُلُبَّانِ السِّلَاحِ وَالسَّيْفِ وَالْقَوْسِ وَنَحْوِهِ:

وسله په تیکی کښې کیخودل: په جیم اولام دوارو باندې ضمه ده باء باندې شد سره فتحه ده دا د څرمن د هغه تهیلئی نوم دې په کوم کښې چه توره وغیره وسله کیخودې شی اودا ترلوسره دکجاوې یا زین شاتنئی حصې سره زوړندولې شوه مراد دا چه دوسلې نمائش به نه وی په غلافونو اوتیکو کښې به پټه ساتلې شی

قوله: فَجَاءَ أَبُو جَنْدَلٍ يَحْجِلُ فِي قُيُودِهِ، فَرَدَّهُ إِلَيْهِمْ:

دابو جندل رضی الله عنه حدیبیه ته راتلل: ابو جندل د سهیل بن عمرو خوئی وو سهیل چه کله هغه اولیدلو نو قلم ئی اودرولو اووئی وئیل چه اول زما خوئی واپس کړئی بیابه صلح نامه لیکلې شی نبی کریم اوفرمائیل چه اوس خولا دستخط نه دې شوې دې خو مخکښې راغلې دې په ده باندې به معاهده نه نافذ کیږی اوکه د ابوجند راتلل دمعاهدې لاندې راځی هم نوزه تانه ابوجندل غواړم چه دا ماله راکړه سهیل انکار اوکړو او ابوجندل په ژړا سره واپس لاړو اهل تاریخ د ابوجندل دردناك منظر لیکلې دې ابوجندل بیا دکافرانو د لاسونو نه راخلاص شو اود سمندر په غاړه ابوبصیرله لاړو

[۴۰۴۳] د صلح د یوسخت شرط حکمت

۴۰۴۳ – [۳] (¹) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: [۲] أَنَّ قُرَيْشًا صَالَحُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۳] فَاشْتَرَطُوا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۴] أَنَّ مَنْ جَاءَنَا مِنْكُمْ لَمْ نَرُدَّهُ عَلَيْكُمْ، [۵] وَمَنْ جَاءَكُمْ مِنَّا رَدَدْتُمُوهُ عَلَيْنَا [۶] فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَكْتُبُ هَذَا؟ [۷] قَالَ: («نَعَمْ [۸] إِنَّهُ مَنْ ذَهَبَ مِنَّا فَأَبْعَدَهُ اللَّهُ، [۹] وَمَنْ جَاءَنَا مِنْهُمْ [۱۰] سَيَجْعَلُ اللَّهُ لَهُ فَرَجًا وَمَخْرَجًا»). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضرت انس رضی الله عنه وایې [۲] چه د مکې قریشو د رسول کریم ﷺ سره مصالحت اوکړو [۳] هغوی په رسول کریم ﷺ داشرط ومنلو [۴] چې ستاسو څخه کوم سړی مونږ ته راشي مونږ به هغه تاسو ته واپس نه استوو [۵] او په مونږ کې چې کوم سړي تاسو ته راشي تاسو به هغه مونږ ته رااستوئ [۶] صحابهٔ و رضی الله عنهم [داشرط د خپل ملي حمیت او وقار خلاف او د اصول مصالحت د تقاضو څخه لرې ګڼلو سره] عرض اوکړو یا رسول الله: آیا مونږ دا شرائط ولیکو ایعنی آیا دا شرائط تاسو ﷺ تسلیموئ؟] [۷] حضور ﷺ وفرمایل هو خبره داده چې په مونږ کې کوم سړي هغوی ته ورځئ نو [ظاهره ده چې هغه به مرتد کیدو سره تښتي د دې اعتبار څخه هغه به یوداسي سړې وي چې] الله ﷻ به هغه د خپل رحمت څخه لرې کړې وی [۹] او په هغوی کې چې کوم مونږ ته راځي [اګر چې

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الجهاد والسّیر/باب صلح الحدیبیة فی الحدیبیة (رقم-۹۳ - (۱۷۸٤)

داوخت مونږ به د هغه په ورکولو باندي مجبوره یو! ⑩ لیکن آخر الله ﷻ به زر د هغه د پاره د خوشحالئ او کشادګي او د خلاصون او نجات سامان پیدا کړي. (مسلم)

حل اللغات: ① فَرَجًا: کشادګی، فراخی، ② مَخْرَجًا: خلاصون، د نجات لار.

تسهیلات:

قوله: فَاشْتَرَطُوا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

دمسلمان د واپس کولو شرط: په صلح حدیبیه کښې په ټولو شرطونو کښې هم دغه شرط په مسلمانانو باندې ډیر سخت وو. چې مونږ خو به خپل مسلمان ورور واپس کوو او هغوی به مسلمان مونږ ته نه واپس کوی. حضرت عمر رضی الله عنه د نبی کریم په وړاندې په سخته لهجه کښې خبرې اوکړې بیائی د صدیق اکبر رضی الله عنه په وړاندې سختې خبرې اوکړې دواړو جواب ورکړو چه دا د الله تعالی او د هغه د رسول فیصله ده. اې عمر دا اومنه الله تعالی به خپل رسول بې یارومددګارنه پریږدی.

قوله: نَعَمْ إِنَّهُ مَنْ ذَهَبَ مِنَّا فَأَبْعَدَهُ اللهُ:

مکې ته د تلونکی په نه واپس کولو کښې حکمت: بیا نبی کریم د دغه شرط د حکمت طرف ته اشاره اوکړه چه کوم سړې زما مجلس پریږدی اود کافرانو مجلس ته ځی هغه به منافق وی نومونږ غواړو چه دغه د لستونړی مار اوتختوو. کله چه هغه پخپله ځی او الله تعالی هغه زمونږ نه لرې کوی نو ته ولې پریشان کیږې؟

اوکوم سړې چه د کافرانو د مجلس نه ماله راځی نوکیدې شی چه څوک جاسوس وی نومونږ له پکار دې چه هغه خپل ځان ته پرینږدو. کله چه قریش پخپله هغه بوځی نو ته ولې پریشانه کیږې؟

قوله: وَمَنْ جَاءَنَا مِنْهُمْ سَيَجْعَلُ اللهُ لَهُ فَرَجًا وَمَخْرَجًا:

د راتلونکی مسلمان د پاره آسانتیا پیدا کول: اوکه هغه رښتونې مسلمان وی نو ډیر زر به الله تعالی د هغه د پاره د نجات اوخلاصی آسانه لاره جوړه کړی. په دې باندې ټولو صحابه کرامو د نبی کریم د ذهانت اعتراف اوکړو چه دا د نبوت فیصله ده

[۴۰۴۵] نبی علیه السلام سره د ښځو بیعت

۴۰۴۵-[۴] (¹) ① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ «فِي بَيْعَةِ النِّسَاءِ: ② إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْتَحِنُهُنَّ بِهَذِهِ الْآيَةِ ③ ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ﴾ [الممتحنة: ۱۲] ④ فَمَنْ أَقَرَّتْ بِهَذَا

¹) اخرجه البخاری فی کتاب الشروط/باب ما یجوز من الشروط فی الإسلام والأحکام والمبایعة (رقم-۲۷۱۳) ومسلم فی کتاب الإمارة/باب کیفیة بیعة النساء (رقم-۸۸ - (۱۸۶۶))

الشَّرْطِ مِنْهُنَّ ⑤ قَالَ لَهَا: (قَدْ بَايَعْتُكِ) ⑥ كَلَامًا يُكَلِّمُهَا بِهِ ⑦ وَاللهِ مَا مَسَّتْ يَدُهُ يَدَ امْرَأَةٍ قَطُّ فِي الْمُبَايَعَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① بي بي عائشه رضي الله عنها د ښځو د بيعت په باره کې فرمايي ② چې رسول کريم ﷺ به هغه ښځې [چې مکې څخه به راتلى او د اسلام قبلولو اظهار به يې کولو] د دې آيت کريمه په رڼا کې به يې آزمايلې ③ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ الآية. اې نبي هرکله چې مؤمني ښځې تاسو ته بيعت د پاره حاضري شى الخ ④ نو په هغوى کې کومه ښځه چې په دې آيت کې د مذکوره شرائطو منلو اقرار کوى ⑤ نو حضور ﷺ به هغوى ته فرمايل ما ته بيعت کړلې ⑥ په داسې حالت کې چې حضور ﷺ به ورسره خبري کولې [او ښځې ته به يې داخبره فرمايله] ⑦ خو قسم په خداى هيڅ کله داسې نه دي شوي چې حضور ﷺ يوه ښځه بيعت کړي وي او د هغې لاس يې خپل لاس مبارک سره مس کړې وي (بخاري . مسلم)

حل اللغات: ① أَقَرَّتْ: اقرار ئې اوکړو.

تسهيلات:

نوټ: دې حديث کښې د بيعت ذکر دې د دې تفصيل په اول جلد کښې تيرشوې دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٣٠٣٦] د صلح حديبيه نورشرطونه

٣٠٣٦ - [٥] (١) ① عَنِ الْمِسْوَرِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، وَمَرْوَانَ: ② أَنَّهُمُ اصْطَلَحُوا ③ عَلَى وَضْعِ الْحَرْبِ عَشْرَ سِنِينَ ④ يَأْمَنُ فِيهِنَّ النَّاسُ، ⑤ وَعَلَى أَنَّ بَيْنَنَا عَيْبَةً مَكْفُوفَةً، ⑥ وَأَنَّهُ لَا إِسْلَالَ ⑦ وَلَا إِغْلَالَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① حضرت مسور رضي الله عنه او حضرت مروان څخه روايت دې ② چې د مکې قريشو ايه حديبيه کې] په کومو خبرو مصالحت کړي وو په هغې کې يوه خبره داهم وه ③ چې لس کاله پورې به اد فريقينو په مينځ کې] هيڅ جنګ نه وي ④ دې د پاره چې په دې ورځو کې خلق په امن وامان سره وي ⑤ او داخبره هم معاهده کې شامله وه چې زمونږ په مينځ کې دې تړلى ګيډى وي ⑥ او داچې مونږ په خپلو کې نه خودي په پټه غلا کوو ⑦ او نه خيانت کوو (ابو داود)

حل اللغات: ① اصْطَلَحُوا: مصالحت او روغه ئې اوکړه. ② وَضْعِ الْحَرْبِ: دجنګ بندولو. ③ عَيْبَةً مَكْفُوفَةً: تړلې شوې پنډ يا صندوق. ④ لَا إِسْلَالَ: په پټه به د يوبل مال نه پټوى. ⑤ وَلَا إِغْلَالَ: په ظاهرى توګه به يوبل سره خيانت نه کوى.

(١) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الجهاد /باب فى صلح العدو (رقم-٢٧٦٦) واحمد فى المسند: ٣٢٥/٤

تسهیلات:

قوله: عَلَى وَضْعِ الْحَرْبِ عَشْرَ سِنِينَ يَأْمَنُ فِيهَا النَّاسُ.

لس کالوپورې جنګ بندي:

په دې صلح کښې یوه دفعه دا هم وه چې ترلسو کالوپورې به مسلمانان او کافران یو بل سره جنګ نه کوی په دې شرط باندې ډيرې فائدې مرتب شوې بعضې دا دی

① مسلمانانو ته د کافرانو د حملو څخه امن ملاؤ شو.

② کافرانو ته د مسلمانانو سره د مل جول موقع په لاس ورغه او د اسلامی تعلیماتو څخه متاثره شول ددې په نتیجه کښې د فتح مکې پورې دومره کافران مسلمانان شول چې دومره په تیرو اوولسو کالو کښې نه وو مسلمانان شوې.

③ بیرونی دنیا ته د اسلامی دعوت دپاره نبی علیه السلام خپل قاصدان اولیږل ګویا چې عملی طور په دې کار شروع شو چې اسلام صرف د مکې او مدینې دپاره نه دې بلکه د ټولې دنیا د نجات ذریعه ده

قوله: وَعَلَى أَنَّ بَيْنَنَا عَيْبَةً مَكْفُوفَةً.

د مذکوره جملې مطلب: عیبه په اصل کښې صندوقچې یا داسې تهیلئی ته وائی په کوم کښې چه د راز څیزونه پټولې شی یاخاص کپړې کیخودې شی دلته ددې نه داسې زړه اوداسې سینه مرادده په کوم کښې چه راز هم وی اونیازهم، چه د یوبل دپاره خیرخواهی وی د بعضې عناد اوشرفساد تصورنه وی

قوله: وَأَنَّهُ لَا إِسْلَالَ وَلَا إِغْلَالَ.

د اسلال او اغلال په مینځ کښې فرق: مطلب دا چه په ظاهری اوباطنی توګه به د یوبل د ځان اومال احترام کوی بعضې علماؤ د اسلال نه توره راویستل مراد اخلی اواغلال نه زغره اغوستل مراد اخلی یعنی توره ترل او زغره اچولو سره به یوبل سره جګړه نه کوی

[۳۰۴۷] په قیامت کښې د معاهد دپاره د نبی علیه السلام وکالت

۳۰۴۷–[۱۰] (¹) [۱] وَعَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ، عَنْ عِدَّةٍ مِنْ أَبْنَاءِ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، [۲] عَنْ آبَائِهِمْ، [۳] عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۴] «أَلَا مَنْ ظَلَمَ مُعَاهِدًا، [۵] أَوِ انْتَقَصَهُ، [۶] أَوْ كَلَّفَهُ فَوْقَ طَاقَتِهِ، [۷] أَوْ أَخَذَ مِنْهُ شَيْئًا بِغَيْرِ طِيبِ نَفْسٍ، [۸] فَأَنَا حَجِيجُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] صفوان ابن سلیم د رسول کریم ﷺ د څه صحابهٔ و ﷺ د صاحبزادګانو څخه [۲] او هغه صاحبزادګان د خپل [صحابه] پلارانو څخه [۳] او هغوی د رسول کریم ﷺ څخه

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الخراج والإمارة والفیء /باب باب فی تعشیر أهل الذمّة إذا اختلفوا بالتّجارات (رقم - ۳۰۵۲)

نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل ۞ یاد لرئ کوم سړي چې هغه غیر مسلم سړي باندې ظلم اوکړئ کوم سره چې وعده کړې شوې [لکه ذمي او مستامن یعنی امان غوښتونکي] ۞ یا دهغه حقوق ته یې نقصان ورسولو ۞ یا په هغه د هغه د طاقت او استطاعت څخه زیات بوج یې واچولو [لکه د یوذمي څخه یې د هغه د حیثیت او استطاعت څخه زیاته جزیه واخسته یا هغه حربي مستامن [امان غوښتونکي] څخه چې دار الاسلام ته د تجارت په غرض راغلې وي د هغه د تجارت د مال څخه عشر یعنی لسمي حصې څخه زیاته واخسته] ۞ یا د هغه د مرضۍ او خوشنودئ څخه بغیر هغه څخه یې څه څیز واخستلو ۞ نو زه به د قیامت په ورځ د هغه سړي خلاف احتجاج کوم (ابوداود)

حل اللغات: ①مُعَاهِدًا: چه لوظ د امن ورسره شوې وی، امان ورکړې شوې وی ②أوانْتَقَصَهُ: یا نقصان اورسوی هغه ته. حق تلفی ئې اوکړی، ③أوْكَلَّفَهُ: یا تکلیف اورسوی هغه ته. ④ بِغَيْرِطِيبِنَفْسٍ: د رضامندئ نه بغیر. ⑤حَجِيجُهُ: احتجاج کونکې دهغه.

تسهیلات:

قوله: فَأَنَا حَجِيجُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

په ذمیانود نبی علیه السلام شفقت: په دې حدیث کښې ډیر وسعت دې نبی کریم ﷺ فرمائی چه په ذمیانو باندې ددوی د حیثیت نه زیاته جزیه او د پیداوار خراج ډیر مقرر کول. د جزې او د خراج په وصولئ کښې ناجائز ستخي کول، په مختلفو حیلو او بهانو سره دهغوی مال حاصلول، د هغوی څخه رشوت اغستل وغیره په دې ټولو زیاتو او حق تلفو کښې به د مسلمان حاکم شفاعت کولو په ځای زه به هغوې شکایت کومه او هغه به په عذاب کښې ګیرومه.

[٣٠٣٨] د ښځو سره د بیعت کولو مسنون طریقه

٣٠٣٨—[٤] (١)۞ وَعَنْ أُمَيْمَةَ بِنْتِ رُقَيْقَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ۞ «بَايَعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي نِسْوَةٍ ۞ فَقَالَ لَنَا: ۞ (فِيمَا اسْتَطَعْتُنَّ وَأَطَقْتُنَّ) ۞ قُلْتُ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَرْحَمُ بِنَا مِنَّا بِأَنْفُسِنَا ۞ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ بَايِعْنَا ۞ تَعْنِي: صَافِحْنَا ۞ قَالَ: (إِنَّمَا قَوْلِي لِمِائَةِ امْرَأَةٍ كَقَوْلِي لِامْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ)».

ترجمه: ۞ او بي بي اميمه بنت رقيقه ﷺ وايي ۞ چه ما څو ښځو سره د نبي کريم ﷺ څخه بيعت اوکړو ايعنی مونږ څو ښځو اجتماعي طور سره د حضور ﷺ څخه بعيت اوکړو] ۞ نو هغه وخت حضور ﷺ مونږ ته وفرمايل [اې ښيبيانو!] ۞ ماتاسو په هغه څيز

(١) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب السیر عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی بیعة النساء (رقم-١٥٩٧) والنسائی فی کتاب البیعة/باب بیعة النساء (رقم-٤١٨١) وابن ماجه فی کتاب الجهاد/باب بیعة النساء (رقم-٢٨٧٤) ومالک فی الموطا کتاب البیعة/باب ما جاء فی البیعة (رقم-٢)

بیعت کړي يي چې په هغې د عمل کولو تاسو طاقت او استطاعت لرئ [یعنی حضور ﷺ د مهربانۍ د مخي د هغه ښځو بیعت د هغوی عملي استطاعت او همت پورې محدود وساتلو] [۵] ما اوویل بیشکه خپل ذات باندې چې مونږ ځومره مهربانه او رحم دله کیدې شو د هغې څخه ډیر زیات زمونږ په حق کې الله او د هغه رسول رحم کونکی دی [۶] اوبیا ماعرض اوکړو یارسول الله! زمونږ بیعت وکړئ [۷] د دی خبرې څخه د هغې مراد دا وو چه زمونږ سره مصافحه اوکړئ [یعنی د بیعت کولو په وخت زمونږ لاس په خپل لاس مبارك کې ونیسئ] [۸] حضور ﷺ وفرمایل خما سل ښځو ته څه ونیل یوې ښځې ته د ویلو په شان دی [یعنی اول خو ښځې ته د بیعت کولو په وخت صرف په ژبې سره دا ویل کافي دي چې ما ته بیعت کړي يې د هغوی لاس په خپل لاس کې د اخستلو ضرورت نشته دویم داچې که څه ښځې اجتماعي طور سره بیعت کیږي نو په ژبې سره د دې ویلو د پاره هم جداجدا ښځه مخاطب کول ضروري نه دي بلکه صرف یوې ښځې ته وئیل تولو د پاره کافي دی]

[۱] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَمَالِكٌ فِي الْمُوَطَّأِ [۲] كُلُّهُمْ مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ [۳] أَنَّهُ سَمِعَ مِنْ أُمَيْمَةَ الْحَدِيثَ [۴] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ حديث حَسَنٌ صَحِيحٌ [۵] لَا يُعْرَفُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَهُ ابْنُ الْجَزَرِيِّ.

ترجمه: [۱] روایت کړې دي امام ترمذي، امام نسائی، ابن ماجه. او امام مالک په موطا کښې، [۲] دې ټولو محمد بن منکدر په واسطه حدیث نقل کړې دې [۳] چې هغه د حدیث د امامانو څخه اوریدلی دی. [۴] او امام ترمذی فرمائیلی دی چې دا حدیث حسن صحیح دې [۵] د ابن جزری د قول مطابق دا حدیث صرف د ابن المنکدر په روایت سره پیژندې شي

تسهیلات:

قوله: فِيمَا اسْتَطَعْتُنَّ وَأَطَقْتُنَّ:

د طاقت قید لګولو فائده: مطلب دا دې چه مونږ په بیعت کښې د اعمال صالح کولو او دګناهونو نه د بچ کیدو لوظ او وعده کړې وه، خو د استطاعت او د طاقت قید مو نه وو لګولي نبی کریم ﷺ په مونږ باندې مهربانی کولو په وجه اوفرمائیل چه د استطاعت او طاقت قید اولګوئ

قوله: بَايِعْنَا تَعْنِي: صَافِحْنَا:

د بیعت بالید مطالبه: مذکوره ښځې د بیعت بالید (لاس سره بیعت کولو) مطالبه وکړه نو په جواب کښې نبی کریم ﷺ وفرمائیل چه بیعت بالقول (په خولې سره بیعت) کافي دي او بیعت بالید ته حاجت اوضرورت نشته.

قوله: إِنَّمَا قَوْلِي لِمِائَةِ امْرَأَةٍ كَقَوْلِي لِامْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ:

اشکال: علامه طیبی رحمه الله په دي خبره بحث کړي دي چه که څوک سوال وکړي چه دا جواب د سوال مطابق نه دې ځکه چه ددي ښځي سوال او مطالبه مصافحې بالید وه (یعنی لاس ملاوول) او نبی کریم ﷺ مصافحه بالید په ځائ بیعت بالقول ذکر وکړو او دارنګ دې ښځې د ټولو ښځو دپاره مصافحې مطالبه کړي وه نو په جواب کښې نبی کریم ﷺ وفرمائیل چه سل ښځو دپاره زما هغه خبره ده کومه چه دیوی ښځي دپاره ده.

داشکال دوه جوابونه: د نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا قول (انما قولی) ددغې زنانه د قول جواب (صافحنا) جواب دي په دوه طریقو سره

① چه بیعت انحصار په قول باندې دې فعل باندې نه دې.

② زما تاته ددې ټولو زنانو په مخکې وینا کول داسې دی لکه چه هغوی ته هم دا وینا وشوه یعنی تا سره قولی بیعت داسې دې لکه هغوی سره هم بیعت اوشو

قوله: رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ:

په بعضې نسخو کښې بیاض: د مشکوة په اصل نسخه کښې رواه نه بعد بیاض دي. او ددي مطلب دا دې چه د مشکوة مؤلف ته ددې حدیث د مآخذ تحقیق نه دې شوي لیکن بعضي شارحینو په حاشیه کښې دا عبارت لیکلي دې څنګه چه میرک وغیره هم لیکلې دي "رواه الترمذی والنسائی الخ

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۰۴۹] د نبي علیه السلام د صلح حدیبیه معاهده لیکل

۴۰۴۹ - [۸] (¹) [۱] وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: [۲] «اعْتَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذِي الْقَعْدَةِ [۳] فَأَبَى أَهْلُ مَكَّةَ أَنْ يَدَعُوهُ يَدْخُلُ مَكَّةَ، [۴] حَتَّى قَاضَاهُمْ عَلَى أَنْ يَدْخُلَ [۵] يَعْنِي: مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ [۶] يُقِيمُ بِهَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ [۷] فَلَمَّا كَتَبُوا الْكِتَابَ، [۸] كَتَبُوا: هَذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ. [۹] قَالُوا: لَا نُقِرُّ بِهَا، [۱۰] فَلَوْ نَعْلَمُ أَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مَنَعْنَاكَ، [۱۱] وَلَكِنْ أَنْتَ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ. [۱۲] فَقَالَ: (أَنَا رَسُولُ اللَّهِ، [۱۳] وَأَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ).

ترجمه: [۱] حضرت براء ابن عازب رضی الله عنه وایي [۲] چه رسول کریم ﷺ ماه ذي قعده سنه ۶هـ کې عمري د پاره مدیني څخه تشریف یوړو [۳] خو اهل مکه انکار وکړو چې هغوی حضور ﷺ ته په مکه کې د داخلیدو موقع ورکړي [یعنی هغوی حضور ﷺ او صحابه رضی الله عنهم مکې ته د راتلو څخه منع کړل] [۴] تردي چې حضور ﷺ اهل مکه سره په دي خبره

¹) اخرجه البخاری فی کتاب الصّلح /باب: کیف یکتب هذا: ما صالح فلان بن فلان. وفلان بن فلان. وإن لم ینسبه إلی قبیلته أو نسبه (رقم-۲۶۹۹) واحمد فی المسند: ۲۹۱۱/۴

مصالحت اوکړو [٥] چې حضور ﷺ دي مخ کال رائنده کال] ته مکي ته راشي [٦] او هغه وخت هم صرف درې ورځې به مکه کې قيام کوي [٧] صلحنامه چې وليکل شوه [٨] نو [د حضور ﷺ د طرف څخه] صحابهٔ و رضي الله عنهم [د حضور ﷺ اسم ګرامي] داسې اوليکلو چې دا هغه وعده ده چې په هغې محمد رسول الله مصالحت کړي دی [٩] اهل مکه [دا الفاظ ليدو سره حضور ﷺ ته] اوويل چې مونږ خو ستاسو رسالت نه تسليموو [١٠] که زمونږ په دي اعتقاد وې چې تاسو د الله رسول يئ نو مونږ به تاسو د مکي څخه منع کولی ولي. [١١] البته مونږ تاسو دومره منو چې تاسو محمد ﷺ يئ چې د عبد الله ځوی يي [نو دي صلح نامه کې د محمد رسول الله په ځای محمد بن عبد الله وليکئ] [١٢] حضور ﷺ وفرمايل زه محمد رسول الله هم يم [١٣] او محمد بن عبدالله هم يم [دا ستاسو محض ضد دي ځکه چې] تاسو ښه پوهيږئ چې څما دا دواړه صفتونه يعنی د الله رسول کيدل او محمد بن عبدالله کيدل په خپلو کې داسې لازم او ملزوم دي چې هغه د يوبل څخه جدا کيدی نشي نو په دي سره هيڅ فرق نه راځي چې دا دواړه ذکر شي يا يو ذکر شي]

حل اللغات: ① لَانُقِرُّ: مونږ اقرار نه کوو،

[١] ثُمَّ قَالَ لِعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ: [٢] (اُمْحُ: رَسُوْلَ اللّٰهِ) [٣] قَالَ: لَا وَاللّٰهِ، [٤] لَا أَمْحُوْكَ أَبَدًا. [٥] فَأَخَذَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٦] وَلَيْسَ يُحْسِنُ يَكْتُبُ، [٧] فَكَتَبَ: (هٰذَا مَا قَاضَى عَلَيْهِ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ: [٨] لَا يُدْخِلُ مَكَّةَ بِالسِّلَاحِ [٩] إِلَّا السَّيْفَ فِي الْقِرَابِ، [١٠] وَأَنْ لَا يَخْرُجَ مِنْ أَهْلِهَا بِأَحَدٍ إِنْ أَرَادَ أَنْ يَتْبَعَهُ، [١١] وَأَنْ لَا يَمْنَعَ مِنْ أَصْحَابِهِ أَحَدًا إِنْ أَرَادَ أَنْ يُقِيْمَ بِهَا) [١٢] فَلَمَّا دَخَلَهَا وَمَضَى الْأَجَلُ، [١٣] أَتَوْا عَلِيًّا، [١٤] فَقَالُوْا: قُلْ لِصَاحِبِكَ، [١٥] اُخْرُجْ عَنَّا، [١٦] فَقَدْ مَضَى الْأَجَلُ، [١٧] فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] بيا حضور ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ابن ابي طالب ته وفرمايل [چې صلحنامه يې ليکله] [٢] چې د رسول الله لفظ لرې کړه [٣] حضرت علي رضي الله عنه اوويل قسم په خدای [٤] زه خو ستاسو ﷺ نوم هيڅکله ورانولی نشم [٥] [په دي اوريدو سره] حضور ﷺ [د حضرت علي رضي الله عنه د لاس څخه هغه صلحنامه] واخسته [٦] او با وجود د دي چې حضور ﷺ په ليک لوست نه پوهيدلو [٧] ليکن حضور ﷺ د رسول الله لفظ وران کړو او دا ئ وليکل چې دا هغه وعده ده چې په هغې محمد ابن عبد الله مصالحت کړي دي [٨] [او په دي معاهده کې داشرطونه ووا چې هغوی به احضور ﷺ او صحابه رضي الله عنهم] وسلې سره مکي نه داخليږي [٩] خو داچې د هغوی توري تيکو کې وي [١٠] او چه دا که اهلِ مکه کې يوسړی حضور ﷺ سره د تلو اراده وکړي نو هغه به د مکي څخه نشي پريښودلی [يعنی کله چې حضور ﷺ مکي ته راشي او بيا واپس لاړ شي نو د اهل مکه څخه يوسړی به د ځان سره نه بوځي] [١١]

او چه دا که: حضور ﷺ صحابه و ﷺ څخه يو سرې په مکه کې د پاتې کيدو اراده وکړي نو حضور ﷺ به هغه په مکه کې د پاتې کيدو څخه نه منع کوي ⑫ نو مخکې کال ته چې حضور ﷺ مکې ته تشريف راوړو او په مکه کې د پاتې کيدو دريو ورځو موده پوره شوه⑬ نو اهلِ مکه حضرت علي ﷺ ته راغلل ⑭ او هغوی ته يي اوويل چې تاسو خپل سردار [يعنې حضور ﷺ] ته اووايئ ⑮ چې اوس زمونږ د ښار څخه ووځی ⑯ فيصله شوي موده پوره شويده ⑰نو رسول کريم ﷺ د مکې څخه روان شو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: ②امْحُ: ورانه کړه، ③الْقِرَابِ: تيکه، قاش،

تسهيلات:

قوله: أَنْتَ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ:

دکافرانود رسول الله ليکلوڅخه انکار: کافرانو محمدبن عبدالله ليکل غوښتل ځکه چه رسول الله خو هغوی نه منلو. نبی کريم حضرت علی ﷺ ته اوفرمائيل دَ رسول الله لفظ وران کړه حضرت علی ﷺ انکار اوکړو مګر دا انکاردَ نافرمانئی په غرض سره نه وو بلکه دَاطاعت په غرض سره وو په کوم چه ثواب ملاويږی. هم دغه شان انکار حضرت عمر ﷺ په واقعه دَ قرطاس کِښې کړې وومګر روافض حضرت علی ﷺ اونه چيړلو اوحضرت عمر ﷺ ئی پرينخودو. دادَ هغوی دَ بدنيتئی نښه ده.

فعين الرضاعن کل عيب کليلة ولکن عين السخط تبدی المساويا

د نبی عليه السلام تسلی: الله تعالی دې نه پس دَ نبی کريم نوم سره ۹ځل دَ رسول لفظ ذکرکړو بلکه په سورت فتح کښې خو بعينه هم دا لفظ راغلو:

مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ۚ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗٓ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا ۡ سِيْمَاهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ۭ ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ ۚ وَمَثَلُهُمْ فِي الْاِنْجِيْلِ ۚ كَزَرْعٍ اَخْرَجَ شَطْــَٔهٗ فَاٰزَرَهٗ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوٰى عَلٰي سُوْقِهٖ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيْظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ ۭ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ۝ [سورت محمد:۲۹]

[۱۰] بَابُ إِخْرَاجِ الْيَهُودِ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ

دَ جزیرۀ عرب نه دَ یهودیانو دَ ویستلو بیان

خلاصة الباب:

فيه خمسة أحاديث مشتملة على ثلث مسائل:

① اجلاء النبي ﷺ اليهود من المدينة: ۱، ۴.

② إجلاء عمر رضي الله عنه اليهود من جزيرة العرب: ۲، ۵.

③ وصية النبي ﷺ بإخراج اليهود جزيرة العرب: ۳.

د جزیرې تعریف: په نهایه کښې دی چه جزیره د زمکې د هغه حصې نوم دې چه د هغې نه څلورو واړو طرفونو ته اوبه وی یعنی د جزیره عرب په درې طرفونو کښې اوبه دی خو شمالی طرف ئې د ملك شام سره متصل دې لهذا عرب پوره طریقې سره جزیره نه شوه خو د اکثریت په اعتبار سره ورته جزیره وئیلې شوې ده.

د عرب حدود اربعه: ① د عرب په خلیج کښې فارس او بحر عمان دې،

② په جنوب کښې ئې بحر عرب یا بحر هند دې.

③ په مغرب کښې بحر قلزم او نهر سوئز دې.

④ په شمال کښې دملك عرب رقبه دولس دیارلس لاکهه میل مربع ده کومه چه د ملك شام سره متصل ده او په دې شمالی علاقه کښې څلور پنځه لاکهه مربع میل تقریبا صحرا او غیر اباد رقبې شامل دی.

د جزیرۀ عرب په پنځو حصوباندې اشتمال: جزیره عرب په پنځو حصوباندې مشتمل ده ① تهامه ② نجد ③ حجاز ④ عروض ⑤ یمن.

کله چه دَ جزیرۀ عرب نوم اخستې شی نو په اوږدوالی کښې داد عدن نه دَعراق پورې دې او پلنوالی کښې دَ جده نه دَ شام پورې دې. دلته دَ کتاب په عنوان کښې صرف دَ یهودو اخراج لفظ راغلې دې په دې وجه دَ نبی کریم په مبارکه زمانه کښې صرف یهودیان ویستلې شوې وو اونصارئ اوعیسایان نه وو ویستلې شوې. روستو دَدوی هم اخراج شوې وو. خو په راتلونکو احادیثو کښې صرف د یهود نصارئ اواهل کتاب ذکر موجود نه دې بلکه دَمشرکانو دَ اخراج ذکر هم دې

د یهودیانو د اخراج وجه: دَدې اخراج وجه داده چه جزیرۀ عرب دَ پیغمبر عليه السلام وطن دې او په دې کښې دَ اسلام مراکز مکه اومدینه واقع دی په دې وجه په مذهبی اوسیاسی اعتبارسره دَ دغه مراکزو نه دَ کفراوشرك گندگیانې لرې کول اومفسداومضراثراتو نه دَدې پاکول ډیر اهم او قرین قیاس دی.

د غیرِ حرمین څخه د یهودیانو د اخراج په حکم کښې دوه مذهبونه:

① امام شافعی رحمه الله د کافرانو نه دَحجاز دغه پاکول مکې اومدینې پورې محدود ګڼړلی دی
② ائمه احناف دا تخصیص نه خوښوی بلکه دَ پوره جزیره عرب دَ پاکولو فتوی ورکوی چه دلته دې نه ګرجاوی نه کنیسه نه مندر وی نه ګوردواره نه دې امام باړه وی اونه مرزا اړه اونه دې څه ایمان بګاړه وی بهرحال چه کله په احادیثو کښې مطلق دَ جزیره عرب نوم راغلې دې او "لایجتمع دینان فی جزیرة العرب" الفاظ عام دی نودا عموم دَ مکې اومدینې پورې محدود کول مناسب نه دی. لهذا دَ شوافع په څائی دَ احنافو مسلك خپلول ډیر ښه دی خاص کر دَ نن صبا په دورکښې.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۴۰۰۵] د جزیرة العرب څخه د یهودیانو اخراج

۴۰۰۵-[۱] ()[1] ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «بَيْنَا نَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ، ③ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ④ فَقَالَ "انْطَلِقُوا إِلَى يَهُودَ" ⑤ فَخَرَجْنَا مَعَهُ ⑥ حَتَّى جِئْنَا بَيْتَ الْمِدْرَاسِ، ⑦ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: ⑧ يَا مَعْشَرَ يَهُودَ أَسْلِمُوا تَسْلَمُوا، ⑨ اعْلَمُوا أَنَّ الْأَرْضَ لِلّٰهِ وَلِرَسُولِهِ، ⑩ وَأَنِّي أُرِيدُ أَنْ أُجْلِيَكُمْ مِنْ هٰذِهِ الْأَرْضِ، ⑪ فَمَنْ وَجَدَ مِنْكُمْ بِمَالِهِ شَيْئًا ⑫ فَلْيَبِعْهُ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي ② چه یوه ورځ چې مونږ مسجد نبوي کې ناست وو③ رسول کریم ﷺ د خپلې حجرې مبارکې څخه راووتلو ④ او وې فرمایل راځئ چې یهودیانو ته ورشو ⑤ نو مونږ خلق د حضور ﷺ سره روان شو⑥ تردې چې د یهودیانو مدرسې ته ورسیدو ⑦ رسول کریم ﷺ اودریدلو او وې فرمایل ⑧ اې د یهودیانو جماعته! تاسو خلق مسلمانان شئ چې [د دنیا د پریشانو او د آخرت د عذاب څخه] سلامتیا حاصله کړئ ⑨ تاسو ته په دې پوهیدل پکار دي چې زمکه د الله او د هغه د رسول ده [یعنی د دې زمکې خالق او مالك حقیقي الله جل جلاله دی او د هغه رسول د هغه د نائب او خلیفه کیدو حیثیت سره په دې زمکه متصرف او حکمران دې که تاسو د مسلمانیدو څخه انکار کوئ نو بیا واورئ!] ⑩ ما دا اراده کړیده چې زه تاسو د دې زمکې [یعنی جزیرة العرب] څخه جلاوطن کړم⑪ نو په تاسو کې کوم سړې چې خپل مال او اسباب څخه څه داسې شی لري چې د هغې ځان سره وړل ممکن نه وي [لکه جائیداد غیر منقوله وغیره] ⑫ نو هغه ته پکار دی چې هغه خرڅ کړي (بخاري مسلم)

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الجزیة/باب إخراج الیهود من جزیرة العرب (رقم-۳۱۶۷) ومسلم فی کتاب الجهاد والسّیر/باب صلح الحدیبیة فی الحدیبیة (رقم-۹۰ - (۱۷۸۳) ومسلم فی کتاب الجهاد والسّیر/باب إجلاء الیهود من الحجاز (رقم-۶۱ - (۱۷۶۵))واحمد فی المسند:۲۹۱۱/۴

حل اللغات: ① اِنْطَلِقُوا: واپس شئ، ② بَيْتَ الْمِدْرَاسِ: دَ یهودیانو مدرسه وه. ③ أُجْلِيَكُمْ: جلاوطن کرم تاسو، د وطن نه مو اوباسم، ④ فَلْيَبِعْهُ: نو خرڅ دې کړی.

تسهیلات:

قوله: بَيْنَا نَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ: حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه په دغه دوران کښې مونږ په جمات کښې ناست وو چه نبی کریم تشریف راوړو.

په حدیث اشکال: دَ بنونضیر دَ وطن نه ویستل ۴هجری کښې شوی دی اودَ بنوقریظه تباهی په ۵هجری کښې شوې دی اوحضرت ابوهریره رضی الله عنه ۷هجری کښې مسلمان شوې دی. دغه وخت خوابوهریره رضی الله عنه مسلمان شوې هم نه وو نوهغوی څنګه اووئیل چه د بنونضیر دَ وطن دَ ویستو په وخت مونږ په جمات کښې ناست وو؟

داشکال جواب: ① ابوهریره رضی الله عنه اکثرداسې قسم جملې ارشاد کوی چه مونږ هلته وو اومونږ اولیدل یا مونږ واؤریدل دې نه ابوهریره رضی الله عنه دَ صحابه کرامو جماعت مراداخلی سره دَدې چه هغه هلته پخپله نه وی. مطلب دا چه مونږ دَ صحابه کرامو جماعت هلته ناست وو چه نبی کریم تشریف راوړو. (په احادیثو باندې دَ پوهیدلو دَپاره دا یو بهترین قاعده ده).

② دلته دَ یهود نه مراد بنوقینقاع دی دَهغوی څه خلق هغه وخت ویستلې شوې وو کوم وخت چه ابوهریره رضی الله عنه مسلمان شوې وو.

[۳۰۵۱] دَیهودیانو دَاخراج پس منظر

۳۰۵۱-[۲] ()[۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: [۲] قَامَ عُمَرُ خَطِيبًا فَقَالَ [۳] إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَامَلَ يَهُودَ خَيْبَرَ عَلَى أَمْوَالِهِمْ [۴] وَقَالَ "[۵] «نُقِرُّكُمْ مَا أَقَرَّكُمُ اللهُ» [۶]" وَقَدْ رَأَيْتُ إِجْلَاءَهُمْ [۷] فَلَمَّا أَجْمَعَ عُمَرُ عَلَى ذَلِكَ [۸] أَتَاهُ أَحَدُ بَنِي أَبِي الْحُقَيْقِ [۹] فَقَالَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ أَتُخْرِجُنَا [۱۰] وَقَدْ أَقَرَّنَا مُحَمَّدٌ وَعَامَلَنَا عَلَى الْأَمْوَالِ؟

ترجمه: [۱] او ابن عمر رضی الله عنه وایي [۲] چه یوه ورځ امیر المؤمنین حضرت عمر فاروق رضی الله عنه خطبې ویلو د پاره اودریدلو او هغه خطبه کې یي وفرمایل [۳] (تاسو ټولو ته معلومه ده چې) رسول کریم ﷺ د خیبر یهودیانو سره د هغوی د مال او جائیداد متعلق یوه معامله فیصله کړي وه [۴] او حضور ﷺ هغه وخت هغه یهودیانو ته فرمایلی وو [۵] چې مونږ به تاسو خیبر کې ترهغه وخته پورې پرېږدو ترڅوپورې چې الله ﷻ تاسو پرېږدي (یعنی تاسو خلق به ترهغه وخته پورې په خیبرکې د مقیم پاتې کیدو حقدار یئ ترڅوپورې چې الله ﷻ مونږ ته ستاسو د خیبر څخه د جلاوطن کولو حکم رانه کړي) [۶] نو (حضرت عمر

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الشروط/باب إذا اشترط فی المزارعة إذا شئت أخرجتک (رقم-۲۷۳۰)

ﷺ اوویل] اوس زه دوئ جلاوطن کول مناسب گنړم ⑦ بيا چې حضرت عمر ﷺ ددې خبرې فيصله وکړه [چې هغوی دی جلاوطن شي] ⑧ نو د هغوئ يهوديانو د قبيله بني ابي الحقيق يو سړی چې د خپل قوم ډير بوډا او سردار وو دحضرت عمر ﷺ په خدمت کې راغلو ⑨ او هغه اوويل امير المؤمنين! آيا تاسو مونږ جلاوطن کوئ ⑩ حالانکه محمد ﷺ مونږ په خيبر کې پريښي وو او زمونږ د مال او اسباب متعلق يې زمونږ سره يوه معامله هم فيصله کړي وه

حل اللغات: ① عَامَلَ : معامله کړې وه، ② نُقِرُّكُمْ : مقررکوو په تاسو، ③ إِجْلَاءَهُمْ : جلاوطن کول ددوی،

① فَقَالَ عُمَرُ أَظَنَنْتَ أَنِّي نَسِيتُ قَوْلَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ② "وَكَيْفَ بِكَ إِذَا أُخْرِجْتَ مِنْ خَيْبَرَ ③ تَعْدُو بِكَ قَلُوصُكَ لَيْلَةً بَعْدَ لَيْلَةٍ؟ ④ فَقَالَ هَذِهِ كَانَتْ هُزَيْلَةً مِنْ أَبِي الْقَاسِمِ ⑤ فَقَالَ كَذَبْتَ يَا عَدُوَّ اللهِ ⑥ فَأَجْلَاهُمْ عُمَرُ ⑦ وَأَعْطَاهُمْ قِيمَةَ مَا كَانَ لَهُمْ مِنَ الثَّمَرِ ⑧ مَالًا وَإِبِلًا وَعُرُوضًا مِنْ أَقْتَابٍ وَحِبَالٍ وَغَيْرِ ذَلِكَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① حضرت عمر ﷺ ورته وفرمايل آيا ته داگمان کوي چې زما څخه د رسول الله ﷺ داخبره گنې هيره شويده [چې حضور ﷺ تا لره مخاطب کولو سره کړې وه] ② چې هغه وخت به ستا څه حال وي [او ته به څه کوې] هرکله چې ته د خيبر څخه جلاوطن شې ③ او د شپې څخه وروسته شپه کې ستا اوښه په تا پسې زغلي [گويا حضور ﷺ ته د هغه راتلونکې ورځ څخه ويرولې وې هرکله چې د شپې شپې به تالره د خيبر څخه وتل وي] ④ هغه سړی دا اوريدو سره اوويل چې داخبره خو ابو القاسم د مذاق په طور کړي وه ⑤ حضرت عمر ﷺ ورته وفرمايل اې د خدائ دښمنه! ته دروغ وايې [حضور ﷺ داخبره د مذاق په طور نه وه کړې بلکه د معجزې د مخه يې د يوې غيبي خبرې خبر درکړې وو] ⑥ بيا حضرت عمر ﷺ يهوديان جلاوطن کړل ⑦ او د هغوی سره چې د ميوې د قسم څخه څه وو لکه خرما وغيره ⑧ د هغې په قيمت کې يې هغوی ته مال، اوښان او اسباب لکه رسئ او پالان [کټې] وغيره ورکړلې (بخاري)

حل اللغات: ④ تَعْدُو : زغلي. منډې وهي، ⑤ قَلُوصُكَ : قلوص ٌ ځوانه او طاقتوره اوښه، ⑨ هُزَيْلَةً : د ټوقو په طور، ⑥ أَقْتَابٍ : د قَتَبٌ جمع ده وړوکې بوج او کجاوې ته وائي، ⑧ حِبَالٍ : رسئ،

تسهيلات: **قوله**: تَعْدُو بِكَ قَلُوصُكَ لَيْلَةً بَعْدَ لَيْلَةٍ:

د مذکوره جملې مطلب: يعنې شپه په شپه به ستا ځوانه اوښه تاسو په منډه منډه اوباسي دغه به څنگه منظر وی؟ دَ يهودو سردار اووئيل چه دا ابوالقاسم ﷺ ټوقې کولې. حضرت عمر ﷺ وئيل څه دَ الله تعالی دښمنه دا ټوقې نه وې ته دروغ وائې چنانچه عمر

فاروق ﷺ هغه دَ وطن نه اوويستلو.

قوله: وَأَعْطَاهُمْ قِيمَةَ مَا كَانَ لَهُمْ مِنَ الثَّمَرِ:

يهودو ته د هغوی څیزونو قیمت ادا کول: يعني عمر فاروق ﷺ دَ وطن نه ويستونكې يهودو ته دَهغوی دَ باغونواو ميوو په بدله كښې قيمت ادا كولو سره وركړو اوهغه قيمت دَ اوښانو په شكل كښې وو اودَ سامان په شكل كښې وو لكه ډولئی كجاوې او رسئی دائی هغوی ته وركړل دې دَپاره چه په لاره كښې په كار راشی اوباغونه دَ هغې په بدل كښې دَمسلمانانو په لاسونو كښې پاتې شی.

[۴۰۵۳] د جزیرة العرب څخه د مشرکانو د اخراج وصیت

۴۰۵۳ -[۳] ()[۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا[۲] «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ أَوْصَى بِثَلَاثَةٍ قَالَ: [۳] " أَخْرِجُوا الْمُشْرِكِينَ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ[۴] وَأَجِيزُوا الْوَفْدَ بِنَحْوِ مَا كُنْتُ أُجِيزُهُمْ[۵] " قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: وَسَكَتَ عَنِ الثَّالِثَةِ،[۶] أَوْ قَالَ فَأُنْسِيتُهَا» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او ابن عباس ﷺ وايي [۲] چه رسول كريم ﷺ د وفات په وخت د دريو خبرو وصيت اوكړو حضور ﷺ وفرمايل [۳] مشركان د جزيرهٔ عرب يعني د مكې او مدينې څخه وباسئ [۴] او قاصدانو او استاذو سره هغه سلوك كوئ كوم چې ما كولو [يعني ترڅو پورې چې هغوی ستاسو سره وي د هغوی حفاظت كوئ او د هغوی د ژوند ضروريات پوره كوئ] [۵] ابن عباس ﷺ وايي چې رسول اكرم صلي الله عليه وسلم د دريمې خبرې څخه خاموشي اختيار كړه [۶] ياابن عباس ﷺ وفرمايل چه دريمه خبره زما څخه هيره شويده (بخاري مسلم)

تسهيلات: قوله: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ أَوْصَى بِثَلَاثَةٍ:

د وفات په وخت كښې د نبی علیه السلام وصیت: په دې حديث كښې رسول الله ﷺ دَ امت په نوم يوپيغام په شكل دَ وصيت ليږلې دې. نبی كريم دا وصيت هغه وخت فرمائيلې ووكوم وخت چه نبی كريم په مرض الموت كښې وو.

قوله: أَخْرِجُوا الْمُشْرِكِينَ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ:

د مشركين په مصداق كښې دوه اقوال: ① علماؤ ليكلی دی چه دې نه مراد يهود اونصارئ دی څكه چه هغوی هم شرك كول شروع كړی دی

[۱]) اخرجه البخار ی فی کتاب الجهاد والسّير/باب جوائز الوفد (رقم-۳۰۵۳) ومسلم فی کتاب الوصیة/باب ترک الوصیة لمن لیس له شيء يوصی فيه (رقم-۲۰ - (۱۶۳۷)

۲ ممکن ده اهل کتاب اونور مشرکان مراد وی ظاهره هم دغه شان ده.

قوله: وَأَجِيزُوا الْوَفْدَ بِنَحْوِ مَا كُنْتُ أُجِيزُهُمْ:

د وفدونو عزت کول: نبی کریم له به دَ لرې لرې نه دَ اسلام قبلولو په غرض سره یا دَ دین دَ زده کولو په ارادې سره خلق دَ ټولو په شکل کښې راتلل. خصوصاً په آخری عمر کښې خو به پوره کال وفدونه راتلل نبی کریم به دَهغوی اکرام کولو هغوی به ئې حصارول خوراك به ئې ورکولو سملول او څه عطیه ورکولو سره به ئې روانول داهرڅه به کیدل. هم دغه دستور او رواج دَ باقی ساتلو نبی کریم وصیت فرمائیلې.

قوله: أَوْ قَالَ فَأُنْسِيتُهَا

۳ **د اسامه لښکر لیږل:** دَ دریم وصیت باره کښې حضرت ابن عباس ﷺ اوفرمائیل چه مانه خو هیرشوې دی. علماء لیکی چه دریم وصیت دَ جیش اسامه باره کښې وو چه دا ضرور روان کړئی. په زیر بحث حدیث کښې دې طرف ته اشاره نه ده. بعضې روایاتو کښې دَدې ذکر دې. قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه دریم وصیت دا وو چه زما قبر دَ بت په شان مه جوړوئی چه عبادت ئې شروع کړئی. مؤطامالك کښې دَدې ذکردې.

[۳۰۰۳] د جزیرة العرب څخه د یهودو او نصاری جلاوطنی

۳۰۰۳ [۴] ()۱ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ: ۲ أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ۳ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ۴ «لَأُخْرِجَنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ ۵ حَتَّى لَا أَدَعَ فِيهَا إِلَّا مُسْلِمًا» رَوَاهُ مُسْلِمٌ. ۶ وَفِي رِوَايَةٍ ۷ «لَئِنْ عِشْتُ ۸ إِنْ شَاءَ اللهُ لَأُخْرِجَنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ».

ترجمه: ۱ او جابر بن عبد الله رضی الله عنه وایي ۲ چه حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه ماته بیان وکړو ۳ چې هغوی د رسول کریم ﷺ څخه دا اوریدلي وه ۴ چې زه به یهودیان او عیسائیان د جزیره عرب څخه ضرور اوباسم ۵ تردي چې د مسلمانانو څخه ماسوا به جزیره عرب کې هیڅوك نه پریږدم (مسلم) ۶ او په یو روایت کې دي ۷ اچې حضور ﷺ داسي وفرمایل که زه ژوندی پاتې شوم ۸ نو زه به انشاء الله یهودیان او عیسائیان د جزیرهٔ عرب څخه ضرور اوباسم

حل اللغات: ① لَا أَدَعَ: نه به پریږدم

تسهیلات:

نوټ: د جزیرة العرب څخه د یهودو د اخراج مضمون په دې باب کښې بار بار تیرشوې دې.

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الجهاد والسیر/باب إخراج الیهود، والنصاری من جزیرة العرب (رقم-۶۳ - (۱۷۶۷)) و ابو داود فی کتاب الخراج والإمارة والفيء/باب فی إخراج الیهود من جزیرة العرب (رقم-۳۰۳۰) والترمذی فی کتاب السیر عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی إخراج الیهود والنصاری من جزیرة العرب (رقم-۱۶۰۷)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

۱ لَيْسَ فِيهِ إِلَّا حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ ۲ لَا يَكُوْنُ قِبْلَتَانِ ۳ وَقَدْ مَرَّ فِي بَابِ الْجِزْيَةِ

ترجمه ۱ د مصابیح دویم فصل کې د ابن عباس ﷺ صرف دا یوحدیث وو ۲ لایکون قبلتان الخ ،۳ او هغه د جزیه په بیان کې نقل شوی دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۰۵۴] په عهد فاروقی کښې د یهودیانو جلا وطنی

۴۰۵۴—[۵] (۱) ۱ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: ۲ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَجْلَى الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى مِنْ أَرْضِ الْحِجَازِ، ۳ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا ظَهَرَ عَلَى أَهْلِ خَيْبَرَ ۴ أَرَادَ أَنْ يُخْرِجَ الْيَهُودَ مِنْهَا ۵ وَكَانَتِ الْأَرْضُ لَمَّا ظُهِرَ عَلَيْهَا لِلّٰهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُسْلِمِينَ،

ترجمه: ۱ او ابن عمر ﷺ وایي ۲ چه د حجاز زمکې یعنی جزیرة العرب نه د یهودو او نصاری د جلاوطنی کار د حضرت عمر بن خطاب ﷺ په لاس سرته ورسیدو ۳ د دې نه مخکې چې حضور ﷺ ته خیبر باندې غلبه حاصله شوې وه ۴ نو حضور ﷺ خیبر نه د یهودیانو د ویستلو اراده کړې وه ۵ ځکه چې کومه زمکه باندې [حق دین ته غلبه حاصله شي هغه زمکه د الله او د هغه د رسول او د مسلمانانو شي [چې هلته صرف د الله دین غالب او مسلمانانو ته حق د تصرف او حکمراني حاصل شي]

حل اللغات: ① ظُهِرَ: غلبه حاصل شي،

۱ فَسَأَلَ الْيَهُودُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ۲ أَنْ يَتْرُكَهُمْ عَلَى أَنْ يَكْفُوا الْعَمَلَ ۳ وَلَهُمْ نِصْفُ الثَّمَرِ ۴ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " «نُقِرُّكُمْ عَلَى مَا شِئْنَا» ۵ " فَأُقِرُّوا حَتَّى أَجْلَاهُمْ عُمَرُ فِي إِمَارَتِهِ إِلَى تَيْمَاءَ وَأَرِيحَاءَ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ لیکن یهودو رسول کریم ﷺ ته داعرض اوکړو ۲ چې تاسو دوی [یعنی یهودیان] په دې شرط د خیبر په زمکو قابض او متصرف پریږدئ چې هغوی محنت وکړي [یعنی د باغونو حفاظت او د هغې د اوبه خور سیرابي وغیره ټول کار به کوی] ۳ او د هغې نه د پیدا شوې میوو نیمه حصه به د حضور ﷺ حق وي ۴ نو رسول کریم ﷺ د هغوی داعرض منظور کړو لیکن دایې وفرمایل چې مونږ تاسو په خیبر کې

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسّیر/باب: یقاتل عن أهل الذّمّة ولا یسترقون(رقم-۳۰۵۲) ومسلم فی کتاب المساقاة/باب المساقاة، والمعاملة بجزء من الثمر والزرع (رقم-۶ - (۱۵۵۱)

ترهغه وخته پورې پرېږدو ترڅوپورې چې مونږ غواړو ⑤ د دې څخه وروسته هغوی په خيبر کې پرېښودل شو تردې چې حضرت عمر فاروق ﷺ د خپل خلافت په زمانه کې هغوی ټول د تيماء او د اريحا طرف ته جلاوطن کړل (بخاري مسلم)

حل اللغات: ② أَنْ يَكْفُوا: چه کافي شي هغوی، محنت اوکړي هغوی. ③ أُقِرُّوا: پرېښودلی شو هغوی، ④ أَجْلَاهُمْ: جلاوطن ئې کړل هغوی، ⑤ إِلَى تَيْمَاءَ وَأَرِيحَاءَ: دا دواړه ځايونه دَ جزيرهٔ عرب نه بهر په شام کښې دی.

تسهيلات:

قوله: أَجْلَى الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى مِنْ أَرْضِ الْحِجَازِ:

عمر فاروق اود حجاز څخه د يهوديانو اخراج: دَ اخراج يهود کومه تمنا او تاکيد چه نبی کريم فرمائيلې وو هغه حضرت عمر فاروق ﷺ پوره کړه. معلومه شوه چه حضرت عمر فاروق ﷺ دَ نبی کريم ارشادات پوره کونکې وو. که حضرت عمر فاروق ﷺ دَ تاريخ دَ پاڼرونه اخوا کړې شی نودَ دين دَتکميل مرحله به نامکمل پاتې شی.

قوله: وَكَانَتِ الْأَرْضُ لَمَّا ظُهِرَ:

په خيبر کښې د يهودو د پرېښودو محدود وخت: يعنی کومه زمکه چه به په جهاد مقدس سره فتح کيدله هغه به دَ الله او دَ هغه دَ رسول اودَمسلمانانو کيدله او په مسلمانانو کښې به تقسيميدله. دَ خيبرزمکوسره هم داسې اوشو مګر يهوديانودا درخواست اوکړو چه اوس دَ زميندارئی په توګه مونږ دلته پرېږدئی مونږ به زمکې آباده وو نيمه غله به زمونږ وی اونيمه به دَمسلمانانووی نبی کريم اوفرمائيل چه ترکومې پورې مونږ غواړو تاسو به ساتو ګنی اوباسو به مو چنانچه دَعمر فاروق ﷺ دوی اوويستل اوباقی ئې اونه ساتل لکه چه دَ نبی کريم ويستل او باقی نه ساتل شو "نفرکم" کښې دَعمر شان څومره شاندار جوړيږی. تيما او اريحا دا دوه مقامات.

[۱۱] بَابُ الْفَيْءِ

دَفئ بيان

خلاصة الباب:

فيه تسعة أحاديث مشتملة على ثلاث مسائل:

① خصوصية النبي ﷺ من مال الفيئ: ۱، ۲، ۸، ۹.

② طريق تقسيم مال الفيئ: ۳، ۴، ۵، ۶.

③ كون الفيئ حق العامة: ۷.

دغنیمت تعریف: غنیمت هغه مال دې کوم چه د کفارو نه د جهاد او قتال په ذریعه حاصل کړې شوې وی

دفئ لغوی معنی: د فئ معنی د واپس کیدل دی د زوال نه پس چه د کومو څیزونو سورې د مشرق طرف ته واپس کیږی هغه سوری ته فئ وائی،

د مال فئ اصطلاحي تعریف: او فئ هغه مال دې کوم چه بغیر د جهاد او قتال نه د کفارو نه حاصل کړې شوې وی،

د مال فئ د حصول ذرائع: ① کله مال فئ په داسې صورت کښې حاصل شوې وی چې کافرانو خپل مال پریخودلو سره تختیدلې وی،

② کله مال فئ کافران په رضامندئ سره د جزیه، خراج په صورت مسلمانانوته ورکړی

③ کله مال فئ د تجارتی ډیوټئ وغیره په ذریعه د کافرانوڅخه حاصل شوې وی.

د مال فئ مصرف: ددې څلور حصې به په مکمل توګه دنبی کریم په لاس کښې وې چه په خپل اختیارسره به ئی خرچ کولې. په دې کښې په میلمنو باندې خوراك کول اهل وعیال ته ورکول اودَ مجاهدینو امداد کول ټول شامل وو. او پنځمه حصه به نبی کریم په هغه چا باندې خرچ کوله دکوم مصارف چه الله تعالی ذکر فرمائیلي دي

دمال فئ عام مصرف: ددې نه نبی کریم په اهل باندې خپلوانو باندې بیبیانو اوبچو وغیره باندې تقسیم کړو په یتیمانوکونډورنډو مسکینانو او محتاجانو باندې خرچ کړو په مسافرانو اوپسمانده خلقوباندې ئی خرچ کړه دې نه علاوه نورو دَ خیربښیګړې کارونو کښې هم ددې مال لګول جائزدی. مثلاً سړك یا پل جوړول هسپتال جوړول مسافر خانه جوړول جمات اومدرسه جوړول په دې ټولو مصارفو کښې مال فئ استعمالیدې شی.

په مال فئ کښې د مراتبوپه رعایت کښې مذهبین: ① امام شافعی رحمه الله فرمائی چه دَمال فئ په تقسیم کښې دَ هیڅ ترتیب څه لحاظ او اعتبار نشته دې بلکه دَمیراث په شان به ټول مستحقین برابرشریك وی.

④ دَجمهورو په نيزبه دَدې لحاظ کيږي اوهغه داسې چه اول به افضل ته ورکولې شی بيابه درجه په درجه ورکولې شی. مثلاً دَټولونه اول به اهل بدرته ورکولې شی بيا بيعت رضوان والوته بيااهل بيت ته اوبيابه په عوام کښې تقسيميږي. حضرت عمر فاروق ﷛ به دَدې ترتيب خيال ساتلو

په مال غنيمت او مال فئ کښې فروق ثلاثه: ① غنيمت هغه مال دې کوم چه د کفارو نه د جهاد او قتال په ذريعه حاصل کړې شوې وی

او فئ هغه مال دې کوم چه بغير د جهاد او قتال نه د کفارو نه حاصل کړې شوې وی.

④ په مال فئ کښې خمس نشته دې اومال غنيمت کښې خمس دې.

③ په مال غنيمت کښې صرف دَ مجاهدينوحق دې اوپه مال فئ کښې دَ ټولو مسلمانانو حق دې.

ه مال فئ د حصول دوه مواقع: ① په مدينه منوره کښې دَبنونضير په اموالو کښې ملاؤشوې وو

④ دَ خيبردَ فتح کيدونه پس څه علاقې دَ جنګ نه بغير لاس ته راغلې وې دَهغې نه مال فئ ملاؤشوې وو لکه دَ فدك باغ وو.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٤٠٥٥] په مال فئ کښې د نبی عليه السلام تصرف

٤٠٥٥—[١] (¹) ① عَنْ مَالِكِ بْنِ أَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: ③ «إِنَّ اللّٰهَ قَدْ خَصَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا الْفَيْءِ بِشَيْءٍ ③ لَمْ يُعْطِهِ أَحَدًا غَيْرَهُ. ④ ثُمَّ قَرَأَ ﴿وَمَا أَفَاءَ اللّٰهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْهُمْ﴾ [الحشر: ٦] إِلَى قَوْلِهِ (قَدِيرٌ) ⑤ فَكَانَتْ هَذِهِ خَالِصَةً لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ⑥ يُنْفِقُ عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةَ سَنَتِهِمْ مِنْ هَذَا الْمَالِ، ⑦ ثُمَّ يَأْخُذُ مَا بَقِيَ فَيَجْعَلُهُ مَجْعَلَ مَالِ اللّٰهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① مالك ابن اوس ابن حدثان وايي ② چه حضرت عمر ابن خطاب ﷛ وفرمايل ③ الله ﷻ د مال فئ په سلسله کې خپل رسول ته يوخاص خصوصيت ورکړې وو ③ چې د حضور ﷺ څخه علاوه بل چاته يې هغه خصوصيت نه وو ورکړي ④ بيا حضرت عمر ﷛ دا آيت مَآاَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْهُمْ ترقَدِيْرٌ پورې تلاوت کړو ⑤ [او وي فرمايل] دا مال صرف د رسول کريم ﷺ د پاره مخصوص شوې وو ⑥ چې د هغې څخه به حضور ﷺ خپل

¹) اخرجه البخاري فی کتاب فرض الخمس (رقم-٣٠٩٤) ومسلم فی کتاب الجهاد والسّير /باب حکم الفيء (رقم-٤٩ -(١٧٥٧) واحمد فی المسند: ٢٠٨/١

کور والو ته د کال خرځ ورکولو ⑦ د دې څخه وروسته چې به په هغه کې څه پاتې شول نو هغه به يې هغه ځايونو کې خرځ کوی کوم چې د الله د مال د خرچ کولو ځايونه دي [يعنی هغه باقي مال به يې د مسلمانانو په مفاد او مصالح لکه هتيار او آسونو وغيره خريدارئ باندې خرځ کولو او محتاج او مسکينانو څخه چې څوک به يې غوښتل د هغه مدد به يې کولو] (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① مُجْعَلَ: دخرچ کولو ځايونه.

تسهيلات: قوله: لَمْ يُعْطِهِ أَحَدًا غَيْرَهُ:

په مال فئ کښې د نبی عليه السلام عمل: کوم مال چه بغير د جنګه حاصل شي هغې ته مال فئ وئيلې شي او په مال فئ کښې خمس او تقسيم نه وي بلکه نبی کريم ﷺ ته په مال فئ کښې مکمل اختيار حاصل وؤ چه څنګه خوښه وی هغه شان تصرف په کښې وکړی. نو نبی کريم ﷺ به د مال فئ نه دخپل اهل وعيال دپاره د ټول کال خرچه اخستله او باقي ټول مال به يئ په غريبانانو، مسکينانو، خپلوانو او په دينی ضرورتونو کښې خرچ کولو.

دوفاة النبی څخه روسته د مال فئ باره کښې اقوال:

① دنبی کريم ﷺ نه بعد مال فئ د اسلامی ملک د سربراه (مشر) حق دې.

② مال فئ دمجاهدينو او مقاتلينو حق دې يعنی ددوي په مينځ کښې به تقسيمولي شي او دا د امام شافعی رحمه الله يو قول هم دې.

③ دا مال د عام مسلمانانو په لاندې ذکر شوی اجتماعي مفادو کښې خرچ کولې شې.

① په هغه خلقو به خرچ کيږی کوم چه غريبانان وي محتاج وي او دکارکولو قدرت نه لری.

② د ښار حفاظت او د کفارو د شر نه د بچ کيدو دپاره د ښار نه چار چاپيره چيک پوستې باندې، محافظ مجاهدينو يا اسلحه باندې به خرچ کولې شی.

③ د ښار اندرونی تدبيرات مثلاً سياست، قضاء، اقامت حدود او قيدخانو کښې به خرچ کيږي.

④ د دين د حفاظت کونکی خطباؤ، علماؤ، ائمه او مدرسين د تنخواګانو په مد کښې به خرچ کيږي.

⑤ د ټولو مسلمانانو په منافع کښې به خرچ کيږي، لکه نهر، د بجلی وغيره نظام دپاره.

قوله: يُنْفِقُ عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةَ سَنَتِهِمْ مِنْ هَذَا الْمَالِ:

اشکال: رواياتو کښې ذکر دي چه نبی کريم ﷺ به خپل ځان سره مال د يو ورځ نه زيات نه ساتلو نو بيا ئي د يو کال خرچه څنګه جمع کوله؟

داشکال جواب: کومو رواياتو کښې چه داخبره ذکر ده نو ددې تعلق د نبی کريم ﷺ د

ذات مبارک سره دي یعني خپل ځان دپاره به یې څه ځیز نه ساتلو، او دلته چه کومه خبره ده ددې تعلق د نبی کریم ﷺ د اهل وعیال سره دې او دا خبره دې هم واضح وي چه نبی کریم ﷺ به کله نه کله خپل ازواج مطهراتو ته د ټول کال خرچه ورکوله یعنی مستقل طور دمعمول نه وؤ.

د اهل وعیال دپاره د یو کال د ذخیره کولو جواز: امام نووی رحمه الله فرمائی چه ددې نه دا خبره معلومه شوه چه اهل وعیال دپاره د ټول کال د ورکولو ژوند د ضرورتونو خرچه جمع کول جائز دی او دا د توکل منافی نه دي بلکه په دی کښې بي فکری او برکت دی

[۳۰۵۲] د اموال بنو نضیر څخه د نبی علیه السلام خپل اهل ته نفقه ورکول

۳۰۵۲ — [۲] (۱) [۱] وَعَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: [۲] «كَانَتْ أَمْوَالُ بَنِي النَّضِيرِ مِمَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ [۳] مِمَّا لَمْ يُوجِفِ الْمُسْلِمُونَ عَلَيْهِ بِخَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ، [۴] فَكَانَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاصَّةً [۵] يُنْفِقُ عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةَ سَنَتِهِمْ، [۶] ثُمَّ يَجْعَلُ مَا بَقِيَ فِي السِّلَاحِ وَالْكُرَاعِ عُدَّةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمر رضی الله عنه څخه روایت دی [۲] چه د [یهودو د قبیله] بنو نضیر مال د دې قسم مال څخه وو چې الله ﷻ خپل رسول ته د څه جد وجهد څخه بغیر عطاکړي وو [۳] د هغې د پاره نه خو مسلمانانو اسونه زغلولي وو نه اوښان [۴] ځکه هغه مال حضور ﷺ د پاره مخصوص شوی وو [۵] چې د هغې څخه به حضور ﷺ د خپل کور والو د کال په ضروریاتو کې خرچ کول [۶] او بیا د هغې څخه چې به څه پاتې شو هغه به یې هتیار او د اسونو خریدارئ باندې مصرف کول چې هغه د الله لار [یعنی په جهاد] کې په کار راشي (بخاري مسلم)

حل اللغات: ① أَفَاءَ: فاء يفئ فيئا واپس کیدل او رجوع کول. دجهاد نه بغیرچه کوم مال ملاؤ شی هغې ته مال فئ وائی. ② لَمْ يُوجِفْ: نه وو زغلولی، ③ الْكُرَاعِ: اسونه، ④ عُدَّةً: آلات او سامان، (تیار کړې شوې سامان).

تسهیلات: قوله: يُنْفِقُ عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةَ سَنَتِهِمْ:

اشکال: نبی کریم به دَ توکل دَ وجهې خپل ځان سره څه نه پریخودل. دلته ئی دَ ټول کال خرچه څنګه اوساتله؟

د اشکال جواب: نبی کریم به دَخپل ذات دَپاره خرچه نه کیخوده، بلکه په ازواج مطهراتو کښې دَپاره به دَ نبی کریم دَ طرفه داسې کیدل دَتولو دَپاره نه.

---

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسّیر/باب المجنّ ومن یترّس بترس صاحبه (رقم-۲۹۰۴) ومسلم فی کتاب الجهاد والسّیر/باب حکم الفیء (رقم-۴۸ - (۱۷۵۷) و ابو داود فی کتاب الخراج والإمارة والفیء/باب فی صفایا رسول الله صلّی الله علیه وسلّم من الأموال(رقم-۲۹۶۵) والنسائی فی کتاب قسم الفیء(رقم-۴۱۴۰) واحمد فی المسند: ۲۵/۱

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۰۵۷] په مال فئ کښې د لونډ او واده کړی حصه

۴۰۵۷-[۳] (۱) [۱] عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَتَاهُ الْفَيْءُ [۳] قَسَمَهُ فِي يَوْمِهِ، [۴] فَأَعْطَى الْآهِلَ حَظَّيْنِ، [۵] وَأَعْطَى الْأَعْزَبَ حَظًّا، [۶] فَدُعِيتُ فَأَعْطَانِي حَظَّيْنِ [۷] وَكَانَ لِي أَهْلٌ، [۸] ثُمَّ دُعِيَ بَعْدِي عَمَّارُ بْنُ يَاسِرٍ [۹] فَأُعْطِيَ حَظًّا وَاحِدًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] عوف ابن مالک رضی الله عنه وايي [۲] چه رسول کريم ﷺ ته چې به مالِ فئ راغلو [۳] نو حضور ﷺ به په هغه ورځ د ضرورتمندو په مينځ کې تقسيمولو [۴] څوک چې به ښځي والا وه هغه ته به يي دوه حصي ورکولي [۵] او مجرد (لونډ، ناواده) ته به يي يوه حصه ورکوله [۶] چنانه يو ځل يي زه هم وغوښتم او ماته يي دوه حصي عطاکړي [۷] ځکه چې خما ښځه هم وه [۸] او بيا زما څخه وروسته يي عمار ابن ياسر رضی الله عنه وبللي (چې د هغه ښځه نه وه) [۹] نو حضور ﷺ هغه ته يوه حصه ورکړله. (ابوداود)

حل اللغات: ① الْفَيْءُ: بغير جهاد نه حاصل شوې مال، ② الْآهِلَ: ښځه لرونکي، اهل والا. ③ حَظَّيْنِ: دوه حصې، ④ الْأَعْزَبَ: لونډ، ناواده،

تسهيلات:

قوله: فَأَعْطَى الْآهِلَ حَظَّيْنِ، وَأَعْطَى الْأَعْزَبَ حَظًّا:

په دې حديث کښې دا بيان دې چې نبی عليه السلام ته به کله مال فئ راغلو نو د هغوی د تقسيم طريقه دا وه چې لونډ (بې بال بچه) ته به ئې يوه حصه ورکوله او بال بچه دار ته به ئې دوه حصې ورکولې. د هغې ضرورت ته به ئې کتل او هغه شان تقسيم به ئې کولو.

[۴۰۵۸] په مال فئ سره د غلامانو آزادول

۴۰۵۸-[۴] (۲) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: [۲] «رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلَ مَا جَاءَهُ شَيْءٌ [۳] بَدَأَ بِالْمُحَرَّرِينَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او ابن عمر رضی الله عنه وايي [۲] چه ما ليدلي دي چې رسول کريم ﷺ به د مال فئ راتلو څخه وروسته [۳] په هغې کې د ټولو څخه مخکې هغه خلقوته مرحمت کول چې هغوی به حال کې د غلامي څخه آزاد شوي وو (ابوداود)

حل اللغات: ① الْمُحَرَّرِينَ: آزاد شوی غلامان

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الخراج والإمارة والفیء/باب فی قسم الفیء (رقم-۲۹۵۳)
[۲] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الخراج والإمارة والفیء/باب فی قسم الفیء (رقم-۲۹۵۱)

تسهيلات:

قوله: أَوَّلَ مَا جَاءَهُ شَيْءٌ بَدَأَ بِالْمُحَرَّرِينَ:

د غلامانو د آزادولو اهميت: چونکه دا به بې سروسامان وو په دې وجه دَ ټولونه اول به دَ مال فئ تقسيم په دوی کيدلو.

[۲۰۵۱] دَمال فئ غمی هم تقسيم شو

۲۰۰۵–[۵] ()[۱] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا: [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِظَبْيَةٍ [۳] فِيهِ خَرَزٌ، [۴] فَقَسَمَهَا لِلْحُرَّةِ وَالْأَمَةِ. [۵] قَالَتْ عَائِشَةُ: [٦] كَانَ أَبِي يَقْسِمُ لِلْحُرِّ وَالْعَبْدِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي [۲] چه يو خل رسول كريم ﷺ ته يوه تهيلی راغله [۳] چې هغه د غمو څخه ډکه وه [۴] حضور ﷺ هغه غمی بيبيانو [يعنی آزادو ښځو] او وينځو کې تقسيم کړل [۵] بي بي عائشه رضي الله عنها وايي [٦] چه څما پلار [يعنی حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه ته چې غمی به راتلل نو هغوی به هغه غمی] په ازاد او غلامانو سړو کې تقسيمول. (ابوداود)

حل اللغات: ①ظَبْيَة: وړه تهيلئ، ②خَرَز: يو قسم قيمتی کاڼړې، غمې،

قوله: كَانَ أَبِي يَقْسِمُ لِلْحُرِّ وَالْعَبْدِ:

د عائشې رضی الله عنها په قول کښې دوه اشارې: ① دا اشاره هم ده که هغه ښځه اوسړې به آزاد ووکه غلام يا وينځه وه. چونکه دَنبی کريم په زمانه کښې به دا غمی صرف په ښځوکښې تقسيميدل سړو ته به نه ملاويدل. حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها دا تخصيص عام کول غوارِی اوفرمائی چه دَحضرت ابوبکر رضي الله عنه په زمانه کښې به دا غمی په سړوکښې هم تقسيميدل.

② دَحضرت عائشې صديقې رضي الله عنها په دې کلام کښې اشاره ده چه دَمال فئ دا غمی په صديقی دورکښې صرف په ښځوکښې نه تقسيميدلو بلکه په سړو کښې به هم تقسيميدلو

د غلام څخه مراد: ملاعلی قاری رحمه الله ليکی چه کيدې شی چه دَ غلام نه آزاد شوې غلام مراد وی څکه چه که غلام دَ چا غلام وی نودَهغه خرچه په مالك باندې ده. په مال فئ کښې دَهغه حصه نه وی. بهرحال حق جوړيدل اوعطيه ورکول دواړه جدا څيزونه دی.

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب، الخراج والإمارة والفيء/باب فی قسم الفيء (رقم-۲۹۵۲) واحمد فی المسند: ۱۵۶/۶

[۴۰۶۰] د مال فئ په تقسيم کي د فرق مراتب لحاظ

۴۰۶۰- [۶] ()[۱] وَعَنْ مَالِكِ بْنِ أَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ [۲] ذَكَرَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَوْمًا الْفَيْءَ فَقَالَ [۳] مَا أَنَا أَحَقُّ بِهَذَا الْفَيْءِ مِنْكُمْ [۴] وَمَا أَحَدٌ مِنَّا بِأَحَقَّ بِهِ مِنْ أَحَدٍ [۵] إِلَّا أَنَّا عَلَى مَنَازِلِنَا مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ [۶] «وَقَسْمِ رَسُولِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۷] فَالرَّجُلُ وَقِدَمُهُ [۸] وَالرَّجُلُ وَبَلَاؤُهُ [۹] وَالرَّجُلُ وَعِيَالُهُ [۱۰] وَالرَّجُلُ وَحَاجَتُهُ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او مالك ابن اوس ابن حدثان وايي [۲] چه يوه ورځ حضرت عمر فاروق ﷛ د مال فئ ذکر وکړو او وي فرمايل [۳] د دې مال فئ زه ستاسو څخه زيات حقدار نه يم [۴] او نه په مونږ کې يو سړی د دې مالِ فئ د بل سړي څخه زيات مستحق دې [۵] البته مونږ د الله عز وجل کتاب [۶] او د هغه د رسول د تقسيم مطابق خپلي خپلي مرتبي باندې يو [۷] نو يو سړې هغه دې (چې قبوليت د اسلام کې) مخکيوالي لري [۸] او يو سړې هغه دی چې د دين په لار کې شجاعت (او بهادري او د سعي او مشقت اوصاف) لري [۹] يو هغه سړې دې چې اهل وعيال لري [۱۰] او يو هغه سړې دې چې ضرورت او حاجت لري. (ابوداود)

حل اللغات: ① عَلَى مَنَازِلِنَا: چه څه مونږ ته نازل شوی دی (د الله کتاب) ② الرَّجُلُ وَقِدَمُهُ: هغه سړې چه په اسلام کښې مخکيوالي لری، ③ الرَّجُلُ وَبَلَاؤُهُ: هغه سړې چه بهادر وی

تسهيلات:

قوله: إِلَّا أَنَّا عَلَى مَنَازِلِنَا مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ:

د مال فئ په تقسيم کښې ترتيب:

① قديم الاسلام سړې به دَ مال فئ په تقسيم کښې مقدم او افضل وی.

② هغه مسلمان زيات حقدار دې چې بهادروی اوچتې کارنامې پوره کوی. دَدين دَپاره لوئی مشقتونه برداشت کوی هغه زيات مستحق دې.

③ بال بچه دار سړې دې هغه ته به دَهغه دَ اولاد په اعتبارسره زيات ورکولې شی

④ داسې سړې دې چه بالکل محتاج دې هغه زيات مستحق دې.

د فقهاؤ نظر: حضرت عمر ﷛ دَ مراتبو دَ فرق لحاظ ساتلې دې هم دغه دَ جمهورو مسلک دې. امام شافعی ﷫ دَدې قائل نه دې. مسئله اول ليکلې شوې ده راتلونکې حديث هم دغه شان دې.

() اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الخراج والإمارة والفیء /باب فيما يلزم الإمام من أمر الرّعيّة والحجبة عنه (رقم-۲۹۵۰)

[۳۰۶] د زکاة، غنيمت او د فئ مصارف

۳۰۶–[۷] ( )[۱] وَعَنْهُ قَالَ: [۲] قَرَأَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ﴿إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ﴾ [التوبة: ۶۰] ، [۲] حَتّٰى بَلَغَ (عَلِيمٌ حَكِيمٌ) [۳] فَقَالَ هٰذِهٖ لِهٰؤُلَاءِ، [۵] ثُمَّ قَرَأَ ﴿وَاعْلَمُوا أَنَّ مَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ﴾ [الأنفال: ۴۰] [۶] حَتّٰى بَلَغَ (ابْنِ السَّبِيلِ) ، [۷] ثُمَّ قَالَ هٰذِهٖ لِهٰؤُلَاءِ،

ترجمه: [۱] او مالک ﷺ ابن اوس وايي [۲] چه يوه موقع باندې حضرت عمر فاروق ﷺ دا آيت تلاوت کړو چې په هغې کې د زکوٰة د مصارفو بيان دې إِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَآءِ وَالْمَسَاكِيْنِ [۳] او دا آيت هغوی عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ پورې تلاوت کړو [۴] او وي فرمايل چې د دې [زکوٰة د مال] موندونکی مستحق هم دا خلق دي [چې د هغوی ذکر په دې آيت کې شوې دې يعنی فقراء او مساکين وغيره] [۵] بيا هغوی دا آيت اووئيلو وَاعْلَمُوْا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُوْلِ [۶] او دا آيت يي وَابْنُ السَّبِيْلِ پورې تلاوت کړو [۷] او وي فرمايل چې دا د خمس مال د هغه خلقو حق دې چې د هغوی ذکر په دې آيت کې شوې دې [يعنی د ذوی القربٰی وغيره].

[۱] ثُمَّ قَرَأَ ﴿مَا أَفَاءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُولِهٖ مِنْ أَهْلِ الْقُرٰى﴾ [الحشر: ۷] ۳) [۲] حَتّٰى بَلَغَ (لِلْفُقَرَاءِ) ، [۳] ثُمَّ قَرَأَ ﴿وَالَّذِينَ جَاءُوا مِنْ بَعْدِهِمْ﴾ [الحشر: ۱۰] . [۴] ثُمَّ قَالَ هٰذِهٖ اسْتَوْعَبَتِ الْمُسْلِمِينَ عَامَّةً، [۵] فَلَئِنْ عِشْتُ [۶] فَلَيَأْتِيَنَّ الرَّاعِيَ وَهُوَ بِسَرْوِ حِمْيَرَ نَصِيبُهُ مِنْهَا، [۷] لَمْ يَعْرَقْ فِيهَا جَبِينُهُ. رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: [۱] د دې څخه وروسته هغوی دا آيت تلاوت کړو [چې په هغه کې د مال فئ حکم بيان شوې دې چې هغه به چا چاته ورکولي شي] مَا أَفَاءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْ أَهْلِ الْقُرٰى [۲] دا آيت يي لِلْفُقَرَآءِ وَالَّذِيْنَ جَاءُوْا مِنْ بَعْدِهِمْ پورې تلاوت کړو [۳] [يوه نسخه کې دا عبارت دی چې حَتّٰى بَلَغَ لِلْفُقَرَآءِ ثُمَّ قَرَءَ وَالَّذِيْنَ جَاءُوْا [د دې مطابق به مفهوم داوي چې هغوی دا آيت مَا أَفَاءَ اللّٰهُ وئيل شروع کړل او لِلْفُقَرَاءِ پورې دوه آيتونه يي اوويل او بيا دا آيت وَالَّذِيْنَ جَاءُوْا مِنْ بَعْدِهِمْ يي اووئيلو] [۴] او وي فرمايل چې دې آيت ټول مسلمانان احاطه کړي دي [۵] که زه ژوندی پاتې شوم انو څما حدود خلافت کې به هيڅ داسې مسلمان پاتې نشي چې هغه ته به د هغه حصه ونه رسيږي] [۶] [تردې چې] هغه شپونکي ته به هم د مال فئ څخه د هغه حصه رسيږي، کوم چې په سرو حمير کې وي [چې ديمن يوه پورتنۍ اولرې علاقه ده] [۷] په داسې حال کې چې د هغې په حاصلولو کې به د هغه په تندې باندې خوله [پسينه] هم نه وي راغلي (شرح السنه)

( ) اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحديث ۲۷۴۰

حل اللغات: ① اسْتَوْعَبَتْ: شامل دي ټولو مسلمانانو ته، ② الرَّاعِيَ: ګډبه، شپونکي، ③ بِسَرْوِ: يمن سره خواکي د خاني نوم دي ④ حِمْيَرَ: د يمن يوه مشهوره قبيله ده ⑤ نَصِيبُهُ: حصه د هغه، ⑥ لَمْ يَعْرَقْ: خوله نه وي راغلي، ⑦ جَبِينُهُ: تندي د هغه،

تسهيلات:

قوله: فَلَيَأْتِيَنَّ الرَّاعِيَ وَهُوَ بِسَرْوِ حِمْيَرَ نَصِيبُهُ مِنْهَا

د بسر مصداق: د يمن د يوې مشهورې قبيلې نوم دي يعنی هغه کلی والا قبيله به د حمير علاقې سرو کښې اوسيدل اوماله به راځي زه به هغه ته هم مال فئ ورکوم ملاعلی قاري رحمه الله د پورتنی تحقيق نه پس ليکلی دی چه د بعضې علماؤ داخيال دې چه سرو حميرد يوې علاقې پوره نوم دي لهذا بيابه داضافت صورت نه وی يعنی کلی وال سروحمير د خاني نه به راځي

[۲۰۳] د فدک په مقدمه د عمر رضي الله عنه استدلال

۴۰۳۰ - [۸] ( ) ① وَعَنْهُ قَالَ ② كَانَ فِيمَا احْتَجَّ بِهِ عُمَرُ أَنْ قَالَ ③ «كَانَتْ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثُ صَفَايَا ④ بَنُو النَّضِيرِ، وَخَيْبَرُ وَفَدَكُ ⑤ فَأَمَّا بَنُو النَّضِيرِ فَكَانَتْ حُبْسًا لِنَوَائِبِهِ ⑥ وَأَمَّا فَدَكُ فَكَانَتْ حُبْسًا لِأَبْنَاءِ السَّبِيلِ، ⑦ وَأَمَّا خَيْبَرُ فَجَزَّأَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةَ أَجْزَاءٍ: ⑧ جُزْءَيْنِ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ ⑨ وَجُزْءًا نَفَقَةً لِأَهْلِهِ ⑩ فَمَا فَضَلَ عَنْ نَفَقَةِ أَهْلِهِ ⑪ جَعَلَهُ بَيْنَ فُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او مالک رضي الله عنه ابن اوس وايي ② چه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه چې د کومې خبرې څخه استدلال اوکړو هغه دا وه چې هغوی وفرمايل ③ چه رسول کريم ﷺ سره درې انتخابات وو. ④ بنونضير، خيبراو باغ فدک ⑤ [د بنونضير د جلا وطن کيدو څخه وروسته هغوی ته چې کومه زمکه، جائيداد په قبضه کې راغلي ووا] ⑥ [د هغې څخه حاصليدونکی مال] د حضور ﷺ اخراجات [لکه د ميلمنو ضيافت او تواضع او مجاهدينو د پاره هتيار او د اسونو خريداري وغيره] د پاره مخصوص وو ⑦ دفدک محاصل د هغه مسافرو [امداد د پاره] مخصوص وو چې [اګر چې په خپل وطن کې خو مال لري خو] د سفر په دوران کې د هغوی سره مال او اسباب ختم شوي وي ⑧ او د خيبر د محاصل رسول کريم ﷺ درې حصې کړې وې ⑨ په هغې کې دوه حصې خوبه حضور ﷺ په مسلمانانو تقسيمولې ⑩ او يوه حصه به يې د خپل اهل وعيال د اخراجاتو د پاره ساتله ⑪ او په هغې کې هم د اهل وعيال د خرڅ څخه به چې څه پاتې شول ⑫ هغه به حضور ﷺ نادارومهاجرينو باندې خرچ کول. (ابوداود)

[1]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الخراج والإمارة والفيء/باب في صفايا رسول الله صلى الله عليه وسلم من الأموال(رقم-۲۹۶۷)

حل اللغات: ① صَفَايَا: دَ صفية جمع ده خوښول ، انتخاب کول ② حَبْسًا: منع کول، ③ لِنَوَائِبِهِ: د حضور ﷺ اخراجاتو دپاره لکه د میلمنو ضیافت او تواضع او مجاهدینو د پاره هتیار وغیره، ④ جَزَّأَهَا: حصې کړې ئې وې هغه،

تسهیلات:

قوله: كَانَتْ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثُ صَفَايَا:

صفی کېښي د نبی علیه السلام خصوصیت: یعنی دَغنیمت دَمال دَتقسیم نه وړاندې که یو څیز نبی کریم دَخپل ځان دَپاره خوښولو نودا صرف دَنبی کریم سره خاص وو دَنبی کریم نه پس دَ چادَپاره هم جائزنه دی. دَ صفی اطلاق کیدې شی چه دلته دَ مجاز په توګه وی ځکه چه دا اموال خو دَ مال فئ په حساب کېښې راځی. لکه چه په مال فئ باندې دَ صفی اطلاق کړې شوې دې.

قوله: وَأَمَّا خَيْبَرُ فَجَزَّأَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةَ أَجْزَاءٍ:

دخیبر مالونه په درې حصو کېښې تقسیمول: ① دَخیبر اموال نبی کریم په دریوحصوکېښې تقسیم کړل

①-② اودوه حصې ئې دَ عامو مسلمانانودَپاره خاص کړې.

③ یوه حصه ئې دَ خپل بال بچ دَپاره خاص کړه

ددې مزید تفصیل وړاندې حدیث کېښې راځی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۰۳] دفدک دواقعې تفصیل

۳۰۳-[۹] (¹)[۱] عَنِ الْمُغِيرَةِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: [۲] «إِنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ جَمَعَ بَنِي مَرْوَانَ حِينَ اسْتُخْلِفَ فَقَالَ: [۳] إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ لَهُ فَدَكُ، [۴] فَكَانَ يُنْفِقُ مِنْهَا وَيَعُودُ مِنْهَا عَلَى صَغِيرِ بَنِي هَاشِمٍ [۵] وَيُزَوِّجُ مِنْهَا أَيِّمَهُمْ [۶] وَإِنَّ فَاطِمَةَ سَأَلَتْهُ أَنْ يَجْعَلَهَا لَهَا [۷] فَأَبَى فَكَانَتْ كَذٰلِكَ فِي حَيَاةِ رَسُولِ اللّٰهِ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۸] حَتَّى مَضَى لِسَبِيلِهِ [۹] فَلَمَّا (أَنْ) وُلِّيَ أَبُوبَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ [۱۰] عَمِلَ فِيهَا بِمَا عَمِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَيَاتِهِ [۱۱] حَتَّى مَضَى لِسَبِيلِهِ

ترجمه: [۱] او مغیره بن شعبه وایي [۲] [کوم وخت چې] حضرت عمر ابن عبد العزیز [ابن مروان ابن حکم رحمه الله خلیفه جوړ شو نو هغه] د مروان ځامن راجمع کړل او ورته وي فرمایل [۳] چه رسول کریم ﷺ د فدك [په زمکه او جائیداد] خپل ذاتي حق لرلو [۴] چې د

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الخراج والإمارة والفیء/باب فی صفایا رسول الله صلّی الله علیه وسلّم من الأموال(رقم-۲۹۷۲)

هغې محاصل [آمدني او پيداوار به حضور ﷺ خپل اهل وعيال او فقراؤ او مساکينو باندې] خرچ کول ④ هم د دې څخه به يې د بنوهاشم د ورو بچو [امداد او اعانت باندې خرچ کولو سره] د هغوی سره به يې حسن سلوك کولو ⑤ او د بې واده ښځو او سړو واده به يې کولو ⑥ يو ځل بي بي فاطمې ﷞ حضور ﷺ ته دا درخواست کړې وو چې د فدك زمکه او جائيداد ځما په نوم کړئ [ماته د دې د آمدني څخه ځما حصه هم راکړئ] ⑦ ليکن حضور ﷺ د هغې درخواست رد کړو د رسول کريم ﷺ په ژوند کې دغه شان چليدله ⑧ تردې چې حضور ﷺ د دې دنيا څخه تشريف وي ورو ⑨ او کوم وخت چې حضرت ابوبکر صديق ﷛ خليفه جوړ شو ⑩ نو د هغوی معمول هم هغه وو کوم چې د رسول کريم ﷺ په ژوند مبارك کې وو [يعنی د حضور ﷺ د مذکوره معمول په شان حضرت ابوبکر صديق ﷛ هم د فدك محاصل د حضور ﷺ په اهل وعيال او د بنوهاشم د بچو او د نادارو سړو او ښځو په واده باندې خرچ کولو ⑪ تردې چې حضرت ابوبکر صديق ﷛ په حق ورسيدو.

حل اللغات: ① اسْتُخْلِفَ: خليفه جوړکړې شو، ② فَدَكُ: دَ خيبر په اطرافو کښې دَ يوکلی نوم دې ③ يَعُودُ: مدد او اعانت به ئې کولو، ④ أَيِّمُهُمْ: ناواده کړی سړی يا ښځې،

> ① فَلَمَّا أَنْ وَلِيَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ② عَمِلَ فِيهَا بِمِثْلِ مَا عَمِلَا ③ حَتَّى مَضَى لِسَبِيلِهِ، ④ ثُمَّ اقْتَطَعَهَا مَرْوَانُ، ⑤ ثُمَّ صَارَتْ لِعُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، ⑥ فَرَأَيْتُ أَمْرًا مَنَعَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاطِمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ⑦ لَيْسَ لِي بِحَقٍّ، ⑧ وَإِنِّي أُشْهِدُكُمْ أَنِّي رَدَدْتُهَا عَلَى مَا كَانَتْ. ⑨ يَعْنِي: عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ① او هغوی څخه وروسته حضرت عمر بن خطاب ﷛ خليفه جوړ شو ② نو په دې سلسله کې د هغوی هم هغه عمل وو کوم چې د هغه دوارو [يعنی حضور ﷺ او حضرت ابوبکر وو] ③ تردې چې حضرت عمر فاروق ﷛ هم وفات شو ④ بيا مروان [د حضرت عثمان ﷛ د خلافت په زمانه کې يا د خپلې حکمرانئ په دورکې فدك] خپل [او د خپل وارثينو] جاگير اوګرځولو ⑤ اوس هغه جاگير د عمر ابن عبد العزيز ابن مروان شوې دې ⑥ ليکن زه ګورم چې کوم څيز رسول کريم ﷺ خپلې لور بي بي فاطمې ﷞ ته ورنه کړو ⑦ د هغې مستحق زه هم نشم کيدې ⑧ نو زه تاسو [خپلې دې فيصلې باندې] شاهدوم چې ما فدك په هغه حيثيت واپس کړيدې په کوم چې وو ⑨ يعنی د رسول کريم ﷺ، حضرت ابوبکر صديق ﷛ حضرت عمر فاروق ﷛ په زمانه کې [چې په کومه طريقه د هغې محاصل خرڅ کيدل اوس به بيا په هغه طريقه خرچ کول کيږي او فدك به د هيڅ چا

ذاتي جاگير نه جوړيږي ا.

حل اللغات: ⑤وَلِيَ: والي او خليفه جوړکړې شو، ⑥اقْتَطَعَهَا: بنده ئې اوساتله، خپل جاگير ئې اوګرځولو، ⑦صَارَتْ: اوګرځيده، مقررشوه.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ عُمَرَبْنَ عَبْدِالْعَزِيزِرَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ جَمَعَ بَنِي مَرْوَانَ:

د فدک وغيره مالونه وقف کښې شاملول: په دې حديث کښې داخبره دَدې دَ وجهې روانه شوې ده چه بنومروان دَ فدك وغيره وقف شوى مالونه قبضه کولو سره په ذاتى مالونو کښې داخل کړې وو او عمر بن عبد العزيز رحمه الله دَدې راخلاصول او په وقفى حيثيت کښې ساتل غوښتل.

قوله: كَانَتْ لَهُ فَدَكُ:

د فدک محل وقوع: فدک دَمدينې نه دَ دوو ورځوپه فاصله باندې دا کلې واقع وو. دا يوډير تازه او آباد ځائى وو چرته چه اکثردَ کهجورو او نورو ميوو باغونه هم وو. نبى کريم ته فدك دَ صلح په صورت کښې ملاؤ شوې وو دکوم حيثيت چه دَ مال فئ وو. باغ فدك، اموال دَ بنونضير اودَ خيبر زمکه حضور پاك سره په ذاتى حيثيت کښې وو. نبى کريم به دَ خپل اهل بيت نه علاوه دَعامو مسلمانانو په مصرف کښې دا مالونه راوړل.

په باغ فدک کښې د ميراث دعوى: دَنبى کريم دَ وصال نه پس اهل بيت اودَنبى کريم دَ خاندان بعضې کسانوپه دې مالونو باندې دَخپل ذاتى ميراث دعوىٰ اوکړه. مګر خلفاء راشدينو رضي الله عنهم دا په وقف حيثيت کښې اوساتل او ميراث جوړيدو ته ئې پرينخودل ځکه چه دَ انبياء عليهم السلام مال په ميراث کښې نه شى تقسيم کيدې اودا ځکه چه دَ وفات نه پس انبياء کرام ژوندى وى دکوم اثر چه په دنيا باندې پريوځى. حضرت فاطمې رضي الله عنها دَنبى کريم په حيات کښې هم دَدې مطالبه کړې وه مګرنبى کريم دَ ورکولونه انکار اوکړو.

د باغ فدک پس منظر: زيربحث روايت کښې حضرت عمربن عبد العزيز رحمه الله دَدې مال پس منظر دَ بنومروان په وړاندې بيانولو سره دا هم په دغه حيثيت دَ وقف کښې اوساتل لکه څنګه چه دَ خلفاء راشدينو رضي الله عنهم په زمانه کښې وو. دَ څه تفصيل سره دا پس منظر دَ قارئينو دَپاره په خپلو الفاظو کښې مخې ته کول غواړم.

دفاطمې رضى الله عنهما مطالبه کول: مال فدك باغ فدك وو حضرت فاطمه رضي الله عنها دَنبى

کریم نه اوغوښتلو نبی کریم دَ ورکولو نه انکاراوکړو. نبی کریم به دَدې نه عام خرچ کولو. بیا فاطمه ﷞ دَ صدیق اکبر ﷜ نه اوغوښتلو حضرت صدیق اکبر ﷜ "لانرث ولانورث ماترکناصدقة" حدیث واورولو اودَ ورکولو نه ئی انکاراوکړو. حضرت فاطمه ﷞ په تقاضا دَ بشریت خفه شوه. بیا صدیق اکبر ﷜ دَهغې کورته لاړو او په نمرکښې اودریدو اومعافی ئی غوښتله. حضرت فاطمه ﷞ معاف کړو او په دې سلسله کښې ئی کله هم مراجعت اونه کړو. شپږ میاشتې پس دَحضرت فاطمه ﷞ انتقال اوشو نوهیڅ اوږدې جګړې اونه شوې.

دبنونضیر دمال مطالبه: بهرحال دَ فدك په شان دَ بنونضیر دَمالونومسئله هم راؤچته شوه دَنبی کریم دَ انتقال نه پس دا مال دَ وقف په توګه صدیق اکبر ﷜ اوساتلوبیاحضرت عمرفاروق ﷜ ساتنه اوکړه بیاحضرت علی ﷜ اوحضرت عباس ﷜ په مشترکه توګه دَ دې نګرانان جوړکړې شو مګر په خپل مینځ کښې دَاختلاف دَ وجهې دې مال سره متعلق حضرت علی ﷜ اوحضرت عباس ﷜ دَدې دَتقسیم مطالبه اوکړه چه جداجدا به دَخپلې خپلې حصې خیال ساتی. حضرت عمر ﷜ انکاراوکړو او وئی فرمائیل داخوبه یوقسم تقسیم اوشی داسې به نه شی کیدې.

په اموال بنونضیرد مروان قبضه: بیامروان دا مال په خپل ذاتی جائیداد کښې شامل کړو او بنومروان په خپل مینځ کښې تقسیم کړو. کله چه حضرت عمر بن عبدالعزیز ﷫ خلیفه جوړشو نوهغوی دَ نورو اصلاحاتوسره سره دااصلاح هم اوکړه چه دا مالونه ئی دَهغوی نه واپس کړل اودَ وقف په حیثیت سره ئی اوساتل. دَ هغوی دَانتقال دَ وجهې بنومروان بیا دا تقسیم کړل اوداسې ئی غیب کړل چه ترننه پورې ئی پته اونه لګیدله چه دا اموال چرته لاړل. حضرت عمربن عبدالعزیز ﷫ په زیر بحث روایت کښې هم دا بنائی چه کوم اموال نبی کریم حضرت فاطمه ﷞ ته ورنه کړل زه خوك یم چه هغه به خان سره اوساتم. بهرحال په صدیق اکبر ﷜ او په فاروق اعظم ﷜ دې الله تعالی رحم اوکړی هغوی دیر مشقتونه اوچت کړل او دَ یوې شرعی مسئلې حفاظت ئی اوکړو.

(الحمد لله ! اتم جلد ختم شو)